يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ

په پښتو ژبه کښې د قرآن جامع مفصل عام فهم او تحقيقي انداز
کښې علمي تحفه

رُشْدُ الْقُرْآن

فی

تفسیرِ آیاتِ القرآن

پنځم جلد

له ابتدا د سورة النور نه تر آخره د سورة الاحزاب پورې

مؤلف

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا اصيف الله صاحب هزاروي رحمة الله عليه



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا﴾

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقیقی انداز کښې، علمی او الهامی نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمی تحفه

رشد القرآن

فی تفسیر آیات القرآن ﷺ

پنځم جلد

له ابتداء د سورة النور نه تر آخر د سورة الاحزاب پورې

تالیف: شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا اُسید الله صاحب رحمة الله تعالی علیه

ضبط وترتیب: مولانا ثناء الله صاحب

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا﴾

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقیقی انداز کښې، علمی او الهامی نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمی تحفه

رشد القرآن

فی تفسیر آیات القرآن

پنځم جلد

له ابتداء د سورة النور نه تر آخر د سورة الاحزاب پورې

تالیف: شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا اُسید الله صاحب رحمة الله تعالی علیه

ضبط وترتیب: مولانا ثناءالله صاحب

د کتاب نوم : رشد القرآن «پنځم جلد» فی تفسیر آیات القرآن
تالیف : شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا اُسید الله صاحب رحمة الله تعالی علیه
ضبط وترتیب:مولاناثناءالله صاحب
تصحیح ونظرثانی : مولانا تقی الله صاحب 03005774523
کتابت: رضوان الله03409904898
تعداد : ۵۰۰
طبع اول

د ملاویدو پتې :

۱ – مکتبه رشیدیه جدید ، محله جنګی
۲ – مکتبه دیوبند ، کمال پلازه کوهاټ .
۳ – مکتبه رشیدیه، اکوړه ختټك .
۴ – مکتبه علمیه اکوړه ختټك.

رکوع	سورة النور مدنية	آیتونه
۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۱۶۴
	شروع کوم په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکې دې	

رقمها حسب التسلسل (۲۴) وحسب النزول (۱۰۲)

سورة النورمدنی سورت دې،ترتیب قرآنی کښ څلوریشتم اوترتیب نزولی کښ یوسل دویم نمبرسورت دې،دَسورة الحج نه مخکښ اوسورة الحشرنه ورستونازل شویدې.زمانه دَنزول ئې سنه(۵ هـ)یاسنه(۹ هـ)ده،(۱۶۴)ایاتونو اونهه(۹)رکوعاتوباندې مشتمل دې.

فضیلت:داسورت چونکې په احکاماتودَپردې اواحکاماتو دَمعاشرت باندې مشتمل دې نودَدې وجې نه زنانو دَپاره خصوصاً دَدې دَزده کړې تاکیداً تعلیم ورکړې شویدې. دَحضرت مجاهد رحمه الله نه مرسلاً روایت دې چه نبي پاك ﷺ اوفرمائیلوچه(علموا رجالكم سورة المائدة، وعلموا نسائكم سورة النور)یعنې تاسونارینوته سورة المائده زده کوئ اوزنانوته سورة النورزده کوئ دغه شان حضرت حارثه بن مضروب رضي الله عنه فرمائي چه حضرت عمر رضي الله عنه اهل کوفه ته خط اولیکلوچه تاسوخپلوزنانوته سورة النساء، سورة الاحزاب اوسورة النور اوښائي.

ربط نامی: دَدې سورت دَماقبل سره ربط اسمی دادې چه سورة المؤمنون کښ ذکراوشوچه (قدافلح المؤمنون)یعنی ایمان والا خلك کامیاب دی، اوپه سورة النورکښ ذکرکیږی چه(الله نورالسّموات والارض)یعنې په توحیدسره ټول جهان روښانه اواباددې اودَتوحیدپه نورسره ایمان والوته فلاح اوکامیابي میلاؤشویده.

ربط معنوی: دَمضامینوپه اعتبارسره دَدې سورت دَماقبل سورت سره ربط په متعددو وجوهاتوسره دې(۱)دَسورة المؤمنون په اخیرکښ ذکراوشو چه تاسوعبث نه ئې پیدا کړې شوی بلکه دَاحکاماتو مکلف ئې،نوپه سورة النورکښ ځنې ددغې احکاماتو نه ذکرکیږی(۲) په سورة

المؤمنون کښ ذکر ووچي (والّذين هم لفروجهم حٰفظون) نو په سورة النور کښ دعفت متعلق احکامات ذکر کيږي (۳) په سورة المؤمنون کښ رد وو په شرك فعلي او اعتقادي باندې په دلائلو نقليو او عقليو سره او په سورة النور کښ تنبيه ورکولې کيږي چې دمسئلې توحيد دوجې نه دمنافقينو دطرف نه تاسو ته مختلف قسم تکليفونه دررسيدلي شي څرنګه دوئ نبي پاكﷺ ته رسولي ووچې په زوجه مطهره ام المؤمنين حضرت عائشه صديقهؓ باندې ئې تهمت لګولې وو (۴) په سورة المؤمنون کښ اوصاف حميده دمؤمنانو ذکر شوي وو . نو په سورة النور کښ اوصاف ذميمه دمنافقينو ذکر کيږي

خلاصه مضامين: دسورت دمضامينو مختصره خلاصه داده چې دا سورت دوه (۲) حصو ته منقسم دې، حصه اول دايت نمبر (۱) نه تر ايت نمبر (۵۷) پورې ده. او دويمه حصه دايت نمبر (۵۸) نه تراخيره پورې ده، په اولې حصې کښ تمهيد. ترغيب الي القرآن. اصلاح دمعاشرت دپاره څلور احکامات، تهمت لګولو باندې زجرونه، دتهمت نه بچ کيدلو دپاره او (۷) قوانين، دعوه د توحيد او په هغې باندې يو نقلي او دري (۳) عقلي دليلونه ذکر کيږي.

دويمه حصه کښ دري (۳) قوانين داصلاح معاشرت دپاره، تقابل دصفاتو دمؤمنانو او منافقينو، او اداب درسول کريمﷺ ذکر کيږي او ددعوی دتوحيد اعاده ده.

تفصيلي خلاصه: په اول ايت کښ تمهيد مع الترغيب دې، دايت نمبر (۲) نه ترايت نمبر (۹) پورې څلور احکامات بيانيږي، په ايت نمبر (۱۰) کښ بيا ترغيب ذکر کيږي، دايت نمبر (۱۱) نه ترايت نمبر (۱۸) پورې درې قسمه خلکو دپاره زجرونه دي (۱) تهمت لګوونکو دپاره (۲) تهمت نه متاثره او معمولي حصه اغستونکو دپاره (۳) په تهمت باندې خاموشه پاتې کيدونکو او دهغې رد نه کوونکو دپاره، په ايت نمبر (۱۹، ۲۰) کښ تخويف دنيوي، اخروي دې تهمت لګوونکو دپاره په ايت نمبر (۲۱، ۲۲) کښ اداب مؤمنانو ته ذکر کيږي، په ايت نمبر (۲۳، ۲۴، ۲۵) کښ تخويف اخروي دې تهمت لګوونکو ته، په ايت نمبر (۲۶) کښ دمؤمنانو او منافقانو عادات او بشارت مؤمنانو ته بيانيږي، ايت نمبر (۲۷) نه ترايت نمبر (۳۳) پورې او (۷) قوانين داصلاح معاشرې دپاره بيانيږي، او په ايت نمبر (۳۴) کښ اعاده دترغيب ده سره دتخويف نه، په ايت نمبر (۳۵) کښ دعوٰ دتوحيد سره دتمثيل نه، بيانيږي ايت نمبر (۳۶) نه تر (۳۸) پورې په دعوی دتوحيد باندې دليل نقلي او بشارت ذکر کيږي، په ايت نمبر (۳۹) کښ دپوې شبهې جواب او دمشرکينو دشرك تمثيل

بیانیږي، دایت نمبر (۴۱) نه تر (۴۵) پورې درې (۳) عقلي دلائل په توحیدباندې ذکرکیږي. په ایت نمبر (۴۲) کښې په دویم ځلي ترغیب الي القرآن ذکرکیږي، دایت نمبر (۴۷) نه تر (۵۲) پورې دمنافقینو اودمؤمنانو عادات بیانیږي. په ایت نمبر (۵۳. ۵۴) کښې زجردې منافقینو ته. په آیت نمبر (۵۵. ۵۶) کښې بشارت دنیوي دې مؤمنانوته اوپه ایت نمبر (۵۷) کښې تخویف اخروي دې منکرینوته، اوبیادایت نمبر (۵۸) نه دویمه حصه دسورت شروع کیږي نودایت نمبر (۵۸) نه تر (۲۱) پورې اصلاح معاشرت دپاره درې (۳) قوانین بیانیږي په ایت نمبر (۲۲) کښې مؤمنانو صفات ذکرکیږي، په ایت نمبر (۲۳) کښې داداب وتعلیم ورکولې کیږي دنبی پاکﷺ متعلق. اودمنافقینو صفات تقابلاً ذکرکیږي اوپه ایت نمبر (۲۴) کښې اعاده ددعوی د توحید کیږي

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۭ
داسورت دې لوئ شان والا مونږ دانازل کړېدې اوفرض کړېدې مونږ (عمل پدې) اونازل کړېدي مونږپدېکښې حکمونه
بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۞ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا
ښکاره دې دپاره چې تاسوورنه نصیحت حاصل کړئ. زناکاره زنانه اوزناکارسړې پس اوهئ تاسوهریودې دواړونه
مِائَةَ جَلْدَةٍ ۖ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ
سل (۱۰۰) سل (۱۰۰) درې (کوړې) اونه دې نیسي تاسولره په دې دواړوباندې ترس په جاري کولودین دالله ﷻ کښې
اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۞
کچرې یئ تاسوچې ایمان لرئ په الله ﷻ باندې اوپه ورځ دقیامت باندې اوحاضردې شي سزادې دواړوته یوه ډله دمؤمنانونه

﴿ سُورَةٌ أَنزَلْنَاهَا ﴾ داترغیب الی القرآن دې او﴿سُورَةٌ﴾ خبردې دمبتدا محذوفي دپاره چې هذه دې، ددې سورت ابتداء په جداعنوان سره اوشوه دپاره ددې چې اشاره راشي عظمت اواهمیت ددې سورت ته، اوبیاددې عظمت اواهمیت دپاره څوصفات ذکرکړې شو، اول صفت ئې ﴿أَنزَلْنَاهَا﴾ دې اوانزلنا ماضي په معنې دحال سره دې دااول صفت دې چې داعظیم سورت دې چې ددې احکامات مونږ نازله وو، ﴿وَفَرَضْنَاهَا﴾ دادویم صفت دې "فرضنا" یاپه معنې دالزمنا سره دې، یعني

پدي احکاماتوباندې عمل کول مونږ په تاسوباندې ضروري کړيدي اوپا "فرضنا" په معنی دقدرنا سره دې، يعني حدوداونوراحکامات پکښې مقرراوذکردي. ﴿وَأَنزَلْنَا فِيهَآ ﴾دادريم (۳)صفت دې اوانزلنا مکررذکرکول دپاره دتعظيم دمنزل دی اگرچې انزال دسورت مستلزم وو انزال دايات بينات لره.امام رازي رحمه الله فرمائې چې اول ځلي ﴿وَأَنزَلْنَا﴾نه مراد انزال داحکاماتودي.اودويم ځلي ﴿وَأَنزَلْنَا﴾نه مراد انزال ددلائلودتوحيددي،يعني داسي عظيم الشان سورت دې چې داحکاماتو سره سره پديکښې واضح دلائل دتوحيدهم مونږنازل کړيدی

﴿لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾دا استيناف بياني دې گوياچې سائل سوال اوکړو چې دااحکامات ولي ذکر شويدی نوجواب اوشوچې لعلکم تذکرون يعني ددي سورت هرهرمضمون ذکر. وعظ اونصيحت دې، تاسوترينه نصيحت اوعبرت واخلئ.

﴿ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى ﴾تمهيدنه ورستو داپه احکام اربعوکښې اول حکم دې دتطهيردمعاشري دپاره،يعني کومې زنانه، ياسړي باندې زناکولوجرم ثابت شي نوپه صورت دغيراحصان کښې هغوئ ته سل(۱۰۰)کوړي ورکړئ اونرمی ورسره مه کوئ اودعامومسلمانانوپه حضورکښې ورته سزا ورکړئ او﴿ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى ﴾په نيزدسيبويه دامبتداده اوخبرئې محذوف دې چې حکمهافيما سيتلیٰ عليکم دې او﴿فَٱجْلِدُوا ﴾ورله تفسيراوبيان دې اومذهب داخفش وغيره دادې چې دامبتداء ده اوخبرورله ﴿فَٱجْلِدُوا ﴾دې اوپه خبرباندې فاء ځکه داخله شويده چې مبتدامشابه دشرط سره ده، اوپدې ايت کښې تقديم دزانی(زناکوونکی زنانه)په زانيې باندې شويدې ځکه چې زناډيرقبيح اوډيربې حيايئ والاجرم دې اوزنانه سره مناسبه حيااوپرده ده لکه څرنگه چې سرقه عيب دې په سړي کښې ځکه چې منافي ده دهمت سره نوکله چې يوه زنانه بې حيااوبې پرده شي نوهغه اولی بالعقوبة وي نوځکه تقديم دزانيې راغې اوامام کرخې فرمائې چې سرقه کښې دسړي ذکرمقدم وو اودلته دزنانه ذکرمقدم شو وجه داده چې سرقه له ډاره جسارت اوجراءت ضروري وي هغه په سړي کښې دښځي په نسبت زيات وي اوزنادشهوت دوجې نه وي اوزنانوکښې په خپل شهوت باندې کنټرول کمې وي(حاشيه جمل)اوحضرت تهانوي رحمه الله دشيخ الهند رحمه الله توجيه ذکرکړيده چې په

ایت دسرقي کښ تقدیم دَرجل داَصالت دوَجي نه دې ځکه عام اسلوب دقرآن دې. اودلته تقدیم دَزانيې دَدري(۳) وجوهاتونه دي(۱) اکثروقوع دَزنادَزنانونه کيږي ځکه چې دوئ ناقصات العقل اورقيق القلب دی(۲)دوئ صنف نازك دي نوچابه داتوهم کولوچې ممکنه ده دوئ دپاره ده په حد کښ نرمي وي. نودَدغي توهم دَدفعيې دپاره ئې تقديم اوشو(۳) زنادېرعيب دې په زنانوکښ.

فائده: حقيقت دَزناپه مسلك احنافوباندې دادې وطء في قبل خالٍ عن ملكٍ وشبهةٍ يعني زنادَهغې وطې نوم دې چې دَيوي زنانه سره په قبل(مخکښنئ حصه دَشرمگاه)کښ اوکړې شي چې خالي وي دَملك اوشبهې دَملك نه اوشبهه په دوه(۲)قسمه ده يوه(۱)شبه في الفعل اودويمه(۲) شبه في المحل، والتفصيل في کتب الفقه.

زانيه اوزاني کله محصن وي اوکله غيرمحصن، شرائط داَحصان زمونږ فقهاؤ داذکرکړيدی. ازاد ،مسلمان،عاقل، بالغ اودَنکاح صحيحه نه ورستودَخپلي بې بي سره ئې کوروالې کړي وي چې دامذکوره شرائط په چاکښ ټول موجودوي نوهغه به محصن وي اوکه يوشرط پکښ هم کم شونوزمونږپه مسلك هغه ته محصن نشي وئيلې کيدې، اوامام شافعي رحمه الله داَحصان دپاره اسلام شرط نه وائې، دهغه په مسلك کافر هم رجم کيدې شي لکه نبي پاك ﷺ په مدينه کښ يويهودي اويهوديه سنگسارکړې وو(بخاري)ليکن احناف فرمائې رحمهم الله چې ابتداءً اسلام دَشرائطوداَحصان نه نوو اوورستوبيادَاحصان دپاره اسلام هم ضروري شو دوَجي دَدي قول دَنبي ﷺ نه چې:من اشرك بالله فليس بمحصن(دارقطني،اسناده صحيح)

پدي باندې دَټول امت اتفاق دې چې پدي ايت کښ چې کومه سزاذکرکيږي نودادَ غيرمحصن سزاده، نودَهغه سزاپدي ايت کښ سل(۱۰۰)کوړي ذکرده، په ځني احاديثو کښ ورسره اضافه دَنفي اوتغريب عام(يوکال دَپاره جلاوطنئ) هم راغليده داَحنافو په مسلك حکم دَنفي اوجلاوطنئ سياسةً دې اوحدأندې اوباقي ائمو په نيزداحکم حدأدې. البته ددوئ په خپل مينځ کښ معمولي اختلاف دې چې امام مالك رحمه الله دَدي حکم نه ښځه مستثني کوي چې دَزنانه دپاره نفي نيشته دې باقي تفصيل په کتابونودَفقهې کښ دې. اوهرچه دې محصن زاني نودهغه سزارجم ده چې په احاديثومتواتروسره ثابته ده اوحکم دهغې قطعي دې لکه څرنگه تعدادرکعاتونودَمانځه اومقاديردَزکوة دی. دغه شان دَقرآن داَشارة النص نه هم حکم دَرجم ثابتيږي لکه حديث کښ دي چې خيبرپه يهوديانوکښ يوسړی اوښځې زنااوکړه نونبي ﷺ دَهغوئ

دَشریعت موافق فیصله درجم اوکړه اوهغوئ انکاراوکړو دهغې په باره کښې دَسورة المائده ایت نمبر(۴۲، ۴۳)نازل شو او شرائع من قبلنابلانکیرذکرکیدل دلیل دَنفاذدې بلکه رجم ته حکم الله وئیلی شویدی

دغه شان بعض حضرات فرمائي چې حکم دَرجم ابتداءً دَقرآن مجید کښې صراحتانازل شوې وو. چې هغه داسي وو: الشیخ والشیخة اذا زنیافارجموهما نکالامن الله،والله عزیزحکیم. اوبیادَدې تلاوت منسوخ کړې شو اوحکم ئې برقرارپاتې کړې شواودَدې وجه نه حضرت عمرﷺ اوفرمائیلوکچرته ماسره دَخوف نوې چې خلك به وائي چې عمرﷺ دَخپل طرف نه په کتاب الله کښې اضافه اوکړه نومابه داایت په قرآن کښې لیکلې وو.

هرچې دې زاني محصن نودَهغه سزاخورجم ده البته په دیکښې دَآئمه اختلاف دې چې هغه ته اولاً کوړې-ورکولې شي اوکه نه صرف رجم کولې به شي نودَجمهورقول دادې چې صرف رجم کولې به شي اوجمع په مینځ درجم اوجلدکښې نیشته دې، اوامام احمدبن حنبلرحمہ اللہ په نیزاول به په کوړو وهلې شي اوبیابه رجم کولې شي دَجمهورومستدل هغه ټول روایات دی چې په هغې کښې صرف دَرجم ذکرراغلیدې اودَجمع ذکرپکښې نیشته دې، لکه واقعه دَحضرت ماعزبن مالك شوه چې دَزناپه جرم کښې سنګسارشوې وو، دغه شان دَغامدئي قبیلي زنانه اودَجهینه قبیلي زنانه چې صرف سنګسارکړې شوي وي، دغه شان روایت دَزیدبن خالدﷺ اوحضرت ابوهریرةﷺ چې مخکښې تیرشویدې په هغې کښې ذکرصرف درجم دې اودغه شان هغه ایت چې منسوخ التلاوة اوثابت الحکم دې په هغې کښې هم صرف دَرجم ذکردې.

اوامام احمدبن حنبلرحمہ اللہ استدلال کوی دهغه روایاتواوآثارونه چی هغې کښې دجلداو رجم دواړه ذکردی.جمهوروترینه جواب داکوی(۱)کوم احادیثو کښې دَدې ذکر دی،دا دَقبل النسخ روایات دی،اوبیاماعزواقعې سره منسوخ شو.(۲)یاداچی اول دَزانې احصان علم نه وؤنوځکه جلد کړیشو ،بیاچې کله پته اولیګده نو رجم کړیشو.

خلاصه داده چې دَاحنافوپه مسلك زاني غیرمحصن حدسل کوړې دې اوکچرته امام اوحاکم وقت مصلحت په دیکښې اوګوري چې دې، دې جلاوطن کړې شي نوسیاسةً ئې جلاوطن کولې شي اوزاني محصن سزاصرف رجم ده، والله اعلم وعلمه اتم.

﴿وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ﴾رافت معنې رحم دې اودَ ﴿فِي دِينِ اللَّهِ﴾نه مراد دَالله ﷻ حکم اجراء ده چې اقامت دَحدودودې، يعني کوم حدچې الله ﷻ مقررکړيدې، نودَهغې په نفاذکښ دَزاني اوزانيې سره نرمي مه کوئ اونرمي داده چې دَسل(۱۰۰)کوړونه کمه سزاورکړې شي،ياورو ورو اوهلې شي چې هغه ته بالکل تکليف ميلاؤنشي يابالکل معاف کړې شي اودغه شان دَچانه حدساقطول دَپاره سفارش کول هم پدې نهي کښ شامل دي.

﴿إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ﴾دَدي مقصدداندې چې حدودالله کښ نرمي کوونکي مؤمن ندي، بلکه دادَباب دَتهيج نه دې لکه يوسړې ته اوئيلې شي چې ان کنت رجلاًفافعل کذا نودَهغه په رجليت کښ چاته شك نوي، خودَبرانګيخته کولودَپاره داسې عبارت وئيلې کيږي.

﴿وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا﴾يعني دَحدودالله نفاذدَعامومسلمانانوپه حضورکښ پکاردې، ځکه چې يوخوبه مجرمان اوشرميږي اوبيادَپاره به پدې جرم باندې جرأت نه کوي اوبله وجه داده چې عام خلك به هم عبرت واخلي اودَجرمونونه به منع شي.

اَلزَّانِيْ لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوْ مُشْرِكَةً وَّالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَآ اِلَّا زَانٍ
زناکارسړې نکاح نه کوي مګر دَزناکارې يادَمشرکې زنانه سره اوزناکاره زنانه دَهغې سره نکاح نه کوي مګر زناکار
اَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝
يامشرك سړې اوحرام کړې شويدې داکارپه مؤمنانوباندې

﴿اَلزَّانِي لَا يَنكِحُ﴾دادويم حکم دې دَتطهيردَمعاشرې دَپاره يعني دَاسلامي معاشرې اوپاك معاشرې دَپاره ضروري ده چې خانداني ژوندپاک وي اودَپاکې خانداني ژوند دَپاره ضروري ده چې پاکدامنه سړې يابنځه دَبدکارې ښځې ياسړې سره نکاح اوازدواجيت تعلق اونه لري دَزانيانواومشرکانومعاشره ګنده وي دَدوئ ديوبل سره زيات مناسبت دې

دَدې ايت دَظاهرنه دامعلوميږي چې زاني به دَزانيې سره نکاح کوي اودَپاکدامن سړي يابنځې نکاح به دَبدکاروښځوياسړوسره به نه کيږي اوحالانکه دادَمشاهدې نه هم خلاف دې اودغه شان دَسورة النسآء ايت نمبر(۲۴)وَاحِلَّ لکم ماوراء ذٰلکم سره متعارض دې.

د دي اشکال نه په متعدد طریقو سره جواب شویدی (۱) بعض فرمائي چې نفي په معنې د نهي سره دې او ابتداء د اسلام کښ داسي حکم وو چې د بدکارسړي یازنانه سره به د پاکدامنې ښځي یاسړي نکاح نوو جائز. او بیا ورستو دا حکم منسوخ کړې شو په ایت ﴿وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ﴾ (النور ۳۲) سره (۲) بعض فرمائي چې ایت خاص دې په خپل موردپوري او ددینه مراد متعین بدکاري ښځي دي لکه د دي په شان نزول کښ متعدد واقعات منقول دی په روایت د ترمذي اونسائي وغیره کښ دی چې دا ایت په باره د مرثد ﷺ کښ نازل شویدې چې د جهالت په دور کښ د هغه د یوي زنانه سره ناجائز تعلقات وو، نو د اسلام راوړلونه پس یوه ورځ د ده تیریدل د هغې په په کورباندې او شونو هغې ورنه د بدکارئ مطالبه اوکړه، ده ورته اوئیل چې خه اوس مسلمان یم او اسلام ماته د دي کار اجازت نه راکوي اود نبي ﷺ نه ئې د دي زنانه سره نکاح کولو اجازت اوغوختلو، نبي ﷺ ورته هغې وخت څه جواب ورنکړو حتي چې دا ایت نازل شو، نبي ﷺ ده ته دا ایت تلاوت کړو او ورته ئې اوفرمائیلو چې ته د دي سره نکاح مه کوه، قال الخطاب هذا خاص بهذه المرأة اذ کانت کافرة، فاما الزانية المسلمة فان العقد عليها لا يفسخ (قرطبي).

(۳) بعض فرمائي چې نکاح دلته د وطئ په معنې سره دي، نو د ﴿لَا يَنكِحُ﴾ معنې لا يطاء ده او د ایت مقصد دادې چې یو زاني سړې چې زنا او وطئ کوي نو د زانیې سره کوي اګرچه هغه مسلمانه وي او یا د مسلماني نه بدترمشرکي سره کوي، او پاکدامني زنانه سره نه کوي، اودغه شان زاینه ښځه چې زنا کوي نو یا د مسلمان زاني سره کوي او یا د مشرک زاني سره کوي او د هغې سره بدکاري کوونکي پاکدامن انسان نوي، نو په دي ایت کښ اشاره ده چې اثر د دي قبیح عمل په دواړو جانبینو باندې یو شان دې، د یو جانب نه پته لګي چې دا بل جانب هم بدکاردې او د بدکارو یو بل ته طبعي میلان او رجحان ډیر زیات وي.

(۴) بعض فرمائي چې نکاح په خپلې معنې سره دې، او دلته عدم لیاقت د فعل نه تعبیر په عدم فعل سره شویدې، نو ﴿لَا يَنكِحُ﴾ په معنې د لا يليق ان ينكح سره دې، یعنې د زاني سړي نکاح د پاکدامني زنانه سره لائق ندې بلکه هغه دي د خان د پاره زانیه او یا مشرکه او ګوري او دغه شان د زانیې ښځي نکاح د پاکدامن مسلمان سړي سره لائق ندې، بلکه هغه د دي لائقه ده چې زاني سړې او یا مشرک ورله اوکتلې شي، نو د دي عدم لیاقت نه تعبیر په نفي سره اوشو او په عرف کښ داسي

عبارات ونیلي کیدي شي لکه خلك وائي السلطان لایکذب نودَدي مقصدداندې چې بادشاه بالکل دروغ نه وائي بلکه مقصدادي چې دبادشاه سره دروغ ونیل لائق ندی

﴿وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ﴾ دَذلك په مشارالیه کښ دوه احتمالات دی (۱) یو داچې دَدي مشارالیه زناشي اوزنااګرچه صراحتاندې مذکورلیکن مفهوم کیږي دَ الزانیة نه نوپدې اعتبارسره حرمت په معنې شرعي سره دی یعني دازناپه مؤمنانوحرام کړې شویده، (۲) دویم احتمال دادې چې مشارالیه ددې تزویج اونکاح مذکوره شي یعني دزاني سړي یادَزاني ښځي سره نکاح کول. نوبیادا یامنسوخ دې اویاخاص دې په متعینومؤمنانوپورې اویادَتحریم نه مراد منع اونفرت دې لکه وحرمناعلیه المراضع کښ تحریم دَ منع په معنې سره دې اودَمؤمنانونه مراد اعلې درجې مؤمنان دی.نودَایت مقصددادې چې تکویني طوردَمؤمنانوزړونه مونږ دَبدکارانونه، متنفرکړیدی.اوبعض مفسرین فرمائي چې حرمت دلته په معنې دکراهت سره دې اوپه زجرکښ تاکیددَپاره دکراهت نه.تعبیرپه حرمت سره اوشو

حضرت تهانوي رحمه الله یوه بله توجیه ذکرکړیده چې هغې ته قریبه توجیه شیخ زاده محشي قاضي بیضاوي دَعلامه نفسي نه نقل کړیده، خلاصه ئې داده چې پدې ایت کښ دَعادي زاني اوزانیې قبیح عمل اوفعل ذکرکیږي، چې عادي زاني مقصداصلي صرف زناوي.نوکچرته دامقصدبغیردَنکاح نه حاصلیدلونوفبها.اوکه نه حاصلیدلونودې نکاح ددغې مقصددَپاره وسیله اوګرځوي. اوچونکه دَده مقصدخوصرف جنسي لذت پوره کول وي نودې دَدې خبرې پرواه نه کوي چې دازنانه پیشه وره زانیه ده اونه دَدې پرواه لري چې داپه خپل مذهب باندې یعني په شرك باندې کلکه ولاړه ده.اودَدې سره نکاح باطل دې، دَدې خبرو پرواه ئې نوي.نودامقصد دی دَ ﴿ٱلزَّانِى لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً﴾ ، اودغه شان چې کومه زنانه عادي بدکاره وي نودَهغې رجحان زانیانوطرف ته وي، اوهغوئ ته په زناکښ لذت حاصلیږي، نودَدوئ رغبت هغې خلکوطرف ته نوي چې دَهغوئ مقصد دَنکاح نه حصول دَمقاصدودَنکاح وي مثلاً عفت، اولاد صالح وغیره شو اونه ئې دَدې پرواه وي چې دَتخالف ادیانوپه صورت کښ نکاح باطل دې بلکه دیوبل نه خپل مقصدپوره کوي.اودا مطلب دې دَ والزانیة لاینکحهاالخ نوپه یوصورت کښ دیوثت لازمیږي هغه حرام دې بلکه په حدیث کښ ددغه شان(دیوث) انسان باندې دَجنت حرام

کیدلوذکردي، اوپه دویم صورت کښې تخالف ادیان هم راځي داهم حرام دي. نوځکه اوئیلې شوچې ﴿وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ ،والله اعلم.

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ
اوهغه کسان چې بدنامه لګوي په پاکدامنو زنانه ؤ باندې بیا رانه ولې څلورګواهان نو اوهئ دوئ لره
ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ
اتیا (۸۰) درې (کوړې) اومه قبلوئ دوئ لره ګواهي هیڅ چرې، اودغه کسان دوئ نافرمان دي مګرهغه کسان (فاسقان ندي
تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝
چې توبه اوکړي ورستودې کارنه اونیك کړي عملونه پس بیشکه الله ﷻ بخنه کوونکې رحم کوونکې دې

﴿وَٱلَّذِينَ يَرْمُونَ﴾ دادریم حکم ذکرکیږي دپاره دتطهیردمعاشري یعنې هرکله چې داخبره معلومه شوه چې زنایوقبیح جرم دي چې دهغې عادي دمسلمانانوپه معاشري کښې داوسیدلوقابل ندې نودغه شان دزناتهمت لګول هم یوډیرقبیح کاردې، نولهذا څوك په چاباندې دزناتهمت اولګوي اوثبوت پرې پیش نکړي شي چې هغه څلورګواهان دي (دڅلوروګواهانوصفات، اوکیفیت اوطریقه دګواهي په کتب دفقه کښې تفصیلاً موجوده) نودغه کس ته به حدقذف ورکولې کیږي چې هغه اتیا (۸۰) کوړې دي.

﴿ٱلْمُحْصَنَٰتِ﴾ هرکله چې ددې حکم دنزول دپاره اصل سبب حضرت عائشه رضي الله عنها باندې تهمت لګیدل اودالله ﷻ دطرف نه دهغې دبراءت اواحصان اعلان کیدل وونودې وجې نه ﴿ٱلْمُحْصَنَٰتِ﴾ په صیغې دمؤنث سره ذکرشوه، کنې داحکم دسړودپاره هم دې اودغه شان پدیکښې اشاره ده دیته چې په زنانوباندې تهمت لګول ډیرقبیح دی اوشرائط داحصان په مقذوف کښې څلوردی، عاقل، بالغ، مسلم، عفیف من الزنا، اوعفیف من الزنا، هغه چاته وئیلې کیږي چې نه دوطي حرام مرتکب وي اونه پرې اثاردوطي حرام ظاهروي نوپه حمل غیرثابت النسب سره دزنانه عفت ختمیږي.

فائده دَحضرت عائشهؓ دبراءت اعلان قرآن کريدي اودَهغې دَاحصان ګواهي اللهﷻ پخپله ورکړه نوبياهم کچرې څوک په ام المؤمنينؓ باندې لګولې شوې بهتان کښې شک مندوي اودَهغې په بطلان باندې يقين نوي نوداسړې کافردې

﴿ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ﴾پديکښې اشاره ده چې حدزنا دثبوت دَپاره څلورګواهان به سړي(نارينه)به وي،اودَزنانوپه ګواهئ سره حدزنانه ثابتيږي. بهرحال دغه شان کس چې تمت اولګوي اوبياورسره ګواهان نوي نوقرآن هغه دپاره دری قسمه سزاګانې ذکرکوئي.دوه{۲} دنيوی او يوه اخروې﴿فَاجْلِدُوهُمْ﴾اوله دنيوی جسمانې سزا ده چې اتيا{۸۰}کوړې وهل دی او ديته حدقذف وائي

﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ﴾دادويمه دنيوي سزاده اوباطني،معنوي سزاده چې ترڅوپوري ژوندې وي نومردودالشهادة به وي،يعنې دده ګواهي به نه قبليږي اګرچه ګواه په معاملاتوکښې جوړې دلې شي ليکن شهادت دده قضاء نشي قبليدلې﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾داعلت دَسزاګانودَپاره ندې، بلکه داځان ته مستقل کلام اوجمله مستأنفه ده اواخروي حکم اوسزا ذکردې اومقصود پدي سره دفع دَيوتوهم هم ده، توهم داکيدې شوچې حدودمحض په شبهاتوسره هم دفع کيدلې شي(کماهوالتقرر الحدودتندرأبالشبهات) نوپکارده چې قاذف باندې حدقذف جاري نکړې شي، ځکه چې دَنصاب شهادت عدم تکميل باوجود دَقاذف رښتياوئيلواحتمال شته دې اودغه شان دااحتمال هم شته دې چی دَدين سره محبت اودَبې حيائئ سره نفرت اودَاللهﷻ قانون دَتعطل نه محفوظ کيدلودَپاره ممکنه ده چې دې قاذف تهمت لګولې وي نولهذا احتمال اوشبه پکښې راغله نوپکارده چې په قاذف باندې حدقذف نشي جاري،نودَدې جواب اوشوچې داخلك فاسقان دي دَاللهﷻ دَحکم منونکې ندي ځکه چې کله ده نصاب دَشهادت نشوپوره کولې نودَده پاره حکم دَخاموشئ وو نوچې خاموش پاتي نشونودَاللهﷻ دَحکم خلاف ورزي ئې اوکړه.

فائده کچرته څوك په چاباندې دَبدکارئ الزام اولګوي اوبياڅلور ګواهان پيش نکړې شي نوده ته به حدورکولې شي اومردودالشهادت اوفاسق دې، برابره خبره ده که دې په دې خپله خبره کښې رښتوني وي اويادروغژن وي، هرچې ده داخبره چې دې پدې خپلې خبرې کښې دروغژن وي نودې مردودالشهادت کيدل اوفاسق کيدل ظاهردې ځکه چې دده داعمل دَمعاشرې دَفسادذريعه

ده اودغه شان دَيومسلمان بې عزتي اوابروريزي كول اودروغ وئيل بذات خوګنده كبيره ده.
اوهرچې دې داچه دې په خپلي دعوى كښ رېښتني وي نوبياهم محدوداومردودالشهادت دى
ځكه چې قاذف بلاضرورته دَيومسلمان بې عزتي اوكړه اوبلاضرورته ځكه ده چې مقصود ددې
اقسم دعوونه اقامت دَحدودووي.اواقامت دَحدودو په څلوروګواهانوسره كيږي وهركله چې ده
خپله دعوى په بينة سره اوګواهانوسره نشوه ثابته ولي نودده دپاره حكم دَحدودو پاتي
كيدلودې. ځكه چې دَداسي خبرونشرواشاعت ذريعه دفساد دمعاشري دپاره ګرځي. خوهركله
چې ده داخبره پټه نكړه نودې دَمعاشرتي فساد مجرم اوګرځيدونوځكه به ده ته سزاملاويږي

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ﴾ماقبل ايت كښ دري سزاګاني ذكرشوې نوپديكښ اتفاق دې چې اثردتوبي
په اول سزاكښ يعني اتيا(۸۰)درو(كوړو)كښ ندې ظاهراوپه توبي سره حدنشي معاف كيدلې.په
دويمي سزاچې﴿وَلَا تَقْبَلُواْ لَهُمْ شَهَٰدَةً أَبَدًا ﴾ده پديكښ اختلاف دې. امام شافعي وغيره رحمهم
الله فرمائي چې اثردَاستثناء په دويمي جملي كښ ظاهردې لكه څرنګه په دريمي كښ ظاهردې.
نولهذا محدودفي القذف چې كله توبه اوباسي اودخپل ځان اصلاح اوكړي نودده شهادت به قبليدې
شي،اودَاحنافوپه مذهب دااستثناء صرف دَآخري جملي نه ده اودا مذهب دَقاضي شريح.ابراهيم
نخعي، سعيدبن المسيب، سعيدبن جبير،حسن بصري وغيرهم رحمهم الله هم دې. اودامسلك
زيات موافق دې دَقواعدو دَاهل عربيت سره اواصول دَشرع سره ځكه چې دَاهل عربيت قانون دې
چې مستثني دَمستثني منه سره مربوطه اومتصله وي نودلته ارتباط اواتصال صرف دَاخيري
جملي سره دې اودغه شان دَاستثناء رجوع سابقه كلام ته دَعدم استقلال دَمجبورئ دَوجي نه وي
اوداضرورت په يوي جملي سره پوره كيږي نوځكه بلي جملي ته دَرجوع ضرورت نيشته
دې،اودَشريعت قواعداواصول هم دادى چې په توبي سره صرف عذاب اخروي دفع كيږي اوحدود
ورسره نه معاف كيږي اومردودالشهادت كيدل دَقذف دَپاره تكميل دَحددې اوداجزء دَحدشرعي
دَپاره دې نودَدي وجي نه داهم په توبي سره نه معاف كيږي، اودَاسلوب قرآني نه هم معلوميږي
چې استثناء صرف دآخري جملي نه ده او ﴿وَلَا تَقْبَلُواْ لَهُمْ ﴾نه استثناء نده ځكه چې ﴿وَلَا تَقْبَلُواْ ﴾
كلام مؤكددې په لفظ دَتابيدسره اولفظ دَتابيدمعارض دې دَتخصيص اواستثناء سره، نودَدي
وجي نه غوره قول دادى چې استثناء صرف دَآخيري كلام ته ده اوټول مخكني كلام ته نده.

په بعض روایاتو کښې دی چې کله داایت نازل شونونبي پاکﷺ په هغه څلورو کسانو باندې حد قذف جاري کړو چاچې په حضرت عائشهؓ باندې تهمت لګولې وو چې په هغې کښې یو رئیس المنافقین عبدالله ابن ابي ابن سلول او دري (۳) مخلص مسلمانان حضرت حسان بن ثابتؓ. حضرت مسطح بن اثاثه او حضرت حمنه بنت جحشؓ وو. طبراني په روایت کښې دي چې نبیﷺ په رئیس المنافقین باندې دوه (۲) حده جاري کړي وو.

اوبعض فرمائي چې صرف په دري (۳) مسلمانانو باندې حد جاري کړي وو او دَرئیس المنافقین معامله ئې اخرت ته پریخي وه. اودَدي قول تائیدپه روایت دَابوداؤدسره کیږي چې حضرت عائشهؓ فرمائي چې: لمّانزلت عذري قام النبيﷺ فذکرذٰلك وتلاالقرآن فلمّا نزل من المنبرامربالرجلين والمراءة فضربوا حدّهم (ابو داود).

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ

اوهغه کسان چې بدنامه اولګوي په بیبیانو خپلوباندې اونوي دوئ دپاره ګواهان مګرخانونه دَدوئ پس ګواهي

اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٦ وَالْخَامِسَةُ

دیودَدوئ (خاوند) لره. څلورګواهئ دي چې قسم په اللهﷻ باندې چې بیشکه دي (خاوند) خامخادَرشتینونه دي اوپنځمه ګواهي داده

اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٧ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ

چې لعنت دَاللهﷻ دې وي په ده باندې کچرې دې دروغژن وي لرې به کړي. دَزنانه نه عذاب (سزا) چې ګواهي اوکړي زنانه

اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝٨ وَالْخَامِسَةَ

څلورګواهئ سره دَقسم نه په اللهﷻ باندې چې بیشکه داخاوندخامخادَدروغژنونه دې. اوپنځم خلې به (وائي)

اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

چې غضب دَاللهﷻ دې وي پدې (زنانه) باندې کچرې داخاوندریشتینونه وي. اوکچرته نه وي فضل دَاللهﷻ په تاسو باندې

وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ۝١٠

اورحمت دَهغه اوداچه بیشکه اللهﷻ ډیرتوبه قبلوونکي دې حکمتونو والادې، (نوزربه ئې درله عذاب درکړې وې)

﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ﴾ داخلورم حکم دې دَتطهيردَمعاشرې دپاره. مخکښې اياتونوکښې په اجنبياتوباندې دَزناالزام لګولومتعلق احکامات ذکرشو اوس پدې ايت کښې په خپلوبيبيانو باندې دَزناالزام لګولومتعلق قانون ذکرکيږي، چې هغې ته لعان وئيلې کيږي. چونکه په يوعام کس باندې تهمت لګول اوپه خپلې بې بې باندې تهمت لګول دواړه دَجداجدا نوعيت والامسئلې دی، يوعام کس په يوقابل اعتراض فعل باندې کتلوپه صورت کښې معامله زياته سنګينه نوې ځکه چې ګواهان ئې کچرته نشوپيش کولې نوخاموشه به پاتې شي اوپدې خاموشئ کښې ده ته څه نقصان نيشته دې اودغه شان ګواهان موندل هم اسان وې اوخپله بې بې قابل اعتراض حالت کښې ليدل دَخاوند دپاره ډيرسخت نوعيت والامسئله وې خاموش نشي پاتې کيدلې اوګواهان نيول هم يومشکل کاروې، نودَدې وجې نه شريعت په داسې حالاتوکښې دَ(لعان)قانون مقررکړيدې دې.

لعان دَباب مفاعلې نه دې په معنې دَيوبل باندې لعنت وئيلوسره دې اوپه اصطلاح دَشرع کښې دَښځې اوخاوندپه مينځ کښې په مخصوص الفاظوسره قسم خوړلوته لعان وئيلې کيږي، طريقه دهغې داده چې کله يوخاوندپه خپلې بې بې باندې الزام اولګوې اوڅلورګواهان پيش نکړې، اوياخاوندنفې دَولدادکړې چې دابچې ځمادَنطفې نه ندې نوخاوندبه دَقاضې په حضورکښې په لفظ دَاشهدسره به قسم اوخورې چې: اشهدبالله اني لصادق فيمارميتهابه اوپنځم ځل باندې به دااوائې کچرته ځه پدې خبره کښې دروغژن يم نوپه ما باندې دې دَالله ﷻ لعنت وي، نوکچرته خاونددَدې الفاظووئيلونه انکاراوکړې نوقيدکولې به شي حتې چې يادَخپل ځان تکذيب اوکړې نوحدقذف به پرې جاري شي اويادې الفاظووئيلوته تيارشي اوکه خاونددا الفاظ اداکړل نوبيابه ښځه راويستلې شي اودَهغې نه به مطالبه اوکړې شي چې څلورځلې پدې الفاظوسره قسم اوکړه چې: اشهدبالله انه لکاذبُ فيمارماني به اوپنځم ځلې باندې دې داالفاظ اوائې کچرته دې پدې الزام لګولوکښې رينښتونې وي نوپه ماباندې دَالله ﷻ غضب وي کچرته ښځه دې الفاظووئيلوته تياره نشي نوقيدکولې به شي حتې چې يادې الفاظووئيلوته تياره شي اويادَخاوندتصديق اوکړې اورجم پرې جاري کړې شي اوکه ښځې داالفاظ اوئيلونولعان به مکمل شي نوخاوندبه ياپخپله طلاق ورکړې اويابه قاضي ددوئ په مينځ کښې تفريق راولې. اودَدوئ به په خپل مينځ کښې تعلق دازدواجيت به هميشه دپاره ختم شي

شان نزول دَدي په شان نزول کښ دوه(۲)قسمه واقعات په کتب دَاحاديثوکښ منقول دی.يوه واقعه دَهلال بن اميه ﷛ ده.خلاصه دهغې داده چې کله حدقذف ايت نازل شونودَانصارومشرسعدبن عباده ﷛ دَخولې نه په تعجب سره داکلمه اووتله چې يارسول الله آيادا ايت داسې نازل شويدې؟ نونبي پاك ﷺ انصاروته اوفرمائيلوچې تاسونه اورئ دې سعدځنګه خبره اوکړه؟ انصارونبې پاك ﷺ ته معذرت اوکړوچې دَده داخبره په قرآن باندې اعتراض ندې بلکه دَشدت غيرت دَوجې نه ده اوبياپخپله هم سعد ﷛ نبي ﷺ ته راغې اومعذرت ئې اوکړو اوعرض ئې اوکړوچې يارسول الله ځمايقين دې چې داایاتونه دَالله ﷻ دَطرف نه،نازل شويدی، ليکن ماته تعجب پدې راغې چې ځه دَخپلې بې بې سره يوکس اوګورم په زناباندې نوځه به هغې ته هيڅ نه وايم اوګرزم به ګواهان به لټوم نوترهغه وخته پورې به هغه خپل کارکړې وي اوتختيدلې به وي. څه لږوخت ورستوحضرت هلال بن اميه ﷛ نبي ﷺ ته راغې اوپه خپلې بې بې باندې ئې الزام اولګولوچې څه ماسخوتن وخت دَخپلې زمکې نه واپس راغلم نومافلانې کس دَخپلې بې بې سره په خپلوسترګوقابل اعتراض حالت کښ اوليدلواودَهغه خبرې مې په خپلو غوږونوسره واوريدلې.نبي پاك ﷺ اوفرمائيل چې ياخوپدې الزام باندې ګواهان پيش کړه اوياځان حدته تيارکړه، هلال ﷛ عرض اوکړوچې يارسول الله ﷺ نويوسړې به خپلې بې بې سره بل څوك اوګورې اوبيابه هم ګرځي ګواهان به تالاش کوي، نبي ﷺ ورته مسلسل دافرمائيلوچې ياګواهان پيش کړه اوياحدته تيارشه، نوهغه عرض اوکړوچې ځمادې په هغه ذات قسم وي چې ته ئې برحق نبي ﷺ رالیږلې ئې، څه پدې خپله خبره کښ رينښتونې يم، الله ﷻ به ضرورمادَحدنه خلاصولودَپاره حکم به رانازل کړي، نوداايت نازل شو اونبي ﷺ دَدوئ په مينځ کښ لعان اوکړو.

دويمه واقعه دَحضرت عويمر ﷛ ده چې امام بخاري اومسلم دواړونقل کړيده.مختصره خلاصه دهغې داده چې کله دَحدقذف متعلق مذکوره اياتونه نازل شونو عاصم بن عدي ﷛ نبي پاك ﷺ ته عرض اوکړوچې يارسول الله ﷺ کچرته يوسړې دَخپلې بې بې سره بل څوك په زناباندې اوګورې نوده نه به اجازت نوي چې دې خپله واقعه بيان کړي اوکچرې ئې بيان کړه نوسزاکښ به ورته حدورکولې کيږي.مردودالشهادة اوفاسق به وي يعني هغه سوال ئې اوکړوچې کوم سوال په مخکښې واقعې کښ حضرت سعد ﷛ کړې وو. پدې خبرې باندې يوه جمعه تيره شوه چې دحضرت عاصم بن عدي ﷛ په خاندان کښ دغه شان کاراوشوچې دده دَتره ځوی حضرت

عويمر ﷛ هغه دَخپلې بي بي خوله سره (داهم دده دَتره لور وه) يو خپل بل تره څوي شريك بن سمحاء په قابل اعتراض حالت کښې اوليدلو. عويمر ﷛ راغي او واقعه ئې حضرت عاصم ﷛ ته بيان کړه او هغه نبي ﷺ ته بيان کړه. نبي ﷺ ښځه او خاوند دواړه راوغوختلو او ورته ئې اوفرمائيلو چې الله ﷻ ستاسو په باره کښې ايت نازل کړيدې. او دوئ په مينځ کښې ئې لعان اوکړو

فائده بعض محدثينو دَايت دَشان نزول دَپاره دواړه واقعي اصل ګرځولي دي يعنې دواړو واقعو دَ ظهور نه پس دا ايت نازل شو، او بعض محدثينو دَايت مکرر النزول قول کړيدې. چې دواړو واقعو دَپاره ايت مکرر نازل شويدې ليکن غوره قول دادې چې اصل واقعه دنزول دَپاره دَحضرت هلال ﷛ والاوه او حضرت عويمر ﷛ ته دَدې حکم دَنزول علم نو و. نو دَدې وجې نه حضور ﷺ ورته اوفرمائيلو چې ستاسو په باره کښې دا حکم نازل شويدې

فائده چې کله دَښځې، خاوند په مينځ کښې لعان مکمل شي نو دوئ دواړه په يو بل باندې په حرمت ابدي سره حرام شو، او دَلعان نه ورستو کوم حمل دَښځې وي نو دَهغه نسب به دَسړي نه، نه شماريږي بلکه ښځې طرف ته به منسوب وي

﴿وَٱلْخَـٰمِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ ٱللَّهِ﴾ الخامسة دلته مرفوع دې او مبتداء ده او مابعد ورله خبر دې. او دويم ﴿وَٱلْخَـٰمِسَةَ﴾ په نصب سره دې ځکه هغه عطف دې په ﴿أَرْبَعَ شَهَـٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ﴾ باندې، مفسرينو نکته بيان کړيده چې اول ځلې ﴿وَٱلْخَـٰمِسَةُ﴾ په رفع سره ځکه ذکر شو چې دَنارينو عادت په ارام او په دمه دمه باندې خبرې کول وي نو مناسبه دَهغوئ سره مستقل کلام وو، نو ځکه ﴿وَٱلْخَـٰمِسَةُ﴾ په رفعي سره مبتداء راوړې شوه، او دويم ځلې ﴿وَٱلْخَـٰمِسَةَ﴾ په نصب سره ځکه ذکر شو چې عادت دَزنانو په جلتئ سره خبرې کول وي او هر لاحق کلام ئې دَسابق سر متصل او منضم وي نو مناسب دَهغوئ سره نصب وو چې دَماقبل کلام سره مربوط او منضم کړې شي

دغه شان په جانب دَلعان دَسړي کښې لفظ دَلعنت ذکر دې، او په جانب دَزنانه کښې لفظ دَغضب ذکر دې وجه داده چې زنانه لفظ دَلعنت په کثرت سره ذکر کوي او هيڅ يره ترينه نه کوي، لکه حديث کښې ورته هم اشاره شويده چې تکثر اللعن نو دَدې وجې نه زنانو دَپاره دَغضب لفظ ذکر شو او نارينه دَلعنت دَلفظ نه ډير اجتناب کوي او داورته سخت ښکاريږي په نسبت سره غضب ته نو ځکه دَنارينو دَپاره لعنت لفظ استعمال شو

﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾ دا جمله څلورځلي ذکرکیږي په دوه(٢) ځائ نو کښې ورسره جواب د لولا ذکرکیږي او په دوه(٢) ځایو نو کښې ورسره نه ذکرکیږي. دلته دفضل نه مراد حدود مقررکول دي او جواب ئې لعاجل العقوبة دې.

اِنَّ	الَّذِيْنَ	جَآءُوْ	بِالْاِفْكِ	عُصْبَةٌ	مِّنْكُمْ ؕ
بیشکه هغه کسان چې راوړي ده بدنامه په عائشه ﷺ باندي يوه مضبوطه ډله ده ستاسونه					
لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ لِكُلِّ امْرِیٍٔ مِّنْهُمْ					
ګمان مه کوئ تاسو پدي(دروغو) باندې دبې خیرې ځان د پاره بلکه هغه خیر دې ستاسو دپاره. دپاره هریوکس ددوئ نه					
مَّا	اكْتَسَبَ	مِنَ	الْاِثْمِۚ	وَالَّذِیْ	تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ
سزادهغې ده چې کړې وي دګناه نه، اوهغه کس چې پورته کړې ئ دې لوئ بوج دهغه دروغو ددوئ نه.					
لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ⑪					
دده پاره عذاب لوئ شان والا دې.					

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ﴾ دا زجرذکرکیږي په تهمت لګوونکو باندې، اوافك په اصل کښې اړولو اوبدلولو ته وئيلې کیږي، اوبیا دالفظ مستعمل شو په هغه سخت قسم دروغو کښې چې حق په باطل اوباطل په حق سره بدله وي، مؤمن په فاسق اوفاسق په مؤمن سره بدله وي، دلته دالافك نه مراد بالاتفاق هغه تهمت دې چې په ام المؤمنين حضرت سيدناعائشه صديقه ﷺ باندې لګولې شوې وو، اوتعبيرددينه په الافك سره كولو كښې اشاره ده دیته چې ددغه شان غلطوخبرونسبت ام المومنين ته كول بديهي البطلان اومعروف البطلان دي، واقعه دافك په تفصيل سره په كتب داحاديثو كښې ذکرده چې سنه(٦ھ) نبي ﷺ دغزوه بني المصطلق نه واپسې كوله په لاره كښې پړاؤځه وخت دپاره واچولو ،حضرت عائشه ﷺ قضاحاجت ته تلي وه اوهار ترينه روك شوې وو هغې خپل هارتالاش كولو اوقافله روانه شوه، اوصحابه كرامو ﷺ ته دحضرت ام المؤمنين دنحيف اوكمزوري بدن دوجي نه دا پته اونه لګيده چې په هودج يعني كجاوه كښې څوك نيشته دې كومه كښې به چې ام

المؤمنينؓ کیناستله. اوکله چې دیته هار میلاؤشو اوراغله نوقافله تللې وه نو دا په خپل ځائ کښې کیناستله او ځان ئې په څادر کښې رااونغختلو، پدې خیال چې نبی پاکﷺ به په ماپسي راشي چې کله ما اونه موندی، دَام المؤمنینؓ سترګې اولګیدلې اوپدې دوران کښې حضرت صفوان بن المعطلؓ راغې چې دَهغه ذمه داری دَقافلې نه ورستوراتګ وو. دهغه دَخلې نه کلمه دَاسترجاع وتلو سره ام المؤمنین راویخه شوه هغه خپله سورلئ کینوله او ام المؤمنینؓ ته ئې اشاره اوکړه اوهغه اوختله حتی چې مدینې ته اورسیدلو، نوچې کله رئیس المنافقین اوکتلو نو دائې اوئیل چې والله مانجت منه ولانجامنها(مدارك)اوبیائې تهمت تشهیرشروع کړو، اوداسلسله یوې میاشتې پورې جارې وه اونبیﷺ ته ډیره سخته صدمه رسیدلې وه. دې تهمت په سلسلې کښې خلك په څلورقسمه باندې وو، یودَهغه بدبختومنافقینو جماعت وو چې دَتهمت ابتداء ئې کړې وه اوبانیان وو چې هغه دعبدالله ابن ابې ملعون جماعت وو. دویم هغه مخلص مؤمنان وو چې دَمنافقینودَپروپیګنډې نه متاثره شوې وو اودَهغوئ دَخلونه نامناسبه خبرې وتلې وې، هغه درې کسان وو، حسان بن ثابتؓ،مسطح بن اثاثهؓ اوحمنه بنت جحشؓ اودریم هغه مؤمنان وو چې هغوئ نه دَدې تهمت تصدیق کولو اونه تکذیب اوڅلورم هغه مؤمنان وو چې هغوئ دَدې تهمت فوراتکذیب اوکړو،نوپدې ایاتونوکښې په اول درې(۳)جماعتونوباندې زجرذکرکیږي،﴿عُصْبَةٌ مِّنكُمْ﴾ عصبه دَلسو(۱۰)نه ترڅلویښت کسانو جماعت ته وئیلې کیږي اوکله کله ئې دَلسو(۱۰)نه کم کسانوباندې هم اطلاق کیږي، دلته ترینه مراد عبدالله ابن ابی ملعون دې چې هغه دَدې تهمت اصل باني وو،دیته اشاره ده په لفظ دَ﴿جَآءُو﴾ سره یعني دَځان نه ئې خبره جوړه کړې وه اوهرچه وو مخلص مؤمنان اګرچه هغوئ دَتهمت صریح الفاظ وئیلې وو لیکن بانیان دَتهمت نوو اودلته﴿جَآءُو﴾جمع ځکه ذکرشوچې رئیس المنافقین سره نورمنافقین هم شامل وو،خوهغوئ صراحت سره تهمت نوولګولې اوپه منکم سره خطاب مسلمانانوته دې اورئیس المنافقین اګرچه حقیقتاً په مسلمانانوکښې داخل نوو لیکن ځان به ئې ظاهرا مسلمانانو په صف کښې شماره ولونو دَظاهرې حال دَوجې نه اللهﷻ هم په مسلمانانوکښې ظاهرا شمارکړواومنکم لفظ استعمال ئ کړو.

﴿لَا تَحۡسَبُوهُ شَرّٗا لَّكُم﴾ پدیکښ تسلي ده عام مؤمنانوته اوخصوصاًال ابوبکرؓ اوصفوانؓ ته، یعني تاسودا واقعه دځان دپاره شرمه کنړئ بلکه الله ﷻ ستاسو دپاره دېولوئ خیرذریعه اوګرځوله (۱) یوخیرپکښ داوو چې دا واقعه سبب دَ نزول دَسورة النور دپاره اوګرځیدله چې هغه په اهم اوضروري احکاماتو باندې مشتمل دې، (۲) دویم داچې دَمخالفینو تکذیب قرآن اوکړو اودَهغوئ دپاره سخت وعید والاایاتونه همیشه دپاره دَمسلمانانو په خلوباندې جاري کړې شو (۳) اودریم لوئ خیرپکښ داشو چې براءت اواحصان دَام المؤمنین منصوصی شو اودَمخلوقاتو په ځائ خالق دکائناتو په خپله دَهغې دَاحصان ګواهي ورکړه، حضرت عائشهؓ فرمائې چې ځماخیال داوو چې الله ﷻ یابه خوب کښ نبيﷺ ته ځماصفائې اوښائې اویاپه بلې څه طریقې سره، اوداتوقع مې نوه چې ځماپه باره کښ به لس (۱۰) ایاتونه نازلیږي اودادَخصوصیاتو دَام المؤمنینؓ دې، قرطبي کښ دي چې کله په یوسفؑ باندې تهمت اولګیدلونودَهغه صفائې الله ﷻ دَغیرې دَیوماشوم په ذریعې سره اوکړه، حضرت مریمؑ باندې چې تهمت اولګیدلونودَهغې دَصفائې ګواهي الله ﷻ دَهغې دَبچې په ذریعې سره اوکړه، اودَ ام المؤمنینؓ دَصفائې دَپاره الله ﷻ لس (۱۰) ایاتونه نازل کړو اودَهغې براءت اعلان ئې اوکړو.

﴿لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُم﴾ یعني، چاچې څومره حصه اغستې ده دهغې مطابق ورته ګناه رسیدلې دې اودهغې مطابق ورته سزامقررده، ﴿وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ﴾ دَدینه مرادرئیس المافقین عبدالله بن ابې دې چې هغه دَدې بهتان ابتداء کړې وه، اونشرواشاعت به ئې کولو، اوپه دې باندې دلیل روایت دَبخاري دې، ثم الاکثرون علی ان المراد بذلك انماهوعبدالله ابن ابی ابن سلول قبحه الله تعالی (ابن کثیر)، والمرادبالذي تولیٰ کبره کمافی صحیح البخاري عن الزهري عن عروة عن عائشةؓ عبدالله ابن ابي علیه اللعنة وعلی ذلك اکثرالمحدثین (روح) اوپه بل روایت دَبخاري کښ دی چې حضرت مسروقؒ حضرت عائشهؓ ته اوفرمائیلوکله چې حضرت حسانؓ حضرت عائشهؓ ته راغې چې قدعین مثل هذایدخل علیكِ وقدانزل الله تعالی والذ . تولی کبره منهم، یعني ته داسې سړې ته ولې اجازت ورکوې چې دَهغه په باره کښ الله ﷻ ﴿وَٱلَّذِي تَوَلَّىٰ﴾ ایت نازل کړیدې، نوحضرت عائشهؓ ورته جواب کښ اوفرمائیلوچې واې عذاب اشدُمن العمی، یعني دَړوندوالې نه علاوه بل کوم عذاب به دَمسلمان دپاره زیات سخت وې؟ نوددینه معلومیږي چې دَدې ایت مصداق حضرت حسانؓ

هم دي. نو محدثينو ترينه جواب كړيدې چې حضرت مسروقؒ د دي ايت په مصداق كښې حضرت حسانؓ هم شاملول د خپل اجتهاد موافق وو او د حضرت عائشهؓ جواب مبني وو على سبيل التنزل يعني د حضرت عائشهؓ مقصد داوو كچرته بالفرض والتقدير د دي ايت په مصداق كښې حضرت حسانؓ هم شامل شي نو د هغه د پاره عذاب عظيم روندوالي دې(لامع الدراري)

لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا
ولي نو-چې كله تاسو واوريدلو دا خبر- گمان كړې مؤمنانو سړو مومنانو زنانو په يو بل باندې د خير. او ونيلي وې
هٰذَآ اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ⑫ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ
چې دا دروغ ښكاره دي. ولي نه راوړي دوئ په دي باندې څلور گواهان پس هر كله چې دوئ رانه وستل گواهان پس دغه كسان
عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ⑬ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ
په نيز د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دوئ دروغژن دي. او كچرې نوې فضل د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په تاسو باندې او رحمت د هغه په دنيا او آخرت كښې
لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ⑭
نورسيدلې به وې تاسو ته په وجه د هغه كارچې ورننو تلي يئ تاسو په هغې كښې عذاب لوئ شان والا
اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ
كوم وخت چې راغستله تاسو دا خبره د يو بل نه په ژبو خپلو سره او ونيله تاسو په خپلو خلو هغه خبره چې نو و تاسو لره په هغې باندې
عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ⑮
هيڅ علم(دليل) او گمان كولو تاسو په هغې باندې د معمولي خبرې او هغه په نيز د الله جَلَّ جَلَالُهٗ لويه (بده) خبره وه

﴿لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ﴾ دا هم زجر دې په هغه خلكو باندې چې د خلي نه ئې نامناسب الفاظ راوتلي وو. او په دي ايت كښې التفات دې د خطاب نه غيبت طرف ته د پاره د تاكيد په زجر كښې او د ايت مقصد دا دې چې د مؤمن شان دا دې چې هغه د بل مؤمن د پاره د خيرخواهي او د عزت او حسن ظن داسي جذبه لري ... د پاره ... نو ... باندې واجب وه

چې كله دوئ داهل افك خبري واوريدلي نوفورابه ئې دهغې تكذيب كړې وو. اودائې وئيلې وې چې مونږ په خپلو مسلمانانوخويندواوروڼوباندې دابدګماني نشوكولې. اومراد د ﴿بِأَنفُسِهِمْ﴾نه هم جنس مسلمانان مرادي. اوتعبيرترينه په نفس سره كولوكښ اشاره ده دينه چې مسلمانان ټول په منزله دَيو جسم اوبدن دی نودَبل مسلمان رسوائې داپه حقيقت كښ دَخپل ځان رسوائې ده

﴿وَقَالُوا هَـٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ﴾په ديكښ اشاره ده چې دَهرمسلمان متعلق حسن ظن ساتل واجب دی ترڅوپورې چې دَهغه خلاف دليل شرعي نوې موجود شوې،مفسرينوپه سندضعيفه سره واقعه ذكركړيده چې حضرت ابوايوب انصاري﷜ ته خپلې بې بې دَدې واقعې په باره كښ اطلاع وركړه نوهغه ورته اوئيل چې دابهتان دې اوبيائې خپلې بې بې ته اوئيل چې ته داسې كولې شې؟ هغې ورته اوئيل چې نا،نوده ورته اوفرمائيلوچې عائشه﷞ ستانه ډيره غوره ده هغه چرته هم داسې نشې كولې

﴿لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ﴾داهم زجر دې،فريق ثانی ته،يعني اول خو داسې خبر مخكښ راتللو باندې بدګمانی نوه پكار،بلكه بالكل رد كول پكار وؤ،خو كچرته دوئ فی الفور مستردكولونه،نو داخو ضروری وؤ،چې دګواهانو مطالبه ئې ترينه كړې وې.او ګواهانو پيش كولونه بعد داسې الفاظ دوئ دَخولې نه رااوباسلې وې،نو هركله چه دوئ سره ګواهان نوؤ،بياڅرنګه تاسو دوئ خبرې راخلئ او مخكښ پيش كوئ؟

﴿فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ عِندَ ٱللَّهِ﴾داعلت اودليل دې دَماقبل كلام يعنې﴿هَـٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ﴾دَپاره. اوعندالله نه مراد حكم اوشريعت دَالله ﷻ دې نودَايت مطلب دادې چې كله دوئ ګواهان پيش كولونه،عاجزوو نودوئ دَقانون اوشريعت موافق كاذب وو نولهذا تاسوته دَدوئ تكذيب پكاروو،اودَدينه داهم معلومه شوه چې كله كله يوانسان په الزام لګولوكښ ريښتنې وې خواقامت دَ بينه نه، عاجزه وې نودا كس به په ظاهردَشرع كښ كاذب وې اګرچه صادق فې علم الله وې. اوحدود وغيره جاري كيږي په ظاهردَشرع سره نه په علم دَالله ﷻ باندې.

﴿وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾داهم زجردې فريق ثانی ته چې مؤمنان وو خوتهمت كښ ئې حصه اغستې وه«لولا»دلته امتناعيه دې، يعني انتفاء ثانې دَپاره دې لوجود الاول اوجواب ئې

مذکوردي چې ﴿لَمَسَّكُمْ فِي مَآ أَفَضْتُمْ﴾دي اودا یت مقصد دادي چې تاسو په زوجه مطهره د رسول ﷺ اوام المؤمنين باندې تهمت اولګولو تاسو د دې دوجې نه د دې مستحق وئې چې فورا درباندې عذاب راغلې وې لیکن د الله ﷻ دفضل اورحمت دوجې نه په تاسو باندې فوراً عذاب رانغلو. اومراد په فضل اورحمت سره په دنیا کښې د ایمان توفیق، د نبي پاک ﷺ صحبت اودتوبې ویستلو د پاره مهلت ورکول دي اود دې مهلت نه مؤمنانو فائده واغستله اوتوبه ئې اویستله اومنافقینو ترینه صرف وقتي اوعارضي فائده واغستله اودائمي عذاب نه ئې ځان بچ نکړو. اودآخرت فضل اورحمت هغه عفو اودرګزر او جنت ته داخله ول دی.

﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ﴾ داهم فریق ثاني ته زجر دې او (اذ) متعلق دې د لمسّکم سره یعني لمسّکم عذاب عظیم حین تلقونه بالسنتکم اوپدیکښې د دري (۳) اسبابو دعذاب ذکر دې. (۱) د تهمت تشهیر کول (۲) ﴿وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُمْ﴾ یعنې بلاتحقیقه خبرې کول (۳) ﴿وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا﴾ یعنې لوئې ګناه معمولي ګنړل.

وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا ۖ
اوولې نوه کله چې تاسو اوریدله داخبره چې ونیلې وې تاسو، ندې روا مونږلره چې خله اوخوځوو پدې باندې،
سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ⑯ يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا
پاکي ده تالره (اې خدایه) دا لوئ بهتان دې. منع کوي (په نصیحت سره) تاسولره الله ﷻ چې بیا اونکړئ پشان د دې هیڅ کله
إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ⑰ وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ⑱
کچرې تاسو مؤمنان یئ، اوبیانه وي الله ﷻ تاسو ته احکام اوالله ﷻ پوهه دې حکمتونو والادې
إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ
اوبیشکه هغه کسان چې خوښوي داچې خوره شي بدکاري په هغه کسانو کښې چې مؤمنان دي، د دوئ د پاره عذاب دردناک دې

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝١٩ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

په دنیااواخرت کښې.اوالله ﷻ پوهیږي اوتاسونه پوهیږئ.اوکچرې نوې فضل دالله ﷻ په تاسوباندې اورحمت دهغه

وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٠ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ

اوداچه الله ﷻ شفقت کوونکې دې رحم کوونکې دې،، نو زر به نې عذاب درکړې وو.اې مؤمنانو مه ځئ تاسو په قدمونودشیطان پسې

وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ

اوڅوک چې روان شي په قدمونودشیطان پسې پس بیشکه هغه ښودنه کوي دګنده کارونو اودناکاره خبرو

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا

اوکچرې نوې فضل دالله ﷻ په تاسوباندې اورحمت دهغه نوپاك به نوې پاتې شوې دتاسونه هیڅ څوك هیڅرې

وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٢١

لیکن الله ﷻ پاك ساتي چاله چې اوغواړي اوالله ﷻ دهرڅه اوریدونکې دې،په هرڅه باندې پوهیدونکې دې

وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْۤا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ

اوقسم دې نه کوي دلوئې مرتبې والا دستاسونه اومال والاپه دې چه نفقه به نه ورکوي خپلوانوته اومسکینانوته

وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ

اوهجرت کوونکو ته په لاره دالله ﷻ کښې اومعافي دې کوي اومخ دې اړه وي دملامته کولونه آیاتاسونه خوښوئې

اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٢

چې بخنه اوکړي الله ﷻ تاسوته اوالله ﷻ بخنه کوونکې رحم کوونکې دې

﴿وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ﴾دا زجردې په دریم جماعت باندې،چې هغوي دی معامله کښې بالکل خاموش پاتی شوي وو،اوهیڅ یې نوؤویلی.نوالله تعالی فرمائی چه داسی نامناسب اوغلط خبر مخکښې راتللو په صورت کښې څرنګه چه حصه نه اغستل ضروری وو.هم هغه شان د

هغې تردید او دَعائشه برات ضروري وؤ نو تاسو بیا ولې په داسې موقع باندې خاموش پاتې شولئ؟ خو پدیکښې تاکیددې په نسبت سره ماقبل ته. ځکه پدیکښې تقدیم دَظرف راغلیدې په اسم دَ ﴿وَلَوۡلَا﴾ باندې یعني ﴿سَمِعۡتُمُوهُ﴾ مقدم شویدې په ﴿قُلۡتُم﴾ باندې چې داپدې دلالت کوي چې دَتهمت په اوریدلو سره دَهغې تکذیب پکاروو، او دغه شان کلمه دَتعجب یعني لفظ دَ ﴿سُبۡحَـٰنَكَ﴾ هم پکښې استعمال شویدې نو دَایت مقصد دادې چې په ام المؤمنین ﷞ باندې لګولې شوې تهمت اوریدلو سره تاسو ته داوئیل پکاروو چې ﴿سُبۡحَـٰنَكَ هَـٰذَا بُهۡتَـٰنٌ عَظِيمٌ﴾ او سبحنك دَپاره دَتعجب دې او کلمه دَتعجب ځکه استعمال شوه چې دابهتان په یو عامې زنانه باندې نوو. بلکه په زوجه مطهره، ام المؤمنین او حرم رسول ﷺ باندې او داپه ګناه باندې یو ډیر لوئ جراءت وو چې دادَهر ذي عقل انسان دَپاره دَتعجب خبره وه نو ځکه سبحنك دلته ذکر کړې شو او زمخشري ﷫ فرمائي چې داهم ممکنه ده چې سبحنك په خپلې معنی (تنزیهه) سره شي، او مراد دَتنزیهه نه تنزیهه دَالله ﷻ شي دَدینه چې دَیونبي زنانه او بې بې بدکاره اوګرځي، نو مقصد داشو چې اې الله ﷻ تا لره دَدینه پاکي ده چې دَپیغمبرې بې بې بدکاره اوګرځي، یعني دَپیغمبرې بې به بدکاره نوي نو لهذا دَمنافقینو داالزام بهتان عظیم دې.

﴿يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ﴾ وعظ هغه نصیحت ته وئیلې کیږي چې یره پکښې هم ورکړې شي خو دلته په معنی دَمنع سره دې اې ینهاکم الله، او ﴿لِمِثۡلِهِۦٓ﴾ کښې لام په معنی دَالا سره دې او دَمثل نه مراد یا مماثلت في القول دې، چې هغه په حضرت عائشه ﷞ باندې تهمت لګول دی نو پدې صورت کښې دَ ﴿إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ نه مراد نفس ایمان دې، ځکه چې دَحضرت ام المؤمنین براءت الله ﷻ بیان کړو نو بیا هم هغه شان خبرې کول تکذیب او انکار دَقرآن دې نو دَدې وجې نه دغه سړې کافر دې، او یا دَمماثلت نه مراد مماثلت في المقول عنه یعني یو پاکدامنې زنانه باندې تهمت لګول دې نو که مقول عنه نور ازواج مطهرات وي نو بیا هم دَ ﴿إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ نه مراد نفس ایمان دې ځکه چې دَازواج مطهراتو په باره کښې غلطې خبرې کول او تهمت لګول نبې پاك ﷺ ته ایذا رساني او هغه ته په باره دَعزت او اهل کښې تکلیف ورکول دی، او پیغمبر ﷺ ته تکلیف ورکول کفر دې، او که مقول

عنه دازواج مطهرات نه علاوه بل ځوك مسلمان وي نوبيا سخت ګناه دي اوپدي صورت کښې د﴿إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾نه مراد كامل ايمان دي(والتفصيل في القرطبي ص۱۵۵ ج ۷).

﴿وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ﴾دا ترغيب دې په احكاماتو باندې عمل كولو ته﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ﴾ داعلت دتهمت لګولو ذکر کيږي،سره دتخويف دنيوي،اخروي نه يعني دامنافقين تهمتونه څکه لګوي چې د دې په ذريعې سره مسلمانانو کښې فحاشي اوبې حيايي خورول غواړي، او فاحشة نه مراد فعل قبيح دي كه هغه په يو مسلمان باندې تهمت لګول وي يانوراسباب دبدکارئ عام كول وي لكه سينما وغيره شو.

﴿لَهُمْ عَذَابٌ﴾دا تخويف دې،دنيوي عذاب نه مراد تكاليف دنيوي اوحدقذف وغيره دې اواخروي عذاب نه مراد دخول جهنم ته دې اوعذاب اخروي مشروط دي دتوبې په نه ويستلو پوري﴿وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ﴾دابيااعاده دزجرده تهمت لګوونكوته اودااعاده دپاره داحساس وركولو دانعاماتو اودا حساناتو ده اوجواب دلولا محذوف دې چې هلكتم اويالعذبتم دې.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾دا نصيحت ذکر کيږي مؤمنانو ته چې تهمتونه لګول شيطاني کار او دهغه اتباع ده اودشيطان اتباع ذريعه دګمراهي ده نو مؤمنانو ته ځان ددېنه بچ ساتل پكاردي، ﴿وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَٰتِ﴾داشرط دي اوجزائې محذوفه ده چې فقدغوىٰ ده او﴿فَإِنَّهُۥ يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ﴾مرتب دې په جزاء باندې،اومراد په امرسره ياطلب دګناه دي عام لدېنه چې هغه يا په امركولو دمنكراتو سره وي اويا په منع كولو دواجباتو سره وي، اويا امركنايه ده تزئين دمعاصيونه كه په فعل دمنكراتو سره وي اويا په ترك دواجباتو سره وي، او ﴿بِٱلْفَحْشَآءِ﴾نه مراد هغه كارونه دې چې قبيح وي عقلاهرذي عقل انسان هغې ته بدوائي،لكه زنا ،دروغ وئيل اوبهتان لګول وغيرهم شو.اومنكرنه مراد هغه دې چې قبيح وي شرعاً، ﴿وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ﴾دلته دفضل نه مرادحدقذف مقرره ول دى،او﴿مَا زَكَىٰ﴾ نه مراد پاك پاتي كيدل دى دتهمتونونه،يعني كچرته الله ﷻ په تاسو باندې فضل نوې كړې اوحدقذف ئې نوې مقرر كړې نودمنافقينو دتهمتونونه،به تاسو مسلمانانو کښې به ځوك هم بچ نوې پاتي شوې، لكه څرنګه دذي ملعونانو نه دنبي ﷺ زوجه مطهره اوام المؤمنين بچ نشوه، خو الله ﷻ

حد قذف حکم نازل کړو نو دَ دوئ خلي ئې همیشه دَپاره بند کړي او یا دَ فضل نه مراد قرآن دې او دَ تزکیې نه مراد تزیکېه دَ شرك نه ده یعني کچرته الله ﷻ په تاسو فضل نوې کړې او قرآن ئې نوې نازل کړې نو تاسو به چرته هم دَ شرك او نورو ګناهونو نه به پاکي نوې حاصل کړي لیکن الله ﷻ قرآن نازل کړو په هغې سره ئې دَ توحید او شریعت لاره تاسو ته اوښودله.

﴿وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّى﴾ مقصد دادې چې تزکیه معلقه ده په مشیت دَ الله ﷻ پورې او انسان په تزکیې کښې الله ﷻ ته محتاجه دې، ﴿وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا۟ ٱلْفَضْلِ﴾ دا ایت نازل شویدې په باره دَ ابوبکر رضي الله عنه او مسطح رضي الله عنه کښې، حضرت مسطح رضي الله عنه دَ حضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ ترور (خاله) ځوې وو مسکین بدري او مهاجر صحابي وو ،حضرت ابوبکر رضي الله عنه به دده سره دَ قرابت دیني و دنیوي دَ وجې نه ډیرزیات مالي تعاون کولو خو په واقعه افك کښې دَده نه غلطي اوشوه او دَده دَ خلي نه هم هغه الفاظ اووتلو کوم چې رئیس المنافقین وئیلې وو، په هغې باندې حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ډیره صدمه اورسیدله کله چې دَ حضرت ام المؤمنین رضي الله عنها براءت نازل شو نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه قسم اوکړو چې څه به دَ نن بعد په مسطح باندې هیڅ قسم خرچه اونکړم، نو دا ایات نازل شو ، او مراد په ﴿أُولُوا۟ ٱلْفَضْلِ﴾ سره حضرت ابوبکر رضي الله عنه دې او په دیکښې اشاره ده چې حضرت سیدنا ابوبکر رضي الله عنه افضل البشر دې بعد الانبیاء.

﴿أُولِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ﴾ دَ دینه مراد حضرت مسطح رضي الله عنه دې ﴿أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ﴾ دا تمثیلي حجت دې چې څرنګه چې تاسو دا خوښوئ چې الله ﷻ ستاسو ګناهونه معاف کړي نو دغه شان تاسو دَ مخلوقاتو او خاص طور دَ هغه کسانو چې په مرتبه او وسعت مال کښې ستاسو نه کمزوري دي دَ هغوئ قصور او جرمونه معاف کوئ او په روایت دَ شیخینو کښې دي چې: کله دا ایت نازل شو او نبي پاك ﷺ په ابوبکر رضي الله عنه باندې تلاوت کړو نو هغه فورا اوفرمائیلو چې:بلی والله یاربّنا انّا نحبّ ان تغفرلنا او مسطح رضي الله عنه ته ئې بیا هغه شان نفقه جاري کړه او اوفرمائیلو چې:والله لا انزعها منه ابداً.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرْمُونَ ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ لُعِنُوا۟
بیشکه هغه کسان چې بهتان لګوي په پاکوسادګانوایمان والوزنانوباندې لعنت کړ شویدې په دونې باندې
فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿۲۳﴾ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ
په دنیااواخرت کښ اودوئ لره عذاب لوئ شان والادې. په هغه ورځ چې ګواهي به کوي په دوئ باندې ژبې ددوئ
وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ
اولاسونه ددوئ اوخپې ددوئ په هغه عملونوباندې چې دوئ ئې کوي، په دغه ورځ پوره به ورکړي الله جل جلاله دوئ ته
دِينَهُمُ ٱلْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ ٱلْمُبِينُ ﴿۲۵﴾ ٱلْخَبِيثَٰتُ
بدله ددونې حقه بدله اویقین به اوکړي چې بیشکه الله تبارک وتعالیٰ هغه حق دې ښکاره کونکې دې. پلیتې زنانه
لِلْخَبِيثِينَ وَٱلْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَٰتِ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ
دپاره دپلیتانونارینودی اوپلیتان سړی دپاره دپلیتوزنانوذي. اوپاکې زنانه دپاره پاکونارینؤدی اوپاک نارینه
لِلطَّيِّبَٰتِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۲۶﴾
دپاره دپاکوزنانوذی، دغه کسان پاك دی دهغه خبرونه چې وائی پلیتان،دپاره ددوئ بخښنه ده اورزق عزت والادې.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرْمُونَ﴾ پدې ایاتونو کښ زجرونه دے هغه منافقینوته چې تهمت ئې لګولې وو اوبیانې توبه نوه ویستلې، لکه عبدالله ابن ابي وغیره شواوقربنه پرې داورستوجمله ده چې﴿لُعِنُوا۟ فِى ٱلدُّنْيَا﴾. ﴿ٱلْمُحْصَنَٰتِ ٱلْغَٰفِلَٰتِ﴾غوره قول دادې چې دَدینه مرادتولې پاکدامنې زنانه دی اوحضرت ام المؤمنین رضی الله عنها ددې مصداق اولی ده، اوداحکم دَسړوهم دې اوسړی نه ذکرکول دَوجې دَاکتفاءنه دې په زنانوباندې چې زنانه باندې تهمت لګول مستلزم دی تهمت لره په سړي باندې.نودَدې وجې نه اکتفاء اوکړې شوه په ذکردَزنانوباندې لکه سرابیل تقیکم الحر،پشان اوبعض فرمائي چې داصفات دَنفوس دَپاره دی یعني نفوس المحصنات نوځکه داحکم سړواوزنانو ټولوته شامل دې. (بحر).

او ﴿ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ﴾ نه ورستو ﴿ٱلۡغَٰفِلَٰتِ﴾ ذکرکولوکښې کمال عفت ته اشاره ده. ځکه چې دَاحصان مقصد دادې چې دګناه نه ځان ساتي، او دَغافلات. مقصد دادې چې دهغوئ په زړونوکښې دَبدکارئ طرف ته خيال هم نوي تللې، ګوياچې دَهغوئ عنصراو ماده طهارت ده (روح).

﴿يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ﴾ ظرف متعلق دې دَ﴿لُعِنُوا﴾ اوياد ﴿عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ سره اوشهادت نه مراداقرار دَجرمونودې غيراختياري طورباندې، يعنې چې کله دقيامت په ورځ دوئ په اعمالنامه کښې درج شوي ګناهونونه، انکاراوکړي نو الله ﷻ به دَدوئ نه دَخبروکولو اختياري قوت سلب کړي نوهره عضوه به دَهغې جرم اقراراوکړي کوم جرم چې دَدينه صادرشويدې. اوددې ايت تعارض دَسورة يٰسين ايت نمبر(۶۵)سره نيشته دې چې هلته په خلوباندې دَمهرلګولوذکردې اودَلاسونواوخپوپه ذريعې سره ګواهي ورکولو بيان دې، ځکه چې هلته په خلې باندې مهرلګولومقصد اختياري قوت دګويائې سلب کول دی. يعنې خله به دَدوئ دَارادې موافق خبري به نشي کولې اودامطلب ندې چې مطلقاخبري به نه کوي اوداهم ممکنه ده چې داايت خاص شي په تهمت لګوونکومنافقينوپوري اودَسورة يٰسين والاايت نه دې عام کافران مراد شي. يعنې عام کافران به چې کله انکاراوکړي نودَخلې نه علاوه باقي اعضاء بهٔ دَهغوئ خلاف ګواهي ورکوي، اودَمنافقينو خصوصيت به داوي چې دَدوئ خلاف به نوراعضاء هم ګواهي ورکوي، اودَدوئ خپلې خلې به هم دَدوئ خلاف ګواهي ورکوي اوداهم ممکنه ده چې ابتداءً به دَدوئ خلې بندې کړې شي اودَدوئ نوراعضاء به دَدوئ خلاف ګواهي ورکړي اوبيابه ورستودَدوئ خلوته بهٔ حکم اوکړې شي چې اوس تاسوهم صحيح ګواهي ورکړئ، نودَسورة يٰسين ايت محمول دې په ابتدائ حالت باندې اوايت مذکوره محمول دې په وروستنې حالت باندې(والله اعلم).

﴿يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ﴾ تنوين عوض دَجملې نه دې [دينهم]دين دلته په معنې دَبدلې سره دې، او﴿ٱلۡحَقَّ﴾ په نصب سره صفت دې دَدين دَپاره، اوحق يايه معنې دَانصاف سره دې، يعنې الله ﷻ به دوئ ته دَانصاف موافق بدله ورکړي اوياحق په معنې دَواجب اوثابت سره دې يعنې کومه بدله چې دَدوئ دَپاره ثابته اوضروري ده هغه به ورته الله ﷻ ورکړي.

﴿أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ﴾مبين یاصفت دي دحق دپاره اویاخبرثاني دي دانّ دپاره اوداد ابانَ یبین نه فعل لازمي دي، نوداول احتمال په بنیاد معنیٰ ئې داده حقیّت دالله ﷻ ښکاره دې په هرقسم دلائلوسره اودویم احتمال په بنیادمعنې ئې داه چې الوهیت دالله ﷻ ظاهردې په دلائلوسره اویامبین دابان نه فعل متعدي دې،معنې ئې داده چې الله ﷻ ظاهره وونکې دې اشیاؤلره اوواضح کوونکې دې حق لره

﴿ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ﴾پدې ایت کښې تخویف اوبشارت ذکرکیږي اودې ایت دري(۳)قسمه ترجمې کړې شویدی(۱)﴿ٱلۡخَبِيثَٰتُ﴾نه مراد افعال خبیثات دی او﴿وَٱلطَّيِّبَٰتُ﴾نه مرادافعال الطیبات دی. دایت مقصددادې چې پلیت کارونه دپلیتوخلکوسره لائق دی اوهغوئ ئې کوي، اوپاکدامنو خلکوسره پاك کارونه لائق دی اوهغوئ دبدوکارونونه ځان بچ ساتي نولهذا حضرت عائشه رضی الله عنها اوصفوان رضی الله عنه وغیره امهات المؤمنین اوصحابه کرام رضی الله عنهم پاك دامن اوعفیف دی اودهغه پلیت اوبدکارونونه پاك دې کوم چې منافقین دوئ ته نسبت کوي. داایت دلیل شو په پاکدامنئ د ام المؤمنین باندې په طریقي دپاکیزګئ دطبعیت دهغې سره(۲) د ﴿ٱلۡخَبِيثَٰتُ﴾اود﴿وَٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ نه اقوال خبیثات اواقوال طیبات مراددي، اودایت مقصد دادې چې پلیتي خبري دپلیتو اودبدکاروخلکوکار دې، نیك اوپاکیزه خلك نیکي اوپاکیزه خبري کوي، نوداتهمت لګوونکی پلیت اوګندہ خلك دی،ددوئ خبري ګنده دی ددې تهمت نه ام المؤمنین رضی الله عنها اوصفوان رضی الله عنه وغیره پاك دي(۳) دالخبیثات اوالطیبات نه زنانه مراددي یعني النساء الخبیثٰت للرّجال الخبیثون اوداایت مقصددادې چې دالله ﷻ عادت پدې جاري دې چې دپلیتوزنانوپه زړونوکښې داعیه اوخواهش دپلیتوسړووي اوپلیتواوګنده سړي والابې بې ګنده اوپلیته وي اوپاکدامني زنانه دپاکدامنوسړوسره لائقي وي اودپاکدامن سړي بې بې هم پاکدامنه وي، نونبی پاك ﷺ اطیب الاطیبین دې نوالله ﷻ دده دعزت اوابرودتحفظ دپاره هم داسي بیباني ورکړیدي چې هغه اطیب الطیبات دی دهغوئ په باره کښې ددې بدکارتصورهم نشي کیدلې نوداایت دلیل شو په پاکدامنئ دام المؤمنین باندې پوجه دپاکدامنئ دنبی پاك ﷺ سره.

﴿لَهُم مَّغۡفِرَةٞ﴾ په دیکښ اشاره ده چې په تکالیفو باندې صبرکول ذریعه دَمغفرت او رفع دَدرجاتو ده او مراد په ﴿وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ﴾ سره رزق دَجنت دې ځکه چې هغه بې کړاوه او بې ضرره دې او دا هم جائزه ده چې دَدینه دې دَدنیا او آخرت دواړه رزقونه مراد شي او دغه شان په سورة الاحزاب ایت نمبر (۳۱) کښې هم دې او دا دلیل دې په دې چې امهات المؤمنین جنتیانې دې

فائده نمبر ۱: ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ به په یو څو خصوصیاتو باندې فخر کولو (۱) حضرت جبرئیل ﷺ دَدې تصویر دَریښمو په رومال کښې نبی پاک ﷺ ته راوړې وو او ورته ئې اوئیلو چې دا ستا به بې ده (۲) دَحضرت عائشه ﷺ نه علاوه نبی پاک ﷺ بلې باکرې زنانه سره نکاح نو و کړې (۳) دَنبی پاک ﷺ وفات په وخت کښې دَهغه سرمبارک دَحضرت عائشه ﷺ په غیږ کښې وو. (۴) دَنبی پاک ﷺ دَخلې مبارکې لعابو سره دَحضرت عائشه ﷺ لعاب میلاؤ وو (۵) دَحضور ﷺ تدفین دَهغې په حجرې کښې دې (۶) نبی پاک ﷺ به دَحضرت عائشه ﷺ سره په یو لحاف (څادر) کښې به وو بیا به هم وحي راتله په خلاف دَنورو امهات المؤمنین نه چې نبی پاک ﷺ دَهغوئ سره به په څادر کښې وو نو بیا به دغه حالت کښې وحي نه راتله (۷) دَدې دَپاکدامنۍ ګواهي قرآن ورکړېده او صریح ایاتونه نازل شویدي (۸) دَخلیفه اول بچۍ وه (۹) دې سره دَمغفرت او رزق کریم وعده کړې شویده.

فائده نمبر ۲: قاضي بیضاوي رحمه الله زمخشري او علامه آلوسي رحمه الله وغیره هم حضراتو لیکلي دي چې دَپوره قرآن مجید مطالعه او کړې شي نو دَ چادَپاره هم دومره سخت وعیدونه ذکر شوي خومره سخت وعید چې الله جل جلاله په حضرت ام المؤمنین ﷺ باندې تهمت لګوونکو دَپاره بیان کړیدي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ

اې ایمان والو! مه داخلیږئ تاسو دسې کورونو ته چې دَاستاسو نه ترهغې پورې چې خپله پیژند ګلو ورته او کړئ او سلام او کړئ

عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ

دَهغې په او سیدونکو باندې. دا به ډیره غوره وي تاسو لره دَدې دَپاره چې یاد او لرئ دا حکم پس که چرې نه مومئ تاسو په هغې کښې

أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ لَكُمُ

یو کس چې اجازت درکړي نو مه داخلیږئ هغې ته تردې پورې چې اجازت او کړې شي تاسو ته او که چرې او نیلې شي تاسو ته

ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾
چې واپس شئ نو واپس لاړشئ داطريقه بچ ساتونكي ده تاسولره «دبدنامي نه» او الله ﷻ ستاسو په عملونوباندې پوهه دې.
لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ
نيشته په تاسوباندې گناه چې داخل شئ دسې كورونوته چې نه اوسيږى پكښې څوك. په هغې كښې سامان وي ستاسو
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾
او الله ﷻ پوهه دې په هغه څه چې ښكاره كوئ او هغه څه چې پټوئ ئې تاسو

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ﴾ دواقعې افك تفصيلي بيان نه بعد اوس شپږ قوانين ذكركيږي، دې دپاره چې دتهمت لګيدلو ذرائع هم بند شي نو پدې ايت كښې اول قانون ذكركيږي چې دبل چا داوسيدلو ځائ ته دهغه داجازت نه بغير داخليدل ممنوع اوحرام دي اول دهغه نه اجازت اغستل ضروري دى اوحكمت پكښې دادې چې بغير داذن نه دبل چا داوسيدلو ځائ ته داخليدل داوسيدونكي ارام اوراحت كښې خلل راوستل دي اوهغه ته ايذا اوتكليف رسول دى اوبل چاته ايذارساني په شريعت كښې حرامه ده، اودغه شان كله كله په كوركښې سړي نوي صرف زنانه وي نوبغيرداذن نه داخليدل ذريعه دتهمت ګرځي اودغه شان كله كله دكوراوسيدونكي زنانه يانارينه په داسي حالت كښې وي چې عورت ئې ښكاره وي نوداذريعه دلوئ فساد ګرځي.

﴿غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ﴾ دبيت نه مراد داوسيدلو ځائ دې، عام ددينه چې هغه ملكاوي ياعارية يااجارة وي اواضافت دملابست دوجې نه دې دتمليك دپاره ندې، نولهذا معيريامجيرچې خپل كورئې چاته مفت ياپه كرايه وركړې وي، نوهغه ته هم دااجازت نيشته دې چې بغيرداذن داوسيدونكې نه خپل ملكيتي كورته داخل شي، بلكه داحكم دخپل بې بې داوسيدلو ځائ نه علاوه دهرچاځائ ته شامل دې حتى چې دخپل موريا پلار وغيره داستوګني ځائ ته بغيرداجازت نه داخليدل ممنوع دى لكه امام مالك رحمه الله په موطا كښې حديث نقل كړيدې چې انّ رجلاً قال للنبي ﷺ اَاستاذن على امي قال نعم، قال ليس لها خادمٌ غيري اَاستاذن عليها كلّما دخلتُ؟ قال عليه السلام اتحبُّ ان

تراها عریانۃ. یعني یو سړي نبي پاکﷺ ته عرض اوکړو چې آیا خه به دخپل مورنه اذن غواړم د داخلیدلو په وخت کښ نبیﷺ ورته اوفرمائیلو چې هاؤ. هغه بیا عرض اوکړو چې څما د مور د پاره څمانه علاوه بل خادم نیشته دې نو آیا کله چې هم څه په هغې داخلیږم نو اجازت به ورنه غواړم. نو نبی پاکﷺ ورته اوفرمائیلو چې آیا ته دا خوښوې چې ته دا بربنډه اوګورې؟ نو هغه اوئیل چې نا. نو نبيﷺ ورته اوفرمائیلو چې بیا اجازت غواړه. نو بهرحال دخپلې بي بي داستونګي ځائې نه علاوه دبل ځاځائې ته داخلیدلو په وخت کښ اذن اغستل ضروري او واجب دی او دخپلې بي بي باندې داخلیدلو په وخت کښ اذان او یا هغې ته اطلاع ورکول دتنحنح یعني غاړه تازه کولو په صورت کښ یا په بل صورت کښ مسنون دي.

﴿حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا﴾ استیناس نه مراد استیذان دې او لفظ داستیناس ذکر کولو کښ اشاره ده عرفي تعارف ته، دپاره ددې چې مخاطب مانوس شي او وحشت ئې ختم شي او هغه ته حالت معلوم شي چې ددخول اجازت ورکوي یا نه؟(کشاف) او دا مقصد کله کله په نوم اغستلو سره حاصلیږي چې څه فلاني یمه دننه داخلې دې شم؟ او که سلام ورسره اوکړی نو ډیره بهتره ده، او یا دروازه اوټکه وي او د اجازت انتظار اوکړي، او کله چه قاصد سره راشي چې دکورو الو د طرف نه په ده پسې لیږلې شوې وي. نو هغه سړیی دی خپل تعارف اوکړي. او پدې صورت کښ بیا د انتظار یا د مزید تعارف او داستیذان ضرورت نیشته دې او کله کله دا مقصد په تنحنح یعني غاړه تازه کولو سره حاصلیږي او په حدیث د ابن ماجه کښ تسبیح ذکرهم راغلیدې او غالباً چې دهغې مقصد به دا وي چې تسبیح یا تکبیر نه مراد مقصود اصلي ذکر دې او اطلاع ورکول ورسره ضمناً راځي، او بطور مقصود اصلي تکبیر بالتسبیح داطلاع دپاره استعمالول مکروه دي(کما صرح به فی الفتاوی الهندیه).

﴿وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا﴾ ددینه مراد یا سلام داستیذان دې چې داسې اوائي چې: السّلام علیکم أأدخل؟ او تقدیم دسلام افضل دې لکه په حدیث د ابوهریرۃؓ کښ دي چې فرمائي: چې څوک دسلام نه مخکښ اذن طلب کړي نو هغه ته دراتلو اجازت مه ورکوئ ځکه چې دمسنون طریقه پریخودله او دغه شان په روایت د ابوداؤد کښ هم دي چې دبنې عامر قبیلې یو کس ته نبیﷺ داستیذان طریقه ... ورکو چې داسې ووایه چې السلام علیکم أأدخل او دغه شان په

روايت دَبيهقي کښ دَجابرﷺ نه منقول دي چې نبي پاکﷺ اوفرمائيلوچې لاتأذنوا لمن لَم يبدأ بالسّلام. اوداسلام ته دري(۳)ځلي پوري کولې شي، که په دري(۳)کرتوکښ ورته جواب ميلاؤشو نوداخل به شي اوکچري په دريم کرته ورته هم جواب ميلاؤنشو نوبيادي واپس شي، اوپه دري(۳) کرتوکښ حکمت دادې چې دَخبري دَفهم دَپاره اکثرمرتبه دري(۳)ځلي تکراردې. چې په دريم ځلي چاته جواب ورنکړې شي نودَهغې مقصد دادوي چې دامخاطب ده ته اجازت نه ورکوي اوبعض اسلافونه حکمت په دري(۳)کرتوکښ دامروي دې، چې اول سلام دَتسميع دَپاره دې يعنې که دامخاطب مصروف وي نودَده طرف ته به متوجه شي دويم سلام دَتهيأ دَپاره دې يعني که دې مخاطب ته په اذن ورکولوکښ څه مانع اورکاوټ وي نوهغه به لري کړي اودريم سلام دَتخيردَپاره دې چې سلام ئې واوريدلو اومانع ئې هم لري کړو نواوس دَاوسيدونکي اختياردې چې اذن ورکوي اوکه نه ورکوي، اويادَسلام نه مرادسلام دَتحيې دې چې پس دَاستيذان نه وي اوکورته دَداخليدلويادَملاقات په وخت کښ وي.

﴿ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ﴾مشاراليه استيناس اوتسليم دې يعني اجازت اغستل اوخپل تعارف کول اوسلام اچول ستاسودَپاره ډيرغوره دي،دااسلامي طريقه اوشرعي تمدن دې، حضرت عمران بن حصينﷺ فرمائي چې دَجاهليت په زماني کښ به مونږ دَسلام په ځائ داالفاظ وئيلوچې: انعم الله بك عيناً ياانعم صباحاً(لکه نن صباجديدطبقه دَسلام په ځائ ګډمارننګ، وغيره الفاظ استعماله وي خوچې کله اسلام راغې نومونږ دَدينه منع کړې شواودَ سلام حکم اوشو).

فائده: استيذان دَضروري واجباتونه دې په حديث دَابوهريرةﷺ کښ دي چې نبی پاکﷺ فرمائي چې من اطلع في بيت قوم من غيراذنهم حل لهم ان يفقؤوا عينه(بخاري، کتاب الديات) يعني څوك چې داچاکورته بغيردَاذن نه نظراوکړې نوکوروالودَپاره جائزدې چې دَدې کس سترګي دې اوباسي داحديث اکثرمحدثينوپه نيزپه ظاهرندې محمول بلکه په زجراوتغليظ باندې محمول دې که څوك داسي کاراوکړي نوضمان پري واجب دې.

﴿فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ﴾ماقبل کښ دَهغه کورحکم ذکرشو چې په هغې استوګنه متحققه وي.پدي ايت کښ دَهغه کورحکم ذکرکيږي چې په هغې کښ دَچااوسيدل بالفعل نوي متحقق، ياپکښ اوسيدونکي وي خودَجواب اهليت پکښ نوي اويادَجواب اهليت پکښ وي خوجواب

ورکول نه غواړي، اوياجواب په خلاف دَاذن ورکړي، نوچې دچامخصوص کوروي اواوسيدونکي ياًمالك پکښې نوي نوترهغه وخته داخليدل ممنوع دي ترڅوچې مالك مکان نوي راغلي اواجازت ئې نوي ورکړې، ځکه چې بغيرد هغه دَاذن اواجازت نه کورته داخليدل مشابه دَغصب وي﴿وَاِنۡ قِيۡلَ لَكُمُ ﴾ يعنې اجازت غوختلوپه جواب کښې دَداخليدلو اجازت ميلاؤنشي اودااوئيلې شي چې واپس لاړشئ نوبيابه خوشحالئ سره واپس کيږئ. په داخليدلوباندې اصرارهم مه کوئ اودکورپه دروازه باندې مه کينئ.

﴿هُوَ اَزۡكٰى لَكُمۡ ﴾يعنې داستاسودَپاره پاکيزه عمل دې اوپدې کښې ستاسو دَدين اودنيافائده ده. ديني فائده داده چې تهمت نه به بچ شئ اودنيوي فائده داده چې عزت نفس به مونه مجروح کيږي ځکه چې دَبل چادکورپه دروازې باندې کيناستل دناءة دي.

﴿لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ﴾پدې ايت کښې دَيودريم قسم کورحکم ذکرکيږي چې هغه دَچادَاهل وعيال دَاستوګنې دَپاره نوي اونه ده چامخصوص بيت اوځائ وي، بلکه هغه ځائ دَعوامي منافعودَپاره وي لکه دفتر، هوټل، مارکيټ وغيره شو.

قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ وَيَحۡفَظُوۡا فُرُوۡجَهُمۡ ؕ ذٰلِكَ اَزۡكٰى لَهُمۡ
اواوايه مؤمنانوته چې کوز دې ساتئ دَنظرونوخپلونه اوبچ دې ساتئ عورتونه خپل. داطريقه پاك ساتونکې ده دوئ لره
اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌۢ بِمَا يَصۡنَعُوۡنَ ۞۳۰
بيشکه الله جَلَّ جَلَالُهُ خبردې په هغه کارونوچې دوئ ئې کوي.

﴿قُلۡ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَغُضُّوۡا ﴾دادويم قانون ذکرکيږي په باره دَحفاظت نظراوعورت کښې اومفعول ثاني چې عمالايحل لهم نظرهم دې دَوجې دَظهورنه محذوف دې﴿ يَغُضُّوۡا مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ ﴾ يغضوا صيغه دَامرده لام امرپکښې محذوف دې او﴿مِنۡ اَبۡصَارِهِمۡ ﴾ کښې من په مذهب دَاخفش زائد دې، ځکه چې دَهغه په مذهب کښې په کلام مثبت کښې هم من زائدراتلې شي لکه څرنګه چې منفي کښې راځي. اوپه مذهب دَسيبويه من تبعيضيه دې، يعني بعض نظرونه کوز ساتئ اودَدينه مرادهغه

نظردې چې بلاضرورته دبل چاعورت ته کولې شي. یانامحرم زنانه طرف کتل شو اوضرورت دوجي نه دبل چاعورت ته کتل ناجائزندی لکه یوطبیب نامحرم زنانه ته دضروت دوجي نه ګوري. یامخطوبي ته کتل شو. یانظرفجاءة(ناساپي نظر)شو داټول جائزدی اوګناه ئې نیشته دې اوبعض فرمائي چې غض په معنې دنقصان اوکمې سره دې اومن صله دیغض دپاره ده یعني په نظرکښې دکمې راولی یعني اقتصاردې په حلال مواضعو باندې کوي. اوحرام طرف ته دې تجاوزنه کوي.

﴿وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ﴾یعني دچانه چې عورت پټول فرض دي نودهغوئ نه خپل عورتونه پټ اومحفوظ ساتئ، چې هغه دخپلې بې بې اووينزي نه علاوه خلك دي اوچونکه دخپلې بې بې نه عورت نه پټول عقلاً اونقلاً معلومه خبره ده، نوددې وجې استثناء لفظي ضرورت نوو نوځکه استثناء لفظاًاونشوه،اودلته من رانوړې شو لکه څرنګه په غض الابصار کښې راوړې شوې وو، وجه داده چې امراومعامله دنظروسیع دې اوامردعورت مضیق دې حفاظت دعورت په کل اجزاؤ سره په کل اوقاتوکښې ضروري دې، حتی چې په خلوت کښې ناست وي نوبیاهم حفاظت دعورت ضروري دې په خلاف دنظرنه،چې خپلومحارموته کتل مخطوبي ته کتل وغیره جائزدی.

اوهرکله چې سترګي دمیلان قلبي پیداکیدلودپاره قوي سبب دې، چه سترګوسره غلط محل ته یانامحرمي ته نظراوکړې شي نوپه زړه کښې اثراوهغې طرف ته میلان پیداشي نوددې وجې نه حفاظت دنظرمقدم کړې شوپه حفاظت دعورت باندې.

وَقُل لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ
اواوایه مؤمنوزنانوته چې کوزدې ساتي دنظرونوخپلونه اوبچ دې ساتي عورتونه خپل اونه دې ښکاره کوي ډول خپل
اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ
مګرهغه چې ښکاري دهغې نه(مجبورا) اواچوي دې لوپټې خپلې په ګریوانونو خپلوباندې اونه دې ښکاره کوي سنګارخپل
اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ
مګرخاوندانوخپلوته یاپلارانو خپلوته یاسخرانوخپلوته یاځامنوخپلوته، یابنځوخپلوته یاورونړوخپلوته

اَوْ بَنِیْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِیْٓ اَخَوٰتِهِنَّ اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ

یاوریرونوځپلوته یاخوریونوځپلوته یازنانوځپلوته اویاهغه وینځي چې مالکان دي پرې ښځې لاسونه ددوئ

اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ

یاهغه خدمتګاران چې ندي دشهوت والادنارینونه یاهغه ماشومان چې ندي خبرشوي په پټوخبرودزنانوباندې.

وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ

اونه دي ګډي په زورسره ښځې خپلې (په زمکه باندې) دپاره ددې چې معلوم شي خلکوته هغه چې دوئ يې پټوي

مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾

چې زینت دي ددوئ اوتوبه اوباسئ الله ﷻ ته تاسوټول اې مؤمنانو، دې دپاره چې تاسوکامیاب شئ

﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَـٰتِ يَغْضُضْنَ﴾ دادریم قانون ذکرکیږي دمؤمناتوزنانودپاره اوداقانون مشتمل دي په پنځه دفعاتو (ادابو) باندې (۱) ﴿يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَـٰرِهِنَّ﴾ مفعول ثاني دلته محذوف دي چې مالایحل لهن النظرالیه دي، چې هغه داجنبي سړي عورت ته کتل دي اوبعض فرمائي چې مفعول به مطلقا عن الرجال دي اودایت مقصد دادې چې داجنبي زنانه دپاره اجنبي سړي ته کتل جائزندی اودامسلك دبعض شوافعودي اودوئ استدلال کړیدې په روایت دنبهان رحمه الله سره چې نقل کړیدې امام ترمذی رحمه الله اوابوداود رحمه الله دام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه چې هغه فرمائي چې څه اوام المؤمنين حضرت میمونه رضی الله عنها دنبی پاك ﷺ سره ناستې وو، چې پدیکښې یونابیناصحابي حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رضی الله عنه داخل شو اودادنزول حجاب نه ورستودوروو، نونبی پاك ﷺ مونږ ته اوفرمائیلوچې تاسوپرده اوکړئ نومونږه عرض اوکړو چې یارسول الله ﷺ آیادې ړوندندې؟ نه دې مونږ ویني اونه مونږ پیژني؟ نونبی ﷺ اوفرمائیلوچې آیاتاسوهم ړندي يئ؟ اوتاسودې نه وینئ؟ نوددې حدیث نه هم معلومیږي چې زنانه به مطلقاسړي ته نظرنه کوي، لیکن دجمهورعلمآؤمسلك دادې چې دزنانه نظرسړي ته جائزدې، اواستدلال ئې کړیدې په روایت دام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها سره چې نقل کړیدې امام بخاری رحمه الله فرمائي، کنت

انظرالی الحبشة وهم يلعبون بحرابهم في المسجد،یعني حضرت عائشهؓ فرمائي چې دَاخترپه ورځ مسجدنبوي سره قريب حبشيانولوبې کولي، مابه ورته کتل، اونبي پاکﷺ به دَپردي دَپاره ماته مخې ته ولاړوو. نوددې حديث نه جوازمعلوميږي. علامه نوويؒ دَجمهورو دَاستدلال نه جواب کړيدې چې دَحضرت عائشهؓ واقعه دَنزول حجاب نه مخکښ ده، اودَحجاب دَحکم نزول نه بعدممانعت اوشو اودويم جواب ئې داکړيدې چې حضرت عائشهؓ پدغه وخت کښ نابالغه وه، نودَنابالغي زنانه کتنل سړوته جائزدې، ليکن حافظ ابن حجرؒ دَعلامه نوويؒ دادواړه جوابونه ردکړيدی اوفرمائي چې داځکه غلط دی چې په ځني رواياتوکښ دی چې دَحضرت ام المؤمنينؓ داواقعه مذکوره دَحبشي دوفدراتګ نه ورستووه اودَحبشي والاوفدپه سنه(۷ھ)کښ راغلې وو،اوپه دغه وخت کښ دَحضرت عائشهؓ عمرشپاړلس(۱۶)کاله وو،اودَحجاب حکم هم نازل شوې وو،ځکه دَحجاب حکم(۵ھ)کښ راغلې وو بنابرقول اصح نودَدي وجې نه صحيح اوراجح قول دَجمهوردې،باقي دَحضرت ام سلمهؓ دَروايت نه جمهورو جواب کړيدې چې ممانعت محمول دې په تقوئ باندې اوجواز محمول دې په فتوئ باندې اويادَممانعت والاحکم مختص وو په ابن ام مکتومؓ پورې،ځکه چې هغه نابيناوو،اوکله دَنابينادَجسم بعضې هغه حصې ښکاريدلوامکان وي چې هغې ته دزنانوکتل ناجائزوي. اودَدې مذهب تائيد دَزنانوپه پرده کښ دکورنه راوتل دَپاره دَجمات ياضرورت دَپاره بازارته تلل اويانوراسفاروته تللو، سره هم کيږې چې دَپردې حکم صرف زنانوته شويدې اوسړوته دَپردې کولوحکم نيشته دې کچرته سړوته کتل ناجائزوي نودوئ به هم زنانوپشان پرده کوله،البته علامه سيوطيؒ اونورعلمآء فرمائي کچرته نظردَزنانه سړي ته بغيردَشهوت نه وو اوذريعه دَفتني نه ګرځيدلويعني دَفتني نه، امن وو نوبياخوجائزدې اوکه ذريعه دَفتني ګرځيدلو نوبياندې جائز اوديته امام بخاريؒ هم ترجيح ورکړيده لکه دَهغه دَصنيع نه معلوميږي چې هغه باب منعقدکړيدې باب نظرالمراة الى الحبش ونحوهم من غيرريبة اوديته حضرت شيخ الحديث مولانازکرياصاحبؒ هم ترجيح ورکړيده.

﴿وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾دادويم ادب اودويمه دفعه ده اوحفاظت دَفرج عام دې دَزنا نه بچ کيدلوته هم شامل دې اوهسي دَعورت پټولوته هم شامل دې، حضرت ابوالعاليهؒ فرمائي چې قرآن

مجید کښ چرته هم حفاظت دَفرج ذکراوشي نودَهغې نه مراد دَزنا نه بچ کیدل وي. علاوه دَدي ایاتونونه چې دلته ترینه مراد عورت پټول دي.

فائده: سړي یازنانه کچرته خلوت کښ وي اوخوك هم نوي نوبیاهم بلاضرورته عورت ظاهره ول جائزندی لکه په روایت دَترمذي،ابوداؤد وغیره کښ په سند دَبهزبن حکم سره منقول دی کچرته تاسوپه تنهائي کښ یئ نوبیاهم خپل عورت مه ښکاره کوئ ځکه چې اللهﷻ زیات مستحق دي دَدي چې دَهغه نه حیاوکړې شي اوپه روایت دَابن عمرﷺ کښ دي چې نبی پاکﷺ ارشاد اوفرمائیلوچې تاسوپه خلوت اوتنهایئ کښ هم خپل عورت ظاهره ولونه ځان بچ ساتئ. ځکه تاسوسره داسي مخلوقات(فرښتي) دی چې هغه په هیڅ حالت ستاسونه.نه جداکیږي سیوادَقضائې حاجت اوبې بې ته دَنزدیکت دَوخت نه.توپس تاسودَهغو نه حیاکوئ اودَهغوعزت کوئ.

﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾دادریم ادب اودریمه دفعه ده، اوزینت نه مرادیامواضع دَزینت دی چې هغه بدن دَزنانه دي، ځکه چې نفس زینت اودَخائست والاخیزونه چې په بدن دَزنانه باندې نوي نودَهغې ابداء اوهغې ته کتل جائزدي اویاترینه مرادنفس زینت دي، چې بدن دَزنانوپوري متصل وي،اوهرکله چې نفس زینت ظاهره ول منع دی، نودَمحل دَزینت ابداء په طریق اولې سره ممنوع دي.اوزینت په دوه(۲)قسمه دي یوخلقي، بل کسبي، خلقي زینت هغه دي چې هغه دَانسان په اختیارکښ نوي، بلکه په خلقت دَاللهﷻ سره وي، لکه خائست دَمخ دَسترګو وغیره شو، اوکسبي هغه دې چې په کسب دَانسان سره وي،لکه نکریزي لګول، رانجه پوري کول، اورنګاررنګ کپړي اچول وغیره شواوبیاهریودَدینه په دوه(۲)قسمه دي یوظاهري،بل باطني،نودَزنانه دَپاره خپل زینت اومواضع دَزینت ظاهرول جائزندی.

﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾دَدي په تفسیرکښ اقوال مختلف راغلیدي یو(۱)قول دادې چې دااستثناء منقطعه ده اومرادترینه هغه ځائیونه دی چې دَمجبورئ نه ښکاره کیږي اوزنانه ئې قصداًنه ښکاره کوي، لکه څادر، برقعه وغیره شو چې دَهغې دَپاسه نورڅه نشي اچولې کیدلې، داقول دَابن مسعودﷺ نه مروي دې اودَحضرت عائشهﷺ نه مروي دي چی دَدینه مراد دَمجبورئ دَوجي نه یوه سترګه ښکاره کول دی،دَدي دَپاره چې لاره پې اویني، اودغه شان دَضرورت دَپاره یوه ګوته ښکاره کول چې کښ هم شامل دي. (۲)دویم قول دادی چې استثناء متصله ده اودَماظهرنه

مراد مخ. خپي اولاسونه دي یعني زنانه دي خپل اعضاء دزینت نه ښکاره کوي البته مخ. خپي اولاسونه ښکاره کولې شي اودَدي قول نسبت شویدې. حضرت ابن عباس رضي الله عنه .حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت سعیدبن جبیر رضي الله عنه ته اودغه شان یوقول حضرت عمر رضي الله عنه ته هم منسوب دې لیکن په دی خبرې باندې ځان پوهول پکار دی چه دلته مطلق کشف جواز ذکردې کشف للغیر جوازذکر ندې یعنی زینت ظاهری نه علاوه نور اعضاؤو پټول خو په هر حال کښ ضروری دی نامحرم وی او کنه وی لیکن زینت ظاهری چه هغه مخ او کفین دی (اوبعضو پکښ قدمونواضافه هم کړیده)هغې حکم دا ندې،یعنی نامحرم موجودګۍ په صورت کښ هغې پټول خو ضروري دی.لیکن غیر موجودګۍ په صورت کښ يې پټولو ضرورت نشته.ځکه چه زنانه کور کارونه کوي،نودې پټولوصورت کښ په هغې کښ حرج رازی.لیکن دینه دانه ثابتیږی چه نامحرم په مخ کښ هم دَدې ستر نشته داځنګه کیدېشی چه ورستو(ولایضربن بارجلهن)کښ زیوارتو اواز ستر کښ شمار شي اومخ اولاسونه دی هغی نه مستثنی شي؟بل داچه داد ولایبدین زینتهن الا لبعولتهن..سره هم منافی دی.(از امداد الفتاوی ملخصا)

﴿ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ ﴾داځلورم ادب دي اوپدیکښ رددې په طریقه دزمانې دَجاهلیت باندې،چې عام طورباندې به زنانوطریقه دَپړوني اولوپټي اچولو داوه چې په سرباندې به ئې لوپټه په داسې طریقې سره واچوله چې دَهغې دواړه طرفونه به شاطرف ته راغلو،اومخې طرف ته غاړه اوسینه به ئې ښکاریدله نودَهغوئ پدې طریقې باندې رد اوشو چې زنانه دې لوپټه په داسې طریقې سره اچوي چې دَسرسره سره مخې ته غاړه اوسینه هم پټه وي اوداحکم دکوردَپاره دې اوکله چې زنانه دَیوضرورت دَپاره دکورنه بهرته ځي نوبیادَبرقعې اودَمکمل پردې حکم دې او"خمر"جمع دَخماره هرپټوونکی شئ ته وئیلې کیږي دلته ترینه مراد هغه څادراولوپټه ده چې زنانه پرې سر،غاړه اوسینه وغیره پټه وي.اوپدیکښ اشاره ده چې هغه باریکې لوپټې چې په سر واچولې شي نوبیاهم ویخنه.غاړه وغیره پکښ ښکاریږي نودَهغې استعمال جائزندې اوجیوب جمع دَجیب ده متعارف جیب ته هم وئیلې کیږي اوګریبان ته هم وئیلې کیږي، دلته ترینه دادویمه معنې مراده ده.

﴿وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ دا جمله مکرر ذکر شوه مخکښې هم دَرخصت په سیاق کښې ذکر شوې وه دلته هم دَرخصت په سیاق کښې ذکر کیږی. فرق صرف دادې چه مخکښې دَدې ذکر په اعتبار دَ "منظور" سره وۀ دلته په اعتبار دَ "ناظر" سره ذکر کیږی بالفاظ دیگر مخکښې دَجسم هغه اعضا په باره کښې دَدې جملې ذکر وۀ چه هغه عمومي پردې حکم نه مستثنی وۀ او اوس دَهغه اشخاص او افراد په باره کښې ذکر کیږی چه هغه پردې حکم نه مستثنی دی. نو دا دولس (۱۲) قسمه کسان دي چې دَهغوئ نه پرده نیشته دې او دَهغوئ په مخ کښې اعضاء دَزینت ښکاره کول جائز دی اګرچه په دوئ کښې تفاوت شته دې

﴿إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ﴾ هر کله چې زنانه ته زیات اقرب دَهغې زوج وي او دَزنانه دَپاره مقصود په زینت سره هم زوج وي نو دَدې وجې نه زوج مقدم ذکر کړې شو.

فائده: دَښځې دَخاوندنه دَهیڅ یو عضوې او اندام پرده نیشته دې البته بلاضرورته دَزنانه مخصوص اعضاؤ ته کتل مکروه او خلاف اولی دی حضرت عائشه ﷺ فرمائي چې حضور ﷺ نه ماته (عضو خاص ته) کتلي دي او نه ما دَهغه عورت ته کتلي دي او په یو روایت کښې دي چې خپلې بې بې عورت ته کتل ړوندوالي پیدا کوي.

﴿أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ﴾ محل دَزینت لکه څرنګه چې زوج ته ښکاره کول جائز دي نو دغه شان محارمو ته هم جائز دی ځکه چې دَدوئ سره مخالطت اکثروي او وقوع دَفتنې پکښې کالعدم دې البته دې مذکور افرادو په مخ کښې عورت غلیظه ظاهرول جائز ندي، چې هغه مابین السرة الی الرکبة دې او دَاب په حکم کښې اب الاب یعني نیکه داخل دې او دَابن په حکم کښې ابن الابن داخل دې.

﴿أَوۡ نِسَآئِهِنَّ﴾ غوره قول دادې چې ددینه مراد نساء مسلمات دي یعني یوه زنانه دَبلې مسلمانې زنانه په مخ کښې خپل اعضاء دَزینت ښکاره کړي، ماسیوا دَعورت غلیظه نه نو دا جائز دي په خلاف د کافرې زنانه نه چې دَهغې نه پرده کول واجب دي دَمسلمانې زنانه دَپاره او دغه شان حکم دَفاحشې زنانه په باري کښې هم دې او علت دَپردې کولو دَدوئ نه وقوع دَفتنې دې ځکه چې کافرې او بدکارې زنانه دَمسلمانو زنانو حسن صفت خلکو ته بیانه وي.

﴿أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُهُنَّ﴾ پدي باندي اتفاق دې چې وينزه اګرچه کافره وي نوبياهم دخپلي مالکي زنانه پرده ترينه نيشته دې اودغه شان غلام چې نابالغ وي دهغه نه هم پرده نيشته دې اختلاف په بالغ غلام کښ دې چې دېوي زنانه په ملك کښ بالغ غلام وي نوزنانه به دهغه نه پرده کوي اوکه نه به کوي؟ داحنافو مسلك دادې چې غلام اجنبي دې دهغه نه پرده کول ضروري دی اودشوافعو مسلك دادې چې غلام مشترك نوي اومکاتب نوي اوعفيف وي نودهغه نه پرده نيشته دې اودليل کښ دامذکورآيت پيش کړيدې اودغه شان استدلال ئې کړيدې په روايت دحضرت انسؓ سره چې ذکرکړيدې امام ابوداؤد په کتاب اللباس کښ چې يوځلي نبی پاكﷺ د لورحضرت فاطمهؓ سره ځادروو نوچې په هغې سره ئې سرپټولونوخپې به ئې ښکاريدلې، اوچې خپې به ئې پټولي نوسربه ئې ښکاريدلو،نبي پاكﷺ چې دهغې داتکليف اوکتلونو اوفرمائيلو انه ليس عليك باسٌ انماهو ابوكِ وغلامكِ يعني دېردي نه کولو ګناه په تاباندې نيشته دې ځکه چې دلته يوستاپلاراوبل ستاغلام دې اواحنافواستدلال کړيدې په مشهورروايت سره چې ذکرکړيدې امام بخاريؒ چې نبي پاكﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې لايحل لامرأة ان تؤمن بالله واليوم الاخران تسافرسفراً فوق ثلاث الاّ مع ذي محرم.اوغلام دذې رحم نه ندې،نوکچرته دغلام نه پرده نوي نودهغه استثناء به هم شوي وه اودغه شان دقياس دتقاضه هم داده چې غلام نه پرده اوشي ځکه چې دغلام نه هم اشتها دنفساني خطره موجوده ده اوازادکيدلونه ورستودخپلي مالکي سره نکاح هم کولې شي.

اوباقي ايت مذکورنواحناف فرمائي چې پديکښ دماملکت ايمانهن نه مرادصرف وينزي دي اوغلامان پکښ ندي داخل،لکه دحضرت سعيدبن مسيبؒ نه مروي دي چې لايغرنکم اية النورفان المراد بهاالاماء يعني دسورة النورپه ايت باندې دهوکه نشئ ځکه چې دهغې نه مراد وينزي دي.اوحديث په جواب کښ داوئيلې شويدي چې هغه غلام نابالغ وو. ليکن بعضې احنافو داقول کړيدې چې ايت مطلق دې تخصيص دپاره ئې څه نص نيشته دې اودغه شان حديث هم مطلق ذکردې. تخصيص ئې په نابالغ پوري کول هم بلادليله دي،نوددې وجي نه کچرته غلام عفيف وي نوظاهردنص نه دهغه نه پرده نه کول معلوميږي اوکه عفيف نو نوبياترينه پرده ضروري ده.

﴿أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ﴾ د دینه مراد هغه نارینه دي چې ماده دَ شهوت پکښې نوي، او دَ زنانو طرف ته ئې رغبت او میلان نوي او تابع مقصد دادې چې هغه دَ چاکور ته داخلیږي نو صرف دَ یو طفیلي په صورت ځي او د کوروالونه پاتي شوي روټۍ وغیره خوري. او دَ دینه علاوه کور ته داخلید لو نه بل څه مقصد ئې نوي.

﴿أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ﴾ طفل اسم جنس دي دلته ترینه جمع یعني اطفال مراد دي او اطفال یعني بچې په دري (۳) قسمه دي یو (۱) قسم هغه دې چې هغه بالکل ماشوم وي، خبري، خوراك هم نشي کولي، دا قسم ماشوم په منزله دَ حجري دې، دَده په مخ کښې هر قسم عورت ښکار کولو اجازت شته دې دویم (۲) قسم متوسط عمر والا ماشوم دي. دَهغه نه اګرچه پرده نیشته دې خو دَ هغه په مخ کښې عورت غلیظه ښکاره کول جائز ندی (۳) دریم قسم مراهق دې چې دَ زنانو په عوراتو او رازونو باندې خبروي او دَ جماع په مقصد پوهیږي نو دَ دغه شان ماشوم نه پرده ضروري ده نو مراد په عورات سره پټ رازونه په باره دَ زنانو دی، لکه جماع وغیره شو.

﴿وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ﴾ دا بل ادب ذکر کیږي چې زنانه دې دَ تللو په وخت کښې په داسي طریقي سره قدم نه ګدي چې د کالو اوازئې بل څوك واوري ﴿لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ﴾ لام دَ عاقبت دَ پاره دې یعني نارینه ته پته اولګي چې دا زنانه د کالو والاده، او پدې سره دَ نارینه شهوت بیداریږي نو ځکه دا حرام او ناجائزدی او دَ بعض اسلافو نه منقول دي چې دَ زنانه اواز زیات موجب دَ شهوت دي او دا ایت دلیل دې پدې چې زنانه دَ پاره هغه ټول څیزونه اختیارول ناجائز دي کوم چې دَ زنانو ته توجه ګرځولو ذریعه ګرځي، لکه مزیني برقعي او فیشني برقعي، عطر او سپرې لګول وغیره شو، او په صحیح حدیث کښې دي: المراة اذا استعطرت فمرت بالمجلس فهي كذا كذا یعني زانیة یعنې کله چې یوه زنانه خوشبو اولګوي او دَ نارینو په مجلس تیریږي نو هغه داسي داسي (زناکاره) ده او دغه شان په بل حدیث کښې چې دَ حضرت ابو هریرة رضي الله عنه نه مروي دي فرمایئ چې: سمعت حبيبي اباالقاسم ﷺ يقول لاتقبل الله صلوة امرأة طيبت لهذا المسجدحتى ترجع فتغسلهاغسل الجنابة (ابن كثير) یعني ما دَ خپل محبوب ابو القاسم ﷺ نه اوریدلي دي چې هغه او فرمائیلو چې کوم زنانه جمات ته راځي او خشبو اولګوي

نو الله ﷻ دَدي مونځ ترهغه وخته پوري نه قبلوي ترڅوچې داکورته واپس لاړه نشي اوهغه شان غسل اوکړي لکه دَجنابت نه چې غسل کيدې شي.

﴿وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا﴾ انسان چونکه کمزوري اوضعيف دې که ډيرکوشش اوکړي خوبياهم ترينه تقصيرات اوکوتاهياني کيږي نودَدي وجې نه په اخيرکښې دَتوبې حکم اوشولو

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ
اونکاح اوکړئ دَلونډانوستاسونه اودَنيکانوغلامانواووينځوستاسونه کچرې دوئ وي فقيران
يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾
نو مالداري به ورکړي الله ﷻ دوئ ته دَفضل خپل نه او الله ﷻ فراخ فضل والادې. په هرڅه عالم دې

﴿وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَٰمَىٰ﴾ اصلاح دَمعاشري دَپاره داځلورم قانون ذکرکيږي يعنې ازاد سړې اوزنانه اودغه شان وينزې اوغلامان بغيردَواده نه مه پريدئ ځکه چې بغيردَواده نه پاتې کيدل په انسان کښې دَزناداعيه زياته وي چې هغه سبب دَفساد دَمعاشري دَپاره ګرځي اودَواده سره شهوت په خپل ځائ کښې استعمال شي اودَزناموقعه کمه شي اوپدې سره اصلاح په معاشره کښې پيداکيږي او﴿ٱلْأَيَٰمَىٰ﴾ جمع دَايم ده هغه نارينه اوزنانه ته وئيلې کيږي چې بې واده وي، برابره خبره ده چې واده ئې بالکل کړي نوي، اويائې کړې وي خووفات شوې وي اوفي الحال ئې واده نوي او﴿وَأَنكِحُوا۟﴾ صيغه دَامرده اواکثراهل علموپه نيزامردَپاره دَندب اواستحباب دې اوبعض فرمائې چې امردلته هم دَپاره دَوجوب دې ليکن غوره قول دادې چې دَنکاح حکم دَحالاتوپه اعتبارسره مختلف کيږي، بعض حالاتوکښې سنت، بعضوحالاتوکښې واجب اوبعض حالاتوکښې مکروه وي(والتفصيل فی کتب الفقه).

اوپه ﴿وَأَنكِحُوا۟﴾ سره خطاب اګرچه اولياؤته دې ليکن دَدي نه داحکم ثابتول چې بغيردَولي نه نکاح نه کيږي ضعيف دے ځکه چې ايامى اطلاق لکه څرنګه په بې واده زنانه باندې کيږي نودغه شان په بې واده نارينه باندې هم کيږي اوحالانکه دَبې واده نارينه دَپاره دَولي په ضروري والي باندې چاهم قول ندې کړې. اوملاعلي قاري رحمه الله فرمائې چې پدې ايت کښې اولياؤته حکم

کول بناء دي په عرف او عادت باندې په طريقې دندب او استحباب سره ځکه چې عام طور زنانه په داسې امورو کښې شرميږي او خپله دخپل نکاح دپاره نه ځي نو ددې وجې نه. او لې خبره داده چې په نکاح کښې دولي واسطه موجوده وي نو دا باعث برکت او ذريعه دخيروي

﴿وَٱلصَّٰلِحِينَ مِنۡ عِبَادِكُمۡ﴾ دصالحين نه مراد يا معنې لغوي ده. يعني هغه وينزې او غلامان چې هغوئ کښې دواده صلاحيت او قابليت موجود وي. يعني بالغ وي او حقوق زوجيت پوره کولو باندې قادروي، او ياددينه شرعي معنى مراد ده يعني نيکان. او تخصيص دصالحانو دې وجې نه او شوچې دنکاح اصل مقصد، عفت، پاکدامنې، دخپل دين او ايمان حفاظت او دنيک اولاد حصول دې او دا مقصد دصالحانو پيش نظروي.

﴿إِن يَكُونُواْ فُقَرَآءَ﴾ دنکاح دپاره لوئ رکاوټ غربت دې او دغه شان ځنې خلک دخپلو خويندو ، لونړو نکاح دځنې خلکو سره ددې وجې نه نه کوي چې هغه غريب وي نو پدې ايت کښې په دغه شان خلکو باندې رد او دغريبانو دپاره بشارت دې چې دعفت او پاکدامنۍ او دخپل ايمان دحفاظت دپاره دنکاح خواهشمند وي خو دغربت دوجې نه ئې نشي کولې ،نو دغربت دوجې نه په نکاح کښې تاخير او يا چا ته انکار مه کوئ ځکه چې غربت او مالداري دواړه دالله ﷻ په قدرت کښې دي نو الله ﷻ به دوئ غربت په مالدارئ سره بدل کړي

او په غناء سره بعضو غناء دمال مراد کړيده او بعضو ترينه غناء نفس او قلب مراد کړيده. ليکن غوره خبره داده چې دواړه ترينه مراد دي چې الله ﷻ به دوئ ته غنا قلبي او مالي ورکړي او په حديث دترمذي، او ابن ماجه کښې دي دحضرت ابو هريرة رضي الله عنه نه مروي دي چې رسول الله ﷺ ارشاد او فرمائيلو چې ثلثة كلهم حق على الله عونه، المجاهد في سبيل الله، والناكح يريد العفاف، والمكاتب يريد الاداء، يعني ددرې (۳) قسمه خلکو امداد الله ﷻ په ځان باندې ضروري کړيدې، (۱) يو مجاهد في سبيل الله (۲) او دويم هغه نکاح کوونکې چې عفت ئې اراده کړي وي، (۳) او دريم مکاتب چې دبدل کتابت اداکولو اراده ئې کړي وي، او په يو بل روايت کښې دي چې يو کس نبي پاک ﷺ ته دخپلې مالې بدحالۍ شکايت اوکړو، نو نبي ﷺ ورته او فرمائيلو عليك بالباءة يعني خامخا واده اوکړه.

وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ

اوپاك دي ساتي خپل ځان هغه كسان چې طاقت نه لري دنكاح . تردې پورې چې مالداري به وركړي دوئ ته الله ﷻ

مِنْ فَضْلِهٖ وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ

دفضل خپل نه.اوهغه كسان چې غواړي مكاتب كيدل دهغه غلامانو نه چې مالك دي پرې خي لاسونه ستاسو ،نومكاتب كړئ دوئ

اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ

كچري پوهيږئ تاسوپه هغوئ كښ دخير(ايمان)اووركوئ دوئ ته دمال دالله ﷻ نه هغه چې دركړيدي تاسو ته

وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا

اومه مجبوره كوئ جينكۍ خپلي په بدكارئ باندې كچري غواړي هغوئ پاكدامنۍ(نكاح)

لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ

ددې دپاره چې اولټوئ تاسو سامان دژوند ددنيا.چاچې زبردستي اوكړه په دوئ باندې نوبيشكه الله ﷻ ورستو

اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٣٣ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ

دزبردستۍ كولونه په دوئ باندې بخښنه كونكي رحم كونكي دې،اويقيناًنازل كړيدي مونږتاسوته اياتونه

مُّبَيِّنٰتٍ وَّ مَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝٣٤

وضاحت كونكي اونموني دهغه كسانوچې تيرشويدي مخكښ ستاسونه اووعظ دپاره دمتقيانو

﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِيْنَ﴾ پدې ايت كښ بل ادب ذكركيږي هغه كسانوته چې دغربت دوجې نه په نكاح باندې نوي قادراو مهرنشي اداكولې اوڅوك ورته خپل خور،لور نه وركوي نوهغه سړي دپاره حكم دادې چې دې دخپله پاكدامنۍ اوعفت نه برباده وي بلكه خپل شهوت دې په خپل قابوكښ ساتي.اوپه حديث كښ دشهوت قابوساتلودپاره طريقه اوعلاج روژې نيول بيان شويدى. لكه په حديث دبخاري اومسلم كښ دي چې من لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء.

﴿وَٱلَّذِينَ يَبۡتَغُونَ ٱلۡكِتَٰبَ﴾ داپنځم قانون ذکرکیږي هرکله چې ماقبل ایت کښې اصلاح دَمعاشري دَپاره دَنکاح قابل وینزو اودَغلامانودَنکاح حکم اوشولو نواوس پدې جملې کښې اصلاح دَمعاشري دَپاره دَبدل کتابت حکم ورکولې کیږي چې کوم غلامان ستاسو نه کتابت طلب کړي نوتاسوهغوئ مکاتب کړئ. ځکه چې عام طورباندې دَغلام تربیت اودَهغه دَنکاح په معامله کښې اکثرمالکان غافله وي اوبې تربیته اوبې واده کس په معاشره کښې فساد پیداکوي اودَدې وجې نه کثرت دَغلامانواوینزو شرعاً ممدوح ندې نوځکه شریعت دَغلامانودَازادولوتعلیم ډیرورکړیدې اودَغلام ازادولویوه ادنی طریقه کتابت دې. نودَدې وجې نه پدې ایت کښې دکتابت حکم ذکرکیږي دَجمهوروپه نیز ﴿فَكَاتِبُوهُمۡ﴾ امردَپاره دَاستحباب دې اودَبعض اهل علموپه نیزدَوجوب دَپاره دې یعني چې کله غلام کتابت طلب کړي نومولې دَپاره عقدکتابت کول واجب دي.

﴿إِنۡ عَلِمۡتُمۡ فِيهِمۡ خَيۡرٗا﴾ دَخیرنه مراد دادې چې دغه غلام عاقل وي، امانت اوتقوې پکښې وي دَده په ازادولوسره مسلمانانوته څه قسم خطره نوي موجوده اودغه ښان په کسب اوکار روزګارباندې قدرت لري. ﴿وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ﴾ امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نیزداحکم استحبابي دې اوعام مسلمانانوته دې عموماً اومالکانوته دې خصوصاً اودَایت مقصد دادې چې دکوم غلام سره کتابت کړې شوې وي نوتاسودَهغه سره امداد اوتعاون کوئ اوَخپل خیرات،صدقات وغیره هغه ته ورکوئ چې هغه پرې خپل ځان خلاص کړي اوامام شافعي رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزداحکم وجوبي دې اوصرف مالکانوته دې اودَدوئ په نیزدَایت مقصددادې چې مالکان دې مکاتبینوته څه حصه رقم معاف اوکمه کړي، اوپه مقداردکموالی کښې اختلاف دې امام شافعي رحمه الله نه یو(۱)قول دادې چې دَپوره بدل کتاب دریمه حصه به کمه وي (۲)اودویم قول ئې دادې چې مالک ته اختیاردې چې څومره حصه دَهغه خوښوي پریدي به. لیکن احناف فرمائي چې دلته حکم دَایتاء دې چې هغه تقاضادَتملیک کوي یعني دَیوموجود څیزوالاخوک مالک جوړولو اومعاف کولو مقصدداوی چې اسقاط دَځه حصي اوشي، اواسقاط اوتملیک دواړه مفهوماًمتنافیین دي.

﴿وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ﴾ دا شپږم قانون دې د اصلاح د معاشرې د پاره په روايت د مسلم شريف کښې د حضرت جابر رضي الله عنه نه منقول دي چې دا ايت په باره د رئيس المنافقين ابن ابي ابن سلول په باره کښې نازل شويدې چې د هغه دوه (۲) وينزې وې چې د يوې (۱) نوم مسيكه او د بلې نوم اميمه وو، هغه ملعون به دوئ په زناباندې مجبوره کولې، دې د پاره چې مال پرې اوګټي او اولاد حاصل کړي، نو هغوئ راغلې او نبی پاک ﷺ ته ئې شکايت اوکړو، نو دا ايت نازل شو.

﴿إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا﴾ د دينه مراد ځان د زنا او بدکارئ نه بچ کول دي ﴿لِتَبْتَغُوا عَرَضَ﴾ دا متعلق دې د منهي عنه سره او د نهي سره ندې متعلق او د دينه مراد اجرت اغستل دی په زناباندې او ناجائز اولاد حاصلول دی.

د دې ايت په ظاهرباندې اشکال دې چې د دينه دا معلوميږي چې وينزې په هغه صورت کښې په زناباندې مجبوره کول ندي پکار کچرته د هغوئ اراده د تحصن او پاکدامنئ وه او کچرې دا اراده ئې نوه نو بيائې مجبوره کول جائزدي او حالانکه اکراه علی الزنا په دواړو صورتونو کښې ناجائزدی؟ د دينه مختلف جوابات شويدي يو (۱) جواب دادې چې دا قيد احترازي ندې بلکه اتفاقي دې او د فعل مزيد تقبيح او تشنيع ظاهرولو د پاره دې يعني د وينزې زنا کول خوفي نفسه بدکاردې، خو دهغه مالك په حق کښې بيا ډير بدکاردې چې وينزه ئې ځان بچ کوي او دې ئې مجبوره وي او چونکه واقعه هم دغه شان شوي وه چې د رئيس المنافقين وينزو به ځان بچ کولو او هغه به مجبورولي نو دا ډير لوئې بې غيرتوب وو نو د دې وجې نه دا قيد ذکر کړې شو (۲) دويم جواب ترينه دا شويدې چې دقيد د اغلب حالاتو په اعتبارسره ذکرکړې شويدې ځکه چې اکراه په هغه صورت کښې ممکنه ده کله چې وينزه د تحصن او تعفف اراده کوي او کله چې وينزه پخپله بدکاره وي نو بيا خو اکراه نوي متحققه (۳) دريم جواب دادې چې دلته (ان) شرطيه د اذا ظرفيه په معنې کښې دې او په يکښې د تعليق معنې نيشته دې او په ځائ د اذا ان ځکه راوړې شو چې د وينزو د طرف نه پاکدامنې راتلل شاذ او نادردې.

(۴) حضرت شيخ رحمه الله د دې ايت يو بله توجيه کړيده د هغې په بنياد په دې ايت باندې څه اشکال نه واردیږي هغه فرمائې چې ﴿وَلَا تُكْرِهُوا﴾ کنايه ده د نکاح نه کولو نه، او ﴿فَتَيَاتِكُم﴾ نه مراد لونړه، خويندې دي او بغاء نه مراد زنا دې، او ﴿إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا﴾ نه مراد خواهش د نکاح دې

او ﴿لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ نه مراد مالدارخاندان اوډېرمهرتالاش كول دى نودايت مقصددادې چې كله ستاسولونړه، خويندې دپاكې زندګۍ تيرولودپاره دنكاح خواهشمندې وي نوتاسودهغوئ نكاح خامخاكوئ اوددې وجې نه هغوئ بې واده اوبې نكاحه مه پريدئ چې مالداره كس اوخاندان والاخوك سرې ندې ميلاؤشوې ځكه چې داهغوئ په زنا باندې مجبوره كول دى اوحضرت شيخ رحمه الله فرمائې چې داسې لوئ لوئ امراء اوپيران هم شته دې چې دخپلولونړو نكاح صرف ددې وجې نه كوې چې ده دې شايان شان كس ندې ميلاؤشوې.

﴿وَمَن يُكْرِههُّنَّ﴾ دامبتدا متضمنه ده معنې شرط لره اوخبرورله محذوف دې چې فلااثم عليهن دې او ﴿فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ﴾ جمله قائمقام دخبرده، اوپديكښې اشاره ده چې كچرته بتقاضائې بشريت په وخت داكراه كښې ددوئ نه هم مطاوعت اوشې نو الله جل جلاله به ورته معافي كوي. ﴿وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ﴾ پديكښې ترغيب دې قرآن ته اومراد په ﴿ءَايَٰتٍ مُّبَيِّنَٰتٍ﴾ سره مذكوراحكامات دى داصلاح دمعاشرې دپاره، ﴿وَمَثَلًا مِّنَ الَّذِينَ﴾ مثل نه مراد عجيب واقعات دې دتهمت لكه په حضرت يوسف عليه السلام باندې لګولې شوې وو، اوالله جل جلاله دهغه براءت اوصفائې ديوماشوم په ذريعې سره اوكړه دغه شان حضرت مريم عليها السلام باندې تهمت لګولې شوې وو دهغې صفائې الله جل جلاله دحضرت عيسىٰ عليه السلام په ذريعې سره اوكړه اودام المؤمنين رضي الله عنها صفائې اوبراءت الله جل جلاله پخپله اوكړو.

اَللّٰهُ	نُوْرُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ط	مَثَلُ	نُوْرِهٖ	كَمِشْكٰوةٍ

الله جل جلاله نوردآسمانونواودزمكې دې مثال دنوردهغه (په زړه دمؤمن كښې) پشان دهغه طاقچې دې

فِيْهَا مِصْبَاحٌ ط اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ

چې په هغې كښې چراغ وي (او) دا چراغ په شيشه كښې وي اوداشيشه ګوياچې ستورې دى پرقيدونكې

يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ لا يَّكَادُ زَيْتُهَا

چې بله ولې شي (دتيلو) دونې بركت والانه چې خونه دې، نه ده مشرق طرف ته او نه مغرب طرف ته، نزدې دې تيل دهغې

يُضِيٓءُ	وَلَوۡ	لَمۡ	تَمۡسَسۡهُ	نَارٌ	نُّورٌ	عَلَىٰ	نُورٍ	ط	يَهۡدِي ٱللَّهُ
چې رڼا وکړي اګرچې نوی لګیدلي هغې ته اور. رڼاده دپاسه دبلې رڼا هدایت ورکوي الله ﷻ									
لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ٣٥									
ددې نور دتوحیدخپل هغه چاته چې اوغواړي اوبیانوي الله ﷻ مثالونه خلکوته اوالله ﷻ په هرخیزباندې عالم دې.									

﴿ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ هرکله چې ماقبل ایاتونوکښ په ام المؤمنین ؓ باندې دلګولې شي تهمت ذکراوشو اودفساددفعیې دپاره قوانین ذکرشو، تهمت اوهغه امورچې دمعاشري دفساد ذریعه ګرځي په منزله دتیارودې نوپدې ایت کښ اعاده دمسئلې توحیدکیږي چې دانوردې اودغه شان په ماقبل کښ مؤمنانوته حکم اوشو چې داخلاق رذیله اوصفات خبیثونه،ځان بچ کړئ چې دااخلاق اوصفات په منزله دتیارودی نواوس پدې ایت کښ دمؤمن صفات اودهغه په زړه کښ دایماني نورذکرکیږي.

بیازده کړه داخبره چې نوریوصفت دې دصفاتودالله ﷻ نه، په مذهب دمتقدمینودډې اطلاق دالله ﷻ په ذات باندې حقیقة دې بلاکیف بلاتمثیل وتشبیه بالممکن. لکه څرنګه اطلاق دسمع،بصروغیره اطلاق متقدمین په ذات دالله ﷻ باندې حقیقة وائي اوجمهورمفسرین اومتاخرین فرمائي چې اطلاق دنورمعنې لغوې په اعتبارسره دالله ﷻ په ذات باندې ندې صحیح،نولهذا ددې ایت به تاویل صحیحه کیږي اوتاویل کښ ئې مختلف اقوال دي(١)دحضرت ابن عباس ؓ نه دنورتفسیربه هادي سره منقول دې اوچونکه هدایت یونوردې په زړه دمؤمن کښ لکه سورة الزمرایت نمبر(٢٢)کښ دې، نوددې وجې نه هدایت نه تعبیربه نورسره کیږي او﴿ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ نه مراد اهل السموات والارض دې،یعني الله ﷻ نوردهدایت ورکړیدې داسمان والو اوزمکې والوته(٢)بعض فرمائي چې نوربه معنې دمنور اومزین سره دې یعني الله ﷻ زمکې اواسمانونه نوراني اوخائسته کړیدي،اسمان ئې خائسته کړیدې په ملائکو، نمر،سپوږمئ اوستوروسره اوزمکه ئې خائسته کړیده په انبیاء کرام،علماء اوصلحاؤسره اودغه شان په ونو، اوبوتو سره (خازن)(٣)امام مجاهد رحمه الله دنورتفسیربه تدبیرسره کړیدې یعني الله ﷻ مدبرالسموٰت والارض،دزمکې اسمانونومدبر،متصرف اودهغې چلوونکې الله ﷻ

دي(۴) بعض فرمائي چې دلته مجازفي الحذف دي نورپه معنې دَذي النورسره دي. لكه زيدعدل په معنې دَذي عدل سره دي(۵) امام غزاليؒ دَنورتفسيرپه موجد اومظهرسره كړيدي.امام غزاليؒ پدي باندې يوه مستقله رساله ليكلي ده اوپه هغې كښې پدي باندې يوطويل بحث كړيدې دَهغه دكلام خلاصه چې دَدي خائ سره متعلق ده داده چې نورهغه ظاهرته وئيلې كيږي چې په هغه سره دَهرڅيزظهور راغلي وي، يعني چې كوم شئ ظاهرفي نفسه اومظهرلغيره وي نوهغه ته نوروئيلې شي اودَدي په مقابل كښې ظلمت راځي اودَدي التزاماًاطلاق په وجود اوعدم باندې هم كيږي، نوچې كوم څيزكښې ظهوروي نوهغه به خامخاموجودوي اوچې كوم څيزمعدوم وي نوهغه به ظلمت وي نولهذا هغه څيزچې برى وي دَظلماتودَعدم نه، ظهوردَوجود طرف ته نوهغه باندې اطلاق دَنوركيږي نودَهرشي وجود يونوردې اودانورعطاء كړې شويدې دَنوردَذات دَاللهﷻ نه يعني دَهرممكن وجود قائم دي دَوجود دَاللهﷻ نه اودَسموات اوارض نه مراد كل ممكنات دي نووجود اونوردَاللهﷻ اصل شو اونور اووجود دَممكن ظل اوفرعه شو، نوهرظل اوفرعه په خپل اصل باندې دلالت كوي لكه ذره دَنمردلالت كوي په وجود دَنمرباندې نودغه شان دَدي كائنات هره هره ذره دَواجب الوجود په ذات باندې دلالت كوي كمال قال الشيخ السعدىؒ:

برگ درختان سبزدرنظرهوشيار هرورق دفتريست معرفت كردگار

اوبيانورپه څلورقسمه دي(۱) يوهغه نوردې چې اشيآء دَستركودَپاره ظاهره وي اوخپله څه شي نشي كتلې،لكه نوردَنمراوسپوږمۍ وغيره شو(۲) دويم نوردَبصردې چې هغه ستركودَپاره اشياء ظاهره وي اوخپله هم كتل كوي(۳) دريم نوردَعقل دي چې پدي سره اشيآء معقوله،مخفيه ظاهريږي دَپاره دَبصائريعني عقلونواودې ادراك هم كوي اوروئيت هم كوي(۴) څلورم نوردَاللهﷻ دي چې پدي سره اظهاردَاشياء معدومه كيږي، چې پټ وي په ظلماتودَعدم كښې اودامعدومات اګرچه في ذاته معدوم اوغيرموجوددى، ليكن اللهﷻ په علم كښې موجوددى نودَٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ مقصد داشو چې اللهﷻ مظهراوموجددَاسمانونواوزمكودې په خپل كمال قدرت ازلي سره،

﴿مَثَلُ نُورِهٖ كَمِشْكٰوةٍ﴾ دَدې ایت په تفسیرکښ دَمفسرینورائ مختلف دی اومتعدد توجیهات کړی شویدي. لیکن دوه(۲) توجیهات ډیرغوره دی چې هغې کښ یوه توجیه حضرت شیخ رحمه الله غوره کړیده، خلاصه دَهغې داده چې داتمثیل دې یعنې دَالله جل جلاله دَتوحیدتمثیل ورکولې کیږي په کمال انجلائیت اوظهورکښ. لکه څرنګه یوچراغ وي اوهغه دَاعلې قسم خونه تیلونه بل کړې شوې وې اودغه چراغ په یوصفااوشفافه شیشه کښ وي چې دَهغې دَوجې نه رنړائې نوره هم زیاته شي اوداسي ښکاري لکه پړقیدونکې ستورې اودغه شان داچراغ په یومحفوظه طاقچه کښ ایخودلې شوې وي،چې دَهغې دَوجې نه ئې رنړائې راټوله شوي وي اودَنورعلې نورمصداق ګرځیدلې وي، نودغه شان دَالله جل جلاله توحیددې چې دَجهان دزري زري نه واضح کیدلو اوظاهریدلو، دَانبیاء کراموتعلیماتواوکتب سماویه دَوجې نه پکښ نورهم وضاحت راغې اوداسي شولکه چې په ظلماتواوتیاروکښ چې ستوري ځلیږي اودَحضور صلی الله علیه وسلم په نبوت سره اودَهغه په تعلیماتو سره پکښ نورهم انجلائیت راغې اونورعلی نورشو.

اودویمه توجیه دَحضرت عثمانی صاحب وغیره حضراتوده چې هغه ډیره بې غباره اوواضحه توجیه ده چې دَدوئ په نیزداتشبیه مفروقه اومتعدده ده اودَقبیلې دَتشبیه المعقول بالمحسوس نه ده، ځکه چه دلته تشبیه دَهدایت ربانی ده په قلب مؤمن کښ دَچراغ محسوس سره، اوپه جانب دَمشبه به کښ امورمتعدده مقصوده دی اوپه جانب دَمشبه کښ هم امورمتعدده دی مشبه کښ (۱)طاق دې(۲)په هغې کښ یوصفاشیشه وی(۳)په هغې شیشې کښ چراغ وي لکه پړقیدونکی ستوری(۴)په چراغ کښ دَداسې خونه والاتیل وي چې هغه نه شرقي وي اونه غربي، عمده اوبهترین تیل وي اوداسې صفاتیل وي چې بغیردَاورلګونونه داسې ښکاریږي اوداسې پړقیږي چې اوورته ورکړې شوې وي(۵)بیاهغې ته اوروزکړې شي اونورئې نورهم زیات شي دغه شان په جانب دَمشبه کښ هم امورمتعدددې(۱)بدن اوسینه دَمؤمن چې پشانته دَطاق دې(۲)قلب مؤمن، پشانته دَشیشې دې(۳)په هغې کښ اعتقاد دَتوحید په مثل دَمصباح اوچراغ دې(۴)داهدایت اونورایمانې دَهغې استعداد دَوجې نه دې چې الله جل جلاله په فطرت دَمؤمن کښ ایخې دې، اودا دَخونه دَتیلوپشان دې اوچونکه دانورایمانې دَذات دَالله جل جلاله نه،مستفیض دې اومبدا ورله دَالله جل جلاله ذات جلیله دې،چې منزه دې دَجهاتونه، نودَدې وجې نه په جانب دَمشبه به کښ دَتیلو

مبداء، چې دخونه ونه ده دهغې توصف په لاشرقيه ولاغربيه سره اوشو(۵)دغي استعداد سره انورات دوحي اوتعليمات دشرعيت ورسره هم شامل شي نو د﴿نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ﴾مصداق اوګرځي

((لاشرقية ولاغربية))بالكل هموار ميدان په مينځ كښ وي.نه د نور خاته وخت كښ پرې سورې راځي او نه دنور ډوبي دووخت كښ پرې سورې راځي،هر وخت پرې نوروي.نو د دغه شان زيتون ونې تيل ډير عمده وي.ځنې مفسرينو وسره فقطقيد اضافه كړيده، اي لاشرقية فقط ولاغربية فقط.يعنى نه صرف شرقي ده،چې هر وخت پرې نور وي،او نه صرف غربي ده ،چې هر وخت پرې سورې وي

فائده(۱):پدي ايت كښ تشبيه دچراغ چې په شيشه كښ بندوي. دستوري سره ورکړې شوه دنمراوسپوږمۍ سره ورنكړې شوه، وجه داده چې نمراوسپوږمۍ كله كله تندرنيسي اوستوروكښ تندرنيول نوي اوبعض فرمائي چې دلته محض دزجاجه تشبيه ده دستوري سره. اودمجموعي تشبيه نده، نوكچرته دشيشي تشبيه دنمرياسپوږمۍ سره ورکړې شوې وي نودايت مقصد به التبه شوي وي ځكه چې پدي صورت كښ به دامعلوميدله چې دشيشي رنړادچراغ رنړانه زياته ده، حالانكه دايت مقصددادې چې دچراغ رنړازياته ده اودشيشي رنړا دچراغ دوجي نه ده اودهغې نه كمه ده.

فائده نمبر۲: بعض معاصرو مفسرينوپدي ځائ كښ ليكلي دي، څنګه چې چراغ دزيتون (خونه) دتيلونه بليږي دارنګ ايمان دمؤمن حاصل شوي دې دعلومودقرآن اوحديث نه اوكوم ايمان چې تقليدي وي نوپه هغې كښ شكونه اوشبهات راځي،دوام ئې نوي اوكوم ايمان چې دقرآن اوسنت نه ماخوذوي نوهغه دشك اوشبهي نه پاك وي اودائم وي.

ليكن اصل خبره داده چې دامفسردايمان تقليدي په حقيقت باندې ندې پوهه شوې، دلته دوه(۲)څيزونه دي يو(۱)دې نفس تقليد ، چې هغه عبارت دې داعتقادجازمه غيرثابته نه، چې هغه قسيم ديقين دې، اودويم(۲)څيزدې ايمان تقليدي، دهغې مقصد دادې چې دیوکس په ضروريات ددين باندې مكمل يقين اواعتقادوي،البته دايمانياتو تفصيل اوتشريح په سلسلي كښ دحسن ظن په بنياد په يوامام اومجتهدباندې اعتماد اوكړي اوخپل ذاتي تشريح اوتفصيل پريدي اودهغه چاتشريح اختياركړي چاچه خپله زندګي ددين دپاره وقف كړې وه،تحقيقات دمسائل شرعيه دهغوئ دزندګئ مقصدوو، اوتدقيقات دمسائلواعتقاديه اوفرعيه دهغوئ نصب العين

وو ،ایمان تقلیدی پدې معنی کښې اعتبار کول دَ ټولو اهل سنت والجماعت متفقه مسلک دې،لهذا نفس تقلید او ایمان تقلیدی کښې فرق پکار دې.

فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ يُسَبِّحُ لَهٗ
په کورونو کښې حکم کړیدې الله ﷻ چې عزت او کړې شي دَهغې او یاد کړې شي په هغې کښې نوم دَالله ﷻ تسبیح وائي هغه لره
فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ
په دې کښې صبائې او بیګائې،داسې سړي چې نه غافله کوي دوئ لره سوداګري او نه خرخول دَذکر دَالله ﷻ نه
وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ
او دَپابندي کولو دَمانځه نه او دورکولو دَزکوٰة نه یره کوي.داسې ورځې نه چې ګډوډبه شي په هغې کښې زړونه
وَالْاَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ
او سترګو .دَپاره ددې چې بدله ورکړې دوئ لره الله ﷻ خائسته بدله دَعملونو دَدوئ او زیاتې ورکړې دوئ لره دَفضل خپل نه،
وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾
او الله ﷻ روزي ورکوي چالره چې او غواړي بې حسابه.

﴿فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ﴾ دَدې جملې په متعلق کښې نهه(۹)احتمالات دی، لیکن په هغه احتمالاتو کښې زیات غوره احتمالات دادی(۱)چې دامتعلق دې دَ ﴿يَهْدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُ﴾ سره چې داتمثیل دې، او دَآیت مقصد پدې احتمال سره دادې چې پدې کښې دَمؤمنین خلکو محل او مستقربیان کړې شو یعنې کوموکسانو ته چې الله ﷻ خپل نورهدایت ورکوي هغه کسان اکثر په مساجدو، مدارسو او په مراکزو دَدین کښې وي (۲)او یا متعلق دې دَ﴿يُوقَدُ﴾ سره یعني توقدفي بيوت یعنې دَایمان داچراغونه بلیږی په هغه کورونو کښې چې الله ﷻ دَهغې دَجوړولو او دَتعظیم کولو حکم ورکړیدې (۳)او دریمه توجیه دَحضرت شیخ القرآن مختاره ده، چې ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ دَماقبل

سره ندې متعلق بلکه دا يا متعلق دې د مابعد ﴿يُسَبِّحُ﴾ سره او ﴿رِجَالٌ﴾ فاعل د ﴿يُسَبِّحُ﴾ دې او دويم خلي ﴿فِيهَا﴾ تاكيد دې د ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ او يا د ﴿فِي بُيُوتٍ﴾ د پاره متعلق محذوف دې چې هغه مقدر ﴿يُسَبِّحُ﴾ دې چې تفسيرئي په ورستو يسبح سره شويدې. او ﴿أَذِنَ ٱللَّهُ﴾ په معنې د امر الله سره دې او ﴿تُرْفَعَ﴾ نه مراد ظاهري، باطني رفع ده ظاهري رفع د جمات تعمير د هغې تزئين كول وغيره دى او باطني رفع د هغې تعظيم كول او په هغې كښ عبادت كول دې. نو په دې تقدير دا ايت دليل نقلي دې په توحيد باندې ،د ايت مقصد دا دې چې د الله ﷻ نيكان بندګان په هغه كورونو كښ د الله ﷻ تسبيح او تقديس بيانه وي چې د كوموكورونو تعمير او تعظيم كولو حكم الله ﷻ وركړيدې، چې هغه مساجد او مدارس او مراكز د دين دى نو د دې توجيه په بنياد دا دليل نقلي دې په توحيد باندې.

﴿أَذِنَ﴾ په معنې د امر سره دې او په لفظ د ﴿أَذِنَ﴾ كښ اشاره ده ديته چې انسان لپاره د الله ﷻ رضى والا كارونه ته هروخت مستعد او تيار او سيدل پكار دى حتې چې دې صرف د اذن منتظروي او د حكم كولو نوبت ورته هم پيښ نشي. ﴿أَن تُرْفَعَ﴾ هركله چې رفع ظاهري رفع يعني تعمير او تزئين ته هم شامل دې، نو د دې وجې نه علماء د دينه استنباط كړيدې چې د جمات باطني ابادئ سره سره د هغې ظاهري ابادې او د هغې تزيين كول موجب ثواب او باعث بركت دې.

﴿يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا﴾ مراد ترينه پنځه وخته مونځ او عام اوقاتو كښ ذكر و اذكار مراد دې او ﴿بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ﴾ ياكنايه ده د اكثرو اوقاتونه، او يا د غدو نه مراد سحر وخت دې او اصال نه مراد ماسپخين ،مازيګر، ماښام او ماسخوتن دې او يا ترينه صرف سحر او مازيګر مراد دې او تخصيص د دې دواړو اوقاتو د پاره د اهتمام دې.

﴿رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ﴾ دا خاص اوصاف بيانيږي د هغه كسانو والا چې الله ﷻ هغوئ ته د هدايت نور عطاء كړيدې او د الله ﷻ په كورونو يعني مساجدو مدارسو او مراكزو د دين كښ دى، نو ﴿رِجَالٌ﴾ اول صفت دې او د دينه مراد كمال في الرّجوليت دې او تخصيص د رجال ځكه او شوچې په

جمات کښې مونځ کول.ذکرواذکارکول دنارینه دپاره غوره دي. اوزنانه دپاره په کورکښې دننه په کمره کښې عبادت کول اولى او افضل دى. لکه په حديث دام سلمهؓ کښې دى چې نبی پاکﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې خیرمساجدالنساء قعربيوتهن يعني دزنانودمانځه دپاره غوره ځائ دهغوئ کور تنګ اوتياري. والاځائ دي.

﴿لَا تُلْهِيهِمْ﴾ يعني رزق حلال تالاش کوي اودهغې تالاش دوئ دالله تعالیٰ دذکرنه اودنورعبادت نه، نه غافله کوي اوهرکله چې حلال روزۍ دپاري اقوى سبب تجارة وو. نوددي وجې نه تخصيص دتجارت اوکړې شو ﴿وَلَا بَيْعٌ﴾ لفظ دتجارت اګرچه مفهوم لغوي په اعتبارسره شامل دي بيع اوشراء دواړوته،ليکن کله کله عرفاً دتجارت اطلاق صرف په شراء باندې کيږي نودلته دتجارت نه مراد صرف شراء ده نوځکه لفظ دبيع ذکرشواوبعض فرمائي چې ذکر دبيع تخصيص بعدالتعميم دي دپاره داهتمام شان دبيع ځکه چې دشراء په نسبت اهميت دبيع زيات دي، ځکه چې په شراء کښې توقع دنفع وي اوپه بيع کښې تيقن دنفع وي. امام رازيؒ فرمائي چې بيع تقاضه کوي دتبديل العرض بالنقد يعني سامان په نقدي سره بدلول، اوشراء وئيلې کيږي تبديل النقدبالعرض ته يعني نقدي ورکول اوسامان اغستل،نودنقدي په اغستلوکښې رغبت زيات وي په نسبت سره ورکولوته، نوددي وجې نه تصريح په بيع باندې اوشوه اوفراء نه منقول دی چې دتجارت تعلق داهل جلب يعني بهرنه مال راوړلواولين دين کولوسره دې اودبيع تعلق په خپل شهرکښې دننه لين دې دى (کبير).

﴿عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ﴾ددينه مرادعام ذکرهم دي اودغه شان شامل دې تلاوت دقرآن اوشغل دعلوم دينيوته هم،﴿وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ﴾مرادترينه په پابندۍ سره په خپل وخت کښې دتولوادابورعايت کولوسره مونځ کول دى. ﴿وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ﴾مرادترينه حقوق ماليه په پابندۍ سره ورکول دى، ﴿يَخَافُونَ﴾دابل صفت دي دمؤمنانو، اوغوره قول دادې چې ﴿تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلْقُلُوبُ﴾کنايه ده داضطراب اودهشت نه يعني دهغې سختي ورځې نه يريږي چې هغې کښې به خلك ډيرمضطرب اوپريشانه به وي، چې هغه دقيامت ورځ ده اوپديکښې اشاره ده چې لکه څرنګه مؤمن دالله تعالیٰ

دَرحمت نه مایوسه نوي، نو دغه شان دَالله جَلَّ جَلَالُهُ دَعذاب او دَاخرت دَفکرنه غافله هم نوي. او په خپل عبادت باندې مغروره نوي.

﴿لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ﴾ بعض فرمائي چې لام دَعاقبت دې او دا متعلق دې دَ﴿يَخَافُونَ﴾ جملې سره او حضرت شیخ القرآن فرمائي چې لام تعلیلیه دې او دا متعلق دې دَمذکوره ټولو افعالو سره. یعني اهل نور او هدایت والا خلك دا کارونه ځکه کوي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ دوئ ته ښه بدله ورکړي. او خپل فضل او انعامات پرې نور هم زیات کړي.

وَالَّذِينَ	كَفَرُوٓا	أَعْمَالُهُمْ	كَسَرَابٍۭ	بِقِيعَةٍ

اوهغه کسان چې کفرئي کړې وي عملونه ددوئ پشان دَپړقیدونکي شګي دي په میدان کښ

يَحْسَبُهُ	الظَّمْـَٔانُ	مَآءً ط	حَتّٰٓى	إِذَا	جَآءَهُ	لَمْ	يَجِدْهُ شَيْـًٔا

چې ګمان کوي په هغې باندې ترږې سړې دَاوبو، تردې چې کله راشي هغې ته او نه مومي هغې لره هیڅ څیز

وَّ وَجَدَ	اللَّهَ	عِندَهُۥ	فَوَفَّىٰهُ	حِسَابَهُۥ ط	وَاللَّهُ	سَرِيعُ	الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾

او اوموني الله جَلَّ جَلَالُهُ دَهغې په خواه کښ نو پوره به ورکړي ده ته حساب دده. او الله جَلَّ جَلَالُهُ زر حساب کوونکي دې

أَوْ	كَظُلُمَٰتٍ	فِى بَحْرٍ	لُّجِّىٍّ	يَغْشَىٰهُ	مَوْجٌ	مِّن	فَوْقِهِۦ مَوْجٌ

یامثال ددوئ پشان دَډیروتیرو دې په دریاب ډونګ (ژور) کښ چې پټ کړې وی هغې لره چپې چې دَپاسه ترینه بله چپه وي

مِّن فَوْقِهِۦ	سَحَابٌ ط	ظُلُمَٰتٌۢ	بَعْضُهَا	فَوْقَ	بَعْضٍ ط	إِذَآ	أَخْرَجَ يَدَهُۥ

چې دهغې دَپاسه وریځ وي، تیرې دي بعضې دَپاسه دَبعضونه، هرکله چې رااوباسي دې لاس خپل

لَمْ يَكَدْ	يَرَىٰهَا ط	وَمَن لَّمْ	يَجْعَلِ اللَّهُ	لَهُۥ نُورًا	فَمَا	لَهُۥ	مِن نُّورٍ ﴿۴۰﴾

نزدې نده چې اوویني دې هغې لره، او هغه څوك چې ورنکړي الله جَلَّ جَلَالُهُ هغه ته نور، نو نیشته هغه لره هیڅ نور

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوٓا﴾ دَاهل ایمان او اهل نور دَاعمالو دَتمثیل ذکرکولو نه ورستو پدې ایاتونو کښ دَمشرکینو او دکفارو دَاعمالو تمثیل بیانیږي او هر کله چې دکفارو اعمال په دوه (۲) قسمه باندې

وو (۱) يو قسم هغه عملونه دی چې په ظاهر کښ صحيح اومفيد معلوميږي ليکن په حقيقت کښ دکفراوشرك دَوجي نه بې فائدي گرځيدلې وي، لکه صله رحمي، قيديانو ازاده ول، سقاية الحاج اوصدقات وغيره شو. (۲) دويم قسم هغه دی چې په ظاهر کښ هم بې فائدي وي اوپه حقيقت کښ هم بې فائدي وي، لکه ظلم. زناوغيره شو. نودَدي وجي نه مثالونه هم دوه (۲) بيانيږي اول مثال دَاول قسم اعمالودَپاره دي اودويم مثال دَدويم قسم اعمالودَهغوئ دَپاره دې. اوّل مثال خلاصه داده چې يوتږي کس وي، په سخته غرمه کښ دَلري نه په صحراء کښ سراب اويني، سراب وئيلې کيږي هغې رقيق بخاراتواوچمك ته چې په سخته گرمئ کښ دَشگونه يادَ كانړونه، رااوچتيږي، چې دَلري نه ورته انسان گوري نوداسي ښكاريږي لکه جاري اوبهيدونکی اوبه اوپه حقيقت کښ اوبه نوي نوداتږې کس چې دَلري نه سراب اويني په منډه منډه خان اورسوي، نوچې هلته اوگوري نواوبه نه وي بلکه دَهلاکت ساعت ئې راغلې وي، اوالله ﷻ دَحساب دَپاره اومومي دغه شان دامشرکين هم په دنياکښ سعي اودَنيك اعمالوكوشش كوي، چې پدي ښه اعمالوسره به په آخرت کښ مونږ ته ارام ميلاؤشي اوپه دي اعمالوسره اميددَنجات کوي خوچې کله اخرت کښ دَالله ﷻ دربارته حاضرشي، نوهلته به دوئ دَپاره دَنجات هيڅ شي هم نوي موجود، بلکه دَالله ﷻ عذاب به وي، اودَدوئ ټول اعمال به ضائع اوهباءً منثورابه شي.

اوبعض مفسرين فرمائي چې دَامثالونه دَدوه (۲) قسم کفارودَپاره دي يوقسم کفار داسي دی چې هغوئ دکفرسره، سره دَنوروخلکودکفرذريعه هم اوگرځي يعني داعيان الی الکفروي داپه منزله دَجاهل مرکب دی اودويم قسم هغه دی چې داعيان نوي بلکه تابع وي دَنورو کفارو، نواول مثال دَاول قسم کفارودي، اودويم مثال دَدويم قسم کفارودې، نوپدي توجيه خلاصه دَمثال اول داده چې دَدي داعيانوکفارو خيال دادې چې زمونږ داکشران به په اخرت کښ هم زمونږ خيال ساتي اومونږ ته به هغه اقتداراوعزت حاصل وي، لکه څرنگه په دنياکښ دې (څکه چې دوئ خوپه اقتدارپسي وگي تگي دی) خوچې کله قيامت کښ راحاضرکړې شي نودَدوئ داگمان به غلط ثابت شي لکه څرنگه په سراب باندې دَاوبوگمان کوونکی خيال غلط ثابت شي اوهغه كشران به دَدوئ دَپاره به دښمنان شي اودابه وائي چې: ربنااٰتهم ضعفين من العذاب (احزاب: ۶۸) اودغه شان په سورة الزمرايت نمبر (۲۹) کښ هم دي.

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوٓا أَعْمَٰلُهُمْ﴾ داولي توجيه په بناء داعمالو اضافت ضمير دجمعي ته عهدي دي اومراد ترينه ددوئ اعمال البر، او اعمال الخيردى لكه صدقات.صله رحمي وغيره شو. ﴿كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ﴾ "قيعة" جمع د قاع ده اويا په معنې دقاع سره دي صفا اوهموار ميدان ته وئيلې كيږي. ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ﴾ داغايه دمحذوف دپاره ده يعني يقصدولايزال جائيااليه حتىٰ اذاجاءه يعني دهغې سراب قصد اواراده ئې اوكړه اوهغې طرف ته په منډه منډه روان شو حتّې چې هغې سراب ته رااورسيدلو، نو ﴿لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا﴾ دلته هم ضمير راجع دي سراب ته او ﴿شَيْـًٔا﴾ نه مراد شئ نافع دې نونفي دمطلق شئ نده بلكه دشئ نافع ده.

﴿وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ﴾ دجمله هم تشبيه كښې داخله ده اومقصد دايت دادې چې دغه تكّي انسان په دغه ځائ كښې مقدور دالله جَلَّ جَلَالُهُ اوموميې چې هغه دده هلاكت دې، ځكه چې دې خوسخت تكّې وو اوبيا په سخته غرمه كښې په منډه منډه راغلې وو نوتنده ئې نوره هم سيواشوه نودادده دهلاكت ذريعه اوګرځيدله اوداهلاكت دده دپاره الله جَلَّ جَلَالُهُ پدې ځائ كښې مقرركړې وو.نو دغه شان به كافرانو ته هم د جزا په وخت كښې خپل نيک اعمال څه فائده ورنكړي،بلكه الله به ورسره د كفر حساب كوي،(روح) اوبعض فرمائي چې داجمله په تشبيه كښې نده داخله، تشبيه ددينه مخكښې جملې باندې پوره شويده اوداجمله توضيح دپاره ده،اوبعض فرمائي چې ضمائرمنصوبه په ﴿جَآءَهُۥ﴾ او ﴿لَمْ يَجِدْهُ﴾ كښې راجع دي اعمالوته، نود ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ﴾ مقصد دادې چې داګمان كوونكې خپل عمل ته راشي نو ﴿لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا﴾ يعني دې به دخپل نيك اعمالونه، څه عمل اونه موميې بلكه هغه به هبآءًمنثورا ګرځيدلې وي(والله اعلم).

﴿أَوْ كَظُلُمَٰتٍ فِى بَحْرٍ﴾ او دتنويع دپاره دې دادويم قسم اعمالود كفارومثال ذكر كيږي،تطبيق دمثال دممثل سره په اولي توجيه باندې داسې دې چې لكه څرنګه يو كس په سمندر كښې ډوب وي، چې دايوه تياره ده،بياپرې دپاسې نه دسمندرموجونه وي چې دادويمه تياره ده، اوبيادهغې دپاسه وريځ وي چې دنمر،سپوږمئ اوستوروړنړائي ورنه پټه كړي وي، دادريمه تياره ده نوپه

دريم(۳)قسمه ظلماتو اوتياروكښې داسرې پټ وي چې پدې وخت كښې ده ته خپل لاس هم نه ښكاري. نودغه حالت دكافردې چې دشرك اوكفرپه سمندركښې ډوب دې. چې دايوقسم ظلمت دې يعني ظلمت اعتقادي اوبيادده والابداعمال دی چې ظاهرا هم غيرمفيددی اوحقيقتاً هم غيرمفيددی، نودابل قسم ظلمت دې يعني ظلمت العمل والقول اوبيادده سره دخپل گناه احساس هم نوي دابل قسم ظلمت دې ،نوپه ده باندې داټول ظلمات راغليدي چې پدې وخت كښې دې دالله ﷻ دكمال قدرت دلائلوته هم نه گوري اوهغه نه ويني بلكه دعناد دوجې نه دده نه استعداد دهدايت سلب شوې وي، نو ﴿وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ﴾يعني چې الله ﷻ ورته دهدايت نورنه وركوي نوبل به ورته څوك وركړي.

اودويم توجيه په بناء دمثال تطبيق دممثل سره داسي دې چې داكافردكفراوشرك په سمندركښې راگيردې چې دايوظلمت دې،بياپه خپل گناه اوشرك باندې پوهيږي هم نه.نودابل ظلمت شو اوبيادگمراه مشرانوتقليدهم كوي نوداپكښې بل ظلمت شو ، نوپدې ظلماتوكښې دې په هيڅ خيزباندې نه پوهيږي اودخلاصئ لارورته نه ميلاويږي نوكچري پدې حالت كښې الله ﷻ ده ته دهدايت نوررونكړې نوبل ئې هيڅ څوك ورله نشي وركولې.

﴿بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ﴾،لجي منسوب دې لج ته په معنې دعميق اوژورسره اوپديكښې اشاره ده چې ظلمت كامله كفراوشرك دې ﴿لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا﴾نفي دقربت دروَيت ده نونفس رؤيت په طريق اولې سره منتفي دې اوچونكه انسان ته خپل لاس ډيرنزدې وي دپاره دكتلونودې وجې نفي دلاس خصوصاً ذكرشوه.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ
آياته نه گوري چې بيشكه الله ﷻ تسبيح وائې هغه لره هغه څوك چې په اسمانونوكښې دي اوزمكه كښې دي اومارغان
صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا
غوړونكي دوزرودي . هريوپيژني طريقه دمونځ خپل اودتسبيح وئيلوخپله، اوالله ﷻ پوهه دې په هغه كارونو

يَفْعَلُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿٤٢﴾

چې دوئ ئې کوي اوخاص الله ﷻ لره ده بادشاهي داسمانونو اودزمکي. اوخاص الله ﷻ ته ورگرځيدل دي

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا

آياته نه گوري چې بيشکه الله ﷻ راشړي وريځي بياجوړ راولي په مينځ(ټکړو)دهغې کښ بيااوگرځوي داوريځ لاندې باندې

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ

نووينې ته څڅې باران چې راوځي دَمينځ دَهغې نه. اوراوروي الله ﷻ (ګلئ) داسمان دَطرف نه دَوريځونه چې پشان دَغرونو دي.

فِيْهَا مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ

وي په هغې(وريځو)کښ دَګلئ نه، نورسوي دې لره هغه چاته چې الله ﷻ اوغواړي اواړوي ئې دَهغه چانه چې اوغواړي

يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿٤٣﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۗ

نزدې وي پړق دَبريښنادَهغه بوځي(ختم کړي)نظرونو لره، بدله وي رابدلوي الله ﷻ شپې اوورځې لره،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿٤٤﴾

بيشکه په دې کښ خامخاعبرت دې عقلونو والو لپاره،

﴿اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ﴾ دکفارو دَاعمالو دَتمثيل ذکرلونه پس پدې اياتونو کښ دلائل عقليه په توحيدباندې ذکرکيږي، دااول عقلي دليل دې په توحيدباندې، چې هرقسم مخلوق علوي، جوي، سفلي ټول دَالله ﷻ پاکي بيانه وي، تسبيح په خپلي معنې سره دې، اومرادترينه عام تسبيح دې که هغه قولي وي ياقلبي وي اوياقهري اوحالي وي، نوکه نمر، ستوري وغيره اشياء که تسبيح قولي ياقلبي نشي کولې ليکن تسبيح قهري اوحالي دَهغوئ نه ثابته ده اوداهم ممکنه ده چې الله ﷻ دوئ ته شعوررورکړې وي اوداټول مخلوقات که هغه حيوانات دي ياجمادات دي اويانباتات وغيره دې په خپل طريقې سره تسبيح وائې اومونږه ئې ادراک نشو کولې. لکه په سورة الاسراء ايت نمبر ٤٤ کښ ... بعض ... چې مراد ... تسبيح ... انقياد دې

﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾مرادترینه علوي اوسماوي. مخلوق دي لکه ملائك. نمر وغیره شو ﴿وَٱلْأَرْضِ﴾مرادترینه سفلي مخلوق دي، ﴿وَٱلطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍ﴾مرادترینه جوي مخلوق دي اوداجمله عطف ده په ﴿مَن﴾باندي.او ﴿صَٰٓفَّٰتٍ﴾حال دي دَ﴿وَٱلطَّيْرُ﴾نه اوهرکله چي دَمارغانوداحالت زيات واضح وو دَتسبیح قهري اوحالي دَپاره اوداحالت ئي ډيردلالت کولوپه کمال قدرت دَالله ﷻ باندي نودَدي وجي نه په دي قیداوحالت سره مقیدکړې شو.اوبعض فرمائي چي مارغان پدي حالت کښ تسبیح قولي زیاته کوي.

﴿كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ﴾تنوین په کلٌ کښ عوض دَمضاف الیه نه دي یعني کل واحدمن المذکور اوصلوة متعلق دي په ملائکواوانسانانواوجناتوپوري،اوتسبیح متعلق دي په مارغانوپوري اوبعض فرمائي چي تسبیح عطف تفسیري دي دَصلوة دَپاره، اودَضمائرو په مرجع کښ دوه(۲) اقواله دي یوقول دادي چي ټول ضمائرراجع دي· کل·ته اودَایت مقصددادي چي هریومخلوق په خپل تسبیح باندي ښه پوهیږي اوپه هغې طریقي سره تسبیح کوي کومه چي ورته الله ﷻ خودلي ده اودویم قول دادي چي ﴿عَلِمَ﴾کښ ضمیرراجع دي الله ﷻ ته،اوباقي ضمیرونه·کلٌ· ته راجع دی،مقصد دادي چي الله ﷻ دَهرمخلوق په تسبیح باندي پوهیږي اګرچه مخلوقاتوکښ څني دَیوبل په تسبیح باندي نه پوهیږي اوپدیکښ اشاره ده چي دَهرمخلوق دَعبادت یوه خاص طریقه ده چي هغه دَبل مخلوق دَعبادت دَطریقي نه جداده.

﴿وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾یعني دَاسمانونواودَزمکواودَټول کائنات واکدار الله ﷻ دي اوهرڅه دَهغه په قدرت اواختیارکښ دی.

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ﴾دادویم دلیل عقلي دي پدي کښ دَالله ﷻ دَقدرتونوکاملوذکردي.

﴿يُزْجِي﴾دَ ازجاء نه دي په سهولت سره دَیوشي بوتللوته وئیلې کیږي،یعني الله ﷻ په خپل قدرت کامله سره دَمختلف اطرافونه،وریځي یوځائ راجمع کړي.

﴿ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا﴾ ركاما په معنی دَمتراكماً سره دي. يعني لاندې باندې كيدل اي بعضه فوق بعض(روح) ﴿وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ﴾ دلته دري خله "من" راغليدې .راجح قول دا دي چې اول دواړه "من"ابتداءغايت دَ پاره دي."من السماء"مبدل منه دې او"من جبال"ورنه بدل دي، "السماء"او"جبال"نه يا حقيقي معنی مراد ده. يعني آسمان كښې دګليؤ غرونه دي او الله تعالی دَ هغی نه ګلئ ناز لوي،لكه بعض مفسرينو داقول اختياركړيدی اويا"السماء"او"جبال"نه مجازی معنی مراد ده، "السماء"نه مرادوريځ ده،اوجبال نه مقصود تشبيه ده،دَويځو دَغرونو سره په لوئی والی اوعظمت كښې،معنی به داشی چې غرونو په شان لوئي لوئی وريځو نه الله تعالی ګلئ نازلوی،دا قول غوره دی.

﴿فِيهَا﴾صفت دی دَ جبال دَپاره اوضمير راجع السماته دي،او دريم "من"چې په "من برد"كښې دې،ياتبعيضيه دي،او"مفعول به" دې دَ "ينزل"فعل دپاره په واسطی دَ حرف جرسره،معنی به دې صورت كښې داسی شي،الله تعالی ګلئ وروي،دَ غرونوپه شان لوئ لوئ وريځو نه ،اويامن بيانه دې چې بيان دَ"جبال"كوي،اومحل دَنصب كښې حال واقع كيږی.اودې صورت كښې مفعول به "البرد"محذوف وي،اومعنی به داشي:دګليو نه ډک دَ غرونو په شان وريځو نه الله تعالی ګلئ وروي

﴿فَيُصِيبُ بِهِۦ﴾ يعني الله ﷻ ګلئ رااوروي نوځني خلكوته جاني اومالي نقصان اورسيږي اوځني خلك الله ﷻ محفوظ كړي﴿يَكَادُ سَنَا﴾ يعني پدې وريځوكښې چې كوم پړقونه وي نو هغه دومره تيزوي چې قريبه وي چې دَسترګونظرختم كړي﴿يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيۡلَ﴾ تقليب يعني اړول راړولو نه مراد دَشپې نه ورستو ورځ اوورځې نه ورستوشپه راوستل دي،يعني څرنګه چې الله ﷻ وريځې بارانونه اوګلئ راوروي نودغه شان دَشپې تياره اودورځې رنړابوتلل،راويستل دَالله ﷻ په قدرت كښې دي.

وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِىْ عَلٰى بَطْنِهٖ ۚ

او الله ﷻ پیدا کړیدي هرقسمه زنده سرې د اوبونه. نوځیني ددوئ نه هغه دي چې ګرځي په خیټې خپلې باندې

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِىْ عَلٰى رِجْلَيْنِ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِىْ عَلٰى اَرْبَعٍ ؕ

اوځیني ددوئ نه هغه دي چې ګرځي په دوه خپو باندې اوځیني ددوئ نه هغه دي چې ګرځي په څلورو (خپو) باندې.

يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝٤٥ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ

پیدا کوي الله ﷻ هغه څه چې اوغواړي بیشکه الله ﷻ په هرڅیز باندې قدرت لري، یقینا نازل کړیدي مونږ آیاتونه

مُّبَيِّنٰتٍ ؕ وَاللّٰهُ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝٤٦ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا

ښکاره مضمون والا. او الله ﷻ رسوي چاله چې اوغواړي لاري نیغي ته، او وائې دوئ چې مونږ ایمان راوړیدې

بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ

په الله ﷻ اورسول باندې اوتابعداري کړیده مونږ بیامخ اړوي یوه ډله ددوئ نه ورستودې نه اونه دي دغه کسان

بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝٤٧ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ

مؤمنان اوکوم وخت چې اوبللې شي دوئ الله ﷻ ته اورسول دهغه ته ددې دپاره چې فیصله اوکړي په مینځ ددوئ کښې

اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝٤٨ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ۝٤٩

دغه وخت یوه ډله ددوئ نه مخ ګرځوي، اوکچرې وي دوئ دپاره واقعي حق (دنیوي) نوراځي هغې ته زرقبلونکي

اَفِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

آیا ددوئ په زړونو کښې مرض (ضعف) دې بلکه دوئ شکیان دي بلکه یریږي چې ظلم به اوکړي الله ﷻ په دوئ باندې

وَرَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٥٠

اورسول دهغه بلکه دغه کسان هم دوئ ظالمان دي

﴿وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ﴾ دا دریم دلیل عقلي دې په توحید باندې. یعني دا هم دالله ﷻ کمال قدرت دې چې هرځیزئې دَاوبونه پیدا کړیدې اوبیائې پدیکښ مختلف انواع ګرځولي دے. ځني هغه دي چې په خیټه باندې ګرځي لکه مار اوماهي وغیره شو. ځني هغه دي چې په دوه (۲) خپوباندې ګرځي لکه انسان، چرګان وغیره شواوځني هغه دي چې په ځلورو خپوګرځي لکه عام ځاروي شو. اود﴿مَّآءٍ﴾ نه مرادبعض فرمائي چې نطفه ده یعني مني نوداحکم بیاپه حسب دَاغلب اواکثرسره دې یعني اکثرمخلوقات الله ﷻ دَنطفي نه پیدا کړیدی . اوکله کله په کل باندې حکم دَاکثرو اولږی، نوداَدي وجي نه دلته﴿كُلَّ دَآبَّةٍ﴾ ذکرشوورنه ملائکه دَنورنه پیدا دي. جنات دَاورنه اوحضرت عیسیٰ عليه السلام دَنفخ جبرئیل عليه السلام نه پیدا دي. اودغه شان ځني چینجي دَمیوي اوځني دَګندګئ نه پیداکیږي اوبعض فرمائي چې﴿مَّآءٍ﴾ نه مراد عام دې یعني که هغه نطفه وي اویاعامي اوبه وي او﴿دَآبَّةٍ﴾ وئیلې کیږي كلّ مايدبّ على وجه الارض یعني هرهغه شئ چې مخ په زمکه باندې ګرځي اوکوم ځیزونه چې مخ په زمکه باندې ګرځي نودَهغې په تخلیق کښ ماده دَاوبوځه ناځه درجي کښ خامخاموجوده وي، یاخودَنطفي نه پیداوي اویادَرطوباتودَوجي نه پیدا شوي وي اویائې رهائش اوسکونت په اوبوکښ وي اوبعض فرمائي چې دَهرمخلوق ماده اصلي اوبه دي ځکه چې دَهرځه نه اول الله ﷻ اوبه پیداکړي اوبیادَهغې اوبونه،نورهم پیدا کړو ،ناراوهوائي هم ترینه پیدا کړه (والله اعلم).

﴿يَخْلُقُ اللَّهُ﴾ پدیکښ اشاره ده هغه قسم مخلوقاتوته، چې دَځلورونه ئې هم زیاتي خپي وي لکه عنکبوت،لړم اوزنزه وغیره شو،

﴿لَّقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍ﴾ داپه دریم ځلي ترغیب الي القرآن ذکرکیږي،

﴿وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا﴾ داشکوه ده په منافقینوباندې،اواعاده ده دَحالاتو اوصفاتو دَمنافقینودَپاره دَتقابل داوصافو دمؤمنانوسره چې په ظاهرکښ په ژبه باندې دعوی دَایمان کوي لیکن عملاً دَایمان نه انکارکوي لکه بشرمنافق اودَیهودي په مینځ کښ ځه تنازعه راغله نویهودي دَفیصلي دَپاره اصرار دَنبیﷺ کولواومنافق دَمحاکمي اوفیصلي دَپاره

اصرار دَيهودیانو مشر دکعب بن اشرف کولو اوبیاچې کله مجبوراً دَفیصلي دَپاره په نبیﷺ باندې راضي شو اونبي پاکﷺ فیصله اوکړه نوبشرمنافق هغې فیصلي منلوته تیارنوو، ددې واقعي تفصیل په سورة النساء ایت نمبر(٦١، ٦٢)کښې تیرشویدې.

﴿وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ﴾ دا دَمنافقینو عام عادت دې چې کله دَشریعت فیصله ددوئ په حق کښې نوي اودَدوئ دَمفاداتو اوخواهش خلاف وي نوبیادوئ دَاللهﷻ اودَرسولﷺ فیصلي منلوته تیارنوي، بلکه دَهغې نه تیښته کوي.

﴿وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلْحَقُّ﴾ اوکچرې فیصله ددوئ په حق کښې وي اودَدوئ دَمفاداتو اوخواهش موافق وي نوبیاحق ډیرپه تلوارسره قبولوي، لیکن داقبولول ئې دَدې وجې نه نوي چې دَحق سره ئې محبت وي بلکه دَخپل مفادات ورته عزیزوي اوداحالت نن صبادَډیرومسلمانانوهم دې، ددې آیت انطباق په تقلید باندې صحیح ندې ځکه چې فقهي روایات درحقیقت دَقرآن وسنت دَصحیح اومستندتشریح اودَقرآن وسنت نه مستنبط کړې شوي جزئیاتونوم دې، نه داچې مقابل دَقرآن اوسنت دې. ﴿أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ دااستفهام دَپاره دَزجراوتوبیخ دې اوپدې ایت کښې دَنبي پاکﷺ دَفیصلي نه انکارکولودَپاره درې(٣)اسباب ذکرکیږي یو(١)سبب دَانکاردپاره په زړه کښې دَایمان نیشتوالې اودکفرتحقق دې دویم(٢)سبب ﴿أَمِ ٱرْتَابُوٓاْ﴾ یعني دَنبي پاکﷺ په نبوت کښې شك کوي اودریم(٣)سبب ﴿أَمْ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ﴾ چې دَدنیاپه محبت کښې دومره انتهاء ته رسیدلې وي چې دَهغې دَوجې نه په اللهﷻ اوپه رسولﷺ باندې بدګماني کوي او"اَم"په دې ټولومواضعوکښې منقطعه دې په معنې دَ"بل" سره. ﴿بَلْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ پدیکښې اشاره ده چې اللهﷻ اونبي پاکﷺ باندې بدګماني کول اودَهغوفیصلوباندې اعتراض کول موجب دَظلم اوکفردې.

إِنَّمَا	كَانَ	قَوْلَ	الْمُؤْمِنِينَ	إِذَا	دُعُوٓا	إِلَى	اللهِ
بیشکه	ده		وینادَمؤمنانوکله	چې	اوبللې	شي	اللهﷻ

وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ

اورسول دَهغه ته دَدې دَپاره چې فيصله اوکړي دَدوئ په منځ کښې وائي دوئ واورېده مونږه اوتابعداري کوومونږ

وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥١﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ

اودغه کسان هم دوئ خلاصي موندونکي دي اوڅوک چې تابعداري اوکړي دَالله ﷻ اودرسول ﷺ دهغه اويرېږي دَالله ﷻ نه

وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٥٢﴾ وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ

اوځان بچ کړي دَعذاب دهغه نه نودغه کسان هم دوئ کامياب دي اوقسمونه کړي دي دوئ په الله ﷻ باندې کلک قسمونه خپل

لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ؕ قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا ۚ طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ ؕ

کچرې ته حکم اوکړې دوئ ته خامخادوئ به اوځي. ته اوايه قسمونه مکوئ. تابعداري ستاسومعلومه ده

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٣﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ

بيشکه الله ﷻ خبرداردې په هغه کارونوچې تاسوئې کوئ. ته اوايه تابعداري کوئ دَالله ﷻ اوتابعداري کوئ دَرسول ﷺ،

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ

پس کچرې مخ اوګرځولوتاسو نوپس بيشکه دهغه (حضور ﷺ) په ذمې دې هغه کار چې هغه ته سپارلې شويدې اوستاسوپه ذمې دې

مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ

هغه چې تاسوته سپارلې شويدې، اوکه تابعداري اوکړئ دده نوهدايت به اوموموئ، اونيشته په رسول باندې

اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿٥٤﴾

مګر رسول دي ښکاره.

﴿اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ هرکله چې مخکښې اياتونوکښې صفات اوحالات دَمنافقينو ذکرشو نواوس پدې ايت کښې بطورتقابل صفات دَمؤمنانوذکرکيږي چې دَمؤمن صفت دادې اودَهغه دَايمان تقاضا ده چې دَالله ﷻ اودَرسول ﷺ په فيصله کښې هيڅ قسم چون وچرا نه کوي بلاتأمل

ئې تسلیمه وي. ﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ﴾ پدیکښې بشارت دې مخلص مؤمنانو ته، مراد په اطاعت دَالله ﷻ سره اداکول دَفرائضودي او اطاعت رسول نه مراد عمل دې په سنتو باندې. اومراد په ﴿وَيَخْشَ اللَّهَ﴾ سره دادې چې کوم ګناهونه ئې کړيدي په هغې باندې دَالله ﷻ نه يره کوي اودَ ﴿وَيَتَّقْهِ﴾ مقصد دادې چې دَآئنده دَپاره دګناه نه ځان بچ کوي، نوددې مذکوره صفاتو حاملين خلک به جنت ته داخل کړې شي اوجهنم نه به بچ کړې شي.

قرطبي رحمه الله ليکلي دي چې دَحضرت عمر رضی الله عنه په مخ کښې يوځلي يورومي عيسائې کلمه اوئيله اومسلمان شو حضرت عمر رضی الله عنه ترينه دَايمان راوړلوباعث تپوس اوکړو نوهغه ورته اوئيل چې ماثورات، انجيل ټول اسماني کتابونه وئيلي دي، نن مادَيومسلمان دَخولې نه داايت دَقرآن پاک واوريدلونوماته يقين اوشو دادَالله ﷻ کلام دې ځکه چې صرف پدې يوايت کښې دَټول سابقه کتابونو مضامين جمع کړې شويدي.

فائده: فلاح وئيلې کيږي نيل الخيروالنفع الباقی اثره ته يعني دَداسي خيراونفعي حصول چې اثرئې باقي اودائمي وي او فوز وئيلې کيږي الخلاص من المکروه مع الوصول الی المحبوب يعني تکليف والاځيزنه بچ کيدل اومحبوب ځيزته رسيدل نوفلاح مطلق کاميابي ده او فوزکامله کاميابي ده نوهرکله چې په اول ايت کښې صفات دَنفس ايمان والاذکروو نودَدې وجي نه په هغې باندې نفس فلاح مرتبه شوه اودويم ايت کښې دکامل ايمان صفات ذکرشو نودَدي وجي نه په هغې باندې فوزمرتب کړې شوچې هغه کمال کاميابي ده.

﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ﴾ پديکښې زجردې په منافقينو باندې اودَهغوئ مزيدحالات اوصفات ذکرکيږي، نبي پاک ﷺ ته ځني منافقين راغلل اوقسمونه ئې اوکړل چې يارسول الله ﷺ والله لوامرتنا ان نخرج من ديارنا ونسائنا واموالنا لخرجنا ولوامرتنا بالجهاد لجاهدنا، يعني کچرته ته مونږته حکم اوکړې چې مونږ خپل کورونه خالي کړوخپلې بيبياني اوخپل مالونه بهرته اوباسو نومونږ ديته هم تياريو اوکه ته مونږ ته دَجهادحکم کوي نومونږجهادته هم تياريو، اوداخبري به هغوئ صرف دَنبي پاک ﷺ مطمئن کولواوخپل کفرپټولودَپاره کولې اودادَمنافقينوعادت دې چې په خلي باندې خبري غټي غټي کوي اودَبل کس مطمئن کولودَپاره به قسم هم خوري، خوچې کله دَعمل وخت راشي اودکرداروخت راشي نوبياتيښته کوي اوحکم پوره کولوته تيارنوي.

﴿جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ﴾ دا یا مفعول مطلق دې دفعل مقدر دپاره نو په اصل کښې داسې دې یجهدون ایمانهم جهدا نو بیا فعل حذف کړې شو او مفعول مطلق په مفعول به باندې مقدم کړې شو او هغې ته مضاف شو لکه ضرب الرقاب پشان او یا ﴿جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ﴾ په معنې دمجتهدین فی ایمانهم سره دې او حال واقع شویدې د ﴿وَأَقْسَمُوا﴾ نه او دا ماخوذ دې د جهدالنفس نه چې کله یو کس دیو کار په کوشش او محنت کښې اخري حدته اورسیږي، او جهد یمین په شریعت کښې هغه قسم ته وئیلې کیږي چې دالله جَلَّجَلَالُهُ په ذات باندې اوخوړې شي

﴿لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ﴾ مراد په خروج سره یا جهادته تلل دی او یا ترینه خپل اموال دالله جَلَّجَلَالُهُ په لاره کښې ورکول دي او یا ترینه هسې خپل کورونه، دخپل اهل وعیال نه خالي کول دي یعني مونږ ستا دومره مطیع او فرمانبردار یو کچرته ته مونږ ته حکم اوکړې نو مونږ ستا په حکم باندې خپل اهل وعیال او خپلو کورونونه، به اوځو.

﴿طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ﴾ دا مرکب توصیفي یا خبر دې دمبتدا محذوفي دپاره او مبتدا ورله المطلوب منکم محذوف دې اي المطلوب منکم طاعة معروفة یعني قسمونو خوړلو ته ضرورت نیشته دې ځکه چې دهغې مطالبه ستاسو نه نده شوې ستاسو نه مطالبهٔ دنیك کار او دایمان شوې ده چې هغه اطاعت شرعیه دې یعني کردار به ذریعې سره دخپل ایمان ثبوت ورکول پکاردی، نه په قسمونو سره (۲) او یا ورله مبتدا "طاعتکم" محذوف دې او دا جمله علت دنهې دپاره دې یعني لاتقسموا طاعتکم طاعة معروفة یعني ستاسو قسمونه ناحق دې نو ناحق قسمونه مه خورئ ځکه چې ستاسو طاعت معروف او مشهور او هرچا ته معلوم دی چې صرف په خلې باندې دعوه دطاعت کوئ دخپلو ذاتي مفاداتو دپاره او په زړه کښې کفرلرئ (۳) او یا دا مرکب توصیفي مبتداء ده او خبرئې محذوف دې نو اصل عبارت داسې دې: طاعة معروفة اولی بکم مّن ایمانکم یعني طاعت شرعیه ستاسو دپاره ستاسو دقسمونو نه ډیر غوره دې مقصد دادې چې قسم خوړل ندې پکار بلکه ښه کردار او خائسته عمل کول پکاردي

﴿قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ﴾ پدي ایت کښې توضیح اووضاحت دي دطاعت معروف اومنافقینوته دنفاق پریخودلودپاره دعوت ورکولې کیږي، یعني کچرته تاسوپه حقیقت کښې مؤمنان ئې نوپه اخلاص سره دالله ﷻ اودنبی ﷺ اطاعت اوکړئ.﴿فَإِن تَوَلَّوۡاْ﴾ داشرط دې اوجزائې محذوفه ده چې "فلاضرر" دي او﴿فَإِنَّمَا عَلَيۡهِ مَا حُمِّلَ﴾په جزاء باندې متفرع دې اود﴿مَا حُمِّلَ﴾نه مراد امت ته دعوت اوتبلیغ کول دی اودخپلونوروفرائضوادائیګي کول دی.

﴿مَّا حُمِّلۡتُمۡ﴾نه مراد ایمان نه راوړل اودالله ﷻ اودنبی پاک ﷺ اطاعت نه کول دي﴿وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْ﴾ پدیکښې اشاره ده چې سنت رسول ﷺ ذریعه دهدایت ده بغیردسنت نه اودنبی پاک ﷺ په تعلیماتوباندې عمل کولونه بغیرهدایت ته رسیدل ممکن ندي.

وَعَدَ	اللّٰهُ	الَّذِيۡنَ	اٰمَنُوۡا	مِنۡكُمۡ	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
وعده کړیده	الله ﷻ	دهغه کسانوسره	چې ایمان ئې راوړې دې	ستاسونه	اوعملونه	ئې کړیدي نیك
لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ	فِي	الۡاَرۡضِ	كَمَا	اسۡتَخۡلَفَ	الَّذِيۡنَ	مِنۡ قَبۡلِهِمۡ

خامخاخلافت به ورکوي دوئ ته په زمکه کښې لکه چې خلافت ئې ورکړې وو هغه کسانوته چې ددوئ نه مخکښې وو

وَلَيُمَكِّنَنَّ	لَهُمۡ	دِيۡنَهُمُ	الَّذِي	ارۡتَضٰى	لَهُمۡ	وَلَيُبَدِّلَنَّهُمۡ

اوخامخاکلك به کړې دوئ لره دین ددوئ هغه چې غوره کړې ئې دې ددوئ دپاره اوخامخابدل به کړې دوئ لره

مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ اَمۡنًا ؕ يَعۡبُدُوۡنَنِيۡ لَا يُشۡرِكُوۡنَ بِيۡ شَيۡـًٔا ؕ وَمَنۡ كَفَرَ

روستودویرې ددوئ نه امن، په داسې حال چې بندګي به کوي ځما شریك نه جوړوي ماسره هیڅ څیز. اوچاچې کفراوکړو

بَعۡدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ۝ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيۡعُوا الرَّسُوۡلَ

ورستو ددې نه نودغه کسان دوئ نافرمانه دي.او پابندي کوئ دمونځ اوورکوئ زکوة اوتابعداري کوئ درسول ﷺ

لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٥٦﴾ لَا تَحۡسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ

دَدې لپاره چې په تاسو رحم اوکړېشي. هرګزګمان مکوه په هغه کسانو چې کفرئې کړيدي بچ کيدونکي دعذاب نه په زمکه کښ.

وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٥٧﴾

اوځائ ده ستوګني ددوئ جهنم دې. او خامخا ډيربد ځائ دورتلو دې (جهنم).

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ﴾ پدې ايت کښ درې اسباب دبشارت اودرې (۳) بشارتونه ذکرکيږي درې (۳) اسباب دبشارت دادي (۱) ايمان (۲) عمل موافق دسنت (۳) دهرقسم شرک نه ځان بچ ساتل اودرې (۳) بشارتونه دادی (۱) استخلاف (۲) تمکين اوقدرت دنفاذ داسلام (۳) امن.

شان نزول: قرطبي رحمه الله نقل کړيدی چې دمديني منورې په ابتدائي دورکښ يوکس نبي پاک ﷺ ته راغې اوعرض ئې اوکړو چې يارسول الله مونږ په هروخت کښ په خوف اوخطره کښ يو اومسلح ګرځونو په مونږ باندې به چرته داسې وخت هم راشي چې بغيردخوف اوخطرنه مونږ ژوند تيرکړو، نونبي پاک ﷺ ورته اوفرمائيلو چې هاؤداسې وخت ډيرزرراتلونکې دې، نوپدې باندې دا ايت نازل شو چې الله تعالىٰ وعده ده چې تاسوته به په زمکه کښ خلافت درکړي اوکوم دين چې الله تعالىٰ ستاسو دپاره غوره کړې دې هغه دنفاذ قوت اوطاقت به درکړي اودهرقسم خطراتو نه به مو محفوظ کړي او ﴿مِنكُمۡ﴾ کښ من تبعيضيه دې اوخطاب صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دې نولهذا خلافت راشده موعودي وو، او ﴿وَعَدَ﴾ فعل دې ﴿ٱللَّهُ﴾ ورله فاعل دې او ﴿ٱلَّذِينَ﴾ ورله مفعول اول دې اومفعول ثاني ورله محذوف دې چې استخلاف دې او ﴿لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ﴾ جواب دقسم محذوف دې يعني اقسم ليستخلفنهم اوحضرت والدصاحب رحمه الله به فرمائيلو چې خلافت موعودي دې اومطلوب ايمان اواعمال صالحه دی نونن صبامونږ موعود، مطلوب ګرځوليدې اومطلوب مومتروک ګرځوليدې اوقانون دادې چې کوم کس موعود، مطلوب کړي اومطلوب متروک کړي نوهغه مضروب وي نوځکه مسلمان په هرځائ کښ مضروب اوذليله دی.

﴿كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ﴾ما مصدريه ده اصل عبارت داسي دي استخلافا كاستخلاف الذين من قبلهم او ﴿مِن قَبۡلِهِمۡ﴾نه مراد بني اسرائيل دي چې الله ﷻ هغوئ ته دجبابره دمصر دهلاکت نه ورستو دمصر خلافت ورکړې وو او دعمالقه دهلاکت نه بعد دشام خلافت ورکړې وو.

﴿يَعۡبُدُونَنِي﴾دا يا جمله مستانفه ده ګويا چې سائل سوال کولو چې مابالهم يستخلفون ويؤمنون؟ نو جواب ترينه اوشو چې ﴿يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗا﴾او يا دا جمله حال واقع شوېده د الذين نه.

فائده: دا ايت دخلفاء راشدين په عظمت شان او دهغوئ دخلافت په صحت باندې دليل دې، ځکه چې من تبعيضيه دې او خطاب صحابه کرامو ﷺ ته دې نو خلافت دهغوئ موعودي شو، او الله ﷻ خپلې درې(٣)وعدې داسې پوره کړې چې دنبي پاک ﷺ په دورکښې الله ﷻ دين ته غلبه ورکړه، دعرب اکثر علاقې لکه خيبر،بحرين،يمن او ځنې علاقې دشام فتح کړې شوې،اسلامي نظام نافذ کړې شو،اکثر خلک مسلمانان شو په کافرانو باندې جزيه مقررکړې شوه دنبي پاک ﷺ دوفات نه پس بيا وعده داستخلاف پوره کړې شوه او الله ﷻ دخپل تکويني قانون او حکم ماتحت حضرت ابوبکر ﷺ خليفه مقررکړو او دهغه په دورکښې مرتدين،مدعي نبوت او کفار دجزيرة العرب نه ختم کړې شو، بصره،دمشق،حوران، بلاد مصر او ځنې علاقې دفارس فتح کړې شوې او بيا حضرت عمر ﷺ خليفه مقررکړې شو، دهغه په دورکښې تولې علاقې دشام، مصر او اکثر حصې دفارس فتح کړې شوې،دقيصر او کسرئ خزانې په مسلمانانو باندې تقسيم کړې شوې،دده نه ورستو دريم خليفه حضرت عثمان ﷺ مقررکړې شو،دهغه په دورکښې اسلام مشرق او مغرب ته اورسيدلو،مشرق کښې چين،عراق،خراسان،روس اهواز وغيره علاقې فتح کړې شوې،او په مغرب کښې اندلس،قبرص تر بحر محيط پورې علاقو ته اسلام داخل شو او بيا څلورم خليفه حضرت علي ﷺ مقررکړې شو، دهغه په دورکښې اګرچه خانه جنګي وه ليکن غلبه داسلام برقراره وه،دکفارو دطرف نه مسلمانانو ته تکليف رسول يا دمسلمانانو ذليله کول نوو،لکه څرنګه مسلمانان په مکه کښې مقهورين او مطلوبين وو،نو دايمان او عمل صالح په ذريعې سره الله ﷻ قاهرين او طالبين اوګرځولو، چې دا دېرلوئ امن او عزت دې او باقي په خپل مينځ کښې جنګ وجدال په خپل اختيار سره وو (احکام القرآن ابن العربي).

دابن العربي رحمه الله اودابن کثیر رحمه الله دکلام نه معلومیږي چې پدې ایت کښې چې دکوم خلافت ذکردې نودهغې نه مرادخلافت علی نهج النبوة دې اودغې خلافت اووعدې ابتداء په دې ایت سره اوخودلې شوه چې دنبی پاک ﷺ دوفات نه ورستو خلافت شروع شو اوانتهاء ئې په حدیث سره اوخودلې شوه چې مروي دې دحضرت سفینه رضی الله عنه نه هغه فرمائي چې قال رسول الله ﷺ خلافة النبوة ثلاثون سنة،ثم یؤتي الله الملك من یشآء اوبیاحضرت سفینه رضی الله عنه خپل شاګرد حضرت سعید رضی الله عنه ته اوفرمائیلوچې ته اوشماره دوه(۲)کاله خلافت دحضرت ابوبکر رضی الله عنه وو. لس کاله دحضرت عمر رضی الله عنه،دولس(۱۲)کاله دحضرت عثمان رضی الله عنه اوشپږ کاله دحضرت علي رضی الله عنه خلافت وو، اوعلماء فرمائي چې ددوئې ټولوصحیح مدت راواغستلې شي یعني بغیردپوره کولو یادحذف کولودکسرنه، نوشپږ میاشتې پاتې کیږي،هغه شپږ میاشتې حضرت حسن رضی الله عنه پوره کړې اودهغې نه پس خلافت علی نهج النبوة ختم شوالبته مطلق خلافت اوخلفاء ددینه ورستونورهم کیدې شي لکه په روایت دمسلم کښې دحضرت جابربن سمرة رضی الله عنه نه مروي دی چې نبی پاک ﷺ ارشاداوفرمائیلوچې ځمادامت کاربه صحیح روان وي ترڅوچې دولس خلفاء وي،نوددې حدیث نه ددولس(۱۲)خلفاء پیداکیدلوثبوت معلومیږي چې دهغې نه څلورخلفاء راشدین دي اونور خلفاء په متعددو اوقاتوکښې څه تیرشویدي اوڅه به راځي اواخري خلیفه به امام مهدي رحمه الله وي اوددې ایت اویاحدیث نه دشیعه ګانو دولس امامان ثابتول غلط دي ځکه چې موعودلهم صحابه کرام دي اودهغوئ په دورکښې الله تعالیٰ دین ته ترقي اوخلافت قیام اودهغې استحکام ورکړې وو اودغه شان صفات دوعدې داستخلاف په اکمل طریقې سره په هغوئ کښې موجودوو، اوکچرې صحابه کرام په دورکښې کومه وعده پوره کړې شوې نوې نوددې مقصد داشوچې ترڅوارلس سوه(۱۴۰۰)کاله پورې دې ایت مطابق زندګي په ذلت کښې تیره شوه اوالله تعالیٰ خپله وعده پوره نکړه(العیاذبالله).

﴿يَعْبُدُونَنِي﴾ دایاجمله مستانفه ده اویاحال دې د ﴿الَّذِينَ﴾ نه اودادریم سبب دبشارت دې،

﴿وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ﴾ دکفرنه مرادیاکفرحقیقي دې اود ﴿الْفَاسِقُونَ﴾نه مراد کاملین في الفسق دي اوپه کمال فسق سره انسان دملت اواسلام نه خارج کیږي اویاکفرپه معنې لغوي سره دې اودایت مقصد دادې چې څوك دالله تعالیٰ ددې انعاماتوقدراونکړي نوداخلك فاسقان دي اوددې انعام

ناشکري دټولونه اول هغه چاوکړه چې دحضرت عثمان رضي الله عنه ئي شهيد کړو اودهغه نه ئې بغاوت کړې وو، نو الله تعالیٰ په خپلو انعاماتو کښې کمې راويستلو.

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ دبقاء دخلافت اواصلاح نفس دپاره دري(۳) مرکزي امور ذکر کيږي ﴿لَا تَحْسَبَنَّ﴾ پدي کښې تخويف دي منکرينو ته اوتسلي ده مؤمنانوته چې ستاسو مخالفين اوکفار نه په دنيا کښې دالله تعالیٰ عذاب نه بچ کيدې شي اونه په آخرت کښې.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ وَالَّذِينَ
اي مؤمنانو! پکارده چه اجازت دي غواړي ستاسونه هغه کسان چه مالك دي پرې خي لاسونه ستاسو (غلامان) اوهغه کسان
لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلَوٰةِ الْفَجْرِ وَحِينَ
چه ندي رسيدلي دبلوغ عمرته ستاسونه دري وخته،مخکښې دمونځ دسهارنه اوکوم وخت
تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعْدِ صَلَوٰةِ الْعِشَآءِ ۚ ثَلَٰثُ عَوْرَٰتٍ لَّكُمْ
چه کيږدئ اوباسئ تاسو جامې خپلي دغرمې په وخت کښې اووروستودمانځه دماسخوتن نه،دادري وختونه دپردې ستاسودي.
لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ
نيشته په تاسو اونه پدوئ باندې څه ګناه سیوادې وختونه،(ځکه چه)ډیراتلونکي دي په تاسوباندې بعض دستاسو
عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْءَايَٰتِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾
په بعضو باندې،همدغه شان بيانوي الله تعالیٰ تاسوته حکمونه،اوالله تعالیٰ ډيرپوهه دي حکمتونو والادي.
وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَٰلُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُوا كَمَا اسْتَـْٔذَنَ الَّذِينَ
اوکله جه اورسيږي واړه بچي ستاسونه بلوغ ته نو اجازت دي غواړي لکه چې اجازت غوښتلو هغه کسانو
مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾
چې دذوئ نه مخکښې بالغان شويدي،دغسې بيانوي الله تعالیٰ تاسوته احکامات خپل،اوالله تعالیٰ ډيرپوهه حکمتونو والادي

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ دا دَسورت دويمه حصه شروع کيږي چې پديکښې دَاصلاح دَمعاشري دَپاره دري(۳) قوانين ذکرکيږي، نودااول قانون ذکرکيږي چې داپه باري دَاستيذان(اجازت غوختلو) کښې دې په ماقبل ايت نمبر(۲۷) کښې هم حکم اوقانون دَاستيذان ذکرشوې وو، خوهغه استيذان دَاجنبي اوغيرمحارم په باره کښې وو اودااستيذان په باره دَاقاربو اومحارمو کښې دې خلاصه دَدي داده چې دکوموخلکونه عام طورباندې پرده نيشته دې لکه رور، پلار، خوې، لور، خور وغيره نوچې کله هم هغوئ کورته داخليږي نوغاړه تازه کول سبحان الله وئيل دَدوئ دپاره مسنون عمل دې خوبياپه کوزکښې دَننه دَيوبل مخصوص ځائ اوکمري ته چې ځي نوپدي صورت کښې دري(۳) اوقات داسي دي چې دَيوبل نه اجازت اغستل ضروري اوواجب دي هغه دري(۳) اوقات دادي(۱) دسهرمانځه نه مخکښې(۲) دَماسخوتن دَمانځه نه ورستو(۳) دَغرمي ارام په وخت کښې اوچونکه پدي وختونو کښې انسان ازاد اوبې تکلف اوسيدل غواړي دَخپل بي بي سره اختلاط کښې مشغول وي اوپدي اوقاتو کښې ځني خلك زائدي جامي هم دَځان نه لري کوي، نودَدي وجي نه پدي اوقاتو کښې محارم او اقارب(سيوا دزوج نه) په يوبل باندې داخليدل بغيرد اجازت نه ممنوع دي حتّي چې پدي اوقاتو کښې غلامان اونابالغ اولاد چې مراهق وي په عوراتو باندې پوهيږي دَداخليدلو دَپاره به اجازت غواړي، اودَدي اوقاتونه علاوه په باقي اوقاتو کښې دَاقاربو دَپاره اجازت اغستل ضروري ندي، دَپاره دَدي چې حرج اوتکليف لازم نشي.

فائده: پديکښې دَعلمآؤ اختلاف دې چې داحکم مذکوردَاستيذان وجوبي دې اوکه استحبابي، اومنسوخ دې که محکم نودَجمهوروقول دادې چې داحکم وجوبي دې اومحکم دې، منسوخ ندې، دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوسعيدبن جبير رحمه الله نه مروي دې چې انّ ناساً يقولون نسخت والله مانسخت ولكنّها ممّاتهاون بها النّاس(خازن) يعني ځني خلك داوائي چې داايت منسوخ دې په الله قسم چې دامنسوخ ندې ليکن خلك دَدي ايت دَحکم نه غفلت کوي.

﴿مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ﴾ ددينه مراد وينزي اويانابالغ غلامان دي ځکه چې بالغ غلام اجنبي دې دَهغه حکم مخکښې تيرشويدې، ﴿وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ﴾ دَدينه مرادنابالغ بچې دي اوحکم په حقيقت کښې اوليآؤ اومشرانوته دې چې خپل اولاد اوغلامانوته دااداب اوتربيت ورکړئ چې پدي

اوقاتو کښې بغیرد اجازت نه په تاسو باندې نه داخلیږې نو دا اعتراض نه واردیږي چې ماشومانو ته څرنګه حکم او شو حالانکه هغوئ مکلف ندي.

﴿ثَلَٰثَ مَرَّٰتٍ﴾ غوره قول دادې چې دَدینه مراد دري(۳) وختونه دي اوقرینه پرې ورستو کلام دې چې هغه دَدې تفسیر دې، ﴿مِّن قَبْلِ صَلَوٰةِ ٱلْفَجْرِ﴾ داوخت دَخوب نه دَبیدارئ دې اودَخوب نه دَبیداریدلو په وخت کښې کله کله انسان په داسې حالت کښې وي چې نه غواړي چې پدې حالت کښې ماڅوك اوګوري اودغه شان په دې وخت کښې خلك دَشپې والاجامې هم بدلوي.

﴿وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم﴾ دا تصریح په علت دَمنع باندې ده، او﴿مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ﴾ نه مراد دَغرمې وخت دې اودَثیاب نه مراد هغه جامې دي چې په حالت دَیقظت یعني بیدارئ کښې اچوي اوبیادَغرمې دَقیلولې دَپاره څنې خلك دَځان نه لرې کوي اومن یابیانیه دې چې بیان ئې کړیدې دَحین اویا"من" په معنې دَ"فی" سره دې یعني في الظهيرة اویاپه معنی دَلام اجلیه سره دې اوظهيرة نه مراد شدة الحر یعني سخته ګرمي ده نومقصددادې چې تاسوکپړې لرې کوئ دَسختې ګرمئ دَوجې نه چې داوخت دَغرمې دې اوهرکله چې پدې وخت کښې عام طورباندې خلك زائدې جامې لرې کوي دَپاره دَارام اوعرفا پدې وخت کښې څوك جماع نه کوي،نوځکه په علت باندې تصریح اوکړې شوه او ﴿تَضَعُونَ ثِيَابَكُم﴾ ورسره ذکرشوپه خلاف دَدې نورو دوه(۲) اوقاتونه، چې پدغه دوه(۲) اوقاتوکښې دَجامولرې کولوسره جماع کول هم وي نوځکه دَهغې سره یومخصوص علت ذکرنکړې شو. ﴿ثَلَٰثُ عَوْرَٰتٍ لَّكُمْ﴾ دا خبردې دَمبتدا محذوفې دَپاره اصل عبارت داسې هن ثلث عورات كائنة لكم اودا علت دې دَدې مذکوره اوقاتوکښې دَداخلیدلو دَمنع دَپاره، اوعورت په اصل کښې خلل اونقصان ته وئیلې کیږي،دیوال کښې چې سورې وي هغې ته هم عورت وئیلې کیږي لکه په سورة الاحزاب کښې دي:انّ بيوتنا عورةٌ اوبعض فرمائي چې عورت دَعارنه مشتق دې.

نوپدې مذکوره دري(۳) اوقاتوباندې اطلاق دَعورت یادَدې وجې نه دې چې پدې اوقاتوکښې عام طورخلك دَخپل عورت دَحفاظت نه غافله وي اودَخپل عورت په حفاظت کښې خلل اونقصان راویستلې وي پدې اوقاتوکښې انسان بغیردَجامونه(بربند)کتلې کیدې شي چې دادَانسان دَپاره باعث عار اوباعث شرم وي نودَدې وجې نه دې اوقاتوته عورات اوئیلې شو.

﴿طَوّٰفُونَ عَلَيْكُمْ﴾ داعلت دي دَماقبل جملي دَپاره يعني ددې دري (٣) اوقاتونه علاوه باقي اوقاتوکښې اجازت اغستلوضرورت ځکه نيشته دې چې دوئ په تاسوباندې دَخدمت دَپاره يادَنورځه کاردَپاره په کثرت سره داخليږي کچرته هرځلي اوهروخت کښې اجازت غوختل ضروري شي نوديرلوئ حرج به لازم شي ﴿بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ داجمله تاکيدده دَماقبل دَپاره تقديردَدې جملي داسي دې بعضکم طوافون علی بعض.

﴿وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ﴾ يعني چې کله نابالغ هلکان بلوغت ته قريب شي اويابالغ شي نوبيابه دې بغيردَاجازت نه نه داخليږي بلکه دوئ دَپاره به اجازت اغستل ضروري وي لکه څرنگه ايت نمبر (٢٧) کښې تيرشويدې.

وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ
اوبوډئ ګانې دَزنانوڼه هغه چې اميدنه لري دَنکاح نونيشته په دوئ باندې ګناه چې کيږدي لري کړي دوئ پروني خپل. نه وي
مُتَبَرِّجٰتٍ بِزِيْنَةٍ ۗ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٦٠﴾
ښکاره کونکي دَخپل ډول، اوداچه دوئ ځان اوساتي دَپروني لري کولونه بېرغوره دې دوئ لره. اوالله جَلَّ جَلَالُهُ اوريدونکي پوهه دې

﴿وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ﴾ دادويم قانون دې دَپاره دَاصلاح دَمعاشرت اودَپاره دَعفت او﴿وَالْقَوَاعِدُ﴾ جمع دَالقاعد ده مرادترينه هغه زنانه دي چې دَهغوئ جنسي جذبات ختم شوي وي اودَحمل اوحيض نه نااميده وي فواعل په وزن جمع دَ فاعلة راځي خوهرکله چې انقطاع دَحمل اوحيض صفات مختصه دَزنانو دي نودَدې وجې نه لفظ دَ قاعد هم مختص شو په زنانوپوري نو ورله جمع قواعد بروزن فواعل راوړې شوه ، ﴿لَا يَرْجُوْنَ﴾ داصفت کاشفه دَ﴿الْقَوَاعِدِ﴾ دَپاره دې يعني دَبوډاوالي دَوجې نه دَعمرهغه حصي ته رسيدلي وي چې څوک ورته هم رغبت نه کوي اودَنکاح يادَجنسي خواهش دَتکميل نه ورنه هرڅوک نفرت کوي.

﴿أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ﴾ دثیاب نه مراد بعض ثیاب دي لکه چې په قرائت دابن مسعود رضي الله عنه اوابی ابن کعب رضي الله عنه کښ دي "من ثیابهن" اومراد ترینه زائدي کپړي یعني پړوني اوبرقعه وغیره دي یعني چې کله یوه زنانه ډیره بوډۍ شي نو دهغې دپاره اجانب کالمحارم شي نو چې دکوموا عضاؤ پټول دمحارمونه ضروري ندي نو دهغې اعضاؤ پټول ددي دپاره داجانبو نه هم ضروري ندي.

﴿غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ﴾ داحال دي دفاعل نه یعني دبوډۍ ګانو دپاره دااجازت شته دې چې دوئ دي پړوني یابرقعه کیدي اوندي استعمالوي لیکن دَنه استعمالولو مقصدبه دانوي چې داخلکوته اظهاردزینت کوي نوکچرته متې. غاړه اوسینه ئې ښکاریدله نوداجائزندی یادغه شان نورزینت ئې کړې وي. شونډي سري کړي وي، رنګونه ئې لګولي وي اوبې پردي رااوځي نوداجائزندي بلکه دغه شان بوډۍ زنانه.به بیاپرده کوي.﴿وَأَن يَسۡتَعۡفِفۡنَ﴾ یعني پړوني اوبرقعه نه استعمالول اګرچه رخصت دې دبوډۍ ګانو دپاره خوکچري دوئ په عزیمت باندې عمل کوي اوپړوني استعماله وي نوداډیربهتردې ځکه چې پدیکښ عفت سره سره ځوانانو ښځوته دپردي کولوترغیب هم دې.

لَيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ
نیشته دې په ړوندباندې ګناه اونه په ګډباندې ګناه اونه په مریض باندې ګناه اونه په ځانونوستاسوباندې
أَن تَأۡكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ ءَابَآئِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ إِخۡوَٰنِكُمۡ
چه خوراك کوئ دکورونوخپلونه یادکورونودپلارانوخپلونه یادکورونودمیاندوخپلونه یادکورونودورڼوخپلونه
أَوۡ بُيُوتِ أَخَوَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَعۡمَٰمِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَخۡوَٰلِكُمۡ
یادکورونودخویندوخپلونه یادکورونودترونوخپلونه یادکورونودترورینوخپلونه اویادکورونودماما ګانو نوخپلونه
أَوۡ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمۡ أَوۡ مَا مَلَكۡتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوۡ صَدِيقِكُمۡ
یادکورونودما سیګانو نوخپلونه یادهغي کورونونه چه مالك یئ تاسودچابیانودهغي،یاددوستانوخپلونه

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَاْكُلُوْا جَمِيْعًا اَوْ اَشْتَاتًا ؕ فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا
نيشته په تاسو باندې ګناه چه خوراک کوئ په يوځائ ياخان خان له،پس کله چې داخليږئ تاسو کورونو ته نوسلام کوئ
عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً
په اوسيدونکودَهغې باندې،ادب دَملاقات دې دَطرفه دَالله ﷻ نه ،برکتی ،زړه خوشاله کونکې دې
كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۱﴾
دغه شان بيانوي الله ﷻ تاسو ته حکمونه دَپاره دَدې چې دَعقل نه کار واخلئ.

﴿لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ﴾ دا دريم قانون ذکر کيږي دَاصلاح معاشرت اودرفع دَحرج دپاره، اوهرکله چې ماقبل اياتونوکښې دَاستيذان حکم وو نوپدې اياتونوکښې دَهغې امورو په باره کښې اداب ذکر کيږي کوم چې دَاستيذان نه وروستوواقع کيږي لکه خوراک، سلام وغيره شو.

شان نزول: دَدې ايت په شان نزول کښې مفسرينو متعدد روايات ذکرکړيدي اودَهغې واقعاتو په خپل مينځ کښې څه تعارض نيشته دې ليکن زيات غوره هغه روايت دې چې ذکرکړيدې امام مالک رحمه الله مرسلاً دَسعيدبن مسيب رحمه الله نه اودغه شان په مسندبزارکښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها هم منقول دې چې(۱)کله به صحابه کرام رضي الله عنهم دَنبي ﷺ سره جهاد ته تللو نوځني صحابه کرام رضي الله عنهم به دَخپل کورچابياني هغه معذورينوصحابه رضي الله عنهم ته حواله کړې چې هغوئ به جهادته نشوتللې، اودامعذورين به يادَدوئ عزيزاواقارب وو اويابه ئې دوستان وو اودَغوکسانوبه دې معذورينوته دَخپل کورونونه دَخوراک کولو اجازت هم ورکړو خودَهغې باوجود دې معذورينو به دَدوئ دکورونونه پدې خيال خوراک نه کولوچې کيدې شي چې دوئ مونږته اجازت په طيب نفس سره نوي راکړې نودوئ به په لوئ حرج کښې واقع وو نوالله ﷻ داايت نازل کړو چې پدې کښې الله ﷻ دَيوولس(۱۱)قسمه کسانودَمال نه بغيردَاجازت صريحې خوراک کولواجازت ورکړيدې(۲)په بعضوروااياتوکښې دې چې کله ايت ياايهاالذين امنوا لاتاكلوا اموالكم بينكم بالباطل نازل شونوځني کسانوبه دَمعذورينوسره خوراک نه کولوپدې خيال چې ړوندڅه ويني نه، نوخوراک په ارام ارام سره کوي اوګډ سم کيناستلې نشي نوهغه هم صحيح خوراک نشي کولې، نوداسې نه چې چرته

مونږ دَدوئ نه زيات خوراك اوكړو او ګناه ګارشو، نودَدفع دَحرج دَپاره دا ايت نازل شو(۳) اوپه ځني رواياتوكښ داسي راغليدي چې معذورينوبه دروغوخلكوسره په يوځائ باندې دَدي وجي نه خوراك نه كولوچې كيدې شي مونږ دوئ دَپاره دَتكليف ذريعه اوګرځوځكه چې بعض خلك دَړوندسري نه كراهت محسوسه وي اوګډسرې كله كله ځائ زيات اونيسي نوالله ﷻ دا ايت نازل كړو چې ﴿لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ﴾ نوغوره قول دادې چې على په خپلي معنې باندې دې يعني پدي معذورنيوباندې څه ګناه نيشته دې كچرته دوئ خوراك اوكړي اويامطلب دادې چې ليس على الاعمى حرج في مواكلة غيره يعني كچرته دامعذورين دَبل چاسره خوراك كوي نوپه دوئ باندې څه ګناه نيشته دې اوياعلىٰ په معنې دَ(في)سره دې اواصل عبارت داسي دې چې: ليس في مواكلة الاعمى حرج يعني كچرته تاسودَمعذورينوسره شريك خوراك كوئ نوڅه حرج نيشته دې اومراد په ﴿مِنۢ بُيُوتِكُمۡ﴾ سره دَخپل اولاد والاكور دې چې كله ورنه هغوئ جداوي، اودَاولاد كورداسي وي لكه دَپلارخپل كور، لكه حديث كښ راځي: انت ومالك لابيك نودَدي وجي نه اضافت ئې ضميردَمخاطب ته اوشو،لهذا دااعتراض نه وارديږي چې داحكم غيرمفيددې ځكه چې دَخپل كورنه خوراك كولوكښ نيشتوالي دَحرج بديهي اوهرچاته معلوم دې اوابن كثيرفرمائي چې﴿مِنۢ بُيُوتِكُمۡ﴾ نه مراد خپل ذاتي كورونه دي اودائي ځكه ذكركړوچې مساوات في الحكم راشي دَمعطوف اومعطوف عليه كښ،يعني ديته اشاره شي چې دي ورستو مذكوركسانودكورونونه،خوراك كول داسي دي لكه چې دَخپل كورنه خوراك كولې شي نوڅرنګه چې دَخپل كورنه خوراك جائزدې اوڅه ترددپكښ نيشته دې نودغه شان دَدي مذكوره كسانودكورونونه دَخوراك حكم هم دې،وانّما ذكرهذا وهو معلوم ليعطف عليه غيره في اللفظ وليساوي به مابعده(ابن كثير).

﴿أَوۡ مَا مَلَكۡتُم مَّفَاتِحَهُۥٓ﴾ ددينه مرادهغه كسان دي چې هغوئ ته دكورچابياني حواله كړې شوي وي اودوئ محافظين ګرځولې شوي وي نوكچرته داخادم اومحافظ دكورنه بقدرضرورت خوراك اوكړي نوداجائزدې. ﴿أَوۡ صَدِيقِكُمۡۚ﴾ ددينه مراد هغه بې تكلفه دوست دې چې هغه پدي

﴿فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا ﴾داكورته دداخليدلو ادب بيانيږي ﴿فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ددينه مرادسلام اچول دي دكورپه اوسيدونكوخلكوباندې،كه هغه والدين وي،يااولاداوبې بې وي اودغه شان پدي حكم كښ جمات هم داخل دي اوكچرته په كوركښ ياجمات كښ هيڅ څوك نوو،نوبيادا سي سلام اچول پكاردي:السلام علیناوعلى عبادالله الصلحين اوحديث شريف كښ راځي چې ملائك دي انسان ته ددې دسلام جواب وركوي،﴿تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ ﴾دايامفعول مطلق من غيرلفظه دې دَ ﴿فَسَلِّمُوا ﴾دَپاره اي سلموا تحية اوپديكښ اشاره ده چې دَيو مسلمان بل مسلمان ته لوي تحفه سلام اچول دی اويادَدې دَپاره عامل مقدردې، چې ً حيّوا ً دې يعني حيّو تحية من عندالله يعني تاسوتحيه كوئ په تحيې كولوسره چې ثابته اومقرره ده دَجانبه دَالله ﷻ چې هغه سلام دې اوهركله چې سلام سبب دَحيات اودعادَحيات ده نودَدي وجې نه ورته تحيه اوئيلې شوه، دَحضرت انس رضي الله عنه نه مروي دې فرمائي چې: اوصاني النبيﷺ بخمس خصالٍ قال ياانس اسبغ الوضوء يزدفي عمركَ، وسلّم على من لقيكَ من امّتي تكثرحسناتكَ، واذا دخلت يعني في بيتك فسلّم على اهلك يكثرخيربيتك، وصلّ صلوة الضُحىٰ فانّها صلوٰة الاوّابين قبلك،ياانس!ارحم الصّغير ووقّرالكبيرتكن من رفقائي يوم القيٰمة، يعني فرمائي چې ماته نبى پاكﷺ دپنځو خصلتونو اوعادتونوخپلولو خصوصي حكم اوفرمائيلو چې اي انس! خپل اودس مكمل كوه، دابه ستادَپاره دَعمرزيات والي ذريعه اوګرځي،څمادَامت نه چې څوك درسره ميلاؤشي نوسلام پرې اچوه، دابه ستانيكياني زياتي كړي اوچې كله كورته داخليږي نوپه خپل اهل باندې سلام اچوه دابه ستادكور،خيراوبركت زيات كړي اودَچاشت مونځ كوه چې داستانه مخكښ خلكو(امتونو)دَپاره اوابين مونځ وو،اي انس! په كشرانو باندې رحم كوه اودَمشرانوعزت كوه نوتاته به څمارفاقت اوملګرتيادَقيامت دَورځي حاصله شي(ابن كثير).﴿مُبَٰرَكَةً ﴾ يعني ذريعه دَبركت ده څكه چې دَسلام په ذريعي سره محبت راځي اوحسد اوعداوت ورسره ختميږي،

﴿طَيِّبَةً ﴾ يعني بل مسلمان پدې سره خوشحاله كيږي﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ﴾ داترغيب الې القرآن ذكركيږي.

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ

بې شکه مؤمنان هغه کسان دي چې ایمان ئې راوړیدې په الله اوپه رسول دَهغه اوکله چې وي دَهغه سره په یو کار

جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

جمع کونکي باندې نونه خي دوئ تردې چه اجازت اوغواړي ورنه، بې شکه هغه کسان چه اجازت غواړي ستانه. دغه کسان هغه دي

يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ

چه ایمان لري په الله ﷻ اوپه رسول دَهغه، پس هرکله چه اجازت غواړي دوئ ستانه دَبعض خپل کار دَپاره نو اجازت ورکړه

لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۲﴾

هغه چاته چه خوښه شي ستادَدوئ نه اوبخنه غواړه دوئ لره دَالله جل جلاله نه، بې شکه الله جل جلاله بخنه کونکې رحم کونکې دې

لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ؕ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

مه ګرځوئ بلنه دَرسول پخپل مینځ کښې پشان دَبلني دَبعضِ ستاسونه بعضولره، یقیناً پیژني الله جل جلاله هغه کسان چه

يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ

خوئیږي اوځي ستاسو دَمجلس نه، پټ پټه پس اودې یریږي هغه کسان چه خلاف کوي دَامر (دَطریقې) دَرسول نه،

اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

چه اوبه رسیږي دوئ ته فتنه یابه اورسیږي دوئ ته عذاب دردناک خبردار بې شکه صرف دَالله جل جلاله دَپاره دي اختیار دَهغه څه چې په اسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَيَوْمَ يُرْجَعُوْنَ اِلَيْهِ

اوزمکه کښې دي، یقیناً الله جل جلاله عالم دې په هغه حال باندې چه تاسو په هغې یئ، اوپه کومه ورځ چه اوبه ګرځولي شي دوئ هغه ته

فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۴﴾

نوخبربه ورکړي دوئ ته الله ﷻ په هغه چه دوئ کړیدي ،اوالله ﷻ په هرڅه خبرباندې عالم دې

﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ هركله چې ماقبل اياتونوكښ كورته داخليدلوپه وخت كښ دَاستيذان اودَسلام اچول تعليم وركړې شو نواوس پدې ايت كښ تعليم وركولې كيږي چې دَتللوپه وخت كښ هم استيذان اواجازت غواړئ اوداپه دويم حصي كښ دَمؤمنانو اودَمنافقينو تقابلي صفات ذكركيږي چې دَمؤمنانوصفت دادې چې دَپيغمبرﷺ دَمجلس دَادابو پابندي كوي اودَهغې مكمل خيال ساتي اودَمجلس نه بلاضرورته نه پاڅي اوكچري ډيرضروري عذردَوجي نه پاسيدل اوغواړي نوبياخامخااجازت غواړي.

﴿ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ﴾ دااول صفت دې اومراد په ايمان سره تصديق اويقين دې يعني ظاهراً اوباطناً تصديق كوونكې وي ﴿وَإِذَا كَانُواْ مَعَهُۥ﴾ دادويم صفت دې او﴿أَمْرٍ جَامِعٍ﴾ نه مراد هرهغه كاردې چې هغه دَاجتماعيت سره تعلق لري اودَهغې دَپاره دَخلكوراجمع كول ضروري وی لكه جهاد، ياصلوة العيدين شواواسناد دَامر جامع ته اسنادمجازي دې ځكه چې دغه اجتماعي امراوكارسبب دَجمعي دې.

﴿لَّمْ يَذْهَبُواْ حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُ﴾ يعني دَخپل اِنفرادي ضرورت اوذاتي ضرورت دَپاره بغيردَاجازت نه، نه ځي اوداحكم نن صباهم دې چې كوم كسان صاحب الرائ وي اواميرئې دَمشوري دَپاره منتخب كړی نوهغوئ دَپاره بغيردَاجازت نه تلل جائزندی بلكه اجازت اغستل ورله ضروري دي.

﴿أُوْلَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ﴾ استيذان اګرچه جزء دَايمان نه ندې، خومنافقينوبه دَنبی پاكﷺ نه په خاص مجالسواوخاص اوقاتوكښ هم استخفافاًاجازت نه غوختلو، اواستخفافاً اجازت نه غوختل دَنبیﷺ نه كفردې، اوتعظيماً اجازت غوختل عين ايمان دې نودَدې وجي نه دَايمان علامه استيذان اوګرځولې شوه.

﴿فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ﴾ دااختياراامام اوخليفه وقت ته هم حاصل دې دَپاره دَمصلحت ځني كس داسي وي چې دَهغه پاتي كيدل ضروري وي اوځني كس داسي وي چې دَهغه تلل ډيرضروري وي نوامام ته اختياردې چې دَموقعه مطابق چاته اجازت وركوي اوچاته نه وركوي.

﴿وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمُ ٱللَّهَ﴾دعااستغفاردَپاره دَاجازت غوختونكو علامه ده چې دوئ ته اجازت په خوشحالئ سره وركړې شويدې،اوپديكښې اشاره ده چې حتى الوسع په اجتماعي كارباندې ذاتي كارته ترجيح وركول ندي پكار،اوكه دډيرضرورت دَوجي نه اجتماعي كارپريخودلې شي نودا اګرچه جائزدې خوبياهم استغفاركول پكاردې څكه چې داصورةً اعراض دې.

﴿لَّا تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ﴾پدې ايت كښې دَنبي پاكﷺ متعلق عام امت ته دَادب تعليم وركولې كيږي اودَنبيﷺ عظمت شان بيانيږي، دَدې جملې دري(۳)توجيهات كړې شويدي(۱)اوله توجيه داده چې دعا مصدرمضاف دې فاعل ته،اوپه معنې دَبلنې اوحكم سره دې نودَايت مقصددادې چې كله دَضرورت په وخت كښې پيغمبرﷺ تاسورااوبلې اوتاسوته حكم اوكړې نودَهغه بلنه اوحكم دَخپلوبلنو، اوحكمونوپشان مه كنړئ دَهغه دَبلنې اجابت كول اودَهغه دَحكم اتباع كول فرض دې اودادَايمان علامه ده اومنافقينوبه دَنبيﷺ اوازاوريدلودَهغې باوجود كله كله به ئې قصداًجواب نه وركولو(۲)دويمه توجيه داده چې دعا په خپلې مشهوري معنې سره دې اواضافت الي الفاعل دې نومخكښې ايت كښې نبيﷺ ته حكم اوشوچې دوئ دَپاره مغفرت دعااوكړه اوپدې ايت كښې ترغيب وركولې كيږي مؤمنانوته چې دَنبي پاكﷺ دعادَخپلودعاګانوپشان مه كنړي دَهغه دعاقبوله ده(۳)دريمه توجيه داده چې مصدرمضاف دې مفعول ته اودعاء نه مراد نداء ده په تسمي سره،نومقصد دادې چې كله تاسوپيغمبرﷺ ته اوازكوئ اوهغه څان ته مخاطب كوئ نوپه هغه طريقې سره بلنه اواوازورته مه كوئ كومې طريقې سره چې تاسويوبل ته بلنه اواوازكوئ لكه نوم دَپيغمبرﷺ اغستل شوچې يامحمدﷺ اوئيلې شي بلكه يارسول الله اويانبي الله وئيل پكاردى اودغه شان په اوچت اوازسره بلنه كول هم جائزندى اودغه شان ذكرپه سورة الحجرات ايت نمبر(۲ ، ۳)كښې هم دې اوداخصلت دَمنافقينوو چې نبي پاكﷺ ته به ئې قصداً اوتوهين دَپاره نوم اغستلواوپه اوچت اوازسره به ئې بلنه كوله اوصحابه كرموﷺ به نبيﷺ ته په نوم سره بلنه نه كوله بلكه يارسول الله اويانبي الله به ئې وئيلو اوكچري يوديهاتي اوباندېچې صحابي په نوم سره اويااوچت اوازسره نبيﷺ ته بلنه كړې وي نوهغه دَناپوهئ دَوجې نه وو اوتوهين ئې مقصدنوو.

﴿قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ﴾ دابل خصلت دمنافقينو دي چې دوئ به دنبيﷺ په مجلس کښې ناست وو نوبغير داجازت نه به وتلو او طريقه به ئې دا اختياروله چې يو طرف ته به ئې او کتلو نو دبل کس شاته به پټ شو او غلې شان به اووتلو. ﴿يَتَسَلَّلُونَ﴾ تسلل وئيلې کيږي پټ خوئيدلوته او ﴿لِوَاذًا﴾ مصدر مفعول مطلق من غير لفظه دې، ديتسللون فعل لپاره اويا په معنیٰ داسم فاعل سره حال دې د "يتسللون" فاعل نه. ځان دبل چا دنظرنه پناه کولوته وئيلې کيږي.

﴿فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ﴾ داتخويف دنيوي اواخروي دې منافقينوته عن امره عن يازائد دې ځکه چې ﴿يُخَالِفُونَ﴾ بالذات مفعول ته متعدي کيږي اويا ﴿يُخَالِفُونَ﴾ متضمن دې معنیٰ د اعراض لره اومخالفت نه مراد اعراض کول دي نو ځکه په صله کښې عن راوړې شو اوامردرسول اللهﷺ په حقيقت کښې سنت اوشريعت اومنهاج دهغه دې نودهرقول، فعل اوعمل موازنه دپيغمبرﷺ دسنت سره به کولې شي نو کچرته دهغې سره موافق وو نوقبليږي به ورنه رد کولې به شي.

﴿أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ﴾ ددينه مراد دنيوي عذابونه دي، لکه قحط، زلزلې، بدامنې وغيره شو ﴿أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ مرادترينه اخروي عذاب دې او دپاره دمانعة الخلود دې.

﴿أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ داپه اخيرکښې مسئله توحيدسره دردپه شرک في التصرف والعلم ذکرکيږي، اواشاره ده ديته چې دکومې مسئلې دوجې نه تهمت لګيدلې وونوهغه دامسئله توحيدده، ﴿وَيَوۡمَ يُرۡجَعُونَ﴾ پديکښې اثبات دقيامت دې اوداظرف مقدم دې د﴿فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْ﴾ دپاره، ﴿وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ﴾ دهر څه علم اللهﷻ ته دې دانسان په ټولو احوالوباندې عالم دې که څوک خپل کفراوګناه پټوي اوياڅرګندوي اللهﷻ ته ښه معلوم دي. اللهم اجعلنامن المؤمنين الكاملين، وارزقنا اتباع نبيك الامين، واغفرلناولوالدينا ولجميع المؤمنين(امين يارب العلمين).

ركوعاتها (۶)	سورة الفرقان مكية	آياتها (٧٧)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۴۲) وحسب النزول (۲۵)

سورة الفرقان مكي سورت دې،ترتيب نزولي كښ(۴۲)نمبراوترتيب لوح محفوظ كښ(۲۵)نمبرسورت دې،دَسورت فاطرنه مخكښ اودَسورت يٰس نه وروستونازل شويدې. زمانه دَنزول ئې دورمتوسط دَمكي معظمي دې،په اوه اويا(۷۷)اياتونو،اواته سوه دوه اتياكلماتواودرې زره اوه سواتيا(۳۷۸۰)حروفوباندې مشتمل دې.

ربط اسمي : دَسورة الفرقان ربط نامي اواسمي دَسورت النورسره دادې چې سورة النوركښ ذكروچې مسئله توحيددَاسمانونواودزمكي نوردې،اودَتوحيد دَنوردَوجې نه زمكې،اسمانونه اودانظام مشاهدقائم دې اوپدې سورت كښ ذكردې چې دَدې نورپه ذريعې الله ﷻ فرق راولى په مينځ دَحق اوباطل كښ اوفرقان الله ﷻ دَحق دَتوضيح دَپاره نازل كړيدې.

ربط معنوي:په اعتباردَمضامينوسره دَسورة الفرقان ربط دَسورة النورسره په څوجوهاتو سره دې(۱)سورة النوركښ ردپه شرك فى الاعتقاداوفى التصرف باندې ووچې دټولوامورو مدبراومتصرف صرف الله ﷻ دې،بل څوك نه دې،پدې سورت كښ رددې په شرك فى البركة باندې(۲)په سورة النوركښ ذكردَاوصاف ذميمه دَمنافقينووپدې سورت كښ عقائدذميمه دَمشركانوذكركيږې دَپاره دَاجتناب دَهغې نه(۳)په سورت النوركښ ذهغې تهمت جواب ذكرشوكوم چې منافقينوپه ام المؤمنين ﷺ لګولې وو،پدې سورت كښ دَهغې الزاماتوجواب وركولې كيږې كوم چې مشركانودَطرف نه دَنبي پاك ﷺ په نبوت باندې لګولې شويدې(۴)په سورت النوركښ دَتوحيداوشرك فرق په مثال سره بيان كړې شو،پدې سورت كښ دَاهل حق اواهل باطل فرق په اعتباردَصفاتوسره ذكركولې شي(۵) مخكښ سورت كښ احكامات ذكرووااوپديكښ دلائل عقليه اونقليه ذكركيږې.

دعوه دَسورت:دَدې سورت دعوه رددې په شرك فى البركة باندې،اودادعوىٰ درې(۳)خلې

ذکرکیږي اول ځلې په اول ایت کښ ذکرکیږي،دویم ځلې په ایت نمبر(۱۰)اودریم ځلې په ایت نمبر(۲۱)کښ ذکرکیږي،اول ځلې ورنه مرادبرکات دنیویه دي په دویم ځلې ورنه مرادبرکات اخرویه دي اوپه دریم ځلې ورنه مراد برکات رووحانیه دي.

مختصره خلاصه:دَسورت دَمضامینومختصرخلاصه داده چې درې(۳)ځلې دعوه ذکرکیږي په دعویٰ باندې دولس(۱۲)عقلي دلیلونه اواوه(۷)نقلي دلیلونه ذکرکیږي، دَاوه(۷)شبهاتو جوابونه،څه زجرونه،څه تخویفونه اوتسلي ګانې ذکرکیږي اوپه اخیرکښ دَنیکانوبندګانو اوصاف ذکرکیږي.

تفصیلي خلاصه:ایت نمبر(۱)او(۲)کښ دعوه دَسورت اوپه هغې باندې درې(۳)عقلي دلائل ذکرکیږي،په ایت نمبر(۳)کښ څلورم عقلي دلیل اوزجرذکرکیږي.په ایت نمبر(۴)او(۵)او(۲)کښ درې شکوی اوشبهې اودَهغې جوابونه ذکرکیږي په ایت نمبر(۷، ۸) کښ څلورمه، پنځمه اوشپږمه شکوی اوشبه ذکرکیږي،په ایت نمبر(۹)کښ زجردې اوپه ایت نمبر(۱۰)کښ بیااعاده ده دَدعوی دَسورت،ایت نمبر(۱۱)نه تر(۱۴)پورې تخویفات اخروي ذکرکیږي،په ایت نمبر(۱۵، ۱۲)کښ بشارت اخروي ذکرکیږي،ایت نمبر(۱۷)نه تر(۱۹)پورې تخویفات اخرویه دي،په ایت نمبر(۲۰)کښ دڅلورمې شکوی اوشبهې جواب دې،په ایت نمبر(۲۱)کښ دَپنځمې شکوی اعاده مع الزیادة ده،په ایت نمبر(۲۲، ۲۳)کښ دَپنځمې شکوی جواب دې په ایت نمبر(۲۴)کښ بشارت اخروي دې،دَایت نمبر(۲۵)نه تر(۳۱)پورې تخویف اخروي دې په ایت نمبر(۳۲)کښ اومه شکوی اودَهغې جواب ذکرکیږي،په ایت نمبر(۳۳)کښ تسلي ده په ایت نمبر(۳۴)کښ تخویف اخروي دې،دَایت نمبر(۳۵)نه تر(۴۰)پورې اوه(۷)دلائل نقلیه ذکرکیږي سره دَتخویف نه،دَایت نمبر(۴۱)نه تر(۴۴)پورې زجرونه دي،دَایت نمبر(۴۵)نه تر(۴۹)پورې پنځم شپږم،اوم دلیل عقلي ذکرکیږي،په ایت نمبر(۵۱، ۵۰، ۵۲)کښ زجردی په معاندینوباندې،په ایت نمبر(۵۳، ۵۴)کښ اتم نهم دلیل عقلي ذکردی په ایت نمبر(۵۵)کښ ثمره اونتیجه دَدلائلوذکرکیږي،په ایت نمبر(۵۲، ۵۷)کښ دکفارودَطرف نه دَیوسوال مقدرجواب ذکرکیږي،په ایت نمبر(۵۸)کښ تسلي ده نبي پاکﷺ ته،په ایت نمبر (۵۹)کښ لسم دلیل عقلي دې په توحیدباندې،په ایت نمبر(۲۰) کښ شکوه ده،په ایت نمبر(۲۱)کښ په دریم ځلې دعوه دَسورت ذکرکیږي سره یولسم(۱۲)دلیل عقلي نه،په ایت نمبر(۲۲)کښ دولسم(۱۲) دلیل عقلي ذکرکیږي اودَایت نمبر(۲۳)نه تر(۷۴)پورې

دنیکانوبندګانو اته(۸)صفات ذکرکیږي،په ایت نمبر(۷۵، ۷۲)کښې بشارت اخروي دې اوپه ایت نمبر(۷۷)کښې تخویف دنیوي دی.

تَبٰرَكَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰی عَبْدِهٖ لِیَكُوْنَ لِلْعٰلَمِیْنَ نَذِیْرًا ۝١
برکت ورکونکې دې هغه الله چه نازل کړې ئ دې قرآن په خپل بنده باندې دپاره ددې چه شی دې خلقولره یرونکې
الَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَمْ یَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ یَكُنْ لَّهٗ شَرِیْكٌ
هغه الله چه هغه لره ده بادشاهی داسمانونواودزمکې اونه یې دې نیولې ولداونشته ده لره شریك
فِی الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِیْرًا ۝٢
په بادشاهئ کښې اوپیداکړیدې ده هرڅیزبیااندازه ئې لګولې ده دهغې بالکل صحیح اندازه

﴿تَبٰرَكَ الَّذِیْ﴾دادعوه دسورت ده په اول ځلې،او تبارك باب تفاعل دې،دامشتق دې دبرك نه برکت وئیلی کیږی كثرة الخیر اوپه اصطلاح دشرع کښې عبارت دې ثبوت الخیر الالٰهی فی الشیٔ،ته اوباب تفاعل کله کله دموافقت دپاره وی،نوکله دې موافق دمجردووی اوکله موافق دمزیدیعنی دباب افعال وی،نوچه کله موافق دمجردووی نوعمومًالازمی استعمالیږی،نوچه تبارك په معنیٰ دبرك سره شی نومعنیٰ به ئې داشی بلنددې په خپل ذات صفات اوافعالوکښې هغه ذات چه فرقان ئې نازل کړیدې،ای تعالی الله عماسواه فی ذاته وصفاته وافعاله التی من جملتهاتنزیل القرآن الكريم(ابوسعود)اوکچرې موافق دباب افعال شی نومعنٰی به ئې شی اعطآء البركة،اومقصددآیت دادې چه دخیراوبرکت ورکوونکې ذات الله ﷻ دې،نعمتونوپیداکوونکې اوپه هغې نعمتونوکښې اثراوزیادتی کوونکې ذات صرف الله ﷻ دې اوهرکله چه دادواړه معانی مختص دی په الله ﷻ پورې نودددې وجې نه اطلاق ئې په بل چاباندې کول جائزندی،اوهرکله چه دالفظ مختص شوپه الله ﷻ پورې نوددې وجې نه ددې تصریف یعنی ګردان نشی کیدلې.

﴿الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ﴾ دااول دلیل عقلی دې په دعوی باندې،موصول سره دصلې نه په منزله دعلت دې دماقبل دپاره،دلته اشکال واردیږی چه قانون په موصول کښې دادې چه ثبوت

دَصلي ده ته معروف او معلوم عند السامع وی،نو بیا تعبیر په موصول سره اوشی دَپاره دَتعظیم شان او حالانکه پدي ځائ کښ ثبوت دَصلې خپل موصول ته معروف او معلوم ندې عند السامع ځکه چه کفار دَدینه منکر وو چه دا قرآن منزل من عند الله دې،نو بعضو ورنه جواب(۱)کړیدې چه مخاطبین او سامعین دَدي کلام مؤمنان دی او ثبوت دَصلي موصول ته عند المؤمنین معروف او معلوم دې(۲)بعضو ورنه جواب پدي شان کړیدې چه سامعین دَدي کلام مؤمنان او کافران ټول دی لیکن هرکله چه پدي باندې قوې دلائل موجود وو چه دا کلام او قرآن منزل من عندالله دې ځکه چه دا معجزدي نو دَقوت دلائل دَوجي نه،دَدوئ انکار په منزله دَعدم انکار او ګرځولي شو.

اوهرکله چه په ټولو خیرونو او برکتونو کښ لوئې او عظیم برکت نزول دَقرآن وو،ځکه چه دا ذریعه دَسعادت ابدیه،دینیه او دنیویه دَپاره ده نو دَدې وجي نه،تخصیص دَنزول قرآن اوکړې شو،او"فرقان"مصدر دې په معنیٰ دَ"فرق"راویستلو سره،دَمعنیٰ لغوی په اعتبار سره دَدي اطلاق په ټولو کتب سماویه باندې کیږی،لکه په سورة الانبیآء آیت نمبر(۴۸)کښ په تورات باندې شویدې،او په اصطلاح دَشریعت محمدیه ﷺ کښ دَدې اطلاق په قرآن پاک باندې صرف کیږی،او قرآن مجید ته"فرقان"ځکه وئیلي کیږی چه پدې سره دَحق او باطل تمیز راځی او دغه شان اهل حق دَاهل باطلو نه جدا کوی.

فائده:اکثر اهل لغت وائی چه دَفرق او تفریق(مجرد او دَمزید و)په مینځ کښ څه فرق په اعتبار دَمعنی سره نیشته دې لیکن ابن العربی رحمه الله فرمائی چه"فرق"یعنی په تخفیف سره په معانیو کښ استعمالیږی،او په تشدید سره په اعیانو کښ استعمالیږی یعنی په کوم ځائ کښ فرق حسی نه وی بلکه معنوی وی نو هلته به"فرق"په تخفیف سره استعمالیږی او کوم ځائ کښ چه فرق حسی وی نو هلته به په تشدید سره استعمالیږی،لکه فرقتُ بینَ الکلامین(په تخفیف سره)او فرّقت بینَ العبدین(په تشدید سره)او قرآن چونکه فرق حسی هم راولي چه اهل حق دَاهل باطلو نه،جدا کوی،او فرق معنوی هم راولي نو دَدی وجي نه دواړه صیغی دَقرآن دَپاره استعمالیدې شی.

﴿لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ﴾ دا غرض دَانزال دې او ضمیر راجع دې یا"فرقان"ته او یا"عبد"ته

او "عالمین" نه مراد انسانان اوجنات دی اودا ایت دلیل دې پدې چه قرآن اخری کتاب دې اونبی پاک ﷺ اخري نبی دې اونبوت ئې عام دې ټولو انسانانو اوجناتو ته. او ﴿نَذِيرًا﴾ په معنیٰ دَاسم فاعل يعنی "منذر" سره دې اويا په معنیٰ دَ "انذار" سره دې، لکه "نکير" په معنیٰ دَ "انکار" سره راځی.
اوکه څوك اشکال اوکړی چه برکت خوکثرت دَخيرته وئيلې کيږی اوانذار خومنافي دې دَخيرسره ځکه چه انذار خوموجب دَغم اودَخوف دې، نودَايت صدر او اخير کښې مناسبت نيشته دې، نوجواب ورنه دادې چه انذار ذريعه دَلوئی سعادت اخرويه ده ځکه چه دَدې په وجې سره مخلوقات دَالله ﷻ دَنافرمانئ نه اودَمعاصيونه بچ شی، لکه څرنګه پلار دَخپل بچی سره محبت وي اودَهغی محبت په بنياد پلار بچي دَهغه شی نه يره وي کوم څيزچه دَبچی دَپاره دَنقصان اوخطري ذريعه ګرځی، نودَالله ﷻ محبت دَخپل مخلوق سره ډيرزيات دې، نوچه کوم کارمخلوق دَپاره دَنقصان ذريعه ګرځی، نوالله ﷻ ورته دَهغې نه يره ورکوی، نو "انذار" هم يولوئی سعادت اوخيردې نوځکه ئې ذکرکړو.

﴿الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ﴾ دادويم دليل عقلي دې، يعنی دَاسمانونو اوزمکي تصرف اوبادشاهی دَالله ﷻ ده، اوداټول مخلوقات دَالله ﷻ مملوك دی دوئ ته الله ﷻ دَبرکتونو ورکولو اختيارنه دې ورکړې، ﴿وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ "ولد" نه مرادنائب دې اوداردډې په يهوديانو، عيسائيانو اومشرکينو باندې چه يهوديانو به حضرت عزير ﷺ ته دَالله ﷻ ولداو نائب وئيلو، عيسائيانو به حضرت عيسیٰ ﷺ ته اومشرکينو به فرشتونه دَالله ﷻ اولادوئيلو
﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ﴾ دا رد دې په مجوسيانو باندې، يعنی الله ﷻ دَخان سره څوك هم شريك اوحصه دارندې جوړکړې.

﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ﴾ دادريم دليل عقلي دې، دَالله ﷻ دَذات اوصفاتونه علاوه هرڅه دَالله ﷻ مخلوق دي اومخلوق دَخدائی صفاتو باندې نه شی متصف کيدلې، اوهرکله چه دا توهم کيدلې شوچه خالق دې دَهرڅه الله ﷻ وی ليکن بل چاته دې هم اختياروی چه پدې نعمتونو کښې دې کمي اوزياتي کولې شی، نوجواب ورنه اوشوچه ﴿فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ يعنی

ځرنګه چه الله ﷻ خالق دې او دَهرشی پیداکوونکې دې نودغه شان الله ﷻ دَهرڅیزانداز مقررکوونکې هم دې، دکمې اوزیاتې ورکولواختیارئی هم چاته ندې ورکړې.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ
اونیولی دی مشرکانوماسویٰ دَالله نه نورخدایان چه نشی پیداکولې هیڅ څیزبلکه دوئ پخپله مخلوق دی
وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً
اوندی مالکان لپاره دَخپلوځانونودَضررلری کولو اونَه نفعې رسولو.او ندی مالکان دَمرکولواونه دَژوندی کولو
وَّلَا نُشُوْرًا ﴿۳﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ِۨ افْتَرٰىهُ
اونه بیاژوندی کولودَمړو«دَقبرنه».اووائی کافران چه ندې داقرآن مګر دروغ دی چه دی پیغمبردَځان نه جوړکړیدې
وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ﴿۴﴾ وَقَالُوْٓا
اومددکړیدې دَده پدې دروغوکښې یوقوم بل،یقیناًدوئ راتلل اوکړل ډیرظلم اودروغونه،اووائی دوئ چه داقرآن
اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۵﴾ قُلْ
دروغوقصی دَپخوانوخلقودی چه په بل چائې لیکلې دی اوپه ده لوستلې کیږی سهاراوماښام،ته ورته اوایه
اَنْزَلَهُ الَّذِيْ يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
«داسی نده بلکه» نازل کړیدې داقرآن هغه الله چه عالم دې په هرپټ څیزچه په اسمانونوکښې دې اوپه زمکه کښې دې
اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۶﴾
بې شکه هغه بخونکې رحم کونکې دې.

﴿وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ﴾ دا ازجردې په مشرکانوباندې اودَدې په ضمن کښې څلورم دلیل عقلې هم ذکرکیږی، یعنی برکات ورکونکې ذات صرف الله ﷻ دې، اوبل څوک ندې ځکه چه برکات ورکولودَپاره کوم صفات ضروري دی هغه صفات صرف په الله ﷻ پورې خاص اوبل چاکښې نیشته دې، من جمله دَهغې نه شپږ(۶)صفات دلته ذکرکیږی. (۱)خلق کول(۲)نفع ورکول(۳)ضرر

دفع کول(۴)مرګ ورکول(۵)ژوندورکول(۲)دوباره راژوندي کول

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ﴾دااوله شکوی ذکرکیږی چي مشرکان وائی چه دنبيﷺ دادعوه چه برکات ورکونکي صرف اللهﷻ دي دادده خودساخته خبره ده اودالله ﷻ دطرف نه.نه ده.ای اخترعه رسول اللهﷺ ولم ينزل عليه عليه السلام(روح﴿وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ﴾دادويمه شکوی ده قوم اخرون نه مرادیهودیان دی،چه دنبي پاکﷺ مجلس ته به راتلل ځنی مسلمانان شوی وو،اوځني به هسی راتلل،نومشرکانو به وئیل چه دغه کسان چه اوس مسلمانان شویدي اویاهسی دنبیﷺ مجلس ته حاضریږی نودوئ دي پیغمبرﷺ ته دزړوامتونوحالات بیانه وی اودې ئی پخپله ژبه کښ بیانقل کوی،اوبعض وائي چه دقوم اخرون نه مرادټول مؤمنان دی

﴿فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا﴾داادخال الهی دي فاء دترتب دپاره ده اوپه ماقبل کښ دوه(۲)شکوی ذکرشوی نوپه هغې باندې دوه(۲)امرين مرتب کیږی یوظلم اوزور،نو ظلم مرتب دې په اول کلام ددوئ باندې اوظلم وئیلی کیږی وضع الشی فی غیرمحله،ته اوتنوین پکښ تفخیم دپاره دې،یعنی دوئ خالص حق ته خودساخته دروغ وائی،حالانکه داقرآن داسي معجزکتاب دې چه ددوئی لوئ لوئی فصحاؤدي دمقابلي کولونه عاجزدي،نوداسې معجزکلام ته افتراء وئیل ظلم عظیم دي،او زور مرتب دې په دویم کلام ددوئی باندې، او زور په لغت کښ میلان ته وئیلی کیږی اوعرف کښ ئی اطلاق په هغه کلام باندې کیږی چه په دروغوکښ خپل انتهاء ته رسیدلي وی،

﴿وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾ داخلورمه شکوه ده چه دي کفاروبه وئیلوچه داقرآن دپخوانو خلکودروغوقصي(افساني)دی.﴿ٱكۡتَتَبَهَا﴾داپه معنیٰ د استکتبها سره دې یعنی دبل چانه طلب دکتابت کول اوبل چاته وئیل چه(اولیکه)اودائی ځکه وئیلوچه نبیﷺ به خپله لیکل نه شو کولي.﴿فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ﴾یعنی دي خپله لوستلي هم نه شی بلکه بل څوک ئي پري لوئي ددي دپاره چه یادئی کړی﴿بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا﴾دایاکنایه ده دکل اوقاتونه اویاداکثراوقاتونه

اوياورنه حقيقةً وخت دَصبائی اوبيګانی مراددي ﴿قُلْ أَنزَلَهُ ٱلَّذِى﴾ داجواب دَدري(۳)وارو شکوودي،خلاصه دَجواب داده چه داقرآن چه دَدی دعوي ذکرکوی چه برکت ورکونکې صرف دَالله ﷻ ذات دي،دادَيوبشرخودساخته کلام ندي اونه دَچاپه اعانت سره دي،اونه دَمخکنو خلکودَدروغوقصي دی،بلکه داددَهغه ذات دَطرف نه نازل کړې شوي کتاب دې چه هغه دَټولو مخلوقاتوپه خفيه رازونوباندي واقف اوعالم دي اودَدي وجي نه داکلام ئی معجزګرځولې دي،اوکچرته دادَدغی ذات دَطرف نه،نوې نوبيابه معجزهم نه وو

﴿يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ﴾هرکله چه الله ﷻ په پټورازونوباندي خبردې نوپه ښکاره څيزونوباندې په طريق اولی سره عالم دي نودَدي وجې نه "الجهر"ذکرنه کړو .

﴿إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾پدې يکښ ترغيب دې منکرينوته دَتوبي ويستلواودَانابت الی الله کولو،چه دګناهونو کذب، عنادباوجودکچري دوئی توبه اوباسی نوالله ﷻ به ورته بخښنه اوکړي،ابن کثير رحمه الله دَحسن بصری رحمه الله نه نقل کړيدي چه،اوګورئ کرم اوجوددَالله ﷻ ته،چه خلك دوستان دَالله ﷻ وژنی اوالله ﷻ دوئ ته دَتوبي اورحمت دعوت ورکوی(ابن کثير).

وَقَالُوا مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأْكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمْشِى فِى ٱلْأَسْوَاقِ ۙ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ
اووائ دوئ داخنګه رسول دې چه خوری خوراك اوګرځي په بازارونوکښ،ولې نه شی نازلولې ده ته يو فرشته
فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ۝٧ أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ
چه هغه وی دده سره يرونکې بادی ګاد،ياغورځولې کيدې ده ته خزانه دَاسمان نه،ياوي دَ لره يوباغ چه خورلې ئی دَهغې نه
وَقَالَ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ۝٨ ٱنظُرْ
اووائی مشرکان(مؤمنانوته)اتباع نه کوئ تاسومګردَداسې سړی چه سحرپرې کړې شويدي،اګوره اې پيغمبره
كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ۝٩
څنګه بيانوی دوئ تاله مثالونه پس ګمراهان شول دوئ نوطاقت نه لری دَلارې دَهدايت

﴿وَقَالُواْ مَالِ هَـٰذَا ٱلرَّسُولِ﴾ دا اخلورمه شکوه اوشبهه ده دکفارو دَطرف نه په نبوت دَنبی پاكﷺ باندې، دوئی به وئيلو چه دا پيغمبرﷺ زمونږ پشان خوراك ته محتاجه دې او دَضرریاتو دَپاره بازارته ځی کچرې دي پيغمبروې نودې به خوراك،ځکاك ته نه وومحتاج. او دکسب معاش دَپاره به بازارته نه تللو. دَدوئی دَطرف نه نبی پاكﷺ ته الرسول وئيل استهزاءً وو.

﴿لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ﴾ دا پنځمه شکوی اوشبهه ده يعنی کچری دې رسول وې نودَده سره يوه فرشته پکاروه چه دَده سره ګرځيدلې اودَده دَنبوت تصديق ئي کولې اوخلك ئي دَده دَمخالفت نه يره ولې. ﴿أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ﴾ دا شپږمه شکوه اوشبهه ده يعنی کچري دې پيغمبروې نودَخوراك،ځکاك احتياج نه دَبي فکره کيدلو دَپاره پکارده چې دَده سره خزاني وې ياورله يوزبردست باغ وې چه بنه بي غمه، په ارام اوپه عيش وعشرت سره ئی ژوند تيرولې.

خلاصه دَدې ټولوشبهاتوداده چه زمونږاودَدي پيغمبرپه مينځ کښ هيڅ فرق نيشته دي،مونږخوراك کوو،دې هم کوی،مونږطلب دَمعاش دَپاره بازارته ځو،دې هم داتکليف اوچتوی،مونږبغيردفرشتي نه ګرځو،دې هم ګرځی،زمونږه هم خزاني اولوئی لوئی باغات نيشته دې اودَده هم نيشته دې،نودې څرنګه پيغمبرشو. ﴿وَقَالَ ٱلظَّـٰلِمُونَ﴾ دا دَدې مذکوره شبهاتوسره متعلق دې،چه کله به دوئی ته اوئيلې شوچه دَدې پيغمبرامتيازستاسونه اګرچه دنيوی مال ومتاع وغيره کښ نيشته دې،ليکن امتيازئي په قرآن سره دې چه يوفصيح بليغ کلام دې اوذات دَدې پيغمبراواخلاق کريمانه دده متأثرکن دی،نودې ظالمانوبه وئيل مسلمانانوته چه دې خوساحردې اوتاسودَيوساحراتباع کريده(نعوذبالله)وضع دَاسم ظاهرچه الظالمون دې په ځائی دَضميرباندې دَپاره دَتنبيه پدې خبره چه دومره فصيح او بليغ،اومعجزکلام لوستونکې ته ساحروئيل بدترين ظلم دې مسحور په معنیٰ دَساحرسره دې اويا مسحور په خپلې معنیٰ سره دې يعنی داسې خبري کوی نوپده باندې سحرکړې شويدې اويا مسحور ماخوذدې دَسحرالطعام نه نومسحورپه معنیٰ دمحتاج سره دې خوراك ته.

﴿ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُواْ﴾ دا زجردې په مشرکينوباندې،او کوم مثالونه چې پيغمبرﷺ لپاره پيش کوې هغې باندې تعجب دې يعنی ته خواګوره دوئی څرنګه باطل مثالونه اوصفتونه

تاته ثابته وی،کله وائی چه ساحردې اوکله وائی مسحوردې،کله وائی چه مجنون دې اوکله وائی چه شاعردې،کله وائی کاهن دې اوکله وائی کاذب دې،نودوئی پدي القابولګولوکښې سرګردانه دی،یولقب هم دَدوئی والاپه نبی پاکﷺباندې نه چسپان کیږی.﴿فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا﴾یعني دَدي غلطواوباطلومثالونودَوجي نه په دوئی باندې مهرجباریت ثبت شواوهدایت استعدادورنه سلب شو.

تَبٰرَكَ الَّذِىٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ
برکت ورکونکې دې هغه الله چه کچرته اوغواړی دربه کړی تاته غوره دَدغې نه باغونه چه بهیږی به
مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ⑩ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۟ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ
دَلاندې دَهغې نه نهرونه اودربه کړی تاته بنګلې،بلکه تکذیب کړیدې کافرانوپه قیامت، اوتیارکړیدې مونږهغه چالره چه
كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ⑪ اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا
تکذیب ئې کړې وی په قیامت ګرم اوردَجهنم،کله چه اووینی دغه اُوردوئ دَځائ لرې نه نوواپه وری دوئ هغې لره
تَغَيُّظًا وَّزَفِيْرًا ⑫ وَاِذَآ اُلْقُوْا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِيْنَ دَعَوْا
غړمبارې اوغوریدل.اوکله چه اوغورځولې شی دوئ دَدوزخ نه په تنګ ځائ کښې ترلې شوی نواوازونه به کوی
هُنَالِكَ ثُبُوْرًا ⑬ لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُوْرًا وَّاحِدًا وَّادْعُوْا ثُبُوْرًا كَثِيْرًا ⑭
هلته هلاکت ته، «فرشتی به ورته اووائی» مه غواړئ نن صرف هلاکت یوبلکه اوغواړئ هلاکتونه ډیر.

﴿تَبَارَكَ الَّذِىٓ إِن شَآءَ﴾داپه دویم ځلې دعوه دَسورت ذکرکیږی اودَدي برکاتونه،مرادبرکات اخرویه دی یعني دَجهنم نه بچ کول اودَجنت نعمتونه ورکول،اوبطور لف،نشر غیرمرتبه سره دَشپږمې شکوی اوشبهې جواب دې،چه مشرکینوشبهه کوله،چه تاسره باغات،خزانې اودنیوی نعمتونه ولې نشته دې؟ نوجواب ورنه اوشولوچه﴿إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ﴾ او"ان"په معنی دَ"اذا"سره دې ځکه چه دَنبیﷺ دَپاره نعمتونه دَجنت دَاللهﷻ دَطرف نه یقینی

دی،اوماضی په معنیٰ دَمستقبل سره دې،نودآیت مقصد دادې چه په دنیاکښې سنادپاره خزانې اوباغات نیشته دې نوپدیکښې دَالله ﷻ لوئی حکمت دې،چه دَدې دنیانعمتونوپه بدله کښې به الله ﷻ تاته په اخرت کښې خائسته باغات اولوئی لوئی جنتونه درکړی.اویاورنه مراددنیوی باغات اوبنګلې دی،اودآیت مقصددادې کچری الله ﷻ اوغواړی نوپه دنیاکښې به تاته لوئی لوئی باغات اولوئی لوئی بنګلې درکړی لیکن الله ﷻ دخپل حکمت بالغه دَوجې نه،داسې نه کوی اونبی ﷺ هم نه غوختلي،ابن کثیر رحمه الله،ابن جریر رحمه الله وغیرهمادَحضرت خثیمه رضی الله عنه روایت نقل کړیدې چه نبی پاک ﷺ ته یوخلې دَالله ﷻ دَطرف نه اوئیلي شوکه ته غواړي نودَزمکې خزانې به تاته درکړې شی،داسې خزانې چه نه به ستانه مخکښې چاته ورکړې شوی وی،اونه به ستانه ورستوچاته ورکړې شی اوکوم نعمتونه اواجرستادَپاره په آخرت کښې دي په هغې کښې به هم څه کمې نه راځی،نبی پاک ﷺ اوفرمائیلواې الله ﷻ څمادَپاره داټول نعمتونه آخرت له جمع کړه.

﴿بَلْ كَذَّبُوا بِالسَّاعَةِ﴾دَدې آیت په اولې جملې کښې دَشبهاتوجه بیانیږی،او"بل"دَپاره دَاضراب دې نوداانتقال دې،بیان دَعلت داعیه دَشبهاتواودَتکذیب ته،چه داکفارداشبهات څکه کوی چه دوئی دَاخرت نه منکردی،اویا"بل"دَپاره دَترقی دې،اوداترقي ده دَدوئی په جنایاتواوبدافعالوکښې چه دوئی صرف داجرم ندې چه شبهات کوی بلکه دآخرت دَوقوع نه هم منکردی،﴿وَأَعْتَدْنَا﴾په دې دویمه جمله کښې تخویف ذکرکیږی،اوداآیت دلیل دې پدې چه جهنم پیداکړې شویدې اودامذهب دَاهل سنة والجماعت دې.

﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ﴾دادَجهنم اودَجهنمیانوځنې حالات ذکرکیږی،اوضمیرمستترراجع دې"نار"ته او"نار" چونکه مؤنث سماعی دې نودَ دې وجې نه فعل مؤنث ذکرکړې شو،اومرادپه "مکان بعید"سره هغه اقصیٰ اولري ځائ دې چه دَهغې نه لیدل ممکن دی،بعضودَهغې حدسل(۱۰۰)کاله مسافت اوبعضوپنځه سوه کاله ذکرکړیدي،

﴿سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا﴾دابل حالت دَجهنم ذکرکیږی، او"تغیظ"وئیلي کیږی اظهاردَهغه سختي غصې ته چه په زړه کښې پټه وی،نواعتراض واردیږی چه تغیظ خوقابل دَسماع نه دې یعنی داوریدلووالاشی ندې،نوځرنګه به جهنمیان واوری؟

نویو(۱)جواب ورنه داکړې شویدې چه داعبارت په حذف دَمضاف سره دې،چه هغه لفظ دَصوت دې ای سمعوا صوت تغیظها،چه هغه غړمبارې دې،

دویم(۲)جواب ورنه دادې چه دلته فعل مقدردې چې هغه رأوا دې،او تغیظاً معمول دَفعل مقدردَپاره دې،نوتقدیردکلام داسې دې رأو تغیُّظاً وسمعوا زفیراً او(۳)دریم جواب ورنه دادې چه سمعوا په معنیٰ دَ ادرکوا سره دې یعنې ادرکوالهاتغیظاوزفیراً یعنی دوئی به معلوم کړی غصه دَهغه، اواوآزونه دَهغه،او زفیر نه دلته مرادسخت قسم آوازونه دی.

فائده:دَاهل سنة والجماعة مسلك دادې چه نسبت دَرؤیت جهنم ته داپه حقیقت باندې محمول دې یعنی دَجهنم دَپاره سترګې دی اوهغه پرې کتل،لیدل کولې شی اګرچه کیفیت ئی مونږه ته تفصیلاًنه دې معلوم،اودغه شان غړمبارې کول،او اوازونه ویستل اوخبرې کول په حقیقت باندې محمول دی اوالله ﷻ به جهنم ته احساس اوشعورورکړی،اوډیرنصوص اواحادیث پدې باندې دال دې،اومعتزله وائی چه دَدینه مرادمجازی معنی ده اوهغوئ ظاهردآیت تاویل کوی خلاف ظاهرته،اوداوائی چه رؤیت دَپاره حیات شرط دې اوجهنم کښې حیات نیشته دې، نولهذادَجهنم دپاره به رؤیت هم نه وی حقیقةً،نودلته یامجازفی الحذف دې نو ﴿إِذَا رَأَتْهُم﴾نه مراد اذارأت الخزنة لهم دې،اوبعضوپکښې تاویل داسې کړیدې چه دَ رؤیت نه مراد رأی یعنی مخامخ کیدل دی،یعنی چه کله دوئی جهنم ته په دومره اندازه کښې مخامخ شی چه هغه فاصلې کښې یوکتونکې کتل کولې شی نو﴿سَمِعُوا لَهَا﴾لیکن قول دَاهل سنت والجماعة زیات غوره دې اوموافق دې دکتاب الله اواحادیثوسره.

﴿وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا﴾پدیکښې حالت دَجهنم اودَجهنمیانوذکرکیږی،اوپه تنګ ځائ کښې غورځول دَعذاب دَشدت دَپاره به وی،ځکه چه وسیع مکان کښې څه نه څه راحت وی،اوتنګ ځائی تفسیردَنبی کریمﷺ نه په حدیث کښې داسې منقول دی چه دوئی به په داسې تنګ ځائ کښې به واچولې شی لکه میخ چه په دیوال کښې په زورټومبلې شی،﴿مُقَرَّنِينَ﴾داحال دې دَضمیردَجمع دَ﴿أُلْقُوا﴾نه دَجهنمیانودې او﴿مُقَرَّنِينَ﴾نه یامرادیادادې چه دَدوئی لاسونه به شاطرف نه څټ سره تړلې شوی وی،اویاورنه مراددادې چه دوئی به دَخپلوخپلوشیاطینوسره تړلې،شوی

وی، ﴿دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا﴾ یعنی دوئی چه کله جهنم ته اوغورځولې شي نودوئی به چیغې اوباسی چه واثبوراه یعنی اې هلاکته! راشه ﴿لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا﴾ داجواب به ورته دَجانبه دَملائکونه،وی، چې یوځل نه باربار مرګ غواړئ،ځکه چه مرګ غوختلو سبب عذاب دې.او هغه عذاب څه وقتي نه دې او نه یو قسم دې بلکه مختلف قسمونه ئي دی.نواوس یوځل نه بلکه باربارېی غواړئ،خوهغه په تاسو نه راځي ،چې نجات اومندئ،

﴿ثُبُورًا كَثِيرًا﴾ مرګ یوځل دې خو کثیرورته په اعتبار دَ غوختوسره وئیلې شوی دی.ځنې مفسرینودآیت مطلب داسې بیان کړیدې چې فرشتې به ورته اوائې چې داخه دَیوورځ خبره خونده او نه په تاسو صرف دَا یوقسم عذاب دې چه ختم به شي،او ورنه خلاص به شئ،صبراوکئ لاخودینه هم سخت سخت مختلف عذابونه مخکښ راروان دی،نوصرف دیوعذاب ته ژړامه کوئ دې ټولو عذابونوته ژړاکوئ.دې تفسیر مطابق((کثیرا)) ورته مختلف انواعو اعتبارسره وئیلې شوی دی..

قُلْ اَذٰلِكَ خَيْرٌ اَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً
ته اووایه آیاداجهنم بنه دې او که جنت دَهمیشه اوسیدلو ،هغه چه وعده ئ کړې شویده دَپرهیزګارانوسره،وی به جنت دوئ لره بدله
وَّمَصِيْرًا ⑮ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ
اوځائ دَورتلو ،وی به دوئ لره په جنت کښ هغه څه چه دَدوئ خوښ وی همیشه به وی پکښ ،دې ورکول جنت په رب ستاباندې
وَعْدًا مَّسْـُٔوْلًا ⑯ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
وعده چې غوښتلې شوې ده.اوپه هغه ورځ چه راجمع کړی الله ﷻ دوئ اوهغه چه دوئ ئې عبادت کوی ماسوی دَالله نه
فَيَقُوْلُ ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰۤؤُلَآءِ اَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيْلَ ⑰
نوالله به ورته وائی آیاتاسوګمراه کړی وو ځمادابندګان اوکه دوئ پخپله ګمراه شوی وو دَسمی لارې توحید نه

﴿قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾ پدې آیاتونوکښ بشارت اخروی دې او ذلك سره اشاره ده جهنم اودَهغې احوالوته،اوکه څوك اشکال اوکړی چه خیر اسم تفضیل دې اوقانون په اسم تفضیل کښ

دادې چه مفضل اومفضل علیه په نفس فعل کښې شریك وی، نودَقانون مطابق دآیت دَظاهرنه دامعلومیږی چه په جهنم کښې هم نفس خیر شته دې اګرچه ډیرندې اوحالانکه په جهنم کښې بالکل خیرنشته دې،دغه شان دَجهنم بې خیری متیقنه ده اوهرچاته معلومه ده نوپه صورت دَاستفهام کښې راوړلوڅه ضرورت وو،چه دادلالت په تردداوعدم تیقن باندې کوی.

(1)نوامام رازی رحمه الله ورنه جواب کړیدې چه استفهام او تفضیل دواړه دَتقریع یادَتوبیخ سره دَتهکم نه،دپاره دی اودَدی مثال داسې دې لکه دَیوسړی دَپاره غلام وی داسړې هغه ته ښه ډیرمال،بنګلی اونوراسباب ورکړی،اوهغه غلام سرکشی اونافرمانی اختیارکړی نومالك ورنه هرڅه واپس واخلی اوسخته سزاورله ورکړی،اوبیاورته اوائی چه داحالت غوره دې اوکه دا،حالانکه هرڅوك پدې پوهیږی چه هغه اول حالت غوره وو،اوپه دې دویم حالت کښې هیڅ خیرنیشته دې

(۲)او بعضوورنه جواب کړیدې چه خیر دلته په تفضیل کښې ندې مستعمل،بلکه دَعربودَعام عادت مطابق ذکرشویدې چه عرب کله دَیوشی خصوصیت اوبهتری بیانوی اودَمقابل څیزنه بیانه وی نوتعبیرورنه په صیغې داسم تفضیل سره کوی، خوزیادت علی الغیرپکښې معتبرنه وی.

اوتوصیف دَ جنت په الخلد سره دَپاره دَبیان دَصفت کمال دې،لکه الخالق الباریٴ.

﴿كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا﴾صیغه دَماضی یعنی کانت،دَوجې تیقن نه راوړې شویده یعنی داجنت چه دَانسان دَنیك اعمالوبدله ده دَالله ﷻ دَطرف نه دَمؤمن سره داسې متیقنه وعده ده چه ګویاچه داواقع شوی ده،اودلته اکتفاء په صرف جزاءً اونه کړې شوه بلکه مصیراً ورسره هم ذکرکړې شوڅکه جزاء مستلزمه مصیر لره نه ده،لکه په دنیاکښې کله یوکس ته دَیوکارپه بدله کښې باغ وغیره میلاؤشی،نوپه هغې کښې استوګنه،لرې خبره بلکه کله کله ئې اوهم نه ګوری.

﴿لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ﴾ددینه مرادهغه نعمتونه دی چه دَجنت سره مناسب دی اوکوم نعمتونه چه صرف ددنیاسره مناسب دی اوجنت سره مناسب ندی نودَهغې خواهش به الله ﷻ دَجنتی دَزړه نه ختم کړی لکه خواهش دَتوالداوتناسل شو،اوپدیکښې اشاره ده چه ټول خواهشات دَانسان والاصرف جنت کښې پوره کیږی،﴿كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ﴾ضمیردَ کان راجع دې

جنت اودَهغې نعمتونوته،او﴿وَعۡدٗا مَّسۡـُٔولٗا﴾كنايه ده(۱) دَوعدې دعظمت نه يعنى داداسې عظيمه وعده چه دَدې لائقه ده چه غوښتنه ئى اوكړې شى.اى حقيقاان يسئل ويطلب(روح) اويا(۲)دَ'مسئولاً'نه مراددادې چه مؤمنان ئى په خپلودعاګانوكښې غوښتنه اوسوال كوى لكه په سورة آل عمران ايت نمبر(۱۹۴)كښې دى.ياورنه(۳)مراد دادې چه ملائك ئى دالله ﷻ نه دَمؤمنانودَپاره غواړى اوسوال ئى كوى لكه سورة المؤمن ايت نمبر(۸)كښې دى.
او(۴)بعض فرمائى چه قيامت په ورځ به متقيان دَدې سوال اومطالبه كوى لكه ابن جريرطبرى رحمه الله اوابن كثير رحمه الله دَحضرت ابوحازم رحمه الله نه نقل كړيدى فرمائى چې كله دَقيامت ورځ وى نومؤمنان به اوائى،ربناعملنالك بماامرتنافانجزلناماوعدتنا.اې الله! مونږستا دَرضادَپاره هغه عملونه كړيدى دكوموچه تاامركړې وو،نوكومه وعده چه تاكړې وه هغه پوره اوفرمايه.
(۵)اويا'مسئولاً'په معنىٰ دَواجب سره دې،ليكن دَدې وجوب نه مرادوجوب تفضلى دې ځكه حقيقتا وجوب اومسئوليت په الله ﷻ باندې نيشته دې.
﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ﴾داتخويف اخروي دې اودَ﴿وَمَا يَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾نه مراد دلته دقرينى عقليي دَوجې نه انبياء كرام،ملائك اواولياء الله دى چه دَهغوئى عبادت كړې شوې وو،اودَهغوئى په باره كښې عقيده دَدې وه چه دوئى بركات وركوونكى دى،اودغه جاهلان اومشركان خلك داهم وائى چه مونږدَدوئى عبادت ځكه كووچه،دوئى مونږته حكم كړيدې چه تاسوزمونږعبادت كوئى،نوقيامت په ورځ به الله ﷻ په مشركانو باندې الزام دَپاره دَدې نيكانوبندګانوبه پوښتنه اوكړى چه آياځمادابندګان تاسوګمراه كړيدى،اوتاسودوئى ته وئيلى ووچه زمونږ عبادت كوئى،دَسورة المائده په اخيركښې،دَدغه شان سوال اوتپوس دَحضرت عيسىٰ عليه السلام په باره كښې ذكردې، اومرادپه﴿أَضۡلَلۡتُمۡ عِبَادِي﴾ سره دعوت وركول دى ګمراهئ طرف ته﴿أَمۡ هُمۡ ضَلُّواْ ٱلسَّبِيلَ﴾ دادَقبيلي دحذف لايصال نه دې،په اصل كښې داسې دې(ام هم ضلّواعن السّبيل)اومقصددآيت دادې چه دَدوئى په بې لاره كيدلوكښې ستاسوڅه دخل نيشته دې بلكه دوئى ځانونه پخپله بې لارې كړيدى،چه اعراض ئى كړيدې دَپيغمبراودكتاب

نه .چه دا ذریعه دګمراهئ ده اودا دې آیت نه استدلال کول پدې چه انسان دخپلو افعالو اختیار
یو ،یادا افعال سیئه خالق دي،باطل استدلال دي.

قَالُوْا سُبْحٰنَكَ مَا كَانَ يَنْۢبَغِيْ لَنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ مِنْ دُوْنِكَ مِنْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنْ
نوهغوئ به اووائی پاکی ده تالره دشریك نه،نده مناسب مونږلره چه مونږاونیسوبی دستانه نوردوستان لیکن
مَّتَّعْتَهُمْ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوْا قَوْمًا بُوْرًا ⑱
تانبه معاش ورکړې وۀ دوئ اوپلارانودوئ ته تردې چه هیرکړودوئ نصیحت.اووۀدوئ قوم هلاك شوي.
فَقَدْ كَذَّبُوْكُمْ بِمَا تَقُوْلُوْنَ ۙ فَمَا تَسْتَطِيْعُوْنَ صَرْفًا
نوالله تعالی به کافرانو ته اوائ په تحقیق سره تاسوبې دروغژن ثابت کړلې معبودانو په خپلو تولوخبرو کښې ،نونه موشته وس د عذاب لرې کولو
وَّلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيْرًا ⑲ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ
او نه دمدد اوچا چه ظلم اوکړوستاسونه نواوبه څکو هغه ته عذاب لوئ،اوندی لیږلی مونږمخکښې ستانه درسولانونه
اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ
مګرهغوئ وۀچه خوړلوبه ئ خوراك اوګرځیدل په بازارونوکښې،اوګرځولی دی مونږبعض ستاسونه
لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۗ اَتَصْبِرُوْنَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا ⑳
دپاره دنوروامتحان چه آیاتاسوصبرکوئ اوکه نه کوئ اودې رب ستالیدونکې.

﴿قَالُوا سُبْحَانَكَ﴾ سبحٰنك ذکریاصرف تمهیداً دي اواصل جواب د﴿مَا كَانَ يَنْبَغِي﴾ نه
شروع کیږی،اویاذکرد سبحٰنك دتعجب دپاره دي اودوئی ته چه کله ددې بهتان اوالزام پته
اولګی،چه دې خلکو په مونږباندې دومره عظیم بهتان اوالزام لګولې دې نوفورأبه اوائی چه
سُبحٰنك چه مونږبه هغه کارڅرنګه اوکړوکوم کارچه دابلیس دې اویا﴿سُبْحَانَكَ﴾ په جواب
کښې داخل دې اومقصددادې چه،مونږ خوستاتسبیح ویونکی یواوپدې باندې موسوم
اوموصوف یو،اوابتداء نه زمونږعقیده دتوحیدده نومونږبه بل چاته څرنګه دشرك دعوت

ورکړې وی.

﴿مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ ﴾ ينبغي دلته په معنى دَيصح او يجوزسره دي.نودَ﴿مَا كَانَ يَنۢبَغِي لَنَآ ﴾معنى ده،ماكان يصح يعنى ماصح وما استقام لنا(قرطبی)﴿أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ﴾ اتخذ فعل كله مفعول واحدته متعدى كيږى اوكله دوه(۲)مفعولينوته متعدى كيږى،نوكه اول احتمال معتبركړې شى نومفعول دَ﴿أَن نَّتَّخِذَ﴾دپاره﴿مِنْ أَوْلِيَآءَ ﴾دې اوكه دويم احتمال معتبركړې شى نوبيا غوره قول دادې چه﴿مِنْ أَوْلِيَآءَ ﴾مفعول اول مؤخردې او من پكښې زائددې دَتاكيددَنفى دَپاره دې او﴿مِن دُونِكَ ﴾مفعول ثانى مقدم دې اومرادپه اولياء سره تابع دى اودَ ولى اطلاق چه لكه څرنګه په متبوع باندې كيږى نودغه شان په تابع باندې هم كيږى پشان دَلفظ دَ مولى چه اطلاق ئى په اعلى او اسفل دواړو باندې كيږى.

﴿وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ ﴾دا استدراك دې دَماقبل نه،هركله چه دغه نيكان بندګان خپله صفائى پيش كړى نوبيابه دَدوئى دګمراهئ لوئى سبب ذكركړى،چه اې الله ﷻ تادوئى قسم قسم نعمتونه وركړى وو،مال،دولت،صحت،عمر وغيره اودانعمتونه ذريعه دَمعرفت دَحق دَپاره وو،خودوئى پديكښې دومره انهماك اوكړوچه حق ئى هيركړواوپه شهوات كښې مبتلاشو، كفراوشرك ئى اختياركړو

﴿حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ﴾ذكرنه مرادايمان اوتوحيددې اودغه شان احكامات دكتب،اوتعليمات دَرسولانوورنه هم مراددى.﴿فَقَدْ كَذَّبُوكُم ﴾دا خطاب دَجانبه دَالله ﷻ نه دې،كفاروته اودايا په دنياكښې دې اوماضى په معنىٰ دمضارع سره ده يعنى اې كفاروقيامت په ورځ به ستاسو دامعبودان به ستاسودَدې خبرې تكذيب كوى،اويابه ورته پا اخرت كښې وئيلې شى او دَدينه مخكښې يقال لم مقدردې يعنى دَنيكانوبندګانودَخپلې صفائى اوجواب وركولونه، پس به دې مشركانوته اوئيلې شى چه تاسوخوونيلوچه مونږته دې نيكانو خلكو دَشرك دعوت راكړيدې اودوئى خوانكاراوكړو.﴿بِمَا تَقُولُونَ﴾با په معنى ده "فِي"كښې ده، او "ما"

مصدریه ده أي في قولکم

﴿فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا﴾ صرف نه مراددفع کول دَعذاب دی اوتنوین پکښې دَپاره دَتنکیرديِ، یعنی په هیڅ وجې سره هم تاسودَخپل ځان نه، عذاب نشئ، دفع کولې نه بالذات اونه بالواسطه یعنی نه پخپله دَځان نه، عذاب دفع کولې شئ اونه ستاسوالهه ستاسونه، عذاب دفع کولې شی، اودغه شان په ﴿وَلَا نَصْرًا﴾ کښې هم تنوین دَپاره دَتنکیردې یعنی په هیڅ طریقې سره امدادنشئ حاصلولې، ﴿وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ﴾ غوره قول دادې چه داخطاب ټولو مکلفینوته دې او ظلم نه مراد شرک دې، یعنی چه څوک هم په تاسوکښې دَشرک مرتکب شی اوپه حالت دَشرک باندې مړشی نوهغه ته به لوئی عذاب ورکولې شی.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ﴾ دتخویفاتواودَاحوالودَجهنم اودَجهنمیانوذکرکولونه پس دکفارو دَخلورمې شکوې اوشبهې جواب ورکولې کیږی، دوئی به وئیل چه داپیغمبرخوراك ولې کوی اودکسب معاش دَپاره بازارته ولې ځی؟ دَجواب خلاصه داده چه خوراك، څکاك کول اودَدینی، دنیوی ضروریات دَپاره بازارونوته تلل، منافی دَرسالت نه دی، ځکه چه مخکښې څومره انبیاء کرام راغلیدی چه دَهغوئی نبوت دوئی هم منی نوهغوئی به هم خوراك کولواودَدینی، دنیوی ضروریاتودَپاره به بازارته هم تللو، اودَ "الاّ" نه ورستو "انّ" په فتحې سره راځی خودلته په کسرې سره دې، وجه داده چه داجمله یعنی ﴿إِلَّآ إِنَّهُمْ﴾ صفت واقع شویده دَموصوف محذوف دَپاره چه "احداً" اویا "رسولاً" دې، نوتقدیردَعبارت دارنګه دې "ومآارسلنا قبلك رسولاً"، یا "احداًمن المرسلین" اوبیاموصوف حذف شواواکتفاء اوکړې شوه په جارمجروربانديې چه "من المرسلین" دې (مدارك، قرطبی).

﴿وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ﴾ داتتمه دَجواب ده اوتسلی ده نبی پاك ﷺ ته، کفاروبه نبیﷺ اوصحابه کرامو ﷺ ته دَغربت اودفقروفاقې پیغورونه ورکولو، نودَنبی پاك ﷺ دَتسلئ دَپاره داآیت نازل کړې شو، مقصددآیت دادې چه دادنیادارالامتحان دې، دَازمائش اودَابتلا ځانوځائی دې، دَفقیرپه غنی، سره اودَمالداره په فقیرسره ابتلاء کیږی، دَصحت مندپه

بیمارسره او د بیمار په صحت مند سره امتحان اغستلې کیږي. د شریف په جاهل سره او د جاهل په شریف سره امتحان اغستلې کیږي، دغه شان د پیغمبر په امتی سره او د امتی په پیغمبر سره ابتلاء کیږي.

﴿أَتَصْبِرُوْنَ﴾ دا غرض د امتحان او د ابتلاء دې او ام لاتصبرون ورسره مقدر دې. یعنی دا ازمائشونه او امتحانات دې د پاره دی چه تاسو صبر کوئی اوکه نه کوئی، که په تکالیفو باندې صبر اوکړئی نو اجر به درته میلاؤشی او کچرې اونکړئی نوغم او پریشانی به ستاسو نوره زیاته شی. د حضرت ابو هریرة ﷺ نه روایت دې چه نبی پاک ﷺ ارشاد او فرمائیلو چه: انظروا الی من هو اسفل منکم ولاتنظروا الی من هو فوقکم فهواجدر ان لاتزدروانعمة الله علیکم (بخاری) یعنی تاسو هغه چاته گورئی چه ستاسو نه د مال، جسم یاصحت وغیره په اعتبار سره کمزورې وی، نو دا به تاسو د الله ﷻ د ناشکرئی نه بچ کوی.

﴿وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا﴾ یعنی الله ﷻ د هرچا په حالت باندې عالم دې، صبر کوونکی ته به د هغه د صبر اجرور کوی او بې صبره ته به سزاورکړی او یامقصد دادې چه الله ﷻ بغیر د امتحان اغستلو نه، د انسانانو او د مخلوقاتو په ټولو احوالو باندې عالم دې، دا امتحان او ازمائش د الله ﷻ په علم کښې څه زیاتی نه راولی، لیکن دا امتحانات د الزام حجت د پاره دې.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ أَوْ نَرٰى
او وائی هغه کسان چه نه یریږی زمونږ د ملاقات نه ولې نشی نازله لولې په مونږ فرشتې یا ولې نه وینو مونږ پخپله
رَبَّنَا ۭ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ أَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿٢١﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ
رب خپل، یقیناً دوئ خپل خان لوئ گنړلې دې پخپلو زړونو کښې او تجاوزئ کړیدې تجاوز لوئ په کومه ورځ چه اووینی دوئ فرشتې
لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿٢٢﴾
نو نه به وی خوشالی پدغه ورځ لپاره د مجرمانو او وائ به فرشتې چه منع ده خوشالی د دوئ نه په منع کیدلو سره.
وَقَدِمْنَآ إِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً
او راوبه شو مونږ هغه عملونو ته چه دوئ کړیدی څه عمل نه نو اوبه گرځوو مونږ هغه نیک عمل په شان د دوړې

مَنْثُوْرًا ﴿٢٣﴾	اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ	يَوْمَئِذٍ	خَيْرٌ	مُّسْتَقَرًّا	وَّاَحْسَنُ	مَقِيْلًا ﴿٢٤﴾	وَيَوْمَ	
نوستلي شيندلي شوي ياران دَجنت پدغه ورځ ډيره غوره به وي قيام گاه «دَدوئ» اوډيرښه به وي آرام گاه دَ دوئ او هغه ورځ								
تَشَقَّقُ السَّمَآءُ	بِالْغَمَامِ	وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ	تَنْزِيْلًا ﴿٢٥﴾	اَلْمُلْكُ	يَوْمَئِذِ	الْحَقُّ		
چه توټې توټې به شي اسمان په وريځو سره اوناز لې به کړيشي فرښتې په نازلولو سره پرله پسې بادشاهي پدغه ورځ کښې ثابته ده								
لِلرَّحْمٰنِ	وَكَانَ	يَوْمًا	عَلَى	الْكٰفِرِيْنَ	عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾			
صرف الله ﷻ لره،	او ده دغه ورځ		په	كافرانو	سخته.			

﴿وَقَالَ الَّذِيْنَ﴾ دا اعاده دَپنځمې شکوې اوشبهې ده، سره دَزيادت دَيوې بلې شکوې، چه دامشرکان چه دَالله ﷻ دَملاقات اميد نه لرې داوائی چه په مونږ باندې دې ملائك نازل شی چه دَدې نبی په صدق باندې مونږته خبرراکړی ﴿لَا يَرْجُوْنَ﴾ رجاء اگرچه اميدته وئيلی کيږی خوکله کله په معنٰی دَخوف سره هم راځی دلته "لايرجون" په معنٰی دَ "لايخافون" سره دې ﴿أَوْ نَرٰى رَبَّنَا﴾ يعنی يامونږ به خپلوسترگوباندې الله ﷻ اوگوروچه مونږته پخپله اوائی چه داځماد طرف نه نبی دې.

﴿لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا﴾ دازجردې په اولې ويناد دوئی باندې، يعنی دَقرآن پشان معجزکتاب په موجودگی کښې، دَملائکودَنزول مطالبه کول محض تکبراوتعنت دې، ﴿وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا﴾ دازجردې په دويمې ويناد دوئی باندې او "عتو" په اصل کښې سخت ترين کفراوبدترين ظلم ته وئيلې کيږی، والعتواشدالکفروافحش الظلم (قرطبی) اوتوصيف دَ "عتو" په "کبيراً" سره دَپاره دَمبالغې دې، يعنی په دنياکښې دَالله ﷻ دَرؤيت سوال کول تعنتًا، لوئی کفراوبدترين ظلم دې، اودَدې آيت نه مطلقًا په نفی دَرؤيت دَباری تعالٰی باندې استدلال کول باطل دی، ځکه چه دهغې ثبوت په نصوص قطعيه سره دې اودغه شان دَآيت سياق اوسباق هم ددينه اباء کوی، بلکه دَآيت سياق اوسباق په دې دلالت کوی چه دازجرصرف په دنياکښې دَرؤيت سوال

کول، اومطلقًا سوال باندې هم نه بلکه تعنتًا دَرؤیت په سوال کولو باندې دي

﴿يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ﴾ دا جواب دَدې مذکورې شکوې او دَشبهې دې یعنی په کومه ورځ چه دوئی ملائك اوینی نو دغه ورځ به دَدوئی دَپاره دَخوشحالئ نه وی بلکه ددوئی دَ پاره به دَناکامئ او دَخسران والاوی، او ملائك به ورته وائی چه خوشحالی په تاسو باندې حرامه ده او مراد دَ﴿يَوْمَئِذٍ﴾ نه ورځ دَځنکدن ده، اویا ورځ دَقیامت ده، ﴿وَيَقُولُونَ حِجْرًا﴾ حجر په اصل کښ منعې ته وئیلې کیږی، او دَدې قول قائلین یا ملائك دی چه په وخت دَځنکدن کښ اویا په ورځ دَقیامت به دوئی ته وائی چه خوشحالی په تاسو باندې حرامه او منعه ده، یعنی په دوئی باندې دَهغې شی بشارت حرام دې دکوم څیز بشارت چه متقیان ته ورکولې کیږی. اویا قائلین دَدې قول کفار دی او دا کلمه یعنی ﴿حِجْرًا مَّحْجُورًا﴾ عرب په موضع دَاستعاذې کښ استعماله وې یعنی عرب چه دَڅه څیزنه پناه غواړی نو وائی "حجرا محجورا" نو دَایت مقصد دادې چه دا کفار خو اوس دَملائکو دَنزول مطالبه کوی خو چه کله ملائك اوګوری، او دَعذاب مشاهده اوکړی نو دوئی به چیغې اوباسی چه ﴿حِجْرًا مَّحْجُورًا﴾ چه مونږ پناه غواړو پوره پوره پناه خو پناه او نجات او خلاصي به نوی.

﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟﴾ دا تخویف اخروی دې، او دَیو توهم دفعیه ده توهم دا کیدلو چه دَدې کفارو خو ځنې نیك اعمال هم شته دې لکه صله رحمی، صدقې کول وغیره نو کیدی شی چه دَدوئی دغه نیك اعمال دوئی ته نجات ورکړی، نو دَدې جواب اوشو چه ﴿وَقَدِمْنَا﴾ او هر کله چې دَ قدوم خپله معنی په الله ﷻ کښ محاله وه نو دَدې وجې نه ﴿وَقَدِمْنَا﴾ په معنیٰ دَ "عمدنا" سره دې او ﴿مِنْ عَمَلٍ﴾ نه مراد ددوئی ځنې نیك اعمال دی مثلاً صله رحمی کول، دَپریشان حال خلکو سره امداد کول، میلمستیا کول او غلامان ازادول وغیره شو، نو دَجواب خلاصه داده چې دَدې مشرکانو دغه نیك اعمالو طرفه ته به مونږ متوجه شو او دا اعمال به ئې داسې کړو لکه نوستلې شوې دوړه (ګرد و غبار) او توصیف دَ﴿هَبَآءً﴾ به ﴿مَّنثُورًا﴾ سره په دیکښ اشاره ده مکمل بطلان دَاعمالو دَدوئی ته، ځکه چه کله کله ګرد (دوړه) موجوده وی او نو ستلې شوی نوی نو دڅه فائدې اخستلو امید ورنه کیږی، خو چه

کله اونوستلي شی نه دفائدې اخستلوامیدئی هم ختم شی نودغه شان ددوئی اعمال به په اخرت کښې بالکل عدیم النفع وی.

﴿أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ﴾ دابشارت اخروی دې، ﴿خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا﴾ خیر اسم تفضیل دلته په خپلې معنیٰ یعنی دتفضیل په معنیٰ کښې ندې مستعمل، بلکه دنفس زیادت یعنی مبالغې دپاره دې او مستقر صیغه دظرف مکان ده معنیٰ ئې ده ځائی دقرار دلته ترینه مراددجنتیانوهغه ځائی دې چه دوئی به پکښې اکثردیوبل سره ناست وی اوخبرې، ترې به کوی، او مقیل دقیلولې والاځائ ته وئیلې کیږی، اوقیلوله د نصف النهار یعنی دغرمې ارام ته وئیلې کیږی، که خوب پکښې وې یانوی اوچونکه په جنت کښې خوب نیشته دې نوددې وجې نه د مقیل نه مراددجنتیانووالاهغه ځائی دې چه دوئی پکښې دخپلوبیبیانواوحوروسره میلاویږی اودهغوئ نه فائده اخلی اوجماع به ورسره کوی، اودغه ځائی ته خاص نوم د مقیل ځکه ورکړې شوچه په حدیث کښې دی چه الله ﷻ به دقیامت په ورځ دمخلوقاتودحساب، کتاب نه فارغ شی نونصف النهاربه وی نودقیلولې په وخت کښې به اهل جنت، جنت ته لاړشی اواهل جهنم به جهنم ته لاړشی(قرطبی، خازن)او مقیلا سره حسن ذکرکولوکښې اشاره ده دیته چه دجنتیانودپاره به دغه مخصوص ځائی دارام والا،ب په خائسته خائسته نقش ونګاراو تصویرونو سره مزین کړې شوې وی، لکه څرنګه چه په دنیاکښې عام رواج دې چه دغه شان کمرې خلك منقش اومزین کوی.

﴿وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ﴾ داتخویف اخروی دې، دلته د تشقق نه مراد فتح یعنی کولاویدل دی چې دابه دحساب کتاب شروع کیدلوپه وخت کښې وی اوهغه تشقق ورنه نه دې مرادکوم چه به په نفخه اولی په وخت کښې وی اوپه "بالغمام" کښې باء یادسببیت ده اوداوریځ به سبب وی دشق داسمان دپاره، نود "بالغمام" معنیٰ ده بسبب الغمام اوداوریځ به سبب دشق داسمان دپاره یاددې وجې نه وی چه دابه ډیره ثقیله اودرنه وی، لکه بعضی مفسرینوذکرکړیدی چه داوریځ به داوه(۷)اسمانونودپاڅه وی اوددې ثخل اوثقل به دومره وی لکه دااوه(۷)واړه اسمانونه، نوهراسمان باندې چه داوریځ راځی نوهغه اسمان به ددې ثقل نشی برداشت کولې اوڅیریږی به، اویاوجه داده چه ددې وریځې طلوع به دملائکودنزول دپاره وی اوملائکودنزول دپاره به

اسمانونه كولاؤكړې شی اوملائك به پدې وريځې كښې لاندې راكوزلوشی نودشق داسمان دپاره اصل سبب نزول دملائكودې دپاره دحساب وكتاب اووريځ به په هغې باندې علامه وی،نومجازااطلاق دعلامې په ذی علامې باندې اوكړې شواوديته سبب اونيلې شواويا باء په معنیٰ د"عن سره ده او باء،عن اوعلی دیوپه بل ځائ باندې استعمالیدل شائع اوکثیردي. نود"بالغمام"معنی ده عن الغمام اودآيت مقصوددادې چه اسمان به ټكړې ټكړې شی دوريځې نه يعنی دوريځې نه به جداكړې شی اوكولاؤبه كړې شی،اوپه دغه وريځې كښې به ملائك راكوز كړې شی،حضرت شيخ الهند رحمه الله دې احتمال ترجمه غوره كړيده اوبعض فرمائی چه جار مجرورمتعلق دی په متلبسة مقدرپورې اومتعلق سره دمتعلق نه حال واقع شويدې د"السماء" نه نومقصوددادې چې يوم تشقق السماء حال كونه متلبسة بالغمام،اوحضرت شيخ فرمائی چه د غمام نه مرادملائك دی چه دهغوئی مجموعی هيئت داسپينووريځوپشان وی نود"بالغمام" معنیٰ ده بسبب نزول الملائكة.او﴿وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ﴾ عطف تفسيری دې اوبيان دې دماقبل دپاره چه د غمام مقصوددادې چه مونږ به ملائك ډلې ډلې نازلی كړو،اودعام مفسرينودتوجيه مطابق ﴿وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ﴾عطف دې په تشقق باندې اوداپه دويمې طريقې سره تخويف ذكركيږی اومقصوددادې چه ملائك به داسمان نه ډلې ډلې راكوزيږی،نوداحالت چه صرف مجرمان نه بلكه هرانسان ئې چه اوگوری نوانتهائی وحشت اودخوف په عالم كښې به شی(الاماشآء الله)اودملائكودانزول به دميدان حشردانتظام دپاره،به وی.

﴿اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ ࣙالْحَقُّ﴾"الملك"مبتداده او"الحق"ورله صفت دې او"للرحمٰن"په اعتبار دمتعلق سره خبردې او"يومئذ"ظرف دمبتداء دې اوپه هغې پورې متعلق دې اومبتداء مقيده كول په قيدد"يومئذ"سره،پديكښې اشاره ده چه دقيامت دورځې بادشاهی به صرف دالله ﷻ وی،څوك به ورسره شريك نه وی،حقيقة اوصورتًادواړه قسمه تصرف به دالله ﷻ وی،نه به څوك دچاسفارش كوی بغيردالله اجازت نه اونه به څوك دچاامدادكولې شی،په خلاف ددنيادژوندون نه،چه پديكښې هم اگرچه حقيقةً تصرف اوبادشاهی دالله ﷻ ده ليكن انسان ته ئې ظاهراًصورتاً اختياروركړيدې اومجازاًده ته ئې بادشاه وئيلی دی.

﴿وَكَانَ يَوْمًا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ اسم د كان ضميرمستتردي چه راجع دي يوماً مذكورته، او عسيراً ئې خبردي او على الكفرين جارمجرورمتعلق دي د عسيراً سره، يعنى دقيامت ورځ به په كافرانوباندې ډيره سخته وى اوهرچه دي مؤمن نوپه هغه باندې به اسانه وى اودايمان دكمال اودقوت مطابق به دمؤمن سره ديسرا وسهولت معامله كيږي، يعنى چه څومره ئې ايمان قوي وى اوكمال پكښې موجودوى نوهومره به ورته اسانى اويسروى، حتى چه په يوكامل مؤمن باندې به داورځ دومره په سهولت سره تيره شى لكه ديوفرض مونځ والاوخت، لكه په روايت دحضرت ابوسعيدخدرى ﷺ كښې دى چه: قيل يارسول الله: يوم كان مقداره خمسين الف سنة ماطول هٰذااليوم فقال رسول الله ﷺ والذى نفسى بيده انه ليخفف على المؤمن حتى يكون اخف عليه من صلوة مكتوبة يصليهافى الدنيا (ابن كثير) يعنى دنبى پاك ﷺ نه دآيت يوم كان مقداره متعلق تپوس اوكړې شوچه داخوډيره اوګده ورځ ده؟ نونبى پاك ﷺ ورته اوفرمائيلوچه خمادې قسم وى په هغه ذات چه دهغه په قبضه، قدرت كښې خماروح دې، چې دمؤمن دپاره به داورځ اسانه كړې شى حتىٰ چه ديوفرض مونځ دوخت نه به هم ددپاره به زياته اسانه اومختصركړې شى.

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ
اوپه هغه ورځ چه چكونه به لګوى ظالم په خپلودواړولاسونواووائې به آفسوس ارمان چه مانيولې وې درسول سره
سَبِيلًا ۞ يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ۞ لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ
لاره دايمان هائې خماهلاكت، كاش چه نه وې نيولې مافلانكې سرې دوست يقيناًګمراه كړې ووم ده خه دقرآن نه
بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَٰنُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا ۞ وَقَالَ الرَّسُولُ يَٰرَبِّ
ورستودى چه كله ماته راغلو، اودې شيطان انسان لره رسواكونكې اووائې به رسول ﷺ چه اې ربه!
إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا ۞ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا
بې شكه خماقوم ګرځولې ووداقرآن پريښودلې شوې، اوهم دغه شان ګرځولې ووموږهرنبى لره دشمن

مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ	ۖ وَكَفٰى	بِرَبِّكَ	هَادِيًا	وَّنَصِيْرًا	۞
دکافرانونه،	اوکافی دي	رب	ستاهدايت	کونکي	اومددګار

﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ﴾داهم تخويف اخروی دې او"عض اليدين"يعنی په لاسونوباندې چکونه لګول به دَدېرسختې غصې اودَافسوس دَوجې نه به وی،اوداارمان به کوی چه کاش! څه هم دَپيغمبر په لارې تلې وې اودَهغه خبره مې منلې وې،کاش! چه مادَغلطوخلکوسره ملګرتيانوې کړې.چه څه ئې دَقرآن نه غافله کړم اودَسيدهې لارې نه ئې خطاء کړم.

مفسرينودَدې آيت په شان نزول کښې واقعه ذکرکړيده چه دَمکې په سردارانوکښې يوسرداروو چه دَهغه نوم عقبه ابن ابی معيط وو،دَده عادت به داووچه کله به هم دَسفرنه راغې نوبيابه ئې خلکوته دعوت کولواودې به اکثردَنبی پاکﷺ سره هم ميلاويدلواودَهغه خبرې به ئې اوريدلې نويوځلې دې دَسفرنه راغې نودَعادت مطابق دِمکې معززينوته ئې دعوت اوکړواودعوت ته ئې نبي پاکﷺ هم رااوغوختلوچه کله طعام حاضرکړې شونونبی پاکﷺ دَخوراك نه انکاراوکړواودائې ورته اوفرمائيلوچې ترڅوپورې تاکلمه نه وی وئيلی نوترهغې پورې به څه ستاپه کورکښې خوراك اونکړم،ترکومې پورې چه ته مسلمان شوې نوې ،نوعقبه لااله الاالله محمّدرسول الله،اوئيلواونبی پاکﷺ دَهغه روټئ اوخوړله،دَعقبه يوبل ملګرې ابی ابن خلف ووچه هغه ملعون دَنبیﷺ اودَمسلمانانوسخت دشمن وونوچه کله هغه ته دَدې پته اولګيدله چه مسلمان شويدې نودېرسخت خفه شواوعقبه ته ئې اوئيلوچه ته بې دينه شوې ئې يعنی مسلمان شوې ئې،عقبه ورته اوئيلوچه څمادې په خدائی قسم وی چه ماخپل دين ندې پريخې بلکه څماکورته معززميلمه راغلې وواوهغه ترهغه وخته پورې روټئ نه خوړه چه ماکلمه شهادت نوې وئيلې اوڅماغيرت دانه برداشت کوله چه څماکورته څوك راشی اوبيابغيردَخوراك نه لاړشی نودَدې وجې نهٔ ماکلمه اوئيله نوابی ابن خلف ورته اوئيلوچه ستا خبره څه ترهغه پورې نه منم چه ترڅوپورې ته تلې نه ئې اودَنبی پاکﷺ په مخ باندې دې توکلې نوې،عقبه دَخپل دَملګری په خبروکښې راغې اولاړودَنبیﷺ په مخ مبارك باندې توکی اوچولوکوشش اوکړوخوهغه توکې واپس لارې اودَعقبه په مخ باندې اولګيدلې اوپه مخ کښې نشان جوړشو،اونبیﷺ ده ته اوئيلوچه کچرته ماته دَمکې نه بهراومندلې نوڅه به تاقتل کوم

چنانچه په بدر جنګ کښې دې ګرفتار کړې شو، او نبي پاک ﷺ ته پیش کړې شو او نبي ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته حکم او کړو او هغه قتل کړو. نو عقبه دَ خپل دَدې بد ملګرې دَ لاسه خپل دنیا او آخرت تباه کړو، نو په اخرت کښې چه کله عذاب اوګوری نو حسرت او افسوس به کوی چه کاش! ما دَ پیغمبر اتباع کړې وې او دَ خپل بد ملګری ملګرتیا مې نه وي کړې، نو دَدې واقعې په بنیاد په ﴿ٱلظَّالِمُ﴾ کښې الف لام دَ عهد دپاره دې او مراد ورنه عقبه دې او د ﴿فُلَانًا﴾ نه مراد ابی ابن خلف دې لیکن قانون دادې چه اعتبار خصوص دَ واقعې لره نه وی بلکه عموم دَ الفاظو لره وی، نو غوره خبره داده چې الف لام په ﴿ٱلظَّالِمُ﴾ کښې جنسی دې، او مراد ورنه جنس ظالم او کافر دې چه په شرك او کفر کښې مبتلا وی او دَ پیغمبر دَ اطاعت نه مخ ګرځوی او دَ ﴿فُلَانًا﴾ نه مراد ګمراه متبوع جنی او انسی شیطان دې.

فائده: په لاسونو باندې چکونو لګولو تخصیص دَ دوه (۲) وجوهاتو نه، دې یو ددې وجې نه چه دا عام عادت دَ پښیمانه سړی وی چه دَ پښیمانتیا په وخت کښې په خپلو لاسونو باندې چکونه اچوی، او دویم دَدې وجې نه چه عام طور باندې لاسونو دَډیرو جرمونو دَپاره ذریعه وی.

﴿يَقُولُ يَٰلَيْتَنِي ٱتَّخَذْتُ﴾ دا به دَ دغه ظالم او دکافر دَ طرف نه قولی او لسانی ارمان وی، یعنی دې به چیغې او باسی او دَ رسول په اتباع پسې به ارمان کوی ﴿يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي﴾ یعنی دَډیر افسوس دَوجې نه به ځان ته بددعا کوی یعنی ځه دې هلاك شم چه ما دَدې ګمراه او غلط ملګری سره ملګرتیا کوله او "ویلتیٰ" په اصل کښې "ویلتی" په کسرې دَ "تاء" او په فتحې دَ "یاء" متکلم سره وو، حرکت دَ "یاء" ماقبل ته نقل کړې شو، یاء ماقبل مفتوح په الف سره بدل کړې شوه نو "ویلتیٰ" ورنه جوړ شو، نو دا آخیری "الف" حرفی نه دې بلکه اسمی دې، چه په اصل کښې "یاء" دَ متکلم وه.

﴿لَّقَدْ أَضَلَّنِي﴾ دا علل او اسباب دَ افسوس او دَ ارمان ذکر کیږی، او "لام" موطئه للقسم دې. ﴿عَنِ ٱلذِّكْرِ﴾ دَ "ذکر" نه مراد: ایمان، توحید او قرآن دې مقصد دادې چه، ځه دې غلط ملګری دَ ایمان نه محرومه کړم او دَ قرآن نه ئې غافله کړم، او نسبت دَ اضلال فلان یعنی ملګری ته کول تسبیبًا دی، ځکه شیطان په مختلفو وسوسو سره انسان ګمراه کوی، ﴿وَكَانَ

اَلشَّیْطٰنُ ﴾داجمله یاتتمه ده دکلام دَدغې ظالم والا،اویاداکلام دالله جل جلاله دې.دپاره دَتحذیردَشیطان نه،اومرادپه شیطان سره هرسرکش اومتمرددې چه دَالله جل جلاله دَلارې نه منع کول کوی،که هغه انسی وی یاجنی وی،وهوکل متمردعات حسد عن سبیل الله من الجن والانس(خازن) او"خذولا" مبالغه ده په"خذلان"کښ په اصل کښ ونیلې کیږی شرمنده کولواو ذلیله کولوته،دلته ورنه مراد هغه ملګرې دې چه وعده اوکړی دَمددکولواوبیادَضرورت په وخت کښ یاغائب شی اویا مخالف شی نودَیوانسان سره داکاردَهغه شرمنده کول دی.او دادَشیطان شیوه ده چه انسان ته وسوسې اچوی چه کچرته په تاتکلیف راغې نوځه به داسې وکړم ستامددبه اوکړم لیکن دَتکلیف په وخت کښ اوعذاب دوران کښ به بیاانسان ته وائی چه"فلاتلومونی ولوموا انفسکم ماانابمصرخکم".

تنبیه:پدې آیت کښ اشاره ده چه دَبددوست اوملګری نه ځان بچ ساتل پکاردی،کوم دوستان اوملګری په معصیت اوګناه باندې قائم وی قیامت په ورځ به پدې خپلې دوستئ باندې ژاړی،اودغه شان یوانسان به افسوس کوی چه مادَدې بدملګری سره ولې ملګرتیاکوله،بدملګرې دنیااوداخرت دَهلاکت اوبربادئی ذریعه ګرځی،حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی پاک صلی الله علیه وسلم اوفرمائیلوچه دَنیک ملګری مثال دَعطر فروش دې چه دَعطرفروشی دوکان ته لاړشی نویابه څه عطرواخلې ورنه کم ازکم هغه خوګ بوئی به درباندې اولګی(دماغ به دې تازه شی)اودَبدملګری مثال دَلوهاردَبټئ پشان دې چه هلته کینې نویابه درباندې تورکې"او"بخرکې"اولګی ګنده به دې کړی کپړې به درته اوسوزوی کنی کم ازکم بدبوئی به درته دراورسیږی اوپریشانه به دې کړی(بخاری)،شیخ سعدی رحمه الله فرمائی چه:

دور باش ازاختلاط یارِبد - یاربد بدتربود ازمارِبد
مارِبدورنهاهمی برجان زند -یاربدبرجان وبرایمان زند

﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ ﴾داهم تخویف اخروی دې او"قال"په معنیٰ د"یقول"سره او"الرسول" نه مرادنبی پاک صلی الله علیه وسلم دې،مطلب دادې چه دَقیامت په ورځ به نبی پاک صلی الله علیه وسلم دَخپل قوم اوامت خلاف ګواهی ورکوی چه دوئی په قرآن باندې عمل نه ووکړې اودغه شان مضمون په سورة

النسآء ایت نمبر(۴۱)کښې هم دي اوبعض فرمائی چه قال په خپلې معنیٰ سره دي اوداکلام نبیﷺ په دنیاکښې کړیدې،کله چه نبی پاکﷺدخپل قوم دطرف نه مخالفت اودقرآن پشان واضح معجزکتاب نه انکاراوکتلونودالله جل جلاله په دربارکښې اظهارافسوس دپاره شکایت اوکړوچه﴿إِنَّ قَوْمِي ٱتَّخَذُوا۟ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا﴾اود مهجور یوه معنیٰ ده متروك یعنی قرآن ئې پریخې دي ایمان پرې نه راوړی،عمل پرې نه کوی،دویمه معنیٰ ده فضول خبرې نوداپه اصل کښې مهجورفیه دي،اوبیاجارمجرورحذف کړې شو،نومقصددآیت دادې چه نبی پاکﷺبه شکایت اوکړی چه څماقوم به ددې قرآن په بارې کښې فضول خبرې اوبکواسات کولو،کله به ئې وئیلوچه شعردې کله به ئې وئیلوچه سحردې،کله به ئې ورته اساطیرالاولین،وئیلووغیرذلك.

اوابن کثیر رحمه الله لیکلي دي چه هجران دقرآن عام دي،دقرآن تصدیق نه کول،په ده باندې ایمان نه راوړل،دتلاوت په وخت کښې شورکول قرآن کښې سوچ اوفکرنه کول،دقرآن په مقابلې کښې نورفضول اوبیهوده کتابونواوشعروشاعری ته ترجیح ورکول،وغیرذلك،دې ټولوته هجران شامل دې،اومرادپه﴿إِنَّ قَوْمِي﴾سره امت دې خوهرکله چه هجران دقرآن اوّلاقریش مکه اوکړونوځکه﴿إِنَّ قَوْمِي﴾اوئیلې شو.

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا﴾هرکله چه مخکښې آیت کښې دنبی پاکﷺ دخپل امت نه دشکایت ذکروو،نواوس پدې آیت کښې نبی پاکﷺ ته تسلی ورکولې کیږی،او کاف په کذلك کښې دحضرت شیخ رحمه الله په نیزدپاره دبیان کمال دې،اودعامومفسرینوپه نیزدپاره دتشبیه دې،اومشبه محذوفه ده نواصل عبارت داسې دې،کماجعلنالك اعداءً من مشرکی قومك جعلنالکل نبی(زادالمسیر)یعنی لکه څرنګه ستادقوم مشرکین ستاسره دشمنی کوی نودغه شان دهرنبی سره دهغه دقوم مجرمانودشمنی کړیده داځه نوې خبره نده،دهغه انبیاء کراموطریقه داوه چه صبربه ئې کولونوته هم صبرکوه،دغې خلکوته هدایت ورکول اودهغوئی دشرنه بچ کیدل،دهغوئی نه بدله اغستل دالله ﷻ په اختیارکښې دی اوهغه ددې دپاره کافی دې.

وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ
اووائي كافران ولې ندې نازل كړې شوې پدې پیغمبر قرآن ټول په یوځل،همدارنګه (جداجدائي نازلوو) لپاره ددې چه محكم كړو
بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِیْلًا ۝۳۲ وَلَا یَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ
پدې سره زړه ستااولوستلې دې مونږ داقرآن په ارام لوستلوسره،اونه راوړي دوئ تاته یومثال(اعتراض)
اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِیْرًا ۝۳۳ اَلَّذِیْنَ یُحْشَرُوْنَ
مګرراوړومونږتاته(دهغې)صحیح جواب اوډیرښه تفسیر.هغه كسان چه جمع كولې به شي
عَلٰی وُجُوْهِهِمْ اِلٰی جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِیْلًا ۝۳۴
په مخونوخپلو(پرمخې)جهنم ته،دغه كسان ډیره بې كاره یې ده ځكانه اوډیربې لاره دي

﴿وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ﴾دااومه(۷)شکوی اوشبه ده دجانبه دمنکرینونه کفاروبه اعتراض کولوچه کچرې داقرآن دالله ﷻ دطرف نه،وې نودابه په یوځلې نازل شوې وې لکه څرنګه مخکښې کتابونه،تورات،انجیل په یوځل سره نازل شوی وو،نوداقرآن به هم په یوځل سره نازل شوې وواولګ لګ به نه نازلیدلو؟﴿كَذٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهٖ ﴾ددې شکوې اوشبهې دپاره درې(۳)جوابات ذکرکیږي نودااول جواب دې كذلك متعلق دې په فعل مقدرپورې چه انزلناه دې او كاف اسمی په معنی دمثل سره دې اومشارالیه د ذلك متفرق دې چه هغه مدلول د﴿لَوْلَا نُزِّلَ عَلَیْهِ الْقُرْاٰنُ ﴾دې،ځکه چې دکفارودامذکوره قول په معنی دلم نزّل علیه متفرّقا سره دې،او لام په لنثبت کښې دپاره دتعلیل دې،نوددې اول جواب خلاصه داده چې داقرآن نجمانجمایعنی لږلږ ځکه نازل شویدې چه پدیکښې لتثبت یعنی دزړه مضبوطوالې دې اودا تثبت په مختلفووجوهاتوسره دې،اول وجه داده چې قرآن په ډیروتکالیف شرعیواواحکاماتوباندې مشتمل دې،نوکچرې داپه یوځل باندې نازل شوې وې نودنبی ﷺ سره سره په ټولوخلکوباندې به ډیرشاق اوګران ووطبعًانو الله ﷻ نجمًانجمًانازل کړوچه پدې کښې سهولت هم دې اوتقویت پکښې هم دې دزړونودپاره،دویمه وجه داده چې نبی پاك ﷺ ته به

په وظیفه دنبوت کښې دمنکرینو دطرف نه مختلف قسم اذیتونه اوتکلیفونه رسیدلو ،نو الله ﷻ دقرآن په نجمًانجمًانزول سره دنبی پاک ﷺ زړه مبارک ته تسلی اومضبوطی ورکوله،دریمه وجه داده چه قرآن نجمانجمًانازلیدلونوپه هرهرآیت کښې کفاروته تحدی اوچیلنج وونوهرکله چه دوئی دنجمًانجمًاقرآن مقابله اونکړې شوه نودپوره قرآن مقابله په طریق اولی سره نشی کولې نوپدې سره دنبی پاک ﷺ زړه ته تثبت میلاویدلو،لکه څرنګه چه دپیسواوروپوپه مقابله کښې یوجانب نه لږې پیسې رااوباسلې شی اومخالف جانب والادهغه لږوپیسومقابله اونکړی اواوتختی نودې اول فریق ته ډیره خوشحالی اوشی چه څمادلږوپیسومقابله اونکړې شوه نودډیروپه طریق اولی سره نشی کولې،څلورمه وجه داده چه نجمًانجمًانازلیدلوکښې به تجدددوحی وو،اوپه تجدددوحی سره دنبی پاک ﷺ په زړه مبارک کښې به تثبت اوتقویت راتللو،لکه څرنګه باران رحمت دې چه په لږلږوریدلوسره دفصل دبهترکیدلوذریعه ګرځی اوهمداوجه ده چه کله به هم یونوې آیت نازل شونودصحابه کراموپه ایمان کښې به ترقی اوزیادتی راتلله،پنځمه وجه داده چې قرآن مجیدالله ﷻ دنبی پاک ﷺ په زړه کښې محفوظ کولونوکچرته قرآن کریم په یوځلې نازل شوې وې نودبشری تقاضی دوجې نه به په نبی پاک ﷺ باندې ډیرشاق ګرځیدلې وې ځکه چه لوئی کتاب اوبیاغیرمکتوب طبعاًپه سینه کښې محفوظ کول مشکل وی.

﴿وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا﴾دادویم جواب دې،خلاصه ددې جواب داده چه آیات دموقع اوواقعې اودضرورت مطابق نازلیدل په مراد او مقصد باندې دپوهیدلوذریعه ګرځی،کچرته ټول قرآن په یوځل باندې،نازل شوې وې،نودشان نزول،اودواقعې اودموقعې اودضرورت پته نه لګیدلودوجې نه دآیت په مقصداومرادباندې پوهیدل به هم ډیرمشکل وو،نوددې وجې نه الله ﷻ داقرآن په دمه دمه باندې درویشت(۲۳)کالوکښې نازل کړو.

﴿وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ﴾دادریم جواب دې،خلاصه ددې جواب داده چه دقرآن مجیدډیرآیاتونه دمشرکینودباطل اعتراضاتوپه جواب کښې نازل شویدی اوظاهره ده چې جواب دسوال نه ورستوورکولې کیږی اوداعتراض نه ورستوشافی جواب میلاویدل دخاص بصیرت اومعرفت سبب وی،اوپه خائسته طریقې سره وضاحت دحق اوشی،نومراد په مثل سره دکفارودطرف نه عجیب اوغریب باطل اعتراضات دی،اوپه الحق سره مراددهغې

اعتراضاتو صحيح جواب دي.

﴿اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ﴾ داتخويف اخروى دي دَهغه منكرينو دپاره چه فضول سوالات كوى اوداتخويف مشتمل دي په درې (۳) حالاتو باندې. اول ﴿يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ﴾ اوددې مقصد دادې چه ددوئى حشربه په مخونو باندې وى يعنى دوئى به ميدان حشرته په مخونو باندې روان وى اودَدې تائيد په روايت دَابوهريرة رضي الله عنه سره كيږى چه نقل كړيدې امام ترمذى رحمه الله اوامام احمد رحمه الله فرمائى چه: قال رسول الله ﷺ يحشرون الناس يوم القيٰمة ثلاثة اصناف، صنفًا مشاةً وصنفًا ركبانًا وصنفًا يمشيهم على وجوههم قال انّ الذى امشاهم على اقدامهم قادر على ان يمشيهم على وجوههم. نبى پاك ﷺ اوفرمائيلو چه قيامت په ورځ به دَخلكو حشربه درې (۳) قسمه باندې وى، يوقسم به هغه خلك وى چه پيدل به روان وى، دويم قسم به هغه خلك وى چه په سورلئ باندې به روان وى اودريم قسم به هغه خلك وى چه په مخونو باندې به روان وى، نويوكس عرض اوكړو چه يارسول الله! چه په مخونو باندې به څرنګه روان وى؟ نونبى پاك ﷺ ورته اوفرمائيلو چه كوم ذات دوئى په خپو باندې ګرځوى هغه ذات پدې هم قادردې چه دوئى په مخونو باندې روان كړى، اوبعض فرمائى چه (يحشرون) په معنى دَ 'يسحبون' او 'يساقون' سره دې يعنى دوئى به جهنم ته په مخونو باندې راخكلې شى يعنى دوئى به جهنم ته په خوشحالئ سره نه ځى نو فرشتى به ئى راكاږى اوجهنم ته به ئى غورځوى.

﴿اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ اسناددَشر، مكان ته اسنادمجازى دې دَپاره دَمبالغى او 'مكان' نه مرادجهنم دې او ﴿وَاَضَلُّ سَبِيْلًا﴾ كښې هم اسنادمجازى دې اوپه دې دواړو ځايونو كښې اسم تفضيل په خپلى معنٰى سره نه دې بلكه دَمبالغې دَپاره دې اودَدې جملې مقصد دادې چه دَدوئى ددې بيهوده قسم سوالاتو دَپاره باعث اوسبب ددوئى ګمراهى ده په دنياكښې اويامقصد دادې چه په اخرت كښې به دوئى ته پته اولګى چه مونږه خودير خطاء وو.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ﴿۳۵﴾ فَقُلْنَا
او يقيناً وركړې وو موږ موسیٰ ﷺ ته توراة او ګرځولی وو موږ ده سره ورور ده هارون مددګار پس او وئيل موږ
اذْهَبَآ اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿۳۶﴾
چه دواړه لاړشئ هغه قوم ته چه تکذیب ئی کړیدې زموږ د ایاتونو ،نو بیا هلاک کړل موږ دوئ په پوره هلاکولو سره.
وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ؕ
او هلاک موکړو قوم د نوح کله چه تکذیب ئ اوکړو د رسولانو ،موږ غرق کړل هغوئ او اوموګرځول هغوئ خلقو له نشانه د عبرت
وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۷﴾
او تیار کړیدې موږ ظالمانو له عذاب دردناک

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا﴾ دا په دعوی د سورت باندې دلائل نقليه ذکرکیږی سره د تخويفاتونه، نو دا اول دليل نقلی دې د موسیٰ ﷺ او هارون ﷺ نه، خلاصه داده چه موسیٰ ﷺ او هارون ﷺ ته برکات ورکوونکې په صورت د نبوت، کتاب او هلاکت د دشمن کښ موږ وو، يعنی موږ موسیٰ ﷺ ته نبوت او کتاب ورکړې وو او هارون ﷺ د هغه سره معاون پيغمبر جوړ کړې وو، او دوئ فرعون ته د توحيد د دعوت د پاره تللی وو، ليکن هغه او د هغه قوم انکار اوکړو نو موږ هلاک کړو.

﴿فَقُلْنَا اذْهَبَآ إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ﴾ پدې ايت باندې اشکال واردیږی چه حضرت موسیٰ ﷺ او هارون ﷺ د دې خطاب تروخته پورې فرعون او د هغه قوم ته نه وو تللی نو د معجزاتو نه انکار څرنګه متصور شو؟ د معجزاتو نه انکار د فرعونيانو وروستو د ورتللو د موسیٰ ﷺ او هارون ﷺ نه وو، نو بعضو ورته جواب داسې کړيدې چه ﴿بِـَٔايَٰتِنَا﴾ نه مراد دلائل عقليه دی په توحيد باندې چه الله ﷻ د هر انسان په نفس کښ او د هغه خواؤشاؤ ته داسې نشانياني او دلائل پيدا کړيدی چه په هغې کښ سوچ او فکر کولو سره د انسان عقل د الله ﷻ په وجود او وحدانيت باندې ګواهی ورکوی نو په دغه دلائلو کښ سوچ او فکر نه کول، تکذيب

دَدغې دلائلودي،نوفرعونيانوپه دغې عقلي دلائلوكښې سوچ اوفكرنووكړې اوپه شرك كښې مبتلاؤنوځكه اوئيلې شوچه﴿كَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾والمرادبهادلائل التوحيدالمودعة في الانفس والآفاق(روح)اوبعضوورنه داجواب كړيدې چه د﴿بِـَٔايَـٰتِنَا﴾نه مرادمعجزات دَمخكنيوانبياء كرامودی،اودَيوپيغمبرتكذيب مستلزم دې دَټولوانبياء كراموتكذيب لره. نوفرعونيانودَ سابقه پيغمبرانوتكذيب كړې وو،نوځكه دَهغوئ په باره كښې اوئيلې شوچه﴿كَذَّبُوا بِـَٔايَـٰتِنَا﴾ اوبعضوورنه داجواب كړيدې چه دَ﴿بِـَٔايَـٰتِنَا﴾نه مراد تورات اودَحضرت موسىٰ عليه السلام معجزات دی او﴿كَذَّبُوا﴾ماضي په معنىٰ دَمضارع يعنىٰ سيكذبون بآيتنا سره دې،والله اعلم.

﴿فَدَمَّرْنَـٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴾فاء فصيحيه ده اوپه كلام كښې اضماراوتقديردې اصل عبارت داسې دې فذهبااليهم وانذرافكذبوهمافدمّرناهم يعنى دوئى دواړه فرعون اودَهغه قوم ته لاړواوهغه ته ئې ويره وركړه خوهغه تكذيب اوكړونومونږه هلاك كړل په پوره هلاكت سره.﴿وَقَوْمَ نُوحٍ ﴾ دادويم دليل نقلي دې دَنوح عليه السلام نه،يعنى نوح عليه السلام خپل قوم ته دَتوحيددعوت وركړونو هغوئى انكاراوكړونومونږه هلاك كړل اودَراتلونكوخلكودَپاره مودَعبرت نشان اوګرځولو، او﴿وَقَوْمَ نُوحٍ ﴾عطف دې په ضميرمنصوبه دَ﴿فَدَمَّرْنَـٰهُمْ﴾باندې نودَدې وجې نه دې هم منصوب دې.

﴿لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ ﴾هركله چه تكذيب دَيورسول مستلزم دې تكذيب دَټولو رسولانو لره نودَدې وجې نه﴿ٱلرُّسُلَ﴾جمع ذكرشو،ورنه په ظاهركښې دَنوح عليه السلام قوم دَټولو رسولانو تكذيب نه ووكړې بلكه صرف دَنوح عليه السلام تكذيب ئې كړې وو،﴿وَجَعَلْنَـٰهُمْ لِلنَّاسِ ﴾ دَنوح عليه السلام قوم معذّب قوم دې نودَدې وجې نه دَهغوئ هلاكت ورستوټولو راتلونكو خلكو دَپاره دَعبرت نشاني اوګرځولې شوه.

وَّعَادًا وَّثَمُوْدَاْ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ
او هلاك موكړل قوم عاد او قوم ثمود او دكوهي والا او نور خلق په مينځ ددوئ كښې ډير او هريو ته بيان كړي وو مونږ هغه ته
الْاَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ
مثالونه، او ټول هلاك كړل مونږ په پوره هلاكولو سره او يقينًا تير شوى (راغلى) دي دوئ په هغې كلي باندې سدوم چه وروليـ شوې ؤيږي
مَطَرَ السَّوْءِ ۭ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ وَاِذَا رَاَوْكَ
باران ناكاره، ولې نو دوئ نه وينى د غه كلې، بلكه دوئ عقيده نه لرى د دوباره ژوندون او چه كله دوئ تا او وينى
اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ۭ اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿۴۱﴾ اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا
نو نه كوې تا سره (بل څه) بې د ټوقونه، «او وائي آيا دا هغه دې چه رالیږلې دې الله رسول بې شكه نيز دې وو چه مونږ به ئې گمراه كړې وو
عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۭ وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ
د خدايانو خپلو نه كچرته صبر نه وې كړې مونږ په عبادت د هغوئ. او زر ده چه پوهه به شى چه كله اووينى دا كافران عذاب
مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾
چه څوك زيات بې لارې دې

﴿وَعَادًا وَّثَمُوْدَاْ﴾ په دېكښې مزيد (۴) څلور نقلى دلائل ذكر كيږى، عاديانو ته هود عليه السلام او ثموديانو ته صالح عليه السلام راغلې وو او "اصحب الرس" كښې اختلاف دې "رس" په لغت كښې كچه كوهى ته وئيلې كيږى، قرآن كښې يا په حديث صحيح كښې د دې د مصداق په تعين كښې څه واضح حكم او نص نيشته دې نو د دې وجې نه ائمه مفسرينو د اسرائيلى روايات او د قرائنو په بنياد د دې په تعين كښې مختلف اقوال ذكر كړيدى، نو بعض فرمائى چه "اصحب الرس" قوم د شعيب عليه السلام وو چه دوئى به په كوهى باندې جمع كيدلو او هلته به ئې د خپلو بتانو عبادت كولو، كله چه دوئ شعيب عليه السلام خبره اونه منله بلكه هغه ته ئې اذيت او تكليف وركړلو نو الله تعالى په دوئ باندې زلزله راوليستله د كوهى سره خواؤشاؤنه دوئى په خپلو كورونو كښې موجود وو ټول په زمكه كښې ننوتلو او هلاك شو، بعض فرمائى دوئ بقيه د ثموديانو وو، چه آباد

وو په کوهی باندې، بعض فرمائی چه دا په بنی اسرائیل کښې یو قوم وو چې الله ﷻ دوئی ته صفوان بن حنظله مبعوث کړې وو، او دا هغه قوم وو چه په دوئ باندې عنقآء مارغه مسلط وو، د دوئ نه به ئي بچې تختولو، نو حضرت صفوان علیه السلام په دعا سره الله ﷻ هغه مارغه د دنیانه ختم کړو، او دې قوم د دې باوجود په هغه باندې ایمان نه راوړو بلکه هغه ته ئی اذیت او تکلیف ورکړو او هغه ئي شهید کړو، او یو کوهی ته ئي او غورځولو نو الله ﷻ دوئ باندې سخت عذاب راویستلو او دوئ ئي هلاک کړل. او راجح قول په باره د اصحاب الرس کښې دا دې چه دا هغه قوم دې چه په انطاکیه کښې اباد وو او حبیب النجار صاحب د یٰسن ئي شهید کړې وو، او بیائي کوهی ته غورځولې وو، د هغه واقعه به په سورة یٰسن کښې تفصیل سره راشی، ان شآء الله. او دې قول ته اکثر مفسرینو ترجیح ورکړیده.

﴿وَقُرُوْنًا بَيْنَ ذٰلِكَ﴾ ای اهلکنا قرونا، یعنی د قوم نوح، عاد، ثمود او د اصحاب الرس په مینځ کښې ډیر امتونه تیر شویدی چه هغوئ د خپلو پیغمبرانو نافرمانی کړې وه الله ﷻ هغوئ هلاک کړی وو، ﴿وَكُلًّا ضَرَبْنَا﴾ کلاً مفعول به د فعل مقدر د پاره دې چه انذرنا یا حذرنا دې او دا د باب ما اضمر علی شریطة التفسیر نه دې ځکه چه د انذرنا، حذرنا او ضربنا معنیٰ یوه ده، ﴿الْأَمْثَالَ﴾ نه مراد عبرت ناکې قصې دی چې هغه د سترګو کهلاویدو لپاره کافی دی مطلب دا دې چه دوئ ټولو ته مونږ وعظ او نصیحت کړې وو و یره موور کړې وه. ﴿وَكُلًّا تَبَّرْنَا﴾ دلته کښې کلاً مفعول مقدم دې د تبرنا د پاره، یعنی هر یو د دې منکرامت نه مونږ په پوره هلاکت سره هلاک کړو.

﴿وَلَقَدْ أَتَوْا﴾ دا اوم (۷) دلیل نقلی دې په هلاکت د قوم لوط علیه السلام سره، او ﴿أَتَوْا﴾ کښې ضمیر د فاعل راجع دې اهل مکه ته او القریة نه مراد علاقه د سدوم وغیره دی، چه په کښې قوم د لوط علیه السلام اباد وو، اهل مکه به چه کله د تجارت د پاره شام ته تللو نو د سدوم وغیره علاقې به د دوئی په لاره کښې راتللې، د دوئ آمدورفت به په دغه علاقو باندې وو، او د هغوئ په کنډراتو باندې به دوئی تیریدلو، نو الله ﷻ فرمائی چه ﴿أَفَلَمْ يَكُونُوا يَرَوْنَهَا﴾ استفهام تقریری دې یعنی دوئ په دې کنډراتو باندې چه تیریږې نو دوئ دیته ګوری نه او دوئ دا کنډرات نه

وینی، ﴿بَلْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ﴾ دا اضراب دي د ماقبل نه، یعنی بنه ئي وینی او ګوری ئي خو لیکن عبرت ورنه نه اخلی، ځکه چه د دوئی عقیده په دوباره ژوندی کیدلو باندې نیشته دې ﴿وَإِذَا رَأَوْكَ﴾ دا زجر دې په مشرکینو باندې، مشرکینو معاندینو به چه کله حضور ﷺ او کتلو نو استهزاء به ئی پوری کوله ﴿أَهَٰذَا الَّذِي﴾ د دینه مخکښې يقولون مقدر دې او دا جمله د هغې قول مقدر د پاره مقوله ده، اسم اشاره ذکر کول، او د نبی ﷺ نه تعبیر په موصول سره کول د پاره د استصغار دی، ﴿إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا﴾ ان مخففه عن المثقله دې اسم ئې ضمیر شان مقدر دې او لام په ليضلنا کښې لام فارقه دې په مابين د ان شرطيه او ان مخففه کښې، د آیت مقصد دا دې چه کفارو به دا وئیلو کچرې مونږ په دې خپل دین باندې کلك نه وې نو دې پیغمبر دومره کوشش او کړو چه قریب وه چه مونږ ټول ئی د خپل دین نه اړولې وې، نو ﴿لَوْلَا أَن صَبَرْنَا﴾ جواب د لولا محذوف دې چه په هغې باندې دلالت ماقبل جملې کړیدې چه هغه لصرفنا عن عبادتنا دې، ﴿وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ دا تخویف اخروی دې یعنې دوئ خودین ته د ګمراهئ نوم ورکوی او خپلې بې دینئ ته د دین نوم ورکوی نو الله ﷻ فرمائی چه عنقریب دوئ ته به پته اولګی چه کله عذاب او وینی چه په حق باندې څوك دی او ګمراه څوك دی.

أَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ ۚ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ
آیا ته وینی هغه څوك چه نیولې ئې دې خپل معبود خواهش خپل، آیا ته ئی په هغه نګران آیا ګمان کوی ته
أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ
دا چه بیشکه اکثر د دوئ نه آوری یا پوهیږی ندی دوئ مګر په شان د څناورو دی بلکه دوئ د څناورو نه زیات بې لارې دی
سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ
آیا نه دې لیدلې تا قدرت د رب خپل چه څنګه ئی اوګد کړیدې سورې، او کچرته ئی خوښه وې نو ګرځولې به ئی وې

سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾

په ځائ ولاړ بیامونږاوګرځوڼوریه دې سوری دلیل بیاراټول کړومونږداخپل خان ته په راټولوآسانوسره

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾

او الله ﷻ هغه ذات دې چه ګرځولې ئ ده ستاسو لپاره شپه لباس(پرده) اوخوب ئې ګرځولې دې آرام اوګرځولې ده ورځ دګرځیدلو

﴿أَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ﴾ استفهام دپاره دتعجب دې او "الهه" مفعول اول د "اتخذ" دې او "هواه" ورله مفعول ثانی دې اومراد په "هواه" سره "مایهواه" دې یعنی معبودئي دځان دپاره هغه څیزګرځولې دې چه کوم څیزته دده خواهش پیداشي اوتعلق ئي ورسره جوړشي،لکه مشرکین مکه چه دیوبت عبادت به ئي کولوخوچه بل بت به ورته خائسته ښکاره شونوبیابه ئی هغه اول بت پریخودلواودهغه دویم والاعبادت به ئې شروع کړو،اوداحالت دننن صبادخنې قبرپرستواوپیرپرستوخلکوهم دې چه دیو "بابا" قبرته سجده لګوی اوکله دبل "بابا" قبرته،او بعض فرمائی چه مفعول اول د "اتخذ" دپاره "هواه" دې او "الهه" ورله مفعول ثانی مقدم دې او تقدیم دمفعول ثانی په اول باندې دپاره داهتمام شان اودحصردې نواصل کښې عبارت داسې دې "اتخذهواه الهه" یعنی خپل خواهش ئی دځان دپاره خدائی جوړکړیدې،یعنی څۀ چه دده خواهش وي هغه کوی،دخپل نفس هرخواهش پوره کولوکوشش کوی نوداداسې ده لکه ده خپل خواهش خپل معبودګرځولې وې صاحب کشاف فرمائی:من كان فى طاعة الهوىٰ فى دينه يتبعه فى كل مايأتى ويذرلايتبصردليلاً ولايصغى الى برهان فهوعابدهواه،یعنی چاچه دخپل دین بنیاددخپل خواهش اطاعت جوړکړوڅه چه دده خواهش تقاضه وی هغه کارکوی اوڅه چه دده خواهش نه غواړی هغه پریدی،دلیل ته سوچ اوفکرنه کوی اونه دچادلیل اوری نودې دخپل خواهش بنده دې،اوحضرت ابن عباس ؓ نه مروی دی چه خلاف شرع خواهش یوبت دې چه دهغې عبادت کولې کیږي(قرطبی)اودغه شان ذکرپه سورۃ الجاثیه ایت نمبر(۲۳)کښې هم دې.

﴿أَفَأَنتَ تَكُونُ﴾ استفهام انکاری دې یعنی ستاپه ذمه صرف تبلیغ دې ته په دوئی باندې څۀ نګران نه ئی مقررکړې شوې چه ته به دوئی په زبردستئ سره مسلمانان کوې، ﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ

أَكْثَرَهُمْ ﴿يعنى ستا دا خيال دې چه اكثر دې كفار وبه دَالله ﷻ كلام اوستاوعظ اونصيحت به اورى اودَ هغې په غرض اومراد كښې به سوچ اوفكر كوى، ليكن داسې نده دوئى نه ستاخبره په سماع قبول سره اورى اونه ورباندې څه سوچ اوفكر كوى، بلكه ددوئى مثال دَ ځناوروپشان دې، نوپدې ځائى كښې هم استفهام دَپاره دَانكار دې يعنى داګمان مه كوه اوداخيال مه كوه چه دوئى به يادَالله ﷻ كلام واورى اويابه په حق خبرې باندې څه سوچ اوفكراوكړى اواكثرځكه اوئيلې شوچه څنې خلكوددوئى ايمان راوړې وو.

﴿إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ﴾يعنى آلات اوقوىٰ دَادراك ئى شته دې ليكن دَهغې نه فائده نه اخلى، چه قبول سماع ورسره اوكړى اوياسوچ اوتدبيراوكړى لكه څرنګه چه ځناوردى. ﴿بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلاً ﴾يعنى دوئ دَځناورونه هم بدتراوزيات بې وقوفه دى، ځكه چه ځناورمكلف دَاحكام شرعيونه دى اودوئى ته عقل وركړې شويدې اومكلف ګرځولې شويدى اودغه شان ځناوردَخپلې فائدې والاځائ پيژنى اودخپل مالك تابعدارى كوى، اوكفارداسې ندى.

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ ﴾دا پنځم دليل عقلى دې په دعوى دَسورت باندې يعنى تاسودَالله ﷻ قدرت كامله ته اوګورئ چه څرنګه سورې غوړه وى اواوګده وى، كچرته الله ﷻ خوښه وې نوهميشه دَپاره به ئې سورې كړې وې پديشان چه نمربه ئې نه ووپيدا كړې، يابه ئى نمرپه يوځائ باندې اودرولې وې اويابه ئې دَنمرشعاګانې زمكې ته نه وې رارسولې، مرادپه رؤيت سره پدې قول كښې چه﴿أَلَمْ تَرَ ﴾دې رؤيت بصرى دې او﴿إِلَىٰ رَبِّكَ ﴾په حذف دَمضاف سره دې يعنى ' الى صنع ربك' ﴿كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ﴾دَ 'ظل' نه مرادپدې ځائ كښې وخت دَطلوع فجرنه ترطلوع شمس پورې دې اوداوخت دَبهترينواوقاتونه، شماره لې كيږى، اودَدې وجې نه الله ﷻ دَجنت په صفاتوكښې ذكركوى، وظلٍّ ممدودٍ(الواقعة: ۳۰)، اوپه عرف كښې 'ظل' هغه 'سورى' ته وئيلې كيږى چه دَماسپخين يعنى زوال نه وړاندې وى، اودَماسپخين نه پس سورى ته 'فيئ' وئيلې كيږى، امام ابوعبيده رحمه الله نه مروى دى چه 'ظل' هغه سورى ته وئيلې كيږى چه په نمرسره زائله كيږى، لكه دَسهروخت والاسورې شواو 'فيئ' هغې سورى ته وئيلې كيږى چه

په هغې سره نمرزائله کیږی

﴿وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا﴾ یعنی کچرې دَالله ﷻ خوښه شوې وې نو دا سورې په ئی په خپل خائی باندې ساکن کړې وې او په نمرسره به ئی نه وې زائله کړې او بعض فرمائی چه دَسکون نه مراد دادې چه نمر به ئې نوې راخیژولې، ﴿ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ﴾ یعنی نمر راخیژول دلیل دې په پیژندلو دَسوری باندې، ځکه سورې ضد دَنمر دې او مشهور قانون دې چه "الاشیآء تعرف باضدادها" یعنی څیزونه په خپل ضد سره پیژندلې کیږی، ﴿ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا﴾ دا عطف دې په "مدَ الظل" باندې او مقصد دادې چه نمر اراوخیژی نو دا نمر به دمه دمه اوچتیږی نو "سورې" هم په دمه دمه کمیږی حتّی چه استوا وخت راشی او سایه اصلی نه علاوه باقی سورې ختم شی دیته "قبض یسیر" وئیلې کیږی او دَهغې نه پس بیا "فیئ" شروع شی او ﴿إِلَيْنَا﴾ نه جهت دَالله ﷻ نه دې مراد، ځکه چه الله ﷻ دَجسم او جهت نه منزه دې، نو دې وجې نه دا عبارت په حذف دَمجرور سره دې، نو اصل کښې داسې دې "ثمّ قبضنٰه الی الجهة اللتی اردناه" خو هر کله چې دا قبض په محض په قدرت دَالله ﷻ سره دې او دَالله ﷻ نه علاوه بل څوك پدې قبض باندې او دَدې سورې بل طرف ته گرځولو باندې قادر نه دی نو ځکه ﴿إِلَيْنَا﴾ اوئیلې شو.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ﴾ دا شپږم دلیل عقلی دې چه الله ﷻ ستاسو دَفائدې دَپاره شپه پشان دَلباس گرځولیده او خوب ئی ذریعه دَارام پیدا کړیده، او ورځ ئی دگرځیدلو، را گرځیدلو او روزئ تلاش کولو دَپاره پیدا کړیده، شپې ته "لباس" وئیل تشبهًا دی لکه څرنگه لباس دَانسان بدن پټه وی نو دغه شان شپه هم څیزونه پټه وی. ﴿وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا﴾ "سبات" دَسبت نه دې او سبت په اصل کښې وئیلې کیږی پریکولو ته او یا خالی کولو ته، او دَدې وجې نه هفته (خالی) ورځې ته یوم السبت ته وئیلې کیږی چه هغه خالی پاتې شوې وه، الله ﷻ پکښې څهٔ نو و پیدا کړی، او دلته دَسبات نه مراد ارام دې، ځکه چه په خوب سره هم هغه مشاغلو پریخودل راځی کوم چه په حالت دَیقظت کښې کولې کیږی.

وَهُوَ الَّذِیٓ اَرۡسَلَ الرِّیٰحَ بُشۡرًۢا بَیۡنَ یَدَیۡ رَحۡمَتِهٖ ۚ وَاَنۡزَلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ
او الله ﷻ هغه ذات دي چه رالیږی هواګاني زیرې ورکونکی مخکښ دوریدلو دباران رحمت نه اونازلې کړیدی مونږ داسمان نه
مَآءً طَهُوۡرًا ﴿۴۸﴾ لِّنُحۡیِۦَ بِهٖ بَلۡدَةً مَّیۡتًا وَّنُسۡقِیَهٗ مِمَّا خَلَقۡنَاۤ
اوبه ډیرې پاکې.لپاره ددې چه ژوندئ کړوپدې اوبوسره زمکه اوچې اوڅکوؤدغه اوبه پخپلومخلوقاتوباندی
اَنۡعَامًا وَّاَنَاسِیَّ کَثِیۡرًا ﴿۴۹﴾ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنٰهُ بَیۡنَهُمۡ لِیَذَّکَّرُوۡا ۖ
چې څناوردی اوخلق ډیر.اوپه تحقیق سره تقسیم کړې دې مونږ باران په مینځ ددوئ کښ لپاره ددې چه دوئ نصیحت واخلی.
فَاَبٰۤی اَکۡثَرُ النَّاسِ اِلَّا کُفُوۡرًا ﴿۵۰﴾ وَلَوۡ شِئۡنَا لَبَعَثۡنَا
نو نه دې کړې اکثر خلقو (بل څه کار) سوادناشکرئ نه، اوکه خوښه وې زمونږنوليږلې به وې مونږ
فِیۡ کُلِّ قَرۡیَةٍ نَّذِیۡرًا ﴿۵۱﴾ فَلَا تُطِعِ الۡکٰفِرِیۡنَ وَجَاهِدۡهُمۡ بِهٖ جِهَادًا کَبِیۡرًا ﴿۵۲﴾
په هرکلی کښ جداجدایره ونکې پیغمبر.پس ته طاعت مکوه دکافرانواوجهادکوه دوئ سره پدې قرآن جهادلوئ.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِیٓ أَرۡسَلَ ٱلرِّیَٰحَ ﴾دااووم (۷)دلیل عقلی دې یعنی الله ﷻ دباران ورولونه مخکښ هواګاني اوچلوی چه هغه زیرې ورکوونکی وی دباران،اوبیاالله ﷻ داسمان نه پاکې اوبه رااوروی چه په هغې سره مړې زمکې راژوندئ شی اوزرغونی شی اوهغه اوبه انسانان اوڅناور څکی،﴿مَآءً طَهُورًا ﴾ طهور په کلام دعربو کښ ددوه(۲)معانیودپاره استعمالیږی یوه معنٰی صفتی اوبله معنٰی اسمی،نوکچرې دلته ددینه صفتی معنیٰ مرادشی،نوداصفت دې د ماء دپاره اوداتوصیف دماء په طهورسره مبالغې دپاره دې،نومعنیٰ به ئې داوی چه ډیرې پاکې اوبه لکه سورة الدهرکښ الله ﷻ فرمائی چه وسقٰهم ربّهم شراباً طهوراً اودباران اوبوته طهور پدې اعتبارسره وئیلې کیږی چه دادآسمان نه راوریږی اودزمکې داجزاؤد آمیزش نه پاکې وی،هم په اعتبارد مقرسره اوهم په اعتبارد ممرسره،اویاطهورصیغه دمبالغې ده معنیٰ ئې داده چه داسې اوبه چه پاکئ راوستلوکښ کاملې وی،لکه صبور معنیٰ ده ډیر صبر کوونکې،اودې وجې نه بعض مفسرینو دطهورتفسیرکړیدې په طاهر،مطهر،سره یعنی

خپله هم پاکې وی اوبل څیزلره هم پاکه وونکی وی.

اویادَطهورنه معنی اسمی مرادده،چه هغه آلې دَطهارت ته وئیلې کیږی.لکه حدیث کښې دی:التراب طهورالمؤمن،نودَماء طهوراًنه مراددادې چه اوبه آله دَطهارت ده یعنې پدې سره پاکی حاصلیږی.

فائده:امام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله پدې آیت سره استدلال کړیدې چه هغه اوبه چه دَتقرب اویادَازالې دَنجاست حکمیه دَپاره استعمال کړې شی،یعنی ماء مستعمل نودغه اوبه بیاهم دَازالې دَنجاست حکمیه دَپاره استعمالیدې شی یعنی ماء مستعمل سره اودس اوغسل کول جائزدی ځکه چه دلته لفظ دَطهور ذکرشویدې،اودَطهورمعنی ده باربارپاکې راوستونکی لکه قطوع هغې آلې ته وئیلی کیږی چه باربارپریکول کوی.نولهذااوبه به باربارصفائی راوستونکی وی اګرچه مستعملې وی اودَاحنافوپه مسلك باندې په ماء مستعمل سره بیاپاکی حاصلول اواودس یاغسل ورسره کول جائزنه دی،اوجواب ئې دَدې ایت نه داکړیدې چه طهور په وزن دَفعول سره اګرچه صیغه دَمبالغې ده لیکن پدې کښې قانون دادې کچرته فعول دَباب متعدی نه وونوبیابه مبالغه فی العدداوتکرارفائده کوی.لکه قطوع شو،اوکچرې دَباب لازمی نه وو،نوبیابه مبالغه په نفس فعل کښې فائده کوی،او تکرار به پکښې نه وی،نوطهور صیغه دَمبالغې ده دَلازمی نه،نولهذادابه په نفس فعل کښې مبالغه فائده کوی اوتکرارپکښې فائده نه کوې،باقی تفصیل په کتب دَاحادیثواوپه کتب دَفقه کښې ذکردې.

﴿لِّنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً﴾پدیکښې دَباران دَفوائدونه،دوه(۲)فائدې ذکرکیږی (۱)یوه داچه باران دَزمکې دَرازرغونیدلوذریعه اوسبب دې،اودویمه(۲)داچه دَانسانانواودَڅاروودَڅکاك شی دې او﴿بَلْدَةً﴾اګرچه په ظاهرکښې مؤنث دې خومعنیً مذکردې،نوځکه ئې صفت مذکراوړې شو،اوپدې آیت کښې دَباران په فوائدوکښې دَزمکې ژوندې کیدل ئې مقدم کړوپه هغه فوائدوباندې چه څاروی یاورنه انسانان اخلی،ځکه چه حیات دَزمکې سبب دې دَحیات دَڅاروواوانسانانودَپاره،اوبیاڅاروی مقدم کړې شوپه انسانانوباندې ځکه چه اکثراسباب معیشت حصول دَڅاروسره وابسته دی اوبیاپدې آیت کښې ذکردَڅاروواوشواومرغئ اونور وحوش ذکرنشوځکه چه دَانسان عام منافع دَڅاروسره وابسته دی،اوانسان دَدې نسل زیاته

وی.

﴿وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴾ اناسی دَبعضوپه نیزجمع دانسی ده اوبعض فرمائی چه جمع دَ انسان ده لکه سراحین جمع دَ سرحان ده نودا په اصل کښ اناسینٌ وو، نون په یاء سره بدل کړې شو اویاء په یاء کښ مدغم کړې شوه اناسی ورنه جوړشو.

دلته اشکال واردیګی چه څرنګه اوبوځکلوته ټول ځاروی محتاجه دی نودغه شان ټول انسانان هم ورته محتاجه دی نودَ ﴿كَثِيرًا﴾ قید ذکرکولوڅه ضرورت وو؟

نوجواب ورنه دادې چه کثرت په اعتباردَحاجت دباران اوبوته دې یعنی دَباران اوبوته ډیرخلك محتاجه دی اوځکی ئی اوځنی خلك داسې هم شته دې چه دَباران اوبوته نه وی محتاجه اوهغه نه ځکی بلکه دَسمندراوبه دَځان دَپاره صفاکوی اوهغه ځکی،دویم جواب ورنه دادې چه دلته تقدیم اوتاخیردی خلقنا فعل فاعل دی او کثیرا ورله مبدل منه دې او انعامًا او اناسی" ورنه بدل واقع شویدی یعنی دَباران اوبه مونږډیرومخلوقاتوته ورځکوو،چه هغه ځاروی اوانسانان دی.

﴿وَلَقَد صَرَّفْنَهُ بَيْنَهُمْ ﴾ داهم زجردې منکرینوته اوپه صرّفنٰه کښ ضمیرباراجع دې مطر،باران،ته دَآیت مقصددادې چه داباران په مختلف طریقوسره دَدوئی په مینځ کښ ګرځووراګرځوو،په ځنی زمکه باندې باران په یووخت کښ اوشی اوځنې باندې په بل وخت کښ اوشی،په ځنې زمکې باندې کم باران اوشی اوپه ځینوباندې ډیراوشی اودادې دَپاره چه دوئی ورنه نصیحت واخلی،اویادَتصریف باران نه دَباران اوبه مختلفوعلاقوته په مختلفوصورتونوسره رسول مراددی،دَنهرونو،سیندوپه ذریعې سره دَباران اوبه الله ﷻ مختلف علاقوته رسوی،اویاضمیرراجع دې ماقبل مذکورټولودلائلوته،نودَآیت مقصددادې چه په توحیدباندې دلائل مونږپه مختلف اندازسره باربارېیانه وو،دې دَپاره چه دوئی وعظ اونصیحت قبول کړی.

﴿فَأَبَىٰٓ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ ﴾ یعنی اکثرخلك دَالله ﷻ دَنعمتونوناشکری کوی،څوك دَباران راوریدل ستوروته منسوب کوی اوڅوك ئې موسم ته منسوب کوی اودَالله ﷻ قدرت لره

پکښې څه تاثیرنه کړي ﴿وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا﴾ داتسلي ده نبي پاک ﷺ ته اوتشجيع ورکولې کيږي
هغه ته.دآيت مقصددادې چه څرنګه الله ﷻ باران راحمت په مختلفوعلاقوباندې راوروی
نودغه شان کچرته الله ﷻ غوختلې نونبوت چه پشانته دباران دې دابه ئې هم ستاپه زمانه
کښې تقسيم کړې وې اوهرې هرې علاقې ته به ئې جداجداپيغمبرليږلې وولکه څرنګه چه
مخکښې امتونوته الله ﷻ جداجداانبياء کرام ليږلي وو.ليکن الله ﷻ فيصله دااوکړه چه
ستامرتبه بلنده کړی،اوتاته په نوروانبياء کراموباندې فضيلت درکړی.نوستانبوت ئې
ټولومخلوقاتودپاره عام کړواونبوت سلسله ئې په تاباندې ختم کړه.داآيت دليل دې په ختم
نبوت باندې،

﴿فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ﴾ داهم تشجيع ده نبي پاک ﷺ ته.يعنی هرکله چه تاته الله ﷻ
دومره لوئی منصب اوفضيلت درکړوچه ته ئې خاتم النبيين اوګرځولې،نوته دالله ﷻ خصوصی
شکراداکوه اودکفارواطاعت مه کوه،اوکتمان حق مه کوه بلکه پدې قرآن سره دوئی سره
جهادکبيرکوه اوجهادکبيردادې چه دقران دتبليغ اونشرواشاعت دپاره خپل پوره قوت صرف
کړې شي اوسستی پکښې اونکړې شي،نودلته دجهادنه مرادمصطلح جهادندې ځکه چې
داسورت مکی دې لکه صاحب دروح المعانی فرمائی:**الت تعلم ان السورة مكية ولم يشرع في مكة
الجهادبالسيف**.بلکه دجهادنه مرادتبليغ دقرآن اواشاعت ددين دې.

وَهُوَ الَّذِيْ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ ۚ
اوالله ﷻ هغه ذات دې چه يوځائ ئې روان کړيدی دوه دريابونه دايوخوږدې تنده ماتونکې اودابل تريودې سخت
وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ۝ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا ط
اوګرځولې ئ ده په منيځ ددواړوکښې پرده اوبندپوخ.اوالله ﷻ هغه ذات دې چې پيدايې کړو داوبونه انسان
فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا ۝ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
نوګرځولې ئ دې خاوندنسب اوسخرګنئ.اوستارب ښه قادردې.اوعبادت کوی مشرکان ماسوئ دالله ﷻ نه

مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ؕ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا ﴿۵۵﴾

دغه معبودانوچه نه ورته نفع ورکولې شي اونه ضرر.اودې کافرپه نافرمانئ دَرب خپل کښ مددګار(دَشيطان)

﴿وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ﴾داتم(۸) دليل عقلی دې په دعوی دَسورت باندې،يعنی دَاللهﷻ په برکات ورکولوباندې دادليل هم دې چه دوه(۲)قسمه سمندرونه خوږاوتريخ په يوځائ باندې چلوی اودَدوئ په مينځ کښ غيرمحسوسه قدرتی پرده ده چه دَيوسمندرخوند اوذائقه په بل باندې نه غالبه کيږی حالانکه اوبه مائع دی ميلاويدلوسره ئې اختلاط دَيوبل سره راځی،او"مرج"په اصل کښ ازادپريخودلوته وئيلې کيږی لکه عرب وائی"مرجت الدابة"چه کله سورلئ څريدلووالاځائی کښ ازاده پريخودلې شی،دلته ورنه مراد دواړه سمندرونه متصلً جاری کول دی پديشان چه دَيوبل سره التباس اواختلاط نه راځی،﴿هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ﴾داتفصيل دَ"بحرين"دې او"فرات"دَفرت نه دې اودامقلوب دَرفت نه دې اورفت په اصل کښ"کسر"يعنی ماتولوته وئيلې کيږی اوخوږواوبوته ځکه فرات وئيلی کيږی چه پدې سره تنده ماتيږی،اوابن کثيرؒفرمائی چه دَدينه مرادهغه اوبه دی چه جاری وی لکه انهار،عيون،اوسيندونه شواودَ"ملح اجاج"نه مرادهغه اوبه دی چه ولاړې دی اوجاری ندی صرف موجونه اوڅپې پکښ راځی،لکه بحيره عرب،بحرهند اوبحرمحيط وغيره شو.

﴿وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا﴾دَ"برزخ"نه مرادهغه قدرتی مانع اوپرده ده چه په ظاهرکښ په سترګوباندې په نظرنه راځی خويوسمندرپه بل باندې غالب کيدلونه منع کوی.﴿وَحِجْرًا مَّحْجُورًا﴾دامبالغه ده په عدم اختلاط کښ اوداکلمه په اصل کښ کلمه دَتعوذده،چه پناه اغستونکې پدې سره پناه غواړی،ګوياچه هريوسمندردَبل نه پناه غواړی،دلته ورنه مجازا هغه مضبوط مانع مراددې چه دااوبه دَيوبل سره ګډون ته نه پريدی.يعنی باوجوددَدې چه دَدواړوسطح يومعلوميږی خواللهﷻ دَدوئ په مينځ کښ يوداسې حدفاصل،پيداکړيدې چه دَملتقی دَيوجانب نه چه اوبه راواغستلې شی نوهغه به خوږې وی اوبل طرف نه چه بالکل

متصل دي دَهغې نه چه راواغستلې شي نوهغه به ترخې وی اوداپه میلونو. میلونوپورې متصلې روانې وی اودَیوبل سره ئي اختلاط نه راځی، دادَالله ﷻ دَقدرت لوئی دلیل دي

فائده: دَالله ﷻ په هرکارکښې بی شمارحکمتونه وی چه هغه زمونږپه عقل اوفهم کښې نه راځی نودغه شان دوه(۲)سمندرې پیداکول(خوږ، تریخ)پدیکښې هم دالله ﷻ ډیرحکمتونه دی منجمله دَهغې حکمتونونه یوحکمت داهم علماؤذکرکړیدې چه لکه څرنګه انسان ته دَڅکلو دَپاره دَخوږواوبوضرورت وی نودغه شان انسان دَپاره دَصفاماحول هم ضرورت دې. دَخوږو اوبوخاصیت دادې چه دابدبوداره کیږی، کچرته دیته ګنده اوبه لاړی شي یاپکښې حیوان مړشی. نودااوبه بدبونشی ختمولې، بلکه دَهغې ګنده اوبویادَحیوان دَمرداربدلودَوجې نه دااوبه هم بدبوداري شي، اودَترخو(مالګینی)اوبوخاصیت دادې چه داسخاکیږی هم نه، او کچرته ګنده اوبه، یاحیوان پکښې مردارشی، نودَهغې بدبوبهرته نه راځی، نوکچرته تولې اوبه خوږې وې نوانسان ته به په زمکه باندې ژوندتیرول ډیرګران وو، ځکه چه ګنده اوبه به دې خوږواوبوسره میلاویدلې نودابه هم بدبوداري کیدلې اودغه شان کوم ځناوراوحیوانات چه پدیکښې مړه کیدلې نودَهغې به هم سخته بدبوئی بۀ وه نوالله ﷻ دَخپل حکمت بالغه سره ځنی اوبه ترخې پیداکړي چه داټول ګندګئ هغې ته ځی اوهلته کښې ختمیږی، اودَانسانانوماحول صاف، ستهراوي.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ﴾دانهم دلیل عقلی دې یعنی الله ﷻ هغه عظیم قدرت والادې چه انسان ئي دَمنی دَنطفې نه پیداکړیدې اوبیائي پرې داعظیم اولوئي احسان اوکړوچه دَمصاهرت(سخرګنئ)والانی اوګرځولو، نوتخلیق اوسخرګنئ دواړه دَانسان دَپاره لوئی لوئی نعمتونه دی نومعلومه شوه چه برکات ورکونکې ذات صرف الله ﷻ دې.

﴿مِنَ ٱلْمَآءِ﴾غوره قول دادې چه مراددینه نطفه دَمنی ده او"بشراً"نه مراداولاد دَآدم ﷺ دی اوبعض فرمائی چه دَ"ماء"نه مرادمعروفی اوبه دی او﴿بَشَرًا﴾نه مرادآدم ﷺ دې اوچونکه دَآدم ﷺ خاوره په اوبوکښې میلاؤکولونه پس دَآدم ﷺ صورت اوشکل ورنه جوړکړې شو، نواوبهٔ جزء دی دَمادې دَبشرنه اګرچه عنصرغالب پکښې خاوره ده لیکن زیات کرداراودخل پکښې اوبولره دې نوځکه اوئیلې شوچه بشریعنی آدم ﷺ دَاوبونه پیداشویدې.

﴿فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا﴾دادَدوه(۲)لوئ لوئ نعمتونوتذکره ده،نسب هغې رشتي ته اوقرابت ته وئیلی کیږی چه دَپلاریادَموردَطرف نه وی او صهر هغې قرابت ته وئیلې کیږی،چه دَبی بی دَطرف نه وی چه هغې ته سخرګنئ وئیلی کیږی،اودادواړه قرابتونه دَلوئ انعاماتونه دی،﴿نَسَبًا﴾داحاصلیږی په پیدائش سره﴿وَصِهْرًا﴾داحاصلیږی په نکاح سره نونسب دَبقاء دَانسان دَپاره دې اوصهریت دَحفاظت دَنسب دَپاره دې،اوهرکله چه بقاء دَانسان وی نود دنیازینت به قائم وی،اوچه حفاظت دَنسب وی نومعاشره کښ امن،سکون وی، دَپلار، مور،خوراوورورتمیزوی،دَهریوخپل حق متعین وی اوکله چه حفاظت دَنسب ختم شی نودامذکوره امتیازات هم ختم شی اوانسان صرف محض،حیوان شی،خوراك،څکاك اوشهوت پوره کول دَده دَزندګئ مقصداوګرځی اونن صبادکفری قوتونوپوره زورپدې دې چه حفاظت دَنسب ختم شی اودَشریعت دَحدودونه ازاده معاشره جوړه کړې شی چه په هغې کښ دَورور،خورامتیازدَزنانه دَپردې تصورختم کړی،مختلف این،جی،اوزدَفلاحی خدماتوپه جامه کښ دکفری قوتونودامشن مکمل کول غواړی(اللّهم انانعوذبك من الفتن،ماظهر منها ومابطن،آمین ثم آمین).

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾داشکوه بطورزجرده،یعنی دَدومره واضح دلائلو باوجودمشرکین دَشرك فی البرکت قائله دی اوهغه چاته دبرکاتوورکوونکې وائی چه هغوئی نه دوئی ته نفع رسولې شی اونه دَدوئی نه ضرردفع کولې شی نوربه څۀ برکت دوئی ته ورکړی،﴿عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرًا﴾ظهیر یعنی فعیل په معنٰی فاعل یعنی مظاهر سره دې، اومظاهرمعاون اومددګارته وئیلی کیږی،نودآیت معنی داده چه کافردَاللهﷻ دَدین اودَهغه دَپیغمبرﷺپه مقابله کښ دَشیطان معاون اومددګاردې اویا ظهیر په معنیٰ دَذلیل اوسپك سره دې اوداماخوذدې دَ"ظهرت"نه کله چه یوکس طرف ته یادَهغه کارطرف ته توجه ورنکړې شی نوعرب وائی:ظهرت به یاظهرفلان بحاجتی،یعنی فلانې څماحاجت شاته اوغورځولو،اوسورة هود ایت نمبر(۹۲)کښ هم دی چه:واتخذتموه وراء کم ظهریا،اودَدې وجې نه عرب متروك څیزته مظهوروائی،نودآیت مقصددادې چه کوم کس دَاللهﷻ علاوه دَنوروڅیزونوعبادت کوی

حالانکه هغه څیزونه دوئی ته نه په نفع ورکولو باندې قادردي اونه ضرررسولو باندې قادردی نودغه کافربه دَالله ﷻ په دربارکښې ډیرذلیله اوسپك به وی.

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۵۶﴾ قُلْ مَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

اومونږته نه ئ لیږلې مګرزیرې ورکونکې اویره ونکې،ته اوایه دې مشرکانو ته چه نه غوارم ستاسونه پدې قرآن هیڅ اجر

اِلَّا مَنْ شَآءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۵۷﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ

مګرهغه څوك چې خوښه ئ شی داچه ونیسی خپل رب ته لار(نودغه غوارم) اوتوکل کوه په ژوندی ذات باندې چې نه مری

وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًا ﴿۵۸﴾ الَّذِيْ خَلَقَ

اوپاکی وایه سره دَحمددَالله ﷻ نه،اوکافی دي الله ﷻ په ګناهونودبندګانوخپلوخبردار،هغه الله ﷻ چه پیداکړی ئ دی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۛ

آسمانونه اوزمکه اوڅه چې په مینځ دَدې دواړوکښې دی په مقداردشپږوورځوکښې بیائ استوی کړیده په عرش،

اَلرَّحْمٰنُ فَسْـَٔلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿۵۹﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ ۩

الله ﷻ ډیرمهربانه دې نوته سوال کوه دَخبردارذات نه،اوکله چې اوویلې شی دوئ ته سجده اوکړئ رحمان ذات ته

قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿۶۰﴾

نووائی دوئ څه څیزدې رحمان،آیاسجده اوکړوهغه چاته چې ته ئ مونږته امرکوې اوزیاتوی(دغه حکم دسجدې)دوئ ته نفرت

﴿وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا﴾پدې آیت کښې تسلی ده نبی پاك ﷺ ته چې ته مونږپه دوئی باندې چوکیداریانګهبان نه ئ لیږلې ته صرف زیرې ورکوونکې اوویره ورکوونکې ئې نودَدوئی په ایمان نه راوړلوباندې مه پریشانه کیږه،اودغه شان دکفارودَیوسوال جواب هم دې،کفاروبه دَنبی پاك ﷺ نه سوال کولوچې کچرې ته رښتونې پیغمبرئې نوزمونږدَفرمائش مطابق معجزه پیش کړه،ته ولې زمونږدَفرمائش مطابق معجزه نه پیش کوې؟نوجواب ورنه اوشوچې دَنبی دَنبوت مقصددَالله ﷻ دَاحکاماتوتبلیغ اورسول دی،کوم خلك چه دَالله ﷻ احکامات اومنی هغوئی ته زیرې ورکوی اوڅوك چه اونه منی هغه ته یره ورکوی،معجزه

دَهغه په خپل قدرت اواختیارکښ نه وی بلکه الله ﷻ دَخپل حکمت مطابق هرپیغمبرته په خپل دورکښ مناسبه معجزه ورکړیده.

﴿قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ﴾ داتاکیددې په صدق دَنبوت دَنبی پاک ﷺ باندې،یعنی اې پیغمبره!ته دوئی ته دااوایه چې څمادَدعوت اوتبلیغ مقصدستاسونه څه مالی،دنیوی فائده اغستل ندی څه پدې خپل وعظ اونصیحت سره ستاسونه بدله یاچنده نه غواړم،څمامطالبه صرف داده چې تاسودَالله ﷻ دین قبول کړئی.﴿إِلَّا مَن شَآءَ﴾اکثروعلمآؤقول دادې چه دااستثناء منقطعه ده"الاّ"په معنیٰ دَ لکن سره دې،اوجزاء دَمن په اخیرد کلام کښ محذوفه ده چه"فلیفعل"دي اوده﴿أَن يَتَّخِذَ﴾نه مراددَالله ﷻ قربت حاصلول دی په انفاق اوصدقاتو سره، نودآیت مقصددادې چې څه خوستاسونه دَمال یاچندې یادَتنخواه مطالبه نه کوم،البته که څوك الله ﷻ ته قربت حاصلول غواړي په خپل مال سره نوانفاق دې اوکړی اویادَ﴿أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ﴾ نه مرادمطلق هدایت دې اوجزاء په اخیرکښ"فلیتبعنی"مقدره ده نودآیت مقصددادې کچرې څوك غواړی چه الله ﷻ طرف ته صحیح لاره اونیسی یعنی هدایت اومومی نوهغه دې څمااتباع اوکړی اوبعض فرمائی چه استثناء متصله ده اودَ"الاّ"نه ورستوپه کلام کښ حذف دَمضاف دې،نواصل عبارت داسې دې:مااسئلکم علیه من اجرِالاّفعلُ من شآء ان یتّخذ الی ربّه سبیلاًبالایمان،یعنی څه ستاسونه دَاجرت اودَتنخواه مطالبه نه کوم مگرڅمااجرت صرف دَهغه چادکارفائده ده چې ایمان قبول کړی،یعنی څمااجرت څه بل څیزندې بلکه څمااجرت دادې چه تاسوڅمادعوت قبول کړئی اوایمان راوړئی،اودَداسې قسم عباراتوده(۲)مقصدونه وی یواظهاردکمال شفقت وی لکه یوبوډاپلارخپل اولادته وائی چه تاسوخورئی اوڅکئ څماخوراك اوڅکاك بس دادې چه تاسواوخورئی اواوڅکئ،نودغه شان نبی پاك ﷺ هم دوئی ته اونیلوچه څمابله څه فائده نیشته دې سیوادَستاسودَفائدې نه یعنی ستاسوایمان راوړل ستاسوخپله فائده ده خوداسې ده لکه څمافائده،اودویمه فائده ئې نفی بالکلیه دَلالچ وغیره مقصودوی،لکه داقول دَشاعردې:

ولاعیب فیهم غیران نزیلهم   یعاب بنسیان الاحبة والوطن

یعنی پدې قوم کښې بل هیڅ عیب نیشته دې سیوادینه چه ددوئی په میلمه باندې داعیب لری چه هغه خپل ملګری اووطن هیره وی،یعنی خپل میلمه ته دومره محبت ورکړی چه هغه ملیمه خپل نورملګری اووطن هیرکړی،حالانکه داخوعیب ندې خوپه صورت دَاستثناء کښې ذکرکول تاکیدپه نفی دَعیب کښې مقصوددې اوداپه منزله دَتاکیدالمدح بمایشبه الذم نه دي.

﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي ﴾داتسلي ده نبیﷺ ته،یعنی هرکله چه داخبره ثابته شوه چه نفع اوضرررسونکي بل څوك نیشته دې سیوادَاللهﷻ نه اوته په خپل وعظ اونصیحت باندې دَځه اجرت اودَمالی معاوضي مطالبه هم نه کوی نودَدې وجې نه ته دکفاروپه تکالیفواواذیتونوباندې صبرکوه اوپه هغه ذات باندې توکل اوبهروسه کوه چه په حیات حقیقی سره متصف دې،﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِ ﴾دَتسبیح اوتحمیدنه،تسبیح اوتحمیدقولی هم مرادکیدې شي،اوتسبیح عملی،یعنی مونځ ورنه هم مرادکیدې شی اودادواړه انسان ته دَاستقامت سره،سره دَتکلیف نه نجات اوخلاصی هم ورکوی،نوځکه دادواړه دَتوکل نه ورستوذکرکړې شو.

﴿ وَكَفَىٰ بِهِ بِذُنُوبِ ﴾دازجردې منکرینوته اوثمره دَتوکل اوتسبیح وتحمید ذکرکیږی،یعنی اللهﷻ دَدې معاندینوکفارودَجرم نه اوګناه نه بې خبره ندې،اللهﷻ به دوئی ته پوره پوره سزاورکړی،﴿الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ ﴾دالسم(۱۰) دلیل عقلی دې په دعوه دَسورت باندې چه اسمانونه اوزمکې اوهغه ټول څیزونه چه دَدې دواړوپه مینځ کښې دی اللهﷻ دَشپږوورځومدت په اندازې باندې پیداکړیدی اوبیائی پدیکښې تصرف هم په خپل اختیارکښې اغستې دې بل هیڅ چاته ئي ندې حواله کړې نومعلومه شوه چه برکات ورکوونکې هم صرف هغه دې دَدې آیت تشریح په مختلفومواضعوکښې تفصیلاًتیره شویده،سورة اعراف ایت نمبر(۵۴)سورة یونس آیت نمبر(۳)اوسورة الرعدآیت نمبر(۲)کښې کتلې شئ اودغه شان په باره دَاستواء کښې مذاهب هم تفصیلاذکرشویدې اوهلته ذکرشویدې چه استواء کښې تاویلی معنیٰ مرادکول جائزدی غلط ندی بلکه متاخرینوعلماؤتاویل اسلم ګنړلې دې نوتاویل ته

ناجائزوئيل غلط دی ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ﴾ الرحمٰن خبرد مبتداء محذوفی دپاره يعنی هوالرحمن يعنی رحمت اوبرکت ورکوونکې ذات صرف الله ﷻ دې عبادت اوسجده بل چاته نده جائزه سيوادهغه نه.ای هوالرحمٰن الذی لاينبغی السجودوالتعظيم الاله(کبير)او﴿فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ﴾کښې باء يازائده ده لکه رأيت به اسداً،چه داپه اصل کښې رأيت اسداً،دې نوداترکيب هم په اصل کښې فسئله خبيراً دې نومعنی ئي داده چه سوال کوه ته دخبرداره ذات نه،چه الله ﷻ دې اويا باء زائده نده بلکه دتوسل په معنی سره ده اوضميرراجع دې اسم د رحمٰن ته او﴿خَبِيرًا﴾حال واقع شويدې د رحمن نه نومعنیٰ داشوه چه سوال کوه ته په وسيله داسم درحمٰن سره حال داچه خبيرذات دې اويا باء په معنی د عن سره ده.لکه سال سائل بعذاب واقع کښې باء په معنی د عن سره ده ای عن عذاب واقع،اوخبيراًنه مرادهغه څوک دې چه عارف وی په صفاتودرحمت اودبرکت دالله ﷻ باندې،نومعنی ئي داشوه چه دالله ﷻ دصفاتودبرکت اورحمت په باره کښې هغه چاته تپوس اوکړه چه عالم اوخبرداره وی پدې صفاتوباندې چه انبياء کرام دی ياعلماء دی چه وارثان دانبياء کرامودی.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسۡجُدُواْ﴾داشکوه ده په منکرينوباندې،يعنی هرکله چه دوئی ته اوئيلی شی سجده اوکړئی رحمان ذات ته،نودوئی انکاراً اوتعجباًداخبره کوی چه مونږخو رحمٰن نه پيژنو؟رحمان څوک دې؟ اوددوئی داسوال يامبنی ووپه جهالت باندې اويا په تجاهل باندې،که په جهالت باندې مبنی شی نوجهالت ددوئ ياذات د رحمٰن نه وو،يعنی دوئی ذات دالله ﷻ نه پيژندلولکه په بل ځائی کښې الله ﷻ فرمائی وهم يکفرون باالرحمٰن (الرعد:۳۰)اويائی جهالت په تسميه کښې وو،يعنی دوئی ته دالله ﷻ ذات معلوم ووخودهغه دپاره د رحمٰن نوم استعماليدل دوئی ته نه ووعلوم نوځکه ئي تپوس اوکړوچه﴿وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ﴾ اويادا جهالت په عهدکښې ووچه ددوی په معاشره کښې لفظ د رحمٰن به مسيلمة الکذاب ملعون دپاره استعماليدلواوهغه مشهوروو،په نوم د رحمٰن اليمامة سره،نوددې وجې نه دوئی انکار،اوکړواوپوښتنه ئي اوکړه چه رحمٰن څوک دې؟ رحمٰن خوصرف رحمٰن اليمامة

دي اويادد وئی داسوال مبنی ووپه تجاهل باندې.يعنی دوئی به تجاهلاً اوعناداً دَمسمی اوذات دَ"رحمٰن"په باره کښ تپوس کولو،اودیته ترجیح ورکړیده صاحب دَروح المعانی

﴿أَنَسْجُدُ لِمَا تَأْمُرُنَا﴾استفهام دَپاره دَانکاردې يعنی مونږهغه"رحمٰن"ته سجده نه کووکوم ذات ته چه دَسجدې لګولوحکم ته مونږته کوی؟﴿وَزَادَهُمْ نُفُورًا﴾يعنی داحکم په سجده لګولوسره ددوئی نفرت دَدين اوايمان نه نورهم زياته وی.

تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا

برکت ورکونکې هغه الله دې چه پيداکړی ئی دی په آسمان کښ برجونه اوپيداکړې ئی ده پدې اسمان کښ ډيوه(نور)

وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿۶۱﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ

اوسپوږمۍ روښانه اوالله ﷻ هغه ذات دې چه ګرځولې ئ ده شپه اوورځ يوبل پسی راتلونکې لپاره دَهغه چاچې

اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿۶۲﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا

اراده لری چې نصيحت واخلی يااراده لری دَشکرکولو،اوبندګان دَرحمان هغه دی چې ګرځی په زمکه په عاجزئ سره.

وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿۶۳﴾ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا

اوکله چې خبرې کوی دوئ سره جاهلان نوکوی دوئ خبره سمه .اودوئ هغه دی چې شپه تيروی خپل رب ته سجده کونکی

وَّقِيَامًا ﴿۶۴﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا

اواودريدونکی، اودوئ هغه دی چې وائی اې ربه زمونږ واړه وه زمونږنه عذاب دَجهنم، بې شکه عذاب دَجهنم

كَانَ غَرَامًا ﴿۶۵﴾ اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۶۶﴾

عذاب هميشه دې بې شکه جهنم ډيربدځائ دې دَقرارئ اودَاوسيدلو

﴿تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ﴾دَسورت په اخيرکښ اعاده دعوی دَسورت کيږی ،اويولسم(۱۱) اودولسم(۱۲)دليل عقلی ذکرکيږی په دعوه دَسورت باندې،اوبياصفات دَمؤمنانو ذکر کيږی،نودااعاده دَدعوی ده سره دَدولسم(۱۲)دليل عقلی نه يعنی برکات ورکوونکې ذات

صرف الله ﷻ دي چه هغه په اسمان کښ مختلف برجونه پیداکړیدی اونمراوسپوږمئ ‌ډَرنړاوالاپیداکړیدی.او برُوج په اصل کښ لوئی لوئی محلونوته وئیلي کیږی.خودلته ورنه یامراددَزیات غوره قول مطابق.دولس(۱۲)مشهورمنازل دی،اوه(۷)سیاراتودپاره،ځکه چه دامنازل په منزله دلوئی محلاتودی د(۷)اوه سیاراتودپاره چه تفصیل ئی سورة الحجر آیت نمبر(۱۷)اوسورة یونس آیت نمبر(۵)کښ تیرشویدي اویاد برُوج نه نفس محلات اوقصورمراددی چه قریب داسمان کښ واقع دی دپاره دچوکیدارملائکوچه محافظ ملائك په هغې کښ موجودي وی.

﴿وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا﴾ فیها کښ ضمیریاراجع دی برُوج ته اویااسمان ته اود سراج نه مرادنمردي اونمرته سراج وئیل او قمر متصف کول په صفت د نور سره پدیکښ اشاره لطیفه ده چه نمررنړابذاته ده اودسپوږمئ رنړااستفاده ده دَرنړادنمرنه،﴿وَهُوَ الَّذِي﴾ دا آخیری اودولسم دلیل عقلی دي یعنی الله ﷻ شپه،ورځ دَیوبل نائب اویوبل پسي زرزرراتلووالا پیداکړیدی،دي دپاره چی انسان پدیکښ سوچ اوفکراوکړی اودالله ﷻ شکریه اداکړی ﴿خِلْفَةً﴾ نه مرادخلیفه،نائب اودَیوبل قائمقام جوړیدل دی،اودانیابت یاپدي اعتبارسره دي چي یوځی نوبل راځی،شپه لاړه شی،نوورځ راشی اوورځ لاړه شی نوشپه راشی،اویانیابت اوقائمقام پدي اعتبارسره دي چی کوم ورداوعمل په یووخت کښ پاتې شی نوپه بل وخت کښ ئی راګرځولې شی،لکه په حدیث دانس رضی الله عنه کښ دی چی نبی پاك ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیلوچه:یاابنِ الخطّاب لقدانزل الله فیكَ آیةً،وتلاوهوالذی جعل اللّیل والنّهارخلفة، مافاتك من النوافل باللیل فاقضه فِي نهارك ومافاتك من النهارفاقضه فی لیلك.یعنی اي عمر رضی الله عنه الله ﷻ ستاسودَسهولت په باره کښ ایت نازل کړیدي اوبیانبی ﷺ دامذکورآیت تلاوت کړواوبیائی اوفرمائیلوچه کوم نفلی عمل دَشپي ستانه پاتې شی نوهغه دَورځي پوره کوه اوچه دَورځي پاتې شی نودَشپې ئي پوره کوه،اوبعض فرمائی چه﴿ خِلْفَةً ﴾دَمخالفت نه دي یعنی دَیوبل مخالف ئي پیداکړیدی،ورځ دَرنړاوالاده اوشپه دَتیارې والاده،لیکن اوله معنی زیاته غوره ده.

﴿لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ﴾پدیکښ دوه(۲)قرائته دی یوقرائت دَجمهوروديږ چه په تشدید سره ديږ،معنی ئی ده نصیحت قبولول،یعنی دااختلاف اونیابت ديږ دَپاره ديږ چه څوك وعظ اونصیحت قبولواراده لری نوهغه پدیکښ سوچ اوفکراوکړی اووعظ اونصیحت قبول کړی اودلیل اونیسی په وحدانیت اووجوددَالله ﷻ باندې،چې دَدې اختلاف پیداکوونکې تن تنهایوعظیم ذات ديږ،دغه شان ذکرپه سورة ال عمران آیت نمبر(۱۹۰، ۱۹۱)کښ هم ديږ،اودویم قرائت دَبعضوديږ چه یذکرپه تخفیف سره ديږ چه دَذکرنه مشتق ديږ،نومطلب دادې چی دَشپې اوورځې اختلاف دَدې دَپاره ديږ چی څوك دَالله ﷻ دَذکراراده کوی اوپاتې شوې عمل پوره کوی،چی هغه دَپاره سهولت وی اوخپل عمل پوره کړی،ای یذکرالله اوالمنسی فیقضی(مدارك).

﴿أَوْ أَرَادَ شُكُورًا﴾ یعنی په هغه انعاماتوباندې شکراداء کړی کوم چی الله ﷻ پدې شپې اوورځ کښ پیداکړیدی،دَشپې لوئی نعمت داوې چی دَورځې ستړې ستومانه انسان په ارام سره خوب اوکړی،توله ستومانتیائې ختم شی،اودَورځې والالوئی نعمت دادې چی انسان پکښ طلب دَرزق حلال اوکړی،لکه سورة القصص ایت نمبر(۷۳)کښ ذکردی،او اودلته دَمانعة الخلودَپاره ديږ یعنی دَشپې اوورځې دااختلاف دديږ نه خالې کیدل ندی پکار،یادې استدلال اوکړی ددینه په لوئی قدرت اووحدانیت دَالله ﷻ باندې اویادې انعاماتوته نظراوکړی اودَالله ﷻ شکردې اداکړی،نودَدې دواړوحالاتونه دې نه خالې کیږی،اوکه دواړه جمع شونودیربهتردې،

﴿وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ﴾داپه اخیرکښ څوارلس صفات دَمؤمنانوذکرکیږی،دَدې ایاتونو ربط دَماقبل سره دادې چه ماقبل کښ دَدې ذکروو چې دنیاکښ برکاتوورکوونکې ذات الله ﷻ دې نوپدې ایاتونوکښ دَدې ذکرکیږی چه په آخرت کښ هم برکاتوورکوونکې ذات صرف الله ﷻ دې،چه خپلونیکانوبندګانوته به برکات ورکوی اونیکان بندګان څوك دی نودَهغوئ اوصاف ذکرکیږی اودغه شان په ماقبل کښ ذکروو چې "لمن اراد ان یذکر"نوپدې آیاتونوکښ دَنصیحت قبولوونکواوشکراداکوونکوخلکواوصاف بیانیږی.

﴿وَعِبَادُ ٱلرَّحۡمَٰنِ﴾ عبادالرحمن مرکب اضافی مبتداده اوخبرئي په آخیرکښ ذکرکیږی چه﴿أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ﴾دي، اودَدې په مینځ کښ دَنیکانوبندګانوڅوارلس(۱۴)صفات بیانیږی، اوداصفات په دوه(۲)قسمه دی یوصفات تحلیه دی اودویم قسم صفات تخلیه دی، په اول پنځواياتونوکښ یعنی ایت نمبر(۲۷)پورې، صفات تحلیه دی، اوبیاصفات تخلیه دی اوهرکله چه صفات تحلیه مستلزم ووصفات تخلیه لره نوځکه اولاً ذکردَصفات تحلیه اوکړې شواوبیاورپسي تاکیدأذکردَصفات تخلیه کیږی، اواضافت دَ عباد رحمٰن ته دَپاره دَتشریف اوتعظیم دې، اوعبادنه مرادتشریعی اواختیاری عبدیت دی ورنه تکوینی طورباندې هرشئ دَالله ﷻ بنده دې، اوعبدتشریعی هغه څوك دې چه په خپلوعقائدو، افعالو، او خواهشاتوکښ دَالله ﷻ مرضی مطابق وی اوهرقسم عبادت که جانی وی، یامالی وی صرف دَالله ﷻ دَپاره کوی اودیته حق عبادت وئیلې کیږی، ای الذین یعبدونه حق عبادته(کبیر)او داجمله دکفاردَهغې قول په مقابل کښ ذکرشوه چې کله به هغوئی ته اوئیلې شوچه رحمٰن ته سجده اوکړئی نوهغوئ به وئیلوچه: ماالرحمٰن؟ یعنی رحمٰن څوك دې، مونږخوئي نه پیژنو؟ نو دَهغې په مقابلې کښ اوئیلې شو، چې وعبادالرحمٰن الذین، یعنی دَالله ﷻ اودَرحمٰن معرفت دَهغه تشریعی بندګانوته حاصل دې، هغوئی دده عبادت کوی اوڅوك ورسره نه شریکه وی.

﴿ٱلَّذِينَ يَمۡشُونَ عَلَى ٱلۡأَرۡضِ﴾ دااول صفت دې﴿هَوۡنٗا﴾یاصفت دې دَمفعول مطلق محذوف دَپاره نوپه اصل کښ داسې دې، یمشون مشیاهوناً، اویاحال دې دَضمیردَ یمشون نه ای یمشونه هینین او هون په اصل کښ نرم اواسان ته وئیلې کیږی، دلته ورنه مرادسکون اوعاجزی ده یعنی چه ګرځی نوپه سکون اووقاراوعاجزئی سره ګرځی، غروراوتکبرنه کوې ډیررو، اوتکبرانه اندازسره ګرځیدل شرعاًمذموم اوخلاف سنت دی، په حدیث شریف کښ دَنبی پاك ﷺ دګرزیدلوکیفیت داسې بیان کړې شویدې چې حضرت علی ﷜ نه روایت دې فرمائی: کان رسول الله ﷺ اذامشی تکفا کانماینحط من صبب، یعنی حضورﷺتلل به داسې ووچه ګویا چه دَاوچت ځائ نه لاندې ځائ ته څوك کوزیږی اوپه بل روایت کښ دی چې: کانماالارض تطوی له، یعنی ګویاچه زمکه به حضورﷺدَپاره راټولیدله، ابن کثیر ﷫ نقل کړیدی چې حضرت

عمرﷺ یونوجوان اوکتلوچی ډیررو.رو روان وو.حضرت عمرﷺ ورنه تپوس اوکړوچی ته بیماریې؟ هغه ورته اوئیلوچه.نا،څه خوبیمارنه یم نوحضرت عمرﷺدره ورباندې اوچته کړه اوحکم ئې ورته اوکړوچی قوت سره ګرځه،نودَدې نه معلومه شوه چی ډیررو.روتګ بلاضرورته شرعاًمذموم دي اودغه شان ډیرتیزتلل هم شرعاً مذموم دی.صاحب دَروح المعانی په حوالې دَابونعیم سره دَحضرت ابوهریرةﷺ نه اوپه حوالې دَابن النجارسره دَابن عباسﷺ نه حدیث نقل کړیدې فرمائی چه:قال رسول الله ﷺ سرعة المشی تذهب بهاء المؤمن. یعنی ډیرتیزتلل دَمؤمن وقاراوسنجیدګی ختم کوی نودَ'هونا'مطلب داشوچی نه ډیرسست رفتاریې سره تلل پکاردی چی داعلامه دَتکبرده ارنه ډیرتیزتلل پکاردی چی پدې سره وقار،اوسنجیدګی ختمیږی،بلکه معتدل طریقې سره تلل پکاردی،سورة لقمان آیت نمبر(۱۹) کښ دَدینه تعبیرپه'قصد'سره شویدې.

امام رازی رحمه الله دَزیدبن اسلمﷺ نه دَدې تفسیرداسې نقل کړیدې چی:هم الذین لایریدون الفسادفی الارض،یعنی دَدینه مرادهغه خلك دی چی دَهغوئی تلل دَفساددَپاره نوی،دَدې مطلب دادې چی دَمؤمن دَتللواودَرفتارکیفیت هم صحیح وی،یعنی موافق دَسنت وی اومقصددَرفتارئی هم صحیح وی،چاته تکلیف ورکول یانورمعاصی کول دَده دَتللوپه مقاصدوکښ نوی شامل.

﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلۡجَٰهِلُونَ ﴾دادویم صفت دې یعنی چه کله جاهلان دوئی سره مخاطبه کوی اودوئی سره غیرمناسبه رویه استعمالوی،دوئ ته سپکې خبرې اوکنځل کوی نودوئ دَدې جاهلانوسره جهالت نه کوی،بلکه دوئی ورته سلام،وائی،اومرداددَسلام نه یاسلام متارکت دې چی مقصودپه هغې سره مقاطعه اوبراءت کول وی لکه سورة القصص ایت نمبر(۵۵)کښ دی اویادَسلام نه مرادقول سدیدیعنی حقه ویناکول دی،اوقول سدیدیعنی حقه ویناته سلام ځکه وئیلې کیږی چی پدیکښ انسان بل چاته ایذا اوتکلیف رسولونه،اودګناه نه محفوظ وی.

﴿وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ ﴾دادریم صفت دې،هرکله چه ماقبل آیت کښ دَدوئ دورځې تصرفات ذکروو،اوس پدې آیت کښ دَدوئ دَشپې افعالواوتصرفاتوذکردې،یعنې دَالله ﷻ

دَنیکانوبندګانوصفت داهم دي چه شپه په عبادت کښ تیره وی.اومرادپه﴿بِيتُون﴾سره یاټوله شپه اویااکثرحصه دَشپي عبادت کول دی اوبعض فرمائی چه مرادورنه دَتهجدمونځ دي بعض فرمائی چه دَماسخوتن مونځ نه پس دوه،۲رکعات مونځ کول ورنه مراددی اوبعض فرمائی چه پدي کښ دَماسخوتن اوسهارمونځ په جمعي سره کول هم پکښ داخل دی.باقی دَشپي نوافل اوتهجدکول دَهغې فضیلت په ډیرواحادیثوکښ دي چه معروف اومشهوردی.

﴿وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا﴾داخلورم صفت دي یعنی دَالله ﷻ نیکان بنده ګان دَعبادت اواطاعت سره سره دَالله ﷻ دَعذاب نه خوف اویره هم لری اوپه خپل عبادت باندې صرف اعتمادنه کوی بلکه دَالله ﷻ نه دعاګاني غواړی اودَجهنم دَعذاب نه پناه غواړی.اودادعاګاني په مانځه کښ هم غوختلې شی اودَمانځه نه پس هم غوختلې شی.﴿إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا﴾داتعلیل دي دَپناه غوختلودَعذاب جهنم نه او"غرام"شرلازم اوعذاب دائم ته وئیلې کیږی. ﴿إِنَّهَا سَآءَتْ﴾دابل تعلیل ذکرکیږی دَپناه غوختلودَعذاب جهنم نه.چه داجهنم ډیربداوناکاره ځائی دي ځکه ورنه پناه غوختل ضروری دی.اودَدي دواړوایاتونوپه مینځ کښ حرف عطف رانوړې شودَپاره دَدي چه تنبیه راشی چه دادواړه مستقل علتونه دی

وَالَّذِينَ		إِذَآ		أَنفَقُوا		لَمْ		يُسْرِفُوا		وَلَمْ		يَقْتُرُوا	
اودوئ	هغه	دی	چه	کله	خرچ	کوی	مال	نونه	اسراف	کوی	اونه	کموالې	کوی

وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿۶۷﴾ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ
اووی خرچ ددوئ په مینځ ددي کښ برابر،اودوئ هغه دی چه نه راغواړی دَالله سره بل خدائ،اونه قتلوی
النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ
هغه کس چه حرام کړیدي الله ﷻ قتلول دَهغه مګربه حق سره اودوئ زنانه کوی.اوچاچه اوکړو
ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿۶۸﴾

يو ددغو كارونو نه نو اوبه مومنی سزا دهغي

﴿وَالَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا﴾ ماقبل اياتونوكښ عبادت بدنى اوقولى ذكروو .پديكښ دهغه صفاتوذكردي چه تعلق ئې دمال سره دې اودادرې (۳) صفات بيانيږى.اول داچه انفاق كوى،دويم داچه اسراف نه كوى اواسراف وئيلې كيږى خرچ كولودمال ته په غيردطاعت دالله ﷻ اورسول ﷺ كښ يعنى معاصيواوګناهونوكښ خپل مال خرچ كول اګرچه لږاومعمولى غوندې ولې نوى ديته اسراف وئيلې كيږى.

﴿وَلَمْ يَقْتُرُوا﴾ يعنى اقتارنه كوى اقتار وئيلې كيږى بخل كولوته په خرچ كولودمال كښ دپاره داطاعت دالله ﷻ لكه زكوة نه وركول،تبليغ ياجهادكښ خپل مال نه خرچ كول وغيره شو﴿قَوَامًا﴾ قوام په فتحې دقاف اوپه كسرې دقاف سره وئيلى كيږى وسط اوعدل ته،يعنى عبادالرحمن په خپل مالونوكښ نه اسراف كوى چه په معاصيوكښ خرچ كړى اونه بخل كوى چه دينى كارونوكښ هم نه خرچ كوى،بلكه معتدله اووسط لاره ئې اختياركړى وى.﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ﴾ پدې ايت كښ مزيددرې (۳) اوصاف ذكركيږى،اوداصفات تخليه دى.

شان نزول:ددې آيت شان نزول په روايت دبخارى اومسلم كښ داسې ذكرشويدې چه دمشركانوڅه كسان ووچه ډيرقتلونه اوزناګانې ئې كړې وې،نبى پاك ﷺ ته راغلل عرض ئې اوكړوچى كوم دين ته،ته مونږرابلې،داخوډيربهترين دې،خومونږه ډيرګناهونه كړيدى كچرې زمونږداګناهونه معاف كيدى شى نومونږبه ايمان راوړو ،نوالله ﷻ داآياتونه يعنى لايدعون نه تر الامن تاب وامن پورې نازل شو.

﴿لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ﴾ مرادورنه هرقسم عبادت كښ شريك ګرځولونفى ده اوهركله چې شرك په ټولوكښ لوئى ګناه اوجرم دې نوددې وجې نه په صفات تخليه كښ دټولونه،اول ذكرشو ،په روايت دبخارى اومسلم كښ دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مروى دى فرمائى چې:قُلتُ يارسول الله اىُّ الذّنب اكبرعندالله،قال ان تدعولله نِدّاًوهوخلقكَ،قلتُ ثمّ ایُّ؟ قال ان تقتُل ولدَك مخافة ان يَطعم معكَ،قُلتُ ثمّ ایُّ؟قال ان تزنی حليلةَ جارِكَ،فانزل اللهُ تصديقها والذين

لایدعون الخ یعنی حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه ما عرض اوکړوچه یارسول الله د الله په نیزکوم ګناه ډیرلوئ دې،نونبی ﷺ اوفرمائیلوچه ته د الله ﷻ سره شریك جوړکړې حالانکه هغه ته پیدا کړې ئې.ما بیا عرض اوکړوچه بیاکوم ګناه لوئ دې نونبی ﷺ اوفرمائیلوچه ته خپل بچې قتل کړې د دې ویرې نه چه ستاسره به خوراك کوی(د هغه د مالی بوج د وجې نه بچې قتل کړی)ما بیا عرض اوکړوچه بیاکوم ګناه لوئ دې؟نونبی ﷺ اوفرمائیلوچه د خپل ګاونډی د زنانه سره بدکاری اوکړې نو د دې په تصدیق کښ الله ﷻ دا ایت نازل کړو.

فائده:غوره خبره داده چې د دې آیت شان نزول اوله واقعه ده اوپیدې حدیث کښ د دې سوالاتو جواباتو ورکولو په تصدیق کښ د دې آیت نزول وئیل مجازاً اوتوسعاً دی،لکه چه یو سړې غل ته اوائي چه ستا په باره کښ:السارق والسارقة آیت نازل شویدې.

﴿وَلَا يَقْتُلُونَ ٱلنَّفْسَ﴾یعنی چه د کوم نفس قتل الله ﷻ حرام کړیدې نوهغه نه قتل کوی،نو حرم الله په معنی د حرم الله قتلها سره دې،﴿إِلَّا بِٱلْحَقِّ﴾استثناء مفرغه ده اوباسببیه ده نو اصل کلام داسې دې:لایقتلونها بسبب من الاسباب الابسبب الحق،اوسبب حق نه مراد هغه شرعی جرم چه عصمت د نفس ورسره ختمیږی اوموجب د قتل ګرځی اوهغې درې صورتونه دی(۱)ارتدادبعد الاسلام(۲)قتل نفس عمداً(۳)زنابعدالاحصان.

امام رازی ﷫ د دې مذکوره استثناء یوعجیبه نکته بیان کړیده،فرمائی چه د شرعی جرم د وجې نه یونفس قتل کیدل،په حرم الله یعنی مستثنی منه کښ هسې هم داخل نه ووخو بیاهم په صورت د استثناء کښ ذکرکول اوپه استثناء سره خارجول د پاره د تنبیه دی پدې خبره چه مقتضیٰ د قتل حرمت ابدی دې او جوازد قتل د عارض د وجی نه وي،نوبه حرم الله کښ اشاره ده حرمت ابدی ته،اوپه الابالحق کښ اشاره ده حلت عارضی ته(کبیر).

﴿يَلْقَ أَثَامًا﴾داتخویف اخروی دې او اثام جمع د اثم ده،چه ګناه ته وئیلې کیږی،دلته ورنه مراد سزاګانې د ګناهونودی یعنی عقوبات.

يُضَٰعَفْ لَهُ ٱلْعَذَابُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِۦ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ

دوچنده به کړې شی ده ته عذاب په ورځ د قیامت اوهمیشه به وی په هغې کښ ذلیله،مګرچاچې توبه اوباسله

وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ؕ
اوايمان ئ راوړواوعمل ئ اوكړو عمل نيك نودغه كسان بدل به كړي الله ګناهونه ددوئ په نيكوسره
وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۞ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاِنَّهٗ يَتُوْبُ اِلَى اللّٰهِ
اوالله ﷻ بخونكي رحم كونكي دی،اوچاچه توبه اوباسله اوعمل ئی اوكړونيك نوبې شكه دې رجوع كوی الله ته
مَتَابًا ۞ وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ وَاِذَا مَرُّوْا
په ښه رجوع كولوسره،اودوئ هغه دی چه نه حاضريږی مجلس دګناه ته،اوچه كله تيريږی
بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ۞
په عبثو كارونونو تيريږی ورنه ځان ساتونكی

﴿يُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ﴾ داتفصيل دسزاګانودې چې دريې(۳)قسمه سزاګانې به دوئی ته ميلاويږی(۱)جهنم كښ به دو(۲)چندسزاوركولې كيږی(۲)هميشه والاسزابه وی(۳)اهانت والابه وی اوتضعيف دعذاب ياپه اعتباردكميت سره دې چه دشرك اوكفرسره دنوروجرائم سزامثلاًزنا،قتل وغيره سزابه هم ورته ميلاويږی،اوياتضعيف په اعتباردكيفيت سره دې چه تشديدورنه مراددې،خوبهرتقديرداعذاب خاص دې په كفاروپورې،عصاة مؤمنانوته به الله ﷻ داسې سزانه وركوی.

﴿إِلَّا مَن تَابَ﴾ دااستثناء متصله ده دماقبل نه اوبشارت اخروی دې دتوبه كوونكودپاره يعنی كوم كس چه توبه اوباسی اوايمان راوړی اونيك اعمال اوكړی نوهغه ته به سزانه ميلاويږی بلكه دهغه په اكرام كښ به اضافه كيږی،سيئات به ئې په حسناتوسره بدل كړې شی،نودجمهوروپه مسلك دااستثناء متصله ده،ځكه چې دااستثناء په حقيقت كښ دهغه مؤمن نه ده چه اول كافراومشرك وواوورستوايمان قبول كړی،نومستثنٰی منه كفراوشرك دې اومستثنیٰ ورنه فی الحال ايمان دې اويادااستثناء دضميرمستتره دَيلق نه ده اوصاحب دبحرفرمائی چه استثناء منقطعه ده ځكه چه كچرته استثناء متصله وی نومستثنٰی منه كښ تضعيف دعذاب ذكروو،يعنی يُضٰعف له العذاب،نودااستثناء متصلې په صورت كښ به نفی

دتضعیف دعذاب راشی اومعنی به ئی داشی چه الآمن تاب فلایُضٰعف له العذاب اونفی دتضعیف مستلزمه نده نفی دمطلق عذاب لره نومطلب به داشی چه کوم کس دشرک نه توبه اوباسی ایمان راوړی اونیك عمل شروع کړی نوهغه ته به تضعیف دعذاب نه میلاویږی، حالانکه دامطلب اغستل پدې ځائ کښ مناسب ندی، نودې وجې نه غوره خبره داده چه استثناء منقطعه ده دپاره ددې چه نفی دعذاب مطلقه راشی، نومعنی به ئی داشی، لکن من تاب وآمن وعمل صالحًافلایُلقیٰ عذاباًالبتة(بحر)لیکن دجمهورو دطرف نه جواب ممکن دې چه تضعیف دعذاب کچرته په اعتبارد کیفیت سره مرادشی چه تشدیددې نوداد جهنم دعذاب وصف اوخاصیت لازمه دې نودې په انتفاء سره انتفاء دنفس عذاب راځی، اوکچرته دتضعیف نه مرادپه اعتبارد کمیت سره شی چه تضعیف دعذاب په اعتبارد کفراوشرك اوبدواعمالو سره وو، نوپه تاب وآمن سره شرك اوکفر ختم شواوپه عمل صالحًا سره نوربد اعمال ختم شونودتضعیف په انتفاء سره نفس عذاب هم ختم شو. والله اعلم

﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ﴾سیأت اوحسنات عام دی نولهذاتبدیلی هم عامه ده، نوداشامله ده دیته هم چه دبدنوم په ځائ باندې دوئی ته خائسته نوم ورکړې شی، دکافر، په ځائ دده نوم مؤمن اوګرځیدلو دعاصی په ځائ مطیع شو، دغه شان دبدواوصافوپه ځائ دخائسته اوصافوو الااوګرځیدلو، دزانی په ځائی عفیف شو، دغه شان ددوئ بداعمال دتوبې په ذریعی سره وران کړې شی اودهغې په ځائ ورته خائسته اودنیك اعمالوتوفیق ورکړې شی، نودمسلمانانوسره دقتال په ځائ دمشرکینوسره دجهادکولوتوفیق ورکړې شی، نوخلاصه داشوه چې یبدل الله سیآتهم نه مراددادې چې ددوئ بدنومونه الله ﷻ په ښه نومونو سره به بدل کړی، ددوئ بداوصاف به الله ﷻ په ښه اوصافوسره بدل کړی اوددوئ دګناه والاافعال په ځائ به الله ﷻ دوئ ته دنیك اعمالوکولوتوفیق به ورکړی اوددوئ په عملنامه کښ دګناهونوپه ځائ نیك عملونه اولیکلی شی اوابن کثیر رحمه الله فرمائی چې تبدیلئ نه مراددادې چه دوئ په زمانه دجاهلیت اوکفر کښ څومره ګناهونه کړیدی، ایمان راوړلونه پس دهغې ګناهونوپه ځائ نیکئ به اولیکلې شی، اووجه داده چه دایمان راوړلونه پس چې کله هم دوئ ته دجاهلیت والاګناهونه رایادیګی نودوئ ته ندامت اوښپیمانتیامخې ته راځی، اودوئ

تجدید دَتوبې کوی نودَدې وجې نه دَهغوئ دَګناهونو په بدله کښې الله ﷻ نیکیانې ورکوی.

﴿وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا﴾ماقبل کښې دکافراومشرك دَتوبې ذکروونواوس پدې آیت کښې دَمضمون دَتوبې پوره کولودَپاره دَعاصی مؤمن دَتوبې ذکرکیږی.نولهذادَ من نه مرادعاصی مؤمن دې یعنی کوم ګناه ګارمؤمن دګناهونونه،توبه اوباسی اونیك اعمال اوکړی نوالله ﷻ به دَده توبه قبوله کړی اورحم به پرې اوکړی.﴿وَعَمِلَ صَٰلِحًا﴾ عمل صالح شرط دَعدم تلبس بالناردَپاره دې اوشرط دَقبول دَتوبې دَپاره ندې،یعنی دامطلب دَایت ندې کچرته عمل صالح ئې اوکړونوتوبه به ئې قبوله شی اوکه عمل صالح ئې اونکړونوبیابه ئې توبه نوی قبوله،بلکه دَایت مطلب دادې چه الله ﷻ دَانسان توبه هروخت کښې قبلوی که دَتوبې بعدعمل صالح وی اویانوی البته دَجهنم نه دَبچ کیدلودَپاره عمل صالح ضروری دې.

﴿فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ﴾داعلت دې دَجزامقدرې دَپاره،یعنی دَ من تاب دپاره جزامقدره ده چه فلیقبل توبته دې،او﴿فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ﴾علت دې ددغې جزاء مقدرې دَپاره،نومقصددادې چه دَده توبه قبوله کړې شویده ځکه چې ده الله ﷻ طرف ته په اخلاص سره رجوع کړیده اوبعض فرمائی چه الامن تاب کښې دَهغه چادَتوبې ذکروچې دَهغه نه شرك،قتل،زناټول ګناهونه ورنه صادرشوی وو،اوپدې آیت کښې دَهغه چادَتوبې ذکردې چې صرف شرك ورنه شوې وی اونورګناهونه ورنه نوی شوی،او﴿يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابًا﴾نه مراددَمرګ نه پس انعامات دی،دآیت مقصددادې چې کوم کس دَشرك نه توبه اویستله اودَخپل عمل اصلاح ئې اوکړه نودَه په حقیقی طورالله ﷻ ته رجوع اوکړه،اودَمرګ نه پس به دَده الله ﷻ خواته لوئی عزت اواکرام وی په نسبت سره هغه چاته چه شرك سره ئې نوربداعمال هم کړی وی

﴿وَٱلَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ﴾پدې آیت کښې یوولسم(۱۱)اودولسم(۱۲)صفت ذکرکیږی،او لایشهدون یادَ شهود نه دې،په معنٰی دَحاضریدلوسره،او الزور نه مرادهرقسم مجلس دګناه دې،که هغه مجلس دګانواوګډاګانووی،یامجلس دَماتم اودَویرونووی، یامجلس دَفحش خبرواودَزناګانووی،یامجلس دَغیبت اودَبهتانونووی،اویاداسې مجلس چې

په هغې کښې بې پردګی وی،یاهغه لوبې چه پکښې عورات ښکاریږی.لکه نن صباخنې لوبې،چه په هغې کښې لوبې کوونکی صرف دومره ځیزاچولې وی چه په هغې صرف عورت غلیظه پټ وی پتون وغیره ئې ښکاریږی اودغه شان پدیکښې مجالس دَبدعاتوهم داخل دی لکه دَځنې مبتدعینوعرسونه شول،یادَهغوئی والانورمحافل اومجالس شول لکه یولسمه وغیره شو ،اویا"یشهدون"دَشهادت نه دې په معنٰی دګواهی ورکولوسره او"الزور"نه مرادباطله ګواهی ده،که هغه دَعقائدومتعلق وی،لکه الله ﷻ سره شریك جوړول اویادَفروعاتومتعلق وی لکه عبادات یاپه معاملاتوکښې ګواهی ورکول شونومقصددادې چه دَمؤمن صفت دادې چه باطله ګواهی نه ورکوی.

﴿وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ﴾"لغو"نه مرادخلاف شرعه مجالس دی،مقصددادې چه مؤمن خوخلاف شرعه مجلسونوته نه حاضریږی،خوکچرته اتفاقًامؤمن په لاره باندې تیریدلواوخلاف شرعه مجلس ئې اوکتلونوپه هغې کښې شرکت هم نه کوی اوتماشه ئې هم نه کوی بلکه ځان ورنه ساتی اومخ ورنه په بل طرف اړه وی،او"کرامًا"ماخوذدې دَ"اکرم نفسه عنه" نه یعنی خپل ځان دَعیب والاخبرواوکارونونه،پاك ساتل،اواهل لغت وائی چه دَ"کَرُمَ"په صلې کښې چه"عن"راشی نومقصدئې اعراض وی په شرافت سره،نودَ"مرّواکرامًا"مقصددادې چه مؤمن دګناهونووالامجالس قابل نفرت ګنړی البته تکبراوغرورنه کوی چه خپل ځان ډیردینداره اولوئی اوګنړی اودَنوروخلکوتحقیراوکړی.

وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِينَ
اودوئ هغه دی چه کله نصیحت اوکړیشی ورته په آیاتونو دَرب دَدوئ،نو نه پریوځی په هغې کانړه اوړانده، اودوئ هغه دی
يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ
چه وائی ای ربه زمونږ اعطاکړه مونږته دَښځوزمونږنه اودَاولاده زمونږنه یخوالې دَسترګو
وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا
اوګرځوه مونږپرهیزګارانولپاره پیشوا ،دغه کسان بدله به ورکولې شی دوئ ته بنګلې دَجنت په سبب دَدې چه دوئ صبرکړې وو

وَیُلَقَّوْنَ فِیْهَا تَحِیَّةً وَّسَلٰمًا ﴿۷۵﴾ خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ؕ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۷۶﴾

اواچولې کیږی به په دوئ په جنت کښ دعااوسلام همیشه به وی په هغې کښ.خانسته دې داجنت ځائ دقرارئ اواسیدلو.

قُلْ مَا یَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّیْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ

ته اووایه هیڅ باك نه کوی تاسوته په عذاب درکولورب ځما کچرته نوې امدادغوښتل دَ ستاسو دَالله نه سختو کښ

فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ یَكُوْنُ لِزَامًا ﴿۷۷﴾

نویقیناًتاسوتکذیب اوکړونوزر ده چه عذاب لازم شی په تاسو

﴿وَالَّذِیْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا﴾دادیارلسم(۱۳)صفت دې،یعنی دَنیکانوبندګانوصفت دادې چه دَالله ﷻ کلام اوقرآن آیاتونه ښه په پوره توجه سره اوری،په هغې کښ ښه سوچ اوفکرکوی،بغیردَسوچ اوفکرمحض دَتکلف اوریادَپاره په سجده کښ نه پریوځی لکه دَمنافقینو پشان بلکه دآیت په مقصدباندې ښه غوراوفکرکولواودَپوهیدلونه ورستویادَډیرې خوشحالئ دَوجې نه(په آیت دَرحمت کښ)اویادَډیرخوف اوخشیت دَوجې نه(په آیت دَعذاب کښ)په سجدې کښ پریوځی.﴿لَمْ یَخِرُّوْا عَلَیْهَا صُمًّا ﴾دَمشهورقانون مطابق نفی متوجه ده فقط قیدته اواصل کلام ته نده متوجه،نومطلب دادې چه دَصم اوعمیان په حالت کښ نه پریوځی،اوصم کنایه ده دَغفلت نه،او عمیاناً کنایه ده دَعدم تاثیرنه،نومطلب دادې چه مؤمن صم نوی یعنی غفلت کونکې نه وی او عمیان هم نه وی،یعنی داسې هم نه وی چه دَالله ﷻ کلام په ده باندې اثراونکړی اوهرکله چه دَغفلت دَپاره لویه ذریعه کونړوالې دې،نودَدې وجې نه صم کنایه اوګرځولې شوه دَغفلت نه،اودَتاثیر دَظهوردَپاره لوئی ذریعه سترګې دی،ځکه چه په زړه باندې اثراوشی نودَسترګونه اوښکی بې اختیاره روانې شی اوڅوك ئې منع کولی نیشی نودَدې وجې نه عمیان کنایه اوګرځولې شوه دَعدم تاثیرنه.

﴿وَالَّذِیْنَ یَقُوْلُوْنَ ﴾دااخری اوڅوارلسم(۱۴)صفت دې دَعبادالرحمٰن دَپاره،خلاصه ئې داده چه څرنګه عبادالرحمٰن پخپله نیکان وی اوپدې مذکوره صفاتوباندې متصف وی نوهمدغه شان هغوئی سره دَخپل اولاد،ذریت اودَخاندان هم دَدیندارکیدلوسوچ

اوفکروی، اودَهغوئ دَپاره دعاګانې کوی چه اې الله! زمونږبيبيانې اوزمونږاولاد داسې نيکان کړې چه مونږورته اوګورو چه دَهغوئې په ديندارئ موسترګې يخې شی. اومونږدَورع اوتقوی هغې مقام ته اورسوې چه خلك راته اوګوری نوزمونږاقتداء شروع کړی اومونږهغوئ ته فائده اورسوو. ﴿ قُرَّةَ أَعْيُنٍ ﴾ کنايه ده دَسروراوخوشحالئ نه، او قُرَّة مأخوذدې دَ قَر نه وئيلې کيږی يخ والی ته اومشهوره ده چه دَخوشحالئ اوښکی يخې وی اودَغم اوښکی ترمې اوګرمې وی، نوځکه قرة اعين کنايه دَسروراوخوشحالئ نه ګرځی، اوبيادَانسان دَپاره حقيقی اولويه خوشحالی داوی چه دَهغه اولادنيکان، پاکيزه سيرت اوښه اخلاقووالاوی، اوپديکښ اشاره ده چه دَاولاد په ديندارئ باندې خوشحاله کيدل، دَهغوئ دينی تربيت کول اودَهغوئ په بې دينئ باندې خفه کيدل دکمال ايمان علامه ده، اودَهغوئ دَدينی تربيت نه غافله کيدل اودَهغوئ په بې دينی باندې نه خفه کيدل دَنقصان دَايمان علامه ده.

﴿وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾يعنی مونږداسې اوچتواخلاق اوکرداروالا اوديندار جوړ کړې چه خلك مونږته ګوری نورشك راباندې کوی اوزمونږاقتداء کوی، اومقصود پدې دعا سره امامت غوختل ندی اګرچه دَهغې غوختل څه مذموم ندی، بلکه دَموقعې مناسب مطلوب اوممدوح دی ليکن دلته دآيت دَسياق نه معلوميږی چه دادعادَخپل اهل وعيال ته دکمال تقویٰ دَحصول اوکمال ديندارئ دَپاره ده، نوګويامقصوداصلی دکمال تقویٰ دعاکول دی چې دَهغې سره لازم امامت دې، نودَ﴿إِمَامًا﴾مطلب داشوچه مونږاوزمونږذريت داسې اعلی درجې تقویٰ دارجوړکړې چه متقيان خلك دَدين په احکاماتوکښ زمونږاقتداکوی، داتوجيه دَحضرت ابراهيم نخعی رحمه الله اوحضرت مکحول رحمه الله نه منقول ده اوبعض علماء فرمائی چه هرپلاردَخپل اولاددَپاره په منزله دَامام اوپيشواوی، نوچه اولادمتقيان شی نوطبعی طور باندې دې سړی ته دَمتقيانو امامت ميلاؤشونوګويا﴿ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾خپل اولادته دعادَتقوی کول دی، اوبعضِ علمآء فرمائی چه پدې آيت کښ قلب شويدې په اصل کښ داسې دې واجعل المتقين لناامامًا يعنی زمونږدَپاره حاکمان اواماماں متقين اوګرځوی ځکه چه النّاس علی دينِ ملوکهم.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ﴾داخبردي دَمبتدادپاره چه عبادالرحمٰن وو. اودَمبتدااوخبرپه مينځ
کښې اوصاف تحليه اوتخليه ذکرشو. قرطبي رحمه الله فرمائي چه دَدې خلاصه داده چه جنت
الله تعالیٰ کمال تقوی والاته ورکوی اوکمال تقوی دَپاره دامذکوره اوصاف ضروری دی دَدې
اوصافوخلاصه داده، تواضع، حلم، تهجد، خوف الهی، انفاق، ترك اسراف، ترك اقتار، نزاهة عن
الشرك، عفت عن الزنا، اجتناب عن القتل، توبه، احترازعن الکذب. ترك دَلغومجالسو. قبولول
دَمواعظو. تربيت دَاولاد اوتوجه الی الله، اللهم وفقنالماتحب وترضی واجعل الاخرة خيرالنامن
الاولی. ﴿ٱلۡغُرۡفَةَ ﴾ وئيلې کيږی بالاخانې ته، پديکښې اشاره ده چه دَجنت اعلی بنګلې پدې اعلی
صفاتوسره حاصليږی، سورة سبأآيت نمبر(۳۷)کښې غرفات"په جمعې سره وئيلې شويدی. او
دلته الغرفة اوئيلی شو، وجه داده چه هلته کښې مرتب دې په ايمان اواعمال صالحوباندې.
اودَاعمال صالحوپه اعتبارسره خلك متفاوت دی، نوځکه هلته جمع راوړې شوه چه هريوکس
ته دَهغه دَعمل موافق بنګله اوجنت به ميلاؤيږی اودلته مرتب دې په ټولواوصافوکاملو
مذکوروباندې اودَدې اوصافو حاملين په اعتباردَجزاء سره به متفاوت نوی لکه څرنګه چه
پدې اوصافوکښې متفاوت ندی نودَدې وجې نه دلته جمع ذکرنشوه بلکه اسم جنس ذکرشو.

﴿بِمَا صَبَرُواْ ﴾پديکښې اشاره ده چه نفس اتصاف پدې اوصافوباندې ندې معتبربلکه
استقامت سره اتصاف معتبردې، ﴿وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ ﴾فرق په مينځ دَتحية اوسلام کښې دادې
چه تحيه وئيلې کيږی دعاءته په طول عمرسره، او سلام وئيلې کيږی دعادَسلامتياته دَهرقسم
ضرراوتکليف نه، اوداتحيه اوسلام به دَچادَطرف نه وی؟نوپدې کښې اقوال متعددی بعض
فرمائی چه تحيه به دَجانبه دَملائکونه وی او سلام به دَجانبه دَالله تعالیٰ نه وی اوبعض فرمائی
چه تحيه به ددوئی دَيوبل باندې وی اوسلام به دَجانبه دَالله تعالیٰ اوملائکونه وی، اوبعض
فرمائی چه تحيه او سلام يودی، سلام عطف تفسيری دَتحية دې اومقصوددآيت دادې چه په
جنت کښې به دوئ ته اداب شاهی پيش کولې شی، نوداتحيه اوسلام به دَالله تعالیٰ دَطرف نه به هم
وی، دَملائکودَطرف نه به هم وی اوددوئ خپل مينځ کښې به هم وی.
بهرتقديرادعا دَتحيې اودعادَسلامتيا دابه محض يومبارکی اودَسروراوخوشحالئ

دپاره وی اودې دپاره به نوی چه جنت کښې امکان دفنایادتکلیف رسیدلوشته دې،چه په دعاسره دهغې نه امن اوغوختلې شی.﴿خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾یعنی په تنعیماتودجنت کښې به دوئ همیشه دپاره وی نه به ورنه ویستلې کیږی نه به فناء کیږی اونه به مریضان کیږی، ﴿حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا﴾داپه مقابله دوصف دجهنم کښې دې،دجهنم په باره کښې وئیلې شوی وو﴿سَآءَتۡ مُسۡتَقَرّٗا﴾.

﴿قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ﴾پدې آیت کښې تخویف دنیوی دې داآیت دمشکل ایاتونونه دې،دمفسرینوپدیکښې مختلف توجیهات دی،پدې باندې اتفاق دې چه﴿مَا يَعۡبَؤُاْ﴾کښې "ما"یانافیه ده اویااستفهامیه ده اواستفهام انکاری دې نورجعه ددواړواومقصددواړو یودې چې نفی اوانکاردې،اوله توجیه داده چې﴿مَا يَعۡبَؤُاْ﴾په معنی د"مایالی" سره دې او"بکم"کښې باء تعدیة دپاره ده اوخطاب مشرکین مکه ته دې او"ربی"فاعل د"یعباؤا"دې، اوجواب د"لولا"محذوف دې چې "لعذبکم"دې،نودآیت مطلب دادې چه ای پیغمبره!ته اوایه چه خمارب پرواه نه کوی تاسوته دعذاب درکولوکچرته نه وې دعوت دالله ﷻ تاسوته دتوحیدطرف ته،نوخامخابه ئې تاسوته عذاب درکړې وې،اویقیناًتاسوخوتکذیب پس ددعوت نه اوکړونودالله ﷻ عذاب به خامخاپه تاسوپورې اونخلی.پدې صورت کښې دعاء کم کښې اضافت اضافة المصدر الی المفعول دقبیل نه دې.

(۲)دویمه توجیه داده چه"دعا"مصدرمضاف دې فاعل ته،او"دعا"یاپه معنی دعبادت سره دې اویاپه معنی د"ایمانکم"سره دې او"بکم"کښې خطاب مؤمنانوته دې،اوجواب د"لولا"محذوف دې چه"لمااعتدبکم" دې،دآیت مقصددادې پرواه نه کوی خمارب ستاسوکچرته نوې اې مؤمنانوستاسوعبادت یاستاسوایمان هغه لره نوهیڅ پرواه به ئې نوې کړې او﴿فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ﴾کښې خطاب کفاروته دې یعنی اې کفاروتاسوتکذیب اوکړودعبادت نه یاداایمان راوړلونه،نوځکه په تاسوپورې به دالله ﷻ عذاب اونخلی.

(۳)دریمه توجیه داده چه دعاپه معنٰی دَامدادغوختلواوبلنې سره دې او﴿بِکُمْ﴾کښې خطاب مشرکینوته دې اوجواب دَ﴿لَوْلَا ﴾هلکتم یالعذبتم.دې دَایت مقصد دادې چه،کچرته اې کفاروستاسوامدادغوختل په سختیوکښې دَالله ﷻ نه نوې نوتاسوبه ئې هلاك کړې وې﴿فَقَدْ کَذَّبْتُمْ ﴾مقصد دادې چه تاسوبیاهم تکذیب اوکړونوزرده چه عذاب به په تاسوپورې اونخلی

(۴)خلورمه توجیه داده چه دعاکښې اضافت دَمصدرفاعل ته دې،اوخطاب کفاروته دې،او"دعا"په معنیٰ دَغیرالله لره بلنه کول دی،او"بکم"په معنٰی دَ"یعفرتکم"سره دې،نومعنٰی دایت داده چه ځمارب هیڅ پرواه نه کوی ستاسوپه بخنه باندې،کچرته ستاسوبلنه غیرالله لره نوې،المعنٰی مایبالی سبحانه بمغفرتکم لولادعاؤکم معه الهه(روح)او"فقدکذبتم"معنٰی ده چه اې کفاروتاسوتکذیب اوکړاودغیرالله بلنې موشروع کړې نوزرده چه دَدې شرك دَوجې نه به عذاب په تاسوپورې اونخلې

(۵)لیکن دَټولونه بهترین توجیه داده چه "یعبأ"دَ"عبو"نه مشتق دې په معنٰی دَوزن اوحیثیت سره،نودَ"مایعبأ"معنٰی ده چه ستاسوڅه حیثیت نیشته دې او"بکم"کښې خطاب مؤمنانوته دې او"دعا"مصدرمضاف دې فاعل ته په معنٰی دَعبادت اوبلنې سره دې اوجواب دَ"لولا"دَپاره"مایعبأ"مقدم دې او"ربی"فاعل دَ"یعبأ"دې نواصل عبارت داسې دې:قل لولاایمانکم مایعبأبکم ربی،یعنی اې پیغمبره!ته دوئ ته اوایه چې اې مؤمنانوکچرې تاسوایمان نوې راوړې نودَالله ﷻ خواته به ستاسوهیڅ حیثیت نوې ځکه چې دَانسان حیثیت اوقدرعندالله په عبادت اوتقوی سره جوړیږی اوعبادت خومنشأ دَتخلیق دَانسان ده،نوځکه قدراوحیثیت په تقویٰ اوعبادت سره دې او﴿فَقَدْ کَذَّبْتُمْ ﴾کښې خطاب کفاروته دې،یعنی دې کفاروتاسوتکذیب اوکړونوځکه الله ﷻ خواته ستاسوحیثیت نشته دې بلکه دَدې تکذیب دَوجې نه به تاسوپورې دائمی عذاب اونخلی﴿لِزَامًا ﴾نه مراددَغوره قول مطابق جهنم عذاب دې،چه هغه دائمی دې اوابن مسعود ﷺ فرمائی چه ددینه مراددَبدردَورځې عذاب دې چه الله ﷻ دکفاروویا(۷۰)کسان هلاك کړل.

دَسورت دَاول اواخیرپه مینځ کښې ربط دادې چه دَسورت په ابتداء کښې ذکرووچه قرآن الله ﷻ دَحق اوباطل په مینځ کښې دَفرق دَپاره نازل کړيدې اودَواضح فرق باوجود کچرې بیاهم يوکس انکارکوی نودَهغه دَپاره دائمی عذاب دې.

ركوعاتها (۱۱)	سورة الشعراء مكية	آياتها (۲۲۷)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۲۶) وحسب النزول (۴۷)

سورة الشعراء مکي سورت دې سیوا د آخری پنځو ایاتونو نه چه هغه مدنی دی ترتیب نزولی کښ اوه څلویښتم (۴۷) نمبر او ترتیب قرآنی کښ شپږویشتم (۲۶) نمبر سورت دې . د سورة النمل نه مخکښ او د سورة الواقعه نه ورستو نازل شویدې ، زمانه د نزول یئ دور متوسط د مکې معظمې دې ، په (۲۲۷) ایاتونو ، یوولس (۱۱) رکوعاتو ، (۱۲۹۷) کلماتو او په (۵۵۴۲) حروفو باندې مشتمل دې .

ربط اسمی : د دې سورة د ما قبل سورة سره نامی او اسمی ربط دا دې . (۱) چه په سورة الفرقان کښ ذکر وو چه ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى ﴾ یعني برکات ورکوونکې ذات صرف الله ﷻ دې، او ددې د توضیح د پاره الله ﷻ فرقان نازل کړیدې او په سورة الشعرآء کښ ذکر دی چه ﴿ وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ ﴾ یعنی دا کلام شاعرانه کلام ندې ځکه چه مشرك او جاهلان شاعران ګمراه وي . (۲) او دغه شان په سورة الفرقان کښ اشاره ده چه حق ته رسیدلو او هدآیت موندلو دپاره قرآن باندې او د هغې په تعلیماتو باندې عمل کول ضروری دی او خپل زړه د قرآن په نور باندې منور کول ضروری دي . ځکه چه قرآن الله ﷻ د حق او باطل په مینځ کښ فرق د پاره نازل کړیدې او په سورة الشعرآء کښ اشاره ده چه د مشرك او جاهلانو شاعرانو د کلام اتباع کول ندی پکار ځکه چه هغو ئی د شیطاني عمل اتباع کوي .

ربط معنوی : د مضامینو په اعتبار سره د دې سورت د ما قبل سره ربط په څو وجوهاتو سره دې (۱) ما قبل سورة کښ رد د شرك فی البرکت په دلائلو عقلیو تفصیلیو سره وو . او دلائل نقلیه پکښ اجمالاً او مختصراً ذکر شوی وو ، پدې سورة کښ د نفی د شرك فی البرکت د پاره دلائل نقلیه په تفصیل سره ذکر کیږي ، او دلیل عقلی پکښ صرف یو ذکر کیږی .

(۲) د سورة الفرقان په آخیر کښې وئیلې شوی وو چه﴿ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴾یعنی تکذیب کوونکو ته تخویف ذکر شوې وو ، نو د سورة الشعرآء په ابتداء کښې الله ﷻ فرمائی : چه﴿فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنْبَؤُا ﴾ یعنی د دې سورة ابتداء د هغې قومونو په حالاتو سره کیږی چه الله ﷻ د دې مسئلې د منولو د وجې نه هلاك کړی دی . یعنی نمونې د تخویف دپاره بیانیږی .

(۳) ما قبل سورت کښې ذکر وو چه﴿ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴾یعنی تخویف دنیوی وو چه تکذیب کوونکی قومونه به هلاك کړې شی ، نو پدې سورت کښې تسلی ورکولې کیږی نبی پاك ﷺ ته چه﴿لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ ﴾چه کچرې دوئ ایمان نه راوړی او خپل ځانونه ، هلاکت ته غورځوی نو ته د خفګان د وجې نه ځان مه هلاك کوه .

دعوی د سورت : رد شرك فی البرکة او تسلی ده نبی ﷺ ته .

مختصره خلاصه : د دې سورت مختصره خلاصه دا ده چه پدیکښې تمهید والترغیب دې . تسلی ، زجرونه ، تخویفات دنیوی ، یو دلیل عقلی او اوو (۷) پکښې دلائل نقلیه تفصیلیه دی . په آخیر کښې د دوه شبهاتو جوابونه دی –

تفصیلی خلاصه : دا سورت په درې(۳) حصو باندې مشتمل دې اوله حصه کښې آیت نمبر(۱ ، ۲)کښې تمهید او ترغیب دې – په آیت نمبر ۳ ، ۴ کښې تسلی ذکر کیږی نبی پاك ﷺ ته . په آیت نمبر(۵) کښې زجر دې په آیت نمبر(۲) کښې تخویف د نیوی دې،په آیت نمبر (۷)تا(۹)کښې دلیل عقلی دې په توحید باندې . د دینه ورستو بیا دویمه حصه شروع کیږی چه اوه دلائل نقلیه په ضمن د اوه واقعاتو کښې ذکر کیږی . نو د آیت نمبر(۱۰) نه تر(۲۸) پورې اول دلیل نقلی دې په ضمن د واقعې د موسیٰ ؑچی مشتمله ده په څلورو مقاماتو باندې . د آیت نمبر(۲۹)نه تر(۱۰۴) پورې دویم دلیل نقلی په ضمن د واقعې د حضرت ابراهیم ؑ کښې ذکر کیږی . د آیت نمبر(۱۰۵) نه تر(۱۲۲) پورې دریم دلیل نقلی په ضمن د واقعې د حضرت نوح ؑ کښې ذکر کیږی د آیت نمبر(۱۲۳) نه تر(۱۴۰) پورې څلورم دلیل نقلی په ضمن د واقعې د حضرت هود ؑ او د هغه قوم عادیانو کښې ذکر کیږی . د آیت نمبر(۱۴۱) نه تر(۱۵۹) پورې پنځم دلیل عقلی په ضمن د واقعې د قوم صالح ؑ چه ثمودیان دی ذکر کیږی . د آیت نمبر(۱۲۰) نه تر(۱۷۵) پورې شپږم دلیل نقلی په ضمن د

واقعې د قوم لوط ﷺ کښې ذکر کیږی د آیت نمبر (۱۷۲) نه تر (۱۹۱) پورې اوم دلیل نقلی په ضمن د واقعې د حضرت شعیب ﷺ او د هغه قوم کښې ذکر کیږی

او بیا د آیت نمبر (۱۹۲) نه دریمه حصه د سورت شروع کیږی نو په آیت نمبر (۱۹۲) کښې صدق د قرآن او صدق د رسول ﷺ ذکر کیږی په دلیل وحی سره په آیت نمبر (۱۹۳) نه تر (۱۹۵) کښې بل دلیل دې په صدق د قرآن او رسول باندې . د آیت نمبر (۱۹۲) تا (۱۹۹) کښې دلائل نقلیه ذکر کیږی په صدق د قرآن او رسول باندې . په آیت نمبر (۲۰۰) کښې زجر دې . په آیت نمبر (۲۰۱) تا (۲۰۳) کښې تخویف د نیوی دې ، په آیت نمبر (۲۰۴) کښې بیا زجر دې د آیت نمبر (۲۰۵) تا (۲۰۹) پورې زجر دې په استعجال د عذاب باندې . په آیت نمبر (۲۱۰) تا (۲۱۲) ﴿وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيَاطِينُ﴾ کښې جواب د اولې شبهې دې په آیت نمبر (۲۱۳) تا (۲۲۰) پورې ثمره د دلائلو ذکر کیږی په ځلورو طریقو سره په آیت نمبر (۲۲۱) تا (۲۲۳) پورې تتمه د جواب د اولې شبهې ده . په آیت نمبر (۲۲۴) ، (۲۲۵) ، (۲۲۲) کښې د دویمې شبهې جواب دې . چه دوئ به وئیلو چه دا قران شاعرانه کلام دې ، نو د دې جواب په درې طریقو سره ورکولې کیږی . او په آخیری آیت ، آیت نمبر (۱۲۳) کښې د نیکانو شاعرانو صفات ذکر کیږی . او اختتام د سورت په تخویف دنیوی سره کیږی .(تمت)

طٰسٓمٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳﴾

طسم داقرآن آياتونه دكتاب بيانونكى دى آيانه هلاكونكي دځان ئ يدى وجه چه نه كيږى دوئ مؤمنان

اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ﴿۴﴾

كه خوښه شي زمونږنونازل به كړوپدوئ داسمان نه ښنه اوبه ګرځى څټونه ددوئ هغى ته غاړه اېښودونكى

﴿طٰسٓمٓ﴾ غوره خبره دا ده چه دا حروف مقطعات د متشابهاتو نه ، دى معنىٰ او مقصد اګر چه شته دې ليكن مونږ ته ندې معلوم . صرف يو راز دې په مابين د الله ﷻ او رسول ﷺ كښې . بعض مفسرينو د امكان په درجې كښې د دې حروفو تاويلات كړيدى . نو بعضى فرمائى چه (طاء) مخفف دې د (طول) يعنى قدرت نه ، او (س) مخفف دې د (سنا) يعنى نور نه . او (ميم) مخفف دې د (مجد) يعنى بلندى نه ، نو معنىٰ ئې دا ده چه (اقسم بطوله وسنائه ومجده ثلث آيت الكتب الخ) بعضى فرمائى چه (طاء) كنايه ده د شجر طوبى نه ، (سين) كنايه ده د سدرة المنتهى نه او (ميم) كنايه ده د محمد ﷺ نه . نو معنىٰ ئې دا ده چه د شجرة الطوبى نه په لاره د سدرة المنتهى باندې نازل شويدې په محمد ﷺ باندې بعضى فرمائى چه دا نوم دې د اسماؤ د الله ﷻ نه ، نو الله ﷻ په خپل اسم او ذات باندې قسم خورى ، بعضى فرمائى چه اسم دې د اسماؤ د نبى پاك ﷺ نه ، نو الله ﷻ قسم خورى په نوم د محمد ﷺ باندې ، بعضى فرمائى چه نوم دې د سورت او پديكښې مضامينو د سورت ته اشاره ده .

نو كچرې دا د متشابهاتو نه شى لكه چه دا غوره قول دې نو بيا د دې دپاره محل د اعراب نيشته دې ، او كچرته تاويل ئې اوكړې شى نو بيا دا مرفوع دې محلا بنابر ابتدائيت . چه دا مبتدا واقع شويده . او دا ورستو تول ور له خبر دې ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾ دا تمهيد دې او ترغيب الى القران ذكر كيږى او په ﴿تِلْكَ﴾ سره اشاره ده قرآن ته چه نازل كړې شو په منزله د بعد مكانى باندې نو خكه ورته اشاره په (تلك) سره اوشوه . مقصود پدې قسم عبارت سرا الحاق د جزء وى په كل پورې په كمال كښې يعنى چه څرنګه كل كامل او اعلى مرتبې والا معجز كلام دې نو دغه شان

جزء هم اعلی مرتبې او معجز دې او﴿ٱلْمُبِينِ﴾ متعدی او لازمی دوا ړه استعمالیږی نو کچرې لازمی شی نو معنیٰ به ئې شی " المظهر لنفسه" یعنی د دې قرآن او کتاب حالت واضح او ظاهر دې په اعجاز او تبکیت کښې او یا ئې معنیٰ دا ده چه واضح او ظاهر دی مضامین او مقاصد د دې ، مبهم او مشتبه ندی او کچرې متعدی شی نو معنی ئې دا ده " الظاهر لغیره " یعنی ظاهر وو نکې او واضحه کوو نکې دې حق لره د باطل نه ، او په ﴿ٱلْمُبِينِ﴾ کښې اشاره ده چه پدې سورت کښې زیات طور دلائل نقلیه ذکر کیږی.

﴿لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ﴾دا تسلی ده نبی پاك ﷺ ته چه د دومره واضح دلائلو باوجود که بیا هم دوئی ایمان نه راوړی نو ته خپل ځان په دوئی باندې افسوس او غم د وجې نه هلاکت کښې مه اچوه او ﴿لعل﴾ دلته د اشفاق دپاره دې ، یعنی په خپل ځان باندې شفقت اوکړه چه ته خپل ځان اوژنې د وجې د حسرت نه ، په ایمان نه راوړلو د دوئی باندې (کشاف) او مقصود په دې عبارت سره نهی وی ، نو﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ ﴾په معنی د (لا تبخع نفسك) سره دې﴿ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ ﴾دا تعلیل د﴿بٰخع﴾ د پاره دې یعنی د هلاکت دپاره علت د دوئی ایمان نه راوړل دی . دلته سوال واردیږی چه قانون دا دې چه د علت او معلول په مینځ کښې مقارنت فی الزمان ضروری دې او دلته د علت او معلول په مینځ کښې مقارنت نیشته دې . ځکه چه﴿ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ ﴾نه مراد زمانه استقبال ده . یعنی نفی د ایمان د دوئی نه په زمانه مستقبله کښې دې . او د﴿بَٰخِعٌ﴾نه مراد فی الحال هلاکت دې . نو د آیت مقصد دا دې ظاهراً چه دوئی په زمانه راتلونکښې کښې ایمان نه راوړی نو ته خپله ځان فی الحال هلاکت کښې مه اچوه؟ نو عدم ایمان د دوئی په زمانه مستقبله کښې علت د فی الحال هلاکت د پاره ندې صحیح ؟

نو بعضو (۱) جواب کړیدې پدیشان چه (کون) دلته په معنیٰ د (یصح) سره دې . نو د ﴿أَلَّا يَكُونُواْ ﴾معنیٰ ده (لایصح) او نفی د صحت مستلزم دې (امتناع) لره ، نو د﴿ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤْمِنِينَ ﴾ معنیٰ ده (لامتناع ایمانهم) نو امتناع د ایمان علت ګرځیدل صحیح دی د﴿بَٰخِعٌ﴾د پاره.

(۲) او بعضو دا جواب کړيدې چه دلته لفظ د (خيفة) مقدر دې. يعنی (خيفة ان لايکونوا مؤمنين) او چونکه (خوف علی عدم ايمانهم) في الحال موجود دې نو د معلول او علت په مينځ کښې مقارنت شته دې.

(۳) او بعضو دا جواب کړيدې چه دلته (لام اجليه) مقدر دې. او ﴿ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴾ په معنی د (لئلا يؤمنوا) سره دې. يعنی استمرار پکښې مقصود دې نو د آيت مقصد دا دې چه (د دوئی استمرار په عدم ايمان باندې د وجې نه خپل ځان هلاکت کښې مه اچوه) ﴿ إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم ﴾ دا علت د نهی د ﴿بَـٰخِعٌ﴾ د پاره دې. خلاصه ئې دا ده چه ته خپل ځان د دوئی د ايمان نه راوړلو د وجې نه ځکه مه وژنه چه ستا د بعثت نه مقصد دعوت او تبليغ دې او دا فريضه ته په احسن طريقې سره ادا کوې. او مقصود د دوئی زبردستی سره مؤمنان جوړول ندی کچرې مقصود د دوئی ايمان جبراً وې نو مونږ به د اسمان د طرف نه يو داسې نښنه رااليږلې وې چه دوئی به مجبوره شوی وې او ايمان به ئې راوړې وې. ليکن مقصود امتحان اغستل دی. نو د ﴿ءَايَةً ﴾ نه مراد داسې نښنه ده چه مجبوره کول کوی په ايمان باندې لکه رفع د جبل شوه څرنګه چه په بنی اسرائيلو باندې اوچت کړې شوې وو وغيره ﴿ فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ ﴾ اعناق جمع د عنق ده سټ نه وئيلې کيږی دا اسم دې د (ظل) فعل ناقص د پاره. او ﴿خَـٰضِعِينَ﴾ ورله خبر دې. اعتراض وارديږی چه (اعناق) غير ذوی العقول دی او د جمع غير ذوی العقول د پاره صفت يا خبر په صيغې د جمعې مذکر سالم سره نه راځی بلکه واحد مؤنث، يا جمع مؤنث راځی. او دلته خو خبر ﴿خَـٰضِعِينَ﴾ جمع مذکر سالم راغليدې؟. (۱) نو بعضو جواب کړيدې چه اصل کلام داسې دې چه (فظلوا لها خاضعين) نو اسم د (ظل) د پاره ضمير د جمعې مذکر دې چه راجع دې کفارو ته او ﴿خَـٰضِعِينَ﴾ ورته خبر دې. او زيادت د (اعناق) د پاره د بيان د موضع د خضوع دې. ځکه چه کمال خضوع اظهار په هغه وخت کښې کيږی چه کله سټ ښکته کړې شی. نو اسناد د (ظل) اعناق ته مجازاً دې، او حقيقه اسم د ظل د پاره ضمير د جمعې دې نو ﴿خَـٰضِعِينَ﴾ خبر د مسند اليه حقيقةً د پاره دې. نه ده مسند اليه ظاهراً مجازاً د پاره. (۲) دويم جواب دا کړې

شويدي چه (اعناق) نه مراد رؤساء او مشران دی . او په مشر باندې د عنق اطلاق کول په کلام د عربو کښې معروف او مشهور دی لکه وئيلې شي چه جآء ني عنق من الناس ای رؤ ساء منهم (قرطبی) (۳) دريم جواب دا کړې شويدې چه د (عنق) اطلاق په جماعت او ډلې باندې هم کيږي نو داعناق معنٰی ده ډيرې ډلې او هر کله چه د دې دواړو جواباتو په اعتبار سره لفظ د (عنق) ظاهر غير ذوی العقول وو ليکن معنی او حقيقةً د ذوی العقولو نه ، دې نو د دې وجې نه اسناد ورته د صيغې واحدې مؤنث اوکړې شو چه پديکښې رعايت د ظاهر اوکړې شو . او خبر ورله جمع مذکر سالم راوړې شو په هغه کښې رعايت د معنی کړې شويدې . والله اعلم بالصواب .

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُوا عَنْهُ مُعْرِضِينَ ۝۵ فَقَدْ كَذَّبُوا
اونه راځی دوئ ته يونصيحت دطرفه دالله نه، نوې مکروی دوئ دهغی نه اعراض کونکی.يقيناًدوئ تکذيب اوکړو
فَسَيَأْتِيهِمْ أَنْبَٰؤُا مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝۶ أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ
نوزرده چه ورته رابه شی انجامونه دهغه څه چه دوئ په هغی پوری توقی کولې.آيا نه ګوری دوئ زمکی ته
كَمْ أَنْبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ۝۷ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً
چه څومره رازرغون کړيدی مونږ پدی کښې دهرقسمه بوټی فائده مندنه.بې شکه پدی کښې خامخادليل دتوحيددې،
وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝۸ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝۹
خوندی زيات پدوئ کښې ايمان راوړونکی.اوبې شکه رب ستاصرف هغه غالب دې رحم کونکې دې

﴿وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ﴾ دا زجر دې په مسلسل انکار د دوئی باندې د توحيد نه ، او ﴿مِّن ذِكْرٍ﴾ کښې (من) زائده ده او ﴿مِّنَ الرَّحْمٰنِ﴾ کښې ابتدائيه ده . او ﴿ذِكْرٍ﴾ نه مراد وحی ده چه مشتمله وی په وعظ او نصيحت باندې . او ذکر د ﴿مِّنَ الرَّحْمٰنِ﴾ دپاره د کمال قباحت او شناعت د دوئی دې يعنی داسې ذات چه بيحده مهربان او انتهائی کريم دې نو هغه د مقتضی د خپل رحم د وجهې نه دوئی ته

د دوئى د فائدې دپاره وعظ او نصيحت را اوليږى نو دوئى د هغې اعراض كوى او ﴿ مُحۡدَثٍ ﴾ صفت كاشفه دې د ﴿ذِكۡرٍ﴾ او قرآن باندې د محدث اطلاق شويدې د دينه حدوث اصطلاحى ندې مراد بلكه لغوى مراد دې چه محدث په اعتبار د نزول سره دې يعنى په نزول كښې نوې دې او يا د ذكر نه مراد كلام لفظى دې او كلام لفظى متصف كيدې شى په حدوث سره . او يا حدوث په زعم د كفارو كښې مراد دې، تفصيل ئى په سورة الانبياء آيت نمبر (۲) كښې تير شويدې ﴿فَقَدۡ كَذَّبُواْ ﴾ په دې كښې زجر سره د تخويف د نيوى نه ، دې . او (فاء) دپاره د تفريع ده په ماقبل باندې او هر كله چه عمومى طور باندې تكذيب ورستو د اعراض نه ، وى . ځكه چه (اعراض) عدم قبول ته وئيلې كيږى . او عدم قبول دپاره وجه او اعتذار تكذيب وى صراحتاً نو د دې وجې نه تكذيب ورستو د اعراض نه ، ذكر كړې شو او په هغه باندې متفرع كړې شو . امام رازى رحمه الله فرمائى چه په دې كښې ترقى ده ادنى نه ، اعلى ته . او هر اعلى پس د ادنى نه حاصليږى نو د دې وجې نه ادنى په اعلى باندې متفرع كړې شويدې . نو د كفارو حالت به دا وو چه ابتداء كښې به صرف اعراض وو . بيا به ئې د هغې نه انتقال اوكړو نور قبيح حالت ته چه هغه تكذيب دې . ځكه چه اعراض كښې تصريح د چا په تكذيب باندې نوى . او په تكذيب كښې تصريح وي . او بيا به ئې د هغې نه مزيد قبيح حالت ته انتقال اوكړو چه هغه استهزاء ده . او چه كله استهزاء راشى چه دا اخرى اقبح حالت دې نو بيا د الله جل جلاله قهر او غضب نازليږى نو ځكه اوئيلې شو چه ﴿ فَقَدۡ كَذَّبُواْ فَسَيَأۡتِيهِمۡ أَنۢبَٰٓؤُاْ مَا كَانُواْ ﴾ او زمخشرى فرمائى چه غرض او مقصد د دې درې څيزونو ، اعراض ، تكذيب او استهزاء يو دې . يعنى سبب د نزول عذاب ، او دا درې يو بل لره مستلزم دى . ترقى پكښې نشته دې ځكه چه اعراض مستلزم دې ، تكذيب لره ځكه چه كله هم د يوې خبرې نه ، اعراض اوكړې شى نو دا داسې ده لكه چه د هغې د قائل تكذيب اوكړې شو . او چه تكذيب اوكړې شى نو دا داسې ده لكه چه په هغه پورې توقې او د هغه استهزاء اوكړې شوه . نو غرض د ټولو يو دې اګر چه الفاظ مختلف دى . نو د آيت مقصد دا دې چه څرنګه كفار لكه ستا دعوت نه اعراض كوى او ستا تكذيب كوى او په تا پورې توقې كوى نو مونږ به دوئى ته د هغه خلكو حالات او واقعات بيان كړو چه هغوئ د خپلو پيغمبرانو نه اعراض ، د هغوئ تكذيب او په هغوئ پورې ئې توقې كړې وې چه بيا مونږ هلاك كړل .

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ﴾ دا دليل عقلي دې په توحيد باندې . يعنى كچرې دوئ زمكې ته ، د هغې عجائباتو ته او په هغې كښ و نو ، بوټو ته د عبرت په نظر اوګورى نو د وئ عقلونه به دا فيصله اوكړى چه د عبادت لائق صرف يو د الله ﷻ ذات دې . ﴿كَمْ أَنۢبَتْنَا فِيهَا﴾ (كَمْ) خبرى دې او دا جمله په محل د نصب كښ مفعول به د (يَرَوْا) دپاره واقع شويده، او (كَمْ) خبرى افادې د كثرت اصناف لره مستلزم دې او ﴿مِن﴾ د غوره قول مطابق بيانى دې. او ﴿كُلِّ زَوْجٍ﴾ كښ ﴿كُل﴾ د احاطې د افرادو دپاره دې .دا هم مستلزم دې كثرت د افرادو لره. نو د آيت مقصد دا دې چه الله ﷻ انواع د ونو او بوټو ډير پيدا كړيدى او بيا د هرې نوعې دپاره الله ﷻ ډير افراد هم پيدا كړيدى . دا د الله ﷻ د قدرت زبردست دليل دې . چه د يوې زمكې نه مختلف الاصناف اونې بوټى پيدا كړيدى او بيا د هر صنف نه مختلف قسم افراد ئې پيدا كړيدى،او ﴿كَرِيمٍ﴾ وئيلې كيږى په خپل باب كښ هر كثير المنفعت او غوره او مفيد څيز ته ، لكه وئيلې كيږى وجه كريم چه كله مخ حسين او جميل وى. رجل كريم چه كله د يو كس اخلاق بهترين وى كتاب كريم چه كله د كتاب معانى او مقاصد بهترين وى . او دلته نباتات به وصف د كريم سره متصف كولو كښ اشاره ده چه په هر بوټى كښ د الله ﷻ د طرف نه فائده شته دې. اګر چه څنې بوټى داسې دى چه په هغې كښ صرف ظاهراً ضرر وى.

﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ يعنى دلائل خو نور هم ډير دى خو كچرې دوئ صرف دې يو دليل ته هم د عبرت په نظر اوګورى نو د ايما ن راوړلو دپاره دا يو هم كافى دې . او هر كله چه هر بوټى او هر وونه مستقل دليل او نشانى وه نو ځكه (اية) مفرد ذكر شو او﴿ لَآيَةً ﴾ كښ لام زائد دې او قانون دې چه كله اسم د﴿ إِنَّ ﴾ موخر وى په خبر باندې نو په اسم باندې بيا لام زائده داخليږى

﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم﴾ دا اشاره ده سبب عذاب ته .يعنى د دلائلو باوجود دوئ ايمان نه راوړى ځكه چه دعناد د وجې نه دوئ په زړونو باندې مهر جباريت ثبت شويدې﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ ﴾ يعنى

غالب دي په انتقام اغستلو د دښمنانو نه ﴿اَلرَّحِيمُ﴾ يعنی رحم کوونکي دي په مؤمنانو باندې چه د عذاب نه ئې بچ کوی او دغه شان د رحم د وجې نه کافر ته مهلت ورکوی دا جمله پدې سورت کښې اته (۸) ځلې ذکر شويده . او هر واقعا نه ورستو الله ﷻ پدې جملې سره سبب عذاب او هلاکت طرف ته اشاره کوی.

وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰٓى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ⑩ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ⑪
اوکله چه اواز اوکړورب ستا موسیٰ ﷺ ته چه ورشه قوم ظالمانوته يعنی قوم دفرعون ته آيا دوئ نه يريږی دالله دعذاب نه،
قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ⑫ وَيَضِيْقُ صَدْرِيْ وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِيْ
اووئيل موسیٰ اې ربه څه يريږم ددينه چه ځماتکذيب به اوکړی،اوبله داچه تنګيږی سينه ځمااوبله داچه سمه نه چليږی ژبه ځما
فَاَرْسِلْ اِلٰى هٰرُوْنَ ⑬ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْۢبٌ فَاَخَافُ اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ⑭
نو اوليږه وحی هارون ته(د رسالت ورکړه)اوبله داچه ددوئ په ما باندې دعوه د ګناه(دقتل) ده نو څه يريږم چه ما به قتل کړی
قَالَ كَلَّا ۚ فَاذْهَبَا بِاٰيٰتِنَآ اِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُوْنَ ⑮
الله ﷻ ورته اووئيل هرګز تا نشی قتل کولې،نو دواړه لاړشئ په معجزو زمونږ سره بی شکه مونږ تاسو سره يو اوريدونکی يو.

﴿وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ﴾ دا دسورت دويمه حصه ده چی پديکښې دتمهيد او ترغيب نه پس دلائل نقليه تفصيلاً ذکر کيږی . دا اول دليل نقلی دي په واقعې د حضرت موسیٰ ﷺ سره دا واقعه مشتمله ده په ډيرو فوائدو باندې. منجمله د هغې نه دا دی چه د دينه ثابتيږی چه برکات ورکوونکې ذات صرف او صرف الله ﷻ دي . چه دا دعوه د سورة الفرقان وه . دغه شان دا فائده هم پکښې ده چه د دې خبر نه منوونکی الله ﷻ دنيا کښې هلاک کريدی . دغه شان پديکښې تسلی ده نبی پاک ﷺ ته او مؤمنانو ته چه د کفارو آخری انجام هلاکت دې . او مؤمنانو ته الله ﷻ د هلاکت او عذاب نه نجات ورکوی .

دا واقعه مشتمله ده په څلورو مقاماتو باندې نو دې ځائې نه تر آيت نمبر (۱۷) پورې اول مقام دې چه پدې کښې حضرت موسی علیه السلام ته رسالت ، فرعون او د هغه قوم ته دعوت ورکولو حکم د موسیٰ علیه السلام اظهار خوف او د هغې ازله . د حضرت هارون ﷺ په باره کښې دعا قبلیدل او مقصد د رسالت ذکر کیږی.

﴿ وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ ﴾ د ينه مخکښې (اُذْ كُرْ) يا (اُتْلُ) مقدر دې . او (وَإِذْ) معمول د هغې محذوف فعل دپاره دې . او (نداء) وئيلې کيږی هغه بلنې ته چه په حرف (يا) وغيره سره وی . او دا نداء د جانبه د الله ﷻ نه موسی ﷺ ته په هغه وخت کښې شوې وه کله چه موسیٰ ﷺ د خپلې بی بی سره د مدين نه مصر ته روان وو . سخته د تيارې او باران والا شپه وه يخنی هم ډيره وه . بی بی ئې د اولاد په اميد بيماره هم وه . لاره ورنه هم ګډه وډه شوې وه نو دلرې نه ئې د اور په شان يوه شعله اوکتله نو چه هلته ولاړو نو د الله ﷻ د طرف نه ورته نداء اوشوه . او دا نداء څرنګه وه . مرکبه وه د حروفو او اصولو نه او که نوه ؟ تفصيل ئې په سورة طٰه کښې تير شويدې ﴿ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ﴾ (ان) يا مصدريه دې او حرف جر ورسره مقدر دې يعنی ﴿أَنِ ٱئْتِ ﴾ او يا تفسيريه دې په معنی د (ای) سره باقی په حيز د نداء کښې څه وئيلې شوی وو ؟ د هغې تفصيل په سورة طه کښې ذکر وو . او چونکه پدې سورت کښې زيات طور تخويف دې دعوٰی توحيد نه منونکو دپاره نو د دې وجې نه دلته اختصار اوکړې شو او اوئيلې شو چه ﴿ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ﴾

﴿ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ﴾ دا بدل دې د ﴿ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ نه ، او يا ورله عطف بيان دې ﴿ أَلَا يَتَّقُونَ ﴾ دا جمله يا په تقدير د قول سره حال دې د ضمير د ﴿أَنِ ٱئْتِ﴾ نه اي ائتهم قائلاً لهم الا يتقون او استفهام انکاری ، تو بيخی دې ،يعنی د الله ﷻ د عذاب نه ځانونه ولې نه بچ کوئ، د هغه دعذاب نه ، او کفر او شرک نه ، ځان بچ کول پکار دی . او يا استفهام دپاره د تعجب دې . او مقصود پدې سره موسیٰ ﷺ ته تعجب ورکول دی . يعنی دا خلك د الله ﷻ د عذاب نه څرنګه په امن کښې دی چه دشرك او کفر نه ځان نه بچ کوی . او بعض فرمائی چه دا کلام د قبيلې د (الايسجدون) نه ، دې . يعنی دلته په اصل کښې منا دی محذوفه ده،او حروف نداء د فعل سره متصل کړې شويده نو تقدير د کلام داسې دې الا يٰقوم اتقون ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ ﴾ پدې کښې اظهار د خوف دې د جانبه د موسیٰ ﷺ

نه موسیٰ ﷺ ته د فرعون ظلم ، جبر او تکبر معلوم وو . نو د دې وجه نه موسی علیه السلام خوف اظهار اوکړو او مقصود پدې سره طلب دَ نبوت وؤ . دپاره د هارون ﷺ ، چه هارون ﷺ د ده سره ملګرې شی نو د نبوت ذمه داری ، دعوت او تبلیغ به په ښې طریقې سره سر انجام کړی . او مقصود پدې اظهار سره د الله ﷻ حکم پوره کولو کښ توقف اوورستوالې نوو . ﴿ وَيَضِيقُ صَدْرِي ﴾ د جمهورو په نیز ﴿وَيَضِيقُ ﴾ او ﴿ وَلَا يَنطَلِقُ ﴾ دواړه په رفع سره دی او دا عطف دی په خبر د ﴿أَن﴾ باندې نو ګویا چه دا دواړه مستقل علل دی او موسیٰ ﷺ درې علل ذکر کړو . اول دا چه د ظلم او تکبر د وجې نه به ځما تکذیب اوکړی ، دویم دا چه ځما سینه تنګه ده او دریم دا چه دا ځما ژبه صحیح نه چلیږی . او بعض علمآء فرمائی چه دا په نصب سره عطف دی په صلې د ﴿أَن﴾ باندې چه ﴿يُكَذِّبُونِ ﴾ دې ، نو د دې مقصد دا دې چه (خوف) یو دې او متعلق دې په امورو ثلاثو پورې او (ضیق صدر) او عدم انطلاق لسان هر یو عطف په بل باندې د قبیلې د عطف د سبب نه په مسبب باندې ځکه چه تکذیب سبب د تنګوالی د زړه دې او تنګوالې د زړه سبب دې د بندیدلو د ژبې دپاره . یعنی په تکذیب سره زړه ته خفګان اورسی او چونکه د موسیٰ ﷺ په ژبه کښ د وړکوالې نه لکنت وو اګر چه په عامو خبرو کښ د هغې اثر به نه ظاهریدلو . د موسی ﷺ په دعا سره د هغې اثر زائله شوې وو . خو الله ﷻ د خپل حکمت د وجې نه بالکه د هغې اثر نوو زائله کړې ، نو موسیٰ ﷺ ته خطره اوشوه چه د زړه تنګوالی او خفګان په وخت کښ کیدې شی چه دا اثر ظاهر شی نو ځکه ئې او فرمائیلو چی ﴿ وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي ﴾ او دا هم ممکنه ده چه د موسیٰ ﷺ دا کلام په هغه وخت کښ کړې وی چه د ژبې د لکنت ختمیدلو دپاره ئې دعا نوه غوختلې ﴿ فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴾ مرسل یعنی مفعول به د وجې د ظهور نه محذوف دې چه جبرئیل ﷺ دې نو مقصد دا دې چه جبرئیل ﷺ په وحی سره هارون ﷺ ته اولیږه ، چه ځما مددګار او معین شی . ﴿ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنبٌ ﴾ په آیت کښ ذکر د بل خوف دې ، یعنی د فرعون قوم او حکومت په ما باندې د قبطی د قتل والا جرم هم دې داسې نه چه هغوئی ما د تبلیغ فریضې اداء کولو نه مخکښ مخکښ قتل کړی . نو مراد په (ذنب) سره قتل د

قبطي دي. او قبطي اګر چه معصوم او محقون الدم نه وو او دغه شان قتل د هغه قصداً هم نوو نو دي وجې نه د (ذنب) نه مراد ذنب حقيقي ندې بلکه صوري دې. او دې وجه نه په سورة القصص کښې د قبطي قتل کولو نه ورستو حضرت موسیٰ ﷺ طلب مغفرت اوکړو. او يا د ذنب نه مراد د فرعون د قوم په زعم او قانون کښې ذنب او جرم دې. او مقصد دا دې چه د هغوئی په زعم او د هغوئ په قانون کښې ما ګناه او جرم کړيدې. يعنې څه د هغوئ قانوني مجرم يمه. او د دې واقعې تفصيل به په سورة القصص کښې انشاء الله راشي.

﴿ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴾ يعنې څه ويريږم چه دوئی څرنګه ما اوګوري نو قتل به مې کړي او پديکښې اشاره ده چه د ظاهري اسبابو تحت يره کول عيب ندې، او نه د انبياء کرامو د اعلی مرتبې خلاف ده. او بعض فرمائي چه د موسی ﷺ خوف په خپل ذات باندې نوو. بلکه په فوات د مقصد د رسالت باندې وو، چه هغه تبليغ دې. يعنې څما په قتل سره په مقصد د رسالت يعنې تبليغ به فوت شي. نو لهذا هارون ﷺ څما سره ملګرې کړې چه دا عظيم مقصد فوت نشي کچرې هغوئ ما قتل کړي نو هارون ﷺ به ورته تبليغ اوکړي﴿ قَالَ كَلَّا فَاذْهَبَا ﴾پدې آيت کښې ذکر د ازالې د خوف دې د موسیٰ ﷺ په تسلئ سره. او اشاره ده چه د موسیٰ ﷺ دعاګانې قبولې کړې شوې. د تائيد دپاره هارون ﷺ ورسره کړې شو او هغه ته نبوت ورکړې شو او د فرعون د شر نه د حفاظت وعده ورسره هم الله ﷻ اوکړه﴿ كَلَّا ﴾ردعيه دې يعنې فرعون هرګز تاته څه نشي وئيلې، پدې کښې د موسیٰ ﷺ سره د حفاظت وعده ده.

﴿ فَاذْهَبَا بِآيَاتِنَا﴾ پديکښې اشاره ده استجابت د دعا ته په باره د هارون ﷺ کښې يعنې فرعون تا قتل کولې هم نشي او خپل ورور حضرت هارون ﷺ د ځان سر کړه او زمونږ معجزاتو سره فرعون ته لاړشه، او په﴿ فَاذْهَبَا ﴾کښې تغليب د مخاطب دې په غائب باندې ځکه چه هارون ﷺ د دې خطاب په وخت کښې موجود نوو. او (ايات) نه مراد معجزات دی چه تفصيل ئې په سورة اعراف او طه کښې تير شويدې. ﴿ إِنَّا مَعَكُم ﴾دا علت دې د عدم ورع دپاره. يعنې تاسو د فرعون نه مه ويريږئ ځکه چه ستاسو حامي او ناصر يمه په (إِنَّا) کښې ضمير د جمعې متکلم (اسم) د (ان)

دپاره دي او ﴿ مُسْتَمِعُوْن ﴾ورله خبر دي او﴿ مَعَكُم ﴾زائد دي نو مقصد دا دي چه مونږ د دوئى د خبرو اوريدونكى يو ستاسو امداد به كوو . او بعض فرمائى چه﴿ مَعَكُم ﴾زائد ندي بلكه خبر اول دي او﴿ مُسْتَمِعُوْن ﴾خبر ثانى دي . او﴿ مُسْتَمِعُوْن ﴾مجازاً په معنى د ﴿ سامعون ﴾ سره دي ځكه چه ﴿ استماع ﴾ خپله معنى ﴿ اصغاء ﴾ يعنى غوږ ايخودل دى، اودا معنى په الله ﷻ كښ محاله ده نو د دي وجي نه﴿ مُسْتَمِعُوْن ﴾په معنى د ﴿ سامعون ﴾ سره دي . او بيا ﴿ سماع ﴾ كنايه ده د غالب كولو د دوئى نه په فرعون باندي . او په ﴿ مَعَكُم ﴾كښ خطاب موسىٰ ﷺ او هارون ﷺ ته دي او هغوئى اگر چه دوه كسان وو خو نازل كړي شوى وو په منزله د جماعت نو ځكه خطاب ورته په جمعي سره اوكړي شو .

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ اَنْ اَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۷﴾

پس دواړه ورشئ فرعون ته بياورته اووايئ چه مونږه هريورسول دَرب العالمين يو ،چه راپريده مونږسره بنى اسرائيل.

قَالَ اَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا

اوويل‌فرعون موسىٰ ته‌آيامونږستاتربيت نه وؤكړي پخپلوكوروكښ پدې حال كښ چه وركې وى اوتيركړى وؤتامونږسره

مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿۱۸﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِيْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾ قَالَ

دَخپل عمرنه څوكاله اوكړي وؤتاخپل هغه كارچه تاكړي وؤ(قتل)اوته وى دَناشكري كونكونه‌موسىٰ ورته اوويل

فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ

كړي مى وؤهغه كارپه هغه وخت كښ چه وم څه دَناپوهونه، نوځه اوتختيدلم ستاسونه كله چه اويريدم ستاسونه

فَوَهَبَ لِيْ رَبِّيْ حُكْمًا وَّ جَعَلَنِيْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۱﴾

نو راكړه ماته رب ځما پوهه اواوي گرځولم دَ رسولانونه

وَتِلْكَ	نِعْمَةٌ	تَمُنُّهَا	عَلَيَّ	اَنْ	عَبَّدْتَّ	بَنِيٓ	اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۲﴾
اودغه	تربيت	يو احسان وڅه ته ئې زباتوې		په ماچه	تا غلامان		کړي وړبني اسرائيل

﴿ فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ ﴾ فاء د تفريع او د ترتب دپاره ده په ما قبل باندې . او پديکښې دوه مقاصد د نبوت او رسالت ذکر کيږي چه يو ﴿ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾طرف ته دعوت ورکول دی . او دويم مظلوم او محکوم قوم ته د الله ﷻ د بندګئ دپاره ازادی ورکول دی . د آيت مقصد دا دې چه کله تاسو ته رسالت ميلاؤ شو نو اوس تاسو دواړه فوراً د رسالت په مقاصدو باندې عمل اوکړئ . او فرعون ته لاړ شئ اول ورته د الله ﷻ د ربوبيت او د توحيد دعوت ورکړئ . اوبيا ورنه د خپل قوم د ازادئ مطالبه اوکړئ . او دا مقاصد د امت محمديه ﷺ هم دی ځکه چه دروازه دنبوت په نبی پاك ﷺ باندې بنده شويده او د مخکنو انبياء کرامو ذمه داری دې امت ورکړې شوه او د دې وجې نه حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه د ايران بادشاه ته د خپلې زندګئ مقصد پدې الفاظو کښې بيان کړو چه:
کنا بعثنا ان نخرج العباد من عبادة العباد الى عبادة رب العباد.

او لفظ د (رسول) پدې ځائې کښې مفرد ذکر شو او په سورة طه کښې په تثنيې سره ذکر شويدې . وجه دا ده چه " رسول " کله په معنی د رسالت سره وی او کله په معنی د مُرسَل سره وي ،نو په سورة طه کښې چونکه د موسٰی ﷺ او هارون ﷺ د دواړو رسالت مستقلاً بيانول مقصود وو نو هلته په معنی د مرسل سره وو ،نو ځکه هلته تثنيه ذکر شوه او دلته ورنه مراد نفس رسالت دې . او رسالت اسم جنس دې واحد تثنيه ټول پکښې برابر دی نو د دې وجې نه دلته مفرد ذکر شو . او هر کله چه" رسول" دلته په معنی د رسالت سره شو نو دې وجې نه د " رسول " نه مخکښې به لفظ د (ذو) مقدر وی . يعنی (ذو رسالة رب العلمين) ، صاحب د قاموس او امام ابوعبيده وغيره فرمائی چه دوه اوزان فعول ، او فعيل داسې اوزان دی چه پديکښې مذکر او مؤنث ، واحد او جمع ټول برابر دی،نو دوه کسانو دپاره مفرد صيغه هم استعمالولې شی او د تثنيې هم . لکه عرب وائی هذان رسولان،هذان رسولی . او د دې وجې نه په سورة الکهف آيت نمبر (۵۰) کښې وئيلې شويدی (وهم لکم عدو) يعنی په صيغې د واحد سره ذکر شويدا ځکه چه (عدو) په وزن د فعول سره دې .

او بعض فرمائی چه موسی ﷺ او هارون ﷺ په اخوت . رسالت . او شریعت کښی متحد وو نو دوئی په منزله د رسول واحد او شخص واحد او کنړلې شو نو ځکه پدې ځائ کښې صیغه د مفرد ذکر شوه نو د﴿ إِنَّا رَسُولُ ﴾مقصد به دا شی چه ' انا کل واحد منا رسول رب العلمین' او په سورة طه کښې د دواړو رسالت اصالة ذکر کول مقصود وو نو د دې وجې نه هلته تثنيې سره ذکر شو . ﴿ أَنْ أَرْسِلْ ﴾ (ان) تفسیریه دې دا مطالبه د ازادئ د خپل قوم ده او مفسرین فرمائی چه فرعون بنی اسرائیل د څلور سوه کالو نه ، غلامان جوړ کړی وو ، او په دې وخت کښې د بنی اسرائیلو تعداد شپږ لکه اتیازره (۶۸۰۰۰۰) کم وبیش وو.

﴿ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا ﴾ د دې ځائ نه دویم مقام شروع کیږی د آیت نمبر (۳۳) پورې ، پدیکښې د فرعون د موسٰی ﷺ سره بحث مباحثه ، او د فرعون اشکالات په موسٰی ﷺ باندې ذکر کیږی نو پدې آیت کښې دوه اشکالاتو او اعتراضاتو ذکر دې.داول اعتراض بنیاد احسان دې په ژوندندی پریخودلو دَموسی علیه السلام سره.اودویم اعتراض بنیاد احسان دې.په نعمتونو او تحقیر د موسٰی ﷺ داول اعتراض خلاصه دا ده چه مونږ ستا تربیت کړی دې مونږ ته په خپل لاسونو کښې لوئی کړې ئې . حالانکه ته ما د نورو ماشومانو پشان قتل کولې شوې ،نو پکار دا ده چه تا ځما صفت بیانولې، او ځما احسان دې منلې، نو﴿فِينَا ﴾په تقدیر د مضاف سره دې یعنی (فی منازلنا)

﴿ وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ ﴾دا دویم اعتراض دې یعنی ته ما په نازو نعمتونو کښې لوئی کړې ئې . مختلف نعمتونه مې درباندې کړیدې د دینه مخکښې خو تا دا خبرې نه کولې ؟ لکه نن صبا هم ځنې سرکشه ، متکبره خلك د دین طالبانو ته پیغور ورکوی چه زمونږ په ټکړو غټ شوي يئ او اوس زمونږ سره مقابله کوئ﴿ مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴾ مراد ورنه هغه عمر دې چه موسٰی ﷺ د مدین ته تللو نه مخکښې د فرعون په کور کښې تیر کړې وو چه هغه دیرش کاله ، یا اتلس کاله او یا دولس کاله عمر وو﴿ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي﴾دا دریم اعتراض دې ، بنیاد د دې اعتراض قتل نا حق او احسان فراموشی ده . یعنی ته خو ډیر احسان فراموشه ئې ځکه چه تربیت دې مونږه کولو ، احسانات مې درباندې

کولو ، د هغې باوجود تا زمونږ یو ملازم ناحقه قتل کړو ، نو مجرم او احسان فراموش انسان څرنګه پیغمبر جوړیدې شی ؟

نو د ﴿وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي﴾ نه مراد قتل د قطبی دې چه خباز (باورچی) د فرعون وو ، نوم د هغه (فاتور) وو ، او د قتل نه تعبیر په اسم موصول سره کول چه پدیکښې ابهام دې دپاره د تعظیم د جرم دې چه ته خو د ډیر لوئی جرم مرتکب شوې ئې ﴿ وَأَنتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴾غوره قول دا دې چه د کفر نه مراد کفران نعت دې، یعنی ته څما د نعمتونو ناشکری کوونکې ئې ،او یا د کفر نه مراد کفر حقیقی دې خو د دوئی د زعم او ګمان مطابق، یعنی زمونږ د قانون او زمونږ د خیال مطابق ته خو (العیاذبالله) کافر ئې ، او یا دمقصد دا دې چه ته خو هم تر اوسه پورې زمونږ په مذهب باندې وې او (نعوذ بالله) زمونږ سره ته هم کافر وې .

﴿ قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا ﴾دا د موسیٰ ﷺ د طرف نه جوابات ذکر کیږی بطور لف ، نشر غیر مرتب سره نو دا دریم اعتراض جواب دې چه قتل د قبطی سره متعلق وو. او دا جواب ئې په نورو باندې مقدم کړو څکه چه قتل نفس ناحق یوه ډیره لویه دینی بدنامی ده نو دې صفائی ډیره ضروری ده نو د دې وجې نه دا جواب ئې په نورو جوابونو باندې مقدم کړو (بحر) او حضرت مولانا مفتی محمد شفیع ﷫ فرمائی چی داجواب ئ څکه مقدم کړوچه پدې کښې اعتراف دَ خپلی کمزورئ دې، او دا شان پیغمبری دې چه د خپلې کمزورئ دپاره حجتونه نه تالاش کوی بلکه د هغې اعتراف او اقرار کوی . نو دجواب خلاصه دا ده چه موسیٰ ﷺ د قبطی د قتل اقرار اوکړو چه هاؤ ! قبطی ما قتل کړې وو . خو دا قتل عمداً نوو بلکه خطاءًوو او ما اراده د ده د قتل نوه کړې بلکه د ظلم دفع کولو او ادب خودلو دپاره ما ده ته یو سوك (موکه) ورکړې وه او څه نووم پوهه چه دې به په یوې موکې سره مړکیږی ،نو﴿وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ ﴾په معنی د (خاطئين) سره دې یعنی څه د خطاءً قتل کوونکو نه، یم .او یا﴿الضَّالِّينَ﴾په معنیٰ د (جاهلين) سره دې، او عرب (ضلال) په موضوع د جهل او (جهل) په موضوع د ضلال استعماله وی . لکه ووجدك ضآلا فهدى (الضحى) شو (طبرى) نو مطلب دا دې چه ما اګر چه دې قتل کړیدې ، خو څه نا واقفه او ناخبره وم چه حربی کافر په دارالحرب کښې ظلم کوی د هغه قتل ناجائز دې ،په دې باندې ماته څه وحی د الله ﷻ د طرف نه ، نوه راغلې ، او

بعض فرمائی چه (ضالین) په معنیٰ د (ناسین) سره دي، ځکه چه کله کله ضلالت په معنیٰ د نسیان سره راځی لکه سورة البقره کښ (ان تضل احد هما) نو (تضل) په معنیٰ د (تنسی) سره دې نو معنیٰ ئې دا شوه چه دا حرکت ځما نه په هیره سره صادر شویدې. او قصداً ندې. بهر تقدیرکه (ضالین) په معنیٰ د "خاطئین" سره شي او یا ئې معنیٰ د عدم واقفیت او یا نسیان شي دا د نبوت سره منافی ندی. او گناه نده البته لګ غوندې بې احتیاطی د حضرت موسیٰ ﷺ نه اوشوه چه دا خلاف اولی کار وو او د مقربین په حق کښ صورتاً او مجازاً گناه غوندې متصوره کیږی ځکه چه د هغوئی د عالی مرتبې سره بې احتیاطی کول نوو پکار. نو ځکه حضرت موسی ﷺ په خپل دې عمل باندې مغفرت د الله ﷻ نه طلب کړو او الله ﷻ ورته مغفرت اوکړو لکه سورة القصص کښ دی.

﴿ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا ﴾ یعنی د دغې ارادی قتل د وجې نه تاسو ځما خلاف د قتل مشوره اوکړه نو د خپل ځان د حفاظت دپاره مامدین ته هجرت اوکړو او هرکله د موسیٰ ﷺ د قتل مشوره صرف د فرعون نوه بلکه پوره کابینه او مشرانو د طرف نه، وه نو ځکه موسیٰ ﷺ په﴿مِنكُم﴾ او﴿خِفْتُكُم ﴾ کښ خطاب د جمع استعمال کړو﴿فَوَهَبَ لِي رَبِّي ﴾دا جواب د دویمې شبهې دې یعنی (لبثت فیمن من عمرك سنین) یعنی تاته دعوت درکول او ستا په مخامخ خبرې کول وجه دا ده چه ځه الله ﷻ نبی گرځولې یمه،د هجرت نه ورستو الله ﷻ ماته پوهه او نبوت راکړو،نو ځما ذمه داری ده چه ځه به تاته دعوت درکوم او حضرت شیخ ﷺ فرمائی چه﴿فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا ﴾ کښ اشاره ده دلائلو عقلیو ته، او په﴿وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴾کښ اشاره ده دلائلو نقلیو ته نو مقصد دا دې چه ځه دعوه د نبوت کومه او په دې دعویٰ باندې الله ﷻ ماته دلائل عقلیه او نقلیه دواړه راکړیدی.

﴿وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدتَّ ﴾دا جواب د اول اعتراض دې او﴿وَتِلْكَ﴾اشاره ده تربیت د فرعون ته .او د دې آیت مختلف توجیهات کړې شویدی. (۱)اوله توجیه دا ده چه دا موسیٰ ﷺ دا کلام علی سبیل الاعتراف دې، یعنی موسیٰ ﷺ د فرعون د احساناتو اقرار کوی چه دا خبره بالکل صحیح ده چه ستا په ما باندې احسانات دی چه نور بنی اسرائیل دې غلامان جوړ کړی وو د هغوئ ماشومان دې قتل کولو او ځه دې ازاد او ژوندې پریخودم او ځما تربیت دې اوکړو لیکن

ستا دا احسانات ځما د نبوت دپاره څه مانع او رکاوټ نه ګرځی (۲) دویمه توجیه دا ده چی دا کلام د موسی علیه السلام د طرف نه علی سبیل الانکار دې. او ﴿تَمُنُّهَا﴾ نه مخکښې حرف استفهام مقدر دې او استفهام انکاری دې، او پدې صورت کښې څلور توجیهات دی. (۱) اوله توجیه دا ده چه موسی علیه السلام فرعون ته اوئیلو چه (دا ځما تربیت کول ستا څه احسان ندې چه ته ئې په ما باندې زباته وی،ځکه چه ځما تربیت ستا په کور کښې ستا د ظلم نتیجه ده چه تا بنی اسرائیل غلامان جوړ کړی وو او د هغوئ ماشومان دې قتل کولو د هغې د خوف او د ویرې نه ځما مور څه په دریاب کښې اوغورځولم، او ستا بی بی اوکتلم نو څه ئې خپل ولد جوړ کړم،کچرې تا په بنی اسرائیلو باندې ظلم نه کولې نو څه به خپلې مور دریاب ته نه غورځولم او نه به ځما تربیت ستا په کور کښې کیدلو

(۲) دویمه توجیه دا ده چه دا ستا څه احسان ندې چه ځما تربیت دې کړیدې. ځکه چه تا ځما قوم بنی اسرائیل غلامان جوړ کړیدی او ځما د قوم تذلیل دا ځما تذلیل دې، لکه مشهور متل دې (من اهین قومه فقد ذل) (۳) دریمه توجیه دا ده چه څه نه منم چه تا په ما باندې احسان کړیدې بلکه کوم اموال او خوراکونه چه تا په ما باندې کړیدی دا هغه اموال او څیزونه وو چه ځما قوم بنی اسرائیلو ګټلی وو، تا د هغوئ نه خدمتونه اغستل ، زمینداری وغیره به د ې پرې کولې نو دهغوئ اموال وو تا به هم خوړلو او ما به هم خوړلو پدې کښې ستا څه احسان نیشته دې. (۴) څلورمه توجیه دا ده چه څه ستا احسان نه منم ځکه چه ته خپل احسان زباته وې لیکن خپل ظلمونو ته نه ګورې چه ازاد قوم دې محکوم او غلامان جوړ کړیدی ستا احسانات صرف په ما باندې دی او د هغه په بدله کښې تا ځما په قوم باندې لوئ لوئ ظلمونه کړیدی. نو څرنګه به څه ستا احسان اومنم.

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
اووئیل فرعون څه نو څوک دې رب دټولو خلقو. اووئیل موسی(رب هغه دې)چه رب دې دآسمانونو او زمکی
وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗ
او دهغه څه چه په مینځ ددی دواړو کښې دی، که یقین کونکی یئ، او وئیل فرعون هغه چاته چه چاپیره وژدده نه

اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾	قَالَ	رَبُّكُمْ	وَرَبُّ	اٰبَآئِكُمُ	الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾

آیا نه آورئ تاسو «دا جواب ناموافق بیا او وئیل موسیٰ چه رب هغه دی چه ستاسو رب دې او رب دې د پلارانو ستاسو پخوانو.

قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ اُرْسِلَ اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾

او وئیل فرعون چه بې شکه رسول ستاسو دغه چه رالیږلې شویدې تاسو ته خامخا لیونې دې.

﴿قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا﴾ هرکله چه موسیٰ ﷺ فرعون ته دعوت ورکړو او دعویٰ د رسالت ئې اوکړه نو په دعوی د موسیٰ ﷺ کښې دوه امرین وو، یوا دا چه څه، رسول یم او دویم دا چه د ﴿رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ د طرف نه یم، نو فرعون په دې دواړو امرینو باندې اشکالات اوکړو، اول قسم اشکالات ئې د رسالت په باره کښې وو چه د هغې ذکر تیر شو، دویم قسم اشکالات ئې علی سبیل المعارضة د رب العلمین په باره کښې اوکړو، نو پدې آیت کښې دویم قسم اشکالاتو ذکر دې. چه رب العلمین څوک دې؟ د هغه ماهیت او حقیقت څه دې؟ «ما» د پاره د طلب د ماهیت او حقیقت دې نو فرعون لعین د موسیٰ ﷺ نه د رب العلمین ماهیت او حقیقت طلب کړو. حالانکه الله ﷻ د پاره اجزاء راتلل مطلقاً محال دی، نو د دې وجې نه د الله ﷻ تعریف په جنس او فصل سره نشی کیدلې. د الله ﷻ د معرفت صرف او صرف په آثارو او صفاتو سره ممکن دې نو د دې وجې نه حضرت موسیٰ ﷺ په جواب کښې مختلف اثار د قدرت او افعال د الله ﷻ ذکر کړل.

فائده: دا سې مباحثه په سورة طه کښې هم ذکر ده فرق دا دې چه هلته د فرعون سوال وو «من ربکما» سره او دلته ئې پوښتنه اوکړه چه ﴿وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ او هلته د موسیٰ ﷺ د طرف نه په جواب کښې ذکر وو چه «ربنا الذی اعطی» او دلته په جواب کښې ذکر دی چه ﴿رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ نو پدې تطبیق کښې د علماؤ مختلف اقوال راغلیدی. زیات غوره قول پکښې دا دې چه فرعون دواړه قسمه پوښتنې کړیدی او موسیٰ ﷺ دواړه قسمه جوابونه ورکړیدی. سورة طه کښې په یو قسم سوال، جواب باندې اقتصار کړې شویدې او پدې سورت کښې په بل قسم سوال جواب

باندې اقتصار کړې شويدې ، موسیٰ ﷺ اولاً دې لعين ته دعوت ورکړو چه ﴿انا رسول رب العلمين﴾ نو فرعون اوئيل چه ﴿عالمين﴾ خو د مصر خلك دى او د مصر مدبر ، متصرف او رب څه يمه ما خو تاسو پيغمبران نه يئ جوړ کړى. نو موسیٰ ﷺ ورته ، اوفرمائيلو چه ﴿انا رسولا ربك﴾ (طٰهٰ) يعنى مونږ د هغه ذات د طرف نه رسولان يو چه هغه ستا هم رب دې. نو فرعون بيا د ﴿رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ د ماهيت پوښتنه اوکړه نو موسیٰ ﷺ په جواب کښ ورته صفات او افعال د الله ﷻ ذکر کړل چه د ده کنه ادراك نشى کيدلې،د هغه معرفت صرف او صرف په اوصافو سره کيږى. نو فرعون بيا پوښتنه اوکړه چه ﴿من ربكما﴾ نو موسیٰ ﷺ مزيد دلائل بيان کړو.او صاحب د روح المعانى يو قول دا هم نقل کيدې چه فرعون اول ځلې پوښتنه په ﴿من ربكما﴾ سره اوکړه، او دا پوښتنه د طلب د وصف مشخص وو چه ستا د رب تشخص څه دې ؟ بشر دې ، خلك دې يا جن دې نو موسیٰ ﷺ جواب على اسلوب الحكيم ورکړو چه د رب معرفت په اوصافو سره کيږى او تشخص راتلل د هغه دپاره محال دى. بيا په دويم ځلې فرعون پوښتنه په ﴿وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ سره اوکړه او دا سوال د حقيقت او ماهيت مطلقه په باره کښ وو چه ماهيت او حقيقت د ﴿رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ څه دې نو موسیٰ ﷺ بيا جواب على اسلوب الحكيم ورکړو چه معرفت د ﴿رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ په ماهيت سره نشى کيدلې ځکه چه د هغه دپاره ماهيت نيشته دې،معرفت د هغه صرف او صرف په اوصافو سره کيږى. ﴿قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ هر کله فرعون ځان ته ﴿رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ وئيلو نو موسیٰ ﷺ په استدلال کښ هغه امور ذکر کړو چه مختص دى صرف په الله ﷻ پورې يو مخلوق هم د الله ﷻ سره په هغې کښ شريك ندې،چه هغه استدلال دې په علوياتو سفلياتو او جوياتو سره. نو ﴿ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ استدلال دې په علوياتو سره، ﴿وَٱلْأَرْضِ﴾ استدلال دې په سفلياتو سره او ﴿وَمَا بَيْنَهُمَآ﴾ استدلال دې په جوياتو سره. نو خلاصه دا ده چه موسیٰ ﷺ فرعون ته اوئيلو چه ته اګر چه ځان ته د مصر مدبر او بادشاه وائى خو الله ﷻ د دې ټول کائنات مدبر دې او پيدا کوونکې دې که هغه علويات دى ، سفليات دى او يا جويات دى او بيا په هغې کښ اعراض دى او که جواهر دې د ټولو خالق او مدبر صرف الله ﷻ دې، ﴿إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ﴾ د دې دوه توجيهات دى ، يوه توجيه دا ده

چه دا د قبیلې د تعلیق المتیقن بالمتیقن نه دې ،مطلب دا دې کچرته تاسو په اشیاؤ کښې په څه څیز باندې یقین لرونکی ئی نو پدې باندې هم یقین اولرئ چه خالق او مدبر د دې ټول کائنات صرف تن تنها د الله ﷻ ذات دې ځکه چه دا خبره اولی بالیقین ده د وجې د کمال ظهور نه، دویمه توجیه دا ده چه کچرته تاسو یقین د دې مشاهد اشیاؤ په حقیقت باندې او د دې په وجود باندې وی نو پدې سره استدلال اوکړئ په وجود د صانع او په وحدانیت د هغه باندې ځکه چه دا عالم مشاهد مرکب دې او هر مرکب ممکن وي او هر ممکن لره لابدی وی د علت نه نو ممکن علت د ممکن دپاره نشی ګرځیدلې والاّ لازم به شی دور یا تسلسل، نو ضروری ده چه علت به د سلسلې د ممکناتو نه علاوه وی . او د سلسلې د ممکناتو نه بهر یو ممتنع دې نو هغه علت قطعاً نشی کیدې . او دویم واجب دې ، نو معلومه شوه چه د دې ممکناتو دپاره علت ، جاعل او خالق صرف د الله ﷻ ذات دې﴿قَالَ لِمَنۡ حَوۡلَهُۥٓ﴾موسیٰ ﷺ یو زبردست دلیل ذکر کړو په وجود د الله ﷻ باندې نو فرعون ته خطره محسوسه شوه چه د موسیٰ ﷺ دا دلیل د قوم د مشرانو په زړونو باندې اثر اونکړی . نو د دغې دلیل دپاره ئې خپلو درباریانو ته تعجب ورکړو چه تاسو د ده خبرې نه اورئی دا دې څه عجیبه خبرې کوی چه زما نه علاوه بل رب ثابتوی . نو د ﴿حَوۡلَهُۥٓ﴾نه مراد د فرعون خواص، د هغه د کابینې ارکان او د قوم مشران دی . د حضرت ابن عباس ﷺ نه د دوئی تعداد پنځه سوه (۵۰۰) مروی دې ﴿قَالَ رَبُّكُمۡ وَرَبُّ﴾د فرعون د دې تعجب او تعجیب په بدله کښې موسیٰ ﷺ عدول اوکړو زیات واضح دلیل ته چه دلیل انفسی دې او ما قبل دلیل افاقی وو . نو دلیل انفسی په نسبت سره افاقی ته زیات واضح وی .اوداعدول ئې دې دپاره وو چه د دوئی زړونه زر متاثر شی ، نو د﴿رَبُّكُمۡ﴾ نه مخکښې مبتداء یعنی (هو) مقدر دې . خلاصه د دلیل دا ده چه موسیٰ ﷺ فرعون او د هغه دربایانو ته اوئیل چه تاسو پخپله په خپل ذات کښې حادث او ممکن ئی . ستاسو دپاره یو پیدا کونکې ضروری دې هغه څوك دې ؟ دغه شان ستاسو آباؤ و اجداد چه وفات شویدی حادث او ممکن دی نو د هغوئی رب او فناء کونکې څوك دې ؟تاسو او ستاسو مشران په خپل وجود کښې محتاجه وو بل چاته ، او محتاج خو رب نشی جوړیدلې ، نو اې فرعونه ته یا ستاسو مشران به څرنګه رب العلمین شی چه ته په خپل وجود کښې محتاجه ئې بل چاته او مشران دې فناء شویدی نو

معلومه شوه چه ﴿رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ داسې ذات دې چه هغه په خپل ذات کښې قديم او واجب دې او هغه صرف د الله ﷻ ذات دې ، چه هغه ستاسو هم رب دې او ستاسو د مشرانو هم رب دې.

﴿قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِيْٓ﴾ فرعون د موسىٰ ﷺ پدې واضحه دليل باندې نور زيات په غصه شو او د موسىٰ ﷺ خبرې بې اثره کولو دپاره ئې د موسىٰ ﷺ استخفاف او استهزاء شروع کړه اوئيل ئې چه ستاسو رسول (العياذ بالله) ليونې دې او د دې لعين د طرف نه موسىٰ ﷺ ته رسول وئيل استهزاء وو او د ليونتوب نسبت ئې موسىٰ ﷺ ته دوه وجو نه کړې وو يو د دې وجې نه چه فرعون خپلو درباريانو ته اوئيل چه مونږ د موسىٰ ﷺ نه پوښتنه ماهيت او حقيقت د رب اوکړه او دې جواب د هغه په اوصافو سره راکوی . نو د ده جواب ځما د سوال سره موافق ندې . نو دې ځما په سوال باندې نه پوهيږی او ځان ته رسول وائی . او دويم د دې وجې نه چه فرعون صرف ځان ته (اله) وئيلو د خپل ځان نه علاوه بل چاته ئې (اله) نه وئيلو ، نو موسىٰ ﷺ چه کله د الله ﷻ په وجود باندې دلائيل بيان کړو او د اله حقيقى اثبات ئې اوکړو نو فرعون ورته د ليونتوب نسبت اوکړو چه دې ليونې دې چه ځما نه علاوه د بل (اله) قائله دې.

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾
اووئيل موسىٰ (رب هغه دې) چه رب د مشرق او مغرب دې او د هغه څه چه په مينځ د دې دواړو کښې دی . که تاسو پوهيږئ .
قَالَ لَىِٕنِ اتَّخَذْتَ اِلٰهًا غَيْرِيْ لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ
اووئيل فرعون قسم دې کچرته اونيولو تا خدائ بل ځما نه نو خامخا او به ګرځوم تا د قيديانو نه . اوئيل موسىٰ (ته به ما قيد کوې)
اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾ قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَلْقٰى
اګرکه څه راوړم تاته دليل ښکاره . فرعون اووئيل نو پيش کړه هغه که ئې ته د ريښتنونه . نو وغورځوله موسى

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ۝ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ۝

همـــاخپله نوناګهانه هغه ښاماروښکاره،اوراوي ويستلولاس خپل دَترخ نه نوناګهانه هغه لاس تک سپين وؤلپاره دکتونکو

﴿قَالَ رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ﴾موسیٰ ﷺ اول عام دليل بيان کړو چه د ټول کائنات رب الله ﷻ دې بيا ئې په هغې عام کښې تخصيص اوکړو دپاره د کمال وضاحت او دپاره د تنبيه ورکولو په بې عقلئ د فرعون باندې .خلاصه ئې دا ده چه د مصر نه بهر نوره دنيا هم شته چه اطراف د دې دنيا مشرق او مغرب دی . مشرق هغه دې چه طلوع دشمس ورنه کيږی (نمر د هغې طرف نه راخيږی) او مغرب هغه دې چه غروب يعنی نمر پکښې ډوبيږی نو موسی ﷺ ده ته اوفرمائيلو چه الله ﷻ رب د مشرق او د مغرب دې. الله ﷻ د ورځې ته طلوع دپاره مشرق پيدا کړيدې او د غروب دپاره ئې مغرب پيدا کړيدې روزانه بلاناغه په خپل وخت باندې غروب اوشی او شپه شروع شی . نو د طلوع او د غروب دا عجيب نظام په خپل مقرره اوقاتو باندې جاری دې ، نو کچرې ته رب ئې نو ته پکښې تبديلی راوله، مشرق په مغرب او مغرب په مشرق باندې بدل کړه ، او دا هم هغه شان معارضه ده چه ابراهيم ﷺ د نمرود سره کړې وه (فان كان هذالذی يزعم انه ربكم والهكم صادقاً فليعكس الامر وليجعل المشرق مغرباً والمغرب مشرقا) (ابن كثير).

﴿قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَـٰهًا﴾فرعون د موسیٰ ﷺ د دې واضح دليل باندې نور زيات په غصه شو او موسی ﷺ ته ئې د قيد کولو دهمکی ورکړه چه کچرې،دَ دې خپلې خبرې نه منع نه شوې نو څه به تا جيل ته اوغورځوم﴿لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ﴾ صاحب د کشاف فرمائی چه فرعون مختصر عبارت او نه وئيلو چه (لأسجننک) دې، بلکه اوږد عبارت ئې اوئيلو ځکه چه پدې سره اشاره مقصود ده سختئ د هغې جيل ته. او دا مقصود پدې اوږد عبارت سره حاصليدلو او په مختصر عبارت سره نه حاصليدلو. ځکه چه﴿ٱلْمَسْجُونِينَ﴾کښې الف لام د عهد دپاره دې. نو مقصد ئې دا دې چه تا به څه د هغه قيديانو نه ، اوګرځوم چه د هغوئی حالت څما په قيد کښې تاته معلوم دې،او په تاريخی رواياتو کښې دی چه فرعون پنځه سوه ګزه کنده کنستې وه په هغې کښې ئې لړمان او ماران پريخی وو ،نو چه څوک به دده سخت مجرم وو نو هغه به ئې دغې جيل ته

اوغورځولو، نو هغه به نه څه کتلو او نه به ئې اوريدلو او دغه لړمان او ماران به پرې شروع وو چه پدغې حالت كښې به مړ شو﴿قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ ﴾موسى ﷺ د فرعون د دهمكى هيڅ پروا اونكړه او ډير په جرأت سره ئې فرعون په مخامخ د معجزاتو ښكاره كولو اظهار اوكړو. د دې دپاره چه شايد دا لعين معجزات اوګورى او زړه ئې نرم شى، ايمان راوړى نو په﴿أَوَلَوْ جِئْتُكَ ﴾كښې همزه استفهاميه ده جمله استفهاميه مقدره ده. او (واو) حاليه دې. نو تقدير د عبارت داسې دې. (اتفعل ذلك ولوجئتك بشيء مبين) يعنى آيا ته به بيا هم دا كار كوې يعنى ما به جيل ته اچوې اګر چه څه تاته په خپل نبوت باندې واضح دليل او حجت پيش كړم﴿قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ ﴾فرعون موسى ﷺ نه معجزه طلب كړه او د فرعون معجزه طلب كول دپاره د طلب د حق نوو، بلكه د هغه خيال داوو چه شايد پدې معجزاتو كښې به څه څه نكته دا اعتراض اووينم، نو ځكه ئې موسى ﷺ ته اووئيلو چه ته په خپل نبوت باندې څه دليل او معجزه پيش كړه كچرې ته رينښتونې ئې﴿فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ ﴾نو موسى ﷺ فرعون ته دوه معزات ظاهر كړل يوه معجزه د عصا والا چه اوغورځوله ئې نو اژدها به ورنه جوړ شوه. او بله معجزه د يد بيضآء والا چه لاس به ئې د ترخ نه رابهر كړو نو پړق به ئې كولو.

قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ
اووئيل فرعون غټانو ته چه چاپيره ناست وؤ دده نه چه بې شكه دې خوامخا ساحر دې ډير پوهه. غواړى چه اوباسى تاسو
مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ
دملك ستانه په سحر خپل سره، نو څه حكم (مشوره) كوئ تاسو، هغوئ ورته اووئيل مهلت وركړه ده لره او ورور دده لره
وَابْعَثْ فِى الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ۝ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ
او ليږه په ښارونو كښې راجمع كونكى چه راولى تاته هر ماهر ساحر ښه پوهه، پس جمع كړې شول ساحران ځائ د وعدى

يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٣٨﴾ وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ
دورځي معلومې تهاوویلې شوخلقوته آیاییئ تاسوجمع کیدونکي؛دغه ورځې ته،کیدیشي مونږاتباع اوکړو
السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا
دساحرانوکه شي هم دوئ غالبه‌نوچه کله راغلل ساحران نووئ وئیل فرعون ته آیاوی به مونږلره څه انعام
اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٤٢﴾
کچرته شومونږ غالب،اووئیل فرعون،آو،اوبیشکه تاسوبه بیاخامادمقربینو،«خواصونه»یئ.

﴿قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا﴾ ددې آیت نه تر آیت نمبر (۵۱) پورې دریم مقام د واقعې ذکر کیږي، پدیکښې د ساحرانو مقابله د موسی ﷺ سره ، د هغوئی مغلوبیت او بیا د هغوئی ایمان راوړل او په خپل ایمان باندې ثابت قدم پاتې کیدلو ذکر کیږي،نو هر کله چه فرعون د موسی ﷺ د واضحو دلائلو او د معجزاتو په مقابله کښې بې بسه او ناکامه شو. نو د موسی ﷺ بد نام کولو کوشش ئې شروع کړو ، او د هغه د بد نام کولو دپاره ئې دوه تهمتونه اولګولو ،یو تهمت ئې دا اولګولو چه (العیاذ بالله) موسی ﷺ ډیر لوئی او پوهه ساحر دې،دا امور یعنی ید بیضآء او عصا د ده د نبوت دلیل ندې بلکه دده سحر دې. او چونکه په هغې دور کښې سحر ډیر په عروج باندې وو نو څکه فرعون د موسی ﷺ بدنام کولو دپاره تهمت د سحر اولګولو، او دا خبره او تهمت د ټولو نه اول فرعون په موسی ﷺ باندې د خپلا کابینې او د شورئ اراکینو په مخامخ اولګولو لکه چه پدې سورت کښې دی . او بیا د هغې نه ورستو دغه مشرانو نورو خلکو ته اوئیلو او دا پروپیګنډه ئې عامه کړه لکه په سورة الاعراف آیت نمبر (۱۰۹) کښې دی.

﴿يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم﴾ دا دویم تهمت دې چه فرعون د خپل قوم په زړونو کښې د موسی ﷺ خلاف نفرت پیدا کولو دپاره او د هغه خبرو بې اثره کولو دپاره او قوم د هغه خلاف متحد کولو دپاره ئې اوئیل چه د موسی ﷺ پروګرام دا دې چه د خپل جادو په زور سره ستاسو په حکومت

باندې قبضه اوکړی او تاسو د خپل وطن نه بهر کړی ﴿فَمَاذَا تَأْمُرُونَ﴾دا یا د (مؤامرة) نه دې په معنیٰ د مشورې ورکولو سره یعنی تاسو ماته مشوره راکړئ چه څه څه اوکړم. او یا د امر نه دې چه ضد د نهی دې، یعنی تاسو ماته امر اوکړئ چه څه څه اوکړم. علامه زمخشری فرمائی چه فرعون د موسی ﷺ د دلائلو او د معجزاتو په اظهار سره دومره سخت حواس باخته شوې وو چه دده نه دا هم هیر شوی وو. چه ما خو د رب دعوی کړیده او اهل مصر مې خپل بندګان جوړ کړیدی نو بندګان به څرنګه رب ته امر اوکړی او یا به مشوره ورکړی

﴿قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ﴾د شوریٰ اراکینو فرعون ته مشوره ورکړه چه د موسی ﷺ او هارون ﷺ په باره کښې هر قسم فیصله فی الحال مؤخره کړه او دوئ ته مهلت ورکړه﴿وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ﴾ یعنی د خپل سلطنت شهرونو ته کار ندې اولیږه چه ساحران راجمع کړی چه هغوئ د موسی ﷺ سره په سحر کښې مقابله اوکړی﴿يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ﴾ کل) دپاره د استغراق حقیقی دې او﴿سَحَّارٍ﴾او﴿عَلِيمٍ﴾دواړه د مبالغې صیغې دی. نو مقصد ئې دا دې چه ټول ساحران دې راجمع کړی خو عام ساحران نه بلکه هغه کسان دې راجمع کړی چه په فن د سحر کښې فائق او ښه پوهه وی. او په هغه دور کښې د سحر دومره زیاته چرچه وه چه په شهر کښې به د سحر زده کړې دپاره سکولونه اوکالجونه وغیره جوړ کړې شوی وو. ﴿فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَـٰتِ﴾نو د مقابلې تیارې شروع کړې شوه. د هغې دپاره ځائې او وخت مقرر کړې شو. نو د (میقات) نه مراد وخت د چاشت دې او ﴿يَوْمٍ مَّعْلُومٍ﴾نه مراد د هغوئ د مذهبی تهوار والا ورځ ده چه په سورة طه کښې ورنه تعبیر په (یوم الزینة) سره شویدې ﴿ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم ﴾استفهام دپاره امر ترغیبی دې. او مقصود پدې قسم امرسره استعجال دی . لکه یو سړې خپل غلام ته اوائی چه (هل انت منطلق) نو مقصود ئې دا وی چه تیزی اوکړه او په صیغې د مجهول یعنی (قیل) سره تعبیر د وجې د تعدد د قائلینونه ، دې. نو د آیت مقصد دا دې چه ګیر چاپیره اعلانات اوکړې شو او خلکو ته ترغیب ورکړې شو چه تاسو مقرره وخت او مقرره ځائې ته خامخا ځان را اورسوئ. ﴿ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ ﴾د ساحرانو نه مراد د

فرعون راجمع کړی ساحران دی . او د هغوئ د اتباع نه مراد په خپل دین باندې قائم پاتې کیدل دی او د دوئ دا یقین وو چه دا ساحران به غالب کیږی او ځکه ئې داسې اوئیلو چه﴿ نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ ﴾چه مونږ د ساحرانو اتباع اوکړو او په خپل دین باندې قائم پاتې شو .او داسې ئې او نه وئیلو چه مونږ به د حق اتباع اوکړو ، او ترجی په اعتبار د دوئ د اعتقادی غلبې سره ده چه هغه متقضی د اتباع دپاره ده، او کلام په صورت د شرط کنبی ذکر کول دپاره د مزید اهتمام دې ،چه خلک ډیر به اهتمام سره مقابلې ته حاضر شی نو د آیت مقصد دا دې چه دا مقابله به ډیره اهمه وی ځکه چه ساحران به خامخا غالب کیږی نو مونږ به په اطمینان سره په خپل دین باندې قائم پاتې شو.

﴿ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ ﴾ ساحران د مقابلې دپاره فرعون دربار ته را اورسیدلو او دا رارسیدلو سره ئې د اجرت او د انعام مطالبه اوکړه. چه مونږ ته به څه اجر او انعام میلاؤ شی کچرې مونږ په مقابله کنبی غالب شو .اوداد باطل پرستو خلکو شعار دې چه په خپل هر عمل کنبی دنیوی فائده ګوری. دینی او اخروی فائده د هغوئ پیش نظر نه وی کچرې په یو کار کنبی د دنیا فائده ئې وه نو هغه کار کوی کنې نه ئې کوی،او د انبیاء کرامو او د مخلص مؤمنانو په هر عمل کنبی دینی او اخروی فائده پیش نظر وی په خپل عمل سره ئې د الله ﷻ رضا حاصلول مقصود وی . او د دې وجې نه د هر نبی اعلان به دا وو .چه ما اسئلکم علیه من اجر اودې وجې نه علماء فرمائی چه د کوم کار بنیاد چه صرف دنیوی منفعت اوګرځی او د الله ﷻ رضا پکنبی مقصود اصلی نوی اګر چه په ظاهر کنبی ډیر لوئ دینی کار وی خو هغې ته دیندار نه وئیلې کیږی او نه د الله ﷻ د طرف نه په هغې باندې څه اجر او بدله میلاؤیږی ،لکه حدیث د انما الاعمال بالنیات پدې باندې واضح دلیل دې﴿ قَالَ نَعَمْ ﴾ فرعون دوئ ته دوه قسمه لالچ ورکړو ،یو د مال او بل د عهدې لالچ ،یعنی مال به هم درکړم او عهده به هم درکړم، او پدې دوه څیزونو باندې حرص ساتل د انسان د ایمان دپاره ډیر خطرناک دی، او په هر دور کنبی باطل پرستو حکمرانانو پدې دوه قسمه څیزونو سره د قوم مشران او خواهش پرست ملایان د ځان سره ملګری کړی دی.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا۟ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ

وئیل ساحرانوته موسی،اوغورځوئ هغه چه تاسوغورځونکی یئ،نواوغورځولوهغوئ رسئ خپلې اوهسا ګانی خپلې

وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَاَلْقٰى مُوْسٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ

اواوئ ونیل چه قسم دې په لويئ دفرعون چه مونږبه غالب يو .بیااوغورځوله موسی خپله همسانوناګهانه نی تیرکړل

مَا يَاْفِكُوْنَ ﴿۴۵﴾ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾

هغه چه دوئ جوړول نواوغورځولې شوساحران سجده کونکی.اونی ونیل مونږایمان راوړیدې په رب العالمین.

رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۴۸﴾ قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ

چه رب دې دموسی اوهارون.فرعون اووئیل آیاتاسوایمان راوړوپده باندې مخکښ داجازت خمانه.بی شکه دې

لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۬ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ

غټ‌استاذ‌دې ستاسوهغه چه تاسوته نی ښودلې نی دې سحر،بس زربه تاسوپوهه شئ، خامخاخه به پریکړم لاسونه ستاسو

وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۹﴾ قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۫ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا

اوخپی ستاسوادل بدل اوخامخابه پانسی کړم تاسوټول،دوئ ورته اووئیل نشته هیڅ نقصان مونږته بی شکه مونږخپل رب ته

مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۱﴾

تلونکی یو.بی شکه مونږامیدلرودی چه اوبه بخی مونږته رب خمونږ ګناهونه زمونږ،خکه چه یومونږاول ایمان راوړونکی

﴿ قَالَ لَهُمْ مُوْسٰى ﴾دا تفصيل د مقابلې دې چه کله فرعون هم مطمئن شو چه دير لوئ لوئ ساحران راجمع شو او ساحران هم مطمئن شو چه مونږ ته به مال او عهدې ميلاوې شی نو مقابلې ته را اوتلو ، او په سورة اعراف او طه کښی تفصيل تير شويدې چه ساحرانو په خپل منځ کښی د مشورې نه ورستو موسی ﷺ ته اختيار ورکړو چه يا خو اول ته د خپلې معجزې اظهار اوکړه او يا به مونږ خپل سحر ظاهر کړو نو موسی ﷺ دوئ ته اوئيلو چه تاسو اول د خپل سحر اظهار اوکړئ او سورة اعراف او طه کښی تفصيل تير شويدې چه دا د موسی ﷺ د طرف نه حکم په اظهار د.

سحر باندې نوو ځکه چه سحر معصیت دې او بیا خاص طور باندې پیغمبرپه مقابلې کښې وی نوبیاخودیرلوئی معصیت دې، اوپیغمبر حکم دَ معصیت نه کوی. نو د دې وجې نه دا حکم په اظهار د سحر باندې ندې بلکه اختیار د یو شق د مقابلې دې . چه ساحرانو موسی ﷺ ته په دوه شقونو کښې د یو شق غوره کولو اختیار ورکړو چه یا ته خپله عصا اوغورځوه او یا مونږ خپلې عصاګانې او رسیانې غورځوو،نو موسی ﷺ دا شق اختیار کړو چه اول تاسو خپل سحر ظاهر کړئ، بیا به څه خپله معجزه ظاهره کړم، او که څوک اشکال اوکړی چه اختیار د یو شق دا هم رضا علی المعصیت ده او رضا علی المعصیت ، معصیت وی . نو موسی ﷺ ته نسبت د معصیت راغې ؟ نو جواب ورنه دا دې چه رضا په معصیت باندې هغه وخت کښې معصیت دې چه کله معصیت متحسن اوګنړلې شی.او که رضا په معصیت وسیله او ذریعه اوګرځولې شی دپاره د ابطال د دغې معصیت نو دا بیا معصیت ندې،نو موسی ﷺ د دوئ د سحر ابطال او اظهار د حق دپاره دوئ ته ئې اوئیلو چه تاسو خپل سحر اوغورځوئ﴿ فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ ﴾ساحرانو د ځان سره عصاګانې او رسیانې راوړې وې .اودې ساحرانو په تعداد کښې تاریخی روایات مختلف دی. دولس زره ، اتلس زره ، دیرش زره او اتیا زره پورې اقوال راغلیدی . بهر حال دوئ چه کله خپلې عصاګانې او رسیانې میدان ته اوغورځولې نو کتوونکو ته ئوله کښې علاقه ماران ،ماران ښکاریدلو﴿ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ ﴾ (باء) یا د تبرک او توسل دپاره ده چه دوئ اوئیلو چه د فرعون د عزت په برکت او وسیلې سره یقیناً مونږ غالب یو. او یا (باء) قسمیه ده چه دوئ د فرعون په عزت باندې قسم اوخوړلو ،چه دا د هغې دور جاهلیت لوئی قسم وو . او شریعت کښې قسم صرف د الله ﷻ په ذات او صفاتو باندې کولې کیږی . د دینه علاوه په بل څیز باندې قسم قسم شرعی ندې،او بیا په قسم کښې قانون دادې چه غیر الله باندې قسم کله کله محض د کلام د تاکید دپاره دی. او کله کله دپاره د تعظیم د مستحلف علیه وی نو قسم اول شائع او کثیر دې ګناه ئې نیشته،او واردې په احادیثو او اثارو کښې. او قسم ثانی ګناه بلکه شرک دې . نو په حدیث د ترمذی کښې چه دی (من حلف بغیر الله فقد اشرک) نو د هغې نه مراد قسم ثانی د قسم دې ﴿ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ ﴾ ساحرانو د طرف نه دومره سخت سحر پیش کړې شو چه ابتداءً موسی ﷺ ته هم خوف لاحق شو لکه چه په سورة الاعراف او طه کښې دی . بیا روته د الله ﷻ د طرف نه حکم اوشو چه ته مطمئن اوسیږه . کامیابی

به ستا وی او خپله عصا اوغورځوه نو موسی ﷺ چه خپله عصا اوغورځوله نو لویه اژدها ورنه جوړه شوه او په میدان کښی چه څه ووهغه ټول ئې یوه نوړئ کړلو او اونې خوړلو ﴿ فَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ ﴾ دا ساحران په فن د سحر کښی انتهاء ته رسیدلی وو د دوئ مقابله یو ساحر نشوه کولې او دوئ یقین وو چه په دوئ باندې غلبه موندونکې کس ساحر نشی کیدلې. نو هر کله چه موسی ﷺ په دوئ باندې غالب شو نو دوئ پوهه شو چه دې ساحر ندې او نه دا سحر وو بلکه دې پیغمبر دې او د اعصا نه مار جوړیدل دادَ ده معجزه ده نو دوئ فوراً سجدې کښی اوغورځیدلو او د دوئ سجدې ته تلل ،بلا تامل، بلاتوقف او دومره په جلتئ سره وو چه ګویا چه بل څوک ئې اوغورځوی نو ګویا چه د دې معجزې ظاهریدلو په وخت کښی دوئ د خپلو نفسونو مالکان او اختیار مند نه وو ﴿ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ دا بدل اشتمال دې د ما قبل نه او په ماقبل آیت کښی عملی طور د فرعون بغاوت او د الله ﷻ د توحید اقرار وو او پدې آیت کښ د هغوئ لسانی اقرار ذکر دې چه په ژبه باندې ئې هم د فرعون نه بغاوت او د الله ﷻ د توحید او ربوبیت اقرار اوکړو. چه مونږ په رب العلمین باندې ایمان راوړې دې ﴿ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴾دا عطف بیان دې دپاره د دفعې د تو هم ځکه چه فرعون به هم ځان ته رب العلمین وئیلو نو دوئ وضاحت اوکړو چه کوم ذات د موسی ﷺ او هارون ﷺ رب دې مونږ په هغه باندې ایمان دې﴿ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ ﴾فرعون چه کله خپله ناکامی اوکتله نو ډیر سخت شرمنده او بې عزته شو نو د خلکو دهوکه کولو او دموسی ﷺ اثر زائله کولو د پاره ئې د خلکو په مخامخ ساحرانو ته اوئیلو چه تاسو ځما د اجازت نه بغیر په ده باندې ایمان راوړو. ځما نه مو اجازت ندې اغستې. نه مو ځما سره څه مشوره اوکړه حالانکه راوستلی هم ما وئ نو د ې مقصد دا دې چه موسی ﷺ ستاسو مشر ساحر او استاذ دې، او تاسو ټولو ځما په سلطنت باندې د قبضه کولو دپاره منصوبه جوړه کړې ده او فرعون دا خبره خلکو ته اوروله او په هغوئ باندې تلبیس مقصد وو، چه قوم دا خیال اونکړی چه د ساحرانو ایمان علی وجه البصیرة وو، او د ظهور د معجزې و دجې نه وو، بلکه ده قوم ته دا سوچ ورکړو چه دا د دوئ یو مشترکه سازش او منصوبه وه. نو تاسو د خپل کم عقلئ په بنیاد دا اونوایئ چه د موسی ﷺ غالب کیدل د معجزې د وجې نه دی﴿ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾فرعون دوئ ته د خلکو په مخامخ سخته دهمکی ورکړه دپاره د دې چه نور خلک مسلمانان نشی او دا ساحران د خپل ایمان نه واپس شی

﴿ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ ﴾فرعون لعین دوئ ته د سزا تفصيل واورولو چه څه به درنه خپې، لاسونه ادل بدل کټ کړم او بیا به مو پهانسی کړم﴿ قَالُواْ لَا ضَيْرَ ﴾هر کله چه فرعون دوئ ته په سخته لهجه اوپه سختو الفاظو سره دهمکی ورکړه چه﴿ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾نو دوئ هم ورته په ډېر تاکید سره جواب ورکړو چه ﴿ لَا ضَيْرَ ﴾یعنی مونږ ستا د دې دهمکنبی او د سزا هیڅ پرواه نه کوو .﴿ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴾دا تعلیل د نفی د (ضیر) دې یعنی ستا د دې سزاګانو سره چه پدې سره جسمانی تکلیف میلاویږی څه پرواه ځکه نیشته چه پدې سره به مونږ ته د شهادت لویه مرتبه ، اجر عظیم او دیدار الهی حاصلیږی ،نو د مرګ نه خو خلاصې نیشته دې نو داسې عظیم مرګ خو اصل مقصود او مطلوب د مؤمن وی﴿ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا ﴾یعنی مونږ امید ساتو چه الله ﷻ به زمونږ ګناهونه معاف کړی ځکه چه مونږ اول ایمان راوړونکی یو او﴿ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ یا دوئ د خپل قوم قبطیانو په اعتبار سره وو، چه قبطیانو کښی اجتماعی طور باندې د تولو نه اول ساحرانو ایمان راوړې وو. او یا اولیت په اعتبار د هغې موجود کافرانو سره وو چه هلته د مقابلې په میدان کښی موجود وو او یا (اولیت) پس د اظهار د معجزې نه ، دې یعنی د معجزې ظاهریدلو نه پس متصل او د ټولو نه اول ایمان مونږ راوړو، لیکن زیات غوره توجیه دا ده چه (اولیت) په اعتبار د مرتبې سره مراد شی ځکه چه دوئ متبوعین وو . او نور خلک د دوئ تابع او مقلدین وو . نو متبوع ته (اول) په اعتبار د مرتبې سره وئیلې کیږی. او یا (اول) په معنی د (اشد) او (اتقن) سره دې ، یعنی مونږ په ټولو کښی مضبوط درجې والا مؤمنان یو .

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ۝ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ
اووحی اوکړه مونږموسی ته چه دشپې روان کړه بندګان زما،بیشکه تاسوپسی به درشی(فرعونیان)نواولیږل فرعون
فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ۝ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ۝ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ۝
په ښارونوکښ راجمع کونکی دلښکر،بی شکه چه دابنی اسرائیل یوه ډله ده لږه،اوبیشکه دوئ مونږته غصه راوستونکی دی،

وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ۝۵۶ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝۵۷ وَّ كُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ۝۵۸
او بیشکه مونږ یوه ډله اسلحه لرونکی یو، پس اوباسل مونږدوئ د باغونونه او د چینونه، او د خزانونه او د ځایونه ښائسته عمده ؤنه.
كَذٰلِكَ ؕ وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝۵۹ ؕ فَاَتْبَعُوْهُمْ
همداسی مواوکړل، او په میراث موورکړل دغه ځایونه بنی اسرائیلوته، پس روان شول دوئ بنی اسرائیلوپسی
مُّشْرِقِيْنَ ۝۶۰ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ۝۶۱
د نوربناته په وخت کښ، کله چه یوبل اولیدل دواړوډلونواوئیل ملګرود موسی چه بیشکه مونږاونیولې شو،
قَالَ كَلَّا ۚ اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ۝۶۲
اووئیل موسی هرګزمونشی نیولې، بیشکه ماسره رب دې ځماخامخابه ماته لاره ښائی.

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ ﴾ ددې ځاې نه د واقعې څلورم مقام شروع کیږی په دیکښ د بنی
اسرائیلو د نجات او د فرعون غرق کیدلو ذکر دې، نو چه کله فرعون په مقابله کښی مغلوب
شو، تر دوه یا درې کالونو پورې موسی ﷺ دوئ ته دعوت ورکولو او مختلف نشانیانې ورته د
نبوت والا ظاهرې کړې، چه تفصیل ئې په سورة اعراف آیت نمبر (۱۳۰) نه تر (۱۳۵) پورې ذکر دې
د فرعون سر کشی نوره هم زیاته شوه نو الله ﷻ اراده اوکړه چه فرعون غرق کړی او بنی اسرائیلو ته
نجات ورکړی . نو موسی ﷺ ته ئې حکم اوکړو چه د شپې شپې بنی اسرائیل د مصر نه شام ته
روان کړه ﴿ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴾ یعنی د فرعون لښکر به ستاسو نیولو دپاره په تاسو پسې را اوځی نو
لهذا تاسو په تللو کښی سستی مه کوئ ﴿ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ ﴾ (فاء) فصیحیه ده یعنی بنی اسرائیلو د
قبطانو نه ، په عاریت باندې کالی راواغستلو. او موسی ﷺ دوئ د شپې ، شپې روان کړل نو
فرعون ته د سحر په وخت کښی اطلاع اوشوه نو هغه خپلې کار ندې شهرونو ته اولیږلې، او د بنی
اسرائیلو د ګرفتار کولو دپاره ئې لښکر راجمع کړو ﴿ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَـٰشِرِينَ ﴾ په دیکښ اشاره ده چه

مصر په دغه وخت کښې لوئ مملکت وو او په ډیرو ښارونو باندې مشتمل وو ،څومره شهرونه وو ؟ نو ددې په تعین باندې څه قطعی او یقینی روایت ندې موجود البته ځینی تاریخی روایاتونو کښې دی چه په دغه وخت کښې مصر کښې زر (۱۰۰۰) شهرونه ، او لس زره (۱۰۰۰۰) قریبې وې (خازن)﴿ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرۡذِمَةٌ ﴾ (شرذمه) په اصل کښې حقیر او سپکې ټکړې ته وئیلې کیږی . نو هرکله چه د قبطیانو لښکر راجمع شو نو فرعون به ډیر تکبر سره د هغوئ حوصلې زیاتولو او هغوئ د بنی اسرائیلو خلاف راپاره ولو او د بنی اسرائیلو خلاف د هغوئ د غصې زیاتولو دپاره ئې یو څو خبرې اوکړې،اول ئې دااوئیلو چه دا بنی اسرائیل حقیر او سپک جماعت دې دویم دا چه﴿ قَلِيلُونَ ﴾ چه زمونږ په مقابله کښې د دوئ تعداد کم دې،د بنی اسرائیلو تعداد پدې وخت کښې څومره وو ؟ نو پدې باندې هم څه قطعی او یقینی روایت نیشته دې روایات پکښې متعدد دی . زیات تاریخی روایات د شپږلاکه راغلیدی ، لیکن صحیح قول دا دې چه قرآن او احادیث د دینه ساکت دی صرف دومره ده چه د فرعون د لښکر په مقابله کښې د دوئ تعداد ډیر کم وو او کمزوری وو﴿ وَإِنَّهُمۡ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴾ دریمه خبره دا اوکړه چه باوجود ددې چه دوئ په تعداد کښې هم کم دی او کمزوری هم دی بیا ئې هم داسې کارونه اوکړل چه مونږ ته ئې غصه راویستله، چه زمونږ د دین مخالفت کوی .د سلطنت بغاوت ئې اوکړو ، زمونږ مالونه ئې په دهوکې سره واغستلو او زمونږ د اجازت نه بغیر اووتلو﴿ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴾(جمیع) په معنی د جماعت سره دې، او (حاذر) هغه چاته وئیلې کیږی چه د اسلحې نه لیس (ډک) وی او بیدار وی. او په بعضې قراتو کښې﴿ حَٰذِرُونَ ﴾ دی نو بعضې اهل لغت فرمائی چه (حاذر) او (حذر) کښې فرق نشته دې ، لیکن فراء وغیره فرمائی چه (حاذر) تجدد او حدوث دپاره دې او (حذر) د ثبوت دپاره دې . نو (حاذر) هغه چاته وئیلې کیږی چه فی الحال یره ول کوی .او (حذر) هغه څوک دې چه عادت ئې یره ول وی . نو فرعون د خپل قوم حوصلې مزید زیاتولو دپاره اوئیل چه مونږ خو یو باقاعده منظم مسلح فوج یو . نو دوئ بیا هم زمونږ خلاف جرأت اوکړو .او دا عادت د دې زمانې د فراعنو (امریکه ، برطانیه او د هغوئ د اتحادیانو) هم دې .

﴿ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ ﴾ فاء فصيحيه ده يعنى د فرعون لښكر ټول جمع شو او د بنى اسرائيلو د ګرفتارئ دپاره متفق شو نو مونږ د دوئ په زړونو کښې دباغاتو او د چشمو . د خزانو او د بنګلونه د وتلو داعيه او شوق پيدا کړو. نو د اخراج نسبت الله ﷻ ځان ته کول تخليقاً دى چه الله ﷻ د دوئ به زړونو کښې به بنى اسرائيلو پسې وتلو شوق پيدا کړو ﴿ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴾ بعض مفسرين فرمائى چه د ‹ كنوز › نه مراد اموال باطنيه دى .چه يا دوئ دفن کړى وو او يا په زمکه کښې هسې پټى وى . او بعض فرمائى چه د ‹ كنوز › نه مراد اموال ظاهريه دى . لکه سره زر ، سپين زر وغيره شو ليکن زياته غوره خبره دا ده چه د دينه مراد مطلق اموال دى .ظاهرى وى او که باطنى وى . او د ﴿ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴾ نه مراد خائسته ، خائسته بنګلې،دفترونه ، د کيناستلو والا ځائ او کرسئ دى چه عام سړې ئې نشى استعمالولې ، بادشاه يا وزير او يا يو افسر ئې استعمالوى او په سورة الدخان آيت نمبر ‹ ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۷ › کښې هم داسې ذکر دې خو هلته ورسره اضافه د ‹ زروع › يعنى د فصلونو هم ده او پدې آيت کښې اختصار کړې شويدې او د ‹ زروع › ذکر ورسره ندې شوې . وجه دا ده چه هلته عذاب د قحط والاذکر دې،يعنى د مکې خلکو باندې الله ﷻ د بنى پاک ﷺ د مخالفت د وجې نه سخت قحط راوستې وو، نو بطور نمونه د فرعون د قوم د عذاب تذکره اوکړې شوه او په هغې کښې د ‹ زروع › ذکر اوشو،چه د هغې اثر په فصلونو باندې ظاهريږى، او پديکښې اشاره ده چه د فرعون دا لښکر د هرې طبقې خلکو باندې مشتمل وو . وزرآء او افسران پکښې هم وو سرمايه دار طبقه پکښې هم ده او جاګيرداره طبقه پکښې هم موجوده ده ﴿ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا ﴾ بعضى مفسرين فرمائى چه ‹ كاف › اسمى په معنى د ‹ مثل › سره دې او دا په موضع د نصب کښې صفت دې د مفعول مطلق مقدر دپاره چه ‹ الاخراج › دې چه دا مفعول مطلق د ‹ اخرجنهم › دپاره دې، نو تقدير د عبارت دارنګې دې. اخرجنا هم مثل ذلک الاخراج يعنى مونږ دوئ په دغې طريقې سره اويستلو د خپلو ځايونو نه کومه طريقه چه ذکر شوه، او بعض فرمائى چه دا خبر دې د مبتداء محذوف دپاره، نو اصل عبارت داسې دې ‹ الامر كذلک › يعنى امر او کار همدغه شان اوشو ، او حضرت شيخ رحمه الله په نيز کاف دپاره د بيان کمال دې ،يعنى داخالص زمونږ قدرت وو چه فرعونيان مو د سلطنت ، د بنګلو او د مالونو او د هر څه نه محروم کړل . او دا ټول څيزونه مو بنى

اسرائیلو ته ورکړل ا وځنې روایاتو کښې دي چه د فرعون د هلاکت نه ورستو بنی اسرائیل مصر ته راغلل د هغوئ ټول مالونه ، ئې قبضه کړل هغوئ زمکې ئې پخپل استعمال کښې راویستلې،ځنې بنی اسرائیل تر څه وخته پورې بیا مصر کښې پاتې شول او ځنې شام ته لاړلو لیکن ابن جریر طبری ﷫ پدې جزم کړې دې چه نبی اسرائیلو ته اګر چه الله ﷻ د فرعون او قبطیانو زمکې ، بنګلې ، او مالونه په ملک کښې ورکړل خو دوئ مصر ته رانغللو ،بلکه دوئ د ځان دپاره مسکن شام اوګرځولو "طبری".

﴿ فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ﴾فاء د تفریح دپاره ده نو مقصد دا دې چه مونږ د فرعون او د هغه د قوم په زړه کښې په بنی اسرائیلو پسې د وتلو شوق او جذبه پیدا کړه نو دوئ په هغوئ پسې اووتلو او د نمر خاته وخت کښې د فرعون لښکر بنی اسرائیلو ته اورسیدلو﴿ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ ﴾چه کله دواړو لښکرونو یو بل اوکتل نو بنی اسرائیل سخت ګهبراؤ شو چه مخې نه دریائې قلزم دې او شاته د فرعون لښکر دې نو موسی ﷺ ته ئې اوئیلو چه﴿ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴾چه مونږ خو راګیر شو﴿قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ ﴾حضرت موسی ﷺ په پوره استقامت سره د دوئ خبره رد کړه او ورته ئې اوفرمائیلو چه قبطیان هر ګز تاسو نشی نیولې،ځما د رب امداد او نصرت ما سره دې هغه به د دې سختئ نه د وتلو لاره ماته اوښائی

فائده : د سفر هجرت کښې چه کله نبی ﷺ او حضرت ابوبکر ﷺ په غار ثور کښې پټ وو او کفار غار ثور ته را اورسیدلو نو حضرت ابوبکر ﷺ ډیر پریشانه شو او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ! که دوئ خپل قدمونه ته هم اوګوری نو مونږ به اوینی، نو نبی کریم ﷺ ورله تسلی ورکړه چه (ما ظنک باثنین ثالثهما الله) او بیا ئې ورته اوفرمائیلو چه (لاتحزن ان الله معنا) نو نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر ﷺ ته تسلی ورکولو کښې صیغه د جمع متکلم استعمال کړه او د الله ﷻ په معیت او نصرت کښې ئې حضرت ابوبکر ﷺ هم ځان سره شریک کړو ، او موسی ﷺ خپل قوم ته د تسلی په وخت کښې صیغه د واحد متکلم استعمال کړه چه د الله ﷻ معیت او نصرت ځما سره دې ، وجه دا ده چه د حضرت سیدنا ابوبکر ﷺ د الله ﷻ په امداد او نصرت باندې کامل او مکمل یقین وو ، خو یو طبعی پریشانی د نبی پاک ﷺ په باره کښې ورته راغله ،او د خپل ځان

فکر ورسره نوو لکه چه پدې دلالت کوی روایت د بخاری او مسلم چه (اشفق ابوبکر علی رسول الله ﷺ وقال ان تصب الیوم ذهب دین الله) او بنی اسرائیلو سره د خپل ځان فکر وو ، لکه چه په ځنې روایاتو کښې دی چه کله بنی اسرائیلو مخامخ سمندر ته اوکتلو او ورستو نه ئې د فرعون لښکر اوکتلو نو موسی ﷺ ئې ملامت کولو ، او دا ئې ورته اوئیل چه (امن عدم القبور بمصر اخرجتنا لنموت فی البحر اما قلنا لک دعنانخدم المصریین فهو خیر من موتنا فی البحر) یعنی ایا زمونږ دپاره د مصر په ښار په کښې د قبرونو ځائې نوو چه تا مونږ د مرګ دپاره سمندر ته را اویستلو . آیا تاته مونږ نه وو وئیلی چه مونږ پریده مونږ به د مصر د خلکو خدمت کوو ، دا زمونږ دپاره په سمندر کښې د مرګ نه ، ډیر غوره دې.

او دویمه وجه دا ده چه د دې امت خصوصیت دا دې چه الله ﷻ د انبیاء کرامو والا ذمه داری دوئ ته ورکړیده . نو دغه شان الله ﷻ دوئ ته دا خصوصیت هم ورکړیدې چه د دې امت هر هر فرد ئې د خپل پیغمبر سره معیت الهی او نصرت الهی کښې شریک کړیدې.

فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ؕ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ
نووحی اوکړه موسی ته چه اووهه ته په همساخپله باندې دریاب پس وچاؤدلودریاب نوشوه هره حصه
كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿۶۳﴾ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۶۵﴾
لکه غرلوئ اوبیارانیږدی کړل مونږدغه ځائ ته نور(قوم فرعون)اونجات ورکړومونږموسی ته اوهغه چاته چه ده سره وؤټولوته
ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۶﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۶۷﴾
بیامو غرق کړل نور(قوم فرعون) بیشکه پدی واقعه کښ دلیل دعبرت دې،خوندی اکثرخلق ایمان راوړونکی.
وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۶۸﴾
اوبیشکه رب ستاخامخاهغه غالب دې رحم کونکې دې

﴿ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ ﴾ دا طريقه او كيفيت د انجاء د بني اسرائيلو او غرق كولو د فرعون ذكر كيږي د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه مروي دي چه كله موسى عليه السلام سمندر ته را اورسيدلو او قوم ئې شكايت شروع كړو نو موسى عليه السلام پدې وخت كښې دا دعا اوكړه (يامن كان قبل كل شيء والمكون لكل شيء والكائن بعد كل شيء اجعل لنا مخرجاً) نو الله جل جلاله ورته وحى اوكړه چه پدې خپلې عصا سره دا درياب اووهه ، او چونكه غيب دان نوو ، نو دا پته ورته نه لګيدله چه ددې نجات طريقه به څه وي ؟ نو څكه الله جل جلاله ورته په دغه ځائې كښې وحى اوكړه . چه خپلې عصا سره سمندر اووهه او ددې بحر او سمندر نه مراد دريائې قلزم دې ﴿ فَٱنفَلَقَ ﴾ فاء فصيحيه ده تقدير د عبارت داسې دې (فضر به فانفلق) يعنى موسى عليه السلام په عصاء سره ، سمندر او وهلو نو درياب اوچودو ، او دولس لارې پكښې جوړې شوې ﴿ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ ﴾ نو موسى عليه السلام چه څرنګه عصا اوبو باندې اووهله نو اوبه د الله جل جلاله په حكم سره فوراً اودريدلې ، موجو نه چه په كوم حالت وو بس په هغې حالت باندې پاتې شو . نو په سمندر كښې جوړې شوې لارې داسې ښكاريدلې لكه لويه غونډۍ .

﴿ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ﴾ پدې كښې د فرعون غرق كيدل ذكر كيږي . بنى اسرائيل چه كله دهغه لارو باندې سمندر عبور كړو ، د بنى اسرائيلو اخرى كس د سمندر نه اووتلو نو د فرعون د لښكر اخرى سمندر ته داخل شو ، نو الله جل جلاله سمندر ته د بهيدلو حكم اوكړو . نو د موسى عليه السلام لښكر او بنى اسرائيلو ته الله جل جلاله نجات وركړو او فرعون ئې سره د خپل لښكر نه غرق كړو ﴿ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ يعنى پدې واقعې كښې د الله جل جلاله د قدرت او د عبرت دپاره لويه نښانى ده . او صرف دا يوه واقعه هم د عبرت دپاره كافى ده . ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم ﴾ يعنى د دې باوجود بيا هم اكثر خلك ايمان نه راوړي (اكثرهم) كښې ضمير د غوره قول مطابق عامو خلكو ته راجع دې ، او بعضې فرمائې چه ضمير فرعونيانو ته راجع دې يعنى اكثر د فرعونيانو نه مؤمنان نوو . او اكثر څكه اوئيلې شو چه د فرعون د قوم څنې كسانو ايمان راوړې وو . لكه حضرت حزقيل چه دا د فرعون سخر وو د حضرت آسيه رضي الله عنها پلار وو او آسيه رضي الله عنها مؤمنه وه . او دغه شان مريم بنت ذا موسى ايمان راوړې وو . او دا هغه بوډۍ وه چه موسى عليه السلام نه ئې په جنت كښې د معيت وعده اغستلې وه او بيا ئې ورته د حضرت يوسف عليه السلام قبر خودلې وو او ددې عمر په دغه وخت كښې تقريباً اوه سوه (۷۰۰) كاله وو ، تفصيلى واقعه ئې

قرطبي وغيره كتبي ذكر ده او دغه شان څه نور كسانو هم ايمان راوړي وو ﴿ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ ﴾
يعني الله جَلَّجَلاَلُهُ زبردست غالب ذات دې هر معاند او سركش ته فوراً سزا وركولې شي خو د خپل
رحمت د مقتضى د وجې نه مهلت وركوى.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۷۰﴾ قَالُوْا
اولوله ته پدوئ قصه د ابراهيم .كله چه اووئيل ئې خپل پلارته اوقوم ته تاسو د څه شى عبادت كوئ.هغوئ ورته اووئيل
نَعْبُدُ اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿۷۱﴾ قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ
مونږعبادت كوؤد بتانو پس هميشه به يومونږ د هغوئ عبادت كونكى.اووئيل ابراهيم آيااورى دوئ ستاسوخبرې
اِذْ تَدْعُوْنَ ﴿۷۲﴾ اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ اَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿۷۳﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا
كله چه تاسوئې راغواړئ يانفع رسولې شى تاسوته ياضرررسولې شى.هغوئ اووئيل نه بلكه موندلى دى مونږپلاران خپل
كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿۷۵﴾ اَنْتُمْ
چه همدارنګه به ئې كول.ابراهيم ورته اووئيل خبرشئ هغه څه چه تاسوئى عبادت كوئ،تاسو
وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ﴿۷۶﴾ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْٓ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۷﴾
اوپلاران ستاسومخكنى.بيشكه چه دوئ دشمنان دى خما.ليكن رب العالمين چه دې

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴾ دا دويم دليل نقلي دې په ذكر د واقعې د حضرت ابراهيم عليه السلام
سره . هر كله چه زمانه د موسى عليه السلام نزدې وه زمانه د نبى كريم ﷺ ته او واقعه د هلاكت د فرعون او
د نجات د بنى اسرائيلو زياته اعرفه او مشهوره وه او يهوديان په كثرت سره په ملك د عربو كښې
موجود وو نو د دې وجې نه واقعه د موسى عليه السلام اول ذكر شوه.او بيا هر كله چه يهوديانو ،

عیسایانو او مشرکین مکه ټولو به د خپل دین نسبت حضرت ابراهیم ﷺ ته کولو . او هر یوې فرقې به د هغه د اتباع دعوه کوله او حضرت ابراهیم ﷺ ټولو ته قابل قدر او مسلم شخصیت وو ، نو ددې وجې نه اوس واقعه د حضرت ابراهیم ﷺ ذکر کیږي دپاره د وضاحت د دې خبرې ، چه حضرت ابراهیم ﷺ د شرک نفی او د توحید اثبات په یو زبردست انداز سره کړیدې ، نو د حضرت ابراهیم ﷺ واقعه ذکر کولو کښې مقصود تخویف ندې ځکه چه د هغه په قوم باندې اجتماعی عذاب نوو راغلې ، بلکه مقصود د دې واقعې نه صرف حجت الزامی دې په مشرکینو باندې چه هغوئ به د ټولو نه زیاته دعوی د حضرت ابراهیم ﷺ د اتباع کوله . او خپل جدا مجد ئې ګڼړلو ، او هر کله چه دا واقعه مشتمله ده په عظیم امورو باندې . او بذاته عظمت شان والا ده نو ځکه دې واقعې ته (نبأ) اوئیلې شو .

﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ ﴾ د ابراهیم ﷺ پلار آزر مشرک وو . نو ابراهیم ﷺ په خپل دعوت سره هغه مقدم کړو ، اول دعوت ئې پلار ته ورکړو ځکه چه دا حق شرعی دې او دغه شان پلار د ابراهیم ﷺ داعی د شرک وو ، او قوم د هغه تابع او مدعو وو نو ځکه پلار ئې مقدم کړو ﴿ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ دا سوال د حضرت ابراهیم ﷺ د استعلام دپاره نوو چه ابراهیم ﷺ نه پوهیدلو چه دوئ د څه شی عبادت کوی ، نو تپوس ئې ورنه اوکړو ، ځکه چه ابراهیم ﷺ په سترګو کتلو چه دوئ د بتانو عبادت کوی . بلکه مقصود پدې سره تحقیر د دوئ د معبودانو دې دپاره د تنبیه پدې چه تاسو چه د کوم څیزونو عبادت کوئ دا مستحق د الوهیت ندی . ﴿ قَالُوا نَعْبُدُ أَصْنَامًا ﴾ دوئ ابراهیم ﷺ ته جوب ورکړو چه مونږ د بتانو عبادت کوو او صرف عبادت نه ، بلکه هر وخت مونږ د دوئ په تعظیم او عبادت باندې قائم یو د دوئ جواب پدې جملې سره هم کیدلو چه دوئ وئیلې وې چه ﴿ نَعْبُدُ أَصْنَامًا ﴾ لیکن هر کله چه ابراهیم ﷺ په سوال کښې تحقیر اوکړو نو دوئ په جواب کښ ﴿ فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴾ زیات کړو دپاره د فخر په عبادت د بتانو باندې ، او (نظل) یا د افعال تامونه ، دې نو معنی به ئې (دوام) وی ، لکه وئیلې شی چه (لوظل الظلم هلک الناس) نو د ﴿ فَنَظَلُّ لَهَا ﴾ معنی به شی چه مونږ همیشه دپاره د دوئ په عبادت باندې قائم ، دائم یو (ای فنقیم علی عبادتها) ۰ قرطبی ۰ او یا (

نظل ، د افعال ناقصونه دي چه دادَه اصل هم دي،نو پدې صورت کښې به ثبوت د خبر چه (عبادت ، دي اسم د ظل لره چه (نحن) ضمير دي په ساعت د ورځې کښې به وی. نو معنی به ئې راشی چه " مونږ د ورځې عبادت د دې بتانو کوو " او دا د دوئ عادت وو چه د ورځې به ئې عبادت د بتانو کولو او چه د شپې به ستوری را اوختلو نو بيا به ئې د ستورو عبادت شروع کړو. اول احتمال د مقام سره ، زيات مناسب دې، او دويم احتمال د اصل معنی سره او فق دې

﴿ قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ ﴾ ابراهيم ﷺ د دوئ د مذهب د فساد او د دوئ د عقيدې د ابطال دپاره د دوئ نه بله پوښتنه اوکړه نو د دې پوښتنې او د سوال نه هم مقصود د استعلام ندې . بلکه الزام حجت او تقرير حجت دپاره دې يعنی هغوئ ته د الوهيت صفات وربنودل وو ،دپاره د دې چه هغوئ خپله سوچ او فکر اوکړی او پخپله د خپلې عقيدې دبطلان اعتراف اوکړی، نو دابراهيمﷺ مقصددادې چه دالوهيت اود معبود صفات دا دی چه هغه د مخلوقاتو بلنې اوری، د هغوئ دعاگانې قبلوی ، هغوئ ته نفعې ورکولو او د هغوئ نه د ضرر لرې کولو باندې قادر وی . ايا ستاسو دا معبودان هم داسې دی ؟آيا په دوئ کښې هم دا صفات موجود دی ؟

﴿ قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا ﴾دا جواب د مشرکينو دې. " بَلْ " دپاره دا ضراب دې، يعنی دوئ د دې خبرې اعتراف اوکړو چه دا بتان نه څه اوری ، نه نفع ورکولو باندې قادر دی او نه د ضرر دفع کولو باندې قدرت لری، بلکه د دوئ عبادت زمونږ د خپل اباؤ اجداد تقليد د وجې نه دې،چه مونږ هغوئ کتلی ووچه د دې بتانو عبادت به ئې کولو نو دوئ سره د تقليد فاسد نه علاوه بل دليل نوو او په خلاف شرعه اوناجائز امورو کښې دچا تقليد کولوته تقليد فاسد وئيلې کيږی شريعت کښې داسې تقليد سخت مذموم دې،او هر چه دې په امورو د شريعت کښې تقليد هغه تقليد ممدوح دې،جائز بلکه په عوامو باندې واجب دې﴿ قَالَ أَفَرَءَيْتُم ﴾دا جواب دې د جانبه د حضرت ابراهيم ﷺ خلاصه د دې جواب دا ده چه ابراهيم ﷺ ،دوئ ته اوفرمائيلو چه تاسو خپله فکر او سوچ کړئ د څومره بيکاره معبودانو عبادت تاسو کوئ چه نه څه اوری ، نه څه فائده درکوی او نه څه ضرر دفع کولې شی نو رؤيت دلته بصری ندې مراد بلکه په معنی د تأمل سره دې يعنی رؤيت نه قلبی مراد دې﴿ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمُ ﴾يعنی يو باطل پدې سره حق نه گرځی چه پخوانو خلکو د هغه عبادت کړې وی او يا

فی الحال د هغه عبادت کوونکی زیات وی نو ستاسو د پخوانو مشرانو د دې بتانو بندګی کول او یا ستاسو بندګی کول دلیل د حقانیت د دې بتانو ندې. ﴿فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ﴾ حضرت ابراهیم ﷺ د بتانو د عبادت نه برأت اعلان اوکړو چه ددې بتانو عبادت څما دپاره سخت د ضرر ذریعه ده، او مقصود پدې برأت سره دوئ باندې تعریض کول. او دوئ ته وعظ او نصیحت کول وو، چه د دوئ عبادت کول ستاسو دپاره سخت ضرر او نقصان ذریعه ده. او سبب د دشمنئ او د عداوت دې، او دا د وعظ او نصیحت مؤثره طریقه ده چه مخاطب خپل ځان کرې شی او مقصد ئې بل ته نصیحت کول وی. نو ګویا چه ابراهیم ﷺ دوئ ته اوفرمائیلو چه ما ښه سوچ اوفکر اوکړو نو د دوئ عبادت راته داسې ښکاره شو لکه د یو دشمن عبادت کول، او دغه شان په باب د نصیحت کښې تعریض کله کله دومره مؤثر وی چه تصریح هومره مؤثر نوی، نو ځکه ابراهیم ﷺ د دوئ عداوت ځان ته منسوب کړو او په وعظ او نصیحت کولو کښې ئې تعریض اختیار اوفرمائیلو او حضرت ابراهیم ﷺ د عدوات نسبت بتانو ته اوکړو چه هغه جمادات دی نو دا د قبیلې د تشبیه بلیغې نه دې. نو تقدیر د عبارت داسې دی چه (ان عبادتهم عبادة العدوّ) یعنی د دوئ عبادت کول د دشمن د عبادت کولو پشان دی ځکه چه د تاوان او نقصان نه، علاوه د دوئ په عبادت کښې څه فائده نیشته دې. دنیا کښې هم خساره ده خپل ځان سترې کول او خپل مال او وخت ضائع کول دی او د اخرت خساره د ټولو نه لویه خساره او نقصان دې. او یا دا نسبت مجازی دې او د قبیلې د مجاز عقلی نه، دې او اطلاق د دوصف د سبب په مسبب باندې دې. یعنی د غیر الله عبادت کول سبب د دشمنئ په قیامت کښې دې. قیامت په ورځې چه کله دا معبودان د خپلو عابدانو د عبادت نه، انکار اوکړی نو د دوئ به پخپل مینځ کښې سخته دشمنی پیدا شی لکه چه سورة مریم آیت نمبر (۸۲) کښې ذکر دی. ﴿إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ غوره قول دا دې چه دا استثناء منفصله ده، نو مقصد دادې چه د هر معبود باطل عبادت کول ذریعه د، عداوت او د نقصان ده. لیکن صرف ﴿رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ چه معبود حقیقی دې د هغه عبادت کول سراسر نفع او فائده ده.

ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ﴿٧٩﴾

هغه ذات دې چه څه نی پیدا کړې یم پس هغه لاره ښائی ماته، اوهغه ذات دې چه هغه ماته خوراک راکوی اواوبه راکوی

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيٓ
او چه کله څه مریض شم نو هغه ماته شفاء راکوي.او هغه ذات دې چه مامړکوي بیابه مې ژوندې کوي.او هغه ذات دې
أَطْمَعُ أَنْ يَّغْفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴿٨٢﴾
چه طمع لرم څه داچه اوبه بخي ماته ګناه خمابه ورځ دقیامت.

﴿ اَلَّذِي خَلَقَنِي ﴾هر کله چه ابراهیم ﷺ دوئ ته د بتانو د عبادت نقصان بیان کړو او د ﴿رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ د عبادت فائده ئې بیان کړه . نو اوس پدې ایاتونو کښې صفات د ﴿رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ذکر کوی دپاره د معرفت د هغه ، نو پدې آیت کښې دوه صفاته د ﴿رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ذکر کیږی ، اول صفت ئې دا دې چه هغه خالق دې،دویم صفت ئې دا دې چه هدایت ورکونکې دې، یعنې دا ، نه چه صرف مخلوقات ئې پیدا کړل او بس ،بلکه د پیدا کولو سره ئې مخلوقاتو ته د دین او دنیا د مصالحو او منافعو حاصلولو هدایت هم اوکړو، او هدایت ابتداءً دوه قسمه دې طبعی ، او کسبی ، طبعی هدایت الله ﷻ ټولو مخلوقاتو ته د پیدائش سره متصل کړیدې . د چرګې بچې پیدا شی ، نو هغه دانې خوری.د مهی بچې د پیدا کیدلو سره په اوبو کښې لامبو وهی . د انسان بچې پیدا کیدو سره د مور پئ څکی. نو دا فطری اوطبعی هدایت دې، او دا مراد دې په سورة الاعلی آیت نمبر (۳) کښ،او دویم کسبی هدایت دې چه حاصلیږی په کتب سماو یه، او په تعلیمات د انبیاء کرامو سره چه اهل سنة والجماعت ورنه تعبیر په (الدلالة علی ما یوصل الی المطلوب) سره او یا په (اراءة الطریق) سره کوی، نو الله ﷻ انسان ته او مخلوقاتو ته هر قسم هدایت کړیدې . هم فطری او هم کسبی یعنی د قبول حق صلاحیت او استعداد پکښ پیدا کړیدې عقل ئې ورته ورکړیدې کتب سماو یه ئې د ده دپاره نازل کړیدی. او انبیاء علیهم السلام ئې مبعوث کړیدې . د باقی د هدایت مکمل اقسام او مراتب د سورة الفاتحه په تفسیر کښی حضرت والد صاحب نور الله مرقده وبرد مضجعه، تفصیل سره ذکر کړیدې. او هر کله چه هدایت متصل دې د (خلق) سره نو څکه (فاء)

ورسره راوړې شوه او دا هدايت متجدد كيږي په . استمرار سره نو ځكه په صيغې د مضارع سره ذكر شو چه دا دلالت په تجدد كوي

﴿ وَٱلَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي ﴾په دې كښې دريم او څلورم صفت ذكر دې چه خوراك هم الله ﷻ راكوي او څښكاك هم هغه راكوي . يعنې روزي رسان هغه دې . او (هو) دپاره د حصر او اختصاص دې نو مطلب دا دې چه روزي رسان بل څوك نشته دې سيوا د هغه نه او مراد په اطعام او اسقاء سره د هغې اسباب پيدا كول دي مثلاً باران اورول په هغه سره فصلونه ، ميوې وغيره راويستل ، نو دا صرف د الله ﷻ قدرت كامله دې، او د هغه په اختيار كښې دی . او هر كله چه په خوراك او څښاك سره قوام د بدن راځي نو ددې وجې نه دا د (خلق)نه ورستو ذكر كړې شو﴿ وَإِذَا مَرِضْتُ ﴾ په دې كښې پنځم صفت د ، الله ﷻ ذكر كيږي چه د مرض نه شفاء وركوونكې ذات هم هغه دې او الله ﷻ چه لكه څرنګه شفاء وركوونكې دې نو دغه شان بيماري او مرض راوستونكې هم هغه دې خو حضرت ابراهيم ﷺ نسبت د بيمار كيدلو ځان ته اوكړو او نسبت د صحت وركولو ئې الله ﷻ ته اوكړو دپاره د رعايت د كمال ادب، ځكه چه بيماري او مرض په ظاهر كښې نعمت ندې، بلكه ابتلاء ده .او حضرت ابراهيم ﷺ په معرض د بيان د صفاتو د الله ﷻ كښې دې نو په صفاتو كښې بيماري راويستلو صفت ذكر كول مناسب نوو. نو ځكه حضرت ابراهيم ﷺ د بيمارئ نسبت ځان ته اوكړو.

او كه څوك اشكال اوكړي چه په ابتلاء كښې د ټولو نه لويه ابتلاء خو مرګ دې،نو بيا خو پكار وه چه حضرت ابراهيم ﷺ د مرګ وركولو نسبت هم الله ﷻ ته نوې كړې او حالانكه ابراهيم ﷺ ورستو آيت كښې د مرګ وركولو ، نسبت الله ﷻ ته كړيدې، نو يو دا جواب ورنه بعضو دا كړيدې چه مرګ محض قضاء د الله ﷻ ده ،او حكم ئې عام دې، هر انسان او هر مخلوق ته.كه هغه تندرست او صحت مند وی او يا مريض وی . يعنې مرګ په استناد كښې اسباب ظاهر يو ته ندې محتاج ډير وخت يو كس داسې هم وی چه روغ او تندرست وی او مرګ پرې راشی . په خلاف د مرض نه چه دهغه دپاره اسباب خارجي خامخا وی . چه (اخلاط اربعو) كښې د څه څيز د وجې نه خلل راشی او مرض عام هم ندې، ډير وخت يو كس داسې هم وی چه پوره ژوند كښې په هغه باندې مرض رانشی نو د ې وجې نه چه مرګ محض قضاء د الله ﷻ ده او عموم پكښې هم دې، نو نسبت

نبي الله ﷻ ته زيات مناسب وو او په مرض كښې د څه اسباب ظاهر يو دخل خامخا وي او حكم ئي هم عام ندي نو جهت د ابتلاء محض او نعمت پكښې زيات وو نو نسبت ئي ځان ته كول اولى وو نو ځكه ابراهيم ﷺ په مرض كښې نسبت ځان ته او په مرګ وركولو كښ ئي الله ﷻ ته اوكړو

او بعضو ورنه دا جواب كړيدي چه هر كله مرګ ذريعه د حصول حيات ابدى دپاره ده. او خاص طور باندې د نيكانو بندګانو دپاره ذريعه د سعادت ابدى ده او هم ددې وجې نه حضرت ابراهيم ﷺ ذكر د مرګ مقدم كړو په ذكر د حيات باندې. نو په مرګ كښې جهت د ابتلاء كمزورې دې نو ددې وجې نه نسبت د مرګ وركولو ئي الله ﷻ ته اوكړو.

امام رازى ﷫ جواب كړيدي چه مرګ بذاته ابتلاء نده او په هغه كښې څه تكليف مخلوق ته نه محسوسيږي، بلكه حصول د حالت د مرګ غير محسوسى وى،تكليف او ضرر په مقدماتو د مرګ كښ دې چه هغه عين مرض دى،تو ددوجى نه نسبت د مرګ وركو لو الله ﷻ ته اوكړې شو او هر كله چه مرض او صحت د متفرعاتو د اكل،او شرب نه ، دى يعنى د صحت او مرض دارو مدار غالبا په خوراك او څكاك باندې دې نو ددې وجې نه ذكر د مرض او د صحت ورستو د ذكر د خوراك او څكاك نه ، اوشو،والله اعلم.

﴿ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي﴾ دا د شپږم او اووم صفت ذكر دې ، چه مرګ او ژوند وركوونكې ذات الله ﷻ دې ،او پديكښ رد دې په هغه چا چه نسبت د مرګ صرف اسباب ظاهريو ته او اختلاف د مزاج ته كوى او مراد په﴿ ثُمَّ يُحۡيِينِ ﴾سره بعث دې، او هر كله چه (بعث) يعنى دوباره ژوندى كيدل څه زمانه ورستو راځى د مرګ نه نو ځكه ورسره (ثم) ذكر شو چه دلالت كوى په تراخى د زمانې باندې، او هر كله چه مرګ دپاره سبب ظاهرى عموماً مرض وى نو ددې وجې نه دا صفات د مرض او صحت نه ئې ورستو ذكر كړو. ﴿ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ ﴾پديكښې ذكر د اتم صفت دې چه څه د هغه نه اميد لرم كچرې ځما نه څه لغزش شوې وى نو د قيامت په ورځ به ماته هغه لغزش معاف كړى .او مراد په (خطيئة) سره (خطيئه) حقيقى نده چه هغه ګناه ته وئيلې كيږى. بلكه مراد ورنه خطيئه صورى ده چه خلاف اولى كار ته وئيلې كيږى او چونكه خلاف اولى كار انبياء كرام د خپل عالى مراتبو د وجې نه د خپل ځان په حق كښې په منزله د ګناه ګڼړى نو ځكه ئې تعبير ورنه په (خطيئه) سره اوكړو. ورنه انبياء

كرام عليهم الصلوة والتسليمات د ګناهونو اوخطاګانو نه معصوم دي او مغفرت د په ‹ طمع › سره متعلق كول يعنى ﴿أَطْمَعُ﴾ وئيل دپاره د اظهار د كمال بندګئ او كمال عجز دپاره دی چه حضرت ابراهيم ﷺ د خپلې كمال بندګئ اظهار كوی چه اې الله ځما اعمال د دې قابل ندی چه ځما مغفرت ورسره اوكړې شی خو بيا هم څه اميد او طمع لرم چه ته به ځما مغفرت اوكړې او دغه شان پديكښ اشاره ده چه په الله ﷻ باندې وجوب نيشته دې . كه د چا مغفرت كوی نو احسان ئې دې او كه نه ئې كوی عين عدل ئې دې ځوك ورنه تپوس والا نيشته . او بيا د خطاياؤ متعلق كول په ‹ يوم الدين › پورې د دې وجې نه ، دی چه اثر د مغفرت ظاهريږی په ورځې د جزاء كښ اګر چه مغفرت په دنيا كښ هم كيږی . اودغه شان پديكښې اشاره ده تهويل د ورځې د جزاء ته يعنى كچرې پدغه ورځ مغفرت اوكړې شو نو ښه ده ،ګنې ډير لوئی هلاكت سره مخاخ كيدل دی ‹ اللهم اجرنا من خزی يوم الدين آمين ›.

رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾
اې ربه راكړه ماته حكمت اويوځاى مې كړى نيكانوسره اواوګرځوه ځماذكرخيرپه ورستنوخلقوكښ.
وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِي
اواګرځوه ماد وارثانو دجنت دنعمتونونه اوبخنه اوكړه ځماپلارته بيشكه هغه دې دګمراهانونه اومامه رسواكوه
يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾
په ورځ دقيامت په هغه ورځ نفع به نه رسوى مال اونه اولاد ،مګرهغه چاته چه راغلې وى د الله ﷻ دربارته په زړه روغ سره.

﴿رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا﴾ هر كله چه حضرت ابراهيم ﷺ د مبدأ نه تر معاد پورى او د ابتداء د خلق نه تر دوباره ژوندى كول او حشر پورې صفات د الله ﷻ بيان كړل نو اوس په هغې باندې تفريع كوى په دعاګانو سره ‹ ابومسعود › نو حضرت ابراهيم ﷺ شپږ دعاګانې غوختلې دی نو دا اوله دعا ده. چه ربه ماته حكمت يعنى كمال علم نصيب كړې او د كمال عمل توفيق راته راكړې

يعنی ما دخپلو نيکانو بندگانو سره يوځائ کړې. نو مراد په ﴿حُكْمًا﴾ سره کمال علمی دې.
او په﴿وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾سره کمال عملی دې، او امام رازی رحمه الله فرمائی چه ﴿حُكْمًا﴾ نه
مراد کمال قوت نظری دې، اود﴿وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾ نه مراد کمال د قوت عملی دې. او هر
کله چه قوت نظری مقدم دې په قوت عملی باندې ذاتاً او شرفاً، نو ددې وجې نه حضرت ابراهيم
عليه السلام په دعا کښې هم د قوت نظری سوال مقدم کړو، هر چه دې د قوت نظری ﴿کمال﴾ ذاتا تقديم نو
هغه بديهی دې ځکه چه عمل فرعه د علم ده تر څو پورې علم نوی نو عمل نشی راتللې او هر چه
دې شرفاً تقديم نو وجې ئې داده چه علم صفت د روح دې، او عمل صفت د بدن دې. او روح افضل
دې په نسبت سره بدن ته ،نو ځکه علم هم افضل دی په نسبت سره عمل ته ،او علامه آلوسی رحمه الله
فرمائی چه حکم نه مراد کمال فی العلم والعمل دواړه دی او﴿وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾نه مراد
قبوليت د علم او د عمل دې. يعنی کمال علم او عمل ، را نصيب کړی او بيا ئې په خپل دربار کښې
قبول کړی ځکه چه علم او عمل کله پورې چه قبول شوې نوی نو لحوق او يو ځائ کيدل د صالحينو
سره نه راځی. نو﴿وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ﴾مطلب دا دې چه پس د مرگ نه په عالم برزخ او بيا په
عالم اخرت کښې ما د صالحينو سره يوځائې کړې .﴿ وَاجْعَل لِّي لِسَانَ ﴾دا دويمه دعا ده.چه
راتلونکی نسلونوکښې ځما ذکر خير هميشه دپاره باقی او جاری اوساتی﴿ لِسَانَ صِدْقٍ ﴾کښې
اضافت دَموصوف دې صفت ته،په اصل کښې لسانٌ صدقٌ﴿يعنی په تنوين سره﴾ وو او ﴿ لسان ﴾نه مراد
ذکر او قول دې او چونکه ﴿لسان﴾ آله د قول ده نو ددې وجې نه په طريقې د مجاز مرسل سره ذکر د "
لسان "او مراد ورنه " ذکر" او" قول " دې. او" صدق "په معنی د صادق سره دې او مراد تنه خير دې
او په﴿ اجْعَل لِّي ﴾کښې ﴿لام﴾ دپاره د انتفاع دې. نو مقصد دا شو چه : اې الله ! ځما د نفعې دپاره
ځما ذکر خير په راتلونکی امتونو کښې، باقی اوساتې ، او د نفعې والا ذکر خير هغه د ينی او شرعی
طريقی او ښه اخلاق دی چه خلک ئې په هغې کښې دده اتباع کوی. او د مرگ نه پس ئې اجر دده ته
رسيږی او﴿ الف لام ﴾ په ﴿ الاخرين ﴾ کښې داستغراق دپاره دې. مراد ورنه ټول روستونکې ،
راتلونکی خلک او امتونه دی. نو د حضرت ابراهيم عليه السلام ددې دعا خلاصه داده چه ما ته د داسی

نیک عمل کولو توفیق راکړه چه راتلونکی خلک په هغې کښې ځما اتباع کوی او ماته پس د مرګ نه اجر رارسیږی .او د حضرت ابراهیم ﷺ دا دعا الله ﷻ قبوله کړه هرامت خپل ځان حضرت ابراهیم ﷺ ته منسوب کوی اودهر امت خلکو ته حضرت ابراهیم ﷺ معززه هستی ده .او حضرت شیخ ﷫ فرمائی چه د ﴿ لسان صدق ﴾ نه مراد کلمه صادقه ده.او کلمه صادقه . کلمه توحیدده لکه په سورة الزخرف آیت نمبر (۳۵) کښې دی. او په ﴿ الاخرین ﴾ کښې الف لام د عهد دپاره دې،مراد ورنه امت محمدیه ﷺ دې، نو د دعا مطلب دا شو چه : اې الله ! په اخرې زمانه کښې پیغمبر مبعوث او فرمایه چه هغه ځما ددین د اصولو تجدید اوکړی او ځما پشان خلکو ته ددین او توحید دعوت ورکړی او ځما طریقه را ژوندئ کړی .

﴿ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ ﴾دا دریمه دعا ده .چه د سعادت دنیوی نه ورستو د سعادت اخروی سوال اوکړو چه : اې الله ! ما د جنت د نعمتونو حقدار اوګرځوې . او د جنت د نعمتونو حصول نه تعبیر په ﴿ وراثت ﴾ سره اوکړو پدیکښې اشاره ده چه دخول جنت دچا استحقاق ندې بلکه محض په فضل د الله ﷻ سره دې﴿ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ ﴾دا څلورمه دعا ده باره دَ مغفرت دَپلارکښې،اوپلار دَحضرت ابراهیم علیه السلام مشرک وؤ ،نوپه هغه لپاره دعادَمغفرت دَهغې وعدې دَ وجې نه وه کومه چه حضرت ابراهیم علیه السلام ورسره کړې وه لکه په سورة مریم کښې د هغې ذکر دې چې ﴿ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓ ﴾او تردغې وخته پورې حضرت ابراهیم ﷺ ته علم نوو چه ځما پلار په تقدیر کښې ایمان راوړل نیشته دې ، اوکله چه ورته علم اوشو نو بیا ئې دعا پریخودله ، لکه سورة التوبة آیت نمبر (۱۱۴) کښې دی. او بعض فرمائی چه د مغفرت نه مراد دلته طلب د هدایت دې – ﴿ ای واغفر لابی بالهدایة والتوفیق للایمان ﴾ ابی سعود . ﴿ وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ ﴾دا پنځمه دعا ده چه : اې الله ﷻ !د قیامت د رسوائی نه مې بچ وساتې، او مراد په ﴿ خزی ﴾ او شرمندګئ سره عامه ده که هغه د میدان حشر رسوائی وی او یا د جهنم د عذاب والا رسوائی وی، او انبیاء کرام اګر چه معصوم دی د هغوئ به په قیامت کښې لوئ اعزاز وی خو بیا هم د حضرت ابراهیم ﷺ د اخرت د شرمندګی نه بچ کیدلو سوال کوی دا د وجې د کمال خوف او کمال تواضع نه . او دغه شان پدیکښې تعلیم ورکول مقصود دی عام مخلوقاتو ته چه کله یو معصوم انسان چه د هغه اعزاز او اکرام متیقن دې هغه د اخرت د شرمندګئ نه د بچ کیدلو سوال کوی نو عامو انسانانو ته په طریقی اولی دا سوال کول پکار دی .

امام رازی رحمه الله فرمائی چه لکه څرنګه حسنات الابرار سيئات المقربين وی نو دغه شان درجات د ابرار ، درکات د مقربين وی نود هرڅا" خزی" د هغه د شان مطابق وی نو د انبياء کرام"خزی"دهغوئ په مرتبه کښې کمالي راتلل دی او دغه شان په روايت د بخاری وغيره کښ دی چه (يلقى ابراهيم اباه أزر يوم القيامة وعلى وجه أزر قتر وغبرة) يعنی نبی پاک ﷺ او فرمائيلو چه د قيامت په ورځ به د ابراهيم عليه السلام د خپل پلار سره پدی حالت کښ ملاقات اوشی چه په هغه باندې به ګردوغبار او ذلت وی نو ابراهيم عليه السلام به عرض اوکړی چه اې ربه ! تا خو ځما سره وعده کړې وه چه ځه به تا په قيامت کښې نه رسوا کومه . نو ددې نه بله لويه رسوائی څه ده چه ځما پلار ځما په وړاندې په داسې بد حالت کښې جهنم ته ځی . نو الله جل جلاله به د ابراهيم عليه السلام د پلار شکل او صورت به د يو بد ځناور په سورت سره بدل کړی چه د ابراهيم عليه السلام به ورنه هم نفرت پيدا شی . او جهنم ته به اوغورځولې شی . نو ابراهيم عليه السلام به د رسوائی نه پدې طريقې سره بچ کړې شی.

﴿يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ﴾عام مفسرين فرمائی چه دا هم دحضرت ابراهيم عليه السلام کلام دې، او هغه د تهويل شان د دغې ورځې د ظاهرولو دپاره دا کلام اوئيلو، ليکن صاحب د جلالين او دغه شان حضرت شيخ رحمه الله فرمائی چه دا ادخال الهی دې، او کلام د حضرت ابراهيم عليه السلام ندې او د آيت مقصد دا دې چه د قيامت په ورځ به چاته د هغه مال او اولاد څه فائده نشی ورکولې. او پديکښ اشاره ده چه آزار چه پلار د ابراهيم عليه السلام وو ، مالونه ئې هم ډير وو او اولاد ئې هم ډير وو. او ابراهيم عليه السلام جليل القدر هستی او پيغمبر هم وو خو د هغې باوجود هغه د کفر او د شرک د وجې نه هغه ته ئې نفع ورنکړه .او مراد په ﴿ بَنُون ﴾ سره نفی د مطلق اعوان او مدد کوونکو ده .خو هرکله چه نارينه اولاد نفع نشی ورکولې نو زنانه اولاد يا نور خلک په طريق اولی سره نفع نشی ورکولې.

﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ﴾استثناء منقطعه ده ځکه چه ﴿بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾د جنس د مال او اولاد نه ، ندې .او د آيت مقصد دا دې چه په دغه ورځ مال او اولاد د څه فائده نشی ورکولې فائده به چه ورکوی هغه صرف " قلب سليم" دې، او " قلب سليم " هغه زړه ته وئيلې کيږی چه خالی وی د کفر ، شرک ، نفاق او بدعت نه، او ددې مثال داسې دې لکه يو سړې پوښتنه اوکړی چه: هل لزيد مال وبنون يعنی آيا زيد دپاره د مال او اولاد شته دې ؟ نو جواب کښ اوئيلې شی چه (ماله وبنوه سلامة

قلبه ، یعنی د زید مال او اولاد د هغه قلب سلیم دي . نو مقصد ددې عبارت نه نفی د مال او د اولاد د
هغه ده او اثبات د سلامة قلب دې د هغه دپاره نو دغه شان دلته هم مقصد دا دی چه نفع ورکوونکې
به د قیامت په ورځ بغیر د (قلب سلیم) نه بل څیز به نوی او دا هم ممکنه ده چه استثناء متصله شی ،
او مستثنی منه محذوف شی چه لفظ د (احد) دې . نو کلام به داسې شی چه (لاینفع مال وّلابنون
احدٌ الاّمن اتی الله) د آیت مقصد دا دې چه مال او اولاد به د قیامت په ورځ چاته هم فائده نه ورکوی
سیوا د هغه چا نه چه د " قلب سلیم " مالک وی . نو هغه ته به خپل مال او اولاد فائده ورکوی څکه
چه " قلب سلیم " والا کس خپل مال د الله ﷻ په لار کښې په شرعی طریقه سره خرچ کوی خپل
اولاد ته د سمې لارې تعلیم ورکوی . نو د هغه اولاد د استغفار د هغه دپاره او د هغوئ شفاعت دده
دپاره نفع مند وی

وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾ وَقِيْلَ لَهُمْ
اونیږدی به کړې شی جنت پرهیزګارانو ته او ظاهر به کړې شی جهنم دګمراهانو لپاره، او او به وئیلې شی ورته
اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾
چرته دی هغه بتان چه تاسو ئی عبادت کولو .ماسوی د الله ﷻ نه آیا امداد به او کړی ستاسو یا د خپل ځان مدد کولې شی
فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿٩٥﴾ قَالُوْا وَهُمْ فِيْهَا
پس پرمخې به او غورځولې شی په جهنم کښې بتان او ګمراهان .او لښکرې د ابلیس ټول ،او به وائی دوئ حال دا چه دوئ په جهنم کښې
يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٩٦﴾ تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٩٧﴾ اِذْ نُسَوِّيْكُمْ
جګړه کوی ،چه قسم دې په الله ﷻ یقیناً وو مونږ په ګمراهۍ ښکاره کښې ، کله(چې) برابرکړی وئ مونږ تاسو
بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ اَضَلَّنَآ اِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿١٠٠﴾
د رب العالمین سره(په الوهیت کښې) او نه وو ګمراه کړی مونږ مګر غتو مجرمانو .پس نیشته زمونږ څوک سفارش کونکی،

وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

اونه ملګرې غم خوار نوکاش چه مونږله واپسی وې دنیاته نوشوبه مونږدایمان راوړونکونه بې شکه پدې قصې کښې

لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۰۴﴾

دلیل دعبرت دې،خولیکن ندی اکثرخلق ایمان راوړونکی اوبې شکه رب ستاخامخاهغه غالب دې رحم کونکې دې

﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ ﴾ما قبل کښې ذکر دقیامت د ورځې وو، اوس د هغې ورځې بعضې تفصیلات ذکر کیږی، نو پدیکښې آیت کښې بشارت اخروی دې، چه متقیانو دپاره به جنت .میدان حشر او موقف ته رانزدې کړې شی، او دا نزدیکت به د دوئ د شرف او عزت او اکرام دپاره وی چه ددوئ په میدان حشر کښې ولاړ وی او اوګوری نو خوشحالیږی به ، او دغه شان دوئ به د مزل کولو د تکلیف نه هم بچ کړې شی چه دوئ جنت ته د مزل کولو تکلیف اونکړی بلکه جنت به ورته رانزدې کړې شی. بعض فرمائی ددینه مراد د جنت نزدې کول ندی ځکه چه جنتونو کښې انتقالات نه راځی د خپل مکان نه بلکه د دینه مراد د جنتیانو نزدیکت دې لکه یو مسافر چه خپل منزل ته نزدې شي نواوئی چه کلې را نزدی شو لیکن اوله توجیه زیاته غوره ده ځکه چه موافق د نص سره او ازلاف دپاره انتقال ضروری ندې بلکه بغیر د انتقال نه هم ازلاف راتلې شی لکه نبی ﷺ ته بیت المقدس نزدې کړې شوې وو﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ ﴾دا تخویف اخروی دې کافرانو ته ،چه دوزخ به دوئ ته ښکاره کړې شی، او دا ښکاره کول د جهنم به ددوئ د پریشانی او دتکلیف زیاتولو دپاره وی چه دوئ به میدان حشر کښې ولاړ وی او جهنم ورته راښکاره کړې شی او دوئ د جهنم عذابونه او د هغې سختئ اوګوری نو د دوئ غم او پریشانی به نوره سیوا شی هره لحظه به ددوئ دپاره د مرګ وی خو مره کیږی به نه.

فائده : د جنت حالت دپاره لفظ د (ازلاف) استعمال شو او د جهنم دپاره ابراز ، ازلاف وئیلې کیږی نزدیکت او نزدې کولو ته . او (ابراز) څرګندولو او ښکاره کولو ته وئیلې کیږی ، نو بعضې علمآء وجه دا بیانوی چه چونکه جهنم میدان حشر ته نزدې دې او جنت ورنه لرې دې ، ځکه چه جنت

ته رسيدلو دپاره پل صراط عبور کول به راځي او جهنم د پل صراط د لاندې دې نو معلومه شوه چه جنت د ميدان حشر نه لرې او جهنم ورته نزدې دې نو ددې وجې نه د جنت دپاره ﴿ ازلفت ﴾ استعمال کړې شو او د جهنم دپاره ﴿ برزت ﴾ استعمال کړې شو .او بعض فرمائي چې په دېکښې اشاره مقصود ده کمال رحمت او شفقت د الله ﷻ ته ، ځکه چه ﴿ ازلاف ﴾ نزدې کولو ته وئيلې کيږي او د چا دپاره چه کوم څيز رانزدې کړې شي نو هغه ورته داخليږي او ﴿ ابراز ﴾ وئيلې کيږي ، ښکاره کولو ته او کوم څيز چا ته ښکاره کړې شي نو ضروري نده چه هغه به ورته خامخا داخليږي نو الله ﷻ د کمال رحمت د اظهار دپاره اسلوب قرآني پدې انداز باندې ذکر کړو ﴿ والله اعلم ﴾.

﴿ وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا ﴾دا به ورته توبيخاً او تبکيتاً اوئيلې شي چه ستاسو هغه معبودان او بتان نن ورځ څه شو چه تاسو به په دنيا کښې د هغوئ عبادت کولو او هغوئ ته به مو سفارشان وئيلو ﴿ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ ﴾ يعنى چه ستاسو امداد اوکړې او دالله ﷻ عذاب ستاسونه دفع کړې ﴿ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴾ يعنى که ستاسو امداد نشي کولې نو د خپل ځان نه عذاب دفع کولې شي ؟ او پدې سره مقصود عجز د بتانو ظاهرول دي چه دومره عاجز مخلوق عبادت تاسوکولو چه نه ستاسو امداد کولې شي او نه د خپل ځان نه عذاب دفع کولې شي﴿ فَكُبْكِبُوا فِيهَا ﴾مجاهد رحمه الله نه د ﴿ کبکبوا ﴾ ترجمه ﴿ پړمخې غورځولو ﴾ سره منقول ده .او بعضې فرمائي ﴿ کبکب ﴾ په اصل کښې يو د بل دپاسه ډيرې کولو ته وئيلې کيږي ، يعنى دوئ به جهنم ته داسې اوغورځولې شي چه د يو دبل دپاسه به ډيرې وي . او بيضاوي رحمه الله فرمائي چه ﴿ کبکبوا ﴾ په اصل کښې ﴿ کب ﴾ نه مشتق دې چه پړمخې غورځولو ته وئيلې شي او بيا پکښې تکرار د ﴿ کاف ﴾ راغې د پاره د تکرار د معنى ، نو د ﴿ کبکبوا ﴾ معنى شوه ﴿ پړمخ ارغړول ﴾ چه په ټکرو ټکرو سره به د جهنم ويخ ته اورسيږي . او ﴿ هم ﴾ ضمير مرفوع منفصل دپاره د تاکيد د متصل راغليدې ځکه چه ورسته پرې عطف د ﴿ ٱلْغَاوُۥنَ ﴾بيا نه صحيح کيږي او مراد د دينه د مشرکينو بتان دی . چه دا بتان او معبودان ددوئ به اول جهنم ته اوغورځولې شي او بيا به ورپسې دوئ واچولې شي . نو د ﴿ ٱلْغَاوُۥنَ ﴾نه مراد عابدان دی .﴿ وَجُنُودُ

إِبْلِيسَ ﴾ (جنود) نه مراد عام دی که هغه جنی لښکر وی یا انسی لښکروی. جنی لښکر د ابلیس خپل ذریت دي او انسی لښکر ئې هغه دي چه د ابلیس په وسوسو سره کفر او شرک کښې اخته شوی وی او نورو خلکو ته د دې دعوت ورکوی. نو دوئ ټول به الله ﷻ د ابلیس سره په جهنم کښې اوغورځوی. ﴿ قَالُواْ وَهُمْ فِيهَا ﴾نو هر کله چه معبودان او عابدان ټول جهنم ته اوغورځولې شی نو عابدان به د معبودانو نه امداد طلب کړی نو هغوئ به انکار اوکړی چه مونږ د خپل ځان نه عذاب نشو دفع کولې نو ستاسو به څه امداد اوکړو. نو دا عابدان به ورسره په جهګړه شی. او ډیر په افسوس سره به د غلطی اعتراف او اقرار اوکړی چه﴿ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ یعنی زمونږ دې په الله ﷻ قسم وی چه مونږ ډیر سخت په ګمراهی کښې وو﴿إِذْ نُسَوِّيكُم ﴾ اذ ظرفیه تعلیلیه دې او دا بیان د ګمراهی دې چه مونږ تاسو د رب العلمین سره په استحقاق د عبادت کښې شریک کړی وئ.

﴿ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾یعنی زمونږ د ګمراهئ سبب زمونږ مقتداګان، پیشواګان او غلط مشران ګرځیدلی دی. نو د﴿ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ نه مراد شیاطین، او ابلیس هم دې او دغه شان په انسانانو کښې ګمراه مشران هم ذی چه خلک ئې اتباع کوی. ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَٰفِعِينَ ﴾ او هر کله چه مشرکان او کافران اوګوری چه ملائک، انبیاء کرام، علماء کرام، او حفاظ وغیره د اهل ایمان دپاره سفارش کوی او د هغوئ سفارش د اهل ایمان په حق کښې نافع هم دې نو دوئ به ډیر افسوس اوکړی چه کاش نن ورځ زمونږ دپاره هم سفارش کوونکې وې، د کومو څیزونو چه مونږ په دنیا کښې عبادت کړې دې اوزمونږ خیال وؤ چه دوئ به زمونږ شفارس کوې نن په هغوئ کښې څوک هم زمونږ سفارشی نیشته دې. ﴿ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴾ اهل ایمان ته به هغه دوستی فائده ورکوی کومه چه د ایمان په بنیاد وی. او یو مؤمن دوست به د بل مؤمن دوست سفارش کوی. نوکفار به نور هم افسوس اوکړی چه د کومو خلکو سره زمونږ په دنیا کښې دوستانه وه نن د هغوئ ملګرتیا او دوستی هم پکار رانغله نو زمونږ دوست هم نیشته دې چه سفارش مو اوکړی او ددې تکلیف نه مو خلاص کړی، او د بې دینه خلکو ملګرتیا ګانې به د قیامت په ورځې په دوشمنئ باندې بدلې شی

او شافعین په جمع سره او صدیق مفرد ذکر کړې شو، دې دپاره وجوهات متعدد دی (۱) عادة او عموماً سفارشیان ډیر وی او مخلص ملګری کم وی (۲) څومره کوششونه چه متعدد سفارشیان کوی نو دهغې نه زیات کوشش د یو مخلص ملګری وی. نو یو مخلص ملګرې د ډیر سفارشیانو نه بنه وی

(۳) (صدیق) په وزن د فعیل سره د دې اطلاق په واحد باندې هم کیږی او په جمع باندې هم کیږی.

﴿ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً ﴾ هر کله چه دوئ د سفارشیانو او د ملګرو نه ناامیده شی نو دریمه تمنا به اوکړی چه کاش! مونږ دنیا ته واپس کړې شو نو مونږ به په صدق زړه سره ایمان راوړو، او توحید به اومنو، خو دا تمنا به دوئ ته هیڅ فائده نه ورکوی. نو (لو) دلته په معنی د (لیت) تمنی سره دې ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ یعنی د ابراهیم ﷺ پدې واقعه، کښې ډیره لویه نشانی ده چه څوک ورته د عبرت او د بصیرت په نظر اوګوری، پدیکښې په توحید باندې دلائل په یو زبردست انداز ذکر دی. مخالفین ته د دعوت ورکولو طریقې عملی تعلیم دې، مخالف دلیل او د هغه د خبرې رد کولو د حسین انداز اختیارولو تعلیم دې او دغه شان اصولو د دین ته پکښې اشارات دی. ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم ﴾ د دینه مراد عام خلک دی که هغه د حضرت ابراهیم ﷺ په دور کښې موجود وو او که یا د اورستونی خلک دی.

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾
تکذیب کړې وو قوم د نوح د رسولانو. کله چه اوونیل دوئ ته ورور د دوئ نوح علیه‌السلام آیا نه یریږئ تاسو (د عذاب الهی نه)
إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ
بی شکه زه ستاسو لپاره رسول یم امانتګریم پس اویریږئ د الله جل‌جلاله نه او زما اطاعت اوکړئ او زه نه غواړم ستاسو نه
عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾

په تبليغ باندې هيڅ اجر نه غواړم نه دی زما اجر مګر په رب العالمين دې. پس اوويرېږئ د الله ﷻ نه او زما اطاعت اوکړئ

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِيْ

هغوئ ورته اووئيل آيا مونږ به تا ايمان راوړو حال دا چه تابعداري کړيده ستا حقيرو خلقو. او ووئيل نوح او نيشته علم زما

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٢﴾ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا عَلٰى رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ

په هغه څه چې دوئ ئې کوي نه دې حساب (د باطن) د دوئ مګر په رب زما دې که تاسو پوهيږئ. او نه يم زه شړونکې

الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٤﴾ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰنُوْحُ لَتَكُوْنَنَّ

مؤمنانو لره. نه يم زه مګر ويرونکې ښکاره. يمه دوئ اووئيل قسم دې که چرته نه شوې منع ته اې نوحه نو شې به خامخا ته

مِنَ الْمَرْجُوْمِيْنَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ ﴿١١٧﴾ فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا

د ويشتل شوؤ نه او وئيل نوح اې ربه بې شکه قوم زما تکذيب اوکړو زما. پس فيصله اوکړه زما او د دوئ مينځ کښې فيصله

وَّنَجِّنِيْ وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿١١٩﴾

او نجات راکړه ماته او هغه چاته چه ما سره دي د مؤمنانو نه. پس نجات ورکړو مونږ هغه ته او د هغه ملګرو ته په کشتئ ډکه کښې

ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبٰقِيْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٢١﴾

بيا غرق کړل مونږ ورستو د دوئ نه نور باقي. بيشکه په دې قصې کښې دليل د عبرت دې خو ندې اکثر خلق ايمان راوړونکي.

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٢﴾

او بيشکه رب ستا خامخا هغه غالب دې رحم کونکې دې.

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ﴾دا دریم دلیل نقلی دې په ذکر د واقعې د نوح ﷺ سره او پدیکښې تخویف دنیوی هم دې .او هر کله چه لفظ د قوم مونث معنوی دې. ځکه چه د تصغیر په صورت کښ ورسره تا ذکرکولې شی او داسی وئیلې شې "قویمة".نو دَدی وجی نه فعل ورسره هم مؤنث ذکر کړې شواو بعضی فرمائی چه (قوم) مذکر دې او تانیث د فعل پدې وجې سره دې چه دا په معنی دجماعة سره دې او﴿ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾صیغه دجمع راوړې شوه،یاددا وجې نه چه تکذیب دیو رسول مستلزم دې تکذیب د ټولو رسولانو لره،ځکه چه هررسول دټولو رسولانو دتصدیق کوی . ځکه چه مقاصد د ټولو انبیاء کرامو یو دی. نو د یو رسول او پیغمبر تکذیب داسی دې لکه چه د ټولو رسولانو تکذیب اوکړې شی او یا (مرسلین) اگر چه جمع ده خو مراد ورنه فرد واحد یعنی نوح ﷺ دې،اوعرب داسې کوی چه ذکر دجمعې اوکړې اومرادورنه یو فردواخلی لکه وئیلې شی فلان یرکب اللواب نو د دې مطلب دا نوی چه هغه په ډیرو دوابو باندې سورلی کوی بلکه مراد ورنه یوه رسولی وی .او زمونږ په عرف کښې هم وئیلې کیږی چه فلانې نن صبا په موټرو کښې گرځی نو دا مطلب نوی چه په ډیرو موټرو کښې گرځی. بلکه موټر یو وی خو د تعظیم او د اهتمام شان دپاره صیغه د جمعې استعمال کړې شی.

﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ ﴾مراد اخوت نه نسبی اخوت دې،ځکه چه حضرت نوح ﷺ ددې مشرکینود قوم نه وو. او اخوت نه دینی اخوت ندې مراد . او یا (اخ) په معنی د (ناصح) سره دې او عرف کښې په ناصح باندې اطلاق د (اخ) شائع او کثیر دې، او بعضی فرمائی چه د اخوت نه مراد ، اخوت مجا نست دې، یعنی ټول انسانان او اولاد ادم ﷺ په خپل منځ کښې رونړه دی ځکه چه د اصل په اعتبار سره د ټولو مور او پلار یو دی . چه حضرت ادم ﷺ او بی بی حوا ﷺ ده ، لیکن غوره توجیه اوله ده﴿ أَلَا تَتَّقُونَ ﴾دا مقوله د قول دپاره ده ، حضرت نوح ﷺ او دغه شان حضرت هود ﷺ ، صالح ﷺ وغیره ټولو انبیاء کرامو خپل امتونو ته پنځه قسمه خطابات کړیدی ، نو دا اول خطاب دې،او مراد په (تقوی) سره اوله مرتبه د تقوی ده چه د کفر او شرک نه ځان بچ کول دی . یعنی تاسو ځانونه د شرک او کفر نه ولې نه بچ کوئ ، او یا مطلب دا دې چه تاسو الله ﷻ د عذاب نه ولې ځان نه بچ کوئ په منلو د توحید سره .﴿ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ ﴾دا دویم خطاب دې چه پدیکښې

اعلان دخپل رسالت او بيان د خپل کردار دي ، او الله ﷻ هر پيغمبر فطري طور د اخلاق او صفات رذيله نه معصوم پيدا کړې وي ،چاته هم د پيغمبر په اخلاقو کښې او صفات مرضيه کښې شک موقعه نوی نو ددې وجې نه هر پيغمبر اول خپل قوم ته خپل کردار مخې ته کوی او دا يو ډير ضروري امر دې د داعی د پاره . نو حضرت نوح ﷺ خپل قوم ته اوفرمائيلو چه څه د الله ﷻ د طرف نه رسول يم او څما امانت او ديانت په تاسو کښې مشهور دې نو څه دعوی د رسالت د خپل ځان نه نه کووم . او ‹ لکم › تقديم د وجې د اختصاص نه دې، چه ارسال د رسول پديکښې خصوصی مصلحت د امتونو وی او د الله ﷻ د طرف نه په مخلوقاتو باندې لوئ او خصوصی انعام وی او په وصف د ﴿أَمِينٌ﴾ کښې اشاره ده چه په تبليغ د احکاماتو کښې به هيڅ قسم نقصان نه کوم

﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ ﴾ دا دريم خطاب دې دلته د تقوی نه مراد ځان بچ کول دی د شرک نه ، او توحيد اختياره ول دی . ﴿ وَأَطِيعُونِ ﴾دا څلورم خطاب دې ، او هر کله چه تقوی د الله ﷻ نه سبب د اطاعت د پيغمبر وی نو ځکه تقوی ذکر مقدم کړې شو . او پديکښې اشاره ده چه هر نيک عمل هغه وخت د الله ﷻ په دربار کښې قابل قبول وی چه کله د پيغمبر د اتباع او د هغه د سنتو مطابق وی﴿ وَمَآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ ﴾يعنی ستاسو نه په تبليغ د دين باندې څه د معاوضې مطالبه هم نه کووم .چه تاسو په ما باندې د لالچ الزام اولګوئ ، بلکه څه د بدلې اميد د الله ﷻ نه کووم،

ظاهر د آيت نه دا معلوميږی چه ‹ اجرت علی الطاعات › جائز ندې او تبليغ د دين او دغه شان تعليم او تعلم هم دينی فريضه او اطاعت دې، نو ددې وجې نه د آيت د ظاهر نه معلوميږی چه په تبليغ او په تعليم باندې هم اجرت اغستل جائز ندی . او دا اصل مذهب د احنافو دې، چه متقدمينو احناف د ‹ اجرت علی الطاعات › د جواز قائله ندی ، اګر چه نور ائمه ددې د جواز قائله دی. او بيا متاخرينو احنافو هم ددې د جواز فتوی ورکړيده په شرائطو سره په تفصيل ئې حضرت والد صاحب نور الله مرقده وبرد مضجعه· په جامع انداز کښې په سورة البقره آيت نمبر ‹۴۱› کښې ذکر کړيدې. ﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾دا جمله مکرر ذکر شوه دپاره د تاکيد خو اول ځلې ذکر ئې مرتب وو په امانت باندی او دا دويم ځلې ذکر ئې مرتب دې په عدم اجرت او په نفی د لالچ باندې، نو مقصد ئې دادا چه

خما د اطاعت دپاره خو صرف دا هم کافي وه چه څه (امين) يم،او بيا صرف دا هم کافي وه چه څما ستاسو نه څه د دنيوی غرض او د فائدې لالچ هم نيشته دې . خو هرکله چه په ما کښې دا ټول صفات موجود دی چه (امين) يم،څه لالچ مې هم ستاسو نه نيشته نو بياخو په طريقې اولې سره څما اطاعت کول ضروری دی﴿ قَالُوٓاْ أَنُؤۡمِنُ لَكَ ﴾دې جواب دَ د جانبه د مشرکينو نه .او د ايمان نه راړولو دپاره عذر فاسد ذکر دې، او استفهام د انکار او تعجب دپاره دې ، يعنی زمونږ دپاره ستا اتباع کول ډير قابل تعجب ده يعنی مونږ ستا اتباع نه کوو﴿ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴾واوحاليه دې اودا جمله حال واقع شويده په تقدير د(قد)سره اوعلت دې د عدم د اتباع دپاره ، چه مونږ ستا اتباع ځکه نه کوو چه ستا متبعين (ارذل) خلک دې او دغه شان مقصود ئې پدې سره تنقيص د نوح ﷺ دې او ددې جملې څلور مقصدونه کيدی شي:(۱) دا چه دوئ د دنيا په اعتبار سره ضعفاء دی ، مالي حيثيت ئې کمزورې دې،نو کچرې ته پيغمبر وې نو پکار ده چه ستا متبعين دې غټان وې،خانانو او سرمايه دارو خلکو دې ستا اتباع کړې وې،يعنی دې مشرکانو نوح ﷺ ته د ضعفاؤ اتباع سره پيغور ورکړو اوحالانکه دهر پيغمبر اولنی متبعين ضعفاؤ لکه په حديث د هر قل کښې دی چه مذکوردې په اکثر کتب د احاديثو کښې .(۲) دويم مقصد دا کيدې شي چه دوئ يعنی مشرکانو مؤمنانو ته ارذل د نسب په اعتبار سره وئيلو چه مونږ خاندانی طور باندې معززين يو اودا ستا متبعين خو کمزوری خلک دی نو کچرې مونږ ايمان راوړو نو بيا به دوئ سره کينو نو مونږ به څرنګه دې ارتاؤ خلکو سره کينو ،ځکه چه بيا خو زمونږ او د دوئ په مينځ کښې مساوات راځی، او داسې خبرې به مشرکينو د حضرت بلال ﷺ او صهيب ﷺ وغيره په باره کښې هم کولې (۳) دريم مقصد دادې چه ممکنه ده چه د نوح ﷺ متبعينو پيشې او روزګار کمزورې وو ،﴿ قيل كانوا من اهل الصناعات الدنية﴾ (مدارک) نو دوئ د نوح ﷺ تنقيص کولو چه ستا متبعين خلک خو سپک کارونه کوی نو کچرې ته پيغمبر وې نو دا سپک خلک به ستا متبعين نوې (۴)او څلورم مقصد دا دې چه ستا اتباع کوونکی خلک صرف سر سری ايمان او ظاهری ايمان په تا لری صرف ښکاره اتباع کوی او د دوئ په زړونو کښې ايمان نيشته دې. ●

﴿ قَالَ وَمَا عِلْمِي ﴾ دا د نوح ﷺ د طرف نه دوئ ته جواب دي او دا جواب مشتمل دي په درې جملو باندې، د اولې جملې خلاصه دا ده چه څه ددې مکلف نه یم چه د دوئ اعمال او کسبونو باندې خان خبر کړم بلکه څه ددې ملکف یم چه دوئ ته د ایمان دعوت ورکړم او اعتبار صرف ایمان لره دې او صنعت لره ندې (قرطبي) زمخشري وغیره فرمائي چه (ما) استفهامیه ده په معنی د " ای شیء " سره دې او استفهام انکاري دې، او مراد ورنه انتفاء د علم ده په اخلاص د ایمان د دوئ باندې یعنی ماته څه پته ده چه د دوئ په باطن عملونه څه دی، یعنی څه د دوئ د باطن تفتیش او تجسس نه کوم بلکه څه د دوئ په ظاهر باندې اکتفاء کووم، او دغه شان خبره نبی پاک ﷺ هم کړیده لکه په روایت د بخاري وغیره کښې دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه (امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله – ویقیمو الصلوة ویؤتواالزکاة فاذا فعلوا ذلک عصموا منی دمآء هم واموالهم الابحق الاسلام و حسابهم علی الله).

﴿ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ ﴾ دا دویمه جمله ده .ددې خلاصه دا ده چه (باطنی معامله الله ﷻ ته حواله ده د باطن حساب ئې د الله ﷻ سره دې . په شریعت کښې اعتبار صرف د ظاهر دې. احکاماتو اجراء په ظاهر حالت باندی کیږي .﴿ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ﴾ دا دریمه جمله ده . ددې خلاصه دا ده چه دا غریبان او مساکین خلک د غربت د وجې نه او یا دکمزوری کسب د وجې نه د خان نه شړم ،د عزت او ذلت دارو مدار په اعمالو او اخلاقو باندې دې ﴿ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ ﴾ دا په منزله د علت دې د ماقبل دپاره ، یعنی خما د بعثت مقصد خلکو ته انذار او د الله ﷻ د عذاب نه ویره ورکول دی. او پدی دعوت کښې غریبانان ، مالداران ، لوې طبقې او کمې طبقې والا ټول خلک برابر دی، دغه شان خما د دعوت مقصد الله دین او دعوت ته خلک رابلل او د هغه د عذاب نه خلک ویرول دی غریبانان د خان نه شړل، دچا په باطن باندې اطلاع حاصلول او یا دچا پیشه او کسب ته په کم نظر باندې کتل ندی .﴿ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ ﴾ هر کله چه قوم پدې پوهه شو چه نوح ﷺ خپل وعظ اونصیحت نه پریدی، او خپل ملګری د خان نه ، نه شړی ، نو دوئ نوح ﷺ ته دهمکی ورکړه چه کچرې ته د خپل کارنه منع نشوې نو مونږ به تا رجم (سنګسار) کړو.

﴿ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي ﴾حضرت نوح ﷺ د قوم د دهمکيانو او دا ذيتونو په بدله کښې الله ﷻ ته فرياد اوکړو. چه اې الله ﷻ ما دوئ ته مسلسل دعوت ورکړو خو دوئ ځما دعوت قبول نکړو، بلکه دوئ مسلسل ځما تکذيب کوی. او دا اخبار ندې د جانبه د نوح ﷺ نه ځکه چه الله ﷻ عالم الغيب والشهادة دې. بلکه دا عرض او فرياد دې الله ﷻ ته. او د خپل قوم خلاف ګواهي ورکول دی. او داپه منزله د سبب دې ورستوبد دعا دپاره يعنی بد دعا دپاره سبب تکذيب د نبوت دی او جسمانی اذيت يا بل څيزندې﴿ فَٱفْتَحْ بَيْنِي ﴾دا دعاء شر (خيرې) دی خپل قوم ته، او دعا د نجات ده دپاره د خپل ځان او د مؤمنانو، او دا بد دعا حضرت نوح ﷺ هغه وخت کښې اوکړه چه کله حضرت نوح ﷺ ته په ذريعه د وحی اطلاع اوشوه چه نور افراد د قوم ايمان نه راوړی. او نوح ﷺ د هغوئ د ايمان نه مايوسه شو لکه سورة هود آيت نمبر (۳۶) کښې دی، او مراد په (فتح) سره فيصله ده په عذاب سره ای اقض بينی و بينهم قضاء يعنی بالعذاب (زادالمسير).

﴿فَأَنجَيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ﴾پدې کښې د دويمې دعا د قبوليت ذکر دې،او تقديم د دې وجې د اهتمام نه دې او (مشحون) نه مراد ډکه کړې شوې وه په خلکو ، په ځاروو او په نورو ضروری څيزونو سره ، او (فلک) چونکه دلته مفرد مستعمل دې نو ځکه صَفت ورله مذکر ذکر کړې شو او مؤنث ذکر نکړې شو،او په کوم ځائې کښې چه (فلک) جمع مستعملی وی نو هلته ورله صفت بيا مؤنث راځی ﴿ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ﴾پديکښې داولې دعا د قبوليت ذکر دې ،او(ثم) دلته د تراخی رتبی دپاره ده ، او (بعد) مبنی برضمه دې مضاف اليه محذوفه ده چه (انجاء المؤمنين) دې او (الباقين) نه مراد هغه خلک دی چه په کشتۍ کښې نوو سواره شوی. او دوئ دپاره (الباقين) لفظ ځکه استعمال شو چه پدغه ، وخت کښې مخ په زمکه باندې د دوئ نه علاوه نور انسانان نوو موجود ، نو په کشتۍ کښې سوار خلک بچ پاتی شو او باقی ټول خلک غرق کړې شو .

كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿۱۲۳﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۲۴﴾ إِنِّي
تکذيب کړې وو عاديانو د رسولانو.کله چه اووئيل دوئ ته ورور د دوئ هود عليه السلام آيانه يريږئ تاسو،بې شکه ځه

لَكُمۡ رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ۱۲۵ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ۱۲۶ وَمَاۤ اَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ

ستاسو لپاره رسول یم امانتګر یم.پس اویریږئ د الله نه او ځما اطاعت کوئ.او ځه نه غواړم ستاسو نه په تبلیغ باندې

مِنۡ اَجۡرٍ ۚ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۱۲۷ اَتَبۡنُوۡنَ بِكُلِّ رِيۡعٍ اٰيَةً تَعۡبَثُوۡنَ ۱۲۸

څه اجر.ندې اجر ځما مګر په رب العالمين دې.آیا تاسو جوړه وئ په هر اوچت ځائ باندې نښانه استهزاء کوئ په تیریدونکو.

وَتَتَّخِذُوۡنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُوۡنَ ۱۲۹ وَاِذَا بَطَشۡتُمۡ بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِيۡنَ ۱۳۰

او جوړه وئ مضبوطی بنګلی لکه چه تاسو همیشه پاتی کیږئ په دنیا کښې.او کله چه حمله کوئ تاسو نو حمله کوئ ظلم کونکی

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ۱۳۱ وَاتَّقُوا الَّذِىۡۤ اَمَدَّكُمۡ بِمَا تَعۡلَمُوۡنَ ۱۳۲

پس اویریږئ د الله جل جلاله نه او ځما اطاعت کوئ او اویریږئ د هغه الله نه چه مددئی کړیدې تاسو سره په هغه څه چه تاسو ته پته ده.

اَمَدَّكُمۡ بِاَنۡعَامٍ وَّبَنِيۡنَ ۱۳۳ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوۡنٍ ۱۳۴ اِنِّىۡۤ اَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ

مددئی کړیدې تاسو سره په چارپایانو او ځامنو سره او په باغونو او چینو سره.بې شکه څه یریږم په تاسو دَعذاب

يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ۱۳۵ قَالُوۡا سَوَآءٌ عَلَيۡنَاۤ اَوَعَظۡتَ اَمۡ لَمۡ تَكُنۡ مِّنَ الۡوٰعِظِيۡنَ ۱۳۶ اِنۡ هٰذَاۤ

دَورځې لوئ نه اووئیل دوئ برابره ده په مونږ که ته وعظ کوې یا که نه ئې ته دَوعظ کونکو نه ندې دا (مذکور قبائح زمونږ)

اِلَّا خُلُقُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۱۳۷ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِيۡنَ ۱۳۸ فَكَذَّبُوۡهُ فَاَهۡلَكۡنٰهُمۡ

مګر عادت دَمخکنو خلقو دې.او نه یو مونږ چه عذاب به راکړې شی،نو دوئ دَهغه تکذیب او کړو نو مونږ هلاک کړل هغوئ

اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ‌ؕ وَمَا كَانَ اَكۡثَرُهُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ۱۳۹ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الرَّحِيۡمُ ۱۴۰

بې شکه په دیکښې لوئ دلیل دې،خو ندی اکثر خلق ایمان راوړونکی.او بې شکه رب ستا خامخا هغه غالب دې رحم کونکې دې.

﴿ كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ دا څلورم دليل نقلي دې په ذکر د واقعې د هود ﷺ سره ،او پديکښې هم تخويف دنيوی دې چه " عاديانو " د حضرت هود ﷺ تکذيب اوکړو نو عذاب پرې نازل شو ،اوهر کله چه د "عاد" نه مراد دلته قبيله وه نو ځکه فعل ورسره مؤنث راړوې شو .اوقوم عاد د حضرموت نه تر بلاد يمن پورې په احقاف کښې پاتې کيدلو .او زمانه د دوئ قريبه ده زمانې د قوم نوح ﷺ ته . د نوح ﷺ د قوم د هلاکت نه بعد الله ﷻ دوئ ته د زمکې خلافت ورکړې وو دوئ د نوح ﷺ په نسل کښې په پنځويشتم(۲۵) پشت کښې وو. د سام په اولاد کښې وو، دوئ ته الله ﷻ ډير دنيوی نعمتونه ورکړی وو، جسمانی لحاظ سره هم ډير مضبوط وو.چه د﴿ من اشد مناقوة ﴾ نعره ئې لګولی وه ، او مالی لحاظ سره هم ډير مضبوط وو،باغات چشمې او نهرونه د دوئ په علاقه کښې کثرت سره موجود وو، رهائش دپاره ئې په غرونو کښې لوئ لوئ بنګلې جوړې کړې وې،ددې ټولو انعاماتو باوجود دوئ د الله ﷻ ناشکری کوله ،او شرک ئې کولو، الله دوئ ته حضرت هود ﷺ مبعوث کړو

﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ ﴾دا د هود ﷺ دعوت دې،خلاصه ئې هغه پنځه خبرې دی تشريح ئې ماقبل کښې تيره شويده .

﴿ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ﴾د ايمان او توحيد د دعوت نه ورستو نوح ﷺ دوئ ته زجر، او زورنه ورکړه په عبث کارونو باندې.

امام رازی ﷫ فرمائی چه د شرک او کفر نه علاوه په دوئ کښې درې قسمه بد خصلتونه او غلط کارونه موجود وو.(۱) محبت د علو سره (۲) محبت د بقاء د علو (لويئ)سره .

(۳) محبت په تفردد علوکښې. او دا درې واړه څيزونه شرعاً ممنوع او مذموم وی ځکه چه پدې سره بنده د حد عبوديت نه اوځی او سرکشی اختياره وی . او دا امور ذريعه د هر معصيت او کفر ګرځی ، او ديته اشاره شويده په روايت کښې هم چه (حب الدنيا رأس کل خطيئة) نو پدې درې اياتونو کښې ددوئ په دې درې خصلتونو باندې رد او زجر دې. نو " اتخاذد بناء عاليه " دلالت کوی په " حب الدنيا " باندې، او " اتخاذ د مصالح " دلالت کوی په (حب البقاء) باندې،او"جباريت "

" دلالت کوی په تفرد باندې، نو پدې آیت کښې زجر دې په اول خصلت باندې او (ریع) وئیلې کیږی بلند او اوچت ځائې ته . او بعض فرمائی چه د دوو درو په مینځ کښې لارې ته وئیلې کیږی ، او ﴿ءَايَةً﴾ په اصل کښې ننښې او علامت ته وئیلې کیږی، دلته تنه مراد هغه تعمیر او عمارت دې چه بطور یادګار وی .او (کل) نه دپاره د استغراق حقیقی دې . او نه دپاره د استغراق اضافی ، بلکه (فی نفسه) کثرت دپاره دې . نو دا دوئ یو بد عادت وو چه د خپلو کلو او علاقو په داخلی لارو کښې به ئې بطور نشانی دپاره د فخر او غرور (مینار) پشان تعمیر کړې وو ،چه دا به د هغوئ د قومیت او فخر او غرور ننبه وه . او بعض فرمائی چه پدې داخلی لارو کښې به دوئ لوئې ، لوئې بنګلې (ریسټ هاؤس) جوړې کړې وې چه د فخر او تکبر سره سره به دوئ به په هغې کښې فضول او فحش کارونه هم کولو ﴿ تَعۡبَثُونَ ﴾ددې دوه مقصدونه دی.یو دا چه دا مینار او عمارت جوړول عبث دی ځکه چه د فخر او ریا دپاره دی . او کوم څیز چه بلا ضرورت وی نو هغه مذموم دې شرعاً او همدغه مراد دې د هغه حدیث نه چه امام ترمذی نقل کړیدې چه (النفقة کلها فی سبیل الله الا البناء فلا خیر فیه) نو مراد د بناء نه بلا ضرورته تعمیر اوکور جوړول دی.

او دویم مقصد ئې دا دې چه پدیکښې تاسو عبث او ناجائز کارونه کوئ . او (عبث) وئیلې کیږی هر هغه کار او څیز ته چه په هغې کښې نه حقیقة څه فائده وی او نه حکماً نو پدې معنی په اعتبار سره عبث شامل دې غیر شرعی امر ته هم﴿ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ ﴾پدې آیت کښې زجر دې په دویم خصلت باندې ﴿مَصَانِعَ﴾اطلاق په مضبوطې او اوچتو بنګلو باندې هم کیږی لیکن زیات غوره قول دا دې چه دلته تنه مراد حوضونه دی . ای حیضاناً وبرکًا تجمعون فیها المآء (جمل) او غالباً دا به داسې حوضونه وو لکه چه ننْ صبا (سوئمنګ پول) ورته وئیلې شی . چه دنیا پرست خلک ئې د خپل عیش و عشرت دپاره جوړه وی . نو بنګلې او یا حوضونه (سوئمنګ پول) فی نفسه قبیح او مذموم ندی خو چه کله دا څیزونه د فضولیاتو ، د فخر او ګمراهئ دپاره شی نو بیا مذموم او قبیح دی . ﴿ لَعَلَّكُمۡ تَخۡلُدُونَ ﴾دا په منزله د علت دې د ما قبل دپاره او (لعل) یا په معنی د (کی) سره دې یعنی (کی تخلدون) یعنی تاسو لوئې ، لوئې بنګلې او حوضونه جوړوئ نو ستاسو خیال دا دې چه

تاسو به همیشه دپاره په دنیا کښې اوسیږئ او په تاسو باندې به فنا نه راځي. او یا (لعل) په معنی د استفهام توبیخي سره دې . یعني تاسو دا مذکوره کارونه کوئ نو آیا تاسو به همیشه دپاره په دنیا کښې اوسیږئ ؟ او امام بخاري رحمه الله وغیره حضرات فرمائي چه (لعل) دلته دپاره د تشبیه دې . نو (لعل) په معنی د (کانکم) سره دې ﴿ وَإِذَا بَطَشْتُم ﴾ دا زجر دې هغوئ ته په دریم خصلت ، باندې چه تمرد دې په (علو) کښې او (بطش) وئیلې کیږي په سختئ سره نیولو یا وهلو ته . او (جبار) هغه متکبر او ظالم انسان ته وئیلې کیږي چه د چا حق او د چا قانون په ځان باندې نه مني ، او دا خصلت د متکبرینو خلکو دې چه همیشه دپاره کوشش ئې دا وي چه غریب ، دنیا په اعتبار سره خوار او ذلیل وي . او په غریب باندې ظلم کوي او سر اوچتولو ته ئې نه پریدي . او پدیکښې اشاره ده چه د هغوئ په ملک او علاقه کښې څه قانون نوو . بلکه چه د چا به زور وو نو د هغه به ځان ته یو خپل قانون او مرضي وه .

﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ دا جمله په دې واقعې کښې درې ځلې ذکر شویده . اول ځل ورنه مراد ځان بچ کول دي د شرک نه او اطاعت دې په اعتقادیاتو کښې . او دلته یعني په دویم ځلې ورنه مراد امر د تقوي دپاره د اطاعت دې په احکاماتو کښې ، یعني د الله ﷻ نه اویریږئ او ځما خبره اومنئ او دا غلط کارونه پریدئ ﴿ وَاتَّقُوا الَّذِي ﴾ دا دریم ځلې امر دې په تقوي سره په تذکیر د انعاماتو او احساناتو د الله ﷻ باندې ﴿ أَمَدَّكُم بِمَا تَعْلَمُونَ ﴾ پدیکښې اجمال دې دپاره د تنبیه په کثرت د انعاماتو باندې . او د ځه شان اول اجمال پدې آیت کښې ذکر کیږي او ورستو آیت کښې بیا تفصیل بیانیږي . او تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي ، نو ددې وجې نه اولا اجمال ذکر شو . او ، (ما) موصوله ده او (تعلمون) جمله ورله صله ده او داپه معنی د (تعرفون) سره دې او عائد ورله محذوف دې ، یعني دومره ډیر نعمتونه ئې په تاسو باندې کړیدي چه تاسو ئې ښه پیژنئ او تاسو ته د هغې ښه پته ده ﴿ أَمَدَّكُم بِأَنْعَامٍ ﴾ دا بدل دې د ما قبل ﴿ أَمَدَّكُم ﴾ نه او تفصیل دې د ماقبل اجمال والا . یعني الله ﷻ تاسو ته څاروي درکړیدي چه د هغې نه تاسو مختلف فوائد حاصلوئ . د نسل د بقاء دپاره ئې تاسو ته ئې اولاد درکړیدي ، او د زندګئ د بقاء دپاره ئې تاسو ته باغونه او چشمې درکړیدي او هرکله چه د " بنین " او " انعام " په خپل منځ کښې مناسبت وو ، ځکه چه په څاروو سره

رياست او قوت حاصليږي . او اولاد محافظ د هغې وى نو ددې وجې نه دواړه په يو ځائې ذكر شو او د باغاتو او چشمو په خپل مينځ كښې زيات مناسبت دې نو هغوئ په يو ځائ كښې ذكر كړې شو﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ ﴾دا تخويف دې په منزله د تعليل دې د ما قبل دپاره،او دلته عبارت مقدر دې، نو اصل كلام داسې دې (انى اخاف عليكم عذاب يوم عظيم ان كفرتم واصررتم على ذلك . قرطبى) يعنى ماته دا خطره كېږي تاسو دغه شان په خپل كفر باندې اصرار كوئ نو يوه ورځ به په سخت عذاب كښې مبتلا شئ.

﴿ قَالُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡنَآ ﴾دا ددغې سركش قوم د طرف نه هود ﷺ ته جواب دې. او پديكښې هغوئ د خپلې انتهائى سركشئ اظهار كړيدې، چه ستا دا وعظ او نصيحت په مونږ باندې بالكل اثر نه كوى .كه ته وعظ كوې او يا بالكل وعظ نه كوې، دواړه حالته ستا برابر دى. او قوم مختصره جمله استعمال نكړه چه داسې ئې وئيلې وې چه (او عظمت ام لم توعظ) بلكه داسې اوئيلو چه﴿ أَمۡ لَمۡ تَكُن ﴾يو ددې وجې نه چه پدې اوږدې جملې سره د اياتو په رأس كښې موافقت راځى ، او بل د دې وجې نه چه پديكښې مبالغه ده په نسبت سره﴿ ام لم توعظ ﴾ ته ځكه چه مقصود پدې جملې سره تسويه د وعظ او د عدم وعظ ده په عدم قبول د تاثيركښې يعنى كه وعظ وى يا نوى مونږ اثر نه قبلوو. او دا مقصد په دې اوږدې جملې سره زيات ښه حاصليږى ځكه چه پدې اوږدې جملې كښې نفى د مباشرت د جنس د واعظينو نه راغليده، او په مختصرې جملې سره نفى د نفس وعظ راغليده نو نفى د جنس د واعظينو نه پديكښې مبالغه ده په نسبت سره نفى د نفس وعظ ته . او تفصيل ددې دا دې چه كله كله يو انسان داسې وى چه هغه د جنس د واعظينو نه وى . خو خاموشى وى نو د هغه بيا هم څه نا څه اثروى او يو انسان داسې وى چه د جنس د واعظينو نه نوى او خاموش وى او وعظ نه كوى نو د هغه بالكل اثر نه وى . نو دوئ هود ﷺ ته دا اوئيل چه ستا خبره په مونږ باندې بالكل اثر نه كوى لكه څرنگه چه هغه حالت كښى ستا خبره په مونږ باندې اثر نه كوى چه ته خاموش ئې او د جنس د واعظينو نه هم نه وې.

﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ﴾ - هذا - سره یا اشاره ده عذاب ته یعنی قحط راتلل . مړه کیدل ، ژوندی کیدل وغیره زوړ عادت دې د زمانې ګردش دې،عذابونه نیشته او نه حساب کتاب وغیره شته، او یا اشاره ده خپل دین او عادت ته یعنی دا بنګلې جوړول ، شرک و کفر کول او د پیغمبرانو خبرې نه منل زمونږ زوړ عادت دې او په قرأت د ابوجعفر وغیره کښې (خلق) په سکون دلام سره دې ، او (خلق) هغو خبرو ته وئیلې کیږی چه (دروغ) او (من ګهړت) وی نو پدې قرأت په بنیاد (هذا) سره اشاره ده د حضرت هود ﷺ وعظ او نصیحت ته ، اومقصد دا دې چه دا کومې خبرې چه ته کوې نو دا د زړو خلکو د دروغو قصې دی او د ځان نه جوړې کړې شوې کهانیانې دی .

﴿وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾یعنی مونږ باندې عذابونه نشی راتللې.﴿ فَكَذَّبُوهُ ﴾د تکذیب نه مراد اصرار دې په تکذیب او کفر او شرک باندې ، او پدیکښې اشاره ده سبب د عذاب ته چه هغه اصرار دې په تکذیب باندې .

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّي لَكُمْ
تکذیب کړې وو ثمودیانو د رسولانو.کله چه اووئیل دوئ ته ورور د دوئ صالح آیا تاسو نه یریږئ بی شکه ځه ستاسو لپاره
رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ
رسول یم امانتګریم.پس اویریږئ د الله نه او ځما اطاعت کوئ، اونه غوارم ځه ستاسو نه په تبلیغ باندی ځه اجر،
إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾
ندې اجر ځما مګر په رب العالمین دې.آیا تاسو به پریخودلې شئ په هغه نعمتونو کښې چه دلته په دنیاکښې دی په امن کښې.
فِي جَنّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا
په باغونو او چینو کښې.او په فصلونو کښې او په کجورو کښې چه میوی د هغې تازه دی.او تراش کوئ د غرونو نه کوروته

فْرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾ فَاتَّقُوا اللهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾ الَّذِيْنَ

تکبرکونکي.پس اویریږئ دالله ﷻ نه اوخماطاعت وکړئ.اواطاعت مکوئ دامرداسراف کونکو.هغه چه

يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾

فسادکوي په زمکه کښ اواصلاح نکوي.

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ ﴾دا پنځم دليل عقلي دې په ذکر د واقعې د حضرت صالح ﷺ سره او پديکښ هم تخويف دنيوي دې . حضرت صالح ﷺ قوم ثمود ته ليږلې شوې وو ، او ثمود په اصل کښ ددې قوم جداعلى وو چه د سام بن نوح په اولاد کښ وو. و دوئ د حجاز د شمالي مغربي طرف کښې د شام او د تبوک په لاره کښ آباد وو ، د دوئ مرکز شهرنوم "حجر" وو ،او دوئ هم الله ﷻ د مختلف دنيوي نعمتونو نه مالامال کړي وو،د لويو لويو عمرونو سره سره الله ﷻ دوئ ته په صنعت او حرفت کښې هم ترقي ورکړې وه خو دوئ د الله ﷻ ناشکري کوله او شرک ئې کولو . الله ﷻ دوئ ته حضرت صالح ﷺ مبعوث کړو .هغه دوئ ته د ټولو نه اول هغه پنځه خبرې اوکړې کومې چه نورو انبياء کرامو کړې وې.

امام رازي ﷫ فرمائي چه په قوم (عاد) باندې غالب طلب د لذات معنويه وو ،چه طلب د علوې بقاء د علوې او تفرد په علوې سره وو او په قوم ثمود باندې غالب طلب د لذات حسيه وو يعني ښه خوراکونه کول ، ميوې خوړول ښه ، ښه کورونه جوړول وغيره شو . نو ځکه حضرت صالح ﷺ دوئ ته زجر ورکړو به طلب د لذات حسيو باندې ، او ورته ئې اوفرمائيلو چه ﴿ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَآ ﴾ نو استفهام دپاره دزجر دې ، او (ما) موصوله ده ﴿هَٰهُنَا ﴾ورله صله ده او مراد پدې سره د دوئ علاقه ده، او يا ورنه مراد دنيا ده . او﴿ءَامِنِينَ ﴾حال دې د نائب فاعل د﴿أَتُتْرَكُونَ﴾نه ، نو مقصد د آيت دا دې چه آيا ستاسو دا خيال دې چه تاسو به هميشه دپاره په دې دنيا کښ په امن سره پريخودلې شئ،د دنيا ددې نعمتونو يعني چشمو ، باغاتو ، فصلونو او د کهجورو د ډکو غنچو

نه به تاسو همیشه دپاره فائدې اخلئ. تاسو ته به مرګ یا عذاب نه راځي ﴿فِي جَنَّـٰتٍ﴾دا بدل دې د﴿فِي مَا هَـٰهُنَآ﴾نه،او تفصیل بعد الاجمال دې ،﴿وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ﴾دا تعمیم بعد التخصیص دې دپاره د کمال اظهار د فضیلت د کهجورې او (طلع) اطلاق په دوه معانیو باندې کیږي ،یو د کهجورې د ونې په څانګو په ویخونو کښې د کسورې په شان څیز را ښکاره شي چه په هغې کښې دننه نرو نرو دانو والاو ګې وی هغې کسورې ته (طلع) وئیلې کیږي. او دویم اطلاق چه شائع او کثیردې او مراد هم دې په نفس وګی او اولې میوې باندې کیږي. او اهل لغت فرمائي چه ، کهجورې میوه کله اول راښکاره شي هغې ته (طلع) وئیلې کیږي. بیا چه لږې غټې شي نو (خلال) ورته وئیلې کیږي. بیا (بلح) شي بیا (بسر) شي بیا (رطب) شي او بیا (تمر) شي او (هضیم) هغې نرمو کهجورو ته وئیلې کیږي چه نرمې وی او یو ل بل سره پیوستې وی،ده دینه علاوه دولس اقوال ددې په مصداق کښې دی. ﴿وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ﴾دا عطف دې په (ترکون) باندې او په حیز د استفهام توبیخی کښې دې. او دویم زجر دې په فضول صنعتکارئ او په فضول کورونو جوړولو باندې، قوم ثمود به غرونو کنستل او لوې لوې بنګلې به ئې جوړولې﴿فَـٰرِهِينَ﴾دا مقصود بالزجر دې، او﴿فَـٰرِهِينَ﴾دوه معنی دی .یوه معنی ئې ده تکبر کوونکی. یعنی غرونه کنستل او بنګلې ورنه جوړول بطور فخر او تکبر دی، او دویمه دا ده چه﴿فَـٰرِهِينَ﴾په معنی د (حاذقین) سره دې،یعنی مهارت ښکاره کوونکی. نو د آیت مقصد دا دې چه تاسو خپل مهارت ښکاره کوونکی یئ. او پدیکښې اشاره ده چه پیښه او صنعت د انعاماتو د الله ﷻ نه ، دی ددینه نفع اغستل جائز دی ، بشرط ددې چه د ګناه ارتکاب ورسره نوی او بلا ضرورته نوی.

﴿فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ﴾ دویم خلې امر په تقوی او اطاعت سره دې او د دینه مراد اطاعت دې په اعمالو کښې ﴿وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ﴾د﴿ٱلْمُسْرِفِينَ﴾نه مراد هغه نهه کسان مشرکان دی چه د ثمودیانو مشران وو او سخت بد معاشان وو، او دوئ به خلک منع کولو د حضرت صالح ؑ د اطاعت نه ، او په خپل اطاعت باندې به ئې خلک مجبوره کولو، نو مراد په (اسراف) سره د هغوئ

خپل کفر او شرک دې او په ﴿ ٱلَّذِينَ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾سره بدمعاشی کول دی د هغوئ په نورو

خلکو باندې او نور خلک کفر او شرک ته رابلل دی او﴿ وَلَا يُصۡلِحُونَ ﴾تاکید دې دپاره د بیان د
کمال فساد د دوئ،چه د دوئ فساد بالکل خالص وو د اصلاح نوم او نشان هم پکښی نوو.نو د
آیت مقصد دا دې چه حضرت صالح ﷺ خپل قوم ته اوفرمائیلو چه کوم خلک شرک او کفر کوی
په ملک او علاقه کښی فساد خوره وی او بدمعاشی کوی نو تاسو د هغوئ اطاعت مه کوئ.

قَالُوٓا إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلۡمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا فَأۡتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ
اوونیل هغوئ چه بیشکه ته نی دَسحرکړې شوۍ نه ته خونه ئی مګرانسان ئی زمونږپه شان،نوراوړه څه معجزه کچرته ئی ته
مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٞ لَّهَا شِرۡبٞ وَلَكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿١٥٥﴾
دَرِشتنونه اووئیل صالح علیه السلام دااوښه معجزه ده،دی لره برخه دَاوبوده اوتاسی لره برخه دَاوبودَورځی معلومی ده.
وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾
اومه رسوئ دیته تکلیف ورنه اوبه نیسی تاسوعذاب دَورځی لوئ،نو زخمی ئی کړه هغه نوبیاشول نادمه پخپل عمل
فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٥٨﴾
پس اونیولودوئ لره عذاب،بی شکه پدی کښی خامخادلیل دَعبرت دې خوندی اکثرخلق ایمان راوړونکی.
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾
اوبی شکه رب ستاخامخاهغه غالب دې رحم کونکې دې.

﴿قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ﴾دا د قوم د طرف نه حضرت صالح ﷺ ته جواب دې او د﴿ٱلۡمُسَحَّرِينَ﴾دوه
معنی دی . یوه دا چه دا ماخوذ دې د (سحر) نه نو مطلب ئې دا دې چه په تا باندې ډیر سخت سحر

کړې شویدې حتی چه عقل دې مغلوب شویدې ،او یا د (سَحَر) نه دې او (سحر) وئیلې کیږی تریخی یا (پهپړو) ته ،او دا کنایه ده د انسان او د بشر نه نو مقصد ئی دا دې چه ته انسان او بشر ئې، خوراک او څکاک ته محتاجه یئ نو څرنګه ته نبی او پیغمبر شوې .﴿ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ ﴾به ما قبل آیت کښې د اولې توجیه مطابق دا علت دې د هغې دپاره، چه دوئ صالح ﷺ ته اوئیلو چه په تا باندې سحر څکه شویدې چه زمونږ پشان بشر ئې او دعوه د نبوت کوې، او د دویمې توجیه مطابق دا تاکید دې دماقبل دپاره ،بهر تقدیر دې بیوقوفانو خیال دا وو چه پیغمبر به بشر نوی﴿ فَأْتِ بِـَٔايَةٍ ﴾ نو دوئ د حضرت صالح ﷺ نه معجزه طلب کړه . چه کچرې ته په دې خپلې دعوې کښې رښتونې ئې نو مونږ ته څه نشانی اوښایه او روایاتو کښې دی چه ثمودیانو په خپل مینځ کښې مشوره اوکړه چه مونږ به د صالح ﷺ نه د داسې معجزې طلب اوکړو چه د هغې پیش کول به د دده په وس او طاقت کښې نوی،نو د مشورې مطابق دوئ حضرت صالح ﷺ ته یو کانړې او د خود لو چه د دینه د لسو میاشتو بلا ربه او ښه پیدا کړه چه زمونږ په مخامخ د هغې نه بچې پیدا شی . حضرت صالح ﷺ دوه رکعته مونځ اوکړو او د الله ﷻ نه ئې سوال اوکړو نو الله ﷻ د هغوئ د فرمائش مطابق د هغه کانړی نه بلاربه اوښه پیدا کړه چه څه وخت ورستو بیا د هغوئ په مخامخ لنګه شوه نو قوم چه اوکتلو چه حضرت صالح ﷺ دا مطالبه هم پوره کړه نو څنې کسانو ایمان راوړو او اکثرو ایمان رانوړو، بلکه څنې کسانو اراده اوکړه چه دا اوښه هلاکه کړی،نو حضرت صالح ﷺ دوئ ته څو خبرې اوکړې، یو ئی ورته دا اوفرمائیلو چه﴿ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ ﴾ چه ستاسو د فرمائش مطابق دا ناقه او اوښه ده . دویم دا چه دې اوښې به ډیر زیات خوراک او څکاک کولو ، او د دوئ یوه چینه وه چه د هغې نه به ئې څاروی اوبه کولو ،حضرت صالح ﷺ د الله ﷻ په حکم سره تقسیم اوکړو چه﴿ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ ﴾چه یوه ورځ به ددې چینې نه دا اوښه اوبه څکی او یوه ورځ به د قوم څاروی اوبه څکی،او دریم ئې ورته دااوفرمائیلو چه﴿ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ ﴾یعنی دې اوښې ته تکلیف اونه رسوئ، اوپدې قوم کښې څنې بدمعاشان وو چه هغوئ اراده اوکړه چه مونږ دا هلاکه کړو،نو صالح ﷺ ورته اوفرمائیلو چه دیته تکلیف ورنکړئ کچرې تاسو دیته تکلیف اورسولو نو سخت عذاب به درباندې راشی .﴿ فَعَقَرُوهَا ﴾ عقر ' وئیلې کیږی د (خپو پریکولو) ته ، نو دوئ د حضرت

صالح ﷺ خبره او نه منله او اول ئې د هغې اوښې خپې پرېکړې او بیا ئې ذبحه کړه .او دا کار په دوئ کښې صرف یو کس کړې وو چه د هغه نوم قدار بن سالف وو .او په حدیث کښې دی چه دې د دغې قوم د ټولو نه لوئ شقی ، او بدبخته کس وو .خو هر کله چه ټول قوم دده پدې عمل باندې راضی وو ، نو ددې وجې نه نسبت د عقر ټولو ته اوشولو ،او دوئ دا اوښه د منګل (سه شنبې) په ورځ مړه کړې وه او د بده (چهارشنبې) په ورځ په دوئ باندې د عذاب شروع اوشوه نو په اول ورځ یعنی د بده په ورځ د دوئ مخونه ، زیړ شو د جمعرات په ورځ د دوئ مخونه سره شو او د جمعې په ورځ تور شو .او د هفتې (خالی) په ورځ عذاب راغې اوټول ئې هلاک کړل﴿ فَأَصْبَحُواْ نَٰدِمِينَ ﴾ یعنی د عذاب د نزول په وخت کښې دوئ په خپل عمل باندې سخت پښیمانه شو﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾دوئ ته د دوئ ندامت څه فائده ورنکړه او په عذاب کښې ګرفتار شول ،او که څوک اشکال اوکړې چه ندامت خو په حقیقت کښې توبه ده . نو د ندامت باوجود بیا ولې په دوئ باندې عذاب راغې ؟نو جواب ورنه دا دې چه ندامت په دوه قسمه دې. یو ندامت د تائب دې او بل ندامت د خائف دې، نو د دوئ ندامت د خوف وو د عذاب عاجل نه ، او ندامت د توبې نوو ،او دویم جواب دا دې کچرې تسلیم کړې شی چه د دوئ ندامت د توبې وو خو دا ندامت په داسې وخت کښې وو ،چه هغه وخت د توبې د قبلیدلو نوو بلکه د دوئ ندامت په وخت د معاینې د عذاب کښې وو. اوباقی د نازل شوی عذاب تفصیل په سورة عراف او هود کښې تیر شویدې.

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي

تکذیب کړې وو قوم لوط د رسولانو .کله چه اووئیل دوئ ته ورور د دوئ لوط علیه السلام آیا تاسو نه یریږئ (د الله نه) بی شکه څه

لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ

ستاسو لپاره رسول یم امانتګریم نو اویریږئ د الله ﷻ نه او زما اطاعت اوکړئ ،او زه نه غوارم ستاسو نه په تبلیغ باندې څه اجر،

إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ

ندې اجر زما مګر په رب العالمین دې آیا راځئ تاسو نارینه وته د خلقونه او پریدئ هغه چه پیدا کړیدی

لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿۱۶۶﴾ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ

تاسولپاره رب ستاسو ذبیبیانوستاسونه،بلکه تاسوقوم تجاوزکونکی یئ دوئ ورته اوونیل قسم دي کچرته منع نه شې ته

يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿۱۶۷﴾ قَالَ اِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ رَبِّ

اي لوطه نوشی به خامخاداوباسلوشوؤنه ،لوط علیہ السلام اوونیل بیشکه ځه عمل ستاسولره دَنفرت کونکونه یم اې ربه

نَجِّنِيْ وَاَهْلِيْ مِمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ اِلَّا عَجُوْزًا

نجات راکړه ماته اواهل ځماته دَهغی نه چه دوئ ئې کوی نونجات ورکړومونږهغه ته اواهل دَهغه ته ټولوته مګربوډئ ښځه

فِي الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ

په باقی پاتی کیدونکوکښ وه،بیاهلاک کړل مونږ باقی نور،اوراؤموورولوپدوئ باران (دکانړو)پس بدوؤباران

الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۳﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۚ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ

ذیرولوشوؤبې شکه پدی کښ دلیل دَعبرت دې،خوندی اکثرخلق ایمان راؤړونکی.اوبې شکه رب ستاخامخا

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۷۵﴾

هغه غالب دې رحم کونکې دې

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ ﴾ دا شپږم دلیل عقلی دې په ذکرد واقعې د لوط علیہ السلام سره حضرت لوط علیہ السلام د حضرت ابراهیم علیہ السلام وراره وو،د هاران بن آزر ځوې وو، اصل وطن ئې (بابل) مغربی عراق مصر ته قریب علاقه وه،د حضرت ابراهیم علیہ السلام سره ئې هجرت کړې وو شام ته،حضرت ابراهیم علیہ السلام د مشورې مطابق په کنعان کښ پاتې شو، او لوط علیہ السلام ئې سدوم ته اولیږلو،اوبیا الله تعالیٰ ده

ته نبوت هم ورکړو او اهل سدوم دپاره ئې نبي مقرر کړو. پدې خلکو کښې د شرک نه علاوه، خلاف فطرت بد کارې (اغلام بازي) پکښې هم عامه وه، نو لوط ﷺ دوئ ته دعوت ورکړو او په دعوت کښې ئې هغه پنځه اصولي خبرې اول ذکر کړې کومې چه نورو انبياؤ ذکر کړې وې ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ ﴾ د (اخ) نه مراد، نه نسبي ورور دې او نه ديني، ځکه چه لوط ﷺ د سدوم د خلکو د قوم نه هم نوو، او د هغوئ سره ئې نسبي رشته نوه، ځکه چه لوط ﷺ د عراق وو، او دغه شان په دين کښې هم ورسره شريک نوو، بلکه د (اخ) نه مراد يا وطني ورور دې. ځکه چه لوط ﷺ د دوئ سره په علاقه کښې پاتې کيدلو، او يا ورته (اخ) پدې اعتبار سره وئيلې شويدې چه لوط ﷺ د دې قوم نه واده کړې وو، او دا قوم ئې سخرګنئ وه. او د سخرګنئ اولاد په منزله د ورونړو وي. او هم دا وجه ده چه په سورة اعراف کښې د لوط ﷺ سره (اخوهم) ندې ذکر شوې، نو هلته د اصل اعتبار کړې شويدې، او دلته ورسره (اخوهم) ذکر شو نو دلته اعتبار يا د سخرګنئ شويدې -او يا د مجاورت في الوطن شويدې ﴿ أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ ﴾ د ازجر دې هغوئ ته د نارينو سره په بد کارئ باندې يعني تاسو څومره، بدکار کوئ په ټول عالم کښې چه د نارينو نه او د هلکانو نه خپل جنسي خواهش پوره کوئ نو ﴿ مِنَ الْعَالَمِينَ ﴾ نه مراد يا انسانان دي. يعني په انسانانو کښې دا کار بل چا نوو کړې بلکه ابتداء ئې د لوط ﷺ قوم کړيده او يا ورنه مراد ټول مخلوقات دي که هغه انسانان دي يا نور حيوانات دي.

فائده: بعضو اهل علمو ليکلي دي چه خنزير په ټولو مخلوقاتو او حيواناتو کښې بدترين او ذليل ترين دې، وجه دا ده چه هغه (ديوث) دې د هغه په مخامخ د هغه مؤنث سره که بل ځناور جماع کوي نو دې پرې نه خفه کيږي البته که دده سره څوک بد کاري کوي نو دې پرې خفه کيږي، او ځان ته ئې نزدې کيدلو ته نه پريږدي. نو هغه انسان د خنزير نه هم زيات بې غيرته او ذليل دې چه د هغه سره بدکاري کيږي او دې نه خفه کيږي ﴿ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ ﴾ يعني ستاسو بيبيانې چه الله ستاسو د خواهش پوره کولو دپاره پيدا کړيدي هغه تاسو پريږدي. ﴿ مِّنْ أَزْوَاجِكُم ﴾ من بيانيه دې، او دا بيان دې د ﴿ مَا خَلَقَ ﴾ د پاره، او يا (من) تبعيضيه دې، او د ﴿ أَزْوَاجِكُم ﴾ نه مراد بعضې حصه د جسم

د ښځو ده چه هغه د (قبل) حصه ده. نو د آیت مطلب دا دې چه ستاسو د ښځو د جسم بعضې هغه حصه چه ستاسو د خواهش پوره کولو دپاره الله پیدا کړېده نو تاسو هغه پرېږدئ ده او دبر طرف نه تاسو خپل خواهش پوره کوئ. او دا آیت دلیل دې پدې چه خپلې ښځې سره لواطت کول حرام دی، او کوم نسبت چه حضرت ابن عمر ﷺ ته د جواز شویدې نو هغه نسبت غلط دې.

﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ ﴾ "بل" د ترقی دپاره دا. او﴿عَادُونَ﴾ نه مراد یا په شهوت پوره کولو کښې تجاوز مراد دې یعنی په شهوت پوره کولو کښې تاسو په ټولو مخلوقاتو کښې زیات تجاوز کونکی ئی چه حلال او حرام محل نه ګورئ. او یا ورنه په مطلق ګناه کښې تعد ی او تجاوز مراد دې. یعنی ستاسو صرف دا یو ګناه ندې، بلکه د دینه علاوه نور هم تاسو په ډېرو ګناهونو کښې د حد نه تجاوز کړیدې، او قوم لوط کښې د اغلام بازئ نه علاوه نور هم ډېر ګناهونه موجود وو، لکه کفر او شرک شو. مارغانو ساتل، د هغې جنګونه کول، شپیلئ وهل، کانړی ویشتل، د میلمنو بې عزتی کول او ږیرې خرئیل وغیره شو، او د بعضی اهل علمونه مروی دی چه د ږیرې خرئیلو ابتداء د لوط ﷺ قوم نه شویده. او وجه ئې دا وه چه کله به یو هلک وړوکې وو نو خلکو به ورسره بدکاری کوله خو چه کله به غټ شو او به مخ به ئې ږیره راغله نو بیا ورته خلکو توجه نه ورکوله. او دې به عادی وو نو شیطان دوئ ته مشوره ورکړه چه تاسو ږیرې خرې ئې نو داسې به ښکاری لکه هلکان، نو خلک به درته توجه درکوی چنانچه دوئ دا قبیح عمل شروع کړو. نو په﴿بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴾ کښې اشاره ده ددوئ دې بدعملونوته﴿ قَالُواْ لَئِن لَّمْ ﴾دوئ داد همکی ورکړه چه کچرې ته د خپلو خبرو نه منع نشوی نو ملک بدر به کړې شی او د علاقې نه به اویستلې شی. او په﴿مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴾ کښې اشاره ده چه دې بد کرداره قوم نورانبیاء کرام او یا (سلیم الفطرت) نیکان خلک د وعظ او نصیحت د وجې نه ویستلی وو﴿ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم ﴾دا د لوط ﷺ جواب دې د دوئ د همکئ او دباؤ په مقابلې کښې؛ چه څه ستاسو د دې عمل نه سخت نفرت کوونکې یم. ستاسو پدې علاقه کښې پاتې کیدلو څه خواهش نه لرم، او﴿مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴾ د (قلی یقلو) نه دې په معنی د بغض لرونکې او دښمنی لرونکې او دلته (القالی) او نوئیلې شو بلکه (من القالین) او وئیلې شو څکه چه پدیکښې

مبالغه زیاته ده او بیا هرکله چه د لوط ﷺ یقین پیدا شو چه دا قوم ایما ن نه راوړی او خپل بدعملونه نه پریږدی . نو د خپل ځان او د خپل اهل د پاره ئې د عاد نجات اوکړه چه دا په حفیقت کښې بد دعا وه د قوم دپاره نو او ئې فرمائیلو چه﴿ رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي ﴾یعنی اې ربه ما او خما کورنۍ د دوئ د دې بد عملونو او د هغې دسزا نه محفوظ کړې

﴿ فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ ﴾دا ذکر د قبولیت د دعا د لوط ﷺ دې .یعنی مونږ دده دعا قبوله کړه په قوم باندې د عذاب فیصله اوشوه او د هغې عذاب نه مونږ ده ته او دده اهل ته چه کوم مؤمنان وو. نجات ورکړو ، او د اهل اطلاق اګر چه په عام معنی باندې هم کیږی لیکن دلته ورنه مراد خاص اهل دې،یعنی د خپلې کورنۍ خلک وجه دا ده چه په لوط ﷺ باندې د خپلې کورنۍ د خلکو نه علاوه بل چا ایمان نوو راوړې او په هغوئ کښې هم د لوط ﷺ بی بی ایمان نه راوړې، بلکه هغه کافره او د قوم جاسوسه وه . نوځکه اوئیلې شو چه﴿ إِلَّا عَجُوزًا ﴾ د﴿إِلَّا عَجُوزًا ﴾ نه مراد د حضرت لوط ﷺ بی بی ده ،او تعبیر ورنه په (عجوز) سره دې دپاره اوشو چه تنبیه راشی پدې چه دا تر اخیر وخته پورې په کفر باندې قائمه وه . او په معاصیو کښې مبتلا وه . اود ﴿ فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ دوه معانی دی .یوه معنی ئې ده تیر شوی او دویمه معنی ئې ده باقی پاتې شوی، دلته ورنه دویمه معنی مراد ده . یعنی د لوط ﷺ بی بی په عذاب کښې باقی پاتې کیدونکو خلکو نه وه چه هغې ته نجات میلاؤ نشو

﴿ثُمَّ دَمَّرْنَا ﴾ (تدمیر) وئیلې کیږی سخت قسم هلاکت ته .﴿ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم ﴾دا تفصیل د (تدمیر) دې،او د(مطر) نه مراد د کاڼړو باران دې،او د لوط ﷺ په قوم باندې د درې قسمه عذابونو تذکره په قرآن مجید کښې راغلیده (۱) صیحة (۲) د کاڼړو باران (۳) د علاقې الټه کیدل، نو دا درې قسمه عذابونه الله ﷻ په دوئ باندې جمع کړی وو، فرشتې د دوئ علاقه د وزر په یو څوکه کښې اوچته کړه حتی چه اسمان ته ئې قریب کړه او بیا پرې.هلته د کاڼړو باران اوشو اوفرشتې پرې چیغه (صیحه) هم اوکړه او بیا ئې الټه طرف را اوغورځوله او بعض مفسرین فرمائی چه د کاڼړو باران په هغه خلکو شوې وو چه د علاقې نه بهر وو،او کوم خلک چه په علاقه کښې داخل وو نو په هغوئ باندې صیحه او علاقه الټه کړې شویده.

كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ۞ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۞ اِنِّيْ

تکذیب کړې وو یارانو د ځنګل والو د رسولانو. کله چه ووئیل دوئ ته شعیب علیه السلام چه آیا تاسو نه یریږئ. بې شکه څه

لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۞ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۞ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ

ستاسو لپاره رسول یم امانتګریم پس او یریږئ د الله تعالیٰ نه او ځما اطاعت اوکړئ. او څه نه غوارم ستاسو نه په تبلیغ باندې څه اجر.

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞ اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ۞ وَزِنُوْا

ندې اجر ځما مګر په رب العالمین دې پوره ورکوئ پیمانه او مه کیږئ د کم ورکونکو او تول کوئ

بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۞ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ

په تله برابره باندې او کم مه ورکوئ خلقوته څیزونه د دوئ او مه ګرځئ په زمکه کښې

مُفْسِدِيْنَ ۞ وَاتَّقُوا الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ۞ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ

فساد کونکي. او ویریږئ د هغه الله تعالیٰ نه چه تاسوئ پیدا کړی یئ او مخلوق مخکښي د دوئ او وئیل بیشکه ته

مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۞ وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۞

د سحر کړي شوؤنه ئې سحر در باند شوید ې، او نه ئې ته مګر انسان ئې زمونږ په شان او بیشکه مونږ ګمان کوو په تا چه ته د دروغژنو نه ئې

فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۞ قَالَ رَبِّيْٓ اَعْلَمُ

پس راواغورځوه په مونږ باندې ټکړه د آسمان نه که چرته ئې ته د رشتنونه، او وئیل شعیب علیه السلام چه رب ځما ښه عالم دې

بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۞ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۚ اِنَّهٗ كَانَ

په هغه عملونو چه تاسوئې کوئ. نو دوئ ئې تکذیب اوکړو، پس اونیولو دوئ عذاب د ورځې د سائبان بې شکه دغه وو

عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۸۹﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ
عذاب دورځې لوئې.بې شكه پدې كښې دليل دې (دعبرت)،خوندې اكثرخلق ايمان راوړونكې.اوبې شكه رب ستا
لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۹۱﴾
خامخاهغه غالب دې رحم كونكې دې.

﴿كَذَّبَ أَصْحَـٰبُ لَـْٔيْكَةِ﴾ دا اووم دليل نقلي دې په ذكر د واقعې د حضرت شعيب ؑ سره .
شعيب ؑ ته خطيب الانبياء وئيلې كيږي . د پلار نوم ئې ميكيل بن يشجر وو د مدين علاقې سره ئې تعلق وو ،او " مدين " جدا مجد د دوئ وو. او (مدين) د حضرت ابراهيم ؑ بچې وو، حضرت شعيب ؑ چه كوم قوم ته ليگلې شوې وو د هغوئ تعارف په قرآن مجيد كښې په دوه نومونو سره شويدې (۱) اهل مدين (۲) اصحاب الايكه. او پديكښې اختلاف دې، چه دا دواړه جدا جدا قومونه دى اوكه يا د يو قوم دپاره دوه نومونه دى بعض مفسرين لكه حضرت قتادة ؒ وغيره فرمائي چه دا دوه جدا جدا قومونه وو،حضرت شعيب ؑ اول مدين ته مبعوث وو، چه كله اهل مدين په عذاب د صيحې سره هلاک كړې شو نو بيا ﴿أَصْحَـٰبُ لَـْٔيْكَةِ﴾ ته مبعوث كړې شو او هركله چه ﴿أَصْحَـٰبُ لَـْٔيْكَةِ﴾ انكار اوكړو نو الله ﷻ دوئ ته عذاب د ﴿يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ﴾ وركړو،نو د مدين خلک د حضرت شعيب ؑ نسبي رونړه وو، حضرت شعيب ؑ دوئ سره په نسب كښې شريک وو، او اصحاب الايكه نسب جدا وو،نو د دې وجې نه قرآن مجيد كښې چه كله هم د اهل مدين واقعه ذكر كيږي نو هلته د حضرت شعيب ؑ سره لفظ د ﴿أَخُوهُمْ﴾ ذكر كيږي . ليكن ځنې مفسرين فرمائي چه اهل مدين او اصحاب الايكه دواړه يو قوم وو، او اصحاب الايكه ئې مذهبي نوم وو، او دوئ ته اصحاب الايكه ځكه وئيلې كيدلو چه (ايكه) ځنگل او بنړته وئيلې كيږي، نو دوئ په علاقې سره نزدې ځنگل وو او ونې وې دوئ به د هغې نو عبادت كولو نو ددې وجې نه (اصحاب الايكه) د دوئ مذهبي نوم اوگرځيدلو نو كله چه هم د دوئ تعارف په (اصحاب الايكه) سره يعنى مذهبي نوم سره

کیږی نو هلته د حضرت شعیب ﷺ سره لفظ د ﴿أَخُوهُمْ﴾نه ذکرکیږی.ځکه چه شعیب ﷺ د دوئ سره په مذهب کښې شریک نوو . البته چه کوم ځائ کښې د دوئ تعارف به « اهل مدین » یعنی د دوئ د نسب په نوم سره اوشی نو هلته د حضرت شعیب ﷺ سره لفظ د ﴿أَخُوهُمْ﴾ذکر کیږی ځکه چه شعیب ﷺ د دوئ سره په نسب کښې شریک وو . او باقی عذابونه متعدد ذکر کیدل یعنی د اصحاب الایکه دپاره عذاب ﴿يَوْمِ الظُّلَّةِ﴾او د اهل مدین سره عذاب د « صیحې » ذکر کیدل دلالت نه کوی په تعدد . او په تغایر د قومینو باندې، ځکه چه یو قوم ته متعدد عذابونه راتلل بعیده خبره نده مزید تفصیل په سورة اعراف کښې تیر شویدې.

﴿إِنِّي لَكُمْ﴾حضرت شعیب ﷺ هم خپل قوم ته اول هغه پنځه اصولی خبرې اوکړې کومې چه نورو انبیاء کرامو کړې وې﴿ أَوْفُوا الْكَيْلَ ﴾د حضرت شعیب ﷺ په قوم کښې د شرک سره بل بدترین جرم حقوق العباد یا مال کول وو ،چه ناپ تول کښې به ئې کمی کوله . نو حضرت شعیب ﷺ دوئ ته نصیحت اوکړو چه﴿الْكَيْلَ ﴾یعنی ناپ پوره کوئ. اوکمې پکښې مه کوئ. ﴿ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ ﴾ « قسطاس » یا د عربی لفظ دې ماخوذ دې د « قسط » نه وئیلې کیږی عدل او انصاف نه ، او یا د رومی نه معرب دې او په لغت د روم کښې « قسطاس » انصاف ته وئیلې کیږی ، نو حضرت شعیب ﷺ دوئ ته اوئیلو چه « تله » او دغه شان نور الات د تول صحیح استعمالوئ او د انصاف نه کار اخلئ ﴿وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ ﴾ بخس وئیلې کیږی نقصان ته په حق کښې،برابره خبره ده که هغه ناپ تول کښې کمی کول وی یا په نورو حقوقو کښې او دغه شان که په حقوق مالیه کښې نقصان کول وی اویا په نورو حقوقو کښې لکه د بل چا عزت ، آبرو ته نقصان رسول شو ، او دا دلیل دې پدې چه هر ذی حق ته حق ورکول ، او هر انسان ته د هغه د شان عزت ورکول ضروری دی او کمی پکښې کول جائز ندی. او دغه شان ملازم لپاره خپل د ملازمت متعین او مقرره وخت کښې کمې کول جائز ندی ﴿ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ﴾مرادورنه کفر،شرک،قتل وغارت او ډاکې کول دی.﴿ وَاتَّقُوا الَّذِي ﴾ دا په دویم خلې امر په تقوی سره دې، او مراد ورنه ځان بچ کول دی دخیانت وغیره نه او ﴿ الَّذِي

خَلَقَكُمْ ﴾ يعني موصول سره د صلې نه په منزله د علت دې د تقوى د پاره يعني د هغه نه او ويرېږئ چه تاسو ئې پيدا کړى يئ او ستاسو نه مخکښې خلک ئې پيدا کړى وو او ﴿وَٱلْجِبِلَّةَ﴾ په اصل کښې فطرت او طبيعت ته وئيلې کيږى ليکن بيا ئې اطلاق په افرادو د مخلوقاتو باندې شويدې. او د ابن عباس ﷺ نه مروى دى چه د دينه مراد هغه جماعت دې چه کم از کم په لس زرو (۱۰۰۰۰) افرادو باندې مشتمل وى. او هر کله چه ﴿وَٱلْجِبِلَّةَ﴾ معنى جمع ده نو ﴿ٱلْأَوَّلِينَ﴾ صفت ورله هم جمع راوړې شو او په دېکښې اشاره تخويف دنيوى ته هم ده، چه حضرت شعيب ﷺ دوئ ته تنبيه ورکړه چه کوم ذات چه تاسو ئې پيدا کړى يئ. او ستاسو نه مخکښې نور ډير مضبوط قومونه ئې پيدا کړى وو لکه قوم عاد وغيره شو چه د (من اشد منا قوة) نعره ئې لګولې وه. خو الله ﷻ نيست و نابود کړو نو دغه شان الله ﷻ به تاسو هم هلاک کړى. ﴿ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ ﴾ په قوم باندې د حضرت شعيب ﷺ نصيحت هيڅ اثر اونکړو بلکه هغوئ الټه په حضرت شعيب ﷺ باندې اعتراض اوکړو چه ته چه د نبوت دعوى کوې نو د دې مطلب دا دې چه په تا باندې جادو کړې شويدې ته (مسحور) او (مجنون) ئې. ﴿وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ﴾ دا دويم اعتراض دې چه ته زمونږ پشان انسان ئې په مونږ باندې دې څه فوقيت نيشته دې نو څرنګه ته پيغمبر شوې ؟ او داسې خبرې قوم ثمود هم خپل پيغمبر حضرت صالح ﷺ ته کړې وې. چه آيت نمبر (۱۵۳ ، ۱۵۴) کښې تير شويدى. خو فرق دا دې چه هلته د دواړو جملو او اياتونو په مينځ کښې (واو) نو واو دلته (واو) شته دې. وجه دا ده چه (واو) دلالت په مغايرت باندې کوى نو کوم ځائې کښې چه د دوه جملو او د دوو څيزونو وحدت مقصود وى نو هلته واو نشى ذکر کولې او په کوم ځائ کښې دوه مستقل امرين ذکر کول مقصود وى نو هلته بيا (واو) راوړې شى نو چونکه د حضرت صالح ﷺ په واقعه کښې د ثموديانو مقصود وحدت وو. او دوه امور په منزله د يو امر وو نو ځکه هلته (واو) ذکر نکړې شو. او د حضرت شعيب ﷺ په واقعه کښې اصحاب الايکه مقصود دوه متنافين صفتونه ذکر کول مقصود وو چه تسحير او بشريت دواړه منافى صفتونه دى د نبوت سره نو څرنګه ته د نبوت دعوى کوې ﴿وَإِن نَّظُنُّكَ ﴾ يعنى مونږ په تا باندې ګمان د رېښتونى نشو کولې بلکه ته دروغژن ئې، په مذهب د بصريانو باندې (ان) مخففه

عن المثقله دي اسم ئې مخذوف دې چه (ه) ضمير دې او ﴿ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴾كښې لام فارقه دې او په مذهب د کوفيانو باندې (ان) نافيه دې او (لام) په ﴿ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴾کښې په معنى د (الا) سره دې بهر تقدير دوئ حضرت شعيب ﷺ ته نسبت د درواغو اوکړو،نو گويا چه دوئ حضرت شعيب ﷺ باندې درې اعتراضات اوکړل. (بشر) کيدل، مهجور کيدل او دروغ وئيل (العياذبالله).

﴿ فَأَسۡقِطۡ عَلَيۡنَا﴾قوم د حضرت شعيب ﷺ په تکذيب کښې نوره مبالغه اوکړه او حضرت شعيب ﷺ ته ئې چيلنج ورکړو چه کچرې ته په خپلې دعوې د نبوت کښې رينبتونې ئې نو مونږ باندې د عذاب په طور اسمان ټکړې ، ټکړې را اوغورځوه او مونږ هلاک کړه

﴿ قَالَ رَبِّيٓ أَعۡلَمُ ﴾ حضرت شعيب ﷺ دوئ ته جواب ورکړو چه عذاب راويستل ځما په قدرت او اختيار کښې ندى ستاسو بد عملونو نه . ځما رب ښه خبر دې هغه تاسو ته کله سزا درکوى اوکله په تاسو باندې عذاب راولى ،دادهغه خپل اختياراوواک دې،او ځماپه ذمې باندې صرف تاسو ته تبليغ کول وو﴿ فَكَذَّبُوهُ﴾دا په معنى د﴿استمروا على تكذيبهم ﴾سره دې ځکه چه په نفس تکذيب باندې چاته هم عذاب ندې راغلې، بلکه په استمرار د تکذيب سره عذاب راغليدې

﴿ فَأَخَذَهُمۡ عَذَابُ يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾د حضرت ابن عباس ﷺ د ﴿يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ عذاب تفصيل داسې مروى دې چه الله ﷻ په دوئ باندې د جهنم د دروازو نه يوه دروازه پرانستله، نو دوئ باندې سخته گرمى مسلطه شوه دوئ ته نه په سورى کښې آرام ميلاويدلو. او نه په اوبو کښې، نو دوئ تهه خانو ته ننوتلو ، هلته نوره زياته گرمى وه . حتى چه قريب ځنګل طرف نه وريځ را اوچته شوه او يخه سيلئ راغله نو ټولو يو بل ته اوازونه اوکړل او ټول هلته راجمع شول نو د وريځې نه پرې اور راغې او ټول مجرمان هلاک شول.

فائده: کوم علماء چه فرمائى چه (اصحاب الايکه) او (اهل مدين) دواړه جدا جدا قومونه دى نو هغوئ استدلال کړيدې پدې جدِا نوعيت د عذابونو سره چه اصحاب الايکه ته عذاب د﴿يَوۡمِ

اَلظُّلَّةِ ﴾ ورکړې شوې وو . او اهل مدين باندې عذاب د (صيحې) او د (رجفې) راغلې وو . ليکن کوم اهل علم چه فرمائی چه دواړه جدا قومونه ندی بلکه د يو قوم دپاره دوه نومونه دی . يو نوم ئې نسبی دې او بل ئې مذهبی نوم دې، او په دوئ باندې درې قسمه عذابونه راغلی وو . رجفه يعنی زلزله پرې راغله او بيا پرې صيحه راغله او بيا ور باندې د اسمان نه اور راغلې او اوئې سوزولو او په يو قوم باندې د متعدد نوعيت والا عذابونه راتلل مستبعده خبره نده (والله اعلم) .

وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ﴿١٩٣﴾ عَلٰى قَلْبِكَ

او بې شکه دا قرآن نازل کړې شويدې د رب العالمين د طرفه خکته راوړيدې دا قرآن روح (جبرئيل) چه امانتګر دې په زړه ستا

لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ ﴿١٩٥﴾ وَاِنَّهٗ لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٩٦﴾

لپاره د دې چه شې ته د يره ونکونه (پيغمبرانو نه) په ژبه عربي فصيحه کښ او بې شکه دا قرآن په کتابونو پخوانو کښ دې.

اَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهٗ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٩٧﴾

آيا نده دوی لره معجزه دا چه پوهيږی پدې باندې علماء د بنی اسرائيلو.

﴿ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ ﴾ دا د سورت آخرت حصه ده. پدې حصې کښ دليل وحی ، دلائل نقليه په دعوی د سورت باندې ذکر کيږی . او صدق د قرآن او صدق د رسول ﷺ په مختلفو وجوهاتو سره ذکر کيږی . او څه زجرونه ، تخويفونه ، او بشارتونه هم ذکر کيږی . دا اول دليل وحی دې . او متعلق دې ابتداء د سورت سره چه ﴿ ومايأتيهم من ذکر ﴾ دې او ﴿ وَاِنَّهٗ ﴾ ضمير راجع دې (ذکر) ته چه هغه کنايه ده د توحيد او يا د قرآن نه (طبری) نو د آيت مقصد دا دې چه مشرکين د توحيد نه يا د قرآن اعراض او انکار کوی حالانکه دا مسئله توحيد او يا دا قرآن د رب العلمين د طرف نه پواسطه د جبرئيل ﷺ سره ستا په زړه مبارک باندې نازله کړې شويدې . د دې دپاره چه ته د دې دعوت خلکو ته ورکړې او منکرين د الله ﷻ د عذاب نه اويره وې . او يا ﴿ وَاِنَّهٗ ﴾ کښ ضمير راجع دې صرف قرآن

ته او مقصد دا دي چه دا قرآن د الله ﷻ د طرف نه نازل شويدې سحر يا شعر او يا کهانت ندې او ﴿لَتَنزِيلُ﴾ په معنی د "منزل" اسم مفعول سره دې يعنی (انه منزل من رب العلمين).

﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ﴾ (الروح) نه مراد حضرت جبرئيل دې، يعنی دا مسئله توحيد او يا دا قرآن په واسطه د جبرئيل ﷺ تاته نازل کړې شويدې. او هر کله چه تو هم پيدا کيدې شو چه ممکنه ده چه د حضرت جبرئيل ﷺ نه په وحی راوړلو کښی کمی بيشی شوی وی. نو الله ﷻ د دې توهم د دفعې دپاره د حضرت جبرئيل ﷺ صفت ﴿ٱلۡأَمِينُ﴾ ذکر کړو. چه حضرت جبرئيل ﷺ متصف دې په وصف د امانت سره، په وحی کښی کمی يا بيشی کيدل د حضرت جبرئيل ﷺ د طرف نه ممکنه هم نده ﴿ عَلَىٰ قَلۡبِكَ ﴾دا متعلق دې په نَزَلَ پورې مراد ورنه (عليک) دې. ليکن ذکر د قلب اوشو ځکه چه (قلب) محل د وعی يعنی حفاظت او د تثبت دې او دغه شان (قلب) رئيس د اعضاؤ دې. او ټول بدن مسخر او تابع د قلب دې لکه چه ديته اشاره شويده په صحيح حديث کښی چه نبی پاک ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه (الاوان فی الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد کله و اذا فسدت فسد الجسد کله ، الاوهی القلب) يعنی د انسان په بدن کښی د غوښې يوه ټکړا ده چه کله هغه صحيح شی نو ټول بدن په صحيح وی او چه هغه خرابه شی نو ټول بدن خراب وی. خبر دار هغه زړه دې. او دغه شان (قلب) محل د اعتقاد هم دې او دا آيت دليل دې پدې چه قرآن مجيد الله ﷻ د نبی پاک ﷺ په زړه کښی ثابت کړې او محفوظ کړې وو. پدې شان چه د نبی پاک ﷺ نه د يو حرف هيريدلو امکان نوؤ، سيوا د هغې نه چه الله ﷻ ورنه هيرول غوختلو. او باقی کيفيت د نزول د وحی څرنګه وو نو د هغې تفصيل په احاديثو کښی موجود دې ﴿ لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُنذِرِينَ ﴾دا هم متعلق دې په (نزول) پورې، او دا مقصد د بعثت او مقصد د نزول د قرآن ذکر کيږی.

﴿ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ ﴾ دا يا متعلق دې په (نزل) پورې او د آيت مقصد دا دې چه چونکه ستا قوم اولين مخاطب د دې قرآن دی او دهغوئ ژبه عربی ده نو ځکه قرآن هم تاته د عربئ په ژبه کښې نازل شو دې دپاره چه هغوئ پرې پوهه شی او کچرې دا په لغت عجمی کښې وې نو بيا به دوئ عذر کولو چه مونږ پرې نه پوهيږو. نو انذار به کامل نوو او دوئ دپاره به عذر وو. او يا دا متعلق دې په

﴿مِنَ الْمُنذِرِينَ﴾ پورې او د آيت مقصد دا دې چه ته د هغه منذرين يعنې انبياء کرامو نه ، شې چه هغوئ د عربئ په ژبه کښې خپل قومونو ته انذار ورکړيدې، چه هغه هود ﷺ ، صالح ﷺ ، شعيب ﷺ او اسماعيل ﷺ دی. ليکن او له توجيه ډيره غوره ده. او په لفظ د ﴿مُّبِينٍ﴾کښې اشاره ده چه په عربئ ژبه کښې فصاحت او بلاغت ډير دې او بيا قرآن مجيد په فصاحت او بلاغت کښې. انتهاء.
ته رسيدلې دې﴿ وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ﴾ظاهره دا ده چه ﴿وَإِنَّهُۥ﴾کښې ضمير راجع دې قرآن ته . او دلته مضاف محذوف دې چه لفظ "ذکر"دې يعنی (وان ذکر القران) يعنی ددې قرآن ذکر او ددې تصديق په مخکنو کتابونو کښې شته دې.دويم احتمال دا دې چه ضمير راجع دې نبی پاک ﷺ ته او د آيت مقصد دا دې چه ددې پيغمبر تعريف او توصيف په مخکنو کتابونو کښې موجود دې ، نو دا دليل بيانيږی د صدق د نبی پاک ﷺ دپاره او ډير سليم الفطرت يهوديانوچه کله نبی پاک ﷺ اوکتلو نو کتلوسره به ئې ايمان راوړلو ځکه چه هغوئ د نبی پاک ﷺ تعريف او توصيف په خپلو کتابونو کښې ليدلې وو. لکه حضرت عبدالله بن سلام ﷺ او د هغه ملګری چه د ضد او تعصب نه پاک وو نو د ايمان په دولت سره مالا مال شو ، او ډيرو به د ضد او عناد د دوجی نه حق خبره پته وله نو ايمان نه ، محروم کړې شولو ، او دريم احتمال دا دې چه ضمير راجع دې معانی او مضامينو د قرآن ته . نو د آيت مقصد دا دې چه معانی مضامين د قران په مخکنو ټولو کتابونو کښې موجود دی . يعنی پدې قرآن کښې څه نوې مسئلې ندی بلکه دا مسئلې او مضامين په مخکنو ټولو کتابونوکښې موجود دی ، نو پدې باندې اعتراض واردیږی چه د قرآن مجيد مضامين او معانی په مخکنو کتابونو کښې موجود کيدل ممکن ندی ځکه چه مثلاً بعض د معانيو د قرآن نه ، واقعه د افک ده او واقعه د افک په ادوار سابقو کښې نوه شوې نو څرنګه به معانی او مضامين د قرآن په کتب سابقو کښې موجود شی ؟ نو جواب ورنه دا دې چه مضامين د قرآن په کتب سابقو کښې موجود کيدل په اعتبار د مضامينو اغلب او اکثرو لره دی يعنی ډير مضامين او معانی د قرآن په کتب سابقو کښې موجود وو .ا و اکثر لره حکم د کل وی . او د قرآن مجيد اکثر مضامين توحيد . او صفات د الله ﷻ د رسالت قيامت او وعد وعيد دی او دا مضامين په کتب سابقو کښې هم موجود وو .

فائده د حضرت شيخ ﷫ رائې دا ده چه ضمير راجع دې دعوى د ‹ تبارک › ته يعنى دا دعوى د ‹ تبارک › چه برکاتو ورکوونکې ذات صرف الله ﷻ دې بل څوک ندې دا دعوه په مخکنو کتابونو کښې هم موجوده وه .دا څه نوې مسئله نده او د حضرت شيخ ﷫ رائې بالکل بې غباره او د سباق د کلام سره ډيره اليقه ده .

﴿ أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ﴾دا اشاره ده دليل نقلى ته د علماؤ سابقينو نه او استفهام دپاره د تقرير دې

او﴿ءَايَةً ﴾ په نصب سره خبر د﴿يَكُن﴾ دې، او﴿ أَن يَعْلَمَهُ ﴾ کښې ﴿أَن﴾مصدريه ده چه مدخول ئې

خپل په تاويل د مصدر مفرد سره ګرځوليدې ، اسم د﴿يَكُن﴾ دې او ضمير په﴿يَعْلَمَهُ ﴾کښې يا راجع

دې د عوى د ‹ تبارک › ته يعنى د دوئ دپاره دا دليل هم کافى دې چه ددې دعوې اعتراف او تصديق د بنى اسرائيلو علماء هم کوى . اويا ضمير راجع دې نبى پاک ﷺ او يا قرآن ته . او د آيت مقصد دا دې چه دوئ دپاره علم د علماؤ د بنى اسرائيلو بطور دليل کافى دې چه هغوئ د دې پيغمبر او ددې کتاب د حقانيت تصديق او اعتراف کوى . ځکه چه هغوئ په کتب سابقو کښې ددې پيغمبر او با ددې کتاب ذکر موجود موندلې دې. او علماؤ د بنى اسرائيلو نه مراد يا ټول علماء دى . برابره خبره ده که هغه علماء خير وو . او يا علماء سوء او علماء شر. ځکه چه ددوئ علماء سوء هم پدې باندې پوهه وو . چه دا پيغمبر بالکل برحق دې او قرآن د الله ﷻ بر حق کلام دې لکه سورة البقره آيت نمبر ‹۱۴۶› کښې دى بلکه دوئ به خپلو کسانو ته د ايمان راوړلو ترغيب هم ورکولو لکه سورة البقرة آيت نمبر ‹۴۴›﴿اتامرون الناس بالبر﴾کښې تير شويدى.او بعضى فرمائى چه علماء د بنى اسرائيل نه مراد پنځه لوئ لوئ مسلمان علماء د دوئ دى . حضرت عبدالله بن سلام ، حضرت ثعلبه ، ابن ياسين ، اسد ، او حضرت اسيد رضوان الله تعالى عليهم اجمعين چه دوئ ايمان راوړې وو. او تخصيص د علماء د بنى اسرائيلو ځکه اوشو چه قريش به په ډيرو مسائلو او په امور نقليه کښې رجوع به د بنى اسرائيلو علماؤ ته کوله .او دهغوئ خبره به ئې په امور نقليه کښې حجت ګڼړلو .

وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾

او که چرته نازل کړې وې مونږ دا قرآن په بعض عجميانو باندې.پس هغه لوستلې وې دا په دوئ.نونه به وو دوئ په هغې ايمان راوړونکى.

كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ۞ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ

همدغه شان داخل کړیدې مونږ دغه تکذیب په زړونو دمجرمانو کښې، نه راوړی ایمان پدی قرآن تردی چه اووینی عذاب

الْاَلِيْمَ ۞ فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۞ فَيَقُوْلُوْا هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُوْنَ ۞

درناک پس راځی به عذاب دوئ ته ناڅاپه اودوئ به خبرهم نه وی نوبیابه وائی آیامونږ ته مهلت میلاویدې شی

اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ۞

آیاد عذاب زمونږ دوئ تلوار کوی.

﴿وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ﴾ پدې دوه ایاتونو کښې زجر دې مشرکینو ته په فرط عناد او سخت عناد باندې او ددې آیت څو تفسیرونه کړې شویدی (۱) ﴿نَزَّلْنٰه﴾ کښې ضمیر راجع دې دې مخصوص قرآن ته چه عربئ ژبه کښې دې او متصف دې په وصف د اعجاز سره. او د آیت مقصد دا دې چه کچرې مونږ دا قرآن سره د کمال فصاحت او بلاغت او سره د اعجاز نه په یو عجمی کس باندې نازل کړې وې چه هغه د عربئ ژبې نه بالکل نابلد وې .او هغه معجزانه طور باندې دوئ ته قرآن تلاوت کړې وې (چه دا د هغه د حقانیت واضح او کامل دلیل دې) نو بیا به هم دوئ ایمان نه راوړلو بلکه کفر به ئې کولو. (مدارک) دویم تفسیر دا دې چه ضمیر راجع دې قرآن ته بغیر د اعتبار د عربیت او دکمال فصاحت نه. او د آیت مقصد دا دې کچرې مونږ دا قرآن په یو عجمی کس باندې د عجمو په ژبه کښې نازل کړې وې او هغه په دوئ باندې لوستلې نو دوئ به دتکبر د وجې نه ایمان نه راوړلو او عذر به ئې کولو چه ددې ایاتونه خلط ملط دی او مونږ په دې نه پوهیږو. او داسې ذکر په سورة حم السجدة آیت نمبر (۴۴) کښې هم دې. او دریم تفسیر دا دې چه ضمیر راجع دې مطلق قرآن ته قطع نظر د عربیت او د عجمیت نه. او د آیت مقصد دا دې چه کچرې مونږ نازل کړې وې دا قران په یو عجمی کس باندې. او هغه په دوئ باندې لوستلې نو دوئ به د غرور او د تکبر د وجې نه ایمان نه راوړو (قیل معناه ولو نزلنه علی رجل لیس من العرب لما امنوا به انفة وکبرًا (قرطبی)

﴿ كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ ﴾ دا هم زجرونه ذکر کیږي او (کاف) د حضرت الشیخ رحمه الله په نیز دپاره د بیان کمال دي. او ضمیر راجع دي تکذیب او کفرته نو د آیت مقصد دا دي چه همدارنګه (په خپل قدرت سره) مونږ د دوئ په زړونو کښې تکذیب او کفر ، ورننه کړو . چه تر څو پورې دوئ مشاهده د عذاب نوی کړی نو دوئ ایمان نه راوړی او د عام مفسرینو په نیز (کاف) اسمی دي په معنی د (مثل) سره دي. او دا په موضع د نصب کښې مفعول به دي د "نسلکه" فعل مقدر د پاره . او ممثل له تکذیب د قرآن نه ، د دوئ دي په اوریدلو د دي قرآن سره د ژبې د عجمی نه سره د کمال فصاحت . او ممثل مهر جباریت لګیدل دی د وجې د تکذیب د دي قرآن نه ، چه دوئ ئې اوری د ژبې د نبی پاک ﷺ نه او علت مشترکه ضد او عناد دي نو د آیت مقصد دا دي چه دوئ په ضد او عناد کښې دومره حد ته رسیدلیدی چه دا معجز کتاب کچرې دوئ د یو عجمی د ژبې نه اوریدلې وي چه هغه په عربی وئیلو باندې قادرهم نوې (چه پدې وخت کښ،د دي قرآن اعجاز او نبوت د نبی ﷺ نور هم واضح وي) نو بیا به هم دوئ د ضد او عناد د وجې نه ایمان نوې راوړې. نو د هغې ضد او عناد د وجې نه دوئ د دي پیغمبر تکذیب هم اوکړو نو مونږ په دوئ باندې مهر د جباریت اولګولو. او کفر په مو نور هم په شدت سره د دوئ په زړونو کښې داخل کړو. او اوس دوئ ته د کفر او تکذیب د خلاصی دپاره هیڅ لاره نیشته دي ، لکه په سورة البقر آیت (ختم الله علی قلوبهم) کښ تیر شویدی . نو ددې تشریح مطابق (نسلکه) مقدر کښې ضمیر راجع دي تکذیب د قرآن ته . او بعض فرمائی چه ضمیر راجع دي نفس قرآن ته . او د آیت مقصد دا دي چه لکه څرنګه مونږ دا قرآن په یو عجیب او غریب نمط او فصیح ، بلیغ انداز سره راالیږلې دې نو همدغه رنګې مونږ دا قرآن د دوئ په زړونو کښې ننه باسلې دې. او ددې حقانیت مو د دوئ په زړونو کښې ثابت کړیدې . او دوئ پدې باندې بنه پوهه دی چه دومره فصیح کلام د قوت بشری نه خارج دي او صرف د الله جل جلاله کلام دي خو بیا هم دوئ تر هغې وخته پورې ایما ن نه راوړی چه تر څو ئې ﴿ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴾ نوی مشاهده کړې . او ﴿ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ ﴾ مشاهده په دنیا کښ د مرګ په وخت کښ وی او په قبر کښې به وی او بیا په اخرت کښ د جهنم عذاب په صورت کښ وی .

﴿ فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً ﴾يعني دوئ خو انتظار كوي چه كوم وخت دوئ ته مرګ او عذاب راځي نو دوئ به ايمان راوړي حالانكه مرګ او د الله ﷻ عذاب بالكل اچانک وي چا ته هم وينا نه كوي چه څه به پدې وخت راځم بلكه دوئ به په غفلت كښې پراته وي چه د الله ﷻ عذاب به پرې راشي

﴿ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ ﴾نو هر كله چه دوئ د ﴿الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾مشاهده اوكړي نو په ډير افسوس او حسرت سره به تمنا او درخواست اوكړي چه مونږ ته دې لږ مهلت راكړې شي . او دا تمنا به د هر امت معذّ به وي كه د نبي ﷺ امت وي او يا نور امتونه وي.

فائده : پدې دوه آياتونو كښ عطف په (فاء) سره راغليدې. او عطف په (فاء) سره تقاضه د ترتيب زماني بلا تراخي كوي. يعني تعقيب مع الوصل باندې دلالت كوي . نو ظاهر د آيت نه دا معلوميږي چه د (رؤيت د عذاب) نه به ورستو (مفاجات د عذاب) وي . او د (مفاجات دعذاب) نه به ورستو بيا سوال د (انظار) او مهلت وي. او حالانكه ترتيب داسې ندی. بلكه اولاً به عذاب مفاجاتي راشي بيا به رؤيت د عذاب دوئ ته حاصل شي او بيا به دوئ سوال د انظار او مهلت اوكړي . نو صاحب د كشاف ورنه جواب كړيدې چه دلته (فاء) د ترتيب زماني دپاره نده . بلكه د ترتيب رتبي دپاره ده. يعني لحوق د ثاني به په شدت كښې د اول نه زيات وي . نو مقصد دا دې چه دوئ ايمان نه راوړي تر هغه پورې چه ﴿الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾ئې نوي كتلې. نو ددې رؤيت د عذاب نه به زيات سخت شي عذاب مفاجاۃ وي . او د هغې نه ، به زيات سخت سوال د انظار او د مهلت وي ځكه چه د دوئ يقين به وي په امتناع د سوال باندې چه زمونږ سوال پوره كيدل محال دی .

﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴾ دا زجر دې سره د تخويف نه . او استفهام دپاره د توبيخ او تبكيت دې . يعني يو طرف ته ستاسو حالت دا دې چه اوس مهلتونه غواړئ او بل طرف ته ستاسو حالت داوو چه كله به پيغمبر د عذاب نه يره دركړه نو تاسو به عذاب په جلدي سره غوختلو.

أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ ﴿۲۰۵﴾ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿۲۰۶﴾
خبر اكړه ما ته كچرته نفع وركړو مونږ دوئ ته څو كاله، بيا راشي دوئ ته هغه عذاب چه دوئ سره ئې وعده كولې شي.

مَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴿۲۰۷﴾ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا لَهَا
نو دفعه به نۀ نکړی دوئ نه هغه مال متاع چه دوئ ته فائده ورکولې کیدله .او نۀ دي هلاک کړی مونږ هيڅ يو ښار مګر(دا غلې وو) هغی ته
مُنْذِرُوْنَ ﴿۲۰۸﴾ ذِكْرٰى ۛ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۲۰۹﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿۲۱۰﴾
يرونکی رسولان لپاره دنصيحت اونه وو مونږ ظلم کونکی. اونۀ دي نازل کړيدي داقرآن شيطانانو.
وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۲۱۱﴾ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿۲۱۲﴾ فَلَا تَدْعُ
اونۀ دي مناسب هغوئ سره اونه ئې طاقت لري.بيشکه شيطانان داوريدلو دکلام «دفرشتو»نه منع کړی شويدی.پس مه بله
مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿۲۱۳﴾
دالله ﷻ سره اله بل ورنه شې به دعذاب ورکړې شوونه

﴿أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ﴾دا د مشرکینو د عناد او مکابرې وضاحت دې او جواب دې د طلب د انظار او د آیت مقصد دا دې چه کله به دوئ باندې اچانک عذاب راشی نو دوئ به مهلت طلب کوی ليکن دوئ ته به مهلت نه ورکولې کيږی ځکه چه مهلت ورکولو کښې فائده نيشته دې . ځکه چه دوئ هغه ازلی بد بخته دی کچرې مونږ دوئ ته اوګده عمرونه ورکړو او د دنيا عيش و عشرت ورته ورکړو نو بيا به هم دوئ ددنيا په عيش وعشرتونو کښې به مبتلا شی او صرف د دنيا مزې به اخلی . او د الله ﷻ د ياد او د اخرت د فکر نه به غافله وی . او بعض فرمائی چه دا مرتب دې په استعجال د عذاب باندې . او د آيت مقصد دا دې چه دوئ خو په جلتئ سره عذاب طلب کوی خو د دوئ دا کوم عمرونه او مال و متاع چه اوس موجود دی کچری مونږ ورته دازيات کړو اوګده عمرونه،ډير مال متاع او ددنيا عيش وعشرتونه ورکړو او بيا په دوئ باندې عذاب راشی نو دا اوګد عمر او د دنيا دا اسباب به دوئ ته د عذاب نه څه فائده ورنکړی . افسوس او حسرت به ئې نور هم زيات شی او په ديکښې اشاره ده چه اوګد عمر ، مال و متاع وغيره د الله ﷻ نعمتونه دی خو هر

کله چه بغیر د عمل صالح نه ، وی نو بیا به ذریعه د حسرت او افسوس وی . او انسان ته به هیڅ فائده ورنکړی.

د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په باره کښې مروی دی چه کله به سهار شو نو خپله ږیره به ئې اونیوله او دا آیاتونه ﴿أَفَرَءَيْتَ﴾ تا ﴿يُمَتَّعُونَ﴾ به ئې تلاوت کړو او بیا به په ژړا شو او دا اشعار به ئې وئیلو :

نهارک یا مغرور سهو وغفلة ولیلک نوم و الردی لک لازم

فلا انت فی الایقاظ یقظان حازم ولا انت فی النوم ناج سالم

تسر بما یفنٰی وتفرح بالمنیٰ کی سربالذات فی النوم حالم

وتسعی الی ما سوف تکره غبة کذلك فی الدنیا تعیش البهائم

ترجمه : اې په دنیا باندې دهوکه کړې شوی یه ستاورځ په غفلت کښې او شپه په خوب کښې تیره شی، حالانکه مرګ ستا دپاره لازمی دې، پس نه خو ته په ویخو خلکو کښې هوښیار بیدار ئې. او نه خو ته په اوده خلکو کښې خلاصې موندونکې مطمئن ئې . فانی څیزونو ته ، ته خوشحالیږې، او په خواهش پوره کیدلو سره دې طبیعت ښه کیږی . (دا خو داسې دی) لکه بالغ کس ته په خوب کښې خواهش پوره کیدلو سره سر ور میلاویږی . او ته کوشش کوی په داسې څیزونو پسې چه د هغې انجام به ته دیر بد ګڼړې، او په دنیا کښې څاروی دغه شان ژوند تیره وی .

﴿ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ ﴾ دا تخویف دنیوی دې او دا هم مرتب دې په استعجال د عذاب د دوئ باندې او جواب دې د هغوئ د مطالبې چه د الله تعالیٰ سنت عادیه دا دې چه د قومونو په فرمائش باندې عذاب نه لیږی بلکه الله تعالیٰ انبیآء کرام اولیږی او هغوئ انذار اوکړی نو د پوره انذار او اتمام حجت نه ورستو بیا چه کله قومونه تکذیب اوکړی نو الله تعالیٰ په هغوئ باندې عذاب رالیږی .

﴿ذِكْرَىٰ﴾ دا په معنی د (مذکرین) سره حال واقع شویدې د (منذرون) نه او یا (ذکری) حال دې په حذف د (ذوی) سره یعنی منذرون حال کونهم ذوی ذکری او یا مفعول مطلق دې د فعل محذوف

دپاره یعنی (یذکرون ذکری) او یا مفعول له دې د (منذرون) دپاره . نو کلام په اصل کښې داسې دې . چه (ینذرون لاجل التذکرة والموعظة) او یا مفعول له دې د (اهلکنا) دپاره، او د آیت مقصد دا دې چه هیڅ ځوک هم د انبیاء کرامو د بعثت نه بغیر ندی هلاک شوی هر کلې او قوم ته الله ﷻ انبیاء کرام لیږلی وو او هغوئ دې قومونو ته د الله ﷻ د عذاب نه یره هم ورکړه خو د هغې باوجود د سرکش او عاندینو خبره اونه منله نو الله ﷻ هلاک کړل، دپاره ددې چه ددوئ هلاکت عبرت او نصیحت اوګرځی د نورو خلکو دپاره چه هغوئ د کفر او د معاصیتو نه منع شی (لیکون اهلاکهم تذکرة و عبرة لغیرهم فلا یعصوا مثل عصیانهم (مدارک)

﴿ وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ ﴾ دا متعلق دې ابتداء د رکوع﴿وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ ﴾ سره او د مشرکینو د اولې شبهې جواب دې په باره د قرآن کښې مشرکینو به دا شبه کوله چه (نعوذبالله) دا قرآن کهانت دې او نبی پاک ﷺ کاهن دې ځکه چه جنات دده تابع دی او هغه جنات ده ته د غیب خبرونه راوړی. نو پدې آیت کښې ددې شبهې نه جواب اوشو ،خلاصه د جواب دا ده چه دا قرآن د رب العلمین د طرف نه ، نازل کړې شویدې او شیاطینو ندې نازل کړې د شیاطینو دپاره دوه موانع موجود دی او هغه دواړه موانع بدیهی دی. یو مانع صفت انضمامی دې چه هغه وصف" شیطنیت"دې،ددې وصف دوجې نه شیاطینو دپاره قرآن نازلول مناسب ندی ځکه قرآن مجید سراسر هدایت دې او شیاطین سراسر ضلالت دې،نو شیاطین هغه مضامین نه راوړی چه د مخلوقاتو دپاره د هدایت ذریعه ګرځی او دویم مانع امر مبائن خارجی دې چه شیاطین د وحی د اوریدلو نه او د قرآن اوریدلو نه لرې ساتلې شوی دی .که بالفرض استماع هم اوکړی نو شهاب ثاقب وریسې راشی . نو هر کله چه هغوئ د وحی د خیرو نه لرې ساتلې شویدی نو قرآن مجید د لوح محفوظ نه اغستلو نه په طریق اولی سره لرې ساتلې شویدی . نو ﴿ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُمۡ ﴾ کښې د اول مانع ذکر دې،او (ما) نافیه ده . او ﴿يَنۢبَغِي﴾په معنی د (یجوز) او (یصلح) سره دې، نو معنی ئې دا ده چه: لا یجوز ولا یصلح لهم ان ینزلوا به .﴿ وَمَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴾ دا دویم امر مانع ذکر دې اوترقی ده د ماقبل نه.یعنی په شیاطینو کښې د قرآن اوریدلو استعداد او طاقت هم نیشته دې . ﴿ إِنَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّمۡعِ لَمَعۡزُولُونَ ﴾دا علت دې دعدم استطاعت دپاره .

فائده: سمع اثر مرتبه د استماع دې نو پدې آيت کښې نفي د "سمع" راغليده نو شياطين اګر چه استماع په طريقې د استراق سره کولې شي. ليکن "سمع" نشي کولې الله ﷻ د وحي حفاظت کوي نو لهذا د دې آيت تعارض د سورة الحجر آيت نمبر (۸۸) سره او يا دغه شان نورو اياتونو سره نيشته دې. او بعض فرمائي چه شياطين د قرآن نه استماع کولې شي او نه سمع. او په سورة الحجر نمبر (۸۸) او يا نورو اياتونو کښې چه د استماع په طريقې د استراق سره ذکر دې نو د هغې نه مراد نورمغيبات دې. وجه دا ده چه وحي به جبرئيل ﷺ پخپله براه راست راوړله اګر چه د ملائکو يو لوئ جماعت به ورسره وو، خو بل چاته او بلې فرشتې ته به ئې نه منتقل کوله نو استماع او سماع ممکنه نوه. او په خلاف د نورو مغيباتو نه، چه هغه کښې د يو ټولې د ملائکو نه بل ټولې ته د مغيباتو انتقال کيږي نو استماع او سماع دواړه ممکن دې. والله اعلم.

﴿ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ ﴾ فاء فصيحيه ده دَدينه مخکښې عبارت مقدر دې. اى **اذا علمت ما ذكر فلاتدع**. او دا پنځه امور مرتبه ذکر کيږي په ماقبل باندې. او دا په منزله د ثمرې او نتيجې دې د ماقبل دپاره. نو دا امر اول دې.او د آيت مقصد دا دې چه کله دا خبره ثابته شوه چه برکات ورکونکې ذات صرف او صرف الله ﷻ دې نو تاسو د الله ﷻ نه سيوا د بل چا نه د خپلو حاجتونو پوره کولو سوال مه کوئ کنې په سخت عذاب کښې به مبتلا شئ،او دا خطاب اګر چه په ظاهر کښې نبي پاک ﷺ ته دې خو نبي پاک ﷺ نه د منهي عنه صدور يعني شرک صادريدل نا ممکن وو. نو ددې وجې نه حقيقةً دا خطاب امتيانو ته دې، اوخطاب ظاهراً نبي ﷺ ته کولو کښې مقصود تاکيد دې په زجرکښې، يعني الله ﷻ نبي پاک ﷺ ته اوفرمائيلو چه اې حبيبه ﷺ کچرې بالفرض والمحال ستا نه هم شرک صادر شي نو ته به هم معذب شې. نو باقي خلک په طريق اولى سره معذب دې. او بعض فرمائي چه خطاب نبي پاک ﷺ ته دې. او د منهي عنه صدور اګر چه د نبي ﷺ نه محال دې خو دلته نهي کنايه ده د زيادت اخلاص نه په توحيد کښې،يعني په نفي د غير الله او اثبات توحيد کښې اخلاص نور هم زيات کړه. او هر کله چه مراتب د اخلاص متفاوت او (**لاتقف عند حد**) دې نو ددې وجې نه خطاب پيغمبر ته کول ممنوع هم ندې.

وَاَنۡذِرۡ عَشِيۡرَتَكَ الۡاَقۡرَبِيۡنَ ﴿٢١٤﴾ وَاخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿٢١٥﴾
اوېره وه ته خپلوان خپل چه تاته نيږدې دی اوښکته کړه وزرخپل نرمی کوه هغه چاته چه اتباع ئې کړيده ستاچه مؤمنان دی.
فَاِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ اِنِّىۡ بَرِىۡٓءٌ مِّمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٢١٦﴾
پس کچرته ستانافرمانی چاوکړه نوته ووایه بیشکه ځه بری یم دهغی عملونونه چه تاسوئی کوئ

﴿ وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ﴾ دا دویم امر مرتب دې. ما قبل آیت کښې خپل ځان د شرک نه بچ کولو او توحید اختیارولو حکم او تعلیم وو، پدې آیت کښې تعلیم ورکولې کیږی چه د خپل ځان سره سره د خپل خپلوانو خبر اغستل هم پکار دی. یعنی خپل قوم قبیله هم اویره وه چه هغوئ د الله ﷻ نه علاوه د بل چا نه مدد غوختلو سوال نه کوی. او د انذار څلور اقسام دی (۱) انذار عشیره (۲) انذار قوم (۳) انذار عرب (۴) انذار جمیع بنی آدم او چونکه نبوت د نبی پاک ﷺ عام وو نو ددې وجې نه نبی پاک ﷺ څلور واړه انذارونه کړیدی. نو پدې آیت کښې انذار د عشیره ذکر دې. او په صحیح روایت کښې دی چه (لما نزلت) (و انلز عشیرتک الاقربین) خرج رسول الله ﷺ حی صعد الصفا فجعل ينادی يابنی فهر يا بنی عدی لبطون قريش حی اجتمعوا فجعل الرجل اذلم يستطع ان يخرج ارسل رسولاً. لينظر ماهو؟ فجآء ابولهب و قريش،فقال ارايتكم لو اخبر تكم ان خيلا با لوادی تريد ان تغير عليكم . اكنتم مصدقي؟ قالو نعم ! ماجربنا عليک الا الصدق قال فانی نذير لکم بين يدی عذاب شديد. قال ابولهب تباً لک سائر اليوم ماجمعتناالا ألهذا فنزلت تبت يدا ابی لهب .

ترجمه : یعنی چه کله دا مذکور آیت (انذر الخ) نازل شو نو نبی پاک ﷺ د صفا په غونډئ اوختلو او د قریش مختلفو خاندانونو ته ئ آوازونه اوکړو چه یا بنی فهر او یا بنی عدی وغیره. حتی چه ډیر خلک راجمع شو او کچرې یو کس د راتللو طاقت نه لرلو نو هغه به د خپل طرف نه یو قاصد (استاذې) اولیږلو چه اوګوره چه څه ضروری امر اوخبره ده. نو ابو لهب سره د نورو قریشو هم راغې. نو نبی پاک ﷺ دوئ ټولو ته اوفرمائیلو چه ستاسو څه خیال دې کچرې څه تاسو ته خبر درکړم چه ددې درې نه په تاسو باندې په اسونو باندې سور جماعت حمله کوی نو تاسو به څما تصدیق کوئ او څما خبره به منئ ؟ نو ټولو ورته اووئیل،هاؤ. مونږ په تا بلندې بار بار تجربه کړیده ته صرف رښتیا وائې. نو نبی پاک ﷺ ورته اوفرمائیل چه څه تاسو ته د هغه عذاب ویره درکوم کوم

چه خما مخامخ را روان دي. نو ابولهب اوئيلو چه (العياذ بالله) ته دې هلاک شې تا مونږ ته صرف ددې خبرې دپاره تکليف راکړو او صرف دې دپاره دې مونږ را جمع کړو او بيا روان شو. نو الله ﷻ (سورة لهب) نازل کړو.

او تخصيص د (الاقربين) اوشو ځکه چه ځومره قرابت زيات وي هومره هغه زيات مستحق وي په هدايت او انذار سره. او دغه شان عامو خلکو ته دبدګمانۍ موقعه هم نه ميلاويږي چه عام خلک بدګماني او طعنې اونکړي چه خپلوانو ته هيڅ نه وائي او مونږ ته تبليغ کوي او دغه شان دا وجه هم کيدې شي چه خلک پوهه شي چه په دين کښې دهيڅ چا لحاظ نشي کيدې. دعوت او تبليغ هر کشر او مشر، خپل او پردي ته کولې شي. او دغه شان پديکښې اشاره ده ديته چه محض د پيغمبر سره د قرابت د وجې نه دالله ﷻ د عذاب نه، بچ کيدل نشي کيدلې ترڅو چه ايمان نوي راوړې. او ددې وجې نه په يو صحيح روايت کښې راغليدي چه نبي پاک ﷺ ددې آيت په نزول سره ارشاد اوفرمائيلو چه: يا معشر قريش (او كلمة نحوها) اشتروا انفسكم لااغنى عنكم من الله شيئاً يا بنى عبد مناف لا اغنى عنكم من الله شيئاً يا عباس لا اغنى عنک من الله شيئاً يا صفية عمة رسول الله ﷺ لا اغنى عنک من الله شيئاً و يا فاطمة بنت محمد ﷺ سلنى ما شئت من مالى لا اغنى عنک من الله شيئاً (متفق عليه)

﴿ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ ﴾ دا دريم امر مرتب دې. او ﴿ واخفض جناحک ﴾ کنايه ده د شفقت، د نرمۍ او د حفاظت او مدافعت نه. يعنې کوم خلک د الله ﷻ د عذاب نه اويريدل او ايمان ئې راوړلو نو د دغه شان خلکو سره د شفقت او نرمۍ والا معامله کوه. او داسې ذکر په سورة الحجر آيت (۸۸) کښې هم دې. اوکه څوک اشکال اوکړي چه د﴿مَنِ ٱتَّبَعَكَ ﴾نه ورستو د ﴿ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ذکر مستدرک دې ځکه چه "متبعين" د نبي پاک ﷺ مؤمنان دي بل څوک ندي. نو بعضو ورنه جواب کړيدې پدې شان چه ﴿مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې "من" بيانيه دې او دا بيان د﴿ من ٱتَّبَعَكَ ﴾ دې. ځکه چه اتباع د نبي ﷺ عامه ده. اتباع ديني ته هم شامله ده او اتباع دنيوي ته هم شامله ده. نو د تعيين د اتباع ديني دپاره ذکر د﴿مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾اوشو چه څوک دا توهم اونکړي

چه دنيوی امورو کښې اتباع کولو په صورت کښې مطلق اتباع موجوده ده نولهذا دا حکم يعنی ﴿وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ﴾ دا به دنيوی متبعين لره هم شامل وی.نو هر کله چه ﴿مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ اضافه اوکړې شوه نو دا توهم دفعه کړې شو چه د متبعين نه مراد صرف هغه دی چه هغه مؤمنان وی او بعضو ورنه دا جواب کړيدې چه ﴿مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ کښې من تبعيضيه دې ځکه چه،لفظ د (متبعين) شامل دې حقيقی متبع ته هم چه هغه مؤمن دې او ظاهری متبع ته هم چه هغه منافق دې ، ځکه چه منافقينو به صرف په ظاهر کښې د نبی پاک ﷺ اتباع کوله. نو د ﴿مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ اضافه اوکړې شوه ددې دپاره چه منافق ورنه خارج شی ځکه چه منافق دپاره پکښې حکم د (واغلظ عليهم) دې. او يو دريم جواب ورنه بعضو دا کړيدې چه ﴿مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ کښې من تبعيضيه دې ځکه چه متبع په دوه قسمه دې، متبع کامل او متبع ناقص نودَ من اتبعک نه مراد عام وؤ اود من المومنين نه مراد بعض متبعين دي چه اتباع کامله کوونکی دی. ﴿فَإِنۡ عَصَوۡكَ﴾ دا څلورم امر مرتب دې. يعنی هر کله چه دوئ ستا دعوت او تبليغ نه منی او ايمان نه راوړی نو ته ورنه اعلان برأت اوکړه چه ستاسو د بد اعمالو نه ، ځه بيزار يم.

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ ٱلَّذِي يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾
او اعتماد کوه په هغه الله ﷻ چه غالب دې رحم کونکې دې هغه الله ﷻ چه وينی تا په هغه وخت کښې چه پاسې ته مانځه ته،
وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾
او وينی ګرځيدل ستا په سجده کونکو(صحابؤ)کښې،بې شکه الله ﷻ صرف هغه ښه اوريدونکی ښه پوهه دې،
هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ﴿٢٢٢﴾
آيا خبر در کړم تاسو ته دَهغه چا چه نازليږی پری شيطانان،نازليږی دوئ په هرسخت دروغژن سخت ګناه ګاراندې

يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كٰذِبُونَ ﴿۲۲۳﴾

غوږ اږدي (خبرو دفرشتو ته) او اکثر یدوئ کښې دروغژن دي.

﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْعَزِيزِ ﴾دا پنځم امر مرتب دې او دا په حقیقت کښې تسلی ده نبی پاک ﷺ ته چه د مخالفینو نه ، برأت اعلان کول اګر چه ګران کار دې. او خاص طور باندې چه خپل خپلوان وی نو هغه ډیر ګران کار دې ځکه چه په هغې کښې ډیر خاندانی مسائل او مشکلات پیدا کیږی ، نو الله ﷻ د هغې علاج او خودلو چه په دغه شان موقعو کښې د الله ﷻ په ذات باندې توکل کوئ او د مخالفینو د مخالفت پروا مه کوئ ﴿ٱلْعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ یعنی غالب دې په دشمنانو باندې او مهربانه دې په دوستانو باندې. او هر کله چه وصف د (عزیز) په منزله د علت مصححه وو د توکل دپاره او وصف د ﴿ٱلرَّحِيمِ ﴾ په منزله د علت داعیه وو. او علت مصرحه مقدم وی په علت داعیه باندې.نو ددې وجه﴿ٱلْعَزِيزِ﴾ دلته مقدم کړې شو په﴿ٱلرَّحِيمِ﴾باندې.

فائده : " توکل" باب تفعل دې. مجرد ئې و کل یکل د باب ضرب یضرب نه راځی، لغت کښې وئیلې کیږی خپل کار یا خبره چاته حواله کول. په خپلو امورو کښې په چا باندې اعتماد کول. او په عرف کښې وئیلې کیږی اظهار العجز والاعتماد علی الغیر یعنی د خپل عجز او د کمزورئ اظهار کول او په بل چا باندې اعتماد کول. او په اصطلاح د شرع کښې ئې متعدد تعریفونه شویدی. علامه زمخشری ، امام رازی او علامه آلوسی رحمهم الله داسې تعریف کړیدې (۱) التوکل عبارة عن تفویض الرجل امره الی من یملک امره ویقدر علی نفعه وضره .یعنی توکل عبارت دې د دینه چه یو سړې خپل امر او کار هغه چاته اوسپاری چه هغه دده د کار مالک وی او ده ته په نفع ورکول او یا ضرر رسولو باندې قادروی . (۲) او بعضو داسې تعریف کړیدې (الثقة بما عند الله والیاس مما فی ایدی الناس) یعنی څه چه الله ﷻ سره دی او د هغه خوا ته دی په هغې باندې اعتماد کول او هغه څه چه د مخلوقاتو او د انسانانو په لاس کښې دی د هغې نه نا امیدی کول (۳) او بعضو داسې تعریف

کړیدې چه (صرف النظر عن الاسباب الی خالق الاسباب) یعنی د ظاهری اسبابو نه خپل نظر او توجه لری کول او خالق ددې اسبابو طرف ته متوجه کیدل.

بهر حال ؛ ددې ټولو تعریفونو مقصد تقریباً یو دې چه انسان د مخلوقاتو په ځائ هغه ذات طرف ته متوجه شی چه خالق د دې ټولو مخلوقاتو دې او انسان ته نفع رسولو ، او ضرر رسولو باندې قادر دې او د توکل مراتب متفاوت دی (۱) اعلی (۲) متوسط (۳) ادنی

اعلی مرتبه د توکل د انبیاء کرامو ﷺ او د مقربینو دې. چه د ظاهری اسبابو د نتیجې مخالف د الله ﷻ په ذات باندې توکل کوی. لکه حضرت ابراهیم ﷺ اورته اچولې کیدلو نوحضرت جبرئیل ﷺ د امداد پیشکش اوکړو نوهغه ﷺ ورته اوفرمائیلو (حسبنا الله ونعم الوکیل) او د حضرت جبرئیل ﷺ امداد پیشکش ئې قبول نکړو دا اعلی مرتبه د توکل ده او یا دغه شان د نبی پاک ﷺ بغیر د پهرې دار نه ګرځیدل ، چه کله دا آیت نازل شو چه (والله یعصمک من الناس) نو ددې آیت د نزول نه ورستو نبی پاک ﷺ د خپل ځان هر قسم پهره لرې کړه . چه حضر او سفر د شپې او د ورځې به بغیر د پهرې دار نه ، وو ، دویم قسم توکل د خواصو دې لکه علمآء کرام ، اولیآء عظام وغیره شو ،چه هغوئ کله کله اسباب بالکل ترک کړی ، اګر چه اسباب موجود وی. او دریم قسم توکل د عامو مؤمنانو دې چه اسباب ظاهری اختیار کړی خو نظر ئې په اسبابو نوی. بلکه مؤثر حقیقی الله ګنړی، او اعتماد ئې د الله ﷻ په ذات باندې وی.

﴿ ٱلَّذِى يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ ﴾اسم موصول سره د صلې نه صفت ثانی دې د﴿ٱلْعَزِيزِ﴾دپاره، او مقصود پدې سره مزیده تسلی ورکول دی . نبی پاک ﷺ ته (چه نه په هغه ذات باندی توکل اوکړه چه هغه ستا د هر هر حرکت نه او د هر حالت نه خبردار دې. او خاص طور باندې چه کله ته هغه ته په عبادت باندې اودریږې نو ته ئې خصوصی په نظر کښې وې . نو د ﴿ حِينَ تَقُومُ ﴾نه مراد عبادت ته او بیا خاص طور تهجدو مونځ ته پاسیدل دی . او پدیکښې اشاره ده چه د شپې په عبادت سره یعنی په تهجد سره د الله ﷻ خصوصی امداد دانسان سره شامل حال ګرځی

﴿ وَتَقَلُّبَكَ فِى ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾د دې آیت مختلف معانی کړې شویدی . (۱) امام بخاری ﷫ او اکثر اهل علمو د (تقلب) نه په مونځ کښې د یو حالت نه بل حالت ته منتقل کیدل مراد کړیدی . لکه د

قیام نه رکوع ته تلل، د رکوع نه بیا پاسیدل او سجدې ته تلل، او د ﴿ٱلسَّـٰجِدِينَ﴾ نه مراد (المصلين) دی او چونکه سجده رکن اعظم د مونځ دې نو ددې وجې نه تخصیص د سجدې اوکړې شو. نو د آیت مطلب دا دې چه کله ته د صحابه کرامو سره په جمع مونځ کوې او یو حالت نه بل حالت ته منتقل کیږې نو ستاسو ددې ټولو انتقالاتو علم الله ﷻ ته وی. او پدیکښې اشاره ده د فرض مونځ اهتمام کولو ته ورستو د ذکر د نفلی عبادت نه، نو په ﴿ٱلَّذِى يَرَىٰكَ حِينَ تَقُومُ﴾ سره مراد نفلی عبادت او مونځ کول وو، او چونکه نفلی عبادت کښې تفرد اولی دې یعنی چه یو اخې اوکړې شی او جماعت پکښې مستحسن ندې او طول القنوت یعنی اوږد قیام کول پکښې اولی دی نو ددې وجې نه هلته ﴿حِينَ تَقُومُ﴾ یعنی صرف د نبی پاک ﷺ د حالت قیام ذکر اوشو او پدې آیت سره اشاره ده فرضی مونځ ته - اوفرضو کښې جماعت سنت او واجب دې، نو د دې وجې نه ﴿ٱلسَّـٰجِدِينَ﴾ دلته جمع سره اوئیلې شو: حين تقوم الى الصلوة اى منفردًا او قوله تقلبک فى السجدين اى و يرى لک مصلياً فى الجماعة (حاشية الجمل).

(۲) بعض اهل علم فرمائی چه (تقلب) په معنی د (تفقد) سره دې. نبی پاک ﷺ به په جمعې سره مونځ کولو کښې به ئې کله کله د صحابه کرامو د حالت تفقد کولو او هغوئ ته به ئې کتلو او دا د نبی کریم ﷺ معجزه وه چه څرنګه به نبی ﷺ مخې طرف یو څیز کتلې شو نو دغه شان بغیر د مخ ګرځولو نه، شا طرف ته څیز به ئې هم کتلو. لکه چه په حدیث د ابوهریرة ﷺ کښې دی چه نبی پاک ﷺ اوفرمائیلو چه تاسو څما مخ او چهره مخامخ د کتلو خیال کوئ (یعنی ستاسو خیال دا دې چه څه صرف مخامخ ګورم او شا طرف ته بغیر د مخ ګرځولو نه، نشم کتلې) په خدائې قسم ستاسو خشوع او خضوع څما نه، پټه نده څه تاسو ته د خپل شا طرف نه هم کتلې شم (رواه البغوی).

(۳) بعض اهل علمو د (تقلب) نه تصرف یعنی ګرځیدل راګرځیدل مراد کړیدی او د آیت مطلب دا دې چه الله ﷻ ته ستا تګ راتګ په مؤمنانو کښې معلوم دې او د ﴿ٱلسَّـٰجِدِينَ﴾ نه مراد مؤمنین دی. او چونکه نبی ﷺ به د مؤمنانو حالت معلومولو او خاص طور باندې د شپې په وخت کښې دهغوئ د عبادت شوق او جذبه معلومولو دپاره وقتاً، فوقتاً په هغوئ باندې به ئې چکر لګولو چه آیا دوئ خو چرې د الله ﷻ د عبادت او د آخرت د فکر نه غافله خوندی؟ (مدارک)، او د

نبی پاک ﷺ احوال خاص نور هم ډیر وو. خو دلته صرف د تقلب فی الصحابه ذکر اوشو ، ځکه چه د نبی پاک ﷺ دا عمل د رحمت سبب وو. نو په دیکښې الله ﷻ اشاره اوکړه دیته چه کله تاسره د خپل امت د اصلاح دومره فکر دې چه د شپې هم د هغوئ حالت معلومه وې. او بیا ئې تربیت کوې نو څه به هم په تاسو باندې خپل خصوصی رحمت ، اوکړم او د مخالفینو په مقابله کښې به ستاسو امداد اوکړم.

(۴) څلورمه معنی او مقصد بعض اهل علمو دا ذکر کړیدې چه د ﴿تقلب﴾ مراد منتقل کیدل دی او ﴿ٱلسَّٰجِدِينَ﴾ نه مراد انبیاء کرام او پاک او صالحین خلک دی او د آیت مطلب او معنی ئې دا کړیده چه اې پیغمبره ﷺ ته الله ﷻ د اصلابو طاهرونه ارحامو طاهرو ته مسلسل منتقل کولې تر دې چه د حضرت عبدالله ؓ صلب او د حضرت امنه ؓ رحم ته را اورسیدلې. او بیا دې دنیا ته ظهور اوشو. نو د آیت مقصد دا شو د حضرت آدم ؑ او د حضرت حوا بی بی ؑ نه تر حضرت عبدالله ؓ او حضرت آمنه ؓ پورې د نبی پاک ﷺ ټولو اصولو ، که هغه مذکر دی یا مؤنث پاک صالح او مؤمنان دی. نو ددې وجې نه بعض اهل علمو ددې آیت نه استدلال کړیدې چه د نبی پاک ﷺ مور ، پلار دواړه مؤمنان وو. اودهغوئ مرګ په حالت د ایمان باندې شویدې. حافظ شمس الدین د مشقی عجیب اشعار وئیلی دی. فرمائی :

وینقل احد نورًا عظیما　　تلألأ فی وجوه السجدین

تقلب فیهم قرنًا فقرنًا　　الی ان جآء خیر المرسلین

فائده : د نبی پاک ﷺ والدین مؤمنانو اوکه غیرمؤمنان وو ، دا یوه اختلافی مسئله ده. او غیر ضروری بحث دې ، اهل علمو پدې موضوع باندې مختلف تصانیف کړیدی. علامه سیوطی ؒ پدې موضوع باندې رساله لیکلې ده چه په هغه کښې علامه ؒ دا ثابته کړیده چه د نبی پاک ﷺ والدین مؤمنان وو. او ملا علی قاری ؒ هم یوه رساله لیکلی ده چه په هغې کښې ددې ثابتولو کوشش کړیدې چه د نبی پاک ﷺ والدین غیر مؤمنان وو ، لیکن د جمهورو مسلک دا دې چه د نبی پاک ﷺ والدین مؤمنان وو. اګر چه پدې آیت سره استدلال واضح ندې لیکن نور احادیث پدې سلسلې کښې وارد دی چه هغه پدې دلالت کن　　، نبی پاک ﷺ والدین مسلمانان وو ، او دغه شان د نبی پاک ﷺ سره د محبت تقاضا　　د والدینو په باره کښې ښه ګمان

اوکړې شي. علامه آلوسی رحمه الله په روح المعاني کښې فرمائي چه (استدل بالأية على ايمان ابويه ﷺ كما ذهب اليه كثير من اجلة اهل السنة ، و انا اخشى الكفر على من يقول فيهما رضى الله تعالى عنهما) (روح المعاني)

﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ دا علت دې د ما قبل دپاره چه الله تعالیٰ باندې توکل ځکه کوئ چه هغه ستاسو په ټولو احوالو باندې پوهه او خبردار دې. ﴿ هَلْ أُنَبِّئُكُمْ ﴾ دا متعلق دې د اولې شبهې جواب سره. او د هغې تتمه ده. خلاصه ئې دا ده چه دا قرآن د الله تعالیٰ کلام دې او د هغه د طرف نه نازل شويدې او د شياطينو کلام ندې – او پيغمبر ته شياطين نه راځي. ځکه چه د معلم (استاذ) او د متعلم (علم حاصلوونکې شاګرد) په مينځ کښې عملي او قولي مناسبت او موافقت ضروري وي – نو څرنګه چه شياطين دروغژن ، بدعمله او سرکشه دی نو دغه شان شياطينو راتګ هم هغه چاته کيږي چه هغه دروغژن ، بدعمله او ګناه ګاره وي. چه د شياطينو خبرې ښه په غور سره اوري چه هغه کاهنان دی چه ددې کاهنانو خبرې هم اکثر دروغ او بې اصله وي. او ددې بر عکس نبی ﷺ مجسمه د صدق ، نيک سيرت او د پاک کردار والا دې. د هغه ﷺ هره خبره د دليل په بنياد وي. نو څرنګه به نبی پاک ﷺ ته شياطين خبرې راوړي. او نبی پاک ﷺ (العياذ بالله) به کاهن شي او قرآن به کهانت شي. ددې بطلان بالکل بديهي دې ﴿ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ (افاک) او (اثيم) دواړه صيغې د مبالغې دی. (افاک) مبالغه ده په (افک) کښ. نو د (افک) خپله معنی ده (سخت قسم دروغ) نو د (افک) معنی شوه ډير سخت دروغژن. او اثيم هم مبالغه ده په اثم کښ. يعنی ډير ګناګار او بدعمله انسان، او دا دواړه صفات د کاهنانو دی

﴿ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ ﴾ ددې آيت درې معاني کړې شويدی (١) ﴿يُلْقُونَ﴾ کښې ضمير راجع دې ﴿أَفَّاكٍ﴾ او ﴿أَثِيمٍ﴾ ته. او چونکه افراد دافاک او اثيم ډير دی نو ددې وجې نه ضمير د جمع ورته راجع شو او ﴿ٱلسَّمْعَ﴾ په خپلې معنی سره دې نو د آيت مطلب دا دې چه دا کاهنان ډير په توجه سره د شياطينو خبرو ته غوږ کيدی. او ډير په توجه سره د هغوئ خبرې اوری (٢) دويم احتمال دا دې چه ضمير راجع دې شياطينو ته او ﴿ٱلسَّمْعَ﴾ په خپلې معنی سره دې. نو مطلب دا شو چه دا شياطين د

ملائکو خبرو ته غوږ کیدی او ډیر په توجه سره ئې اوری (۳) دریم احتمال دا دې چه ضمیر راجع دې شیاطینو ته . او ﴿ٱلسَّمۡعَ﴾ په معنی د (مسموع) سره دې . نو د آیت مطلب دا دې چه شیاطین د کاهن په غوږ کښې هغه خبرې وراچوی کومې چه د ملائکو نه راپټې کړی وی او بیا ورسره کاهن ډیر دروغ ګډ کړی . یوه خبره رشتیا وی او یو کم سل (۹۹) پکښې دروغ وی . نو عام خلک د هغې یوې خبرې د وجې نه د کاهن تصدیق او کی لیکن د هغه یو کم سل دروغو د وجې نه د هغه تکذیب نه کوی لکه حدیث کښې دی چه حضرت ابوهریرة ﷺ د نبی پاک ﷺ نه نقل کړیدی چه فرمائی چه :

اذا قضى الله الامر فى السماء ضربت الملائكة باجنحتها خضعانا لقوله كانه سلسلة على صفوان فاذافرع عن قلوبهم قالوا ماذا قال ربكم قالوا للذى قال الحق وهو العلى الكبير فيسمعها مسترق السمع ومسترق السمع هكذا بعضه فوق بعض ....

فربما أدرك ا لشهاب قبل أن يلقيها ،وربما ألقاها قبل أن يدركه ،فيكذب معها مائة كذبة،فيقال:أليس قد قال لنا يوم كذا ،كذا وكذا،فيصدق بتلك الكلمة التي سمع من السماء (بخارى كتاب التفسير).

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿۲۲۴﴾ اَلَمۡ تَرَ اَنَّهُمۡ فِیۡ كُلِّ وَادٍ یَّهِیۡمُوۡنَ ﴿۲۲۵﴾ وَاَنَّهُمۡ یَقُوۡلُوۡنَ
اوشاعران چه اتباع کوی دَدوئ ګمراهان،آیانه وینی ته شاعران چه په هرمیدان کښې سرګردانه وی،اودوئ وائی
مَا لَا یَفۡعَلُوۡنَ ﴿۲۲۶﴾
هغه څه چه کوی ئی نه

﴿ وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ﴾ دا دویمې شبهې جواب دې، چه کفارو به د نبی پاک ﷺ په باره کښې وئیلو چه (العیاذ بالله) دې شاعر دې . او دا قرآن د اشعارو مجموعه ده . یعنی لکه څرنګه اشعار په تخیلاتو ، به غلط قسم خیالاتو او د دروغو په واقعاتو او کلام مقفی باندې مشتمل وی نو دغه شان (العیاذ بالله) قرآن هم دې او دا قرآن ددې پیغمبر د شعر مجموعه ده، نو جواب اوشو . خلاصه د

جواب دا ده چه اشعار په بیهوده خبرو غیر ضروری مدحو او عاشقئ په قصو باندې مشتمل وی او د هغې د وجې نه د شاعرانو متبعین او ملګری ګمراهان او بدمعاشان خلک دی، او ددې برعکس قرآن مجید د حکمت د خبرو د دنیا او د آخرت د رسوائی نه د بچاؤ په احکاماتو او د عبرت او نصیحت آموزو واقعاتو نه ډک دې. او ددې وجې نه د نبی پاک ﷺ ملګری انتهائی درجې متقیان، زاهدان، عابدان او الله ﷻ ته ژړا کوونکی دی.

فائده: شعر و شاعری کول او اشعار وئیلو شریعت کښې څه حیثیت دې؟ امام قرطبی رحمه الله پدې باندې مفصل بحث کړیدې. د هغې خلاصه ده چه پدې آیت کښې او دغه شان په څنې احادیثو کښې د شعر و شاعری لوئ ذم او بدی بیان شویده. په روایت د بخاری او مسلم کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه منقول دی چه نبی پاک ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه (لان یمتلئ جوف رجل قیحا یریه خیر من ان یمتلئ شعرًا. یعنی د یو سړی والا خیټه دپیپونو نه ډکه شی چه ددې سړی صحت خراب او برباد کړی دا ددینه بهتر دې چه دې اشعار اوائې، او په یو بل روایت کښې د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې چه یو ځلې مونږ د نبی پاک ﷺ سره په یو سفر باندې روان وو چه یو شاعر اشعار وئیلو راغې. نبی پاک ﷺ اوفرمائیلو چه دا شیطان منع کړئې کچرې د یو کس ګیډه د وینو او ځوو نه ډکه شی هغه ددینه بهتره دې چې دده په ګیډه کښې اشعار جمع شی. او څنې نورو روایتونو کښې دشعر او شاعری مدحه او صفت بیان کړې شویدې. لکه په یو روایت کښې راغلیدی (ان من الشعر لحکمة) یعنی څنې د اشعارو نه د حکمت والا وی او دغه شان مسند احمد کښې د حضرت کعب رضی الله عنه نه مروی دی چه کله دا مذکور آیت نازل شو نو حضرت کعب رضی الله عنه د نبی ﷺ پوښتنه اوکړه چه (یا رسول الله ان الله قد انزل فی الشعر ما قد علمت فکیف تری فیه؟ فقال النبی ﷺ ان المؤمن یجاهد بنفسه و سیفه ولسانه، والذی نفسی بیده لکان ما ترمونهم به نضح النبل (مسند احمد) یعنی حضرت کعب رضی الله عنه اوکړو چه یا رسول الله د شاعری متعلق چه الله ﷻ څه نازل کړیدی هغه خو معلوم دی نو زمونږ به څه کیږی (ځکه چه مونږ خو هم اشعار وئیلیدی) نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیلو چه یقیناً مؤمن په خپل نفس سره، په خپلې توری سره او په خپلې ژبې سره جهاد کوی او څما دې قسم وی د الله ﷻ په ذات! (چه کوم اشعار تاسو د دوئ په هجو کښې) د خپلو ژبو نه اوباسئ ګویا چه دا د غشی ویشتل دی. او دغه شان نبی ﷺ حضرت حسان رضی الله عنه ته د اشعار وئیلو ترغیب ورکول او په مسجد نبوی کښې د هغه رضی الله عنه دپاره یو اوچت ځائ تیارول، او د هغه په

اشعارو حضور ﷺ خوشحاله کیدل ، او بیا د هغه د پاره دعا کول چه (اللهم ایده بروح القدس) چه اې الله ﷻ ! دده امداد په حضرت جبرئیل ؑ سره اوکړې او ددې نه علاوه نور ډیر روایات داسې دی چه د هغې نه د اشعار وئیلو جواز، بلکه د ځنې روایاتو نه فضلیت معلومیږی . بلکه نبی پاک ﷺ په خپله هم دځنې شاعرانو والا اشعار وئیلی دی لکه د بخاری او مسلم په روایت کښې دی چه حضرت ابوهریرة ؓ نه مروی دی چه نبی پاک ﷺ اوفرمائیلو چه د ټولو نه ښه کلام چه دجاهلیت شعراووئیلې دې هغه د لبید شاعر دا کلام دې " الا کل شی ء ما خلا الله باطل "او دغه شان په روایت د مسلم شریف کښې دی چه حضرت شدید ؓ فرمائی چه یوه ورځ نبی پاک ﷺ سره څه په سورلئ باندې ورستو سورو ؤوم نبی پاک ﷺ ماته اوفرمائیلو چه دا امیه بن صلت څه شعر درته یاد دې . ما عرض اوکړو چه هاؤ ! ماته یاد دې نبی ﷺ اوفرمائیلو چه اوایه نو ما د نبی پاک ﷺ په حکم سره سل (۱۰۰) اشعار اوئیلو ، نوبهرحال ! ددې روایاتو نه د اشعارو فضلیت معلومیږی نو ددې وجې نه علماؤ قاعده بیان کړیده چه (حسنه حسن وقبیحه قبیح) یعنی کوم اشعار چه د الله ﷻ په ذکر، ترغیب الی الجهاد ، مدح رسول ﷺ او مسلمانانو ته په وعظ او نصیحت باندې مشتمل وی هغه وئیل جائز بلکه یو قسم عبادت دې او کوم اشعار چه په فضول او بهیوده خبرو ، د معاشقې په واقعاتو او د زمانو په صفتونو باندې مشتمل وی د هغې وئیل او اوریدل دواړه ناجائز دی . حضرت عمر ؓ خپل یو ګورنر (والی) د عهدې نه صرف ددې وجې نه برطرف کړې وو چه هغه به فحش اشعار وئیلو ، اوحضرت عمر بن عبدالعزیز دوه مشران کسان عمرو بن ربیعه او ابوالاحوص د فحش اشعار وئیلو په جرم کښې جلا وطن کړی وو، بیا عمرو بن ربیعه توبه اویستله نو د هغه توبه قبوله کړې شوه . او واپس خپلې علاقې ته راغلو(قرطبی)

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ ﴾ دا د شاعرانو د ګمراهئ اول دلیل دې، یعنی شاعران ګمراه څکه دی چه ، دوئ په خپلو اشعارو کښې ډیر لوئ دروغ وائی ، د مدحو په کندو کښې سرګردان ګرځی . د دنیوی مقصد دپاره کله د یو کس هجوه او کله ئې صفت کوی . د ﴿وَادٍ﴾ نه مراد ، نوع د فنون یعنی مدحه ، ذم وغیره د اظهار دپاره چه کوم الفاظ وغیره استعمالیږی هغه دی . لکه عرب وائي (انا فی واد وانت فی واد اخر) یعنی څه د کلام په یوه وادی (کنده) کښې یمه او ته ئې بلې وادی کښې ئې ،

یعنی څه یو قسم خبره کوم او ته بل قسم خبره کوي او ﴿يَهِيمُونَ﴾ د (هيام) نه دي، هيام داسې مرض دې چه د هغې د وجې نه اوښ باندې سخته تنده اولګی او په اوبو پسې سرګردانه ګرځی.نو دا تمثیل دې،چه د دوئ حالت ئې مشابه کړیدې د کیفیت د تږی اوښ سره، نو د دوئ خیالی مضامین، اوتصورات،او تخیلات په منزله د کندو دی . او دوئ کیفیت د تږی اوښانو پشان دې . نو خلاصه ددې آیت دا ده چه د شعراؤ کلام غیر تحقیقی ، غیر ضروری مدحو ، فضول او بیهوده خبرو او په غلط قسم تخیلاتو باندې مبنی وی نو ځکه دوئ ګمراه وی.

﴿ وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ ﴾دا د دوئ ګمراهئ بل دلیل دې، یعنی د شاعرانو قول او فعل کښې تضاد دې په خله یو څه وائی اوعمل کښې بل څه. دخلکو د بخل ذم بیانه وی او خپله بخل کوی . د شجاعت ترغیب ورکوی . او پخپله بزدلی کوی . او ددې برعکس نبی پاک ﷺ د هغه په قول او عمل کښې تضاد نیشته دې. قول ئې د عمل او عمل ئې د قول مطابق دې. او دغه شان د نبی پاک ﷺ په ژبه باندې د حق نه علاوه بل څه نه جاری کیږی . د دنیا پرستئ او هوا پرستئ نه خالی دې. او دغه شان قرآن د حق خبرو نه ډک دې،او ټولې پکښې د حکمت او عبرت خبری دی .

﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾دا استثناء ده د مؤمنانو شاعرانو د ماقبل نه ، ځکه چه په شعرآؤ کښې ځنې مومنان وو چه هغه د ایمان سره سره په خپلو اشعارو کښې د الله ﷻ حمد او د نبی پاک ﷺ مدحه ، جهاد او نیک اعمالو ته ترغیب او د کفارو هجوه بیا نه وله . او په اشعارو کښې به ئې د کفارو نه انتقام اغستلو او هغوئ ته به ئې تکلیف رسولو، نو پدې کښې ددغه شان شعرآؤ استثناء اوشوله .

شان نزول : ددې آیت شان نزول په روایت کښې داسې ذکر شویدې، چه کله دا ماقبل ایاتونه چه مشتمل دی په ذم د شاعرانو باندې نازل شو. نو په صحابه کرامو ﷺ کښې ځنې مخلص صحابه چه هغوئ هم شاعران وو ، لکه کعب بن مالک ، عبدالله بن رواحه او حسان بن ثابت رضوان الله علیهم اجمعین نو دا مذکور صحابه کرام نبی پاک ﷺ ته راغلو او عرض ئې اوکړو چه مونږ خو هلاک شو ځکه چه مونږ خو اشعار وایو، او الله ﷻ د شعراؤ ذم بیان کړیدې،نو الله ﷻ د دوئ په باره کښې دا ایاتونه نازل کړو . او هرکله چه اعتبار خصوص د واقعې لره نوی بلکه عموم د الفاظوو

لره وی نو ددې وجې نه ، ددې آیت په حکم کښې هغه ټول شاعران راځي چه پدې مذکوره اوصافو باندې متصف وی، یعنی ایمان لری په خپلو اشعارو کښې نیک اعمالو ته ترغیب ورکوی. دالله ﷻ حمد او ذکر په اشعارو کښې کوی. او د مسلمانانو په انتصار او انتقام اخستلو باندې مشتمل وی. او ددې وجې نه علماء فرمائی چه جهادی ترانا دا هم یو قسم جهاد دې.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا
مګرداسی ندی هغه شاعران چه مؤمنان دی اونیک عمل کونکی دی اوذکرکوی دالله ﷻ ډیراوصرف بدل اخلی
مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾
ورسته ددینه چه ظلم ورسره اوشی،اوزرده چه پوهه به شی ظالمان چه څومره سخت ځاي ته به لاړشی.

﴿ إِلَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾ایمان شرط اول دې ﴿ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾مراد ورنه پخپله نیک عمل کول اونورو خلکو ته د نیک اعمالو ترغیب ورکول دی . ﴿ وَذَكَرُوا اللَّهَ ﴾مراد ورنه حمد د الله ﷻ دې﴿ وَانتَصَرُوا ﴾ مراد ورنه بدله اغستل دی دکفارونه، په هجوې کولو دهغوئ سره ﴿مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا ﴾ پدیکښې اشاره ده چه مسلمان شاعر ابتدا په هجوې سره نه کوی. بلکه دده (هجوه) جوابی وی یعنی اول کفارد مسلمان سپکاوې او هجوه اوکړی، نو بیا ورنه مسلمان خپله بدله اخلی ﴿ وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ﴾ دا د سورت په آخر کښې تخویف دنیوی ذکر کیږی عامو مشرکینو ته هم. او خاص طور باندې هغه مشرکینو شاعرانو ته چه د نبی ﷺ او د مسلمانانو هجوه کوی﴿ أَيَّ مُنقَلَبٍ ﴾ "ایّ" کښې ابهام دې دپاره د تهویل او تفخیم شان او ﴿مُنقَلَب ﴾کښې اشاره ده چه د دوئ د دنیا خوشحالی به په سختو غمونو باندې بدله شی د مرګ نه ورستو حالت به ئې ډیر سخت او ډیر د تکلیف وی ځکه چه د دوئ مرجع او ټهکانه جهنم دې، او فرق په مینځ د (منقلب) او (مرجع) کښې دا دې،چه (منقلب) انتقال هغې حالت ته وئیلې کیږی چه د موجوده حالت نه ډیر بد وی او رجوع

انتقال د موجوده حالت نه سابقه او حالت ته بدلیدلو ته وئیلې کیږی . که بنه وی او ...
والفرق بين المنقلب و الرجع ان النقلب الانتقال الى ضد ما هو فيه . المرجع العود من حال هو فيه الى حال كان عليها (قرطبي) او په ﴿ يَنقَلِبُون ﴾سره اشاره ده تجدد دانتقالاتو ته چه په جهنم کښې به یو حالت به د دوئ د بل حالت نه بدتری . عذاب کښې به سختی راځی او هیڅ قسم کمی به پکښې نه راځی لکه په بل ځائ کښې فرمائی (كلما نضجت جلودهم بدلنهم جلودًا غيرها ليذقوا العذاب) او په بل ځائ کښې دی (كلما خبت زدنهم سعيرًا) او یا اشاره ده دیته چه د دوئ د ځنکدن حالت به ډیر سخت وی . خو دهغې نه زیات بد تر حالت به د دوئ په قبر او د برزخ کښې وی . او د هغې نه به زیات سخت حالت به د دوئ په میدان حشر کښې وی او بیا به د هغې نه زیات بدترین او سخت ترین حالت به په جهنم کښې وی (اللهم اجرنا بفضلک وبکرمک یا ارحم الراحمین) امین ثم امین

او د آیت دا حصه هغه ده چه اسلافو به پرې وصیت کولو ، حضرت ابوبکر ﷺ د خپل وصیت اختتام پدې آیت سره کړې وو ،د تاریخ او سیرت په کتابونو کښې دی چه کله حضرت ابوبکر ﷺ د وفات وخت قریب شو نوحضرت عثمان ﷺ ته ئې حکم اوکړوچه ، قلم او کاغذ راوړه او څه حضرت عمر ﷺ ته وصیت خبرې کوم ته ئې اولیکه او هغه ته ئې حواله کړه د حضرت ابوبکر ﷺ د وصیت الفاظ داسې وو:

بسم الله الرحمن الرحيم ،هذا ما عهد به ابوبكر بن ابى قحافة ﷺ عند اخر عهده بالدنيا و اول عهده بالاخرة فى الحال التى يؤمن فيها الكافر،ويتقى فيها الفاجر،ويصدق فيها الكاذب . انى قد استخلفت عليكم عمر بن الخطاب فان يعدل فذلک ظنى به ورجائي فيه، وان يجر ويبدل فلا علم بالغيب، والخير اردت،/ولكل امرئ ما اكتسب، وسيعلم اللذين ظلموا اى منقلب ينقلبون.

ترجمه : بسم الله الرحمن الرحيم ،دا وصيت هغه دې چه ابوبكر بن ابو قحافة ﷺ د دنيا د ژوند د اخرى ورځې او د آخرت د ژوند اولې ورځې په وخت کښې ليکلې دې په داسې حالت کښې چه پدې وخت کښې کافر هم ايمان راوړى . گناه گار ، نيکوکار جوړ شى او دروغژن هم رښتيا وئيل شروع کړى . يقيناً ما په تاسو باندې عمر بن خطاب خپل جانشين جوړ کړو، پس کچرې هغه ستاسو سره عدل او انصاف کولو نو ځما د هغه متعلق دا گمان او اميد وو ، او کچرې هغه په تاسو باندې

ضلم کوی او احکامات بدل کړی. (تخفیف په ځائ سختی او نورو مذهبی احکاماتو کښ ردو بدل وکړی) نو څه عالم غیب نه یم. او ځما اراده د خیر وه، او هرکس ته به د هغه عمل بدله میلاویږی کوم چه دې اوکړی، وسیعلم الذین ظلموا ای منقلب ینقلبون.

رکوعاتها (۷)	سورة النمل مكية	آياتها (۹۳)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۳۱) وحسب النزول (۵۷)

سورة النمل مکی سورت دې(۹۳)اياتونو ،او(۷)رکوعاتوباندې مشتمل دې،ټول کلمات ئې (۱۱۴۹)اوټول حروف ئې (۴۲۹۹)دی،ترتيب قرآنی کښې اويشتم(۲۷)نمبراوترتيب نزولی کښې اته څلويښتم(۴۸) نمبرسورت دې،دَسورت قصص نه مخکښې اودَسورت الشعرآء نه وروستونازل شويدې،زمانه دَنزول ئې دورمتوسط دَمکې معظمې دې.

ربط اسمی: دَدې سورت دَماقبل سره ربط نامی دادې چه سورة الفرقان کښې ذکرددې خبرې ووچه قرآن مجيددَحق اوباطل په مينځ کښې فرق کوونکې دې،اوبياپه سورة الشعرآء کښې اوئيلې شوچه قرآن شاعرانه کلام ندې بلکه دادَالله ﷻ دَطرف نه نازل شويدې اودعوه دَ تبارك دَالله ﷻ دطرف نه ده،نواوس پدې سورت کښې داذکرکيږي چه ميږې چه دَحشرات الارض نه دې هغه هم داخبره کړيده چه برکات ورکونکې ذات اوعالم الغيب ذات اومعبود تن تنهاالله ﷻ دې،انسان اومخلوقات که هرڅومره لوئې مرتبې والاشی خوخدائی قدرت ورته نشی ميلاويدلې نودَدې وجې نه ميږې نوروميږوته اوئيلوچه﴿لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَنُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ نوپه﴿لَا يَشْعُرُونَ ﴾سره ئې دعوىٰ دَسورة الفرقان اوسورة الشعرآء ذکرکړه.

ربط معنوی: ربط په اعتباردَمضمون سره دادې چه په سورة الشعرآء کښې دلائل نقليه په توحيدباندې ذکرشونوپه سورة النمل کښې دَڅلورواقعاتوپه ضمن کښې دَدعوىٰ مذکورې دَپاره دوه(۲)علتونه بيانيږی(۱)چه غيب دان يعني عالم الغيب صرف الله ﷻ دې(۲)کارساز اومتصرف صرف الله ﷻ دې،نولهذابرکاتوورکوونکې ذات هم صرف اوصرف الله ﷻ دې.

(۲)دغه شان دَسورة الشعرآء په آخرکښې صدق دَقرآن ذکرشوپه مختلفودلائلواوپه دفع کولودَشبهاتوسره نواوس پدې سورت کښې ترغيب ورکولې کيږی قرآن ته چه﴿تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ ﴾.

خلاصه: دَسورت دَمضامینومختصره خلاصه داده چه پدې سورت کښې تمهید مع الترغیب دې اواصل مقصود پکښې دوه(۲)دعوې دی چه هغه په حقیقت کښې دوه(۲)علتونه دی دَدعوی دَ(تبارك)دَپاره،اوددواړوعلتونودَتائیددَپاره ځلورواقعات ذکرکیږی(۱)قصه دَموسیٰ(۲)قصه دَسلیمان (۳)قصه دَصالح او(۴)قصه دَلوط اوبیادَهرې دعوې دَپاره بطورلف،نشرغیرمرتب په لفظ دَقل سره دوه(۲)ثمرې بیانیږی اوپه مینځ کښې پنځه دلائل عقلی علی سبیل الاعتراف په توحیدباندې ذکرکیږی څه تخویفات، بشارتونه، تسلی ګانې اوشکوې اوجواب شکوې ذکرکیږی.

تفصیلی خلاصه: تفصیلی خلاصه ئې داده چه آیت نمر(۱، ۲)کښې تمهیدمع الترغیب ذکرکیږي،په آیت نمبر(۳)کښې بشارت دې،په آیت نمبر(۴، ۵)کښې تخویف اخروی دې،په آیت نمبر(۲)کښې ترغیب الی القرآن سره دَتسلی نه ذکرکیږی،دَآیت نمبر(۷)نه تر آیت نمبر(۱۴)پوری اوله واقعه ذکرکیږی چه واقعه دَحضرت موسیٰ ده،اودَدې په ضمن کښې دَدعوی دَتبارك دَپاره اول علت ذکرکیږی چه دَدې واقعې دَموسیٰ نه معلومیږی چه انبیاء کرام غیبدان ندی،ځکه چه حضرت موسیٰ دَالله نورته ناروئیلی وو،نومعلومه شوه چه عالم الغیب صرف الله دې،دَآیت نمبر(۱۵)نه تر آیت نمبر(۴۴)پورې دویمه واقعه ذکرکیږی چه واقعه دَحضرت سلیمان ده اودَدې واقعې په ضمن کښې هم دَاول علت بیان مقصوددې،چه دَهدهدغائب کیدلووجه اودَملکه سبا(بلقیس)اودَهغې دَقوم حالاتوعلم حضرت سلیمان ته نوو،نومعلومه شوه چه غیبدان اوعالم الغیب صرف الله دې، اوهرکله چه داثابته شوه چه عالم الغیب صرف الله دې نودَدې نه داهم معلومه شوه چه برکات ورکوونکې ذات هم صرف الله دې،دَآیت نمبر(۴۵)نه تر آیت نمبر(۵۳)دریمه واقعه ذکرکیږی اودَهغې په ضمن کښې دَدعوې مذکورې دَپاره دَدویم علت بیان مقصوددې،چه حضرت صالح ته نجات ورکول اودَهغه مخالفین هلاکت محض دَالله تصرف وو،نومعلومه شوه چه تصرف کوونکې ذات صرف الله دې نوبرکاتوورکوونکې ذات هم صرف اوصرف هغه دې،دَآیت نمبر(۵۴)نه تر آیت نمبر(۵۸)پورې ځلورمه واقعه ذکرکیږی چه هغه واقعه دَحضرت لوط ده اودَهغې په ضمن کښې هم دَدویم علت بیان مقصوددې په آیت نمبر(۵۹)کښې بطورلف نشرغیرمرتب په دویم علت باندې تفریع ده،دَآیت نمبر(۲۰)نه تر آیت نمبر(۲۴)پورې پدې علت

مذکوره باندې پنځه(۵)عقلی دلائل علی سبیل الاعتراف من الخصم ذکرکیږی،په آیت نمبر(۲۵)کښ تفریع ده په اول علت باندې په ایت نمبر(،،۲۸،۲۷،۲۲)کښ شکوه ده دَمنکرینودَبعث بعدالموت نه،په آیت نمبر(۲۹)کښ تخویف دنیوی دې،په آیت نمبر(۷۰)کښ نبی پاکﷺ ته تسلی ده،په آیت نمبر(،۷۲،۷۱، ۷۳)کښ شکوی سره دَجواب شکوی نه ذکرکیږی.په آیت نمبر(۷۵،۷۴)کښ دلیل عقلی ذکرکیږی چه متعلق دې دَاول علت سره،په آیت نمبر(۷۶)کښ صداقت دَنبی پاکﷺ ذکرکیږی،دَآیت نمبر(۷۸)نه تر(۸۱)پورې تسلی ده نبی پاکﷺ ته،په آیت نمبر(۸۲)کښ تخویف دنیوی دې،دَآیت نمبر(۸۳)نه تر(۸۵)پورې تخویف اخروی ذکرکیږی،په آیت نمبر(۸۶)کښ بل دلیل عقلی ذکرکیږی چه متعلق دې دَدویم علت سره،په آیت نمبر(۸۷ ،۸۸)کښ تخویف اخروی دې،په آیت نمبر(۸۹)کښ بشارت اخروی دې اوپه آیت نمبر(۹۰)کښ بیاتخویف اخروی دې،په آیت نمبر(۹۲،۹۱)کښ دلیل وحی ذکرکیږی،اوپه آخیرکښ یعني آیت نمبر(۹۳)کښ بطورثمره په دلائلواوواقعاتوباندې تفریع ذکرکیږی.

طٰسٓ ۟ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۱﴾ هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ﴿۲﴾
طس[1] دا آياتونه دقرآن اودكتاب بيانونكى دى،چه لاره ښودنكې دي اوزيرې وركونكې دي مؤمنانوته
الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۳﴾
هغه مؤمنان چه پابندى كوى دَمونځ اووركوى زكوٰة اودوى په آخرة هم دوئ يقين كونكى دى

﴿طسٓ﴾ دا تمهيد مع الترغيب ذكر كيږي، او ﴿طسٓ﴾ دَحروفو مقطعاتونه دي او محل من الاعراب ورله نيشته دي، ځكه چې اعراب فرع دَمعرفت دَمعنٰى دي او بعض فرمائي چه دا اسم دي دَاسمآؤ دَالله ﷻ نه، او بعض فرمائي چه نوم دي دَنومونو دَنبى پاك ﷺ نه او حرف نداء ورسره محذوفه ده نو په اصل كښ داسې دي ياطٰس يعني اى نبى پاك ﷺ! او بعض فرمائي چه نوم دي دَدې سورت، او په دې سره اشاره ده لويو واقعاتو دَدې سورت ته چه يوه واقعه دَحضرت موسىٰ ﷺ ده اوبله واقعه دَحضرت سليمان ﷺ ده، نو طاء سره اشاره ده حكمتونو دَ طور ته، چه هغه سبب او ګرځيدلو دَسقوط دَبادشاهى دَفرعون دَپاره او دَهغه دَهلاكت دَپاره ځكه چه هغه ظلم، جبراو ناانصافى كوله، او په سين سره اشاره ده واقعې دَسليمان ﷺ ته، چه دَهغه حكومت په عدل اوانصاف باندې مبنى وو، نو ځكه ورته الله ﷻ ترقى وركړې وه، او چونكه په دې سورت كښ احوال دَنبى پاك ﷺ تفصيلاً نه ذكر كيږي نو ځكه ميم ورسره ذكر نشو، او داسې او نو ئيلې شو چه طٰسٓم.

﴿تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱلْقُرْءَانِ﴾ مشار اليه دَ تلك دَپاره آياتونه دَدې سورت دى او اسم اشاره بعيده ذكر كول دَپاره دَدلالت په بعد رتبى دى. او ﴿وَكِتَابٍ مُّبِينٍ﴾ په القرآن باندې عطف دي او عام مفسرين فرمائي چه دا دَقبيلې دَعطف الصفة على الصفة نه دي، ځكه چې القرآن اوكتاب دواړه دَيو څيز يعني منزل من الله دَپاره دوه (۲) صفتونه دى، ځكه چه مدلول دَدواړو يو دي، او مقصود دَداسې تركيب يعني عطف الصفة على الصفة نه كمال مدحه دَموصوف وى، لكه وئيلې شى چه: هذا الفعل السخى والجواد، او اضافت دَآيت القرآن او كتاب ته دَپاره دَتعظيم

[1] تمهيد اوترغيب

دآياتونودي،ځکه چه عظمت دَمضاف مستفادوی دَعظمت دَمضاف اليه نه اوپه ﴿كِتَابٍ﴾ کښ تنوين دَپاره دَتعظيم اوتفخيم دي اواتصاف دکتاب په مبين سره شويدي ځکه چه قرآن مظهردَحق اووضاحت کوونکي دَاحکاماتودي.

دحضرت شيخ رحمه الله رائي داده چه دَ کتاب نه مراد جنس کتاب دي چه تمام کتب سابقوته شامل دي،نوپدي صورت کښ﴿ءَايَٰتُ ٱلْقُرْءَانِ﴾سره اشاره ده ديته چه پدي قرآن کښ ځني مضامين داسي دی چه په کتب سابقوکښ نه وو،اوپه﴿كِتَابٍ﴾سره اشاره ده چه داقرآن دکتب سابقوټولومضامينولره جامع دي اوهغه ټول مضامين پديکښ مذکوردی کوم چه په کتب سابقوکښ وو،اوپه﴿مُّبِينٍ﴾سره اشاره ده وضاحت دَمقاصدوته،نودآيت مقصدداشوچه داقرآن داسي عظيم الشان کتاب دي چه دکتب سابقومضامينولره جامع کيدلوسره سره،په ځنواضافی اهم مضامينوباندي هم مشتمل دي اودَمقاصدووضاحت پکښ هم شته دي.

فائده: پدي سورت کښ قرآن معرف﴿ٱلْقُرْءَانِ﴾او(کتاب)منکر﴿وَكِتَابٍ﴾ذکرکړي شو، اوپه سورة الحجرکښ برعکس دي،هلته قرآن منکراو کتاب معرف ذکرکړي شويدي،وجه داده چه دادواړه علمين هم گرځي دمړل من الله دَپاره اووصفين هم گرځي نوکله چه پديکښ دَمعنی علمی اعتباراوکړي شی نوهلته به بيامعرفه يعنی معرف باللام وي اوکوم ځائ کښ چه دَمعنیٰ وصفی اعتباراوکړي شي نوهلته به بيامنکروی،نودلته دَقرآن نه معنیٰ علمی معتبرکړي شويده نوځکه معرف باللام ذکرکړي شواود کتاب نه معنی وصفی معتبرکړي شويده نوهغه منکرذکرکړي شواوپه سورة الحجرکښ دَدي برعکس مرادکړيدی نوځکه هلته قرآن منکراوکتاب معرف باللام ذکرکړي شو.

﴿هُدًى وَبُشْرَىٰ﴾دادوه صفات دَقرآن ذکرکيږی اوحمل دَ﴿هُدًى﴾اود﴿وَبُشْرَىٰ﴾په قرآن باندي يامبالغتاً دي اويامبنی للفاعل دي نو﴿هُدًى﴾په معنی دَهادياً او﴿وَبُشْرَىٰ﴾په معنی دَمبشراًسره دي،اودايا په موضع دَنصب کښ حال واقع شويدي دَ﴿ءَايَٰتُ﴾نه اوياخبربعد الخبردي دآيت مقصددادي چه داعظيم الشان قرآن اوپديکښ مذکورمضامين مؤمنانودَپاره عظيم مقاصدوته رهنمائی کوونکی اوبشارت کوونکی دی،اوتخصيص دَمؤمنانواوشو

حالانکه قرآن مجید دَهرچادَپاره ذریعه دَهدایت ده خو چونکه مؤمنین ورنه نفع اخلی نوځکه ئې تخصیص اوشولو اوبعض فرمائی چه "مؤمنین" نه مرادبالفعل مؤمنین ندی مرادبلکه بالقوه مؤمنین مراددی، چه تعبیرترینه په "الصائرین للایمان" سره کیږی، اوداهغه کسان دی چه په زړونوکښ ئې انابت الی الله وی، اوبعض فرمائی چه ﴿لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ قیدصرف دَ ﴿وَبُشْرَىٰ﴾ دَپاره دې اودَ ﴿هُدًى﴾ دپاره ندې، دَهغې دَپاره قیدمحذوف دې چه "للناس" دې، نوداآیت مطلب دادې، چه داقرآن دَعاموخلکودَپاره هدایت دې اودَمؤمنانودپاره بشارت دې اوداهم ممکنه ده چه اونیلې شي چه مراتب دَهدایت متعدددی، نوقرآن دکافرانودَپاره په خپل مرتبې کښ هدایت دې اودَمؤمنانودَپاره په خپل مرتبې کښ. (والله اعلم بالصواب).

﴿ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ﴾ داصفت مادحه دې مؤمنانو، اوهرکله چه "اقامة الصلوة" او "ایتاء الزکوة" او "ایمان بالاخرة" دَامورمعظمودَدین نه وونودَې وجې نه تخصیص بالذکرئې اوشو، ورنه مرادترینه مطلق اعمال صالحه دی، اوبعض فرمائی چه په "اقامة الصلوة" سره اشاره ده عبادت بدنی ته، او "ایتاء الزکوة" سره اشاره ده عبادت مالیه ته او "ایمان بالاخرة" سره اشاره ده اعتقادیاتو ته، نوداآیت مقصددادې چې عبادت بدنیه اومالیه په پابندئی سره کوی اواعتقادئې هم صحیح وی، اوبعضودَ "زکوة" نه تزکیه نفس مرادکړیده اودلیل ئې دادې چه داسورت مکی دې اوزکوة مالی په مدینه کښ فرض شوې وو، نولهذازکوة دلته په مالی زکوة باندی نشی حمل کیدلې، لیکن دَدوئی دااحتمال خلاف ظاهراومتبادردې، اواستدلال ئې ضعیف دې ځکه چه اصح قول دادې چه زکوة فرضیت په مکې کښ وو، البته تعیین دَمقادیروئې په مدینه کښ شوې وو، یعنی اجمالی طورباندې فرضیت دَزکوة په مکه کښ شوې وو، اوتفصیلی طور باندې اودمکمل جزئیاتووضاحت ئې په مدینه کښ شوې وو، اودلیل پرې دادې چه سورة المزمل بالاتفاق مکی سورت دې اوپه هغې کښ ذکردَزکوة راغلیدې.

﴿وَهُم بِٱلْأٓخِرَةِ هُمْ﴾ "هم" مبتداء ده ﴿يُوقِنُونَ﴾ جمله ورله خبردې او ﴿بِٱلْأٓخِرَةِ﴾ متعلق دې په خبرپورې، او ﴿هُمْ﴾ ضمیرپه مینځ کښ دَتاکیدۍ مبتداء دپاره دې فصل اوفرق دپاره نه ندې ځکه چه دَمبتداء اوخبرپه مینځ کښ فرق په متعلق سره راغلیدې اوپدیکښ اشاره ده کمال

يقين دَدوئ ته.اوهر كله چه"اقامة صلوة"او"ايتاء الزكاة"متكرر اومتجدد كيږي په خپلو اوقاتو كښې نودَدې وجې نه ئې ذكرپه فعل مضارع سره اوشوچه هغه هم دلالت په تجدداوحدوث باندې كوي او"ايقان بالاخرة" يعنى په آخرت باندې يقين لرل پديكښې مقصود اومطلوب ثبوت اودوام دې نودَدې وجې نه دَهغې ذكرپه جملې اسميې سره اوشوچه هغه هم دلالت كوي په دوام اواستمرارباندې.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ۝٤
بيشكه هغه خلق چه ايمان نه راوړي په آخرت ښائسته كړيدى مونږدوئ ته بدعملونه دَدوئ نودوئ سرگردانه دى
أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ۝٥ وَإِنَّكَ
دغه خلق هغه دى چه دوئ لره بدعذاب دې اودوئ به په آخرت كښې هم دوئ ډيرتاونيان وي.اوبيشكه ته(اې پيغمبره)
لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ۝٦
خامخاتاته دركولې شي قرآن دَطرف دَهغه ذات نه چه ډيرحكمت والاډيرپوهه دې

﴿إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ احوالواوصفاتودَمؤمنانوذكركولونه ورستواحوال اوصفات دكافرانوذكركيږي،اوتخويف اخروى دې منكرينوته،يعنى كوم خلك چه دَآخرت منكردي په الله ﷻ باندې ايمان نه لرى هغوئ ته خپل بداعمال خائسته ښكارى،دوئ دَپاره په آخرت كښې سخت عذاب دې اودوئ به په سخت ترين تاوان كښې وي. ﴿زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَالَهُمْ﴾دَ"اعمالهم" نه مراداعمال قبيحه دَدوئ دى،لكه شرك،كفر،زنا،قتل وغيره،اودَافعال قبيحه دَتزئين نسبت كله الله ﷻ خان ته كوى لكه چه دلته دى،اوكله ئې نسبت شيطان ته كوى لكه په سورت النحل آيت نمبر(۶۳)كښې دى،نودَاهل السنة والجماعة په نيزنسبت دَتزئين الله ﷻ ته كيدل حقيقةً دى،يعنى حقيقت عقلى دې،ځكه چه خالق دَتزئين الله ﷻ دې،يعنى الله دَانسان په نفس كښې اوطبعيت كښې معاصيو طرف ته خواهش پيداكيدلو،اودَشهواتوپوره كولومحبت ايخې دې.

نودَدې وجې نه الله ﷻ ته دَدې تزئين نسبت كول حقيقت عقلى دې،اوشيطان ته نسبت كول مجازعقلى دې ځكه چه شيطان خالق دَتزئين ندې،بلكه هغه وسوسې اچوى انسانانوته،نوهغه سبب ظاهرې دَتزئين دَپاره دې،اواسناداونسبت سبب ته كول اسنادمجازى دې.

﴿فَهُمْ يَعْمَهُونَ﴾ "فاء" دَپاره دَترتب ده په ماقبل باندې،عامومفسرینو دَعمه" تفسیردلته په تحیرسره کړیدې اودآیت مقصدئې دابیان کړیدې چه دوئی په بدواعمالوکښې انهماک اودَمشغولتیا دَوجې نه په تردد،تحیراوپریشانئ کښې مبتلادی لکه څرنګه یوکس په خوشې صحراء کښې لاره خطاء کړی نوکله یوطرف ته اوکله بل طرف ته حیرانه اوسرګردانه ګرځی،لیکن داتفسیرغیرواضح دې،ځکه چه دامرتب دې په﴿زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ﴾باندې اودَتزئین په وجې سره "تحیر"اوترددنه راځی،بلکه ثبات دوام اواستمرارراځی،نودَدې وجې نه ابوسعوددَدې تفسیرپه «یستمدون»او«یداومون»سره کړیدې،اوحضرت ابوالعالیهﷺ نه دَدې تفسیرپه"یتمادون"سره منقول دې اوحضرت قتادهﷺ نه په"یلعبون"سره مروی دې.

﴿أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ﴾ مراددَدینه هغه کسان دی چه پدې ماقبل صفاتوباندې متصف وی،اوپه﴿سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ﴾سره مرادعذاب دَجهنم دې،او﴿ٱلْأَخْسَرُونَ﴾صیغه دَتفضیل ده اومفضل علیه ورله دَدوئ دَدنیاحالت دې،اومفضل ددوي دَآخرت حالت دې،یعنی یوځیزهم مفضل دې اوهم مفضل علیه اوتغایرپکښې په اعتباردَزمان اومکان سره دې،نوکفارپه دنیاکښې هم په خساره اوتاوان کښې دی اوپه آخرت کښې هم،لیکن دآخرت تاوان اوخساره ئې ددنیادَخسارې نه زیاته ده،دنیاکښې خساره اونقصان دادې چه خپل وخت،محنت،کوشش اومال عبث کړی،ځکه چه بداعمال ورته خائسته کړې شوی وی نودوئ پدغې اعمالوکښې وخت هم لګوی،محنت کوی،خپل مالونه هم خرچ کوی اوپه آخیرکښې دَمسلمان دَلاسه قتل یاقیدشی،خواراوذلیل شی اوآخرت کښې لوئ تاوان دادې چه دَدوئ عمل فضول اوعبث شی اوڅه اجرپرې ورته میلاؤنشی بلکه التادَجهنم سزامستحق شی اودَدې بدواعمالودَوجې نه همیشه دَپاره جهنم ته لاړشی.بعض فرمائی چه﴿ٱلْأَخْسَرُونَ﴾دلته دَتفضیل دَپاره نده بلکه مبالغه ترینه مراده ده لیکن اول قول زیات غوره دې.

﴿وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ﴾دامتعلق دې دَاول ایت سره اوپدیکښې هم ترغیب الی القرآن دې،اوپدې آیت کښې اول خطاب دې نبی پاکﷺ ته،دَپاره دَتسلی دَنبی پاکﷺ،اوپه خلوروتاکیداتوسره نبیﷺ ته تشجیع ورکولې کیږی په بیانولودَقرآن سره او«تلقی»په اصل کښې دَملاقات دَپاره مخامخ کیدلوته وئیلې کیږی،دلته ترینه مراد زده کول اوحاصلول دی،او"لام"پکښې

دَتاکيددَپاره دي،دآيت مقصددادي چه داقرآن خامخاتاته ښودلې کيږي اوتاته حاصليږي اوته ئې ښه په مضبوطتياسره قبلوې،(قرطبي).

﴿ مِن لَّدُنْ﴾ لدن په معنى دَعند سره دې،اودادويم تاکيددې په حذف کولودَواسطې سره په مينځ دَ مرسِل اومرسَل اليهم کښې،چه هغه واسطه حضرت جبرئيل عليه السلام دې.اوهرکله چه کلام دَمرسَل اوخبره دَرسول په حقيقة کښې کلام اوخبره دَمرسِل وی،دَدې وجې نه واسطه دلته تاکيددَپاره حذف کړې شوه.

﴿حَكِيمٍ عَلِيمٍ﴾ دامزيددوه(۲) تاکيدات دی،اوپديکښې تنوين دَپاره دَتعظيم دې دې سره اشاره ده تفخيم دَقرآن ته اوتمهيددې دَپاره دَراتلونکو واقعاتوچه داراتلونکې واقعات په ډيرو حکمتونو باندې مشتملې دی اودَالله تعالى دَعلم مظهردی.

إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا ط سَآتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ
[1]کله چه اووئيل موسى عليه السلام ښځې خپلې ته چه بيشکه مااوليدلواور،زرده چه رابه وړم تاسوته دَهغې نه څه خبر
أَوْ آتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝ فَلَمَّا جَاءَهَا
يابه راوړم تاسوته لمبه بله کړې شوې لپاره دَدې چه تاسوورته ګرم شئ.پس کله چه راغلوموسى هغه اورته
نُودِيَ أَن بُورِكَ مَن فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ط وَسُبْحَانَ اللَّهِ
اوازورته اوکړې شوچه مبارک دې هغه چه پدې اورکښې دې اوګيرچاپيره دې دَدينه اوپاکې ده الله تعالى لره
رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ يَا مُوسَىٰ إِنَّهُ أَنَا اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝
چه رب العالمين دې.اې موسى عليه السلام بيشکه صرف څه الله تعالى يم غالب حکمتونووالا.

﴿إِذْ قَالَ مُوسَىٰ﴾ دَتمهيداوترغيب نه ورستواوله واقعه ذکرکيږي چه داواقعه دَحضرت موسى عليه السلام ده اودامتعلقه ده دَاولې دعوى سره چه غيبدان صرف الله تعالى دې،انبياءکرام چه جليل القدرهستۍ دی خوغيبدان نوو،ځکه چه موسى عليه السلام نورته ناروئيلې وو.

[1]اوله واقعه متعلقه دَ اولې دعوى سره

دَموسی علیه السلام تفصیلی واقعه په سورۃ القصص کښې ذکر کیږي،دلته دَهغې واقعې صرف هغه حصه ذکر کیږي چه دَدې سورت ددعوې سره متعلقه ده اودغه شان څه حصه په سورة طه کښې هم ذکرشوې ده اوپه سورة الشعرآء کښې دَموسی علیه السلام دَنبوت ابتدائی حالات ذکرشوۀاوپدې سورت کښې دهجرت نه بعد د سفرابتدائی حالات ذکر کیږي.چه دامشتمل دی په ډیروحکمتونوباندې مختصرتشریح ئې دا دچې کله موسی علیه السلام دقبطي دمرګ نه پس مدین ته راغلو اود شعیب علیه السلام سرئ ملاقات اوشواودَهغه سره ئې مقرره نیټه پوره کړه اومقرروخته پورې ئې دَهغه سره کاراوکړواودَهغه دَبچئ سره ئې نکاح اوکړونوبیاڅه وخت ورستو دَخپلې مورملاقات دَپاره دَمدین نه مصرته راروان شو،موسی علیه السلام دَعام آمدورفت لارې نه علاوه په بلې لارې باندې روان شو،دَشپې سفرئې کولودَحضرت موسی علیه السلام نه لاره خطاء شوه،شعیب علیه السلام ورله څه بیزې ورکړې وې،هغې ترینه مخکښې ورستوشولې،شپه هم ډیره یخه وه ځکه دَژمی شپه وه،اوبی بی ئې هم بیماره وه دَاولاد په بیمارئی سره نوپدې پریشانئ حالت کښې موسی علیه السلام لره رنړا اولیدله چه موسی علیه السلام پرې ګمان دَاور اوکړوچه هغه په حقیقت کښې نور وو،نوخپلې بی بی ته ئې اوئیلوچه ما اور اوکتلو،نوکیدې شی چه هلته څوک وی نودَهغوئی نه،به دلارې تپوس اوکړم اوتاسوته به اورهم راوړم چه تاسوورته ځان ګرم کړئ.

﴿سَـَٔاتِيكُم﴾ سین یادَتقریب دَپاره دې اوداحضرت موسی علیه السلام دَدفعې دَاستیحاش دَپاره ذکرکړې ووچه چونکه هغه رنړادَهغې ځاې نه لرې وه کوم ځائ کښې چه موسی علیه السلام دَخپل بی بی سره ناست وو،نوبعدمسافت دَوجې نه دَموسی علیه السلام واپس راتلوکښې تاخیرکیدې شو،نودَدې وجې نه دَحضرت موسی علیه السلام بی بی ته پریشانی اویره راتلل یوفطری امروو،نوحضرت موسی علیه السلام دې ته تسلی دَپاره اوفرمائیلوچه ﴿سَـَٔاتِيكُم﴾ چه څه به زرواپس راشم اویا سین دَپاره دَتاکیددې اودَعربوعادت دادې چه په وعده کښې تاکیداوقوت پیداکولودَپاره په مضارع باندې سین داخله وی.

کچرې څوک اشکال اوکړی چه په سورة طه اوپه سورة القصص کښې موسی علیه السلام خپل واپس راتګ په(لعلی)سره ذکرکړیدی،او لعلّ دَپاره دَترجی دې چه دلالت په ترددباندې کوی اودلته ﴿سَـَٔاتِيكُم﴾ذکرشوچه دادلالت په قطعیت اوتیقن باندې کوی،نوترجی اوتیقن دواړه متنافیین دی

نوګوياچه په دواړوآياتونوکښې منافات اوتعارض دې؟ نوجواب ترينه دادې چه کله رجاء اواميدقوي وی نوهغه په منزله دَمتيقن شمارلې کيږي،لکه چه وئيلې شي ؔساُفعل کذاؔ باوجوددَدې چه امکان بکښې دَناکامئ اودَنه کولوهم وي،خوچونکه دکولواميداورجاء قوی وي نوځکه دغه شان عبارت وئيلې کيږي،نوپه سورة طه اوسورت القصص کښې ؔلعلؔ ذکرکول دَنفس رجاء دَوجې نه دي،اودلته ؔسينؔ ذکرکول چه دلالت په قطعيت اوتيقن باندې کوی دَاظهارعزم،اوپه اميدکښې دَقوت دَپاره دي،﴿ بِخَبَرٍ ﴾دَدينه مراداطلاع اوخبردَصحيح لارې دې.

﴿بِشِهَابٍ قَبَسٍ ﴾ؔشهابؔ په اصل کښې شعلې اوربڼاته وئيلې کيږي او ؔقبسؔ په معنی دَمقبوس سره هغې اورته وئيلې کيږي چه دَديراورنه اغستلې شوې وی چه تعبيرترينه به پښتوکښې په ؔبل لېتکيؔ سره کيږي نودَ آيت مقصددادې چه دَبل لېتکي شعله به راوړم،حضرت موسی علیہ السلام پدې ځائ کښې دوه(۲)څيزونه علی سبيل مانعة الخلو ،ذکرکړل چه اطلاع دَصحيح لارې ده اوياً اورنه بل لېتکې راوړل دی،وجه داده چه دَموسی علیہ السلام دَالله ﷻ په ذات باندې يقين اواعتمادکامل ووچه يوامربه ماته خامخاحاصليږي،يعني ياخوبه دواړه امرين حاصل شي اوکه دواړه حاصل نشي نوخلوه به دَدواړونه،نه راځي يوامربه خامخاحاصليږي،چه دامدلول دَمانعة الخلودې،پديکښې اشاره ده چه اسباب اختيارول خلاف توکل ندی اودغه شان دَدې آيت نه معلومه شوه چه حضرت موسی علیہ السلام غيبدان نووځکه چه لاره ترينه خطاء شوې وه اودَهغې تپوس ئې دَبل چانه کولواودغه شان په نوراوتجلی باندې ګمان دَاوراوکړو.

﴿فَلَمَّا جَآءَهَا﴾هرکله چه موسی علیہ السلام هغې رڼاوالاځائ ته راغلې نوحيران شوچه دارڼادَيوې شنې اونې نه راوتله،نوپدې وخت کښې دَدغې رڼانه موسی علیہ السلام ته اواز اوشو،اومفسرين فرمائي چه داوازداسې عجيب اوغريب ووچه يومخصوص جهت ورله نووبلکه دَهرطرف نه اوريدلې شواودَموسی علیہ السلام دَبدن هرهرعضوې اوهرهرحصې اوريدلو،يعني يوغيبي اوازووچه بلاکيف اوبلاجهته ووالبته مبدائې هغه رڼاوه.

﴿نُودِيَ أَنْ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ ﴾ دَدې په تفسيرکښې اقوال متعدددی،(۱)يوقول دادې چه﴿ نُودِيَ﴾دَپاره نائب فاعل ضميردې چه راجع دې موسی علیہ السلام ته،او ؔانؔ په﴿أَنْ بُورِكَ ﴾کښې مصدريه دې،او ؔانؔ مصدريه عموماًداخليږي په مضارع باندې خوکله کله شاذونادرداخل شي په ماضی

باندې،نودلته هم په ماضی باندې داخل شویدې، اودَ"ان"مخکښې"ها"مقدره ده، او﴿مَن فِي ٱلنَّارِ﴾نه مرادذات دَالله ﷻ دې،نوداعبارت په اصل کښې داسې دې چه:نودی ببرکة من في النارومن حولها،یعنی چه کله موسی علیه السلام هغې رڼړا والاخائې ته راغې نواوازورته اوکړې شوپه برکت دَهغه ذات چه دَهغه دَقدرت ظهورپه اورکښې دې اوګیرچاپیره دَاورنه دې،اومرادپه"برکت"سره خالص کول دَموسی علیه السلام وودَپاره دَنبوت،لکه په سورت طه کښې هم دی چه:"وانااخترتک فاستمع لمایوحی" (۲) دویم قول دادې چه"ان"تفسیریه دې او"بورک"تفسیردَ"نودی"دې نودَایت مقصددادې چه کله موسی علیه السلام هغې ځائې ته راغې نواوازورته اوکړې شو،اوهغه اوازداووچه برکت ورکوونکې دې هغه ذات چه هغه پدې اورکښې دې او"من حولها"نه مراددَالله ﷻ تجلیات دی یعنی هغه ذات برکت والادې چه په دې اورکښې دې اویاګیرچاپیره دَهغه تجلیات دی.

(۳)دریم قول دادې چه"ان"مصدریه دې چه مدخول ئې خپل په تاویل دَمفردسره ګرځولې دې اودانائب فاعل دَ﴿نُودِيَ﴾دې او﴿مَن فِي ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا﴾ دواړوکښې مضاف مقدردې چه لفظ دَ"مکان"دیعنی:من فی مکان النارومن في مکان حولها،اودَ"من فی مکان النار"نه مراد هغه وادی ده کومه کښې چه موسی علیه السلام ولاړوو،په سورت القصص کښې هغې ته"بقعة المبارکة"وئیلې شویدی،اودَ﴿وَمَنْ حَوْلَهَا﴾نه مراد"ارض الشام"دې،اودَدې وجې نه دَحضرت ابی بن کعب رضی الله عنه په قرآءة کښې داسې راغلیدی چه(تبارکت الارض ومن حولها)اوعلامه زمخشری رحمه الله فرمائی چه دغې وادی ته برکت والاځکه اوئیلې شوه چه داذریعه دَحصول دَامردینی اوګرځیدله یعنی په دغه وادی کښې یوامردینی موسی علیه السلام ته ورکړې شواوهرکله چه یومکان چه هغه صرف په ذریعې ګرځیدلوسره دَسعادت اوبرکت والاجوړیږی نوانسان چه اشرف المخلوقات دې نوهغه به په حصول دَدین سره څومره لوئی سعادت اوبرکت والابه جوړشی؟

(۴)څلورمه توجیه داده چه"ان"مخففه عن المثقه دې اسم ئې مقدردې چه ضمیرشان دې او﴿بُورِكَ﴾ په معنی دَ"تبارک"سره خبردې دَآیت مقصددادې چه برکت والادې هغه ذات چه دَقدرت ظهوراودَهغه دَنورتجلی ده،هرڅه کښې برکت اچوونکې صرف اوصرف هغه دې،برکاتوورکوونکې ذات بل څوک نیشته دې.

لیکن په تولوتوجیهاتوکښې راجحه توجیه(۵)داده چه(ان)مخففه عن المثقله دې اسم ئې ضمیر شان محذوف دې اوخبرورله﴿بُورِكَ﴾دې چه داپه حقیقت کښې جمله دعائیه ده یعنې دادعا اوترحب دې دَجانبه دَالله ﷻ نه موسی علیه السلام ته لکه په:والخامسة ان غضب الله علیها(النور:۹)کښې دی. اویالکه داقول دَعربوشولکه:امان یغفرالله لک،چه داپه حقیقت کښې دعادی.او﴿مَن فِي ٱلنَّارِ﴾نه مراد:من فی طلب النار:دې،چه هغه موسی علیه السلام دې،او﴿وَمَنْ حَوْلَهَا﴾نه مرادملائک دی،نودَ آیت مقصددادې چه،موسی علیه السلام ته اوازاوکړې شوچه برکت دې ورکړې شی هغه چاته چه په طلب دَاورپسې راغلیدې،اوهغه چاته چه گیرچاپیره دَدې اورنه دی،المعنی من فی طلب الناروهوموسی علیه السلام ومن حولهاهم الملائکة الذین حول النار،وهذه تحیة من الله عزوجل لموسی علیه السلام بالبرکة(خازن)اودلته:نور: ته:نار:وئیل دَحضرت موسی علیه السلام دګمان مطابق وو،چه هغه پدې نوراوتجلیاتوباندې دَ:اور:ګمان کړې وو.

﴿وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ﴾دایاتعجب دې دَجانبه دَالله ﷻ نه موسی علیه السلام ته،اومقصودپدې سره نفی دَتوهم دَتشبیه ده چه الله ﷻ قادرمطلق ذات دې،دَسماتودَحدوث اودَمشابهت دَمخلوق نه پاک اومنزه دې،اودغه شان تنبیه ده پدې چه دَټولوامورو،خالق،متصرف هغه الله ﷻ دې،په کائنات کښې چه څومره تکوینات دی هغې دَپاره مکون الله ﷻ دې،اوحضرت تهانوی رحمه الله فرمائی کچرې موسی علیه السلام خالی الذهن وونوبیاخوداتنبیه دَجانبه دَالله ﷻ نه دَپاره دَتعلیم دَموسی علیه السلام ده اوکچرې موسی علیه السلام ته دَخپل فطرت صالحه اودلایلوعقلیوپه بنیادداخبره معلومه وه نوبیامقصود پدې سره زیادت تفهیم دې،اویاداکلام دَموسی علیه السلام دې،اودَدینه مخکښې:قال:مقدردې،یعنی وقال سبحن الله ربّ العالمین،نومطلب دادې چه کله موسی علیه السلام داعجیب اوغریب حالات اوکتلواوکلام دَالله ﷻ ئې واوریدلوچه منزه وودَاصواتواودَترکیب دَحروفونه نودَخپل فطرت صالحه په بنیاد ئې اوئې اوئیلوچه:سبحن الله رب العالمین.

﴿يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥ﴾دَنداء اوترحب نه وِرستودَجانبه دَالله ﷻ نه تعارف دې موسی علیه السلام ته دَخپل ذات،چه اې موسی علیه السلام تاسره خبرې کوونکې ذات مخلوق ندې بلکه خالق،غالب اوحکمتونووالا ذات دې﴿إِنَّهُۥ﴾کښې ضمیرشان دې او﴿أَنَا﴾مبتداء او﴿ٱللَّهُ﴾ورله خبردې،او﴿ٱلْعَزِيزُ﴾ او﴿ٱلْحَكِيمُ﴾ دواړه صفات دَخبردی اودادواړه صفات په منزله دَتمهید اوعلت دی دَراتلونکو واقعاتو اومعجزاتو

دَپاره، کومې چه دَحضرت موسی علیه السلام په لاس صادرې شوې دی لکه عصانه اژدها جوړیدل، لاس رڼا کول، فرعون هلاک کیدل وغیره شو، چه دا ټول دَ الله تعالیٰ کمال قدرت او دکمال حکمت نتیجه ده.

فائده: سورة طه کښې تعارف دَپاره الفاظ داسې استعمال شوې ووچه "انی انا ربک" دلته دَ ﴿ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ الفاظ ذکرکړې شو، او په سورة القصص کښې "انی انا الله رب العالمین" الفاظ استعمال شویدی، مفسرین فرمائی چه مفهوم اومقصددَې ټولوالفاظو (۱) یودې اګرچه الفاظ مختلف دی، اوداهم ممکنه ده چه نداء متعدده خلې شوې وی، (۲) دویم خلې نداء ﴿ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ دی، او (۳) دریم خلې دې په "انا الله رب العالمین" سره شوې وی.

وَأَلۡقِ عَصَاكَۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهۡتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنّٞ وَلَّىٰ مُدۡبِرٗا وَلَمۡ يُعَقِّبۡۚ
او اوغورځوه همساخپله، پس هرکله چه ئې اولیده خوزید له لکه داورکې ماردې، نوروان شوپه شا او واپس را اونه ګرځیدلو
يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفۡ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ۝١٠ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ
هونږورته اوئیل اې موسی مه یریږه، بې شکه نه یریږی ځماخواکښې رسولان بلکه چه څوک ظلم اوکړی بیا
بَدَّلَ حُسۡنَۢا بَعۡدَ سُوٓءٖ فَإِنِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝١١ وَأَدۡخِلۡ يَدَكَ فِي جَيۡبِكَ
بدل راوړی نیک عمل ورستو دګناه نو ځه هغه لره هم بخونکې رحم کونکې یم. او داخل کړه لاس خپل په خپل ګریوان کښې
تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٖۖ فِي تِسۡعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَقَوۡمِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ۝١٢
رااوبه وځی تک سپین بې دَمرض نه، په نهو معجزوسره ورشه فرعون ته او قوم دهغه ته، بیشکه دوئ قوم فاسقان دی،
فَلَمَّا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَٰتُنَا مُبۡصِرَةٗ قَالُواْ هَٰذَا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ۝١٣ وَجَحَدُواْ بِهَا
پس هرکله چه راغلې فرعونیانوته معجزې زمونږ ښکاره نو اووئیل دوئ داخوسحردې ښکاره. او انکاردوئ ورنه اوکړو
وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ۝١٤
حال داچه یقین پرې کړې وو زړونودَدوئ، پوجه دَظلم اوتکبر، پس اوګوره څنګه وو انجام دَفسادکونکو.

﴿وَأَلْقِ عَصَاكَ﴾ دا عطف دې په ماقبل جملې ﴿ بُورِكَ ﴾ باندې او دَ ﴿نُودِيَ﴾ ماتحت دې، او هغه اګرچه جمله خبريه وه صورتًا ليکن معنًى انشائيه وه ځکه چه معنى دَدعاء وه پکښې، او دا هم انشائيه ده، او په مسلک دَسيبويه باندې تناسب په معطوف او معطوف عليه کښې شرط هم نه دې، نو لهذا که معنىً انشاء نشى نو بيا هم پکښې څه اشکال نيشته دې، او هر کله چه الله ﷻ په ماقبل آيت کښې خپل صفت "العزيز" ذکر کړو، نو ديکښې دهغې عملى نمونې ذکر دې چه الله ﷻ غالب ذات دې او په هر څه باندې قدرت کامله لرى چه "عصا" دَجماداتو نه ده او مجمع المفيدات څيز دې هغه الله ﷻ په خپل قدرت سره حيواناتو کښې اشرالحيوانات سره بدله کړه، او توضيح ئې داده چه الله ﷻ اولاً دَموسى عليه السلام نه تپوس او کړو چه ستا په لاس کښې څه دى؟ موسى عليه السلام ورته عرض او کړو چه داعصا ده او دَهغې فوائدئې ورته هم ذکر کړو لکه چه سورة طه کښې تفصيل سره تيرشويدى. نو الله ﷻ ورته او فرمائيلو چه دا او غورځوه نو موسى عليه السلام چه هغه او غورځوله نو يوه اژدها جوړه شوه

﴿فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ ﴾ "فاء" فصيحيه ده ددينه مخکښې معطوف عليه مقدر دې، نو تقدير دَعبارت داسې دې "فالقاها فانقلبت حيّة فلمّا رآها الخ" ﴿كَأَنَّهَا جَآنٌّ﴾ دا تشبيه په حرکت کښې ده، نو په اصل کښې دَدې عصا نه به اژدها جوړيده، خو په حرکت کښې به داسې تيزه وه لکه "جان" يعنى چمچمار، او بعض فرمائى چه ابتداء کښې به "جان" وو او بيا به ترينه اژدها جوړه شوه، ليکن اوله توجيه زياته اليقه ده دَمقام سره.

﴿وَلَّىٰ مُدْبِرًا﴾ دخوف دَوجې نه حضرت موسى عليه السلام په شامنده کړه، او دا خوف چونکه طبعى وو دَتقاضائې بشريت دَوجې نه وو، نو داسې خوف دَمرتبې دَنبوت سره منافى نه دې، او دا هم ممکنه ده چه خوف عقلى وې او خوف عقلى ماتحت الاسباب هم منافى دَمرتبې دَنبوت سره نه دې.

﴿يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ﴾ يعنى دَالله ﷻ دَطرف نه حکم اوشو چه دَ "مار" او يا دَبل مخلوق دَضرر نه مه يريږه او په ما باندې اعتماد او کړه. ﴿إِنِّى لَا يَخَافُ ﴾ دا علت دَنهى دَپاره دې چه نهى دَخوف نه وه، او دا اګرچه په ظاهر کښې اخبار دې، ليکن معنًى انشاء ده، نو ګويا چه حضرت موسى عليه السلام ته تعليم او هدايت ورکړې شو چه ته پيغمبرئې، او دَپيغمبر شان دا دې چه په حين دَوحې کښې هغه مستغرق وى په اوريدلو دَوحى کښې نو دکمال استغراق دَوجې نه دَهغه په زړه کښې دَبل چا خوف نوى، او حضرت تهانوى رحمه الله فرمائى چه کچرې دَموسى عليه السلام خوف طبعى وو نو په "لاتخف" سره ازاله دَخوف اوشوه او "انّى لايخاف الخ" بطور عنايت متجدده ذکر شو، دې دَپاره چه سرور طبعى حاصليدلو سره، سره دَخوف

طبعی اثرات مکمل زائل شی، او کچرې خوف عقلی وونو په لاتخف سره مقصود ازاله دَخوف ده، او په انی لایخاف سره مقصود عدم خوف دَپاره علت دې او تسلی ده چه حوادث خو په انبیاء کرامو باندې راځی خو چه کوم معجزات انبیاء کرامو ته ورکړې شی دَهغې نه او یا دَاعطاء نبوت په وخت کښې ابتلاء او ضرر نوی، نو لهذا دَعصا نه اژدها جوړیدل ستا دَنبوت دَپاره معجزه ده نو ددینه تا ته ضرر او تکلیف نه رسی، دَآیت نه معلومه شوه چه موسی علیہ السلام ته دا پته نوه چه دا اژدها ما ته ضرر او تکلیف نه رسوی نو معلومه شوه چه هغه غیبدان نوو، او دغه شان دَدې آیت نه معلومه شوه چه معجزه دَنبی په اختیار کښې نوی.

﴿إِلَّا مَن ظَلَمَ﴾ په دې استثناء کښې دَمفسرینو اقوال متعدد دی، اکثر مفسرین فرمائی چه استثناء منقطعه ده ځکه چه انبیاء کرام معصوم دی، نو ﴿مَن ظَلَمَ﴾ دَجنس دَانبیاء کرامو نه، ندې نو لهذا ﴿مَن ظَلَمَ﴾ په ﴿ٱلْمُرْسَلُونَ﴾ چه مستثنی منه دې په هغې کښې داخل ندې، نو دَآیت مقصد دادې چه انبیاء کرام نه ویریږی، لیکن هغه خلک چه دَهغوئی نه څه ګناه شوې وی نو بیا توبه او باسی او نیک عمل اختیار کړی نو داسې خلکو ته اګرچه الله تعالیٰ معافی او کړی خو بیا هم په دوئ باندې دَالله تعالیٰ خوف قائم وی، پدې خیال چه داسې نه، چه الله تعالیٰ زمونږ مواخذه او کړی، او بعض فرمائی چه استثناء متصله ده او مستثنی منه مقدره ده نو اصل عبارت داسې دې "لایخاف لدی المرسلون وانما یخاف غیرهم من ظلم الامن ظلم الخ" نو دَآیت مقصد دادې چه: انبیاء کرام نه ویریږی، خوف په هغه چا باندې به وی چه په ځان ئې ظلم کړې وی، کفر او شرک ئې کړې وی، خو بیا پدوئ کښې هم هغه کسان دَخوف نه به محفوظ وی چه دَظلم نه توبه او باسی او دَګناهونو په ځائ نیک اعمال شروع کړی نو هغوئ ته به الله تعالیٰ جنت ورکړی او دَخوف نه به ئې په امن او حفاظت کښې ساتی، او بعض فرمائی چه استثناء متصله ده او مستثنی منه ﴿ٱلْمُرْسَلُونَ﴾ ده او دَظلم نه مراد ګناه ندې بلکه خلاف اولی کار دې او په خلاف اولی کار باندې دَظلم اطلاق کیدل صرف دَانبیاء کرامو په حق کښې دې بناء بر قاعده "حسنات الابرار سیات المقربین" او دا اطلاق صرف صورتًا دې لکه موسی علیہ السلام نه قبطی قتل شو نو پدې خپل عمل باندې ئې اطلاق دَظلم او کړو او او فرمائیلو چه: ربی انی ظلمت نفسی (القصص: ۱۶) نو ګویا چه پدې آیت کښې اشاره ده قتل دَقبطی ته، نو دَآیت مطلب دادې چه انبیاء کرامو په زړونو کښې خوف نوی مګر صرف هغه پیغمبر په زړه کښې طبعی خوف اثروی چه دَهغه نه خلاف اولی کار شوې وی اګرچه

هغې خلاف اولې کارباندې توبه ويستلوسره الله ﷻ دَطرف نه معافى ورته شوى وى خوبياهم طبعى طورپه دنياکښې اوعقلى طورپه آخرت کښې دَهغې اثرات باقى وى اوپديکښې اشاره ده کچرې دَموسى عليه السلام نه قتل دَقبطى نوې شوې نودَخوف طبعى داوقتى اثربه هم نوو (ويؤيدهذاالقول مارواه ابوهريرة رضي الله عنه حديث الشفاعة فيه يجمع الله الناس الاولين والاخرين فى صعيدواحدفيسمعهم الداعى وينفذهم البصر وتدنوالشمس منهم فيبلغ الناس من الغم والكرب مالايطيقون ولايحتملون،فيقول الناس بعضهم لبعض: الاترون ماقدبلغكم:من يشفع لكم الى ربكم؟فيقول الناس بعضهم لبعض عليكم بآدم الحديث).

اودَحضرت الشيخ رحمه الله رائ داده چه الّا دلته دَاستثناء دَپاره ندې بلکه په معنى دَبل سره دې،او بل دَپاره دَترقى دې،نودآيت مطلب دادې چه اې موسى څماخواته انبياء کرام نه ويريږى بلکه هغه کسان چه ظلم ئې کړې وى اوبيائې توبه ويستلى وى اونيک عمل ئې شروع کړې وى نوهغوئ ته هم څه بخښنه کوونکې يم اوهغوئ نه يره لرې کووم چه هغوئ نه يريږى نوتاته خوپه طريق اولى سره خوف ندې پکار.

﴿وَأَدْخِلْ يَدَكَ﴾ دادويمې معجزې ذکردې اوفرق په مينځ دَاولې معجزې اوپدې دويمې کښې دادې چه اوله معجزه دَانقلاب دَماهيت دَقبيلې نه وه،چه يوماهيت په بل ماهيت سره بدل کړې شو،يعنى جمادمحض چه مجمع الفوائدووهغه الله ﷻ په ماهيت حيوانى سره اوپه هغه حيوان سره چه اشرالشردې،بدل کړو،اودويمه معجزه دَقبيلې دَاعراضونه ده،ماهيت هم هغه دې خواعراض پکښې بدليدلو.﴿فِي جَيْبِكَ﴾ دَجيب نه مرادګريوان دې.﴿مِنْ غَيْرِ سُوءٍ﴾ مراد دَدينه دَهرقسم نقصان نه خالى والې دې،چه نه به دَڅه مرض دَوجې نه پرق کوى اونه به تاته څه تکليف دررسوى.

﴿فِي تِسْعِ آيَاتٍ﴾ فى يايخپلې معنى سره دې اوجارمجرورمتعلق دى په اذهب فعل مقدرپورې،يعنى اذهب فى تسع آيت،اويا فى په معنى دَمع سره دې نودآيت مقصددادې چه دَنهه معجزاتوسره داوه(٢)مزيدنورمعجزات هم دى نوپدې بنياد دَحضرت موسى عليه السلام لوئ لوئ معجزات يوولس(١١)ووچه څه په سورَ اعراف آيت نمبر(١٣٠)نه تر(١٣٢)پورې ذکردى،اودغه شان شکلونه مسخ کيدل،سمندرکښې لارې جوړيدل هم پکښې دى اويا فى په معنى دَمن سره دې اومتعلق دې په﴿وَأَلْقِ﴾پورې يعنى الق عصاک من تسع آيت،نومطلب دادې چه داعصاچه

اوغورځوي دَدينه مارجوړيدل، اولاس چه په ترخ کښې ننه کړي اوبيارااوباسي داړق کوي دادَنهه معجزاتونه دي.

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا﴾داعلت دي دَ ارسال اودَ ذهاب دَپاره چه فرعون اودَهغه قوم ته معجزاتوسره خکه لاړشه چه دوئ دَالله ﷻ نافرماني کونکي دي. ﴿فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ﴾دَفرعون اودَهغه دَقوم حددرجې عنادذکرکيږي چه هرکله موسی علیه السلام دوئ ته داسې واضح معجزات پيش کړل چه دَهغې دَوقوع اوتسليمولونه انکارممکن نه وؤنودوئ بې ځايه تاويلونه،اوباطل توجيهات شروع کړل اودائې اوئيل چه داخوواضح سحردې، ﴿مُبْصِرَةً﴾په معنی مضيئة او واضحة سره حال واقع شويدې دَ ﴿ءَايَٰتُنَا﴾نه، اوپديکښې اشاره ده کمال وضوح دَمعجزاتوته چه ګوياد کمال وضوح دَوجې نه دوئ په خلې سره اقراراونکړو، ﴿وَاسْتَيْقَنَتْهَا﴾يعنی دَدوئ په زړونوکښې پوخ يقين ووچه دادَموسی علیه السلام دَصدق دپاره معجزات دي اوسحرندي، اوکفرجحودي وئيلې کيږي ديته چه په زړه کښې يقين وي خوپه خلې سره اقرارنه کوي، لکه دَابليس وغيره کفرشو.

﴿ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾دامفعول له دي دَ جحود دَپاره يعنی علت بيانيږي دَجحوداوانکاردَپاره، چه دَدوئ انکارمبنی ووپه ظلم اوعلو باندې، اوظلم دَدوئ داووچه معجزات ئې دَخپلومرتبونه کم کړي وواوهغې ته ئې نسبت دَسحرکړي وو، اوعلوتې داوه چه خپل ځانونه ئې دَخپل حدنه ئې اوچت حساب کړي وو. ﴿فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ﴾داخطاب دې نبی ﷺ ته اومقصودپدې سره تسلی ورکول دي نبی پاک ﷺ ته چه لکه څرنګه دَهغې منکرينوانجام ډيرخراب وواوپه بدترين هلاکت سره هلاک کړې شونودغه شان ستادشمنان به هم الله ﷻ هلاک کړي.

وَلَقَدْ	ءَاتَيْنَا	دَاوُۥدَ	وَسُلَيْمَٰنَ	عِلْمًا	وَقَالَا	الْحَمْدُ	لِلَّهِ	الَّذِى

[1] اويقيناورکړي وؤمونږداؤد علیه السلام اوسليمان علیه السلام ته علم، اودواړو وئيلی وؤټول ثناء صفت دي هغه الله ﷻ لره چه

[1] دويمه واقعه متعلق دعوی اولی سره

فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ
فضيلت يې راكړېدې مونږته په ډيرو دبندګانو خپلو مؤمنانو باندې.او وارث شو سليمان (په نبوت اوبادشاهۍ كښې) د داؤد
وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ
اووئيل سليمان عليه السلام اې خلقو!علم راكړې شويدې مونږته په خبرودمارغانواوراكړې شويدې مونږته دهرڅيزنه.
اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾
بې شكه دا يقينا چې فضيلت ښكاره دې.

﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ﴾ دا دويمه واقعه ده دَدې په ضمن كښې هم دَاول علت بيان مقصود دې چه غيبدان صرف الله تعالیٰ دې،بل څوک ندې،حضرت سليمان عليه السلام جليل القدرپيغمبر ﷺ وو،الله تعالیٰ هغه ته عظيم الشانه بادشاهي وركړې وه،انسانان،جنات،وحوش،طيور اوهواګانې ټول دَهغه تابع وو،ليكن دَدې باوجوددَهدهد غائب كيدلوځائ اودهغې وجه ورته نوه معلومه،دَملكه سبا اودَهغې دَقوم دَحالاتونه ناخبره وو،دَهغې دَتخت رارسولونه عاجزه وودَنوروخلكونه ئې امدادغوختلو. اوميږى پرې هم ګواهي وركړيده چه لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ اوتنوين په علمًا كښې يادَتقليل دَپاره دې،ځكه چه قائل دَدې كلام،الله تعالیٰ دې،اودَالله تعالیٰ دَعلم په نسبت دَهرچاعلم ډيرلږاوقليل دې،لكه حضرت خضر عليه السلام موسى عليه السلام ته فرمائيلي ووچه،والله ماعلمي وماعلمك في جنب الله الاكمااخذهذا الطائربمنقاره من البحر(بخاري)اوياتنوين دَپاره دَتعظيم دې ځكه چه دامقام دَامتنان دې،اوپه مقام دَامتنان كښې زيات مناسب اولائق تعظيم اوتفخيم دَانعام وى،نوپه اول تقديردَايت مطلب داسې دې،چه حضرت داود عليه السلام اوسليمان عليه السلام ته مونږدَعلم يوه حصه چه دَهغوئ سره مناسبه وه وركړې وه،اوپه دويم تقديردآيت مطلب دادې چه مونږدوئى ته عظيم الشان اوكثيرالمنفعت علم وركړې وواومراد دَدې علم نه خصوصى طورباندې علم دَشرائعو اواحكامو دې،اودَعموم دَوجې نه شامل دې نورو علومواوفنونوته هم،لكه دَزغروپه جوړولوباندې پوهيدل وغيره،اودَدېنه معلومه شوه چه دَعلم اطلاق په معنى لغوى سره په فنونواوپه عصرى تعليماتو باندې هم كيږى.

﴿وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ دا مرتب دي په ماقبل يعنى "ايتاء العلم" باندې. اوشكر دې دجانبه دداؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام نه، اودامقام اګرچه مقام داېراد دَفاء ووېعنى چه داسې وئيلې شوې وې چه "فقالا الحمد" ځكه چه په ترتب باندې دلالت كوى، لكه عرب وائى (اعطيته فشكر، منعته فصبر) ليكن دلته دفاء په ځائې واو راوړې شوى، دې دپاره چه اشاره راشى دې خبرې ته چه دحضرت داؤد عليه السلام اودحضرت سليمان عليه السلام شكرصرف شكرلسانى نه وؤ، بلكه دهغوئى دطرف نه اداء شكرعلى وجه الكمال وو، اوكمال درجې شكردادې چه (۱) په زړه كښې عزم وى په فعل دطاعاتو اوپه ترک دمعاصيو باندې، چه ديته تعظيم قلبى وئيلې كيږى (۲) عمل وى په جوارحو باندې چه دا اشتغال دې په عمل دطاعت كښې او (۳) اقراروى په لسان باندې، اوشان دانبياء كرامو دادې چه دهغوئى شكرصرف لسانى نوى بلكه په زړه كښې دتعظيم سره عمل په جوارحو باندې هم وى، نوګوياچه دلته دَدغې دوه (۲) امورو ذكرمحذوف دې، اوپه "ايتاء العلم" باندې مرتب دَدرې (۳) امورومجموعه ده اودامذكوريعنى "قالا الحمدلله" عطف دې په هغې محذوف باندې، نواصل عبارت داسې دې چه: اتيناهماعلمًافعملابه قلبًاو قالبًاو قالا باللّسان الحمدلله.

﴿فَضَّلَنَا عَلَىٰ﴾ مفضل داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام دى اومفضل عليه ﴿كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ﴾ دى، اووجه دتفضيل علم، نبوت اوتسخيردانس وجن وغيره دى، او ﴿عَلَىٰ كَثِيرٍ﴾ نه مرادكثرت دټولو ازمنوپه اعتبارسره دې اوداهغه خلک دى چه هغوئ ته يابالكل علم ندې وركړې شوې، اوياعلم اونبوت ورته وركړې شوې وى خودحضرت داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام په شان فضيلت ورته نوو وركړې شوې، لكه تسخيردهوا، تسخيردانس وجن وغيره شو، اودافضيلت جزئى دې، اودنبى ﷺ فضيلت كلى وو، نودَدې وجې نه دحضرت سليمان عليه السلام فضيلت په نبى پاک ﷺ باندې نه راځى، اويامراد كثرت دخپلې زمانې په اعتبارسره دې، اودټولوازمنوپه اعتبارسره ندې، اوحضرت داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام اګرچه دخپلې زمانې په اعتبارسره دټولوخلكونه افضل وو خوبياهم ﴿كَثِيرٍ﴾ ذكركول تواضعًا دى، اوپدې ايت كښې دليل دې په شرافت اوپه فضيلت دعلم باندې اوديته اشاره ده چه په ټولو نعمتونو كښې لوئى نعمت، علم دې.

﴿وَوَرِثَ سُلَيْمَٰنُ﴾ دَدې وراثت نه مراد وراثت دعلم اونبوت دې، اومالى وراثت ترينه ندې مراد دَدوه (۲) وجوه نه (۱) يوخوداچه ورستوكلام يعنى سياق دكلام نه معلوميږى چه دَدېنه مراد وراثت

علمی اونبوت دي،ځکه چه بطوردلیل حضرت سلیمان علیه السلام دخپلې معجزې اظهاراوکړوچه اوفرمائیلو ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمۡنَا﴾ اواظهاردمعجزې دپاره دصدق دنبوت وی نه دپاره دمال،(۲)بل ددې وجې نه چه په صحیح روایت دابوداؤد اوترمذی وغیره کښې دحضرت ابودرداء رضی الله عنه نه مروی دی چه نبی پاک ﷺ ارشاداوفرمائیلو: انّ العُلمآء ورثة الانبیآء وانّ الانبیآء لم يُورّثوا ديناراً ولادرهماًولکن ورّثوا العلم، نوپدې حدیث کښې دټولو انبیاء کرامو شان اوصفت داذکرشویدې چه دهغوئ میراث نشی تقسیم کیدلې،اودغه شان دعقل اودقیاس تقاضاهم داده چه دانبیاء کرامو په مال کښې دې وراثت جاری نکړې شی،ځکه چه دانبیاء کرامو شفقت اومحبت دټولو امت سره یوشان وی،اوپیغمبردخپل ټول امت دپاره دکمال شفقت دوجې نه په منزله دپلاروی نولهذادهغه په مال کښې دټول امت حصه پکارده،نوددې وجې نه دعقل تقاضاداده چه دانبیاء کرامومال دې بیت المال کښې جمع کړې شی.

یادوراثت نه مرادنیابت اوقائمقام کیدل،لکه په بل ځائ کښې دی"واورثناهابنی اسرائیل"،اودآیت مطلب دادې چه حضرت سلیمان علیه السلام دحضرت داؤد علیه السلام نائب اوقائمقام مقررشوپه نبوت اوبادشاهی کښې نوددې آیت نه دشیعه ګانو استدلال پدې باندې چه دانبیاء کرامو په مال کښې وراثت جاری کیږی،اودحضرت فاطمه رضی الله عنها دمیراث محرومه کول ظلم وو،نودااستدلال باطل دې اوکه بالفرض والتقدیرقطع نظراوکړې شی دهغې نصوصو اودلائلومذکوره نه،چه مونږذکرکړو اودا تسلیم کړې شی چه دوراثت نه مرادمالی وراثت دې نولازم بشی نسبت دظلم حضرت سلیمان علیه السلام ته،ځکه چه تاریخی روایاتونه ثابت دی چه په دغه وخت کښې دحضرت داؤد علیه السلام نولس(۱۹)ځامن وو،نوپه نولس(۱۹)ځامنوکښې میراث دمال صرف حضرت سلیمان علیه السلام اغستلواونوراتلس(۱۸)ځامن محرومه کول یقیناًلوئی ظلم دې،اودا په شان دانبیاءکرامو کښې محاله خبره ده.

﴿وَقَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ﴾ دادال دې په نبوت باندې ځکه چه دسلیمان علیه السلام دمارغانو په خبروباندې پوهیدل بطورمعجزه وو،نومقصودپدې سره اظهاردمعجزې دې،اوپیغمبرباندې اعلان دنبوت اواعلان دمعجزې واجب وی نوځکه سلیمان علیه السلام دااعلان اوکړو،اوحضرت سلیمان علیه السلام ته دنوروډیرومعجزاتوسره سره دامعجزه هم ورکړې شوې وه چه دمارغانوپه خبروباندې به پوهیدلو،اوتخصیص دمنطق الطیرځکه دلته اوشوچه وروستوتفصیلاًواقعه دهدهدراروانه ده.

اودامعجزه یعنی منطق الطیرباندې پوهیدل صرف دسلیمان علیه السلام معجزه وه اوکه دداؤد علیه السلام هم وه نوبعض مفسرین فرمائی چه دداوړومعجزه وه،ځکه چه دلته صیغې دجمعې استعمال شویدی

یعنی عَلّمنا اواُوتینا وئیلې شویدی لیکن بعض حضرات فرمائی چه داصرف معجزه دَحضرت سلیمانعلیه السلام وه اوصیغې دَجمعې راوړل محمول دی په عادت دَبادشاهانوباندې چه بادشاهان دَخپل رعایاپه موجودګئ کښ صیغې دَجمعې سیاسةً استعماله وی چه رعایاباندی رعب برقرار وی،لیکن ممکنه ده چه دواړوته دامعجزه ورکړې شوی وی،لیکن حضرت سلیمانعلیه السلام ته علی وجه الکمال وه اوحضرت داؤدعلیه السلام ته علی وجه الکمال نه وه،نوحضرت داؤدعلیه السلام صرف دَمارغانوپه بعضوخبروباندې پوهیدلوچه دَهغوئی تسبیح وغیره وه،لکه په سورة الانبیاء کښ دی یسبّحن والطیر اوحضرت سلیمانعلیه السلام دَهرقسم مارغانواودخناورواودَحشراتوپه هرقسم خبروباندې پوهیدلو، نطق عرف عام کښ خاص دې په انسانانوپورې اودلته دَمارغانواوازونواو اصواتو باندې اطلاق دَنطق شویدې نوداطلاق یاپه اعتباردَسلیمانعلیه السلام سره شویدې بطور استعاره،چه حضرت سلیمانعلیه السلام بطورمعجزه دَمارغانودَاصواتونه،به ئې دَهغوئی دزړه مدعا اومقصدداسې معلومولولکه څرنګه دَیوانسان دَخبرونه،دَهغه مدعا معلومیږی، نو دَ اصواتو دَطیورو دَپاره نطق استعمالول استعارةً دی.

﴿وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ﴾ دادال دې په بادشاهئ باندې،او کل دلته دَاستغراق عرفی دَپاره دې،یعنی دَضرورت والاتول څیزونه راکړې شویدی،اویاداکنایه ده دکثرت نه،لکه څرنګه چاته ډیرمال اواسباب ورکړې شوې وی نوخلک دَهغه په باره کښ وائی چه فلانی سره هرڅیز موجود دې ﴿إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ﴾ دَحضرت سلیمانعلیه السلام دَخپلوکمالاتواودَقوت بادشاهئ اظهار بطورتحدیث بالنعمة دې،اوبطورتحدیث بالنعمة دَخپل کمالاتو اودَفضیلت اظهارکول جائزدی، اوبطورریاء دَهغې اظهارکول ناجائزدی لکه حدیث کښ نبیﷺ اوفرمائیلوچه:اناسیدولدآدم ولافخر، نودَحضرت سلیمانعلیه السلام هم مطلب داوو چه ماته داکمالات اوفضیلت دَاللهﷻ دَطرف نه راکړې شویدې اوځمااستحقاق ذاتی ندې.

وَحُشِرَ	لِسُلَيْمَٰنَ	جُنُودُهُ	مِنَ	الْجِنِّ	وَالْإِنسِ	وَالطَّيْرِ	فَهُمْ

اوراجمع کړې شول لپاره دَسلیمانعلیه السلام لښکرې دَده دَجناتونه اوانسانانو اومارغانونه پس دوی دَصف بندئ لپاره»

يُوْزَعُوْنَ۝ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ

رایوځئ کیدلي شول.تردې چه راغلل په کنده دَمیږوباندې اووئیل یومیږې.اې میږواداخل شئ خپلوسوړوته.

لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

چه اونه چقوی تاسوسلیمان علیه السلام اولښکرې دَهغه.اودوئ به خبرنه وی

﴿ وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ ﴾دَحضرت سلیمان علیه السلام دَفضیلت اودَهغه دَبادشاهئ عظمت اودَ منطق الطیر باندې دَپوهیدولوذکرکیږی،چه یوځلې حضرت سلیمان علیه السلام په سفرباندې روانې دلو اراده اوکړه نودَمختلفوا اماکنواوعلاقونه انسانان،جنات،مارغان وغیره راټول کړې شواگرچه داټول دَحضرت سلیمان علیه السلام په حکم سره راټول شوی ووخوچونکه دادَهغه یوه معجزه وه چه دَانسانانونه،علاوه سرکش جنات،اوغیرذوی العقول حیوانات هم دهغه دَحکم پابندوونودَې وجې نه صیغه دَمجهولې یعنی﴿وَحُشِرَ﴾ذکرشوه.

﴿ مِنَ الْجِنِّ ﴾بیان دَ جنوده دې،اوتقدیم دَجناتوځکه اوشوچه دَدوئی راجمع کول ډیرمشکل کاردې ځکه چه سرکش دی،﴿وَالْاِنْسِ ﴾دویم لښکردَانسانانووالاوو،اودریم لښکردَمارغانوو، اومفسرین فرمائی چه دَحضرت سلیمان علیه السلام سره پدې لښکرکښې،ځاروی،هم وو،خوهغه یاقلیل ووځکه ئې ذکراونشو،اویادَې وجې نه،چه هغه غیرذوی العقول دی او مارغان هم اگرچه غیرذوی العقول دی خوبیاهم دَ طیر ذکرکول دَواقعې دَ هدهد دَوجې نه دې،﴿فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ﴾دایامشتق دې دَ وزع نه وئیلې کیږی حبس بندولوته،نودَ آیت مطلب دادې چه دَلښکراوله حصه دَاخیرې حصې سره میلاؤولودَپاره به لښکراودرولې شو،اوپدیکښې اشاره ده چه باوجود دَدې چه دَلښکر تعداد ډیرزیات ووخوبیاهم دَلښکرنه به څوک هم لرې نشوتللې،اودَلښکرنه به څوک هم جداکیدلې نشو،اویاماخوذدې دَ توزیع نه چه وئیلې کیږی تقسیم ته،نومقصددادې چه حضرت سلیمان علیه السلام خپل لښکرپه مختلفوحصوکښې کښې تقسیم کړې وو،اودَهرې حصې اودَ هردستې دَپاره ئې یومشرمقررکړې وو.

دَحضرت سعیدبن جبیر رحمه الله نه مروی دی چه دَحضرت سلیمان علیه السلام په تخت باندې به درې(۳۰۰۰۰)لاکه کرسئ ایخودلې شوې وې،اودَې په مینځ کښې به دَسلیمان علیه السلام کرسئ وه

او د اکرسئ به د هغې نه ګیرچاپیره وې او په هر قطار کښې به علی حسب المرتبه خلک ناست وو، نو په اول کښې به انسانان مؤمنان وو بیا به د هغوئ نه ورستو جنات وو، بیا به مارغانو ته حکم اوکړې شو هغوئ به سورې جوړ کړو، او بیا به هوا ته حکم اوکړې شو نو هغې به تخت اوچت کړو، او هغه طرف ته به ئې روان کړو چه سلیمان علیه السلام به غوختلو.

او د حضرت وهب بن منبه رحمه الله نه مروی دی چه یو ځلې د حضرت سلیمان علیه السلام دا عظیم تخت په هوا باندې روان وو، چه د لاندې د زمکې نه یو زمیندار او کتلو چه په خپل زمکه کښې ئې کارونده کوله، نو او ئیل ئې، سبحن الله! آل داؤد علیه السلام ته څه عجیبه بادشاهی ورکړې شویده، نو هوا دا خبره د سلیمان علیه السلام غوږ ته رااورسوله، نو سلیمان علیه السلام هواته چه دا تخت د دغې زمیندار سره کوز کړه، هوا تخت هلته کښې ښکته کړو، نو سلیمان علیه السلام هغه سړې راوغوختلو او تپوس ئې ترینه اوکړو چه تا څه اوئیلو؟ نو هغه ورته خپله خبره اوکړه، نو سلیمان علیه السلام ورته اوفرمائیلو چه د دې یو ځلې، سبحان الله، وئیلو اجر و ثواب به د قیامت په ورځ به د دې بادشاهئ نه ډیر زیات وی (روح).

﴿حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡا۟﴾ دا غایه د مقدر د پاره ده نو تقدیر د عبارت داسې دې: فساروا حتی اذا اتوا الخ یعنی دوئی په خپل سفر باندې روان شو تر دې چه د میږیانو وادی ته راغلو. او ﴿أَتَوۡا۟﴾ دلته متعدی په "علی" سره شو حالانکه دده تعدیه په "الی" سره کیږی د پاره د اشارې دې خبرې ته چه د حضرت سلیمان علیه السلام لښکر دومره عظیم لښکر وو چه دغه وادی ئې د اول نه تر اخیره پورې تو له ډکه کړه، لکه عرب وائی چه "اتی علی الشیٔ" نو دا په هغه وخت کښې وائی چه کله یو څیز ختم کړې شی او د هغه آخری حصې ته رسیدل اوشی، او بعض فرمائی چه "علی" دلته په خپلې معنی سره دې، او هغوئ د ﴿عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ﴾ ترجمه په "فوق وادِالنمل" سره کړیده، یعنی د سلیمان علیه السلام دا سفر هوائی وو او د وادی د نمل نه پاسه تیریدلو نو یو میږی نورو میږیانو ته اوئیل چه ﴿ٱدۡخُلُوا۟﴾ نو په دوئی باندې اعتراض وارد یږی چه هر کله سلیمان علیه السلام د وادی د پاسه په هوا کښې تیریدلو نو بیا د هغې تحذیر د نورو میږیانو لره څه ضرورت وو او د دې قول چه ﴿لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ﴾ څه مقصد وو نو دوئی ترینه جواب کړیدې چه (۱) ممکنه ده چه سلیمان علیه السلام په دغه وادی کښې د ارام د پاره یا د سیاحت د پاره کوز شوې وی (۲) دا هم ممکنه ده چه سلیمان علیه السلام کوز شوې نوی خو میږی دې هسې خطره محسوسه کړی وی

چه کیدې شی چه سلیمان علیه السلام سره دَخپل لښکرنه دلته راکوزشی نودَ ﴿لَا يَحْطِمَنَّكُمْ﴾ قول حفظ ماتقدم په اعتبارسره دې وی(۳)اوداهم ممکنه ده چه دَحضرت سلیمان علیه السلام سره بعض فوج پیاده وو،لیکن داټول جوابات په تکلفاتوباندې مبنی دی اوصحیح خبره داده چه دَسلیمان علیه السلام داسفرهوائی نه وؤبلکه زمینی ووا وهم دَدې وجې نه میږی نورومیږیانوته تحذیرورکړو.

﴿قَالَتْ نَمْلَةٌ﴾امام شعبی رحمه الله فرمائی چه دَدې میږی دوه(۲)وزرې وې،نودې په طیرکښې داخل وو،نوځکه حضرت سلیمان علیه السلام دَده په خبروباندې پوهه شو،لیکن داقول ځکه ضعیف دې چه په تقدیردَتسلیم دَجناحان،یعنی دَوزرو،نومحض دَدې وجې نه تبدیلی دَنوعی نه دې جائز،بلکه غوره خبره داده چه حضرت سلیمان علیه السلام ته الله ﷻ دَهرمخلوق دَخبروپوهه ورکړې وه،اودَبعضواهل علمونه،منقول دی چه دانمله به هم دَهغې حیواناتونه ده چه جنت ته به داخلیږی.

غوره خبره داده چه دامیږې،مؤنث ووځکه چه ده ته اسناددَصیغې واحدې مؤنثې شویدې، اوچونکه نملة مؤنث لفظی دې چه مذکراومؤنث پکښې دواړه برابردی نملة مذکرمیږی ته هم وئیلې کیږی اومؤنث ته هم وئیلې کیږی،اوپه داسې اسمآؤکښې یعنی چه دَهغې اطلاق په مذکراومؤنث دواړو باندې کیږی،دَمؤنث اومذکرفرق په اعتباردَمسندسره وی،نوکچرې مسندئې مشتمل ووپه علامې دَتانیث باندې نودَدې اسم نه به هم مرادمؤنث حقیقی وی اوکچرې مسندئې مشتمل ووپه علاقې دَتذکیرباندې نودَدې اسم نه،به مرادمذکروی.

﴿ٱدْخُلُوا۟ مَسَٰكِنَكُمْ﴾د "مساکنکم"نه مراددَهغوئی والاسوری یعنی سراخونه دی نودآیت مطلب دادې چه هغې میږی نورومیږیانوته اوئیلوچه خپلوخپلوسوروته داخل شئ داسې نه چه دَسلیمان علیه السلام اودَهغه دَلښکردَخپودلاندې راشئ اواوچقیږئی،ځکه چه هغوئ ته ستاسودلته دَموجودګئ پته نیشته دې،اودې نملې نورومیږیانوته خطاب په هغه صیغې سره اوکړوچه مختصه ده په ذوی العقولوپورې حالانکه دمذکرانسان نه علاوه نوروحیواناتوته خطاب په صیغې دَتانیث سره کیږی نودلته په جمعې مذکرسره خطاب کولووجه داده چه دانمله غیرذوالعقولونه وه اودَدې خطاب هم غیرذوی العقولوته وو،لیکن داحیوانات په نسبت سره انسان،جنات وغیره ته خوغیرذوی العقول دی خوپه نسبت سره یوبل ته په منزله دَذوی

العقول دی، نو الله ﷻ اخبار دَهغې کلام نه کړیدې چه دې نملې نورمیږیان په منزله دَذوی العقول شمار کړی وو او خطاب ئې ورته کړې وو.

﴿لَا يَحْطِمَنَّكُمْ﴾ داجواب امردې یعنی "ادخلوا" لا یحطمنکم اویانهی بدل واقع شویده دَ امر نه، ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ دائې دَدفعې دَتوهم دَپاره اوئیلو چه میږیان داتوهم اونکړی چه سلیمان علیه السلام به ظالم وی او دَظلم دَوجې نه به مونږ چقوی نو دَدې توهم دَدفعې دَپاره نملې، ورته اوئیلو چه ستاسو چقول به قصداً نوی ځکه چه هغه ظالم ندې بلکه تاسو به په بې خبرئی کښې دَهغه دَخپو دَلاندې به راشئ.

فائده(۱): په دې آیت کښې دلیل دې پدې چه حیوانات هم عقل لری اګرچه عقل ئې ډیرناقص اوضعیف دې، اودغه شان پدې آیت کښې اشاره ده چه انبیاء کرام عالم الغیب ندی بلکه چه الله ﷻ ورته په څه څیزباندې اطلاع نه ورکوی نوبیا ورته دَخپو دَلاندې څیزپته هم ورته نه لګی.

فائده(۲): اهل معانی لیکلی دی چه دَنملې پدې کلام کښې لس(۱۰) وجوه دَفصاحت اودَبلاغت دی (۱) نداء یعنی یاء ئې ذکرکړیده (۲) کلمه تنبیه یعنی ﴿يَٰٓأَيُّهَا﴾ (۳) تسمیه یعنی نوم ئې اغستې دی ﴿ٱلنَّمْلُ﴾ (۴) امرئې کړیدې یعنی ﴿ٱدْخُلُوا۟﴾ (۵) تنصیص یعنی نص ئې کړیدې چه ﴿مَسَٰكِنَكُمْ﴾ (۶) تحذیرئې کړیدې یعنی ﴿لَا يَحْطِمَنَّكُمْ﴾ (۷) تخصیص دَمحذرمنه ئې کړیدې یعنی ﴿سُلَيْمَٰنُ﴾ (۸) تعمیم ئې پکښې کړیدې یعنی ﴿وَجُنُودُهُۥ﴾ (۹) اشاره ئې کړیده یعنی ﴿وَهُمْ﴾ (۱۰) اعتذاریعنی عذرئې هم پیش کړیدې ﴿لَا يَشْعُرُونَ﴾.

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ
نوتبسم اوکړوسلیمان علیه السلام خندیدونکي دَخبرې دَمیږی نه، اواوئې وئیل: اې ربه توفیق راکړه ماته چه شکراداکړم
نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى
ستادَنعمت هغه چې تاانعام کړیدې په مااوپه پلارمورځمااوچه عمل اوکړمه نیک چه ته پرې راضی کیږې اوداخل کړه ما

بِرَحْمَتِكَ فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ۝۱۹

په مهربانئ خپلې سره په پخپلو کاملو نيکانو بندګانو کښې

﴿فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا﴾ دا تفريع ده په ماقبل باندې، يعنى هركله چه سليمان عليه السلام ته دَ نملې دَ خبرې راورسيدلې نوهغه تبسم اوکړو (مسکې شو) او دَ نملې پدې خبروسره خوشحاله شو دَ تبسم نه وروستو ضحک ذکرکول يادَ دې وجې نه دى، چه تبسم دَ سليمان عليه السلام عادة وو، او بيا دا تبسم اضطراراً صورت دَ ضحک ته اورسيدلو، اويا تبسم په خپلې معنى سره دې او ضحک په معنى دَ سرور او خوشحالئ سره دې، نو دَ آيت مطلب دا دې چه "فتبسم لاجل ضحكه" يعنى دَ خوشحالئ دَ وجې نه ئې تبسم اوکړو.

فائده: دَدې آيت نه ثبوت دَ ضحک دَ انبياء كرام عليهم الصلوات والتسليمات کيږى، اودغه شان په احاديثو کښې دَ ځنې احاديثو نه ثبوت دَ ضحک دَ نبى ﷺ کيږى، لکه امام بخارى رحمه الله په کتاب الاداب باب الضحک کښې متعدد احاديث نقل کړيدى، ليکن په ځنې احاديثو کښې دَ ضحک ذم او دَ هغې نه منع راغليده اودغه شان په ځنې رواياتو کښې دَ نبى ﷺ نه دَ ضحک نفى راغليده، لکه په روايت دَ بخارى باب الادب کښې دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه مروى دى چه فرمائى: مارأيت رسول الله ﷺ مستجمعًاقط ضاحكاً، يعنى ما چرته هم نبى پاک ﷺ په ډکه خله خندا باندې ندې کتلې، نو په ظاهر کښې دَدې آيت دَ ځنې احاديثو سره اودغه شان دَ احاديثو په خپل مينځ کښې تعارض دې، نو تطبيق ئې داسې کړې شويدې، چه پدې آيت کښې ثبوت دَ ضحک اويا کومو رواياتو کښې چه دَ نبى پاک ﷺ دَ پاره ثبوت دَ ضحک شويدې نو هغه احياناً دې اويا اضطراراً دې، اوکومو رواياتو کښې چه نفى اوذم دَ ضحک راغليدې هغه محمول دى په عادى ضحک باندې، چه اکثراوقاتو کښې ضحک ياقهقهې کوى. اوعلامه زمخشرى فرمائى چه حقيقةً ضحک دَ نبى ﷺ نه ندې ثابت، اوکومو رواياتو کښې چه ضحک دَ نبى ﷺ لره ثابت کړې شويدې نو دَ هغې نه مراد مبالغه ده په تبسم کښې لکه په رواياتو کښې دى "حتى بدت نواجذه" اوحقيقةً ضحک چه ظهور دَ اضراسو دې، دَ نبى ﷺ په باره کښې ندې مروى.

﴿وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِيْ﴾ حضرت سليمان عليه السلام دَ خوشحالئ دَ اظهار نه وروستو درې (۳) دعا ګانې اوکړې، دا ئې اوله دعا وه چه اداء شکر دَ پاره ئې دَ توفيق دَ شکر دعائې اوغوختله اودعاء دَ

توفیق دشکر داهم په حقیقت کښې شکروی او ﴿أَوْزِعْنِي﴾ د"ایزاع" نه دې، او"ایزاع" بندولو یا راپارولوته وئیلې کیږي.دلته ترینه مرادمداومت دې نودآیت مطلب دادې چه اې الله!ماته توفیق راکړې چه څه همیشه دپاره ستادانعاماتو شکریه اداکړم.

﴿وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ﴾ حضرت سلیمان علیه السلام دخپلو والدینو دنعمتونو تذکره اوکړه دپاره دتکثیر او تعمیم دانعاماتو ،چه دالله جل جلاله انعامات په ماباندې ډیرهم دی، او عام هم دی، ځکه چه انعام په والدینو داسې وی لکه انعام په اولاد باندې.بلکه کله کله خلک دهغې انعاماتو زیات احساس لری کوم چه په والدینو باندې شوی وی.اوبیاخاص طورباندې دینی انعامات چه دهغې فائده اولادته ډیره میلاویږی اوحضرت سلیمان علیه السلام دلته"والدین"یعنی موراوپلار دواړو دانعاماتو ذکراوکړو ،نوپلارباندې یعنی داود علیه السلام باندې الله جل جلاله دینی اودنیوی دواړه قسمه انعامات کړی وو.لیکن دسلیمان علیه السلام په مورباندې څه انعامات وو؟ نومفسرین فرمائی چه لوئی دینی نعمت داووچه هغې ته ایمان توفیق ورکړې شوې وو ،اوبیالوئی انعام داوو ،چه دداؤد علیه السلام په زوجیت کښې وه،اوددینه علاوه بعض مفسرین فرمائی چه هغې ته هم د"منطق الطیر"فهم ورکړې شوې وواودحضرت داؤد علیه السلام دپاره لکه ځرنګه اوسپنه نرمه کړې شوې وه نوداانعام هغې ته هم ورکړې شوې وو.

﴿وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا﴾ دادویمه دعاده اوداعطف دې په ﴿أَنْ أَشْكُرَ﴾ باندې اود ﴿أَوْزِعْنِي﴾ تحت دې، په ماقبل کښې په ژبه سره اداء شکردتوفیق دعاوه،اوپدې ایت کښې په عمل سره اداء شکردتوفیق دپاره دعاده،نوداداء شکردپاره درې (۳)څیزونو ضرورت دې (۱)معرفت دنعمت، چه دمنعم علیه په زړه کښې دااحساس وی چه داد فلانی دطرف نه ماسره انعام دې اوکچرې احساس اومعرفت نه وی نواداء شکرهم نه کیږی (۲)قبول دنعمت یعنی کوم نعمت چه دمنعم دطرف نه وی نودهغې اظهاروی (۳)صفت دمنعم په جوداوسخا سره،اوبیاکامل شکراداء کولودپاره هم ددرې (۳)څیزونو ضرورت دې (۱)ذکرپه لسان (۲)اعتقاداومحبت بالجنان (۳)عمل اوخدمت بالارکان،نوحضرت سلیمان علیه السلام په ژبه باندې اقرارا ودالله جل جلاله ذکراوکړو چه داد ال دې په اعتقاد او محبت بالجنان باندې هم اودغه شان دال دې په معرفت دنعمت اوپه قبول نعمت باندې هم،اوبیاپې دویمه"دعا"اوکړه دپاره دعمل بالارکان،چه ﴿وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا﴾

تَرْضٰىهُ﴾ او ترضاه نه مراد هغه عمل دي چه دَ الله ﷻ په دربار کښې ورته شرف دَقبوليت حاصل شي، او دَ رياء نه پاک وي

﴿وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ﴾ دا دريمه (۳) دعاده دَ پاره دَحسن خاتمې او حسن عاقبت ﴿فِيْ عِبَادِكَ﴾ نه مراد کامل صالحين دي، او مطلق صالحين ترينه ندي مراد چه بيا اعتراض او کړې شي چه مرتبه او درجه دَ انبياء کرامو ﷺ خو په صالحينو باندې او چته او بلنده ده لکه چه معلوميږي دَ سورة النساء دَ آيت اولئک الذين انعم الله عليهم من النبيين والصديقين الخ نو بيا او لې انبياء کرام په خپلو دعاګانو دَ صالحينو دَ مرتبې دعاغواړي دا خو ترقي نده بلکه تنزل دې.

وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِيْنَ ۝
اوحاضري ئې واخسته دَمارغانو بيائې اوو ئيل چه څه چل دې په ماچه نه وينم هدهد، او که دي هغه دَپټ شوؤنه
لَاُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيْدًا اَوْ لَاَاذْبَحَنَّهٗٓ اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ
خامخا به څه سزا ورکړم ورته سزا سخته او يا به ئې ذبح کړم يا داچې راوړي ماته دليل ښکاره. نو تيرئې کړو وخت لګ
فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ۝
بيائې اوو ئيل چه احاطه او کړه ما په هغه څه چه تا احاطه نده کړې په هغې او څه راغلي يم تاته دَسبا ښارنه په خبر يقيني سره

﴿وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ﴾ تفقد وئيلي کيږي: تطلب ماغاب عنک وتعرف احواله، يعنې کوم څيز غائب شي دَ هغې طلب کول او دَ هغې دَحالت نه، ځان خبرول نو دَ آيت مطلب دا دې چه حضرت سليمان عليه السلام دَمارغانو خبرګيري شروع کړه، نو هدهد ورته ښکاره نشو، نو اوفرمائيلو ئې ﴿مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ﴾ استفهام تعجبي دې يعنې ماته تعجب دې چه څه هدهد نه وينم، او يا استفهام استخباري دې نو دَ آيت مطلب دا دې چه څه وجه ده چه څه هدهدنه وينم آيا حاضر دې او دَمارغانو پهٔ رش ګڼره کښې څما دَ نظرنه غائب دې، ابن العربي وغيره فرمائي چه حضرت سليمان عليه السلام ابتداءً دَقصور نسبت ځان ته او کړو چه ﴿مَا لِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ﴾ چه څه هدهدنه وينم ماله څه شوي دي؟ دا دَ دې وجې نه چه سليمان عليه السلام ته ابتداءً خوف پيدا شو چه وحوش او طيور جمع کيدل دَ پاره دَسليمان عليه السلام دَ الله ﷻ نعمت وو، او دَ هدهد غير حاضري دَ يو نعمت کم کيدل وو او نعمت کښې کمې

دانسان دخپلو عملونو دوجې نه وي، نو سليمان عليه السلام ته خوف پيدا شو چه ځما د کوم قصور د وجې نه پدې نعمت کښې کمی رانه شوې وي نوځکه ئې اوئيلو ﴿مَا لِيَ لَآ أَرَى﴾ او د دې وجې نه د بزرګانو حال دادې چه: اذافقدوا مالهم تفقدوا اعمالهم، يعنې بزرګان چه کله په خپل مراد کښې کامياب نشي نو دخپلو اعمالو محاسبه کوي (ابن العربي).

﴿أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ۝﴾ ام منقطعه دې په معنى د بل اضرابيه سره. او د اقول سليمان عليه السلام د تفتيش نه ورستو اوکړو چه تحقيق ئې اوکړو او هدهد نوو. نو اوئيلو چه دې د مارغانو په ګڼړه کښې پټ ندې بلکه غيرحاضر دې، اويا ام متصله دې نو معنى ئې داده چه: احاضر لااراه ام كان من الغائبين، يعنې دې حاضر دې او زه ئې نه وينم يا حقيقة غائب دې. حضرت سليمان عليه السلام دا تفقد ولې کړې وو؟ څه وجه وه د تفقد د پاره؟ نوځنې مفسرين فرمائي چه دا د عادت مطابق وو، لکه څرنګه چه عموماً بادشاهان او مشران کوي. چه يو منزل مقصودته اورسيږي نو د لښکرا و دخپلې محکمې د کشرانو تپوس کوي، او د هغوئ خبرګيري کوي، او د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه وجه د تفقد دا منقوله ده چه حضرت سليمان عليه السلام په يو ځائې کښې پړاؤ واچولو نو د اوبو ضرورت پيښ شو او هدهد کښې الله تعالى داصفت ايښې دې چه هغه ته د اوبو د مسافت مقدار پته لګې چه د زمکې د پاسه او به په څومره مسافت کښې دی او په زمکه کښې د ننه او به په څومره مقدار کښې ژوري دی، او د هدهد په باره کښې دی چه د زمکې دلاندې څيزونه ده ته داسې ښکاريږي لکه د شيشې دلاندې څيز چه عامو خلکو ته ښکاريږي او د سليمان عليه السلام په لښکرد هدهد ذمه داري داوه چه کله به هم سليمان عليه السلام ته د اوبو ضرورت پيش شو نو هدهد زمکه کښې اوکتلو او بيا به ئې يو حصه د زمکې په خپلې مخوکوکې (چونچ) سره اوکښتله او سليمان عليه السلام ته به ئې اطلاع ورکړه نو سليمان عليه السلام جناتوته حکم اوکړو نو جناتو به په يو ساعت کښې هغه ځائې اوکښتلو او او به به ئې څرګندې کړې.

فائده: په دې ايت کښې دليل دې پدې چه د حاکم او د مشر ذمه داري د خپل رعيت او د کشرانو نګهباني به کوي او د هغوئې د حالاتو نه به ځان خبرساتي لکه څرنګه چه سليمان عليه السلام د يوې وړکې غوندې مرغئ (هدهد) خبرګيري اوکړه، او همدغه شان د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کښې مروي دی چه اوفرمائيلو: لوان سخلة على شاطئ الفرات اخذها الذئب ليسئل عنها عمر (قرطبي) يعنې کچرې د يو بيزې بچې د درياب فرات په غاړه ليوه اوخوړلو نو د دې پوښتنه به د عمر نه کيږي، او په بل

روایت کښې داسې مروی دی: لومات الکلب علی شاطی الفرات لکان عمر مسئولاً عنه یوم القیامة، یعنی کچرې دَدریائې فرات په غاړه یو سپې (دَتندې دَلاسه) مړشونو پوښترینه به ئې دَعمرنه کولې شی.

﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا ﴾ هرکله چه سلیمان علیه السلام حاضری واغستله او هدهد یقینی طوربا ندې غائب وونوسلیمان علیه السلام ده ته دَسزاورکولو اظهاراو اعلان اوکړوچه یابه ورته سخته سزاورکړم اویابه ئې ذبحه کړم اودَسزانه دَبچ کیدلو صورت دادې چه دَخپلې غیرحاضرئ دَپاره څه معقول عذرپیش کړی، او "او" دلته دَتنویع اودَتقسیم دَپاره دې اوداتقسیم دَسزاګانوپه اعتباردَتفاوت دَجرم سره دې نوکچرته عذرئې پیش کړوخوضعیف وونوسخته سزابه ورته ورکړم، اوکه بالکل عذرئې پیش نه کړونوذبحه به ئې کړم، اویادامطلب دې کچرته لږوخت دَپاره غیرحاضروونوسخته سزابه ورکړم اوکچرې ډیروخت دَپاره غیرحاضروو، نوبیابه ئې ذبحه کړم، اوپدې ایت کښې دلیل دې چه سزاپه قدردَجرم وی نه په قدردَجوشې، اودغه شان پدې ایت کښې دلیل دې چه دَتادیب دَپاره سزاورکول جائزدی.

﴿أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَٰنٍ﴾ دَدینه مرادمعقول عذرپیش کول دی او "او" دلته یاپه خپلې معنی سره دې یعنی تنویع دَپاره دې اویاپه معنی دَ "الا" سره دې لکه داقول دَعربوشوچه لَألْزَمَنَّکَ أَوْتُعطِینِی حَقًّا په معنی دَ "الاان تعطینی حقا" سره دې. اوپدیکښې اشاره ده چه دَمعقول عذردَوجې سزامعاف کولې شی.

﴿فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ﴾ "بعید" صفت دَزمانې دَپاره ای زمانا غیربعید، یعنی دَهدهد په غیرحاضرئ باندې ډیروخت نه ووتیرشوې بلکه لږوخت ورستوحاضرشو، نوروحیواناتوورته دَسلیمان علیه السلام دَغصې په باره کښې اطلاع ورکړه چه سلیمان علیه السلام تاته ډیرغصه دې، نوهُدهد ترینه تپوس اوکړوچه څنګه الفاظ ئې وئیلې دي، نوهغوئ ورته دَسلیمان علیه السلام سزاواوروله چه کچرې معقول عذرئې پیش نکړونوبیابه ورله سزاورکړم اویابه ئې ذبح کړم، نو هدهد اوئیل چه بس څه دَسزانه بچ شوم څکه ماسره عذرشته دې، نوبهرحال هدهد دَسلیمان علیه السلام دربارته حاضرشو، سلیمان علیه السلام ترینه دَغیرحاضریدلو تپوس اوکړونو "هدهد" ورته عذرپیش کړوچه ﴿أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ﴾ دَدې عذرخلاصه اومقصددادې چه څه دَنافرمانئ دَوجې نه یادَخپل خواهش پوره کولو او دَ چکر لګولو دَپاره نه ووم غائب شوې، بلکه دَ "کارسرکار" دَوجې نه، نه ووم موجود، او "احطت" دَاحاطې نه دې دلته ترینه مرادمکمل معلومات دی، یعنی ماتاته داسې مکمل اوصحیح معلومات راوړیدی چه تاته هغه شان معلومات نیشته دې.

﴿وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ﴾ دا تفسیر دي دَماقبل مبهم کلام، او هدهد په خپل کلام کښې اول ابهام اوکړو او بیائې تفسیر اوکړو، دې دَپاره چه دَسلیمان علیه السلام دده عذر اوریدلو ته شوق پیداشي اوددې خبرې اهمیت اوعظمت ئې په زړه کښې پیداشي، او سبا نوم دَقبیلې دې چه دَصنعا الیمن نه درې (۳) میله لرې په مآرب کښې پاتې کیدلو او سبا په اصل کښې ددې قبیلې دَجد امجد نوم دې یعنی سبأبن یشجب بن یعرب بن قحطان، اودغه شان په حدیث دَابوداؤد کښې هم دی چه: ان النبی ﷺ سئل عن سبأ فقال علیه السلام رجلاً کان له عشرة من البنین تیامن منهم ستة وتشاءم اربعة، یعنی سباء یو سړې ووچه لس (۱۰) خامن ئې وو، شپږ (۶) خامن ئې یمن طرف ته لاړو (نوهلته ئې نسل آبادشو) اوڅلور (۴) خامن ئې شام ته لاړو.

اوکچرې څوک اعتراض اوکړی چه دسلیمان علیه السلام نه دَبلقیس بادشاهی څنګه پټه پاتې شوې وه حالانکه دَسلیمان علیه السلام بادشاهی په ټوله دنیاباندې وه، انس وجن وحوش اوطیور اوهوادده تابع وه، نودومره کم مسافت باوجود په هغه باندې دَبلقیس بادشاهی مخفی څنګه پاتې شوه؟ نوجواب ترینه دادې چه الله ﷻ دَمصلحت په بنیاد کله کله یوقریب څیزدَیولوئی هستئ نه پټ پاتې کړی، لکه دَیعقوب علیه السلام نه ئې یوسف علیه السلام دکنعان په کوهی پټ پاتې کړې ووحالانکه دَدغې یوسف علیه السلام خوشبو یعقوب علیه السلام دَالله ﷻ په ارادې سره بیاپه سلونو (۱۰۰) میله لرې نه محسوس کړو، نودغه شان الله ﷻ دَحضرت سلیمان علیه السلام نه هم دَبلقیس بادشاهی اودَهغې حالات مخفی کړو، دې دَپاره چه سلیمان علیه السلام کښې شائبه دَعجب هم پیدانشی اودغه شان تنبیه ورکول مقصودووچه دَدومره لوئی اسبابو باوجود علم دَسلیمان علیه السلام ناقص دې، حتّی چه دَده دَلښکریو معمولی اوورو کی غوندې فردته هغه خبره معلومه وه چه سلیمان علیه السلام ته داسې خبرې اوکړی، لکه صاحب دَتفسیرخازن فرمائې: الهم الله الهد هد هذاالکلام فکافح سلیمان تنبیهاًعلی ان ادنی جنده قداحاط علماًبمالم یحط به، لیکون لطفاًبه ترک الاعجاب والاحاطة بالشئ علماًان یعلمه من جمیع جهاته الخ (خازن).

اودغه شان پدې ایت کښې دلیل دې پدې چه دَهدهد عقیده هم داوه چه سلیمان علیه السلام عالم الغیب نه وو، اودغه شان پدې ایت کښې اشاره ده چه کله کله ادنی ته هغه علم حاصل وی چه اعلی ته نوی حاصل نو اعلی ته هم دَادنی نه استفاده کول پکاردی.

إِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً تَمْلِكُهُمْ وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ وَّ لَهَا عَرْشٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾	
بی شکه اوموندله مایوه ښځه چه بادشاهي کوي په دغه خلقواو ورکړي شويدي هغې ته دهر قسم خیزونه اودهغې تخت دي لوئ	
وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ	
اوموندله ما هغه اوقوم دهغې چه سجده کوي نورته ماسوی دالله ﷻ نه اوښائسته کړيدي دوئ ته شيطان عملونه ددوئ	
فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۲۴﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ	
نومنع کړيدی شيطان دوئ دسمی لارې نو دوئ هدايت نه مومي. چه سجده اونکړي الله ﷻ ته هغه الله ﷻ چه راوباسی	
الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿۲۵﴾	
پټ خیزونه په اسمانونو اوزمکه کښې اوعالم دي په هغه څه چه تاسوئی پټووئ اوپه هغه څه چه ښکاره کوئ	
اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۶﴾	
الله ﷻ چه دي نشته دي بل معبودمګرهغه دي چه رب دي دعرش لوئ	

﴿اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً﴾ دابيان دنبأ دي، اوداعظيم خبرمشتمل دې په دوه(۲)حالاتوباندې يوسياسی اوبل مذهبی حالت دې او هدهد ددغې قوم سياسی حالت په درې(۳)مختصرجملوکښې بيان کړيدی اوهغه درې(۳)امورقابل تعجب دی اول(۱)قابل تعجب خبره اوسياسی حالت ئې داذکرکړيدې چه ددوئ حکومت اوبادشاهی دښځې په لاس کښې ده، اودښځې بادشاهی قابل تعجب څکه ده چه مخالفه ده دعقل اونقل نه، مخالفه دعقل نه څکه ده چه زنانه صنف نازک اوناقص العقل وی دقوم مشری دزنانه سره مناسب نه وی، اومخالفه دنقل نه هم ده لکه حديث کښې ورته اشاره راغليده چه لن يفلح قوم ولوامرهم امراة(بخاری) اونوم ددې زنانه بلقيس بنت شراحيل بن مالک بن ريان وو، ديعرب بن قحطان دنسل نه وه، اوددوئ په خاندان اونسل کښې(۳۹)بادشاهان تيرشوی وو، اوددې پلارخلوېښتم (۴۰)نمبربادشاه وو، اودهغه نارينه اولاد نه وونودهغه نه مرګ نه پس دهغه دا لور بادشاه مقرره کړې شوه، اودلته هدهد په ځای د رايت وجدتُّ استعمال کړو، نو پديکښې اشاره ده چه ځما غائب کيدل دنفس رؤيت اودڅه څيزکتلو اودڅکر لګولو دپاره نه وو بلکه دحکومت خدمت اودسرکارپه کارتللې وومه، اوداسې خلک مې معلوم مولو چه ستا اوستاددين مخالفت کوی

﴿وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ﴾ دادويم سياسي حالت اوامرتعجب دي،چه باوجوددې چه دازنانه وه خوبياهم ورته هغه ټول اسباب اووالات وركړې شوي ووكوم چه دَ بولوئي بادشاه سره مناسب وي او په﴿كُلِّ شَيْءٍ﴾كښ استغراق عرفي دې.

﴿وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ﴾ دادريم سياسي اوقابل تعجب امردې،چه دَدې دَپاره يوعظيم الشان تخت دې،اودادلالت كوي په فرواني دَمال اومعاشي طوراستحكام اوپه خوشحالئ باندې، اودا قابل تعجب امرځكه دې چه دَسليمان عليه السلام دَپاره دومره مرصع اومنقش اوقيمتي تخت نه وؤلكه څرنګه دَدې وړوكي خطې ملكه اوزنانه ذات دَپاره وو،اوچونكه حضرت سليمان عليه السلام پيغمبروواوپيغمبران دَدنياڅيزونه بقدرضرورت استعمالوي دَاسراف اوتبذيرنه ځان بچ ساتي نودَدې وجې نه سليمان عليه السلام خپل تخت منقش كړې نه وؤ.اودَبلقيس دَتخت مقدارپه قرآن ياحاديثوكښ ندې ذكرصرف اسرائيلي روايات دي،چه تصديق ئې نشي كيدې.نوپه څنوروايا تو كښ دي چه دَبلقيس تخت ۸۰×۸۰ ګز ووچه دَسروزرونه،جوړشوې وو.ياقوت وغيره سره پرې نقش ونګارشوې وو،اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه ۳۰×۳۰ مروي دي،خوبهرحال دَبلقيس تخت يوعظيم الشان تخت ووچه"هدهد"ورته په تعجب كښې شو.

فائده:"هدهد"دلته دَبلقبس تخت متصف كړيدې په وصف دَ"عظيم"سره اوورستوئې بيادَالله جل جلاله عرش ته"عظيم"وئيلي دي په دواړوكښ فرق دې دَالله جل جلاله تخت دَپاره ئې صفت "العظيم"يعني معرف باللام ذكركړيدې چه مرادترينه فردكامل دَ"عظمت"دې،نوعرش دَالله جل جلاله عظيم دې په نسبت سره ټولومخلوقاتوته،اودَبلقيس دَتخت دَپاره ئې صفت "عظيم" يعني نكره ذكركړيده نودَهغې عظمت نه مرادپه نسبت سره امثالواودَدنيادَباشاهانوته دې يعني حقيقي عظمت اوكمال عظمت دَالله جل جلاله تخت لره دې ليكن چه دَدنيابادشاهانوته نسبت اوكړې شي نودَدې تخت بياعظيم وو.

﴿وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا﴾ دادَقوم دَمذهبي حالاتوبيان دې اوهركله چه ماقبل اموردنيوي وواګرچه قابل تعجب وولېكن حضرت سليمان عليه السلام هغې طرف ته التفات اوتوجه ورنكړه نو"هدهد" سليمان عليه السلام په جهادباندې راپاسولودَپاره اوددغې قوم خلاف جهادكولودَپاره دَهغوئي مذهبي حالت بيان كړوچه دابنځه اودَهغې قوم مشرك دي دَنمراودَستوروعبادت كوي.اوهركله چه شرك

اقبح القبائح وونودَدي وجې نه دَدې دَپاره ئې عامل مستقلاً ذكر كړو.او اكتفاء ئې په محذوف باندې اونكړه.

﴿وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ﴾ دَ تزئين نه مراد په وسوسو په ذريعې سره بد اعمال خائسته كول دى. لكه كفر، شرك اونور بد اعمال شو. ﴿فَصَدَّهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ﴾ فاء دَ تفريع دَپاره ده او داتفريع ده په ماقبل باندې څكه چه وساوس شيطانى باندې عمل كول سبب ګرځى دپاره دمنع كيدلو دَحق دلارې نه اودَ توحيدنه ﴿فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ﴾ دَحق دَلارې نه منع كيدل سبب ګرځى دَهر قسم هدايت نه دَمحرومۍ دَپاره. ﴿أَلَّا يَسْجُدُوا﴾ غوره قول دادې چه دلته لام اجليه مقدردې نو په اصل كښې داسې لان لايسجدوا يعنى شيطان دوئى ته بداعمال څكه خائسته كوى چه دوئى الله ﷻ ته سجده اونكړى اوبعض فرمائى چه لا زائد دې، او ان يسجدوا متعلق دې دَ ﴿لَا يَهْتَدُونَ﴾ سره اى فهم لايهتدون ان يسجدوا لله الخ يعنى دوئى لاره نه مومى چه سجده اوكړى الله ﷻ ته، اوبعض فرمائى ﴿أَلَّا﴾ په معنى دَ هلا سره دې اودازجردې دَهدهد دَطرف نه بلقيس اودَهغې قوم ته.

﴿ٱلَّذِى يُخْرِجُ﴾ دادَهدهد دَطرف نه دليل عقلى دې په توحيد باندې اودادليل مشتمل دې په اثبات دَدوه (۲) صفتونو دَالوهيت باندې دَپاره دَالله ﷻ، چه (۱) يو كمال قدرت اودويم (۲) كمال علم دې، نو په ﴿يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ﴾ سره اشاره ده كمال قدرت او په ﴿وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ﴾ سره اشاره ده كمال علم ته او دَ هدهد استدلال خلاصه داده چه الله ﷻ لره كمال قدرت اوكمال علم ثابت دې اوكوم ذات لره چه كمال قدرت اوكمال علم حاصل نودَ سجدې اوعبادت لائق هغه وى، نومعلومه شوه چه عبادت لائق صرف الله ﷻ دې، هرچه ده كبرى نوهغه بديهى ده اوهرچه ده صغرى نودَهغې دَاثبات دَپاره ئې بطور مثال دوه (۲) جزئيات ذكركړل، نو ﴿يُخْرِجُ ٱلْخَبْءَ﴾ دكمال قدرت دَپاره دليل دې، او ﴿وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ﴾ دكمال علم دَپاره دليل دې او ﴿ٱلْخَبْءَ﴾ مصدر په معنى دَاسم مفعول مخبوء سره دې، يعنى پټ كړى شوى څيزونه (پوشيده) نو دَ خبء السموات نه مراد باران وريځې، نمر، سپوږمۍ، اوستورى وغيره دى او خبء الارض نه مراد په زمكه كښې دانې، بوټې، كانونه وغيره دى، او اخراج په معنى دَ اظهار سره دې يعنى دَاسمان اودَزمكې پټ كړې شوى څيزونه الله ﷻ څرګندوى

او هدهد د کمال قدرت د اثبات د پاره د دې وصف تخصیص ځکه اوکړوچه دا زیات اوفق دې د دې مذکورې واقعې سره ځکه چه د بلقیس د بادشاهۍ نه د مال فراوانی او د معیشت استحکام وغیره معلومیدلو نو هدهد د خبء السموات والارض، ذکراوکړو او دینه ئې اشاره اوکړه چه اصل خالق اومالک د دې ټولو څیزونو د پاره الله ﷻ دې اویائې د دې وجې نه د دې وصف تخصیص اوکړوچه د هدهد کار دادې چه هغه په زمکه کښې دننه پټ چینجی وغیره راوباسی اوخوری، یعنی د خپل مزاج موافق ئې دا دلیل ذکرکړو.

فائده: مفسرین فرمائی چه ﴿أَلَّا يَسْجُدُوا﴾ اګرچه اخبار دې ظاهراً لیکن مفهوم د دې انشآء اووجوب د سجدې دې الله ﷻ ته، او دغه شان ورستو مذکورصفات یعنی ﴿يُخْرِجُ الْخَبْءَ﴾ او ﴿وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ﴾ هم په دې دلالت کوی چه مقصود په دې کلام سره فقط اخبار د ممانعت نه دې، بلکه اثبات د وجوب د سجدې دې الله ﷻ ته، نو د دې وجې نه دلته سجده کول واجب دی.

﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ ظاهره داده چه دا کلام د هدهد دې او دا د ماقبل د پاره په منزله د نتیجې دې، او هدهد په دې خپلې نتیجې کښې دوه (۲) قسمه توحید ذکرکړیدې (۱) توحید فی الالوهیت (۲) توحید فی الربوبیة، نو په "الله لااله الخ" سره توحید فی الالوهیت ذکراوکړو او په ﴿رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ سره ئې توحید فی الربوبیت ذکراوکړو او تخصیص د ﴿رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ د دوه (۲) وجوهاتو نه اوکړې شو (۱) یو د دې وجې نه چه عرش په ټولو مخلوقاتو کښې لوئی او په ټولو مخلوقاتو باندې محیط دې، نو هرکله چه الله ﷻ رب د عرش دې د نورو مخلوقاتو رب په طریقې اولی دې، اوبل (۲) د دې وجې نه چه هدهد د بلقیس تخت کتلې ووچه یو عظیم تخت وو، او د هغې د تخت د هغې په عظمت باندې دلالت کولو نو د الله ﷻ کمال عظمت بیانولو د پاره ئې تخصیص د "العرش العظیم" اوکړو او دا خبره لږ مخکښې تیره شوه چه هدهد د بلقیس تخت د پاره "عرش عظیم" یعنی نکره استعمال کړې وه چه دلالت ئې په مطلق عظمت باندې کولو، چه عظمت په نسبت سره د دنیا بادشاهانو ته وو، او د الله ﷻ د پاره د عرش ذکرپه صورت د معرفې کښې یعنی "العرش العظیم" ذکرکړوچه دلالت په کمال عظمت باندې کوی، او کمال عظمت د عرش دال دې په کمال عظمت د الله ﷻ باندې.

قَالَ سَنَنْظُرُ اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾ اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ
اوونيل سليمان عليه السلام څه به گورم چه آيا تارشتياويلى دى اوكه ئې ته دُدروغژنونه.يوسه داځماخط اوئى غورځوه
اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالَتْ يٰۤاَيُّهَا الْمَلَؤُا اِنِّيْۤ اُلْقِيَ اِلَيَّ
هغوئ ته بيا واپس شه ورنه بيا اوگوره چه څه جواب راليږی. دوئ اوونيل بلقيس اي مشرانو بې شكه غورځولي شويدې ماته
كِتٰبٌ كَرِيْمٌ ﴿٢٩﴾ اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
خط عزت مند(مهرزده) بې شكه دغه خط دَسليمان دَطرفه دې اومضمون دادې چه په نوم دَالله جل جلاله چه بې حده مهربان دې
الرَّحِيْمِ ﴿٣٠﴾ اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿٣١﴾
رحم كونكي دي چه لوئي مكوئ ځمابه مقابله كښ اوراشئ ماته مسلمانان

﴿قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ﴾دَهدهدبيان نه،ورستوحضرت سليمان عليه السلام اوئيلوچه څه دَدې خبرې تحقيق كووم چه ته رشتياوائى اوكه دروغژن ئې،دَنظرنه مراددلته تأمل اوتحقيق كول دى،او﴿ أَصَدَقْتَ﴾جمله په موضع دَنصب كښ مفعول به ده دَ﴿سَنَنظُر ﴾دَپاره په اسقاط دَحرف جرسره،چه كلمه دَ"فى"ده،ځكه چه كله نظرپه معنى دَتامل سره وى نودَده په صله كښ"فى"وى. ﴿أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴾دا ابلغ دې په نسبت سره ديته چه"ام كذبت"ئې وئيلې وې،ځكه چه كله يو كس په جماعت ددروغژنو كښ شامل كړې شى نودَهغه دروغژن كيدل يقينى وى،اودغه شان پديكښ اشاره ده چه دَپيغمبرپه مخامخ دروغ وئيل ډيرلوئى جرم دې اودادَهغه سرې كاركيدې شى چه دروغ وئيل دَهغه ملكه گرځيدلى وى،اودغه شان پدې ايت كښ ادب وركولې كيږى،چه بغيردَتحقيق نه دَچاالزام منل پكارنه دى،اونه دَيوكس خبره علم يقينى فائده كوى اودغه شان دَدينه معلومه شوه چه حاكم اووالى ته دَخپل رعيت صحيح اومعقول عذرقبولول پكاردى اودَرعيت دصدق اوكذب امتحان اغستل پكاردى اودغه شان دې آيت كښ دليل دې پدې چه انبياء كرام غيب دان نه دي

﴿ٱذْهَب بِّكِتَـٰبِى هَـٰذَا ﴾سليمان عليه السلام ملكه سبأبلقيس په نوم باندې مختصرخط اوليكلو اوهدهدته ئې حكم اوكړوچه داخط فورااورسوه﴿ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ ﴾سليمان عليه السلام هدهدته دَسفارت دَ

ادبو تعليم ورکړوچه هغوئ ته خط رسولونه پس بياته يوطرف ته شه دهغوئ نه ﴿فَٱنظُرۡ مَاذَا يَرۡجِعُونَ﴾يعنى دهغوئ خبروته سوچ کوه چه هغوئ څه جواب ماته راکوى اودآيت دظاهرنه معلوميږى چه الله تعالىٰ هدهدته داقوت ورکړى ووچه دهغوئ دخبروفهم اوادراک ئې کولې شو.

﴿قَالَتۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ﴾ددينه نه مخکښ اندماج دي،تقديردعبارت داسې دي:بعدماذهب الهدهدبالكتاب فالقاه اليهاوتنحى عنهم وقرأت كتابه قالت الخ او هدهد چه کله دسليمان عليه السلام نه راروان شو اوصنعاءيمن کښ مأرب ته دبلقيس محل ته رااورسيدلونوبلقيس په دغه وخت کښ په خپل محل کښ اوده وه، اودهغې عادت داووچه کله به ئې ارام کولونو دمحل ټولې دروازې به ئې بندې کړې.نوهدهددروشن دان په ذريعې ددې کمرې ته اورسيدلواوخط ئې ددې په سينه باندې کيخودلواوبهرته رااوتلو.اودسليمان عليه السلام په خط باندې مهرلګيدلې وو.نوکله چه بلقيس راويخه شوه اواوکتلوئې چه ددې په سينه باندې خط پروت دې نوپريشانه شوه چه دې بندوکمروته خط څرنګه رااورسيدلو،اوکله ئې چه خط کولاؤکړونوپريشانی ئې نوره زياته شوه څکه چه په هغې باندې مهرسليمانى ثبت وو،نوددې په زړه کښ دسليمان عليه السلام دبادشاهئ عظمت اوهيبت پيداشو،خوبهرحال دخپل مملکت مشران اومشيران ئې رااوغوختلواوهغوئ ته ئې اوئيلوچه:﴿إِنِّيٓ أُلۡقِيَ إِلَيَّ كِتَٰبٞ﴾چه ماته يوډيرمعززخط راغورځولې شويدې.اوبلقيس دې خط ته کريم.ددې وجې نه اوئيلوچه(۱) يوخو په خط باندې مهرلګولې شوې وو.اوپه خط باندې مهرلګيدل دخط کرامت دې،اوداطريقه دنبي پاک ﷺ هم وه چه کله به ئې بادشاهانوته خطونه ليږلونومهربه ئې پرې لګولو،اوحضرت مولانامفتي محمدشفيع صاحب رحمه الله فرمائي چه ن صباللفافه دمهرقائممقام ده نوپه لفافه کښ خط بندول اقرب الى السنة دى

اودويم(۲)ددې وجې نه داخط کريم ووچه مضمون ئې جامع اوعظيم الشان وو.څکه چه الفاظ ئې مختصراومعنى اومفهوم ئې ډيرو و.اودغه شان شروع ئې په بسم الله سره وه اومضمون ئې مشتمل ووپه دعوت الى التوحيدباندې.او(۳)دغه شان مرسل هم ډيرکريم وو.نودخط کرامت دمرسل دوجې نه هم وى

﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَٰنَ﴾ دامضمون دَخط ذکرکیږی سره دَتعارف دَمرسِل نه اومضمون دَخط مشتمل دي په څلورو(۴) جملوباندې(۱) تعارف دَمرسِل(۲) ذکراوتوحیددَاللهﷻ(۳) منع مخالفت اودَتکبرنه(۴) دعوت الی الاسلام اومضمون دَخط اګرچه په اعتباردَالفاظوسره ډیرمختصردې لیکن دَمفهوم په اعتبارسره پکښې ډیروسعت دې.

﴿إِنَّهُ﴾ کښې ضمیرراجع دې کتاب ته، اوپه دویم﴿إِنَّهُ﴾ کښې ضمیرراجع دې مضمون دَخط ته، اومضمون دَخط اګرچه حقیقةً نه دې مذکورلیکن حکمًامذکوردې، اوغوره خبره داده چه سلیمان علیه السلام خپل نوم دَ بسم الله نه اول نه وؤلیکلې بلکه بسم الله ئې اول لیکلې وه لکه چه داسنت دَانبیاء کرامو علیهم السلام دې، اونبی پاکﷺ به هم بسم الله دَهرڅه نه اول لیکله اودلته تقدیم دَنوم دَسلیمان علیه السلام صرف حکایتا دې اومبنی دې په عرف اوعادت باندې، چه عام طورباندې دَمرسِل نوم اول اغستلې کیږی، اودَدې تائیدپه روایت دَابن ابی حاتم سره کیږی چه نقل کړیدې دَیزیدبن رومان رحمه الله نه، چه هغه فرمائی چه حضرت سلیمان علیه السلام دَخط الفاظ پدې ترتیب سره وو " بسم الله الرحمن الرحیم من سلیمان بن داؤدالی بلقیس ابنة ذی شرح وقومهاان لاتعلوا الخ نولهذادَدې آیت نه دانه ثابتیږی چه سلیمان علیه السلام خپل نوم دَبسم الله نه مخکښې لیکلې وی، او بسم الله کښې جارومجرورمتعلق دی په استعینوا فعل امرپورې، نوپه بسم الله کښې درې(۳) قسمه توحید ذکرشو (۱) توحیدفی الاستعانة(۲) توحیدفی الالوهیت(۳) توحیدفی الصفات.

﴿أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ﴾ غوره قول دادې چه﴿أَلَّا﴾ کښې ان مفسره او لا ناهیه دې اودامنع ده دَغرور، تکبراودَلوئی نه، اودعوت دې په منع دَمخالفت دَدین نه، یعنی څمادَدین مخالفت مه کوئ چه دَحق دین نه، انکاراوکړئی اوتکبراوکړئی اوهرکله چه تکبرپه ټولوخصلتونوکښې بدترین خصلت دې اودَاسلام دَپاره په ټولورکاوټونوکښې لوئی رکاوټ دې دَدې وجې نه سلیمان علیه السلام ممانعت دَتکبرنه اوکړو.

﴿ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ﴾ دادعوت الی الاسلام دې، یعنی په داسې حالت کښې ماته حاضرشئ چه ایمان راوړونکی یئ، یعنی دَایمان په حالت کښې ماته راشئ، نو مسلمین په معنی دَ مؤمنین سره دې، اوبعض فرمائی چه مسلمین په معنی دَ منقادین سره دې، یعنی څماحکم منونکی، اوعلامه آلوسی رحمه الله فرمائی چه اول احتمال په بنیاددعوت، دعوت دَنبوت دې، اودویم دعوت، دعوت

دَملک،یعنی بادشاهئ دي،اوشان دَپیغمبرسره زیات الیق دعوت دَنبوت دي نودَدې وجې نه اول احتمال زیات راجح اوغوره دي،اوهرکله چه دَسلیمان علیه السلام دَخط بالاصالة مخاطبه بلقیس وه لیکن بالواسطه ټول رعیت اوقوم وونودَدې وجې نه﴿تَعْلُوا﴾ او﴿ وَأْتُونِي ﴾وغیره صیغې دَجمع مذکورذکرشولې.

قَالَتْ يَآيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ۝
اوونیل بلقیس اې مشرانوفتوه راکړئ ماته په کارځماکښ،نه یم څه فیصله کونکې دَیوکارتردې چه حاضرشئ تاسوماته،
قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّاُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ ۙ وَّالْاَمْرُ اِلَيْكِ فَانْظُرِيْ مَاذَا تَاْمُرِيْنَ ۝
اووئیل هغوئ چه مونږخاوندان دَقوة یواوسخت جنګ والا یو،باقی اختیارتادې پس ته اوګوره څه امرکوې ته،
قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا وَجَعَلُوْٓا اَعِزَّةَ اَهْلِهَآ اَذِلَّةً ۚ
دې ورته اووئیل بې شکه بادشاهان چه کله په زورداخل شي یوکلي ته نوخراب کړي هغه اواوګرځوي عزتمندکلي ذلیله،
وَكَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ۝ وَاِنِّيْ مُرْسِلَةٌ اِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنٰظِرَةٌ ۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ۝
اوهمداسی کاردوئ کوي.اوبې شکه څه لیږونکې یم دوئ ته قاصدسره دَهدیې، نوګورم چه په کوم حال واپس راځی قاصدان .

﴿قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِي ﴾هرکله چه بلقیس دَخط مضمون خپلومشیرانوته واورولو نودَهغې نه پس ئې ورته اوئیل چه اوس ماته مشوره راکړئ چه څه اوکړو؟ځکه چه ستاسونه بغیردَڅه کارفیصله نه کووم،او﴿أَفْتُونِي ﴾دَفتوی نه دي اوفتوی وئیلې کیږی هغې مضبوط جواب ته چه په یوه حادثه کښ ورکولې شی،اودلته ترینه مراددَخپلې رائې اظهاراومشوره ورکول دی

﴿مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا﴾بلقیس دخپلومشیرانواووزیرانودَتعظیم اودَهغوئ دَزړونو دَخوشحالئ دَپاره ئې دَمشورې غوختلوعلت بیان کړوچه،څه ستاسودَمشورې نه بغیردَیومعمولی خبرې فیصله هم نه کووم نودَومره لوئې خبرې اوحادثې فیصله به څنګه اوکرم،نودَ﴿قَاطِعَةً﴾نه مرادیقینی فیصله ده او﴿أَمْرًا ﴾کښ تنوین دَتحقیردَپاره دي،یعنی دَیوحقیراومعمولی کارفیصله هم ستاسودَمشورې نه بغیرنه کوم،اوپدیکښ اشاره ده چه دَمملکت په اهم اموروکښ مشوری

کولودستوربوقدیم دستوردې اواسلام دَدې مزیدتائیداوتقویت کړیدې اوپه احادیثوکښې دَمشورې ډیرلوئی اهمیت بیان کړې شویدې.

﴿قَالُوا نَحْنُ أُولُوا﴾وزراء اومشیرانوپه خپل جنګی مهارت اوطاقت باندې فخراوغرور دَوجې نه،بلقیس ته دَجنګ مشوره ورکړه،سره دَاظهاردَاطاعت نه.چه زمونږمشوره خودَجنګ ده باقی فیصله ستادَطرف نه ده څه چه ته وائی هغه به مونږمنو.حضرت الشیخ رحمه الله فرمانی چه دَمشیرانوجواب په چاپلوسئ باندې مبنی وو،تحقیق.سنجیدګی اودانشمندی پکښې نه وه. اوحقیقت دادې چه بلقیس ځومره هغوئ ته دَصحیح مشورې ترغیب اودَهغوئ مشورې ته اهمیت ورکولواراده کړې وه خوهغوئ دَهغې برعکس بالکل غلطه اواحمقانه مشوره ورکړه.څکه چه دَمخالف دَقوت دَاندازه لګولونه بغیردَجنګ دَپاره آماده کیدل بې وقوفی ده په﴿أُولُوا قُوَّةٍ﴾ کښې اشاره ده کثرت دَتعدادواوقوت دَاجسادوته،اوپه﴿وَأُولُوا بَأْسٍ﴾کښې اشاره ده شجاعت اوجنګی تدبیرته.

﴿وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ﴾دااظهاردَاطاعت دې چه زمونږمشوره دَجنګ ده باقی ته زمونږمشره ئې چه څه حکم ستاوی هغه به مونږمنو،﴿قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ﴾بلقیس ډیره زیرکه اوهوښیاره زنانه وه،اوسیاسی بصیرت ئې دَمشیرانوپه نسبت سره ډیروو.هغې ته دَسلیمان علیه السلام دَقوت اندازه دَخط دَرارسیدلوطریقې اودَخط دَمضمون نه شوې وه،څکه چه دروازوبندیدلو او دَچوکیداارانو دَ موجودګئ باوجوددَ هغې ته خط ملاؤ شو اودَغه شان دَخط دَمضمون نه هم دَدنیوی اغراضواوطمع اودَلالچ بوئې هم نه راتلونوهغه پوهه شوه چه خط رالیږونکې یوعام بادشاه ندې. او دَ مشیرانو مشوره بلاتحقیقه ده دوئی ته دَسلیمان علیه السلام دَقوت اندازه نیشته دې اوپه خپل طاقت باندې مغروره دی،نوځکه ئې دَهغوئ مشوره ردکړه،اوهغوئ ته ئې تعلیم ورکړوچه دَښه سوچ اوفکر کولونه ورستومشوره ورکول پکاردی،نوتاسوته پکارده چه دَجنګ دَانجام اودَعاقبت نه،ځان پوهه کړئی چه دَجنګ دوه(٢)لوئی خرابیانې دی(١) فساد دَملک(٢)معززین ذلیل کیدل.نوکچرې بادشاه په تاسوباندې غالب شی نوستاسوملک به وران کړی اوستاسومعززین به ذلیله کړی.

﴿وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ﴾دایاتتمه دکلام دَبلقیس ده چه خپلومشیرانوته ئې بطورتاکید عمومی ضابطه اودستوردَبادشاهانوبیان کړوچه داعادت دَبادشاهانودې چه اول اطلاع ورکوی

اوبیاجنګونه کوی اوملکونه ورانه وی اومعززین ذلیله کوی اویاداکلام دَالله ﷻ دې دَپاره دَتصدیق دَقول دَبلقیس.

﴿وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم﴾ هرکله چه بلقیس دَمشیرانو مشوره په دلیل سره ردکړه اوپه هغوئ باندې دَمشورې غلطی هم واضحه کړه نوبیائې خپله مشوره ورکړه،ددې دَمشورې خلاصه داده چه دَسلیمان علیه السلام امتحان اغستل پکاردی اوتحقیق کول پکاردی چه آیادې واقعی دَالله پیغمبراونبی دې اوکه صرف دنیاپرست بادشاه دې،نوکچرې دې محض دنیاپرست بادشاه وی نومقابله ئې اسانه ده اوکچرې محض بادشاه نوی بلکه نبی هم وی نوبیادَهغه سره مقابله ګرانه ده،نوموږ ته دَهغه اطاعت کول پکاردی،اوداامتحان په مال سره اغستلې کیږی،ځکه چه مال اوزنانه لوپه فتنه ده لکه څرنګه چه په متعدد احادیثوکښې هم ذکردی،اودَامتحان اغستلوطریقه ئې داجوړه کړه چه دې اوئیل چه څه سلیمان علیه السلام ته هدایالیږم نوکچرې هدایائې قبولې کړې اومقصدئې پریخودلونو دنیاپرست دې اوکچرې هدایائې ردکړې اودَایمان اتباع نه بغیرپه بل څیزباندې راضی نه شونو بیا پیغمبردې.

بلقیس دَسلیمان علیه السلام دَامتحان اغستلودَپاره هلکان،جینکئ روان کړل چه دَریښمو په لباس کښې ملبوس وو،په سرونوباندې تاجونه ووچه ملغلرې اویاقوت پرې لګیدلی وو اوپه لاسونوکښې ورسره دَسروزرو اوسپینوزرو خختې وې،اودَدوئی تعداد څومره وو؟نوقرآن اوحدیث کښې دَدې تصریح نیشته دې،البته اسرائیلی اوتاریخی روایات پدې سلسلې کښې راغلیدی خوهغه هم مختلف دی،صرف پدې خبره باندې اتفاق دې چه بلقیس سلیمان علیه السلام ته په لوئی تعدادکښې هلکان اوجینکئ چه په لاسونوکښې دَسرو زرواوسپینوزروخختې اونورسازوسامان اولیږلو،

فَلَمَّا	جَآءَ	سُلَيْمٰنَ	قَالَ	اَتُمِدُّوْنَنِ	بِمَالٍ	فَمَآ
پس هرکله چه راغلوقاصدسلیمان علیه السلام ته،نواووئیل سلیمان علیه السلام آیاتاسومددکوئ ماسره په مال،پس کوم څه چه						
اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿۳۶﴾ اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ						
ماته الله ﷻ راکړیدی غوره دی دَهغې نه چه تاسوته ئې درکړې،بلکه تاسویو بل ته هدیو ورکولو خوشالیږئ.واپس لاړشه هغوئ ته						
فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ	بِجُنُوْدٍ	لَّا	قِبَلَ	لَهُمْ	بِهَا	وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ
هوږ لراشئ ماتهورنه رابه ولو مونږدوئ ته داسې لښکرې چه نه به وی طاقت دَمقابلې ددوئ دَهغې سره، اوخامخااوبه ئې باسو						

مِّنْهَآ اَذِلَّةً وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ۞

دَدغي ښارنه ذليله اودوئ به خواروي.

﴿فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمٰنَ﴾ وفدچه کله دَسليمان عليه السلام مخې ته راغلونوسليمان عليه السلام دوئی ته خپل مقصدواضح کړوچه څمامطالبه ستاسونه،دَمال غوختلونه وه څکه چه مال اودولت الله ﷻ ماته ډيرزيات راکړيدې څمامطالبه ستاسونه،دَايمان ده.﴿ أَتُمِدُّونَنِ﴾کښې استفهام دَپاره دَانکاراوتوبيخ دې او﴿بِمَالٍ ﴾کښې تنوين دَپاره دَتحقيردې يعنی آياتاسودَدنياپه حقيرمال سره څماامدادکوئ اوماته داحقيرمال بطوررشوت راکوئ اومادَخپل مقصدنه اړوئ.

﴿فَمَا ءَاتَىٰنِۦَ اللَّهُ﴾مرادترينه دينی اودنيوی نعمتونه دی،علم،نبوت،حکومت اوعظيم الشان سلطنت دې چه په انس وجنی اوحيوش وطيوراوپه هواباندې وو.﴿بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ﴾ بَلْ دپاره دَاعراض دې اوداتعليل دې دَانکاردَقبولودَهداياته،او"هديه"اسم دَ"مهدی"يعنی په هديه کښې ورکړې شوی څيز دې او"کم"ضميرخطاب کنايه ده دَمهدی اومهدی له نه نودَايت مطلب دادې چه هدايابطوررشوت قبولول دَدنياپرستوخکلوشيوه اوکاردې،اوڅه خودنياپرست نه يم چه مال زياتوالی ته خوشحاليږم بلکه تاسودنياپرست يئ اودَيوبل هداياته خوشحاليږئی څکه چه ستاسو مقصد دَدنيازياتی ده.

﴿ارْجِعْ إِلَيْهِمْ﴾سليمان عليه السلام خپل مقصديوځل بيادوئ ته په واضح الفاظوسره بيان کړو، اودَ مطالبې نه منلوپه صورت کښې دَجنګ دهمکی ورکړه اوچونکه مخاطب دَسليمان عليه السلام سره پدې وخت کښې اميرالوفد"منذربن عمرو"وونودَدې وجې نه سليمان عليه السلام په خطاب سره هغه خاص کړو، اوخطاب اميرته خطاب ماموراتوته هم وی نوڅکه اکتفاء هغه ته په خطاب سره اوکړې شوه اودَ﴿فَلَنَأْتِيَنَّهُم ﴾نه مخکښې:ان لم يأتوني مسلمين،مقدردې،مطلب دادې چه سليمان عليه السلام دوئ ته اوئيلوچه تاسوخپل مشرانو دَمملکت ته واپس لاړشئ اوورته اووائې چه کچرته دوئی ايمان اوانقيادقبول نکړی اوڅمادعوت ردکړی نوپه داسې لښکرسره به په دوئ باندې حمله اوکړم چه دوئی به دَهغې دَمقابلې طاقت نه لری او"قِبَلَ"دَمقابلې نه دې دلته ترينه مراد طاقت دَمقابلې دې.

﴿أَذِلَّة﴾ حال دي د﴿ وَلَنُخرِجَنَّهُم﴾ کښې د "هم" ضمیرنه، یعني ستاسو عزت به په ذلت باندې بدل شي، مال ومتاع هرڅه به درنه قبضه کړې شي، او﴿أَذِلَّة﴾ جمع قلت ده او جمع قلت د تاکید د "اذلال" د پاره ده. ﴿وَهُمۡ صَٰغِرُونَ﴾ مراد ترینه مغلوب کیدل، ګرفتار کیدل او غلامان کیدل دي.

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ أَيُّكُمۡ يَأۡتِينِي بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ أَن يَأۡتُونِي مُسۡلِمِينَ ٣٨
اوویل سلیمان علیه السلام اې مشرانو کوم یو به په تاسو کښې راوړي ماته عرش د هغې مخکښې د دینه چه راشي ماته مسلمانان
قَالَ عِفۡرِيتٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَۖ وَإِنِّي
اوویل یو قوي پیري د پیریانو نه چه زه به راوړم تاته هغه مخکښې د دینه چه ته پاسیږې د خپل ځائ نه، او بې شکه زه یقینا په دې
عَلَيۡهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٞ ٣٩ قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ
کار قوي یم امانتګر یم. اوویل هغه سړي چه هغه سره علم د کتاب وو زه به ئې راوړم تاته مخکښې د دینه چه
أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسۡتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضۡلِ رَبِّي
واپس شي تاته نظر ستا پس هر کله چه اولیدلو سلیمان علیه السلام هغه تخت پروت د ده خواه کښې اوویل دا د فضل د رب ځمانه دي
لِيَبۡلُوَنِيٓ ءَأَشۡكُرُ أَمۡ أَكۡفُرُۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ
چه امتحان اوکړي په ما چه آیا زه شکر کوم او که ناشکري کوم او هر هغه څوک چه شکر کوي نو شکر کوي د خپل ځان لپاره.
وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيّٞ كَرِيمٞ ۝ قَالَ نَكِّرُواْ لَهَا عَرۡشَهَا
او څوک چه ناشکري کوي نو بیشکه رب ځما بې پروا دې، کریم دې، اوویل سلیمان علیه السلام بدل کړئ بلقیس ته تخت د هغې
نَنظُرۡ أَتَهۡتَدِيٓ أَمۡ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهۡتَدُونَ ٤١
چه او ګورو مونږ چه آیا هدایت مومي یا ده د هغه کسانو نه چه هدایت نه مومي.

﴿قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ﴾ د دینه مخکښې اندماج دې، تقدیر د کلام داسې دې، فرجع المرسل الیها بالهدیة واخبرها بما اقسم علیه سلیمان علیه السلام فتجهزت للمسیر الیه اذ علمت انه نبی ولا طاقة لها بقتال نبی الخ

یعنی چه کله دَدې کسان دې خواته واپس لاړو، اودیته ئې دَسلیمان علیه السلام تولې خبرې اوکړې اودَسلیمان علیه السلام ارادې ئې ورته ظاهرې کړې نودې فوراًسلیمان علیه السلام خواته تللوتیاری شروع کړه ځکه چه داپوهه شوه چه دې پیغمبردې اوپیغمبردَمقصدنه،نه اوړی اونه ورسره جنګ کیدې شی،نودا دَخپل لښکرسره راروانه شوه،نوسلیمان علیه السلام ته دَدې دَراتګ پته اولګیده اوداپته سلیمان علیه السلام ته څنګه اولګیده نوغوره خبره داده چه سلیمان علیه السلام ته داپته دَوحی په ذریعې وه.

نوپه دغه وخت کښې سلیمان علیه السلام خپل مجلس والوته مخاطب شواوورته ئې اوفرمائیلوچه ﴿أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا﴾چه دَدې تخت به ماته دَدې دَرارسیدلونه مخکښې مخکښې څوک حاضرکړی؟ اوسلیمان علیه السلام دَدې دَتخت راحاضرولوخواهش اظهاراومطالبه دَدې وجې نه کړې وه چه سلیمان علیه السلام دَخپل ظاهری شان وشوکت سره سره هغې ته دَالله تعالیٰ قدرت ښودل ضروری محسوس کولو،اوبیادَهغې دَمملکت په ټولوڅیزونواوپه ټولومالونوکښې دَتخت تخصیص ځکه اوکړوچه داپه ټولوڅیزونوکښې زیات محفوظ وو.ځکه چه داتخت دَاوه(۷)محلاتوپه مینځ کښې په یومحفوظ محل کښې ووچه هغې ته تالې(قفل)لګیدلې وې،اوګیرچاپیره ترینه پهریداران اولاړوو،نودومره لوئی اوعظیم تخت اومحفوظ په دومره لږوخت کښې رارسول محض دَالله تعالیٰ په قدرت سره وو،ظاهری اسبابولره پکښې دخل نه وؤ،اوابن جریر رحمه الله وغیره حضراتو چه لیکلی دی چه سلیمان علیه السلام دَدې راتللونه مخکښې دَدې تخت ځکه راوړل غوختلوچه ددې په مال باندې دَدې دَاسلام راوړلونه،مخکښې قبضه اوکړی ځکه چه بعدالاسلام دَسلیمان علیه السلام دَپاره بیادَدې په مال باندې قبضه کول جائزنوو،غلطه خبره ده اودَشان دَپیغمبرسره غیرمناسبه ده،اوپدې ایت کښې دلیل دې چه سلیمان علیه السلام محتاج وو،اوخدائ طاقت اوقدرت ورسره نوو.

﴿قَالَ عِفْرِيتٌ﴾ عفریت دَعفرنه دې،خبیث،مکار،اوشریرته هم وئیلې کیږی اوطاقتورته هم وئیلې کیږی،دلته ترینه مرادطاقتوردې،یعنی یوطاقتورجنی اوئیل چه نوم دَدې جنی ذکوان ووياصخر،اوياکودی وو،چه څه به تاته دَدې تخت ستادَمجلس دَختمیدلونه مخکښې رااورسوم، نودَ﴿أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ﴾نه مراددَمجلس دَقضامنه پاسیدل اودَهغې ختمول دی،اوروایاتوکښې دی چه دَسهرنه ترغرمې پورې به سلیمان علیه السلام دَخلکوفیصلې کولې اودَهغوئ شکایات به ئې اوریدلونودَدې جنی مطلب داووچه ته دَخلکودَفیصلونه چه فارغ کیږی نومابه تاته،تخت رارسولې وی.

﴿وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ﴾ جنی دخدمت اوذمه دارئی پوره کولودپاره خپل اهلیت ظاهرکړو.چه (۱)یوقوت اوبل(۲)امانت دي.اودادوه(۲)صفات یعنی قوت اوامانت دیوذمه وارکس دپاره بنیادی اوضروری صفات دی.اودي صفاتودفقدان دوجي نه په ذمه دارئی پوره کولوکښ خلل اونقصان راځی.اوپه واقعي دشعیب علیه السلام کښ هم دی چه دشعیب علیه السلام بچیانوهغه ته مشهوره ورکړه چه.استاجره ان خیرمن استاجرت القوی الامین،نوجنی هم سلیمان علیه السلام ته خپل خدمات اواهلیت پیش کړوچه دبلقیس تخت اګرچه ډیرلوئی دي خومانه هم الله ﷻ لوئی قوت راکړیدي، اودغه شان په هغي باندي ملغلري اونورقیمتی جواهرات لګیدلی دی خوځه امین یم،په هغي کښ به هیڅ قسم خیانت نه کوم.

﴿قَالَ الَّذِي عِندَهُۥ﴾ سلیمان علیه السلام دجنی خبره ردکړه چه ماته تخت ددینه هم زرپکاردي.نوپدي دوران کښ هغه کس چه هغه ته دکتاب علم ورکړي شوي ووهغه اوئیل چه ځه به ئي دسترګودرپ نه مخکښ راوړسوم.داکس څوک وو؟ددي په تعین کښ تقریباًاته(۸)اقوال راغلیدی.لیکن دري(۳) پکښ راجح دی،(۱)اول قول دجمهورومفسرینودي چه ددینه مرادآصف بن برخیادي،چه دسلیمان علیه السلام وزیراودهغه دترور(خاله)زوي هم وو،او علم من الکتاب نه مراد اسم اعظم دي یعنی آصف بن برخیاته اسم اعظم یادوو،اوهغه به چه په اسم اعظم سره دعااوغوختله نوالله ﷻ به پوره کوله،اوامام ثعلبی رحمه الله دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل کړیدي چه نبی پاک ﷺ اوفرمائیلوچه:انّ اسم الله الاعظم الذی دعابه آصف بن برخیایاحی یاقیوم،اوبعض فرمائی چه الفاظ داسم اعظم اهیااشراهیاوو چه دهغي عربی الفاظ یاحی یاقیوم دی،نودااسم اعظم برکت اودآصف بن برخیا کرامت وو.

(۲)دویم قول دادي چه ددینه مرادحضرت جبرائیل علیه السلام دي،چه هغه په دغه موقعي باندي حاضروو،او علم من الکتب نه مرادعالم کیدل دهغه دی په علومودوحی باندي،ځکه چه حضرت جبرائیل علیه السلام په نزول دوحی باندي مقرردي،اونزول دوحی مستلزم دي علم لره په هغي باندي،اوحضرت جبرائیل علیه السلام ته الله ﷻ داطاقت ورکړیدي چه ډیرلوئ اودروند څیزدسترګوپه رپ کښ دیولري ځائ نه بل لري ځائي ته اورسوی،اودي قول ته حضرت الشیخ رحمه الله ترجیح ورکړیده.

(٣)دريم قول دادي چه دَدينه مراد پخپله سليمان عليه السلام دي اوتعين په موصول سره دپاره دَاظهاردَشرف اوعظمت دَعلم دي اوعلم من الكتب نه مرادعلم په زبوراونوروصحائفوباندي دي،او﴿أَنَا ءَاتِيكَ﴾سره خطاب عفريت جنى ته دي،يعنى هركله چه عفريت اوئيل چه تخت بلقيس به دَمجلس دَختميدلونه مخكښ څه رااورسوم اوځه ډيرطاقتوريم،نوسليمان عليه السلام ده ته په جواب کښ اوئيلوچه دَعلم اونبوت په وجې سره الله تعالىٰ ماته ستانه زيات قوت راکړيدې چه ځامعجزه ده چه داتخت څه دَسترګوپه رپ کښ رارسولې شم،دې قول ته امام رازى رحمه الله ترجيح ورکړيده،

﴿فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ﴾يعنى سليمان عليه السلام خپلې سترګې پټې کړې اوچه بيائې کولاؤکړې نوتخت ورته مخې ته پروت وو،اوداتخت څرنګه راغلې وو،دَزمکې دَلاندې ياپه هواباندې راغلې وو،دواړه اقوال پکښ راغليدى ليکن اکثرمفسرين فرمائى چه په زمکه کښ ته راغلې وويعنى دَزمکې دَلاندې نه راغلې وو،نوکله چه سليمان عليه السلام تخت په خپل مخامخ اوکتلونودَاداء شکردَپاره ئى اوفرمائيلوچه﴿ هَـٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى ﴾من تبعيضيه دي يعنى دومره لوئى تخت دَدومره لرې ځائې نه په لږوخت کښ رارسيدل محض دَالله تعالىٰ په فضل سره دى،اوالله تعالىٰ په ماباندې ډيرنعمتونه کړيدى په هغې کښ يونعمت داهم دي﴿لِيَبْلُوَنِىٓ ءَأَشْكُرُ ﴾ يعنى پدې انعاماتوسره مقصودځماامتحان اغستل دى،چه څه دَالله تعالىٰ شکراداکوم اوکه دَهغه ناشکرى کووم﴿وَمَن شَكَرَ ﴾يعنى دَهرعمل فائده اونقصان عمل کوونکى ته رسى نوکه يوکس دَالله تعالىٰ دَنعمتونوشکراداکړى نوخپل ځان ته فائده رسوى ځکه چه دَ ه په ذمه شکراداکول حق واجبه وونواداشکرسره خپله ذمه ئې خلاصه کړه اودغه شان وئيلې کيږى،الشكر قيد النعمة الموجودة وصيد النعمة المفقودة،يعنى شکرموجوده نعمت دَشکرکوونکى سره پاتې کوى اوغيرموجودنعمت ښکارکوى،شکردَزيادتى دَنعمت ذريعه ده.

﴿وَمَن كَفَرَ ﴾دکفران نعمت نقصان هم انسان ته دي،په شکراداکولوسره دَالله تعالىٰ په خدائى اوعظمت کښ زياتوالې نه راځى،اودَهغه په ناشکرئ سره دَالله تعالىٰ په عظمت کښ څه کمى نه راځى،يعنى الله تعالىٰ غنى بې پرواه ذات دي او کريم دي چه دَناشکرئى باوجودپه انسان باندې مسلسل نعمتونه کوى.

﴿قَالَ نَكِّرُوْا لَهَا ﴾سليمان عليه السلام حكم اوكړو چه دَبلقيس دَتخت هئيت بدل كړئي تنكير دېته وئيلې كيږى چه دَيو څيزپه هيئت اوصورت كښې داسې تبديلى راويستلې شى چه ناآشنابنكاره شى اوپيژندلو كښې ئې مشكلات پيداشى اوداتبديلى بعض فرمائى چه داسې راويستلې شوې وه چه دَتخت دلاندې طرف پاسه كړې شو اوپاسه طرف لاندې كړې شو ،اوبعض فرمائى چه ملغلرې پكښې بدلې كړې شوې وې،دَسروجواهروپه ځائې په كښې شنه اولګولې شو اودَدې تغيرنه مقصددَبلقيس دَعقل امتحان اغستل وواودَهغې استعدادمعلومول وو،چه بياسليمان عليه السلام دَهغې سره دَهغې دَعقل اواستعدادمطابق خبرې اوكړى،ځكه چه دَهرانسان سره دَهغه دَعقل موافق خبرې كول پكاروى،.﴿أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ﴾ يعنى دَدې نه،به خودبخوددَدې عقل اواستعدادمعلوم شى.

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ اَهٰكَذَا عَرْشُكِ ؕ قَالَتْ كَاَنَّهٗ هُوَ ۚ

نوكله چه بلقيس راغله ورته اووئيلې شوآياداشان دي تخت ستا،هغې اووئيل لكه چه هم هغه دي،

وَاُوْتِيْنَا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ۞۴۲ وَصَدَّهَا

اوراكړې شويدې مونږته علم په نبوت دَسليمان عليه السلام مخكى دَدېنه اووُومونږمسلمانان اومنع كړې وه (دالله تعالى دعبادت نه) بلقيس

مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ۞۴۳ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِى الصَّرْحَ

هغې څيزونو چه عبادت ئې كولوماسوى دَالله جل جلاله نه بې شكه دا وه دَقوم كافرانونه اووئيل شول دېته داخله شه بنګلې ته

فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ

نوكله چه بلقيس اوليدله شيشه ګمان ئې پرې اوكړودا وبواوپاينڅې ئې اوچتې كړى دَخپلوپندونه اووئيل سليمان عليه السلام دابنګله ده

مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ قَالَتْ رَبِّ اِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ وَاَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ

جوړه شويده دَشيشونه،اووئيل بلقيس اې ربه بيشكه ماظلم كړيدې په خپل ځان اواسلام مې راوړيدې دَسليمان عليه السلام سره

لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞۴۴

په الله رب العالمين.

﴿فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ﴾همزه استفهاميه ها حرف تنبيه كاف تشبيهي او ذا اسم اشاره ده،يعنى چه كله بلقيس رااورسيدله اوسليمان سره تخت طرف ته كيناستلودپاره راغله نودخبروشروع كولونه مخكښې ددې داستعدادمعلومولودپاره ديته اوئيلې شوچه آياستاتخت ددې تخت پشان دې؟ اوسليمان عليه السلام استفهام اوتشبيه دواړه ذكركړواواكتفاء ئې صرف په استفهام اونكړه چه داسې ئې وئيلې وې،چه﴿هذا عَرْشُكِ﴾يعنى ستاتخت دادې؟ ځكه چه مقصود دسليمان عليه السلام ددې امتحان اغستل وواودې استعدادمعلومول وو،نودتشبيه په صورت كښې اشتباه زياته وه په نسبت سره غيرتشبيهي كلام ته،ځكه چه بغيردتشبيه نه،صرف استفهام كله كله دلالت په تلقين كوى.

﴿قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ﴾اكثرمفسرين فرمائى چه بلقيس خپل تخت اوپيژندلوخوبياهم دسليمان عليه السلام داشتباهي سوال په جواب كښې دهغه دمطابقت دپاره اشتباهي كلام ذكركړو،نوځرنگه چه سليمان عليه السلام په بلقيس باندې اشتباه دپاره تشبيهي كلام ذكركړې وونودغه شان بلقيس هم په سليمان عليه السلام باندې اشتباه راوړلوكوشش اوكړو،يعنى گوياچه داخوهغه تخت دې چه ماپه خپلې علاقې كښې پريخې وو،اوابن المنير رحمه الله فرمائى چه دبلقيس دجواب دهغې په عقلمندئى باندې دال وو،ځكه چه هغې په خپل جواب كښې دتخت ددوه(۲)څيزونو اعتبار اوكړو(۱)يودأصل مادې اوبل(۲)دموجوده تبديل هيئت اوددې وجې نه بلقيس دسليمان عليه السلام په جواب كښې"نعم"اونه وئيلو،نوددې دجواب خلاصه داده چه دأصل په اعتبارسره خوتخت هغه دې چه كوم ماپريخې وو،البته تبديلى دهيئت پكښې راغليده اوبعض فرمائى چه بلقيس خپل تخت نه وؤپيژندلې ابتداءً نوځكه ئې اوئيل چه﴿كَأَنَّهُ﴾اوبيائې تامل اوفكراوكړونواوپيژندلونودتيقن دپاره ئې اوئيل چه هُوهچه هاؤداخوهغه دې.

﴿وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا﴾غوره قول دادې چه داكلام دبلقيس دې اوهركله چه دسليمان عليه السلام مقصددتخت راوړولونه،دالله تعالى قدرت اودخپلې معجزې اظهاروونوددې وجې نه بلقيس ده ته اوئيلوچه ځماتخت راوړل هم اگرچه ستادنبوت لوئى دليل دې خوماته ستادنبوت حق اليقين ددينه مخكښې حاصل شوې وو،اوداپته ماته دهدهدخط راوړلواوبياسفيران راتلل اودهغوئى نه ستاحالات اوريدلوسره لگيدلې وه چه ته دالله تعالى برحق نبى ئې.

﴿وَكُنَّا مُسْلِمِينَ﴾ یعنی مونږ دَاسلام اوستاذ تابعدارئی او دَانقیاد په اراده راروان شوی یو.

تفسیر عثمانی کښې دی چه مسلمین نه مراد ظاهری انقیاد دې، او په ﴿وَأُوتِينَا الْعِلْمَ﴾ کښې مراد علم په نبوت ندې بلکه علم په قدرت او په عظیم سلطنت دې، یعنی بلقیس چه کله دَهدهد دَخط راوړلو منظر او کتلو او بیائې دَسفیرانو نه، دَسلیمان علیه السلام حالات واوریدلو چه سلیمان علیه السلام بادشاهی صرف په انسانانو نه بلکه جناتو، وحوش طیورو ټولو باندې ده، نو داپېدې خیال راروانه شوه چه داخویو قاهر بادشاه دې نو لهذا دده سره صلح او انقیاد پکار دې، نو دَ﴿مُسْلِمِينَ﴾ نه مراد منقادین دی او دَسلیمان علیه السلام دَتخت راوړلو نه مقصد دیته شرعی هدایت ورکول وو، خو هرکله چه دې دَتخت راوړلو حقیقی مقصد او نه پیژندلو نو سلیمان علیه السلام دیته تعلیم ورکولو دَپاره دویمه طریقه اختیار کړه چه هغه دې دَپاره دَشیشو محل جوړول وو چه تفصیل ئې راروان دې.

﴿وَصَدَّهَا مَا كَانَت﴾ دا جواب دَیو سوال دې، سوال داوو، چه هرکله بلقیس دومره عقلمنده ښځه وه چه دَقرائینو نه ئې پته اولګوله چه داتخت دَدې دې، دغه شان سلیمان علیه السلام ته دَهغه دَسوال مطابق جواب ورکول وغیره دَدې دَعقلمندئې ثبوت دې، نو ددومره عقل باوجود دې بیاشرک ولې اختیار کړو؟ نو جواب ترینه اوشو چه دَغیرالله عبادت دَدې عادت ګرځیدلې وو، او شرک دَدې نظریه جوړه شوې وه، نو دَالله ﷻ دَقدرت په دلائلو کښې سوچ کولو موقعه ورته نوې میلاؤشوې ځکه چه دَدې سره ګیرچاپیره ټول ماحول دکفر او شرک وو، نو ځکه دې ایمان نه وو راوړې، اګرچه دا عذر شرعی ندې، نو پېدې توجیه سره ﴿مَا كَانَت﴾ کښې ما مصدریه ده او دا ټوله په تاویل دَمصدر سره فاعل واقع شویده دَ﴿صَدَّ﴾ فعل دَپاره او بعض فرمائی چه دَ﴿صَدَّ﴾ دَپاره فاعل سلیمان علیه السلام دې او ﴿مَا كَانَت﴾ په معنی دَعن ماکانت سره دې، دَ آیت مطلب دادې چه منع کړه سلیمان علیه السلام دَعبادت دَهغې نه چه ماسیوا دَالله ﷻ نه دې عبادت کولو لیکن اوله توجیه زیاته غوره ده.

﴿إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ﴾ دا علت دې دَماقبل یعنی عبادت لغیرالله دَپاره، ای انها کانت من قوم راسخین فی الکفر ولذالک لم تکن قادرة علی اظهار اسلامها (ابوسعود) پدې کښې اشاره ده چه انسان کوم ماحول کښې پاتې کیږی نو دَهغې ماحول اثر په ده باندې کیږی، او دَهغې ماحول طور طریقې دَده عادت جوړیږی.

﴿قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِي ٱلصَّرْحَ ﴾سليمان عليه السلام جناتوته،حكم اوکړوچه یوداسې عظیم الشان محل جوړکړئی چه فرش اولاړې ئې دَشیشووی،اودَهغې دَلاندې دَاوبوحوضونه وی. نودَسلیمان علیه السلام دَحکم مطابق جناتومحل تیارکړوچه صحن اولاړې ئې دَشیشواولاندې ترینه حوضونه وو،چه په هغې کښ ماهی وغیره وو،نوبلقیس ته اوئیلې شوچه دې محل ته داخله شه،نوداچه داخلیده نوخپلې پاینچې ئې اوچتې کړې،پدې خیال چه دااوبه دی،اودَدې پنډئی ښکاره شوې نوفوراًسلیمان علیه السلام دیته اوئیلوچه دادَشیشونه جوړشوې محل دې یعنی لاندې اګرچه اوبه دی خوپاسه پرې شیشه ده.

حضرت سلیمان علیه السلام داتدبیراوعمل ولې اوکړو؟ نوعام مفسرین فرمائی چه سلیمان علیه السلام دیته دَخپلې بادشاهئ عظمت ښودلواودَالله ﷻ دَنعمتونواظهارئې کولوچه څه ستامال ته محتاجه نه یم دَدغموبادشاهانوپشان بلکه څمامقصودستاسوایمان راوړل اودَالله ﷻ دین غالب کول وو،اوبعض فرمائی چه سلیمان علیه السلام مقصوددیته دَدې خبرې تعلیم ورکول ووچه زنانه که هرڅومره عقلمنده شی خوبیاهم کمزورې اوپه عقل کښ ئې فتوروی نودَدومره عقل باوجودته په دینی معامله کښ غلطه شوې وې اوشرک دې اختیارکړې وولکه څرنګه چه دلته غلطه شوې،خوپه ټولو توجهیاتوکښ بهترین توجیه دَحضرت عثمانی رحمه الله ده،هغه وائی چه دَدی مقصد دهغی ایمان راوړل وؤ،اوپدی خبره تنبیه وه چی نور او سپوږمئ عبادت کول دهغی خکلی والی نه متاثره کیدلو په وجه داسی دهوکه ده،لکه څنګه چه دلته دهوکه شوه.اوشیشی ئی دَ اوبوګمان اوکړو،اودیته قریب قریب توجیه دَحضرت الشیخ رحمه الله ده،هغوئی فرمائی چه کله بلقیس خپلې پائنچې اوچتې کړې نو فوراً سلیمان علیه السلام ورته اوفرمائیلوچه داخوشیشومحل دې نودیته ندامت سره سره دَخپلې سابقه غلطئ احساس هم اوشوچه لکه څرنګه دلته څه په غلطئ کښ ووم نودغه شان هلته هم څه په یوې لوئی غلطئ کښ پرته ووم چه په شرک کښ مبتلاوم.

اوکوموخلکوچه وجه بیان کړیده چه سلیمان علیه السلام دَدې پنډئ کتلې چه ویښته پرې شته دې اوکنه؟ نودې چه پائنچې اوچتې کړې نوپنډیوباندې ئې ویښته وو،نوانسانانوسلیمان علیه السلام ته دَأسترې استعمالولومشوره ورکړه،سلیمان علیه السلام دې دَپاره استره خوښه نکړه،جناتوته هم دَدې ویښتوختمولوڅه طریقه نوه معلومه،نوبیاسلیمان علیه السلام دَشیاطینونه،تپوس اوکړونوهغوئی ورته دَنورې بال صفامشوره ورکړه اودَهغې وخت نه دَبال صفاایجاداوشو،داټولې غلطې خبرې دی

دانبیاء کراموډشان سره غیرمناسب بلکه سراسرمخالف دی اګرچه شریعت کښې دنظرالی المخطوبه ګنجائش شته دې.

﴿حَسِبَتۡهُ لُجَّةً ﴾ لجه ونیلې کیږي ډیرواوبوته یعنی غلي ﴿قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي﴾یعنی ما په شرک سره په ځان باندې ظلم کړیدې،نودااعتراف دغلطئ اودجرم دې، ﴿وَأَسۡلَمۡتُ مَعَ سُلَيۡمَٰنَ﴾مع سلیمان نه مرادمع اتباع سلیمان دې،حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه کامسلمین کښې اخبارد ایمان وو ،اوپدې جملې سره مقصودانشاء دایمان دې،یعنی اصل ایمان بلقیس پدې جملې سره راوړو ،تفسیر عثمانی نه معلومیږی چه ماقبل کنامسلمین،سره مرادلغوی معنی مرادوه،چه انقیادوودسلیمان علیه السلام اوپدې جملې سره مقصوداسلام شرعی دې یعنی ایمان،اوددې وجې نه چه ماقبل کښې د مسلمین نه مرادانقیاددسلیمان علیه السلام وواوهغه انقیاددټولو اهل مملکت په مشورې سره وو ،نوځکه مسلمین جمع اوئیلې شوه،اودلته چونکه اسلام شرعی او ایمان مراددې چه هغه دهرانسان دزړه سره تعلق لری اوقلبی عمل دې،نوددې وجې نه دلته صیغه دواحدمتکلم ذکرشوه اودغه شان پدې ایت کښې اشاره ده چه ایمان هغه معتبردې چه دپیغمبر دتعلیماتو موافق وی اودهغه اتباع پکښې وی.

فائده نمبر(۱)پدې ایت کښې دلیل دې چه دمکان زیبائش اوپه هغې کښې اسباب دارائش جوړول جائزدی اوبیاخاص طورباندې دضرورت په مواقعوکښې خلاف تقوی هم ندی.

فائده نمبر(۲):قرآن مجید کښې دسلیمان علیه السلام اودبلقیس واقعه صرف دومره حدپورې ذکرده چه بلقیس ایمان راوړلو ،ددینه ورستوځه حالات راغلیدی اوبلقیس سره دسلیمان علیه السلام نکاح شویدې یانه؟ قرآن اوحدیث کښې ددې تصریح نیشته دې،البته تاریخی روایاتوکښې دی چه سلیمان علیه السلام ددې سره نکاح اوکړواوخپلې علاقې یمن ته ئې واپس اولیږله اودخپل قوم په مشرئی باندې برقراره پریخودله اوسلیمان علیه السلام به په هرمیاشت کښې درې(۳)شپې ددې سره تیره ولې،نوکچرې داتاریخی روایت ثابت شی نوددې نه دښځې په حکمرانئ په جوازباندې استدلال کول ځکه باطل دی چه د(۱)بلقیس حکمرانی تامه اوعامه نه وه،بلکه دیومخصوص علاقې مشره وه اودسلیمان علیه السلام دحکم پابنده وه خپل حکم ئې نه چلیدلو(۲)اودغه شان زمونږپه دین کښې

دَبنحوپه حکمرانئ باندې سخت وعيد راغليدې اوشرائع من قبلنا هغه وخت کښې دليل گرځي چه په هغې باندې من جانب الشارع نکيرنه وی واردشوې.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ
[1] اويقيناًمونږليږلې وؤقوم ثمودته ورورددوئ صالح چه عبادت کوئ صرف دَالله ﷻ پس دوئ دوه ډلې شوې
يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ
چه جګړې ئې کولې، اووئيل صالح اې قومه څماولې جلدی کوئ په عذاب په ځائې دَعافيت
لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ
ولې مغفرت نه غواړئ دَالله نه چه په تاسو رحم اوکړې شی، دوئ اووئيل بدفالی نيولی ده مونږ په تا او په هغه چا تا سره دی،
قَالَ طَٰٓئِرُكُمْ عِندَ اللَّهِ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾
اووئيل صالح عليه السلام بدفالی ستاسو الله ﷻ سره ده،بلکه تاسويوقوم يئ چه په فتنه کښې اچولې شئ

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ﴾دادريم واقعه ده چه متعلقه ده دَدويمې دعوې سره،يعنی کارسازاومتصرف صرف الله ﷻ دې،دَصالح عليه السلام دَقوم مؤمنانوته،نجات ورکول اومنکران هلاک کول دَالله ﷻ تصرف وو،صالح عليه السلام الله ﷻ قوم ثمودته ليږلې وو،چه هغوئی مشرکين وو،صالح عليه السلام هغوئی ته دعوت الی التوحيد ورکړو چه﴿أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ﴾دا په معنی دَ وحدہ لا شریک اللہ سره دې،يعنی صرف اوصرف دَالله ﷻ عبادت کوئی،دَهغه سره څوک شريک نيشته دې.

﴿فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ ﴾فاء مفاجاتيه ده،يعنی يکارخوداوه چه دوئی ټولودَحضرت صالح عليه السلام خبره منلې وې،ليکن دوئی په دوه«۲»ډلوکښې تقسيم شو،يوه ډله دَمؤمنانومستضعفين وه،اوبله ډله دکافرانومستکبرين وه،اوفطری خبره ده چه دَډلوپه خپل مينځ کښې بحث مباحثې اوجهګړې هم کيږی نودغه شان دَحضرت صالح عليه السلام په قوم کښې هم شروع شو، نو دَ ﴿يَخْتَصِمُونَ﴾مقصددادې

---

[1] دريمه واقعه،دويمې دعوی سره متعلقه

چه یودبل سره جهګړې اوبحث مباحثې ئې کولې اودَدوئی دَجهګړې ذکرپه سورة الاعراف ایت نمبر(۷۵، ۷۶)کښې شویدې.

﴿قَالَ يَٰقَوۡمِ لِمَ﴾دَحضرت صالح علیه السلام دَدعوت په جواب کښې اوداوښې دَهلاکت نه ورستودَعذاب مطالبه اوکړه اودائې اوئیل چه یاصالح ائتنابماتعدنا الخ (اعراف:۷۷)یعنی اې صالح کچرې ته ریښتونې ئې نوپه مونږباندې عذاب راوله نوصالح علیه السلام دوئی په شفقت اومحبت سره پوهه کړل چه اې قومه!تاسوعذاب ته تادی اوجلتی ولې کوئ،اوتاسودَتوبې اوایمان راوړلونه مخکښې ولې عذاب غواړئی؟نودَ﴿بِٱلسَّيِّئَةِ﴾نه مرادعذاب دې اودَ﴿ٱلۡحَسَنَةِ﴾ نه مرادتوبه اوایمان دې.

اوکه څوک اشکال اوکړی چه دَحضرت صالح علیه السلام زجرمقیددې په قیددَ﴿قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ﴾سره چه دَدې دَظاهرنه دامعلومیږی چه که﴿قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ﴾نه وی نوبیااستعجال دَعذاب صحیح دې؟

(۱)نویوجواب ترینه داکړې شویدې چه دلته قبل دَقبلیت زمانی دَپاره ندې،بلکه دَقبلیت رتبی دَپاره دې چه دَهغې ترجمه په ترجیح ورکولوسره کیږی،لکه وئیلې کیږی،صحة البدن قبل کثرة المال

(۲)اوبل جواب ترینه دادې چه داکلام دَدوئ دَیوغلط خیال په ردکښې اوپه هغې باندې زجر اوانکاردَپاره راوړې شویدې،چه دَدوئی خیال داوواوپدې خیال به دوئی عذا ب غوختلواول خو عذاب نشی راتللې،اوکه بیاچرته عذاب راشی نومونږبه په عین موقعه باندې توبه اوکړواوایمان به راوړونودَدوئی دَدې غلط خیال په ردکښې داکلام صالح علیه السلام اوئیلو.

﴿لَوۡلَا تَسۡتَغۡفِرُونَ ٱللَّهَ﴾یعنی دَنزول دَعذاب نه مخکښې مخکښې استغفاراوکړئی اودشرک نه توبه اوباسئ ځکه چه دَالله تعالیٰ قانون اوسنت دادې چه دَنزول عذاب نه مخکښې توبه قبلوی اورحم کوی اونزول دَعذاب نه ورستوبیاتوبه نه قبلوی.

﴿قَالُواْ ٱطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ﴾دَحضرت صالح علیه السلام دَقوم په منکرینوباندې دَهلاکت دَعذاب نه علاوه،قحط سالئ اوخشک سالئ وغیره صورت کښې الله تعالیٰ واړه واړه عذابونه هم راویستلې وو،دې دَپاره چه دوئ عبرت حاصل کړی اوالله تعالیٰ طرف ته توجه اوکړی خوهغوئ الله تعالیٰ ته توجه کولوپه ځائې یوه انتهائی غلطه عقیده اختیارکړه اوغلطه اوفاسده خبره ئې اوکړه چه داڅومره

سختیاني او مصائب چه مونږ ته رارسیږي داستاسو سپیره والي دي، کوم وخت نه چه تاسو نوي دین شروع کړیدي نو مونږ په تکلیفونو کښې مبتلا یو.

﴿قَالَ طٰٓئِرُكُمْ﴾ یعني نحوست او سپیره والي دچا دوجې نه نوی، ستاسو د مصائب او د تکالیفو سبب ستاسو بدعملونه دی، چه دغې بدعملونو اثر په دنیا کښې دادې چه د الله ﷻ د طرف نه قضء دشر په تاسو باندې نازلیږي، نو اکثر مفسرین فرمائي چه دلته طائر په معنی د قضاء الشر ده او قضاء چونکه ډیر په تیزئ سره راځي لکه وئیلې شي لاشئ اسرع من قضاء محتوم یعني د قضاء نه تیز بل شې نیشته دي نو ددې وجې نه قضاء ته کله کله تعبیر په طائر سره اوشي.

﴿بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ﴾ دا په معنی د معذبون سره دي یعني بل انتم قوم معذبون ، او یا مقصد دادې چه یفتنکم الشیطان بوسوسته الیکم الطیرة یعني شیطان تاسو په فترینه اودهوکه کښې مبتلا کړې یئ، چه تاسو دخپلو بداعمالو د انجام نه ناخبره اوددغې عذابونو نسبت حضرت صالح علیه السلام او دهغه ملګروته د نحوست په طور کوئ.

وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُوا
اوو وه په (ښار د ثمودیانو) کښې د نهه کسانو جماعت چه فساد به ئې کولو په زمکه کښې او اصلاح ئې نه کوله دوئ اووئیل
تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ
قسمونه ئې اوخرئ په الله ﷻ چه خامخا شپې به حمله کوؤ مونږ په صالح علیه السلام او په اهل دده بیا به وایوولی دده ته
مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوا مَكْرًا
چه نه وؤ موجود مونږ په ځائ د هلاکت د اهل دده کښې او بیشکه مونږ رشتني یو، او تدبیرئې جوړ کړو په تدبیر جوړلو سره
وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٠﴾ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ
او مونږ تدبیر جوړ کړو په تدبیر جوړولو سره او دوئ نه وؤ خبر. پس اوګوره څنګه وؤ انجام د تدبیر د دوئ
أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا
چه بیشکه مونږ هلاک کړل دوئ او قوم د دوئ تول، پس دغه د دوئ کورونه دي غورځیدلي په سبب د ظلم د دوئ،

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾ وَأَنجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾
بیشکه پدیکښې دلیل دعبرت دي لپاره دهغه قوم چه پوهیږي اوونجات ورکړومونږ ایمان والوته اودوئ یریدل دالله ﷻ نه

﴿وَكَانَ فِي الْمَدِينَةِ﴾ دحضرت صالح علیہ السلام دقوم په شهریعنی حجرکښې نهه(۹) کسان لوئی لوئی بدمعاشان وو، چه ډیرسخت لوفران اوهرقسم بدکارونه پکښې موجودوو، شرک، زناکاری، سود، غلا، ډاکه وغیره غلط کارونه به ئې کولو، اوقرطبی وغیره حضرات فرمائی چه ددوئ مشرقداربن سالف وو، اوداهغه بدبخته ووچه دصالح علیہ السلام اوښه ئې قتل کړې وه، نوکله چه دوئ اوښه قتل کړه نوصالح علیہ السلام دوئ ته اوفرمائیلو چه ﴿تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ﴾ چه ددرې(۳) ورځونه پس به په تاسوباندې عذاب راځی، نودې نهه کسانو په خپل مینځ کښې مشوره اوکړه چه کچرې داصالح علیہ السلام یقیناً پیغمبروی نوعذاب به په مونږباندې خامخاراځی نومونږبه دخپل هلاکت نه مخکښې دحضرت صالح علیہ السلام نه خپل بدل واخلواوکه پیغمبرنه وی اوعذاب رانشی نومونږبه ورنه په ارام شونودوئ منصوبه جوړه کړچه دشپې په وخت کښې په ده باندې اودده دکورنئ په کسانو باندې حمله اوکړواودې به سره دکورنئ نه، مړکړو، اوکه دده وارث په مونږباندې دعوی دقتل اوکړی نومونږ په انکاراوکړو، چه مونږنه یوخبر، نودمنصوبې مطابق دوئ دشپې په وخت کښې حضرت صالح علیہ السلام باندې دحملې په نیت لاړوخوالله ﷻ دحضرت صالح علیہ السلام حفاظت دملائکو په ذریعې سره اوکړو.

﴿تِسْعَةُ رَهْطٍ﴾ رهط اسم جمع ده اطلاق ئې ددرې(۳) نه ترلسو(۱۰) پورې کیږی نودانهه کسان وو، اودوئ دپاره د رهط لفظ استعمالول یاددې وجې نه ووچه دوئ دخپلو قبیلو مشران وواودمال اودولت دوجې نه، ددوئ متبعین ډیروونوځکه هریوکس ته مستقلاً رهط اوئیلې شواویا رهط یوکس دپاره ددې وجې نه استعمال شوچه دهریوکس فساددومره عظیم اوزیات وولکه دیوپوره جماعت فساداوشی، یعنی هریوکس په شراوفسادکښې په منزله درهط وو.

﴿يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ﴾ مرادترینه شرک، قتل، ډاکې وغیره دی ﴿وَلَا يُصْلِحُونَ﴾ داتاکیددې دماقبل دپاره، اوپدیکښې اشاره ده چه دهغوئ سره دخپل اصلاح احساس نه وو او دا بدکارونه دهغوئ عادت مستمره ګرځیدلې وو. ﴿قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ﴾ دادهغوئ دفسادیوه نمونه

ذکرکیږی،چه دوئ دَحضرت صالح علیه السلام دَقتل یوه مضبوطه منصوبه جوړه کړه تقاسموا دَباب تفاعل نه امر دې، اومقوله ده دَقول دَپاره، یعنی دوئ په خپل مینځ کښ اعتماد دَپاره دااوئیلوچه په الله تعالیٰ باندې قسمونه، اوخورئ، او ﴿لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ﴾ورله مقسم له دې، یعنی دې دَپاره قسمونه اوخورئ چه مونږ تول به دَشپې په وخت کښ په حضرت صالح علیه السلام اودَهغه په کورنئ باندې حمله کوو، اویادا صیغه دَماضی ده دَباب تفاعل نه، اوبدل دې دَ قالوا نه یعنی دوئ اوئیلو . اوددوئ وئیل په الله تعالیٰ باندې قسمونه خوړل وواویاحال دې دَ قالوا دَضمیرفاعل نه په تقدیردَ قد سره یعنی قالواحال کونهم متقاسمین علی الله لنبیتنه واهله الخ.

﴿ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ﴾مرادترینه دَصالح علیه السلام ولی یعنی دَهغه ورثاء دی، یعنی دوئ په خپل مینځ کښ قسمونه اوکړل چه مونږبه صالح علیه السلام اودَهغه کورنئ والابه قتل کړواوبیاچه کله ورثاء دَهغه په مونږباندې دعوه دَقتل اوکړی نودوئی سره به گواهان نه وی، نومونږباندې به قسم راځی نومونږبه ورته قسم اوکړوچه مونږدَصالح علیه السلام دکورنئ قتل ته، نه یوحاضرشوی مهلک یاپه معنی دَمصدرسره دې، یعنی اهلاکهم اویاظرف مکان یازمان دې.نونفی دَظرفیت سره نفی دَنفس فعل په طریق اولی سره راځی.

﴿وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ﴾ یعنی مونږبه خپلوخبروکښ رېښتونی یو، یعنی مونږبه نه حانث کیږو، اوخلک به راته دروغژن نه وائی، اودوئ ځان ته رېښتونی په دې اعتبارسره اوئیلوچه حیله ئې جوړه کړه، اوصورت دَحیلې ئې داووچه قتل نه مونږ صالح علیه السلام اودهغه اهل دواړه کړو، اوبیابه قسم داسی اوخورچې مونږدهغه اهل دَهلاکت په موقع موجودنه وو.نودروغ ژن به نشوځکه چې مونږ خوصرف دَهغوئ هلاکت په موقع نه وؤموجود، بلکه داخودواړو هلاکت موقع وه.

﴿وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا﴾ مکراً مفعول مطلق دې تنوین پکښ دَپاره دَتعظیم اوتفخیم دې، یعنی دوئی دَصالح علیه السلام دَقتل یوه لویه منصوبه جوړه کړه، اوالله تعالیٰ فرمائی﴿وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا﴾یعنی مونږدَ صالح علیه السلام دَبچ کیدلواودَدوئ هلاک کولوفیصله اوکړه، اوروایاتوکښ دی چه دوئ دَصالح علیه السلام دَقتل دَپاره دَشپې په وخت کښ اووتلو، صالح علیه السلام به دَعبادت دَپاره یوځائ ته تللو، په لاره کښ به غاروو، دوئ په هغې غارکښ پدې انتظارپټ کیناستلوچه حضرت صالح علیه السلام به پدې لاره تیریږی

نو مونږ به ئې قتل کړو، نو الله ﷻ په غاربانديِ يو لوئ کاڼړي راواوغورځولو چه دوئ په غار کښې دننه پاتې شولو او هلاک شولو، او ابن عباس علیه السلام فرمائي چه دوئ صالح علیه السلام ته رسيدلو وو، صالح علیه السلام په دغه وخت کښې مونځ کولو، الله ﷻ دملائکو په ذريعې دصالح علیه السلام حفاظت اوکړو، ملائکو دوئ په کاڼړو بانديِ اويشتلو او دوئ هلاک شولو، او باقي قوم بيا الله ﷻ دصيحې په عذاب سره هلاک کړو.

﴿فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ﴾ داخطاب هرمخاطب ته دې، او دهغوئ دمکروفريب انجام بيانيږي، "کيف" خبرمقدم د "کان" دې، او "عاقبة امرهم" اسم دې، اى کان کيف عاقبة امرهم، او ابهام دپاره د تهويل شان دې، يعني د دوئ مکرانجام ډيربدترين او سخت ترين وو، او ﴿أَنَّا دَمَّرْنَٰهُمْ﴾ بيان د انجام د دوئی دمکرديِ او په ﴿دَمَّرْنَٰهُمْ﴾ کښې ضمير راجع دې نهه (۹) کسانو ته، نو دغې نهه (۹) کسانو، هلاکت جدا ذکر کول او دقوم هلاکت جدا ذکر کول پديکښې اشاره ده چه د دوئ عذابونه هم جدا جدا وو، يعني دا نهه (۹) کسان په جدا عذاب سره هلاک کړې شوى وو، او قوم په جدا عذاب سره، تفصيل ئې لږ مخکښې تيرشو.

﴿ فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةًۢ ﴾ تلک سره اشاره ده هغې کنډراتو ته کوم چه دمکې او دشام په لاره کښې وو، او دعربو تجارتي قافلې به په هغې تيريدلې ﴿خَاوِيَةًۢ﴾ دوه (۲) معنوسره راځي، په معنى دخالي سره چه کله ماخوذشي وه "خوى البطن" نه او په معنى ده "ساقطة" سره راځي چه ماخوذ شي د "خوى النجم" نه دلته ترينه دواړه معاني مرادکيدې شي ﴿بِمَا ظَلَمُوٓاْ ﴾ "باء" سببيه او "ما" مصدريه ده اى بسبب ظلمهم او پديکښې اشاره ده چه ظلم سبب دبربادئ او تباهئ دملکونو دې.

﴿وَأَنجَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ صيغه دجمع متکلم دتعظيم دپاره راوړې شويده، دامقصود بالواقعه ذکرکيږي چه کفارهلاک کونکې اومؤمنانو ته نجات ورکونکې صرف الله ﷻ وو، حضرت صالح علیه السلام سره نجات موندونکو او مؤمنانو ملګروتعداد په دغه وخت کښې دېوروايت مطابق څلورزره (۴۰۰۰) او دبل روايت مطابق يوسل شل (۱۲۰) وو، ليکن غوره قول دادې چه يوسل شل (۱۲۰) خاندان وو چه په څلورزره (۴۰۰۰) افرادو بانديِ مشتمل وو.

دعذاب راتللووخت كښې حضرت صالح عليه السلام اودهغه ملګري كوم ځائې كښې وو؟ پديكښې اقوال متعددي دي(۱)بعض فرمائي چه دوئ په خپل ځائ كښې وو،په عذاب سره منكرين هلاک شولواودوئ محفوظ پاتې شولو(۲)علامه الوسی رحمه الله فرمائي چه مكې معظمې ته راغلی وو،اودصالح عليه السلام وفات هم په مكه كښې شوې وو،دكعبې سره قريب جانب غربي كښې مدفون دې(۳)خازن فرمائي چه رمله ته راغلی وو،(۴)عام مفسرين فرمائي چه حضرموت ته راغلی وو،اوحضرت موت ته ځكه حضرت موت وئيلې كيږي چه حضرت صالح عليه السلام چه دلته راغې نووفات شواوپدې علاقه كښې هم يوقبردې چه دهغې متعلق مشهورده چه دادصالح عليه السلام قبرمبارک دې.

وَلُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ
[1] اولېږلې وومونږ لوط عليه السلام كله چې اووئيل خپل قوم ته آياتاسوراتله كوئ بدكارئ ته اوتاسوپوهيږئ.آياتاسوراتلل كوئ
الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ
نارينوته په شهوت سره په ځائ دښځونه بلكه تاسوقوم جاهله يئ.پس نه وو جواب دقوم دهغه مګر
اَنْ قَالُوْٓا اَخْرِجُوْٓا اٰلَ لُوْطٍ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ
داچه اوئيل ئې اوباسئ آل دلوط دخپل كلی نه،بې شكه دوئ داسې خلق دي چه ځان پاک ساتي.پس بچ كړومونږلوط عليه السلام
وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۡ قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ
اواهل دده مګرښځه دده،مقدره كړې وه مونږ دادباقي پاتې كيدونكونه په عذاب كښې اووروولومونږپدوئ باران دكاڼو،
فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ
پس بدووباران دويرولوشو.اووايه ته اې پيغمبره! ټول ثناصفت الله ﷻ لره دي اوسلام دي په بندګانودده باندې هغه چه
اصْطَفٰى ۭ آٰللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾
غوره كړي ئې دي، آياالله ﷻ غوره دې اوكه هغه بتان غوره دي چه دوئ ئې شريكوي دالله ﷻ سره

[1] خلورمه واقعه دعوى ثاني سره متعلقه

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ﴾ داشپږمه واقعه ذکرکیږی چه دَدویمې دعوې سره متعلقه ده، چه لوط علیه السلام خپل قوم دَبداعمالو اوقبیح افعالونه منع کولولیکن قوم دَهغه خبره اونه منله، اوسرکشی ئې اختیارکړه، نوالله تعالیٰ منکرین هلاک کړل اومؤمنانوته ئې نجات ورکړو.

﴿وَلُوطًا﴾ منصوب دې په فعل مقدرسره چه "ارسلنا" دې اوداعطف دې په ﴿إِلَىٰ ثَمُودَ﴾ باندې، نوعبارت په اصل کښې داسې "ولقدارسلنالوطا" اویاداعطف دې په ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ باندې، اودَ ﴿وَأَنجَيْنَا﴾ تحت دې، یعنی وانجینالوطااذقال الخ.

﴿أَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ﴾ استفهام دَپاره دَزجر، توبیخ اوانکاردې او ﴿ٱلْفَـٰحِشَةَ﴾ نه مرادکامل فی الفحش عمل دې چه اغلام بازی ده. ﴿وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ﴾ داجمله حال واقع شویده دَضمیرفاعل دَ"تاتون" نه او ﴿تُبْصِرُونَ﴾ نه، یابصیرت قلبی مراددې په معنی دَعلم یعنی "تعلمون" سره، او مقصود پدې سره تاکیددې په زجراوانکارکښې، ځکه چه دَقبیح کارپه قبح باندې پوهه اوعالم کس لپاره قبیح کار کول ډیر بد اوشنیع وي په نسبت سره هغه کس ته چه هغه ته دَقبیح کاردَقبح علم نه وی نودَایت مقصد دادې چه تاسوبنه پوهیږئی چه داعمل ډیربد، اوشنیع عمل دې، څناورهم داکارنه کوی خوتاسوئې کوئ، یعنی دانسته طورباندې تاسوداعمل کوئی، اویا ﴿تُبْصِرُونَ﴾ نه بصارت حسی مراددې، اوفحاشت دَدې فحش عمل نازل کړې شویدې په منزله دَمحسوس باندې دَوجې دکمال ظهورنه، په فحاشت کښې، نومطلب دادې چه تاسوفحش کارکوئ حالانکه تاسوبنه ګورئی چه داډیربد، اوفحش عمل دې اویادَ ﴿تُبْصِرُونَ﴾ نه، بصارت حسی مراددې اومفعول به ورله "بعضکم من بعضٍ" دې ای تبصربعضکم من بعض، یعنی ستاسوبې حیائی دومره انتهاء ته رسیدلې ده چه دابې حیااوفحش کاردَیوبل په مخامخ کوئی، اودَیوبل نه پرده هم نه کوئ، لکه په سورة العنکبوت ایت نمبر(۲۹)کښې دی چه "وتاتون فی نادیکم المنکر".

﴿أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ﴾ دابیان دَ﴿أَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ﴾ دې، یعنی کمال فحش کاردادې چه تاسودَنارینوسره بدکاری کوئ محض دَشهوت پوره کولودَپاره، حالانکه دَشهوت پوره کولودَپاره الله تعالیٰ جائزه طریقه دَزنانوسره نکاح مقررکړیده ﴿شَهْوَةً﴾ مفعول له، دَاتیان دَپاره دې.

﴿مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ﴾ دون په معنی د متجاوزین سره دی، یعنی زنانه چه محل د شهوت پوره کولو دپاره دی، هغې نه تجاوز کوونکی یئ نارینو طرف ته، ﴿بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ﴾ بل یا د اضراب اویا د ترقی د پاره دې، او حکم په دوئ باندې د جهالت په اعتبار د عمل سره دې، او ما قبل کښې حکم د بصیرت قلبی او د پوهې والا په اعتبار د نفس علم او معلومات سره وو، یعنی د دې عمل په قباحت باندې ښه پوهه یئ، علم درته شته دې خو بیا هم عمل د جاهلانو کوئ او یا ﴿تَجْهَلُونَ﴾ په معنی د غافلون عن العاقبة سره دې، یعنی د دې کار د قباحت نه خبریئ خو د دې انجام نه ناخبره یئ. نو لهذا دا اعتراض نه وارد یږی چه ماقبل کښې حکم د ﴿تُبْصِرُونَ﴾ لګیدلې وو چه په معنی د تعلمون سره وو. او دلته حکم د ﴿تَجْهَلُونَ﴾ او لګیدلو نو په دواړو ایاتونو کښې تعارض دې.

فائده: په دې ایت کښې د اغلام بازئ عمل، قباحت او شناعت په مختلف تاکیداتو سره ذکر شویدې (۱) تفسیر بعد الابهام (۲) استفهام توبیخی (۳) حرف ان (۴) لام تاکیدی (۵) لفظ د رجال ذکر کول په ځائ د ذکران باندې (۲) تعلیل د اتیان ذکر کول په شهوة سره چه تنبیه ده په خطاء فی المحل باندې په فعل کښې (۷) ﴿دُونِ ٱلنِّسَآءِ﴾ ذکر کول چه تنبیه ده په خطاء فی المحل باندې په ترک کښې (۸) اضراب کول جهالت ته.

﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ﴾ د باطل پرستو عادت دا دې چه کله په دلیل کښې خاموش شی نو د حق منلو په ځائ په حق پرستو پورې توقې او په هغوئ باندې ظلم کوی، د حضرت لوط علیه السلام قوم نه هم د حضرت لوط علیه السلام د ناصحانه تبلیغ او مسکت دلیل په جواب کښې د هغه د علاقې نه د ویستلو مشوره اوکړه، او ویو بل ته نې د لوط علیه السلام د ویستلو د پاره غیرت ورکړو چه دا د بهرنه راغلې کس تاسو ته نصیحتونه کوی، او ستاسو عملونو ته بدوائی، او ددینه نفرت کوی، نو د قریې اضافت کم ته د پاره د توهین د لوط علیه السلام وو او خپلو کسانو ته نه غیرت ورکولو د پاره وو، چه علاقه ستاسو ده او دې د بهرنه راغلیدې او تاسو ته خبرې کوی، او دا کلام د دوئ چه ﴿إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ﴾ تعلیل دې د اخراج د پاره، یعنی دوئ ځانونه پاک ګنړی او مونږ او زمونږ عمل ته پلیت وائی نو پاک د پلیت سره په یو ځائ کښې وخت نه تیره وی نو لهذا دوئ دې زمونږ د علاقې نه لاړشی او دا خبره چه انهم اناس الخ دوئ بطور استهزاء کوله.

﴿فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ﴾لوط علیہ السلام ته الله تعالیٰ حکم اوکړوچه دَشپې شپې خپل اهل اومنوونکی کسان دَځان سره کړه اودَدې علاقې نه اوځئ،لوط علیہ السلام دَخپلوکسانوسره ابراهیم علیہ السلام ځائ ته راغلوصرف یوه بی بی ئې پاتې شوه چه کافره وه اګرچه فاحشه اوبدکاره نه وه.خودَخپل قوم محبت پرې دَالله تعالیٰ دَمحبت نه غالب وو،نوکفرئې اوکړواوهلاکه شوه او﴿ قَدَّرْنَٰهَا﴾په معنی دَ "قدرنا کونها" سره دې،ځکه چه تعلق دَتقدیردَافعالوسره وی،نه دَذواتوسره.﴿وَأَمْطَرْنَا﴾په قومونوکښې سخت ترین عذاب الله قوم لوط ته ورکړیدې،تفصیل ئې باربارتیرشویدې.

﴿قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ ﴾داثمره دَدریمې اوڅلورمې واقعې ذکرکیږی،چه صفات دَالوهیت صرف په الله تعالیٰ پورې مختص دی،انبیاءکرام اواولیاء په خپلې سلامتیاکښې محتاجه دی الله تعالیٰ ته،غوره قول دادې چه داخطاب نبی پاک ﷺ ته دې،اودَحمدحکم عموماًدَټولونعمتونودَشکرئې اداکولودَپاره دې اوداعدآء دین اودَدښمنانودَانبیاءکرامو په هلاکت باندې خصوصاًدې

فائده:پدې ایت کښې اشاره ده چه دَداسې کس اوقوم په هلاکت باندې شکریه اداکول جائزبلکه ضروری دی چه هغوئ اعداء دین وی،اومسلمانانوته ورنه تکلیف وی،البته دنیوی معاملات کښې دښمنی اویادَیولالچ په بنیاددښمنی کول پکارهم ندی اونه دَداسې مخالف په تکلیف اوهلاکت باندې خوشحالی کول پکاردی.

﴿وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ﴾مراددَدینه انبیاء کرام دی بالاتفاق اوصحابه کرام ترینه هم مرادکیدې شئ ځکه چه انبیاء کرام معصوم دی دګناهونونه،خوصحابه کرام محفوظ دی دَ ګناهونونه،نودواړه دَ "اصطفی" مصداق دی،

﴿ءَآللَّهُ خَيْرٌ ﴾استفهام دَپاره دَتبکیت اودَپاره دَتهکم دې په حالت دَمشرکینوباندې،یعنی هرکله چه دَدې مذکوره واقعاتونه،معلومه شوه چه الله تعالیٰ خپلونیکانوبندګانوته نجات ورکوی اومنکرین اومشرکین هلاک کوی نوتاسوخپله سوچ اوکړئ چه دکوم ذات په عبادت سره نجات میلاویږی هغه بهتردې اوکه هغه څوک غوره دی چه دَهغوئ په عبادت سره انسان هلاک کیږی؟ دیرلوئ احمق اوبیوقوف دې هغه کس چه بیاهم دَالله تعالیٰ نه علاوه دَبل چاعبادت کوی او "خیر" اګرچه

صيغه دَاسم تفضيل ده ليكن الله ﷻ خيرمحض دي دَهغه په مقابله کښې بل خيرنيشته دي،نو دَدې وجې نه داپه معنى دَمبالغې سرهاوپه روايت کښې دی چه نبی پاک ﷺ به دَدې ايت دَتلاوت نه ورستو داالفاظ وئيلو چه:بل الله خيرٌ وابقى واجل واكرم.

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا
بلکه هغه ذات غوره دي چه پيدا کړي ئې دی اسمانونه او زمکه او نازل کړي ئې دي ستاسو لپاره دَاسمان نه باران پس زرغون کړل مونږ
بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ۗ
پدې سره باغونه دَتازګئ والا نشته دي تاسولره طاقت دَدې چه زرغون کړئ اونی دَدغوباغونو
ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۗ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ۞ اَمَّنْ
آياشته بل معبود دَالله ﷻ سره،بلکه داکافران داسی قوم دي چه اعراض کوی دَحق (توحيد) نه (شرک ته)بلکه هغه ذات
جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ
چه ګرځولی ده زمکه قرار او ګرځولی ئې دی په مينځ دَدې کښې نهرونه او ګرځولی ئې دی دې لپاره غرونه او ګرځولې ده
بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞
په مينځ دَدوؤ دريابونو کښې پرده،آياشته دې بل معبود دَالله ﷻ سره،بلکه زيات دَدوئ نه نه پوهيږی

﴿اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ په دويمې دعوې باندې پنځه دلائل عقليه على سبيل الاعتراف من الخصم ذکرکيږی، دااول دليل عقلی دي﴿اَمَّنْ﴾مرکب دي دَ'ام' او'من' نه په'ام' کښې دوه(۲) اقوال دی(۱)يوقول دادي(دااقول غوره دي)چه'ام' منقطعه دي په معنی دَ'بل'سره او'بل'دَپاره دَاضراب دي دَماقبل نه،ځکه چه ماقبل کښې استفهام تبکيتی تعريضاًذکرشوئ دي ايت. کښې انتقال اوشوتبکيت صريحی ته،نوپدې اعتبارسره استفهام به تقريری وی يعنی تاکيدبه وی دَدې خبرې چه هغه ذات ډيرغوره دي کوم ذات چه زمکې اواسمانونه وغيره پيداکړيدی،نودآيت مقصدداشوچه کله ماقبل ايت کښې اوئيلې شوچه﴿ءَآللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ﴾ نوپه ديکښې تبکيت دَخصم دي تعريضاًنواوس پدې ايت کښې اوئيلې شوچه﴿اَمَّنْ﴾بلکه هغه ذات غوره دي چه اسمانونه

اوزمکې ئې پیدا کړیدی نو داتبکیت صراحتاً دې.نو دلته په استفهام کښې هغه لفظ او کلام مقدر دې کوم چه دماقبل ایت په جواب کښې ثابت وو،چه هغه لفظ د"خیر"دې اودغه شان په مواضعو اربعو کښې هم"ام"منقطعه دې.

(۲)دویم قول دادې چه"ام"متصله دې،لکه څرنګه چه ماقبل امایشرکون.کښې"ام"متصله دې اوپدې سوال او ماقبل سوال کښې فرق دادې چه ماقبل سوال اجمالی وو ،ځکه چه صرف اسم ذاتی دالله ﷻ په استفهام کښې ذکرشوې وو ،اودا سوال تفصیلی دې اوپه اسماء صفاتو سره دې،(۳)درې صفات پکښې ذکرشویدی(۱)خلق(۲)انزال الماء(۳)انبات الشجر ،او"ام"متصله ددوه(۲)څیزونوپه مینځ کښې راځی،نودلته یوامرمذکوراوبل مقدردې،نوتقدیردعبارت داسې دې،الاصنام خیرٌامن خلق السموات والارض(خازن)اوجواب ئې محذوف دې چه"بل الله خیر"البته دومره خبره ده چه ماقبل سوال کښې تقدیم دلفظ"الله"وو اودلته تقدیم داصنامواوشو،نکته پکښې داده چه ماقبل سوال اجمالی وو تفصیل پکښې په صفاتو سره نه وو ذکر،نوهلته دادب اودتعظیم تقاضاوه چه لفظ د"الله"مقدم کړې شی اودلته په سوال کښې متعدد صفات ذکردی نومقتضی الحال دادې چه په داسې مواضعو کښې شق اجمالی مقدم کړې شی اوشق تفصیلی مؤخرکړې شی،دې دپاره چه دشق اجمالی نه فراغت حاصل کړې شی اوشق تفصیلی ته مکمله توجه اوکړې شی،اوصفات په ذهن دسامع کښې راسخ شی،نوکچرې دالله ﷻ ذکرمقدم کړې شوې وې سره دصفاتونه اوبیاشق اخرذکرشوې وې نوکامله توجه به نوه راغلې،لیکن اوله توجیه زیاته غوره ده ځکه چه مناسب دمقام اوداستعمال سره ده.

﴿فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ﴾ پدې کښې التفات شویدې دغائب نه متکلم ته،اوپدې التفات کښې تنبیه ده پدې خبرې چه داټول مذکورامورمختص دی دالله ﷻ سره یعنی الله ﷻ تخلیق داسمانونو اودزمکې کړیدې،بیاداسمان دطرف نه په زمکې باندې باران راوروی،اوپه هغې یوقسم اوبوسره اودهغه یوقسم زمکې نه دمختلف انواعو،مختلف رنګونو اومختلف خوندونو الامیوې پیدا کوی.

﴿مَّا كَانَ لَكُمۡ﴾ دا خطاب جنس مخاطب اوجنس مخلوق ته دې که هغه دپیغمبرهستی وی اویااولیآء الله وی،هیڅ څوک ددې طاقت نه لری چه دزمکې نه،اونې،بوټی رازرغون کړی﴿أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِ﴾ دا استفهام انکاری دې دهردلیل نه ورستو دا سوال کړې شویدې چه﴿أَءِلَٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِ﴾ چه ددې

اوریدلونه پس تاسوخپله سوچ اوفکراوکړئی چه دالله ﷻ سره په تصرف اوواکدارئ کښې بل شریک شته دې؟اوهرکله چه جواب ئې بالکل ظاهراوباهرووچه"لا"یعنی نیشته دې،نوددې وجې نه حذف کړې شو.

﴿بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ يَعۡدِلُونَ﴾ددوئ تبکیت نه ورستودا انتقال دې ددوئ بدحالت طرف ته دپاره دزجر،اوغوره قول دادې چه"عدل"دلته په معنی داعراض اوانحراف سره دې اوصله چه"عن" دې محذوف دې ای یعدلون عن الحق یعنی دا داسې قوم دې چه ددومره واضحودلائلوباوجوددحق نه اعراض اوباطل ته میلان کوی اوبعض فرمائی چه"عدل"په معنی دمساوات سره دې اوصله ورله"فی" محذوفه ده ای یساوون فیه غیره تعالی من آلهتهم،یعنی دا داسې قوم دې چه ددومره واضحودلائلوباوجودبیاهم دالله ﷻ سره په واکدارئ کښې باطل الهه شریک جوړه وی.

﴿أَمَّن جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا﴾دادویم دلیل عقلی دې،پدیکښې څلورصفات ذکردی اودټولوتعلق دسفلیاتوسره دې(۱)زمکه دسکون اودقرارواالاجوړول(۲)پدیکښې نهرونه پیداکول(۳)پدیکښې غرونه پیداکول(۴)دوه(۲)مختلف رنګ اوذائقې والاسمندرنوپه مینځ کښې حاجزپیداکول ﴿قَرَارٗا﴾مصدرنه مرادظرف یعنې"مستقر"دې،یعنی قرارګاه. دایت مطلب دادې چه الله ﷻ زمکه دانسان اودنوروحیواناتودپاره قرارګاه پیداکړیده،دکروی شکل باجوددانسان دپاره قابل رهائش ده،دغه شان بعض حصې باندې اوبه دی اوبعض حصه ئې دانسانانواوحیواناتودا ستوګنې دپاره ده،اودغه اوچه حصه نه دومره سخته ده چه انسان ته تکلیف ورکړی اونه دومره نرمه ده چه پښان داوبوچه انسان ترینه فائده وانخلی.

﴿وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ﴾"رواسی"نه مرادلوئ لوئ غرونه دی،نودزمکې اضطراب ختمولودپاره الله ﷻ پدیکښې لوئ لوئ غرونه پیداکړل،لکه په حدیث کښې دی چه الله ﷻ کله زمکه پیداکړه نودې به اضطراب کولویعنی خوزیدله به ،نودې اضطراب ختمولودپاره الله ﷻ پدې باندې لوئ لوئ غرونه پیداکړل،اوماقبل کښې په﴿جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا﴾سره مرادمانع ذاتی لرې کول وواوپدې یعنی﴿وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ﴾سره مرادمانع عرضی دانتفاع نه لرې کول دی،نولهذا دااعتراض نه واردیږی چه د﴿جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا﴾نه ورستوذکرد﴿وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ﴾مستدرک دې.

﴿ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ ﴾مرادترينه خوږاوتريخ سمندرونه دي﴿بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾يعنى اكثرددوئ پدې قطعي دلائلودتوحيدكښ سوچ اوفكرنه كوى نودَدې وجې نه دَعقيدې دَتوحيدنه ناخبره دى اوبعضې پكښ داسې دى چه ضداوتعصب دَوجې نه توحيدنه منى،اوياداقَبيلې تنزيل العالم بمنزلة الجاهل نه دې ځكه چه اكثرمشركين به پدې باندې پوهيدلوچه خالق دَدې امورو تولو الله ﷻ دې اواعتراف به ئې هم كولولكه سورة المؤمنون آيت نمبر(۸۴)نه تر(۸۹)پورې كښ دى،اوسورة العنكبوت ايت نمبر(۶۱)كښ سورة لقمان ايت نمبر(۲۵)كښ اوسورة الزخرف ايت نمبر(۹)كښ دى، كانهم يجهلون الله تعالى فلايعلمون مايجب له من الوحدانية(قرطبى).

أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ
بلكه هغه ذات غوره دې چه قبولوى سوال دَپريشان حاله چه كله ورته سوال اوكړى اولرى كوى تكليفونه اوګرځولى ئې تاسو خليفه ګان
الْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَمَّنْ يَهْدِيكُمْ
په زمكه كښ.آياشته دې بل معبوددَالله ﷻ سره.ډيركم نصيحت قبولوئ تاسو .بلكه هغه ذات غوره دې چه لاره خانى تاسو ته
فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۗ
په تيارودَبيابان كښ اوسمندركښ اوهغه ذات چې رالېږى هواګانى زيرې وركونكې مخكښ دَباران خپل نه،
أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ ۚ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾ أَمَّنْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ
آياشته دې بل معبوددَالله ﷻ سره،ډيرلوئ دې الله ﷻ دَهغه نه دوئ ورسره شريكوى بلكه هغه ذات غوره دې چه اول خل ئې پيداكړيدى خلق
ثُمَّ يُعِيدُهُ وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ
بيابه ئې دوباره پيداكوى اوهغه ذات چه رزق دركوى تاسوته دَآسمانه اوزمكې نه آياشته دې بل معبوددَالله ﷻ سره.
قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٦٤﴾
ته ورته اووايه (اې پيغمبره) راوړئ دليل خپل په شرک كچرته يئ تاسو رشتنى.

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ ﴾دادريم(۳)دليل عقلي دې پديکښې درې(۳)صفتونه دَالله ﷻ ذکرشويدي.(۱)دعاقبولوونکې(حاجت روا)صرف الله ﷻ دې بل څوک حاجت روانيشته دې.(۲)تکليف لرې کوونکې(مشکل کشا)صرف الله ﷻ دې بل څوک مشکل کشانيشته دې.(۳)اولاد ورکوونکې اوپه دښمن باندې غلبه ورکوونکې صرف الله ﷻ دې. مضطر باب افتعال نه صيغه دَاسم مفعول ده،اصل ماده ئې ضَرَّ ده،وئيلې کيږي هغه سخت مجبوراوپريشان حال ته چه دَپريشانئ دَخلاصيدلوطاقت نه لرى اوپه﴿ٱلْمُضْطَرَّ﴾کښې الف لام دَجنس دَپاره دى اوصدق دجنس په ضمن دَفردما کښې هم متحقق کيږي،او الف لام دَپاره دَاستغراق ندې چه بيادااعراض اوکړې شي چه ډير مضطر داسې شته دې چه دعاګانې نه قبليږي؟اوبعض حضرات فرمائي چه الف لام دَپاره دَاستغراق دى اوايجابت موقوف دې په مشئيت دَالله ﷻ باندې،اوقرينه پرې دَسورة الانعام ايت نمبر(۴۱)فيکشف ماتدعون اليه ان شآء الخ اودامسلک دَاهل السنة والجماعت دې چه قبوليت ددعاموقوفه په مصلحت دَعبدباندې نده،بلکه په مشئيت دَالله ﷻ باندې موقوفه ده.اومعتزله چه اصلح ماهوللعبد ،په الله ﷻ باندې دَوجوب قائله دى نوهغوئ ايجابت هم موقوف کوى په مصلحت دَعبدباندې،يعنى هغوئ داوائى چه کومه دعاچه په هغې کښې مصلحت دَعبدوى نوالله ﷻ ئې قبولوى،اوکه مصلحت پکښې دَعبدنوونوبيانه قبليږي،ليکن مسلک ددوئ باطل دې اوخلاف دې دَنصوصونه،لکه دَسورة الانعام ايت نمبر(۴۱)شووغيره اوبعض حضرات فرمائي چه ايجابت اګرچه موقوف دې په مشئيت دَالله ﷻ باندې،خوبياهم دَدې ايت نه دامعلوميږي چه کومه دعاپه کيفيت دَاضطرارسره وى نوتفضلاًالله ﷻ هغه دعاضرورقبولوى،ليکن صورتونه دَقبوليت مختلف دى،کله ايجابت اوقبوليت صورت داوى چه بعينه هغه څيزورکړې شى کوم چه دعاکوونکى غوختلې وى،کله دَقبوليت صورت داوى چه هغه څيزخوورته ميلاؤنشي اوياهغه تکليف ورنه لرې نکړې شي چه دکوم څيزدَپاره يادکوم تکليف دَلرې کولودَپاره ئې دعاکړې وى البته دَهغې په بدلې کښې يوبل بهترڅيزاويايوبل لوئ آفت اوتکليف نه ورته نجات ميلاؤشي،اوکله دَقبوليت صورت داوى چه دآخرت دَپاره ذخيره کړې شى لکه په حديث کښې دى چه دَقيامت په ورځ باندې به يوکس په خپل عملنامې کښې ډيرې نيکئ اوګورى نوعرض به اوکړى چه ياالله ﷻ ماخودومره نيکئ نه دى کړى،الله ﷻ به ورته اوفرمائي چه تاته يادندى چه دنياکښې تاځمانه فلانې څيزغوختلې وؤ ليکن تاته نه وميلاؤشوې،فلانې څيزدې غوختلې وؤ او نه وميلاؤشوې دادهغې په بدله کښې دى.

نو دا انسان به تمنا او کړي چه کاش به دنیا کښې ځما یو سوال هم نوې قبول شوې اود﴿إِذَا دَعَاهُ﴾قید د پاره د بیان الحال دې او احترازي نه دې،یعنی د دې مقصد د پاره ذکرشویدې چه د مجبورئ اود سختئ په وخت کښې یوه مجبوره کس ته صرف الله یادوي او هغه ته بلنه کوي.

فائده: د دعا قبولیت اګرچه موقوف دی په مشیئت د الله ﷻ باندې،داسې خو دعادې نه غواړې چه "اللهم اغفرلی ان شئت"ځکه چه په حدیث کښې ترینه منع راغلیده.

﴿وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ﴾ دا د قبیلې د عطف العام علی الخاص نه دې،اجابت د مضطرخاص دې او دا عام دې ځکه چه مکشوف عنه کله مضطروی او کله غیرمضطروی﴿وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ﴾مراد پدې سره بقاء د نسل ده،یعنی تاسو لره اولاد درکوی او د یو بل په ځائ موا باده وی او یا ترینه مراد خلافت،تسلط او غلبه ده،یعنی تاسو لره د کفارو په زمکه باندې یا د مخالف په زمکه باندې غلبه او تسلط درکوی لیکن اول احتمال زیات غوره دې.

نکته: پدې ایت کښې د انسان د ژندګئ دوه (۲) حالته ذکرشویدی، د ایت شروع د حالت د مضطرنه اوشو چه دا انتهائی کمزورې حالت دې،او اختتام ئې په حالت د خلافت باندې اوشوه،چه دا عالی حالت دې،پدیکښې اشاره ده چه څنې وخت کښې یو کس ډیر د تکلیف او د سختئ ژوند تیره وی.اچانک الله ﷻ پرې مهربانه شی اوده بدحالت په ښه حالت سره بدل کړی،او دا زمونږ په مشاهده کښې دی.

﴿أَمَّن يَهْدِيكُمْ﴾دا خلورم دلیل دې،پدیکښې دوه (۲) صفتونه د الله ﷻ ذکرشویدی (۱) هدایت او خلاصې ورکول د تیارونه (۲) هوا ګانې او بارانونه رالیږل،هدایت نه مراد منزل مقصود ته راهنمائی کول دی،او د﴿فِي ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ﴾نه مراد د شپې په وخت کښې په خوشی صحراء کښې سفرکول دی،نو الله ﷻ د شپې په وخت کښې د مسافرو د راهنمائی د پاره ستورې پیدا کړیدی چه د هغې په ذریعې سره مسافرخپل منزل مقصود ته رسیږی،او د﴿وَٱلْبَحْرِ﴾نه د شپې په وخت کښې سمندرکښې سفرکول هم مراد کیدې شی،او دغه شان د سمندرڅپې او طوفانونه هم مراد کیدې شی چه هغه په منزله د ظلماتو دی،او د ظلماتو اطلاق اګرچه حقیقةً په تیارو د شپو باندې کیږی،لیکن مجازاً ظلمات د جهل ترینه هم مراد کیدې شی نو ګویا چه پدیکښې اشاره ده دیته چه لکه څرنګه ظاهری منزل

مقصودته دَرسيدلودَپاره الله ﷻ علامات اوذرائع پيدا کړيدی،نودغه شان دَظلماتودَجهل نه دَخلاصيدلودَپاره هم الله ﷻ لوئ لوئ علامات پيدا کړيدی.

﴿ أَمَّن يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ﴾داپنځم دليل عقلی دې پديکښې درې(۳)صفات دَالله ﷻ ذکرشويدی (۱)ايجاد اول الخلق(۲)اعاده خلق(۳)انتظام معاش،يعنی کوم ذات چه په اول ځل ئې پيدائش کړيدې،هغه ذات به دوباره راژوندی کول کوی اوهغه ذات ستاسودَپاره دَمعاش انتظام اوبندوبست کړيدې،نومرادپه﴿ثُمَّ يُعِيدُهُ﴾سره بعث بعدالموت دې،اوکچرې اشکال اوکړې شی چه دابه څرنګه دليل عقلی على سبيل الاعتراف من الخصم اوګرځی ځکه چه مشرکين خومعترف دَبعث بعدالموت نه وو،بلکه منکروودَبعث بعدالموت نه؟نوجواب ترينه دادې چه دَدوئ انکارپه منزله دَعدم انکارنازل کړې شويدې،دَوجې دکمال وضوح دَاعادې نه،په براهينوقطعيوسره،نودوئی فرضاًمعترف وو،چه ګويادوئی دَپاره څه عذردَانکاردَپاره باقی ندې پاتې شوې.

﴿قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ﴾داچيلنج دې منکرينواومشرکينوته،چه مونږپخپلې دعوې باندې واضح دلائل پيش کړل،چه دَهغې نه حقانيت دَتوحيداوصدق ددعوې ثابت شو،نوکچرې تاسوپخپلې دعوې کښې رښتونی يئ نوتاسوهم دلائل پيش کړئ.

فائده نمبر(۱):داپنځه(۵)دلائل عقليه ذکرشوپه ذکردَپنځلس(۱۵)صفاتوسره،خلاصه دَدې تولوداده(۱)خالق الله ﷻ دې بل خالق نيشته دې(۲)باران راوروونکې الله ﷻ دې بل څوک باران وروونکې نيشته دې(۳)رازق الله ﷻ دې بل څوک رازق حقيقی نيشته دې(۴)زمکې لره قراروركوونکې الله ﷻ دې بل څوک قراروركوونکې نيشته دې(۵)نهرونوچلوونکې الله ﷻ دې بل څوک چلوونکې نيشته دې(۶)غرونوپيداکوونکې الله ﷻ دې بل څوک پيداکوونکې نيشته(۷)سمندرونوکښې تصرف کوونکې اودَدې په مينځ کښې جدائ راوستونکې الله ﷻ دې بل څوک تصرف کوونکې نيشته دې(۸)حاجت روا الله ﷻ دې بل څوک حاجت روانيشته دې(۹)مشکل کشا الله ﷻ دې بل څوک مشکل کشانيشته دې(۱۰)اولادورکوونکې الله ﷻ دې بل څوک اولادورکوونکې نيشته دې(۱۱)لارې ښودونکې الله ﷻ دې بل څوک حقيقةً لارې ښودونکې نيشته دې(۱۲)هواګانوچلوونکې الله ﷻ دې بل څوک هواګانوچلوونکې نيشته دې(۱۳)اول ځل پيداکوونکې الله ﷻ دې بل څوک مبدأنيشته دې(۱۴)اسباب دَرزق مهياکوونکې يعنی مال

ورکوونکي الله ﷻ دي بل څوک مال وررکوونکي نیشته دي،نوددینه معلومه شوه چه هرڅه دَالله ﷻ په ارادي سره کیږي اودَالله ﷻ دَارادي نه بغیرهیڅ نشی کیدلي، اودامقصد دکلمې یعنی دَلااله الاالله دي.

فائده نمبر(۲): پدې پنځه دلائلو کښې په هردلیل کښې دَاعتراف اغستلوورستوبطورزجرمختلف جملې مثلاً ﴿بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ﴾ وغیره ذکرشویدی پدې جملوکښې دلیل سره دمطابقت، اودکفارودَحالت اعتبارکړې شویدي،نوهرکله چه اول دلیل مشتمل ووپه علویات،جویات اوسفلیاتوباندې،چه دَزمکې،اسمان وغیره خالق الله ﷻ دي اوکفاروبه هم دَدې اعتراف کولوخوبیاهم دَتوحیدنه منکروو ،نوځکه په اولیل کښې زجرپه ﴿قَوْمٌ يَعْدِلُونَ﴾سره اوشواوبیاهرکله چه دویم دلیل دَاول نه زیات واضح وواودوئ ته معلوم ووچه علم یقینی سره خوبیاهم دوئ دَخپل علم دَمقتضی مطابق عمل نه کولو،نودَاول زجرنه ترقی اوکړې شوه اودوئ نازل کړې شوه په منزله دَهغه جهلاؤباندې چه په محسوساتوباندې هم جاهل وی،نوځکه اوئیلې شوچه ﴿بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴾اوهرکله چه دریم دلیل مشتمل ووپه انعاماتوباندې، اودَ انعاماتوتقاضاداده چه منعم علیه دَمنعم انعامات یاداوساتی اودَهغې شکریه اداکړی اوکفاروبه دَالله ﷻ نعمتونه یادهم نه ساتلو ،اونه به ئې دَالله ﷻ نعمتونوشکریه اداکوله،نودَدې وجې نه په دریم دلیل کښې ترقی اوشوه اواوفرمائیلوچه ﴿قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ ځکه چه احسان فراموش انسان دَجاهل نه بدتروی.اوبیاهرکله چه هدایت په ظلماتوکښې اوارسال دَهواګانوپه منزله دَمتمماتوو ودَماقبل دَپاره،اومشرکین دَدې اعتراف باوجود ،محض دَضداوعناددَوجې نه،دَهدایت اوخلاصی وغیره نسبت به ئې خپلوباطل معبودانوته کولونوځکه دَخلورم(۴)دلیل په آخرکښې ذکرشوچه ﴿تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾اوبیاهرکله چه په آخیرکښې دَټولونعمتونواجمالی اعاده اوشوه ځکه چه ابداء الخلق سره اشاره وه ابتدائی نعمتونوته،اوپه ﴿ثُمَّ يُعِيدُهُ﴾ سره اشاره وه اخروی نعمتونوته اوپه ﴿وَمَن يَرْزُقُكُم﴾سره اشاره وه درمیانی نعمتونوته،نوګویاچه پدې سره پوره اتمام حجت اوشو نوځکه په آخرکښې بطورچیلنج دَدلیل مطالبه اوکړې شوه چه ﴿هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ﴾.

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ط

ته اووايه (اې پيغمبره) نشته خبر هغه چاته چه په آسمانو نو اوزمكه كښ دي، د غيب سوا د الله نه

وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ۝۶۵ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ قف بَلْ هُمْ

اوخبرندی كافران چه كله به پورته كولې شی دوئ (دقبرونونه) بلكه ختم دې علم ددوئ په باره دآخرت كښ، بلكه دوئ

فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا قف بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ۝۶۶

په شك كښ دی دقيامت نه، بلكه دوئ دقيامت نه ړانده دي

﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ﴾ دابطورلف نشرغيرمرتب متعلق دې داولې دعوې سره اوداول دوه (۲) واقعاتوثمره ذكركيږی، چه علم غيب خاصه دالله ﷻ ده، پدې سره الله ﷻ دخپل ذات نه علاوه بل هيڅ څوك ندې متصف كړې، نه پيغمبر، نه فرشته اونه يوولی، البته ايثاراواطلاع علی الغيب ئې كړيده، خوهغه هم دټولومغيباتونه ده بلكه دبعضې مغيباتوكړيده، اومرادپه ﴿مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ﴾ سره ملائك دی اوپه ﴿وَالْاَرْضِ﴾ سره مرادانبياء كرام، اولياء الله وغيره دی اود ﴿الْغَيْبَ﴾ نه مرادغيب حقيقی دې اوغيب اضافي ندې، يعنی غيب په دوه (۲) قسمه دې (۱) حقيقی (۲) اضافي، غيب حقيقی ديته وئيلې كيږی چه نه معلوميږی په هيڅ يوسبب داسبابودعلم سره، نه حواسوسره، نه په بداهة العقل اونه په وحی سره داقسم علم غيب خاصه دالله ﷻ ده، پدې سره ئې هيڅ څوك ندی متصف كړی اوداقسم غيب مراددې په دې آيت كښ.

دويم قسم اضافي دې، اوداهغې ته وئيلې كيږی چه نه معلوميږی په حواسو اوبداهة العقل سره بلكه طريقه دمعلوميت دهغې صرف وحی وی لكه حشر، نشر، جنت اوجهنم وغيره شو، اوداقسم علم الله ﷻ په خپل ذات پورې ندې خاص كړې، اوديته انباءاواطلاع علی الغيب هم وئيلې كيږی لكه په سورة آل عمران كښ دی چه "وماكان الله ليطلعكم على الغيب ولكن الله يجتبى من رسله من يشاء" اوعلامه قرطبی رحمه الله دعلم غيب اواطلاع علی الغيب په مينځ كښ دفرق دپاره واقعه ذكركړيده چه يوخلې حجاج بن يوسف نجومی رااوغوختلواوترلوئې، اوبيائې په خپل لاس كښ دنجومی نه پټ كاڼی رااوغستلواوشمارئې كړلو، اوبيائې دنجومی نه تپوس اوكړوچه داڅومره كاڼی دی؟ نونجومی دخپل علم نجوم كښ حساب اوكړواودكاڼوتعدادئې ورته صحيح

اوخودلو،حجاج بن یوسف په دویم خلي کانړي راواغستلواوشمارئې نکړو.اودنجومی نه ئې دهغې تعدادتپوس اوکړونونجومی ورته تعدادخودلوکښ غلط شو،بیائې کوشش اوکړوبیاهم غلط شو،نوحجاج ترینه تپوس اوکړوچه داڅه وجه ده چه اول خلي دې صحیح جواب راکړواوبیاپه دویم خلي غلط شولې؟ نونجومی ورته اوئیلوچه اول خلې چه تاکانړي راواغستلونوشماردې کړو،نوهغه دَحددَعلم الغیب نه اووتلو،نوماته په هغې باندې اطلاع میلاؤشوه.اوپه دویم خلي تاشمارنکړو،نودَدې وجې نه هغه دَحددَغیب نه،نووتلی،نودَدې وجې نه ماته هم پته اونه لګیدله.اودافرق دې په مینځ د علم غیب اواطلاع علی الغیب کښ نوعلم الغیب جداڅیز دې اواطلاع علی الغیب جدادې.

﴿إِلَّا ٱللَّهُ﴾پدې استثناء کښ دوه(۲)احتماله دی اودواړه مورداعتراض دی.یواحتمال دادې چه استثناء منقطعه شی اودااحتمال غوره دې اواکثرومفسرینودیته ترجیح ورکړیده،اودااحتمال ظاهردې،څکه چه الله جَلَّ جَلَالُهٗ دَجنس دَ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾نه،ندې،اوداستثناء منقطعې په صورت کښ په مستثنی باندې رفع وئیل په لغت دَحجازیین کښ اګرچه جائزنه دی،لیکن په لغت دَبنوتمیم کښ جائزدی،بناء بربدلیت،نودَدې وجې نه دلته په﴿إِلَّا ٱللَّهُ﴾باندې رفع وئیلې شویده،لکه بنوتمیم وائی"مافی الدار احدالاحمار"اوبعضې مفسرینونکته بیان کړیده چه پدې مقام کښ دَبنوتمیم مذهب مختاره کړې شوحالانکه اکثرقرآن مجیددَلغت دَحجازینوسره موافق دې،نودلته دَبنوتمیم دَمذهب غوره کولودَپاره نکته داده چه دَبنوتمیم دَلغت مطابق نفی دَعلم غیب دَغیرالله نه په طریقې ابلغې سره کیږی،لکه پدې قول دَشاعرکښ دی:

وبلدة لیس بهاانیس – الاالیعافیرُوالاالعیس

نوپدې شعر کښ مستثنی"یعافیر"او"عیس"دَجنس دَمستثنی منه یعنی انیس نه نه دی اومقصود پدې سره نفی دَانیس دې پدې شعرکښ په طریقې ابلغې سره،څکه چه دَدې شعرمقصددادې چه کچرې یعافیراوعیس دَجنس دَانیس نه وی،نوبیابه پدې بلده کښ انیس وی،لیکن داخبره خومتیقنه ده چه دادواړه یعنی یعافیراوعیس دَجنس دَانیس نه،ندی نوداخبره هم په تیقن سره ثابته شوه چه پدې بلده کښ انیس نیشته دې،نودغه شان پدې ایت کښ په لغت دَبنوتمیم سره نفی دَعلم غیب دَغیرالله نه،په طریقې ابلغې سره اوشولو،څکه چه پدې صورت کښ دَایت مطلب دادې چه

کچرې الله ﷻ دَجنس دَ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾نه وی نوبیابه خو﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ عالم الغیب وی،لیکن داخبره متیقنه ده چه الله ﷻ دَجنس ددوئ نه،ندې نو داهم په تیقن سره ثابته شوه چه سوادَالله ﷻ نه،بل څوک عالم الغیب نیشته دې،نوخلاصه داده چه پدې صورت کښې دَعلم استحاله دَمخلوق نه راغله په صورت دَتعلیق کښې دَاستحالې دَمجانست دَالله ﷻ سره،یعنی لکه څرنګه الله ﷻ دَمخلوق مجانس ندې اودَمخلوق دَجنس نه ندې،او الله ﷻ دَمخلوق مجانس کیدل محال دی،نودغه شان دَمخلوق دَپاره علم الغیب ثابتول هم محال دی،او الله ﷻ متفرددې په علم الغیب سره اوددې وجې نه په حدیث دَحضرت عائشه ﷺ کښې دی:من زعم ان محمداًیعلم مافی غدٍفقداعظم الفرية على الله(رواه مسلم).

اویااستثناءمتصله ده اوالله ﷻ په﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾کښې داخل دې لیکن مراد په﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾سره من تعلق علمه بها دې،یعنی دَ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ نه عمومی معنی مرادده یعنی هغه څوک چه علم دَهغه متعلق وی په اسمانونو اوزمکې پورې،نوپدې معنی سره په الله ﷻ باندې اطلاق دَ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾صحیح دې نودَایت مطلب دادې چه هغه څوک چه هغوئ ته دَاسمانونو اودَزمکې په باره کښې علم شته دې نوپه هغوئی کښې علم غیب صرف اوصرف الله ﷻ لره ثابت دې اوبعض فرمائی چه الله په﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾په اعتباردَفرض اوتقدیرسره دې،اودَایت مطلب دادې چه کچرې بالفرض والمحال الله ﷻ دَقبیلې دَ﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾نه اوګرځولې شی نوبیابه هم دَالله ﷻ نه علاوه بل څوک عالم الغیب نه وی.

﴿وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ﴾یعنی مخلوقاتوته هغه ملائکه وی یاانبیاء کرام یابل څوک هیڅ چاته دَدې په باره کښې علم نیشته دې چه دوباره ژوندی کیدل به کله کیږی،نومخلوقات دَخپلو مکمل حالاتوپه باره کښې علم نه لری نوعلم غیب به ورته څرنګه ثابت شی.

﴿بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي﴾دازجردې مشرکینوته په انکاردَقیامت باندې،اوچونکه کفاروبه دَعدم تعیین دَقیامت نه استدلال کولوپه عدم وقوع دَاخرت باندې نوځکه الله ﷻ دَنفی دَتعیین نه ورستوپه انکاردَقیامت باندې دوئ ته زجرورکوی اودَ﴿ٱدَّٰرَكَ﴾په اصل کښې تدارک و وباب تفاعل

فاکلمې په مقابله کښې دال راغې،نوتاپه دال سره بدل کړې شوه نودَدارک شو،اوبیادال ساکن شواوپه دریم دال کښې مدغم کړې شو،اوابتدا بالسکون مشکل وه نوشروع کښې همزه وصلي راوړلې شوه،نو"ادّارک"ترینه جوړشو،او"بل"یاپه خپلې معنی سره دې یعنی دَاضراب دَپاره دې، نوداکلام رااوګرځولې شومشرکین مکه ته،ځکه چه په عدم تعیین دَقیامت باندې دَالله ﷻ نه علاوه هرڅوک متصف دی،مګرمشرکینوبه دَعدم تعیین نه،استدلال په عدم وقوع کولونوځکه کلام دوئ طرف ته رااوګرځولې شو او﴿ٱدَّٰرَكَ﴾یاپه معنی دَ"تکامل" او"استحکم"سره دې،او"تکامل "او"استحکام"دَعلم دَدوئ په اعتباردَاسبابوسره دې چه تعلیمات دَانبیاء کراموغیره دی،یعنی اسباب دعلم په وقوع دَقیامت باندې حدکمال ته رسیدلیدی،چه دوئ دَهغې دَوجې نه پدې نتیجې باندې رسیدلې شی چه قیامت خامخاواقع کیدونکې دې،اوهیڅ شک پکښې نیشته دې،خوبیاهم دوئ دَهغې په وقوع کښې شک کوی،بلکه ړانده دی اودلائلواوعلاماتودَوقوع قیامت ته نه ګوری،اوبعض فرمائی چه﴿فِى ٱلْءَاخِرَةِ﴾متعلق دې دَ﴿ٱدَّٰرَكَ﴾سره،اودَایت مطلب دادې چه دَبعث بعدالموت" متعلق ددوئ علم به په اخرت کښې کامل شی،اوپه دنیاکښې دوئ په شک کښې بلکه ړانده دی خودآخرت عمل به دوئ ته فائده ورنکړی.

اویا استحکام اوتکامل دَعلم ددوئ په باره دآخرت کښې استهزاءً وئیلې شویدی لکه یوجاهل کس په باره کښې اوئیلې شی چه داخودېرلوئی عالم دې،دده علم انتهاء ته رسیدلې دې،اوچونکه دوئ به دَنبی پاک ﷺ نه تپوسونه کولوچه قیامت به کله واقعې کیږی نوتهکماًورته اوئیلې شوچه دَتعیین سوال کول مستلزم دی دې لره چه په نفس وقوع باندې علم وی،حالانکه دوئ خودَنفس وقوع نه منکردی،نودَتعین سوال ولې کوی؟

فائده: "بل"کچرته دَاضراب دَپاره شی پدې ایت کښې،نودادرې(۳)اضرابات دکفارودَدرې(۳) قسمونو مطابق راوړې شویدی،چه ځنې هغه ووچه دَتعیین په باره کښې اګرچه علم نه لرلولیکن په نفس بعث بعدالموت باندې ئې علم وو،خوبیاهم دَضداوعنادپه بنیادبه ئې انکارکولو،اوځنې هغه کسانووچه هغوئ دَبعث بعدالموت په باره کښې شک کوونکې وو،اوځنی هغه ووچه هغوئ دامسئله بالکل نه منله،اودَجهل اوعمی په بنیادبه ئې ترینه انکارکولو،اوداهم ممکنه ده چه"بل" دَپاره دَترقی شی اوپدې سره اشاره شی دَترقی دَانکارته ددوئ په باره دآخرت کښې،نودَ﴿أَيَّانَ

يُبۡعَثُونَ﴾ نه ترقي شو﴿بَلِ ٱدَّٰرَكَ﴾ته چه دا يو مذموم حالت دي ځکه چه په عدم تعيين دوقوع
قيامت کښې تول برابر دي، که هغه انبياء کرام دي يا اولياء الله، يا عام مسلمانان دي او يا کافر، چاته هم
دتعيين علم نيشته دې، البته دمؤمنانو يقين او ايمان په نفس وقوع باندې شته دې او دکفارو يقين په
نفس وقوع باندې هم نيشته دې چه دا يو مذموم حالت دې، ځکه چه علم على المعاد دضروريا تو ددين
نه دې، نو ترک ئې مذموم دې دويم قسم حالت دهغه کفارو دې چه هغوئ دوقوع دقيامت نه په شک
کښې وو او حالت دشک بدتر دې داول حالت نه، ځکه چه اول حالت کښې عدم دعلم وو او عدم دعلم
في نفسه عام دې کله دخلو دذهن نه وي او کله دشک دوجې نه او دادويم حالت خاص دې چه صرف
شک دوجې نه وي او خصوص په ذم کښې بدتروي دعموم نه او دريم حالت چه روندوالي دې
دا بدترين دې ځکه چه دشک په صورت کښې مطلوب ته رسيدل ممکن وي او دعمى په صورت کښې
مطلوب ته رسيدل ناممکن دي (تهانوي رحمه الله، بتغير يسير).

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبٗا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ٦٧ لَقَدۡ وُعِدۡنَا هَٰذَا

او وائي کافران آيا چه کله مونږ خاورې شو او پلاران زمونږ هم نو آيا مونږ به بيارا او باسلې شو. يقيناً وعده کړې شوې وه دا مونږ سره

نَحۡنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبۡلُ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٦٨ قُلۡ سِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ

او پلارانو زمونږ سره ددې نه مخکښې، نه ده دا مګر دروغ دي دمخکنو خلقو. ته ورته او وايه او ګرځئ په زمکه کښې پس او ګورئ

كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ٦٩ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَلَا تَكُن فِي ضَيۡقٖ مِّمَّا يَمۡكُرُونَ ٧٠

ځنګه وو انجام دمجرمانو. او ته مه غمژن کيږه دډوئ په تکذيب او مه کيږه په تنګئ کښې دهغې نه چه دوئ ستا خلاف منصوبې کوي

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٧١ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم

او وائي دوئ کله به وي دا وعده دقيامت کچرته يئ تاسو درشتنونه او وايه ته قريبه ده چه شي او رسيږي تاسو ته

بَعۡضُ ٱلَّذِي تَسۡتَعۡجِلُونَ ٧٢ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ

بعض هغه عذاب چه تاسوئې زرغواړئ، او بې شکه رب ستا خاوند دفضل دې په خلقو خو ليکن زيات ددوئ

لَا يَشۡكُرُونَ ٧٣ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُونَ ٧٤

شکر نه او باسي. او بې شکه رب ستا خه پوهيږي په هغه څه چه پټوي ئې سينې ددوئ او هغه څه چه ښکاره کوي ئې

وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِي السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۵﴾
اونشته دي څه پټ څيزپه اسمان کښې اوزمکه کښې مګرپه کتاب ښکاره کښې ليکلي شويدي.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ﴾ دا شکوی او زجردې په مشرکينو باندې په انکاردبعث بعدالموت سره، يعنی مشرکين وائی چه داخبره زمونږعقل نه منی چه مونږاوزمونږمشران چه دخاورو سره خاورې شودهغې باوجودبيابه هم مونږدوباره راژوندی کولې شو، اواستفهام په﴿أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا﴾ اوپه﴿أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ﴾ کښې دپاره دانکاردې، اوتکراردا ستفهام دپاره دتاکيددنفی دې.

﴿لَقَدْ وُعِدْنَا﴾ يعنی ددې پيغمبرﷺ نه مخکښې نوروانبياء وهم زمونږدمشرانو سره داوعدې کړې وې چه تاسوبه دوباره راژوندی کيږئ خولاتراوسه پورې څوک هم ژوندی نشونومعلومه شوه چه داهسې ددروغوقصې دی اوڅه حقيقت نيشته دې.

فائده: هرکله چه په سورة المؤمنون ايت نمبر(۸۲)کښې مقصوداصلی نفی دايجاد دمبعوث عنه وونوځکه هلته تقديم د﴿نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا﴾ اوشو، اودلته مقصودچونکه نفی دايجاددبعث دې نودَدې وجې نه تقديم دلته د﴿هَٰذَا﴾ اوشوچه پدې سره اشاره ده بعث ته.

﴿قُلْ سِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ﴾ دا تخويف دنيوی دې اوهرکله چه عموماً سبب داعراض دقيامت نه، حب جاه اوحب مال وی، نودَدې وجې نه ددوئ دانکاربعث نه ورستو الله ﷻ دوئ ته تخويف دنيوی ورکوی، چه څومره اسباب ددنيادی که هغه عهده ده ياما ل دې ټول فناء کيدونکی څيزونه دی، تاسوپدې زمکه کښې اوګرځئ اواوګورئ چه الله ﷻ څومره منکرين هلاک کړيدی، اودانکاردوجې نه دهغوئ څه انجام اوشو؟ دهغوئ دحالاتونه تاسوعبرت واخلئ. ﴿وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ﴾ داپه دويم ځلې تسلی نبی پاک ﷺ ته ذکرکيږی، چه کچرې دا کفارايمان نه راوړی، اوپه خپل کفرباندې مداومت کوی، اوتاپورې ټوقې ټوکې کوی نوته مه پريشانه کيږه ستاپه ذمه صرف ددين تبليغ کول اودالله ﷻ احکامات اوپيغام رسول وو، هغه تااوکړو

﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ﴾ دا دویمه شکوی ده، منکرینو به بطور استهزاء دنبی پاک ﷺ نه تپوس کولو چه داوعده دعذاب اودقیامت به کله رځی، ﴿قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ﴾ دا جواب شکوی ده چه دکوم عذاب په باره کښې تاسو جلتی کوئ نودهغې څه حصه به تاسوته به ډیرزر. دراورسیږی نومراد په ﴿ بَعْضُ ٱلَّذِى﴾ سره دنیوی عذاب دې لکه بدروغیره کښې شو. او﴿رَدِفَ لَكُم﴾ کښې عندالبعض لام زائد دې ځکه چه ﴿رَدِفَ﴾ مفعول ته بالذات متعدی کیږی اوبعض فرمائی چه کله ﴿رَدِفَ﴾ متضمن شی معنی دفعل "دنا" یا "قرب" لره نوبیا تعدیه دَدې په لام سره کیږی. نودلته چونکه متضمن دې معنی د "دنا" او "قرب" لره نو ځکه تعدیه ئې په لام سره اوشوه، اوهم دا مقصد دَهغه چادې چه وائی چه کله دَماقبل اومابعد کښې اتصال وی نو هلته ﴿رَدِفَ﴾ بالذات متعدی کیږی لکه په حدیث دَحضرت معاذ ﷺ کښې دی چه: کنت ردیف رسول الله ﷺ او کوم ځائ کښې چه نفس قربت وی او اتصال حقیقةً نوی نو هلته بیا په واسطې دَلام سره متعدی کیږی، اوعسی، لعل وغیره الفاظ ترجیه په کلام دَملوکو اودَبادشاهانو کښې په مقام دَوعدوکښې دَجزم اوصدق الامر دَپاره وی، اوپدې سره مقصود خپل عظمت ظاهرول وی چه لکه څرنګه زمونږ تصریحی اوصراحت خبره واجب اونافذالعمل وی نودغه شان زمونږ اشارات هم واجب العمل دی، اودَتعمیل دَپاره زمونږ اشاره هم کافی ده، نوګویا چه ﴿قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ﴾ دَالله ﷻ دَطرف نه دَعذاب وعده وه دَمشرکینو سره اوداوعده په جنګ بدر کښې صادقه شوه.

﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ﴾ یعنی عذاب مؤخرکیدل دَالله ﷻ دَطرف نه په خلکو باندې اوخاص طورپه منکرینو باندې ډیرلوئ انعام دې ځکه چه دوئ ته دَسوچ کولو اوتوبې ویستلو موقعه میلاؤشی اوکوم عذاب ته چه دوئ جلتی کوی نو که داعذاب و نه دغه شان په جلتئ جلتئ سره راتللې نو دوئ ته به هیڅ قسم موقعه نوې میلاؤشوې.

﴿وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ﴾ دا په اخیر کښې بطور لف، نشر مرتب په دواړه دعووباندې یو(۱) یو(۱) دلیل عقلی ذکرکیږی، نوداداولې دعوې سره متعلق دلیل عقلی ذکرکیږی، چه غیبدان صرف الله ﷻ دې، ځکه چه الله ﷻ ستاسو دَظاهری اوباطنی ټولوحالاتو باندې واقف دې، ستاسو دَسینو په (!)نه ساندی خبردې اوپه هغه څه هم خبردې کوم چه تاسو ظاهره وئی، اوپه تقدیم د "تکن صدورهم" کښې

اشاره ده دیته چه الله ﷻ ته علم په ظاهراوباطن یوقسم اوبرابردی.په ظاهری څیزونوباندې علم زیات اوپه باطنی باندې کم ندې.

﴿وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ﴾ تاء دَپاره دَمبالغې ده لکه علامة په معنی دَ کثیرالعلم سره او راوية په معنی دکثیرالروایة سره دې،اویا تاء دَپاره دَنقل ده چه غائبة په اصل کښې صفت دې رانقل کړې شویدې اسمیت ته،اونوم ګرځولې شویدې دَهرهغه څیزدَپاره چه مخفی اودَنظرنه پټ وی،که هغه یوه خبره وی یاعمل وی اویاخصلت وی،اوپه ﴿فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ سره مرادلوح محفوظ اویادَالله ﷻ علم ازلی دې،نودَایت مطلب داشوچه هرهغه څیزچه دَمخلوقاتودَنظرنه پټ اودَمخلوق په نسبت غائب دی هغه څیزهم دَالله ﷻ په علم ازلی کښې اویاپه لوح محفوظ کښې وی،اوهرکله چه داخبره ثابته شوه چه دَمخلوقاتوپه نسبت غائب څیزالله ﷻ ته حاضروی اودَالله ﷻ دَعلم نه بهرنه وی نومخلوقاتوته څرګنداوظاهرڅیزپه طریق اولی سره دَالله ﷻ دَعلم نه بهرندې.

إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَكْثَرَ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُۥ
بې شکه داقرآن بیانوی په بنی اسرائیلوزیاتې هغه خبرې چه دوئ په هغې کښې اختلاف کوی.بیشکه داقرآن
لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ
خامخاهدایت دې اورحمت دې لپاره دَمؤمنانو،بې شکه رب ستافیصله به اوکړی دَدوئ په مینځ کښې په حکم خپل سره،
وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلْحَقِّ ٱلْمُبِينِ ﴿٧٩﴾
اوهغه غالب دې پوهه دې،پس توکل کوه په الله ﷻ بیشکه ته په حق ښکاره ئې.

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ﴾ داجمله معترضه ده مقصودپدې سره حقانیت اوصداقت دنبی پاک ﷺ ثابتول دی،خلاصه ئې داده چه داپیغمبر ﷺ ریښتونې اوداکتاب بالکل برحق دې ځکه چه پدې قرآن سره دَډیروهغومسائلوحل اوشوکوموکښې چه دَبنی اسرائیلواختلاف وو،لکه حضرت عیسی علیه السلام کښې دَدوئ اختلاف وو،چابه ورته خدائ وئیلوچابه ورته ابن الله وئیلواوڅوک به دَتثلیث قائله وو،اوبدبختویهودیانوبه حضرت مریم ﷺ اوحضرت عیسی علیه السلام ته به ئې هغه نسبت کولوچه دوئ دې واړه ورنه منزه وو،اودغه شان دې قرآن هغه ټول ډیرحقائق واضح کړل دکوموپه باره

كښې چه بنی اسرائیل په غلط فهمئ کښې مبتلاوواوياې اصل واقعات پټ کړی اوبدل کړی وو،او اکثر دلته په معنی دکثیرسره دي،اود کثیر مقصد داندې چه دډیرومسائلووضاحت ئې کړیدې اود قلیل یعنی دلږوئې ندې کړې،بلکه دآیت مقصد دادې چه قرآن مجید ټول ضروری مسائل بیان کړیدی،خوداکثرومسائلوبیان صراحتاًدې اوبعضې پکښې داسې دی چه دهغوئ بیان اوذکراشارةً دې.

﴿وَإِنَّهُ لَهُدًى ﴾ داهم ترغیب الی القرآن دې اوقرآن مجیدذریعه دهدایت اوباعث درحمت اگرچه دټولومخلوقاتودپاره دې لیکن تخصیص دمؤمنانودې وجې نه دې چه دوئ ترینه نفع اغستلې ده.﴿إِن رَبَّكَ يَقْضِى﴾مرادپدې فیصلې سره عملی فیصله ده ځکه چه شرعی اوعقلی فیصله الله ﷻ په دنیاکښې کړیده،او﴿بِحُكْمِهِ﴾سره مرادمحکوم دې نودَ آیت مطلب دادې چه قیامت په ورځ به الله ﷻ دهغې فیصلې مطابق حکم اوعملی قضابه کوی کومه فیصله چه شرعی اوعلمی طورباندې قرآن کښې کړې شویده،نولهذاداعتراض نه واردیږی چه حکم اوقضاءمترادفین دی،لازم شوکمال اتحادپه مینځ دمتعلق اومتعلق کښې حالانکه ددوئ په مینځ کښې من وجه مغایرت ضروری دی.اویومرادف مقیدکړې شوپه بل مرادف سره اوداسې تقیدخالی عن الفائدهٔ وی،ځکه چه ظاهر کښې ددې ایت معنی داشوه چه یحکم بحکمه اویادَ﴿بِحُكْمِهِ﴾نه مرادحکمت بالغه دې اوددې تائید په قرأت دابوالمتوکل ابوعمران اوپه قرأت دعاصم جحدری سره کیږی چه ددوئ په قرائت کښې﴿بِحُكْمِهِ ﴾یعنی په کسرې د حاء اوپه فتحې د کاف سره راغلیدی یعنی الله ﷻ فیصلې په حکمت بالغه باندې مشتملې دی اویاپه حکمت سره مرادعدل اوانصاف دې،یعنی دالله ﷻ فیصلې په عدل اوانصاف باندې مبنی دی،دعدل اوانصاف مطابق به الله ﷻ ددوئ په مینځ کښې به فیصله اوکړی.

﴿وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴾هرکله چه دتنفیذدقضاء دپاره قوت اوعلم ضروری وی نوددې وجې نه دلته دالله ﷻ دپاره دادوه(۲)مخصوص صفات ذکرکړې شو.﴿فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ﴾داهم تسلی ده نبی پاک ﷺ ته چه دامشرکین ستاخبره نه منی،اوستاخلاف منصوبې جوړه وی،خوته مه پریشانه کیږه،اوپه الله ﷻ باندې توکل کوه ځکه چه ته په حق باندې ئې.﴿إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴾داعلت

اولی دي، دَتسلئ او دَتوکل دَپاره چه په الله ﷻ توکل ځکه کوه چه ته په حق باندې ئې او الله ﷻ دَحق پرستو خلکو مدد ګار دې.

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَا أَنتَ بِهَادِي
بیشکه ته نشې اورولې مړوته او نشې اورولې کڼروته بلنه کله چه اوګرځی دوئ په شا. اونه ئې ته هدایت کونکې
الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ ۖ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾
ړوندته دګمراهئ دَهغوئ نه، ته نشې اورولې مګرهغه چاته چه ایمان راوړی په آیاتونوزمونږ پس هغوئ مسلمان دی.

﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾ داعلت ثانیه دې دَتسلئ دَپاره په ذکر دَدرې (۳) تشبیهاتو سره، امام رازی رحمه الله فرمائی چه داعلت دَتسلئ دَپاره ځکه دې چه الله ﷻ دَنبی پاک ﷺ دَزړه نه دَدوئ دَایمان راوړلو طمع او امید هم اویستلو، دَانسان په زړه کښ چه ترکوم وخته پورې طمع وی نو کمال توکل دَده دَپاره ګران او مشکل وی، خو چه کله طمع او امید ختم شی نو بیا توکل کول هم اسان شی نو الله ﷻ پدې آیت کښ دَمخصوص کفارو دَایمان راوړلو طمع دَنبی پاک ﷺ ختم کړه، چه ددې کفارو په زړونو باندې مهرجباریت لګولې شویدې او ددوئ مثال دَمړو پشان دې چه لکه څرنګه هغوئ ته په اورولو او په اوریدلو کښ فائده نیشته دې نو دغه شان دوئ ته هم قرآن اورولو او وعظ ونصیحت کولو کښ فائده نیشته دې، او دغه شان دَدوئ مثال دکڼرو پشان دې او بیا خاص طور باندې هغه کونړ چه مخ ئې هم بل طرف ته اړه ولې وی، او دغه شان ددوئ مثال پشان دَړوندو دې، نو ړوند چه کله ضدی او عنادی وی نو هغه ته لاره خودل مشکل کار دې، نو دغه شان دا کفار دَهغه ضدی او عنادی ړوند پشان دی، ددوئ زړونه هم دَحق دَلارې نه رانده دی عناداً، نو دوئ ته هم دَ حق دَلارې هدایت کول ستا دَپاره ګران او مشکل کار دې.

﴿إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ دا تاکید دَپاره دې، ځکه کونړ که مخامخ وی بیا هم نه اوری، او بعض علماء فرمائی چه کونړ چه کله مخامخ وی نو بیا په خبرې باندې پوهیدلو امکان وی، ځکه چه دَشونډو په خوزولو سره یا په اشارې سره پوهه شی لیکن چه کله مخ واړوی نو بیائې پوهه کول ډیر ګران شی، ﴿وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ﴾ دا دریمه تشبیه ده پدیکښ دَمشرکینو تشبیه دَړندو سره ورکړې شویده او ﴿عَن ضَلَالَتِهِمْ﴾ متعلق دې دَ"هادی" یعنی هدایت سره او هدایت متضمن دې په معنی

دَصرف لره اوصرف عن الضلالة مستلزم دي، ایصال الی المطلوب لره نو څکه دلته دَنبی پاک ﷺ نه نفی دَهادی اوشوه ﴿إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن ﴾ دَسماع نه مراد سماع قبول اونافع دي، یعنی په خپل وعظ اونصیحت سره فائده نه صرف مؤمنانو ته ورکولې شی څکه چه هغوئ ستاخبره اوری.

فائده نمبر(۱): دادرې(۳) قسمه تشبیهات دَمنکرینو دَدرې(۳) حالاتو په اعتبارسره دی چه څنې منکرین هغه قسم دی چه په ضداوعنادکښې انتهاء درجې ته رسیدلې وی اودَدې وجې نه دَهغوئ په زړونوباندې مهرجباریت ثبت کړې شوې وی، اوهغوئ ته هدایت میلاؤیدل محال اوناممکن وی، نودَهغوئ مثال پشان دَمړی دې څکه چه مړی ته لاره ښودل یعنی ارشادالمیت محال دې، او(۲) دویم قسم هغه کفاردی چه دَاول قسم نه لږ کم درجې عنادیان دی، دَهغوئ مثال پشان دکونړدې چه آوازنه اوری اوپه خبره باندې نه پوهیږی خوارشادیعنی لاره خودل ورته ممکن دی، اگرچه ډیرمشکل دی څکه کونړپه اشارې سره پوهه کولې شی اوپه اشارې سره پوهه کول گران کاردې (۳) دریم قسم هغه کفاردی چه دَهغوئ ضداوعناداوانکاردَدویم(۲) قسم نه هم کم دې، دَهغوئ مثال پشان دَړونددې اوړوندته لاره خودل اگرچه مشکل دی لیکن په نسبت دکونړته اسان دی، څکه چه ړونداگرچه گوری نه، اونظرئې نه لگی، لیکن خبرې اوآوازاوری نواوریدلوپه وجې سره یوطرف ته بل طرف ته اوړیدې شی اودَدې وجې نه مشهوره محاوره ده چه "المعاشرة مع الاعمی اسهل من المعاشرة مع الاصم".

فائده نمبر(۲) دَدې آیت نه بعض اهل علمو استدلال کړې دې په نفی دَسماع موتی باندې سماع موتی یعنی مړی اوری اوکه نه اوری دایواختلافی مسئله ده اودااختلاف په قرن اولی یعنی دَصحابه کرامو ﷺ په دورکښې هم وواوترنن ورځې پورې دې، ددې مسئلې دَمختصروضاحت نه مخکښې بطورتمهید دَیو څوخبرو، پیژندل ډیرضروری دی.

(۱) سماع موتی مسئله دَصحابه کرامو ﷺ په دورکښې هم اختلافی وه حضرت ابن عمر ﷺ اوداسې نورکبارصحابه کرام ﷺ دَثبوت قائله وو، حضرت عائشه ﷺ دَعدم ثبوت قائله وه، نولهذادَثبوت اودَعدم ثبوت دَوجې نه یوفریق ته دَمسلک اهل السنة والجماعت نه دَخارج کیدلونسبت کول غیرمناسب دی اوهسې هم دااختلاف څه دَاصولو نه، نه دې، محض فروعی اختلاف دې نولهذا دادومره زیات معرکة الارا جوړول هم ندی پکارلکه څرنگه چه جوړه کړې شویدې.

(۲) مسئله سماع په یوځوصورتونوکښ اتفاقی ده:(۱) اول صورت اتفاقی سماع دانبیاء کرامودې چه قول اهل السنة والجماعت ددې دثبوت قائله دی،ځکه چه حدیث کښ دی چه دنبی پاکﷺ قبرته نزدې څوک صلوة اوسلام وائی نونبی پاکﷺ ئې بالذات اوری اوچه دلری نه څوک صلوة اوسلام وائی نودملائکوپه ذریعې سره ئې الله تعالیٰ نبیﷺ ته رسوی. (۲) دویم صورت اتفاقی دعام اهل قبورسماع ده دلرې ځائې نه نواهل السنة والجماعت ددې په عدم سماع باندې متفق دی چه عام اهل قبوردلری نه،نه اوری،ددینه علاوه دوه(۲) صورتونه اختلافی دی یو(۱) صورت مواضع منصوصیه دی چه اهل قلیب بدر،صورت تسلیم علی اهل القبور،صورت قرع النعال وغیره دی چه پدیکښ داکثراهل السنة والجماعت مسلک دثبوت سماع دې،مګرشرذمه قلیله پدې مواضعو کښ تاویل کوی،لیکن تاویل خلاف اصل سره سره دکثیراهل السنة والجماعة په مقابلې کښ د قلیل افرادو اختلاف خاص اعتبارهم نه لری.

زیات متنازع فیه صورت دادې چه عام اهل قبوراوری اوکه نه اوری؟ نوپدیکښ اختلاف دې بعض حضرات دعدم سماع قائله دی او اکثراهل علم دثبوت سماع قائله دی،کوم حضرات چه دعدم سماع قائله دی ددعوئ استدلال دقرآن مجیدددرې(۳) ایاتونونه دې یو(۱) دامذکورایت چه پدیکښ الله تعالیٰ مروته اورول نفی کړیدی دویم(۲) دسورة الروم ایت نمبر(۵۲) دې،چه په هغې کښ هم داقسم مضمون ذکردې،اودریم(۳) دسورة فاطرایت نمبر(۲۲) دې چه انّ الله یسمع من یّشاء ومااَنت بمسمع من فی القبور چه پدیکښ هم داهل قبورنه سماع نفی کړې شویده،ددې درې(۳) ایاتونونه،علاوه ددې حضراتو استدلال په اقوالودفقهآؤاوځنی فقهی عباراتوسره هم دې،مثلاعلامه ابن الهمام په فتح القدیرج۲ ص۶۹ کتاب الجنائزپه تلقین المیت کښ عدم سماع نسبت اکثرمشائخوداحنافوته کړیدې،اودغه شان دهغه خپل ذاتی رجحان هم عدم سماع ته دې،علامه شامی په ج۳ ص۱۴۳ کتاب الایمان کښ هم دعدم سماع مسئله لیکلې ده اوددې مسلک نسبت حضرت عائشهؓ اوحضرت قتادهؓ ته هم شویدې،اودغه شان دحضرت شیخ المشایخ مولاناګنګوهیؒ دکلام نه هم عدم سماع مسلک راجح معلومیږی،اوکوم حضرات چه دثبوت سماع قائله دی ددعوئ استدلال په متعددواحادیثوسره دې(۱) حضرت انسؓ نه مروی دی فرمائی چه نبی پاکﷺ ارشاداوفرمائیلوچه:العبداذاوضع فی قبره وتولی وذهب اصحابه حتّی انه لیسمع قرع نعالهم اتاه ملکان فاقعداه فیقولان له(بخاری)یعنی چه کله یوبنده په قبرکښ کیخودلې شی اودده ملګری دده نه روان

شي نو دا مړي دَهغوئ دَپيزار اواز اوري نوده ته دوه(۲)ملائک راشي اودې کينه وي اوتپوسونه ترينه شروع کړي، اوداحديث مستدرک،حاکم دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه په داسې الفاظوسره نقل کړې دې چه والذی نفسی بيده انه ليسمع خفق نعالهم حين يولون عنه،اوپه څنې کتب دَاحاديثوکښ دامضمون داسې منقول دې:انّ الميت يسمع حس النعال اذاولواعنه الناس مدبرين،حضرت ګنګوهی رحمه الله دَدې حديث په تشريح کښ داوئيلی دی چه ليسمع صيغه دَمضارع مجهولې ده او قرع نعالهم ورله نائب فاعل دې اودَحديث مقصددادې چه کله خلک مړې دفن کړي اوواپس ترينه روان شي نوصرف دومره فاصلې پورې دَقبرنه تللی وی چه دَپيزاراواز ئې اوريدلې شي نودوه(۲)ملائک مړی ته راشي،نوګوياچه ليسمع قرع نعالهم کنايه ده دَسرعت اتيان دَملائکونه،نولهذادَدې تعلق دَسماع موتی سره نيشته دې،ليکن دَحضرت ګنګوهی رحمه الله داتشريح محض يوه توجيه اودَيوصورت احتمالی بيان دې اودَهغه ترجيح نده،اودَدې باوجوددااحتمال دَظاهرنه مخالف هم دې.ځکه چه دَحضرت ابوهريرة رضي الله عنه په روايت کښ دی چه ليسمع خفق نعالهم حين يولّون عنه اوداقول دَامام بخاری رحمه الله،حافظ ابن حجر رحمه الله،علامه عينی اوملاعلی قاری هم دی(۲)دويم استدلال دَجمهوروداحضرت ابن عمر رضي الله عنه،ابن مسعود رضي الله عنه وغيرهماروايت سره دې چه نقل کړيدې امام بخاری،مسلم وغيره چه کله په غزوه بدرکښ اويا(۷۰)ترينه مشرکين مردارشونوپه هغوئ کښ څلورويشت(۲۴)سرداران قريش مکه نبی پاک صلی الله علیه وسلم دَبدرپه کوهی کښ اوغورځولوپه دريمه ورځ نبی پاک صلی الله علیه وسلم دکوهی په غاړه اودريدلواوهغه مړوته مخاطب شواوورته ئې اوفرمائيلوچه اليس قدوجدتم ماوعدربکم حقا،انافقدوجدناماوعدربنا حقا يعنی مونږسره چه زمونږرب دَامداداونصرت وعده کړې وه هغه خوريښتونی اوصحيح اوموندله آياتاسوهم دَخپل رب وعده دَعذاب صحيح اوموندله اوکه نه؟نوحضرت عمر رضي الله عنه پدې عمل دَنبی پاک صلی الله علیه وسلم باندې سوال اوکړوچه يارسول الله! دابې روحه جسمونه به څرنګه واوری اودوئ سره ته څرنګه خبرې کوې،نونبی پاک صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائيلوچه والذی نفسُ محمدبيده مالنتم باسمع لماقول منهم يعنی دَالله تعالیٰ په ذات باندې قسم! چه تاسودې خبرولره دَهغوئ نه زيات نه يئ اوريدونکی يعنی څرنګه چه تاسواورئې نوهمدغه شان هغوئ هم اوری،اوپه يوروايت دَمسلم کښ دی چه لکنهم لايقدرون ان يجيبوا چه اوری خوليکن جواب نشی ورکولې،پدې حديث باندې هم دَقائلين عدم سماع دَطرف نه کلام کړې شويدې،په مختلف وجوهاتوسره(۱)حضرت عائشة رضي الله عنها نه انکارمروی دې،چه کله هغې ته دَدې حديث په باره کښ پته اولګيده نوهغې اوفرمائيلوچه کيف يقول رسول الله ذلک والله تعالی يقول ماانت بمسمع من فی

القبور،انک لاتسمع الموتی.لیکن جمهورعلماء فرمائی چه دَحضرت عایشهﷺ علمیت په خپل ځائ مسلم دې لیکن پدې باب کښې دَحضرت ابن عمرﷺ روایت معتبردې اوجمهوروقبول کړیدې اودحضرت عائشهﷺ انکارئې ندې قبول کړې(۱)یودَدې وجې نه چه حضرت عائشهﷺ پدې موقعه باندې حاضره نوه اوکوم صحابه کرام چه حاضروو هغه زیات احفظ وودَقول نبی پاکﷺ لره.اودیته ترجیح ورکړیده حضرت شیخ الحدیث مولانازکریاصاحبؒ په لامع الدراری کښې هغه فرمائی:وقال السهیلی عائشةﷺ لم تحضر قول النبیﷺ وغیرهاممن حضراحفظ للفظ النبیﷺ(لامع ج۲ ص۱۳۴).

اودغه شان ابن تیمیهؒ په خپل کتاب الانتصارکښې هم داسې وئیلی دی چه دَده قول صاحب دَ المنحة الوهبية نقل کړیدې چه فرمائی: وانکارعائشةﷺ سماع اهل القليب الکفارمعذورة فيه لعدم بلوغهاالنص وغيرها لايکون معذورأمثلهالان هذه المسئلة صارت معلومة من الدين بالضرورة(المنحة الوهبية).

(۲)بل دَدې وجې نه چه ابن عمرﷺ پدې مسئلې کښې متفردهم ندې بلکه دَحضرت ابوطلحةﷺ،حضرت ابن مسعودﷺ،حضرت انسﷺ وغیرهم نه هم منقول اودارِوایت ترینه مروی دې،اودریمه(۳)وجه داده چه دَحضرت عائشهﷺ دَعدم سماع نه رجوع هم منقوله ده ځکه چه ابن اسحاق په کتاب المغازی کښې دحضرت عائشهﷺ نه دغه قسم روایت نقل کړیدې،اوامام احمدؒ دَهغې روایت تحسین کړیدې،نوداواضح دلیل دې دَدې چه حضرت عائشهﷺ دَخپل مسلک عدم سماع نه رجوع کړې وه،دَحضرت عائشهﷺ دَرجوع یوبل دلیل داهم دې چه کله حضرت عمرﷺ دَحضرت عمرﷺ دَحضرت عائشهﷺ په حجره کښې دَنبی پاکﷺ په خواکښې دفن کړې شونوحضرت عائشهﷺ به چه کله بیازیارت مبارک ته راتلله نوحجاب یعنی پرده به ئې کوله،اودابه ئې فرمائیلوچه ددینه مخکښې به ماځکه پرده نه کوله چه یوځماخاونداوبل ځماپلارووااواوس دَحضرت عمرﷺدَحیادَوجې نه پرده کووم اودغه شان حضرت عائشهﷺ دَخپل رورحضرت عبدالرحمن بن ابی بکرالصدیقﷺ قبرته تلل اوهغه ته خطاب کول هم دلیل دې پدې چه حضرت عائشهﷺ دَعدم سماع مسلک نه رجوع کړې وه،اوهرچه دې داخبره چه دَحضرت عائشهﷺ نه دَسماع تفسیرپه علم سره منقول دې،نوداهم دَدې مذکوروجوهاتودَوجې نه جمهوروندې قبول کړې،اودَدې باوجودحضرت شیخ الحدیث فرمائی چه:وقال(السهیلی)واذاجازان یکونوافی تلک الحال عالمین جازان یکونواسامعین امابأذان رؤسهم کماهوقول الجمهوراوبأذان الروح علی رای من یوجه السوال الی

الروح من غیررجوع الی الجسد(لامع)نو دَدې عبارت نه یوه(۱)دا خبره معلومه شوه چه اهل قبورپه حالت دَاماتت کښې چه کله عالمین َوی نوپدغه حالت کښې سامعین کیدل څه مستبعدندی دویمه(۲)ترینه داخبره معلومه شوه چه اهل قبورپه حسی اوجسمانی غوګونوسره اوریدل.دامذهب دَجمهورو علماء دې.

امام بخاری رحمه الله داحدیث نقل کړیدې اوبیائې ورسره دَحضرت قتادة رحمه الله قول ذکرکړیدې فرمائی چه:احیاهم الله تعالی یعنی. اهل الطوی حتّی اسمعهم قوله ﷺ توبیخاًوتصغیراً ونقمةً وحسرةً وندماً(بخاری)یعنی الله ﷻ صرف اهل قلیب بدرژوندی کړل دې دَپاره چه دَنبی پاک ﷺ خبرې ورته واوروی چه دَدوئ حسرت ،افسوس،ذلت اورسوائی نوره هم زیاته شی،نودَحضرت قتادة رحمه الله دکلام مقصددادې چه مقتولین بدرته خطاب کول اګرچه هغوئ دَنبی پاک ﷺ کلام اوریدلوخوبیاهم پدې سره استدلال په عموم دَثبوت سماع موتی کول جائزندی ځکه چه داصرف دَنبی پاک ﷺ خصوصیت وواودَهغه دَپاره الله ﷻ مقتولین بدرژوندی کړی وو.لیکن جمهورودَحضرت قتادة رحمه الله توجیه ردکړیده(۱)یوخودَدې وجې نه چه دَحضرت قتادة رحمه الله قول په هرځائ کښې حجت ندې ځکه چه په هغه باندې دَقدری تهمت دې(۲)بل دَدې وجې نه،چه په خصوصیت باندې څه دلیل هم نیشته دې،ظاهر دَالفاظودَحدیث نه عموم ترشح کیږی.

(۳)دریم دلیل دَجمهوروحدیث دَسلام دې په اهل قبورباندې چه نقل کړیدې امام مسلم په خپل صحیح کښې په "کتاب الجنائز باب مایقال عنددخول القبوروالدعاء لاهلها"کښې دَمتعددصحابه کرامو رضی الله عنهم نه،ابوداؤددَحضرت ابوهریره نه اوبیهقی اوامام احمدهم دَمتعددوصحابه کرامونه نقل کړیدې،فرمائی:ان رسول الله ﷺ اتی المقبرة فقال السلام علیکم دارقوم مؤمنین وانا انشاءالله بکم لاحقون،دَدې حدیث په تشریح کښې علامه عثمانی رحمه الله په فتح الملهم کښې داسې فرمائی چه:اشارة الی انهم یعرفون الزائرویدرکون کلامه وسلامه،یعنی سلام په اهل قبورباندې پدیکښې اشاره ده چه مړی زیارت کوونکې پیژنی اودَهغه په سلام اوکلام باندې پوهیږی.اودې وجې نه حافظ ابن قیم رحمه الله په "کتاب الروح"کښې فرمائی:هذاخطاب لمن یسمع ویعقل ولولاذلک لکان هذا الخطاب بمنزلة خطاب المعدوم والجماد،والسلف مجمعون علی هذا وقدتوارت الاخبار عنهم بان المیت یعرف زیارة الحی له ویستبشربه.یعنی کچرې مړی اوریدل نشوکولې نوبیاپه"السلام علیکم" سره دوئ ته خطاب کول به صحیح نووځکه چه داخطاب په منزله دَمعدوم اوجمادته دَخطاب کولوشی اوحالانکه تولواسلافوپدې اجماع ده اودغه شان په توارث سره دَدوئ نه منقول دی چه مړې خپل زیارت

کوونکې پېژنی اوهغه ته خوشحالیږی،اوهمدغه شان حافظ ابن کثیرؒ هم وئیلی دی اودې وجې نه حافظ ابن حجرؒ وغیره فرمائی چه اهل قبوروته پدې الفاظو:السلام علیکم،سره سلام کول مسنون دی اوابن کثیرؒ متعدداحادیث دَسماع موتی په ثبوت کښې ذکرکړیدی اوپه هغې کښې یوداحدیث هم نقل کړیدې،اوبیاپه اخیرکښې فرمائی:وقدشرع السلام علی الموتی والسلام علی من لم یشعرولایعلم بالمسلَّم محال،یعنی مړوباندې سلام اچول مشروع(مسنون)دی اوپه داسې څیزباندې سلام کول چه نه هغه ته دَسلام کوونکی شعوروی اونه علم نودامحال دی(اوشریعت دَمحال کارحکم نه کوی).

(۴)څلورم استدلال دَجمهورپه هغه روایت سره دې کوم چه ذکرکړیدې امام بیهقی اوامام حاکم چه کله نبی پاکﷺ دَاحدنه واپس شونودَبعضې شهدآءوپه قبرونوباندې اودریدلواوبیائې صحابه کراموؓ ته اوفرمائیلوچه تاسودوئ ته سلام اوکړئ:فوالذی نفسی بیده لایسلّم علیهم احدٌ الّاردّواعلیه الی یوم القیمة:یعنی څمادې دَاللهﷻ په ذات قسم وی چه څوک هم په دوئ باندې سلام اچوی دوئ دَهغوئ دَسلام جواب ورکوی ترقیامت ورځې پورې،اوپدې حدیث کښې"الی یوم القیمة"تصریح پدې دلیل دې چه مړی باندې چه کله هم عندالقبرسلام واچولی شی اوڅوک هم وی نوهغه اوری اوجواب ورکوی اوتخصیص ئې په یوې زمانې اوپه یوفردپورې ندې،اودَدې حدیث تصحیح امام حاکمؒ کړیده،اوامام حاکمؒ اګرچه متساهل دې لیکن دَهغه تصحیح مطلقاًمردوده نده بلکه دَهغه په باره کښې قول فیصل علامه سیوطیؒ تدریب الراوی کښې کړیدې چه دَامام حاکمؒ په مستدرک کښې تقریبًانیم احادیث دَصحیحین دَشرائطوموافق دی اوتقریبًادوه(۲۰۰)سوه احادیث داسې دی چه هغه اګرچه علی شرط الصحیحین ندی لیکن رجال ئې معتبراوصحیح دی،البته څنې احادیث ضعیف اوڅنې منکردې،نوبهرحال دَامام حاکمؒ تصحیح مطلقاًردکول مناسب ندی،اوبیاخاص طورباندې دَهغه حدیث چه تائیدئې په نوروصحیحواحادیثوسره کیږی.

(۴)دَجمهوروااستدلال په واقعې دَام محجنؓ سره هم دې،ام محجنؓ یوه زنانه چه دَمسجدنبوی خدمت به ئې کولو،وفات شوه صحابه کراموؓ دَهغې جنازه تدفین وغیره اوکړو اونبی پاکﷺ ته پته اونه لګیده،نبی کریمﷺ دَهغې په قبرباندې تیریدل اوشونوتپوس ئې اوکړو چه دادَچاقبردې نوصحابه کراموؓ ورته اوفرمائیلوچه دَام محجنؓ قبردې،نبی پاکﷺ ورته

اوفرمائیلو چه هغه ام محجن چه دَمسجد نبوی خدمت ئې کولو؟صحابه ﷺ عرض اوکړو چه هاؤ نبی پاک ﷺ دَصحابه کرامو ﷺ سره صف جوړکړو او په هغې باندې جنازه یادَهغې دَپاره ئې اجتماعی دعا اوکړه، بیا نبی ﷺ هغې ته اوفرمائیلو "ایّ العملِ وجدتِ افضل؟" چه تا په خپلو عملونو کښې افضل او په تولوکښې غوره عمل کوم عمل اوموندلو؟ صحابه کرامو ﷺ عرض وکړو چه یارسول الله! اتسمع؟ چه دا اوری؟ نونبی پاک ﷺ اوفرمائیلو :ماانتم باسمع منها،یعنی تاسو دَدینه زیات نه اورئې یعنی لکه څرنګه چه تاسو اورئې هم دغه شان دا هم اوری.

ددینه علاوه نورهم ډیراحادیث دی چه جمهوروورسره استدلال کړیدې حضرت شاه انورشاه کشمیری ﷫ په فیض الباری کښې فرمائی:اقولُ والاحادیث فی سمع الاموات قدبلغت مبلغ التواتر(فیض الباری ج۲ ص ۴۲۷)یعنی سماع الموتی دَثبوت په باره کښې احادیث حدتواترته رسیدلی دی حضرت شاه صاحب په العرف الشذی کښې فرمائی چه:وان ذخیرة الحدیث تدل علی سمع الموتی،اودَدې وجه نه دامسلک اکثرصحابه کرامو ﷺ اواسلافو اختیارکړیدې،حضرت عمر ﷺ، ابن عمر ﷺ،ابوطلحه ﷺ،ابن مسعود ﷺ،حضرت انس ﷺ دامسلک اختیارکړیدې،امام مسلم ﷫ دحضرت عمروبن العاص ﷺ قول اووصیت نقل کړیدې چه هغه خپلو ورثاؤ او ملګروته کړیدې،فرمائلی چه:فاذادفنتمونی فسنّواعلیّ التراب،سنّا،ثمّ اقیمواحول قبری قدرماتنحرجزورویقسم لحمها حتّی استانس بکم وانظر ماذااراجع به رسل ربّی(مسلم)یعنی چه کله تاسوما دفن کړئ نوپه ماباندې خاورې واړوئ اوبیاځمادَقبرنه ګیرچاپیره دومره وخت پورې اودرېږئ څومره وخت کښې چه اوښ حلال کړې شی اوغوښه ئې تقسیم کړې شی،دې دَپاره چه ستاسوپه وجې سره څه مانوس شم اوسوچ اوکړې شم چه دَخپل رب ملائکوته څه جواب ورکړم،ددینه معلومه شوه چه دَعمروبن العاص ﷺ مسلک هم دااوو چه اهل قبوراحساس اوشعورلری،اوددې وجې نه علامه قرطبی ﷫ سماع ته واضح وئیلی دی او ابن جریرطبری ﷫ وغیره حضراتو دَاثبات سماع دَپاره ډیردلائل ذکرکړیدی،حافظ ابن کثیر ﷫ فرمائی چه:والسلف مجمعون علی هذا(ابن کثیرج۳ ص۴۳۸)یعنی دَاسلافو په ثبوت دَسماع باندې اجماع راغلیده،اودغه شان دَامام بخاری ﷫ دَصنیع هم معلومیږی چه سماع الموتی ثابت دی،امام بخاری ﷫ باب منعقدکړیدې"باب المیت یسمع خفق النعال"دَدې باب نه دَامام بخاری ﷫ لکه څرنګه جواز دَمشی مع النعال دې په مقبره کښې نودغه شان ورسره ورسره مسئله دَسماع موتی ته هم اشاره ده اوبیائې حدیث هم ذکرکړیدې چه دلالت کوی په

ثبوت دَسماع الموتى باندې، دغه شان په كتاب الجنائزكښې يوبل باب منعقد كړيدې، باب قول الميت وهوعلى الجنازة "قدموني" اودَحضرت ابوسعيد خدري ﷺ نه مروى حديث ذكر كړيدې چه هغه فرمائى: كان النبي ﷺ يقول اذاوضعت الجنازة فاحتملهاالرجال على اعناقهم فان كانت صالحة قالت قدمونى الخ، قسطلانى رحمه الله دَدې په تشريح كښې ليكلى دى قالت بلسان القال بحروف واصوات يخلقهاالله فيها (قسطلانى ج۲ ص۴۳۱) اوحضرت شاه صاحب رحمه الله په فيض البارى كښې دَدې ترجمة الباب تحت يوتفصيلى اوجامع بحث كړيدې اوثبوت دَسماع ته ئې ترجيح وركړيده. اوديته ئې دَحضراتو احنافو اصل مذهب وئيلى دى، باقى دا ايت مذكوره نودينه جمهور مختلف جوابونه كړيدى، منجمله دَهغې نه دادى (۱) دلته نفى دا سماع ده اومتنازع فيه سماع ده اونفى دَاسماع نده مستلزمه نفى دَسماع لره، فقيل بالفرق بين السماع والاسماع والنفى هوالثانى دون الاول والمطلوب هوالاول دون الثانى (فيض البارى) نودَدې جواب خلاصه اوتوضيح داده چه يوعالم مشاهداودادنياده اوبل عالم برزخ دې، نوپدې مشاهد عالم اودنيا كښې سماع دَالله ﷻ دَعادت موافق اوماتحت الاسباب ده، چه دكوم انسان الات اوجوارح سماع صحيح وى نودَالله ﷻ عادت پدې جارى دې چه داانسان خبرې اورى، بل كس ورته په خپل اختيارسره خبرې اورولې شى، اوعالم برزخ چونكه دَعالم مشاهدنه مختلف دې، نودَدې وجې نه احكامات ئې هم بدل، نوهلته دَاهل قبورواوريدل ياهغوئى وراورل دَانسان په اختياركښې ندى، ځكه چه تحت الاسباب ندى، نولهذا پدې ايت كښې نفى اسماع اختيارى ده باقى پاتې شونه سماع چه مرتب ده په اسماع اختيارى اوغيراختيارى باندې نودَهغې نفى نده شوې، يعنى ستاپه قدرت اواختياركښې نده چه ته مړوته واوروې نودادَقبيلې دَ"ومارميت اذرميت ولكن الله رمى" نه دې.

حضرت مولاناقاسم نانوتوى رحمه الله فرمائيلى چه، سمع اموات دَحداسماع نه جدادې، استماع اموات ممكن دې، اواسماع ضرورى نده اودَدې وجې نه په ايت كښې نفى دَاسماع راغليده اوپه حديث كښې نبى پاك ﷺ سلام په اهل قبورباندې بيالغوعمل وې، اودالغواوفضول عمل به دَملحدانودَاعتراضاتو اودَهغوئى دَربان درازئى دَپاره كافى وې.

(۲) دويم جواب دَاكثرومفسرينواودَمحدثينودې چه مرادپدې نفى سره نفى دَسماع نافع ده، اوسماع نافع هغه ده چه په هغې باندې قبوليت مرتب وى، اوكوم سماع چه نافع نوى اوقبوليت پرې نوى مرتب نوهغه نازله ولې شى په منزله دَمعدوم باندې لكه سورة الاعراف ايت

نمبر(۱۰۰)کښې دی ونطبع علی قلوبهم فهم لایسمعون دغه شان په سورة حم السجده ایت نمبر(۱)کښې دی فاعرض اکثرهم فهم لایسمعون دغه شان په سورة الفرقان ایت نمبر(۴۴)کښې دی چه ام تحسبُ انّ اکثرهم یسمعون اویعقلون ددینه علاوه نورډیرایاتونه دی چه په هغې کښې دکافرانونه،نفی دَسماع راغلیده اوحالانکه داپه مشاهده کښې وو،چه هغوئ اوریدل کولې شونولهذا هلته هم منفی سماع نافع اوسماع قبول ده نودلته هم منفی سماع نافع اوسماع قبول ده،ځکه چه دَعدم انتفاع دَوجې نه کله یوځیزپه منزله دَمعدوم ګرځولې شی لکه سورة الاعراف کښې دی"لهم قلوب لایفقهون بهاولهم اعین لایبصرون بهاولهم آذان لایسمعون بها نودلته هم دَ"لایبصرون"اودَ"لایسمعون"نه مرادنفی دَقبول ده اومطلق لیدلواواوریدلونفی نده مراد،اودَدې وجې نه علامه آلوسی رحمه الله فرمائی چه:والجواب عن الایة ان المنفی هوالسماع النافع وینزل الشی بمنزلة العدم لعدم الانتفاع.

اوابن کثیر رحمه الله دَدې په تفسیرکښې داسې فرمائی:ای لاتسمعهم شیئاًینفعهم،اوحافظ ابن حجر رحمه الله وغیره محدثین فرمائی:واما استدلالهابقوله تعالی:انک لاتسمع الموتی فقالوا معناهالاتسمع سماعًاینفعهم(فتح الباری) اودَدینه علاوه عقلی قرینه دَدې توجیه دَترجیح دَپاره داده چه په دې ایت کښې دکفاروتشبیه ورکړې شویده دَمړوسره اوقانون دادې چه وجه دَشبهې په مشبه اومشبه به کښې ملحوظه وی،نوکچرې داایت دلیل اوګرځولې شی پدې چه مړی بالکل نه اوری نووجه دَشبهې به عدم سماع شی،اودایعنی عدم سماع به ملحوظ وی په مشبه یعنی کافرانوکښې هم،اوپه مشبه به یعنی مړوکښې هم،حالانکه په مشبه کښې عدم سماع،ندې ملحوظ بلکه دکفارونه سماع متحققه ده،البته سماع نافع اوسماع قبول ورته نووحاصل،اودَدې وجې نه،قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی:وانماشبهوا بالموتی لعدم انتفاعهم باستماع مایتلی علیهم کماشبهوابالصم(بیضاوی).

(۳)دریم جواب دَدې ایت نه حضرت مولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله په عمدة الرعایة کښې کړیدې،دَهغې خلاصه داده چه دَدې ایت تعلق دَسماع موتی سره ندې ځکه چه دَ"الموتی"نه مرادپدې ایت کښې"موتی القلوب"یعنی دَزړونومړی دی،اوعرفی اموات،ندی مراد،اوموتی القلوب یعنی دَزړونو مړی کفاردی،نودَایت مطلب دادې چه ته هغه چاته اورول نشې کولې دَچازړونه مړه دی،یعنی کفاروته ته اورول نشې کولې یعنی هغوئی ته ته هدایت نشې ورکولې:الصحیح ان المرادبالموتی هناک موتی القلوب وهم الکفارلاالاموات العرفیة(عمدة الرعایة).

(۴) څلورم جواب دَدې ایت نه حضرت شاه صاحب رحمه الله داسې کړیدې چه "سماع، اسماع، استماع" تولو معنی تقریباً یوه ده خودلته نفی دَاسماع نه مرادنفی دَعمل دې څکه چه اوریدل اورول دَپاره دَعمل کولووی اوکله چه یو کس عمل نه کوی نو ګویاچه اوری هم نه لکه یو سړې مونځ نه کوی نوته دَهغه په باره کښې وائی چه ماده ته څوڅوځلې اوئیل چه مونځ کوه خودې خبره نه اوری یعنی عمل پرې نه کوی. باقی هغه عبارات دَفقهاؤچه په هغې کښې نفی دَسماع موتی باندې تصریح ده اودیته ئې اصل مسلک دَاحنافو وئیلې دې لکه په فتح القدیر کښې علامه ابن الهمام رحمه الله دَ "تلقین الموتی" نه مرادقریب الموت مرادکړیدې او"موتی" ئې په خپل حقیقی معنی سره ندې مرادکړې اووجه ئې دابیان کړیده چه: وعندی ان مبنی ارتکاب هذاالمجاز هنا عند اکثر مشایخنا هو ان المیت لایسمع عندهم، نوپه دې کښې تصریح ده چه اکثر و مشائخو دَ احنافو مسلک دادې چه مړی نه اوری. اوبیا علامه رحمه الله حواله ورکړیده په کتاب الایمان کښې دَیوې متفقې مسئلې چه یو سړې قسم اوکړی چه څه به دَفلانی کس سره خبرې اونکړم اوبیائې ورسره پس دَمرګ نه خبرې اوکړې نودَتولو احنافو په نیزداسړې حانث ندې، علامه رحمه الله دَدې عدم حنث دَپاره علت داذکرکړیدې چه: لانها تنعقدعلی مایحیث یفهم والمیت لیس کذلک لعدم السماع، لیکن دَعلامه ابن الهمام رحمه الله پدې تعلیل چه "لانهاتنعقدالخ" باندې محدثینو رد کړیدې اوداتعلیل ئې دَعدم حنث دَپاره ندې قبول کړې بلکه دَعدم حنث دَپاره وجه داده چه داورومدار دَقسمونو په عرف باندې دې اوپس دَمرګ نه یو سړی سره خبرې کول، عرفاً دیته خبرې کول نشی وئیلې کیدلې.

ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات شرح دَمشکوة (ج۸ ص۱۱) کښې فرمائی: اقول هذامنهم مبنی علی ان الایمان علی العرف فلایلزم منه نفی حقیقة السماع کماقالوافیمن حلف لایأکل اللحم واکل السمک مع انه تعالی سماه لحماطریاً (مرقاة) اومولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله په عمدة الرعایة کښې دَعلامه ابن الهمام رحمه الله پدې تعلیل باندې داسې رد کړیدې، وانماحکموافی الحلف بالضرب والکلام والدخول علیه ونحوهابعدم الحنث عندوجودهذه الاشیآء بالمیت لکون الایمان مبنیة علی العرف، والعرف قاض علی ان هذه الاموریرادبهاارتباطهامادام الحیوة لابعدالموت فالکلام بالمیت وان کان کلاماًحقیقة ویوجدفیه الاسماع والافهام لکن العرف یحکم بان المراد فی قوله لااکلمک هوالکلام حالة حیاته (عمدة الرعایة ج۳ ص۲۵۴).

یعنی فقهاؤ دَمړی وهلو دَهغه سره دَخبروکولواوهغه ته دَتللووغیره کښې دَعدم حنث حکم دَدې وجې نه کړیدې چه دَقسمونوداورومدارپه عرف باندې دې، اوعرف دافیصله کوی چه دَدې

کارونو ارتباط دنیازندګئ پورې محدوددې، دمرګ نه پس دَدې امورو ارتباط دَقسم خوړلې شوې څیزونو سره نیشته اګرچه دَمرګ نه پس دَمړی سره خبرې کول حقیقةً کلام دې. او په یکښې اسماع یعنې اورول او افهام شته دې، لیکن دَعرف فیصله داده چه یو کس دا اوائی چه "لا اکلمک" چه څه به تاسره به خبرې اونکړم نو ددینه په حالت دَحیات کښې عدم تکلم مراد دې.

او حضرت شیخ الاسلام عثمانی رحمه الله هم دَدې توضیح کړیده او فرمائی چه: وامامسئلة الایمان التی ذکرهاالشیخ ابن الهمام فمبنی الایمان علی العرف فاذاحلف احدٌانه لایکلم فلانًافلایفهم منه اهل العرف الاالتکلیم فی حالة الحیوة فلایحنث بتکلیمه میتا(فتح الملهم)او دَدې دَپاره ډیر شواهد دی او ډیر مسائل په عرف باندې مرتب دی مثلاً یو سړې قسم اوکړی چه څه به غوښه نه خورم او بیائې دَماهی غوښه اوخوړه له نو دا سړې حانث ندې ځکه چه عرف او عادت کښې دَمطلق غوښې اطلاق په ماهی باندې نه کیږی، اګرچه شرعًا دَماهی په غوښې باندې اطلاق دَغوښې شویدې، دغه شان یو کس قسم اوکړو چه څه به "سر" نه خورم، او بیائې دَمرغئ سر اوخوړلو نو دا کس حانث ندې ځکه په عرف کښې دَ "سر" اطلاق دَغوا، غوئې او دَمیښې او بیزې وغیره باندې کیږی.

او دَدې وجی نه حضرت کشمیری رحمه الله په فیض الباری باب قول المیت وهوعلی الجنازة قدمونی، تحت په علامه ابن الهمام رحمه الله باندې سخت رد کړیدې فرمائی: اقول والاحادیث فی سمع الاموات قدبلغت مبلغ التواتروفی حدیث صححه ابوعمران احدًااذاسلم علی المیت فانه،یردعلیه ویعرفه ان کان یعرفه فی الدنیااوخرجه ابن کثیرایضًاوترددفیه فالانکارفی غیرمحله سیمااذالم ینقل عن احدمن انمتارحمهم الله تعالی فلابدبالتزام السماع فی الجملة واماالشیخ ابن الهمام رحمه الله فجعل الاصل هوالنفی وکل موضع ثبت فیه السماع جعله مستثنیً ومقتصرًاعلی الموردقلت اذن ماالفائدة فی عنوان النفی ومالفرق بین نفی السماع ثم الاستثناء فی مواضع کثیرة وادعاء التخصیص وبین اثبات السماع فی الجملة مع الاقرارباناالاندری ضوابط اسماعهم فان الاحیاء اذالم یسمعوافی بعض الصورفمن ادعی الطردفی الاموات ولذاقلت بالسماع فی الجملة(فیض الباری).

دَدې عبارت خلاصه داده چه دَسماع الموتی په باره کښې احادیث حدتواترته رسیدلی دی(او بیاخاص طورباندې هغه حدیث)چه دَهغې تصحیح ابوعمر رحمه الله کړیده چه څوک په مړی باندې سلام واچوی نو مړې ده ته جواب ورکوی او که چرې دا سلام اچوونکې دَدې مړی پیژندګلووی په دنیا کښې نو په قبر کښې ئې هم دا مړې پیژنی(نو دا حدیث په عموم دَسماع موتی باندې دلالت کوی)نو لهذا دَسماع موتی نه انکار کول بې موقع او بې محل دی، او بیاخاص طورباندې په

دې صورت کښې دَسماع نه انکارکول چه زمونږپه ائمه(يعنى دَاحنافو)کښې دَچانه هم نفي دَسماع نده منقوله،نولهذادَفى الجمله سماع التزام ضروري دې اوکومه خبره چه شيخ ابن الهمامؒ کړيده چه اصل ضابطه اوقانون دَعدم سماع دې،اوکوم احاديثونه چه سماع ثابتيږي نوهغه مواضع مستثنى دى اودَسماع والااحاديث ئې په خپل موردپورې منحصر ګرځوليدى نوحضرت شاه صاحبؒ پدې باندې په درې(۳)وجوهاتوسره ردکړيدې اول(۱)وجه داده چه څنې مواضعوکښې اثبات دَسماع دَوجې نه بياعنوان دَمطلق نفى دَسماع قائم کول اواصل ضابطه عدم سماع وئيل بې فائده دى(۲)اودغه شان يوطرف ته نفى دَسماع قول کول اوبيادَډېرمواضعواستثناکول اودَتخصيص دعوى کول اوفى الجمله اثبات دَسماع کول دَدې په مينځ کښې به څه فرق راشى؟ څکه چه رجع دَدې سماع ته کيږي. (۳)اودغه شان نفي دَسماع نه مرادڅه دې؟ کچرې مقصودنفى دَسماع نه داوى چه مړى بالکل نه اورى نودادَنصوصونه مخالفه ده اوکچرې مقصوددَنفى نه داوى چه مړى په بعض صورتونوکښې اورى اوپه بعض صورتونوکښې نه اورى.نوبياديته عنوان نفى دَسماع الموتى ورکول غلط دى څکه چه ژوندى خلک هم کله کله دَبل چاخبره اواوازنه اورى،اونه ورته دَهغه دَخبرې اودَاوازڅه پته لګى، نوبيادَمړوپه باره کښې عدم سماته اصل ضابطه وئيلوڅه معنى شوه اودَدې باوجودچه مونږدَدې اقرارهم کووچه مونږدَمړودَسماع اواسماع دَضوابطونه خبرهم نه يو ،څکه چه ژوندى خلک هم کله کله نه اورى نودَمړوپه باره کښې څوک دَدې دعوى کولې شى چه مړى هروخت اورى نولهذاځه(شاه صاحبؒ)وايم چه سماع فى الجمله ثابت دې.

دغه شان علامه الوسىؒ په تفسيرروح المعانى کښې په سماع الموتى باندې دَاوږداوطويل بحث نه ورستوخپله فيصله داسې کړيده چه:والحق ان الموتى يسمعون فى الجملة الخ يعنى حقه خبره داه چه مړى فى الجمله خبرې اورى.اودَدې قائل علامه تفتازانى وغيره متکلمين هم دى،لکه چه دَهغه دَعبارت چه په شرح مقاصدکښې دې دَهغې نه معلوميږي،اوداقول زيات راجح دَدې وجې نه هم دې چه دَټولواهل السنة والجماعت پدې اتفاق دې چه دَمرګ نه پس دَروح تعلق څه ناڅه درجې کښې دَبدن سره وى اودَدې وجې نه اجزاء دَبدن دَتنعيمات دَقبراوعذاب قبراحساس کوى نوهرکله چه دَروح تعلق په څه ناڅه درجې کښې دَبدن سره وى نوکه اجزاء دَبدن اواز واورى نوداڅه مستبعده خبره نده.

خلاصه: خلاصه دکلام داده چه سماع دوه(۲)قسمه ده چه يوقسم سماع مطلقه ده چه هغې ته سماع کامل هم وئيلې کيږي اودويم قسم سماع،مطلق سماع ده چه هغې ته سماع فى الجمله وئيلې

کیږی دَسماع مطلق دَمړودپاره څوک هم قائله ندی.څکه چه سمامطلق دژوندودپاره ندې ثابت نومړودپاره به څرنګه ثابت شی البته مطلق سماع ثابته ده اومطلق سماع مرتبه دمطلق شئ ده چه پدې باندې احکام دعموم اوخصوص دواړه جاری کیږی نو لهذا دنصوصونه چه کومه سماع ثابته ده نودهغې دوجې نه مطلق سماع ثابته شوه نودې وجې نه عنوان دنفی دَسماع قائم کول غیرمناسب دی والله اعلم وعلمه اتم واحکم

وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ
اوکله چه واقع شی خبردَقیامت پدوئ نورابه او به باسومونږدوئ ته څناوردزمکی نه چه خبری به کوی حلفوسره.
اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾
چه بیشکه خلق وؤچه زمونږپه آیاتونونی یقین نه کولو

﴿وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ ﴾داتخویف دنیوی دې،او وقوع نه مرادقرب دې اوقریب الشئ نه تغبیرعموماًپه وقوع الشئ سره کیږی،او﴿اَلْقَوْلُ ﴾ نه مرادقیامت دې دَ آیت مطلب دادې چه کله اخری زمانه شی اوقیامت قریب شی نوپدغې وخت کښ به اللهﷻ دزمکې نه یوعجیب الخلقت دابه پیداکړی اوبعض فرمائی چه﴿ وَقَعَ﴾په معنی دَثبت سره دې او﴿اَلْقَوْلُ﴾ نه مرادغضب اوعذاب دَاللهﷻ دې لیکن داټولې معانی متقاربې دی او﴿مِّنَ الْاَرْضِ﴾کښ اشاره ده چه ددې دابې پیدائش به خلاف عادت دزمکې نه وی اوتوالدبه ئې دَبلې دابې نه نه وی اوتنوین په﴿دَآبَّةً ﴾کښ دَتعظیم اوتنویع دپاره دې اودا﴿دَآبَّةً ﴾ به دَعلاماتوکبری ؤدقیامت نه به وی.لکه چه په حدیث دَمسلم وغیره کښ دی چه نبی پاکﷺ ارشاداوفرمائیلوچه قیامت به ترهغه وخته پورې نه راځی ترڅوچه لس(۱۰)علامات تاسواونه ګورئی(۱)نمردَمغرب دَطرف نه راختل(۲)دخان یعنی لوګې(چه قرب قیامت کښ به ظاهریګی مؤمن ته به ددینه زکام اولګی اوکافرته به سخت تکلیف اوعذاب ورکوی.داقول دَجمهورومحدثینو دې)(۳)خروج دابة(۴)خروج یاجوج وماجوج(۵)نزول عیسیؑ(۶)خروج دجال(۷، ۸، ۹)درې خسوفه یوبه په مغرب کښ وی دویم په مشرق اودریم په جزیرة العرب کښ وی(۱۰)اور چه دَقعرعدن نه به ظاهرشی چه داټول خلک به یومیدان ته راجمع کړی.اودَاحادیثونه معلومیږی چه خروج دابې نه ورستوبه قیامت ډیرقریب وی اومحدثین فرمائی

چه خروج دابه او طلوع شمس دَمغرب نه دَدې دواړو علاماتو دَظهورنه ورستوبه دَچا ايمان نه قبليږي، بعض مفسرينو دَدې عجيب الخلقت دابې شکل وصورت او هيئت هم بيان کړيدې ليکن دَهغې ثبوت دَنصوصونه نشي کيدلې، نولهذا زمونږ دَپاره صرف پدې باندې ايمان راوړل کافي دي، چه دا دابه به راوځي او خبرې به کوي مؤمن او منافق به پيژني او دَټولې دنياچکربه لګوي

بعضې علماء فرمائي چه﴿ دَآبَّةً ﴾اسم جنس دې چه اطلاق ئې په قليل او کثير دواړو باندې کيږي نولهذا "دابه" صرف يوه﴿ دَآبَّةً ﴾نوي بلکه متعددې "دابې" به وي دَهر ښهر دکسانو دَپاره به خپله﴿ دَآبَّةً ﴾ وي، ليکن غوره قول دادې چه دا﴿ دَآبَّةً ﴾به يوه وي.

دا﴿ دَآبَّةً ﴾به کله راوځي نو دَحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه مروي دي چه﴿دَآبَّةً﴾ هغه وخت راوځي چه کله قرآن لوستونکي او طواف کوونکي ختم شي، ليکن علامه آلوسي رحمه الله پدې رد کړيدې چه دَاکثرونصوصو او احاديثونه ثابته ده چه دا﴿دَآبَّةً﴾به هغه وخت ظاهريږي چه کله مؤمن او کافر دواړه په دنياکښې موجودوي، نولهذا غوره خبره داده چه کله ګناهونه، شرک او کفرزيات شي اوامربالمعروف ونهي عن المنكر منقطع شي نو پدې وخت کښې به الله ﷻ دا علامه ظاهره کړي او دَدينه ورستو که بيا يو کافرايمان راوړي نو دَهغه ايمان به نوي قبول

دَدې "دابې" ظهوربه دکوم ځائ نه کيږي، پدې کښې روايات متعدددي بعض رواياتوکښې مدينه، په ځنوکښې طائف او په ځينوکښې سدوم راغليدي ليکن اکثررواياتوکښې دَمکې معظمې "ذکردې، نولهذا ممکنه ده چه اصل مبدأئې مکه معظمه وي او مدينه، طائف وغيره ئې هم صرف مراکز وي.

﴿تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ﴾ضميرمرفوع راجع دې﴿دَآبَّةً ﴾ته، اوضميرمنصوب راجع دې منکرينو دَقرآن او منکرينو دَبعث بعد الموت ته، او په﴿أَنَّ ﴾کښې دوه(۲) قرائت دي. په کسرې سره او په فتحې سره، نو چه په فتحې دَهمزې سره شي لکه چه دا قراءة دَجمهورودې نو دَدې سره به "باء" حرف جرمحذوف وي يعني "بان الناس" او پدې "باء" کښې دوه احتماله دي(۱) يا دَتعدئې دَپاره ده چه دا جمله مفعول ثاني دې دَ﴿تُكَلِّمُهُم ﴾دَپاره او﴿بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾نه مراد "بآيات ربنا" دې نو معنى داده چه "دابه"

خلکوسره خبري کوی چه خلک زمونږدَرب په ایاتونوباندې یقین نه لری(۲)یا باء سببیه ده اودا سبب بیانیږی دَاخراج دَ دابه دَپاره او ﴿تُكَلِّمُهُمْ﴾دَپاره مفعول ثانی محذوف دې چه ببطلان الادیان کلهاسوی الاسلام،دې،اویاعدم قبول توبتهم دې نومعنی ئې داده چه دا دابه به خبرې کوی په بطلان دَټولو ادیانوباندې چه ټول ادیان باطل دی سیوادَدین اسلام نه.اویابه خلکوسره خبرې کوی چه ستاسوتوبه نه قبلیږی اودا دابه به ولې رااوځی؟ ځکه چه﴿أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ﴾ځکه چه خلک زمونږپه ایاتونوباندې ایمان نه لری.

اویا﴿أَنَّ﴾په کسرې سره دې،چه داقرأة دَبعضې قرآؤدې،ځکه چه﴿تُكَلِّمُهُمْ﴾مؤل دې په تاویل دَقول سره،اوقول نه ورستو اِنَّ په کسرې سره وی او﴿بِـَٔايَٰتِنَا﴾نه مراد بآیات ربنا دې.نومعنی ئې داده چه دا دابه به خلکوته وائی چه خلک زمونږدَرب په ایاتونوباندې یقین نه لری اوبعض مفسرین فرمائی چه﴿تُكَلِّمُهُمْ﴾دَکلام نه ندې بلکه دَکلم نه دې چه جرحې ته وئیلې کیږی،نوپدې تقدیردَایت دوه(۲)معانی دی(۱)یوه داچه﴿أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ﴾تفسیردکلم یعنی دَجرحې دې﴿ بِـَٔايَٰتِنَا﴾نه مراد بایات ربنا دې نومطلب دادې چه دا دابه به په خلکوباندې جرحې کوی اوزورنه به ورکوی چه تاسوزمونږدَرب په ایاتونوباندې ایمان نه لرو(۲)دویم تفسیردادې چه کلم یعنی جرحة په معنی دَوسم سره دې اودَدې تائیدپه هغې حدیث سره کیږی چه نقل کړیدې امام ترمذیؒ،ابن کثیرؒ وغیرهماحضراتوچه:قال رسول اللهﷺ تخرج دابة الارض ومعهاعصاموسیعلیه السلام وخاتم سلیمانعلیه السلام فتخطم انف الکافربالعصاوتجلی وجه المؤمن بالخاتم حتی یجتمع الناس علی الخوان یعرف المؤمن من الکافر،یعنی نبی پاکﷺ ارشاداوفرمائیلوچه دابة الارض به رااوځی چه ددې سره به دَحضرت موسیعلیه السلام عصااودَحضرت سلیمانعلیه السلام مهروی،په عصاسره به دکافرپه پوزه باندې یونشان جوړکړی اوپه مهرسره دَمؤمن مخ نورانی کړی،حتی چه خلک به په یوځائ باندې راجمع شوی وی،مؤمن اوکافربه دَدغې نشاناتودَوجې نه پیژندلې شی،اوپه بعض روایاتوکښ دی چه خلک بل یوبل ته اوازکوی چه،یامؤمن یاکافر.دَدې روایت تصحیح اګرچه امام حاکم کړیده لیکن محدثین فرمائی چه دَدې په سندکښ علی بن زیددې چه هغه ضعیف راوی دې.

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ فَوۡجًا مِّمَّنۡ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمۡ يُوۡزَعُوۡنَ ﴿۸۳﴾
اوپه کوم ورځ چه راپورته کړومونږ دهرې دلې نه یوډله دهغه چاچه تکذیب ئې کولوزمونږدآیاتونودوئ به راحصارولې شی
حَتّٰۤى اِذَا جَآءُوۡ قَالَ اَكَذَّبۡتُمۡ بِاٰيٰتِىۡ وَلَمۡ تُحِيۡطُوۡا بِهَا
تردې چه کله راشی میدان حساب ته الله جل جلاله به ورته اووائی آیاتاسوتکذیب کړې وؤزمونږدآیاتونواواحاطه نه وه کړې تاسوپه هغه آیاتونو
عِلۡمًا اَمَّاذَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۸۴﴾ وَوَقَعَ الۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ بِمَا ظَلَمُوۡا
دجهته دعلم نه اویانورڅه وؤهغه چه ناسو کول .اوواقع به شی خبردعذاب پدوئ په سبب دظلم ددوئ
فَهُمۡ لَا يَنۡطِقُوۡنَ ﴿۸۵﴾ اَلَمۡ يَرَوۡا اَنَّا جَعَلۡنَا الَّيۡلَ
پس دوئ به خبرې نشی کولې معذرت په نشی کولې آیانه وینی دوئ چه بیشکه مونږګرځولې ده شپه
لِيَسۡكُنُوۡا فِيۡهِ وَالنَّهَارَ مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۶﴾
لپاره ددې چه ارام پکښې اوکړی اوورځ مونږاګرځولې ده بیشکه پدې کښې خامخادلائل دتوحید دي لپاره دهغه قوم چه ایمان راوړی

﴿وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ﴾ دمبادی دقیامت ذکرنه ورستوتخویف اخروی ذکرکیږی،اودې حشر نه مرادحشرکلی ندې چه ټول مخلوقات به دحساب کتاب دپاره راجمع کولې شی بلکه ددې حشرنه خصوصی اوجزئی غونډې حشرمراددې،چه مجرمین به دعذاب اودسخت زورنې دپاره راجمع کړې شی او من په من کل امة کښې تبعیضیه دې اوپه ممن یکذب کښې من بیانیه دې نومطلب دادې چه دهرامت نه بعض افرادچه زمونږدآیاتونوتکذیب ئې کړیدې هغوئ به مونږراجمع کړو.اودلته رعایت دترتیب وقوعی اونکړې شوچه اول ذکردنفخې شوې وې بیاحشرکلی اوعمومی ذکرشوې وې اوبیاحشرخصوصی بلکه دلته اول دحشرخصوصی بیادحشرعمومی اوبیادنفخې ذکرشویدې،ځکه چه مقصودپدې ځائ کښې تنبیه ده پدې چه هرحالت مستقل واهیه اوسختی ده،اودامقصودپه ترتیب وقوعی سره نشو حاصلیدلې،ځکه چه په ظاهرکښې نفخه سخته داهیه ده نوداتوهم کیدلې شوچه ټولې سختئ په

نفخه کښې دی،اونفخه دې ټولو سختیولره متضمنه ده اوهرحالت به ځان له مستقله سختی نوی،نودَدې وجې نه دَترتیب وتوعی اعتبار اونکړې شو(روح).

﴿فَهُمْ يُوزَعُونَ﴾داد وزع نه دې په معنی دَبندولو سره یعنی ټول به په یوځائ کښې بند کړې شی اوجمع به کړې شی﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو﴾یعنی دوئ ټول به میدان حساب ته راوستې شی،داذکردَحشرعمومی دې﴿قَالَ أَكَذَّبْتُم﴾یعنی الله ﷻ به ورته توبیخاً اوائی نودااستفهام دَاستعلام دَپاره ندې بلکه دَزجراوتوبیخ دَپاره دې﴿وَلَمْ تُحِيطُواْ بِهَا﴾واو حالیه دې اوداقیددَمزیدشناعت اوقباحت دَپاره دې یعنی دَالله ﷻ دَایاتونوتکذیب کول مستقل جرم اوکفردې اوبیابلاتحقیقه تکذیب کول بدترین اوقبیح ترین جرم دې﴿أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ "ام"یامتصله دې په معنی دَهمزه استفهامیه سره اواستفهام دَپاره دَتبکیت دې او﴿كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ کنایه ده دَعدم تکذیب نه یعنی تصدیق نه،نودَایت مطلب دادې چه آیاتاسوبې تحقیقه ځمادَایاتونوتکذیب کړې وو،یاتاسوتکذیب نه ووکړې نوکه تکذیب مونه وی کړې نوبیاتاسوڅه عمل کړې دې،هغه عمل اوښائې؟سیوادَتکذیب نه تاسوبل څه عمل کړیدې؟ اوچونکه تصدیق دَدوئ نه، ندې متحقق نودَدې وجې نه دوئ به خاموش پاتې شی اودابه نشی وئیلې چه مونږتکذیب ندې کړې لیکن زیاته غوره توجیه داده چه"ام"منقطعه دې په معنی دَبل سره دې اوداانتقال دَیوتوبیخ نه بل توبیخ ته دې اوما اسم استفهام دې مبتداء ده او"ذا"موصول او"کنتم تعملون" جمله ورله صله ده اوعائدپکښې محذوف دې،موصول دَمبتداء دَپاره او"کنتم تعلمون"کنایه ده دَنوروبدعملونونه،لکه انبیاء کرام علیهم الصلوات والتسلیمات اولیاء الله اوداعیان حق ته تکلیف ورکول شووغیره،نواول توبیخ اوزجرصرف دَایاتونوپه تکذیب باندې دې اودازجراوتوبیخ په نوروبدعملونوباندې دې،نودَایت مطلب دادې چه تاسوصرف بلاتحقیقه تکذیب باندې اکتفاء اونکړه بلکه نورجرمونه اوبدعملونه موهم کول.

﴿وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم﴾نوهرکله چه دوئ څه معقول عذرپیش نکړې شی اودَدروغوعذرونه به نشی کولې نوخاموشه به پاتې شی اولاجوابه به شی نوالله ﷻ فرمائی چه دوئی دَعذاب موعودمستحق اوګرځیدلواوعذاب موعودپه دوئی باندې ثابت شو.﴿فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ﴾یعنی څه

عذر او حجت به نشی کولې ځکه چه دَدوئ دَپاره به څه عذر نوی. او یا مقصد دادې چه په خلو باندې به ني مهر اولګی او دَخبرو کولو طاقت به نه لری، او هر کله چه مواطن او مواقف دَقیامت متعدد ددی نو دَدې وجې نه په بعضې مواقفو کښې به دوئ بالکل عذر نشی پیش کولې او په بعضې مواقفو کښې به دَدروغو عذرونه پیش کوی خو نه به قبلیږی.

﴿أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا﴾ دا دویم دلیل عقلی دې چه متعلق دې دَدویمې دعوې سره چه کارساز او متصرف صرف او صرف الله ﷻ دې او دَرؤیت نه مراد رؤیت قلبی دې، بصری ندې او پدې ایت کښې صنعة احتباک شویدې، ځکه چه دلته دوه (۲) جملې دی نو په اولې جملې کښې دَجعل مفعول ثانی محذوف دې چه "مظلمًا" دې او متعلق ئې ذکر دې او په هغې باندې اکتفاء شویده او په دویمې جملې کښې مفعول ثانی مذکوردې او متعلق محذوف دې چه "لينشروافيه" دې، نو تقدیر دَعبارت داسې دې "جعلنا الليل مظلمًا ليسكنوا فيه والنهار مبصراً لينشروا فيه" یعنی آیا دوئ نه ګوری چه شپه مونږ دَتیاری والا پیدا کړیده دې دَپاره چه دوئ پکښې ارام اوکړی او ورځې مو دَرڼا والا پیدا کړیده، دې دَپاره چه دوئ پکښې ګرځی راګرځی، دَشپې دَورځې دا تصرفات دَالله ﷻ په اختیار کښې دی نو لهذا کارساز او حاجت روا هم هغه دې.

دغه شان پدې ایت کښې امکان دَوقوع دَقیامت او بعث بعد الموت په دلیل عقلی سره ثابتیږی لکه څرنګه چه ماقبل ایت کښې نفس وقوع دَقیامت ذکر شوه، نو پدې آیت کښې په دلیل عقلی سره دَبعث اثبات کیږی، ځکه چه دَشپې خوب مشابه دې دَمرګ سره لکه مشهوره ده چه "النوم اخو الموت" او دَورځې راپید اریدل مشابه دی دَبعث سره، ځکه چه دَمرګ حقیقت دادې چه زوال دَتعلق راشی دَروح دَجسد نه او دَبعث حقیقت دادې چه عود دَدې تعلق اوشی نو په خوب سره هم من وجه زوال دَدې تعلق راځی اګرچه ضعیف وی لیکن په یو مرتبه کښې زوال دې او یقظت یعنی بیداریدل عود دَدې تعلق دې، نو لهذا دَدنیا خوب مشابه شو دَخوب برزخی یعنی دَمرګ سره او یقظت مشابه شو دَحیات اخروی او بعث سره، نو دَدیو مشابه او نظیر سره تعلق دَقدرت الهی مشاهد دې او دا تعلق معلل بالعلت هم ندې بلکه مقتضی دَدې ذات دَالله ﷻ دې، نو لهذا معلومه شوه چه نظیر او مشابه آخر چه موت او بعث دی هم دَالله ﷻ مقدور دی.

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَاٰيٰتٍ﴾هرکله چه شپه،ورځ،خوب اوبیداریدل هریومستقل دلیل دي په قدرت دالله ﷻ باندې نوځکه ایات جمع ذکرشوه اویاداچه صیغه دجمعې په اعتبار دعظمت ددلیل سره ذکرشویده یعنی جمع تعظماده.

وَ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ
اویادکړه هغه ورځ چه پوکړي شي په شپیلئ کښ نوبې هوشه به شي هغه څوک چه په اسمانونو کښ دی اوهغه څوک حه
فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ۚ وَكُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ
په زمکه کښ مګرهغه څوک چه الله ﷻ ئې اوغواړي،اوټول به راشی حضوردالله ﷻ ته عاجزه،اوته به وینی غرونه
تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ
ګمان به پرې کوې چه ولاړدی حال داچه دا به روان وی په شان دتیریدلودوریځ.جوړول دالله ﷻ دی هغه الله ﷻ
اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾
چه محکم کړي ئی دي هرڅیز بیشکه هغه خبردي په هغه څه چه تاسوئی کوئ.

﴿وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ﴾داتخویف اخروی ذکرکیږی او صور په احادیثوکښ دی چه یوقرن یعنی ښکردې اوپدیکښ پوکونکې حضرت اسرافیل علیه السلام دې په حدیث دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه کښ دی چه نبی پاک ﷺ ارشاداوفرمائیلوچه:کیف انعم وصاحب الصورقدالتقم القرن واستمع الاذن متی یومربالنفخ (ترمذی)یعنی یعنی څه به څرنګه بې غمه شم حالانکه دصوروالاصورپه خله کښ نیولې دې اوغوږونه ئې نیولی دی(پدې انتظاردې)چه کله به ده ته دصورپوکولوحکم کیږی.

دلته داکثرومفسرینوپه نیزدنفخه نه نفخه اولی مراده ده،لیکن دنفخه اولی په تعین کښ اختلاف دې،دجمهوروپه مسلک نفخه اولی هغه ده چه په هغې سره به دنیاورانه شی اوددینه تعبیرپه نفخة الفزع سره هم کیږی لکه دلته مذکوردی نفخة صعق ورته هم وئیلې کیږی اونفخة اماتة هم وئیلې کیږی لکه سورة الزمرکښ دی،اودې صوراولی اونفخة اولی ته فزع او صعق ځکه وئیلې کیږی چه ددې وجې نه به مخلوقات اول په ګبهراهټ کښ مبتلاشی بیابه دسخت ګهبراهټ دوجې نه

به مخلوقات بې هوشه شي او بالآخر به مړه شي. او بيا به دويمه نفخة او هلې شي چه هغې ته نفخة قيام او نفخه بعث وئيلې کيږي او په هغې سره به مخلوقات دوباره (۲) ژوندی کړی شي. نو دَجمهورو په مسلک نفخات صرف دوه (۲) دي. (۱) نفخة فزع او صعق (۲) او نفخه نفخه قيام او بعث او دا مسلک زيات اوفق دي دَقرآن او دَاحاديثو سره. قرطبی رحمه الله فرمائی قلت والسنة الثابتة من حديث ابی هريرة رضی الله عنه وحديث عبدالله بن عمر رضی الله عنهما تدل علی انهما نفختان لاثلاث أخرجهما مسلم، وهو الصحيح ان شاءالله تعالی انهما نفختان قال الله تعالی ونفخ فی الصور فصعق من فی السموات الخ فاستثنی هنا کما استثنی فی نفخة الفزع فدل علی انهما واحدة (قرطبی) او دغه شان دَحضرت حسن بصری رحمه الله مرسل روايت هم صريح دال دي پدې چه نفخات دوه (۲) دي. حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بين النفختين اربعون سنة، الاولی يميت الله بها کل حي والاخری يحيی بها الله کل ميت، يعنی نفخات دوه (۲) دی دَدوارو نفخاتو په مينځ کښې به څلوېښت کاله فاصله وی، په اولې نفخې سره به الله جل جلاله هر ژوندي څيز مړ کړی او په دويمې نفخې سره به الله جل جلاله هر مړ څيز را ژوندي کړی.

قاضی عياض رحمه الله او ابن العربی رحمه الله فرمائی چه نفخات درې (۳) دی (۱) يوه نفخه فزع (۲) دويم نفخه صعق (۳) او دريم نفخه قيام. دې قول ته ابن کثير هم ترجيح ورکړيده. قاضی عياض رحمه الله نه بل قول دَڅلورو (۴) نفخاتو منقول دي چه (۱) يوه نفخه اماتت (۲) نفخه احياء (۳) دريم نفخه صعق (۴) څلورم نفخة قيام يا بعث. او دَدې څلورمې نفخې ذکر په سورة يسين کښې شويدې ﴿ونفخ فی الصور فاذا هم من الاجداث الی ربهم ينسلون﴾ او بعض حضراتو د پنځو (۵) نفخاتو قول کړيدې چه څلور دا مذکوردی او يوه ورسره ئې نفخه فزع زياته کړيده. راجح مسلک دَجمهورو دې ځکه چه زيات اوفق دَکتاب الله او دَاحاديثو سره دې لکه څرنګه مخکښې تېر شو.

نو دَجمهورو په مسلک نفخة فزع. صعق، اماتت، يو دی، پدې سره په ګهبراهټ هم وی، بيهوشی به هم وی او موت به ورسره هم وی او کوم حضرات چه دَمتعدد نفخاتو قائل دی نو دَهغوئ په مسلک نفخه فزع جدا ده دَنفخه صعق نه. نو اول خلې صور پو کړې شي نو ټول مخلوقات به ګهبراؤ شی او ختيو نه ګردونو نه به ښکته کړی چه دا او ازښه واوری، بيا به ورپسې بيا صور او هلې شي چه به هغې سره به خلک بې هوشه او مړه شي او بيا به ورپسې نفخة القيام وی،

﴿ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ﴾ دَدینه مرادټول مخلوقات دی اوبعض فرمائی چه دَدینه مرادصرف انس وجن دی.او﴿مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ذکرمبنی برفرض دې یعنی کچرې علی سبیل الفرض په اسمان کښ جنات،شیاطین وغیره وی نوهغوئ به په اسمان کښ ګبهراؤشی ﴿إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ﴾استثناء متصله ده اومفعول دَمشیئت محذوف دې چه "ان لایفزع"دې اودَدې په تعین کښ اقوال متعدددی چه دا فزع به په چاباندې نه راځی اوپدې نفخ سره به په چاباندې مرګ نه راځی؟
نو اکثرعلماء فرمائی چه داځلورمقرب ملائک اوحملة العرش دی.بعض فرمائی چه حورالعین.ولدان الجنة،رضوان اومالک خزنة النار مراددی،بعض فرمائی چه انبیاء کرام ترینه مراددی.اودَدې استثناء مقصداندې چه په مقربوملائکواوحملة العرش باندې مرګ نه راځې بلکه مرګ په هرمخلوق باندې به راځی لکه: کل نفس ذائقة الموت،او"کل شیئ هالکٌ الاوجهه"پدې باندې دال دی بلکه دَایت مطلب دادې چه پدې نفخې سره به دوئ ته ګهبراهټ یامرګ نه راځی بلکه ورستوبه بیادوئی وفات کړې شی.

﴿وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ﴾تنوین په ﴿وَكُلٌّ﴾کښ عوض دَمضاف الیه نه دې،ای کلهم بعداحیاتهم یوم القیامة اتوه داخرین،یعنی هریوددې مخلوقاتونه دَبعث اودَصورثانی نه بعددَقیامت په ورځ په عاجزئی سره راځی.اوتعبیردَدې ټولونه په ماضی سره دَوجې دَتیقن دَوقوع نه دې.

﴿ وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً ﴾داداحوالودَقیامت نه دریم هیبت ناک حالت ذکرکیږی چه دامضبوط اوعظیم الجثه غرونه به دَقیامت په ورځ دَوریځوپشان روان وی،اودلته په رؤیت سره مرادرؤیت بصری دې،اوغوره خبره داده چه داخطاب هرهغه مکلف ته دې چه صلاحیت دَرؤیت پکښ وی یابشخصه اویابنوعه.﴿وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ﴾داجمله حال واقع شویده دَضمیرمنصوب دَ﴿ تَحْسَبُهَا﴾نه او﴿مَرَّ ٱلسَّحَابِ﴾تشبیه بلیغه ده په حذف دَاداتودَتشبیه سره،یعنی"وهی تمرمثل مرالسحاب"اوداتشبیه په سرعت کښ ده اوبعض فرمائی چه داتشبیه په"حسبان"کښ ده یعنی لکه څرنګه چه وریځې باندې ګمان کولې شی چه دااولاړه ده حالانکه هغه ډیره په تیزئ سره روانه وی نودغه شان به په غرونوباندې ګمان کولې شی چه چرته دااولاړدی حالانکه دابه تیزتیزروان وی،نودلته دَغرونودَپاره دوه(۲)صفات متضادجموداومرورثابت کړې شویدی نوجمود په

اعتبار دګمان دکتونکی سره دې.ځکه چه دلوئی جسم والاځيزچه کله په يو سمت اويو کيفيت سره حرکت کوي نوانسان ته داسې محسوسې کيږی چه داځيزچرته په خپل ځائ باندې اولاړ دې اوحرکت نه کوی،او مرور داصل اوحقيقت په اعتبارسره دې اوبعض علماء فرمائی چه وصف جمود په اعتبار دحال سره دې اومرورپه وخت دنفخې ثانيه کښ وی

قرطبی وغيره حضراتو دقيامت په ورځې دغرونومختلف احوال بيان کړيدی(۱)اول حالت ئې اندکاک دې چه دهغې ذکرپه سورة الحاقه ايت نمبر(۱۴)کښ دې فدکتادکة واحدة دويم حالت کالعهن المنفوش دې چه دهغې ذکرپه سورة القارعة ايت نمبر(۵)کښ دې.دريم حالت ئې هباءً منثوراً دې چه دهغې ذکرپه سورة الواقعة ايت نمبر(۵، ٦)کښ دې.څلورم حالت نسف دې چه دهغې ذکرپه سورة طه ايت نمبر(۱۰۵)کښ دې.پنځم حالت ئې مرالسحاب دې چه دلته ذکردې،اوشپږم حالت سراب دې چه دهغې ذکرپه سورة النبأايت نمبر(۲۰)دې.

﴿صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ﴾ صنع مفعول مطلق دې اضافت ئې شويدې فاعل ته،اوعامل ئې محذوف دې په حذف وجوبی سره،ځکه چه داهغه مفعول مطلق دې چه تاکيدواقع شويدې دپاره دمضمون دجملې سابقې،اوپه اصطلاح دنحويانوکښ ديته تاکيدلنفسه وائی لکه له علی الف درهم اعترافاً شو،نوهرکله چه ماقبل کښ نفخ الصور ذکرشو،بياپه هغې باندې لوئ لوئ امورمرتب شوچه فزع دمخلوقاتوده،اتيان دهرځيزدې په عاجزئ سره،اوغرونوختميدل دی نوپه دې ټولوامورو کښ اشاره وه اوپدې خبرې باندې دلالت دې چه دانظام پيداکول اوبياختمول بلافائدې نه دی،اودقبيلې دفسادمحض نه،ندی بلکه پديکښ دالله ﷻ يوزبردست حکمت دې،نوداقبيلې دبدائعو اوصنائعو دالله ﷻ نه دې يعنی خلاصه داده چه نفخ الصور،فزع دعالم وغيره په صنعې دالله ﷻ باندې دلالت کوی اودبل ځيزاحتمال نه لرى،نوځکه دلته اکتفاء په مفعول مطلق اوکړې شوه ځکه چه فعل باندې دلالت دماقبل جملې مضمون اوکړو،اومفعول مطلق سدمسدواقع شويدې دفعل دپاره اوکوم ځائ کښ چه قرينه اوسدمسددواړه وی نوعامل هلته حذف کيږی په حذف وجوبی سره او﴿أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ﴾دماقبل تاکيدکوی ځکه چه اتقان ونيلې کيږی:الصنع والخلق علی ماتقتضيه الحکمة،يعنی يوځيزجوړول اوپيداکول په مناسب حکمت سره،نودزمکې،اسمان،انسانان،جنات

وغيره پيدا کول، بيا په دوئ فزع او مرګ راويستل د الله ﷻ حکمت دې او دا ټول امور دهغې حکمت مطابق انجام ته رسيږي.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿۸۹﴾
څوک چه راوړي نيکي پس ده لره بدله غوره ده دهغې نه، اودوئ به ديرې نه په دغې ورځې امن کښې وي
وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ ۭ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۰﴾
اوڅوک چه راوړي ګناه اوبه غورځولي شي پرمخې په جهنم کښ، بدله نه درکولي کيږي تاسوته مګردهغه عملونو چه تاسوکوئ
اِنَّمَآ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِيْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ
بيشکه امرکړي شويدي ماته چه ځه عبادت اوکړم رب دذی کلی هغه رب چه دائی ګرځولي دي حرم اوهغه لره (قدرت) دي.
كُلُّ شَيْءٍ ۡ وَّاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا
دهرڅيز، اوماته امرکړي شويدي چه شمه ځه دمسلمانانو نه. اوداچه لولم قرآن. پس څوک چه هدايت قبول کړي نوبيشکه
يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ وَقُلِ
هدايت قبلوی لپاره دفائدې خپلې. اوڅوک چه ګمراه شی نوته ورته اوايه بيشکه ځه يم ديره ونکونه اواوايه
الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ
ټول صفتونه الله ﷻ لره دی خامخا اوبه ښائی تاسوته دلائل دقدرت خپل پس اوبه پيژنئ تاسو هغه اوندي رب ستاناخبره
عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾
دهغه عملونو نه چه تاسوئی کوئ

﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ﴾ هرکله چه ماقبل کښ وقوع دقيامت او دهغې اهوال ذکرشو نو اوس پدې اياتونو کښ احوال دمکلفينو ذکرکيږي ورستو دوقوع دقيامت نه، نو دا اول حالت دې چه پديکښ بشارت اخروی دي مؤمنانو لره، اومراد په ﴿بِالْحَسَنَةِ﴾ سره به نيزداکثرمفسرينو کلمه توحيدده

چه لااله الاالله ده اوبعضوترینه اخلاص اوبعضوترینه مطلق اطاعت مرادکړیدي،لیکن اول قول زیات غوره دي اوپه لفظ د﴿جَآءَ ﴾کښې اشاره ده حفاظت دنیکئ ته په اخلاص سره اوپه باء چه ملابسة دپاره ده سره اشاره ده استقامت ته،نودایت مقصددادي چه کوم کس په استقامت او اخلاص سره نیکی اوتوحید دالله ﷻ په دربار کښې پیش کړی نو

﴿فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا ﴾بعض مفسرین فرمائی چه خیر اسم تفضیل دلته په معنی دمبالغې سره دي او من یاابتدائیه دي اویااجلیه دي،نوکه من ابتدائیه شی نومعنی به ئې داشی چه له خیرمن الخیورمبدؤه ونشوه منهااي من جهة هذه الحسنة(بحر+روح)یعنی دده دپاره به خیر وی چه مبدادغې خیربه حسنه وی،اوهغه خیرجنت دي اویا من اجلیه دي،نومعنی ئې داده چه﴿فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَا ﴾حاصلٌ من اجلها،یعنی دده دپاره به ډیره ښه بدله وی ددې حسنه اوکلمې دوجې نه اوبعض فرمائی چه خیر اسم تفضیل په خپلې معنی سره دي اوتفضیل په اعتباردتضیعف داجرسره دي،یعنی اجرپه دوه(۲)قسمه دي یوقسم استحقاقی اوبل احسانی دي،نواستحقاقی دادي چه یو(۱)عمل باندې یواجرمیلاؤشی اواحسانی دادې چه الله ﷻ په یوعمل باندې لس(۱۰)گنااجرورکوی نودایت مقصد دادي چه کوم کس نیکی پیش کړی نوالله ﷻ چه کوم احسانی اجرده ته ورکوی هغه ډیرغوره دي په نسبت سره اجراستحقاقی ته،

﴿ وَهُم مِّن فَزَعٖ ﴾ من فزع جارمجرورمتعلق دی په﴿ءَامِنُونَ ﴾پورې،او﴿مِّن فَزَعٖ ﴾کښې تنوین دپاره دتنکیردې اوهرکله چه﴿ءَامِنُونَ ﴾معنی نفی ده ځکه چه په معنی د لایخافون سره دې.او فزع نکره ده تحت النفی واقع شوه نولهذادینه به مرادهرقسم فزع وی.لیکن مرادترینه په قیامت کښې فزع ده،لکه دقبرنه راپاسیدلووخت کښې به فزع وی چه ذکرئې په سورة عبس ایت نمبر(۳۴، ۳۵، ۳۶)کښې دې،دغه شان دحساب،کتاب په وخت کښې به فزع وی چه ذکرئې په سورة الجاثیه ایت نمبر(۲۸)کښې دې.اودغه شان دمرگ دذبحې په وخت کښې به فزع وی،نوددې ټولوفزعاتونه به مؤمنان محفوظ وی اوفزع دصعق ترینه مرادنه ده ځکه چه هغه به په مؤمنانو باندې هم طاری کیږی.

﴿وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ ﴾دا دويم حالت دمكلفينو دي.چه پديكښې تخويف اخروی ذكركيږی. مشركانو ته اودَ﴿بِٱلسَّيِّئَةِ ﴾نه مرادشرک دي،ځكه چه ماقبل ايت كښې د﴿بِٱلْحَسَنَةِ﴾نه مراد توحيدوو،نولهذا دلته مقابلةً دَ السيئة نه مرادشرک دي،اودغه شان﴿بِٱلْحَسَنَةِ﴾او﴿بِٱلسَّيِّئَةِ﴾مطلق دی اوشی چه كله مطلق ذكرشی نورجع ئې فردكامل ته كيږی اوفردكامل دَحسنةدپاره توحيداودَسيئةدپاره كفراوشرک دي.

﴿هَلْ تُجْزَوْنَ ﴾دا ياالتفات دي دَغيبت نه خطاب ته.اويادَدينه مخكښې قول مقدردي. نوتقدير دعبارت داسې دي چه"مقولالهم هل تجزون"اوپديكښې اشاره ده تخصيص دَدې سزاته چه دوئی به التيامخ جهنم ته ځكه غورځولې شی چه داجزاء بمثل العمل ده،چه دوئی به دَالله ﷻ دين التياكولو نوځكه به دوئ جهنم ته التيه مخ غورځولې شی.

﴿إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ ﴾هركله چه ماقبل كښې دلائل عقليه په توحيدذكرشو،بيان دَمبدأ اومعاد اودَ مقدماتودَقيامت اوشو،اوصفت دَاهل قيامت دَثواب اودَعقاب ذكرشو،نواوس په آخيركښې بطورثمره دلائل وحی ذكركيږی،نوداأول دليل وحی دي،يعنی ماته حكم كړې شويدې چه څه دَدې حرمت والاشهردَرب عبادت اوكړم،دَهغه سره بل څوک شريک جوړنه كړم،اومراد په﴿ٱلْبَلْدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا ﴾سره مكه معظمه عمومًااوحرم شريف خصوصًادي،چه الله ﷻ په هغې كښې قتل مقاتله،به چاباندې ظلم،په هغې كښې ښكاركول اودَهغې واخه اوبوټې كټ كول حرام كړيدی اوتخصيص دَمكې دَدې وجې نه اوشوچه په ټولوبلادواوښهرونوكښې الله ﷻ ته ډيرمحبوب ښهردي،اودغه شان دَمشركينو په نظركښې هم مكه اوحرم ډيرقابل احترام وو،نودَتشريف اوتعظيم دَوجې نه دَدې ذكراوشو،اودَدې ايت تعارض دَهغه حديث سره نيشته دي چه په هغې كښې دی:انّ ابراهيم حرم مكة واناحرمت المدينة،چه پدې حديث كښې تحريم دَحرم اودَمكې نسبت حضرت ابراهيم عليه السلام ته شويدې،اوپدې ايت كښې دَتحريم نسبت الله ﷻ ته شويدې،ځكه چه اصل محرّم الله ﷻ دي اوابراهيم عليه السلام ته نسبت دَمحرّم مجازاً دي پدې اعتبار سره چه حضرت ابراهيم عليه السلام مظهردَدغې حكم دَالله ﷻ دي.

﴿وَلَهُۥ كُلُّ شَيْءٍ﴾ پدیکښ اشاره ده ماقبل دلائل عقلیو دَتوحید ته اجمالاً اومقصود پدې سره دَدې وضاحت دې چه توحیدلکه څرنګه دَوحی تقاضاده.نودغه شان دَانسانی عقل اوفطرت تقاضاهم ده اودغه شان مقصود پدې سره دفع دَتوهم هم ده چه ګویاکه څوک توهم اوکړی.چه کلې ته دومره لوئی عزت اواحترام ولې ورکړې شو؟نوجواب ترینه اوشوچه ټول څیزونه دَالله ﷻ په ملک اوتصرف کښ دی.الله ﷻ مالک حقیقی دې،اومالک ته اختیاردې چه په خپل ملک کښ څرنګه تصرف کوی.کولې شی،نوالله ﷻ حرم پاک اومکې معظمې ته په نوروځایونوباندې غوره والې ورکړیدې.

﴿وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ﴾ دادویم دلیل وحی دې او﴿ٱلْمُسْلِمِينَ﴾ یاپه معنی لغوی سره دې نودَایت مطلب دادې چه ماته حکم کړې شویدې چه څه په ټولو امورو کښ الله ﷻ ته منفادشم. اودتوحید عملونه ښکاره کړم اویا﴿ٱلْمُسْلِمِينَ﴾ په معنی اصطلاحی سره دې.اودآیت مقصد دادې چه ماته حکم دَمثبت علی الاسلام شویدې،یعنی چه په ملت اسلام باندې قائم.دائم پاتې شم.

﴿وَأَنْ أَتْلُوَا۟ ٱلْقُرْءَانَ﴾ دادریم دلیل وحی دې یعنی ماته داحکم هم کړې شویدې چه څه دَقرآن په تلاوت باندې مواظبت اوکړم اومواظبت په تلاوت دَقرآن باندې شامل دې نفس تلاوت ته هم.اوتلاوت په طریقې دَدعوت الی الایمان ته هم شامل دې.

﴿فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ﴾ یعنی څماکارصرف دعوت اوتبلیغ دې باقی که چاڅمادعوت اومنلونوخپله فائده ئې اوکړه په ماباندې څه احسان نیشته دې اوکه چااونه منلونوخپل نقصان ئې اوکړو.نو

﴿فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ﴾ مقصددادې چه منفعت دَاهداء ده ته راجع کیږی په بل چاباندې ئې احسان نیشته.اودامقصدنه دې چه مبلغ ته به فائده نه میلاویږی.بلکه مبلغ ته دَتبلیغ اجراوثواب خامخامیلاویږی اودَیوکس دَتبلیغ دوجې ته نیک عمل شروع کړې شی نوهغه ته هم په اجراوثواب کښ حصه رسیږی

﴿وَمَن ضَلَّ فَقُلْ﴾ جواب دَمن ضل دَپاره محذوف دې چه فوبالُ ضلاله علیه دې،یعنی که څوک ګمراهی اختیارکړی نودګمراهئ وبال پده دې یعنی خپل نقصان ئې اوکړو.او﴿فَقُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ

﴿ٱلْمُنذِرِينَ﴾ په منزله دعلت دماقبل دپاره دي اوقائمقام دجواب محذوفه دي. اوداتفريع ده په اول دوه(۲)علتونودتوحيدباندې چه په ضمن داول دوه(۲)واقعاتوکښې ذکردی، چه عالم الغيب صرف اوصرف الله ﷻ دې انبياء کرام اوبل څوک نه دی اوځه هم تاسوته صرف دعذاب نه ويره درکوم اوددې علم راته نيشته دې چه عذاب به کله راځی.

﴿وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ﴾ داتفريع ده په ورستنودوه(۲)علتونوباندې چه په ضمن دورستنودوه(۲)واقعاتو(واقعه دصالح عليه السلام واقعه دلوط عليه السلام)کښې مذکوردی، چه ټول صفات دالوهيت. دتصرف اوکارسازئ دالله ﷻ سره مختص دی. بل څوک کارسازنيشته دې نولهذا برکات ورکوونکې هم صرف الله ﷻ دې.

﴿سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ﴾مراددينه يانمونې دعذاب دنيوی اواخروی دی، لکه په بدرکښې صناديدقريش هلاکيدل. قحط سالی مسلط کيدل وغيره شو. اوياترينه مراددلائل دتوحيددی. انفسی وی ياافاقی، ليکن اول احتمال زيات غوره دې ﴿وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ﴾پديکښې اشاره ده وعداووعيدته، چه الله ﷻ ستاسودعملونونه، بې خبره نه دې، هرچاته به الله ﷻ دهغه دعمل مطابق به جزااوسزاورکوی.

فائده: ددې سورة ابتداء په ترغيب الى القرآن سره شوې وه اواختتام ئې په الحمدلله سره اوشو، پديکښې تعليم دې مسلمانان ته چه دهرعمل اوخاص طورباندې دنيک عمل اختتام په الحمدلله اوددالله ﷻ په شکراداکولوسره کوی. ځکه چه دنيک عمل توفيق ميلاويدل دالله ﷻ دطرف نه په يو انسان باندې عظيم احسان اولوئی نعمت دې.

ركوعاتها (۹)	سورة القصص مكيّة	آياتها (۸۸)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۲۸) وحسب النزول (۴۹)

سورة القصص مكی سورت دي، ترتيب قرآنی كښ اتويشتم (۲۸) نمبر او ترتيب نزولی كښ نهه څلويښتم نمبر سورت دي. دَسورة النمل نه ورستو او دَبنی اسرائيل نه مخکښ نازل شويدې، زمانه دَنزول ئې دور متوسط دَمکې معظمې دې، او بعضِ فرمائی چه زمانه دَنزول دور آخير دمکې دې. په (۸۸) آياتونو (۹) رکوعاتو (۱۴۴۱) کلماتو او (۵۸۰۰) حروفو باندې مشتمل دې

ربط: دَسورة القصص دَسورت النمل سره ربط اسمی دادې چه په سورت النمل كښ دَنمل يعنی دَميږی په واقعې اوقصې سره په توحيد باندې نقلی دليل ذكركړې شوېدې سورت كښ دَموسیٰ عليه السلام قصه او واقعات ذكر كيږی چه دَدې توحيد دَپاره حضرت موسیٰ عليه السلام سخت سخت تكليفونه برداشت كړيدی، او په آخير كښ الله جل جلاله فتح موسیٰ عليه السلام ته وركړه.

ربط معنوی: دَماقبل سره ربط معنوی دادې چه ماقبل سورت كښ اثبات دَتوحيد وو په دلائل عقليه. نقليه او وحی سره نوېدې سورت كښ تشجيع او ترغيب وركولې شوی بيان دَمسئلې توحيد ته، او تسلی وركولې كيږی په ذكر دَواقعې دَموسیٰ عليه السلام سره چه دَ سختو تكليفونو باوجود حضرت موسیٰ عليه السلام ثابت قدم وو اودَيو سخت جابر اوظالم په مخامخ ئې دَتوحيد اظهار اوكړو.

دغه شان ماقبل سورت په اخير كښ ذكر وو چه سَيُرِيكُم آياتهٖ پدې سورت كښ دَهغې اياتونو نمونې بيانيږی چه الله جل جلاله فرعون او قارون څرنګه هلاک کړل؟؟ دغه شان ماقبل سورت كښ ذكر وو چه فَمَنِ اهتدیٰ فانما يهتدی لنفسه ومن ضلّ .. الخ يعنی چه څوک هدايت والا لار اختيار كړی نو فائده ئې خپله ده او ګمراه شونو نقصان ئې هم خپل دې، نوېدې سورت كښ دَدې مثالونه اونمونې بيانيږی چه موسیٰ عليه السلام او دَهغه قوم چه په هدايت باندې وو نو الله جل جلاله نور ته فتح او غلبه وركړه، او فرعون او قارون چه ګمراه وو دَدنيوی لوئی لوئی اسبابو باوجود نقصان ئې اوموندلو او هلاک شولو.

دعویٰ سورت: دَدې سورت دعویٰ تسلی ده نبی پاک ﷺ ته اواثبات دَتوحیددې په دلائل عقلیه، نقلیه سره، اوردې دَدرې (۳) اقساموډَشرک.

اجمالي خلاصه: دَدې سورت اجمالي خلاصه داده چه داسورت مشتمل دې په درې (۳) حصوباندې، اوله حصه دآیت نمبر (۴۳) پورې ده، پدې حصه کښې تمهیداوترغیب الی القرآن دې، اجمالي واقعه دَحضرت موسیٰ علیه السلام ده په ذکردَپنځو (۵) نعمتونوپه بنی اسرائیلو باندې، اوبیاتفصیلی واقعه دَحضرت موسیٰ علیه السلام ذکرکیږی چه په هغې کښې پنځه اموردذکر کیږی اوبیاشپږم امرپه آیت نمبر (۷۰) کښې ذکرکیږی اودامتعلق دی دَژوند دَموسیٰ علیه السلام سره، اوپه دې شپږاموروباندې په اخیردَسورت کښې نورشپږ امورمتفرع دی چه هغه متعلق دی دَژوند دَنبی پاک ﷺ سره.

دویمه حصه: دآیت نمبر (۴۴) نه ترآیت نمبر (۶۷) پورې ده، پدې حصه کښې صدق درسالت دَنبی پاک ﷺ، حکمت دَارسال رسل، شکوې، جواب شکوې، دلیل نقلی دَاهل کتابوسابقینو نه، تزهیدفی الدنیا، زجرونه، تخویفات، اوبشارتونه، ذکرکیږی.

دریمه حصه: دآیت نمبر (۶۸) نه ترآخره پورې ده، پدې کښې دلائل عقلیه په توحیدباندې ذکرکیږی، چه درې (۳) پکښې عقلی محضه، اودوه پکښې علی سبیل الاعتراف من الخصم دی. واقعه دَقارون ذکرکیږی دَپاره ددې چه په دنیاباندې غروریاندې ندې پکار، اوپه آخیرکښې شپږاموردذکرکیږی چه متعلق دی دژوند دَنبی پاک ﷺ سره چه متفرع دی په اول شپږ امورو باندې. چه متعلق وودَژوند دَموسیٰ علیه السلام سره. اواختتام دَسورت په توحیدباندې کیږی.

تفصیلی خلاصه حصه اول: آیت نمبر (۲) کښې تمهیدمع الترغیب دې، دآیت نمبر (۳) نه تر ایت نمبر (۲) پورې اجمالي واقعه دَموسیٰ علیه السلام ذکرکیږی. دآیت نمبر (۷) نه ترآیت نمبر (۴۳) پورې دَحضرت موسیٰ علیه السلام تفصیلی واقعه ذکرکیږی چه په پنځه اهم اموروباندې مشتمله ده، امراول (۱) ﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ﴾ ایت نمبر: ۴ یعنی فرعون ډیرسرکش ووپه محکوم قوم باندې سخت سخت ظلمونه کول، امردوم (۲) ﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ﴾ آیت نمبر: ۷ یعنی مونږدَموسیٰ علیه السلام مورته داالهام اوکړوچه غم مه کوه مونږبه موسیٰ علیه السلام تاته واپس کړو.

امرسوم (۳) ﴿وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ یعنی داخوشخبری موهم ورکړه چه ده ته به مونږنبوت هم ورکړو.

خلورم امر(۴)﴿قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ ﴾آیت نمبر:۱۷ یعنی موسیٰ علیہ السلام د الله تعالیٰ سره عهداوکړوچه اې الله تعالیٰ تاخما لغزش معاف کړواوپه باندې دې انعام اوکړونوځه به هم دمجرمانو اعانت نه کوم.

پنځم امر(۵)﴿وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعْلَمُ ﴾ایت نمبر:۳۷ دقوم دانکارپه جواب کښې موسیٰ علیہ السلام اوفرمائیلو چه دهرڅه علم الله تعالیٰ ته دې،هغه ښه عالم دې چه په هدایت باندې څوک دی اودچاانجام به ښه وی.

تفصیلی خلاصه حصه ثانی: دآیت نمبر(۴۳)نه تر(۴۲)پورې صدق درسالت دنبی پاک ﷺ ذکرکیږی.په آیت نمبر(۴۷)کښې تخویف دنیوی اوحکمت دارسال رسل ذکرکیږی په آیت نمبر(۴۸)کښې شکویٰ اوجواب شکویٰ ده،په ایت نمبر(۴۹، ۵۰)صدق دقرآن په ذریعې دتحدی اوعجزددوئی ذکرکیږی.په ایت نمبر(۵۱)کښې ترغیب الی القرآن دې،دآیت نمبر(۵۲) نه ترآیت نمبر(۵۵)پورې دلیل نقلی داهل کتابوسابقینونه،اودهغوئ دصفاتوذکردې په آیت نمبر(۵۲)کښې تسلی ده نبی پاک ﷺ ته،په ایت نمبر(۵۷)کښې دویمه شکوی سره دجواب شکویٰ نه ذکرکیږی.په آیت نمبر(۵۸)کښې تخویف دنیوی دې.په آیت نمبر(۵۹)کښې دیوسوال جواب دې،په ایت نمبر(۲۰ ، ۲۱)کښې ترغیب الی الایمان اوتزهیدفی الدنیاذکردې،دآیت نمبر(۲۲) نه تر(۲۲)پورې تخویف اخروی اودهغې متعلقات ذکردی.

تفصیلی خلاصه حصه ثالثه: دایت نمبر(۲۸)نه دریمه حصه دسورت شروع کیږی،نوپه ایت نمبر(۲۹،۲۸)کښې دوه(۲)عقلی دلائل په توحیدباندې ذکرکیږی،په آیت نمبر(۷۰)کښې ثمره اونتیجه ددغې دلائلو ذکرکیږی.په ایت نمبر(۷۱ ، ۷۲)کښې دلائل عقلیه علی سبیل الاعتراف من الخصم ذکرکیږی.په ایت نمبر(۷۳)کښې بل دلیل عقلی محضه دې په ایت نمبر(۷۴، ۷۵)کښې تخویف اخروی ذکردې.دایت نمبر(۷۲)نه تر(۸۲)پورې واقعه دقارون ذکرکیږی دپاره دتخویف،اودایت نمبر(۸۳)نه تراخیره پورې شپږامورچه متعلق دی دژوند دنبی پاک سره چه متفرع دی داول شپږوامورو سره چه متعلق وودژوند دموسیٰ علیہ السلام سره (تمت).

طسٓمٓ ①	تِلْكَ	اٰيٰتُ	الْكِتٰبِ	الْمُبِيْنِ ②	نَتْلُوْا	عَلَيْكَ	مِنْ	نَّبَاِ	
الله جل جلاله پوهیږي	دَدي	په	معنی، دا آیاتونه	دکتاب ښکاره دی،	لولومونږ په	تابا ندی	څه	حالات	
مُوْسٰى	وَفِرْعَوْنَ	بِالْحَقِّ	لِقَوْمٍ	يُّؤْمِنُوْنَ ③					
دَموسی علیه السلام	اوفرعون	په رښتیا سره	لپاره	دعبرت دهغه قوم	چه ایمان راوړي				

﴿ طسٓمٓ ﴾ داحروف مقطعات دی، تفصیل ئي مکررتیرشویدې ﴿تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ داتمهیداوترغیب دې قرآن ته او﴿ٱلْمُبِينِ ﴾ دَباب افعال نه دې، اوباب افعال لازمی هم استعمالیږی اومتعدی هم، نولازمی صورت کښ به ئی معنیٰ داشی چه: داآیاتونه دَداسې کتاب دی چه ظاهردې یعنی نزول ئې دَالله تعالیٰ دَطرف نه ظاهردې، اوپه دويم صورت یعنی متعدی استعمالولوپه صورت کښ معنی به ئ داشی چه: داآیاتونه دداسې کتاب دی چه هغه وضاحت کوونکې دې یعنی دَوعدوعیداوقصص وغیره وضاحت کوونکې کتاب دې، اوتوصیف دَ"کتاب"په"المبین"سره پدیکښ اشاره ده چه پدې سورت کښ اکثردلائل نقلیه بیانیږی.

﴿نَتْلُواْ عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ ﴾دادَنبی پاک ﷺ ته تسلی ورکولودَپاره دَموسیٰ علیه السلام اجمالی واقعه بیانیږی. چه دَدې توحیدپه خاطرموسیٰ علیه السلام ته دَفرعون اودَهغه دَقوم دَطرف نه سخت سخت تکالیف رسیدلی وو، او"نتلو"په خپلې معنی یعنی"نقرأ"سره دې اواسنادمجازی دې څکه چه اصل لوستونکې دَقرآن پاک په نبی پاک ﷺباندې حضرت جبرئیل علیه السلام دې لیکن په حکم دَالله تعالیٰ سره دې نوځکه ئې دلته مجازااسنادئې الله تعالیٰ خان ته اوکړو. اویا"نتلو"په معنی دَ"نتزّل"او"نوحی"سره دې اومجازمرسل دې، ځکه نزول اووحی دَقرآن سبب دې دَقرأت دَپاره

او"من" په"﴿ مِن نَّبَإِ﴾"کښ تبعیضیه دې اوداجمله صفت واقع شویده دَموصوف محذوف دَپاره چه هغه په حقیقت کښ مفعول دَ"نتلو"دَپاره دې، نوتقدیردَعبارت داسې دې"نتلو علیک شیأ من نبأ موسیٰ"(جمل)او﴿بِٱلْحَقِّ ﴾جارمجرورمتعلق دی دَ"متلبسین"محذوف سره اوحال واقع

شويدي دفاعل د نتلو نه يعنى نتلو حال كونناملتبسين بالحق اى محقين او ﴿لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾
متعلق دي د نتلو سره او لام تعليليه دي.نودا يت مقصد دادي چه مونږ تاته واقعه دموسى عليه السلام
اودفرعون صحيح صحيح بيانوو.دي دپاره چه مؤمنان تنه عبرت واخلي.اوهركله چه ددي
واقعاتواوقصونه فائده مؤمنان اخلي اوهغوئ ورنه عبرت حاصلوى نوددي وجي نه تخصيص
دمؤمنانواوشو.كني واقعه دمؤمنانواوغيرمؤمنانوټولودپاره ذكركيږى

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً
بى شكه فرعون تكبركړي وؤپه زمكه كښ اوګرځولى ئى وؤاهل دهغى ډلى ډلى چه ضعيفه كړي ئى وه يوه ډله
مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ④
ددوئ نه،ذبح كول به يئ خامن ددوئ اوژوندئى به ئى پريخودلى ښځى ددوئ.بيشكه هغه وؤدفسادكونكونه

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ﴾پدي ايت كښ دفرعون لوئ لوئى جرائم ذكركيږى دا امراول
دي چه په اخيركښ پدي باندي تفريع ذكركيږى په تلك الدار الآخرة الخ دااول جرم ذكردي چه
فرعون په زمكه دمصركښ لوئى تكبراختياركړي ووچه دخدائى دعوىٰ ئي كړي وه.﴿وَجَعَلَ
أَهْلَهَا شِيَعًا﴾دادويم جرم ذكردي اوددي متعددمقصدونه كيدي شى (١)يو مقصد دادي چه
فرعون اهل مصرپه مختلفوجماعتونوكښ تقسيم كړى وو،اودهغوئ نه به ئي سخت سخت
خدمتونه اغستلو،دچانه به ئي تعميرات جوړولوكاراغستلو،دچانه به ئي دزميندارى خدمت
اغستلو،چاته به ئي دكوهيانوجوړولوكارحواله كړي وو،اوچابه چه كارنه كولوپه هغه باندي
به جزيه اوټيكس لګولو،
(٢)دويم مقصددادي چه فرعون اهل مصرپه مختلف طبقاتوباندي تقسيم كړى وو،يوه
طبقه ئي عالى ګرځولي وه چه قبطيان وواودويمه طبقه ئي پسته اوذليله ګرځولي وه،چه بنى
اسرائيل وو،اوډيرملكونوكښ نن صباداطبقاتى تقسيم هم دفرعون په نقش قدم باندي تلل
دى (٣)دريم مقصددادي چه فرعون دخپل اقتداراوحكومت ته دوام وركولودپاره ئي قوم
اواهل مصرپه مختلف طبقاتوكښ تقسيم كړى وو،اوداسي تقسيم ئي كړي ووچه دقوم په

خپل مینځ کښې سخت ضد او تعصب وو او دَ فرعون دَ ظلم خلاف متحد کیدلو ته تیارنو و. لکه څرنګه چه دَ انګریزانو او دَ هغوئی دَ حواریانو دَ حکومت چلولو طرز عمل دې، دَ انګریزانو پالیسی داده چه قوم تقسیم کړئی او حکومت پرې او کړئی.

﴿يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً﴾ دا دَ دریم جرم ذکر دې، او مراد دَ طائفی مستضعفې نه بنی اسرائیل دی، چه فرعون دوئی بالکل بې وسه کړی وو، او تر ډیروخته پورې په سختو سختو مصیبتونو کښې ګرفتار وو. ﴿يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ﴾ دا جمله یا بدل واقع شویده دَ ماقبل نه او یا حال دې دَ ضمیر دَ ﴿يَسْتَضْعِفُ﴾ نه او تفسیر دَ ﴿يَسْتَضْعِفُ﴾ دې، چه فرعون به بنی اسرائیلو باندې سخت سخت ظلمونه داسې کولو چه دَ بنی اسرائیلو ماشومان هلکان به ئې قتل کولو، او جینکئ به ئې دَ خپل خدمت دَ پاره ژوندئی پریخودلې.

﴿إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ﴾ په دې کښې دَ فرعون نورو جرمونو ته اشاره ده لکه کفر، شرک، کول شو، خلک دَ موسیٰ علیه السلام دَ اتباع نه منع کول شو وغیره.

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً
او اغوختل مونږ دا چه احسان او کړو په هغو چه ضعیفه کړې شوی وو په زمکه کښې چې وا او ګرځوو هغوئ پیشوایان
وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ
او او ګرځوو هغوئ وارثان (دَ حکومت دَ فرعون) او قوت ورکړو دوئ ته په زمکه کښې او چه او ښایو
فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ۝ ⑥
فرعون ته او هامان ته او لښکرو دَ دوئ ته دَ بنی اسرائیلو نه هغه څه دکوم نه چې دوئ یره کوله .

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ﴾ په دې ایاتونو کښې ذکر دَ پنځو (۵) دینی او دنیوی نعمتونو دې چه الله ﷻ په بنی اسرائیلو باندې کړی وو، په دې آیت کښې دَ دریو (۳) انعاماتو ذکر دې اول (۱) دا چه دوئی ته دَ فرعون دَ غلامئ او دَ ظلم نه نجات ورکړو، دویم (۲) دا چه دَ دین او دنیا مقتدی او پیشواګان ئې جوړ کړل. دریم (۳) دا چه دَ مصر بادشاهی او حکمرانی هم ورته ورکړه.

﴿وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ﴾ پدې ایت کښې دوه مزید انعامات ذکرکیږي، (۴) چه دَمصرنه علاوه دَنوروملکونوبادشاهي هم ورته ورکړه، لکه سورة المائده ایت نمبر(۲۰) کښې دی.

﴿وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ﴾ دا پنځم (۵) انعام ذکردې، چه دَدوئی سخت ترین دښمن هلاک کړې شو اودَهغه بادشاهي په هغې طریقې سره ختم شوه لکه څرنګه هغوئی دَځان دَپاره دَبنی اسرائیلونه خطره محسوسه کوله.

دَ حذر معنی ده دَضرراونقصان نه بچ کیدل، فرعون دَبنی اسرائیلونه داخطره محسوس کوله چه خمابادشاهي به دَدوئی دَلاسه ختمیږي، وجه داوه چه فرعون خوب لیدلې وو، چه دَبیت المقدس نه اورراووچت شی چه دَټول مصرنه چاپیره شی، دَقبطیانوکورونه اوسوزوی اودَبنی اسرائیلوکورونه، ورنه، محفوظ پاتې شی، فرعون دَکاهنانونه ددې خوب تعبیرتپوس اوکړو نوکاهنانوورته اونیلوچه په بنی اسرائیلوکښې به یوماشوم پیداکیږي چه دَهغه دَوجې نه به ستاحکومت اودَقبطیانوتسلط ختم شی، اویاداوجه وه چه فرعون دَمخکښنوانبیاء کرامو دَاقوالونه پته لګولې وه چه په بنی اسرائیلوکښې به یوپیغمبرپیداکیږي چه دَهغې دَوجې نه به بنی اسرائیلوته دَقبطیانودَظلم نه نجات میلاؤشي اودَهغوئی حکومت به ختم شي اودَبنی اسرائیلوتسلط اوغلبه به قائم شی، اوکاهنانوورته خبروركړوچه دَهغه ماشوم دَپیداکیدلو زمانه داده.

اویاداوجه وه چه بنی اسرائیلوبه خپل مینځ کښې دامذاکره کوله چه داهغه دوردې چه الله تعالی به په مونږ کښې یوماشوم بچې پیداکړي اوهغه ته به نبوت ورکړي اودَهغه دَوجې نه به الله تعالی فرعون هلاک کړي اودَقبطیانودَظلم نه به مونږته نجات میلاؤشي، نوبهرحال: فرعون، هامان اوقبطیانوته داخطره محسوسه شوه چه دَبنی اسرائیلودَماشوم دَوجې نه زمونږحکومت ختمیدووالادې نودَدې دَپاره فرعون دَبنی اسرائیلوپه زرګاؤځنې روایاتوکښې دی چه دوه اویازره (۷۲۰۰۰) ماشومان فرعون قتل کړي وو. خوالله تعالی خپله وعده پوره کړه اوفرعون ته ئې اوخودله اودَهغه حکمراني ئې دَموسی علیه السلام په ذریعې سره ختمه کړه.

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ				
[1] او الهام او کړو مونږ مور د موسی علیه السلام ته چه تې ورکوه موسی علیه السلام ته پس هر کله چه ته او یریږې په ده نو اونی غورځوه				
فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ				
په دریاب کښې اومه یریږه د ده په هلاکت او مه خفه کیږه په جدائی د ده، بیشکه مونږ واپس کونکی یو د ده				
اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۞ فَالْتَقَطَهٗٓ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ				
تانه او ګرځونکی یو د ده لره د رسولانو نه پس نورا اوچت کړو موسی آل د فرعون چه شی موسی موسی علیه السلام د دوئ				
عَدُوًّا وَّحَزَنًا ۗ اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ۞				
دشمن او باعث د غم بی شکه فرعون او هامان او لښکری د دوئ په غلطه وو				

﴿وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى﴾ دَدې ایت نه دَحضرت موسی علیه السلام واقعه تفصیلاً ذکر کیږی او دا تفصیلی واقعه مشتمله ده په پنځه (۵) مقاماتو باندې، اول مقام تر ایت نمبر (۱۴) پورې دې، پدیکښې دَموسی علیه السلام په مور باندې دَتکلیفونو، بیا دَخوشحال، بشارتونو او هغې ته دَدوه (۲) امرونو او دَدوه (۲) منهیاتو ذکر دې خلاصه داده چه حضرت موسی علیه السلام دَپیدائش په زمانه کښې فرعون دَبنی اسرائیلو په کورونو کښې هر حامله زنانه باندې یوه دَاینه مقرر کړې وه چه دَهغې زنانه بچې پیداشونو که هغه به جینئ وه نو ژوندئ به ئې پریخودله او که نارینه به وو نو مور ته به ئې نهٔ خودلو بلکه فوراً به ئې قتل کړو، دَموسی علیه السلام پیدائش اوشو، الله تعالیٰ دَهغې مقررې داینې په زړه کښې ورسره محبت پیداکړو هغې ورته څه اونه وئیلو بیا مور په دریاب کښې او غورځولو، دَفرعون کورته او دَهغه لاس ته ورسیدلو الله تعالیٰ دَفرعون زړه دَموسی علیه السلام دَپاره نرم کړو، او بیا الله تعالیٰ موسی علیه السلام دَخپلې مور غیږې ته واپس کړو.

﴿وَاَوْحَيْنَآ﴾ دَدینه مخکښې عبارت محذوف دې، تقدیر دَعبارت داسې دې وضعت موسی امه فی زمن الذبح وخاف علیه واوحینا الخ او وحی نه دلته معنیٰ عرفی او شرعی نده مراد بلکه

[1] دراقعی اول مقام

دلته دَوحی نه مراد معنیٰ لغوی ده چه القاء الشئ فی القلب ته ونیلې کیږی. او دا القاء کله کله دَالله ﷻ طرف نه بالذات وی. او کله کله په واسطې دَفرشتې سره وی. نو ظاهر دَایت نه دا معلومیږی چه دا القاء دَالله ﷻ طرف نه په زړه دَمور دَموسیٰ علیه السلام کښې بالذات وه. او دا دَهغې په حق کښې الهام وو. او بعض مفسرین فرمائی چه دې ته حضرت جبرئیل علیه السلام مخامخ راغلې وو او دا مذکوره خبرې ئې ورته کړې وې او حضرت جبرئیل علیه السلام یا بله فرشته چاته مخامخ راتلل او خبرو کولو سره څوک پیغمبر نه جوړیږی لکه صحیح حدیث کښې دی چه فرشته اقرع، ابرص او اعمیٰ ته راغلې وه او هغوئی سره ئې خبرې کړې وې، نو لهذا بالاجماع مور دَموسیٰ علیه السلام پیغمبره نه وه. او دَموسیٰ علیه السلام دَمور په نوم کښې اقوال متعدد دی، بعض فرمائی چه نوم دَدې لحیانة بنت یصهر بن لاوی بن یعقوب علیه السلام وو، بعض فرمائی چه یوخابذ بنت یصهر وو، بعض فرمائی رخاء یارخت نوم ئې وو.

﴿ أَنْ أَرْضِعِيهِ ﴾ ان تفسیریه دې او دا ده (۲) امرونه دی دَموسیٰ مورته. نو اول امر دا وو چې خپل بچی ته پئ ورکوه. او مراد پدې حکم رضاعت یعنی دَپیوور کولو حکم سره تر هغه وخته پورې پئ ورکول دی چه اخفاء ئې ممکنه وی. او چه کله امکان دَاخفاء کمزورې شی نو بیا ورته حکم په دریائې نیل کښې دَغورخولو وو. نو لهذا دا اعتراض نه واردیږی چه ارضاع یعنی پئ ورکول خپل بچی ته یو طبعی امر دې او په طبعی امورو کښې حکم بلافائده وی. نو لهذا دا حکم هم بلافائده دې

﴿فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ﴾ دا دویم امر دې، یعنی چه کله ته دا خطره محسوسه کړې چه اوس به فرعون ته پته اولګی اودې به قتل کړی نو پس دریاب کښې ئې اوغورځوه او دَ﴿ٱلْيَمِّ ﴾نه مراد دریائې نیل دې او دَموسیٰ علیه السلام مورځومره مده موسیٰ علیه السلام پټ ساتلې وو؟؟ پدې کښې تاریخی روایات متعدد دی بعضِ روایاتو کښې اته (۸) میاشتې بعضِ روایاتو کښې څلور (۴) میاشتې او په بعضو رکښې درې (۳) میاشتې راغلې دی.

﴿وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِيٓ ﴾ دا دوه نهی دی مور دَموسیٰ علیه السلام نه. چه دا ویره مه کوه چه دې به په دې دریاب کښې ډوب شی. او ضائع به شی او نه دده په جدائې باندې غمژنه کیږه. او مراد دَدی خوف او حزن نه عقلی او اختیاری دې او طبعی ندې مراد ﴿إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ﴾ . دا دوه بشارتونه دي

اول داچې موسی علیه السلام به تاته صحیح سالم واپس کوؤ اوبل داچه ﴿وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ یعنی ده ته به مونږ نبوت هم ورکوو، او دادریم (۳) امردې دَ هغه پنځه امورونه چه دَسورت په آخیر کښې پدې باندې تفریع کیږی چه ﴿وَمَا كُنتَ تَرْجُوا أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ﴾.

فائده: پدې آیت کښې دوه (۲) امرونه، دوه (۲) نهی اودوه (۲) بشارتونه جمع شوی دی دادَقرآن دَعظیم صاحت اوبلاغت نه دې قرطبی رحمه الله وغیره حضراتوواقعه لیکلې ده چه اصمعی دَیوې زنانه ډیرفصیح کلام واوریدلوچه هغې وئیلو:

استغفر الله لذنبی کله　　قبلت انسانا بغیر حلـــــه

مثل الغزال ناعماً فی دله　　فانتصف اللیل ولم اصله

یعنی څه دَالله تعالیٰ نه دَخپلوټولوګناهونومعافی غوارم چه مایوانسان په ناجائزې طریقې سره قبول کړو. دَموسیٰ پشان دَهغه سره مې نازونخرې کولې، نیمه شپه شوه اومامونځ اونکړو، نواصمعی دَدې په فصاحت باندې تعجب اوکړو، اواونیلوچه قاتلکِ الله مااَفصحکِ یعنی څه عجیب فصیح کلام دې نوهغې زنانه ورته اوئیلوچه څماداکلام به څه فصیح وی، تادَالله تعالیٰ داکلام اوایت ندې اوریدلې چه ﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ﴾ الخ چه داپه فصاحت کښې انتهاء ته رسیدلې دې، چه پدې کښې دوه (۲) امرونه دوه (۲) نهی اودوه (۲) بشارتونه جمع شویدی.

﴿فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ﴾ فاء فصیحه ده دَدینه مخکښې معطوف علیه عبارت محذوف دې تقدیردَعبارت داسې دې فَفعلت ماامرت بهٖ من ارضاعهٖ والقاه فی الیم لماخافت علیه یعنی دَموسیٰ علیہ السلام موردَالله تعالیٰ دَحکم مطابق ده ته پئ ورکولې اوچه کله ئې خطره محسوسه کړه نودې ئې دریاب ته اوغورځولو، اوداخوف دَموسیٰ علیہ السلام مورهغه وخت محسوس کړوچه کله کاهنانوفرعون ته اوئیلوچه زمونږ دَعلم موافق هغه بچې په بنی اسرائیلوکښې پیداشویدې، نوفرعون تالاشی نوره سخته کړه نودَموسیٰ علیہ السلام موردَدې خطرې دَوجې نه اته (۸) یا خلور (۴) یادرې (۳) میاشتې ورستودریائې نیل کښې اوغورځولو، دریائې نیل چه دَبنی اسرائیلو دکورونوسره تیرشوې وودَهغې نه یونهردَفرعون محل ته جداشوې وو، نودَ موسیٰ علیہ السلام مورچه کله تابوت دریاب کښې اوغورځولونوتابوت دَالله تعالیٰ په حکم سره دَفرعون دَمحل والانهرباندې روان شو، په دغه ورځ فرعون دَخپل محل سره دَدریائې نیل په غاړه دربارلګولې

وو،نوځرنګه چه تابوت محل ته اورسیدلونوخادمانواونوکرانواونیولو. اوهغه ئی دفرعون،بی بی حضرت آسیه ته پیش کړو،هغې چه کولاؤکړونوپکښې ماشوم بچې وو،هغې فرعون ته پیش کړو،مزیدواقعه راځی"التقاط"وئیلې کیږی حصول اووجدان دڅیزته بغیردطلب اودقصدنه،نودایت مطلب دادې چه پدې تابوت پسې دوئی ګرځیدلونه،بلکه بغیردطلب نه الله تعالیٰ دوئی ته اورسولو اود"ال فرعون"نه مرادخادمان دفرعون دی چه تابوت ئې اوچت کړې وو،باقی دتابوت کیفیت وغیره تفصیل په سورة طٰهٰ کښې تیرشویدی.

﴿ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا ﴾غوره قول دادې چه"لام"په"لیکون"کښې دعاقبت دپاره دې،یعنی انجام کاراومآل ددې التقاط به داشی چه داماشوم به ددوئی دپاره دښمن اوددوئی دغم ذریعه اوګرځی،لکه پدې قول دشاعرکښې دی:

له منادِی ینادی کل یومٍ لدواللموت وابنواللخراب

نو"للموت"او"للخراب"کښې"لام"دعاقبت دپاره دی،اګرچه توالدځوک دې دپاره نه کوی چه مړه شی،لیکن دمرګ دپاره ابتدائی مقدمه پیدائش دې،اوانجام کاراومآل دتوالد،موت دې نه وؤددې وجه لام العاقبت پرې داخل شو،نودغه شان دلته هم اګرچه دوئې داتابوت دې دپاره نوورااوچت کړې چه دې زمونږدښمن شی اومونږته دده دوجې نه پریشانی جوړه شی،لیکن انجام کارئې دښمنی اوددوئې پریشانی وه نوځکه پرې لام العاقبت داخل شو.

﴿كَانُوا خَاطِئِينَ ﴾"خطا"نه مرادخطاءفی الاعتقادوالافعال دی،چه ددوئی عقیده خرابه وه،اوکارونه ئې دظلم وو،نوداګویاچه په منزله دعلت دې دماقبل دپاره چه موسیٰ علیه السلام ددوئی دپاره دشمن اوذریعه دپریشانئ به ځکه اوګرځی چه ددوئی عقیده هم کفریه وه اوافعال ئې دظلم والاوو،حالانکه دوئی دموسیٰ علیه السلام پرورش اوساتنه دې دپاره کوله چه دې به زمونږدپاره دسترګویخوالې وی اومونږته به فائده راکړی،خوچونکه عقیده ئې باطله اواعمال ئې فاسدوونوځکه موسیٰ علیه السلام دوئی دپاره دسترګویخوالې په ځائی دتکلیف ذریعه جوړشو.

اویاد﴿خَاطِئِينَ﴾نه مرادخطاء ده په تربیت دموسیٰ علیه السلام کښې،اوداجمله معترضه ده دتاکیددماقبل دپاره راوړې شوه،ځکه چه دماقبل نه هم دامعلومه شوه چه مقصودددې

النقاط نه،دَدوئی عدوان اوحزن نه وؤ،اودوئی دَموسیٰ علیہ السلام تربیت دې دَپاره نه کولوچه دې زمونږدَپاره ذریعه دَعدوان اودَحزن اوګرځی بلکه دَدوئی مقصد داووچه دې به زمونږدَپاره قرة عین وی،لیکن دوئی خطاء شواوالتقاط انجام عدوان اوحزن شونولهذادوئی خطاشودا مضمون دَماقبل نه معلوم شونوپدې جملې﴿خٰطِئِيۡنَ كَانُوۡا﴾سره دَدغې مضمون تاکید اوشو،اوحضرت شیخ رحمہ اللہ به فرمائیلوچه دَخٰطِئِيۡنَ نه مراد بیوقوف دی چه دوئی لوئی بیوقوفه ووچه دَالله تعالیٰ دَقدرت سرئ بې تکروهلو.

وَقَالَتِ امۡرَاَتُ فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٍ لِّىۡ وَلَكَ ؕ لَا تَقۡتُلُوۡهُ ۖ عَسٰى
اواوئیل ښځې دَفرعون چه یخوالې دَسترګودې «داهلک» ماله اوتاله.مه قتلوه دې کیدیشی
اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ اَوۡ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ۝٩ وَاَصۡبَحَ
چه نفع به ورسوی مونږته یابه اونیسوده لره ځوې حال داچه دوئ نه پوهیدل چه انجام به څه وی،اوشولو
فُؤَادُ اُمِّ مُوۡسٰى فٰرِغًا ؕ اِنۡ كَادَتۡ لَتُبۡدِىۡ
زړه دَموردَموسیٰ علیہ السلام خالی دَهرڅه نه بغیردَغم دَموسی نه بیشکه قریبه وه چه اظهارئې کړې وې به
بِهٖ لَوۡلَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا عَلٰى قَلۡبِهَا لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝١٠
موسیٰ چه دامی ځوې دې کچرته نه وې کلک کړې مونږزړه دَدې په صبرسره لپاره دَدې چه شی داددَاعتماد کونکونه زمونږپه وعدو

﴿وَقَالَتِ امۡرَاَتُ فِرۡعَوۡنَ﴾ دَفرعون دَبی بی نوم آسیه بنت مزاحم بن عبیدبن الریان بن ولیدوو،اوپه بعض روایاتوکښ دی چه دادَنسل دَبنی اسرائیلونه وه،هرکله چه خادمانوصندوق اوتابوت اونیولونودَفرعون بی بی،اسیه ته ئې پیش کړو،نوهغې چه تابوت کولاؤکړونوپکښ خائسته ماشوم وو،حضرت آسیه چه کله اوکتلونوډیرمحبت ئې ورسره پیداشو،اوفرعون ته ئې پیش کړو،فرعون چه کله موسیٰ علیہ السلام اوکتلونوسخت غصه اوشواودَده په زړه کښ الله تعالیٰ داخبره واچوله چه داهم هغه بچې دې چه دَده دَلاسه به ځماحکومت ختمیږی،اودَده دَذبحه کولوحکم ئې اوکړو،نوپه دغه وخت کښ خپلې بی بی

آسیه ورته مشوره ورکړه چه دې مه قتل کوه، دې به ځمااوستادسترګو یخوالي وی او ممکنه ده چه دده په ذریعې سره مونږته څه فائده حاصله شی اویابه مونږده لره خپل بچې جوړکړواودفرعون دخپل بی بی سره ډیرمحبت وو، نوځکه ئې دهغې مشوره قبول کړه اوالله ﷻ دفرعون زړه هم دموسی علیه السلام دپاره نرم کړو. اوپه روایت دنسائی وغیره کښې دی چه فرعون خودآسیه سفارش قبول کړوخودائې ورته اوئیلوچه لکِ لالِی چه ستادسترګو یخوالي دې اوځماندې، کچرې دې بدبخته داسې وئیلې وې چه لِی کَمَاهُولکِ چه لکه څرنګه ستادسترګو یخوالي دې دغه شان ځماهم دې نوالله ﷻ به ده ته هم ایمان نصیب کړې وې.

﴿عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ ﴾ دنفع امیدئې یاددې وجې نه اوکړوچه آسیې رضی الله عنها دحضرت موسی علیه السلام په تنه دی کښې نوراولیدلونوداپوهه شوه چه داعام بچې ندې، اوبعض مفسرین فرمائی چه دفرعون یوه لوروه په هغې باندې دبرص مرض وونوآسیې رضی الله عنها دموسی علیه السلام لاړې (توکی) په هغې باندې اولګولې نوهغه تهیک شوه، نوآسیه پوهه شوه چه دابچې ډیرنفع مند دې

﴿أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا ﴾ ظاهره داده چه او دمانعة الخلودپاره دې، ځکه چه نفع مندکیدل دَاتخاذالولدسره جمع کیدې شی، یا او دبل ترقی په معنٰی سره دې، ځکه چه منفعت دولدزیات دې دمنفعت د غیرولدنه اودفرعون ښځې دموسی علیه السلام دمتبنٰی جوړولوخواهش اظهارځکه اوکړوچه ددې نارینه اولادنوو، اوبعض مفسرین فرمائی چه دفرعون بالکل اولادنه ووځکه چه دې نامردوو

﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ داياكلام دالله ﷻ دې اوحال دې د آل فرعون نه چه دافاعل دالتقاط دپاره وو، نوداَیت مطلب دادې چه فرعونیانوموسی علیه السلام رااوچت کړواودهغه سره ئې محبت شروع کړوخوحال داووچه دوئي ته پته نه وه چه زمونږدحکومت تباهی به دده دلاسه وی. اویاداکلام دآسیې دې چه فرعون ته ئې مشوره ورکړه چه دې به مونږځان لره بچې جوړکړواودخلکونه به ئې پټ اوساتو، عام خلک به داوائی چه داددوئی خپل بچې دې

﴿وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا﴾ فارغ په معنی دَخالی سره دې، ای خالیًا من کل شئ غیرذکر موسی علیہ السلام، یعنی دَموسی علیہ السلام مورچه کله موسی علیہ السلام په تابوت کښې بندکړواوپه دریاب کښې واچولونوپدغه وخت کښې دَموسی علیہ السلام دَمورزړه دَدنیادَټولوفکرونونه خالی ووسیوادَموسی علیہ السلام دَیاداودَفکرنه، اودَشدت غم دَوجې نه قریبه وه چه دی رازفاش کړې وې خوالله تعالیٰ ورته ربط قلبی نصیب کړواوصبرئې ورکړواوزمخشری فرمائی چه فارغا په معنی دَصفرالعقل سره دې، یعنی دَعقل تللواوختمیدلوته وئیلې کیږی، نودَایت مقصددادې چه موسی علیہ السلام مورته چه کله پته اولګیده چه موسی علیہ السلام دَدریاب چپودَفرعون کورته اورسولونوعقل ئې بالکل ختم شواودَبدحواسئ دَوجې نه قریبه وه چه رازئې هم فاش کړې وې، ځکه چه دَبچی محبت ډیرزیات وو، اګرچه دَدې یقین دَالله تعالیٰ په وعدې باندې هم وو، خوکله کله حب طبعی په عقلی باندې غالب شی، نودلته هم داسې شوی وو. لیکن الله تعالیٰ دَدې زړه کلک کړو، اوبعض فرمائی چه فارغًا معنی ده خالیًا عن الصبر، اودَایت مقصددادې چه کله دَموسی علیہ السلام مورته داپته اولګیده چه موسی علیہ السلام صحیح، سالم دَفرعون کورته اورسیدلواوفرعون دَقتل کولوپه ځائی دَهغه سره محبت شروع کړونو دَموسی علیہ السلام دَمورزړه پدې وخت کښې دَډیرې خوشحالئ دَوجې نه، دَصبرنه خالی شو، اوقریبه وه چه خلکوته ئې وئیلې وې چه داځمابچې دې.

﴿لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا﴾ جواب دَدې لولا محذوف دې، چه لاَبَدَتْهُ دې اوپدې باندې دلالت "ان کادت لتبدی" کوی ﴿لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ داعلت دې اوثمره دَربط قلب ده، یعنی مونږدَدې زړه پدې مصیبت کښې کلک کړودې دَپاره چه دَدې یقین زمونږپه وعدوباندې نورهم زیات اوقوی شی، نودَ من المؤمنین نه مرادهغه څوک دی چه دَتکلیف په وخت کښې صبراوکړی اوایمان ئې نورهم کلک اومضبوط شی، اویاتنه مرادهغه څوک دی چه دَتکلیف په وخت کښې په ایمان باندې ثابت قدم پاتې شی اومطلق مؤمنان ترینه نه دی مرادځکه چه دَموسی علیہ السلام مور دَاول نه مؤمنه وه.

وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ ۫ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ

او اوئیل مور دَ موسیٰ علیه السلام خور دَ موسیٰ علیه السلام ته چه پړه پسی څه نو هغې کتل موسیٰ ته دلرې نه او دوی فرعونیان

لَا يَشْعُرُوْنَ ⑪ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ

نه پوهیدل چه دائی خورده او منع کړی وو مونږ په موسیٰ علیه السلام دَ پیئو ورنکونښځو مخکښ دَ خور راتلونه

فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ

نو او وئیل خورئی آیا څه تاسو ته اوښایم دَاسی یو کوروالا چه تربیت اوکړی دَده ستاسو لپاره او هغوئ به ده لره

نٰصِحُوْنَ ⑫ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَیْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ

خیرخواه وی نو واپس کړو مونږ موسیٰ علیه السلام خپلی مورته چه یخی شی سترګی دَدی او خفه نشی

وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ⑬

او چه پوهه شی چه بیشکه وعده دَ الله جل جلاله حقه ده لیکن اکثر دَ دوئ نه نه پوهیږی

﴿وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ﴾ دَتفتیش حال دَپاره دَموسیٰ علیه السلام مور خپله لور او دَموسیٰ علیه السلام خورئې اولیږله چه نوم دَهغې مریم بنت عمران وو، او بعض فرمائی چه کلثوم یا کلثمه بنت عمران وواو دائې دې دَپاره اولیږله چه پته اولګوی چه مخکښ نور څه کیږی، دَموسیٰ علیه السلام خور ډیر عقلمنده او هوښیاره وه هغې ځان بالکل ناخبره اوبې غرضه کړو او دَلرې لرې نه ئې حالات معلومولو چه څوک پرې شک اونکړی، نو دَ﴿عَنْ جُنُبٍ﴾ معنٰی ده "عن بعید" ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ یعنی فرعونیانو ته داپته نه وه چه داجینئ دَده خورده او دَده دَحال معلومولو دَپاره راغلیده.

﴿وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ﴾ په دې ایت کښ دَموسیٰ علیه السلام خپلې مورته دَواپس کیدلو ذکر دې، او تحریم کنایه ده دَ"منع" نه او تحریم شرعی نه دې مراد ځکه چه دا عمر دَتحریم شرعی دَتکلیف نه وو، او "مراضع" جمع دَ"مرضع" ده او هر کله چه عمل دَارضاع خاص دې په زنانه پورې،

نوددې وجې نه دااسم دَمؤنث دَپاره بغیردَ تاء نه استعمالیږی اومرادپدې سره هغه مراضع دی چه په هغه وخت کښ هلته حاضرې وې او﴿مِن قَبْلُ ﴾مضاف الیه محذوف دې. تقدیردَعبارت داسې دې من قبل قصهااثره یعنی دَموسیٰ علیه السلام دَخورراتللونه مخکښ مونږپه موسیٰ علیه السلام باندې دَزنانوپئ څښکل منع کړی وونودَفرعون بی بی ډیرکوشش اوکړو ومختلف مراضع ئې رااوغوختلې خوموسیٰ علیه السلام دَچاپئ هم نه څښکل،دَهغې دَوجې نه آسیه رضي الله عنها ډیره پریشانه وه

﴿فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ ﴾دَموسیٰ علیه السلام خور(مریم یاکلثوم)چه کله دامنظراوکتلوچه زنانه راځی اوموسیٰ علیه السلام دَچاپئ هم نه څښکی اوفرعون اودَهغه بی بی پریشان دی.نوجرأت ئې اوکړو اونزدې راغله اوهلته موجودخلکوته ئې اوئیلوچه تاسوته داسې کوراوزنانه اونه ښایم چه داماشوم به دَهغې زنانه پئ هم اوڅکی اوهغه کورنئ به دَده صحیح تربیت هم اوکړی.دَده به ډیرخواه اوده سره به محبت کوونکی وی.

اومفسرینولیکلی دی چه کله دَموسیٰ علیه السلام خوردَااوئیلوچه وهم له نصحون نوپه مجمع کښ هامان هم ناست وونوهغه فوراًاعتراض اوکړوچه ستادَدې خبرې نه،داسې معلومیږی چه ته دَدې ماشوم کورنئ والاپیژنې خوزمونږنه ئې پټه وې،نودې ورته په جواب کښ اوئیلوچه څماپه کلام کښ له نه مراددابچې ندې بلکه بادشاه ورنه مراددې چه هغه کوروالادَبادشاه دَپاره ډیرخیرخواه دی اودده تابعداردی،اوبعض فرمائی دې ورته جواب کښ اوئیلوچه داخبره مادَبادشاه دَخوشحاله کولودَپاره اوکړه اوڅمامقصدپدې سره داووچه زمونږتعلق دَبادشاه سره دې،اودَضرورت په وخت کښ دَداسې توریو نه کاراغستل جائزدی.

﴿فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ ﴾فا فصیحیه ده دَدینه مخکښ کلام محذوف دې یعنی چه کله دَموسیٰ علیه السلام خورداخبره اوکړه نودوئی ورنه تپوس اوکړوچه هغه زنانه څوک ده نودې ورته اوئیلوچه هغه څمامورده نودوئی ورنه بیاتپوس اوکړوچه دَهغې په سینوکښ پئ څرنګه راغلو،نودې ورته اوئیلوچه څماورورهارون علیه السلام په پیدائش سره راغلیدی اوهارون علیه السلام په هغه زمانه کښ پیداشویدې چه په هغې کښ دَماشومانوقتل کولوحکم نه ووکړې شوې، نودوئی ددې تصدیق اوکړواودَموسیٰ علیه السلام مورئې رااوغوختله،دَموسیٰ علیه السلام موررا غله او څرنګه ئې چه موسیٰ علیه السلام خپلې سینې ته نزدې کړو،اوموسیٰ علیه السلام باندې دَخپلې مور

خوشبوا ولګیده نو پېغ ښنبکل ئې شروع کړل، او منقول دی چه فرعون ددینه تپوس اوکړو چه دې ماشوم دَنورو زنانو پېغ نه ښنبل نو دا ستاپېغ ئې څرنګه ښنبکل شروع کړو. نودې ورته اووئیل چه اصل خبره داده چه څه یوه پاکه زنانه یم او څما دَ سینو پېغ ډیرخواګه دی. نو چه کوم ماشوم دَبل چاپېغ نه ښنبکی هغه څماپېغ خامخاښنبکی.

بیافرعون اودَهغه بی بی دَدینه مطالبه اوکړه چه ته زمونږپه محل کښې پاتې کیږه اودې بچې ته پېغ ورکوله، نودې ورته اوئیلو چه څمانوربچی دی څه دلته دَراتللونه معذوره یمه، اوکه تاسوغواړئی نوڅه به ستاسو دا ماشوم خپل کورته بوځم اوپېغ به ورته ورکوم، چه کله لوئی شی نوتاسوته به ئې واپس کړم، نوفرعون اودَهغه بی بی پدې خبره باندې راضی شو. اوموسیٰ علیہ السلام ئې هغې ته حواله کړو.

اوروایاتوکښې دی چه فرعون دَموسیٰ علیہ السلام مورته پدې ارضاع باندې روزانه یو(۱) دینار اجرت مقررکړو، بچې هم الله جل جلاله واپس کړواومفت اجرت هم ورته میلاویدلو، اودَ موسیٰ علیہ السلام دَمور دَپاره دَدې اجرت بطورمال فئ اغستل جائزوو څکه چه فرعون حربی کافروو.

﴿كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ﴾ دا دَماقبل دَپاره په منزله دَعلتونو دی ﴿وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ﴾ دَوعدې نه مراد وعده دَ رد یعنی دَبچی دَواپس کولو اودَهغه دَنبی جوړولوده، چه په ایت نمبر(۷) کښې تیرشویدی. اوکه څوک اشکال اوکړی چه دَالله جل جلاله په وعدې باندې دیته علم دَاول نه حاصل شوې وو چه کله دیته الهام اوشو یاورته فرشته مخامخ راغله، نو اوس دوباره هغه علم حاصلیدل تحصیل دَحاصل دې، نوجواب دادې چه دَدې نه مرادعلم په عین الیقین سره دې. الله جل جلاله دَدې سره دوه(۲) وعدې کړې وې، یوه(۱) وعده دَبچی دَردوه اودویمه وعده دَهغه دَنبوت وه نودایوه وعده الله جل جلاله فی الحال پوره کړه اودیته ئې اوخودله اوبله وعده دَموسیٰ علیہ السلام مورپدې مشاهدې وعدې باندې قیاس کړه چه دایوه وعده پوره شوه نوهغه بله به هم خامخا پوره شی نو ګویاچه په دواړووعدوباندې دیته علم عین الیقین حاصل شو.

وَعِلْمًا	حُكْمًا	اٰتَيْنٰهُ	وَاسْتَوٰى	اَشُدَّهٗ	بَلَغَ	وَلَمَّا

[1] اوهرکله چه اورسیدلوموسیٰ علیہ السلام خپلی ځوانئ ته اوپوره شوعقل دده ورکړومونږورته نبوت اوعلم دَتورات.

---

1 دقصې دویم مقام

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴﴾

اوهم دغه شان مونږ بدله ورکؤ نیکانوته.

﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ ﴾ دَدې ايت نه دَقصې دويمه مقام شروع کيږي ترايت نمبر(۲۲) پورې پديکښې په موسى عليه السلام باندې دَځوانئ ته رسيدلونه ورستودَتکاليفوذکردې، يعنى قبطى قتل کول په هغې باندې دَالله تعالىٰ نه معافى غوختل، فرعونيانوته پته لګيدل، دَموسى عليه السلام په قتل کولو باندې دَهغوئى اتفاق راتلل، اوبياموسى عليه السلام په هجرت باندې مجبوره کيدل. نوپدې ايت کښې دَموسى عليه السلام دَځوانئ اول حالت ذکرکيږي، چه کله موسى عليه السلام دَخپلې ځوانئ قوت ته اورسيدلونوالله تعالىٰ اوورته په دينى اودنيوى کارونوکښې پوهه اوبصيرت ورکړوپه "اشد" او "استوى" کښې دَمفسرينواقوال متعدددى، بعض فرمائى چه دواړه متحددى اوددې اطلاق دَاتلس(۱۸) نه ترديرش(۳۰) کالوپورې عمرباندې کيږي، ليکن دَجمهوررائى داده چه دادواړه متغايردى، لکه چه داظاهره تقاضادَعطف هم ده، دَجمهوروپه خپل مينځ کښې دَدې په تعين کښې اختلاف دې چه دَعمرکوم حصې ته "اشد" اوکومې ته "استوى" وئيلې کيږي، نوراجح اوغوره قول دادې چه "اشد" عبارت دې دَهغې مرتبې دَعمرنه چه په هغې کښې کمال دَقوت جسمانيه راشى، او "استوى" عبارت دې دَهغې مرتبې دَعمرنه چه په هغې کښې کمال دَقوت عقليه راشى، اوبعض فرمائى چه "اشد" هغه مرتبه ده چه په هغې کښې کمال قوت حاصل شى او "استوى" چه په هغې کښې کمال خلقت دَبدن حاصل شى اوبدن دَنموانتهاته اورسيږي. اونوره نموپکښې نه راځى، اوبادَعمرپه کوموکالونوکښې وى؟؟ نودَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دوه(۲) قولونه مروى دى، يو(۱) داچه دَاتلس(۱۸) کالونه ترديرش(۳۰) پورې عمرمرتبه دَ "اشد" ده او ديرش(۳۰) نه ترڅلويښتو(۴۰) پورې عمرمرتبه دَاستواء ده، اودويم قول دادې چه درې ديرش(۳۳) کالوپورې عمرمرتبه دَ "اشد" ده، اوبيادَرې ديرش(۳۳) نه ترڅلويښتوپورې عمرمرتبه دَ استوى ده ځکه چه دَاتلس(۱۸) کالونه ترديرش(۳۰) يادرې ديرش(۳۳) پديکښې دَانسان قوت خپل انتهاء ته اورسيږي، ځلويښت(۴۰) کالوپورې عمرکښې دَانسان بدن خلقت خپل انتهاء ته اورسيږي، ځلويښت(۴۰) کالوته من وقوف وئيلې کيږي. ددينه په پورته بيادَانسان په بدن کښې نوره نمونه کيږي.

لیکن علامه آلوسي رحمه الله فرمائي چه دَدې مرتبودَپاره دَعمردَيوې حصې تعين کول صحيح نه دی بلکه "اشد" مطلق هغې مرتبې ته وئيلې کيږي چه په هغې کښې کمال دَقوت جسماني راشي او "استوی" مطلق هغې مرتبې ته وئيلې کيږي چه په هغې کښې کمال دَقوت عقليه راشي اوداپه اعتباردَزمکې اودَشهرونو،په اعتباردَزمانو،اوپه اعتبار دَاحوالو اومزاجونوسره مختلف دی،دَبعضې علاقودَبعضې زمانواودَبعضې مزاجونوواﻻخلکوکښې دامرتبې په جلتئ سره حاصلې شي،اوپه بعضوکښې په تاخيرسره،البته دَابن عباس رضي الله عنه قول په اغلب باندې محمول دې.

﴿ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا﴾ حکمت نه مراددَصحيح فيصلې قوت دې اودَعلم نه مراددَديني معاملاتوپوهه ده يعنې موسى عليه السلام ته دَنبوت نه،مخکښې بطورمقدمه نبوت،الله تعالى فهم سليم اوعقل مستقيم عطاءکړو،اوبعض فرمائي چه دَحکمت نه مرادحکمت دَانبياءکرامو دې،اودَانبياءکرامو حکمت دَهغوئي سنت دی،نودَايت مطلب دادې چه الله تعالى فطری طور باندې حضرت موسى عليه السلام ته دَانبياءکراموسنت مطابق ژوند تيرولوطريقه اودَهغوئ علوم عطاءکړی وو، اودَدې وجې نه به حضرت موسى عليه السلام به دَنبوت نه مخکښې هم دَشرک نه بيزارئ اوخلکوته به ئې دَتوحيددعوت اوتبليغ کولو،اوبعضې مفسرينودَحکمت اوعلم نه نبوت مرادکړيدې،ليکن پدې اعتبارسره به بياپه قصې کښې تقديم اوتاخيرراځي چه داداَسلوب کلام سره موافق ندې.ځکه چه موسى عليه السلام ته نبوت دَقبطي دَقتل نه پس اومدين ته هجرت کولواوبيادَهغې نه پس خپلې علاقې ته دَمورسره ملاقات ته راتللوپه وخت په لاره کښې ميلاؤشوې وو ،نوځکه اول احتمال زيات غوره دې.

﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ مشبه به موردَموسى عليه السلام ده او "المحسنين" نه مراد "المصدقين بوعدالله" دی،نودَايت مطلب دادې چه څوک هم دَالله تعالى دَوعدوتصديق اوکړی اودَالله تعالى په ذات باندې اعتماداوتوکل اوکړی نوالله تعالى هغه ته داسې بدله ورکوی لکه چه څرنګه ئې دَموسى عليه السلام مورته ورکړه چه دَدې بچې دَدښمن په لاسونوکښې تللوباوجوددَقتل نه بچ شو،دښمن پرې مهربانه شو،بچې سره دَمال نه مورته واپس شواوهغې بچې ته الله تعالى علم اوحکمت هم ورکړو.

اوياًمشبه به موسىؑ دي ،اودَ المحسنين نه مراد المتقين دى اودَايت مطلب دادې چه ځوک هم تقوىٰ اختياركړي نوالله ﷻ ورته داسې بدله وركوى،لكه چه موسىؑ ته نې وركړې وه يعنى فهم سليم اوعقل مستقيم ورته عطاءكړى اوپه هغې كښ ورته ترقى نصيب كړى،لكه دَحضرت حسن بصرىؒ نه مروى دى فرمائى چه مَن اَحسَنَ عبادةَ ربِّهِ فى شِبيَتِهٖ اعطاهُ الله الحكمة فى اكتِهاله اوياد َالمحسنين نه مرادانبياءكرام دى اودَجزاء نه مراددَهلاكت نه بچ كول اوبطورخرق عادت حفاظت كول اواعلى مقام ته رسول دى.نودَايت مطلب دادې چه څرنګه مونږدَموسىؑ حفاظت اوكړواوهغه ته مولوئى مقام اواعلى مرتبه وركړه نودغه شان معامله دَټولو انبياءكرامو سره ده.

وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيْهَا
اوداخل شوموسىؑ ښاردَمصرته په وخت دَغفلت دَاهل دَهغى كښ،يعنى دَغرمى نواوئى موندل په هغى كښ
رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ ۫ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ
دوه كسان چه جګړه ئې كوله.دايودَه ډلې نه وو اودابل دَده دشمن دَډلې نه وو.نومدد اوغوختلو موسىؑ نه
الَّذِيْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِيْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى
هغه سړى چه دَده ټولى نه وو په هغه سړى چه دَدشمن دَده ټولې نه وو.نوپه سوک يې اوهلو هغه موسىؑ
فَقَضٰى عَلَيْهِ ۫ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ
نومړئى كړوهغه اووئيل موسىؑ داكاردَعمل دَشيطان نه دې.بى شكه شيطان دشمن دې ګمراه كونكې دې
مُّبِيْنٌ ⑮ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ
ښكاره. اووئيل موسىٰ اې ربه خامخا بيشكه ماظلم اوكړوپخپل ځان.نوته مامعاف كړه نوالله ﷻ ورته معافى اوكړه
اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ⑯
بيشكه الله ﷻ هم هغه معاف كونكې رحم كونكې دې

﴿وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٍ﴾ پدې ايت کښې مقدمات دهجرت دحضرت موسیٰ ذکرکيږي. هرکله چه حضرت موسیٰ عليه السلام سنِ نموته اورسيدلو اوالله تعالیٰ دنبوت نه مخکښې ده ته عقل سليم ورکړې وو ،نوموسیٰ عليه السلام به دفرعون ددين نه سخت نفرت کولواوخلکوته به ئې دالله تعالیٰ دتوحيدا ودسمې لارې تبليغ کولو.فرعون دپاره داخبره ناقابل برداشت وه نواراده ئې اوکړه چه موسیٰ عليه السلام قتل کړی خودحضرت آسيه رضي الله عنها په سفارش ئې پريخودلواودکورنه ئې اويستلو.اومولاناشبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه فرعون موسیٰ عليه السلام دکورنه،ويستلې نه وو،بلکه حضرت موسیٰ عليه السلام به دفرعون ددين نه،نفرت کولودهغې دوجې نه به اکثر موسیٰ عليه السلام دده په کورکښې نه پاتې کيدلوبلکه دخپلې مورکورته به ډيرتللوچه هغه دمصرنه بهرواقع وو،اوکله کله به مصرته دفرعون محل ته راتلو.اوبعضِ حضرات فرمائی چه موسیٰ عليه السلام چکرته بهرته تللې وو،بهرتقديرايوه ورځ موسیٰ عليه السلام دغفلت په وخت کښې چه دادغرمې وخت دې چه اکثرخلک پدې وخت کښې قيلوله کوی،مصرته داخل شو،اوپه علیٰ حين غفلة کښې اشاره ده چه داوخت عموماًدشهرته داخليدلونه ووخوحضرت موسیٰ عليه السلام قصداًداوخت مصرته داخليدلودپاره خوښ کړې وو،اوغالباًددې وخت انتخاب وجه داده چه حضرت موسیٰ عليه السلام به خلکوته خفيه تبليغ کولو،اوخپل ځنې متبعين ئې هم پيداکړی وو،نودهغوئی سره دملاقات اوخبروتروددپاره ددې نه بل زيات مناسب وخت نه وؤ،نوځکه موسیٰ عليه السلام پدې وخت کښې ښارته راتللو،نوچه يوه ورځ ښارته داخل شونو ﴿فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ﴾مراددډينه يتحاربان دې،يعنی دواړه جنګيدلو.﴿هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ﴾اشاره دلته حکايةً راغليده،يعنی دغائب ماضی نه تعبيرپه اسم اشارې سره اوشوچه هغه وضع کړې شويده دحاضردپاره،دپاره دحکاية الحال چه داکتوونکې کچرې په په دې وخت کښې موجودوې نودابه ئې وئيل چه هذامن شيعته الخ اوداسم اشاره چه دحکاية الحال دپاره وی،عرب ددې استعمال په ځائې دضميرکوی په ربط کښې،نوموسیٰ عليه السلام چه کله اوکتلوچه دوه(۲)کسان په خپل مينځ کښې جنګ کيږی چه يو(۱)کس دموسیٰ عليه السلام دقوم قبيلې والادې،اوبل کس دفرعون دقبيلې يعنی قبطی دې،اوسبب دجګړې داووچه قبطی دفرعون باورچی وو ،هغه يولوئی ګيډې دلرګوپه بنی اسرائيلی باندې بارکړې ووچه دادفرعون محل ته

اورسوه، اوبنی اسرائیلی غریب بودااوضعیفه وو، دَهغې کیدی اوچتولو اوهلته ته ورلو طاقت نۍ نه لرلو، نوځرنګه چه دې بنی اسرائیلی موسیٰ علیه السلام اوکتلونو امداد ئې ورنه اوغوښتلوچه مادَدې ظالم قبطی نه خلاص کړه.

﴿فَوَكَزَهُ مُوسَىٰ﴾ موسیٰ علیه السلام دَدې مظلوم دَخلاصولواودَدغې ظالم دَظلم نه،دفع کولودَپاره قبطی ته یو سوک ورکړو اوبعض روایاتوکښې دی چه موسیٰ علیه السلام اول قبطی ته نصیحت اوکړوچه داغریب بوډاضعیف ولې تنګوې،دې به ستادادومره لوئی بوج ځرنګه اورسوی.نوهغه بداخلاقه قبطی موسیٰ علیه السلام ته غصه اوکړه اوداټې ورته اوئیلوچه اوس به دابوج ته اوړې موسیٰ علیه السلام ته هم غصه ورغله اوهغه ئې یوه سوک اووهلو.

﴿فَقَضَىٰ عَلَيْهِ﴾ "قضی"کښې ضمیرموسیٰ علیه السلام ته راجع دې،او"قضی"چه کله متعدی شی په"علی"سره نومعنی ئې"مرګ"کیږی،نومطلب دادې چه موسیٰ علیه السلام په یو سوک سره دده کار فیصله کړویعنی هغه قبطی مړشواویاضمیرپه"قضی"کښې الله تعالیٰ ته راجع دې اودآیت مطلب دا دې چه الله تعالیٰ په قبطی باندې فیصله دَمرګ اوکړه.

﴿قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ﴾ "هذا"سره اشاره ده قتل دَقبطی ته یَعنی موسیٰ علیه السلام په خپل عمل باندې سخت پښیمانه شواوداټې اوئیل کومه غصه چه ماته راغله اودَهغې دَوجې نه ماقبطی قتل کړوداَشیطان عمل دې ﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ﴾ دَپښیمانتیانه ورستو موسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ ته تضرع اوعاجزی اوکړه اودَخپل دَدې عمل معافی ئې اوغوختله چه اې الله تعالیٰ ماپخپل ځان باندې په سبب دَقتل کولودَقبطی سره ظلم اوکړوته ماته بخښنه اوکړې.

﴿فَغَفَرَ لَهُ﴾ الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته معافی اوکړه اوپه ذریعې دَالهام ئې هغه ته دَبخښنې خبر ور کړو.

فائده: مسلک دَاهل السنة والجماعت دادې چه انبیاءکرام علیهم الصلوات والتسلیمات قبل النبوة اوبعدالنبوت دکبائرونه معصوم دی،اوبعضې خلک قبل النبوت په صدرو دکبائرودَانبیاءکرامونه،قائله دی اواستدلال ئې دَموسیٰ علیه السلام په دې واقعې سره کړیدې اوطریقه دَاستدلال ئې داده چه(۱)موسیٰ علیه السلام دَخپل عمل یعنی قتل قبطی نسبت شیطان ته

اوکړو چه﴿هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ﴾اوعمل شيطاني خوګناه وي (٢)اودغه شان موسیٰ علیه السلام خپل دې عمل ته ظلم اوئيلواوپېدې باندې دَالله ﷻ نه معافي اوغوختله اوظلم ګناه کبيره دې(٣)اودغه شان معافي غوختل اومعافي ورکول په بدله دَجرم کښې وي،نومعلومه شوه چه حضرت موسیٰ علیه السلام نه جرم اوګناه کبيره شوې وو.

دَاهل السنة والجماعة دَطرف نه دَدوئي دَاول استدلال جواب دادې چه حضرت موسیٰ علیه السلام دَخپل عمل نسبت شيطان ته اوکړه دَدينه دَدې عمل ګناه کيدل نه ثابتيږي،ځکه چه دَيوعمل نسبت شيطان ته کول مستلزم نه دی دَهغې عمل ګناه لره،لکه حضرت يوشع علیه السلام (فتی دَموسیٰ علیه السلام)دَخپل نسيان نسبت شيطان ته کړې وو چه"وماانسٰنيهُ الاّالشّيطانُ الخ" اونسيان ګناه ندې،ليکن هرکله چه دَدې کارپه انجام باندې شيطان ته خوشحالي ميلاويږي نودَدې وجې نه،نسبت ئې شيطان ته کيږي.

(٢)دويم جواب داکړې شويدې چه داقبطي کافرحربي اوظالم وو،ليکن دده دَقتل حکم موسیٰ علیه السلام ته نه وؤکړې شوې،اونه موسیٰ علیه السلام دَده دَقتل اراده کړې وه بلکه دَموسیٰ علیه السلام اراده ده ته دَتعزيرورکولووه چه دې دَدې ظلم نه،منع شي،ليکن اتفاقًاهغه قبطي دَحضرت موسیٰ علیه السلام په مکې سره مړشوچه ديته قتل خطاءوئيلې شي،اوداګناه نه وی اودَدې نظيرداسې دې لکه زمونږپه شريعت کښې قاضي په يومجرم باندې حد،ياتعزيرجاري کړي اواتفاقًاهغه مجرم دَسزاپه دوران کښې مړشي نوقاضي باندې ګناه نيشته،نوحضرت موسیٰ علیه السلام باندې هيڅ قسمه ګناه نه وؤليکن دَالله ﷻ دَخوف اوخشيت دَوجې نه دَخپل عمل نسبت ئې شيطان ته اوکړو،ځکه چه دَقتل حکم دَالله ﷻ دَطرف نه،نووراغلې.

(٣)دريم جواب حضرت عثماني رحمه الله اودَنورواهل علمودکلام نه،معلوميږي چه فرمائي چه"هذا"کښې اشاره قتل دَقبطي ته نه ده،بلکه پدې سره اشاره غصې اوغضب ته ده،چه دَهغې دَوجې نه قبطي مړشو،اوداغصه موسیٰ علیه السلام ته اګرچه دَيوحربي کافرپه ظلم باندې راغلې وه چه داعين ايمان دې،ليکن هرکله چه دغصې په دوران کښې دَغصې دَجوش دَوجې نه،دَمعاملې پوره تحقيق اونکړې شي اودَتاديبي ضرب اندازه اونه لګولې شي چه دَهغې دَوجې نه بيادَډيروفتنو اومصائبودروازې کولاؤشي نوحضرت موسیٰ علیه السلام قبطي ته مکه دَغصې دَجوش په وخت کښې ورکړې وه نودَدغې غصې جوش نسبت ئې شيطان ته اوکړو.

(۴)څلورم جواب حضرت سندهي رحمه الله او تهانوي رحمه الله کړيدې. فرمائي چه حضرت موسى عليه السلام په دغه وخت کښې دَفرعون حکومت سره معاهد وو. او دا معاهده اګرچه تحريري صورت کښې نه وه ليکن عملي صورت کښې ضرور وه. ځکه چه بني اسرائيلو په دغه وخت کښې دَفرعون حکومت تسليم کړې وو. نو دَفرعون دَحکومت قوانين په دوئي باندې لاګوو. نو دَموسى عليه السلام قبطي قتل کول ګويا دَهغې معاهدې خلاف ورزي او قانون شکني وه. او دا خلاف ورزي او قانون شکني اګرچه ارادةً نه وه خو بيا هم حضرت موسى عليه السلام دَخپل اعلى مرتبې دا يو قسم ګناه متصور کړو او نسبت ئې شيطان ته او کړو. او ددينه معلومه شوه چه کچرې يو مسلمان دَيو کافر په حکومت کښې پاتې کيږي نو دَهغې حکومت ټول قوانين منل او په هغې باندې عمل کول دَده دَپاره ضروري دى ترڅو چه صريح معصيت نوي. او دغه شان سرکاري املاک يا دَهغوئي جان او مال ته بغير دَاطلاع نه تعرض کول جائز نه دى. ځکه چه دا يو عملي معاهده وى او اسلام دَمعاهدې دَپاس دارئي حکم کوى. نه دَنقض عهد. او دَدې وجې نه حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه چه کله خپل ملګرى چه دې ورسره پاتې کيدلو. قتل کړل او دَهغوئي دَمال سره نبي پاک صلى الله عليه وسلم ته پيش کړو نو نبي پاک صلى اله عليه وسلم ورته او فرمائيلو چه: اما الاسلام فاقبل واما المال فمال غدرٌ لاحاجة لنافيه (ابوداود) يعني ستاڅه قبولوم ليکن دا مال ددهوکې مال دې، مونږ ته دَدې ضرورت نيشته دې. او حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلاني رحمه الله په خپلو شروحاتو دَبخاري کښې دَدې خبرې وضاحت کړيدې چه دکافر مال په حالت دَامن کښې اغستل جائز نه دى. ځکه چه کله يو مسلمان او کافر په يو ځائي کښې پاتې کيږي او دَيو بل نه مطمئن وى او امن وى نو ګويا دا عملي معاهده ده.

(۵) امام رازي رحمه الله دا جواب کړيدې چه دَموسى عليه السلام دَپاره ددغې کافر قتل جائزوو. ځکه چه دې حربي کافروو. البته اولى او غوره دَدې قتل تاخيروو چه لږ ورستو زمانه کښې ئې قتل کړې وې ليکن اتفاقًا دا کافر حربي د موسى عليه السلام په مکې سره قتل شو. نو په ظاهر کښې دَموسى عليه السلام نه ترک دَمندوب او شو. نو حضرت موسى عليه السلام دَدغې ترک مندوب نسبت شيطان ته او کړو نو ګويا چه دَ هذا من عمل الشيطان معنىٰ دا ده اقدامي على ترک المندوب من عمل الشيطان او په دغه خلاف اولى په ترک باندې ئې بيا معافي هم دَالله تعالى نه او غوختله

ددویم استدلال نه جواب داکړې شویدې چه(۱) دَحضرت موسی علیه السلام په خپل عمل باندې اطلاق دَظلم کول دکسرنفسی اودَتضرع په بنیاددی،نه حقیقةً،ځکه چه عادت دَمقربینو دادې چه استعظام الصغیر من السیئات وتحقیر العظیم من الحسنات یعنی صغیره سیئه(خلاف اولی) ورته کبیره ښکاری اوکبیره حسنه ورته حقیره ښکاری

(۲)دویم جواب دادې چه دَانبیاءکرامو په عمل باندې دَظلم اطلاق صرف صورتًا ومشاکلةً وی،حقیقةً نه وی،توضیح ئې داده چه ظلم وئیلې کیږی په لغت کښې وضع الشئ فی غیر محله ته نودَعمل محل دَانبیاءکراموا تیان دې په احسن اموروباندې،خوکله کله نبی احسن پریدی اواتیان په حسن اوکړی،لکه څرنګه چه عوام جائزپریدی اوناجائز اختیار کړی.اګرچه په حسن باندې حقیقةً اوشرعًااطلاق دَظلم نشی کیدې ځکه چه عمل خوبهرحال نیک دې.لیکن هرکله چه اصل محل دَنبی دَعمل احسن وواونبی خپل عمل په محل احسن کښې ادانکړوبلکه محل حسن کښې ئې اداکړو،نوګویاچه داداسې شوچه وضع الشئ فی غیر محله خوداهم صرف مشاکلةً اوصورتًاځکه چه حقیقت کښې خوداعمل نیک دې،نودَدې وجې نه اطلاق دَظلمورباندې کیږی،اودَدې وجې نه مشهوره مقوله ده وئیلې شی چه حسنات الابرار سیئات المقربین.

(۳)حضرت والدصاحب نوّرالله مرقده به فرمائیلوچه ظلم کلی مشکک دې،متفاوت دې په اعتباردَافرادوسره،نواطلاق ئې په معصیت حقیقی باندې هم کیږی په طریقې دَاقوی اواشدیت سره،اوپه خلاف اولی باندې هم کیږی په طریقې دَاضعفیت سره نودَعاموخلکوظلم معصیت وی چه ګناه کبیره ده اودَانبیاءکراموظلم فی نفسه حسن کاروی خوترک احسن دَوجې نه،دې حسن ته ظلم اوئیلې شی،ځکه چه دَهغوئې دَلوئی مراتبواواعلی شان سره مناسب احسن وی نه حسن.

اوباقی دَدریم استدلال نه جواب داکړې شویدی چه(۱) دَحضرت موسی علیه السلام په خپل عمل باندې مغفرت غوختل محمول دی په کسرنفسی باندې،(۲)دویم جواب ترینه دادې چه توبه اوطلب دَمغفرت دَخواصوپه حقیقت کښې رفع دَدرجاتووی.

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۷﴾
اووئیل موسی علیه السلام اې ربه په سبب دَ دې چه تاانعام اوکړوپه ماناواوس دینه ورستوبه هرګزځه نشم مددګاردَمجرمانو

﴿قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ﴾ باء په﴿بِمَآ أَنْعَمْتَ﴾كښې ياقسميه ده اوما مصدريه ده اوجواب قسم محذوف دې چه"لامتنعنّ عن مثلِ هذاالفعل"دې او"فلن اكونَ الخ" تفسير دَمحذوف جواب دې اوپه هغه باندې مرتب دې،نواصل عبارت داسې دې اقسم بانعامکَ على لامتنعنّ عن مثل هذاالفعل او مثل هذاالفعل څه دې؟؟ نو فلن اكونَ الخ ئې تفسيراوکړوچه دَظالمانو مدد گاربه نه جوړيږم اويا باء سببيه ده او فلن اكونَ الخ مرتب دې په بماانعمت باندې اودَ مجرمين نه يادابنى اسرائيل مراددې چه دې کافروو،په دې تقديردَ ايت مطلب دادې چه موسى عليه السلام اوفرمائيلوچه اې الله تعالىٰ تاپه ماباندې انعام اوکړودې انعاماتوپه سبب څه به هرګزدَ مجرمانو معاونت اوامداداونکړم يعنى نن خومادې مجرم بنى اسرائيلى امداداوکړواوتاخه معاف کړم نوآئنده دَپاره به بياخيال کوم اودَاسې مجرمانوامدادبه نه کوم،پدې احتمال دَدې ايت دَظاهرنه معلوميږى چه دابنى اسرائيلى کافروومسلمان نه وؤ،قاله قتاده،اويادَ مجرمين نه مرادفرعون اودَهغه ملگرى دى،پدې تقديردَايت مطلب دادې چه موسى عليه السلام اوفرمائيلوچه اې الله تاپه ماباندې انعام اوکړونودَې انعام په سبب څه به ائنده دَپاره هم دَمظلومانوامدادکوم اودَ فرعونيانوظالمانومرسته اوامدادبه نه کوم.

اويا باء سببيه ده اومتعلقه ده دَفعل محذوف سره چه اعصمنى دې اوداجمله استثنائيه دعائيه ده،اواستعطاف يعنى الله تعالىٰ ته وسيله ګرځول دى دَانعام مغفرت دَپاره دَحصول دَنوروانعاماتو،نوتقديردَعبارت داسې دې اعصمنى بسبب ماانعمت على فلن اكون ظهيراً للمجرمين يعنى اې الله تعالىٰ چه کوم انعام دَمغفرت،اعطاء دَعلم وحکمت وغيره تاپه ماباندې کړيدى،دَدې په برکت اووسيلې سره ماپه آئنده کښې دَمجرمانودَملګرتيانه اوامدادنه بچ اوساتې،دَدې ايت نه علماؤدَدې استنباط کړيدې چه دَظالم مددکول په هيڅ حال کښې هم جائزنه دى اودغه شان دَظالم حکومت ملازمت کول هم جائزنه دى،علامه آلوسى رحمه الله فرمائى "وقدكان السلف يجتنبون كل الاجتناب عن خدمتهم"يعنى اسلافوبه دَظالمانو بادشاهانو دَسرکارى خدمات اوملازمتونونه ځان مکمل بچ ساتلواوعلامه آلوسى رحمه الله او قرطبى رحمه الله واقعات دَاسلافونقل کړيدى،فرمائى چه عبدالرحمن بن مسلم حضرت امام

ضحاک رحمه الله لره دبخاری په عطایاؤباندې ذمه دارمقررکولولیکن امام ضحاک رحمه الله هغه ته باربارمعذرت کولوحتی چه امیریعنی بادشاه ده لره معذور اوګڼرلو نودحضرت ضحاک رحمه الله نه چاتپوس اوکړوچه دبادشاه ددومره اصرار باوجود تاولې دا ملازمت قبول نکړو،نوهغه ورته اوفرمائیلوچه څه نه خوښوم چه په هیڅ کارکښ دظالمانومرسته اوکړواوحدیث کښ دی چه ینادی منادیوم القیمة این الظلمة واشباه الظلمة واعوان الظلمة حتّی من لاق لهم دواةً اوبری لهم قلمًافیجمعون فی تابوت من حدید فیرمی بهم فی جهنم یعنی دقیامت په ورځ به یو اعلان کوونکې اعلان اوکړي چه چرته دی ظلم کوونکی؟چرته دی دظالمانومددکوونکی اوملګرتیاکوونکی حتّی چه چادظالم سره دوات برابرامدادکړې وی یعنی دسیاهی دوات ئې ورته ورکړې وی یائې ورته قلم تهیک کړې وی داټول به داوسپنې په یوتابوت کښ جمع کړې شی اوجهنم ته به اوغورځولې شی.

دغه شان عبید الله بن الولید الصافی دحضرت عطاء بن ابی رباح نه دځپل روزپه باره کښ تپوس اوکړوچه څماورورسرکاری ملازم دې اودهغه په لاس کښ صرف دومره قدرې کاردې چه څه راځی اوځه اوځی دسرکاری خزانې نه،نوهغه لیکی اوکچرې دې داملازمت پریدی نومحتاجه اوقرضدارې به شی،حضرت عطاءتنه تپوس اوکړوچه ستاورورد چاسره منشی دې،ده ورته اوئیلوچه دخالدبن عبدالله القسری سره،نوحضرت عطاء رحمه الله ورته اوفرمائیلوچه آیاتادموسی علیه السلام داقول ندې اوریدلې چه هغه فرمائیلوچه﴿رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ﴾اووروورته دی اوایه چه قلم اوغورځوی،الله تعالیٰ به ورته درزق بندوبست اوکړی.

فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ
پس صباکړوموسی علیه السلام په ښارکښ یریدونکې،انتظارئې کولوچه څه به کیږي نوناڅاپه هغه کس چه مددئې غوښتلې ووورونه
بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ ۚ قَالَ لَهُ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ⑱ فَلَمَّآ
پرون بیائې ورته فریادکولو.اووئیل هغه ته موسی علیه السلام بیشکه ته خوخامخاشری ئې ښکاره.نوهرکله چه

قَالَ	يٰمُوْسٰى		لَّهُمَا	عَدُوٌّ	هُوَ	بِالَّذِيْ	يَّبْطِشَ	اَنْ	اَرَادَ	اَنْ
اراده اوکړه موسی علیه السلام چه حمله اوکړی په هغه کس چه هغه دشمن وو د دواړو اوئیل اسرائیلی اې موسی										
اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ										
آیاته غواړې داچه قتل کړې ما لکه چه قتل کړې وۆتاسړې پرون ته اراده نه لرې مګرداچه شې نه										
جَبَّارًا فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾										
لوئ ظالم په زمکه کښې اوته دانه غواړې چه شې ته دروغی کونکونه										

﴿فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ﴾ جارمجرورمتعلق دی د "اصبح" سره او ﴿خَآئِفًا﴾ خبرد "اصبح" دې او "يترقب" خبربعدالخبردې اوياحال دې د "خائفا" دضميرنه اومفعول د "يترقب" محذوف دې چه "المكره" يا "الخبر" وغيره دی، او ﴿الْمَدِيْنَةِ﴾ نه مرادهغه شهردې چه موسی علیه السلام دلاسه پکښې قبطی قتل شوې وو .نودایت مقصددادې چه حضرت موسی علیه السلام پدغه شهرکښې داسې حالت کښې شپه تيره کړه چه ويريدلواوانتظارئې کولوچه ددې قتل اطلاع اوخبرفرعون ته رسيدلې دې اوکه نه؟يعنی داحالات ئې معلومولو،اوسورة طٰه کښې تيرشويدی چه طبعی خوف دانبياءكرامودعالی مرتبې سره مخالف ندې اونه دتوكل خلاف دې.

﴿فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ﴾ "اذا" مفاجاتيه ده او ﴿يَسْتَصْرِخُهٗ﴾ د "صراخ" نه دې چيغې وهلوته وئيلې كيږی،ليكن كنايه ده بلكه حقيقت عرفيه دې په مددغوختلوكښې اوپه لفظ د "يستصرخ" كښې اشاره ده چه ددې سرې نن ورځ فريادد پرون ورځې نه زيات وو ،ځكه چه هلته صرف استنصاروواودلته استصراخ دې نوحضرت موسی علیه السلام ددې حالاتومعلومولوډپاره ګرځيدلوچه څه به كيږی اوفردجرم به په چالګيږی،چه ګوری نواچانک بياهغه پرونې اسرائيلی چيغې وهی،اودقبطی خلاف امدادغواړی.

﴿قَالَ لَهٗ مُوْسٰٓى﴾ ظاهراوغوره داده چه ضميربنی اسرائيلی ته راجع دې او "غوی" په معنی د "مغوی" سره دې لكه "اليم" په معنی د "مولم" سره راځی يعنی ته ماله خطاكوونكې ئې ځكه چه

ستادلاسه پرون هم ځمانه سرې قتل شو،نن بياچيغې اوباسې،بل مرګ راباندې کوې.اويا"غوی"په معنی د"الغاوی"سره دې يعنی ته په قتال اوجنګ کښ سرکشی کوونکې ئې روزانه دَزوروروسره جنګونه کوې خوچرته په کورکښ په ارام سره کينه.اوياصبرکوه په دې تکليفونوباندې

﴿فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن يَبْطِشَ ﴾موسی عليه السلام په بنی اسرائيلی باندې ترس اوشواودَهغه دَامداداوهغه دَظلم نه خلاصولواراده ئې اوکړه،اودلته"بطش"ذکرشوچه وئيلې کيږی"الاخذ بصولة وسطوة"يعنی په سختئ سره نيولوته وئيلې کيږی نوموسی عليه السلام اراده اوکړه چه قبطی په سختئ سره اونيسی اودَ"وکز"يعنی دَسوک(مکې)ورکولواراده ئې اونکړه ځکه چه دَهغې دَوجې نه پرون کس مړشوې وو.

﴿هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ﴾دَجمهوروقول دادې چه"هو"ضميرقبطی ته راجع دې اوپه"الذی"موصول سره هم قبطی مراددې،چه دې دَدې بنی اسرائيلی اودَموسی عليه السلام دواړوسخت دشمن وو.دَبنی اسرائيلی دښمن ځکه وؤ،چه دَهغوئی نه ئې غلامان جوړکړی وو،سخت سخت اذيتونه اوتکليفونه ئې ورته رسولو،اودَموسی عليه السلام دښمن ځکه ووچه دَهغه دَدين نه مخالف وواو﴿قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ ﴾دَدې قول قائل دَجمهوروپه نيزبنی اسرائيلی دې،ځکه چه بنی اسرائيلی اوکتلوچه موسی عليه السلام ماته غصه شو،اوموسی عليه السلام ده ته داهم اوئيلوچه﴿إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴾نودې بنی اسرائيلی ګمان اوکړوچه موسی عليه السلام لاس هم په ماپسې رااوچت کړواوده ته خودَموسی عليه السلام دَسوک(مکې)انجام هم معلوم وو،نوسخت اويريدلواورازئې فاش کړوچه پرون دی قبطی مړکړې وواونن ماړکوې،ته خودېرلوئی جابراوظالم ئې دَخلکوروغې جوړې نه کوې بلکه قتلونه کوې

بعضې مفسرينوداوئيلی دی چه مرادپه﴿بِٱلَّذِی هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ﴾سره بنی اسرائيلی دې او"لهما"کښ ضميرپرونی قبطی اونن قبطی ته راجع دې،نودابنی اسرائيلی دَپرونی اودَنن ورځی دواړوقبطيانوسخت دښمن وو،نودی بنی اسرائيلی ګمان اوکړوچه موسی عليه السلام ماته غصه هم شولواودائې هم راته اوئيلوچه"انک لغوی"نودالاس ئې هم ماپسې رااوچت کړو.نو

دَخپلې ويرې نه،ئې رازافشاءکړو اوبعضې مفسرين فرمائى چه مراد په ﴿بِالَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا﴾ سره قبطى مراددې اودَدې قول قائل ﴿يٰمُوسٰٓى اَتُرِيْدُ اَن تَقْتُلَنِى﴾هم قبطى دې او داخبره هغه دَخپلې اندازې اوګمان موافق اوکړه،ځکه چه کله موسى عليه السلام دده دَنيولواودَبنى اسرائيلى دَمددكولواراده اوكړه نودې قبطى دَخپل طرف نه په ګمان سره موسى عليه السلام ته اوئيلوچه دابنى اسرائيلى خوزمونږخدمتګاران دى،مونږچه دَدوئى نه خدمت اخلونوته پرې خفه كيږې اوزمونږسره جنګ اودَدوئى امدادكوې،نودَدينه پته لګى چه پرون چه كوم قبطى مړدې نوهغه هم تاقتل كړيدې دَدى بنى اسرائيلى دَوجې نه،اوهركله چه يوانسان پټ يوكاركړې وى چه بياكله په ده باندې دَهغې متعلق څه خبره راشى نودَده كيفيات بدل شى،نوممكنه ده چه كله قبطى موسى عليه السلام تاداوئيلى وى چه﴿ اَتُرِيْدُ اَن تَقْتُلَنِى﴾نودَحضرت موسى عليه السلام كيفيت بدل شوې وى،اودَتصديق اثارپرې ظاهرشوى وى،اودروغ وئيل دَموسى عليه السلام نه ممكن نه وو، نودَدې وجې نه دويمه جمله اودويم كلام ئې ديريقينى اوپه حصرسره ذكركړوچه﴿اِن تُرِيْدُ اِلَّآ اَن تَكُوْنَ جَبَّارًا﴾اوډيره مبالغه ئې اوكړه چه اول ئې صفت ثبوتى ذكركړوچه ته جبارئې يعنى دَچاقانون هم دَځان دَپاسه نه منې،جباروئيلې كيږى"المتعظم .الذى لايتواضع لامراحد"هغه لوئى كوونكې چه دَچاقانون اودَخبرې پرواه نه كوى(كبير).

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۫ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ
اوراغې يوسړې دَآخرسرښارنه رامنډى ئې وهلې اوئې وئيل اې موسى عليه السلام بيشكه مشران مشوره كوى
بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّىْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۰﴾ فَخَرَجَ
ستاباره كښې چه تاقتل كړى نو اوزه (دَدې كلى نه) بيشكه څه دَستاخير خواهانو نه يم پس اووتلوموسى عليه السلام
مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۫ قَالَ رَبِّ نَجِّنِىْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾
دَښارنه يريدونكې انتظارئى كولو(دَمدددَالله)اووئې وئيل اې ربه نجات راكړه ماته دَقوم ظالمانونه

﴿وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ﴾هر کله چه دَقبطي يقين اوشوچه پرونې قتل موسیٰ علیه السلام کړيدې نوفوراً اطلاع ئې فرعون ته اورسوله،فرعون خوداَول نه موسیٰ علیه السلام ته غصه وو، نو غصه ئې نوره هم زياته شوه اوخپل ارکان مملکت سره ئې مشوره اوکړه چه دَصبرحدتمام شونو لهذاموسیٰ علیه السلام به ګرفتارکولې شي اوقتل کولې به شي،يعنی دَموسیٰ علیه السلام دَقتل حکم جاري کړې شو،دَفرعون دکورنۍ يوکس(دَتره خوئ)چه نوم دَهغه حزقيل ياشمعون ياشمعان دې،په سورة مؤمن ايت نمبر(۲۸)کښې هغه ته رجل مؤمن وئيلي شويدی هغه ډيرپه جلتۍ سره موسیٰ علیه السلام ته راغې،اوموسیٰ علیه السلام ته ئې خبرورکړوچه فرعون اودَهغه وزيرانواومشيرانو ستا دَقتل فيصله کړيده،نولهذاته دَمصرنه اوځه اوهجرت اوکړه حضرت والدصاحب رحمه الله به فرمائيلوچه داکس په منزله ديوعالم وونوګوياچه ټول دکفرپه پارلمينټ کښې دغه يوعالم وو، اودَزمانې دَنبی دفاع ئې اوکړه،نوکله کله يوعالم يواځې په پارلمينټ کښې لوئی کاراوکړی.

﴿إِنَّ ٱلۡمَلَأَ يَأۡتَمِرُونَ﴾په لفظ دَ"ايتمار"کښې اشاره ده چه دَموسیٰ علیه السلام دَقتل خلاف مشوره هيڅ چاهم ورنکړه،هريوکس به ډيرپه جوش اوجذبې سره دَموسیٰ علیه السلام قتل خبره کوله،ځکه چه دوئی ډيرسخت غصه وو.

فائده:پدې ايت سره علماؤاستدلال کړيدې چه يومسلمان باندې دَبل مسلمان دَمال،جان حفاظت کول واجب دی اودغه شان دَمصلحت دينی په خاطريومسلمان ته خبرارسول په چغلخورئی کښې نه راځی.

﴿فَخَرَجَ مِنۡهَا خَآئِفٗا﴾"فاء"دَتعقيب مع الوصل دَپاره ده،مطلب دادې چه دَدې خبرېه ميلاويدلوسره فوراًموسیٰ علیه السلام دَمصرنه اووتلو"خائفًاويترقب"دواړه حالين دی دَضمير دَ"خرج"نه،يعنی موسیٰ علیه السلام دَخوف اوانتظارپه حالت کښې دَمصرنه،اووتلو،خوف ورسره دَدې ووچه دَفرعون کسان راته په لاره کښې نوی ناست اوقتل يې نکړی اوانتظارئې دَدې کولوچه ورستوراپسې فرعون کسان راليږی اوکه نه راليږی؟؟ اوورسره ورسره موسیٰ علیه السلام الله ﷻ طرف ته متوجه شواودَظالمانونه،دَنجات دعائ اوغوختله.

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾

[1]اوكله چه روان شو شوموسى عليه السلام په طرف دَمدين اوئى وئيل قريبه ده چه خما رب به مابوخى په سمى لاري باندې

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ

اوكله چه اورسيدلواوبودَمدين ته اوئى موندله هلته يوډله دخلقوچه اوبه ئى وركولى څاروونه

وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ؕ

اواوئى ليدلى اخوادَهغوئ نه دوه ښځې چه منع كړى وۏخاروى خپل،ورته اووئيل موسى چه ستاسو څه مقصد دې.

قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ٜ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى

هغوئ اووئيل مونږاوبه نه وركوۏتردې چه واپس شي داشپانه،اوپلارزمونږبوډادې ډېرنواوبه ئى كړل څاروى ا

لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ

ددَهغه دوۏښځوبيالاړوسورى ته نواوئى وئيل اې ربه بيشكه څه هغى ته چه ته ئى راكوې ماته

مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾

څه خير، محتاج يم.

﴿وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ﴾ ددې خائى نه دَواقعې دريم مقام دې ترايت نمبر(۲۹) پورې پدې كښې دَموسى عليه السلام دَبې سروسامانئ په حالت كښې مدين ته هجرت كول.دَحضرت شعيب عليه السلام بچيانو امدادكول،دَحضرت شعيب عليه السلام سره ملاقات كيدل دَهغه دَطرف نه تسلى ميلاويدل اودَهغه سره مزدورى كول اوبيادَهغه دَبچئ سره نكاح كول دَدې ټولو ذكردې.

هركله چه رَجل مؤمن موسى عليه السلام ته دَفرعون ارادې اوفيصلې خبرراوړو اوموسى عليه السلام ته ئې مشوره وركړه چه دَمصرنه هجرت ته اوكړه نوموسى عليه السلام دَهجرت دَپاره مدين غوره كړو.څكه چه مدين مصرته هغه قريبه علاقه وه چه دَفرعون تسلط اوحكومت پكښ

[1]: دواقعى دريم مقام.

نوو،اودغه شان دَاهل مدین سره دَموسی علیه السلام نسبی قرابت هم وو،ځکه چه اهل مدین دَحضرت ابراهیم علیه السلام اولادوو،اوداشهردَمدین بن ابراهیم په نوم باندې ابادوو،او موسی علیه السلام هم دَابراهیم علیه السلام دَاولادنه وو،اودغه شان موسی علیه السلام ته معلومه وه چه مدین کښې پیغمبرانې کیږی نودَنبی دَمسکن په بنیادحضرت موسی علیه السلام دَهجرت دپاره مدین غوره کړو.لیکن حضرت موسی علیه السلام ته دَمدین دلارې صحیح پته نوه،اودَخوراک اوځښکاک اسباب هم ورسره نه وو،اودَمصرنه مدین ته مسافت هم اته(۸)ورځې وو،پدې تولومشکلاتوکښې حضرت موسی علیه السلام دَالله تعالیٰ په ذات باندې توکل اوکړواودَمدین په طرف یوې لارې باندې روان شواودعائې اوکړه چه اې الله!مادَمدین په برابرې لارې باندې روان کړې چه څه لاره خطا نکړم ځکه چه مقصدرانه فوت نشی،اومفسرین فرمائی چه پدغه وخت کښې مدین ته درې(۳)لارې تللې وې دوه(۲)اوړدې غیرابادې لارې وې اویوه(۱)اباده درمیانی لاروه،فرعون په موسی علیه السلام پسې خپل کسان دَغیرابادلاروباندې اولیږلواوخیال ئې داووچه مجرم کس په اباده لارباندې نه ځی،لیکن الله تعالیٰ موسی علیه السلام ته دَابادی اودرمیانی لارې راهنمائی اوکړه،اودَخوراک دپاره موسی علیه السلام سره پدې سفرکښې هیڅ شې نه وؤ،بلکه داونوپه پانړوباندې به ئې گذاره کوله،اوقرطبی رحمه الله فرمائی چه دادَالله تعالیٰ دَطرف نه په موسی علیه السلام باندې اول ازمائش وو.

﴿وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ﴾ورود کله په معنیٰ دَدخول سره راځی اوکله په معنی دَوصول «رسیدلو»سره راځی،دلته په معنی دَرسیدلو،نوموسی علیه السلام اته(۸)ورځی سفراوکړومدین ته اورسیدلو،دَښهرنه بهردَاوبوکوهې ووچه دَهغې نه به دَمدین خلکوخپلې گډې بیزې یعنی څاروی اوبه کولو،موسی علیه السلام چه هلته اورسیدلونواوکتل ئې چه دکوهی په غاړه دَخلکویولوئی جماعت خپل څاروی اوبه کوی.

﴿وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ﴾یعنی دَدې خلکونه،لرلرې لاندې خائې کښې دوه(۲)زنانه ډیرپه عاجزئی سره اوبوته منتظرې اولاړې دی،موسی علیه السلام ته پدې باندې ډیرتعجب اوشو،چه دَغیرت اومروت تقاضاداده چه زنانه اولاړې وی نوخلک زنانه روميڼ کوی،بلکه دَډیرتکلیف خبره داوه چه دَدې زنانوڅاروبه په اوبوپسې زورکولواودوئی به حصاره ولو،نو تذودان صفت دَامرأتين دې اومفعول ثانی دَوجد دپاره نه دې،ځکه چه وجد دلته په معنی دَلقی سره دې.

﴿قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ﴾حضرت موسیٰ علیہ السلام ته دزنانوپدې حالت باندې ډیرترس راغې اودخلکو په دې بې مروتئ اوبې غیرتئ باندې غصه راغله،نوزنانو ته نیزدې شواوتپوس ئې ورنه اوکړوچه داڅه وجه ده؟چه تاسوخپل څاروی اوبوته نه پریدئی.خطب استعمال دلوئی کارپه اراده کښې کیږی،نوهرکله چه داعمل دډیرلوئی تعجب وونوځکه موسیٰ علیہ السلام لفظ دخطب استعمال کړو،او خطب دلته په معنی دمخطوب سره دې،نود﴿مَا خَطْبُكُمَا ﴾معنی ده ماخطوبكماومامطلوبكما يعنی ستاسوڅه مقصددې،ولې داڅاروی نه پریدئی.

﴿قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتّٰى ﴾دې زنانه ؤموسیٰ علیہ السلام ته جواب ورکړوچه دشرم اوحیااودسړو سره داختلاط راتللودوجې نه مونږهلته تللې نشو،اودوئی مونږته اوبه نه راکوی نوترڅوپورې چه ددوئی څارووااوبه نوی څښکلی نومونږخپل څاروی نشوپریخولې،اوکله چه ددوئی څاروی اوبه اوڅکی نوبیاچه کومې اوبه بچ شی هغه مونږراجمع کړواوخپلوڅاروته ئې ورکړو.اوهرکله چه دموسیٰ علیہ السلام په ذهن کښې سوال راتللوچه ستاسوپلارياںل څوک نارینه ولې نه راځی،چه تاسوزنانه ئې راليږلې يئ؟نودوئی ورته دهغې جواب ورکړوچه په نارينوکښې زمونږصرف يوپلاردې اوهغه هم ډيرزيات ضعيف اوکمزورې شويدې خپله هغه داکارنشی كولې.نود﴿شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴾نه مرادحضرت شعيب علیہ السلام دې،چه دمسئلې توحيددوجې نه ټول قوم دهغه سره مخالف شوې وو،اودومره سخت ضدئې ورسره شروع کړې وو چه نه ئې دشعيب علیہ السلام بوډااوالی خيال ساتلواونه ئې دهغه دبچيانودنزاكت خيال ساتلو.

﴿فَسَقٰى لَهُمَا ﴾څنې رواياتوکښې دی چه په دې کوهی باندې به لوئی کانړې دوئی ایخودلوچه لس(۱۰)يادلسو نه زياتوکسانواوچتولې شو،اوپدې کوهی باندې لګيدلې بوقه هم دومره وزنی وه چه کم ازکم لس(۱۰)کسانوبه رابهرکوله،موسیٰ علیہ السلام سرې لرې کړل اوپه يواځې باندې هغه کانړې لرې کړو،اوبوقه ئې رااويستله اوددوئی څاروی ئې اوبه کړل،اوډيرسخت اوږې شوې وو،خودوئی ته ئې دخپلې لوږې څه اظهاراونکړوبلکه دګرمئ دشدت دوجې نه،سوری طرف ته لاړواوالله تعالیٰ ته ئې دعااوغوختله چه

﴿رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ﴾ لما انزلت کښې لام په معنی د الی سره دې یعنی الی ماانزلت او انزلت په معنی د اعطیت سره دې اوماضی په معنی مضارع سره ده، او فقیر په معنی د فقیرله اوفقیرالیه سره دې. او من خیر بیان د ماانزلت دې، اومراد د خیر نه رزق دې یعنی موسی علیه السلام دعا اوغوختله چه اې الله اکوم رزق چه تا خما د پاره مقررکړیدې اوماته ئې راکوی هغې ته خه محتاج یم، ډیروی اوکه لږوی، لوندوی اوکه اوچ وی، خه ورته ضرورت مندیم. اودا تعریض دې د خپلې لوګې الله تعالی ته، اوصریح اظهار د لوګې ئې اونکړو خکه چه شائبه د جزعې، فزعې او د شکوې راتلله.

فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۚ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ
نو راغله وریسې یوه په هغو دوؤ جینکو کښې چه تلله په حیاء سره ډېردې سره هغې اووئیل بې شکه خما پلار غواړی تا
لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُ وَقَصَّ
چه بدله کښې درکړی تاته اجر د هغې چه اوبه دې کړل څاروی زمونږ، نو کله چه راغې موسی شعیب علیه السلام ته اوبیان ئې کړل
عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا
هغه ته حالات، شعیب علیه السلام اووئیل مه یریږه، نجات موندلې دې تا د قوم ظالمانو نه. اووئیل یوې د هغه دوؤ جینکو نه،
يَٰٓأَبَتِ اسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَـْٔجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴿٢٦﴾
اې پلاره خما مزدور او نیسه دې. بیشکه تېرلونه غوره کس چه ته ئې په مزدورئ نیسې هغه دې چه قوی وی امانتګروی.

﴿فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا﴾ یعنی دوئ د خپل نوروورخو په نسبت چه نن کورته وختی لاړې نو حضرت شعیب علیه السلام ترینه تپوس اوکړو چه تاسو نن خنګه وختی راغلئ؟ نودوئی ورته ټوله خبره د موسی علیه السلام بیان کړه، نو شعیب علیه السلام پوهه شو چه دا خویونیک صالح رحمدل انسان دې چه د دې مدین اوسیدونکې ندې، اوحضرت شعیب علیه السلام ته د داسې انسان ډیرضرورت هم وو، نو د دې وجې نه خپلې یوې بچئ ته ئې اوئیل چه لاړه شه او هغه ته اوایه چه خما پلاردی غواړی

اوهرکله چه دلته دَزنانو لیږلو نه مقصد صرف موسی علیه السلام ته دعوت ورکول وو اوهغه په یوې زنانه سره پوره کیدلو نو ځکه شعیب علیه السلام خپله یوه بچئ رااولیږله.

﴿تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ﴾ تمشی حال دي دَفاعل جاءت نه او علی استحیاء جارمجرور متعلق دی دَمحذوف سره چه کائنة دي اومتعلق سره دَمتعلق نه حال واقع شویدې دَضمیر دَ تمشی نه اوتنوین په استحیاء کښې دَتفخیم اوتعظیم دَپاره دي اومقصود پدې سره دَهغې زنانه کمال عفت اوکمال حیاءده چه دَدې په چال چلن، اورفتارکښې هم حیاء وه، نازونه اواداګانې نې نه کولې، اوچه موسی علیه السلام ته مخامخ شوه نوبیاپه کښې هم حیاوه، خپل مخ ئې پټ کړو او موسی علیه السلام ته ئې دعوت ورکړو.

حضرت عمر رضی الله عنه نه مروی دی چه دې زنانه خپل مخ په لستونړی سره پټ کړو اوموسی علیه السلام ته ئی دعوت ورکړو، اوپه لفظ دَ علی سره اشاره ده چه دَدې زنانه داحیاوقتی نه وه بلکه دائمی وه اوپه حیاء باندې کلکه وه، ځکه چه لفظ دَ علی دلالت په تمکن باندې کوی.

﴿قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ﴾ نودې زنانه دَخپل پلاردَطرف نه موسی علیه السلام ته دعوت ورکړوچه ځماپلاردې غواړی﴿ لِيَجۡزِيَكَ ﴾ دادَتاکیددَپاره دې اومقصود پدې سره دَخپلې کورنئ شرافت اوکرامت ظاهرول وو، ځکه چه دَاحسان بدله احسان ورکول خوئې اوعادت دَشریفانو دې.﴿ فَلَمَّا جَآءَهُۥ ﴾ ځنې روایاتوکښې دی چه کله دې زنانه موسی علیه السلام ته اوئیلوچه ځماپلارتاته دَدې نیکئ بدله درکول غواړی نوموسی علیه السلام اراده اوکړه دَدې سره لاړنشی ځکه چه نیکی ئې دَالله تعالی دَپاره کړې وه، لیکن په قرائنوسره معلومه کړه چه داکورنئ ډیرنیکان دی اوداورته معلومه وه چه مدین کښې پیغمبرشته دې نوسوچ ئې اوکړوچه کیدې شی چه داهم هغه کورنئ وی، نودَحضرت شعیب علیه السلام سره دَملاقات په اراده راروان شو، موسی علیه السلام دَشعیب علیه السلام کورته اورسیدلو نوشعیب علیه السلام ورته دَهرڅه نه مخکښې طعام حاضر کړوموسی علیه السلام دَخوراک نه انکاراوکړو اوورته ئې اوئیل چه مونږداسې خلک یوچه خپل دین په دنیاآوخپله نیکی په پیسونه خرڅوو، نوشعیب علیه السلام ورته اوئیل چه دااجرت اوبدله دَسقی نده بلکه زمونږعادت میلمستیاورکول دی نوموسی علیه السلام خوراک شروع کړو.

﴿وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ﴾ موسی علیه السلام شعیب علیه السلام ته خپله ټوله واقعه بیان کړه چه د مصر نه راغلم اووالې راغلم؟ نوشعیب علیه السلام ورته تسلي ورکړه ؛ بې غمه شه ستادعاالله تعالی قبوله کړیده اوتاته دفرعونیانوظالمانونه.نجات میلاوشویدې ځکه چه دهغوئ حکومت په مدین کښې نه وو.

﴿قَالَتْ إِحْدَاهُمَا﴾ ددې دواړوزنانه ؤنه يوې خپل پلارته مشوره ورکړه اوداهغه وه چه موسی علیه السلام رابلنې پسې تللې وه،اوغالبًاداکشره وه نوم ئې صفوره وو.اوورستوئې بيانكاح هم دموسی علیه السلام سره اوشو.نودې خپل پلارحضرت شعيب علیه السلام ته عرض اوکړوچه ددې ځاروودپاره به ته ملازم نيسې ځکه چه مونږلوئې شوې يواوته خپله ضعيف اوکمزورې ئې،نوددہ نه بل مناسب کس نشی میلاویدلې ځکه چه په ملازم کښې کوم دوه(۲)بنيادى اوضروری صفتونه پکاردی هغه په ده کښې موجوددی(۱)يودکارقوت اوصلاحيت دې اودويم(۲)صفت امانت دې،دکمال فائدی حاصلولودپاره دادواړه صفات ضروری دی ځکه چه قوت بغيرد امانت نه پکارنه راځی اوامانت بغيرد قوت نه فائده نه ورکوی.دقوت اندازه دی زنانه دکاڼړی اوبوقې نه لګولې وه چه دلس(۱۰)کسانودطاقت کاڼړې اوبوقه حضرت موسی علیه السلام يو اخې لرې کړې وواوبوقه ئې راويتسلې وه اودامانت اندازه ئې ددينه لګولې وه چه کله موسی علیه السلام ددې سره دشعيب علیه السلام ملاقات دپاره راتللونوده دی زنانه ته اوئيلوچه ته خمانه،ورستوراځه دې دپاره چه ستاپه بدن باندې ځمانظراونه لګی.

فائده:ابن کثير رحمه الله حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول نقل کړيدې چه په عاموخلکو ديرزيات عقلمند درې(۳)کسان تيرشويدی(۱)حضرت ابوبکر رضي الله عنه چه په خپل عقل اوفراست سره ئې دخان نه،ورستوحضرت عمر رضي الله عنه خليفه کړو(۲)عزيزمصرچه ديوسف علیه السلام په باره کښې وئيلی ووچه:اکرمی مثواه،(۳)دشعيب علیه السلام دابچئ چه دموسی علیه السلام په باره کښې خپل پلارته مشوره ورکړه چه﴿اَسْتَئْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ﴾.

قَالَ	اِنِّيْٓ	اُرِيْدُ	اَنْ	اُنْكِحَكَ	اِحْدَى	ابْنَتَيَّ	هٰتَيْنِ	عَلٰٓى

اوونيل شعيب علیه السلام بې شکه خمااراده ده چه په نکاح کښې درکړم تاته يوه خپله لو ددې دوؤ لونړونه په شرط ددې

اَنۡ تَاۡجُرَنِیۡ ثَمٰنِیَ حِجَجٍ ۚ فَاِنۡ اَتۡمَمۡتَ عَشۡرًا فَمِنۡ عِنۡدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِیۡدُ
چه ته به مزدوری کوې څما اته کاله.اوکه پوره کړل تالس کاله نوستادطرفه احسان دي اوخه نه غواړم
اَنۡ اَشُقَّ عَلَیۡكَ ؕ سَتَجِدُنِیۡۤ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِیۡنَ ﴿۲۷﴾
چه سختی اوکړم په تا زړه چه ته به اومومې ماکه دالله ﷻ خوښه وی دنیکانو نه

﴿قَالَ اِنِّیۡۤ اُرِیۡدُ﴾هرکله چه شعیب علیہ السلام ته دحضرت موسی علیہ السلام دقوت،دیانت اوامانت پته اولګیدله نوخپله لورئې ورته په نکاح سره پیش کړه پدې شرط چه ته به څمااملازمت کوې،حضرت شعیب علیہ السلام په خپل کلام کښې داسې اوونیلوچه﴿اُرِیۡدُ اَنۡ اُنۡکِحَكَ﴾یعنی لفظ اراده ئې ذکرکړواو"انکحک"صیغه دمستقبل ئې ذکرکړه اوتعین دلورئې اونکړو.وجه داده چه دادشعیب علیہ السلام دطرف نه وعده دنکاح(کوژدن غوندې)وه،اوعقدنکاح نه وؤخکه چه عقدنکاح کښې ایجاب اوقبول وی اوپه صیغې دماضی سره وی اوتعین پکښې دمنکوحې وی اوپدې ایت کښې دلیل دې پدې چه عادت دصالحانودادې چه پخپله خپلې بچۍ دنکاح دپاره پیش کوی چه کله صالح کس اووینی لکه حضرت عمر رضی اللہ عنہ خپله بچۍ حضرت حفصه رضی اللہ عنہا په حضرت عثمان رضی اللہ عنہ اوپه حضرت ابوبکرصدیق باندې پیش کړې وه.

﴿عَلٰۤی اَنۡ تَاۡجُرَنِیۡ﴾یعنی ته به څمااته(۸)کاله مزدوری کوې،په"علی"کښې دوه(۲)قوله دی،اکثرمفسرین فرمائی چه"علی"دلته دشرط دپاره دې اوپه نکاح کښې داسې شرطونه لګول چه دمقتضی دعقدخلاف نه وی جائزدی،لکه یوزنانه دیوسړی سره پدې شرط نکاح اوکړی چه یوکال پورې به ماته دقرآن تعلیم راکوې نوداشرط جائزدې.

فراءوغیره حضرات فرمائی چه"علی"دعوض دپاره دې،نودایت مطلب دادې چه"علی ان تجعل ثوابی ان ترعی غنمی ثمانی سنین"یعنی ته به ماته ددې عوض اوبدله داراکوې چه اته(۸)کاله به څمابیزې څروې،نودظاهردایت نه دامعلومیږی چه حضرت شعیب علیہ السلام دخپلې لورمهرد موسی علیہ السلام مزدوری دځان دپاره مقررکړه،نوپدې باندې اعتراض واردیږی چه مهردلورحق وودشعیب علیہ السلام حق نه وو،نوځرنګه شعیب علیہ السلام دامهرخپل حق اوګنړلو(۱)حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمہ اللہ ترینه جواب داکړیدې چه دابچۍ بالغه وه،دی په خپلې رضاسره خپل مهرخپل

پلارته هبه کړو،نومنافع خدمت دادرحقیقت دَدې مهروو،اودې پخپلې رضاسره پلارته اوبښلونوځکه حضرت شعیب علیه السلام داخپل حق اوګڼړلواوزمونږپه شریعت کښې هم داجائزه ده چه یوبالغه زنانه په خپلې رضاسره خپل حق چاته ورکوی ورکولې شی.

(۲)داهم ممکنه ده چه دابیزې دَشعیب علیه السلام دَلورو اودَغې بیزوخدمت مهردَدې وواوشعیب علیه السلام خان ته نسبت کول دَولایت دَوجې نه وی حقیقةً نه وی(۳)بعضې مفسرینو دا جواب کړیدې چه"تاجرنی"په معنی دَاجرت اغستلوسره دې اودَعوض اواجرت ورکولوپه معنیٰ سره ندې،نودَایت معنیٰ اومقصددادې چه حضرت شعیب علیه السلام موسی علیه السلام ته اوئیلوچه څه به خپل لورتاته په نکاح سره درکوم په مهرمعین سره اوته به څمابیزې څروی.دَهغې به ته څمانه، اجرت اخلې.

﴿ثَمَٰنِيَ حِجَجٍ﴾اجرت کښې تعین دَمدت ضروری وې،بغیردَتعین دَمدت نه،اجرت فاسد دی نوځکه تعین دَمدت ئې اوکړو.﴿فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا﴾نواته(۸)کاله شرط وو،اولس(۱۰) کاله تفضل اوتبرع په طوروونودَ﴿فَمِنۡ عِندِكَ﴾معنٰی ده"تفضلاً منک لاالزامامنی لک"﴿وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَ﴾یعنی په لس(۱۰)کالوپوره کولوباندې به دې نه مجبوره کوم،اونه به په تاباندې سخت کاراچوم.﴿سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ﴾دائې تبرکًااواستعانةً اوئیلوچه ته به اوګورې ان شاءالله چه څه وعدې لره پوره کونکې اومعاملاتوکښې نرمی کونکې یم.

فائده:دَظاهردَآیت نه بعضې خلکواستدلال کړیدې چه"منافع"مطلقادَمهرمقرر کیدلو صلاحیت لری،برابره خبره ده چه منافع دَحروی،یادَعبدمتقوم وی یاغیرمتقوم. احنافومسلک دادې چه منافع په دوه(۲)شرطونوسره دَمهرجوړیدلوصلاحیت لری(۱)منافع به متقوم وی،لکه بیزې څرول،دَخاوندغلام دَښځې خدمت کول،یعنی یوسړې دَښځې سره پدې باندې نکاح اوکړی چه څماغلام به ستایوکال خدمت کوی یعنی دَغلام خدمت دَښځې مهرمقررکړې شی،اوکچرته منافع متقوم نه وی نومهرهم نشی جوړیدلې لکه تعلیم قرآن شو.

(۲)دَمنافعومتقومودَپاره څه مانع نوی موجود،یعنی قلب موضوع نه لازمیږی اوکچرته قلب دَموضوع راتللونوبیابه دَغه شان منافع مهرنشی جوړیدلې،مثلاًیوازادسړې دَیوزنانه سره

ددي په عوض نکاح اوکړی چه داخاوندبه دَدې ښځې يوکال پورې خدمت کوی.نودَازادسړی دَخپلې منکوحې خدمت کول قلب موضوع ده څکه چه په ښځې باندې دَخاوندخدمت ضروری دي.اودجمهوروانمو(شافعی،مالک،احمد)اصول اوقانون دادي چه کلَ ماجاز(۱)ثمنافی البيع(۲)اواجرة فی الاجارة من العين(۳)والدين(۴)والمال الموجل والقليل والکثير(۵)ومنافع الحر والعبدوغيرهاجازان تکون صداقًا(المغنی لابن قدامه)ليکن دَدونی مسلک دَمذکوره واقع دَ شعيب عليه السلام اوموسی عليه السلام نه،نه ثابتيږی.

فائده نمبر(۲):امام شافعی رحمه الله دَدې ايت مذکورنه استدلال کړيدي چه انعقاددَنکاح په غيردَلفظ دَنکاح اوتزويج نه په بل لفظ سره نه کيږی.ليکن استدلال دَدې مدعی دَپاره پدې ايت سره کول څکه ضعيف دی چه تنصيص دَيولفظ مستلزم ندي دَنفی دَماعداد دَپاره، اواحنافومسلک دادي چه نکاح انعقادپه هرهغه لفظ سره کيږی چه وضع شوي وی دَتمليک اعيان اودَتمليک حالی دَپاره لکه لفظ دَنکاح،تزويج،بيع،هبه،تمليک وغيره شو.اوکوم لفظ چه دَتمليک المنافع اودَتمليک غيرحالی دَپاره وضع شوي وی نوپه هغې سره نکاح نه منعقدکيږی لکه لفظ دَاجارې چه دَتمليک المنافع دَپاره وضع دې،يالفظ دَعارية چه دَتمليک غيرالحالی دَپاره وضع دې.البته دَامام کرخی رحمه الله مسلک دادي چه هرهغه لفظ چه وضع وی دَتمليک دَپاره مطلقًاتمليک الاعيان دَپاره وی ياتمليک المنافع دَپاره وی،تمليک حالی دَپاره وی ياغيرحالی دَپاره،پدې تولوالفاظوسره نکاح منعقدکيږی.ليکن مسلک دده مخالف دي دَجمهورونه،اوغيرمفتیٰ به دي(والله اعلم).

قَالَ	ذٰلِكَ	بَيْنِيْ	وَبَيْنَكَ	ط	اَيَّمَا	الْاَجَلَيْنِ	قَضَيْتُ
اووئيل	موسی عليه السلام چه	داخمااوستامينځ	کښ	وعده	شولدکومه	دَدی	دوارونيتونه	چه	ماپوره	کړه

فَلَا	عُدْوَانَ	عَلَيَّ	ط	وَاللّٰهُ	عَلٰى	مَا	نَقُوْلُ	وَكِيْلٌ	۲۸
نونه	به	وی	زياتې	په	ما.اوالله تعالیٰ په	هغه	څه	چه	مونږوايوگواه	دې

﴿قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ ﴾حضرت موسی عليه السلام دَحضرت شعيب عليه السلام سره معاهده اوکړه اوعقدئې قبول کړو.اوورسره ورسره ئې داهم ورته اوئيل چه﴿اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ ﴾چه کچرته مااته(۸)کاله

مزدوري اوکړه اونوره مې بيانه کوله نوته به ماپه زيات وخت دپاره په مزدورئ نه مجبوره کوې اوکه لس(۱۰)کاله مې اوکړه نوخمابه ستاسره احسان وی اوپه نورزيات وخت باندې به مې نه مجبوره کوې.اودعقددخبروپه وخت کښ تعين دمنکوحې نه وؤشوې.ليکن چه کله عقدتمام کيدلونوبياتعين دمنکوحی هم شعيب عليه السلام اوکړواوچونکه قرآن مجيددواقعې مقصودی حصې بيانوی اوغيرمقصودی نه ذکرکوی نودې وجې نه تعين دمنکوحی وغيره داتفصيلات قرآن مجيدنه دی ذکرکړی،نولهذاداشکال نه واردیږی چه تعين دمنکوحی نه بغيرڅرنګه عقدنکاح اوشو.اوبعضِ مفسرين فرمائی چه حضرت شعيب عليه السلام پدې الفاظوسره چه﴿إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ هَٰتَيْنِ﴾سره موسی عليه السلام ته په خپلودوارولونړوکښ اختيارورکړوچه پدې دواړوکښ ته دکومې سره غواړې،دهغې نکاح به څه ستاسره اوکړم نودعقدپه تمام کښ موسی عليه السلام کشره خوخه کړه اوبيادهغې سره نکاح اوکړواومفسرين فرمائی چه حضرت موسی عليه السلام دکشرې سره څکه نکاح خوښ کړوچه داموسی عليه السلام پسې راغلې وه،موسی عليه السلام د دې چال،چلن،دخبروداندازوغيره نه معلومه کړې وه چه داويره باحياء ده اوډيره سمجداره اوهوښياره ده،په خلاف دمشرې نه،چه دهغې په باره کښ موسی عليه السلام ته هيڅ اندازه نه وه.

﴿وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ﴾ظاهره داده چه داقول دموسی عليه السلام دې اوهرکله چه په عقدباندې اشهاد،يعنی ګواه مقررکول پکاروی چه ددواړومتعاقدينوپه مينځ کښ ګواه وی،نوددوئ پدې خپل عقدباندې الله تعالی ګواه جوړکړو.

فائده:دواړوپيغمبرانواکتفاپه اشهاددالله تعالی باندې اوکړه،اومخلوقاتوکښ ئې څوک په خپل عقدباندې ګواه جوړنکړو،نوپه عقداجاره کښ بالاتفاق اشهادشرط ندې،ليکن په عقدنکاح کښ دجمهوروپه مسلک اشهادشرط دې اوبغيردګواهانونه،نکاح صحيح ندې،اوکاسانی،دامام مالک رحمه الله نه نقل کړيدی چه صحت دنکاح دپاره صرف اعلان شرط دې اواشهادضروری ندې،ليکن دامام مالک رحمه الله په مسلک کښ تحقيق کولونه ورستو داسې معلوميږی چه دامام مالک رحمه الله دنفی دضرورت نه.مقصدمطلقانفی نه ده بلکه مقصدئې دادې چه کچرې دنکاح په وخت کښ ګواهان موجودنه وؤ.نونکاح دی اوکړې شی اونه دی مؤخرکوی،اواعلان اوتشهيردی اوکړی،اوکه په هغې موقعې باندې خلک اوګواهان

موجودوواوپه هغوئی باندې دکتسان شرط اولګولې شی چه تاسوبه ګواهی نه ورکوئی نو
امام مالک رحمه الله په مسلک دانکاح بالکل ندې جائزاګرچه دَاحنافوپه مسلک باندې جائزدې
امام مالک رحمه الله دَدې ایت نه هم استدلال کړیدې اوده په روایت دَترمذی سره هم استدلال
کړیدې چه نبی پاک ﷺ فرمائی "اعلنواالنکاح ولوبالدف" اودغه شان امام مالک رحمه الله فرمائی چه
نکاح عقدمعاوضه دې دَنوروعقودوپشان اوپه نوروعقودوکښ خو اشهادضروری ندې. نو
لهذاپه نکاح کښ هم اشهادضروری ندې جمهورچه اشهادضروری کوی په روایت دَترمذی
سره استدلال کړیدې چه نبی ﷺ ارشاددې "البغایااللاتی ینکحن انفسهنّ بغیربینة" چه بغیردګواهانو
نه نکاح کوونکوته "بغایا" (زناکاربوئیلې شویدی.
دغه شان بیهقی دَحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل کړیدې (حاکم وغیره تصحیح هم کړیده)
فرمائی چه: قال رسول الله ﷺ لانکاح الابولی وشاهدی عدل، اودغه شان امام مالک رحمه الله په
موطاکښ دَحضرت عمر رضی الله عنه دَدورواقعه نقل کړیده چه حضرت عمر رضی الله عنه ته دَنکاح یوه معامله
راوړې شوه چه په هغې نکاح کښ ګواه یوسړې اویوه ښځه وه، نوحضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائیلو
چه "هٰذانکاح السرولااجیزه" باقی دَامام مالک رحمه الله استدلال په ایت سره ځکه ضعیف دې چه
دَظاهردَایت نه معلومیږی چه دااشهادپه عقداجاره باندې وو، نه په عقدنکاح باندې اوپه عقد
نکاح باندې ګواهان څوک وو؟ قرآن دَدینه خاموش دې اوکه بالفرض تسلیم کړې شی چه دا
اشهادپه عقدنکاح باندې هم وونوظاهره خبره ده چه "شرائع من قبلنا" باندې عمل کول هغه
وخت کیدې شی چه دَهغې په مقابله کښ زمونږپه شریعت کښ نص نه وی موجود اویا بلا
تردید اونکیراودَعذاب اوزجرپه موقعه نوی ذکراودلته خونص یعنی حدیث موجوددې اوداهم
ممکنه ده چه دَحضرت شعیب علیه السلام په قوم کښ څوک دَشهادت والانوې موجود، ځکه چه ټول
قوم دَهغه سخت دښمن وو، نودَعذراومبجورئی دَوجې نه ئې اکتفاء په اشهاددَالله تعالیٰ باندې
کړی وی.
اوهرچه دې حدیث نواولاً هغه ضعیف دې ځکه چه مداردَهغې په عیسیٰ بن میمون باندې
دې، اوهغه ضعیف راوی دې، اوثانیاً په تقدیردَصحت سره اعلان په حضوردَشاهدنیوسره
حاصلیږی. نولهذاحدیث نه نفی دَاشهادنه راځی بلکه مؤید دې دَاشهاددَپاره، صاحب هدایه

داجواب كړيدې چه دَدې حديث نه وجوب دَاعلان اودَتشهير ثابتيږي، اودَاعلان شرطيت دَپاره دَنكاح نه ثابتيږي.

ملاعلي القاري رحمه الله په مرقاة شرح دَمشكوة كښې دَدې حديث مذكور "اعلنوا النكاح" په ذيل كښې تحقيقي كلام كړيدې خلاصه دَهغې داده چه دَحديث نه اعلان هم ثابت دې او "اشهاد" هم ثابت دې. نولهذا په اشتراط دَاعلان كښې خلاف نيشته دې اختلاف پديكښې دې چه دغه مشروط اعلان كه په ضمن دَمجرد اشهاد كښې حاصل شي اوپه ګواهانو باندې پابنه دى دكتمان اولګولې شي چه تاسو به دَدې نكاح اظهار نه كوئى نوآيا داسې اشهاد صحيح دې اوكه ندې صحيح؟

نودَاحنافو دَمسلک موافق داسې اشهاد صحيح دې اودَامام مالک رحمه الله په مسلک داسې اشهاد صحيح ندې، اوكچرته اعلان بغير دَاشهاد نه راشي نودَامام مالک رحمه الله په مسلک دا نكاح جائزدې اودَجمهورو په مسلک ندې جائز. نوخلاصه دَبحث داده چه اشهاد سره اعلان مستلزم دې او اعلان سره اشهاد ندې لازم، ځكه چه اشهاد خاص دې او اعلان عام دې نوهر اشهاد اعلان وى خامخا، اوهر اعلان ضروري نده چه اشهاد وى لكه اعلان په حضور دَصبيان اوغلامانو كښې (مرقاة).

فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ وَسَارَ بِاَهْلِهٖۤ اٰنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ
پس كله چه پوره كړه موسى عليه السلام نيته اوروان شودَشپې دَخپلې ښځې سره اوئې ليدلو په طرف دكوه طور[1]
نَارًا ۚ قَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْۤا اِنِّيْۤ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْۤ اٰتِيْكُمْ
اور، اوئې وئيل خپلې ښځې ته چه حصارشئ دلته بيشكه مااوليدلواوركيديشي څه راوړم تاسوته
مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿۲۹﴾
دَهغې نه خبردَلارې يا راوړم لمبه (سوې دَاور) دَپاره دَدې چه تاسو ورته ګرم شئ

[1] خلورم مقام دَواقعې

﴿فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى﴾ دَدې ایت نه دَواقعې څلورم (۴) مقام شروع کیږی ترایت نمبر (۳۵) پورې. پدیکښې دَموسی علیه السلام دَمدین نه واپس مصرته تلل، نبوت سره دَمعجزاتو. میلاویدل، دَهارون علیه السلام په حق کښې دَنبوت دعاقبلیدل، وغیره ذکردی ﴿ٱلۡأَجَلَ﴾ دَدینه مراتـه (۸) کال لازمی اودوه (۲) کاله اختیاری دی، دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه په بخاری شریف کښې مروی دی چه حضرت موسی علیه السلام لس (۱۰) کاله مزدوری کړې وه ځکه چه دَالله ﷻ رسول چه څه اوائی نوهغه کارکوی، اودغه شان دَپیغمبرانوشان دادې چه عمل په عزیمت اواکثرباندې کوی اودَنبی پاک ﷺ معمول هم داووچه عمل به ئې په اکثرباندې کولواوچه دَچانه به ئې څه واغستل نوبیابه ئې زیات ورکولو.

﴿وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ﴾ موسی علیه السلام څه وخت مدین کښې تیرولونه ورستودَخپلې بی بی سره دَخپلې مور، وروراوخورملاقات دَپاره مصرته روان شو، اوخیال ئې داووچه ډیروخت تیرشو دَفرعون نه به دَقبطی دَقتل والاخبره هیره شوی وی اوځه به خپل خپلوانوسره ملاقات اوکړم، اوموسی علیه السلام چه کله دَشعیب علیه السلام نه اجازت واغستلواوروانې دلونوشعیب علیه السلام ورله تحفه کښې څه بیزې هم ورکړې اوځنې روایاتوکښې دی چه دَبیزوسره ئې یوخادم هم ورکړو. او موسی علیه السلام دَخپل سفردَپاره دَعام آمدورفت لارې نه، علاوه بله لاره چه غیرآباده وه هغه ئې منتخب کړه، دَسفرپه دوران کښې یوه شپه موسی علیه السلام نه لاره ګډه وډه شوه، دَسختې تیارې سره سره سخته یخنی هم وه، اوباران سره سره واوره هم وه، بیزې هم یوطرف اوبل طرف ته ګډې وډې شوې، اودَموسی علیه السلام بی بی قریب الولادة هم وه، موسی علیه السلام سخت پریشانه ووچه اچانک ئې دکوه طورپه طرف رڼرااولیدله چه حقیقت کښې نوروواوموسی علیه السلام پرې ګمان دَاور اوکړو. پدې ایت کښې دلیل دې پدې چه سړې خپله بی بی دَځان سره دګناه ځائې نه بغیرهرځائې ته بوتللې شی.

﴿قَالَ لِأَهۡلِهِ﴾ موسی علیه السلام خپلې بی بی ته اوفرمائیلوچه تاسودلته انتظاراوکړئ مااوراوکتلونوځه زمه چه دَلارې خبرراوړم اوستاسودګرمیدلودَپاره دَاوربندوبست هم اوکړم، او امکثوا صیغه دَجمعې بناء برقول راجح دَتعظیم دَپاره ده، ځکه چه دَموسی علیه السلام بی بی دَ حضرت شعیب علیه السلام بچئ وه اودوئی ته حکم دَمکث کول محمول دی په عرف باندې چه عام

طورباندې په عرف کښې داسې الفاظ خلک په داسې مواضعو کښې استعماله وی، او دا مقصد نه دې چه د موسی علیه السلام بی بی چرته بل طرف ته تلله

﴿ لَّعَلِّیٓ ءَاتِيكُم ﴾ موسی علیه السلام د او رکتل په حرف "انّ" سره ذکر کړو چه د تاکید او تحقیق د پاره دې (۱) ځکه چه رڼړا کتلو کښې موسی علیه السلام ته څه شک نه وو (۲) او بل دا چه خپلې بی بی ته ئې پدې حالاتو کښې تسلی ورکوله، ځکه چه د سخت تکلیف سره مخامخ وو علاقه ئې هم خپله نوه، او مکان هم بالکل خوشې وو، نو الیق ورسره تاکیدوو نو ځکه ئې حرف تاکید راوړو، او د "اور" راوړل چونکه مترقب او امر مجهول وو، نو ځکه ئې په حرف ترجی یعنی "لعل" سره ذکر کړو او یائې تو اضعًا حرف ترجی استعمال کړې دې.

﴿أَوۡ جَذۡوَةٍ﴾ "او" د مانعة الخلو د پاره دې او "جذوة" د سکروټې والاهغه لرګی ته وئیلې کیږی چه بغیر د شغلې نه، وی او بعض فرمائی چه "جذوة" غټ لرګی ته وائی برابره خبره ده چه "اور" ورکښې وی او یانوی، او د دې وجې نه د "جذوة" نه ورستو اضافه د "من النار" او شوه، چه "من" دلته بیانی دې او بیان ئې د "جذوة" او کړو. ﴿لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ﴾ دا دلیل دې پدې چه داشپه د ژمی وه او دوئی ته یخنی شوې وه.

فائده: په سورة النحل کښې موسی علیه السلام اتیان په "سین" سره مصدر کړې شوې وو "ساتیکم" وئیلې شوی وو، چه دلالت په قرب باندې کوی، او دلته په "لعل" سره ذکر کړې شو چه دلالت په ترجی باندې کوی، نو د دې دواړو په مینځ کښې څه منافات نیشته دې، ځکه یو څیز زر او په جلتئ سره راوړل هم کله کله متیقن نوی بلکه مترجی وی.

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلۡوَادِ ٱلۡأَيۡمَنِ فِي ٱلۡبُقۡعَةِ ٱلۡمُبَٰرَكَةِ
نو کله چې راغې اورته اواز ورته اوکړې شو د جانب د کندې نه چه ئې خی طرف وو، په ټوټه مبارکه کښې
مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٣٠ وَأَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَ
د اونی نه، چه اې موسی! بیشکه څه صرف څه الله یم رب د ټول جهان یم او او غورځوه همساخپله.

فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى
نو کله ئې چه اولیدله همسا خوزیدله لکه دا دماربچي دي نوروان شو په شا اوراو اپس نه شو (مونږ ورته اووئیل) اې موسی
اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۫ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ
رامخ کړه او مه یریږه، بیشکه ته دَامان موندونکونه ئې داخل کړه لاس خپل په خپل ګریبان کښې رابه اوځی
بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ
تک سپین بې دَځه مرض نه، او اولګوه خپلې سینې سره وزر (لاس) خپل دَوجې دَیرې نه پس دا دواړه
بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۳۲﴾
دلیلونه دی دَطرف دَرب ستا نه (پس لاړشه) فرعون ته، او سردارانو دَهغه ته بیشکه دوئ دی قوم فاسقان

﴿فَلَمَّآ أَتٰهَا نُوْدِيَ﴾ ضمیر یا راجع دې "اور" ته او یا راجع دې "شجرې" یعنی ونې ته، په کومې "ونې" کښې چه موسی علیه السلام دا اور کتلې وو، لیکن اول احتمال زیات غوره دې او "من الشجرة" بدل اشتمال دې دَ من شاطئ نه او "الایمن" صفت دَ "شاطئ" دپاره دې او "الایمن" نه مراد ښې طرف دَحضرت موسی علیه السلام دې او چونکه پدې خطې دَزمکه کښې الله تعالیٰ مختلف قسم ظاهری او باطنی برکتونه ایخی دی نو ځکه ئې توصیف په "المبارکة" سره اوکړې شو نو الله تعالیٰ موسی علیه السلام ته خپل بابرکت کلام شرف نصیب کولو دَپاره دَبابرکت جانب (چه ښې طرف دې) او دَبابرکت مقام انتخاب اوکړو.

بهرحال: موسی علیه السلام چه کله دَ "اور" والاځائ ته قریب راغلې نو په دغې برکت والاځائ کښې دَبرکت والاطرف نه، دَ "اونې" نه ورته اواز راغلې چه ﴿أَن يٰمُوسیٰٓ﴾ "ان" تفسیریه دې دا تفسیر دَ "نودی" دې یعنی دا اواز ورته اوکړې شو چه اې موسی! ځه الله یم چه دَټولو کائناتو رب، متصرف او کارسازیم، او موسی علیه السلام ته الله تعالیٰ علم ضروری او بدیهی پدې ورکړو چه هغه پوهه شو چه اواز کوونکې الله تعالیٰ دې (والتفصیل قدمرّفی سورة طه).

فائده(۱): سورة طٰه کښې تفسیر دَ نداء داسې ذکرشوې ووچه یاموسیٰ انی انا ربک ...الخ په سورة النمل کښې داسې ذکرشوې وو ان بورک من فی النار اودلته داسې ذکرشو چه انی انا الله رب العالمین نودَدې په مینځ کښې څه منافات نیشته دې، صرف لفظی تغایردې، معنی اومقصد دَټولو یودې، په هرځائ کښې دَهغې مقام مناسب الفاظ وسره دامقصداومعنی بیان کړې شویده امام رازی رحمه الله وغیره حضرات فرمائی چه الله جل جلاله داټول کلامونه کړیدې لیکن په یوځائ کښې ټول نه دی ذکرشوی بلکه دَهرمقام سره دَهغې مناسب کلام ذکرکړې شویدې.

فائده(۲): موسیٰ علیه السلام چه کوم کلام اونداء اوریدلې وه نوپدې اتفاق دې چه دابغیر دَ واسطې دَملک یعنی فرشتې نه وو، البته پدیکښې اختلاف دې چه داکلام لفظی حادث، مرکب دَصوت اودَحروفونه وواوکه داکلام نفسی قدیم بلاصوت وحروف وو، نوبعض علماء ماتریدیه اول احتمال ته ذهاب کړیدې اوجمهورومتکلمینودویم احتمال ته ذهاب کړیدې تفصیل سره دَدلائلوپه سورة طٰه کښې تیرشویدې.

﴿ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ﴾ داعطف دې په اَن یٰموسیٰ باندې اودَاولې معجزې ذکردې یعنی دَموسیٰ علیه السلام په لاس کښې عصاوه، الله جل جلاله ورته حکم اوکړوچه داعصااوغورځوه اوسورة طٰه کښې تیرشویدی چه موسیٰ علیه السلام دَخپلې عصامتعدد فوائداوحکمتونه بیان کړل، نوالله جل جلاله ورته حکم اوکړوچه دکومې عصاتادومره فوائدبیان کړل دااوس اوغورځوه نوموسیٰ علیه السلام وغورځوله نو﴿فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ﴾ فاء فصیحیه ده دَدینه مخکښې عبارت مقدردې، تقدیر دَ عبارت دارنګې دې فالقاها فصارت ثعبانا فاهتزت یعنی موسیٰ علیه السلام عصا اوغورځوله نودَهغې نه اژدهاجوړه شوه اوتیزحرکت ئې شروع کړو، موسیٰ علیه السلام چه کله داحالت اوکتلوچه دامار باوجوددَخپلې غظیمې چثې داسې حرکت کوی لکه دَنری پشان، نوبتقاضابشریت موسیٰ علیه السلام اوویریدلواوپشاروان شوچه مارطرف ته ئې بالکل نه کتلو. دَدینه معلومه شوه چه معجزه دَپیغمبرپه خپل اختیارکښې نه وی.

﴿ إِنَّكَ مِنَ ٱلْآمِنِينَ ﴾ دَ من الأمنین نه مراد من المرسلین دی، یعنی داعصاچه اوس ورنه اژدهاجوړه شویده تاته هیڅ قسم تکلیف نشی دررسولې ځکه چه ته دَهغه خلکونه ئې چه

اللهﷻته ډيرقريب دی،چه انبياءکرام دی،دکمال قرب دَوجې نه هغوئی دَمخلوق ويرې اوضررنه په امن کښې وی.لکه په سورة النمل کښې دی"الی لايخاف لدیّ المرسلين".

﴿ ٱسْلُكْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ ﴾دادويمې معجزې ذکردې،چه خپل لاس په خپل ګريبان کښې دننه په ترخ کښې کيده چه واپس ئې رااوباسې نودا به رڼاکوی،اوتاته به څه تکليف يامرض هم نه وی،دَ﴿ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾نه مرادتکليف اومرض دې لکه برص شو.په سورة طٰه کښې لفظ دَ"واضمم"ذکرشوې وو.اودلته دَ"اسلک"ذکرشو.فرق دادې چه"سلک"اول وی اوورستوبياضم وی.نوچونکه پدې سورة کښې دَموسیعليه السلام ابتدائی حالات دَنبوت وغيره ذکرکيدلونومناسب ورسره"اسلک"وواوپه سورة طٰه کښې مطلق احوال کيدلونومناسب ورسره"اضمم"وو.نوځکه هلته"ضم"اودلته دَ"سلک"لفظ استعمال شو.

﴿وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ﴾دَدې ايت متعددتوجيهات شويدی ليکن دوه(۲)توجيهات پکښې زيات غوره اوراجح دی(۱)اوله توجيه داده چه داتتمه دَدويمې معجزې ده اومقصدئې دادې چه موسیعليه السلام ته اللهﷻاوفرمائيلوچه کله ته خپل لاس دګريبان نه رااوباسې او دارڼا کوی،اوته ترينه اوويريږې نوبيائې واپس ترخ کښې کيده اورااوباسه نودې به خپل اصل حالت ته واپس شوې وی.نودَايت مقصددادې چه موسیعليه السلام اويريدلوچه څمادالاس چه رڼاکوی څه مرض راته لاحق شواوکه څه بل څه وجه ده،نواللهﷻورته حکم اوکړوچه دالاس واپس هغه ځائی کښې کيده اوبيائې رااوباسه نوخپل اصل حالت ته به واپس شوې وی.نوموسیعليه السلام چه کله داعمل اوکړونومطمئن شوچه دامرض ندې بلکه معجزه ده(بحر).

اشکال واردیږی چه دَدې ايت دَسورة طٰه دَايت سره تعارض دې،ځکه چه هلته داسې وئيلی شوی ووچه:واضمم يدکَ الی جناحکَ(طٰه:۲۲)،اودلته دی"واضمم اليکَ جناحکَ"نوپه سورة طٰه کښې"جناح"مضموم اليه وو.اودلته مضموم دې،نويوڅيزهم مضموم اوهم مضموم اليه،داتعارض دې؟نوجواب ترينه دادې چه دَ"جناح"اطلاق په پوره لاس باندې کيږی،برابره خبره ده که هغه ښې لاس وی اوياچپ(ګس)لاس وی،نوپه سورة طٰه کښې چه"جناح"مضموم ذکرشويدې دَهغې نه مراد ښې لاس دې يعنی خپل ښې لاس خپل ځان سره ضم کړه يعنی دَچپ

لاس په ترخ کښې کيده. او دلته چه جناح مضموم اليه ذکرشويدې دَدېنه مراد چپ لاس دې، يعنې خپل چپ لاس ته نښې لاس ضم کړه (کشاف)

﴿مِنَ ٱلرَّهۡبِ﴾ أي لأجل الرهب، يعنې چې کله در ته خوف لاحق شي نو بيا داسې کوه.

او بله توجيه بعضو مفسرينو دا ذکر کړيده. چه واضمم اليک جناحک تمثيل دې او کنايه ده دَعدم خوف نه. ځکه چه کله مرغئ په سکون او اطمينان باندې ناسته وی نو خپل وزرې ئې راټولې کړی وی. نو ګويا چه الله ﷻ طرف نه. موسی علیه السلام ته اوئيلې شو چه: أسکن من الرهب ولاتخف (بحر) يعنې بالکل مطمئن شه مه ويريږه.

﴿فَذَٰنِكَ بُرۡهَٰنَانِ﴾ برهان مضبوط دليل او حجت قاطعه ته وئيلې کيږی دلته ورنه مراد يدبيضاء اوعصاء دی او تذکير دَاسم اشارې دَرعايت دَخبردَوجې نه دې او ﴿مِن رَّبِّكَ﴾ جار مجرور متعلق دی دَ "کائنان" سره چه صفت دَ "برهٰنان" دَپاره دې ﴿إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ﴾ دا متعلق دې دَفعل محذوف سره چه "اذهب" دې، ای اذهب الی فرعون الخ يعنې دا دواړه تاته دَالله ﷻ طرف نه واضح معجزې دی پدې سره لاړشه فرعون او دَهغه دَقوم مشرانو ته. ځکه چه هغوئی په فسق او نافرمانئ کښې انتها ته رسيدلی دی.

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسًا فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ۝٣٣ وَأَخِي
اووئيل موسیٰ اې ربه خما! بيشکه ما قتل کړيدې دَدوئ نه يو کس نو څه ويريږم چه دوئ به ما قتل کړی او وروړ خما
هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرۡسِلۡهُ مَعِيَ رِدۡءًا يُصَدِّقُنِيٓ
چه هارون دې هغه ډير فصيح دې خمانه دَجهته دَژبې، پس اوليږه هغه ماسره مددګار چه تصديق کوی خما.
إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ۝٣٤ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ
بيشکه زه ويريږم چه تکذيب به اوکړی فرعونيان خما. الله ﷻ نو ده ته اووئيل زرده چه قوی به کړو ستا مټ

بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِأٰيٰتِنَآ
په ورورستاسره اودربه کړوتاسوته رعب نو دوئ به درنيزدې هم نه شي تاسو ته ،په برکت دَ آياتونوزمونږ.
اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ﴿۳۵﴾
تاسودواړه اوخوک چه ستاسواتباع کوی غالبه به وی.

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي﴾داجمله اګرچه په ظاهرکښ جمله خبريه ده ليکن معنًى انشائيه ده اومقصودپدې سره دَالله ﷻ نه دَحفظ وامان دعاده يعنى موسى عليه السلام ته چه کله دَ الله تعالى طرف نه منصب رسالت عطاء کړې شواوفرض منصبى هم ورته اوخودلې شوچه فرعون اودَهغه قوم ته دعوت ورکړه نودَموسى عليه السلام دَالله ﷻ په نصرت اوتائيدباندې يقين باوجودالله ﷻ نه ئې دَحفظ اوامان دعااوکړه،چه اې الله ﷻ ماد قبطيانونه،قتل کړيدې،نوته ځماحفاظت اوکړې او دامعذرت يااستعفى دَمنصب رسالت نه،نه وو:المرادبهذاالخبرطلب الحفظ والتائيدلابلاغ الرسالة على اكمل وجه لاالاستعفاء من الارسال(روح).

﴿ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ ﴾دادويمه دعاده په باره دَنبوت دَخپل رور هارون عليه السلام کښ،چه الله ﷻ هارون چه ځماوردې اوځمانه زيات فصيح دې هغه ځمامعاون او مددګارجوړکړې اوهغه ته هم نبوت ورکړې چه ځماتصديق کوی اودَمنکرينودَشبهاتوجواب ورکوی.اوچونکه دَموسى عليه السلام په ژبه کښ لکنت وواګرچه په دعاسره زائله شوې ووليکن بالکليه نه ووزائله شوې،نوځکه ئې اوئيلوچه﴿ هُوَ أَفْصَحُ﴾چه هارون عليه السلام ځمانه،زيات فصيح دې﴿ يُصَدِّقُنِي ﴾دَدې تصديق نه نفس تصديق ندې مرادچه هارون عليه السلام،موسى عليه السلام ته وئيلې وې چه صدقتَ ځکه چه پدې تصديق کښ فصيح اوغيرفصيح برابردی،بلکه دَتصديق نه مراد دَموسى عليه السلام دَطرف نه دکفارودَشبهاتوجوابات اودَهغوئى سره مجادله اودَموسى عليه السلام دفاع کول دی.

﴿ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ ﴾: دا د وړو دعاګانو د قبولیت ذکر دي بطور لف نشر غیر مرتب. د دویمې دعا اجابت ذکر اول او شو ځکه چه دا دعا ډیره مقصوده وه او "شد العضد" یعنی د مټ کلکوالي کنایه ده د مضبوطئ او طاقت ورکولو نه یعنی ستا د ورور په ذریعې سره مې تاته کلکوالي او مضبوطوالي درکړو او هغه مې هم ستا سره پیغمبر جوړ کړو.

﴿وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا ﴾ دا د دویمې دعا د قبولیت ذکر دي د "سلطانا" نه مراد رعب او دبدبه ده یعنی تاسو ته به دا سې رعب او دبدبه درکړم چه فرعونیان به تاسو ته نشی نیزدې کیدلې او ﴿فَلَا يَصِلُونَ﴾ نه مراد رسیدل په تکلیف سره دی یعنی تاسو به ته څه تکلیف اذیت نشی دررسولې او ﴿ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ جار مجرور یا متعلق دی ده "اذهبا" محذوف سره یعنی "اذهبا بایتنا انتما ومن اتبعکما الغلبون" او یا متعلق دی د "نجعل" سره او "باء" سببیه ده (مدارک) یعنی تا سو ته مونږ رعب در کړې دې په سبب د معجزاتو سره، چه ستاسو په لاس ظهور د معجزاتو کیږي. او یا "باء" سببیه ده او متعلق دې د ﴿ فَلَا يَصِلُونَ ﴾ سره ای لایصلون الیکما بسبب ایتنا (مدارک).

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ
پس[1] هرکله چه راغې فرعونیانو ته موسی علیه السلام په معجزو زمونږ واضحو سره نو دوئ اوویل ندي دا مګر سحر دې
مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ۞ وَقَالَ مُوسَىٰ
چه جوړ شویدې په الله ﷻ اونه دي اوریدلې مونږ دا خبره په پلارانو زمونږ مخکنو کښې. او اوویل موسی علیه السلام
رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ
خمارب زیات عالم دې په هغه چاچه راوړي ئې وی هدایت د الله ﷻ د طرفه او په هغه چاچه وی هغه لپاره

[1] د واقعې پنځم مقام

عَاقِبَةُ	الدَّارِ ؕ	إِنَّهٗ	لَا	يُفْلِحُ	الظّٰلِمُوْنَ ۝
نبه انجام	دَدنیا.بیشکه	شان دادي	چه	کامیابی نه	مومی ظلمن

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ ﴾دَدی ایت نه دَواقعي پنځم مقام شروع کيږی .دایت نمبر۴۴ پورې،پدیکښ دَموسی علیه السلام فرعون ته دعوت ورکول.دفرعون دَطرف نه تکبرانه سوالات اوبحث کول،دَموسی علیه السلام والا دعوت ردکول اودَفرعونیانوهلاک کیدل ذکردی.نوهرکله چه موسی علیه السلام اوهارون علیه السلام فرعون دربارته لاړو،اوهغوئی ته ئې دَخپل نبوت ذکراوکړو. بطوردلیل ئې ورته معجزات اوخودلوچه عصااویدبیضاء وواوهغوئی ته دعوت ورکړو نوفرعون دَحضرت موسی علیه السلام دعوت په دوه(۲)طریقوسره ردکړو(۱)اول داچه﴿مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى ﴾نوپدي"هٰذٰ"سره اشاره ده معجزاتوته،یعنی فرعون اوئیل چه تاکوم معجزات تاظاهرکړل دامعجزات نه دی بلکه دایوزبردست سحردې.او"مفتری"مقصددادې چه څرنګه نورانواع دَسحردروغ وی اوپه حقیقت باندې مبنی نه وی نودغه شان ستادا عمل هم دې

﴿وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا ﴾دادویمه طریقه درد ده دَجانبه دَفرعون نه اوپدې"هذا"سره اشاره ده دعوت دَموسی علیه السلام ته،یعنی دکومې خبرې دعوت چه ته مونږته راکوې نوداخونوې خبره ده مونږدَخپلو مشرانونه،نده اوریدلې.

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ ﴾داپنځم امردې چه ورستوپرې تفریع کيږی چه"قل ربّی اعلم بمن جآء بالهدی"هرکله چه دوئ موسی علیه السلام ته ساحراومفتری اوئیلواوساحراومفتری خوګمراه وی نوځکه موسی علیه السلام دوئی ته جواب ورکړوچه دَدومره واضح معجزاتواودلائلوباوجودتاسوماته ساحراومفتری وایئ،اودَقطعی دلائلوپه مقابله کښ تاسومحض داوایئ چه"ماسمعنابهذا الخ"نودَدې مطلب دادې چه تاسومتعصب اوضدیان یئ نوځکه څه خپل حالت الله تعالیٰ ته سپارم،کچرې څه ساحر،مفتری اوګمراه وې نوالله تعالیٰ به ماته نبوت نه وَرکړې،اوماسره به ئې دَحسن عاقبت وعده نوه کړې.

فائده: حضرت موسیٰ علیه السلام دَ هغوئی دَقول په جواب کښ داتصریح اونکړه چه څکه ساحراومفتری نه یم بلکه څه برحق پیغمبراوتاسوپه باطل باندې یئ (۱) یودَ دې وجې نه چه موسیٰ علیه السلام دَدوئی دَخبرونه، اندازه لګولې وه چه دوئی ډیرمتعصب خلک دی کچرې تصریح ئې کړې وې نودَدوئی ضد اوتعصب به نورهم زیات شوې وې، نومناسب اندازپدې وخت کښ دغه ووچه موسیٰ علیه السلام اختیارکړو (۲) بل دَدې وجې نه چه دَموسیٰ علیه السلام دې خبرې ته اشاره مقصوده وه چه دامعجزات دومره واضح حجتونه اودلائل دی چه دَمعمولی عقل والاانسان هم پدې باندې پوهیږی چه دادَالله ﷻ دَطرف نه دی، اوسحرندې، اودَمعمولی عقل والاانسان هم پدې نتیجه باندې رسیږی چه صحیح اوصواب کوم دې اوباطل څوک دې؟ اوپدې باندې امرثالث قل ربی اعلم من جاء بالهدی ومن هوفی ضلل مبین(۸۵). هم متفرع دې یعنی څرنګه جواب چه موسیٰ علیه السلام فرعون ته ورکړې ووهم دغه شان حکم نبی پاک ﷺ ته هم دې چه ته هم خپل قوم ته دارنګې جواب ورکړه.

﴿وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَـٰقِبَةُ ٱلدَّارِ﴾ پدیکښ اجمالاًاشاره ده چه اخری فتح اوکامرانی دَحق پرستوخلکووی او﴿إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ﴾ کښ اشاره ده چه منکرین اوباطل پرست خلکوانجام هلاکت دې.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرِى ۚ فَأَوْقِدْ
اواوئیل فرعون اې سردارانو.ندې معلوم ماته ستاسولپاره بل اله غیرځمانه. نواوربل کړه
لِى يَـٰهَـٰمَـٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ
ځمالپاره اې هامانه په ختې باندې(ختې جوړې کړه)بیاجوړکړه ځمالپاره لوئ محل چه څه اوګورم
إِلَىٰٓ إِلَـٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ
خدائ دَموسیٰ علیه السلام ته اوبې شکه څه خامخاګمان کوم پدې. چه دَدروغژنونه دې تکبراوکړوفرعون اولښکرووده
فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾
په زمکه کښ په ناحقه اوګمان ئې اوکړوچه دوئ به مونږته نه واپس کولې کیږی.

﴿وَقَالَ فِرْعَوْنُ﴾هرکله چه فرعون يره اوخطره محسوسه کړه چه داقوم به دَموسى عليه السلام دَدلائلونه، متاثرشي، نوپه حقيقت باندې پرده اچولودَپاره تلبيسات اومغالطې شروع کړې. او دَقوم مشرانوته مخاطب شواواوئ ونيلولوچه﴿مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ﴾يعني ماته خوندې معلوم چه ستاسودَپاره خمانه علاوه بل معبودوي، نوفرعون پدې جملې سره نفى دَالوهيت دَغيرنه، اوکړواوځان دَپاره ئې اثبات اوکړو، اوفرعون دلته نفى دَعلم اوکړه اوجزم ئې په نفى دَمعبودباندې اونکړوځکه چه فرعون په دې باندې عالم ووچه معبودحقيقى صرف اوصرف الله عزوجل دې لکه چه معلوميږي دَدې قول دَموسى عليه السلام نه چه ده ته ئې اوئيلوچه: لقدعلمتَ ماانزلَ هٰؤلاء الاّربَ السّموات والارض(بنى اسرائيل:۱۰۲)اوهرچه دى په سورة النّزعات ايت نمبر (۲۴)کښې چه فرعون خپل قوم ته اوئيلوچه"انارَبّكم الاعلىٰ"چه هلته جزم کړې ووپه خپلې خدائى باندې سره دَاثبات دَبل خدائى نه، نودَدې دواړو اياتونوکښې تعارض نيشته دې ځکه چه عدم دَعلم مستلزم ندې عدم دَوجودلره، اودَابن عباس رضي الله عنهما نه مروى دى چه دَفرعون دَدې دواړوخبروپه مينځ کښې څلويښت کاله مدت وو، يعنى څلويښت کاله اول ئې دااوئيلوچه "ما علمت لکم الخ"اوبيائې څلويښت کاله ورستواوئيل چه"انارَبكم الاعلى"بعضِ محققيين فرمائى چه دَفرعون اولاًعقيده داوه چه"اله"اومعبودبل څوک نيشته دې سيواځمانه، او"اله"نه مراد خالق اومتصرف ندې مرادبلکه بادشاه اوذى سلطنت مراددې، نوځکه ئې دلته اوئيل چه"ما علمتُ لکم الخ"ځکه چه نفى دَعلم مستلزم ده نفى دَمعلوم لره، اودادَخواصودَعلوم فعليونه دى، چه په انتفاء دَعلم سره انتفاءدَمعلوم راځى، ځکه چه علوم فعليه لازم دى دَتحقق دَ معلوماتوسره(ابى سعود).

اوهرکله چه فرعون دعوىٰ دَالوهيت اوکړه نوقوم فوراًاومنله ځکه چه دَفرعون قوم ډير لوئى جاهلان وو، لکه سورة الزخرف ايت نمبر(۵۴)کښې دى.

﴿فَأَوْقِدْ لِي يَٰهَٰمَٰنُ﴾فرعون خپل قوم ته دَمغالطې اوتلبيس دَپاره اوئيلوچه څه تحقيق کوم چه موسى عليه السلام ريښتونې دې اوکه دروغژن دې نو"هامان"ته ئې اوئيلوچه پخې خښتې جوړې کړه اوبيادَهغوخښتونه لوئى تعميراوکړه چه څه بره اسمان ته اوخيژم چه دَموسى عليه السلام

رب اوګورم.هامان دفرعون وزیرو، او دایوسرکاری لقب دې لکه څرنګه فرعون یوسرکاری لقب وو، اومفسرین فرمائی چه دټولونه اول پخوخختوجوړونکې فرعون وو، اوددې وجې نه چه دفرعون نه مخکښې دپخوخختورواج او ایجادنه وو، ځکه فرعون لفظ د﴿فَأَوْقِدْ لِي﴾ذکر کړو او اتخذلی لفظ ئې ذکرنکړو.

﴿فَاجْعَل لِّي صَرْحًا ﴾دمفسرینوپدیکښې اختلاف دې چه فرعون دامانړئی اوعمارت جوړکړې ووا وکه نه؟ نوقرآن اوحدیث کښې ددې څه تصریح نیشته دې صرف تاریخی اواسرائیلی روایات دی، نواکثرعلماؤدغې اسرائیلی روایاتواعتبارندې کړې اوددې قائله دی چه دامحض دفرعون دطرف نه خپلوخلکومطمئن کولودپاره په موسی علیه السلام پورې استهزاء کوله اوداقصراومانړئی هغه نه وه جوړه کړې البته بعضِ علماؤددغې تاریخی روایاتو اعتبار کړې دې اوددغې قرائنونه ئې اندازه لګولې ده چه فرعون داقصرجوړکړې وو، اوددې دتعمیر دپاره پنځوس زره مستریانوخدمت اغستلې شوې وو، مخ په زمکه باندې دومره لوئی تعمیر چاهم نه ووکړې اوددې پاسه سرته ختل دچادپاره هم په سهولت سره بغیرداسبابونه ممکن نه وو، فرعون هغې ته اوختلواودائې اونیل چه مادموسی علیه السلام رب تالاش کړوخومیلاؤنشو، اوپه څنې روایاتوکښې دی چه فرعون چه کله محل ته اوختلونواسمان طرف ته ئې غشی اویشتلونوالله تعالیٰ ورته غشی دوینودرنګ پشان سره واپس کړو، نوفرعون اوئیلوچه مادموسی علیه السلام رب قتل کړو(العیاذبالله)نوالله تعالیٰ حضرت جبرئیل علیه السلام را اولیږلو دوزریوطرف باندې ئې داقصراووهلو، نوداقصردرې(۳)ټکرې شواوغورزیدلوچه په هغې کښې یوه ټکره د فرعون په مزدورانوباندې رااوغورزیدله اویولاکهه(۱۰۰۰۰۰)مزدوران دهغې دلاندې مړه شولو، لیکن غوره قول اول دې، لکه پدې دلالت کوی داقول دفرعون چه انی لاظنه لمن الکاذبین.

فائده: علامه زحیلی رحمه الله په تفسیر منیرکښې فرمائی چه فرعون خپلوخلکوته داسې دهوکه ورکړه چه کچرې بل خدائی موجودوی نوهغه به یوه مجسم اومحسوس هستی وی، اوهغه دپاره به اسمان مکان وی اوپه دې کښې به الله تعالیٰ متمکن وی اودادوئی لوئی جهل ووچه خالق ئې په مخلوق قیاس کولو، اوداعقیده نن صباهم دځنوخلکوده چه ځان ته دديندارئی، اوداهل حدیث نسبت کوی او(العیاذبالله)الله تعالیٰ دپاره جسم اومکان ثابتوی.

﴿وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ﴾ دا دَانكار عن الحق دَپاره اسباب ذكركيږي چه فرعونيانو كښې دوه (۲) لوئي مرضونه ووځكه هغوئي دَحق نه، انكاركولو (۱) يو تكبراوبل (۲) انكاردَبعث اوقيامت، يعني فرعونيانونوروخلكواوخاص طورباندې بني اسرائيلوته دَډيرحقارت په نظركتلو ﴿بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ﴾ دا قيد دَمزيدتقبيح دَپاره دې، ځكه چه تكبرصرف دَالله ﷻ حق دې دَمخلوقاتولوئي كول ناحق دي، لكه حديث قدسي كښې دي: الكبرياء ردائي والعظمة ازاري ﴿وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ﴾ دا دويم سبب دَانكاردَپاره دې.

فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ
پس اونيولومونږدې اولښكرې دَده لره پس اوغورځول مونږدوئ په درياب كښې نواوګوره څنګه ووانجام
ٱلظَّٰلِمِينَ ۝ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ۝
دَظالمانو. او اوګرځولي وومونږدوئ پيشوايان چه رابللي به ئې خلق اورته، اوپه ورځ دَقيامت مددبه اونكړې شي دَدوئ
وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ۝
اولازم كړومونږدوئ سره په دَدې دنياكښې لعنت، اوپه ورځ دَقيامت به دوئ بدحالوخلقونه نه به وي

﴿فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ﴾ دا فرعونيانو ته دَدنيوي عذاب ذكردې او نبذ په اصل كښې ګيتئ (وړوكوكانړو) غورځولوته وئيلې كيږي، دَفرعون لښكرتقريباً په شپږلاكهه (۶۰۰۰۰۰) افرادو باندې مشتمل وو، خوبيا هم دَهغوئ دَهلاكت نه تعبيرپه نبذ سره كول تحقيراً دي، چه دَدوئي دومره مال، دولت، بادشاهي، لښكرې وغيره دَالله ﷻ دَقدرت سره دَهغه معمولي كانړو اوګيتيو حيثيت نه وو، الله ﷻ په سمندركښې داسې اوغورځولو اوهلاك ئې كړلولكه چه يوسړې دَخپل لاس نه وړې ګيتئ اوغورځوي.

﴿فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ﴾ په دې كښې اشاره ده چه دهرظالم آخري انجام ډيربدوي، اګرچه الله ﷻ دَحكمت موافق څه وخته پورې دنياكښې ورته مهلت وركړي ﴿وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً﴾ دا دوئي

دآخرت حالت ذکرکیږي چه دنیاکښې خودوئی دګمراهئ لیډران اومشران وو.دګمراه خلکو لوئی جماعت به په دوئی پسې وو،(دوئی په حق کښې دَزنده باد اودَدوئی دَمخالفو په باره کښې دَمرده بادنعرې وهلې.ازواوالدصاحب رحمه الله) لیکن دآخرت حال به ئې داوی چه څوک به ئې هم امدادنشی کولې،یو کارکن به ئې هم خدمت اومددته نه راځی،بلکه دادوستی اوتعلق به ئې په دشمنئ بدل شی،لکه سورة الزخرف ایت نمبر(۶۷)کښې دی.

﴿ وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِي هَٰذِهِ ﴾پدیکښې دَدنیوی اواخروی دواړوعذابونوذکردې،یعنی په دنیاکښې همیشه دَپاره په دوئی باندې لعنت وئیلې کیږی.دنیاکښې هم دَالله تعالیٰ دَرحمت نه لرې وو اوپه اخرت کښې به هم ملعون وی.﴿ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴾دَقبح نه دې بدو ته ویلې کیږي مقبوح چې په بدحالت کښې مبتلا کړې شوي وي،یاورته بدَوئیلی شوی وی یعنی قیامت په ورځ دوئ دَ الله تعالی رحمت نه لرې او لعنت کښې به مبتلا وي،او مخونه او شکلونه به یې انتهائی بد رنګه شوي وي،سترګې به ئې شنې او مخونه به ئې تک تورې وي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى
اویقیناًورکړې مونږموسی علیه السلام ته کتاب(توراة)وروستودَدینه چه هلاک کړل مونږدلې مخکنئ
بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۴۳
(هغه تورات) چه دَبصیرت خبرې وې پکښې دَخلقولپاره اوهدایت وواورحمت ووچه کیدې شی دوئ نصیحت قبول کړی

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ ﴾دَدې ایت تعلق دَابتداء دَسورت﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴾سره دې.اوپدیکښې اشاره ده ضرورت داعیه دَانزال قرآن ته.خلاصه ئې داده چه مخکښنیوقومونوته الله تعالیٰ انبیاء کرام رالیږلی ووهرپیغمبرخپل قوم ته دَالله تعالیٰ دَوحدانیت دعوت ورکړو،نوح علیه السلام خپل قوم ته دعوت ورکړو،دغه شان هود علیه السلام،صالح علیه السلام وغیره انبیاء کراموخپل خپل امتونوته دَدین حق اوتوحیدالهی دعوت ورکړو،متمرداوسرکش قومونوچه کله دَخپلوپیغمبرانودعوت ردکړو،نوالله تعالیٰ هغوئی هلاک کړل.اوبیاهرکله چه دَدغې انبیاء کراموادیان اوتعلیمات به په ختمیدلوشواومونګی به څوک پاتې نشو نو

الله ﷻ به دخپل عظیم رحمت په باعث بل نبی رااولیږلوخکه چه دوحی تعلیمات ددنیانه، ختمیدل مؤدی دی فسادددې نظام عالم لره،حتّی چه الله ﷻ موسی علیه السلام را اولیږلو اوهغه ته ئې دهغې زمانې دضرورت مطابق تورات شریف ورکړوچه دهغې په هرایت کښ نور بصیرت وو،دمخلوقاتودپاره دهدایت ذریعه وه اودالله ﷻ دطرف نه لوئی رحمت وو، موسی علیه السلام خپل امت ته دعوت ورکړوبنی اسرائیلو اکثریت دموسی علیه السلام دعوت قبول کړو، او اکثرو قبطیانو اودفرعون ملګروانکار اوکړو، الله ﷻ فرعون سره دخپل متبعینوغرق کړو.

موسی علیه السلام دوفات نه ورستویهودیانو دموسی علیه السلام اصل دین مسخ کړواودهغه تعلیمات په خپل اصل شکل وصورت کښ پاتې نشو،نوالله ﷻ داصل دین داحیاءدپاره نبی پاک ﷺ رااولیږلو،اوهغه ته ئې داواضح کتاب ورکړو،نوکه اهل عرب وغیره ددې قرآن اودپیغمبرنه،انکاراوکړی نوالله ﷻ به دوئی هم داسې ذلیل،رسوااوهلاک کړی لکه څرنګه مخکښی قومونه ئې هلاک کړی وو(روح)نود"القرون الاولی"نه مرادقوم نوح علیه السلام،عاد،ثمود وغیره دی.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى الْأَمْرَ وَمَا كُنتَ
[1] اونه وې ته حاضر(اې پیغمبره)په طرف دمغرب کښ کله چه اوکړو مونږ موسی ته حکم ده تللو فرعون ته اونه وې ته هلته
مِنَ الشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنتَ
دحاضرینونه لیکن مونږ پیداکړې نورې دلی نواوږده شوپه هغوئ عمرونه،اونه وې ته
ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۙ وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾
اوسیدونکې په اهل مدین کښ چه لولې ته پدوئ(اهل مکه ؤ) آیاتونه زمونږ،لیکن مونږوؤلیږونکی(تاله)

﴿وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ﴾ددې خائی نه دسورت دویمه حصه شروع کیږی تر ایت (۷۸) پورې چه پدیکښ اثبات دصدق دنبی پاک ﷺ دې،تخویف دنیوی،حکمت دارسال رسل صدق دقرآن،ترغیب الی القرآن،دلیل نقلی داهل کتابواودهغوئی صفات وغیره ذکرکیږی.نوددې

[1] دسورت دویمه حصه

ايت نه تر لعلّهم يتذكرون يعنى ايت نمبر(۴۶)پورې اثبات دَصدق دَنبى پاکﷺذکردې، خلاصه ئې داده چه اې نبیﷺته چه خپل امت ته دَتيرشوواُمتونواودَحضرت موسیٰ عليه السلام واقعات بالکل صحيح بيانه وى حالانکه نه ته په هغه وخت کښې موجودوې اونه دې واقعاتو په دوران کښې حاضروې،نودادليل دې پدې چه تاته دَاللهﷻدَطرف نه،دَدې اخبارو په باره کښې وحى شويده اوته برحق پيغمبراونبى ئې.

﴿ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ ﴾ الغربى صفت دَمضاف دَپاره نه دې بلکه الغربى دَپاره موصوف محذوف دې،چه يا"الجبل"دې يعنى بجانب الجبل الغربى اويا"الوادى"محذوف دې يعنى بجانب الوادى الغربى،اومراددَدينه هغه مقام دې چه اول ځل اللهﷻموسیٰ عليه السلام سره همکلام شوې وو چه موسیٰ عليه السلام دَمدين نه مصرته تللوچه ايت نمبر(۳۰)کښې تيرشويدى﴿إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ﴾ مرادورنه موسیٰ عليه السلام ته وحى کول اوفرعون ته دَتللوامرکول دى﴿وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّـٰهِدِينَ ﴾ دانفى على سبيل العموم ده يعنى ته په هغه دوراوزمانه کښې موجودنه وى اودې نفى ته ضرورت ځکه راغلې چه کله کله يوکس په يوعلاقه کښې حاضروى خومخصوصې واقعې ته نه وى حاضر،نواول نفى دَخصوص وه چه کوم وخت اوپه کوم ځائى کښې موسیٰ عليه السلام ته نبوت ورکولې کيدلونوهغې موقعې ته،ته حاضرنه وې،اودويم نفى على سبيل العموم ده چه په هغه دورکښې هم ته نه وې موجود،اوبعض علماءفرمائى چه اول نفى نه مراددادې چه کوه طورکښې په اول ځل چه موسیٰ عليه السلام ته نبوت ورکولې کيدلونه وته نوې موجود اودويم نفى نه مراددادې چه کله په دويم ځل اويا(۷۰)کسان منتخب کړواوکوه طورته لاړونوته په هغوئى کښې نه وې،حتّى چه تادَدې ټولوواقعاتومشاهده کړې وې،نومقصددادې چه په دغه مواقعو کښې حاضرنه وې اوبياهم دَهغوئى صحيح حالات بيانوې نومعلومه شوه چه دَوحى په ذريعې سره بيانوې نوپيغمبرئې.

﴿وَلَـٰكِنَّآ أَنشَأْنَا ﴾يعنى هلته دَموسیٰ عليه السلام په دورکښې خوبالکل نه وې موجودبلکه ستا اودَموسیٰ عليه السلام په مينځ کښې ډيرې پيړئى اوصدئى تيرې شويدى، ډيرامتونه، مونږ پيدا کړيدى پدې مينځ کښې،اودَهغې نه ورستوموته مبعوث کړې،ځکه چه پدې دوران کښې سلسله

دوحی بنده وه، اوزمانه دفترت وه. دوحی تعلیمات ختمیدلو والاوو. نو ضرورت پیدا سو چه یو رسول مونږ مبعوث کړو، نو ته موږ اولیږلي نود فتطاول علیهم العمر نه ورسره فارسنک مقدردي.

﴿وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا﴾ ثاويًا په معنی د مقيمًا سره دي، او اهل مدين نه مراد شعيب عليه السلام او د هغه متبعين دی ﴿ تَتْلُوا عَلَيْهِمْ ﴾ پدې ضمير کښې دوه (۲) احتمالات دی، اول احتمال چه زيات غوره اوراجح دي هغه دادې چه عليهم ضمير مرجع اهل مکه دی. او دآيت مقصد دادې چه ته چه اهل مکه ته په مدين کښې د موسی عليه السلام سره پيش راغلی واقعاتو خبرورکوې. داتول ته په طريقې د معاينې او مشاهدې سره نه نقل کوې ځکه چه ته په اهل مدين کښې مقيم نه وې. بلکه د دې واقعاتو خبر او علم تاته په ذريعې د وحی سره شويدې.

دويم احتمال دادې چه عليهم کښې ضمير اهل مدين ته راجع دې، او د تلاوت نه مراد قرائت د شاگرددې په استاذباندې (قرأة التلميذعلى الشيخ) او دآيت مقصددادې چه ته په مدين کښې مقيم نه وې چه په هغوئی باندې د دا واقعات لوستلي وې او د هغوئی نه. دې ايزده کړې وې ﴿وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ﴾ يعنی ليکن مونږ ته پيغمبر ليږلي ئې او د وحی په ذريعې سره تاته د دې ټولو واقعاتو خبر درکولې کيږي.

وَمَا	كُنتَ	بِجَانِبِ	الطُّورِ	إِذْ	نَادَيْنَا	وَلَٰكِن	رَّحْمَةً

اونه وې ته په طرف دکوه طور کښې کله چه اواز وکړو مونږ موسیٰ ته ليکن ليږلې ئې مونږ ته اې محمده رحمت

مِّن	رَّبِّكَ	لِتُنذِرَ	قَوْمًا	مَّا	أَتَاهُم	مِّن	نَّذِيرٍ	مِّن	قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ

دطرفه درب خپل چه ته اويره وې داسې قوم چه ندې راغلې دوئ ته هيڅ يرونکې مخکښې ستانه کيدې شي

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾

چه دوئ نصيحت قبول کړي.

﴿وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ ﴾ د دېنه مراد هغه وخت دې چه کله موسیٰ علیه السلام ته کتاب ورکولې کېدلو. او موسیٰ علیه السلام کوه طورته تللې وو او د ﴿إِذْ نَادَيْنَا ﴾ نه مراد حضرت موسیٰ علیه السلام ته نداده، چې الله تعالیٰ ورته کړې وه چې يموسیٰ اني انا الله رب العالمين (طه)

﴿وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ﴾ رحمة منصوب دې اومفعول ثانی دفعل مقدر دپاره تقدير دعبارت داسې دې ولكن ارسلناک رحمة يعنی ته پدې تېرلو مواقعو کښې موجود نه وې، ليکن بیاهم ستا دطرف نه صحيح واقعات بيانيدلو وجه داده چه ته مونږ دخلکو دپاره رحمت او پیغمبر ليږلې ئې، او دوحی په ذريعې سره مونږ تاته د دې تېرلو واقعاتو خبر درکوو (ابن كثير)

﴿لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم ﴾ قوم نه مراد دلته اهل مكه اوعرب دی او ﴿ مِّن قَبْلِكَ ﴾ کښې من زائده دې دپاره دتعليل ذكر شويدې، چه دلالت کوی په قرب دقبليت باندې يعنی لږه زمانه مخکښې چه هغه زمانه دفترت ده چه مشتمله وه په ۵۵۰ کالونو باندې، نو دايت مقصد دادې چه ستانه لږه زمانه مخکښې چه زمانه دفترت ده په هغې کښې اهل مکه او عرب ته پیغمبرنه وو راغلې نو د دې وجې نه مونږ ته مبعوث کړې چه دوئی ته دالله ﷻ دعذاب نه ويره ورکړې او بعض فرمائی چه ﴿ مِّن قَبْلِكَ ﴾ په خپلې معنی سره دې او اهل مکه ته دنبی پاک ﷺ نه مخکښې تر حضرت اسماعيل علیه السلام پورې بل پیغمبر نه وو راغلې، حضرت موسیٰ علیه السلام او حضرت عيسیٰ علیه السلام صرف دبنی اسرائيلو دپاره وو.

وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟
او کچرته نه وې داخبره چه کله او رسيږی دوئ ته تکليف عذاب په سبب دهغه گناهونو چه مخکښې ليږلې دی لاسونو دوئ نو وائی به
رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾
اې ربه زمونږ ولی نه راليږلو تا مونږ ته رسول چې مونږ به اتباع کړې وې ستا دآياتونو او وې مونږ د مؤمنانو نه

﴿وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌ ﴾ دا تخويف دنيوی دې او حکمت ذکر کیږی دارسال رسل دپاره، چه الله ﷻ انسانانو ته رسولان ولې ليږلی دی؟ او منکرينو د دوئی ته بغير دارسال رسل نه عذاب

ولې نه ورکوی.نوخلاصه ئې داده چه ارسال دَرسل کښې حکمت دفع دَعذرده.کچرې انبیاءکرام.الله ﷻ نه وې لیږلې نومنکرینوبه عذرکولوچه کچرې مونږته پیغمبرراغلې وې نومونږبه ضرورایمان راوړې وو.اواوس چه هرکله چه دوئی ته پیغمبران راغلل اوبیاهم دوئی ایمان رانه وړونوعذرختم شواودَالله ﷻ دَطرف نه دَعذاب مستحق شو.اول﴿ وَلَوْلَآ ﴾امتناعیه ده اوجواب ئې په اخیرکښې محذوف دې چه"ماارسلنااليهم"دې،یعنی کچرې داعذرنه وې نومونږ پیغمبران نه وې لیږلې خوچونکه داعذرموجودوې نوځکه انبیاءکرام مواولیږلو.او﴿فَيَقُولُوا رَبَّنَا ﴾عطف دې په﴿ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ ﴾باندې اوپه﴿لَوْلَآ أَرْسَلْتَ ﴾کښې"لولا"تحضیضیه دې او﴿ فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ ﴾ورله محضض اوباعث على التحضيض دې.

فائده:پدې ایت کښې دوه(۲)اسبابه دَارسال رسل دَپاره ذکرشو،یوسبب قریب اوسبب اصلی دې،اوبل سبب بعیددې،سبب قریب دَدوئی قول دې چه ذکرشویدې پدې قول سره چه﴿فَيَقُولُوا رَبَّنَا ﴾اوسبب بعیدهغه دوئی ته دَدوئی دَبدعملونوسزاورکول دی،لیکن دلته سبب بعیداول ذکرکړې شواوسبب قریب مؤخرذکرکړې شواوپه سبب بعیدباندې عطف کړې شو،دَدوه(۲)وجوهاتونه(۱)دَوجې دکمال عنایت اوشفقت نه،چه الله ﷻ دابالکل نه خوه خوی چه خمایوبنده ته دې بلاوجه تکلیف اورسیږی اوهغه ته دې بلاوجه سزامیلاؤشی(۲)پدیکښې اشاره ده چه هریومستقل سبب دې دَارسال دَپاره،اوصرف دانده چه"قول"سبب دې،بلکه دَ"قول"نه بغیرهم الله ﷻ دوئی ته عقوبت نه ورکوی،ترڅوچه اتمام حجت ئې پرې نوی کړې.(کشاف بتغیر).

فَلَمَّا	جَآءَهُمُ	الْحَقُّ	مِنْ	عِندِنَا	قَالُوا	لَوْلَآ	أُوتِيَ	مِثْلَ
پس هرکله چه راغې دوئ ته حق زمونږدَطرفه نودوئ ونیل ولې نه دې ورکړې شوې دی پیغمبرته په شان								
مَآ	أُوتِيَ	مُوسَىٰ	ط	أَوَلَمْ	يَكْفُرُوا	بِمَآ	أُوتِيَ	
دهغه کتاب چه ورکړې شوې وؤموسی ته «په یوځل،آیاکفرنه وؤکړې دوئی په هغه کتاب چه ورکړې شوې وؤ								

مُوسٰى	مِنۡ	قَبۡلُ	قَالُوۡا	سِحۡرٰنِ	تَظٰهَرَا
موسیٰ ته،مخکښ دَدینه .		وئیلی وو دوئ چه دادواړه سحرونه دی یوبل سره موافق دی.			
وَقَالُوۡۤا	اِنَّا	بِكُلٍّ	كٰفِرُوۡنَ ۴۸		
او وئیلی وؤ	دوئ بې شکه	مونږ په دواړو	کفرکونکی یو.		

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الۡحَقُّ ﴾ داشکویٰ ده یعنی الله ﷻ دکمال عنایت اوشفقت په بنیادخلکوته نبی پاک ﷺ سره دقرآن نه رااولیږلونودوئی دایمان راوړلوپه ځائې معاندانه اوتعصبانه سوالات شروع کړل چه کچرې داقرآن دالله ﷻ دطرف نازل شوې کتاب وی نوبیادتورات پشان په یوواري ولې نه نازلیدلو،اوداسوال اواعتراض کوونکی یایهودیان وو،اویاکفارمکه ووخوپه مشورې دیهودیانوسره ئې دااعتراض کړې وو.

﴿ أَوَلَمۡ يَكۡفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِيَ ﴾داجواب شکوی ده،خلاصه ئې داده چه ددوئی داسوال تعنتًااومعاندأدې،اوطلب دحق دپاره نه دې،ځکه چه دقرآن نه مخکښ الله ﷻ تورات یوځلې سره نازل کړې ووخوبیاهم معاندینوترینه انکارکړې وو.

﴿قَالُوا۟ سِحۡرَانِ﴾په مرجع دضمیرد ﴿قَالُوا﴾کښ متعدداحتمالات اواقوال دی(۱)یوقول دادې چه ددې مرجع کفارمکه دی اومقصودپدې سره ددې اثبات دې چه دکفارمکه داسوال تعنتًادې ځکه چه یوطرف ته خودوئی داخبره کوی چه قرآن مجیددتورات پشان یوواروليې نه دې نازل شوې؟اوبل طرف ته دتورات اوقرآن ددواړوپه باره کښ وائی چه دادواړه(قرآن اوتورات)جادودی چه دیوبل تائید کوی،نومعلومه شوه چه تورات هم ددوئی په نیزمعیاردحق نه وو،ورنه بیابه دوئی دتورات په باره کښ داسې خبرې نه کولې،بلکه مقصوددوئی په قرآن باندې متعصبانه سوالات کول دی.اوددې تائیدپه روایت دکلبی سره کیږی چه قریش مکه یووفددیهودیانو یوعالم ته اولیږلواودهغه نه ئې دنبی پاک ﷺ په باره کښ تپوسونه اوکړل نوهغه یهودی عالم ورته اوئیل چه دابالکل برحق نبی دې ځکه زمونږپه تورات کښ دآخری پیغمبرکوم صفات ذکرشویدی هغه په ده کښ موجوددی،نوکله چه داوفدواپس راغلې

اوخپلو مشرانو ته ئې د هغه یهودی عالم جواب واورولو نو قریش غصه شول اودائې اوئیل چه ﴿سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا﴾ چه دا قرآن او تورات دواړه سحر دی د یو بل سره امداد کوی

(۲) دویم احتمال دادې چه مرجع د قالوا فرعون اود هغه قوم او هغه بنی اسرائیل دی چه کافران وو او سحران نه مراد موسیٰ علیہ السلام او هارون علیہ السلام دی او دوئی ته سحران وئیل مبالغة دی او په یو قرائت کښ ساحران هم راغلیدی او دا جمله مستانفه ده چه په سوال د سائل کښ واقع شویده او هغه سوال ناشی دې د ماقبل جملې نه، ځکه چه هرکله چه اونیلې شوچه ﴿أَوَلَمْ يَكْفُرُوا﴾ نو ګویا چه سائل سوال اوکړو چه ماکان کفرهم به؟ چه د دوئی کفر څه وو؟ نو جواب اوشو چه هغه د دوئ داوینا وه ﴿قَالُوا سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا﴾.

(۳) بعض فرمائی چه ضمیر کفار مکه ته راجع دې او د سحران نه مراد نبی پاک ﷺ او موسیٰ علیہ السلام دی. ﴿وَقَالُوٓا إِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُونَ﴾ دا تصریح ده د دوئی په خپل کفر باندې، د ماقبل نه ضمنًا د دوئی کفر معلومیدلو نو اوس ئې پرې تصریح اوکړه.

قُلْ فَأْتُوا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِندِ اللّٰهِ هُوَ أَهْدٰى مِنْهُمَآ

ته ورته اووایه نو راوړئ تاسو یو کتاب د طرفه د الله جل جلاله نه چه هغه زیات د هدایت والاوی ددی دواړو نه

أَتَّبِعْهُ إِن كُنتُمْ صٰدِقِينَ ﴿۴۹﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا

څه به ئی اتباع اوکړم کچرته یئ تاسو ریشتنی. پس که دوئ قبول نکړی ستا اخبره نو پوهه چه بیشکه

يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰهُ بِغَيْرِ

دوئ اتباع کوی د خپلو خواهشاتو. او څوک دې زیات ګمراه د هغه چانه چه اتباع اوکړی د خپل خواهش بغیر

هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ ﴿۵۰﴾

د هدایته د طرفه د الله جل جلاله بی شکه الله جل جلاله هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته

• قُلْ فَأْتُوا ﴿داهم جواب دي دَدوئی دَشکوې نه،چه قرآن اوتورات ته تاسوسحروایئ نوتـسوددینه ښه کتاب اوزیات هدایت والاکتاب دَالله ﷻ دَطرف نه راوړئ ﴿إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴾ داشرط دَتبکیت اوتهکم دَپاره دي ﴿فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُواْ لَكَ﴾داببیان دَعجز دَدوئی دي ودلته داسې اونه وئیلې شوچه فان لَم یفعلوا یعنی نفی دَفعل ذکرنه شوه.بلکه نفی دَاستجابت ذکرشوه دَپاره دکمال عجز دَدوئی.څکه چه هرکله دوئی په قبول دَاستجابت باندې قدرنه شونوپه قبول دَفعل باندې په طریق اولی سره قادرنه دی اوبعضِ مفسرین فرمائی چه مفعول دَاستجابت دَپاره الایمان والتوحید محذوف دې اوتقدیردَعبارت داسې دې چه فان لم یستجیبوالک الی الایمان والتوحید یعنی کچرې دوئی ستادعوت دَ ایمان اوتوحید قبول نکړی نو ﴿فَٱعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ﴾یعنی ته پدې پوهه شه چه دوئی دَخپل نفسانی خواهشاتواتباع کوی اودَهغې غلامان دی لیکن اول احتمال زیات غوره دې.

﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ﴾استفهام انکاری دې یعنی ددې انسان نه بل لوئی ګمراه نیشته دې چه دَخپل خواهش غلام جوړشی اودَهغې اتباع کوی اوتقیدپه بغیرهدی من الله سره دَپاره دَزیادت تقریراوزیادت تشنیع دی،اوداقیداحترازی ندې،اوبعضِ فرمائی چه داقیداحترازی دې څکه چه دَخواهش اتباع کله کله موافق دَحق سره وی.لکه په جائزمحل کښې خواهش پوره کول،کمااشار الیه فی الحدیث المشهور.

وَلَقَدْ	وَصَّلْنَا	لَهُمُ	الْقَوْلَ	لَعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُونَ ۝٥١	الَّذِينَ
اوبیشکه	پسی پسی رالیږلې دې	دوئ ته	قرآن	چه	نصیحت قبول کړی	هغه کسان
اٰتَيْنٰهُمُ	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِهٖ	هُمْ	بِهٖ	يُؤْمِنُوْنَ ۝٥٢	
چه ورکړې دې موږدوئ ته	کتاب	مخکښې دقرآن نه	هغوئ	پدی قرآن	ایمان راوړی	

﴿وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ﴾داترغیب الی القرآن دې او وصل نه مرادپې درپې دَیوبل سره پیوست نازله ول دی او قول نه مرادقرآن دې نودَایت مطلب دادې چه داقرآن اودَدې مضامین

وعد ،وعید ،امثال،قصص وغیره مونږاهل مکه ته پې درپې اویوبل سره پیوست علی حسب الحکمت نازل کړیدی اودامسئله توحیدموورته په مختلفوجهاتوسره واضحه کړه، دې دپاره چه دوئی نصیحت قبول کړی اوایمان راوړی.

﴿اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ﴾ دادلیل نقلی دې دعلماؤداهل کتابونه،چه اهل کتابو کښې کوم انصاف پسند علماءدی هغوئی هم پدې قرآن باندې ایمان راوړیدې اوکماحقه پدې قرآن باندې عمل کوی.لکه حضرت عبدالله بن سلامؓ اودهغوئی رفقاءشو،یادغه شان دحبشه والانصاری چه دحضرت جعفرؓپه لاس ئې ایمان قبول کړې وو،نوضمیرپه"بِهٖ"کښې راجع دې قرآن ته.اویاراجع دې نبی پاکﷺته،یعنی دااهل کتاب په نبی پاکﷺباندې ایمان راوړی خکه چه دنبی پاکﷺاوصاف دوئی ته په مخکینوکتابونوکښې بیان شوی وواوبعض فرمائی چه ضمیرد"بِهٖ"راجع دې"الکتاب"ته اودآیت مقصددادې چه دوئی په خپل کتاب باندې ایمان لرونکی دی،لیکن اول احتمال زیات غوره دې.

وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ
اوکله چه اولوستلې شی پدوئ قرآن وائی مونږایمان راوړیدې پدې قرآن بیشکه داحق کتاب دې زمونږدرب دطرفه،
اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿۵۳﴾ اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ
بیشکه مونږوومخکښې دنازلیدلودینه مسلمانان.دې کسانوته ورکولې کیږی به اجردوئ دوه چنده
بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ
په سبب دصبردوئ،اودفع کوی دوئ په نیکئ سره گناه اودهغه مال نه چه مونږورته ورکړیدې
يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا
خرچ کوی په لاره دالله ﷻکښې اوکله چه واؤری بیکاره خبری اعراض اوکړی دهغې نه اووائی بیکاره خبروکونکوته،
لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ز سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ز لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾
مونږته به زمونږدعملونوبدله میلاویږی اوتاسوته ستاسودعملونو.سلام دی وی په تاسو.نه غواړومونږ دجاهلانو سره بحث ومباحثه

﴿وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ﴾ دا داهل کتابو مؤمنانو اوصاف ذکرکیږی یعنی کله چه دوئی ته قرآن تلاوت اوکړې شی نو دوئی فوراً وائی چه مونږ پدې قرآن ایمان راوړیدې، دا زمونږ د رب د طرف نه برحق کتاب دې او مونږ پدې قرآن او ده په مضامینو باندې د ده د نزول نه مخکښې ایمان راوړې دې.

﴿أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ﴾ پدې ایت کښې درې (۳) صفتونه داهل کتابو مؤمنینو ذکرکیږی (۱) صبر په تکالیفو باندې (۲) دفع د سیئه په حسنه سره (۳) اتفاق او په تعین د مرتین کښې متعدد اقوال دی (۱) بعض علماء فرمائی چه هرکله دوئی د نزول د قرآن او د بعثت د نبی پاک ﷺ نه مخکښې هم په نبی پاک ﷺ او قرآن باندې ایمان لرلو او د بعثت او نزول نه ورستوئې هم ایمان لرلو او په ایمان باندې ثابت قدم پاتې شونو د دې وجې نه د دوه (۲) اجرین مستحق شو. یو اجر د قبل البعثت او د قبل النزول ایمان، او دویم اجر د بعد البعثت او د بعد النزول ایمان.

(۲) بعض فرمائی چه دوه (۲) اجرونه د دې وجې نه دی چه مشرکینو به دوئی ته ایذا او تکلیف رسولو دوئی به صفح او اعراض کولونو یو اجر د ایمان او دویم اجر د صفح او اعراض دی (۳) لیکن زیات غوره قول دا دې (دا قول د جمهورو دې) چه اهل کتاب مؤمنینو اولاً ایمان په خپل نبی او خپل کتاب باندې وو، او بیا چه د نبی پاک ﷺ بعثت اوشونو ایمان ئې په نبی پاک ﷺ او قرآن باندې راوړلو، نو ایمان ئې مرتین وونو ځکه د دوه (۲) اجرونو مستحق شو او د دې تائید په روایت د ابوموسیٰ اشعری رضي الله عنه سره کیږی چه ذکرکړیدې امام بخاری رحمه الله په کتاب العلم او کتاب الجهاد کښې فرمائی چه: انّ رسول الله قال ثلاثة يؤتون اجرهم مرّتين رجلٌ من اهل الكتاب آمن بنبيّه ثمّ آمن بي وعبدمملوک ادّی حقّ الله وحقّ مواليه ورجل كانت له امة فادّبها فاحسن تاديبها ثمّ اعتقها فتزوّجها یعنی درې (۳) قسمه کسانو ته دوه (۲) اجرونه میلاویږی. یو داهل کتابونه هغه کس چه په خپل نبی باندې ایمان وی او بیا په ما باندې ایمان راوړی. دویم هغه غلام چه د الله ﷻ د حق اداکولو سره سره د خپل مولی او مالک حق هم اداکوی. او دریم هغه کس چه د هغه د پاره وینزه وی او دې هغې ته صحیح علم ورکړی. بیائې ازاده کړی او نکاح ورسره اوکړی.

اومحدثين فرمائی چه دادري (۳) کسان اودَدوئی دادري (۳) افعال بطورحصرنه دي ذکربلکه ذکرئي دَوجې دَعموم اوغلبې نه د، چه اکثرازمنوکښې عمومی طورباندې دادري (۳) قسمه خلک اودادري (۳) قسمه افعال موجودوی. بلکه مراددینه هرهغه افعال دی چه په هغې کښې تزاحم وی. لکه په حدیث دَترمذی وغیره کښې دی چه حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه قال رسول الله ﷺ الذی یقرأالقرآن وهوماهربه مع السفرة الکرام البررة، والذی یقرؤه قال هشام وهو شدید علیه فله اجران (ترمذی).

﴿ بِمَا صَبَرُواْ ﴾ مراددَصبرنه استقامت علی الدین اوصبرپه تکالیفواوایذاءباندې دې

﴿وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ﴾ دَالحسنة نه مرادتوبه اطاعت اوعمل صالح. حلم اوامربالمعروف. اودَخیرکارټول ورنه مرادکیدې شی، اودَالسیئة نه مرادذنوب. معاصی. جهل دجاهل. منکر اوشرکارټول ورنه مرادکیدې شی. بهرحال مقصودپدې سره دَدوئی دَمکارم اخلاق بیان دې حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه پدیکښې اشاره ده چه دَدوئی زړونه دَحب جاه نه خالی دی

﴿وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ ﴾ هرکله چه ماقبل کښې دَدوئی دَایمان اودَاطاعت بدنیه ذکراوشو. نوپدې ایت کښې دَاطاعت مالیه ذکرکیږی اومرادپه ﴿يُنفِقُونَ ﴾ سره انفاق دې په اموردَخیرکښې لکه چه داتقاضاده دَمقام دَمدحی اوپدیکښې اشاره ده چه دَدوئی زړونه دَحب مال نه خالی دی اوداشامل دې ټولوانواعودَانفاق ته فرضی دی یاواجبه دی یامستحبه دی.

﴿وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ ﴾ پدیکښې مزیدنورصفات دَدوئی ذکرکیږی لغو هرقبیح قول اوعمل ته وئیلې کیږی لکه کنځل، غیبت، غزل وغیره شو، اودغه شان هرهغه قول اوعمل ته هم وئیلې کیږی چه څه دینی اودنیوی منفعت پکښې نه وی ﴿أَعۡرَضُواْ عَنۡهُ ﴾ اعراض دلغوې نه. دادې چه دَلغوې (کنځلو) جواب نه ورکوی، دَلغوی په مجلسونوکښې شرکت نه کوی. لکه مجلس دَغیبت، مجلس دَغزلوو غیره شو.

﴿لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ ﴾ دامقاطعه ده دَهغوئی سره یعنی دَاهل لغو سره دوئی مقاطعه کوی چه زمونږدَپاره زمونږدین اوعملونه دی اوستاسودَپاره ستاسودین اوعملونه دی زمونږنه به

دزمونږ عملونو په باره کښې تپوس کيږي او ستاسونه. به ستاسو دعملونو تپوس کيږي ﴿سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ﴾ دا سلام متارکت دې. چه زمونږ دستاسو سره نور تعلق ختم شو. او بعض فرمائي چه سلام په معنی دسلامتيا او امن سره دې. يعنی زمونږ د طرف نه دې په تاسو سلامتيا وی. که تاسو هر څه وايئ خو مونږ تاسو ته جواب نه درکوو. نو پدې احتمال دا ايت بيا منسوخ دې په ايت القتال سره. ليکن اول احتمال زيات غوره دې ﴿لَا نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ﴾ دا علت دی د متارکت د پاره ذکر کيږی. يعنی مونږ ته ستاسو مجلسونه خوښ نه دی او مونږ تاسو سره کيناستل نه خوښوو. او يا دا معنی ده چه مونږ د جاهلانو طريقې او عادتونه. نه غواړو چې بحث ومباحثه درسره شروع کړو

إِنَّكَ	لَا	تَهۡدِي	مَنۡ	أَحۡبَبۡتَ	وَلَٰكِنَّ	ٱللَّهَ	يَهۡدِي
بی شکه ته اې پيغمبره هدايت نه شی کولې هغه چاته چه ستاخوښ وی ليکن الله ﷻ هدايت کوی							
مَن	يَشَآءُۚ	وَهُوَ	أَعۡلَمُ	بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ۝٥٦	وَقَالُوٓاْ	إِن	نَّتَّبِعِ
چاته ئی چه خوښه شی. او هغه زيات عالم دې په هدايت موندونکو او وائی دمکی مشرکان که چرته مونږ اتباع اوکړه							
ٱلۡهُدَىٰ	مَعَكَ	نُتَخَطَّفۡ	مِنۡ	أَرۡضِنَآۚ	أَوَلَمۡ	نُمَكِّن لَّهُمۡ	حَرَمًا
دهدايت. تاسره. نو او به تختولې شو دخپل زمکی نه خلق به مو اغواکړی آيا مونږ ځائ ندې ورکړيدې دوئ ته حرم							
ءَامِنٗا	يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ	ثَمَرَٰتُ	كُلِّ شَيۡءٖ	رِّزۡقٗا	مِّن لَّدُنَّا	وَلَٰكِنَّ	أَكۡثَرَهُمۡ
چه امن والادې راچلوې شی هغه ته ميوی دهرڅيز چه رزق دې زمونږ د طرفه ليکن اکثر دوئ نه							
لَا يَعۡلَمُونَ ۝٥٧							
نه پوهيږی پدې نعمت							

﴿إِنَّكَ لَا تَهۡدِي﴾ دا متعلق دې د ﴿وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ﴾ سره او تسلی ده نبی پاک ﷺ ته. يعنی داهل مکه دنصيحت او هدايت حاصلولو د پاره مونږ مسلسل اياتونه. نازل کړيدی. او اې

پیغمبره! تاهم دوئی ته په دعوت او تبلیغ کښې څه کمې نه دې راویستلې او ستا محبت او شفقت هم د دوئی سره ډیر دې، خو د دې باوجود کچرې یو کس ایمان نه راوړی نو ته خفګان او پریشانی مه کوه ځکه چه څوک اسلام کښې داخلول ستا په قدرت کښې نه دی.

شان نزول: د بخاری، مسلم وغیره محدثینو تول په دې اتفاق دې چه دا ایت د ابو طالب په باره کښې نازل شوې دې، لکه امام بخاری رحمه الله د حضرت مسیب رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې فرمانی چه: لما حضرتْ اباطالبِ الوفاةُ جآءهُ رسول الله ﷺ فوجدعندهُ اباجهلٍ وعبدالله بن ابی امیّة بن المغیرة فقال ای عمّ، قُل لااله الاّالله، کلمةً اُحاجّ لکَ بهاعندالله فقال ابوجهل وعبدالله بن ابی امیة اترغب عن ملّة عبدالمطلب فلم یزل رسول الله ﷺ یعرضهاعلیه ویُعیدانه بتلک المقالة حتّی قال ابوطالب آخرماکلّمهم علی ملّة عبدالمطلب وابی ان یّقول لااله الاّالله، قالَ قال رسول الله ﷺ والله لاستغفرنّ لکَ مالم اُنهَ عنکَ فانزل الله، ماکان للنّبیّ والذین آمنواان یّستغفروالللمشرکین وانزل الله فی ابی طالب فقال لرسول الله ﷺ انکَ لاتهدی من احببتَ ولکنّ الله یهدی من یّشآء (بخاری کتاب التفسیر).

نو د دې ایت کریمه او حدیث نه معلومه شوه چه د ابو طالب وفات د کفر په حالت کښې شوې دې او دا قول د جمهورو او د اکثر اهل السنة والجماعة دې بعض حضرات د ابو طالب د ایمان قائله دی او استدلال ئې کړې دې په روایت د ابن اسحاق سره چه ذکر کړې دې هغه په خپل کتاب سیرت ابن هشام کښې په سند د عباس بن عبدالله بن معبد بن عباس عن بعضِ اهله سره، فرمانی چه: فلمّاتقاربَ من ابی طالب الموتُ قال نظرالعبّاس الیه یحرّکُ شفتیهِ قالَ فاصغیٰ الیهِ باُذنهِ قال فقال یاابن اخی واللهِ لقدقال اخی الکلمة الّتی امرتَه ان یّقولهاقال فقال رسول الله ﷺ لم اسمع (سیرت ابن هشام ج۱) یعنی هرکله چه ابو طالب ته مرګ نزدې شونو حضرت عباس رضی الله عنه اوکتلو چه ده شونډې خوزولې، نو حضرت عباس رضی الله عنه ورته غوږ نزدې کړو، نو حضرت عباس رضی الله عنه نبی پاک ﷺ ته عرض اوکړو چه اې وراره! ځما په الله تعالیٰ باندې قسم: چه ځما ورور هغه کلمه وائی چه د کومې کلمې ورته تا حکم کړې وو، نبی پاک ﷺ او فرمائیلو چه ما نه د ه اوریدلې.

دغه شان علامه اسماعیل حقی حنفی رحمه الله (المتوفی سنه ۱۱۲۷) په خپل تفسیر کښې فرمانی: وقدجآءفی بعضِ الرّوایاتِ انّ النبیّ ﷺ لمّاعادَمن حجّة الوداع احییَ الله له ابویهِ وعمّه

فآمنوابه(روح البیان ج۲)یعنی دحجة الوداع نه واپس کیدلوپه موقع کښ الله ﷻ دنبی پاک ﷺ مور، پلاراوتره(ابو طالب)ژونه دی کړی وواودوئی په نبی ﷺ باندې ایمان راوړې وولیکن لیکن جمهوراهل سنة والجماعة دنصوص اواحادیثوصریحه اوصحیحه دوجې نه،دې قائل دی چه دابو طالب مرګ دکفرپه حالت کښ شویدې.کچرې دایمان په حالت کښ ورته مرګ راغلې وې یائې ورستو ایمان متحقق شوې وې نونبی پاک ﷺ به دهغه دپاره مغفرت غوختلونه،نه وومنع کړې شوې،دغه شان په روایت دبخاری شریف کښ دی چه ابن عباس رضی الله عنه دنبی پاک ﷺ نه تپوس اوکړوچه یارسول الله!ابو طالب خوستادیرخدمت کړې ووددښمنانونه ئې ستاحفاظت کړې وو،دې به هغه ته څه فائده میلاؤشی،نبی پاک ﷺ ورته اوفرمائیلوچه دې فائده هغه ته داده چه دقیامت په ورځ به تولونه،اسان عذاب ده ته وی چه صرف به دپړکو(بنګرو)پورې به په اورکوی لیکن دهغې اثربه دده دماغوته رسیږی،اوکچرې څه نوې نودې به دجهنم په لاندې طبقه کښ وې اودغه شان په بخاری شریف کښ یوبل روایت دابن عباس رضی الله عنه نه مروی دې فرمائی:قال رسول الله ﷺ: انّ اهونَ اهل النّارعذاباًابو طالبٍ وهومتنعّل بنعلین یغلی منهمادماغه(بخاری).

نوددې تولونصوصواورواياتوپه بنیاداهل السنة والجماعة دابو طالب دکفرقائله دی،او روایت دابن اسحاق یاچه کوم روایاتوته علامه حقی اشاره کړیده تول ضعیف دی(والله اعلم) البته اهل سنة والجماعة ددې قائله دی چه ابو طالب کافرکیدلوباوجودهغه ته بد،ردوئیل دهغه سپکاوې کول دهغه په باره کښ دعام کفاروپشان خبرې کول وغیره جائزنه دی،علامه الوسی رحمه الله فرمائی:ثم انه علی القول بعدم اسلامه لاینبغی سبه والتکلم فیه بفضول الکلام،فان ذلک ممایتاذی به العلویون بل لایبعدان یکون ممایتاذی به النبی ﷺ الذی نطقت الایة بناءً علی هذه الروایات بحبه ایاه(روح المعانی).

﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي ﴾ددې نفی هدایت نه مرادنفی دقدرت ده په ادخال فی الاسلام باندې،چه په عاموالفاظوکښ ورنه تعبیرپه ایصال الی المطلوب سره کیږی.یعنی داستاپه قدرت اواختیارکښ نه ده چه ستاخوښ وی هغه به په اسلام کښ داخله وې بلکه دادالله ﷻ قدرت اواختیاردې اونفی د"دلالت علی مایوصل الی المطلوب"نده چه عام الفاظوکښ ورنه تعبیرپه

"اراءة الطريق" لارې خودلو، سره كيږي ځكه چه هغه دنبي پاكﷺ ذمه داري ده، نو دعوت او تبليغ او دحقې لارې وضاحت دنبيﷺ كار دې او دهغه ذمه داري ده نو ځكه په سورة الشورى ايت نمبر(۲۵) كښې دي "وانک لتهدى الى صراط مستقيم" او په اسلام كښې ځوک داخلول او هدايت توفيق وركول دپيغمبر په اختيار كښې نه دي بلكه دالله ﷻ په اختيار كښې دي چه په دې كښې مراد دې نو ځكه دلته نفي دنبي پاكﷺ نه اوشوه

﴿وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ﴾ داعلت د "لاتهدى" دپاره دې يعنى هدايت ستا په اختيار كښې ځكه ندې چه تا ته داعلم نيشته دې چه مستعد او قابل د توفيق دپاره دهدايت ځوک دى داعلم صرف او صرف الله ﷻ سره دې نو په دې كښې رد په شرک فى التصرف او فى العلم دواړو باندې راغلې ﴿وَقَالُوٓا۟ إِن نَّتَّبِعِ ٱلْهُدَىٰ﴾ دا دويمه شكوىٰ ده خلاصه دې داده چه بعض مشركينو نبي پاكﷺ ته دا اوئيلو چه مونږ ته ښه پته ده چه ته بالكل برحق نبي ئې ليكن مونږ په تا باندې ايمان ځكه نشو راوړې چه ټول عرب زمونږ مخالف كيږي او مونږ باندې به جمله اوكړى او دمكې نه به مو بهر كړى او زمونږ تعداد ډير كم دې.

﴿أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ﴾ داجواب شكوىٰ ده په اول وجه سره خلاصه ئې داده چه ددوئى داعذر ځكه غلط دې چه دوئى خپله ګورى چه ټول عرب په خپل مينځ كښې قتل مقاتلې كوى ليكن دشرک باوجود دوئى ته الله ﷻ په حرم شريف كښې دامن والا ټهكانه وركړيده او ددنيا هرخطې نه ورته ميوې رارسوى، نو هركله چه دوئى دحرم پاک په بركت سره محفوظ او مامون دى باوجود ددې چه مشركان دى، نو كه دوئى ايمان راوړى نو دحرمت ايمان دوجې به نور به هم په سكون او اطمينان شى.

علامه قرطبى رحمه الله ددې يو بل تفسير ديحيى بن سلام نه نقل كړيدې چه الله ﷻ فرمائى چه تاسو څما په حرم كښې په امن سره پاتې كيږئ، څما رزق خورئ او عبادت دبل چاكوئ او څمانه، نه ويريګئ، تاسو دومره نه پوهيږئ چه دچا په ځائى كښې ژوندتيره وې، دچا رزق خورې دهغه دنافرمانئ نه، ځان بچه كول پكاردى او دهغه نه ويره پكار ده او كه دهغه چانه ويره پكار ده چه نه ټهكانه دركولې شى او نه رزق دركولې شى؟

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ
او ډېرهلاک کړيدي مونږکلي چه ناز ئې کولو په خپل معيشت .نودغه دي کورونه ددوئ
لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ۝٥٨
چه ستوګنه پکښ نده کړې شوې ورستوددوئ نه مګرلږ،چه مسافرپکښ دمه کړې وي،اووومونږوارثان دهغې

﴿وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ﴾داجواب شکوئ ده په دويمې وجې سره اوتخويف دنيوی ذکرکيږي.خلاصه ئې داده چه اصل دخوف اوويرې والاځيزكفراوشرک دې چه داسبب دتباهئ اوهلاکت دې،تاسودنوروكافرقومونوپه حالت باندې نظرواچوئی چه ډيردعيش وعشرت والاژوندئې تيرولو ،الله ﷻآخرنګه هلاک کړيدی،ستاسوسره نزدې دهغوئ علاقې ورانې اوغيرابادی پرتې دی که تاسوهم پدې خپل شرک باندې مصريئ اوتوحيدنه منئ نوالله ﷻبه تاسوهم هلاک کړی.

﴿ إِلَّا قَلِيلٗا﴾ددې په مستثنى منه کښ دوه(۲)احتمالات دی(۱)يواحتمال دادې چه مستثنی منه ددې دپاره سکنی مصدردې چه په هغې دلالت کړيدې﴿ لَمۡ تُسۡكَن ﴾نومعنیٰ ئې داده چه لم تسكن الاسكنى قليلاً يعنی پدغه علاقوکښ دډيرلږوخت دپاره اوسيدل کيږی چه څوک مسافرراشي اوياڅوک په لاره باندې تيريږی نودلږوخت دپاره اودريږی:ای لم يسكنها الاالمسافرومارالطريق(بحر،کبير).

(۲)دويم احتمال دادې چه دا استثناء دمساکن نه ده،نومعنیٰ ئې داده چه فتلك مساكنهم لم تسكن من بعدهم الاقليلاًمنها سكن يعني اکثرددې مساکنونه،خراب اوويران دی څوک پکښ نه اوسيږی ډيرکم مساکن داسې دی چه په هغې کښ خلك اوسيږی(قرطبی،بحر).علامه زمخشری فرمائی چه ممکنه ده چه دهلاك شووقومونودګناهونودنحوست دوجې نه داعلاقه داوسيدلوقابله نه وی اوچه څوك هم ورته راځی نولږه مده پس هغه هم ختميږی اووفات کيږی.

﴿وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ﴾ دلته دَوارثت نه مراد یامجرد انتقال دې دَهغوئی نه یعنی مالك حقیقی دَهرڅیز الله ﷻ دې، خولږ مدت دَمنفعت دَپاره الله ﷻ دَختې څیزونو ظاهری مالکان انسانان جوړ کړیدی، نو الله ﷻ نافرمانی چه دَدوئی دَمعاصیو دَوجې نه مادَدوئی نه دَدغې علاقې ظاهری تصرف واپس واغستلو، دوئی ټول مې هلاك کړل، اویادَوراثت نه مرادالحاق دَدغې علاقې دې دَخپل اصل حالت سره یعنی دازمکه اوعلاقه چه په ابتداء کښې څرنګې وه هغه شان مې کړه، چې هڅ څوك پکښې نه اوسیږی، او شړه پرته ده.

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ
اوندې رب ستاهلاکونکې دکلوتردې چه ولیږی په مرکزی ښاردهغې کښې رسول چه لولی پدوئ
اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرٰٓى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ
آیاتونه زمونږ، اونه یومونږهلاکونکی دکلومګراهل دَهغې ظالمان وی،اوهغه څه چه درکړې شویدي تاسونه
مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ
هرڅیزچه وی نوهغه معمولی نفع دَژوندددنیاده اودَهغې ښائست دې اوهغه څه چې الله ﷻ سره دی
خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾
زیات غوره دی اوزیات پاتې کیدونکی دي، آیاتاسوعقل نه لرئ

﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى ﴾ پدیکښې دَتخویف سره سره دَالله ﷻ عادت اوسنت ذکرکیږی، چه یوقوم الله ﷻ ترهغه وخته پورې نه هلاك کوی ترڅوپورې چه دَعلاقې لوئی اومرکزی ښهرکښې رسول نه وی مبعوث کړې، چه هغه خلکوته دَالله ﷻ پیغام واوره وی، نو کچرې خلك انکاراوکړی اونافرمانی شروع کړی نوبیادَدَطرف نه، عذاب راځی.

﴿حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا ﴾ "ام" اصل کښې "مور" ته وئیلې کیږي، خوچونکه "مور" دَحیوان دَتخلیق دَپاره اصل اواساس دې نودَدې وجې نه دَ "ام" اطلاق عموماً په اصل اواساس باندې کیږی.

او په "امها" کښ ضمير ﴿ٱلۡقُرَىٰ﴾ ته راجع دې نو دَدي وجې نه، مرادترينه "ام القرىٰ" دي، او دَ "ام القرىٰ" اطلاق په مکې معظمې باندې کيږي، ځکه چه ټوله زمکه دَدي نه خوره کړې شويده، لکه سورة ال عمران "انّ اوّل بيتٍ وُضعَ للنّاس" کښ ذکردی، ليکن کله کله دَقرينې دَوجې نه ئې اطلاق په لوئی، اومرکزی شهرباندې هم کيږي، اومرکزی شهرته "ام القرىٰ" دَوجې نه وئيلې شی چه ټولې ملحقه قريئې په احکاماتوکښ دَمرکزی شهرتابع دی اواحکاماتودَپاره اصل دغه شهروی، نودلته هم دَغوره قول مطابق "ام القرىٰ" نه مرادمرکزی اولوئی شهردې اودَبعث دَ رسول دَپاره تخصيص دَمرکزي شهرکيږی چه دَدې اهل اشراف وی(خازن) لکه چه سياق دکلام پدې دلالت کوی، اګرچه بعضِ مفسرين فرمائی چه دَ "ام القرىٰ" نه مراددلته هم مکه مکرمه ده او﴿ رَسُولاً﴾ نه مراد نبی پاکﷺ دې، اودَايت مقصد دادې چه اللهﷻ فرمائی چه تراوسه پورې مې مشرکين عرب ځکه نه هلاک کړلوچه مکې مکرمې ته نبی پاکﷺ نه وومبعوث شوې، اواوس چه نبی پاکﷺ مبعوث شواودوئی دَايمان نه انکاراوکړونواوس ئې دَهلاکت وخت راغليدې.

﴿وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٍ﴾ داپه دريمې وجې سره دَشکوې جواب ذکرکيږی اوترغيب ورکولې کيږی ايمان ته، خلاصه ئې داده چه دَمخلوق دَيرې اودَهغوئی دَتکليف رسولودَخوف نه ايمان مه پريدئی، ځکه چه دَدنياعيش اوعشرت اوخوشحالئ هميشه دَپاره نه دی خامخاختميږی، دغه شان دَدنياتکليفونه هم هميشه دَپاره نه دی دَايمان په خاطرپه دنياکښ لږ تکليف برداشت کول دَسعادت ابدی، اخروی ذريعه ګرځيږی، چه لږتکليف برداشت کړئی هميشه دَپاره خوشحالئ به حاصلې کړئی اوکچرې ددې لږتکليف نه اوويريدلئ، اوايمان موپريخودلونوبيا به هميشه دَپاره په تکليف کښ وئی. ﴿ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴾ استفهام دَزجراوتوبيخ دَپاره دې چه آيادومره عقل نه لرئی پدې نه پوهيږئی چه لږتکليف اوهميشه خوشحالی بنه ده اوکه لږه خوشحالی اوهميشه دَپاره تکليف بنه دې؟

اَفَمَنْ	وَّعَدْنٰهُ	وَعْدًا	حَسَنًا	فَهُوَ	لَاقِيْهِ

آیاهغه څوک چه وعده کړې وی مونږهغه سره وعده ښائسته وعده دجنت اوهغه موندونکی وی دهغی

كَمَنْ	مَّتَّعْنٰهُ	مَتَاعَ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا	ثُمَّ	هُوَ	يَوْمَ	الْقِيٰمَةِ

کیدیشی دې پشان دَ هغه کس چه نفع ورکړې وی مونږهغه ته نفع دژونددنیابیابه وی په ورځ دقیامت

مِنَ	الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾	وَيَوْمَ	يُنَادِيْهِمْ	فَيَقُوْلُ	اَيْنَ

دحاضرکړې شوؤنه جهنم ته اوپه هغه ورځ چه اوازبه اوکړی دوئ ته الله جل جلالهٗ نووږنه به وائی کوم ځائ دی

شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾

شریکان ځما هغه چه تاسو پرې ګمان دَخدائی کولو.

﴿ أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ ﴾ په دیکښې فرق بیانیږی دَدنیاپرستواودَنیکانوپه مینځ کښې او استفهام دَپاره دَانکاردې، خلاصه داده چه یوهغه مؤمن دې چې دَهغه سره الله جل جلالهٗ دَجنت دَدائمی نعمتونووعده کړیده اوهغه نعمتونه به خامخاهغه ته میلاویږی، اوبل هغه مشرک دې چه دَایمان نه محروم دې لیکن دَدنیادَیوڅوورځوفانی عیش وعشرتونوکښې دې، اواخرت کښې به دائمی عذاب ته حاضرکړې شی اودائمی عذاب کښې به مبتلاکړې شی آیادادواړه برابرکیدې شی؟

﴿ ثُمَّ هُوَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ ثم دَتراخی زمان دَپاره هم ده اودَتراخی دَحال دَتمتع، دَپاره هم کیدې شی، او﴿مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴾نه مراد محضرين بالنار دی، اوالفظ تغلیباً دکفارودَپاره استعمالیږی، ځکه چه کفاربه دَقیامت په ورځ جهنم ته په زبردستئ سره حاضرولې شی اوپه خپلې رضااوشوق سره په جهنم ته نه ځی لکه څرنګه مؤمنان به په شوق سره جنت ته ځی

﴿وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ ﴾داتخویف اخروی دې او﴿شُرَكَآءِيَ﴾نه مرادټول معبودان غیرالله مراددی، چه مشرکینوپه هغوئی باندې دکارسازاوشفیع ګمان کولو. اودااستفهام اوسوال به

دَالله ﷻ دَطرف نه دَپاره دَتوبیخ اوتبکیت دَدوئی وی .یعنی الله ﷻ به دَقیامت په ورځ دَدوئی دَحسرت اضافه کولودَپاره دَدوئی نه سوال اوکری چه ستاسوهغه معبودان څه شوچه ستاسو پرې داعقیده جوړه وه چه دوئی به زمونږسفارشان وی اودَالله ﷻ دَعذاب نه به مونږته خلاصې راکوی

قَالَ	الَّذِيْنَ	حَقَّ	عَلَيْهِمُ	الْقَوْلُ	رَبَّنَا	هٰٓؤُلَآءِ

اوبه وائی هغه کسان یعنی متبوعین چه ثابته شویده په هغوئ فیصله دعذاب. اې ربه زمونږدااتباع هغه

الَّذِيْنَ	اَغْوَيْنَا	اَغْوَيْنٰهُمْ	كَمَا	غَوَيْنَا	تَبَرَّاْنَآ	اِلَيْكَ

خلق دی چه مونږگمراه کړیدی .مونږگمراه کړی وؤدوئ څکه چه مونږگمراه وؤ .بیزاره یومونږستا په مخکښ دَ دوئ نه.

مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾

نه وؤدوئ چه زمونږعبادت ئې کولو(زمونږپه مرضئ).

﴿قَالَ الَّذِينَ حَقَّ﴾ پدې ایت کښې دَدوئی یعنی اتباع کفاروا ودَمتبوعینو دَیوبل نه تبری اوبیزارئ ذکرکیږی اوهرکله چه ماقبل سوال دَپاره دَتبکیت وواواتباع به په دغې سوال سره خاموش پاتې شی نودامتبوعین به داخیال اوکړې چه کیدې شی چه عنقریب دوئی دااوائی چه دې مشرانومونږگمراه کړی یو ،نوځکه دامتبوعین به دَهغوئی دَخبرې نه اول جواب ورکړی اوداهم ممکنه ده چه دَعابدانودَطرف نه اعتذاراوعذرپیش کړې شی چه یاربَّ هٰؤلاءاضلّونا نودامشران به خپله تبریه ظاهره کړی اوداجواب اوبه ورکړی رَبّناهٰؤلاء خلاصه دجواب داده چه دوئی ته ښه پته وه چه مونږگمراه یومونږدوئی ته صرف دَباطل دعوت ورکړودوئی قبول کړونودَدوئی گمراهي په خپل اختیارسره وه مونږپرې جبرنه ووکړې.لکه څرنگه دوئی ته انبیاءکرام راغلی وودَحق لارې دعوت ئې ورته ورکړې وو.اودوئی ئې په ایمان باندې مجبوره کولې نه شودغه شان مونږهم دوئی په کفرباندې نه دی مجبوره کړی نو ﴿قَالَ الَّذِينَ حَقَّ﴾ نه مرادرؤساءاومشران دکفارودی او ﴿الَّذِينَ﴾ موصول او ﴿حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ﴾ ورله صله ده.اومرادپدې سره فیصله دَعذاب ده اودامضمون دَصلې یعنی فیصله دَعذاب

اګرچه متبوعينو او اتباعو تولو ته شامل دي ليکن تخصيص دَرؤساؤ او مشرانو ځکه اوشو چه دوئی په کفر کښ او په استحقاق دَعذاب کښ اصل دی (روح المعانی).

﴿أَغْوَيْنَآ﴾ داتسليم دَاضلال دي اجمالاً. يعنی هاؤبالکل مونږ دوئی ګمراه کړيدی

﴿أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ﴾ داتفصيل دي او کاف په ﴿ كَمَا﴾ کښ دَپاره دَعلت دي او داعلت دي دَماقبل دَپاره مقصد دادي، چه چونکه مونږ په خپله ګمراه وونو دوئی موهم ګمراه کړل ځکه چه ګمراه او کافر خوچا ته سمه لاره نه ښائی، او يا کاف دَپاره دَتشبيه دي نو مقصدئې دادي چه لکه څرنګه مونږ په خپل اختيارسره ګمراه شوی وو، نودغه شان دوئی هم په خپل اختيارسره ګمراهی اختيار کړيده. ﴿تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ﴾ منهم ورسره محذوف دي يعنی مونږ تاته دَدوئی نه خپله بيزاری ظاهره وو، چه په مونږ باندي دَدوئی دَوجې نه څه ملامتيا نيشته دي.

﴿مَا كَانُوٓا۟ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ﴾ يعنی دوئی جبراًزمونږ اطاعت او عبادت نه دي کړي بلکه دوئی دَخپلو خواهشاتو اتباع کړيده او ګمراه شويدی.

وَقِيلَ	ادْعُوا	شُرَكَآءَكُمْ	فَدَعَوْهُمْ	فَلَمْ	يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ
او اوبه وئيلې شی راوغواړئ شريکان خپل. نو دوئ به نی راوغواړی نو جواب به ورنه کړی دوئ ته					
وَرَأَوُا	الْعَذَابَ	لَوْ	أَنَّهُمْ	كَانُوا	يَهْتَدُونَ ﴿۶۴﴾
او اوبه وينی عذاب	«وائی به» افسوس	چه مونږ به	سمه لار	تللې	

﴿وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ﴾ دا دويم سوال دي دکفارونه، او دا سوال به دوئی ته تهديد او دَدوئی دَزيات تحقير دَپاره وی. يعنی دا به ورته اوئيلې شی چه خپل معبودان راوبلئ کوم باندي چه تاسو دَسفارشيانو او دکارساز ګمان کولو چه ستاسو امداد او کړی او دَعذاب نه خوخلاص کړی.

﴿فَدَعَوْهُمْ﴾ نودوئی به ورته اوازونه اوکړی. اودَدوئی دابلنه به دشدت حیرت اودَ اهوالونه وی،ورنه حقیقةً دَدوئی نه به بلنه نه وی طلب کړې شوی﴿فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ﴾ استجابت نه مراد قولی اوعملی دواړه دی یعنی نه به ورته په ژبه باندې څه جواب ورکړی اونه به دَدوئی څه امداداونصرت اوکړی قولی اجابت به خوځکه نشی کولې چه دَقیامت په ورځ به هرکس په خپل شغل کښې وی بل څوک به ورنه هیروی،اوعملی اجابت نه کول خوظاهردی چه دَدوئی په امداداونصرت باندې به قدرت نه لری.

﴿وَرَأَوُا الْعَذَابَ﴾پدې وخت کښې به دوئی ته عذاب موعودهم مستحضرکړې شی،اودوئی به ئې په خپلو سترګوباندې اوګوری.﴿لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا﴾ لو یاتمنائیه دې اوددینه مخکښې فعل تمنی محذوف دې ای تمنوالوانهم کانوایهتدون یعنی دوئی به تمناکوی چه کاش مونږهدایت یافته وې اویالو شرطیه دې اوجواب دَلو محذوف دې چه لم یروُالعذاب دې،یعنی کچرې مونږ په هدایت باندې وې نوداعذاب به مونه کتلې،اوبعضِ فرمائی چه﴿يَهْتَدُونَ﴾په معنی دَیعلمون سره دې اوجواب محذوف دَلو مادعوهم دې،یعنی دوئی به وائی کچرې مونږته پته اوعلم وې چه دوئی زمونږامدادنشی کولې نو مونږبه دَدوئی عبادت نه وې کړې.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ
اوپه هغه ورځ چه اوازاوکړی دوئ ته الله جل جلاله نوورته وائی به څه جواب ورکړې وؤتاسورسولانوته ،نو ګډې وډې به شي
عَلَيْهِمُ الْأَنبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾ فَأَمَّا مَن تَابَ
دوئ نه خبرې پدغه ورځ نودوئ به تپوس نه شي کولې دَيوبل نه،نوچاچه توبه اوباسله
وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَن يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾
اوایمان ئی راوړواوعمل ئی اوکړونیک نوقریبه ده چه شی دې دکامیابی موندونکونه

﴿وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ﴾ دادريم سوال دي زجراًاوتوبيخاًپه باره داتباع درسولانو کښې.اول دواړه سوالونه توبيخاًدشرک په باره کښې وواودا سوال توبيخ دپاره دي په باره دعدم اجابت ددعوت درسولانو کښې.يعنې انبياءکرام اورسولان تاسوته راغلی ووااودتوحيددعوت ئې درکړې وو.تاسوهغوئی ته څه جواب ورکړې وو.دهغوئی خبره موقولاًاوعملاًمنلې وه اوکه نه؟﴿فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنبَاءُ﴾ انبآءنه مراددوئی نه طلب کړې شوی دلائل اودوئی هغه غلط عذرونه اوحيلې اوبهانې دی چه دوئی دانبياءکرامودا تباع نه کولودپاره بيانه ولی او فعميت عليهم الانبآء په اصل کښې فعمواعن الانباء دي،اومرادپه عمی سره عدم اهتداء يعنې هيريدل او په خبرو کښې ګډوډيدل دی،بيادمبالغې دپاره قلب اوکړې شواونسبت دعمی انبآء ته اوکړې شواودغه شان پدې قلب کښې اشاره ده دېته چه په دنياکښې کوم عذرونه اووجوهات بيانه ولې شی هغه عارضی وی،اودبيرونی تاثراتونتيجه وی.نودقيامت په ورځ به دغه خارجي اوعارضی تاثرات به ختم شی،اوهيڅ حيله به هم دوئی ته کارورنکړی نوګوياچه دوئی نه به داخبرونه رانده شی اودوئی ته به نشی رارسيدلې.﴿ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴾يعنې دډيرهيبت دوجې نه به ورنه هرڅه هيرشی اودېوبل نه به تپوس هم نشی کولې.

﴿ فَأَمَّا مَن تَابَ وَآمَنَ ﴾دابشارت ذکرکيږی مؤمنانوته چه څوک دشرک نه توبه اوباسی اوايمان راوړی اونيک عمل يعنې خپل عمل دسنت موافق کړی نودغه کس کامياب دې.نوفلاح الله تعالیٰ مرتبه کړه په درې اموروباندې(۱)توبه عن الشرک(۲)آمن يعنې دتوحيدسره سره خپل نورعقائدصحيح کول(۳)وَعَمِلَ صَالِحًا يعنې سنت موافق عمل کول.

اوحقيقت دتوبې دادې چه(۱)ندامت بالقلب وی(۲)ترک دمعصيت فی الحال وی(۳)عزم په عدم عودفی المآل وی(۴)که قضاءدمافات ممکن وی نودهغه قضاراګرځول دی(۵)اوکچرې ددغې جرم تعلق دحقوق العبادسره وی نودهغه انسان نه هم معافی غوختل دی دچاحق تلفی چه کړې شويده.﴿فَعَسَىٰ أَن يَكُونَ ﴾عسیٰ په کلام دکرام کښې دتحقيق دپاره وی

نو الله ﷻ اکرام الاکرمین، دي، نو دَ دي وجې نه "عسیٰ" په کلام الهی کښې دَتحقیق او وجوب دَپاره دي

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۗ سُبْحٰنَ اللّٰهِ
[1] اورب ستا پیدا کوی څه ئی چه خوښه شی او غوره کوی ئې.نشته دي دوئ لره(بتانولره) اختیار.پاک دي الله ﷻ
وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ
اولوئ دي دهغی نه چه دوئ ورسره شریکوی.اورب ستا پوهه دي په هغه څه چه پټوی ئی سینی دَدوئ
وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾
او څه چه ښکاره کوی.

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ﴾ نه دادَسورت دریمه او اخری حصه ده چه پدیکښې اکثر دلائل عقلیه او نقلیه په توحیدباندي ذکرکیږی.یعنی پنځه عقلی دلیلونه په توحیدباندي ذکرکیږی.بیا تخویف اخروی او بیا دلیل نقلی ذکرکیږی او امورمتفرعه ذکرکیږی دااول دَلیل عقلی دي په توحیدباندي،یعنی دَټول کائنات خالق متصرف او مختارصرف اوصرف الله ﷻ دي، مخلوقاتو کښې الله ﷻ چاته هم دَتصرف اختیارنه دي ورکړي.

اکثرمفسرین فرمائی چه﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾نه دَتکوینی امورو اختیاردي مثلاً څوک ئې سړي پیداکړو څوک ئې زنانه،څوک ئې انسان پیداکړو او څوک ئې حیوان اودَ﴿وَيَخْتَارُ﴾نه مرادتشریعی امورو اختیاردي مثلاً چاته ئې دَنیکئ اودَاطاعت توفیق ورکړو او څوک ئې گمراه کړو،یعنی الله ﷻ په امورتکوینیه او تشریعیه دواړوکښې تن تنهادي څوک ورسره شریک نیشته دي نو داصریح رَدّدي په معتزلو او خوارجو باندي،او په هغه خلکو باندي چه اولیآءته خدائی تصرف ثابتوی،اوبعضِ مفسرین فرمائی چه دَيخلق مايشآء نه دَتکوینی امور

[1] دَسورت دریمه حصه

واختيار مراد دي، او د "يختار" نه مراد مختاره كول د پاره د نبوت دي، او دا جواب دې د مشركينو د هغې خبرې چه دوئى به وئيل چه "لولا نزّل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم"

﴿مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ﴾ دلته واو عاطفه رانه وړې شوځكه چه دا بيان د "يختار" دې. نو د آيت معنى داده چه اختيار مندبل څوک نه دې سيوا د الله تعالى نه، ځکه چه الله تعالى په خپلو افعالو په حکمت باندې عالم دې (مدارک).

﴿الْخِيَرَةُ﴾ کښې الف لام د عهد د پاره دې او مراد پدې سره مخصوص امور چه هغه غير اختياري او غير داخل تحت قدرت د عبد دى هغه مراد دى او اختياري او کسبي امور، ورنه ندى مراد نو لهذا دا آيت د جبريه د پاره هم مستدل نه گرځى (محاسن التاويل). ﴿سُبْحَانَ اللَّهِ﴾ دا تفريع ده په ماقبل دليل باندې.

﴿وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ﴾ دا دويم دليل عقلى دې چه عالم الغيب صرف او صرف الله تعالى دې ځکه چه علم د هغه محيط دې په هرڅه باندې ځرگند دې که پټ دې نو معلومه شوه چه عبادت لائق صرف الله تعالى دې، او د ﴿مَا تُكِنُّ﴾ نه مراد عقائد باطله او عداوت د نبي پاک ﷺ سره وغيره تول خفيه امور دى، او هر کله چه علم د مخفى مستلزم نه وو علم جلى لره ځکه چه کله کله د دې علم جلى د پاره مانع "بعد" يا "شور" يا اختلاط د اصواتو او گرځى او صرف خفاء دهغې د پاره مانع نه وى نو ځکه د ﴿مَا تُكِنُّ﴾ نه ورستو ﴿وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ مستقل ذکر شو.

وَهُوَ اللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ وَالْآخِرَةِ ۖ
او هم هغه الله دې نشته دې بل څوک لائق د عبادت مگر دې دې، صرف ده لره صفتونه د خدائ توب دي په دنيا کښې او آخرت کښې
وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۞ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ
او ده لره دې حکم او خاص ده ته به تاسو واپس کولې کيږئ ته او وايه خبر راکړئ ما ته کچرته او گرځوى الله تعالى په تاسو

الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ
شپه همیشه تروړخی دقیامته،نوځوک دي اله غیرد الله ﷻ نه چه راولی په تاسورڼا.
اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ۝
آیاتاسونه اورئ

﴿ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾دا ثمره ذکرکیږی دماقبل دوارو دلیلونو اوپدې ایت کښې څلور کلمات دتوحید ذکر دی(۱)﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ﴾،چه داتوحید دالوهیت دې(۲)﴿لَهُ الْحَمْدُ ﴾داتوحید دصفاتو دې،یعنی دنیا او آخرت کښې صفات دکارسازئی الله ﷻ له ثابت دی(۳)﴿وَلَهُ الْحُكْمُ ﴾چه داتوحید فی القدر والقضاء دې،یعنی تقدیر او قضاء محض دالله ﷻ دطرف نه ده حکم صرف دالله ﷻ چلیږی دحاجت روائی اومشکل کشائی فیصلو اختیار صرف اوصرف دالله ﷻ سره دې(۴)﴿وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴾،داتوحید فی الجزاء والحساب دې یعنی ستاسو واپس کیدل صرف اوصرف الله ﷻ ته دی،اوهغه به مطیع ته داطاعت اجرورکوی اومسئ ته به دبدعملونو سزا ورکوی(کچرې خوبنه شي نومعاف به ئې کړی).

﴿ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ ﴾دادریم دلیل عقلی دې اودا اعترافی دې،یعنی علی سبیل الاعتراف من الخصم دې،ځکه چه دخصم نه تپوس کړې شویدې اوهغه سکوت کړیدې نودهغه سکوت په منزله داقرار او اعتراف دې اوپدې دلیل کښې یوه نمونه داختیار دالله ﷻ ذکرشویده چه شپه اوورځ دالله ﷻ په قبضه او اختیار کښې دی خلاصه دلیل داده چه کچرې الله ﷻ اوغواړی چه ترقیامته پورې دې شپه وی،ورځ دې نه راځی نودالله ﷻ نه علاوه بل څوک داسې واکداره اختیارمندشته دې چه ستاسو دړنړا بندوبست اوکړی،اوتاسوته ورځ جوړه کړی،نوهرکله چه تاسو دې اقرارکوئی چه بل څوک واکدارنیشته دې نوبیاولې شرك کوئی.﴿ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴾دې سماع نه،سماع نافع او سماع قبول مراد ده.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ
نه اووایه خبرراکړئ ماته کچرته اوګرځوی الله ﷻ په تاسو ورځ همیشه تروړخی دقیامته.

مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللهِ يَأْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝٧٢							
نوڅوک دې اله غيرد الله ﷻ چه راولي تاسوته شپه چه ارام اوکړئ په هغې کښې.آياتاسو نه وينئ							
وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ							
اودمهرباني د الله ﷻ داده چه ګرځولې ئې ده ستاسو لپاره شپه تياره او ورځ رڼا چې ارام اوکړئ په هغې کښې							
وَلِتَبْتَغُوْا	مِنْ	فَضْلِهٖ	وَلَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ ۝٧٣			
اوتالاش	کړئ	دَ	رزق	د الله ﷻ	اوچه	تاسو شکرادا کړئ	

﴿ قُلْ اَرَءَيْتُمْ ﴾داڅلورم دليل عقلي دې اوداهم على سبيل الاعتراف من الخصم دې يعنى کچرې الله ﷻ ترقيامته پورې ورځ اوګده کړی نو بل داسې څوک واکدارې شته دې چه ستاسو دَارام دَپاره شپه راولي؟نوهرکله چه تاسوهم دَدې اعتراف کوئی نو بيا ولې شرک کوئی.

فائده نمبر(١)هرکله چه شپه مقدمه ده په ورځ باندې طبعًانو دَدې وجې نه ذکراًهم مقدمه شوه اوکه څوک اشکال اوکړی چه دشپې دَذکرسره سکون اوارام منفعت ذکرشو ،نودَحسن تقابل تقاضاداوه چه دَورځې سره په هغې کښې دَتصرفات فى المعاش منافع ذکرشوې وې لکه څرنګه په نوروآياتونوکښې دی.حالانکه دلته صرف ضياء منفعت ذکرشو؟جواب داکړې شويدې چه منفعت ضياء متضمن اومستلزم دې منافع کثيرولره ځکه چه ډيرکارونه داسې دی چه په شپه کښې نه کيږې اوپه ورځ کښې په سهولت سره کيږی نودَدې وجې نه ذکردَ ضياء اوشواوکه بياڅوک اشکال اوکړی چه دَحسن تقابل دَرعايت دَپاره به دَشپې سره منفعت دَ ظلام اودَ مظلم ذکرشوې وې؟نوجواب داکړې شويدې چه ظلمت کښې هغه فوائد او منافع نيشته دې کومې چه په ضياء کښې دی نودَدې وجې نه تقابلاًدَدې ذکراونشو.اودويم جواب دادې چه اجل اولوئی غرض دَشپې نه هغه سکون اوارام کول دی،نودَدې وجې نه دَشپې په منافعوکښې صرف داذکرشو.په خلاف دَورځې نه چه طلب دَمعاش دَهغې بعضِ منافع دی نوددې وجې نه دَورځ په منافعوکښې يوجامعې لفظ ذکرشوچه مستلزم دې ټولو منافعو او فوائدولره.

فائده نمبر (۲) په اول ایت کښې استداومت او داوګدوالی دَشپې ذکروؤ او دَشپې اوریدل کیږی اولیدل کتل کمزوري وی نو دَدې وجې نه دَهغې سره ذکر دَ﴿ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴾ او شو او په دویم کښې دَورځ دَدوام ذکردې، او په ورځ کښې لیدل، کتل زیات کیږی دَاوریدلو نه نو دَدې وجې نه دَهغې سره دَ﴿أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾ ذکر او شو او صاحب دَروح المعانی فرمائی چه په تقدیم دَ﴿أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴾ کښې اشاره ده چه نص او نقل مقدم دې په عقل او قیاس باندې.

﴿ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ﴾ دا پنځم دلیل عقلي دې یعنی الله ﷻ محض په خپل فضل وکرم سره ستاسو دَپاره شپه او ورځ پیدا کړیدی دَشپې تاسو ارام کوئی او دَورځې تاسو روزی او رزق تالاش کوئی دا دَالله ﷻ دَطرف نه په تاسو باندې لوئی انعامات دی، ددې انعاماتو شکر اداکول په تاسو باندې ضروری دی او دَالله ﷻ شکر اداکول دادی چه دَهغه دَوحدانیت اقرار او کړې شی او دهغه دَحکم اطاعت او کړې شی.

وَيَوْمَ	يُنَادِيهِمْ	فَيَقُولُ	أَيْنَ	شُرَكَاءِيَ	الَّذِينَ	كُنتُمْ
او په هغه ورځ چه آوازاوکړی دوئ ته الله ﷻ نو ورته اوبه وائی کوم ځائ دی شریکان خماهغه چه تاسو پیږې						
تَزْعُمُونَ ۞	وَنَزَعْنَا	مِن	كُلِّ	أُمَّةٍ	شَهِيدًا	فَقُلْنَا هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ
ګمان دَخدائی کولو. او مونږ به رااوباسو دَهرامت نه ګواهی کونکې نو مونږ به ورته اووایو، راوړئ دلیل خپل						
فَعَلِمُوا	أَنَّ	الْحَقَّ	لِلَّهِ	وَضَلَّ	عَنْهُم	مَّا كَانُوا
نو دوئ به پوهه شی چه حق دَ الوهیت الله ﷻ لره دې او هیر به شی دَدوئ نه هغه دروغ چه دوئ						
يَفْتَرُونَ ۞						
جوړول چه داخدایان دی.						

﴿وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ﴾ داتخويف اخروی دې يعنی قيامت په ورځ به دمشرکينو نه به الله ﷻ تپوس اوکړی چه تاسو په چاباندې ګمان کولو چه داکارسازدی اوداالله ﷻ سره شريك دی هغه شرکاءچرته دی؟ستاسو امدادولې نه کوی؟
اوتکراردَدې تخويف اوزجراوشودَپاره ددې چه اشعاراوتنبيه راشی پدې چه شرك دَالله ﷻ دغضب لويه ذريعه ده لکه څرنګه توحيددَالله ﷻ دَرضالويه ذريعه ده. اوياداواجه ده چه په اول زجرکښې اشاره وه فساددَرائ دَدوئی ته اوپدې کښې دَدې خبرې ذکردې چه دَدوئی شرك کول بلاسنده اوبلادليله دی.

﴿وَنَزَعۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ﴾ نزعنا په معنی دَ"اخرجنا"او"اظهرنا"سره دې صيغه دَماضی دَپاره دتحقق اوتيقن ده او﴿شَهِيدًا﴾ نه مرادنبې اوپيغمبردی چه دَهرامت نبی به بيان اوګواهی ورکوی چه ماخپل امت ته تبليغ کړې وو،اوامت چه نبی ته کوم جواب ورکړې وی نبی به دَهغې متعلق ګواهی ورکوی اودغه شان ذکرپه سورة النسآء ايت نمبر(۴۱)دې.

﴿فَقُلۡنَا هَاتُواْ﴾ يعنی مشرکينوته به توبيخاًالله ﷻ اوفرمائی چه کوم تاسو په دنياکښې شرك کولو،اودَالله ﷻ نه سيوابل چاته موالوهيت اوصفت دکارسازئی ثابته ولونواوس په هغې باندې دليل پيش کړئی.﴿فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلۡحَقَّ﴾ يعنی دوئی ته به عين اليقين حاصل شی چه کوم دلائل الله تعالی پيش کول هغه حق وو،او دَالوهيت اوعبادت مستحق ذات صرف اوصرف الله ﷻ دې،څوك ورسره هم شريك نيشته دې نوځکه به دوئی خاموش پاتې شی اوخپل باطل عقيدې باندې به څه دليل نشی پيش کولې.﴿وَضَلَّ عَنۡهُم﴾ تولې من ګهړت شرکيه قصې چه دَخپل ځان نه نې جوړې کړيدی هغه ټولې به ورنه هيرې شی،اوټولې ارزوګانې به نې خاوروسره خاورې شی.

إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡكُنُوزِ
بيشکه قارون ووُدَقوم دَموسیٰ علیہ السلام نه نوتکبرئی اوکړوپه بنی اسرائيلو.اوورکړې وې مونږده ته دَخزانونه

مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُ لَتَنُوٓأُ بِٱلۡعُصۡبَةِ أُوْلِي ٱلۡقُوَّةِ إِذۡ قَالَ لَهُۥ قَوۡمُهُۥ										
دومره چه چابیانې دهغې درنې وې په داسې ډلې چه قوت والابه وه،کله چه اوونیل ده ته قوم دده										
لَا	تَفۡرَحۡ	إِنَّ	ٱللَّهَ	لَا	يُحِبُّ	ٱلۡفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾				
مکوه	تکبر	بیشکه	الله	نه	خوښه	وي	تکبرکونکي.			

﴿إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ﴾ دا دتخویف دنیوي نمونه ده اومتعلق دې دآیت نمبر (۲۰) ﴿وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ﴾ سره اودې تعلیم ورکولې کیږي چه په دنیا باندې فخرغرور کول ندي پکار ځکه چه دالله ﷻ دعذاب نه یوانسان ته دهغه اودولت، دهغه نوکران خادمان هیڅ څوك اوهیڅ څیزنجات اوخلاصې نشي ورکولې، سیوادایمان نه دقارون واقعه دې دپاره یوه نمونه ده چه دده رسره ډیرزیات مال دولت وو، نوکران خادمان وو، تکبر اوشرك ئې کولودالله ﷻ حق ئې نه اداکولونوالله ﷻ دمال سره هلاك کړو، دهغه مال، نوکران هیڅ څیزئې پکارر انغلو.

مختصرواقعه قارون: قرآن مجیدکښې دقارون متعلق تفصیلي واقعه نده ذکرشوې قران مجیدکښې دقارون متعلق صرف دومره ذکردی، چه دې بني اسرائیلي وو، کثیرالمال ووتکبر، ظلم، اوشرك وکفرئې کولوالله ﷻ دې په زمکه کښې دننه ژوندې خخ کړوالبته څنې احادیثو اوتاریخي روایاتوکښې دده متعلق تفصیل موجوددې، دهغې مستنده حصه مختصراندازکښې دلته پیش کوو، اکثرمؤرخین اومفسرین فرمائي چه قارون دموسی علیه السلام دتره خوې وو، دموسی علیه السلام پلارعمران بن قاهت اودقارون پلاریصهربن قاهت دواړه سکه رونړه ووالبته ابن اسحاق رحمه الله فرمائي چه قارون دموسیٰ علیه السلام تره کیدلوځکه چه یصهربن قاهث دیوې زنانه سره نکاح اوکړوچه دهغې نه عمران بن یصهراوقارون بن یصهرپیداشو، نوپدې اعتبارسره قارون دموسی علیه السلام سکه تره کیدلو، لیکن اول قول زیات غوره دې اوپدې جزم کړیدې ابن جریرطبری رحمه الله وغیره حضراتو.

حضرت قتادة رحمه الله فرمائي چه دحضرت موسی علیه السلام اوهارون علیه السلام نه ورستوزیات اعلم بالتورات قارون وو، ډیرخوش اوازه وواودډیرخوش اوازنې دوجې نه په ده ته منوروئیلې

کیدلو ،لیکن دي په حقیقت کښې منافق وو اومفسرینو ده ده دکفر اونفاق وجه داليکلې ده چه ده ده دموسی علیه السلام اوهارون علیه السلام سره سخت حسد کولو.

ده ته الله ﷻ ډیرزیات مال ورکړې وولکه چه الله ﷻ فرمائی چه وآتینٰه من الکنوز الخ یعني دومره ډیرمال الله ﷻ ورکړي وو چه دخزانو چابیانې په یو(۱) کس یادوه(۲) دپاره اوچتول ممکن نه وو ،بلکه دپهلوانانو یوجماعت په داچابیانې اوچتولې ځنې روایاتوکښې دي چه ده ده دخزانوچاپیانې به په څلویښت(۴۰) یاشپیته(۶۰) خچروباندې به بارکولې شوې،ددې منځ دوجې نه پده کښې ډیرغروراوتکبروومتکبرانه لباس به ئې اچولو ،چال چلن کښې ئې لوئی وه،دکفرسره سره په کمزوروخلکوباندې ظلم کول،غریبانوته دحقارت په نظرکتل ده ده عادت گرځیدلې وو ،موسی علیه السلام اودهغه دقوم بزرگانوده ته نصیحت اوکړوچه لاتفرح انّ الله لایحبّ الفرحین یعنی پدې دنیاډیرمه نازمه کوه الله ﷻ داسې خلك نه خوښوي اوددې مال په ذریعې سره خپل اخرت جوړکړه،دغربآؤاوفقیرانو امداد اوکړه،الله ﷻ هیره ول دهغه داحکاماتوخلاف کول سخت ناشکري ده،لهذا دالله ﷻ دناشکرئی نه ځان بچ کړه اوځرنگه چه هغه تاسره احسان کړیدې دغه شان ته هم دالله ﷻ دمخلوقاتوسره احسان اوکړه.

قارون باندې دموسی علیه السلام دې وعظ اونصیحت اثراونه کړوبلکه نورزیات تکبرئې اوکړو اوموسی علیه السلام ته ئې په جواب کښې اوئیلوچه انّمااوتیتّه علٰی علمٍ من عندی یعنی دامال ماته دالله ﷻ دطرف نه احسانًانه دې راکړې شوې بلکه استحقاقًادې،یعنی داځماحق دې چه په ماکښې ډیرکمالات دی دامال دهغې کمالاتوصله ده.

موسی علیه السلام مسلسل خپل وعظ اونصیحت ده ته کولو.یوه ورځ موسی علیه السلام دبني اسرائیلویوې مجمعې ته وعظ اونصیحت کولوچه قارون دخپل نوکرانودیوجماعت سره ډیردنیوي شان وشوکت سره تیرشو.اوځنې تاریخي روایاتوکښې دی چه قارون پدغه وخت کښې په یوسپین،خچرباندې ناست وو،په هغې باندې دریشموزین وو،ده ده سره پدغه شان وشوکت سره درې سوه(۳۰۰)زنانه اوډیرتعدادکښې سړی هم په اسونوباندې ناست وو.اوددې لعین مقصدداووچه حضرت موسی علیه السلام ته الله ﷻ دینی منصب اونبوت ورکړیدې چه دهغې دوجې نه دخلکومجمعې ده ته ناستې وې نوځماسره هم مال شته دې څه هم خلك ځان سره جمع کولې شم،نوده دمال په ذریعې سره موسی علیه السلام مغلوب کول غوختلو،بني اسرائیلوچه کله

دقارون داشان وشوکت اوکتلونوخني کسان دده نه ډیرمتاثره شواوداتمنائي اوکړه چه کاش داسې دولت مونږته هم نصیب شوې وې لکه څرنګه چه قارون سره دې.نواهل علمو دوئی ته نصیحت اوکړوچه دَدې دنیوی عیش وعشرت تمنااوخواهش مه کوئی بهرحال چه کله دقارون تکبراوغروردَحدنه زیات شونوالله ﷻ په عذاب کښې مبتلاکړواوپه زمکه کښې ئې ژوندې خښ کړو.

اومفسرینودَقارون دهلاکت په باره کښې دهغه دتکبریوه واقعه ذکرکړیده چه کله موسی علیه السلام ته دَزکوٰة حکم نازل شونوموسی علیه السلام بنی اسرائیلوته اوخصوصاًقارون ته دَزکاة اداکولوحکم اوکړوقارون په ظاهرکښې راضی شولیکن باطناًدَالله ﷻ حکم منلوته تیارنه وو،نودَدې وجې نه قارون خلك اوخاص طورباندې سرمایه داران ئې راجمع کړل اوهغوئی ته ئې اوئیلوچه موسی علیه السلام تراوسه پورې مونږتاسوته مختلف حکمونه کولواومونږ تاسومنلو.اوس هغه زمونږستاسومالونه قبضه کول غواړي نوستاسوڅه رائې ده؟ ټولوورته اوئیل چه ته زمونږمشرئې ستاچه څه حکم وی مونږ په هغه منوقارون اوئیل چه تاسویوه بدکاره زنانه ماته راوغواړئ،هغه زنانه راوُیستلې شوه،قارون هغې ته پیسې ورکړې چه ته به موسی علیه السلام باندې سرعام دَزناالزام اولګوه اوهغه زنانه راضی شوه.بیائې بنی اسرائیل راجمع کړل اوموسی علیه السلام ته ئې دعوت ورکړوچه دبنی اسرائیل دامشران وائی چه مونږته وعظ اونصیحت اوکړه،موسی علیه السلام وعظ اونصیحت شروع کړوچه په هغې کښې دَزنادَحدپه باره کښې هم حکم ووچه زانی محصن به رجم کولې شي نوقارون موسی علیه السلام ته اوئیل چه داحکم دَعاموخلکو دَپاره دې یاستادَپاره هم دې موسی علیه السلام ورته اوفرمائیلوچه دَهرچادَپاره دې،قارون اوئیلوچه دَدې چه دَدې خلکوستاپه باره کښې شکایت دې چه(العیاذبالله)تاهم زنا کړیده،اوزنانه ئې راوغوختله،موسی علیه السلام زنانه ته قسم ورکړوچه صحیح رشتیاخبره اوکړه. زنانه ورته اوئیل چه صحیح خبره داده چه قارون ماته پیسې راکړیدې چه ته په موسی علیه السلام باندې تهمت اولګوه.

موسی علیه السلام په سجده کښې پریوتلواوقارون ته ئې بددعااوکړه الله ﷻ ورته اوفرمائیلوچه ته زمکې ته څه حکم کوې هغه به منې،موسی علیه السلام زمکې ته حکم اوکړوچه قارون اونیسه،زمکې قارون اونیولواوخخول ئې شروع کړو،قارون موسی علیه السلام ته فریاداوکړوچه آئنده دَپاره په څه نه کوم خواوس مې معاف کړه موسی علیه السلام زمکې ته مسلسل حکم کولوچه

خغ ئې کړه،قارون موسیٰ علیه السلام ته اوئیل چه ته ځمامال قبضه کول غواړې خکه ماسره داکارکوې،موسیٰ علیه السلام زمکې ته حکم اوکړوچه دده ټول مال راجمع کړه اودَده په سرنې کیده،نو الله تعالیٰ قارون په زمکه کښ ژوندې خغ کړواومال ئې په سرباندې دې اوترقیامته پورې به دغه شان په زمکه کښ دننه خخیږي.

په حدیث کښ دی حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمائی چه:قال رسول الله ﷺ بینما رجل یجرازاره اذخسف به فهویتجلجل فی الارض الی یوم القیٰمة(بخاري)اودَقارون دَخسف واقعه کله شوې وه؟ نوپدې باندې دَاکثرمؤرخینو اتفاق دې چه داورستودَغرق دَفرعون نه،شوې وه خو اختلاف پدیکښ دې چه په وادی تیه کښ شوې وه که دَهغې نه مخکښ واقع شوې وه،نوبعضِ مؤرخین وائي چه داواقعه په وادي تیه کښ راغلې وه لیکن صاحب دَ"المختصرفی اخبارالبشر"دَصنیع نه داسې معلومیږي چه داواقعه دَوادی تیه نه وړاندې شوې وه(والله اعلم).

﴿إِنَّ قَٰرُونَ﴾لفظ"قارون"غیرمنصرف دې دَوجې دَعجمه اوعلمیت نه﴿كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ﴾ نودَغوره اومشهورقول مطابق قارون دَموسیٰ علیه السلام دَتره ځوئی وو﴿فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ﴾ دالفظ شامل دې،کفر،نفاق،ظلم تکبراوحسدټولوته﴿وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ﴾داسبب دَبغی دې او"کنوز"جمع دَ"کنز"ده،اموال مدفونه(خزانې)ته وئیلې کیږی اوشرعًاکله کله دَدې اطلاق په هغه جمع کړې شوی مال باندې هم کیږی چه زکاة ترینه نه اداءکیږی،نوچونکه قارون هم دَخپل مال نه زکاة نه اداکولو،دَدې وجې نه دَده په مال باندې اطلاق دَکنزاوشواوبعضِ حضرات فرمائی چه"کنوز"نه مرادخپله حقیقی معنٰی ده اودَقارون دَپاره دَخزانونه علاوه ښکاره مال هم ډیرزیات وو.

﴿مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ﴾"ما"موصوله ده او"انّ"سره دَخپل معمولاتوصله دَ"ما"دَپاره ده اوپه مذهب دَبصریانوباندې صله مصدره کیدې شی په "انّ"سره اگرچه دکوفیانوپه مسلك باندې داجائز نده او"مفاتح"جمع دَمفتاح ده چابیانو(کنجیانو)ته وئیلې کیږی،دلته ترینه اکثرحضرات فرمائی چه مجازی معنٰی مرادده یعنی خزانې نوذکردَ"مفاتح"اومرادترینه"خزائن"دی اویاپکښ مجازفی الحذف دې ای مفاتح صنادیقه(روح المعانی).

اوبعض حضرات فرمائی چه خپله حقیقی معنی یعنی کنجیانې تنه مراددی.په بعض اسرائیلی روایاتوکښې دی چه دَقارون دَخزانوکنجیانې به په درې سوه(۳۰۰)خچروباندې به اوړلې کیدلې،لیکن داقول ضعیف دې.

﴿ لَتَنُوٓأُ بِٱلۡعُصۡبَةِ ﴾ "تنوء"دَ"ناء ینوء"نه معنی ئې ده"درنیدل"یعنی یوخیزاوبوج ډیردروندوی چه دَهغې دَوجې نه یوکس تیټ روان وی او"عصبة"امام راغب فرمائی چه دَدې اطلاق په جماعت کثیره باندې کیږی په غیردَتعین دَعددخاص نه،اونورائمه لغت فرمائی چه دَدې اطلاق په یومعین عددباندې کیږی اوهغه معین عددڅومره دې؟ نوپدیکښې اختلاف دې،بعض حضرات فرمائی چه دَدې اطلاق درې(۳)نه ترلسو(۱۰)پورې عددباندې کیږی بعض فرمائی چه دَپنځلس(۱۵)نه ترڅلویښتوپورې باندې کیږی،بعضِ فرمائی چه ترلسو(۱۰)نه، ترڅلویښتوپورې اوبعض فرمائی چه تراویا(۷۰)پورې عددباندې ددې اطلاق کیږی،بهرحال دلته ترینه مراددَقارون دَمال کثرت اظهاردې،او﴿أُوْلِي ٱلۡقُوَّةِ﴾نه مراددادې چه دَده دَخزانویادهغې دچابیانودَپاره به چه کوم جماعت مختص وونوهغه به هم دیوعاموخلکو جماعت نه وو،بلکه صاحب قوة(پهلوانانو)جماعت به وو،دغه کنجیانې یاخزانې اوچتول دَعام سړی کارنه وو،اودا پنځه الفاظ کنوز،مفاتح،تنوء،عصبه اواولی القوة دَده دمال کثرت ظاهرولودَپاره دی،یعنی پدیکښې اشاره ده چه دَده مال ډیرزیات اودشمارنه بهروو.

﴿لَا تَفۡرَحۡ﴾ "فرح"خوشحالی ته وئیلې کیږی چه یوانسان ته دلذت عاجله په سبب حاصله شی،اولذت عاجله دَوجې نه"فرح"اوخوشحالی راتلل یوفطری امردې،نولهذامقصودنفی دَنفس فرح اودخوشحالئ نه ده بلکه دَهغې خوشحالئ اودفرح نفی مقصودده چه هغه سبب دَشرك،تکبراودَسرکشئ ګرځی،اوقاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی چه"والفرح بالدنیامذموم مطلقاً"لیکن غالباًچه دَقاضی رحمه الله مقصدبه دَدینه اظهاردفرح وی نه نفس فرح،ځکه چه اظهاردَفرح علامهٔ ده دَمحبت دَدنیااوذریعه دَغفلت ده دَزوال دنیانه چه داغفلت سبب ګرځی جرائت علی المعاصی دَپاره،اودَنسیان من لقاء الله عزوجل دَپاره(اللهم حب الینالقائك اللهم عافنا).

وَابۡتَغِ فِيۡمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الۡاٰخِرَةَ وَلَا تَنۡسَ نَصِيۡبَكَ مِنَ الدُّنۡيَا
اوطلب کړه په هغه دولت چې درکړیدې تاته الله ﷻ کوردآخرت. اومه هیروه حصه خپله ددنیانه
وَاَحۡسِنۡ كَمَاۤ اَحۡسَنَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ وَلَا تَبۡغِ الۡفَسَادَ فِى الۡاَرۡضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
اواحسان کوه (خلقوسره) لکه چه احسان کړيدې الله ﷻ تاسره اومه طلب کوه فسادپه زمکه کښ.بې شکه الله ﷻ
لَا يُحِبُّ الۡمُفۡسِدِيۡنَ ۞ قَالَ اِنَّمَاۤ اُوۡتِيۡتُهٗ عَلٰى عِلۡمٍ عِنۡدِىۡ ؕ
نه خوښه وی فسادکونکی.قارون اووئیل چه بیشکه ماته راکړې شویدې دامال پوجه دعلم چه ماسره دي.
اَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰهَ قَدۡ اَهۡلَكَ مِنۡ قَبۡلِهٖ مِنَ الۡقُرُوۡنِ مَنۡ هُوَ اَشَدُّ
آیاده ته نه وه پته چه بیشکه الله ﷻ یقیناهلاک کړیدی مخکښ دده نه داسې ډلې چه هغوئ زیات سخت وؤ
مِنۡهُ قُوَّةً وَّاَكۡثَرُ جَمۡعًا ؕ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَنۡ ذُنُوۡبِهِمُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ ۞
ده نه په قوت کښ اوزیات جمع کونکی وؤدمال.اوسوال به نشی کولې دمجرمانونه په باره دګناهونودهغوئ کښ.

﴿ وَابۡتَغِ فِيۡمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ ﴾دا یوه جامعه جمله ده چه پدې سره اشاره ده ټول جوانبو دتوحید،عقیده اخرت.اوامتثال بالطاعات ته یعنی قوم ده ته اوئیلوچه کوم مال دولت الله ﷻ تاته درکړیدې دهغې شکریه اداء کړه،اودنیوی نعمت شکریه اداکول داوی چه نعمت دالله ﷻ په اطاعت کښ صرف کړې شی،دغرباء فقراؤامدادپه هغې سره اوکړې شی دتکبر،غرور،ظلم،اوکفروشرك نه خان بچ کړې شی اوپه ﴿اَلدَّارَ الۡاٰخِرَةَ ﴾کښ اشاره ده عقیدی داخرت ته﴿وَلَا تَنۡسَ نَصِيۡبَكَ ﴾برخه دانسان ددنیانه،داده چه نیك عمل دآخرت دپاره اوکړی،ژوند دالله ﷻ مرضی مطابق تیر کړی،خپل مال کښ دالله ﷻ حقوق اداکړی،خپل صحت،قوت اوځوانی دالله ﷻ دین دپاره خرچ کړی لکه په حدیث کښ دی"اغتنم خمسا قبل خمس.....الخ".

﴿وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ﴾ کاف کچري دپاره دتشبيه شی نو داتشبيه په مطلق احسان کښې ده او تشبيه په جميع احوالو داحسان کښې نه ده مراد ځکه چه دالله ﷻ داحساناتو نظير او مثل نيشته دې او يا کاف دپاره دتعليل دې يعنی الله ﷻ تاسره احسان کړيدې ددې وجې نه ته هم دالله ﷻ دمخلوقاتو سره احسان کوه ای لاجل احسانه سبحانه اليك (روح) ﴿وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ﴾ مراد ترينه ظلم، کفر او شرك دې.

﴿قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ﴾ قارون ددې نصيحت په جواب کښې ډير متکبرانه جواب ورکړو او ډير په سرکشئ سره ئې ددوئی نصيحت رد کړو چه ځما سره کوم مال او دولت دې دا دالله ﷻ احسان نه دې بلکه ځما استحقاق دې او ما په خپلو کمالاتو سره ګټلې دې ﴿عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِيٓ﴾ جار مجرور يا متعلق دی د کائن مقدر سره او دا ظرف مستقر په موضع دحال کښې دې دضمير مرفوع داوتيته نه او مقصود پيدې سره اشاره ده علت داستحقاق او ايتاء دمال ته: ای انما اوتيته کائنا علی علم (روح) او يا ظرف لغو دې او متعلق دې د﴿أُوتِيتُهُۥ﴾ سره او علی په معنی د لام اجليه سره دې ای اوتيته لاجل علم (روح) يعنی دا مال ماته ځما د علم په وجه راکړې شوې دې. او علم نه مراد بعض فرمائی چه علم دتورات مراد دې بعض فرمائی چه علم دکيميا مراد دې چه دده سره دکيمياعلم وو ليکن غوره توجيه داده چه علم دتجارت او طريقې دکسب مراد دی.

﴿أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ﴾ دا تنبيه ده په خطاء دقارون باندې او په يعلم کښې دعلم نه مراد علم دتورات دې، يعنی دې خو دتورات تلاوت کوی نو آيا تورات کښې ده ته ددې خبر علم نه دې شوې چه الله ﷻ ډيرطاقتور خلك دده نه مخکښې هلاك کړيدی او يا دعلم نه مراد علم بالمشاهده دې، چه هغه هلاکت دفرعون وو . نو دآيت مطلب دادې چه آيا ده په خپلو سترګو نه دی کتلی چه الله ﷻ فرعون چه هغه دده نه ډيرطاقتور وو څرنګه هلاك کړو او قوة عام دې حسی وی او که معنوی، حسی نه مراد افرادې قوت دې او معنوی نه مراد اسباب او وسائل دی. نو ددې رد خلاصه داده چه الله ﷻ چا چا ته مال، دولت ورکوی دا دهغه کس استحقاق نه وی کچرې استحقاق وې نو بيا به الله ﷻ دغه مال هلاك کولو لې؟ او دده نه به ئې مال واپس ولې

اغستلو؟نومعلومه شوه چه الله ﷻ چاته مال ورکړی نوپدې مال کښې دَصاحب مال ازمائش اوامتحان اغستل مقصود وی.

﴿ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ﴾ دَقيامت په ورځ دَمجرمانونه تپوس کيدل يانه کيدل لومتعلق تفصيل په سورة الحجر ايت نمبر(۹۲)کښې تيرشويدی،چه دَقيامت په ورځ باندې به پوښتنه اوسوال دَهرچانه کيږی،اوپدې ايت کښې اوپه سورة الرحمان کښې چه کوم نفی دَپوښتنې نه راغليده نوددينه(۱)مرادنفی دَسوال دَپاره دَاستعلام ده اوتوبيخ اوملامتيادَپاره به پوښتنه کيږی،اويا(۲)داچه دَنفس گناه په باره کښې به پوښتنه اوسوال نه کيږی لکه چه دلته اوپه سورة الرحمان کښې دی اودگناه دَسبب تپوس به کيږی چه داگناه دې ولې کوو؟لکه چه دَهغې ذکرپه سورة الحجرکښې دی اويا(۳)داچه موقف دَحشرډيردی اوورځ ډيره اوگده ده نوپه څينی مواقفوکښې به تپوس کيږی اوپه څينوکښې به نه کيږی.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَـٰلَيْتَ

نوراووتلوقارون په قوم خپل په زينت خپل سره، نواووئيلوهغه خلقو چه غوښتلوئی ژوندددنياهائې ارمان

لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَـٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾

چه وې زمونږ سره دومره مال چه ورکړې شويدې قارون ته،بيشکه دې خاونددَحصې لوئې دې

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ

اواووئيل هغوخلقوچه ورکړې شوې وۀهغوئ ته علم،غرق شئ ثواب دَالله ﷻ غوره دې دَهغه چالپاره چه ايمان ئې راوړې وی

وَعَمِلَ صَـٰلِحًا ۚ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّـٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ

اوعمل ئې کړې وی نيک او نه ورکولې کيږی توفيق دَدې مگرصبرکونکوته نوژوندې خښ کړو مونږقارون اوکوردَدهٔ يعنی خزانو سره

ٱلْأَرْضَ فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾

په زمکه کښې نونه وه ده لره هيڅ ډله چه مددئې کړې وې دَده ماسوی دَالله ﷻ نه اونه وۀدې دَبدل اخستونکونه

﴿ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ ﴾ پدې آياتونوکښې دقارون دعملي تکبرذکردې،لکه څرنګه تيرآيت کښې دهغه دمتکبرانه خبروذکروو .يعنې يوه ورځ موسی علیه السلام خپل قوم ته وعظ کولونوقارون ډيرپه دنيوی شان وشوکت سره تيرشو ،قيمتی لباس،قيمتی سواری اودنوکرانو ،خادمانو اوډيرسازوسامان سره نمودارشو﴿قَالَ ٱلَّذِينَ ﴾ددينه مرادکمزوری مسلمانان دی،يعنی کمزورومسلمانانوچه کله قارون پدې حالت کښې اوليدلونوتمنائې اوکړه چه کاش چه مونږسره هم دومره مال،دولت وې لکه څرنګه چه قارون سره دې،څکه دې خودډيرښه قسمت اولوئی برخې والادې اوداتمنادداوئی دحرص په بنيادوه،درضاعلی الکفريادترجيح المال علی الايمان په بنيادباندې نه وه،نوددې وجې کفرنه لازميږی اوکومه تمناچه درضاعلی الکفرياترجيح الدنياعلی الايمان په بنيادوی هغه مستلزمه ده کفرلره.لکه ډيرخلك وائی چه آخرت سره اوايمان سره به بياګوروخوچه پيسې ميلاؤشی داکفريه کلمات دی.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ ﴾ ددنياپرستودا خبرې چه کله اهل علمووواوريدلې نوهغوئی ته ئې زجراًداوئيلوچه اې بيوقوفو!تاسوددنياتمناکوئی حالانکه دايمان اودعمل صالح اجروثواب ډيرغوره دې،اودنيااوددې داسبابو الله تعالی سره هيڅ اعتبارنيشته دې،نود ثواب الله نه مرادهغه اجراونعمتونه دی چه الله تعالی دايومؤمن سره دهغې وعده کړيده.

﴿ وَلَا يُلَقَّىٰهَآ ﴾تقليه معنی تعليم او توفيق ده،يا القا اوالهام ده،اوضميرمنصوب راجع دې داهل علمومذکورې مقولی ته چې هغه ويلکم ثواب...ده اوضمير د مؤنث ورته د الکلمة او المقالة په اعتبار سره راجع شويدې،يعنی دداسی خبرې توفيق صبرکونکوله ورکولې کيږي او هغوئ ته ددې الهام او القاءکيږي.

﴿ فَخَسَفْنَا بِهِۦ ﴾دادکرد عذاب دې چه دتکبراولوئی کولودوجې نه الله تعالی قارون ته داسزاورکړه چه په زمکه کښې ئې خخ کړو﴿وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ﴾د دار نه مرادټولې خزانې او اسباب دی﴿فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ ﴾ يعنی دقارون سره يولوئی جماعت دخادمانواونکرانووچه قارون په هغوئی باندې ډيرنازاوفخرکولوخوچه کله دالله تعالی عذاب راغې نوبياورسره هيڅ .

مدداونکړي شو ﴿وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنتَصِرِينَ﴾ دا په جواب د ﴿عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي﴾ کښې دې يعنې دعذاب نه دبچاؤدپاره ده ته خپله هنرمندي اوکمالاتو هم څه کار اونه کړو.

وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا مَكَانَهُ بِالْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ
اواګرځيدل هغه خلق چه تمنائي کوله.مرتبې دقارون. پرون.وئيل ئې تعجب دې بشکه چه الله ﷻ فراخه وي
الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَا أَن مَّنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا
رزق چانه ئې چه خوښه شي دبندګانوخپلونه اوتنګه وي رزق.کچرته احسان نه وې کړي الله ﷻ په مونږ باندې د ايمان
لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿٨٢﴾ تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا
نوژونه دی به ئې خښ کړي وومونږ.تعجب دې چه بيشکه نه کاميابيږي کافران.داکوردآخرة چه دې ګرځوومونږدا
لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾
لپاره دهغوچه اراده نه لري دلوئي په زمکه کښې اونه دفساد،اوښه انجام لپاره دپرهيزګارانودې

﴿وَأَصْبَحَ الَّذِينَ تَمَنَّوْا﴾ پدې آيت کښې دکمزورومسلمانانودقارون دحالت نه دعبرت اخستلوذکردې،او"مکان"نه مرادمنزلت اومرتبه ده او"الامس"نه مرادخپله حقيقي معنی نه ده مراد ،بلکه مجازمتعارف ترينه مراددې چه اطلاق ددې په عرف کښې په ماضي قريب باندې کيږي نومطلب دادې چه کومو خلکوده دمال اودولت پشان ځان دپاره هم تمناکوله نوچه کله دقارون انجام اوکتلونو په خپلوخبروباندې پښيمانه شو اودائي اوئيلوچه ﴿وَيْكَأَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ﴾ يعنی درزق فراختيا اوتنګستيا دالله ﷻ په اختيارکښې ده اوپديکښې دالله ﷻ خپل حکمتونه دی چه څوك مالداره جوړکړي اوڅوك غريب اومحض مالداري سبب دکرامت اوقربت عندالله نه دې،اولفظ "وی"په نيزدخليل اوسيبويه اسم فعل دې معنی ئې ده "اعجب"يعنی څه عجيب ده اوخليل داهم وائي چه عرب لفظ "وی"په موقعه دندامت اوپښيمانتياکښې هم ذکرکوی.لکه څرنګه زمونږپه معاشره کښې چه کله څوك ډيرتعجب کوی نوهم"وی"لفظ وائي اوچه پښيمانه شي نوبياهم"وی" وائي،او"کأن"اګرچه دتشبيه دپاره دی خودلته دتشبيه دمعنی نه عاری

اوخالي دي اودَتحقيق دَپاره دي «بحر» اوكسائي وغيره حضرات فرمائي چه وَيكَ په اصل كښ وَيلَكَ دي چه كلمه دَتحزن اوتحسيرده. نوپدي احتمال كاف په موضع دَجركښ مضاف اليه دي اودَحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوابوعبيده فرمائي چه ويكانّ په معنی دَ الم تر او الم تعلم سره دي «بحر»

﴿لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا﴾ من نه مراداحسان دَتوفيق دايمان دي اواتباع دَموسى عليه السلام ده اوحفاظت دَهغه اخلاق رذيله نه دي كوم چه په قارون كښ وويعنى كچرې الله تعالى په مونږباندې احسان نه وې كړې اومونږايمان نه وې راوړې اودَموسى عليه السلام اتباع مونه وې اختياركړې اودَ قارون پشان سركشي مواختياركړې وې نونن به زمونږهم هغه انجام ووكوم چه دَقارون دې يعني په زمكه كښ به خخ كړې شوى وو. ﴿وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ﴾ غوره قول دادې چه داهم دَهغوئى كلام دې اودَماقبل كلام دَتاكيددَپاره دې اوبعض فرمائي چه دادَالله تعالى كلام دې اودَدوئى دَخيرې تصديق ورسره مقصوددې

﴿تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْأَخِرَةُ﴾ داپه اخيركښ تفريعات په واقعې دموسى عليه السلام باندې او بشارتونه ذكركيږى يعنى دَاخرت راحت اوسكون هغه خلكوته ميلاويږى چه تكبراوسركشي نه كوى اوتقوىٰ اختياره وى. كچرې په لوئى اوتكبراوفسادسره ميلاويدلې نوفرعون اوقارون ته به ميلاؤشوې وه نو تلك مبتداده اوتفخيم شان اوتعظيم دَپاره راوړلې شويده او ﴿ٱلدَّارُ ٱلْأَخِرَةُ﴾ صفت دَمبتدادَپاره دې اوتوصيف دمبتداپه اسم جامداومشتقى دواړوسره كيږى «عندالجمهور» اوخبرئې داورستوجمله ﴿نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ﴾ ده. اودابه اخيركښ شپږهغه امورهم ذكركيږى چه دَنبى پاك ﷺ اودَموسى عليه السلام دَحالاتومماثلت ترينه ظاهريږى. داپه هغې كښ امراول دې. چه موسى عليه السلام په مقابله كښ سركش. ظالمان اومتكبرخلك وونوالله تعالى هغوئى هلاك كړل دغه شان دَنبى پاك ﷺ په مقابله كښ هم سركش ظالمان اومتكبرخلك دى دوئى به هم الله تعالى هلاك كړى.

﴿وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ﴾ يعنى حسن اوانجام دَمتقيانودَپاره خاص دې. يعنى هرهغه كس چه خپل ځان دَعلو. تكبراوفسادنه. بچ كوى. مصلح مؤمن وى الله تعالى دَه ته حسن عاقبت نصيب

کوی اوحضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه دَ ﴿وَٱلْعَٰقِبَةُ﴾ نه مراد کمال حسن عاقبت دې، نو کچرې علو او فساد حد کفرته رسیدلې وی نو بیا خو هیڅ تردد او شك پدیکښې نیشته دې چه دکافرانجام ډیربدوی او دَحسن عاقبت (چه جنت دې) دَهغې نه دې محروم وی او که علو او فساد حد کفرته نه وی رسیدلې نو بیا هم دکمال حسن عاقبت دَپاره مانع دې.

فائده: پدې ایت کښې ﴿ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ﴾ کښې علو مقدم کړې شوه په فساد باندې پدیکښې اشاره ده چه عموماً دَمتعدی گناهونو دَپاره سبب تکبر گرځی بلکه دَاکثرو گناهونو جړاوبنیاد تکبردې، دَخلیفه راشد عمربن عبدالعزیز رحمه الله په باره کښې منقول دی چه دَوفات په وخت کښې دَهغه په ژبه باندې دا ایت جاری وو (اللهمّ انّانسئلكَ حسن العاقبة).

مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى							
څوك چه راوړی نیکی نوده لره به زیات اجروی دَهغی نه او څوك چه راوړی گناه نوبدله نه ورکولې کیږی							
ٱلَّذِينَ	عَمِلُوا۟	ٱلسَّيِّـَٔاتِ	إِلَّا	مَا	كَانُوا۟	يَعْمَلُونَ	﴿٨٤﴾
هغوکسانوته	چه کړی نی وی	گناهونه	مگر	دهغی	عملونو	چه دوئ به	کولو

﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ﴾ پدیکښې مؤمنانوته بشارت، او فاسقانوته، کافرانوته تخویف ذکر کیږی، یعنی دَنیك عمل بدله دَاصل نیکی نه ډیره زیاته ورکولې شی، او خیریت په اعتبار دَذات، وصف او قدرتولوسره مراددې، اودَبدئی په باره کښې دَالله تعالی قانون دادې چه دَبدعمل بدله دَعمل مطابق ورکوی. او که څوك اشکال اوکړی چه داقانون اوقاعده منقوضه ده په عذاب ابدی سره چه کافراومشرك دَپاره عذاب ابدی دې حالانکه مدت دکفرددہ ابدی نه وو بلکه لږوخت وو (۱) نوجواب بعض حضراتو داسې کړیدې چه گناه کښې عظمت او غیرعظمت په اعتبار دَمعصی سره دې یعنی کتلې به شی چه دکوم ذات نافرمانی کولې شي هغه څومره عظیم دې نو دَهغې په اعتبارسره په گناه کښې هم عظمت راځی، نوهرکله چه کفراوشرك دَهغه ذات نافرمانی کول وو چه دَهغه عظمت غیرمتناهی دې نو لهذا داگناه هم غیرمتناهی شونو ځکه دَدې سزا به هم غیرمتناهی وی، البته دکفراوشرك نه کم معصیت دَالله تعالی کول دا هم عظیم

معصیت دې دَهغې سزاهم غیرمتناهی کیدل پکاردی مګردَایمان په برکت سره الله تعالیٰ دَهغې سزاغیرمتناهی نده مقررکړې.

(۲)امام رازی رحمه الله جواب کړیدې چه چونکه دکافرنیت اوعزم دااووچې کچرې ده ته ابدی ژوندمیلاؤشی نوبیابه هم دې کفرکوی نوځکه الله تعالیٰ ده ته عذاب ابدی ورکوی(۳)بعضو جواب داسې کړیدې چه کفرکه قولی وی یاعملی مستلزم دې نقص لره په الله تعالیٰ کښې. اوالله تعالیٰ دَعیب نه پاك دې په پاکئ ازلیه،ابدیه سره.نوهرکله چه یوکافریامشرك دَالله تعالیٰ کفریادَهغه سره شرك کوی نوګویاچه دې دَالله تعالیٰ دَصفت کمالیه ازلیه ابدیه نفی کوی او الله تعالیٰ لره عیب ابدیه ثابته وی نوځکه الله تعالیٰ ده ته تعذیب ابدی ورکوی.

(۴)داهم ممکنه ده چه دکفراوتعذیب ابدی په مینځ کښې مماثلت په اعتباردکیفیت سره وی ځکه چه دکفراوشرك نه لوئی جرم بل نیشته دې اوتعذیب ابدی نه لوئی بل تعذیب نیشته دې(۵)غوره جواب دادې چه دکفراوتعذیب ابدی په مینځ کښې مماثلت منصوصی دې الله تعالیٰ دکفرمماثل جزااوبدله تعذیب ابدی بیان کړیده نولهذامونږبه پرې ایمان راوړواومونږدَدې مکلف یواګرچه دامماثلت زمونږپه عقل کښې نه راځی اوډیرجرمونه داسې دی چه دَهغې جرم اودَهغې دپاره مقرکړی شوی سزامماثلت زمونږپه عقل کښې نه راځی،لکه زنا،شرب الخمر،قذف محصن وغیره دَدې دَپاره الله تعالیٰ حدوداوسزاګانې مقررکړیدی خوزمونږپه عقل کښې دَدې مماثلت نه راځی.

اِنَّ الَّذِیۡ فَرَضَ عَلَیۡکَ الۡقُرۡاٰنَ لَرَآدُّکَ اِلٰی مَعَادٍ ؕ قُلۡ
بیشکه هغه الله تعالیٰ چه فرض،نازل کړیدې په تاقرآن، خامخاواپس کونکې دې تالره ځائ دَوعدې،مکې ته اووایه
رَّبِّیۡۤ اَعۡلَمُ مَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰی وَمَنۡ هُوَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ ﴿۸۵﴾
رب ځمانه خبردې په هغه چاچه راتله ئې کړیدی په هدایت اوپه هغه چاچه هغه په ګمراهئ ښکاره کښې دې.
وَمَا کُنۡتَ تَرۡجُوۡۤا اَنۡ یُّلۡقٰۤی اِلَیۡکَ الۡکِتٰبُ اِلَّا رَحۡمَةً مِّنۡ رَّبِّکَ
اونه وې ته چه دااميدى لرلوچه نازل به شی تاته کتاب مګر مهربانی ده (په تا) دَطرفه دَرب ستانه

فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

نوهرگزنه مه كيږه مددگار دكافرانو

﴿إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ﴾ پدې ايت كښې دوه(٢)تفريعات دى.دااوله تفريع دد چه متفرع ده په ايت نمبر(٧)"اناراداوه اليك"باند .اوياد موسى عليه السلام د مدين نه مصرته په واپسئ باند متفرع دې يعنى لكه څرنگه چه موسى عليه السلام د مورنه جدا كړې شوې ووا وبيا الله جل جلاله خپلى مو ـ واپس كړونودغه شان تابه الله جل جلاله خپل وطن مكې ته واپس كړى اوياداچه موسى عليه السلام خپل وطن نه مدين ته هجرت كړې ووبيا الله جل جلاله په عزت اواكرام سره خپل وطن مصر ته واپس كړونودغه شان تابه هم الله جل جلاله خپل وطن ته په عزت اواحترام سره واپس كړى اوغوره قول دادې چه د "معاد"نه مراددلته مكه معظمه ده څكه چه د ابن عباس رضي الله عنه نه په سندصحيحه سره منقول دى چه كله نبى پاك ﷺ په غارثوركښې درې(٣)شپې اوكړې اوبيامدينې ته اووتلونو په هغه لارروان شوكومه لاره چه غيرمعروفه وه څكه چه مشركين د نبى پاك ﷺ تعاقب كولو.چه كله نبى پاك ﷺ جحفه مقام ته اورسيدلونونبى پاك ﷺ د مكى اصل اومعروفه لاراوكتله نونبى پاك ﷺ ته مكه راياده شوله نوحضرت جبرئيل عليه السلام راغې د الله جل جلاله د طرف نه ئې داايت راوړو. او "فرض"ياپه معنى د "نزل"سره دې اوياپه معنى د "اوجب"سره دې.اى اوجب عليك تلاوته وتبليغه والعمل بمافيه(مدارك) يعنى كوم ذات چې په تاد قرآن تبليغ واجب كړې دې اوپديكښې اشاره ده چه د قرآن مجيدتلاوت د هغې تبليغ اود هغې په تعليماتوباندې عمل په دشمن باندې د فتح اودنصرت الهى ذريعه گرځى

﴿قُل رَّبِّيٓ أَعْلَمُ﴾ داپه ايت نمبر(٣٧)باندې تفريع ده يعنى څرنگه چه فرعون اودهغه قوم په موسى عليه السلام باندې طعن كړې وو.موسى عليه السلام د هغوئى د معاندانه طعن اوكلام په جواب كښې چه كوم طرزاورويه اختياركړې وه د هغې حكم نبى پاك ﷺ ته هم وركولې كيږى چه ته هم علم الله جل جلاله ته اوسپاره څكه چه دادېرمعاندين دى

﴿وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓا﴾ پدې ايت كښې هم دوه(٢)تفريعات دى يوه تفريع په ايت نمبر(٧)باند ده يعنى لكه څرنگه چه د موسى عليه السلام مورچه كله موسى عليه السلام په صندوق كښې بند كړواودرياب

ته نې اوغورځولو .دغې په وهم اوګمان کښې هم نه وه چه موسى عليه السلام به بې شی اوده ته به منصب رسالت عطاء کړې شی.خو الله جل جلاله ورسره وعده کړې وه چه وجاعلوة من المرسلين نودغه شان ستاپه خيال کښې هم نه وه چه تاته به منصب رسالت ميلاويږي اودقرآن مجيدپه شان عظيم الشان کتاب به په تاباندې نازليږي.ليکن الله جل جلاله محض په خپل رحمت سره تاته دامنصب عطاء کړو اودا امرپه منزله دعلت دې دامرثانى ﴿ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ﴾دپاره ځکه چه نبى پاک ﷺ ډيرپه پې سروسامانئ په حالت کښې دمکې نه راوتلې ووا ومشرکين ډيرپه شان وشوکت کښې وو .نو الله جل جلاله نبى پاک ﷺ ته تسلى ورکړه چه ته اګرچه دبې سروسامانئ په حالت کښې نې اوکافران ډيرپه طاقت کښې دی.خلاف توقع الله جل جلاله به تاته طاقت درکړى ستا امداد اونصرت به اوکړى اوفاتحانه اندازکښې به تامکې ته داخل کړې لکه څرنګه الله جل جلاله تاته خلاف توقع نبوت اورسالت درکړو.

﴿ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا ﴾داپنځم امردې اوتفريع ده په ايت نمبر(۱۷) فلن اکونَ ظهيراً للمجرمين باندې.يعنى موسى عليه السلام وعده کړې وه چه څه به دمجرمانو اعانت اوامداد نه کوم.نو اې پيغمبره!ته هم دکفارومعاونت اوموافقت مه کوه اومقصودپدې سره دکفارو درخواستونه على وجه الابلغ والاوکد مستردکول دی ځکه چه کفاروبه نبى ﷺ ته باربار درخواست کولو چه داخپل دين پريده اوزمونږطريقه اختيارکړه ځه چه ته غواړې مونږبه تاته هغه درکړو اونبى پاک ﷺ خوهسې هم ددوئى دادرخواست نه منلوخوبياهم الله جل جلاله دوئى دمايوسه کولودپاره نبى ﷺ ته دامذکوره خطاب اوکړو اوقانون دادې چه دچاسره نفرت وی اودهغه سره خبرې کول نه غواړې نوخبرې دخپل محبوب سره اوکړې شی اوواوره ولې شې هغه بل کس ته.نودلته هم الله جل جلاله ظاهراً خطاب نبى ﷺ ته اوکړوخوحقيقتً مقصودکافران دی اوهغوئى ته داوئيل دی چه داپيغمبرهرګزستاسو موافقت نه کوى(روح.بيان القرآن)

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ إِذْ أُنْزِلَتْ إِلَيْكَ وَادْعُ إِلٰى رَبِّكَ
او هر ګز دې منع نه کړى کفار تا د آياتونو د الله جل جلاله نه پس د دې نه چې نازل کړې شول تاته او رابله خلق د خپل رب عبادت طرف ته

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ
او هرګزمه کیږه ته دَمشرکانونه اومه بله دَالله ﷻ سره اله بل. نشته دې لائق دَعبادت بل څوک مګرالله دې.
كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ؕ لَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۸﴾
هرڅیزفانی کیدونکې دې مګرذات دَالله، ده لره حکم دې،نافذدې حکم دَده،اوهغه ته به واپس کولې کیږئ تاسو.

﴿وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ﴾ داتشجيع ده نبی پاک ﷺ ته په دعوت باندې. چه داکفاربه تاپه مختلف دهوکوسره دَدعوت اوتبليغ نه منع کوی ليکن ته دَدوئی خبره اونه منې اوپه دعوت اوتبليغ کښ مداهنت اونه کړې ﴿وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ﴾ دلته عبادة لفظ مقدردې يعنی وادع الی عبادة ربك. ﴿وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ داخطاب اګرچه ظاهراً نبی ﷺ ته دې ليکن مقصودبالخطاب امت دې، ځکه چه دَنبی پاک ﷺ نه مداهنت فی التبليغ يا(نعوذبالله) کفر اوشرک کول محال دی ﴿وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ﴾ داشپږم امردې اومتفرع دې په ايت نمبر(۷۰) باندې.

اوګوياچه دادټول سورت خلاصه اودَواقعاتوثمره ده يعنی دَدې سورت دَدلائلونه معلومه شوه چه خالق، مالك، متصرف، مختارکل اوعالم الغيب صرف دَالله ﷻ ذات دې، لهذاتاسوبل چاته کارساز، حاجت روا، مشکل کشااومتصرف حقيقی مه واييئ، اودغه شان دَدې سورت دَواقعاتونه معلومه شوه چه حضرت موسی علیه السلام تکاليف، مصائب وغيره برداشت کړی ووهغه صرف اوصرف دَدې دعوت دَپاره وو.

پدې ايت کښ شپږقسمه شرك باندې ردکړې شويدې(۱)شرك فی الدعاء(۲)شرك فی العبادت، دَدې دواړوردپه ﴿وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ﴾ کښ راغلې دې(۳)شرك فی الالوهيت (۴)شرك فی التصرف دَدې دواړوردبه ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ کښ راغلې دې(۵)شرك فی الصفات دَهغې ردپه ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ﴾ کښ دې(۶)شرك فی الحکم دَهغې ردپه ﴿لَهُ ٱلْحُكْمُ﴾ سره راغې، اوپه اخيرکښ اثبات دَعقيدې دَبعث بعدالموت ده، چه مقصودپدې سره توحيدفی

الحساب دي يعني اخرت کښ بدله ورکول،حساب،کتاب کول صرف دَالله ﷻ په قبضه او اختيار کښ دی

﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ ﴾ دَ شئ دري(٣) اطلاقات دي يو(١) اطلاق حقيقي دې چه هرموجود في الخارج ته اونيلې شی که هغه واجب وی یاممکن، جوهروی یاعرض دویم(٢) اطلاق ئې عرفي دې چه هرممکن ته اونيلې شي، جوهروی اوکه عرض(٣) دريم اطلاق ئې خصوصي دې چه دَ شئ اطلاق صرف په اعمالو(اعراضو) باندې اوکړې شي، اودغه شان دَ هالك هم دري(٣) معاني دی یوه(١) معنی ئې ده هلاك کیدونکې، فناء کیدونکې، دویمه(٢) معنیٰ ئې ده محتاج يعنى چه دَاصل په اعتبارسره معدوم وی اوپه خپل وجود کښ محتاجه وی واجب الوجودته اودریمه(٣) معنی ئې ده بې فائدې، غيرمقبول اوغيرمعتبراو وجه دَراجح قول مطابق اودَاکثرو مفسرينو په مسلك، مراد ترينه ذات دَالله ﷻ دې او یا ترينه مراد رضا دَالله ﷻ ده.

دَدې جملې معاني محتمله ډيرې دی خو معاني مذهوبه چه کوموته مفسرينو ذهاب کړيدې، او صحيحه څلور(٤) دی(١) اوله معنی داده چه شئ په خپلې حقيقي معنی باندې حمل کړې شی چه هرموجود في الخارج باندې دَدې اطلاق اوکړې شی که واجب وی یاممکن نووجهه نه مراد ذات دَالله ﷻ دې نو معنی به ئې دا شی چه هرڅيز ختميدونکې او فناء کيدونکې دې سيوا دَذات دَالله ﷻ نه، نوپه دې صورت کښ استثناء متصله ده ځکه چه په ذات دَالله ﷻ باندې اطلاق دَ شئ په مذکوره معنی سره کيدې شی، نو مستثنی په مستثنی منه کښ داخل وو خو په دې توجيه اعتراض واردیږی چه دَدې ايت نه معلوميږی چه هرڅه به فناکيږی که جنت دې که دوزخ دې یاارواح وغيره دی حالانکه په دې باندې فناء نه راځی؟ نوبعضو(١) ترينه جواب داکړيدې چه دا ټولو ممکناتو باندې به الله ﷻ څه وخت دَپاره فناء راولي، اوداموکوره څيزونه به هم څه وخت دَپاره به فناء کيږی اګرچه دغه فنا به دائمي نه وی بلکه لږ مدې دَپاره به وی اوهغه مدت دَمابين دَنفختين دې چه دَدوه(٢) نفخو په مينځ کښ وخت کښ به الله ﷻ هرڅه فناء کړی، تن تنها دَالله ﷻ ذات به باقي پاتې وی(٢) بعضو ترينه داجواب کړيدې چه دلته حصر حقيقي نه دې مراد بلکه حصر اضافي مراد دې، اومطلب دادې چه کوم څيزونه دَفناء دپاره دی هغه به فناء کيږی ليکن دا جواب ډير ضعيف دې وجه دَضعف ئې اظهره ده.

(۳) صحيح جواب ددې دپاره دادې چه ﴿ كُلُّ شَيْءٍ ﴾ كښې استغراق حقيقي دې هرڅيزته شامل دې ليكن دنوررونصوصودوجې نه اته (۸) څيزونه ترينه مستثنى دى چه دهغې مجموعه مفسرينوپدې شعركښې ذكركړيده:

ثمانية حكـم البقـاء يعـمها من الخلق والباقون فى حيزالعـدم
هى العرش والكرسى ونارو جنة وعجب وارواح وكذااللوح والقلم

يعنى دمخلوقاتونه اته (۸) قسمه مخلوق دى چه دوئى به باقى وى اونور به ختميږى اوفنابه پرې راځى (۱) عرش (۲) كرسئ (۳) اوردجهنم (۴) جنة اودهغې نعيم (۵) دملاهډوكې (۲) روحونه (۷) لوح (۸) قلم.

دويمه معنى داده چه ﴿ كُلُّ شَيْءٍ ﴾ نه مرادموجودفى الخارج شي او ﴿ هَالِكٌ ﴾ نه مرادمحتاج شى اواستثناء پدې صورت كښې هم متصله ده. نومعنى به ئې داشى چه هرموجودفى الخارج محتاج دې سيوادالله ﷻ نه. چه هغه محتاج اليه دې. صمداوبې نيازه ذات دې (۳) دريمه معنى داده چه د ﴿ كُلُّ شَيْءٍ ﴾ نه مرادممكنات شى او هالك په معنى دمحتاج شى اواستثناء پدې صورت كښې منقطعه ده معنى ئې داده چه هرممكن په خپل ذات كښې محتاج دې غيرته (واجب الوجودته) سيوادالله ﷻ د ذات نه. ځكه چه هغه واجب الوجوددې.

(۴) څلورمه معنى چه امام بخارى رحمه الله غوره كړيده هغه داده چه ﴿ كُلُّ شَيْءٍ ﴾ نه مراداعمال شى او باطل په معنى دبې فائدې. غيرمعتبراوغيرمقبول سره شى، او ﴿ وَجْهَهُ ﴾ نه مرادرضادالله ﷻ شى، نومعنى به ئې داشى چه هرعمل لغو، غيرمعتبراوغيرمقبول دې سيوادهغې عمل نه چه دالله ﷻ درضادپاره اوكړې شى.

﴿ لَهُ الْحُكْمُ ﴾ داتوحيدفى القدروالقضاء دې يعنى حكم صرف دالله ﷻ دې څه كيږى اوڅه واقع كيږى ټول دالله ﷻ تصرفات دى، څوك ورسره پديكښې شريك نه دې. ﴿ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ داعقيده دبعث بعدالموت ده اوپديكښې اشاره ده توحيدفى الحساب ته. يعنى څرنګه چه په

دنیاکښې تصرف کوونکې ذات صرف الله جل جلاله دې. څوك ورسره شريك نه دې دغه شان قيامت په ورځ به فيصله هم دالله جل جلاله په اختیارکښې وی مخلوقاتو ته به دخپلو اعمالو بدله ورکوی

اللهم وفقنا لما تحب وترضى واجعل هذا السعي مشكوراً.

ركوعاتها (۷)	سورة العنكبوت مكية	آياتها (۶۹)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۲۹) وحسب النزول (۸۵)

سورت عنکبوت مکی سورت دې،ترتیب قرآنی کښې نهه ویشتم (۲۹) نمبر او په ترتیب نزولی کښې پنځه اتیایم(۸۵)نمبر سورت دې .دَسورت الروم نه ورستو اوَ سورت المطففین نه مخکښې نازل شویدې.زمانه دَ نزول ئې دور متوسط دَ مکی دې،او بعض حضرات فرمائي چه اول یولس آیاتونه (یعنی "ولیعلمن المنافقین" پورې) مدنی دی او بقیه سورت مکی دې.

دا سورت په ۲۹ آیاتونو ،۷رکوعاتو ،او ۱۹۸۱ کلماتو ،۴۵۹۵ حروفو باندې مشتمل دې.

ربط اسمی:دَماقبل سورت سره ربط اسمی دادې چه ماقبل سورت کښې تشجیع وه په واقعی د موسی ﷺ سره نو پدی سورت کښې ذکر دی چه دین دَپاره قربانی کونکو او محنت کوونکو ولا دښمنان به داسی کمزوری وی،او دا سی زر به نیست وبابود شی لکه دَ عنکبوت کور.

۲)په سورت قصص کښې دَدی ذکر ووچه برکات ورکونکې ذات صرف الله ﷻ دې،او ددی پاره موسی ﷺ ډیر تکالیف برداشت کړې وؤ،الله ﷻ دهغه ټول دښمنان هلاک کړل ،پدی سورت کښې ذکر دی چه دَغیر الله نه مدد غوختل او غیر الله ته برکا ت دهنده وئیل داسی دی لکه دَعنکبوت کور چه هوا ګانو په ذریعه سره دَورانیدلونه بچ کیږی،نودغه شان غیر الله نه دَبل چا امداد کولې شي او نه خپله ځان دالله ﷻ عذاب نه بچ کوې شي.

ربط معنوی ربط معنوي د ماقبل سره په وجوها تو سره دې.(۱) په سورهٔ القصص کښې دَدی ذکر وؤ چه د مسئله توحیددَ وجی نه ،ای پیغمبرهٔ ﷺ په تاباندې تکالیف او مصائب راځي لکه څرنګه په موسی ﷺ باندې راغلي وؤ ،پدی سورت کښې دَدی ذکر دې چه په اهل ایمانو باندې به هم مصائب او تکالیف راځی(جواهر)

(۲)سورت القصص کښې د فرعونیا نو دَمظالمو ذکر وو چه" ان فرعون علا في الارض الخ" نو پدی سورت کښې امت محمدیه ﷺ ته تسلی ورکولې کیږی او د صبر واستقامت تعلیم ورکولې کیږی

چه تاسو باندې به د ایمان دوجی نه ازمیښتونه او تکالیف راځی خو ستا سونه وړاندې امتونو باندې کوم تکالیف راغلی وو هغه ډیر سخت وو نو هغوئي صبر واستقامت کړې وو نو لهذا تاسو هم صبر واستقامت ،اختيار کړئي (روح)

(۳)دغه شان ماقبل سورت کښ تشجيع وه په واقعي دموسیٰ عليه السلام سره ،پدی سورت کښ تشجيع ورکولې کيږې په واقعي د حضرت نوح عليه السلام ،ابراهيم عليه السلام وغيره سره ،

دعوه سورت: ددی سورت دری دعوه دي،(۱)يوه دعوه عمومی ده چه ،اثبات توحيد دې،دوه ۲ دعوه خصوصی دي.(۱)مؤمنانو باندې به از ميښت راځی،(۲)منکرينو ته دالله ﷻ دَ عذاب نه نجات نشي ميلاويدلې.

اجمالي خلاصه:دَسوت د مضاميو اجمالي خلاصه داده چه دری/۳ دعوه ذکر کيږې ،دوه ۲ خصوصي او يوه عمومي اول دوه/۲ خصوصي دعوه دی.(۱) چه مؤمنانو باندې از ميښت راځی،چه د دی ذکر په آيا ت نمبر ۲ کښ دې،(۲) منکرين زمونږ دَ عذاب نه نشي بچ کيدلي چه د دی ذکر په ايت نمبر ۴ کښ دې.نهه۹ واقعات ذکر کيږی چه هغی کښ دری واقعات په اولی دعوه باندې مرتب دی او شپږ۶ واقعات په دويمی دعوه باندې مرتب دی،دسورت مينځ کښ عمومی دعوه ذکر کيږی،په هغی باندې دلائل عقليه ،چه دوه/۲ پکښ علی سبيل الاعتراف من الخصم دی،ذکر کيږې او يو دليل نقلي او يو دليل وحي هم ذکر کيږی ،او څه تخويفات او بشارتونه هم ذکر کيږی.

تفصلي خلاصه: تفصل ئی دادې چه ايت نمبر ۲ کښ ذکر د اولی دعويي کيږې او ايت نمبر ۳ کښ حکمت د ابتلا ذکر کيږي،په آيت نمبر ۴ کښ دويمه دعوي ذکر ده او دايت نمبر ۵ نه تر ايت نمبر ۱۳ پورې د اولی دعوه سره متعلق بشارتونه تخويفات او دری قسمه ابتلاا ذکر دی،(۱)ابتلا د جانبه د نفس نه راځی نو لهذا د نفس خلاف مجاهده کوئي چه ديته تهذيب الاخلاق وئيلې شی ،ددی ذکر په آيت نمبر ۷ کښ دی(۲) ابتلا د جانبه مشرکانو والدينونه ده يعنی د کور نئي نه به ابتلا راځي او والدينو سره حسن سلوک تعليم سره سره د توحيد په باره کښ د هغوئ دخبری اطاعت نه کولو تعليم دي چه ديته "تدبير المنزل " نوم ور کولې شې ،چه د دی ذکر په آيت نمبر ۸ کښ دي(۳) ابتلا د جانبه د عامو مشرکانو ،چه عام مشرکان به هم تاسو ته اذيت او تکاليف درکوي،تاسوبه د هغوئي د اذيت دَوجه نه خپله نظريه نه پريدئ،ديته سياست مدنيه وئيلي کيږی چه دَ دی ذکر په ايت نمبر ۱۲ کښ دی.

دآیت نمبر ۱۴ نه تر ۳۵ پوری دری ۳ واقعات ذکر کیږي ،چه مرتب دي په اولی دعوه باندې واقعه دنوح علیه السلام ذکر کیږي په آیت نمبر ۱۵.۱۴ کښ،چه نوح علیه السلام نهه نیم سوه ۹۵۰ کاله د توحید د پاره تکالیف او از میښتونه برداشت کړي وو،نو اې مؤمنانو په تاسو باندې به هم تکالیف راځي .د آیت نمبر ۱۶ نه ۲۷ پوری دویمه واقعه ذکر کیږي چه د حضرت ابراهم علیه السلام واقعه ده .چه دمسئله توحید د پاره حضرت ابرهیم علیه السلام اور ته هم غور ځولی شوې وو دآیت نمبر ۲۸ نه تر ۳۵ پوری دریمه واقعه د حضرت لوط علیه السلام ذکر کیږي چه دمسئله توحید په خاطر حضرت لوط علیه السلام سخت سخت اذیتونه برداشت کړیدي.دهغه دمیلمنو بی عزتی شوی وه

دآیت نمبر ۳۶ نه تر ۴۰ پوری شپږ واقعات ذکر کیږي.چه مرتبی دي په دویمه.دعوه باندې.واقعه دشعیب علیه السلام ،دقوم عاد ،قوم ثمود ،واقعه دقارون ،دفرعون او دهامان .چه دا ټول منکرین دالله جل جلاله دعذاب نه ،ندي بچ شوی.

په آیت نمبر ۴۱،نه تر ۴۳ کښ عمومی دعوه ذکر کیږي په طریقه د تمثیل سره .او په آیت نمبر ۴۴کښ دلیل عقلي دې په مسئلی توحید باندې،په آیت نمبر ۴۵ کښ دلیل نقلي سره دامر مصلح ذکرکیږي.په آیت نمبر ۴۶ کښ د طریقه دَ دعوت ورکولو تعلیم ورکولې کیږي سره ددلیل نقلي دمؤمینینو سابقینو نه. په آیت نمبر ۴۷ نه تر ۴۹ کښ اثبات رسالت دې،ایت نمبر ۵۰.۵۱ کښ شکوی سره دجواب شکوه ذکر کیږي ،په آیت نمبر ۵۲ کښ نتیجه ددلائیلو ذکر کیږي.آیت نمبر ۵۳نه تر ۵۵ کښ زجرونه دی په استعجال عذاب باندې،دآیت نمبر ۵۶ نه تر ۶۰ پوری ترغیب الي الهجرة ذکر کیږي

په آیت نمبر ۶۱ کښ دلیل عقلي اعترافي ذکر کیږي .په ایت نمبر ۶۲ کښ دلیل عقلي محضه په عمومي دعوي باندې ذکر کیږي،په آیت نمبر ۶۳ کښ څلورم دلیل عقلي اعترافي ذکر کیږي.دآیت ۶۴تا ۶۸ پوری زجر ونه دی،او آیت نمبر ۶۹ دابتدا دسورت سره متعلق دې،او بشارت دې هغه چاته چه په ازمائش کښ صبر او استقامت اختیار کړې. (تمت)

الٓمّٓ ۝١ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ

ت: آیا داګمان کوی خلق (مؤمنان) چه پری به ښودلی شی دوئ صرف بدی خبره چه وائی مونږ ایمان راوړیدي او دوئ به

لَا يُفْتَنُوْنَ ۝٢ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ

وانه ازمیلي شي. او یقیناً ازمیلی وو مونږ هغه خلق چه د دوئ نه مخکښ وو. نو خامخا ښکاره به کړي الله جل جلاله

الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝٣ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ

هغه کسان چه رښتني دی او خامخا ښکاره به کړي دروغژن. آیا ګمان کوی هغه کسان چه عملونه کوی بد

اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ۭ سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۝٤ مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاۗءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ

چه بچ به شی زمونږ د عذاب نه. بد دي هغه چه دوئ فیصله کوی څوک چه امید لری د ملاقات د الله جل جلاله نو بیشکه نیټه د ملاقات د الله جل جلاله

لَاٰتٍ ۭ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝٥ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ

راتلونکی ده. او الله جل جلاله ښه اوریدونکي دي ښه عالم دي. او څوک چه مجاهده کوی نو بیشکه دي مجاهده کوی

لِنَفْسِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٦ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

د نفع د خپل خان لپاره. بیشکه الله جل جلاله بی پرواه دي د خلقونه او هغه کسان چه ایمان ئی راوړیدي او عملونه ئی کړیدي نیک

لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٧

نو خامخا لری به کړو مونږ د دوئ نه ګناهونه د دوئ او خامخا بدله به ورته ورکړو ښائسته بدله د هغی عملونو چه دوئ کول

• الٓمّٓ: دا د مقطعاتو قرآنیه ؤنه دي چه تفصیل ئی په ابتدا د سورة البقری کښ تیر دي. • اَحَسِبَ النَّاسُ: دا د سورة اوله دعوه ده، یعنی د مؤمنانو آیا دا ګمان دي چه دوئ به صرف په دومره قدری خبری پریښودلي شی چه وائی مونږ ایمان راوړیدي. او نور مصائب به پری نه راځی؟ استفهام انکاری دي، یعني دا خیال د دوئ غلط دي په ژبی سره دعوه کول دومره کافی ندی امتحان او ابتلاء ته دی هم تیار شی، په حدیث کښ راغلیدی چې اشدّالنّاس بلاءً الانبیاء ثمّ الصّالحون ثمّ الامثل فالامثل (ابن کثیر) یعني د ټولو خلقونه سخت امتحان د انبیاؤ دي بیا د صالحینو. بیا درجه

په درجه دَهغه خلقودې چې دَهغوسره مشابهت لري اودَانسان امتحان دَده دَدين اوايمان په حيثيت اخستلى كيږى،ځوك چه څومره په ايمان كښ مضبوط وي په هغه اندازه ئى امتحان هم سخت وي.نوپدى اعتبار دَ"الناس" نه مراد مؤمنان دى.اوددى تائيد په هغوروایاتو سره هم كيږىچه ددى ايت شان نزول كښ ذكر كړې شويدې لكه ابن عمرؓ نه مروى دى چه د ايات دهغه مؤمنانو په باره كښ نازل شويدې چه د مكى نه ئي هجرت كولو مدينى ته،اوكفاروا ونيولواوسخت تكليفونه ئي ورته اورسولو. او بعض حضرات فرمائي چه د"الناس"نه مراد منافقين دى يعنى دَ منافقينو دا خيال غلط دى چه مونږ په ژبى سره "امنا"وئيلوسره به خلاص شوخو اول قول زيات راجح دى. ﴿وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ﴾دا جمله په موضع د حال كښ ده.او افتنان په دوه/۲ قسمه دى (۱) افتنان په امور تكوينيه سره .لكه جانى ،مالى اور ذهنى تكليف رسيدل (۲)افتنان په امور په شرعيه سره لكه مونځ جهاد ،هجرت وغيره شو.دا ايات دواړه انواعوته شامل دى.

﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾دا تسلى ده مؤمنانو ته او داجمله په موضع دَحال كښ ده د"الناس"نه او علت د انكار دپاره دې چه دوئي دى دا گمان ځكه نه كوى چه الله ﷻ سنت په دى جارى دې چه امتحانات خامخااولى اومرادپه "الذين من قبلهم"سره انبيا كرام سابقين او دهغوئي متبوعين دى يعني نورو امتونومسلمانانوباندى هم داسى مصائب تيرشويدى،هغوئ صبركړيدې اوپخپل دين اوپه اتباع دَنبى باندې مضبوط پاتى شويدى كقوله تعالى:وكاين من نبيٍ قاتل معه الخ (آل عمران ايت نمبر ۱۴۷).په بخارى،ابوداؤد وغيره كښ دَحضرت خباب بن الارتؓ نه روايت دې چې مونږحضورﷺخدمت كښ شكايت اوكړوچه مونږته دمشركانودَطرفه سخت اذيتونه رااورسيدل،زمونږلپاره دَاللهﷻ نه مدد ولى نه غواړې؟مونږ ته دعاولې نه كوې؟ نوحضورﷺ اوفرمائيل:چه ستاسونه مخكښ به يومسلمان اونيولي شوپه زمكه كښ به ئى په ولاړه خخ كړو بيابه ئى دَهغه په سرآره راكاگله اودوه ټوټې به ئى كړو اودَبعضوپه بدنونوبه ئى دَاوسپني گمنزي راكاگلې چه غوښه به ئى ورسره توئ شوه،خوباوجود دَدى هغه به دَخپل دين نه ،نه منع كيدلو﴿فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ﴾حكمت دې دَابتلاء يعني چه صادق اوكاذب پته اولگى،علم نه دلته مراد تميزراوستل اوجداجدا كول

دی،یاپمعنی دَاظهاردې.یعني الله ﷻ دواړه ښکاره کړې، نو استدلال د معتزله ؤ په حدوث د علم د الله ﷻ صحیح نه دې باقی تفصیل په سورت بقره(۱۴۳) کښې تیر وؤ﴿أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾ دادویمه دعوه ده چه منکران دَعذاب الهی نه نشي بچ کیدلې.سیئات نه مرادکفراوشرك دې،او جمع په اعتبار د تعدد متصیفنو سره ده.او یا دسیئات نه مراد شرك دی سره دَ نور ګناهونولکه مسلمانانو او انبیاکراموته تکلیف رسول او هغوني پوری توقی کول'اي الشرک والمعاصي فان العمل يعم افعال القلوب والجوارح(روح)﴿أَن يَسْبِقُونَا﴾ای يُعجزونا يعنى دکافرانوداګمان دې چه دوئ به مونږعاجزه کړې دَدوئ نه په انتقام اخستلواودَدوئ دَبدعملونوبدلی ورکولوطاقت به نه لرلو؟ داخوډیره غلطه فیصله ده.

﴿مَن كَانَ يَرْجُواْ لِقَآءَ ٱللَّهِ﴾پدی آیاتونوکښې داولی دعوی سره متعلق بشارتونه اوتخويفات دی﴿يَرْجُوا﴾پمعنیٰ دَیخافُ سره دې،او﴿لِقَآء﴾نه مرادموت حساب،جزاء دی،المعنیٰ:من كان يخافُ الموت فليعمل عملاًصالحاً فانه لابدّ ان ياتيه (قرطبی)یعني هغه څوك چه دَموت نه یریږی نوعمل صالح دی اوکړې چه مرګ خامخاراتلونکې دې او یا"یرجو" په معنی ده یعتقد سره دې او"لقا"نه مرادبعث بعدالموت دې،او"جزاء"ورله مقدره ده.ای من كان يعتقد على البعث فليصبر على البلايا یعنی چه څوك د بعث بعدالموت عقیده لری نوپه بلایا او تکلیفاتو سره دې صبر کوی بعض وائی مضاف مقدردې ای من كان يخافُ ملاقاة عقاب الله تعالى.یا"رجا"پخپله معنٰی دې او﴿لِقَآءَ ٱللَّهِ﴾نه مراد دَالله ﷻ رؤئیت اومشاهده کول دی، کمايليقُ بشانهِ،په قیامت کښې(روح)﴿فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ﴾یعنی دَالله ﷻ مقررشوې وخت په باره دَقیامت کښې خامخاراتلونکې دې،او دا جمله اسمیه قائمقام دَ جزا ده او اصل جمله جزائیه محذوف ده،چه هغه فليعمل عملا صالحا یا فليصبر على البلايا، وغیره دې.او دا مذکوره جمله فان اجل الله الخ صلاحیت دَ جزا نه لري ځکه چه شرط قید وي د جزا دَپاره نو کچرې دا مذکوره جمله جزا شې نو دَدایت مطلب به داشي چه قیامت به هله راځي چه تاسوئي امید لرئ،حالانکه قیامت راتلل دچا دَ امید او اعتقاد سره مقید نه دی. ﴿وَمَن جَـٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَـٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ﴾ دَدی ایت نه مختلف انواع د افتنان

او په هغی کښ د کامیابئ طریقی ذکر کیږي نو دااول قسم افتتان دې چه انسان ته دخپل نفس نه پیش کیږي په نفس کښ بی صبري .عدم استقامت او دخواهشات اتباع جذبه وي دهغی دپاره دتهذیب الاخلاق ضرورت دې .نو ځکه الله ﷻ فرمائي چه تاسو مجاهده کوئي دنفس سره .نفس په صبر علی البلایاو الطاعات باندي اماده کوئ او دخواهشات داتباع نه ئي بچ کوئي ،دیته تهذیب الاخلاق وئیلې کیږي نو لهذا د جهاد نه مراد دلته جهاد مع النفس دې او قتال مع الکفار نه دې مراد ،ځکه چه داآیت مکی دې . او فرضیت دقتال په مدینه کښ شوې وو. اوددی وجی نه حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائي چه ان الرجل لیجاهد وماضرب یوما من الدهر بسیف(ابن کثیر) ﴿ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفۡسِهِۦٓ ﴾ یعني ستاسو د مجاهدی فائده الله ﷻ ته نه رسی،خالص تاسو ته فائده رسی،او داحصر اضافی دې.په نسبت سره الله ﷻ ته دې.اوحصر حقیقي نه دې.ځکه کله کله دیو انسان د مجاهدی فائده بل انسان ته هم رسی.لکه د اولاد نیک عمل فائده والد ینونه ته رسیږی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ دا په منزله د علت دې د ماقبل دپاره .یعنی الله ﷻ مستغنی دې او عبادتونو حکم دالله ﷻ انسان سره احسان دې ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ بشارت ذکر کیږي د جهاد مع النفس کوونکو دپاره .نو د عملوالصلحات نه مراد پدی ایت کښ صبر علی التکالیف والبلایادی

﴿لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّـَٔاتِهِمۡ﴾تکفیر کنایه ده د مغفرت نه او اسقاط د عذاب نه په اخرت کښ نو کافر چي ایمان راوړي نو دایمان په برکت سره ئي کفر او شرک معاف شی اوچي مؤمن وی ،گناه ترینه اوشی نو دنورو نیک اعمال په برکت سره الله ﷻ ورته معافی اوکړي.لکه په حدیث د مسلم او ترمذی کښ دي.الصلاة الي الصلاة کفارة لما بینها مالم تؤت الکبائر والجمعة الی الجمعة الخ---او کچری گناه کبیره ورنه اوشی نو الله ﷻ د توبی توفیق ورکړي.او معافي ورته اوکړی.﴿وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾-داکنایه ده د ادخال دجنت نه .یعني ددی نیک عمل په وجی سره به ئي الله ﷻ جنت ته داخل کړي .او ظاهره داده چه احسن صفت د جزا ده پاره دې .یعني د دوئي د عملونو داسی بدله به ورکړو چه هغه بدله به احسنه وي او بدله احسن تضعیفي اجر دې یعني د یوی نیکني په بدله کښ

لس: ۱۰ گنا اجر ورکوی، او اجر حسن هغه اجر دی، چه یو نیکئ په بدله کښ یو اجر میلاؤ شي

اویا "احسن" صفت ده عمل دپاره دی او اسم تفضیل یاپه معنی دصفت یعني حسن سره دی اودامطلب ندي چه دعمل احسن بدله به ورکولې شی اودحسن بدله به نشي ورکولې بلکه هرنیک عمل الله ﷻ خوا ته عمل احسن دی، اویااسم تفضیل په خپلی معنی سره دی اودادقبیلی دتنبیه علي الادني بالاعلي نه دي یعني هر کله چه الله ﷻ داحسن بدله ورکولې شی نوحسن خوپه طریقه اولی سره ورکولې شی او، ورکوئي (جمل). اوحضرت شیخ رحمه الله فرماني چه د "احسن" نه مراد عمل هجرت دی چه دهغی ذکر ماقبل کښ اشارةً شویدی، او هجرت په هغی دور کښ د نور اعمالو په اعتبار سره عمل احسن وؤ، او په ایت کښ دمفهوم مخالف اعتبار ندي کړې شوې، یعني د عمل حسن جزا او بدلی ته تعرض ندي کړې شوی.

نو دایت مطلب داشوچې مونږ به دوئي ته دَ دوئي د بهترین عمل چه هجرت دی د هغی بدله کښ به خامخا ورکوؤ. او باقي د نورو اعمال حسنه نو دهغی د ثواب ذکر دلته ندي کړې شوې.

وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ
اوکلك امرکړیدې مونږ انسان ته دَمور پلار سره دَښه سلوك، اوکچرته دواړه کوشش کوی په تاچه ته شریك اوګرځوه
بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۚ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ
ماسره هغه معبودان چه نشته دي تاته په الوهیت دَهغی علم، نوخبره مه منه دَدواړو، خاص ماته واپس راتلل دی،
فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
نوخه به خبرکړم تاسوپه هغه عملونوچه تاسوکول اوهغه کسان چه ایمان ئی راوړیدې اوعملونه ئی کړې وی نیک
لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ ﴿٩﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ
نو خامخا داخل به ئی کړو مونږ په جماعت دَنیکانو کښ اوبعض دَخلقونه هغه دی چه وائی مونږ ایمان راوړیدې په الله جل جلاله

فَإِذَآ أُوذِيَ فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ

خو چه کله تکلیف ورنه اورسولی شی په وجه دایمان راوړلو په الله ﷻ.نو اوګرځوی فتنه دخلقو په شان دعذاب دالله ﷻ

وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۗ أَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَعْلَمَ بِمَا

اوقسم دي کچرته راشی مدد دطرفه درب ستانه نو وائی بیشکه مونږ تاسو سره یو.آیا نه دي الله ﷻ ښه خبر په هغه څه چه

فِي صُدُورِ الْعٰلَمِينَ ۝ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِينَ ۝١١

په سینو دخلقو کښې دی او خامخا ښکاره به کړي الله ﷻ مؤمنان او خامخا ښکاره به کړي منافقان.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ۖ وَمَا هُمْ

اووائی کافران مؤمنانو ته اتباع اوکړئ زمونږ دلاری اومونږ به بار کړو ګناهونه ستاسو.حال دا چه نه به وی دوئ

بِحٰمِلِينَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۖ إِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ۝ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا

بارونکی دګناهونو ددوئ نه هیڅ څیز.بیشکه دوئ خامخا دروغژن دی.او خامخا باره وی به بوجونه خپل دګناهونو او نور بوجونه

مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ۚ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ۝١٣

دخپلو بوجونو سره.او خامخا به تپوس به ورنه اوکړي شی دقیامت په ورځ دهغه چه دوئ دروغ جوړول

﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسٰنَ بِوٰلِدَيْهِ﴾ دا دویم قسم افتنان او په هغی کښې د کامیابی د طریقی ذکر دی چه دیته تدبیر المنزل وائي.خلاصه ئي دا ده چه کله یو انسان ته د توحید او دین په باره کښې ازمائش د خپل کورنئ د طرف نه وی،دخپل مورپلار د طرف نه وی.نو دمور او پلار په باره کښې اګر چه تاکیدی حکم دي د احسان خو کچری مور او پلار یو کس د شرک او بې دینئ باندې مجبور کوی نو پدی معامله کښې د هغوئي اتباع جائزه نده .او نورو امورو کښې دهغوئي اتباع او دهغوئي سره حسن سلوک کول واجب دی .اګر چه هغوئي کافر ولی نه وی. اودآیت دحضرت سعدبن وقاص رضی الله عنه باره کښې نازل دې.دې دخپلې مورډیر خدمت ګزاروو.ایمان ئې راوړو مورئې مشرکه وه ورته ئې اووئیل خه خبره شوی بیه چه تاایمان راوړیدې.ترڅو چه تا په محمد ﷺ باندې کفرنه وی درې ترهغې به خه دچیه لاندی آرام نه کوم

اونه به څه خورم اونه به څه څکم،تردی چه مړه به شمه،خلق به تاپیغوردرکوی چه اې دَمورقاتله څوورځی تیری شوي،سعدﷺ ورته اووئیل اې مورې که ستاسل(۱۰۰)روحونه شی یویوبه اوځی لیکن څه خپل دین نه پریدم،که خوښه دی خوراك څکاك کوه که نه وی نومکوه،مورئی پوهه شوه چه دې ایمان نه نه آوړی نوخوراك ئی شروع کړو(روح.قرطبی)

"وصینا" په معنی دحکم تاکید سره دې او "احسانا"یا مفعول مطلق دې د "وصینا" دپاره په اعتبار دَ موصوف مقدره سره ،یعنی وصیناالانسان ایصاء حسنا"او حمل د حسنا په ایصاء باندې یا مبالغتا دې او یا مجازفي الحذف دې .اي ذا حسن او د امذهب دَ بصریانو دې او په مذهب د کوفیانو باندې عمل ورکول مصدرمحذوف ته جائزدی نو هغوئې په مذهب "حسنا" مفعول به دې د مصدر محذوف د پاره چه مضاف دې "والدیه" ته نو تقدیر د عبارت دا سی دی وصینا الانسان بإيتاء والديه حسناو دا هم ممکنه ده په مذهب د کوفیانو باندې چه حسنا مفعول مطلق شی د فعل محذوف د پاره چه احسن دې .

﴿وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ﴾دلته "قلنا" مقدر دې اي قلنا ان جاهدك ځکه چه دا جمله خبریه ده او ماقبل جمله انشائیه وه او عطف د جملی خبرئي په انشائیه باندې مستحسن ندې،نو ځکه "قلنا"ورسره مقدردی

﴿مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ﴾ضمیر په به کښ راجع دې"شریک" او "اشراک"ته او شرک ته ندې راجع ځکه چه علم او دلیل په شرک باندې هر مخاطب ته شته دې،البته علم او دلیل په شریک او په اشراک باندې نیشته دې ،مالیس به اي باشراکه(جلالین)

که څوک اشکال اوکړي چه نفي د علم مستلزم نده نفي د وجود شی لره نوکیدلې شي چه شریک موجود وي اګر چه علم او دلیل پری نوی حاصل شوې،نو ددینه متعدد جوابات کړې شویدې ،صاحب د جلالین ترینه جواب کړیدې چه موافقة للواقع یعنې دا قید د نفس الامرد موافقت د پاره ذکر کړې شویدې ،چه نفس الامر او واقعه کښ هم بل "اله" نیشته دې نو ځکه پری ستاسو علم نیشته دې . یعنې څرنګه چه په خارج کښ ستاسو علم او دلیل منتفي دې هم دغه شان په نفس الامر کښ د غیر الله جود هم منتفي دې،دویم جواب ترینه داکړې شویدې چه نفي د علم کنایه ده دَنفي د معلوم نه نو دمالیس به علم نه مرادمالیس لک اله دې یعنې

ستاسو د پاره بل اله نيشته او ددی وجه نه علامه زمخشری فرمائي چه لا يصح ان يكون إلها ولا يستقيم (كشاف)او پدی كښ اشاره ده چه نفي ده شرک او اثبات د توحيد د بديهيتو بلكه دفطرت انساني نه، دې،يعني خپل رب باندې علم راتلل بديهي دی كچری.رب او اله وی نو خامخابه پری علم هم وی. او دريم جواب ترينه د اهم كيديشي چه علم نه مراد دلته دليل اني دې ځكه چه د خالق د پاره لم او علت نوی نو لهذا د هغه دپاره دليل لمي هم نشي راتللې نو خامخا به اثبات دخالق دَ پاره دليل اني وئيلي كيږی،او دځومره مخلوقات چه دې دا ټول مخلوقات دالله دی او دلائل دی په وجود دَ الله باندې نو كچری بل اله وی نو خامخا دهغه د پاره مخلوق به وې اودلائل به وې،په وجود دهغه باندې ،نو هر كله چه مخلوق د بل اله د پاره نيشته دې نو معلومه شوه چه بل اله هم نيشته نوگوياچه نفی دَ دليل "اني" مستلزمه ده نفي دَ وجود "اله"لره ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾دابشارت اخروی دې مؤمنانوته او متعلق دې دَ دويم افتنان سره ﴿لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّٰلِحِينَ﴾يعنی كه اولادپه ناحقه خبره كښ دخپلووالدينوخبره نه منی،نودَاولادوحشربه ئي دَصالحانوسره كيږی دَوالدينوسره به نه كيږی اگرچه خلک دغه شان انسان ته مفسد او غير صالح وائي،او دَ دَه حشر به ځكه دَ صالحينو سره كيږي چه دَ ده محبت دَ صالحينو سره عقلي او شرعي دی اووالدين چه كافروي نو د هغوئي سره محبت صرف طبعي وي او په دی حديث: المرأ مع من احب الخ كښ عقلی او شرعی محبت مراد دې طبعی محبت ندې مراد نولهذا كچری دَيونيک انسان دَخپلو كافر والدينو سره طبعی محبت وی نو حشر به ئی بيا هم دَنيكانوخلكو سره كيږی او،والدينو سره به ئی نه كيږی.

فائده: صالحين د صلاح نه دې او صلاح ضد د فساد دې،او مقصددادې چه په هغه كښ څه قسم خرابي او خلل نه وی،نه اعتقادی،نه عملي او اخلاقی او مراتب دَدی غير متناهي دی اعلی مرتبه په انبيائيوكښ ده او بيا په نورو مسلمانانو كښ علی حسب التفاوت موجود وی.

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ﴾ داذكر ددريم افتنان دې چه دعاموخلكو د طرف نه وی ،چه د هغی د پاره دَ كاميابي ذريعه اوطريقه سياست مدينه دې او دغه شان پديكښ زجردې منافقينو ته ،خلاصهٔ ئي دا ده چه د دين او د حق د وجی نه به كله كله ستاسو مخالفت عام خلک هم كوی او د عامو خلكو د طرف نه به تاسو ته تكليفونه رسيږی،بد ،ردبه درته وئيلې شي خو تاسو به

صبر او استقامت کوئي د الله د دين د پاره به تکليفو نه برداشت کوئي او کتمان حق به د خلکو دويرې اومخالفت د وجې نه به نه کوئي .لکه څرنګه د الله د ويرې نه بيان د حق کوئ.
او دا دمنافق علامه ده چه دَ خلکو نه داسې سخت ويريګي لکه څرنګه چه يومسلمان دالله عذاب نه ويريږي،او دمعاشرې د فساد لويه ذريعه دا ده چه به هغې کښې کتمان حق راشي کما اشاره اليه في حديث ورد في فاطمة مخزويته کمال قال حين اشتشفع اسامة،إنما اهلك الذين قبلكم انهم کانو اذاسرق فيهم الشريف ترکوه واذا سرق فيهم الضعيف اقاموا عليه الحد الخ(بخاري باب الشفاعة) ﴿ءَامَنَّا بِٱللَّهِ﴾ يعني صرف په ژبه باندې دا وائي چه مونږ ايمان راوړې دې خو چه کله د الله په لاره کښې تکليف پرې راشي نو بيا ايمان پريدی.﴿جَعَلَ فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ﴾فتربنه نه مراد تکاليف او مخالفت دی او کعذاب الله نه مراد منزله عذاب الله دې يعني د خلکو د دنيوی اذيتونو او تکليفونو نه دومره سخت ويريږی لکه څنګه چه دالله داخروي عذاب نه مومن ويره وکوئي

﴿فَإِذَآ أُوذِيَ فِي ٱللَّهِ﴾في سببيه ده ای لاجله عزّوجل(روح) مرادورنه دَالله لاره ده يعني چه مشرکان ورته په ايمان راوړوعذاب اواذيت ورکړي

﴿وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ﴾يعني کچرته مؤمنانوته فتح اوشي اومالِ غنيمت ورته ميلاؤشي نوبياوائی چه مونږهم تاسوسره شريك يوپه غنيمت کښې ځکه چه مونږهم مؤمنان يو﴿إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ﴾ غوره قول دا دې چه معيت په دين کښې مراد دې يعني دين په اشاعت کښې مونږ هم ستاسو ملګري يو او يا ترينه مراد معيت دې په قتال کښې يعني په قتال کښې درسره يو .﴿أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ﴾دا په دوئ رد دې چه آياالله ستاسودَزړونوپه کيفياتو باندې عالم ندې

﴿وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾دامؤمنانوته بشارت اومنافقينو ته تخويف دې.اوحکمت دَابتلاذکرکيږي،چه دَتکليف په وخت کښې کوم کس په خپل دين باندې مضبوط پاتی شې هغه حقيقي مؤمن دې اور مراد په ''علم''سره مجازات يعني بدله ورکول دی .يا تميز راوستل اوښکاره کول مراد دی﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾پدې ايت کښې دَ کفارونه شکوه او تخويف اخروی دې او دَهغوئي دَ دهوکی ورکولو او دحق د پټولو ترغيب ورکو ذکر دې.چه کافران مومنانوته وائي چه

زمونږ اتباع اوکئ او زمونږ خبره امنئ او کچرې دَ دې څه ګناه وی نو زمونږ په غاړه به وی.لکه نن صبا دا حالت به مسلمانانو کښې هم شروع شویدې چه بل مسلمان ته دَ حق پېښولو او دګناه ترغیب ورکولو په وخت کښې وائی چه ګناه یې څما په غاړه دې ﴿لِلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ لام په للذين کښې دپاره د تبلیغ دې چه یعنی کفارو مؤمنان مخاطب کړو،او هغوئ ته ئی ترغیب او تبلیغ اوکړو.﴿اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا﴾ مراد ترینه کفر او شرک او نور ګناهونه دی چه دوئ کولو ﴿وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ﴾امر به معنې دا جزا سره دې او شرط ورله محذوف دی تقدیر عبارت دا سی دې ان اتبعتم سبیلنا نحمل خطایاکم(روح ،زاد المسیر)یعنی تاسو زمونږ دَ دین اتباع اوکړئ او زمونږ خبره اومنئ کچرې پدې باندې څه مواخذه وه او ګناه وؤ نو هغه به مونږ په خپله غاړه واخلو.او دوئي خپله مواخذه په صیغه دا مر سره ذکر کړه یعنی "نحمل"اپه جزم اسره صیغه دَامرده ،اګر چه مراد ترینه اخبار دې خو هر کله چه په صورت د امر کښې مبالغه ډیره وه نوځکه ئې صیغه دَ امر ذکر کړه.وانما امروبانفسهم بالحمل عافطين له على الامر بالاتباع للمبالغة فى تعليق الحمل بالاتباع(روح)هر کله چه دَ دوئي قول "ولنحمل خطایاکم"په معنی دَ خبره سره وو نو الله ﷻ دَ دوئي دَ قول په رد کښې او فرمائیلو چه ﴿وَمَا هُم بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُم مِّن شَيْءٍ﴾ من بیانیه دې او په من شئ کښې من زائده دې.دَ پاره دَاستغراق د نفی دپاره دې ،یعنی دوئي دَبل چا دګناهونو نه هیڅ شی هم نشی پورته کولې.دوئي دروغژن دی.او که څوک اشکال اوکړي چه "کاذب"وئیلې کیږی المخبر عن الشي لاعلى ماهو عليه او دا تعریف په دوئي باندې نه صادق کیږی ځکه چه دلته دوئ خپل ځانونه د هغه شي ضامن ګرځي چه دوئ دَ هغی په پوره کولو باندې قادر ندې،په علم دَالله تعالی کښې ،یعنی دَالله تعالی په علم کښې داده چه دوئی دَدی ضمانت په پوره کولو باندې قادرندې او دَالله تعالی په علم کښې کچرې یو کس دَیوکار په پوره کولو باندې قادر نوی نو هغه ته کاذب نشې وئیلی کیدلې نه په حین د ضمان کښې نه په حین دَ عجز کښې.نو جواب دا دې چې دوئ ته "کاذبین"تشبیها وئیلې شویدې.لکه څرنګه چه خبر دَمخبر عنه سره موافق نوی په نفس الامر کښې نو دغه شان دَدوئ ضمان هم په نفس الامر کښې دَ دوئ دَایفا سره موافق ندې.(۲) دویم جواب ترینه دا دې چه دا کذب راجع ندې دیته چه دوئی"حاملین ندې"بلکه کاذبین ورته پدې اعتبار سره وئیلې شویدې چه دوئ بالکل ضمان نه اخلی ،یعنی په ژبې سره خو

اقرار دوعدې دضمان کوي خوپه زړه ئې ددې مخالف دې خلاصه د جواب دا ده که چرې يو کس
وعده دضمان اوکړي خو ضمان متحقق شوی نوی نو ده ته کاذب نشي وئيلې کيدلې خو کچرې
وعده دضمان اوکړي او ضمان نه کوي نو ده ته بيا کاذب وئيلې کيږي «روح»ليکن غوره جواب دا
دې ۳» چه دا جمله "اتبعو سبيلنا ولنحمل خطاياکم" اګر چه لفظا انشاده ليکن معنی اخبار دي او صدق
اوکذب لکه څرنګه کلام ته په اعتبار دمنطوق سره راجع کيږي نو دغه شان مدلول التزامي ته هم
راجع کيږي ﴿ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ ﴾دارددي په طريقه ابلغ سره د هغوئ په قول باندې چه "ولنحمل
خطاياکم" دې خلاصه داده چه دبل چا بوج اوګناه به څرنګه او چټ کړي دوئ به په خپله د خپلو
ګناهونو دلاندې پراته وی.نو داثقالهمنه مراد دد وئ خپل ګناهونو دی.لکه شرک اوفسق فجور شو
او تعبير ترينه په "اثقال" سره اشاره ده چه د دې ګناهونو وبال به ډير سخت وی او داهم ممکنه ده چه
الله ﷻ په قيامت په ورځ به دغې اعمالو ته چه اعراض دي وجود ورکړي او په دوئ باندې به ئې بوج
کړي ﴿ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ﴾ددينه مراد ګناه د تضليل او د دعوت ورکولو د ګمراهي ته مراد دی چه
دوئي د کومو خلکو دګمراهي دپاره سبب ګرځيدلي وي يا ئي چاته دګناه دعوت ورکړيدې د هغی
ګناه به هم ورباندې بوج کړيشي ،داسی ذکر په سورت نحل ايت نمبر ۲۵کښ دی او په حديث
صحيح کښ دي من دعا الي ضلالة کان عليه من الاثم مثل اثم من اتبعه الي يوم القيامة من غير ان ينقص من اثامهم
شيئا«ابن کثير»او په بل روايت کښ دي من سن سنة فعليه وزرها ووزر من عمل بها من غير ان ينقص من وزره
شئ ﴿ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾دا سوال به توبيخا او تفريعا وي

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا ط
اوبيشکه مونږ ليږلي وو نوح ﷺ خپل قوم ته نو تير کړي ئي وو په هغوئ کښ زرکاله مګرپنځوس کاله کم.
فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ۝ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ
پس اونيول هغوئ طوفان اودوئ ظلم کونکی وو پس خلاص کړو مونږ نوح ﷺ ته او خاوندانو دکشتئ ته
وَجَعَلْنَاهَا آيَةً لِّلْعَالَمِينَ ۝ وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ
واوګرځوله مونږ دغه کشتئ نښانه دعبرت لپاره دخلقو«اوليږلي وو مونږ ابراهيم ﷺ»کله ئې چه اووئيل خپل قوم ته

اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ⓺

عبادت کوئ د الله ﷻ اودهغه نه اویریږئ.داستاسولپاره غوره ده که تاسوپوهیږئ.

اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ

بی شکه تاسو عبادت کوئ ماسوی د الله ﷻ نه دبتانواوجوره وئ دروغ.بیشکه هغه معبودان چه عبادت یې کوئ تاسو

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ

ماسوی د الله ﷻ نه ندی مالکان ستاسولپاره درزق نوطلب کړئ الله ﷻ سره رزق اوعبادت کوئ دهغه

وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ⓻ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ

اوشکرئې اداکوئ.خاص هغه ته به واپس کیږئ. اوکچرته تکذیب کوئ تاسونویقیناً تکذیب کړې وو دیرامتونومخکښ ستاسونه.

وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ⓼

اوندی په ذمه د رسول مگر رسول ښکاره دی

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ﴾ دااوله قصه ده اوداولې دعوی سره متعلق ده،یعنی مؤمنانوباندی به مصائب راځی لکه نوح ﷺ خپل قوم ته دتوحیددعوت ورکړودتوحیدپه خاطرئې نهه نیم سوه کاله دقوم تکلیفونه برداشت کړل،نوتاسوبه هم صبرکوئ. ﴿فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ﴾ نهه نیم سوه(۹۵۰)کاله ئې ددعوت تبلیغ عمردې،پوره عمرباره کښې ئې مختلف اقوال دی،ابن عباس ﷜ نه منقول دی چه په څلویښتم کال مبعوث شوې وو،نهه نیم سوه کاله په دعوت تبلیغ کښې لګیاوو،دطوفان نه وروسته شپیته(۶۰)کاله نورهم ژوندې وو،پدی حساب سره ئې ټول عمر(۱۰۵۰)کاله شوبعض وائی(۱۲۵۰) کاله وو،بعض وائی(۱۴۵۰) کاله وو دی نه علاوه نوراقوال هم دی(روح)تفصیلی واقعه په سورة الاعراف اوهود کښې تیره شویده

فائده: دلته داسی او نه وئیلې شو چه فلبث فيهم تسعمائة وخمسين سنة(نهنیم سوه کاله)یو (۱)، ده دی وجی نه چه پدی کښې مذکور عبارت کښې اختصار دې او دویم(۲)،د دی وجی نه چه مقصود پدی سره مؤمنانو ته تسلې ورکول دی چه نوح علیه السلام خپل قوم نه لوئې

تکاليف تر ډېر وخت پورې رسيدلو او هغه صبر کولونو غټ عدد ذکر کړې شو او بيا ترينه استثنا اوکړې شوه دَ عظمت شان او د مبالغې په تکليف رسيدلو او صبر کولو دَ نوح عليه السلام کښې

فائده نمبر۲ دَمستثنی منه سره تميز "سنة"ذکر شو او دَمستثنی سره ''عاما''ذکر شو.يوه نکته پکښې داده چه تفنن في العبارت والکلمات دَبلاغت حصه ده او ديمه نکته پکښې داده چه سنةعموما اطلاق په هغو کالونو باندې کيږي چه په تکاليفو کښې تير شي ،او دَ عاما اطلاق په هغو کيږي چه په فراخۍ کښې تير شي نو پديکښې اشاره ده چه نهنيم سوه کاله حضرت نوح عليه السلام مسلسل په مشقت او تکاليفو کښې تير کړي وو صرف پنځوس کاله په راحت کښې وو

﴿فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ﴾داضمناًدَدويمې دعوی سره متعلق دې يعنی دامنکران هم زمونږ دَعذاب نه نشی بچ کيدلی لکه چه قوم نوح دَنافرمانۍ نه منع نشول نوطوفان ورباندې راغې چه په هغې کښې ماسویٰ دَيوځومتبعينونه هيڅ څوک هم بچ نشول.﴿وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ﴾يعنی څوک چه دَ نوح ﷺ سره په کشتۍ کښې سواره وو،اولاد اومتبوعين چه ټول اتيا(۸۰) يا(۷۸)وو.﴿وَجَعَلۡنَٰهَا﴾ضميرياسفينې ته راجع دې يعنی دامونږدَقدرت اوعبرت ټولوخلقولپاره اوګرځوله،ډيروخته پورې دَجودي په غرولاړه وه،ياضميرقصې دَنوح ﷺ ته راجع دې

﴿وَإِبۡرَٰهِيمَ إِذۡ قَالَ﴾دا دويمه واقعه دا چه دا اولی دعوه سره متعلق ده.خلاصه ئې دا ده ه ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته دَتوحيد دعوت ورکړو،قوم او دَهغوئ بادشاه نمرود دَطرف نه بلکه دَپلار د طرف نه هم ابراهيم عليه السلام ته مسلسل تکليفونه او اذيتونه رسيدلو.خو ابراهيم عليه السلام په ټولو تکاليفو باندې صبر او استقامت اختيار کړو. ''ابراهيم''منصوب دې ځکه چه مفعول دې دَ ''اذکر''مقدر دَپاره او ''اذقال لقومه''بدل اشتمال دی دَ ''ابراهيم''ته او يا ''ابراهيم''عطف دې په ''نوحا''باندې اود ''ارسلنا'' تحت واقع شويدې ،او اذقال لقومه الخظرف دې دَ ارسال د پاره .نو مطلب دا دې چه ابراهيم عليه السلام خپل قوم ته په هغه وخت کښې وعظ اونصيحت اوکړو چه کله دَ هغه عقل کمال ته اورسيدلو دَنظر اوفکر طاقت ئې کامل شونو خپل قوم ته ئې اوفرمائيل

چه﴿اَعْبُدُواْ اللَّهَ ﴾دا په معنی دَوحدوالله‌سره دي يعنی صرف د الله ﷻ عبادت کوئي او هغه سره بل څوک مه شريک کوئی اي اخلصوا له العبادة(ابن کثير)په ديکښې اشاره ده اثبات د توحيد ته ﴿وَاتَّقُوه ﴾په ديکښې اشاره د نفی ده غيرالله ته او بعض فرمائي چه ''اعبدوالله''کښې اشاره ده اتيان ته په واجباتو باندي او''اتقوه'' کښې اشاره د د اجتناب ته د محرماتونه(کبير)﴿ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾پديکښې اشاره ده فوائد دَتوحيد ته اجمالا يعني دَتوحيد په ذريعې سره انسان د دنيوی ،اخروی خيرونو نه مالامال کرځي او دَدنيوی اخروي شر نه محفوظ کيږي.او''خير''اسم تفضيل دي.مفضل عليه ورله هغه دي چه ذ دی کفاروپه زعم اوګمان کښې وؤ چه دوئ به وئيلو چه مونږ دَدی بتانو عبادت ځکه کوو چه دا به مونږ ته خير رااورسوی اويا ورله مفضل عليه هغه ټول اشيا دی چه په هغی کښې خير موجود دي.نو''خير''دَتوحيد دهر قسم خيرنه غوره خيردي.اي من کل شي فيه خير او مما انتم عليه علي تقدير الخيرية فيه علي زعمکم(روح)او يا''خير''صفتي دي معنی دَ تفضيل پکښې نده معتبره.﴿إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾پديکښې اشاره ده چه دَخير او شر دَتميز دَپاره علم شرط دي﴿إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَوْثَٰنًا ﴾ پديکښې رد اوبطلان دَشرک دي په دري طريقو سره (۱)اوثانا:يعني تاسوچه پری ګمان دآلهو کوئي داخوستاسو دَلاس جوړکړي شوي بتان اوشکلونه دی او''اوثانا''ذوالحال موخر دي.او''من دون الله'' ورله حال مقدم دي.حال ذوالحال دامفعول دَ''تعبدون'' دَپاره دی ﴿وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ﴾(۲)دويمه طريقه دَرد ده يعنی دوئي په الوهيت باندي تاسو سره څه دليل هم نيشته ټولې دَدروغو قصې ورته تاسو جوړې کړيدي.لکه نن صبا هم ډير مبتدعين دَبزرګانو په باره کښې دَدروغو قصې جوړه وي يا﴿وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ﴾په معنی دَتکذبون کذباسره دي‌ای وتکذبون کذباً(روح)يعنی دَدوئ الوهيت څه دليل هم تاسوسره نشته دي مکمل دروغ وايئ چه آلهه ورته وايئ اوشفعاء عندالله ورته وايئ

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ دا دريمه طرقه دَرد ده.يعنی ستاسو دامعبودان

باطله ستاسو دَبنيادي ضرورت چه رزق دي دَ هغې دَپوره کولو قدرت نه لري.نو نورحوائج به درله څنګه پوره کړي،بس روزي خپله دَالله ﷻ نه اُوغواړئ صرف دهغه عبادت کوئ،دهغه دَنعمتونو شکراداکوئ، ستاسو رجوع به هم هغه ته کيږي

لَا يَمۡلِكُونَ لَكُمۡ رِزۡقٗا "رزق" يا مصدر دي په خپلې معنى سره او يا په معنى دَاسم مفعول سره دي،او"رزقا"نکره ده چه تحت النفى واقع شويده نو مفيده دَعموم ده نو اول اعتبار سره ئي معنى داده چه دوئى مالکان ندي چه څه شي تاسوته دَرزق نه درکړي.اي لايملکون ان يرزقونکم شيأمن الرزق(بحر)اوپه دويم احتمال سره معنى ئى دا ده چې دوئى تا سوته خوارکه درکولو باندې قادر ندي.أي لايملکون لکم ايتاء رزق ولا تحصيله(بحر)او بعض فرمائي چه تنکير دَ پاره دَتحقير دي يعنى معمولى رزق او لږ شې مالکان هم ندي(روح)اوهر کله چه"رزق" سبب ظاهرى دَبقااو قوام د عالم ده نو د دى وجى نه تخصيص دَرزق اوشو فَٱبۡتَغُواْ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزۡقَ دلته رزق معرفه ذکر شو دَپاره دکمال استغراق ،معنى ئي دا ده چې هر قسم رزق د الله ﷻ نه طلب کوئ،څکه چه هغه دَهر قسم رزق مالک دي .او که څوک اشکال اوکړي چه ماقبل کښې يو احتمال دا ذکر شوې وو چه تنکير په "رزقا" کښې دَتحقير دَپاره دي.او قانون دادي چه النکرة اذا اعيدت معرفة کانت الثانية عين الاولى.نودَايت مطلب به داشى چه صرف معمولى او حقير رزق د الله ﷻ نه طلب کوئ څکه چه هغه صرف دَحقيررزق مالک دي،نو جواب ترينه دادي چه اول احتمال په بنياد خو بالکل اعتراض نه واردېږي څکه چه هلته عموم دَنفى او استغراق دَنفى دَرزق وو.او دلته عموم د اثبات درزق او استغراق دَاثبات دَرزق دي.اودويم احتمال په بنياد صاحب دَروح المعانى جواب دا کړي دي چه دا قانون اکثرى دي کلي نه دي،نو لهذا دا موضع دَهغې مواضعو نه نه دي چه ثاني عين اولي وي.﴿وَٱعۡبُدُوهُ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥٓ﴾هر کله چه عبادت او شکر دَ نعمت ذريعه او وسيله دَحصول مقاصد دپاره ګرزځي چه د الله ﷻ رضا او ديدار دي نوځکه دَدى حکم ورکړې شو .يعنى ستاسو رجوع الله ته کيږي نو دَدى وجى نه الله ﷻ په عبادت او شکر سره راضي کړئ﴿وَإِن تُكَذِّبُواْ﴾ دَدى آيت نه ترآيت نمبر۲۳ پورى ،پديکښې

دوه احتمالات دی، یو احتمال دا دې چه دا د ابرهیم ﷺ قول شي.نو پدی احتمال "وإن تكذبو" په اصل کښ"تكذبونی" دی او جزا ورله مقدره ده چه "فلاتضرونی"دې یعنی ابراهیم علیه السلام خپل قوم ته اوئیلو چه کچرې تاسو څما تکذیب کوئې نو دا ماته څه ضرر نه رسوي،څکه چه ستاسو نه مخکښ نورو امتونو خپل پیغمبرانو تکذیب کړې وؤ.لکه قوم دَ نوح علیه السلام .قوم هود ،قوم صالح علیهم السلام وغیره انبیاکرامو ته هم ضرر نوؤ رسیدلې بلکه مکذبینو ته نقصان میلاؤ شوې وؤ.اور عذاب الهی پرې راغلې وؤ.او یا داجمله معترضه ده او دالله تعالی قول دې .چه خطاب کړې اهل مکه ته او تسلی ده حضور صلي الله علیه وسلم ته چه اې اهل مکه که تاسو دَدی پیغمبر تکذیب کوئی نو ده ته تاسوڅه ضرر نشې رسولې بلکه دَدی تکذیب نقصان خپله تاسوته میلاویکي.لکه څرنگه مخکښ قومونوته میلاؤ شوې وؤ.

اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ
آیادوئ نه گوری چه څنگه اول څل پیداکړیدې الله ﷻ خلق بیابه ئی دویم څل پیداکوي.بی شکه دا په الله ﷻ باندې
يَسِيْرٌ ۝ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ
اسان دی.ته ورته اووایه اوگرځئ په زمکه کښ پس اوگورئ چه څنگه اول څل پیدا کړیدې الله خلق
ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ
بیابه الله ﷻ پیداکړې پیداکول په دویم څل.بی شکه الله ﷻ په هرڅیزباندی قادردې.عذاب ورکوي چاته ئی چه خوښه شی
وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ۝ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ
اورحم کوی چاته ئی چه خوښه شی.اوخاص هغه ته به تاسو واپس بوتلې شئ.اونه ئی تاسو عاجزه کونکی الله ﷻ لره په زمکه کښ
وَلَا فِي السَّمَاۗءِ ۡ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝ وَالَّذِيْنَ
اونه په اسمان کښ.اونشته دې ستاسولپاره ماسوی دَالله ﷻ نه هیڅ څوک نه دوست اونه مددگار.اوهغه کسان

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ

چه کفرئې کړيدې په آياتونو دالله او په ملاقات دهغه.نو داکسان نااميده دي خما د رحمت نه او داکسان هم دوئ ته به وي

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ

عذاب دردناك،پس نه وؤجواب دقوم دابراهيم ﷺ مګرداچه ووئيل ئې قتل کړئ ابراهيم ﷺ يائې اوسوزوئ

فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾

نونجات ورته ورکړو الله ﷻ داورنه.بې شکه په دې نجات دابراهيم ﷺ کښې خامخا دلائل دقدرت دي دهغه قوم لپاره چه ايمان لري.

وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

اووئيل ابراهيم بې شکه تاسو نيولې دي ماسوئ دالله نه بتان،لپاره دَدوستئ ستاسو مينځ کښې په ژوند دَدنياکښې.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۫ وَّمَاْوٰىكُمُ

بيابه په ورځ دَقيامت بيزاربه شي بعض ستاسودَبعض نورونه اولعنت به کوي بعض ستاسو په بعضو.اوځکانه به ستاسو

النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ ۞ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ

اوردجهنم وي اونه به وي ستاسولپاره هيڅ څوك دَمدد کونکونه نوايمان پرې راوړو لوط،اووئيل ابراهيم ﷺ

اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ

بې شکه څه هجرت کونکې يم خپل رب ته،بيشکه هغه غالب دې حکمت والا دې.اوورکړو مونږ ابراهيم ﷺ ته اسحاق

وَيَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ

اويعقوب اواوګرځول مونږ په اولاددابراهيم کښې نبوت اوکتاب اوورکړو مونږهغه ته اجرده په دنياکښې.

وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾

اوبې شکه دې به په آخرة کښې خامخادجماعت دنيکانونه وي

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ﴾ زجردې منکرینو دَبعث بعدالموت ته او هر کله چه
ماقبل آیتونو کښې اول اثبات دَ توحید او بیا په ''ماعلی الرسول''سره اثبات دَرسالت اوشو
نوپدی آیت کښې اثبات دَبعث بعدالموت کیږي په دلیل انفسي سره او استفهام دَپاره
دَانکار دي او ''واو''دَپاره دَعطف دي معطوف علیه ورله مقدر ده چه''لم ینظرو''نو تقدیر
دَعبارت داسې دي''الم ینظروا ولم یروا''او مراد په رؤیت سره رؤیت قلبی او علمی دی
نودآیت مقصد دادي چه آیادوئ غورنه کوی او په دی نه پوهیږی چه الله ﷻ څنګه پخپل
قدرت کامله سره مخلوق دَعدم نه وجودته راوستلو،چه ابتداء د منی قطره وه بیا مضغه بیا
علقه او بیا ئې باهر دنیا ته راوستلو دغه شان ئې په دوباره پیداکولوهم قادردې.چه انسان
ئې بې دَنموني نه اول ځلې پیداکړیدې نودویم ځل ئې هم پیداکولي شي داکارالله ﷻ ته
ډیرآسان دي ﴿ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓ﴾ دا عطف دې په ''الم یروا'' باندې اوجمله مستانفه ده او عطف
په 'کیف یبدالله' باندې ندې لکه څرنګه بعض خلکو ګمان کړې دې،څکه کچری دا عطف په
''کیف''باندې شي نو دَ''الم یروا''ماتحت به شي،حالانکه دا صحیح نه دی،څکه که دررؤیت
نه مراد رؤیت بصری شي نو اعادی رؤیت بالکل ممکن ندې .اوکه دَرؤیت نه مراد رؤیت
قلبي او علمي شي نو څکه ندې صحیح چه مقصود دلته ثبوت دَاعادی دې په قیاس سره
احوال د،مبدا باندې .نوکچری اعاده اول نه معلوم وي نوبیا خو تحصیل د حاصل راځي
نو دَدې وجی نه دا جمله مستانفه ده عطف ده په''الم یروا'' باندې ﴿قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ دا
دلیل افاقی دې په بعث بعد الموت باندې .یعنی دَخپل ځان نه علاوه دَنورومخلوقاتوپه
پیدائش کښې غوراوکړئ دَالله ﷻ په زمکه کښې اوګرځئ،سترګی وغړوئ چه الله ﷻ څنګه
مخلوقات پیداکړیدې.دغه الله ﷻ به ئې دوباره بیاهم پیداکوی. ﴿يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ﴾ داتخویف
او ترغیب دې یعنی ورستودَپیداکولونه به چاته چه ئې خوښه شي عذاب بهٔ هم ورکوی چه هغه
منکرین دی اوچاته ئې چه خوښه شي نورحم به پری اوکړې چه اقرارکونکی دی په بعث او
هرکله چه مقصود اصلی پدی ایتونوکښې تخویف وۇ منکرینو دَبعث نه نودَدې وجی ذکر
دَعذاب مقدم شو ﴿وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ﴾ پدیکښې اشاره دعدم تدبیر ته دَبچ کیدلو دَعذاب نه
یعنی منکرین دَالله ﷻ دَعذاب نه دَبچ کیدلو څه بدبیر هم نشی کولې. یعنی چاته چه الله ﷻ

عذاب ورکوی نو هغه دالله ﷻ نه چرته خلاصیدلی نشي. نه په زمکه کښ پټیدلې شي نه په آسمان کښ اونه ورسره څوك مددکولې شي. ﴿فَانظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ الْخَلْقَ﴾ددينه مراد عام حيوانات .نباتات وغيره دی. اوهرکله چي دا دليل افاقی دي او ماقبل دليل انفسي وؤ اوخپل ځان کښ سوچ اوفکر ورستودخپل پيدائش نه کيږی يعنی مستقبل کښ کيږی نو ځکه هلته صيغه د مضارع يعنی "يبدئ" ذکر شو ودا دليل افاقی دي اودخپل ځان نه علاوه با قی څيزونو کښ فکرپه اول پيدا کړې شوې څيزونه. کښ هم کيديشی يعنی انسان نه مخکښ چه کوم څيزونه پيدا کړې شويدې په هغی کښ هم سوچ اوفکرکيديشی او دهغی په احوالو باندې غور کيدی شي نوځکه دماضي صيغه "بدا" ذکر شوه.

فائده: قياس تقاضا دا ده چه داسی وئيلې شوې وې كيف بدأ الله الخلق ثم ينشئ النشأة ځکه چه اولا د فعل سره فاعل ظاهرا ذکر کيږی او ثانيا ورته داعاده دضمير کيږی. دلته اولا اسم ضمير او ثانيا اسم ظاهر ذکر شو. وجه داده چه مقصود اصلی ددی دلائلو نه اثبات دبعث دې نود "نشا" سره اسم د الله تعالى ذکر شو دپاره دتفهيم اوتعظيم اودپاره ددلالت په کمال قدرت باندې او چونکه ماقبل آيتونو کښ ذکر دالله تعالى شوې وؤ، نوددی وجی نه "بدا" کښ اکتفا په ضمير اوشوه.

﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ﴾وعيدشديده دې کافرانوته چه دوئ به دقيامت په ورځ دالله ﷻ درحمت نه نااُميده وی اودوئ لره به دردناك عذاب وی. ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ﴾يعنی دابراهيم ﷺ دتبليغ جواب قوم داورکړوچې يوبل ته ئی اووئيل چه يائی قتل کړئ يائی اورکښ اُوسوځوئ، نواُورکښ ئی واچولومگرالله ﷻ ورته اورګل ګلزارکړو، سورة الانبياء کښ ئی واقعه تفصيلاً تيره ده. ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ﴾دحضرت ابراهيم ﷺ دناصحانه دعوت په مقابله کښ قوم دحضرت ابراهيم ﷺ دقتل اوسوزولو مشوره اوکړه. اوکه څوك اشكال اوکړې چه دحضرت ابراهيم ﷺ قتل يااور کښ سوزول خو جواب دهغه دخبر ندې نو څرنګه ورباندې په قرآن کښ اطلاق دجواب اوشو، نوامام رازی رحمه الله ترينه دوه جوابونه کړيدې (۱) دا چه دابراهيم ﷺ قوم ډير متکبر او معاندوؤ. اوکلام د متکبر په دسی محل کښ اګر چه جواب نوی خو جواب شمارلې شی. لکه يو سړې دخپل دښمن استاذی (قاصد) ته اوائی

چه ستادَخبری جواب صرف توره ده.(توپک ډز دي) یعنی مطلب داوی چه زه تاسره نوری خبرې کول نه غواړم او مقابله درسره کوم.نو دا ابراهیم ﷺقوم هم ډیر معاند او متکبر وؤ،نو ابراهیم ﷺته ئی دهمکی اودمقابلی چلینج ورکړو.(۲) دادې چه غیر جواب په معرض دَجواب کښ ذکر شو،پدیکښ اشاره ده چه دوئی سره بالکل جواب نوؤ.په خلاف دَهغه کس نه چه هغه دَجواب ورکولونه خاموش شي نوهلته امکان وی چه کیدیشي دی کس سره دَدی خبری جواب وی،خودې دغی خبرې ته عدم التفات دَوجی نه جواب ورکول نه غواړې خو چه کله جواب ورکړی اوجواب غیر وی نوپته اولګي چه دې کس سره دَدی خبری جواب اصلا نشته نو دلته هم چه کله دَقوم خبره چه جواب نوو،په معرض دَ جواب کښ ذکر شوه نومعلومه شوه چه دوئ سره اصلا جواب نوؤ. ﴿ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ﴾ "او"په معنی د بل سره دې او تحریق کښ چونکه قتل په اذیت شدیده سره وي نو دَدی وجی نه دا مستقل ذکر شواوترقي پکښ او شوه او صاحب دَروح المعانی فرمائی چه "قتل "نه مراد په توری یا په بل آله سره قتل کوول دی اوتحریق نه مراد قتل په اور سره دې.نو لهذا "او"تنویع دَپاره دې. نور تفصیل په سورت الانبیا کښ تیر شویدې

﴿وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾یعنی کله چې ابراهیمﷺ ته اورنه نجات میلاؤشو صحیح سالم راواوتلونوقوم ته ئی بیادعوت ورکړودَتوحید،﴿مَّوَدَّةَ﴾مفعول له دې دَ﴿ٱتَّخَذْتُم﴾ یعنی تاسودابتان معبودان نیولي دي لپاره دَ دوستئ قائمولوپه مینځ ستاسو کښ،یعنی چه پارټی موجوړه شي،دعام خلکومزاج لکه څرنګه دې چې د یوی پارټی خلک او دَ یوی نظرئی خلک یو بل سره محبت کوی یادامعنیٰ ده چه تاسویوبل سره محبت پوجه دوئ معبودان نیولي دی حقیقت کښ موځه نظریه نشته دې،لکه یوسړی یوکس سره محبت ساتی هغه چه کوم کارکوی نودي هم کوی نودغه شان تاسود خپلو متبوعنیو سره د محبت دَ وجی نه د دی بتانو عبادت کوئ(روح وغیره).

﴿ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾یعنی دنیاکښ خوتاسویوه پارټی یئ خوآخرت کښ به بیاپه یوبل لعنت کوئ دوستئ به موپه دشمنۍ سر بدله شي لکه سورت اعراف ایت نمبر۳۸ اونورو سورتونو کښ ذکر دی،اوټکانه به موجهنم وي،﴿فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ﴾ لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام

وراره وؤ. اول دَشروع نه مؤمن وؤ. ځکه چه انبیا کرم قبل النبوت دګناه کبیره او شرک ،کذب نه معصوم وي نولهذا دَ "امن" نه مراد "اظهر ایمانه" دی او یاترینه مراد تابع کیدل دی، یعنی دَابراهیم علیه السلام تابع شو خپل ځان ئی ابراهیم علیه السلام خدمت ته وقف کړو ﴿وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ﴾ قائل داکثروپه نیزابراهیم ﷺ دي. ﴿إِلَىٰ رَبِّيٓ﴾ ای الی الجهة التی امرنی ربی بالهجرة الیها(روح) یعنی هغه طرف ته هجرت کوم، کوم طرف ته چه ماته رب امرکړیدي، یاهغه ځائ ته هجرت کوم چه رب په عبادت کښ ماته مانع نه وي. ﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ﴾ الله غالب دې ماته به دَدشمن نه نجات راکوی. ﴿ٱلْحَكِيمُ﴾ دې ماته به هغه امرکوی چې ماته پکښ خیروی. روایت دې چه ابراهیم ﷺ دَلوط ﷺ اوبی بی ساری سره دکوفی دَیوښار، کوثی، نه حیران ته هجرت اوکړو، بیادَ دغه ځائ نه شام ته، بیاابراهیم ﷺ فلسطین ته لاړواولوط ﷺ سدوم ته لاړو، دَابراهیم ﷺ عمرپه دغه وخت کښ (۷۵) کاله وؤ(روح المعانی).

﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَـٰقَ وَيَعْقُوبَ﴾ یعنی اسحاق ﷺ په شان ځوی موورته ورکړواودَهغه نه یعقوب ﷺ پیداشوچه دَبنی اسرائیلونیکه وؤ، ټول انبیاء دَده په نسب کښ پیداشول اوکتابونه پری نازل شول ﴿وَءَاتَيْنَـٰهُ أَجْرَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا﴾ اجردنیوی نه مرادنجات دې دَاورنه، اودَملك جبّارنه، او اولاد صالحه دی. اودغه شان ذکرخیردې چه دَهرمذهب والاخلق ئی تعریف کوی. ﴿وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ﴾ دا تخصیص بعد التعمیم دې یعنی په آخرت کښ به ئی شماریه هغه کاملونیکوکاروکښ کیږی چه په اعلیٰ درجاتوبه فائزوی.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا
اولیږلي وؤموبزلوط کله ئی چه اووئیل خپل قوم ته، بیشکه تاسوراتله کوئ قبیح کارته، نه دي کړي مخکښ ستاسونه داکار
مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ
هیځ چاپه خلقوکښ آیاتاسوراتله کوئ سړوته اولوټ کوئ لارې(داکی) کوئ

وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا

اوراتله کوئ په خپلو مجلسونو کښې بې حیاکارته، پس نه وو جواب د قوم دده مګر دا چه وئیل ئې

بِعَذَابِ اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾

راوړه مونږ ته عذاب د الله جل جلاله کچرته ئې ته د رشتنو نه. او وئیل لوط علیه السلام اې ربه خما مدد اوکړه خما په قوم مفسدانو باندې.

وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُو أَهْلِ

او کله چه راوړو فرشتو زمونږ ابراهیم علیه السلام ته زیرې او وئیل هغوئ چه بیشکه مونږ هلاکونکي یو اهل

هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ

د دې کلي بې شکه دي کلي والا دي ظالمان او وئیل ابراهیم علیه السلام بیشکه په دې کښې لوط علیه السلام دې.

قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ

هغوئ ورته او وئیل مونږ ښه خبر یو په هغه چا چه په دې کښې دې، خامخا نجات به ورکړو مونږ لوط ته او اهل دده ته مګر ښځه دده، ده

كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَلَمَّا أَن جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ

د باقي پاتې کیدونکونه په عذاب کښې او کله چه راغلې فرشتې زمونږ لوط علیه السلام ته نو خفه شو د هغوئ

بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالُوا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ

په راتلو او تنګ یې شو په هغوئ زړه، او فرشتو ورته او وئیل مه یریږه په ځان او مه خفه کیږه

إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا

په مونږ بیشکه مونږ نجات درکونکي یو تا ته او اهل ستا ته مګر ښځه ستا. ده هغه د پاتې کیدونکونه په عذاب کښې بیشکه

مُنزِلُونَ عَلَىٰ أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٣٤﴾

مونږ نازلونکي یو په اهل د دې کلي عذاب د آسمان نه په سبب د دې چه دوئ بدکاري کوي.

﴿وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ ءَايَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۝﴾

او یقیناً مونږ پریښی ده د هغی کلی نه نخه واضحه لپاره د داسی قوم چه عقل لری.

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ﴾ دا دریمه قصه ده د اولی دعوی سره متعلق ده ﴿لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ﴾ یعنی انتهائی قبیح کارکوئ چه ستاسو نه مخکښ چاندې کړې، مرادورنه لواطت دې ﴿مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ پدیکښ اشاره ده کمال قبح د لواطت ته چه ټول عالم د دی په قبح باندې متفق دی، طبع سلیم د دینه نفرت کوی، حتی چه حیوانات هم ترینه نفرت کوی.

فائده: علما فرمائي چه خنزیر نجس العین دې، یوه عقلی وجه د نجاست دا هم ده چه دی دیوث دې، د ده د زنانه سره که بل څوک بدکاري کوی نو دې پری نه خفه کیږي خو کچری د ده سره څوک بدکاري کوي نو دې خفه کیږی، نو هغه انسان د ه خنزیر نه هم بدتر دې چه څوک ورسره بدکاري کوی او دې نه خفه کیږي.

﴿أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ﴾ دا تفصیل د "فاحشة" د ﴿وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ﴾ د دی ایت څو معانی کړې شویدې یوه دا معنی ده چې په لاره کښ مسافرانیسئ اودغه بی حیاکارورسره کوئ نوخلق پدغولارونه راځی (۲)یادا معنیٰ ده چې خلق لوټ کوئ اوقتل کوئ (۳) بعض وائی قطع السبیل نه مرادقطع د نسل ده، چه د خپلو ښځونه اعراض کوئ اورجالُ ته اتیان کوئ (روح).

﴿وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ﴾ پدیکښ اشاره ده د قوم لوط نورو بدوکارونه ته، په روایت ده ترمذی کښ دی چه ام هانی رضی الله عنها فرمائی چه ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دی ایت په باره کښ تپوس اوکړو چه د دی څه مطلب دی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه "یخذفون اهل الطریق ویسخرون منهم وذلك المنكر الذي كانوا یاتونه" یعنی دوئ به په لارو کښ ناست وؤ، مسافر به ئی په کاڼړو ویشتو او په هغو پوری به ئ ټوقی کولې. امام بغوی رحمه الله نقل کړې چه قوم لوط به د مسافرو په لارو کښ ناست وؤ، پیاله کښ به ورسره واړه واړه کاڼړی وؤ، کوم مسافر به چه تیریدلو نو دوئی به پدی کاڼړو باندې ویشتلو چه د چا کاڼړی به په هغه مسافر باندې اولګیدلو نو هغه به د هغه مسافر نه سامان واخستلو، اوبدفعلی به ئی ورسره اوکړه او مفسرینو لیکلی دی چه

په دوئی کښې دَ کفر نه علاوه لس قسمه ګناهونه موجود وو.(۱) نارینو سره بدکاری (۲)بربنړه ګرځیدل (۳)ګیری خرئیل اوږئیلی شویدي چه دَ ګیری خرئیل عمل دَ ټولونه اول قوم لوط کړې وو،او وجه ئي داده چه په وړکوالی کښې به دیوکس سره بدکاري اوشوه نو چه کله به لوئ شو اوګیره به ئی راغله نو بیا به ورته چا توجه نه ورکوله.نو شیطان دوئی ته دَ ګیری خرئیلو مشوره ورکړه او طریقه ئي ورته اوخودله،چه تاسو خپلی ګیری خرئي نو بیابه خلک توجه درکوی نودوئ ګیری خریل شروع کړل.(۴)کانړی ویشتل(۵)داکه کول(۶)سرعام تیزونه اچول(۷)شپیلئ وهل (۸)نکریزي لګول(۹)توقی مسخرې کول او(۱۰) شطرنج او نردکول،بعضو پکښې داهم وئیلي دی چه دوئی به په یوبل باندې توکی (لاړی) اچولی.اوبعضومفسرینو لکلی دی (۱۲)چه دوئ به ژاولی جولی یعنی "مضع العلك" او بعضو پکښې کونترو لبول هم ذکر کړې دی.(حازن وغیره) ﴿فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ﴾لوط علیه السلام ته قوم جواب ورکړوچه مونږدابدفعلي نه پریدوکچرته ته صادق ئی چه پدی فعلِ بدپوجه په مونږعذابِ الهی راځی نوهغه عذاب دی په مونږراشی،لوط علیه السلام چه دَدوئ نه نااُمیده شولونودَالله تعالیٰ نه ئی دَدوئ دَهلاکت درخواست اوکړو،دَلوط علیه السلام په دعافرشتوته دَدغی بستئ دَتباه کولوحکم اوشو،فرشتې اول دَابراهیم علیه السلام خواته راغلې،اول ئی هغه ته دَځوی(اسحاق)دَپیداکیدلواودَلمسی (یعقوب علیه السلام) زیرې ورکړو،کمافی سورة هود(۷۱)فبشرنا ها باسحاق ومن وراء اسحاق یعقوب،بیائی ورته اطلاع ورکړه چه مونږبستی دَقومِ لوط یعنی سدوم تباه کولولپاره ځو،ځکه چې دغه خلق دَخپل بدفعل نه نه منع کیږي.

او که اشکال اوکړې شي چه دَدی ایت تعارض دې دَ ایت نمبر ۸۲دَ سورت الاعراف اوایت نمبر۵۶ سورت نمل سره ځکه چه هلته دوئ جواب په حصر سره دَ لوط علیه السلام دَ خپلی علاقی نه اخراج ذکر شویدې ،او دلته جواب په حصر سره مطالبی دَ عذاب سره ذکرشو نو جواب ترینه دا شویدې چه دَلوط علیه السلام قوم اول مطالبه دَعذاب اوکړه ،او بیائی حضرت لوط علیه السلام ته دَ علاقی نه دَ ویستلوهمکی ورکړه،نو دلته ذکر اول ځیز دی چه مطالبه دَ عذاب ده او په نورو سورتونو کښې ذکر دَ دویم ځیز دې چه دَ علاقی نه ویستلودهمکی ده ،نو لهذا تعارض نیشته دې او قرینه په دی تقدیم او تاخیر

باندې (چه مطالبه دَ عذاب اول وه، او دَ علاقې نه دَاخراج دهمکې ورستو وه) قرینه عقلیه ده ،چه مضمون دَ کلام دې څکه چه دَ وعظ او نصیحت په مواقعو کښې اولٰ دَ منکرینودَ طرف نه استهزا او مطالبه دَ نبی نه شویده، او بیائی پیغمبر ته تکلیف رسولی دې، او هغه ئی دَ علاقې نه په ویستلو باندې مجبور کړیدې، او بعض خلکو داجواب کړیدې چه په دواړو مواضعو کښې حصر اضافی دې چه کله لوط علیه السلام دوئ دَ الله دَ عذاب نه اویره ول نو دوئې دَ ځان په باره کښې دا جواب ورکړوچه عذاب دی راشی. او دَ لوط علیه السلام دَ وعظ او نصیحت په مقابله کښې د هغه دَپاره ئې اخراج جواب ورکړو. او بعض حضرات فرمائې چه دَ اخراج جواب دَرؤساءدقوم دې، اومطالبې جواب دَ عامو خلکو دی. ﴿قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي﴾ مراد دَ نصرت نه انزال دَ عذاب موعوده دې، اوحضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه دَ انبیاءکرامو دابددعاګانی دحلم او کرم او دَهغوئې دَ اخلاق عظیمه سره مخالف ندې څکه چه دا بددعاګانې ورستو دَاذیتونو دَ هغوی اودَمایوسئ دَایمان دهغوئ نه ،دی.

﴿وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ﴾ پدیکښې ذکر دَ قبولیت دَ دعا دَ حضرت لوط علیه السلام دې.

﴿بِٱلۡبُشۡرَىٰ﴾ مرادترینه زیرې دې په ولد سره چه اسحاق علیه السلام دې ،او په لمسی سره چه یعقوب علیه السلام دې .لکه دَ دی ذکر په سورت هود ایت نمبر ۷۱دې اویاترینه زیرې ورکول دی په نصرت دَ لوط علیه السلام سره، "هي بشارة بولده اسحاق وبنافلته يعقوب ،وبنصره لوط علي قومه واهلاكهم(بحر)"﴿إِنَّا مُهۡلِكُوٓاْ أَهۡلِ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ﴾دا دویم بشارت وضاحت دې ،چه مونږ دا قریه یعني سدوم والا خلک هلاک کوؤ.﴿إِنَّ أَهۡلَهَا كَانُواْ ظَٰلِمِينَ﴾. پدیکښې تعلیل دَ هلاکت ته اشاره ده او دلته داسی اونه وئیلې شو "وهم ظالمون" لکه په واقعه دَ نوح علیه السلام کښې وئیلی شوی وؤ، څکه چه مقصود پدی سره اشاره ده چه دوئ ټول پدی عمل باندې متفق او راضی وؤ، او څوک پکښې هم مخالف یا ددی بد عمل نه بچ نه وؤ، او بعض حضرات فرمائې چه پدیکښې اشاره دیتهٔ ده چه دا بدعمل دَ دوئ نه ایجاد شوې وؤ، او دوئ په دی باندې مصر وؤ. (کشاف+روح)

﴿قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطٗاۚ﴾ مقصددَابراهیمﷺ تعجب دې چه اللهﷻ خوداسی قوم نه

هلاکوی چه پیغمبرپکښی موجودوي نودوئ څنګه هلاکیږي،آیادَه په موجودګئ کښِ به پری عذاب راځی اوکه دَهغه دَوتلونه ورستوبه هلاکیږي نوفرشتو ورته اوئیلو چه مونږدَهغه باره کښی خبریوهغه اواهل ته بئ نجات ورکړو،دَده دَوتلونه ورستوبه پری عذاب راځی او یاداکلام دَحضرت ابراهیم علیه السلام نه علي سبیل التفجع والتحزن صادر شویدي ،دَوجی دکمال شفقت او محبت نه لوط علیه السلام سره لکه په سورت ال عمران کښی دَ امراءة عمران قول ذکر شویدي چه رب اني وضعتها انثی نودغه شان حضرت ابراهیم علیه السلام هم علی سبیل التفجع اوئیل چه هلته خو ځماوراره لوط علیه السلام هم دي نوفرشتو ورته اول دهغه متعلق دَخپل علم اظهار اوکړو چه مونږ ته پته ده چه لوط علیه السلام هلته دي،اوبیائي دَهغه اودَهغه اهل ته دَنجات ورکولو خبرورکړو.بعض وائی چه مقصد دَ ابراهیم علیه السلام په قوم باندي تاخیر دَ عذاب پاره درخواست دي .په دی امید چه دا قوم به ایمان راوړی او علت ئي دَ تاخیر دَ پاره وجود دَ لوط علیه السلام ذکر کړو لکه په سورة هود ایت نمبر۷۵.۷۴.کښی دی.نو پدی اعتبار دَ فرشتو جواب پدی ځائي کښی اجمالی ذکر شویدي ،او تفصیلی جواب ئي په سورة هود ایت نمبر۷۷کښی ذکر دي،اوبعض فرمائی چه ﴿إِنَّ فِيهَا لُوطًا﴾اعتراض دي په فرشتوچه تاسووایئ چه﴿إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا ظَٰلِمِينَ﴾ حالانکه دی کښی لوط ﷺ هم دي هغه خوظالم ندي(روح).

﴿وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ﴾فرشی چه کله ابراهیم علیه السلام سر دَ خبرو،ترونه فارغه شوې نولوط علیه السلام ته راغلې او چونکه دَ دوئي صورتونه دَ انسانانو وؤ،اوډیرخائسته وؤ،نولوط علیه السلام دَ دوئي په راتلو باندي پریشانه شو،ځکه چه دَخپل قوم عادت ورته ښه معلوم وؤ.او"ان"په دی ځائی کښی زائد دي دَپاره دَ تاکید دَ ترتیب دَ یوفعل په بل باندي،یعنی پدیکښی اشاره ده چه خفګان دلوط علیه السلام متصل وؤ دَ راتللو دَ فرشتو سره.

﴿وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا﴾"ذرع"کنایه ده دَطاقت نه نو مطلب دا دي چه لوط علیه السلام دَدی ملائکو چه انسانی صورت کښی راغلي وي،دَحفاظت په باره کښی پریشان شو چه دَدوئ حفاظت به څه تدبیر کوم.لوط علیه السلام د دی طاقت نه عاجزه وؤ.

﴿وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ﴾ "خوف" هغې کيفيت او حالت ونيلې کيږي چه دَ تکليف دَ واقع کيدلونه اول وی، او "حزن" هغې ته ونيلې کيږی چه دَ تکليف دَ واقع کيدلو په وخت کښ يا دَ تکليف دَ واقع کيدلونه ورستو وي لکه يو مجرم ته سزا اورولونه مخکښ هغه ته چه کوم تکليف وی هغې ته خوف ونيلې کيږی، او چه کله ورته سزا واورولې شي، دهغې دَ وجې نه کوم پريشانی او تکليف وی هغې ته حزن ونيلې شی، نو لوط عليه السلام ته فرشتو اوئيل چه ته په دې مه ويريږه چه دوئې به په مونږ باندې قدرت حاصل کړې او مه دا غم کوه چه دوئ به زمونږ قصد اوکړې، يعنی دوئ مونږ طرف ته راتلې هم نشی. او بعض حضرات فرمائي چه نفې دَ خوف ئې دَ خپل ځان په اعتبار سره کړيده چه زمونږ په باره کښ مه ويريږه او نفی دَ حزن دَ قوم په اعتبار سره کړيده چه مونږ اوس ستاددې قوم سره څه کونکی يو په هغی مه غمژن کيږه.

﴿رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ "رجز" خپله اصلی معنی بی قراری ده دلته ترينه مراد سخت عذاب دې او دغه عذاب په صورت دصيحی کښ، کاڼړو باران اوزمکی الته کيدلوکښ وؤ. تفصيل په سورة هود کښ تير شوې دې.

وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ
اوليږلې وؤمونږ اهل دَمدين ته ورور دَ دوئ شعيب عليه السلام، پس هغه اووئيل اې قومه ځما عبادت کوئ دَ الله جل جلاله او اوويريږئ
ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ
دَعذاب دَورځې دَآخرة نه او مه ګرځئ په زمکه کښ فسادکونکی، پس تکذيب ئې اوکړو دَشعيب عليه السلام نو اونيول هغوئ لره
ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ
زلزلې نو اوګرځيدل په کورونوخپلوکښ پرمخې مړه پراته وؤ، اوهلاک کړيدي مونږ عاديان اوثموديان،
وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ
او يقيناً واضحه شويدې تاسوته هلاکت دَهغوی، دَکورونو دَهغوئ نه، اوښائسته کړې وؤ دوئ ته شيطان بد عملونه دَدوئ

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾ وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ
اوهلاك كړي وو مونږ قارون او فرعون او هامان. نو منع كړي ئى وو دسمى لارې نه او وو دوئ ښه هوښياران.
وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾
او يقينا راغلي وو دوئ ته موسى عليه السلام په واضحو معجزو سره نو تكبرني اوكړو په زمكه كښې او نه وو دوئ بچ كيدونكي زمونږنه.
فَكُلًّا اَخَذْنَا بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ
نو هر يو نيولي وو مونږ په سبب دګناه خپل. نو بعض ددوئ نه هغه وو چه ليږلي وو مونږ په هغه باران دګاڼو.
وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ
او بعض هغه وو چه او نيول هغوئ چغې دجبرئيل، او بعض هغه وو چه ژوندى مو خخ كړل په زمكه كښې. او بعض ددوئ نه
مَّنْ اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۰﴾
هغه وو چه مونږ غرق كړل. او نه وو الله تعالى چه ظلم ئى پرې كړې وو ليكن هغوئ پخپلو ځانو پخپله ظلم كولو.

﴿وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا﴾ داخلورمه قصه ده ددويمى دعوى سره متعلق ده، چه دمشركانو دا خيال باطل دې چه زمونږ دګرفت نه به بچ شى، قوم شعيب چه طاقتور او تجارتى قوم وو، چې دشعيب عليه السلام تكذيب ئى اوكړو نو عذاب موورباندې نازل كړو او ﴿وَاِلٰى مَدْيَنَ﴾ متعلق دې د " ارسلنا" مقدره سره او هر كله چه د قوم نوح، قوم ابراهيم عليه السلام او قوم لوط عليه السلام دپاره مخصوص اسم نو نودى وجى نه ئى دهغى قومونو د واقعاتو په بيان كښې دپيغمبر نوم، قوم ته مضاف كړې شويدې او قوم شعيب عليه السلام دپاره مخصوص نوم موجود دې نو ددى وجى نه اولا د هغى قوم نوم ذكر شو چې مدين دې دپاره دتعين او اضافت ورته د"اخا"اوكړې شو. ﴿وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ﴾ يا مضاف مقدردې اى وارجوثواب يوم الاخر دآخرت دثواب اميد اوساتئ. يا "رجا" په معنى دخوف دې يعنى او يريږئ دعذاب ورځې دقيامت نه كچرته دالله تعالى عبادت مو او نكړو ﴿فَكَذَّبُوْهُ﴾ حضرت شيخ رحمه الله

فرمائې چه "تكذيب" نه مراد نفس تكذيب ندې مراد .ځكه چه نفس تكذيب خو ابتداء كښې موجود وو.دَهغې وجې نه هلاكت نوؤراغلې بلكه مراد ترينه "اصرار على التكذيب"دې.نو"فكذبوه"معنى دَه"أَصَرُّوْ عَلَى الْتَكْذِيبِ" او "رجفة"نه مراد يا "زلزله" ده چې فرشې په چيغه سره راغلې وه او ياترينه فرشتې اواز او چيغه مراد ده چه سبب د رجفې او زلزلې دَپاره وو.باقي تفسيرپه هود ،اعراف كښې تيرشو

﴿وَعَادًا وَثَمُودَا ﴾اى واهلكناعاداًوثمودَ.داپنځمه.شپږمه قصه ده،دواړه دَ دويمې دعوې سره متعلق دى،چه دادواړه قومونه هم زمونږدَعذاب نه بچ نه شول دَدوئ تباه شوى كنډرات ستاسولپاره دَعبرت نشانى دى،﴿وَكَانُواْ مُسْتَبْصِرِينَ ﴾يعنى عقل مندوؤ.حق باطل مينځ كښې ئې تميزكولې شوليكن دَدى باوجودشيطان دهوكه كړل دَسمې لارى نه ئې واړه ول يعنى عقل پكښې وؤ خودين په باره كښې ئې شيطانى ونفسانى خواهشاتوته ترجيح وركړه نوځان ئې هلاك كړولهذا دا اعتراض نه واردېږى چه دى كفاروته په بل ځائې كښې صفت "لا يعقلون"كړې شويدې اودلته ورته "مستبصرين"اوئيلې شو.داخو تعارض دې نوجواب ترينه هم دادې چه ددَنيا په باره كښې ډير هوښيار وؤ،خو دَدين په باره كښې ئې دَعقل نه كار وانغستو او شيطان دهوكه كړل ،يادامعنى چه كتونكى وؤچه عذاب راباندى راتلونكې دې ليكن بياهم دَضدپوجه دكفرنه نه منع كيدل حتى چه هلاك شول.

﴿وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ ﴾ دا اومه،اتمه ،نهمه ،واقعه ده،داهم دَدويمې دعوې سره متعلق دې،چه دوئ ته موسى ﷺ واضحې معجزې پيش كړې ليكن دوئ دَ دولت اوحكومت په نشه كښې مست وؤ دَموسى ﷺ تكذيب ئې اوكړو،درې واړه الله ﷻ هلاك كړل،

﴿وَمَا كَانُواْ سَٰبِقِينَ ﴾ اى فائتين يعنى زمونږدَعذاب نه بچ كيدونكى نه وؤ،يادامعنى چه دوئ سابق فى الكفرنه وؤبلكه دَدوئ نه مخكښې هم ډيروخلقوكفركړې وؤچه پدغه وجه مونږهلاك كړې وؤ(قرطبى،بحر)﴿فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦ ﴾"كلا"منصوب دې دَقبيلې دَ"مااضمر عامله على شريطة التفسير" نه دې اي فاخذنا كلّا اخذنا بذنبه الخ يعنى

هریو مودٔدوئ نه په مناسبی سزاسره اونیولو ﴿فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ﴾مراددینه قوم عاد دي،چه تیزی هواعذاب ورباندی راغلې وؤ،کانړی به ئی اوچتول پدوئ به ئی ورو ول،بالاخردومره تیزه شوه چه خلق به ئی اوچتول وریځو پوری به ئی رسول،پرمخی به ئی راغورځول،کقوله تعالی:تنزعُ النّاس کانّهم اعجازنخلٍ منقعرٍ(قمر:۲۰)بعض وائی دینه قوم لوط مراد دي چه باران دکانړوپری شوي وؤ لیکن ابن کثیر رحمه الله دٔدی تردید کړیدی اوابن عباس رضی الله عنه ته منسوب قول ته ئی منقطع وئیلی دی﴿وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ﴾دینه مرادقوم ثمود دي،﴿وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا ﴾قارون ورنه مراددي،﴿وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ﴾فرعون ورنه مراد دي،دی ټولوباندي الله جل جلاله ظلم نه وؤکړي بلکه پخپلوځانونوئی ظلم اوکړوچه دٔانبیاؤتکذیب ئی اوکړواوهلاک شول.

مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ
مثال دٔهغوچه نیولي ئی دي ماسوی دٔالله جل جلاله نورخدایان په شان دٔجولاګی دی،چه جوړکړي کور،اوبیشکه ډیرکمزوري
الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا
په کورونوکښ یقیناً چی کوردٔجولاګی دي،افسوس چه دوئ پوهیدلي،بیشکه الله جل جلاله ته معلوم دي هغه چه
يَدْعُونَ مِن دُونِهِ مِن شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ
عبادت ئی کوی دوئ ماسوی دٔهغه نه هرڅیزچه وی،اوالله جل جلاله ډیر غالب دي حکیم دي،اودغه مثالونه
نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۖ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ
بیانوو ئی مونږخلقوته،اونه پوهیږی پدی مګرعالمان،پیداکړیدي الله جل جلاله اسمانونه اوزمکه لپاره دٔاظهاردٔحق.
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾
بی شکه پدی کښ خامخادلیل دٔتوحیددي مؤمنانولپاره.

﴿مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ﴾ هر کله چه ماقبل کښې دَهلاک شوؤ قومونو تذکره اوشوه نو اس پدی آیت کښې دَسورة مرکزي دعوه ذکر کيږي، چه دَالله ﷻ نه ماسوىٰ هيڅ څوك هم کارسازحاجت روامشکل کشانشته دي، دادعوه په يونهايت واضحه انداز سره بيان شويده. او دا مثال صورت دَتمثيل کښې دي او تشبيه په عدم نفع او په ضعف کښې ده. يعنې کوموخلقو چه دَالله ﷻ نه ماسوىٰ بتان خدايان نيولي دی، دهغوئ نه دَنفع اميدساتي کارسازورته وائي داداسي دی لکه عنکبوت چه ځان له کورجوړکړي چه په کورونوکښې کمزوري کوردي په معمولي هواسره وران شي، نه گرمی دفع کولې شی نه سړخی، نه پکښې باران نه حفاظت وی نه دَنوَرنه، دغه شان دَدوئ معبودان دی چه هيڅ نفع نشی ورکولې، ﴿كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ﴾ "عنکبوت" جولا ته وئيلې کيږی "واو" او "تا" پکښې زائد دی ځکه چه جمع ئې "عناکيب" راځي. او دَدی مختلف اقسام دی ځنی هغه دی چه هغه زمکه کښې دننه سوری کوی او ځان له کور جوړه وی. او ځنی هغه دی چه جالی جوړه وي. دلته ترينه مراد هغه قسم دی چه ځان له جالی جوړه وی. ﴿ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗا﴾ پديکښې اشاره ده چه دَجولا په جالی باندې اطلاق دَ بيت حقيقتاً ندې، ځکه چه ماده "اتخاذ" په هغه ځائی کښې استعماليږی چه دَ کوم شی نه ،خبار ورکولې کيږی هغه په حقيقت کښې هغه څيزنوی بلکه دَهغه خيال پری کولې شی نو عنکبوت په خپلې جالی باندې خيال دَ بيت يعنی دَ کور کوی خودا په حقيقت کښې کور ندې، ځکه چه دَ کور په ذريعې سره کورولا دَ يخنئ گرمی وغيره تکاليفونه ځان بچ ئوی، او عنکبوت دَ خپلې چالی په ذريعې سره دَغه مذکوره امورونه حفاظت دَځان نشی کولې. نودغه شان مشرکين هم دَځان دَپاره يو دين جوړه وي، دَشرک والا او دين نتيجه او غايه دا وی چه سړی پری دَ دنيوی اخروي تولو تکاليفونه محفوظ شی، خو دَشرکی دين په ذريعې سره چرته هم انسان دَتکاليفونه ،نشی بچ کيدلې ﴿وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ﴾ پديکښې اشاره ده وجه دشبهه ته چه لکه څرنگه چه عنکبوت جالی ډيری کمزوری وي او څه خاص فوائد پری نه مرتب کيږی سوا لږشان معمولي فائدی نه چه کله کله پکښې مچ يا ماشی گيرشی او عنکبوت ئې او خوري. نو دغه شان مشرکينو ته هم خپل معبودان باطله څه فائده نشی رسولې سوا دَدينه چه کله کله لږه غونډې دنيوی فائده ترينه واخلی. لکه دَ دی شرک په

ذريعې سره دَنورو مشرکينو نه دنيوي عزت او پيسې واخلي
او حضرت والد صاحب رحمه الله فرمائي چه دادقبيلې دتشبيه المركب بالمركب نه ده.ځکه چه مشبه هم مرکبه او مشبه به هم،په جانب دَ مشبه به کښې امور متعدده دي او دَهغې نه هئيت انتزاع کړې شويدې،حالت دَعابدانو دې او دَ هغوئى عبادت او بل حالت دَ معبودانودې او جانب دَ مشبه به کښې حالت عنکبوت دې کور جوړول دَهغه دې او محنت او مشقت دې.وجه دَ شبه په دواړو کښې عدم انتفاع ده.نودآيت مقصددادې چه دَ مشرکينو مثال دَ خپلو معبودان باطلو سره داسې دې لکه مثال دَ عنکبوت دَ خپل کورسره نوڅرنګه چه عنکبوت دَخپل کور نه فائده نشي اخستلې سوا دَلږشان فائدې نه نو دغه شان مشرکين دَخپلو معبودان باطلونه هم فائده نشي اخستلې سوا دلږشان فائدې نه.
فائده: دلته دَ مشرکانو دَ شرک تشبيه دَ نسج دَعنکبوت سره ورنکړې شوه،دَدوه۲ وجوهاتو نه (۱) ځکه چه عنکبوت ته پدې نسج کښې فائده ده بغير دَفوت کولودَمقصوداعظم نه،په خلاف دَمشرکانو ځکه چه اتخاذ دَ اوثانو کښې اګرچه هغوى نه فائده قليله شته دې خوسردَفوت کولودَ مقصوداعظم نه چه فائده دآخرت ده.
(۲)دغه شان نسج بذات خود امر مفيد دې ليکن اتخاذ دَبيت دَدينه امرباطل دې همه دغه شان نفس وجود دَ اوثانو وغيره مفيد امر دې چه دلائل اوګرځولې شي په وجود او قدرت دَ الله ﷻ باندې ليکن اتخاذ دَ اولياء او معبودان جوړول باطل دې،نو ځکه تشبيه مرکبه اختيار کړې شوه.

﴿لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾"لو"شرطيه دې،او دا جمله شرطيه ده او جواب شرط محذوف دې چه "لعلموا اِنَّ مثلهم"دې. يعنې که دوئ پوهيدلې په څه نوپدې به پوهه شوې وۆ چه زمونږمثال هم داسې دې اوبعضې فرمائي چه "لو" تمنائيه دې يعنې کاش چه پوهيدلې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ﴾"ما"موصوله دې،﴿مِن دُونِهِ﴾کښې من بيانيه دې او﴿مِن شَيْءٍ﴾کښې زائده دې لپاره دَتاکيدهرمعبودکه ذې روح وې که غيرذې روح، نو دا زجر او تهديد دې په عبادت دَ غير الله باندې يعنې دوئ چه دکوموبتانوعبادت کوې الله ﷻ پرې عالم دې. الله ﷻ عزيزيعنې قادردې په اهلاك دَدوئ ليکن حکيم دې مهلت ئې ورته ورکړيدې.

ئیوخاص حکمت په بنیاد ،بعض وائی چه﴿مَا يَدْعُونَ﴾کښې مانافیه ده. اودا ترقی ده په تمثیل کښې ځکه چه ماقبل کښې مثال دَ عنکبوت په جالی سره وؤ اوس پکښې ترقی شوه چه دَدوئ معبودان ماسوی الله لیس بشي دی نومطلب دادې چه الله عالم دې چه دَدوئ معبودان لیس بشئ دی.هیڅ حقیقت ئې نشته دې،او الله ﷻ عزیزحکیم دې،نوعاقل لپاره ښځگه مناسب ده چه دَقادرحکیم ذات عبادت پریدی اودَبې حقیقته څیزونوعبادت کوی(کبیر،روح)

فائده.دَعنکبوت دَقتل کولو په باره کښې مفسرینو نه روایات مختلف مروی دی،بعض روایات په باره دَجواز دَقتل او بعض په عدم جواز باندې دلالت کوي.خودواړو فریقینو روایات ضعیف بلکه موضوعی دی البته دَعنکبوت دَجالو نه کور او کمری صفا ساتلو په باره کښې دَ حضرت علی رضي الله عنه یو اثر دې چه فرمائي "طهروا بیوتکم من العنکبوت فان ترکه في البیوت یورث الفقر(روح) پدی اثر باندې هم اگرچه محدثینو کلام کړې دی خو البته تائید په دی سره کیږی چه خپل ځایونه اوکورونه صفا ساتل مسنون او مستحب دی.

﴿وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ﴾داجواب دَ اعتراض دې چه الله ﷻ په ذباب،عنکبوت وغیره سره مثالونه ولی بیانوی دا خو ډیر حقیر څیزونه دی؟؟نو جواب ترینه اوشو چه مونږ دَتوضیح دَممثل لپاره دغه مثالونه خلقو ته بیانوؤ چه دَشرك دَحقیقت نه خبرشی،﴿وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا ٱلْعَٰلِمُونَ﴾یعنی تطبیق دَمثال باندې هغه خلق پوهیږی چه پوهه دی،جابر ﷺنه روایت دې چې نبی کریم ﷺ داآیت تلاوت کړو بیائی اوفرمائیل چه عالم هغه دې چه دَالله ﷻ معرفت ورته حاصل وي،دَالله ﷻ اطاعت کوی اونافرمانی نه اجتناب کوی(روح). ﴿خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ دااول دلیل عقلی دې په توحید ،﴿بِٱلْحَقِّ﴾ ای لاظهارالحق،یعنی الله ﷻ اسمانونه اوزمکی عبث اوبې مقصده ندی پیداکړې،بلکه دَحق دَظاهره ولولپاره ئې پیداکړیدې چه معبود برحق صرف او صرف الله تعالی دې.﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾تخصیص دَمؤمنانودَوجی دَ انتفاع دَ دوئ نه .دې یعنی پدی دلائلو سره نفع اوفائده صرف مؤمنان اخلی.

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى
تلاوت کوه ته اي محمده! دَهغې چه وحی کړې شویده تاته دکتاب اوپابندي کوه دَمونځ بې شکه مونځ منع کول کوي
عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾
دَقبیح نه اودَناروانه.اوخامخاذکر(قرآن)دَالله ﷻ ډیرلوئ دی، اوالله ﷻ پوهیږی په هغه چه تاسوئی کوئ.

﴿اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ﴾دادلیل وحی دي په توحید، او مراد په تلاوت سره تلاوت په طریقی دَ تبلیغ مراد دي. چه دامسئله دَتوحید تاته دَوحی په ذریعه نازله شویده،پدی وجه دَدی قرآن تلاوت کوه اومسئله توحیدورنه بیانوه.﴿وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ﴾دا امر مصلح دي چه دَ دی مسئله توحید په بیانولو سره تاته دَمخالفینو دَطرف نه اذیتونه او تکلیفونه هم رسی نو دَهغې اثر کم کولو دَپاره مونځ کوه.

که څوک اشکال اوکړي چه نبی علیه السلام نه "عدم اقامت صلوة"متصور نه دي،نو نبی علیه السلام ته حکم کوتحصیل دَحاصل دي،او دغه شان دَ"اقامة صلوة"دپاره علت ذکرشو چه"تنهی عن الفحشاء الخ"حالانکه دَپیغمبر صلی الله علیه وسلم نه خو فحشاءاو منکر متصورنه وؤ.نو علامه الوسی رحمه الله ترینه جواب دا کړي دي"چه امر کول نبی علیه السلام ته په یوکار ،تقاضا دَدی نه کوي چه هغه عمل به پیغمبر کښې موجود وي،بلکه کله کله په ظاهر کښې کښې امر نبی علیه السلام ته وی لیکن حقیقتا امر امت ته وي.نوګویا چه نبی علیه السلام ته په ظاهرا امر دَپاره دَتبلیغ دَاقامت مونځ اوشو ،نو مقصد ئي دا شو چه ته دوئ ته یعنی امت ته، دَمونځ امر کوه ځکه چه دامونځ به دوئ لره منع کوي دَفحشاءاو منکرنه.کانه قیل وصل بهم ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر(روح)اودغه شان دَ مونځ دَاقامت نه مقصد صرف منع دَفحشاءاو منکر نه ،نده بلکه نور هم ډیر مقاصد دی چه ذکر ئي په احادیثو کښې راغلي دي،او تنصیص په یو مقصد مستلزم ندي نفی دَنورو مقاصدولره،نولهذا دَمونځ نه کولو دَپاره دابهانه جوړول چه څه فحشاءاو منکر نه کوم نو دَمونځ کولو ضرورت هم ماته نیشته دي،عذر باطل دي ﴿اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ

﴿ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ﴾ مونځ انسان دَفحش اومنكركارنه منع كوى.فحشاء كښ زنا،لواطت،بى پردگى،كنزل،گانى وغيره داخل دي،منكر دَنكير نه دې هغه كارته وائى چه نكير پرې راغلې وي او دَشريعت اوعقل نه خلاف وي،ظلم كول،حق تلفى.دهوكه.رسوماتِ فاسده وغيره ټول پكښ داخل دى.

مونځ دگناهونونه منع كولومعنى اومطلب(۱)يادادې چه مونځ تقاضه اومطالبه دَدى كوى چه سونځ كونكې دي دگناه نه منع شى،نو دَ "ان الصلوة ترينهى"معنې ده چه "ان الصلوة تقتضى المنع عن الفحشاء والمنكر"ځكه چه دَمونځ هريوذكراوهرركن دَدى مقتضى دې چې مونځ كونكې دَالله ﷻ په درباركښ دخپل عبوديت،اطاعت،تذلل اودَالله ﷻ دَالوهيت،ربوبيت اظهاراواقراراوكړې نومونځ نه ورستودَمسجدنه بهردې هم په خپل اقرارقائم وي،اودَمعاصيؤارتكاب دَى نه كوى،دَمعاصيؤارتكاب دَالله ﷻ دَشان بى ادبى هم ده اودَمونځ كونكى په افعالوكښ تناقض هم پيداكوى،په مذكورمختصربيان سره دامشهور اشكال حل كيږى چه ډيرمونځ كونكى مونځ كوى اوبياهم دگناه نه نه منع كيږى،ځكه مونځ مطالبه اوامردَمنع كيدلوكوى،دى سره دانده لازمه چه منع دى شى،لكه الله ﷻ پخپله هم دَفحشاء اومنكراتُ نه منع كوى،كقوله تعالى:إنَّ الله يامرُبالعدل والاحسانِ وايتائ ذى القربىٰ وينهىٰ عن الفحشاء والمنكروالبغى(نحل:۹۰)ليكن دَدى باوجود بعض خلق نه منع كيږى حالانكه منع كول دَالله ﷻ زيات اهم دى دَمنع كولودَمونځ نه(۲)بعض وائى منع كول په طريقى دَتسبب سره دې،يعنى الله ﷻ په مونځ كښ داسى خاصيت اوتاثيراېښې دې چه مونځ كونكې دَدى وجى سره دگناهونونه بچ كيږى،خوپه شرط دَدى چه دَمونځ دَ فرائضو،واجباتودَسنتو او ادابورعايت اوكړې شي لكه څرنگه چه يوطبيب مريض ته دوائى وركړې چه دَيومرض علاج پرى كيږى،دَهغې دوائى خپل مقرره وخت(كورس)وى اومخصوص پرهيزئى هم وى.نودوائى هله اثركوى چې مريض بدپرهيزى اونكړې اوپوره دوائى اوخورى،دغه شان يقيناًمونځ هم دَروحانى امراضولرى كولولپاره علاج دې خوچه كاملى طريقى سره،خشوع خضوع سره وى،صرف كته كيدلو پورته كيدلوسره دغه اثارئى نه ظاهريږى،بلكه كوم مونځ چې غفلت سره اوشى نوهغه مردودوى،داسې زااونغښتلى شى لكه زړه جامه،اودَمونځ گزارپه مخ اوويشتلې شى،خيرى ورته كوى چه الله ﷻ دى تاداسى ضائع كړې لكه څه دى چې ضائع

کړم.غرض دا چه دګناه نه منع کول هغه مونځ کوی چې کامل او مقبول مونځ وی.او دګناه نه منع کیدل دَمونځ دقبلیدلو علامه ګرځولی شویده،یو صحابی ﷺفرمائی چې څوک دامعلومول غواړی چه آیا څما مونځ قبول دې اوکه نه،نودې دی اوګوری چې دګناه نه منع دې نومونځ ئی قبول دې اوکه ګناه نه منع نه وي مونځ ئی ندې قبول،څومره قدری چه ګناه نه منع دې نودومره قدری دَده مونځ قبول دې،په یوروایت کښ چه حضورﷺفرمائی:من لم تنهه صلاته عن الفحشاء والمنکر فلاصلاة له،یعنی کوم مونځ چه مونځ کونکې دګناه نه منع نه کړي نو دَده مونځ قبول ندې،په یوروایت کښ دی داسی مونځ دَالله ﷻ نه لری والي پیداکوی.دغه شان نوراحادیث هم دی باب کښ راغلیدی.(۳)او بعض حضراتو دا سی جواب کړیدې چه "خبر"په معنی انشاسره دې نو "ان الصلوة تنهی"په معنی دَ"لَيَنْتَهِ الْمُصَلِّيَ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ" سره دې (قرطبی) (۴)اوصاحب دَجلالین داسی جواب کړیدې چه "اي من شانها ذلك مادام المرأفيها"مطلب ئي دا دې چه منع کول دَمونځ دَفحشاءاو منکر نه مقید دی.دَحالت دَمونځ سره یعنی چه مونځ کوونکې څوپوري مونځ کوي نو هغه مونځ دې دَفحشا او منکر نه بچ کوي،خوداجواب ضعیف دې ځکه چه ایت کښ قرینه په تقید باندې نشته دې او دغه شان په روایاتو کښ هم دَ مونځ عمومي اثر دابیان شویدې چه مونځ دَبدکارونونه،منع کول کوي،لکه په روایت دَ ابن کثیر کښ دي چه"عن ابي هريرة قال جاء الرجل الى النبي صلى الله عليه وسلم فقال ان فلانا يصلي بالليل فاذا اصبح سرق،فقال عليه السلام انه سينهاه ماتقول (ابن کثیر)

﴿وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ دا د مونځ کولو یوبله فائده ذکر کیږی،چه مونځ دَ الله ﷻ په ذکر او په تلاوت دَقرآن باندې مشتمل دې،او دَالله ﷻ ذکر انسان دَپاره ذریعه دَتقرب الی الله ګرځي،نو دَدی وجی نه دا ډیر لوئی عمل دې،او "اکبر"اسم تفضیل دې،مفضل علیه ورله یاهغه ذکر دَ الله تعالي دې چه خارج في الصلوة دې نو مطلب دا دې چه ذکر او تلاوت په مانځه کښ دَثواب په اعتبار سره ډیر زیات دې دَهغه ذکر او تلاوت نه چه خارج فی الصلوت دې ځکه چه په مونځ کښ دَیو حرف په تلاوت باندې سل ۱۰۰/ نیکئ میلاویږي.او یاورله مفضل علیه کل شيدې او دَ"ذکر الله"نه مراد مطلق ذکر دَ الله تعالی

دي خواه كه په مانځه كښ وي ياغير مانځه كښ وي،او پديكښ به اشاره شي دفحشاءاومنكر نه دبچ كيدلو يو بل عمل ته،چه څرنګه انسان په مونځ كښ دفحشاءاو منكرنه بچ كيږى دغه شان په ذكر دَ الله ﷻ سره هم بچ كيږى،او ذكر دَ الله تعالى دَهر څه نه لوئى عمل دي،لكه ډير احاديث پدى باندې دال دى،معاذبن جبل رضی الله عنه فرمائي:ماعمل ادمى عملاً انجىٰ له مِن عذاب الله تعالى من ذكرالله تعالى(روح المعانى)يعنى دَالله ﷻ دَعذاب نه نجات ميلاويدلو لپاره دَالله ﷻ دَذكرنه زيات نجات وركونكې بل عمل نشته دي،څكه الله ﷻ فرمائى چې﴿وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ﴾دغه شان په رايت دَ ابودرداء رضي الله عنه كښ دي فرمائي چه: أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ. قَالُوا بَلَى. قَالَ ذِكْرُ اللهِ تَعَالَى (ترمذي)دينه علاوه نورهم احاديث دَذكرپه افضليت كښ راغليدى،امام طبرى او صاحب روح المعانى دَابن عباس رضی الله عنه،ابن مسعود رضی الله عنه،ابن عمر رضی الله عنه،مجاهد رحمه الله نه نقل كړيدي چې معنى دَ﴿وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ﴾داده چې دَالله يادول انسان لره زيات لوئ دى دَانسان يادولونه الله لره،"عن ابن عباس :ذكرالله اياكم اكبر من ذكركم اياه (طبري) نو هركله چه مونځ مشتمل دې په ذكر دَ الله تعالى باندې هم اعتقادا هم فعلا هم قولا او هم حالا .نو الله تعالى هم دَانسان ذكر كوي او دَهغه تعريف كوي لقوله تعالى:فاذكروني اذكركم.او الله تعالى تعريف كول دَ يو انسان ډيرلوئ خبره ده

﴿وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ﴾يعنى الله ﷻ ته ذاكراوغيرذاكر دواړه معلوم دى،نوهريوته بدله وركوى.

وَلَا تُجَٰدِلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟
اوجګړه مكوئ دَاهل كتابوسره مګرپه هغه طريقى سره چه هغه ډيره ښه ده.مګرهغه چه ظالمان دى
مِنْهُمْ وَقُولُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ
ددوئ نه‌نوقتال ورسره كوئ‌اوواېئ چه مونږايمان راوړيدې په هغه كتاب چه نازل شويدې مونږته اونازل شويدې تاسوته

وَاِلٰهُنَا	وَاِلٰهُكُمْ	وَاحِدٌ	وَّنَحْنُ	لَهٗ	مُسْلِمُوْنَ ﴿۴۶﴾	وَكَذٰلِكَ

اواله زمون اواله ستاسو يو دې اومونږ ټول هغه ته تابع يو .اوهم دغه شان لکه چه په نورو انبياؤ مونازل کړيدي کتابونه

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَاۗءِ

نازل کړيدي مونږ تاته قرآن،پس هغه خلق چه ورکړيدي مونږهغوئ ته کتاب ايمان راوړی پدی قرآن.اوبعض ددی اهل مکه نه

مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ۭ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا

هغه دی چه ايمان راوړی پدی قرآن،اوانکارنه کوی زمونږ دآياتونونه مگرکافران. اونه وې ته اي محمده ﷺ چه لوستلې دې شو

مِنْ	قَبْلِهٖ	مِنْ	كِتٰبٍ	وَّلَا	تَخُطُّهٗ	بِيَمِيْنِكَ اِذًا

مخکښې دنبوت نه څه کتاب اونه تاليکلې شوکتاب پخپل خی لاس،کچرته لوستل ليکل دی کولې شول نوبيا به

لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۴۸﴾ بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا

خامخاشك کولوباطلوخلقو.بلکه داقرآن آياتونه دی واضح په سينودهغه خلقوکښې چه ورکړې شويدې ورته

الْعِلْمَ ۭ	وَمَا	يَجْحَدُ	بِاٰيٰتِنَآ	اِلَّا	الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۹﴾
علم يعنی	مؤمنان	اوانکارنکوی	زمونږ	دآياتونو	نه مگر ظالمان

﴿وَلَا تُجَادِلُوٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ﴾ هر کله چه ماقبل ايت کښې حکم د تبليغ اوشو "اتل ما اوحي"نو اوس پدی ايت کښې طريقه دَ تبليغ ذکر کيږی. اودَبحث مباحثی نوبت راشی نوپه نرمئ طريقی ورسره خبری کوه،غصه اوشورشغب ورسره مکوه،﴿اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ای بالخصلة التی هی احسن.لکه سورة النحل کښې اللهﷻ فرمائی:ادفع باللتی هی احسن.﴿اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ﴾غوره قول دادې چه استثناء متصله ده.او مقصد دادې چې د کفارو او اهل کتابو کچری دَدين په باره کښې څه اعتراضات وی نو هغه په احسن طريقی سره دفع کړئ او په نبی طريقی ورسره بحث مباحثه اوکړئ مگر هغه کسانو سره بحث مه کوئ چه ضديان اور

متعصب دی ځکه چه متعصب انسان سره په بحث کولو کښې فائده نیشته دي،نو دَهغوئ سره قتال اوکړئ الا الذين ظلموا منهم بالافراط في الاعتداء والعناد (ابي سعود) او داايت دليل دې پدی چه قتال نه مخکښې کفاروته دعوت ورکول پکار دی. ﴿وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱلَّذِیٓ ﴾ دا دَ ﴿وَلَا تُجَٰدِلُوٓاْ ﴾ سره متعلق دې دَ احسن طريقي بيان دې چه اهل کتابو ته داسی اووايه چه لکه څنګه مونږ ايمان په هغه آسمانی کتاب هم راوړيديې چه مونږ ته نازل دې اودغه شان په هغه کتاب موهم راوړيدې چه تاسو ته نازل دې،حضرت موسیٰ اوعيسی عليهما السلام باندی چه احکام اوکتابونه نازل دی هغه حق دی(اګرچه دغه اسمانی کتابونه په اصلی صورت کښې ستاسو په لاسونو کښې باقی ندی)﴿وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَٰحِدٌ ﴾يعنی زمونږ اوستاسو معبود هم يو دې،مونږ صرف دَهغه فرمانبرداريو ،ديکښې تعريض دې چه تاسو دَالله ﷻ نه ماسویٰ احبار اورهبان هم معبودان نيولی دی،لهٰذا تاسو هم صرف دَالله تابع شئ اودَهغه آخری رسول باندې ايمان راوړئ.

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ ﴿كاف﴾ دَ پاره دَبيان کمال دې او داترغيب دې اتباع دقرآن ته چې لکه څرنګه مونږ ستانه مخکښې انبياؤ باندې کتابونه نازل کړي وؤ دغه شان مونږ تا باندې هم کامل قرآن نازل کړيدې،نو دَدينه دَانکار څه وجه نشته دې،﴿فَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ دليل نقلی دې په توحيد او په صدق دَ قران باندې يعنی اهل کتابو کښې بعضِ منصف داسی دی چه دی قرآن باندې هم ايمان راوړی پخپلو کتابونو کښې ئی دَدی صفات موندلی دی،لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه ،او دهغه ملګري شول.﴿وَمِنْ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾يعنی دَعربونه يادَاهل مکه ؤنه هم بعضِ داسی دی چه داکتاب برحق منی ايمان پری راوړی، انکارترينه صرف هغه کوی چه دَضد اوعناد په وجه دَحق نه انکار کوی،﴿وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ ﴾په ديکښې اثبات دَنبوت او صدق دَقرآن ذکر کيږی،"من کتاب" کښې "من" زائده دې دَپاره دَتاکيد دې او﴿مِن قَبْلِهِۦ ﴾ کښې ضمير راجع دې نزول دَقرآن ته،يعنی دَنزول دَقرآن نه قبل نه

تاځه کتاب لوستلې شواونه دي ليکل کولې شول، اُمّي وي، دَاُمي کس داسی فصيح بليغ قرآن لوستل دَدی دليل دې چه دادَده کلام ندې بلکه دَالله ﷻ دَطرفه وحی ده ﴿بِيَمِينِكَ﴾ دا تاکيد دي، لکه نظرت بعيني او دغه شان پديکښ اشاره ده ، ادابو دکتابت ته .چه ليکل په ښی لاس سره پکار دي، ﴿إِذًا لَّارْتَابَ﴾ يعنی کچرته ليکل لوستل دې کولې شول نومشرکانوبه داشك او اعتراض کولې شوچه کيديشی ده دادَمخکښ کتابونونه ازده کړي وی. نو اوس خودوئ ته داشك مناسب ندې.

فائده: ديکښ اختلاف دې چه آيا ورستودَنبوت نه حضورﷺ لوستل ليکل کولې شواوکنه؟ علامه ابن کثير رحمه الله اواکثرمحدثين وائی چه بعدالنبوة هم حضورﷺ لوستل ليکل نه شوکولې صاحب دَ بحر فرمائی چه "واكثر المسلمين علي ان رسول الله صلي الله عليه وسلم لم يكتب قط ولم يقرأبالنظر في كتاب" ځکه چه اُمّي دَحضورﷺ وصف دې اومعجزه ده، اګر چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه علاوه په نورو خلکو کښ داعيب او ذم دې. كقوله تعالىٰ: الذين يتّبعون الرّسول النّبى الامّى الذى(الاية)، دغه شان حديث کښ راغليدی چې "اناامةٌ اُمية لانكتب ولانحسبُ" بعضِ وائی چې بعدالنبوة حضورﷺ لوستل ليکل کول شول، دليل دادٰ چې کله دَصلح حديبيه په موقع دَمشرکانوسره صلح نامی باندی اوليکل شول: هٰذاماقاضىٰ عليه محمّدرسول الله، نومشرکانواوويل که دامونږمنلٰ چه ته رسول الله ئی نواتباع به موکړي وه جنګ به ختم وؤ، داوران کړه اومحمدبن عبدالله اوليکه. حضورﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته دَورانولوحکم اوکړوليکن حضرت علي رضي الله عنه ورانول نه شول برداشت کولې، نوحضورﷺ پخپله وران کړواومحمدبن عبدالله ئی اوليکل، په روايت دَبخاری کښ دی چه: فاخذرسول الله صلى الله عليه وسلم الكتاب وليس يحسنُ يكتبُ فكتب هذاماقاضىٰ عليه محمدبن عبدالله ...(الحديث) نودينه ظاهره ده چه حضورﷺ پخپل لاس مبارك سره داليکلی وؤ ليکن دوئي دا استدلال کمزور او ضعيف دې ځکه چه قاضي عياض رحمه الله فرمائي چه دَ حضور صلی الله عليه وسلم دا ليکل معجزه وه يعنی دابطور معجزه حضور صلی الله عليه وسلم نه ،دا ليکل صادر شوي وو ،اوحافظ ابن حجر فرمائی: "فكتب هذا ما قاضى الخ" نه مراد

امر بالكتاب دي لكه وئيلي شي " كتب السلطان لفلان بكذانو هلته هم مراد امر ابالكتاب وي،نو دغه شان دلته هم امر په كتاب سره مراد دي،وهذا هو الرجح عندي ويؤيد براوية السيرة الحلبية ج3 فجعل علي يتلكأ ويأبى ان يكتب الا محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال له صلى الله عليه وسلم:اكتب فان لك مثلها تعطيها وانت مضطهد اي مقهور"او پدى سره مقصود اشاره وه هغه جنگ ته چه ورستو بيا دَحضرت على او معاويه رضي الله عنهما په مينځ اوشو ،يعنى جنگ صفين نو چه كله دَ حضرت على رضي الله عنه او معاويه رضي الله عنه په مينځ كښ دَ جنگ صفين په خاتمى سره معاهده كيدله نو په صلح نامه كښ كاتب اوليكلو "هذا ماصلح عليه امير المؤمنين علي ابن طالب رضي الله عنه ومعاوية بن ابي سفيان نو حضرت عمر وبن عاص چه دَحضرت معاويه رضي الله عنه دَطرف نه حكم وؤ،اوئيلو چه امير المؤمنين به نه ليكلي ځكه چهلو كنت اعلم انه امير المؤمنين ماقاتله فبئس الرجل انا الي اقررت انه امير المؤمنين ثم اقاتلهبلكه دَدى په ځائى على ابن طالب اوليكه

دَحضرت علي رضي الله دَطرف والا كسانو دانه برداشت كوله ليكن حضرت على رضي الله عنه چه كله داخبره واوريدله نو امر ئي اوكړو په ورانولو دَ لفظ دَ امير المؤمنين سره:فلما سمع علي كرم الله وجهه ذلك وامره بمحوها وقال امحها تذكر قول النبي صلي الله عليه وسلم له في الحديبية(السيرة الحلبية ج3ص29)

او دغه شان مسئله په لوستلو كښ هم ده،چه رسول الله صلى الله عليه وسلم لوستل دَ كتاب نه اولو ستل دَ مكتوب كولي نشو او كومو امورو او اياتو كښ چه لوستل راغليدى هغه يا امرا يا معجزتًا دى،روح المعاني فرمائى چه نبي پاك صلى الله عليه وسلم به لوستل ده كتاب نشو كولي ليكن كله به ئي چه حروفرو ته نظر مبارك اوكړو نو حروفونه ورته دَخپلو اسماؤ او مدلولاتونه ،خبر وركولو اگر چه صاحب دَروح المعانى دَدى توجيه متعلق فرمائي "وانت تعلم ان مثل هذا لايقبل بدون خبر صحيح ولم اظفر به"(روح)ليكن په نورو واقعاتو دَ معجزاتو سره ئي تاكيد كيدلي شي

﴿بَلْ هُوَ ءَايَـٰتٌۢ بَيِّنَـٰتٌ﴾اضراب دي دَماقبل نه،يعنى قرآن دَشك اوارتياب كتاب ندي،

بلکه دا خو واضح آیاتونه دي چې، اسح دي په زړونو دَمؤمنانو کښې دسې محفوظ دي چې څوك پکښې دَتحريف قدرت نه لري.

﴿ فِي صُدُورِ ﴾جار مجرور متعلق دی دَ محذوف سره چه"محفوظ"دی.او کیدل دَ قرآن محفوظ په سينو دَ اهل علم کښې دَ دی نه مراد دَ قرآن پاک يادول او حفظ کول دي.چه صحابه کرامو رضوان الله عنهم يادکړي وؤ،تابعينو،تبع تابعينو چه سلسله ئي تر اوشه پوري جاري ده.او دا خصوصيت دَ قرآن دي چه دَ دی امت اکثر خلک ئي حفظ کوي په خلاف دَ کتب سابقنؤ نه ، چه د هغه حفظ به صرف انبياءكرامو ته وؤ،او هر چه دی په بعض رواياتو کښې په باره دَقارون کښې چه "انه كان يقرا التوراة عن ظهر قلب،نو اولا خو دغه روايت ثابت ندي ،او په تقدير ده تسليم سره قارون يو فرد وؤ،او شاذ ونادر الوقوع دَدی ايت سره متعارض ندي

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ رَّبِّهٖ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ
اووائی دوئ ولې نه نازليږی پدې پيغمبرمعجزی دَطرفه دَرب دَده نه،ته ورته اووايه بيشکه اختياردَمعجزو
عِنْدَ اللّٰهِ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۵۰ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ
الله جَلَّ جَلَالُهُ سره دي،اوبې شکه څه خويرونکې يم ښکاره.آياندي کافی دوئ لپاره داچه مونږنازل کړيدې په تاكتاب
يُتْلٰى عَلَيْهِمْ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝۵۱
چه لوستلي شی پدوئ،بيشکه پدی قرآن کښې خامخارحمت دي اونصيحت دي لپاره دَهغی قوم چه ايمان راوړی،
قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
ته اووايه کافی دي الله جَلَّ جَلَالُهُ زمامينځ کښې اوستاسومينځ کښې گواه،عالم دي په هغه څه چه په اسمانونوکښې دی اوزمکه کښې دی
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝۵۲ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ
اوهغه کسان چه ايمان ئی راوړيدې په باطل اوكفرئی کړيدې په الله جَلَّ جَلَالُهُ،هم داکسان تاوانيان دی،اودوئ زرغواړی ستانه

بِالْعَذَابِ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً
عذاب، خوکچرته نه وي يوه نيټه مقرره دعذاب نوخامخابه ورته راغلې وو عذاب. اوخامخابه راځي دوئ ته ناڅاپه
وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۴﴾
اودوئ به خبرنه وي اوزرغواړي ستانه عذاب. اوبيشکه جهنم خامخاراګيرونکې دې کافرانولره.
يَوْمَ يَغْشٰهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا
په هغه ورځ چه پټ به کړي دوئ عذاب دبره ددوئ نه اودلاندې دخپودوئ نه اوالله ﷻ به ورته وائي اوس وڅکئ
مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾
سزادهغه عملونوچه تاسوکول

﴿وَقَالُوا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ﴾ مشرکينو به په نبي صلى الله عليه وسلم باندې اعتراض کولو چه کچرې ته په حقه پيغمبر ئې نوتاته زمونږ د فرمائش مطابق معجزه ولې نه ميلا ويږې لکه څرنګه چه صالح عليه السلام ته ناقه اور موسى عليه السلام ته يد بيضاءوغيره ميلاؤ شوي وؤ. ﴿قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ﴾ داجواب دې شکوی او د اعتراض نه په دو طريقو سره .اوطريقه دجواب دا ده چې معجزه دالله په اختيارکښ ده خپل مشيت مطابق ئې نازلوی دچافرمائش مطابق ئې نه نازلوی، او ځما ذمه داري صرف تبليغ کول اودا انذار دې او ستاسو په فرمائش مطابق معجزی ځما په قدرت او اختيار کښ نيشته دې، ﴿اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا﴾ دادويمه طريقه دطريقه دجواب ده چه معجزه خودنبي دپاره وي او درسول الله صلى الله عليه وسلم د صدق دپاره دقرآن نه ،بله لويه معجزه څه شي کيديشی دا قرآن دائمی او باقی پاتی کيدندکی معجزه ده، کچرې په دوئ کښ ضد او تعصب او رحمت وی.او پدی قرآن کښ ددوئ د شکوک او شبهاتو ازاله کيدلو دپاره واضح دلائل دی. ﴿قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ﴾ دانتيجه ده د ماقبل بيان چه هر کله دا خبره ثابته شوه چه دپيغمبر ذمه

داري صرف تبليغ او انذار دي نو بياهم دا كفار نه مني نو اې پيغمبره صلى الله عليه وسلم كافرانوته اووايه چه الله ﷻ ځماپه تبليغ اوانذاراوستاسوپه انكاراوتكذيب ګواه اوخبرداردې،هريوته به دَهغه مناسب بدله وركوي،هغه دَاسمانونواودَزمكې په هرڅيزباندې عالم دې، ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْبَٰطِلِ﴾دَباطل نه مرادمعبودان باطله من دون الله دي او ماسوى الله ته معبودان باطله ځكه وئيلي كيږي چه دَدوئ عبادت باطل دې ﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ﴾ زجر اوتخويف دې كافرانوته چه دوئ به طوراستهزاء اوتكذيب ستانه دَعذاب الهى دَجلدئ مطالبه كوي،ليكن دَعذاب وخت مقرردې كه وخت ئې مقررنه وې نوتراوخه پورې به ورته عذاب راغلې وؤ،كله ئې چه وخت راشي نوبيابه پرى اچانك راشي دوئ به خبرهم نه وي، ﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ﴾دَماقبل اعاده ده براى تاكيد اودكفارودَجهالت اظهار دې يا ماقبل نه عذاب دنيوى مراد دې اودينه عذاب اُخروى﴿يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ﴾دا بيان دَ كيفيت دَ احاطى دَ عذاب جهنم دې،يعنى ماقبل كښ ذكر دَ احاطې په عذاب جهنم سره اوشو پدې ايت كښ دَ هغې احاطې يو كيفيت بيانيږي ﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ﴾بيان دې دَعذاب اُخروى، ﴿مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ﴾كنايه ده دَجميعُ جهاتونه،يعنى څلورو واړوطرفونونه به عذاب راګيركړې وي.كه څوك اشكال اوكړې چه جهات خو شپږ دي نو شپږ جهاتو كښ صرف دوه/۲ جهاتو يعنى دَفوق او تحت تخصيص ولې اوكړې شو؟؟نو جواب ترينه داكړې شويدې چه تخصيص دَپاره نكته داده چه دَنار جهنم او دَنار دنيا امتياز او فرق راشي،ځكه چه نار دنيا صرف جهاتواربعو يعنى يمين ،شمال ،قدام،خلف باندې احاطه كولې شي،اوفوق،تحت باندې نشى كولې،ځكه چه دَ دنيا اور دَلا ندې طرف نه بليږي او پاسه خيژى نو ځكه په فوق باندې احاطه ممكنه نده او تحت باندې هم نشي راتلې ځكه دَ اور كومه حصه دَ خپو لاندې راشي نو شعله هلته ختمه شي كچرې سكروټې پاتې وي او دَ جهنم اور(اعاذ نا الله منها)دَهغى شعله دَخپودَ لاندې هم دِ پاسه به هم وي غرض دا چه دَجهات سته نه،به وي،نوخلاصه دَجواب داده چه دَاطراف اربعونه هر"اور"ګيره اچولې شي خو دَدغې

دوه/۲ اطرافونه، دنيوي "اور" ګيره نشي اچولې او د جهنم "اور" به دومره سخت وي د دغي دوه/۲ اطرافو نه به هم ګيره اچوي نو د دغي شدت د بيان او د دغي فرق او امتياز د بيان د پاره تخصيص د دغي دوه/۲ اطرافو اوشو

او هركله چه خاصيت د "اور" صعود يعنى ختل دي پاسه طرف ته، نو د "پاخه" يعنى جانب فوق باندې "اور" بليدل دومره عجيب او نادر ندي لكه څومره چه د ځپو د لاندې "اور" باقى پاتې كيدل نادر او عجيب دي، خودا دي وجي نه د "لاندې" يعنى جانب د تحت سره مضاف اليه ارجلهم ذكر شو او داسي اوئيلې شو چه او من تحت ارجلهم او د جانب فوق سره مضاف اليه "روس" ذكر نشو او داسي او نه وئيلې شو چه او من فوق رؤسهم

﴿وَيَقُولُ﴾ الله ﷻ به ورته اوفرمائي يادا روغه د جهنم چه دنياكښې موكوم عملونه كول د هغې بدله اوس اوڅكئ.

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ

اې بند ګانو څما مؤمنانو بيشكه زمكه څما فراخه ده پس صرف څما عبادت كوئ. هر

نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۟ ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾

ساه لرونكې څكونكې د مرګ دې، بيا به مونږ ته تاسو واپس كيږئ

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ

هغه كسان چه ايمان ئې راوړيدې او عمل كوى نيك خامخا ځكانه به وركړو ورته د جنت نه

غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ﴿٥٨﴾ۙ الَّذِيْنَ

بنګلې چه بهيږي به لاندې د هغې نه نهرونه هميشه به وى په هغې كښې، ډيرښه دې اجر د عمل كونكو. هغه كسان

صَبَرُوْا وَعَلٰي رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَاۗبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا

چه صبر يې كړيدې (په تكليف د هجرت) او په رب خپل اعتماد كوى. او ډير ځناورنه داسې دى چه نه باروى رزق خپل

اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ ۖ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۞ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ

الله ﷻ ورته رزق ورکوی او تاسوته هم،او الله ﷻ بنه اوريدونکي دي عالم دي،او کچرته ته تپوس اوکړې ددوئ نه

مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ

چه څوک دي هغه ذات چه پيدا کړي ئی دی اسمانونه او زمکه او مسخر کړي ئی دي نمر او سپوږمئ نو خامخا به وائی چه

اللّٰهُ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۞ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

الله ﷻ دي نو کوم طرفه ته اړه ولي کيږی دوئ،الله ﷻ فراخه کوی رزق هغه چاته چه ئی خوښه شی دخپلو بندګانو نه

وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۞ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ

او تنګوی ئی ورته،بی شکه الله ﷻ په هر څيز باندی ښه خبردي،او کچرته تپوس اوکړې ته ددوئ نه چه څوک دي چه نازلوی

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

داسمان نه باران نو راژوندئ کوی په هغی سره زمکه ورستو دوچی دلودهغی نه،نو خامخا به وائی چه الله ﷻ دي،

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۞

نو اووايه ټول صفتونه دالوهيت الله ﷻ لره دي،بلکه زيات ددوئ نه عقل نه لري

﴿يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ دا اول دعوه دسورة سره متعلق دي او ترغيب دي هجرت ته،چې دتوحيد په خاطر به مصائب راځی،چه دا مشرکان تاسو ته ايذا رسوی او دالله ﷻ عبادت ته مونه پريدی نو دالله ﷻ زمکه فراخه ده داسيی ځائ ته هجرت اوکړئ چه خالص زما عبادت اوکړئ نو پدی اعتبار سره د "ارضي"نه مراد "نفس ارض" يعنی زمکه مراد ده،لکه چه وئيلي شي پائ ګدا لنګ نيست. مُلك خدا تنګ نيست،او بعض فرمائی چه چه د "ارضي واسعة"نه مراد فراخی د رزق ده او اګرچه په ظاهر کښې اخبار دي خو مراد ترينه انشاء د او مطلب دادي چه څوک د الله تعالی د رضا د پاره هجرت اوکړي نو الله به هغه له فراخ رزق وکړي لکه په سورت النساء ايت نمبر ۱۰۰ کښې دي.

﴿فَإِيَّٰيَ﴾مفعول به دي فعل محذوف دپاره نو په اصل کښ دا سي وو"اعبدوني"فعل فاعل حذف شو،منصوب متصل په منفصل سره بدل شو،او"فاعبدون"مذکور مفسر دي د محذوف د پاره،او''فا''په "فاياي"کښ دپاره د تسبب ده،يعني هر کله چه اوئيلې شو چه "ان ارضي واسعة"نو ورپسي د دي سببيت ته اشاره اوشوه چې وسعت د دي دپاره دې چه خاص د الله تعالى عبادت اوکړې شي،چه "فاياي فاعبدون"او په "فاعبدون"کښ فا جزائيه ده،چه داخله ده په مفسر باندي نو هر کله چه مفسر محذوف شو اور مفسر دهغه قائم مقام شو نو فا جزائيه هم په مفسر باندي داخله شو.

امام رازى رحمه الله فرمائي چه: "فاياي"کښ فا جزائيه ده او"فاعبدون"کښ فا دپاره د ترتيب د مقتضىٰ ده په مقتضې باندي لکه چه وئيلي شي "هذا عالم فاكرموه"نو عالم والا علم مقتضى ده او اکرام ئې مقتضا دې،نو هم دغه شان دلته هم الله تعالى دا اوفرمائيلو چه "ان ارضي واسعة فاعبدوني"او بيا ئي اشاره اوکړه چه معبود کيدل د الله تعالى دذات تقاضا ده،او صرف اوصرف هغه مستحق دعبادت دي،نو ځکه "فاعبدون"ذکر شو

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾ هر کله چه الله تعالى د هجرت حکم اوکړونو بعضو حضراتو باندي دا حکم شاق اوګرځيدلو اوخپل وطن پريخودل ورته ګران وو،او خپلو خپلوانو ورته هم دمرګ ويره ورکړه چه پردي وطن ته ځئ نو هلته به مړه شئ نو دا ايت نازل شو چه کچرته تاسو ته په هجرت کښ داحبابو او اوطانو مفارقت ګران ښکاري نوپدی پوهه شئ چه دامفارقت خوبه يوه نه يوه ورځ راځي ځکه چه مرګ به په هرکس باندې راځي،هرڅه به پاتی شی تول به مونږخواته راځي.او"کل نفس"مبتدا ده نکره مخصصه تخصيص ئي په عموم سره شويدې.

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾بشارت أخروی دې هجرت کونکوته،چه دالله ﷻ دخاطره دوئ کورونه پريدی نومونږبه آخرت کښ دوئ ته دجنت بنګلي ورکړوچه دهغې دلاندی به نهرونه بهيږی،﴿ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ﴾د﴿ٱلْعَٰمِلِينَ﴾صفت دې،چه دهجرت په شدائد اودمشرکانوپه اذيتونوصبرکوی،اوهرڅه الله ﷻ ته حواله کوی.

﴿وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ﴾ یعنی کچرته په هجرت کښ تاسو ته داوسوسه وی چه پردیس کښ به خوراك کوم ځائ نه میلاویږی،داسی ځائ ته به څنګه لاړشوچه معیشت اسباب پکښ نوی نوپوهه شئ چه ډیرځناورداسی دی چه ځان سره رزق نه ګرځوی نه جمع کوی الله ﷻ هغوئ ته هم مقدررزق ورکوی اوتاسوته هم درکوی خواه چه تاسوکوم ځائ هم یئ.نوداخطره مکوئ بلکه په الله ﷻ بهروسه کوئ هغه کامل صفاتووالاذات دي."كَأَيِّن مِن"په معنی دَ "كم من"سره دي او"كم"خبريه دي په معنی دَ تکثير سره دي دَ دي مطلب دا دي چه ډیر ځناور داسي دي چه دَروزئی دَ فکر نه بي فکره دي،البته ځني ځنا ځناور او مخلوق داسي شته دي چه هغوي ځان دَپاره روزي جمع کول کوی،لکه منګک،میږي او انسان شو،دغه شان بعض حضراتو پکښ بلبله هم ذکر کړیده.

فائده:پدي ایت کښ پدي دلیل نشته دي چي ځان دَ پاره رزق جمع کول ناجائز دي.بلکه دَ ایت مقصد دادي چه یو دیني کار دَ رزق او معیشت دوجي نه پریخودل ندي جائز دَ رزق په معامله کښ دَ الله تعالی په ذات باندي توکل پکار دي.

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ﴾ دادویم عقلي دي په توحید،علی سبیل الاعتراف من الخصم،یعنی مشرکان هم دَدی اعتراف کوی چه خالق دَاسمانونواوزمکی صرف الله ﷻ دي،یعنی دَتوحیدفی التخلیق قائل دی،نودَتوحیدفی الالوهیت نه ولی انکارکوی،﴿اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ دادریم دلیل عقلي دي،چه دَانسان بنیادی ضرورت چه رزق دي هغه دَالله ﷻ په اختیارکښ دي که چاته ډیرورکوی اوچاته کم،هرڅه باندي هغه عالم دي،لهذامستحق دَعبادت هم صرف هغه دي،﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ﴾ داځلورم دلیل عقلی دی په توحید،علی سبیل الاعتراف من الخصم،چه مشرکان دَدی اعتراف کوی چه لکه څرنګه دکائناتوخالق صرف الله ﷻ دي دغه شان دااعتراف هم کوی چه دکائناتوباقی پاتی کیدلونظام صرف الله ﷻ سره دي.او دغه شان لکه څرنګه چه رازق صرف الله دي نو دغه رنګه اسبابو دَ رزق خالق هم صرف الله دي چه دَاسمان نه باران نازلوی چه دَهغی په ذریعی سره وچه زمکه راژوندئ شی،او رزق

دَ مخلوقاتو دَ پاره پيدا شي ﴿قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ﴾ داد مذكوره دلائلو ثمره ده چه دَمشركانو دَ
اعتراف نه ثابته شوه چه تمام صفات الله جل جلاله سره مختص دي ځوك هم ورسره شريك نشته.
ليكن اكثرد دوئ نه غور او تدبر نه كوي چه دَ توحيد اقرار اوكړي

وَمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا لَهۡوٞ وَلَعِبٞۚ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَ لَهِيَ ٱلۡحَيَوَانُۚ لَوۡ كَانُواْ

اوندي دا ژوند دَدنيا مگر عبث بې حقيقته او لوبې دى او بيشكه كور دآخرت هم هغه حقيقي ژوند دي، كچرې دوئ

يَعۡلَمُونَ ۝ فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ

بوهيدلې. پس كله چه دوئ سواره شي په كشتئ كښ نو سوال كوي الله جل جلاله ته چه خالص كونكي وي هغه ته دَخپل عبادت.

فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ۝ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ

پس هركله چه الله جل جلاله ورته نجات وركړي وچې ته نو بيا دوئ شرك كوى. چې دوئ كفر اوكړي په هغه نعمتونو

ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ۝ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ

چې مونږ ورته وركړيدي اوچه دوئ لره نفع واخلي پس زرده چه دوئ به پوهه شي. آيا نه گوري دوئ چه

أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا ءَامِنٗا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ

بيشكه مونږ گرځولي دي حرم امن والا او تختولي شى خلق دَ گيرچاپيره دَدوئ. آيا په باطل دوئ ايمان راوړي

وَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَكۡفُرُونَ ۝ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوۡ كَذَّبَ بِٱلۡحَقِّ

او په نعمت دَالله جل جلاله كفر كوى. او ځوك دي غټ ظالم دَهغه چانه چه اوتړي په الله جل جلاله دروغ يا تكذيب اوكړي دَحق

لَمَّا جَآءَهُۥٓۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡكَٰفِرِينَ ۝ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا

كله چي راغى ده ته. آيا نده په جهنم كښ ټكانه لپاره دكافرانو. او هغه كسان چه كوشش كوى زمونږ دَدين لپاره

لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ۝

خامخا به ورته مونږ هدايت كوو دَلارو خپلو. او بيشكه الله جل جلاله خامخا دَنيكو كونكو سره دي

﴿وَمَا هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ﴾ دا دَدنيا دَژوند تقليل او دَدنيا دَتحقير بيان دې.دَدنيا دَژوند تشبيه دَلوبو تماشو سره ورکړې شويده،چه لکه څرنګه ماشومان لوبى تماشى او کړې.راجمع شى ځان خوشحاله کړې لږوخت لپاره بيا جدا جدا شى خالى لاسونه کورونه ته ځى،دغه شان دَدنيا هم دَيو څو ورځى لوبى تماشى دى چه کافرانو فاسقانو پکښ ځان خوشحاله کړيدې،بيا به ترينه خالى لاس ځى،او فرق په مينځ دَ "لهو" او"لعب" کښ دادي چه لهو"اطلاق په هغه څيز باندي کيږي چه په هغي سره دَزړه مشغوليت دَ بل شي نه راځي دَدي وجي نه صاحب دَ مظهري فرمائي:"وهومايشغله مما يغنيه فان اشغال المرأ بالدنيا يشغله مما يفيده في الحيوة المؤبدة"يعنى لهو هر هغه شئ دي چه دَ مفيد شئ نه منع کول کوي او مشغول کول کوي نو په دنيا کښ مشغوليت دَ انسان دَ هغه څيزونه منع کول کوي کوم څيزونه چه ابدي ژوند کښ پکار راځي،او لعب لو بوته وئيلي کيږي.اطلاق ئي په هر هغه څيز باندي کيږي چه دلږي مزي ولاوي او زرزائله کيدونکې او ختميدونکې وي،نو دَدينه معلومه شوه چه د الله تعالى عبادات ذکر واذکار وغيره په دنيا کښ شامل ندي اګر چه کيږي په دنيا کښ،يعنى دنيا ئي ميدان عمل دې خود دنيا نده،ځکه چه دَ دي ثمره په اخرت کښ انسان ته ميلاويږي.

﴿وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ لَهِىَ ٱلْحَيَوَانُ﴾ "حيوان"مصدردې د(حى)اصل کښ حييان دې،دويمه ياخلاف قياس په واؤبدله شويده،"حيوان"مبالغه ده په حياة کښ،يعنى اصل او حقيقى حيات آخرة حيات دې،چه نه پکښ موت شته دې نه مرض نه فنا،﴿لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ﴾ دا شرط دى جواب شرط محذوف دې اى لوكانوايعلمون لماآثروا عليها الدنيا (روح)يعنى که دوئ پوهيدلي نو دنيا ته بئ په آخرت ترجيح نه وه ورکړي،الله تعالى دي مونږ ته هم دا پوه راکړي يا "لو" تمنائى دې يعنى کاش چي دوئي پوهيدلي﴿فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ﴾ دا زجردې مشرکانو ته چه کله دوئ په درياب کښ په طوفان کښ راګيرشى دَخپلو باطلو معبودانو دَمددنه نااُميده شى نو بيا دَمؤمنانو په شان الله ﷻ ته او ازونه کوى دَشرك نه بيزاره شى ليکن چه کله ورته الله ﷻ نجات ورکړې لوچى ته راشى نو بيا شرك شروع کړي.امام رازي رحمه الله پدي ايت سره استدلال کړيدې چه توحيد او معرفت دَ الله تعالى دَهر انسان په فطرت کښ دي اګر

چه دَ خوشحالئ په حالاتو کښې ترینه هیر شي خودَ تکلیف په موقعو کښې ورته رایا دیږي ﴿لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ وَلِيَتَمَتَّعُواْ﴾ظاهره داده چه لام په دواړوځایونوکښې لام کئ دی یعنی دوئ پدی خپل شرک په سبب زمونږدَنعمت ناشکری کوی چه مونږورباندې کوم دَنجات په صورت کښې کړې وؤ.او دَ هغې نعمت نه صرف ظاهري او دنیوي فائده اخلي چه دشرک په سبب خپل مینځو کښې اتحاد او اتفاق څرګندکړي،او خپله ډلهرپارټي، درنه کړي. "أي ليتمتعو باجتماعهم علي عبادة الاصنام وتوادهم عليها«روح»اود شرک په سبب خپله پارټی ورسره درنه وی،بعضِ وائی لام امردي،امردَتهدیدلپاره دي لکه"اعملواماشئتم"تائیدددي قول دادې چې په یو قرائت کښې"وليتمتعوا"په سکون دَلام سره راغلې وې،او بعض حضرات فرمائي چه دا لام العاقبت دي،یعنی دَدې نعمت انجام دَ دوئ په حق کښې دا دې چه دوي کفر اوکړي او دنیوی مزې واخلي او پدیکښې اشاره ده چه کافر او منافق انسان نعمت دَ الله تعالیٰ صرف دنیوي لذت او خواهش پوره کولو ذریعه ګرځوي،او مؤمن او نیک انسان دَ الله تعالیٰ نعمتونه زیادت اطاعت او زیادت شکر ادا کولو ذریعه ګر ځوي«مدارک»﴿فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ﴾یعنی دَخپل کفرانجام به ورته دَقیامت په ورځ معلوم شی

﴿أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا﴾ دیکښې په اهلِ مکه ؤباندی دَیولوئ انعام ذکردې او خاص کر مشرکین مکه ته.چه آیادوئ نه وینی چه مونږدَدوئ علاقه مکانی محترم ګرځولې دې،په امن کښې دي دَقتل وغارت نه،ټولوعربوبه دَبیت الله په وجه دَاهلِ مکه ؤعزت کولودَدوئ قافلې به يې نه لوټ کولې حالانکه ګیرچاپیره خلقوته دغه امن نه وؤمیلاؤبلکه ډاکوانو به اغواکولو.قتل کول به ئې صاحب دَروح المعاني دَابن عباسؓ نه نقل کړیدي چه اهلِ مکه ؤحضورﷺته اووئیل چه پدی وجه مونږایمان نه راوړوکچرته عرب خبرشول چه دوئ ایمان راوړیدې نومونږبه مره کړي نودا آیت نازل شولکه سورة القصص کښې هم دی:وقالواان نتبع الهدىٰ معك نتخطف من ارضنا.﴿أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ﴾استفهام دَپاره دَ انکار دې،او باطل نه مراد غير الله دې،نو مقصد دادې چه دَ دومره لوئ او عظیم انعام او احسان باوجود دوئي شرک کوي اودَمعبودان باطله عبادت کوي.اودَ الله دَنعمت ناشکري کوي

بعض حضرات فرمائي چه: "وبنعمة الله"نه مراد ذات اقدس رسول الله صلى الله عليه وسلم دي چه په ټولو نعمتونو کښې لوئ نعمت دې،نو دَايت مقصد دادې چه دوئ په معبودان باطله باندي ايمان راوړي اودَرسول الله صلى الله عليه وسلم په نبوت باندي ايمان نه روا ړي ،چه دالوئ نعمت دي.

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ﴾زجردې مشرکانوته چه دَدوئ نه بل غټ ظالمان نشته چه په الله ﷻ دروغ ترکړي چه الله ﷻ لره شريك شته دې، ﴿أَوْ كَذَّبَ بِٱلْحَقِّ﴾دَحق نه مرادرسول دې اوکتاب. ﴿أَلَيْسَ فِى جَهَنَّمَ﴾استفهام تقريرى دې يعنى دَدوئ ټکانه دوزخ دې. ﴿وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا﴾ دادَسورة دَابتداء سره متعلق دې، اوبشارت دې هغه کسانو ته چې دَ الله تعالى په لاره کښې په ځانونو باندي تکاليف تيره وي يعنى کوم خلک دَ الله تعالى دَدين په خاطر تکليفونه برداشت کوي،په ځان مشقتونه تيره وي صبر استقامت کوي الله په دوئى ته نوره هم ترقي ورکړي﴿جَٰهَدُواْ﴾باب مفاعله دَجهادنه،دې او جهاد په لغت کښې کوشش او مشقت ته وئيلي کيږي او اصلاح کښې:استفراغ الوسع في مدافعة العدوته وئيلي کيږي،او داکله په صورت دَ قتال کښې وي چه جهاد ظاهر ورته وئيلې کيږي او کله په صورت دَ مجاهده مع النفس په صورت کښې وي چه ديته جهاد باطني وئيلې کيږي ،دا ايت مکي دې مکه دور کښې جهاد فرضيت نوو رغلي،دَدچي نه اکثر مفسرينودَجهاد نه،دلته جهاد مع النفس مراد کړيدې.

لکه دَحضرت حسن بصرى رحمه الله نه مروي دي فرمائي چه مجاهده نه مراد الصبر علي الطاعات واجتناب المعاصيدي،امام مجاهد وغيره حضراتونه منقول دي چه جاهدوا فينا"معنى ده "رغبوا في طاعتنا" لنهدينهم اي لنعرفنهم طريقناليکن بعض مفسرين فرمائي چه غوره خبره داده چه جهاد نه عامه معنى مراد کړې شي چه جهاد مع النفس او جهاد مع الاعدا ،دواړوته شامل شي(روح البيان ،ابي سعود)

فضيل بن عياض رحمه الله نه مروي دي چه دَجهاد نه مراد کوشش کول دي په طلب دَ

علم كښې او "سبلنا"نه مراد طريقې دَ عمل دي،دَايت مقصد دادې چه:"والذين جاهدوا في طلب العلم لنهدينهم سبل العلم به (بغوي)يعني كوم كسان چه دَ علم زده كړي دَ پاره كوشش كوي نو مونږ به روته په علم باندي دَ عمل كولو لاري اوښايو .او بعض حضرات فرمائي چه جاهدوانه مراد عمل كول دي په علم باندي او "لنهدينهم سبلنا"نه مراد ترقي وركول دي په علم كښې،نو دَايت مقصد دادې چه كوم خلک په خپل علم باندي عمل كوې نو الله تعالى به ورته دَ خپل طرف نه مزيد علم وركړي.لكه په حديث شريف كښې دي.من عمل بما علم ورثه الله علم مالم يعلم (بيضاوي سمعاني)﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾امام رازي فرمائي چه: والذين جاهدوانه مراد هغه كسان دي چه نظر اوفكر كوي چه داشرط دې دَعلم استدلالي دَپاره.او "لنهدينهم سبلنا"نه مراد علم دې په نتيجه باندي چه الله دغه علم پس دَ ترتيب نه په قلب دَ ناظر كښې پيدا كوي،امام رحمه الله دَ دي ايت تفسير داسي كوي چه هر كله الله تعالى په ماقبل كښې دلائل په توحيد باندي ذكر كړل نو دَهغې نه ورستو دَ دري ۳ قسمه خلكو ذكر هم اوكړو(۱) څنې هغه خلک دي چه نظرا و فكر بالكل نه كوي ضداوتعصب كښې انتها ته رسيدلي وي،اقرار يې هم كوي خو تسليم نه كوي دَ هغوي ذكر"ومن اظلم ممن افترى"كښې اوشو(دويم ۲)هغه كسان وي چه صحيح نظراوفكر كوي نو الله تعالى ورته علم په نتيجه وركوي.دَهغوي ذكرېدي جمله كښې اوشو.او(دريم/۳) هغه كسان دي چه الله تعالى ته ډير قريب وي بغير دَنظر او فكر نه الله تعالى ورته علم په مطلوب وركړي (يعنى واجد دَ قوت قدسيه وي) دَهغوي ذكر په دي جمله كښې ان الله لمع المحسنين كښې اوشو او ابن كثير رحمه الله دَامام شعبى رحمه الله نه نقل كړيدي چه عيسى عليه السلام فرمائى: انما الاحسان ان تحسن الي من اساء اليك ليس الاحسان ان تحسن الي من احسن اليك يعني احسان حقيقت دادې چه ښيګړه هغه چاسره اوكړي چه تاسره ئي بدكړي وي او دا حقيقتا احسان ندې چه تاسره چا ښيګړه كړي وي هغه سره ته ښيګړه اوكړي،نو پديكښې اشاره ده،ديته چه كومو خلكو تاسوته تكليفونه دركړيدي(لكه چه هغي ته په سورت په ابتدا كښې اشاره شويد وه) نوهغوي سره تاسو احسان كوئ.

(اللهم زدنا علما نافعا ورزقا واسعا وعملا متقبلا

ركوعاتها (۶)	سورة الرّوم مكية	آياتها (۶۰)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۳۰) وحسب النزول (۸۱)

حسب تسلسل (۳۰) دي اوحسب النزول (۸۱) دي، نزلت بعدسورة الانشقاق قبل العنكبوت شپږ (۶) ركوع ، (۶۰) اياتونو ۸۱۹ کلماتو باندي او ۳۵۳۴ حروفو باندي مشتمل دي.

ربط اسمي: ماقبل سورت کښې داخبره واضحه شوله چې الله تعالى نه ماسوا څومره معبودان دي هغوئ حيثيت دعنكبوت دکور پشان دي، چې بالکل ضعيف او کمزور دي، او چاته څه پناه نشي ورکولي. او دى سورت کښې ددې خبرې بيان دې چې څوک الله تعالى نه مدد غواړي او توحيد باندې قائم دى نو الله تعالى به ورله داسې غلبه ورکړى لکه روميانو له په فارسيانو باندې نه غلبه ورکړې ده.

ربط معنوي: سورة عنکبوت کښې دمصائبوذکروؤچه مؤمنانوباندی به به طورامتحان مصائب راځی صرف آمنا وئيل كافى ندي، بلکه دين په خاطر به تکاليف برداشت کول هم ضروري ده نو اس په دې سورة کښې په مصائبوبرداشت کولواوصبراستقامت باندی اوسيدلوانعام ذکرکيږى چه مؤمنانوته به دالله ﷻ دطرفه نصرت ميلاويږى اودوئ به پرى خوشحاليږى، كقوله تعالى ﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللّٰهِ﴾ دغه شان ماقبل سورت کښې وؤ چه وَالَّذِينَ جاهدو فينا لنهدينهم سبلنانو پدې سورت کښې الله په واقعى د روميانو سره د هغې هدايت او لارې کولاؤلو يوه نمونه ذکر کوي.

دعوه د سورت: د دې سورت دعوه بشارت دې په نصرت سره ورستود ابتلانه، او شرط نصرت دې او دا دعوه سره د دلائلو څلور ځلې ذکر شويده . (۱) آيت نمبر ۴، (۲) آيت نمبر ۵ (۳) آيت نمبر ۴۷، (۴) آيت نمبر ۲۰. اودرې (۳) ځلې شرط د دعوى چه (توحيد) دې د هغې ذکر دې.

خلاصه: په ابتداء کښې مسلمانانوته په مشرکانوباندی دفتح اوغلبې بشارت دی، فتح اونصرت چونکه محض توحيدباندی قائم پاتی کيدلوسره ميلاويږی نو دتوحيدحکم دي چه ﴿

فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ ۱۲ دلائل عقليه دی په توحيد ۳۰ امور دفعيه دعذاب دی، دينه علاوه زواجر تخويفات هم دی.

تفصيلي خلاصه: دري خله دسورت دعوه (نصرت الهيه) ذکر کيږي: (۱) وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ ٱللَّهِ (آيت نمبر ۵،۴) (۲) وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ﴿٦٠﴾

دري خله شرط دعوى (توحيد) ذکر دي، (۱) فَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ (۲) فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ﴿٣٠﴾ (۳) فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ ﴿٤٣﴾

دولس (۱۲) دلائل عقليه دی په توحيد:

آيت نمبر (۲۰) نه ۲۷ پورې مسلسل اته ۸ دلائل ذکر دي. نهم ۹/ دليل په آيت نمبر ۴۰، لسم دليل په آيت نمبر ۴۲ يولسم دليل آيت ۴۸ او دولسم دليل په آيت نمبر ۵۳ کښې ذکر دي.

دري دلائل په معاد بيانيږي:

(۱) ٱللَّهُ يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ﴿١١﴾ (۲) يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ ﴿١٩﴾ (۳) فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ ﴿٥٠﴾

پنځه تخويفات دي: (۱) أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ (آيت ۹،۱۰) (۲) وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ (آيت ۱۲،۱۶) (۳) ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ (آيت ۴۱،۴۲) (۴) مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ (آيت ۴۴) (۵) وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ (آيت ۵۵)

دري بشارتو بيان دي (۱) غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ (۲) فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ (آيت ۱۵) (۳) وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ آيت نمبر ۴۴،۴۵

دري ځايه زجراتو بيان دي (۱) يَعْلَمُونَ ظَٰهِرًا مِّنَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا (آيت ۷،۸) (۲) أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ (آيت ۳۷) (۳) وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا (۵۱)

دوه خله تسلی ده: (۱) فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ (آيت ۵۲) (۲) فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ (آيت ۶۰) يوځل شکوه ده: وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ (آيت ۵۸)

تمت خلاصة السورة.

الٓمّٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ ﴿۲﴾ فِیْٓ اَدْنَی الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَیَغْلِبُوْنَ ﴿۳﴾
الٓمّٓ،مغلوبه کړې شول رومیان،په نیزدې زمکه کښ اودوئ،رومیان،به ورستو دَمغلوبه کیدلونه زربه غالب شی
فِیْ بِضْعِ سِنِیْنَ ۬ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْۢ بَعْدُ ؕ وَیَوْمَئِذٍ
په یوڅوکالونوکښ،خاص الله جَلَّ جَلَالُهٗ لره دې اختیارمخکښ دَمغلوبه کیدلونه هم اوورستوهم.اوپه دغه ورځ دَغلبی به
یَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۴﴾ بِنَصْرِ اللّٰهِ ؕ یَنْصُرُ مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ﴿۵﴾
خوشاله شی مؤمنان،په مدددَالله جَلَّ جَلَالُهٗ.الله جَلَّ جَلَالُهٗ مددکوی دَهغه چاچه خوښه ئی شی.اوالله جَلَّ جَلَالُهٗ غالب دې مهربانه دې
وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا یُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۶﴾
وعده کړیده الله جَلَّ جَلَالُهٗ.خلاف نکوی الله جَلَّ جَلَالُهٗ دَوعدی خپلی لیکن اکثرخلق نه پوهیږی

﴿الٓمّٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّوْمُ﴾دی آیاتونوکښ بشارت دَفتحی دې مؤمنانوته په مشرکانو،چه په کومه ورځ رومیانوته په ایرانیانوفتح اوشی پدغه ورځ به مسلمانانوته هم دَمکی په مشرکانوباندی فتح میلاؤشی،مسلمانان به په نصرتِ الهی سره خوشحاله شی.

غلبت الروم جمله خبریه ده مستعمل ده دَ لازم دَ فائدة الخبر دَ پاره،مقصددادې چه رومیان مغلوب شو اوفارسیان غالب شو.لیکن تاسو اې کفار مکه پدې مه خوشحاله کیږئ.اواې مؤمنانو تاسو مه خفه کیږئ ځکه چه عنقریب رومیانوته به غلبه ورکړې شي،او فارسیان به مغلوب کړې شي.

دَدی آیاتونوشانِ نزول باره کښ مفسرینولیکلی دی چه په عهدِرسالت کښ دوه لوئ طاقتونه وؤ(سپرطاقت)یوفارس(ایران)اوبل روم،اهلِ فارس آتش پرست وؤاورومیان اهلِ کتاب یعنی عیسایان وؤ،دَمشرکانوهمدردیانی دَاهل فارس سره وې ځکه چه دوئ هم مشرکان اودَغیرالله عبادت کونکی وؤ،نودَمکی مشرکان به دَدوئ په ترقی اوفتحی باندی خوشحاله کیدل،اومسلمانان به دَرومیانوپه ترقی اوفتحی خوشحاله کیدل.ځکه چه دوئ اهلِ کتاب وؤ،بعثت نبوی نه یوڅوکاله بعدفارسیانوپه رومیانوغلبه اوموندله.ډیری علاقی ئی ورنه واخستلې،پدی واقعی مشرکان ډیرخوشحاله شواومسلمانان خفه شول.مشرکانوبه

مسلمانانو ته پیغورونه ورکول چه زمونږ ملګری ستاسو په ملګرو غالب شول. تاسو هم کچرته مونږ سره مقابله شی نو مونږ به درباندی غالب کیږو. نو الله ﷻ داآیاتونه نازل کړل چه پدی کښی داپیشنګوئی اوشوه چه په یو څو کالو کښی به رومیان بیاغالب کیږی. اوس خومغلوب دی لیکن ورستو دَمغلوبیت نه به بیاغالب شی، پدغه ورځ به الله ﷻ دَمؤمنانو سرهم نصرت کوی دَمکی په مشرکانو باندي به ورته فتح ورکوی. آیت نازلیدلونه ورستو ابوبکر ﷺ راغي کافرانو ته ئی اووئیل ستاسو دَخپلو ملګرو په غلبی مه خوشحالیږئ ډیرزربه دوباره رومیان غالب شی، ابیٔ بن خلف ورته اووئیل: داسی هرګزنشی کیدلي. ابوبکر ﷺ ورسره شرط اولږولو که چرته دری کاله کښی رومیان غالب شونوته به ماله لس(۱۰) اوښان راکوي اوکه غالب نشول نوځه به درکوم، دغه وخت کښی شرط لګول حرام نه وؤ، بیاابوبکر ﷺ حضور ﷺ خدمت کښی حاضرشو دَدی واقعی خبرئی ورته ورکړو حضور ﷺ ورته اوفرمائي تادَدری(۳) کالو مدت کم مقرکړیدي ځکه چه ﴿بِضْعِ﴾ لفظ دَدری(۳) نه ترنهه(۹) پوری عددلپاره استعمالیږی، نولاړشه اودی کښی اضافه اوکړه، ابوبکر ﷺ راغي دَدری(۳) کالوپه ځائ ورسره دَنهه کالو اودَ لس(۱۰) اوښانوپه ځائ سل(۱۰۰) اوښان مقررکړل، دهجرت په دویم کال اودَ دي شرط لګولو په ووم(۷) کال باندی چه یو طرف ته مسلمانان دَ جنګ بدر په فتح باندې ډیر خوشحاله وؤ نوعین په دغه وخت کښی دَ رومیانو په فارسیانو باندې غالب کیدلو بشارت اوزیرې هم راغي، او چونکه ابي بن حلف په جنګ بدر کښی دَ بنی پاک صلی الله علیه وسلم دَلاس مبارک نه زخمی شوې وؤ، اوبیاپه مکه کښی مردار شونوحضرت ابوبکر ﷺ دَده دَوارثانونه(۱۰۰) اوښان واخستل، حضور ﷺ خدمت کښی ئی حاضرکړل، حضور ﷺ ورته حکم اوکړوچه داصدقه کړه، اګرچه دادغه وخت کښی حرام نه وؤلیکن حضور ﷺ ته دَشرط په ذریعه سره حاصل شوې مال خوښ نه وؤ.

فائده: په بعض روایاتو کښی راغلیدی چه کله حضرت ابوبکر رضی الله نبی پاک صلی الله علیه وسلم ته په شرط سره وصول کړی اوښان پیش کړو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیلو چه: هذا السحت تصدق به اودَسحت اطلاق عموما په مال حرام باندې کیږې، حالانکه په اتفاق دَ مفسرینو سره په دغه وخت کښی شرط لګول حرام نوو، کچرې حرام وې، نو نبی صلی الله علیه وسلم به ابوبکر رضی الله عنه ته اجازت ولي ورکړې وؤ؟ نو بعضو محدیثنو جواب

دا کړي دي چه سحت په معنی دَ مال حرام سره ندي بلکه سحت په معنی دَ خلاف مروت او سبب العار دي، نو سحت په معنی دَ ساحت للمروة دي، نه په معنی دَ ساحت للدین. لکه په بل روایت کښ "کسب الحجام سحت" بعضو دَجواب کړیدي چه سحت په معنی دَ کراهت سره دي، لیکن غوره جواب دادي چه کوم روایاتو کښ لفظ سحت راغلیدي هغه روایات ضعیف دی، او په روایات صحیحه کښ صرف "تصدق" دي، نو لهذا سحت ثابت ندي، او حکم دَ تصدق دکمال تقوی په اعتبارسره اودَ کمال احتیاط په بنیاد وؤ.

فائده(۲): امام ابوحنیفه رحمه الله پدي آیت سره استدلال کړیدي چه عقود فاسده په دارالحرب کښ مطلقا جائز دی، داسې ذکر په شامې، محیط، برهانې وغیره کښ دي، نو دلائل سره دَ اختلافاتو په کتب دَ فقه کښ تفصیلا ذکردي، لیکن استدلال پدي آیت مذکور سره محل تامل دي.

﴿فِىٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ﴾ "الارض" کښ الف لام عهدي دي او معهود ورسره ارض الروم" ده. اوچونکه زمکه دَروم، په نسبت دَفارس عربوته زیاته نیزدی ده، نو ده دي وجې توصیف ئې په ادانی الارض سراوشو مختلفوروایاتوکښ دی چه جنګ دَ "اذرعات" اودَ "بُصریٰ" په مینځ کښ علاقی کښ شوې وؤ، بعضِ وائی مرادورنه اُردن اوفلسطین وغیره علاقي دي. او بعض حضرات فرمائي چه "ادنی الارض" نه مراد، "ارض العرب" دی او په کلام عربی کښ چه کله "الارض" ذکر شی نو معهود ترینه زمکه دَ عربو وي، او دواړو توجیهاتو کښ تعارض نیشته دي.

﴿وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ﴾ "هم" ضمیرراجع دي رومیانوته او ﴿غَلَبِهِم﴾ مصدر مبنی للمفعول دي مضاف دي نائب فاعل ته ای من بعدمغلوبیتهم، یعنی ورستودَمغلوب کیدلونه به بیازرغالب شی، ﴿فِى بِضۡعِ سِنِينَ﴾ متعلق دي دَ ﴿سَيَغۡلِبُونَ﴾ سره، ﴿بِضۡعِ﴾ عدد مبهم دي اطلاق ئې دَدرې نه ترنهه پورې کیږی، ﴿لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ﴾ قبل او بعد مبنی دی په ضمې باندې ځکه چه مقطوع عن الاضافت دی خو مضاف الیه منوی ده، معنی ئې داده چې: من قبل الغلبة ومن بعد الغلبة یامطلب دادي چه "من قبل هذه المدة ومن بعد هذه المدة" پدیکښ دلیل

دې پدې چه مغلوب کيدل اوغالب کيدل تول دَالله ﷻ دَطرفه دى ﴿بِنَصۡرِ ٱللَّهِ﴾ غوره قول دادې چه جار مجرور متعلق دې دَ "يفرح المؤمنون" سره يعنى په دغه ورځ به مؤمنان خوشحاله شي په نصرت او امداد الله سره او دَالله ﷻ دَامدادنه مراديادادې چه الله ﷻ به مسلمانان پخپل قول کښې صادق اوغالب کړى،پيشنګوئ به ثابته شى چه دادَحضور ﷺ په صداقت باندى لوئ دليل دې،يامراددادې چه مسلمانانوته به هم پدغه ورځ په مشرکانوغلبه ميلاؤشى چنانچه پدغه وخت کښې جنګ بدر کښې مسلمانان غالب شول

﴿يَنصُرُ مَن يَشَآءُ﴾نصرت حقيقى دَ الله تعالى مؤمنانو سره وي،او کافر سره دالله تعالى امداد اونصرت نوي،دَنودکافر کاميابى دَ نصرت الهى دَ وجى نه ،نوي بلکه دَ ظاهرى اسبابودَ وجى نه وي،اودَالله تعالى دَطرف نه،په مؤمنانو باندې ابتلا وي نودَدې وجى نه ،دَ من يشآء"نه ورستو"من اوليائه" مقدر دې،يعنى په خپلو دوستانو اوبندګانو کښې چاته خوښه شي امداد وسره اوکړې په دښمن باندې ئې غالب کړې او چاته ئې خوښه شې نو ابتلاءً مغلوب ئې کړې يعنى من اوليائه لان نصره مختص بغلبة اوليائه لاعدائه فاما غلبة اعدائه لاوليائه فليس بنصره وانما هو ابتلاء وقد يسمى ظفرا(قرطبى)﴿وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ﴾الله تعالى غالبه ذات دې،هغه ته هيڅ ګرانه نه ده،بس چې په چا مهربانى اوکړى نو هغه له غلبه ورکړې﴿وَعۡدَ ٱللَّهِ﴾،مفعول مطلق دې اضافت ئې فاعل ته شويدې او ناصب ئې حذف کړې شويدې اي وعد الله وعدا يعنى کومه وعده دَغلبى دَروميانوده په فارس باندى چه مونږه اوکړه يعنى چه روميان به دوباره غالب کيږى دادَالله ﷻ صادقه وعده ده،الله ﷻ دَخپلى وعدى خلاف ورزى نه کوى مدت موعودکښې به خامخاپوره کيږى.ليکن اکثرخلق ظاهرى اسبابوته ګورى دَالله ﷻ تصرفاتوباندى نه پوهيږى

يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ۝٧										
پوهيږى	په	ښکاره	کارنودَدې	ژوندددنيا،اودوئ	دآخرة	نه	هم	دوئ	غافله	دى

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۫ مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ

آیانه کوی فکردوئ په زړونو خپلو کښ، چه ندی پیدا کړی الله اسمانونه اوزمکه اوڅۀ چه په مینځ دَدی دواړو کښ دی

اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۸

مګرپه حقه اولپاره دَنیتی مقرری ئی پیداکړیدی.اوبیشکه ډیردَخلقونه په میلاویدلودَرب خپل خامخاانکارکونکی دی

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

آیادوئ نه ګرځی په زمکه کښ چه اوګوری چه څنګه وۀانجام دَهغوکسانوچه مخکښ وۀدَدوئ نه.

كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا

وۀهغوئ زیات سخت دَدوئ اهل مکئ نه په قوة کښ اواړولی ئی وه زمکه اوابادہ کړي ئی وه زمکه زیات دَهغی نه

عَمَرُوْهَا وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

چه دوئ اباده کړیده اوراغلی وۀهغوئ ته رسولان دَهغوئ په واضحو معجزو سره.پس نه وۀالله چه ظلم ئی پری کړې وې

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۹ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا السُّوْٓآٰى

لیکن هغوئ پخپلوځانونو پخپله ظلم کولو.بیاوۀانجام دَهغه چاچه بدئ کړي وۀ بدخائ چه جهنم دې

اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ۱۰

پوجه دَدی چه تکذیب ئی کولوپه آیاتودَالله جل جلاله اوپه هغی پورې یې مسخرې کولې

،﴿يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا﴾ دا بدل ددې دَماقبل "لایعلمون"نه اوزجردې مشرکانوته چه صرف دَدنیاعیش وارام باندی پوهیږی او دهغه نفع اونقصان ورته ښکاري او دَدی لپاره کوشش کوی اودآخرت نه بالکل غافله دی هغی لپاره ئی هیڅ تیارې نشته دي.اودې آیت کښ تنبیه ده پدې خبره چې جهل اوهغه علم چې مقصودترینه صرف تحصیل دَدنیا وي،دواړو په مینځ کښ هیڅ فرق نیشته دې،دواړه برابردی(مدارک)

﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِيٓ أَنفُسِهِم﴾داهم زجردې مشرکانوته،"في انفسهم"ظرف دَ"یتفکروا"دې تاکید

دپاره دي اومفعول به دَيتفكروا ندي.دَايت مقصد دادي چه دوئ په خپل ځانونوكښې ولې فكر نه كوي،يعنى دځان سره دې سوچ اوفكراوكړي چه الله تعالى داټول نظام دَعالم عبثه اوبى مقصده ندې پيدا كړي بلكه دَحق دَاظهارلپاره ئې پيدا كړې دې چه پدې سره انسان خپل خالق اوپيژني اودَهغه دَقدرت اووحدانيت باندې استدلال اوكړي دغه شان دَدې په تغيراتواواحوالُ كښې غوركولونه پته لگى چه دَدې يوحداوانتهاء نشته دې لهذايومقررى نيټې باندې به داعالم فناكيږي،بل عالم به قائميږي چه جزااوسزاميلاؤشي.ليكن اكثرخلق داغورنكوي اودَالله ﷻ سره دَملاقات نه يعنى بعث بعدالموت نه انكاركوي﴿مَّا خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾دامتعلق دې دَمحذوف سره چه فيعلموا دې،اى فيعلمواماخلق الله السموات والارض الابالحق(مدارك،روح).﴿وَأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾عطف دې په﴿بِٱلْحَقِّ﴾باندې اى وباجلٍ معين قدره الله تعالى لبقائها(روح)مرادورنه وخت دَقيامت دې.يعنى استدلال دې اوكړي په خپل نفس اوپه زمكې اسمانونو اودَدې په انقلاباتوسره په قيامت باندې چه قيامت خامخا قائم كيدونكى دې،اودا انقلابات الله تعالى عبث ندى پيدا كړي.

﴿أَوَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ﴾داتخويف دنيوي دې اهلِ مكه ؤته،چې دوئ دَمخكنى هلاكت شده قومونوانجامِ بدليدلې دې حالانكه هغوئ دَدوئ نه په قوت،زراعت وغيره كښې زيات وُ،ليكن دَرسولانوتكذيب ئې اوكړونوالله ﷻ هلاك كړل.نودوئ دې هم عبرت واخلي﴿كَانُوٓا۟ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً﴾قوت نه مراد جسمانى قوت دې لكه قوم عاد اوثمودچه الله تعالى ورته ډير لوئ جسمانى طاقت وركړې وُ. ﴿وَأَثَارُوا۟ ٱلْأَرْضَ﴾يعنى زمكه به ئې دكروندې اوزراعت لپاره اړه وله،يادَمعادنورااوباسلو لپاره،پديكښې اشاره ده دَ هغوئ اقتصادى قوت ته﴿وَعَمَرُوهَآ﴾يعنى قسمه قسم عمارات به ئې جوړول چه دومره تاسو نشئ جوړولي،پديكښې اشاره ده دَهغوئ امن وامان طرف ته اوعلامه آلوسى رحمه الله فرمائى چه پديكښې دَهغوئى طويل عمرونوته اشاره ده ﴿فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾فا فصيحيه ده دَدينه مخكښې عبارت محذوف دې تقدير دَ عبارت داسى دې،فلماكذبواالرسل فاهلكهم الله﴿فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ﴾

اودَ "ليظلمهم" نه مراد هلاک کول دی بغير دَ جرم نه.

اوکه څوک اشکال اوکړی چه مذهب دَ اهل السنة والجماعت دادې چه اهلاک دَ الله تعالی دَ پوره ملره بغير دَ جرم نه ظلم ندې، دَالله تعالی بلکه عين عدل دې، نو څرنګه ورنه تعبير په ظلم سره اوشو، نو جوات داکړې شويدې چه تعبير ورنه په ظلم سره دَ پاره دَ اظهاردَ کمال نزاهت دَ الله تعالی دې، يعنی اګرچه اهلاک بغير دجرم اوګناه نه، ظلم ندې، دَ الله تعالی دَ طرف نه، خوالله تعالی په ځان باندې داخبره تفضلا واحسانا لازمه کړيده، چه يو قوم به هم بغير دَ جرم نه، نه هلاک کوم ﴿ثُمَّ كَانَ عَـٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ﴾ دائی دَبدانجام بيان دې. ﴿عَـٰقِبَةَ﴾ خبرمقدم دې دَ ﴿كَانَ﴾ او ﴿ٱلسُّوٓأَىٰ﴾ ئی اسم دې، ﴿عَـٰقِبَةَ ٱلَّذِينَ﴾ محل داسم ضمير دې اي عاقبتهم خو اسم ظاهر ذکر کړې شو يعنی "الذين اساؤا" دَهلاکت علت باندې تنبيه دَپاره يعنی بياوؤانجام دَهغه خلقو چه بدئ کړی وؤ، ﴿ٱلسُّوٓأَىٰ﴾ ای العقوبة السوئ، چې هغه عقوبة بالناروؤ. په آخرت کښ اوتدمير دَ دَيارو اوهلاکت وؤپه دنياکښ ﴿أَن كَذَّبُوا﴾ دا سبب اوعلت دَ هلاکت دَ پاره ذکر کيږی.

ٱللَّهُ يَبْدَؤُا ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۝ وَيَوْمَ
الله ﷻ اول ځل پيداکړيدی خلق بيابه ئی دوباره پيداکوی بيابه خاص هغه ته تاسوواپس کيږئ، اوپه کومه ورځ
تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمْ شُفَعَـٰٓؤُا
چه قائم(واقع) شی قيامت نوناامیده به شی مجرمان(کافران) اونه به وی دوئ لره دَشرکاؤدَدوئ نه شفاعت کونکی
وَكَانُوا بِشُرَكَآئِهِمْ كَـٰفِرِينَ ۝ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ ۝
اوشی به داشريکان په عبادت دَدوئ انکارکونکی.اوپه کومه ورځ چه قائم شی قيامت پدغه ورځ به خلق ډلي ډلي شی
فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ فَهُمْ فِى رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ ۝
پس هغه خلق چه ايمان ئی راوړيدې اوکړی يئ دې نيک عملونه نودوئ ته به په باغونو دَجنت کښ نعمتونه ورکولي کيږی

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ فَأُولَٰئِكَ فِي الْعَذَابِ

اوهغه کسان چه کفرئې کړيدې اوتکذيب ئې کړيدې زمونږدآياتونواودملاقات دآخرت نوداکسان به په عذاب کښې

مُحْضَرُونَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ

حاضره ولې شي پس پاکي بيانوئ د الله ﷻ کله کښې چه ماښام کوئ اوچه کله سهارکوئ .اوالله ﷻ لره ثناء ده

فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

په اسمانونوکښې اوزمکه کښې.او(پاکي بيانوئ دالله) بيګائي اوچه کله ماسپښين کوئ الله رااوباسي ژوندې دمړي نه

وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١٩﴾

اوراوباسي مړي دژوندي نه اوژوندئ کوي زمکه ورستودڅوچي دلونه،اوهم دغه شان به تاسورااوباسلې کيږئ دقبرونونه

﴿اللَّهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ﴾ دا په اثبات دقيامت باندې عقلي دليل دې،چه لکه څرنګه الله ﷻ پخپل قدرت سره داټول خلق پيداکړي دي دغه شان به ئې دمرګ نه ورستوبه ئ بياپيداکړي،ټول به دحساب لپاره الله ﷻ ته رجوع کوي،﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ﴾تخويف اخروي دي مشرکانوته اوڅلور اخروي حالات دمجرمانواوکافرانو ذکر کيږي،﴿يُبْلِسُ﴾دا اول حالت دې،يبلس د ابلاس نه مشتق دی،هغه حزن ته وائي چه دډيری نااُميدئ نه په سړی راشي ابليس هم ددينه مشتق دی،بعض وائي ابلاس معنیٰ داده چه سړی حيران اوساکت شي اوڅه حُجت اودليل ورسره نه وي،قيامت په ورځ به دکافرانوهم دغه حال وي چه نااميده به وي حيران اوخاموش به ولاړوي څه عذراوحجّت به ورسره نه وي،﴿لَمْ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَائِهِمْ﴾دا دويم حالت دې يعني نه به ددوئ شرکاء اومعبودان باطله ددوئ سفارش کولی شي چه دالله ﷻ دعذاب نه ورته نجات ورکړي،﴿وَكَانُوا بِشُرَكَائِهِمْ﴾ دادريم حالت دې يعني چه دوئ دخپلو معبودانو دحقيقت حال نه خبرشي اودهغوئ دمددنه نااُميده شي نودالوهيت نه به ئې انکاراوکړي، ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَتَفَرَّقُونَ﴾ داڅلورم حالت دې يعني دقيامت په ورځ به اهلِ جنت اواهلِ جهنم

جدا جدا شی

﴿فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ما قبل تفرق تفصیل دې او بشارت دې مؤمنانو ته چه دوئ ته به په جنت کښ قسمه قسم انعامات ورکولې کیږی.اکرام به ئی کیږی.خوشحاله به وی﴿يُحۡبَرُونَ ﴾دَ "حبر"نه مشتق دې، "حبر"ډیرې معنی بیان شویدی.(۱)سرور او خوشحالی (۲)اکرام ملمستیا(۳)خائست وغیره دلته ترینه مرادعزت افزائی ده چی هغې سره به جنتیانو ته سرور او خوشحالی هم میلاویږی ملمستیا او اکرام به یې هم اوشی اوخائست به ورته هم حاصل شي.

﴿وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾تخویف دې کافرانو ته چه دوئ به همیشه لپاره جهنم په عذاب کښ حاضروی،یوساعت لپاره به هم نشی غائب کیدلې.

فائده:دَجنتیانو صفت اودَحالت ذکر په صیغی دَ فعل سره اوشویعنی داسی اوئیلی شو "یحبرون"ځکه چه فعل دلالت په تجدد کوی،نوپدې کښ اشاره چه نعمتونه،دَجنت به متجدد کیږی،اوساعت په ساعت به دَ جنتیانو خوشحالی زیاتیږی.اودَمجرمانودَحالت ذکر په جهنم کښ په صیغې دَ اسم مفعول سره اوشو،دَپاره دلالت په دوام اوبقاباندې.

﴿فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ ﴾دادَابتداءدَسورت یفرح المؤمنون بنصرالله‌سره متعلق دې اودَ توحید دعوت دې، چې الله تعالی تاسوله دَ توحید او ایمان په بنیاد غلبه درکوې،لهذا تاسو الله تعالی دَهر قسم شریکانو نه پاک گنړئ،تسبیح نه مراد اکثر مفسرینو په نیز ظاهری معنی ده،یعنی مطلقا پاکی بیانول ،خواه هغه دَ مونځ په صورت کښ وی یا مونځ نه بهر وی او دَ دې اوقاتو تخصیص ځکه اوشو چې دیکښ دَ الله تعالی دَقدرت اورحمت مختلف آثارو ظهور کیږی.

ابن عباس رضی الله عنهما دَتسبیح تفسیر په مونځ سره کړیدې،او دوئ فرمائی "تمسون" کښ دَ ماښام مونځ او"تصبحون"کښ دَسهار مونځ"عشیا"کښ مازدیگر مونځ او"تظهرون" کښ دَماسپخین مونځ ذکر دی،اوبل روایت کښ ترینه داسی مروی دی چې"تمسون"کښ دَماښام اوماسخوتن دواړو ذکر دی،نو دغه شان دې آیاتونو کښ پنځه واړه مونځونو ذکر

راغي﴿فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ﴾مفعول مطلق دي فعل محذوف"سبحوا"لپاره او﴿وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ﴾جمله معترضه ده ديكښ دَدي خبرې بيان دې چې الله تعالى ستاسوتسبيح ته محتاج ندې،بلكه ديكښ ستاسو فائده ده او تاسو محتاج ئې﴿وَعَشِيّٗا﴾عطف دې په"حين تمسون"باندې.او ﴿وَحِينَ تُظۡهِرُونَ﴾هم پدي باندى عطف دې.په رواياتوكښ دَ دى آيتونوډير فضيلت راغليدى. په يوروايت كښ راغليدى چه څوك دادرى آياتونه سهاراووانى دَورځى دَده نه چه كومه كوتاهى كيږى په عمل كښ دَدى كلماتوپه بركت سره به پوره كيږى او چه څوك ئې دَشپى اووائى نودَشپى دَعمل كوتاهئ تدارك به ئې كيږى،(ابوداؤد وغيره).

﴿يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ﴾دابل دليل عقلى دې په بعث بعدالموت باندى ،چه كوم الله ﷻ دَبى جانه،نه جاندارپيدااكوى،اودَجاندارنه بى جانه پيدااكوى نودغه الله ﷻ پدى هم قادردې چه دَمرګ نه ورستوبياانسان پيدااكړى.﴿يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ﴾لكه انسان چه دَمرې نُطفي نه پيدااكيږى،ياچرګ داګئ نه پيدااكوى.﴿وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ﴾لكه نطفه چه دَانسان نه رااوځى اويالكه اګئ دَچرګى نه پيدااكيږى.

﴿وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ﴾ چه اوچه زمكه په باران وغيره سره شنه كړى،نودغه شان به تاسودَقبرونونه ژوندى رااُوځئ.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ ۝
اوبعض دَدلائلودتوحيددَالله ﷻ نه دادى چه الله پيدااكړى يئ تاسودَښاورې نه بيااوس تاسوبشريئ خواره يئ په زمكه
وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ
اوبعض دَدلائلودتوحيددَالله نه دادى چه الله پيدااكړيدى ستاسولپاره ستاسودَجنس نه بيبانى چه سكون حاصل كړئ
إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ
دهغوئ نه اوګرځولې ئې دي ستاسومينځ كښ محبت اومهربانى.بيشكه پدى كښ خامخا [illegible]

لِقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ ﴿٢١﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ خَلۡقُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاخۡتِلَافُ اَلۡسِنَتِكُمۡ

لپاره دهغه قوم چه فکر کوی، اوبعض ددلائلو دتوحید دالله نه پیدا کول داسمانونو اودزمکی دې او اختلاف دژبو ستاسو

وَاَلۡوَانِكُمۡ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلۡعٰلِمِيۡنَ ﴿٢٢﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ

اودرنګونو ستاسو بی شکه پدی کښ خامخا دلائل دتوحید دی لپاره دپوهه خلقو. اوبعض ددلائلو دتوحید دالله نه

مَنَامُكُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ وَابۡتِغَآؤُكُمۡ مِّنۡ فَضۡلِهٖ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

اوده کیدل دی ستاسو دشپی اودورځی اوطلب کول دی ستاسو درزق دالله ﷻ نه، بی شکه پدی کښ خامخا دلائل دتوحید دی

لِّقَوۡمٍ يَّسۡمَعُوۡنَ ﴿٢٣﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖ يُرِيۡكُمُ الۡبَرۡقَ خَوۡفًا

لپاره دهغه قوم چه آوری اوبعض ددلائلو دتوحید دالله ﷻ نه داده چه ښائی تاسو ته برېښنا لپاره دیری (دتندر)

وَّطَمَعًا وَّ يُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحۡیٖ بِهِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا

اولپاره دطمع (دباران) اونازلوی داسمان نه باران نو را ژوندئ کړی په هغی سره زمکه ورستو داوچی دلو دهغی نه.

اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَّعۡقِلُوۡنَ ﴿٢٤﴾ وَمِنۡ اٰيٰتِهٖۤ اَنۡ تَقُوۡمَ السَّمَآءُ

بیشکه پدی کښ خامخا دلائل دتوحید دی لپاره دهغه قوم چه عقل لری، اوبعض ددلائلو دتوحید دالله نه داده چه قائم دې اسمان

وَالۡاَرۡضُ بِاَمۡرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمۡ دَعۡوَةً ۖ مِّنَ الۡاَرۡضِ ۖ اِذَاۤ اَنۡتُمۡ تَخۡرُجُوۡنَ ﴿٢٥﴾

اوزمکه په حکم دالله ﷻ سره، بیا چه کله رااوغواړی تاسو په یو خل راغوښتلو، دزمکی نه نو تاسو به رااوځئ

وَلَهٗ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوۡنَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِیۡ

اوصرف دالله په قبضه کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی، ټول دهغه اطاعت کونکی دی. او الله هغه ذات دي

يَبۡدَؤُا الۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ وَهُوَ اَهۡوَنُ عَلَيۡهِ ؕ وَلَهُ

چه اول خل نی خلق پیدا کړیدی بیا به نی دوباره پیدا کړی، اودا دوباره پیدا کول زیات اسان دی هغه ته او الله لره دي

الۡمَثَلُ الۡاَعۡلٰى فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۚ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿٢٧﴾

صفت اوچت په اسمانونو اوزمکه کښ، اوهغه غالب دي حکمت والادي

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَكُم﴾ دَدې ځائی نه ترآيت نمبر۲۸پورې اته ‹۸›دلائل عقليه په شرط دعوی ‹توحيد›باندې ذکر کيږی او'من اياته'خبرمقدم دې او'ان خلقکم الخ'مبتدا مؤخرده، دااول دليل عقلي دې چه دَالله ﷻ په وحدانيت اوقدرت باندی يودليل داهم دې چه ستاسوجدّاعلی حضرت آدم ﷺ ئی دَخاورنه پيداکړوبيائی دَهغه نه دَاولادسلسله شروع کړه،په تولّه زمکه ئی ذُرّيت خورشو،نود،"خلقکم"معنی داده چه'خلق اصلکم"چه ادم عليه السلام دې،اوبعض حضرات فرمائی چه'خلقکم'نه مراد هر مخاطب دې اوهرانسان په اعتباردَمادې اصليه سره دَخاورونه پيداکيږی ځکه چه ظاهری سبب دَ پيدائش دَ پاره نطفه ده،اونطفه دَ خوراک نه پيداکيږی،اوخوراک دَزمکی نه پيداکيږی﴿ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٞ تَنتَشِرُونَ﴾دا په معنی دَ تتصرفون'سره دې،يعنی خواره واره ګرځئ دَخپلو غرضونو دَپاره،او'اذا'مفاجاتيه دې،او ثم'لپاره دَ تراخي دې،بعض حضرات فرمائی چه دَتراخی زمانی‹حقيقی› دَپاره دې،يعنی الله تعالی اول آدم عليه السلام پيداکړوبيائی څه موده پس بی بی حوا پيداکړه،نودې نه ستاسونسل سلسله شروع شوه.اودَ اذا مفاجائيه اودَ تراخی حقيقی په مينځ کښ څه منافات نيشته دې،ليکن صاحب دَروح المعانی فرمائی چه زيات مناسب د،دې مقام سره تراخی رتبی ده

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم﴾دادويم عقلي دليل دې 'لکم'کښ لام اجليه دې اي لاجلکم اوهرکله چه ماقبل دليل کښ ذکر دَماده اصلِي دَ پيدائش اوتخليق دَ انسان ذکروؤ.نوپديکښ دَ مادې ظاهری اودَبقانسل انسانی دَاسبابوذکر دې،﴿أَنفُسِكُمۡ﴾نه مراد "جنسکم"دې،يعنی داهم دليل دَتوحيد دې چه الله ﷻ ستاسودَسکون لپاره ستاسودَجنس نه ستاسولپاره، بيبيانی پيداکړې اوبيائی ستاسومينځ کښ محبت پيداکړو، او يو بل سره همدردې او رحمت پيدا کړوحالانکه سابقه نه معرفت وؤنه څه رابطه وه،کچرته دَانسان بی بی دَبل جنس نه وه،بيائی ورسره محبت نه وؤنوځومره تکليف به وؤنو.پديکښ اشاره ده چې دَ انس اواطمينان دَپاره اتفاق په نوعه کښ ضروری دې دَ نوعين متبائين دَ يوبل سره انس نوی،نواطمينان ذريعه هم نه ګرځی

﴿لِّتَسْكُنُوٓاْ إِلَيْهَا﴾سکون کنایه ده تانس او اطمینان نه،اودَدې تعدیه په "الی"سره پدیکښې اشاره ده چه خپلی بی بی ته میلان کول ذریعه دَسکون او اطمینان ده،اودَخپلی بی بی نه علاوه بل نامحرم زنانه طرف ته میلان کول ذریعه دَبی سکونئ اوبی ارامئ ده . ﴿وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾'مؤدة'په معنی دَ محبت سره او'رحمة'په معنی دَ شفقت سره دې.امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه الله تعالی دَ خزی اوخاوند په مینځ کښې محبت اوشفقت فطرتاً پیدا کوی. بعض حضرات فرمائی چه'مؤدة'تعلق ځوانئ دَعمرسره دې چه دَ خزی اوخاوند پدی عمر کښې یوبل ته جنسی میلان زیات وی،او'رحمة'تعلق دَ بوډاوالی عمرسره دې چه خزه اوخاوند څومره بوډا اګان کیږی نودَیوبل سره ئی دَتراحم علاقه زیاتیږی.

فائده:پدې آیت مذکوره سره زمونږ فقهاؤ استدلال کړیدې چی دَ انسان نکاح دَ جنی سره نه کیږی نکاح دَپاره شرط مماثلت دې.

فائده:۲:هرکله چه پدې آیت کښې دَبقانسل انسانی اودَحفاظت نسب دَ پاره قانون ذکر شو اودَقانون دَ پاره تفکرضروری وی،نودَدې وجهی نه ورسره په اخیر کښې "یتفکرون"اووئیلی شو.

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾دادریم عقلي دلیل دې،چه اسمانونه اوزمکی پیدا کول هم دَالله ﷻ دَوحدانیت دلیل دې،دغه شان بی شماره انسانان دنیاکښې اوسیږی،په لغت کښې ئی اختلاف دې،بعضِ عرب دی،بعض عجم،دغه رنګه دَتولورنګونوکښې اختلاف دې بعضِ سپین،بعضِ تور،بعضِ سور وغیره،حالانکه نسل دَیوآدم ﷺ دې،بعض وائی دَ﴿وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ﴾نه مراددَلهجی اختلاف دې چه هرکس لهجه اوانداز دَخبرودَبل نه جداوی حتیٰ که چه دیوورور دَبل نه لهجه بدله وي،او یا ورنه مراد لغات دی چي په کائنات کښې خور مختلف قسم زرګاؤ تعداد کښې دي.

فائده:هرکله چه دَ اسمانو اودَ زمکو په حالاتوباندې خبریدل دغه شان اختلاف دَالسنه اوالوانو باندې پوهیدل مستلزم دی علم لره اودغه علم خاص ندې یوفردپوری .نو ددې وجی

نه دي په اخير کښې د عالمين ذکر اوشو

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ﴾ دا څلورم عقلي دليل دې چه د بدن د استراحت لپاره الله تعالیٰ تاسو ته د خوب غوندې عظيم نعمت هم درکړيدې ﴿وَٱلنَّهَارِ﴾ ظاهره داده چې دا عطف دې په "الليل" باندې .او هريو متعلق دې د "منامکم" او "ابتغاؤکم" دواړو سره .نو مطلب ئې دادې چې چه د شپې هم خوب کوئ او د ورځې هم چه او غواړئ نو خوب کولې شئ لکه قيلوله.

د ورځې هم تجارت وغيره کوئ او رزق طلب کوئ او د شپې هم بعضې تاجران تجارت کوي .بعضې د دوکانونو حراست کوي په اجرت .او بعض حضرات فرمائی چه په ايت کښې تقديم او تاخير دې او هر يو د بل د ليل اود .نهار نه متعلق دې د خپل ملائم او مناسب سره نو تقدير د عبارت دا رنګې دې "من اياته منامکم بالليل وابتغاؤکم من فضله بالنهار" او د نهار نه حرف جار حذف کړې شو .ځکه چه متصل وؤ د ليل سره او عطف وؤ په هغې او حروف عطف کله کله قائمقام د حرف جار راځي (اللباب) ﴿لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ﴾ يعنی د تفهم او منلو لپاره چه کوم خلق سماع کوی هغوئ لپاره دا زبردست دلائل د توحيد دي.

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ﴾ دا پنځم عقلي دليل دې په توحيد يعنی دا هم د الله تعالیٰ د وحدانيت دليل دې چه تاسو ته آسمان کښې بريخناګانی ښائی چه په هغی سره ستاسو زړونو کښې د تندر خوف هم پيداکيږی او د باران طمع موهم پيداکيږی .دلته هم "من اياته" خبر مقدم دې او "يريکم" مبتدا مؤخره ،لکه څرنګه په ماقبل اياتونو کښې وؤ .او "يريکم" اګرچه فعل مضارع ده خو مؤل ده په تاويل د مصدر سره نو اصل کښې داسی ده "ان يريکم البرق" لکه "تسمع بالمعيدي خيرمن ان تراه" کښې چه تسمع مؤل دې په تقدير د "ان" سره "کم" مفعول اول او "البرق" مفعول ثانی دې ﴿خَوْفًا﴾ ای من الصواعق ﴿وَطَمَعًا﴾ فی المطر .قتاده وائی چه خوف وی لپاره د مسافر چه هسې نه باران راباندی رانشی او طمع وی لپاره د مقيم .بعضې وائی خوف وی د ګلئ نه چه فصل خراب نکړی او طمع وی د باران ﴿خَوْفًا وَطَمَعًا﴾ دواړه مفعول له دي لپاره د "يريکم" فعل او يا مفعول مطلق جوړيږی فعل محذوف

دپاره . اي تخافون خوفا وتطعون طمعا، باقي تفصيل دَ ترکيب سورت رعد آيت نمبر ۱۲ کښې تير دي

فائده: هرکه چه پدي آيت کښې دَ "نوم" ذکروؤ چه هغه پر منزله دَ مرګ دي او "طلب معاش" ذکر وؤ چه دَهغي دَ وجی نه انسان سرګردانه وي نو دَدي وجی نه دَ دي آيت په آخير کښې "يسمعون" ذکرشو، دَپاره ده تنبيه چه دَ الله تعالى دَ وعظ نه فائده هغه خلک اخلى چه کلام دَ الله تعالى ته غوږ کيدي، غافله اوسرګردانه خلک ورنه فائده نه اخلى.

﴿وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾يعني الله ﷻ دَاسمان د طرف نه باران نازلوى چه دَهغي په سبب اوچه زمکه راشنه شي﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴾هرکله چه پدی آيت کښې ذکر دَ بريښنا دَ اسمان اودَباران وريدل وؤ، اوداامور مطرده ندی بلکه کله کله په يوی علاقی کښې وي او په بلی علاقی کښې نوی بلکه کله په يوی علاقی کښې په يوځائی کښې وی او په بل ځائ کښې نوی ،يو وخت کښې وی بل وخت کښې نوی،نو کله زيات وی کله کم وی ،نودَ دي امور ودلالت په وحدانيت او په قدرت دَ الله تعاى باندی ډير واضح دي نوځکه دلته "يعقلون" ذکر شو ،چه کوم انسان کښې محض عقل وی اګر چه فکراونکړی نوبيا هم دي پدي امورو سره دَ الله تعالى معرفت اودَ هغه توحيد اوقدرت معلوم ولی شي

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ﴾داشپږم عقلي دليل دي پديکښې دَ اسمانونو او زمکی قيام او ترمخصوص اومعين وخته پوری دَ هغه دَ دوام بغير دَ ظاهری اسبابو ذکر دي ،اومرادپه "ان تقوم" سره بقادَاسمان اوزمکي ده پخپل حالت سره ترمعين وخت پوری بغيردَظاهری اسبابونه او﴿بِأَمۡرِهِۦ ﴾ کښې اشاره ده کمال قدرت ته ،چه غنیٰ ده دَ ظاهری اسبابو اوالاتونه او "ثم" يا تراخي زمانی دَ پاره دي اويادَ تراخی رتبی اوتعظيم شان دَ پاره دي،اويادَ تراخی ذکری دَپاره دي،اوپدی دواړواخريين تقديرين په اعتبار سره پديکښې به اشاره شی تعظيم شان ته اوداجمله عطف ده په "ان تقوم السماء" باندي او "من الارض" متعلق دي دَ "دعاکم" سره.يعنی ثم اذا دعاکم من الارض دَدنياميعادختميدلونه ورستوچه الله ﷻ تاسودَقبرونونه دوباره پيداکوی نوپه يوآوازدَاسرافيل سره به تاسوټول دَقبرونونه رااوځئ په سرعت سره.

﴿وَلَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾داووم(۷)دليلِ عقلی دی.چه ټول کائنات دَالله ﷻ په اختياراوتصرف کښ دی،ټول صرف هغه ته منقاددی، دَهغه دَ تکوينی احکامودَ قبولونه انکار نه شي کولی،اګر چي بعض ئي دَ عبادت دَ امر نه منکر دی نو پدې اعتبار سره دَ"قنوت" نه مراد تکوينی اوغير اختياري قنوت دی لکه ژوند،مرګ،صحت،بيماری،وغيره شو،اوبعض فرمائی چه"قنوت" نه مراد اختياري قنوت دی،چه عبادت ته وئيلی شی،اودايت خاص دی مطيعينو پوری،"قال الكلبي هذا خاص لمن كان منهم مطيعا(لباب) بعضو﴿قَٰنِتُونَ﴾معنیٰ دا کړيده ده "قائمون بالشهادة،يعنی دَالله ﷻ دَوحدانيت ګواهی ورکونکی دی.کماقال الشاعر:

وفی كلّ شيئ له آيةٌ تدلّ على انه واحدٌ.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ﴾دااتم دليلِ عقلي دی،چه الله ﷻ هغه ذات دی چه اول ځل ئی هم ټول خلق پيداکړيدي دوباره به ئې هم پيداکوی،بلکه دوباره پيداکول خوالله ﷻ ته زيات اسان دی،ځکه چه دوباره پيداکول اسان وی دَاول ځل نه،ټول ممکنات الله ﷻ ته يوشان دی،دې باوجوداهون صيغه داسم تفضيل راوړلونه دلته مقصودصرف منکرين دَبعث بعدالموت پوهه کول دی،ځکه دوباره پيداکولوته اهون اووئيل شول.نو اهون"نه مراد په نظر دَ منکرينو کښ دی.اي الاعادةاهون من الابداءحسب علمكم. ځکه چې اول ځل کښ مراحل دَ تخليق ډير دی ځکه چه ابتداکښ نطفه وي ،بياعلقه شی،بيا مضغه شی بيا لحم اوعظام ورته واچولی شې اوبشرجوړشی بيا طفل شی،اوسابقه نمونه هم نوی په خلاف دَاعادی نه چه هغه کښ دامذکور مراحل نشته دی ﴿وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾يعنی دَټولونه لوئ وصف لکه قدرت عامه،حکمتِ تامه اودغه شان نوردکمال صفات صرف الله ﷻ لره دی.﴿فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ متعلق دی دَ﴿ٱلْأَعْلَىٰ﴾سره،يعنی اسمانونواوزمکی کښ ټولونه لوئ شان دَهغه دی،هغه په هرڅه قادردي اوحکيم دي،هيڅ کارئی دَحکمت مصلحت نه ښالي ندي

ضَرَبَ لَكُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِكُمْ ؕ هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ

بیانوی الله جل جلاله تاسو ته یومثال ستاسو دَجنس نه، چه آیاشته دي ستاسو لپاره دَغلامانو ستاسو نه څوك شریكان

فِيْ مَا رَزَقْنٰكُمْ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ كَخِيْفَتِكُمْ

په هغه مال کښ چه مونږ تاسو ته درکړیدي چه تاسو او هغوئ په هغی مال کښ برابریئ (آیا) یریږئ دَهغوئ نه لکه څنګه چي یریږئ تاسو

اَنْفُسَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ

یو بل نه. همدغه شان په تفصیل سره بیانوُ آیاتونه (دلائل) لپاره دَهغه قوم چه عقل لری بلکه اتباع کړیده هغو

ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ

چه ظلم (شرك) ئی کړیدي دَخپلو خواهشاتو بغیر دَعلم نه، نو څوك به هدایت اوکړی هغه چاته چه ګمراه ئی کړی الله جل جلاله.

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۹﴾

او نشته هغوئ لره څوك مدد کونکي

﴿ضَرَبَ لَكُم مَّثَلاً﴾ توحید باندي اته (۸) دلائلو ذکرکولو نه بعد اوس الله تعالی مسئله دَتوحید دَمثال په صورت کښ ذکر کوی، ځکه چي مثال سره مسئله خه واضحه شی اوزړه ته پریوځی ،چه داغور اوکړئ چه آیا ستاسو په غلامانو کښ څوك ستاسو سره په مال کښ داسی شریك شته دي چه ستاسو اودَهغو اختیار برابروي، څنګه چه تاسو تصرف کوئ دغه شان هغه هم تصرف کولی شی؟ یا درسره برابرخونه وی خو کم ازکم تاسو سره اندیشه دَمخالفت وی چه دَهغه دَمرضئ نه بغیر تصرف اوکړئ نو اعتراض به درباندي اوکړی لکه څنګه چه داصیل شریك نه دغه خوف وی، ظاهره ده چي غلام ته داسي حیثیت هرګزندي حاصل. نو ستاسو معبودانِ باطله چه دَالله جل جلاله بندګان دی هغه به څنګه د الله جل جلاله سره برابرشی،

﴿مِّنْ أَنفُسِكُمْ﴾ یعنی دامثال ستاسو دَاحوالونه منتزع دي ستاسو په ماحول کښ موجود دي ﴿هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَآءَ﴾ شرکا مبتدا مؤخر دي او "من" زائد دي دپاره دَتاکید. اولکم خبر مقدم دي او مماملك ایمانكم حال دي دَمبتدا نه مطلب دا دي چي

آیاتاسو غلامانو کښې څوک ستاسو سره په مال کښې شریک شته؟اواستفهام انکاری دې.﴿فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ﴾ انتم مبتدا دې مرادورنه مالکان اومملوکان دواړه دی."سواء"ورله خبردې.او"فيه" سواءسره متعلق دې.﴿تَخَافُونَهُمْ﴾ورله خبرثانی دې او فا په "فانتم" کښې یا جوابیه ده او داپوره جمله جواب استفهام ده.استهام تحت نه ده داخله نو دې صورت کښې انکار صرف اولی جملې "هل لکم" باندې وارد دې اومطلب دا دې چې ستاسو غلامانو کښې څوک تاسو سره په مال کښې شریک نشته چې تاسو اوهغوئ په مال کښې برابر شریک وئ او تاسو دهغوئ د اجازت نه بغیر خپل مال کښې تصرف کولو نه یریږئ او یافاعاطفه تفریعیه ده .او داتفریع ده په شرکت باندې.اوپوره جمله استفهام تحت داخله ده نو مطلب به داشی آیا ستاسو غلامانو کښې څوک ستاڅوسره په مال کښې شریک شته اوبیا دَهغه شرکت په نتیجه کښې تاسو اوهغوئ.برابر ګرځیدلي یئ اوتاسو دهغوئ اجازت نه بغیر په مال کښې تصرف نشئ کولې؟نودې صورت کښې انکارپه دواړو جملو وارد شو،یعنی نه ستاسو غلامانونه څوک ستاسو شریکان شته،نه تاسو اوهغوئ په مال کښې برابر شریک یئ،اونه تاسوتصرف کولودپاره هغوئ نه اجازت راخلئ.

﴿كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ﴾انفسکم نه مرادهم جنس یعنی ازادشریکان مراددی،یعني څرنګه چه تاسودَ آزاد شریکانودَ مرضئ نه بغیر مال کښې تصرف نشئ کولې اویریږئ آیا خپلو غلامانو له هم دا حیثیت ورکوئ؟﴿بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟﴾اضراب دې دَماقبل نه چې دوئ ته دلائل اومثالونه مه بیانه وه،ځکه چې داخوهغه چاله نفع ورکوی څوک چې دَ حق طالب وی،اودلیل قوت اومضبوطی ته ګوری،اودوئ خودَخواهش نفس غلامان دې،چې هغه ورته څه وائی هغه کوی،دلیل او حجت نه ګوری.﴿فَمَن يَهْدِى مَنْ﴾داتسلی ده حضورﷺته،چه تاخپله ذمه واری پوراکړیده لیکن دَدوئ ضداوعنادپوجه الله ﷻ پدوئ دَضلالت مهرلګولي دې، دوئ ته اوس څوک هدایت نشي کولې،څوک ورسره دَضلالت دَخلاصولو کښې نصرت نشي کولې.

فَأَقِمْ	وَجْهَكَ	لِلدِّينِ	حَنِيفًا	ط	فِطْرَتَ	اللَّهِ
سـ برابرکړه	خان خپل	دین ته	مستقیم په	حق،اتباع اوکړئ	تاسو دَفطرت	دَالله ﷻ

الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۗ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ۗ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ
هغه چه پیداکړی ئ دی خلق په هغی.مه بدلوئ دین دَالله.دغه دین محکم اوبرابردي.
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ
لیکن اکثرخلق نه پوهیږی‌پدی حال کښ چه انابت(رجوع)کونکی یئ الله ﷻ ته اودهغه نه اویریږئ
وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝
اوپابندی کوئ دَمونځ اومه کیږئ دَمشرکانو نه .

﴿فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ﴾ماقبل دلائلو او مثال بیان نه بعد اوس دویم ځل عام دعوت دې توحید او خالص دَ الله تعالی عبادت ته ،چې په دلائلو سره دَ توحید اثبات او شرک ابطال اوشو ،تو تاسو اوس خالص په توحید او اسلام باندې قائم شئ،دَ الله تعالی نه یره اوکړئ صرف دَ هغه عبادت کوئ او هغه سره بل څوک شریک مه ګرځوئ ،ځکه چه (۱) اسلام خالص فطري مذهب دې،(۲) دیکښ هیڅ قسم تبدیلي نشي راتلې،له ازله دې اوتر ابده به وي(۳) بالکل سیدها او نیغ دین دې﴿فِطْرَتَ اللّٰهِ ﴾دیکښ داسلام اووصف بیان دې چې داخالص فطری مذهب دې "فطرة" منصوب دې په فعل محذوف ای الزموافطرة الله یاأتبع فطرة الله(روح) دَالله ﷻ دفطرت نه(۱)مراددَالله ﷻ دَطرفه په هرکس کښ دَحق دَپیژندلواوادراک کولوخلقةً اوفطرةً کیخودلې شوې استعداد دې اودَفطرت اتباع مطلب دَدی په موجب اومقتضیٰ باندې عمل کول او ،دَنفس اوشیطان دَاتباع پوجه ورنه مخالفت نه کول دی(۲)بعضِ مفسرین وائی دَ﴿فِطْرَتَ اللّٰهِ ﴾نه مراددینِ اسلام دې،اومراددادې چه الله ﷻ هرکس خلقةً اوفطرةً مسلمان پیداکړیدې حتیٰ چه یوسړې کچرته خپل اختیارته پریخودلې شی نوبل دین به اختیارنکړی،لیکن بعضِ وخت موروپلارپابل څوک ئی دَدین اسلام نه واړه وی لکه په حدیث دَصحیحینو کښ دی:مامِن مولودٍ یولَدُالاَّعلی الفطرة فابواهُ یهودانه اوینصرانه اویمجّسانه(۳)بعضِ مفسرین وائی مرادورنه عهدالستُ دې اومطلب دادی چه الله ﷻ خلق پدی حال کښ پیداکړیدی چه خپل معرفت ئی پکښ مرکوزکړیدی کقوله تعالی:ولئن سالتهم من خلق

السمٰوٰتِ والارض ليقولنّ الله(روح،كبير)

﴿لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِ﴾ ديكښ دَ اسلام دويم وصف مذكور دې چې دې كښ څه قسم تبديلي نشي راتلې"خلق الله" نه مراد مذكوره فطرت دې"لا"نه خپله حقيقي معنى ''نفي'' هم مراد كيديشى ،چې الله تعالى دافطرت او استعداد ټولو انسانانو كښ برابر ايخيدې،څه فرق او تبديلي پكښ نشته ،او همدغه شان دَ الله تعالى دازل نه دا سنت دې چې انسانان په فطرت توحيد او اسلام باندې پيدا كوي،او ترابده به داجارى وي،ديكښ هيڅ قسم تبديلي نه راغليده او نه راتلې شي،او"لا"نهى معنى كښ اغستل هم ممكن دي اې لا تبدلو خلق الله يعنى الله تاسو ته دَايمان استعداد دركړې دې،فطرت توحيد باندې يې پيدا كړى ئې،لهذا ديكښ تبديلي مه راولئ،او دَ شرك وكفر نه اجتناب اوكړئ،

﴿ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ﴾ذلک اسم اشاره ده مشار اليه ئې "الدين" دې،ديكښ دَاسلام دريم وصف ذكر دې چې دا بالكل نيغ دين دې يعنى دكوم دين اتباع او دَ هغې غير نه اعراض حكم تاسوته شوې دې هم دغه صحيح او مستقيم دين دې،"القيم"بالكل نيغ ،چې هيڅ قسم كوږ والې پكښې نشته،اصل كښ"قَيْوِمٌ"وؤ،"واؤ"ياء كړې شو،او ياء به يا ياء كښې مدغم كړې شوه،نوقَيِّمٌجوړ شو. ﴿مُنِيبِينَ إِلَيۡهِ﴾حال دې"الزمو"فعل محذوف ضمير مرفوع نه،يعنى الله ﷻ ته دَتوبې اودَاخلاص په ذريعه رجوع اوكړئ.﴿وَٱتَّقُوهُ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾.درې واړه جملې عطف دي په "الزموا"فعل محذوف باندې

مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا ۖ كُلُّ حِزۡبِۭ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾
دهغو كسانو نه چه ټكړې ټكړې كړې ئې دې دين خپل اوشوى دې دوئ ډلې ډلې،هريوه ډله په هغه حصې دَدين چه ورسره ده خوشحالې كونكې ده.
وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرّٞ دَعَوۡاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيۡهِ ثُمَّ إِذَآ
اوكله چه اورسيږى خلقوته څه تكليف نوبياسوال كوى خپل رب ته حال دا وى چه رجوع كونكى وى الله ته،بياچه كله

اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ ۝
اوڅکوي الله دوئ ته دَخپل طرف نه رحمت نوبس بيا يوه ډله ددوئ نه خپل رب سره شريک ګرځوي
لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَتَمَتَّعُوْا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝
انجام ئي داشي چه ناشکري اوکړي په هغه نعمتونوچه مونږ ورته ورکړيدي.نو خوند واخلئ.ژر ده چه پوهه به شئ.
اَمْ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ يُشْرِكُوْنَ ۝ وَاِذَآ
آيانازل کړيدي مونږپيدوئ څه دليل چه هغه ګويان وي .دلالت کوي په هغه چه دوئ بي الله سره شريک کوي.اوکله چه
اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ
اوڅکومونږخلقوباندې څه رحمت نوخوشاله شي په هغې اوکه ورسيږي ورته يو تکليف په سبب دهغه عملونوچه کړي ئې
اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ
لاسونودوئ نوبس بيادوئ نااميده شي.دَرحمت دَالله نه، آيا دوئ نه دي ليدي چه الله ﷻ فراخوي رزق
لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝
چاته ئي چه خوښه شي اوتنګوي رزق. بيشکه پدې کښي خامخادلائل دَتوحيد دي لپاره دَهغه قوم چه ايمان راوړي

﴿مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا﴾ دامشريکنو اتباع نه منع کولو ورستو اوس دهغوئ قبيح اومذموم صفاتو بيان دې،او من الذين بدل دې ﴿اَلْمُشْرِكِيْنَ﴾نه ديکښي دهغوئ اول مذموم او قبيح خصلت بيان دې،چې فطرت په ځائي يې دَ خواهشاتو اتباع اوکړه نو دهغې نتيجه داشوه چې دَ هغوئ مذهب څه بنياد نشته،چاته چې څه ښه ښکاره شويدي هغه يې خپل مذهب ګرځوليدې اوپه هغې خوشحاله او مطمئن دې.

﴿وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ﴾دا دَ مشرکانو دويم مذموم او قبيح خصلت بيان دې اوزجر دې چه کله دوئ باندې څه تکليف راشي اودَخپلو معبودانِ باطله ؤنه نااُميده شي نوبياخالص الله ﷻ ته اوازونه کوي،چه الله ﷻ ورباندې مهرباني اوکړي اونجات ورته ورکړي نوبياشرک شروع

کړي او دخپل نجات نسبت غير الله ته کوي.

﴿لِيَكْفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ﴾ لام دعاقبة دي يعنى انجام ئې داشي چه زمونږ دنعمتونو ناشکري اوکړي کافرشي، يالام کئ دي، بعضِ وائي لام امردي، امر دپاره دتهديد دي. ﴿فَتَمَتَّعُواْ﴾ داامر هم دتهديد لپاره دي، يعنى زمونږ دنعمتونو نه فائده واخلئ كفرانِ نعمت اوکړئ ډيرزربه تاسو ته ددي پته اولګي. ﴿أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ﴾ ماقبل کښ دشرك قباحت وذعقلاً اودلته دشرك نقلاً قباحت ذکر کيږي يعنى نقل اعتبار سره هم شرك مذموم دي خكه چې پدي هيڅ دليل نشته، او ام منقطعه دي، يعنى دَ شرك عقلي قباحت بحث يو طرف ته کړئ. داراته اوايئ چې څه نقلي دليل درسره شته په شرك باندي؟؟ ﴿سُلْطَٰنًا﴾ نه مراد حجت اودليل دي، يعنى آيامونږ پدوئ څه حجت نازل کړيدي چه شرك اوکړئ، استفهام انكاري دي. يعنى دوئ سره څه دليل نشته، ﴿فَهُوَ يَتَكَلَّمُ﴾ تكلم كنايه ده ددلالت نه، يتكلم پمعنى ديدلّ دي.

﴿وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً﴾ دا دريم مذموم او قبيح خصلت بيان دي اوزجردي ورته چې دغوخلقوعجيب حالت دي چه كله دالله ﷻ دطرفه په عيش عشرت کښ وي مالداره وي نوبيادومره نخري، تكبراوغروركوي چه دخپل حدنه تجاوزاوكړي اوخپل منعم حقيقى ورنه هيرشي اوچه كله دخپلوبدعملونودلاسه په څه مصيبت کښ اخته شي نوبياګډې وډې وائي اومايوسه شي، حالانكه شان دمومن خوداسې ندې مؤمن په عيش عشرت کښ شكركوي، ډيره مستي نه كوي خپل منعم حقيقى ورته يادوي. اوچه څه غم مصيبت پرې راشي نوصبركونكى وي اوالله ﷻ نه اميدساتي.

فائده: (واذا مس الناس) او (اذا اذقنا الناس) کښ يا دَ مشركانو او كافرانو دوه قسمونو طرف ته اشاره ده، چې كفارو يوقسم داسې دي چې مصيبت او تكليف پرې راشي نو الله تعالى ته رجوع كوي، او دهغه نه دعاګاني غواړي، ليكن دامن او نعمت په وخت بيا دَ الله تعالى نافرماني كوي او هغه سره شريك ګرځوي، او دويم قسم هغه دي چې هغه دامن او نعمت په حالت کښ، عيش وعشرت او مستو کښ مبتلا وي، او تكليف وخت کښ بيا دَ الله تعالى نه نااميده وي، او هغه نه ګيلې كوي.

او یاصرف پدیکښې دَ یوقسم دوه مختلف احوالو طرف ته اشاره ده.اول آیت کښې تکلیف ابتدائی حالت بیان دې او دویم کښې دَمصیبت استمرار او طول بیان دې،یعنې چه کله پرې تکلیف لږ اوګدشي نو نا امیده شي.

﴿أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ﴾دا زجر دې مشرکانو ته چې دوئ ته دَ دې خبرې نه پته ده چې روزي معامله الله تعالی په اختیار کښې ده.الله تعالی یې په فراخولو هم قادر دې او په کمولو یې هم نو کچرته دوئ دَ دې خبرې لږ خیال ساتلې نو دَ خوشحالئ په وخت کښې به یې شرک او ناشکری نه کوله ،او تنګ دستئ په وخت کښې به دَ قنوط او نا امیدی نه شکار کیدل. خکه چه دیکښې دَ ایمان واضح دلائل او نشانیانې دي.

فَـَٔاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ
پس ورکوه خپل(رشته دار) ته حق دَهغه اومسکین ته اومسافرته داورکول دَحق غوره دی
لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٣٨ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا
لپاره دَهغه چاچه غواړی رضادَالله جَلَّ جَلَالُهُ.او داکسان هم دوئ کامیاب دی.اوهغه چه ورکوئ تاسوځه عطیه
لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ
دپاره دَدې چه زیاتوالې اوکړی په حاصلولودَمالونودَخلقوکښې نونه زیاتیږی هغه په نیزدَالله،
وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ٣٩
اوهغه چه ورکوئ تاسودَزکوة نه چه غواړئ رضادَالله ﷻ نوهم داکسان دوئ دوه چنده کونکی دی(خپل ثواب لره)
ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ ثُمَّ رَزَقَكُمۡ ثُمَّ يُمِيتُكُمۡ ثُمَّ يُحۡيِيكُمۡۖ
الله ﷻ هغه ذات دې چه تاسوئ پیدا کړی بیئ بیائی رزق درکړیدې تاسوته بیابه مړه وی تاسو بیابه ژوندی کوی تاسو،
هَلۡ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفۡعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَيۡءٖۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ
آیاستاسودَشریکانونه داسی څوک شته دې چه اوکړی دَدغی کارونونه څه څیز،پاک دې الله ﷻ اولوئ دې

عَمَّا يُشْرِكُونَ ۞

دهغې نه چه دوئ ورسره شريکوي

﴿فَـَٔاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ﴾ دمشريکينو مذموم صفاتو بيان نه ورستو مسلمانانوته دښه صفاتو اختيارولو حکم دي،(۱) خپلوانو حقوق اداکوئ،(۲) مسکينانو او غريبانانو خيال ساتئ(۳) دمسافرو حقوقو خيال ساتئ(۴) خپل مينځ کښې يو بل له هديه او تحائف ورکوئ خو خالص د الله تعالى رضا لپاره څه دنيوى مفاداتو لپاره نه،دې به تاسوته آخرت کښې هم بدله ميلاويږي او دنيا کښې به الله تعالى درله په مال کښې برکت واچوي او مصيبتونه به درنه لرې کړي،﴿حَقَّهُۥ﴾ حق نه مراد مطلقا حقوق دى،مالي وى اوکه غيرمالي،واجب وى اوکه غير واجب.﴿ذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾ يعنى اهل حقوقوته حق ورکول دهغه خلقولپاره غوره دى چه دالله ﷻ رضائي مقصودوى،اوهم داخلق کامياب دى.

﴿وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا﴾ اکثر مفسرينو د"ربا"نه مراد"عطيه"او"تحفه تحائف"اغستې دې،يعنى په دې نيت بل چاله تحفه ورکول چې سبابه دهغه طرف نه دينه ښه شې ماته ميلاويږي، نو الله تعالى په نيز دَ دې هيڅ اجر نشته،البته که نيت يې خالص وي نو الله تعالى به ورله دنيوى اواخروى دواړو اعتباسره بدله ورکوي.

څنې مفسرينود"ربا"معروفه معنى سود اغستې ده،نو دې توجيه بنيادباندې ددې آيت تفسير يمحق الله ويربي الصدقات پشان دې،نوپديکښې دسوداغستلومذمت دې،دسود حرمت باقاعده طورباندې اگرچه مدينه کښې راغليدې،خو قباحت ئې ابتدانه مسلم وو.

﴿لِّيَرْبُوَا۟ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ﴾ أي تحصل فيه زيادة تكون اموال الناس ظرفالها يعنى نيت داوي چې خلقومال کښې شامل شي،اوبيادَ اضافې اوزيات والى سره ده ته واپس راشي .﴿فَلَا يَرْبُوا۟﴾ داجراخروى نفى ده،﴿مِّن زَكَوٰةٍ﴾ زكوة نه مرادصدقه ده،﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ﴾ دانهم(۹)عقلى دليل دې په توحيد ،چه ستاسوخالق هم صرف الله ﷻ دې،رازق موهم صرف هغه دې،موت

اوحيات موهم دَهغه په قبضه کښ دی.نو ایاستاسومعبودانوکښ داسی څوك شته چه داکاراوکړی؟ بلکه نشته.نو الله جَلَّ جَلَالُہٗ دهرقسمه شريك نه پاك اوګنړئ

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيْقَهُمْ

ظاهرشويدي فسادپه اوچه اولونده کښ په سبب دهغه عملونوچه کړيدی لاسونودخلقولپاره ددی حی اوڅکوی الله جَلَّ جَلَالُہٗ دوئ ته

بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

سزادبعض هغه عملونوچه دوئ کړيدی کيديشی چه دوئ رجوع اوکړی .نه اووایه اوګرځئ په زمکه کښ

فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلُ ۭ كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ﴿٤٢﴾

نواوګورئ په (نظرعبرت) چه څنګه وۀانجام دهغوخلقوچه مخکښ وودوئ نه.وۀاکثرپه هغوئ کښ مشرکان.

فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ

پس برابرکړه خان خپل دين سم‌معتدل.ته مخکښ دَدينه چه راشی داسې ورځ چه نه به وی واپس کيدل هغې لره

مِنَ اللّٰهِ يَوْمَىِٕذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿٤٣﴾ مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ

دالله جَلَّ جَلَالُہٗ طرف نه،پدغه ورځ به ټول خلق دلې دلې شی چاچه کفرکړې وی نوپه هغه به وی وبال دکفردهغه.اوچاچه عمل کړې وی

صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ يَمْهَدُوْنَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

نيك نولپاره دَخپلوځانونولار سموی.لپاره دَدې چه بدله ورکړی الله جَلَّ جَلَالُہٗ هغوته چه ايمان ئې راوړيدې او کړی ئې دی

الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ

نيك عملونه دَخپل فضل نه بيشکه الله نه خوښوی کافران.اوبعض دَدلائلودَتوحيدنه داده چه الله راليږلی هواګانی

مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا

زيری ورکونکی دباران اوچې اوڅکوی په تاسودَرحمت خپل نه اوچې اوچلیږی بیړئ په امردَالله سره.اوچې طلب کړئ تاسو

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾

درزق دهغه نه او دپاره ددې چې تاسو شکر اداکړئ

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ داتخويف دنيوى دې.چې دنياكښې كوم شراوفسادخوريږى اوافات بليات نازليږى هغه دَخلقودبدوعملونوپوجه راځى.شرك اودپيغمبرﷺنافرمانى دَټولونه لويه دهشت گردى ده.فسادنه مراددادې چه په معاشرى كښې امن ـ سكون ختم شى يوبل باندى ظلم زياتې.قتل اغوا .ډاكې زياتې شى.دغه شان ورنه ارضى اوسماوى آفات هم مراددى لكه قحط.گرانى.زلزلى.سيلابونه وغيره.دغه شان په فصلونوميوؤكښې كموالې اوبركت ختميدل هم دگناهونوپوجه راځى.ابوالعاليه رحمه الله وائى څوك چه دَاللهﷻ نافرمانى كوى هغه په زمكه كښې فسادخوره وى.ځكه چه صلاح دَزمكې په طاعت سره دې.دَدې وجه نه په حديث كښې دى لحدٌيقام فى الارض احبّ الى اهلهامن ان يمطرواأربعين صباحاً(ابن كثير)يعنى زمكى باندى دَاللهﷻ يوحدجارى كول دَزمكې والؤلپاره دَڅلويښت ورځې مسلسل باران نه زيات غوره دې.ځكه چه كله حدجارى شى نوخلق دَمعاصيوْدَارتكاب نه منع شى،اوچه معاصى ختم شى نودَاسمان نه بركات نازليږى.كقوله تعالى:ولوانّ اهلَ القرىٰ آمنواالاية،پدې وجه چه كله آخرى زمانه كښې عيسىؑ نازل شى اومكمل شريعت نافذكړى نوزمكه به خپل بركات رااوباسى يويواناربه سؤونوكسان خورى،دَيوى اوښې پئ به څوڅوكسانوته رسيږى. ﴿الْبَرِّ﴾او﴿الْبَحْرِ﴾نه مرادټوله دنياده،بعضِ وائى دَ﴿الْبَرِّ﴾نه مراددلته ځنګلونه بيابانونه دى اودَ﴿الْبَحْرِ﴾نه مرادښارونه دى،اوعرب غټوښارونو باندى اطلاق دَ بحر كوي بعض وائى﴿الْبَحْرِ﴾نه مرادهغه كلى اوښارونه دى چه دَنهرپه كنارې وى،بعضِ وائى دوارونه مرادمعروف براوبحردى يعنى په اوچه اوپه دريابونوكښې،بحركښې فساددادى چه اوبه كمې شى نونهرونه اوچ شى دغه شان پكښې طوفانونه راشى،ميان پكښې ختم شى(ابن كثير.روح وغيره)

﴿بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ﴾يعنى په سبب دَهغه معاصيؤاوذنوبوچه خلق ئې كوى دَهغې

دَنحوست پوجه،لکه بل ځائ ارشاددي:وماأصابکم من مصیبةٍ فبماکسبت ایدیکم (شوری:۳۵)

﴿لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى ﴾مضاف محذوف دي ای وبال بعضِ اعمالهم فی الدنیا (روح)یعنی دنیاکښ ورته دَبعضِ بدعملونوسزاورکړی چه کیدیشی دَخپل ګناهونونه رجوع اوکړی اوداآخرت دَعذاب نه بچ شی ﴿بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ ﴾یعنی دَبعضو اعمالوسزا ورکړی ځکه چې دَټولواعمالوسزاورکولو ځائ آخرت دي،اوبل دَدې وجهی نه هم چې کچرته دَټولواعمالو سزائی ورکولې نوبیابه څوک ژوندې هم نه وې پاتې،اودَسزا مقصد چې هغه الله تعالی رجوع ده،به فوت شوې وي.

﴿قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾داهم تخویف دي،یعنی شرك اونافرمانئ سره فسادراځی که ستاسوشك وی نواوګرځئ په زمکی کښ چه ستاسونه مخکښ خلقوانجام دکفرپوجه څنګه وؤ،لکه قوم لوط،اوقارون وغیره،﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ ﴾ دادریم ځل دعوت توحید دي،یعنی چه شرك سبب دَفساددي نوپوره پوره توحیدباندی قائم شئ مخکښ دَدینه چه دَقیامت ورځ راشی بیابه چاته هم مهلت نه ورکولې کیږی،نه به دَچاداوس وی چه واپس ئې کړی

﴿لَّا مَرَدَّ لَهُۥ ﴾"لا"نفی جنس دي "مرد"مصدر دي پمعنی د"الرد"سره.واپس کولوته وائی اودااسم دي د"لا""له"ورله خبردي،﴿مِنَ ٱللَّهِ ﴾متعلق دي یاپه﴿يَأْتِىَ﴾پوری،ای مِن قبل ان یّاتی من الله تعالی یومٌ لایقدرُاحدٌان یَردّه(روح) یامتعلق دي په ﴿ مَرَدَّ ﴾پوری،نومعنٰی داده چه الله ﷻ به ئې نه واپس کوی چه دغه ورځ راشی،﴿يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴾اصل کښ"یتصدّعون"دي تاپه صادبدله شوه اوادغام اوشو،ای یتفرقون،یعنی پدغه ورځ به خلق ډلې ډلې جداجداږشی،فریق فی الجنة وفریق فی السّعیر.

﴿مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ﴾داتخویف اُخروی دي چه چادنیاکښ کفراوکړو نقصان ئې هم هغه ته دي هم ده ته به سزاورکولې کیږی،﴿وَمَنْ عَمِلَ صَـٰلِحًا ﴾بشارت دي مؤمنانو اونیك عمل کونکوته.

﴿وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ ﴾دالسم(۱۰) عقلي دليل دي په توحيد چه دَالله ﷻ دَقدرت اووحدانيت دَدلائلونه داهم يودليل دي چه الله ﷻ يخي هواګانی رااوليږی چې تاسو ته دباران زيرې درکوی اوچی،باران اوشی نوتاسو خوشحاله شئ اوزمکه ورسره شنه شی. "مبشرات"حال تعليليه دې.يعني علت معنی ورکوي أي:لتبشركم ﴿وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ ﴾د"رحمت" نه مراد دَ باران فوائد دی.چې فصل او بوټی ورسره شنه شی . زميندار دېنړې مشقت نه بچ شی،اوبيمارياني ورسره ختمې شی وغيره."يذيق"فعل سره دَفاعل اومفعول نه په تاويل دَ مصدر کښ مجرور دې دلام حرف جر دپاره.اوجارمجرور يا متعلق دې يرسل فعل مقدر پوري ،"اي يرسلها ليذيقكم" اوياجارمجرور عطف دې په مبشرات باندې،ځکه چې داهم تعليل معنی ورکوی اوحال هم ورکوی.اي لتبشركم وليذيقكم

﴿وَلِتَجْرِىَ ٱلْفُلْكُ ﴾مرادورنه بادبانی کشتئ دی چه دَهواپه ذريعه چليږی ﴿وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ ﴾فضل نه مرادرزق دې،يعنی دکشتوپه واسطې رزق تلاش کړئ تجارتی سفرونه پکښ اوکړئ ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴾ لعل دپاره "تعليل"دېاي ولتشكروا يعنی داټول انعامات دَدی لپاره په تاسوالله ﷻ کوی چه شکراداکړئ دَهغه دَوحدانيت اقراروکړئ اوشرك اونکړئ.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَٱنتَقَمْنَا
اوبيشکه ليږلی وُومونږ ستانه مخکښ ډيررسولان خپلوقومونوته نوراغلی وُوهغوئ ته واضحومعجزو سره نوبدل واخستومونږ
مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝ ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَـٰحَ فَتُثِيرُ
دهغونه چه جرم ئې کړې وُواوحق دې په مونږامداددمؤمنانو.الله ﷻ هغه ذات دې چه راليږي هواګانې نوراپورته کړی
سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ
ورېځ بيائې خوره کړی په اسمان کښ څنګه چه دَالله خوښه وي اواوګرځوی يې ټوټې بيا ګورې ته باران

يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾

چه را اوځي د مينځ د هغې نه .نوکله چه الله اورسوي باران چاته ئې چه خوښه شي د خپلو بندګانو نه نو بيا دوئ خوشاله شي.

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَانْظُرْ

اوبيشکه وو دوئ مخکښې د باران وريدلونه په دوئ مخکښې د دينه بالکل نااُميده نو اوګوره په کتلو دعبرت سره

اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

اثارد رحمت باران د الله ته څنګه ژوندئ کوي زمکه ورستو د اوچيدلونه .بيشکه هم دغه الله خامخا ژوندي کونکي دي مړوله

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوْا

اوهغه په هر څيز باندي قادر دي.اوکه چرې اوليږلو مونږ باد (فصل) بيا اوويني هغوئ هغه فصل تک زير (هلاک شي) نو شروع به کړي

مِنْۢ بَعْدِهٖ يَكْفُرُوْنَ ﴿۵۱﴾ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ

د دوئ ورستو د هلاکت د هغې نه ناشکري د ډيرو نعمتونو پس ته اې پيغمبره نه شې اوره ولې مړوته اوته نشې آوره ولې

الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْيِ عَنْ ضَلٰلَتِهِمْ ؕ اِنْ تُسْمِعُ

کڼروته بلنه کله چه دوئ اوګرځي شاکونکي.اونه ئې ته لاره ښودنکې ړندوته د ګمراهئ د هغوئ نه.نه شې اوره ولې ته

اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾

مګر هغه چاته چې ايمان راوړي زمونږ په آياتونو نو هغوئ مسلمان وي

﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا﴾ دا حضور ﷺ ته تسلی ده او تخويف دنيوی دي مجرمانو، مشرکانو ته چه اې پيغمبره ستانه مخکښې هم مونږ ډير رسولان په واضحو معجزاتو سره خپل خپل قوم ته راليږلي وو نو چه کوم خلقو ورنه انکار اوکړونو مونږ ورنه انتقام واخستلو هلاک موکړل، ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا﴾ دريم خل تکرار دي، د عوې د سورت يعنی دا زمونږ وعده ده چه مؤمنان په خپل ايمان سم قائم وی نو مونږ به ورسره نصرت کوؤ په مشرکانو به ورته غلبه ميلاويږی

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ﴾دا يولسم(۱۱)عقلي دليل دې په توحيد .چه الله ﷻ دهواګانو په ذريعه په آسمان کښې وريځې خورې کړې دخپل مشيت مطابق،باران ورنه نازل شي خلق پرې خوشحاله شي.﴿وَإِن كَانُواْ﴾انْ مخففه عنِ المثقله دې،اسم ئې ضميرشان مقدر دې.يعنې دوئ دباران نازليدلونه مخکښې نااميده وؤچه باران نه کيږي،فصلونه به موتباه شي.﴿مِن قَبۡلِ﴾ يعنې مخکښې دنازليدلو دباران نه﴿مِّن قَبۡلِهِۦ﴾.تکرارلپاره دتاکيددې.﴿فَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحۡمَتِ ٱللَّهِ﴾دالله ﷻ درحمت داثارونه مرادبوټي فصلونه زرغونيدل دی،ميوې زياتيدل دی په باران سره،نظرکولونه مراددعبرت په نظرکتل مراددی،يعې دعبرت په نظرسره اوګورئ چه الله ﷻ څنګه پخپل قدرت سره اوچه زمکه ژوندئ کړه،نوچه کوم عظيم الشان رب پدغه قادردې،نوهغه دمرګ نه ورستودخلقوپه ژوندی کولوهم قادردې دهغه دقدرت نه هيڅ څيزهم بهرندې.﴿وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا﴾زجردې مشرکانوته،اودهغوئ دناشکرئ بيان دې،چه کچرته مونږدوئ په فصلونوداسې هوانازله کړوچه په هغې سره ددوئ فصل زيړشي وچ شي نوکفراوجحودشروع کړي.اودالله ﷻ ټول احسانات هيرکړي.

﴿فَإِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ﴾تسلي ده حضورﷺ ته،چې داکافران په شانته دمړواودکڼو ياړوندودی،ستاداقدرت نشته دې چه په مړوخپله خبره اومنې،ياکڼوته خبرې واؤره وې ياړوندته سمه لاره اوښائې خصوصاًچه کله دوئ ددنه ليدلواراده هم اوکړي،پس ته ددوئ په کفراونافرمانئ باندې مه غمژن کيږه،ستاکارصرف تبليغ اودعوت دې،دڅاپه انکارتاته څه نقصان نه رسيږي،ستاخبره هم هغه کس اوريدلې شي چه زمونږپه آياتونوايمان راؤړي اعتمادکوي اودتسليم په صفت موصوف وي.

(تنبيه)دسماع الموتى مسئلې تحقيق دسورة نمل په آخرکښې تيردې هلته دې اوکتلې شي،چه نه ئې کليةً انکارکيدېشي اونه ئې کليةً ثبوت کيدېشي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ ضَعۡفٖ قُوَّةٗ ثُمَّ جَعَلَ
الله هغه ذات دې چه تاسوئې پيداکړي يئ دکمزورې څيزنطفې نه بيائې درکړيدې ورستودکمزرئ نه قوة بيائې درکړيدې

۱

مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ ضَعۡفٗا وَشَيۡبَةٗۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡقَدِيرُ ﴿٥٤﴾

ورستودَقوة نه كمزوري اوبوډاوالي.پيداكوي الله ﷻ څه ئې چه خوښه وي اوهغه ښه عالم دې ښه قادردی.

وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقۡسِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖۚ

اوپه هغه ورځ چه قائم شي قيامت نوقسمونه به کوي مجرمان،کافران،چه ندي تيرکړي دوئ په دنياکښې به غيردېوساعت نه

كَذَٰلِكَ كَانُواْ يُؤۡفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ وَٱلۡإِيمَٰنَ

همدغه شان په دنياکښې هم دوئ اړولي کيدل.اواوبه وائي هغه کسان چه ورکړي شويدي ورته علم اوايمان

لَقَدۡ لَبِثۡتُمۡ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡبَعۡثِۖ فَهَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡبَعۡثِ وَلَٰكِنَّكُمۡ كُنتُمۡ

چه يقيناتاسووخت تيرکړيدي موافق دَليکلودَالله تروړځ دَقيامت پورې نوداورځ دَقيامت ده ليکن تاسو

لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يَنفَعُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَعۡذِرَتُهُمۡ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴿٥٧﴾

نه پوهيدلې،پس نن ورځ نفع به نه ورکوي ظالمانوته عذردَهغوئ اونه به دوئ نه طلب دَتوبې کيږي

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعۡفٖ﴾دا دولسم(۱۲)عقلي دليل دې په توحيد،چه الله ﷻ تاسودَيوضعيف څيزيعنی بې جانه نطفې نه پيداکړئ،بيائې درته قوی مضبوط جسم درکړو پخپلولاسونوهرڅه کولې شئ،بيامويه بدن کښې کمزوری پيداشي آخربوډاګان شئ.نوداټول حالات دَالله ﷻ په اختيارکښې دی،هرڅه باندی هغه عالم قادردې لهذادَعبادت لائق صرف هغه اوګڼئ.﴿مِّن ضَعۡفٖ﴾نه مراديانطفه ده يادقبل دَپيدائش نه حالت دَجنين دې

﴿ثُمَّ جَعَلَ مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٖ﴾قوت نه مرادځوانی ده، او ضعفانه مراد بوډاوالي دې﴿وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ﴾داتخويف اخروی دې مشرکانوته،يعنی کله چې قيامت قائم شي نوبيادوئ قسمونه خوری چې﴿مَا لَبِثُواْ غَيۡرَ سَاعَةٖ﴾داجمله به دوئ بطور عذرذکرکوی.دَبعث بعدالموت نه انکاردَپاره،يعنی دنياکښې دوئ بعث بعدالموت ډير مستبعد ګڼړلواودائی وائيل چې کله مونږ خاورې ابرې شو نو بيابه څنګه پورته کيږوانو کله چې دَقيامت په روځ په خپله دَبعث

مشاهده اوکړی نو خپل زور دلیل اوانکار دپاره به عذر تلاش کوی چې مونږ داانکار ځکه کوو چې زمونږ ګمان وو چې مونږ به یوطویل مدت په قبرونو کښې تیره وو. او چورچور کیږوبه، داخومونږ ډیرلږ وخت تیرکړو نوځکه راپورته کړې شو ﴿كَذَٰلِكَ كَانُوا۟ يُؤْفَكُونَ﴾یعنی لکه څرنګه چې دوئ قیامت کښې سمه خبره نه کوی دَدروغوقسمونه کوی دغه شان دوئ دنیاکښې هم دروغ وئیل اوبعث بعدالموت نه ئې انکار کولو. ذلک اسم اشاره دپاره مشار الیه "الافک" دې ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ﴾داجمله معترضه ده .یعنی قیامت په ورځ چې کله مؤمنان ددوئ دا عذر او باطل حجت واوری نو دوئ اګر چې مخاطب به نه نوی خو په غلطه خبره به خاموشه پاتې نشی اوورته په اووائی "لقد لبثتم في كتاب الله الى يوم البعث" چې تاسو لږ وخت نه دې تیر کړې، بلکه الله تعالی چې درله څومره وخت لیکلې وو. دَمرګ نه ترقیامته پورې، هغه موپوره تیرکړو. ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾کتاب الله نه مراد دَالله ﷻ علم اوفیصله ده ای فی علمه وقضائه(روح)یعنی تاسودروغ وایئ چه مونږهیڅ وخت ندې تیرکړې. دَالله ﷻ دَعلم اودَفیصلې مطابق یعنی کومه نیټه چه الله ﷻ مقررکړې وه ترورځی دَقیامت پورې هغه موتیره کړه.

بعض مفسرین لیکی چې "في"دلته ظرفیت معنی نه ورکوی، بلکه علت معنی ورکوی"اې لاجل کتاب الله .یعنی مؤمنان به ورته اوائی چې دا عذرونه پریګدئ. داهیڅ نفع نه درکوی، کوم وخت چې مودنیا کښې تیرونکې وو، هغه مو دنیا کښې تیر کړو. اوکوم وخت موچې برزخ کښې تیرونکې وو ،هغه موبرزخ کښې تیر کړو. اوالله تعالی درته ځکه څه نه وې، چې د نن ورځ عذاب ئې درله لیکلې وو﴿ فَهَٰذَا يَوْمُ ٱلْبَعْثِ ﴾ فا فصیحیه ده، او مفاجات معنی ورکوی، اې اذا کان کذلک فهذایوم البعث یعنی کله چې خبره داسی ده چې تاسو خپل مدت تیر کړو نو اوس دربانديې قیامت ورځ راغله. ﴿وَلَٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾استدارک دې ولقد لبثتم نه، یعنی خه وخت او موقع درته میلاوشوې وه لیکن تاسو حق نه طلب کوؤ، بلکه اعراض موترینه کوؤ. "لایعلمون"نه مراد "لاتطلبون"دې یعنی طلب درکښې نه وؤ(التحریر والتنویر)

﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ الَّذِينَ﴾ دا دَ الله تعالى طرف نه جواب دې،دَمشركينو دَعذر.چې دَقيامت په ورځ به مشركانونه هيڅ عذرنه قبليږي اونه به ورته دَتوبې كولو اجازت وي چه الله ﷻ راضي كړي اوجهنم نه خلاصي شي،﴿وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ﴾ استعتاب ازالې دَعتاب ته وائي،يعني دوئ به ازاله دَعتاب نشي كولي دَتوبې په ذريعه لكه څنګه چه دنيا كښې انسان په توبه معاف كيږي،ياپمعنى دَلايرجعون دې يعني دنياته به نه واپس كيږي(ابن كثير)

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ
اويقيناًبيان كړيدي مونږلپاره دَهدايت خلقوپدى قرآن كښې دَهرقسم مثال نه.اوكه راوړې ته دوئ ته معجزه
لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ
نوخامخاوائي به كافران نه يئ تاسومګراهل باطل يئ.هم دغه شان
يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٩﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ
مهرلګوى الله ﷻ په زړونودَهغوكسانوچه نه پوهيږي.پس ته صبركوه اې پيغمبره!بيشكه وعده دَمدددَالله حقه ده
وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾
او هر ګزبرانګيخته دې نه كړي تاپه بې صبرئ هغه خلق چه يقين نه لري.

﴿وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ﴾داشكوه ده دَمشركانو معاندانونه،چه مونږدَدوئ هدايت لپاره دې قرآن كښې هرقسمه واضحه مثالونه اودلائل بيان كړيدى زمونږطرف نه هيڅ تقصيرنشته دې،ليكن دَعنادپوجه بياهم دوئ هدايت اونه موندلوكله يواعتراض اوكله بل اعتراض كوي.﴿وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ﴾يعني سره دَدينه چه مونږه ورته ښه پوره واضح بيان كړيدې،دَدينه علاوه ورته ته معجزه هم راوړې نوبياهم دَهغې نه انكاركوي،اووائي چه تاسوپه باطله يئ،نوپدى وجه الله ﷻ دَدوئ په زړونومهردَجباريت لګولي دې،﴿كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ﴾يعني الله ﷻ هم دغه شان دهغوخلقوپه زړونومهردَضلالت لګوي چه يقين نه كوي،لكه څنګه ئې چه

پدوئ مهرلګولې دي،یاکاف پمعنیٰ دَلامِ تعلیلیه دې﴿كَذَٰلِكَ﴾کښ اشاره تکذیب ته ده،یعنی دوئ تکذیبّ پوجه الله ﷻ دَ دوئ په زړونو مهرلګولې دې

﴿فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ﴾ دادعوي دَ سورت دریم ځل تکرار دې او داتسلی ده حضورﷺ ته،یعنی ته دَدوئ په تکلیفونو صبرکوه،بې شکه وعده دَالله ﷻ چه مؤمنان به غالبه کیږی حقه ده، ﴿وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ﴾یعنی دَقیامت منکرین دې تاپه صبراوحلم په ترک مجبوره نه کړی یعنی داسې بې صبره مه شې چې دعوت وتبلیغ درنه پاتې نشی بلکه پخپل تبلیغ باندې مداومت کوه.

ركوعاتها (۴)	سورة لقمان مكية	آياتها (۳۴)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۳۱) وحسب النزول (۵۷)

حسب التسلسل(۳۱)دې،حسب النزول(۵۷)دې،نزلت بعدالصافات وقبل السبأ

ربط اسمی: ماقبل کښې دَدې ذکر وؤ چې که په توحيد قائم پاتې شوئ نو الله تعالی به مو نصرت کوی ،لکه څنګه چې ئې دَ روميانو مدداوکړو فارسوخلاف،اوس دلته ذکر دې چه توحيددومره اهم مسئله ده چې لقمان حکيم خپل ځوی ته په نصائحو کښې ټولو نه سرفهرست ذکر کړيده،اوخصوصی تاکيد ئې ورته کړيدې.

ربط معنوی:ماقبل سورة روم کښې دَفتح اونصرت اعلان وؤپه شرط دَدې چې تاسوپه توحيدمضبوط شوئ،دې سورة کښې بيان دَتوحيددې علی وجه الکمال،نوګوياچه داسورة دَماقبل سورة تتمه ده.

خلاصه: په ابتداء کښې تمهيدمع الترغيب دې،بيازجردې کافرانوته ،يونقلي دليل اواته(۸)عقلي دلائل په توحيد ،دوه ځله ثمري دَدلائلو.

تفصيلی خلاصه: ابتداءکښې تمهيد مع الترغيب دې آيت (۱)نه تر ۹ پورې.

اته(۸)عقلی دلائل ذکر دی:

اول دليل عقلی:آيت ۱۱، ۱۰

دويم دليل عقلی:آيت ۲۰

دريم دليل عقلي،آيت ۲۵.

څلورم دليل عقلی آيت ۲۲.

پنځم دليل عقلی:آيت ۲۷.

شپږم دليل عقلی:آيت ۲۹

اووم ليل عقلی:آيت ۳۱

اتم دليل عقلي ۳۴

يو دليل نقلي دي. آيت ۱۲ـ۲۰ پورې

دوخله ثمره دَدلائلو ذکر کيږي (۱) آيت ۲۵ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (۲) آيت نمبر ۳۰ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ دوه زجرونه ذکر کيږي (۱) آيت ۲۱. ۲۰ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ (۲) آيت ۳۲ وَٱخْشَوْا۟ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ

په آيت ۲۴، ۲۳ کښې تسلي ده. آيت ۲۲ کښې بشارت او آيت ۳۳ کښې تخويف دي

الٓمٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ﴿۳﴾ ٱلَّذِينَ
الٓمٓ. دا آياتونه دَداسې کتاب دی چه حکمت والا دې. لار خودنکې او رحمت دې لپاره دَنيکانو. نيکان هغه دی
يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿۴﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ
چه پابندي کوی دَمونځ او ورکوی زکوٰة او دوئ په آخرت باندې هم دوئ يقين ساتي. دغه کسان
عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿۵﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ
په سمه لاره دی دَطرفه دَرب خپل نه او دغه کسان هم دوئ کاميابی موندونکی دی. او بعض دَخلقونه
مَن يَشْتَرِى لَهْوَ ٱلْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ
هغه دی چه په پيسو اخلی عبثې خبرې لپاره دَدې چه گمراه کړی (خلق) دَلارې دَالله ﷻ نه بغيرِ دَعلم نه،
وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۶﴾
(او لپاره دَ دې چې) او گرځوی دا (لاره دَ الله) گپ شپ، دا کسان هم دوئ لره عذاب ذلت ناک دې
وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ
او کله چې لوستلې شی په ده آياتونه زمونږ نو مخ ترې واړه وی تکبر کوی لکه چې اورې او ريدلی ئی هم ندی گوياکه

فِيۡۤ اُذُنَيۡهِ وَقۡرًا ۚ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۞ اِنَّ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا								
په غوږونو دده کښې درونوالي دي،نوزيري ورکړه ورته دعذاب دردناك بيشکه هغه کسان چه ايمان ئې راوړيدي								
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ جَنّٰتُ النَّعِيۡمِ ۞ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ وَعۡدَ اللّٰهِ								
او کړي يې وی نيك عملونه دوئ لپاره جنتونه دنعمتونو دی،هميشه به وی په هغې کښې،وعده کړيده الله ﷻ								
حَقًّا ؕ وَهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ۞								
وعده حقه،اوهغه غالب دي حکمتونو والادي								

﴿الٓمّٓ ۞ تِلۡكَ اٰيٰتُ ﴾داتمهيد دي اوترغيب دي اتباع دقرآن ته،چې داکتاب دمحسنينو لپاره رحمة اوهدايت دي نودَدې اتباع وکړئ دنيوي اخروي فلاح به بيامومئ.﴿الۡحَكِيۡمِ ﴾ پمعنیٰ(۱)دَذي حكمةٍ سره دې يعنی حکمتونو والاکتاب دې،(۲)ياحكيم په معنی دمحكم سره دي،يعنی په بل کتاب سره نه منسوخ کيږي،(۳)ياصفت بحال متعلقه دې ای حكيم منزله،نازلونکې ئې ډيرحکيم ذات دي﴿هُدًى وَرَحۡمَةً لِّلۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴾يعنی دوئ ورنه هدايت حاصلوی ورنه قرآن خوټول خلقولپاره هدايت اورحمت دي﴿الَّذِيۡنَ يُقِيۡمُوۡنَ ﴾،صفات دَمحسنينو بيانيږی دا اول صفت دي﴿وَيُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ ﴾زكوٰة نه مرادزكوٰة داموالودې،ځکه چې نفسِ فرضيت ئې مکه کښې راغلې وۀياورنه مراد دَعقائدو اواعمالوطهارت مراددي يعنی خپل عقائداواعمال دَشرك وغيره ګندګئ نه پاك ساتي،﴿وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ﴾دريم صفت دې دَ محسينونو دآياتونوترکيب اونوري متعلق خبري په ابتداء دَسورة البقري کښې تيردي هلته اوګورئ.

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّشۡتَرِيۡ ﴾دازجردي دَقرآن مخالفينوته اوهغوئ ته تخويف اخروی دي،چې دوئ دَقرآن په مقابلې کښې دَفضولوخبرواتباع کوی او هغه خوښه وی،خپله هم ګمراه دی خلق هم ګمراه کوی دوئ دپاره به رسواکن عذاب وی.

مفسرين رحمهم الله وائي چې داآياتونه دنضربن حارث باره کښې نازل دی چې لوئ کافروؤدتجارت دپاره به فارس وغيره ملکونوته تللودهغه ځائ نه به ئې دعجمو بادشاهانو قصې،ناولي واخستلې ځان سره به ئې راوړې اوقريشوته به ئې وئيل چې محمدﷺتاسو ته دعاد،ثمودقصې آوروي،راځئ چې څه تاسوته ددې نه مزيدارې قصې درستم،اسفنديار اودنوروبادشاهانوقصې واؤروم،خلقوبه دغه قصې ډيرپه شوق سره اؤريدلې اوقرآن آوريدلونه منع شول،نوداآياتونه نازل شول،په يوروايت کښې دی چې ده يوه سندرغاړې وينزه هم راوستې وه،چې يوکس به اسلام طرف ته مائله کيدلونوهغه به ئې دهغې ويزې کورته ليږلوهغې به ورته سندرې ويلې،بيابه ئې هغه کس ته وئيل محمدﷺتاسوته کړ. قرآن آوري،مونځونه درباندې کوی،روژې نيولوحکم درته کوی، دهغې نه دامزې زياتې ښه دی.

﴿مَن يَشۡتَرِي﴾ دشراءنه مرادشراء بالمال ده يعنی خپله حقيقی معنیٰ ورنه مراده ده. يا ورنه مرادخوښول اوغوره کول دی،کقوله تعالیٰ:اولئك الذين اشتروالضللة بقره ۱۶،﴿لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ﴾حضرت حسن بصري رحمه الله دلهوالحديث متعلق وائی:کلّ ماشغلك عن عبادة الله تعالى وذكره من السّمروالاضاحيك والخرافات والغناء ونحوها(روح)يعنی لهوالحديث هرهغه ته وائی چې تاداللهﷻ دعبادت اودهغه دذکرنه غافله کوی لکه بې هوده قصې،خنداګانې، خرافات يعنی فضول کارونه،سازاوګانې بجانې وغيره اوحضرت ابن مسعودرضي الله عنه به قسم کولوچې دېنه مرادغنايعنی ګانې دی.

داکثروعلماؤپه نيزډې آيت کريمه کښې دګانوبجانونيلواواوريدلو ذم دې،دګانووئيل اوآوريدل چې ورسره مزاميروی يعنی رباب،سازوغيره،دغه شان ددې الاتو حرمت باندې ائمه متفق دی،چې تفصيل ئې دفقه په کتابونوکښې موجوددې،نن صباډګانواوفحش ويډوګانو کتلودپاره موبائل اخستونکې هم ددې زجرمستحق دې کوم چې آيت کريمه کښې مذکوردې، چې دوئ لپاره ذلت ناك اورسواکن عذاب دې.

﴿عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾مرادورنه دين داللهﷻ اوقرآن دې يعنی دسندروپوجه خلق ددين نه ګمراه کوی،لام په﴿لِيُضِلَّ﴾کښې دتعليل لپاره دې﴿بِغَيۡرِ عِلۡمٍ﴾متعلق دې يادَ﴿يَشۡتَرِي﴾

سره،نومطلب دادې چې دې پخپل شراء اوتجارت په حال خبرنه دې چې حق يعنی قرآن ئې پريخودلو اوګمراهي ئې واخسته، يامتعلق دې دَ ﴿لِيُضِلَّ﴾سره .يعنی خلق ګمراه کوی خبرندې چې دَلاري دَالله ﷻ نه خلق ګمراه کول جهالت دې دحق نه

﴿وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا﴾ضمير منصوب راجع دې سبيل الله ته.لفظ "سبيل "مذكر او مؤنث دواړه استعماليږی،يعنی دين نه ګپ شپ او مذاق جوړ کړی.او مسخرې وريپورې شروع کړی.او ب ضمير منصوب"ايات"ته راجع دې،يعنی دې آياتونو پورې ټوقې او مسخرې اوکړی

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَـٰتُنَا ﴾دازجردې چې دې معاندينوباندې چه کله زمونږآياتونه تلاوت کړې شي نواعراض ورنه کوی،تکبرکونکي،ګوياکه دوئ بالکل کانړه دی.اړواوريدلي ئې هم ندي،دوئ ته دَدردناك عذاب خوشخبري ورکړه﴿وَقْرًا ﴾وقربوج ته وائی دَبوج نه مراد کونړوالي دې،﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾مؤمنانو ته بشارت دې.

خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ	بِغَيْرِ	عَمَدٍ	تَرَوْنَهَا	وَاَلْقٰى	فِي	الْاَرْضِ
پيداکړی ئی دی آسمانونه بغيردَستنونه چه تاسوئی وينئ هغه او ايخي ئې دی په زمکه کښ							
رَوَاسِيَ	اَنْ	تَمِيْدَ	بِكُمْ	وَبَثَّ	فِيْهَا	مِنْ	كُلِّ دَآبَّةٍ
غرونه چه اونه خوځيږی زمکه په تاسواوخواره کړی ئی دی پدې کښ دَهرقسمه ځناورنه،							
وَاَنْزَلْنَا	مِنَ	السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَنْۢبَتْنَا	فِيْهَا	مِنْ	كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝
اونازل کړيدی مونږدَاسمان نه اوبه نوزرغون کړيدی مونږپدې کښ هرقسمه ګياه عمده،							
هٰذَا	خَلْقُ	اللّٰهِ	فَاَرُوْنِيْ	مَاذَا	خَلَقَ	الَّذِيْنَ	مِنْ دُوْنِهٖ
دا ټول پيداکول دَالله ﷻ دی نوتاسواوښايئ ماته چه څه پيداکړيدی هغه معبودانوچه ماسویٰ دَالله ﷻ نه دی،							

بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ⓫
بلکه ظالمان مشرکان په ګمراهۍ ښکاره کښې دي

﴿خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ﴾ دا اول دليلِ عقلي دې په توحيد. چې الله ﷻ بغير د څه سهارې نه و «۷» اسمانونه پخپل قدرت سره پيدا کړيدي، په زمکه ئې مضبوط مضبوط غرونه پيدا کړل، د زمکې د استقرار لپاره، او هرقسمه مخلوق ئې پدې کښې خواره کړل ﴿تَرَوْنَهَا﴾ ضمير اسمانونو ته راجع دې، يعنى تاسو وينئ اسمانونه چې ستنې ورته نشته. ﴿رَوَاسِيَ﴾ جمع د راسیٰ ده يا د راسية، مضبوط غر ته وائى. ﴿أَنْ تَمِيدَ بِكُمْ﴾ اى لئلا تميدبكم «روح» خوځيدلو ته وائى، يعنى غرونه يې پکښې کيخودل دې د پاره چې په تاسو خوځيږي نه ﴿مِنْ كُلِّ زَوْجٍ﴾ زوج دلته پمعنى د صنف دې، يعنى هرقسمه ګياه او غلې او ميوې او ﴿كَرِيْمٍ﴾ اي نفيس يعنى عمده، ډير منفعت والا

﴿هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ﴾ يعنى دا مذکورتول د الله ﷻ مخلوق دى، د الله ﷻ نه ماسوىٰ چې تاسو کوم معبودان په خدايئ نيولې دى آيا هغوئ څه پيدا کولې شي؟ يقيناً چې هيڅ څيزهم نشى پيدا کولي، بلکه اصل خبره داده چې بيا هم دوئ د هغوئ عبادت کوى نو په ګمراهۍ ښکاره کښ دى.

وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	لُقْمٰنَ	الْحِكْمَةَ	اَنِ	اشْكُرْ	لِلّٰهِ	وَمَنْ	يَّشْكُرْ	فَاِنَّمَا يَشْكُرُ

اويقيناً ورکړې وو مونږ لقمان ته حکمت چه شکر اداکوه د الله ﷻ، او چاچه شکر او کړو نو بيشکه شکر کوى

لِنَفْسِهٖ	وَمَنْ	كَفَرَ	فَاِنَّ	اللّٰهَ	غَنِيٌّ	حَمِيْدٌ	⓬

لپاره د فائدې د خپل ځان، او چاچه ناشکرى او کړه نو ځان ته ئې تاوان ورکړو ځکه چه الله ﷻ بې پرواه دې ستائيلې شويدې.

وَاِذْ	قَالَ	لُقْمٰنُ	لِابْنِهٖ	وَهُوَ	يَعِظُهٗ	يٰبُنَيَّ

اوکله چې اووئيل لقمان خپل خوي ته حال داچه هغه نصيحت ورته کولوچه اې بچوريه څما

لَا	تُشۡرِكۡ	بِاللّٰهِ	اِنَّ	الشِّرۡكَ	لَظُلۡمٌ	عَظِيۡمٌ
شرك	مكوه	د الله جل جلاله سره، بيشكه	شرك	خامخا ظلم	دي	لوئ

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ﴾ دا په توحيد باندې دليلِ نقلي دې. چې دحضرت لقمان په شان حكيم او هوښيار كس هم دشرك نه بچ كيدلو تلقين كړيدې. خپل ځوي ته ئي د ټولو نه اول دشرك نه بچ كيدلو وصيت كړيدې، چې شرك مكوه شرك ډيرلوئ ظلم دې.

ديكښ اختلاف دې چې حضرت لقمان نبی وؤ او كه نه.

دأكثرو په نيز حضرت لقمان حكيم نبي نه وؤ البته يوپاك، متقي انسان وؤچې الله ﷻ ورته حكمت، عقل او پوهه وركړې وه داسې خبرې به ئي كولې لكه يو نبي چې كوی. دعكرمه، شعبي رحمه الله وغيره په نيز لقمان نبي وؤ.

حضرت لقمان حكيم دكوم ځائی وؤاو په كومه زمانه كښ تيردې نو ددې خبري كامل او پوره يقين نشی كيدلې چې لقمان حكيم دكوم ځائي اوسيدونكې وؤ، او په كومه زمانه كښ تيردې، البته دأكثرو قول دې چې دې حبشي وؤ، دحضرت ايوب عليه السلام خوريې وؤ، يائي دترورځوې وؤ، دداؤد عليه السلام زمانه ئي موندلې وه.

﴿ٱلۡحِكۡمَةَ﴾ حكمت نه مراد هغه دعقل وفطانت نه ډكې خبری دی، چې هغه د انسان لپاره ژوند كښ راهنما ګرځی، او دنيوی او اخروی دواړه قسمه فائدې ورسره وابسته دی، ﴿أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِ﴾ ان تفسيريه دې د "الحكمة" تفسير كوي، "ان" تفسيريه د قول نه بعد راځی، او دلته مخكښ اګر چې قول ماده لفظا نشته خو حكماً او ضمناً شته ځكه چې مراد الحكمة نه هغه فطانت نه ډك اقوال دی چې دوئ ته الله تعالی بطور الهام وركړی وؤ، نو ځكه "ان" تفسيريه راوړل صحيح دی ﴿وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ﴾ يعنی څوك چې د الله ﷻ شكراداء كوی نو فائده او ثواب ئي هغه ته رسي، الله ﷻ ته دچا په شكر فائده نه رسي او نه ورته دچا ناشكري، كفر ضرر رسوي، ﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ﴾ قائمقائم دې دجواب شرط محذوف، اصل عبارت داسي دې چې: ومن كفر فانما يكفر على نفسه(روح) يعنی څوك كفراو ناشكري كوی نو ضرر د كفر به هغه ته رسي، ځكه

چې الله جَلَّجَلَالُهُ غني دې محتاج ندې دچاشکرته محموددې بالذات. ﴿وَهُوَ يَعِظُهُۥ﴾جمله حاليه ده، ﴿لَا تُشْرِكْ بِٱللَّهِ ﴾دحضرت لقمان په نصائحوکښ اول نصيحت دې. ﴿إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾دا هم قول دلقمان دې، يادالله جَلَّجَلَالُهُ قول دې چې بل ځائې کښ ئې هم شرک ته ظلم عظيم وئيلي دی.الذين آمنوا ولم يلبسوا ايمانهم بظلم ظلم وائی يوځيزبي محله استعمالول.ددېنه به لوئې ظلم بل څه وي چې عاجزمخلوق ته غالب اومختارخالق درجه ورکړيشي.

وَوَصَّيْنَا	الْإِنْسَانَ	بِوَالِدَيْهِۚ	حَمَلَتْهُ	أُمُّهُ	وَهْنًا	عَلَىٰ	وَهْنٍ
اوکلک حکم کړيدې مونږانسان ته په حق دموروپلارکښ خکه چې .اوچت کړې وی دې موردده په کمزوری دپاسه دبلې کمزورئ							
وَفِصَالُهُ	فِي	عَامَيْنِ	أَنِ	اشْكُرْ	لِي	وَلِوَالِدَيْكَ	إِلَيَّ الْمَصِيرُ ۝
اوجداکيدل دده «دتی دمورنه» په دوؤکالوکښ دی.«دې خبرې چه شکرکوه ځمااودموروپلارخپل.خاص ماته دې راتلل دی							
وَإِنْ	جَاهَدَاكَ	عَلَىٰ أَنْ	تُشْرِكَ بِي	مَا لَيْسَ	لَكَ بِهِ	عِلْمٌ فَلَا	تُطِعْهُمَا
اوکه کوشش کوی داواړه په تاچه ته شريک کړه ماسره هغه بتان چه نشته دې تاسره په الوهيت دهغې دليل نوخبره ئې مه منه							
وَصَاحِبْهُمَا	فِي	الدُّنْيَا	مَعْرُوفًا	وَاتَّبِعْ	سَبِيلَ	مَنْ أَنَابَ	إِلَيَّ ثُمَّ
اوملګرتياورسره کوه په دنياکښ په شرعی طريقی سره.اواتباع کوه دلاری دهغه چا چه رجوع ئې کړيده ماته بيابه							
إِلَيَّ	مَرْجِعُكُمْ	فَأُنَبِّئُكُمْ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُونَ ۝		
خاص ماته رجوع وي	ستاسونوځه به خبرکړم تاسوپه	هغه	عملونوچه	تاسوکول			

﴿وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾يعنی والدينو اطاعت او دهغوئ سره حسن سلوک انتهائی اهم عبادت دې.او انسان ته ډيرپه تاکيد سره ددې حکم شوې دې،خوتوحيد دومره اهم حکم دې.کچرته مور پلارکښ هم څوک اولادته د شرک حکم کوی نو بياهم د دې ګنجائش نشته.اودموروپلار داحکم منل جائز نه دی.

دا جمله معترضه ده دالله تعالی طرف نه، او دَحضرت لقمان قول لاتشرک بالله تائید دی، حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائي چې لقمان حکیم بچی ته دَتوحید حکم اوکړو چې حقوق الله کښ دَ ټولونه اهم حکم دې، دَ والدینوحق ئی ورته اونه ښودلوځکه چې ده دَ فائدی اشتباه پکښ راتلله او دَخودغرضی شائبه اووهم پیداکیدلو نوځکه یې دانصیحت اونکړو، اودَاهمیت په وجه الله تعالی ذکرکړو، نودینه دا ثابته شوه چې دعوت وعظ اونصیحت کښ دا سې خبره کول ندی پکار، چې هغی نه دَخودغرضی وهم نه پیداکیږی. ﴿حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ﴾ دا جمله بطور تعلیل راغلیده ماقبل دپاره.

﴿وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ﴾ وهن مصدر دې دَوهن یَهِنُ کمزورې اوضعف معنی کښ استعمالیږی. اول وهناحال دې مبالغتا، اوعلی وهن ورله صفت دې، أي: وهنا واقعا علی وهن کمزورئ باندې کمزوری وی، یوخوا دَبچی بوج وی اوبل مسلسل وی. ﴿وَفِصَٰلُهُۥ فِى عَامَيْنِ﴾ پیدائش نه بعد هم دَ مور مشقت ختم نشی، بلکه دوه کالوپورې ورله تې ورکوی، هغې دوران کښ دامور څومره تکلیف اوچتوې، "فصاله" أي فطامه، في عامين، أي: انقضاء عامين یعنی دوه کاله پوره کیدوسره دَ تیی ورکولو مدت ختم شی، داپه احنافو کښ صاحبینو، اوامام شافعی او احمدمذهب دې، امام صاحب په نیز مدرت رضاعت دونیم کاله دې، او دهغوئ استدلال په وحمله وفصاله ثلاثون شهرا(الاحقاف15) سره دَ. ﴿أَنِ ٱشْكُرْ لِى﴾ "أن" تفسیریه دې او جمله تفسیر واقع کیږی دَ "وصینا" لپاره، یعنی خپل رب اودَ والدینو شکر اداکولو وصیت اوتاکید موورته کړې دې ﴿إِلَىَّ ٱلْمَصِيرُ﴾ څما خواله خوراتلل دی، چې دَ مور پلار نافرمانی اونکړې، کنې سخت عذاب به درکړم.

﴿أَن تُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ﴾ یعنی دَهغې په الوهیت کښ دَشریك کیدلوتاسره څه علم اودلیل نه وي ﴿فَلَا تُطِعْهُمَا﴾ دې وخت کښ بیادَدوئ اطاعت مه کوه ﴿وَصَاحِبْهُمَا فِى ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا﴾ یعنی دَشرع اوعرف مطابق ئې خدمت کوه لکه خوراك ورکول، جامې

ورکول، علاج کول. لیکن دَشرك په کارونوکښې نې خدمت مکوه. حضرت اسمابنت ابی بکر رضی الله عنهامور مشرکه وه یوځل دَځه حاجت دَ پاره مدینی ته راغله .حضرت اسما رضي الله عنها دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دهغې سره تعاون اوصله رحمی اجازت طلب کړو .نو نبی صلی الله علیه وسلم ورله اجازت ورکړو ﴿وَّاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ﴾یعنی دَهغه چااتباع کوه چې رجوع الی الله ئې کړې وي.په توحیداواطاعت سره.حضرت سعدبن ابي وقاص رضی الله عنه پاره کښې راځې چې کله یې اسلام راوړو .نو موریې قسم اوخوړ چې څه به ترهغه وخت پورې خوراک سکاک نه کوم چې ترڅو پورې تا اسلام نه وی پریخودې.یوورځ ئې دغه شان تیره کړه.دویمه ورځ یې دغه شان تیره کړه. حتی چې ډیره خرابه شوه نو سعدرضی الله عنه ورته اوویل اې مورې که ستا څل ساګانې شې او دهغه شان یوه یوه درنه اوځې نو بیا هم څه خپل دین نه پریګدم.که خورې نوخوره اوکه نه خورې نومه خوره.موریې پوهه شوه چې دې اسلام په هیڅ قمیت نه پریګدی.نو خوراک سکاک یې شروع کړو

يٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمٰوٰتِ

اې بچوړیه څمابیښکه یوخصلت کچرته وی داخصلت په اندازی دَدانی دَاوری بیاوی په کاڼی کښې یاوی په اسمانونوکښې

أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿۱۶﴾

اویاوی په زمکه کښې نورابه ئی وړی ښکاره به ئی کړی الله ﷻ.بیشکه الله باریك لیدونکې دې خبردارې

يٰبُنَيَّ أَقِمِ الصَّلٰوةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ أَصَابَكَ

اې بچوړیه څماپابندی کوه دَمونځ اوامرکوه خلقوته دَنیکې اومنع کول کوه دَبدکارنه اوصبرکوه په هغه تکلیف چه ورسیږی تاته،

إِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿۱۷﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ

بیشکه دا دَمقصودی کارونونه دی اومه ګرځوه مخ خپل دَخلقونه اومه ګرځه په زمکه کښې

مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿۱۸﴾ وَاقْصِدْ

په نازاونخره،(څکه چې) بیشکه الله ﷻ نه خوښوی هرهغه سړې چه خودپسنده وی فخرکونکې وی،اومیانه روی کوه

فِیْ مَشْیِكَ	وَاغْضُضْ	مِنْ	صَوْتِكَ	اِنَّ	اَنْكَرَ	الْاَصْوَاتِ	لَصَوْتُ	الْحَمِیْرِ ۞
په خپلوتلوکښې	اوروو	ښانه	اوازخپل.	بیشکه	ډیربدپه	اوازونوکښې	خامخااوازدخردي	

﴿يٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ﴾ دادويم وصيّت دَلقمان حکيم دې خپل بچي ته،مثال بيانولونه يې مقصود دَ الله تعالى دَ قدرت اظهاردې چې الله تعالیٰ نه دَبندګانو هيڅ عمل هم پټ ندې،آسمان اوزمکي اودَدې په مينځ کښې چې څه دی دَهغې يوې يوې ذرې باندې دَالله تعالیٰ علم محيط دې،انسان که ذره برابرنيکي کوی اوکه ګناه،الله تعالیٰ به ئې دَقيامت په ورځ حاضره وي، ﴿إِنَّهَا﴾ضميرمطلق خصلت ته راجع دې،که نيك وي اوکه بد ،يعنی کوم يوخصلت ښه وي يابداودَاُوري ددانې په اندازې ورکې هم وي اوفرض ئې کړه چې ديبلوئ کاڼې لاندې ياآسمانونودَپاسه يادَزمکي په تياروکښې کيخودلې شي هغه هم دَالله تعالیٰ نه پټ نشی پاتي کيدلې الله تعالیٰ به ئې دَقيامت په ورځ حاضره وي نوانسان ته غافله کيدل ندی پکار، ﴿يَأْتِ بِهَا اللَّهُ﴾يعنی حاضره وي به ئې اوحساب به ئې کوی﴿لَطِيفٌ﴾الله تعالیٰ باريك بين دې پټ نه پټ څيز ئی هم په علم کښې وی ﴿خَبِيرٌ﴾اي بکنهه يعنی ذات نه ئی هم خبر وی اوحقيقت نه ئی هم خبروی.

﴿يٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ دائی دريم نصيحت دې دَتوحيدنه ورستوځوي ته دَامرمصلح حکم کوی چې مونځ دې، ﴿وَأْمُرْ بِٱلْمَعْرُوفِ﴾ دائی څلورم نصيحت دې يعنی دغيراصلاح لپاره امربالمعروف اونهي عن المنکرکوه،دَتوحيدامرکوه اودَشرك نه خلق منع کوه، ﴿وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَ﴾ دائی پنځم نصيحت دې يعنی چه امربالمعروف اونهي عن المنکرکوې اودَدې پوجه درته څه تکليف اورسيږي نوپه هغې صبرکوه، ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ﴾يعنی صبرعلی المصيبة يااشاره صبراومذکورټولو مأموراتوته ده،يعنی داهغه اموردی چې الله تعالیٰ ئې عزم اوامرکړيدې

﴿وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾دائی شپږم نصیحت دې.اودعبادت نه ورستواوس خپل

خوي ته دښه اخلاقو تربیت ورکوی. ﴿تُصَعِّرْ﴾ صَعَر نه مشتق دې داهغه بیماري ده چې اوښ

ته لاحقه کیږي نوځټ ئي ورسره کوږشي.دلته کنایه ده دتکبرنه اوخلقوته حقیرکتلونه.

دمتکبرکس تشبیه دبیمار اوښ سره ورکړیده.یعنی خلقوسره خبرې کولووخت کښې دهغوئ نه

دتکبرکونکي په شان مخ بل طرف ته مه اړه وه﴿لِلنَّاسِ﴾کښې لام لپاره د صلې دې. یعنی

خلقونه مخ مه اړوه،اویا تعلیلیه دې ای لاجل الاعراض عن الناس(روح)

﴿وَلَا تَمْشِ فِي ٱلْأَرْضِ﴾دا اووم نصیحت دې یعنی داسې چال سره مه ځه چې دهغې نه

غروراوتکبراظهارکیږي"مشی"(تګ)خو هسې هم په ځمکه وی .دینه باوجود "في الارض"

راوړلو کښې اشاره ده دینه،چې ځمکه باندې تګ راتګ کښې ټول برابر دی.لهذا دې باندې

داسې انداز سره تلل نه دی پکار چې هغې سره د چا برتری ثابتیږې اویاورنه بل ته تکلیف

رسی.دینه داهم معلومه شوه چې عمومی مقاماتو اواشیاؤ کښې ځان دعامو خلقو سره

برابرساتل پکاردی هلته خپل امتیاز برتری اوتخصیص نه دې صحیح لکه شاهراه عام

هسپتال وغیره شو﴿مَرَحًا﴾مفعول له دې ناز اوتکبرته وائی﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ﴾مذکوره دوه

حکمونو علت بیان دې،چې د خلقونه مخ اړولو او په ناز ونخرو سره ګرځیدلو بنیادی وجه

فخروتکبراوخود پسندی ده،او الله تعالی داسې خلق نه خوخوی. ﴿مُخْتَالٍ﴾ مختال خود

پسندهغه کس چې ځان ورته ښه ښکاري دبل تحقیرکوی،دتکبرپوجه دبل انسان نه نفرت کوی

او﴿فَخُورٍ﴾هغه ته وائی خپل صفتونه پخپله خلقوته کوی.

﴿وَٱقْصِدْ فِي مَشْيِكَ﴾ دااتم نصیحت دې اوپه دیکښې ورته دمعاشرت اداب ښائي.یعنی

چې په لاره ځې نودرمیانه چال سره ځه ډیرتیزهم مه ځه اوډیرورووهم مه ځه،﴿وَٱغْضُضْ مِن

صَوْتِكَ﴾دانهم نصیحت دې چې آوازدې خپل خکته ساته.په زوره خبرې کول لاروکښې چغې

وهل داداب معاشرت نه خلاف دی،عاقل سړي سره ښه نه ښکاری او"من" په "من صوتک" کښې

دپاره دَتبعیض نه دي بلکه بطور صله راغلې دي،ځکه چې "غض"فعل کله بغیر دحرف جر واسطې نه متعدی کیږی او مِن حرف جر په واسطې سره متعدی کیږی

﴿إِنَّ أَنكَرَ ٱلۡأَصۡوَٰتِ﴾ یعنی په آوازونو کښې اقبح آواز دَخر دې،نو کچرته په زوره چغې وهل بنه وې نو دَخرآواز به دَټولو نه بنه وو،اصوات نه مراد اصوات دَحیواناتو دي،

أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ
آیانه وینئ تاسو چه الله تعالی مسخر کړیدی ستاسو لپاره هغه څه چه په اسمانونه کښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی
وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ
اوپوره کړی ئې دی په تاسو نعمتونه خپل،ښکاره او پټ،او بعض په خلقو کښې داسې دی چه بحث مباحثه کوی دَ الله تعالی په باره
بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ⑳ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُواْ
کښې،بغیر دَعقلی دلیل نه او هدایت نه(دلیل عقلی نه)او د کتاب روښانه نه،او کله چه او وئیلې شی دوئ ته اتباع او کړئ
مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ بَلۡ نَتَّبِعُ مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ
دَهغه قرآن چه نازل کړیدې الله، نو دوئ وائی بلکه مونږ اتباع کوؤ دَهغه دین چه موندلی دی مونږ په هغې پلاران خپل،اګر
ٱلشَّيۡطَٰنُ يَدۡعُوهُمۡ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ㉑ وَمَن يُسۡلِمۡ وَجۡهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ
که شیطان دعوت ورکوی دوئ ته عذاب دَ جهنم ته، او هغه څوک چه اوسپاری خپل ځان الله ته
وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ㉒
حال دا چه هغه نیکوکاروی،نو یقینا ده منګلې او لګولې په کړئ محکمې باندې،او خاص الله ته دی انجام دَټولو کارونه
وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحۡزُنكَ كُفۡرُهُۥٓۚ إِلَيۡنَا مَرۡجِعُهُمۡ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا
او چا چه کفر او کړونو نه دی غمژن کوی تا کفر دَهغه، خاص مونږ ته واپس راتلل دی دَ دوئ نو خبر به کړو

عَمِلُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ
مونږ دوئ په هغه عملونه چه يې کړيدی، بيشکه الله ښه عالم دی په خبرو دَ سينو ،نفع به ورکړو مونږ دوئ ته لږه بيابه ئې
نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٢٤﴾
مجبور کړو عذاب سخت ته

﴿أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم ﴾دادويم عقلي دليل دې په توحيد، چې آياتاسونه وينئ چې الله ﷻ دَاسمان اوزمکي تمام مخلوقات ستاسوپه خدمت کښ لګياکړيدی، خپل ظاهري باطني نعمتونه ئې په تاسوپوره کړيدی، داصرف الله ﷻ کړيدی څوك ورسره شريك نشته، لهذاالله برحق هم صرف هغه دې صرف دَهغه عبادت کوئ. ﴿ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ﴾ظاهري نعمتونه هغه دی چې ادراك ئې په حواسوسره کيږي، لکه نعمت دَسمع، بصر، صحت وغيره، باطني نعمتونه هغه دې چې په حواسوسره ئې ادراك نه کيږي لکه عقل، فهم، بعضِ وائي معلوم نعمتونه انسان ته اوغيرمعلوم نعمتونه ورنه مراددی، بعضِ وائی ظاهري نه مراد اسلام نصرة على الاعداء مراددې، باطني نه امداددَملائکومراددې، بعضِ وائی دنيوي او اخروي نعمتونه ورنه مراددی، ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې ظاهري نه مراداسلام دې، باطني نه مراد بدعملونوباندې پرده اچول دی(روح المعاني).

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ ﴾زجردې مشرکانوته يعنی دَدومره نعمتونوباوجوددوئ په حق دَالله ﷻ کښ جګړې کوی، بغيردَڅه قسمه دليل نه، بعضِ ورنه انکارکوی، بعضِ ورله شريك ثابتوي، ﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ ﴾مرادورنه دليلِ عقلي دې، ﴿وَلَا هُدًى ﴾مرادورنه دليلِ نقلي دې﴿وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ ﴾مرادورنه دليل وحي دې﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا ﴾داهم ورته زجردې چې دوئ ته اوونيلي شي چې تاسواتباع دَ ماانزل الله يعنی قرآن دَاحکاماتواوکړئ نودوئ انکارکوی اووائی چې دَ ماانزل الله اتباع نکوؤبلکه دَهغه دين اتباع کوؤچې مونږورباندې خپل مشران ليدلي دی.

﴿أَوَلَوْ كَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ ﴾عطف دې په محذوف معطوف عليه اى ايتبعوهم ولوكان الشيطانُ يدعُوهم.يعنى مشركانوباندې تعجب دې چې اګرچه شيطان دَدوئ مشران دَشرك پوجه جهنم عذاب ته بوځي،اوبياهم دوئ دَهغوئ اتباع كوي.باقي تفسيردآيت په سورة البقرة آيت(۱۷۰) كښ تيردې.﴿وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ ﴾بشارت دې مؤمنانوته.چې چا خپل ځان پوره پوره الله ﷻ ته حواله كړوخپل ټول كارونه ئې الله ﷻ ته اوسپارل نو ده كلكه اومضبوط رسئ اونيوله چې پدې سره به دَالله ﷻ دَعذاب نه بچ شي

﴿وَجْهَهُۥٓ﴾نه مراد ذات دې﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾يعنى مؤمن اومؤحدوي دَ﴿بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ﴾نه مراد دَايمان اوتوحيد محكمه كړئ اورسئ ده،داسي محكمه رسئ چې شوكيدل ئې نشته دې

﴿وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ كُفْرُهُۥٓ ﴾داتسلى ده حضورپاكﷺته اوتخويف دې كفركونكوته، يعنى دامشركان چې دَضد اوعناد پوجه كفركوي نوته دَدوئ په كفرمه غمګين كيږه ځكه چې قيامت كښ به داټول ځماپيښئ ته راځي،نوځه به ورته عذاب اوعقاب سره خبرداري وركړم،﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ ﴾تعليل دې دَ﴿فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓاْ ﴾يعنى الله ﷻ به ورته بدله وركوي دَدوئ عملونوځكه الله ﷻ په ټوخبروهم عالم دې،نوبنكاره كارونه ورنه بالكل ندى پټ،﴿نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ﴾تمتيعاقليلاً لړه فائده يازماناًقليلاً،لږه زمانه،يعنى يوڅوورځې فائده دى واخلي دنياكښ،آخرت كښ به ورته لوئ عذاب وركولې كيږي،﴿ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ ﴾ مراد دَمجبوره كولونه په زوربوتلل په طريقى دَ ديكووركولو سره او شړلوسره جهنم ته دى.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ
اوكچرته تپوس اوكړې ته دكافرانونه چه چا پيدا كړيدى اسمانونه اوزمكه نوخامخاوائى به چه الله،
قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٢٥ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
اووايه ته ټول ثناء صفت الله لره دى،بلكه اكثروپدوئ كښ نه پوهيږي.خاص الله لره دى هغه څه چه په اسمانونوكښ دى

وَالْأَرْضِ إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۞ وَلَوْ أَنَّ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ							
او زمکه کښې دی. بیشکه الله هغه بې پرواه دې ستائیلې شوېدې. او کچرته هغه څه چې په زمکه کښې دی داونونه							
أَقْلَامٌ	وَّالْبَحْرُ	يَمُدُّهٗ	مِنْۢ	بَعْدِهٖ	سَبْعَةُ	أَبْحُرٍ	
قلمونه شي او درياب. شی دده سره سیاهی . روستود (ختمیدلو) دده نه . اووه نوردریابونه							
مَّا نَفِدَتْ كَلِمٰتُ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۞ مَا خَلْقُكُمْ							
او اولیکلې شي په غوسره کلمات د الله نو خلاصې به نشی کلمات د الله بیشکه الله غالب دې حکمت والا دې نه دی پیدا کول ستاسو							
وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ۗ إِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ۞							
اونه بیاژوندی کول ستاسو مګر داسی دی لکه پیدا کول د نفس یو. بیشکه الله ښه اوریدونکې ښه لیدونکې دې.							

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ دا دریم دلیلِ عقلي دې په توحید علیٰ سبیل الاعتراف من الخصم یعنی مشرکانو نه چې تپوس اوکړې چې د زمکې او اسمانو خالق څوک دې نو دوئ هم دا اعتراف کوی چې صرف الله ﷻ دې، ﴿قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ دا ثمره ده د ماقبل دلائلو، یعنی د ماقبل دلائلو نه ثابته شوه چې ټول صفات د الوهیت صرف الله ﷻ لره دی، عبادت لائق صرف الله ﷻ دې لیکن مشرکان د جهالت پوجه پدې دلائلو نه پوهیږي، ﴿لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ دا څلورم دلیلِ عقلي دې په توحید، چه ټول کائناتو کښې تصرف صرف د الله ﷻ دې.

﴿وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ﴾ دا پنځم عقلي دلیل دې په توحید، پدې کښې د الله ﷻ د عظمت او د وسعت علم بیان دې یعنی کچرته په زمکه کښې ډېرې اونې د ځانګونه قلمونه جوړ شي او ټول دریابونه د دوئ د سیاهی دواتونه جوړ شي او ټول خلق کاتبان شي د الله ﷻ محامد محاسن لیکل شروع کړي، نو قلمونه به په تراشلو تراشلو ختم شی دریابونو سیاهي به ختمه شي لیکن د الله ﷻ محامد، محاسن او د وسعت علمی احاطه به اونشی، ځکه چې صفات د الله ﷻ غیرمتناهي دی، متناهي اسباب او قوتونه ئې احاطه نشی کولې، ماپه انما کښې موصوله

ده،او اسم واقع کيږي لپاره ان. "في الارض"جارمجروريې صله ده،اي ماكان في الارض﴿مِن شَجَرَةٍ﴾"من"بيانيه دي د"ما"بيان کوی،اوجارمجرورحال جوړ کيږي،دَ "ما"نه،يادَ "في الاض"دَ متعلق ضميرنه، ﴿أَقْلَٰمٌ﴾خبردې دَ"ان" ﴿وَٱلْبَحْرُ﴾ واؤحاليه دې ياعاطفه دې،البحر مبتدادې، "يمده سبعة ابحر"جمله فعليه ورله خبردې،"سبعة" کښ عدد مقصود ندې بلکه تکثير مقصود دې

فائده۱:ظاهري اعتبارسره آيت تقدير داسې پکار وؤ، البحر مداديمده يعنى دا درياب ورله سياهى وې او دې ختمدونه ورستو بيا نو ردريابونه ورله سياهى جوړه شي ليکن براه راست "يمده"راوړلو سره يوخو مختصر الفاظو کښ دواړه معنى حاصلې شوې،ځکه چې "يمده" معنى ده:بل هم سياهي والا اوګرځوي اوخپله ورله هم سياهي جوړه شي،او بل دَ "مد" منظر کشي طرف ته هم اشاره اوشوه،چې اول بحر بمنزله دَ هغه دوات شي چې پکښ سياهى وې،اوپه هغې سره ليکل شروع کړې شى،کله چې هم سياهى کميږي يا ختميږي نودنورونه ورته اچولې کيږي،

فائده۲:"شجرة"مفرد ذکر شو،او "اقلام"جمع ،دې کښ نکته داده چې "شجرة"کښ تعميم مقصود دې اوهغه مفردذکر کولو سره خه حاصليږي،ځکه چې دې معنى ده : کل شجرة شجرةيعنى هره يوه يوه ونه پريکړې شي، او ﴿أَقْلَٰمٌ﴾کښ تکثير مقصود دې او هغه په جمع سره حاصليږي نوځکه صيغه دَ جمع ذکر شوه،معنى به داسې شي:بيا دهري ونې نه ډير شي قلمونه جوړ کړيشى.

فائده۳:دلته "لو"په آيت کښ راغليدې او" لو"باره کښ دوه مشهورې قاعدې دى،(۱)"لو"کلام مثبت منفى اوکلام منفى مثبت ګرځوى.(۲)دې صورت کښ دا دکلام اوله حصه (شرط) سبب ګرځوى لپاره دَ دويمې حصې(جواب شرط)نو دلته چې کله اولې قاعدې مطابق کلام اوله حصه "انما في الارض.."منفى اوګرځي او دويمه حصه "مانفدت کلمات الله"مثبت اوګرځي،او چې دويمه قاعده ورسره ميلا وکړيشى نو معنى به داشى: "لولم يكن مافي الارض من شجرة...لنفدت کلمات الله"يعنى کچرته ونې قلمونه اودريابونه سياهى نشى نودَ الله کلمات به ختم شى،حالانکه دادآيت مطلب بالکل نه دې.دَدې اشکال ډير جوابونه کړې

شویدی دلته صرف یو جواب دَ قرافی رحمه الله ذکرکیږی، هغه فرمائی چه "لو" څنګه دَ سببیت دَ پاره راځی دهغه شان قطع سببیت دَپاره هم راځی او دا هغه وخت کله چې دَ یوکلام نه سببیت مفهوم کیږي او ته دَ هغې ردکول غواړی اودې صورت کښې بیا مثبت منفی او منفی مثبت هم نه ګرځی، لکه یوسړې زیدباره کښې اوائې "لو لم یکن زید عالما لما اکرمه خالد" که زید عالم نوې نو خالد به یې اکرام نوې کړې، یعنی دَ زید اکرام سبب علم دې، اوس ته دَ دې سببیت ردکول غواړې او اوائې "لولم یکن زید عالما لاکرمه خالد" که زید عالم نوې نو بیا به هم خالد دده اکرام کولو، یعنی صرف علم دَ اکرام سبب ندې، بلکه دَهغه نورصفات اوکمالات هم شته چې هغې دَوجهی نه یې اکرام اوشی، نو دلته "لو" په دویمه جمله کښې دَقطع سببیت دپاره راغلې دې، چې دَزید اکرام سبب علم نه دې، نودې وجهی نه به منفی جمله به په ثبات کښې او مثبت جمله به په نفی کښې نه بدلیږی دهغه روایت کښې راځې "نعم العبد صهیب لولم یخف الله لم یعصه" دې مطلب دا نه دې چه کچرته دَ الله تعالی خوف پکښې وې نو بیا به یې دَ معصیت ارتکاب کولې، بلکه مطلب یې دادې که کچرته خوف خدا نوې نو بیا به ئې هم نافرمانې نه کولې دَخپل پاک طینتې اوحیاءدوجهې نه، اوکله چې ورسره خوف خدا هم شامل وی نو بیا خوف په طریق اولی نه کوی، نو دلته په آیت کښې هم "لو" دَ قطع سببیت لپاره راغلیدې، مثبت منفی او منفی مثبت نه ګرځوی مطلب به دآیت داسی شی کچرته ونې په ځمکه کښې قلمونه شی او دریابونه سیاهی جوړه شی نو بیا به هم کلمات دَ الله تعالی ختم نشې.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ تعلیل دې دَماقبل، ﴿مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ﴾ داتخویف اُخروي دې، منکرینودَقیامت ته، چې ستاسوټولواول ځل پیداکول اودَمرګ نه ورستوبیاپیداکول الله ﷻ ته داسې آسان دی لکه دیوکس پیداکول اودَمرګ نه ورستوراژوندې کول، نوخامخا به الله ﷻ تاسوټول راژوندې کړي. ﴿إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ تعلیل دې دَماقبل، چې لکه څرنګه الله ﷻ ته دیوآوازآوریدل اوپه یووخت کښې ډیرآوازونه اوریدل یوشان دی، او په یو وخت کښې ورته یوځیز لیدل او ډیرځیزونو لیدل یوشان دی هم داسې ورته دټولومخلوقاتوپیداکول دیوکس پیداکولوپه شان دی.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَسَخَّرَ
آیا نه ګورې چه الله داخله وي شپه په ورځ کښ اوداخله وي ورځ په شپه کښ اومسخرکړې نی دی
الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۲۹
نُوراوسپوږمۍ.هريوچليږي تريوې نيټې مقررې پورې اوبيشکه الله په هغه عملونوچه تاسوئی کوئ ښه خبردي.
ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ
داپه سبب دَدې چې بيشکه الله صرف هغه معبودبرحق دې اوبيشکه هغه معبودان چه دوئ ئې عبادت کوی ماسوی دَالله نه
الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ۳۰ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِيْ
باطل دی، اوبيشکه الله هم هغه ډير برتر او ډير لوئې دې آيا نه ګورې چه بيړۍ چليږي
فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ مِّنْ اٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ
په درياب کښ په فضل دَالله سره چه اوښائی الله ﷻ تاسوته دَدلائلو دَوحدانيت خپل نه، بيشکه په دی کښ خامخادلائل دی
لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۳۱ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰهَ
لپاره دَهرصبرکونکی شکرکونکی.اوکله چه پټ کړی دوئ چپې په شان دَوريځو،سوال کوی دوئې الله ته
مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ
حال دا وي چې خالص کونکی وي الله ته عبادت،نوچه کله ورته نجات ورکړی الله اوچې ته نوبعضِ دَدوئ نه
مُّقْتَصِدٌ ؕ وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ۳۲
په سمه لار تلونکی وی اونکوی انکاردَآياتونو زمونږمګرهرټګی کونکې ناشکره.

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ﴾ داشپږم عقلي دليل دې په توحيد،چې دَدې ټولوکائناتونظام تصرف،دَالله ﷻ په اختيارکښ دې،نورسپوږمۍ ستاسوپه خدمت کښ هغه لګولي دی،نودَهغه نه ماسوی بل معبودنشته دې،﴿كُلٌّ يَجْرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾دَمقرروخت نه

مراد یاوخت دَفنادَعالم دي چې ترهغه وخت پورې د نور سپوږمۍ نظام روان وی بیا به ختم شی،اویاورنه دنور اوسپوږمۍ دمدار متعین منزل مراددې چې هلته پورې اورسی نو ددوی سفر پوره شی یاترینه دَدوی یومیه منزل مراد دې چې په هغې سره ورځ اوشپه راځي،اویاترینه دَ نور سالانه منزل اودَسپوږمۍ ماهانه منزل مراد دې،چې په دې سره کالونه اومیاشتې بدلیږی،دیومیه منزل ذکر حدیث کښ هم راغلې دې چې حضورﷺ ابوذرؓته اوفرمائیل آیاتاته پته چې دانُورَچرته غروب کیږي.ابوذرؓ عرض اوکړو .الله ورسوله اعلم،حضورﷺ اوفرمائیل:دَده آخري منزل عرشِ الهي دې،دَسجدې کولونه ورستوبیادَطلوع اجازت طلب کوی،یووخت به راشي چې اجازت به میلاؤ نشی او ورته به اوونیل شي"ارجعي مِن حيث جئتِ"چې دَ کوم ځائ نه راغلې یې هلته واپس شه .نونُوربه دَمغرب نه طلوع شي،اودابه علامه وي دَقربِ قیامت(بخاري،مسلم).

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ ﴾داشمره ده دَدلائلومذکورؤ.﴿ذَٰلِكَ﴾اشاره ده بیان دَدلائلوته،یعنی دادلائل دَدې لپاره ذکرشول چې تاسویقین اوکړئ چې صرف اللهﷻ هم هغه معبودبرحق دې،نه هغه سره څوک صفات کښ شریک نشته او نه هغه سره څوک ذات کښ شریک شته اودَاللهﷻ نه ماسِویٰ مشرکان چې دَځومره معبودانوعبادت کوی هغه باطل دی حق ندی.

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِى ﴾داووم(۷)دلیل عقلي دې په توحید،چې په دریابونوکښ لوئ لوئ جهازونه،بیړئ صحیح سلامت دَاللهﷻ په قدرتِ کامله سره ګرځي راګرځي،دی کښ دَهرصابرشاکرلپاره دَاللهﷻ دَوحدانیت ښکاره نخې دی.﴿بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ ﴾ "با"دپاره سبب ده اومراددَنعمت نه فضل اواحسان دَاللهﷻ دې،چې اسباب دَچلیدوئ ورله پیداکړیدې،لکه چې نن صباپه پټرولو،ډیزلو چلیږي،او یا"باء"دَپاره مصاحبت اوملابست ده اومراد دَنعمت نه اسباب دژوند لکه خوراک وغیره دی.﴿لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَٰتِهِۦٓ﴾"من" تبعیضیه دې،یعي بعضِ دلائل دَالوهیت درته اوښائي،﴿صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾مراد ورنه مؤمن دې.دریابې سفر چونکه خطرې اوسلامتې بین بین کښ وی دَ مشکل اوخطرې حالت کښ صبر اوخطرې نه بچ وتلوصورت کښ دَ الله تعالی شکر دَ بنده مؤمن شعاروي نو ځکه المؤمن به ځائ صبار شکور ذکر شو.

﴿وَاِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ ﴾دازجردي مشركانوته،چې كله دوئ دَدرياب په موجونوكښې راګيرشي اودَخپلومعبودانودَمددنه نااُميده شي نوبياالله ﷻ ته آوازونه شروع كړي﴿مَّوْج ﴾ اسم جنس دې،تنوين دپاره دَ تكثيراوتعظيم دې ﴿كَالظُّلَلِ﴾جمع دَ"ظلة"ده اومراد ترينه غټې سورې دې چې طول وعرضَ كښې خوروى لكه دَ وريځې سورې يا دغرونوسورې شو،اوقتاده رحمه الله ئې تفسير په وريځوسره كړې دې ،يعنى دوريځو سورى يا ټكرو په شان غټې غټې چې پرې راواوړى نوبيا ورته مونږ يادشو.﴿فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ﴾دَقصدنه مشتق دې،استقامة الطريق ته وائى،يعنى په سمې لارې تلونكى وي،مرادورنه توحيددې،يعنى چې كله ورته الله ﷻ نجات وركړي نوبعضِ په توحيدباندې مقيم پاتې شي،ليكن بعضِ بياهم خپله زړه سركشې اوشرك شروع كړي،يا﴿مُّقْتَصِد﴾دَاقتصادنه دې،توسط اواعتدال ته وائى،يعنى ډيركم كسان داسې وي چې دَاعتدال اوتوسط په لاره قائم پاتې كيږي،ابن عباس رضي الله عنه دَ﴿مُّقْتَصِد﴾تفسيرپه"موف عهده"سره كوى،يعنى دَدرياب په طوفاني چپوكښې ئې چې الله ﷻ سره كوم عهدكړې وي هغه پوره كونكې وي،لكه حضرت عكرمه رضي الله عنه دَفتح مكې په وخت كښې اوتختيدلودرياب كښې بيړئ كښې سورشونوسخت طوفان راغې،خلقوخپلومعبودانوته اوازونه شروع كړل بيړئ والوْاووئيل صرف دَالله ﷻ نه اوغواړئ چې نجات دركړي نورمعبودان باطله هيڅ نشى كولې،عكرمه اووئيل چې زمونږمعبودان په درياب كښې فائده نشى راكولې نوپه اوچه كښې هم نشى راكولې،بيائى دَالله ﷻ سره عهداوكړوچې ياالله كچرته تاماته نجات راكړونوځه به دَحضورپاك ﷺ په لاس ايمان راوړم،نوبياراغې اسلام ئې راوړلو(روح المعاني)﴿خَتَّار ﴾ دَختر"نه دې،غدار،عهدخلاف كونكې،مقابل دې دَ﴿صَبَّار﴾،او﴿كَفُور ﴾مقابل دې دَ﴿شَكُور﴾.

يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ
اې خلقو!اوويريږئ دَخپل رب نه اوويريږئ دَداسې ورځې دَعذاب نه چه نه به پكار راځې پلاردَخوې خپل

وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَّالِدِهٖ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ
اونه څوي هغه پکار راتلونکي دي د خپل پلار د څه،بیشکه وعده د الله حقه ده نو دهوکه دي نکړي تاسو
الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ٭ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ۝ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ
ژوندد دنيا،او دهوکه دي نکړي تاسو په باره د الله کښې دهوکه باز،بیشکه الله سره دي علم «د راتلو د قيامت»
وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ؕ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ؕ
او نازلوی باران،او علم دي ورته د هغې چه په رحمونو «د میاندو» کښې دی او نه پوهیږي هيڅ څوك چه څه كار به كوی دې صبا،
وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌۢ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ۝
او نشته پته هيڅ چاته چې په کومه زمکه به دې مری بیشکه الله «پدې تولو خبرو» بنه عالم دي بنه خبردي

﴿يٰاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ﴾ دا تخويف اخروي دي،چې اې خلقو د خپل رب نه د هغه ورځې يعنې قيامت باره کښې اوويريږئ چې په هغه ورځ به څوك هم چاته څه فائده نشي وركولې حتّٰى كه چې پلار به څوي ته اوځوي به پلارته څه فائده نشي وركولې،دا وعده د الله ﷻ حقه ده،نو د دنيا او د شيطان په دهوكه كښې مه راځئ،د غې ورځې لپاره تياری اوكړئ.﴿لَّا يَجْزِىْ وَالِدٌ عَنْ وَّلَدِهٖ﴾ دا هغه صورت كښې چې يو مؤمن او بل كافروي،كه دواړه مؤمنان وي نو يو بل ته به نفع په صورت د شفاعت كښې وركولې شي «معارف القرآن»

﴿فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ د نيا د هوكه داده چې د دې په لذاتو كښې سرې مشغول شي نيك اعمال ورنه پاتې شي، ﴿الْغَرُوْرُ﴾ يعنى شيطان او د شيطان دهوكه داده چې سرى ته گناهونه مزيّن كړي،د توبې او مغفرت اميدورته وركړي بعض وائي ﴿الْغَرُوْرُ﴾ هر هغه شئ دي چې انسان دهوكه كوى كه مال وي،جاه وي،شهوت وي ياشيطان .

﴿إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ﴾ دااتم دليلِ عقلي دې په توحيد، دېکښې مقصود نفي دَشرك فی العلم ده. دی آيت شريفه کښې چې دکوم پنځه امورو بيان شويدې دېته مفاتيح الغيب وئيلی کيږي يعنی دغيب خزانې، چې دَالله ﷻ نه ماسوئ بل هيڅ چاته ئې علم نشته دې، نه نبي ته نه مقربې فرشتې ته، په حديث شريف کښې دی "مفاتح الغيب خمسٌ لايعلمها الا الله"(بخاري) يعنی دغيب خزانې پنځه دی الله ﷻ نه ماسوئ ئې بل چاته علم نشته دې. بيا حضور ﷺ داپنځه امور او شمارل

که څوك اشکال اوکړي چې تمام غيوب خو صرف پدې پنځو امورو کښې منحصر ندی نو صرف دېته مفاتح الغيب ولې اووئيل شول؟ جواب(۱) دادې چې مغيبات پدې پنځو کښې منحصر ندی خو تخصيص دَدې پنځو ځکه اوشو چې حضور ﷺ نه چادَدې پنځو باره کښې سوال کړې وُنو شانِ نزول کښې تخصيص پوجه ئې تخصيص اوشو، يو کس حضور ﷺ خواته راغې سوال ئې اوکړو چې "يامحمّد متیٰ قيام الساعة" يعنی قيامت به کله قائميږي او زمونږ زمکې شاړې شويدی کله به زرغونيږي (يعنی باران به کله کيږي چې زمکې شنې شي) او ښځه حامله ده څوك به ورنه پيداکيږي او صبا به څه څه کوم اوځه به کوم ځائ کښې مرکيږم، نو داآيت نازل شو (روح المعاني) حضرت شبير احمد عثمانی رحمه الله تعالی دلته په علم غيب باندې ډير عمده بحث کړيدې، فرمائې چې مغيبات په دوه قسمه دی(۱) تشريعيه(۲) تکوينيه، تشريعه نه مراد احکام شريعت دی او تکوينيه نه مراد حوادث او واقعات دَ زمانې دی. مغيبات تکوينيه بيا په دوه قسمه دی، (۱) مکانيه(۲) زمانيه او زمانيه بيا په درې قسمه دی(۱) زمانه ماضی(۲) حال(۳) استقبال نو دااټول پنځه قسمه شول(۱) مغيبات تشريعيه(۲) مغيبات تکوينيه مکانيه(۳) مغيبات تکوينيه زمانه ماضی(۴) تکوينيه زمانه حال(۵) تکوينيه زمانه استقبال ديکښې دَ اول علم غيب الله تعالی خپلو پيغمبرانو له ورکړې دې، لکه سورت الجن کښې دې عالم الغيب فلايظهر علی غيبه احدا الامن ارتضی من رسول او دينه علاوه څلورقسمونو علم کلی صرف دَ الله تعالی خاصه ده، البته جزوي علم خپلو بندګانو کښې چاته اوغواړی نو هغه ته عطاء کړی. او آيت کښې مذکور پنځه مثالونو کښې څلوروانو اعوطرف ته اشاره ده. ﴿وَيُنَزِّلُ ٱلۡغَيۡثَ﴾ کښې ماضی استمراری مغيباتو ته اشاره ده، ﴿وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِ﴾ کښې حاليه زمانيه

ږمغيباتوته،اوپه ﴿وَمَا تَدۡرِي نَفۡسٞ مَّاذَا تَكۡسِبُ﴾كښ استقبالى مغيباتوته اشاره ده او ﴿بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُ﴾كښ مكانى مغيباتوته اشاره ده. دَحضرت عثمانىرحمه الله دَمذكوره تشريح نه دَدې اعتراضاتوجوابونه اوشول چې حضورﷺ بعضوموا قعوكښ پشنګوئ كړيده بياهغه صحيح ثابته شويده،لكه جنګ بدرنه يوه ورځ قبل حضورﷺ خبروركړې ووچې دَمشركانوفلانې فلانې مشربه صبا قتل كيږي اولكيرى ئې راخكلي اودَهغوئ قتل ځايونه ئې هم متعين كړل،ابن مسعودﷺ قسم سره وائى چې دابالكل صحيح ثابته شوه.دغه شان دَحضرت حسينﷺدَپيدا كيدلو اطلاع حضورﷺ اوّل نه كړې وه.نوجواب اوشوچې دَمغيباتو علم كلي اللهﷻ چاته ندې وركړې البته بعضوجزئياتوعلم بطورمعجزه حضورﷺته وركړې شويدې.

اوكه څوك په﴿وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡأَرۡحَامِۖ﴾باندې اعتراض اوكړي چې نن صباخوډاكټرانوته دَاول نه علم حاصل وي چې دانردې كه ښځه،نوتهانويرحمه الله جواب كړيدې چې مرادعلم بغيردَآلاتونه دې چې دَاللهﷻ علم ورباندې بغيردَآلاتونه وي،دغه شان علم كلى او تفصيلي ورنه مراددې چې دابچې نيك بخت دې كه بدبخت،ناقص البدن دې كه كامل،ښكلي دې كه بدصورت،عمرئې څومره دې،رزق ئې څومره دې وغيره چې داعلم صرف اللهﷻ ته دې،دغه شان دَموسمياتوماهرين دَباران خبروركوى ليكن دَآلاتواوعلاماتوپه ذريعه وركوى، اوامكاني خبروركوى قطعي خبرنه وركوى زمونږمشاهده ده چې ځنى وخت كښ دَهغوئ خبرصحيح ثابت نشى،نودې خبرته علم غيب نشى وئيلې ،والله اعلم.

تمت سورة اللقمان.

ركوعاتها (۳)	سورة السّجدة مكية	آياتها (۳۰)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم		

ترتيبها حسب التسلسل (۳۲) وحسب النزول (۷۵)

حسب التسلسل(۳۲)دي،حسب النزول(۷۵)دي، نزلت بعدالمؤمنون وقبل الطّور.

ربط اسمي: ماقبل سورت كښې دَ حضرت لقمان خپل ځوي ته نصيحت ذكر وۆ چه"يا بني لاتشرك بالله"او دې سورت كښې دَدې بيان دې چې ايمان والا چې كله دَالله تعالى آياتونه واوري نو اطاعت نه ورته په سجده اوغورځيګي.

ربط معنوي:ماقبل سورتونوكښې بيان دَتوحيدوۆ،نفي دَشرك فى البركة وه،دې سورت كښې به طورِترقي نفي دَشرك فى الشفاعة ده چه"مالكم مِن دونه من وّلي ولاشفيع.

خلاصه: اولني دوه آياتونوكښې تمهيدمع ترغيبْ دې،چې داقرآن دَربّ العالمين نازل كړې شوې كتاب دې،دَدې دعوه اومنئ چې نفي دَشرك ده،آيت(۳)شكوه اوجوابِ شكوه ده آيت(۴)اول دليل عقلي دې په نفي دَشرك فى الشفاعة باندې، ﴿مَا لَكُم مِّن دُونِهِ﴾دَسورة مقصودي دعوه ده چې دَاللهﷻ نه ماسِوىٰ بل څوك شفيع قهري نشته،آيت(۱۰)شكوه اوجواب شكوه ده،آيت(۱۱)زجردې مشركانوته اوتخويف اخروي دې،آيت(۱۲)مؤمنانوته بشارت دې،آيت(۲۳)نه دليل نقلي دې په دعوې دسورة آيت(۲۷)دويم دليل عقلي دې په دعوى دَسورة،آخركښې شكوه اوجواب شكوه ده (تمت).

فضائل(۱)حضورﷺبه دشپې تر هغه وخته پورې نه اوده كيدلوترڅوبه ئې چې داسورة اوسورة الملك نه وۆلوستلې(ترمذي وغيره).(۲)رواياتو كښې راځي چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم به دَ جمعې سحر مونځ اولني ركعت كښې اكثر داسورت تلاوت كولو.

الٓمّٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ② اَمْ يَقُوْلُوْنَ									
الٓم،نازليدل دَدي كتاب چه نشته شك پدي كښې دَطرفه دَرب العالمين نه دي،آياوائي مشركان									
افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ									
چه دي پيغمبردَخان نه جوړ كړيدي قرآن،بلكه داحق دي دَطرفه دَرب ستاچه اويره وې داسې قوم چه ندي راغلي دوئ ته									
مِّنْ	نَّذِيْرٍ	مِّنْ	قَبْلِكَ	لَعَلَّهُمْ	يَهْتَدُوْنَ ③				
هيڅ	يرونكې(پيغمبر)ستانه	مخكښې	كيديشي	دوئ	په	سمه	لاره	روان	شي

﴿الٓمّٓ ① تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ﴾داتمهيدمع ترغيب دي اتباع دَقرآن ته چې داقرآن بلاشكه دَالله ﷻ دَطرفه نازل دي،دَدي اِتباع اوكړئ﴿تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ﴾مبتدادي،﴿لَا رَيْبَ فِيْهِ﴾جمله معترضه ده براۍ تاكيد ،ياحال دي،او﴿مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾خبردي

﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ﴾داشكوه ده دكافرانونه چې وائي داقرآن دَالله ﷻ دَطرفه ندي نازل بلكه دي پيغمبر دَخان نه جوړ كړيدي،﴿بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ﴾جواب شكوه ده چې داقرآن دَخان نه نه دي جوړشوي بلكه داحق كتاب دي دَالله ﷻ دَطرفه نازل دي.﴿لِتُنْذِرَ قَوْمًا﴾دادَنزول دَقرآن مقصدذكركيږي چې پدي سره خلق دَالله ﷻ دَعذاب نه اويره وي،﴿نَّذِيْرٍ﴾ نه مراد نبي او رسول دي،او "قوما"نه مراد (١)ياهغه عرب قبائل دى چې هغوئ ته باكل نبي ندي راغلي،لكه قريش شو ،بلكه "عدنا نينو"تولو ته نبي او رسول ندي راغلي ،حضرت اسماعيل عليه السلام اگر چه دَ دوئ جد امجد دي،اوهغه رسول وو،خوهغه رسالت عمومي او دائمي نه وو،هغه نبوت صرف موجودينو او بنوجرهم پوري خاص وو،كماقال تعالى: وكان يأمر اهله بالصلوة او هغه وخت نه دقريش بحيثيت قوم وجود وو او نه دَ عدنا بينو اويا﴿مَّآ اَتٰىهُمْ﴾مطلب دادي چه:ما اتٰهم بعدالضلال،يعنى دوئ چه ملت ابراهيمى اواسماعيلى نه گمراه شونو هغې نه بعد دوئ ته

ستانه مخکښې بل نبی ندې راغلې،(۲) یاترینه مراد مطلقا عرب دي.او﴿قَبْلِكَ﴾نه مراد زمانه فترت ده،چې حضرت عیسی علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلم مابین زمانه کښې دوئ ته څوک نذیرندې راغلې،

دلته داخبره قابل ذکر ده چې بعض ملحدین او مستشرقین دې قسم آیتونه نه دَ دنبی صلی الله علیه وسلم رسالت تخصیص باندې استدلال کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دعربونبی وؤ،ټول عالم دَپاره نه دې رالیږلې شوې حالانکه دا سراسر جهالت دې دې آیت کښې صرف د یو باعث ذکر دې،چې چونکه دوئ ته څوک نذیر نوؤ راغلې نو الله تعالی ورته.ته اولیږلی او قرآن ئې درکړو،دینه حصر بالکل نه ثابتیږي.ځکه چې یو شې لپاره متعدد بواعث کیدې شي،مزیدداچې دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَرسالت عموم نوروډیروآیاتونونه واضح طورباندې ثابت شوي دې.

فائده:دې قسم آیاتونو دَ "وان من امة الا خلافیهانذیر"سره هیڅ تعارض نشته ،ځکه چې هلته نذیرنه مراد عام دې،نبی وي اوکه غیرنبی،اودغه شان ئې "ولقد بعثنا في کل امة رسولا(النحل)سره تعارض نشته ځکه چې (۱) دلته زمانه فترت کښې نفی مراد ده،(۲) یاقوم په بنسبت سره امت ته خاص دې او دلته َ قوم نه نفی ده چې خصوصیت سره دې قوم ته نذیر ندې راغلې،نودې سره دَامت نه نفی نه لازمیږي.لهذا هیڅ تعارض نشته دې.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ
الله ﷻ هغه ذات دې چې پیداکړې ئې دې آسمانونه اوزمکه اوڅه چې په مینځ دَدې دواړوکښې دي په مقداردَشپږو ورځوکښې
ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ④
بیاتې استوا اوکړه په عرش.نشته دې تاسولره ماسوئ دَالله ﷻ نه هیڅ کارساز اونه شفاعت کونکې،آیاتاسونصیحت نه اخلئ
یُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ ثُمَّ یَعْرُجُ اِلَیْهِ فِیْ یَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗٓ
تدبیرکوی الله ﷻ دَهرکاردَاسمان نه زمکې ته بیاخیژي الله ﷻ ته په داسې ورځ کښې چې دې مقداردَهغې
اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ⑤ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ⑥
زرکاله دهغې مودې نه چه تاسوئې شمارئ.هم دغه الله ﷻ عالم دې په هرپټ اوښکاره غالب دې رحم کونکې دې

الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۞
هغه الله ﷻ چه ښائسته ئې پيداكړيدې هرڅيزچه پيداكړي ئې دې اوشروع ئې كړيده دپيداكولودانسان دخټې نه
ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۞ ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ
بيائي ګرځولې دې نسل دانسان دخلاصې داوبوحقيرونه،نطفې نه،بيائې برابركړې دې اوپوكړې ئې دې ده كښې
مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۞
دروح خپل نه اودركړې ئې دې تاسوته غوږونه اوسترګې اوزړونه.ډيركم تاسوشكركوئ

﴿اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾دااول دليل عقلي دې په توحيد،چې الله ﷻ تن تنهادآسمانونو اودزمكې اودټولومخلوقاتوخالق دې،دټول نظام تدبيريعني اختياردهغه په قبضه كښې دې، ﴿ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾يعنى لكه څرنګه چې دزمكى اواسمانونوخالق تن تنها الله دې،نو دهٔ شان ئې ددې كائناتونظام لپاره ئې استوا على العرش كړيده كائناتوكښې هرڅه پخپله خوښه كوى باقى ددې تفسيرپه سورة الاعراف آيت (۵۴)جلد دويم صفحه(۵۴۲)وغيره كښې تيرشويدې هلته ئې اوګورئ.﴿مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ﴾دادسورة مقصودې دعوه ده،چې دالله ﷻ نه ماسوئ ستاسولپاره بل څوك كارسازاوحاجت روانشته دې،اونه دهغه په نيزڅوك شفيع قهرې شته دې، ﴿يُدَبِّرُ الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ﴾يعني دټول عالم نظام تدبيراودكائناتونظم ونسق دهغه په اختياركښې دې،دآسمان نه زمكې ته خپل احكام نازلوي ،قيامت كښې به دهرامررجوع الله ﷻ ته كيږي،امورتشريعه بې دفيصلې لپاره دالله ﷻ حضورته پيش كيږي تدبير امرنيولې كيږي چې يوكار عاقبت مدنظر اوساتلې شي او هغه په څه محكمې طريقې اومهارت سره وجودته رواستلې شي،دلته ترينه مراد دټول كائنات نظم ونسق اوهغې چلولو دپاره احكامات دى﴿مِنَ السَّمَآءِ اِلَى الْاَرْضِ﴾من ابتداءغايت او الىٰ انتهاءغايت دپاره دې ،يعنى آسمان نه واخله ترځمكې پورې دټول كائنات نظم ونسق هغه په لاس كښې دې او ډير محكم انداز سره يې چلوى. ﴿ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ﴾ددې په تفسير كښې د مفسرينو ډيراقوال

دی(۱)ځني مفسرین وائي: یعرج الیه معنی یصیر الیه ،او یرجع الیه ده،اوعروج فعل دلته تشریفا رواړلې شویدې او ضمیر په یعرج کښې "الامر"ته راجع دې او "الیه"کښې الله تعالی ته راجع دې،او "فی یوم"نه مراد قیامت ورځ ده.یعنی بیادَ قیامت په ورځ به دَ کائناتو ټول نظام فناشي،اوځومره ظاهر ي اومجازي اسباب په کائنات کښې دَ نظام چلولودی هغه به ټول ختم شي او هر څه به الله تعالی ته او سپارلې شي او هغه ته به پیش شي کمافي قوله تعالی:الا الی الله تصیر الامور (الشوری) والی الله ترجع الامور (التحریروالتنویر) (۲)بعضو مفسرینو دَ یعرج الیه معنی "یثبت في علمه" کړیده،یعنی الله تعالی یوه فیصله اوکړي اودَ هغې تنفیذ او وقوع مدت انسانو شمارمطابق زرکاله بعد وي،مګر الله تعالی په نیز دابالکل حاضروي.اوداسې وې لکه یوه ورځ،دَهغه شان مضمون سورت الحج آیت (۴۷) کښې هم بیان شویدې ویستعجلونك بالعذاب ولن یخلف الله وعده،وان یوما عند ربك کالف سنة مماتعدون‌یعنی چې کله انبیاءکافران دَ الله تعالی عذاب نه اویره وي،نودوئ وریورې مسخرې کوي چې دومره مده تیره شوه.چرته دې دَ الله تعالی عذاب،نوالله تعالی ورته افرمائیل،چې هغه مدت چې مامقررکړیدې.تاسو شمارمطابق به ډیر لرې وي،زرکاله به وي،پنځوس زره کاله به وي،اودابه تاسو اعتبار سره ډیروي،مګر الله تعالی ته دا داسې دې لکه یوې ورځې مدت.خلاصه دَ مطلب دَ آیت داده چې انسانانو علم مطابق ډیر ورستو راتلونکې امورالله تعالی ته بالفعل حاضراو معلوم وي(ابوالسعود)

(۳)اوځنې مفسرینوعروج‌خپله معنی کښې اخستې دې،او آیت مطلب دابیانوي چې الله تعالی یو حکم صادر کړي نوفرشتوته دَ تنفیذ دَ پاره اوسپاري،هغه فرشته ځمکې ته کوزی شي.اودَ حکم تنفیذ اوکړي اوبیا واپس آسمان ته رااوخیژي او الله تعالی ته،باجود دَ علم نه،دهغې خبرورکړي،داسفر چې هغه فرشته په یوه ورځ کښې کوي،کچرته انسانانو رفتار اعتبار اوکړې شي نو زر ،پنځوس زره کاله پری لګی.

فائده:دلته په آیت کښې دَ ورځې مقدار زر کاله بیان شویدې،اوپه سورت المعارج کښې پنځوس زره کاله ،نودَدې تناقض جوابونه هلته ذکر شویدې،هلته ئې اوګورئ

﴿ذَٰلِكَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ﴾یعني دَداسي اعلی اوعظیم الشان انتظام اوتدبیربرابره ول دَهغه ذات کاردي چې په هریوپټ اوښکاره باندې علیم خبیردې خبر اول دې، العزیز خبرثاني دې غالب دې په هرڅه، هره فیصله اوحکم یې رحم باندې مبني دې، ﴿ٱلرَّحِيمُ﴾خبرثالث دې،

﴿ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ﴾خبررابع دې دَ"ذلک" احسن یا خپله حقیقي معنی کښ استعمال دې، یعنی هر شې له یې حسم ورکړې دې اوخائسته یې پیدا کړیدې، اګرچه خائست خائست کښ فرق شته، خونفس حسن کښ ټول مشترک دی، هر شې کښ څه نه څه فائده او مصلحت شته، یا احسن په معنی دَ "اتقن"کښ دې، اتقان مکمل مهارت اوکمال سره یوکار کولوته وائي، یعنی ډیر محکم اومضبوط انداز سره یې تخلیق ئې کړیدې، یا "احسن"په معنی دَ "الهم" دې، یعنی اشیاؤ تخلیق هم اوکړو او بیا ورته دَ ضرویاتو الهام هم اوکړو، کما في قوله تعالی: اعطی کل شيء وخلقه ثم هدی(طه)

﴿وَبَدَأَ خَلْقَ ٱلْإِنسَٰنِ﴾ جنس انسان مراد دې چې ابتدا ئې دآدم علیه السلام نه شویده

﴿ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٍ﴾یعني دَانسان(آدم)نسل ئې دَمني دَقطرې نه خورکړیدې چې داحقیري اوبه دي، او "سلالة"دَ سلَّ یَسِلُّ سلاًنه مشتق دې، "سل"وتلو او جداکیدلو ته وائي، او سُلالة هغې خالص ذراتوته وائي چې په چهاڼ سره اوځي او جداشي، اودَې مناسبه معنی خلاصه ده، او دَ انسان مني هم چونکه دَ مختلفو غذاګانو خلاصه او نچوړدې، دې وجهې دیته هم سلالةویلې کیږي. ﴿ثُمَّ سَوَّىٰهُ﴾یعني دَانسان اعضاء ئې دَموربه رَحم کښ برابرکړل، ﴿وَنَفَخَ فِيهِ مِن رُّوحِهِۦ﴾ بیا یې پکښ روح واچولو اضافت دَروح، الله ﷻ ته یاتشریفي دې، لکه بیت الله، یاتملیکي دې، یعني هغه روح ئې پکښ واچولو چې دَالله ﷻ په ملك کښ دې، ﴿وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ﴾یعني ذآوریدلو اولیدلو اوپوهیدلو قوتونه ئې انسان ته ورکړل دَدې دَ پاره چې تاسودَالله ﷻ شکر اداکړئ، اودَغه نعمتونوشکرداوؤچې په سترګوباندې مو دَالله ﷻ تکویني آیتونه په غورسره لیدلي وې، په غوږومودَالله ﷻ تنزیلي آیتونه آوریدلې

وې اوپه زړونوموفكراوغوركړې وې،اوتوحيدمومنلې وۍ،ليكن تاسو ډيركم شكركونكي يئ.

وَقَالُوۤا ءَاِذَا ضَلَلۡنَا فِی الۡاَرۡضِ ءَاِنَّا لَفِیۡ خَلۡقٍ جَدِیۡدٍ ؕ بَلۡ هُمۡ

وائي كافران چه آياكله ورك شو مونږپه زمكه كښ،آيا يقينا به مونږ راپورته كولې كيږو په نوي پيداكولو سره .بلكه دوی

بِلِقَآئِ رَبِّهِمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝ قُلۡ یَتَوَفّٰىكُمۡ مَّلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِیۡ وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ

په ملاقات دَرب خپل انكاركونكي دی، ته اووايه‌روح به اخلې ستاسو فرشته دَمرګ هغه چه مقررده په تاسوبيابه

اِلٰی رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ۝١١ وَلَوۡ تَرٰۤی اِذِ الۡمُجۡرِمُوۡنَ نَاكِسُوۡا رُءُوۡسِهِمۡ

تاسوخپل رب ته واپس كيږئ.اوكچرته اووينې ته هغه حالت چې كله مجرمانوخكته كړی وی سرونه خپل

عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ رَبَّنَاۤ اَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَارۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ صَالِحًا

دَخپل رب خواته،وائي به ای ربه زمونږ اوليدل مونږاوواوريدل مونږنو واپس كړه مونږدنياته چه عمل اوكړومونږنيك

اِنَّا مُوۡقِنُوۡنَ ۝ وَلَوۡ شِئۡنَا لَاٰتَیۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدٰىهَا

بيشكه مونږيقين كونكي يو،اوكه غوښتلې وې مونږ (په زوره مسلمانول) نوور كړی به موږه هركس ته سمه لاردَ هغه

وَلٰكِنۡ حَقَّ الۡقَوۡلُ مِنِّیۡ لَاَمۡلَـَٔنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الۡجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجۡمَعِیۡنَ ۝ فَذُوۡقُوۡا

ليكن ثابته شويده فيصله زمادَطرفه چه خامخابه ډكوم ځه جهنم دَپيريانواوانسانانودواړونه،پس اوڅكئ عذاب

بِمَا نَسِیۡتُمۡ لِقَآءَ یَوۡمِكُمۡ هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِیۡنٰكُمۡ وَذُوۡقُوۡا

په سبب دَدې چې هيركړې وۀتاسوملاقات دَورځې ستاسوچې داده،بيشكه مونږهم تاسوهيركړئ اوڅكئ

عَذَابَ الۡخُلۡدِ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ۝

عذاب دَهميشه والي په سبب دَهغې عملونوچې تاسوكول

﴿وَقَالُوۤا أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِی ٱلۡأَرۡضِ﴾داشكوه ده،دَمشركانونه په انكاردَبعث بعد الموت باندې چې دوئ وائي چې ايامونږچې دَمرګ نه ورستوپه زمكه كښ غائب شودَبدن اجزاء مودَخاورو سره

خاوري شي نوآيادوباره به بياپيدا کيږو؟﴿أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴾أي لمبعوثون في خلق جديد همزه دَاستفهام لپاره دَتاکيدده،دَاولنی همزه استفهام چې په إذا ضللناکښ ده ﴿بَلْ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ ﴾يعنی دوئ صرف تعجب نکوي بلکه انکار ئې هم کوی،يادوئ ترددااوتعجب څه دليل په بنياد ندي،ځکه چې په بعث بعدالموت باندې واضح دلائل قائم دي،بلکه صرف عناد او انکار کوي.

﴿قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم ﴾دا جواب شکوه ده،چې ضروربه تاسودوباره پورته کيږئ،اودَالله تعالی مخې ته به موپيشی کيږی،اودامرګ په مينځ کښ دَهغې ملاقات صرف واسطه اوتهميددې،دَمرګ مطلب داندې چې تاسوبالکل معدوم اوفناشولئ،بيا به نه پورته کيږئ.

﴿مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى ﴾علامه ابن کثيرؒ وائی چې ظاهر دآيت نه داده چې ملك الموت يومعينه فرشته ده روح قبض کوي،په بعض آثاروکښ ورته عزرائيل وئيلي شويدي، قتادهؒ وائي چې دَده نوراعوان هم دي چې دَانسان نه بدن نه روح رااوباسي چې حلقوم ته اورسي نوملك الموت ئې قبض کړي،دَدې وجه نه په سورة النحل وغيره کښ"الذين تتوفاهم الملائکة" ذکرشويدي چې پدې دلالت کوي چې روح قبض کونکي فرشتې ډيرې دي، مجاهدؒ وائی چې ټوله زمکه ملك الموت ته راغونډه کړې شويده په شان دَلوخې،هغه چې دَچاروح قبض کول اوغواړي نوداسې په اسانئ سره قبض کړي لکه دَلوخې نه چې دانه رااخلي،يوروايت کښ دي چې حضورﷺ دَيوصحابي خواکښ ملك الموت اوليدلونوورته ئې اوفرمائيل:ياملك الموتِ ارفق بصاحبي فانه مؤمن،يعني څماصحابي سره نرمي اوکړه ځکه چې دې مؤمن دې،ملك الموت ورته اووئيل،تاسومطمئن شئ،څه دَهرمؤمن سره نرمي کوم،اواوئې وئيل چې څومره خلق دنياکښ ابادې،ټول څه په ورځ کښ پنځه ځلې ګورم،ټول څه پيژنم،اويامحمدﷺدَهرڅه دَاللهﷻ په حکم سره کوم ورنه څه پخپل اختيارسره دَيو ماشي روح هم نشم قبض کولې،ترڅوچې دَاللهﷻ امرنه وي شوې(ابن کثير).

﴿وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾داتخويف اخروي دې،﴿رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا ﴾مخکښ ورنه"يقولون"مقدر دې،يعني کافرانوبه دَقيامت په ورځ دَشرم اودَذلت پوجه سرونه ښکته کړي وی وائي به چې

اې الله اوس مونږ هرڅه پخپلو سترګو اوليدل، پخپلو غوږونو مووا اوريدل مونږ دنياته واپس اوليږه مونږ به نيك عمل كوؤ، اوس مونږ په حساب كتاب باندې پوره پوره يقين راغې.

﴿وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا﴾ رد دې دَدوئ دَخواهش، حاصل دادې چې كچرته مونږ دوئ دنياته واپس كړوا واجبارې ايمان ورباندې قبول كړونو دا زمونږ دَمقصد خلاف ده، ځكه كه مونږ غوښتلې جبرې طور دَخلقو مسلمانول نو ټول خلق به مومسلمانان كړې وؤ. اوكه ابتلاء لپاره ئې دنياته ليږلونو دوئ فطرت دادې چې دوئ به بيا دَشرك نه منع نشى كقوله تعالى: ولوردّوا لعادوا لما نهوا عنه (انعام:۲۸) ﴿هُدٰىهَا﴾ هدايت نه مراد دلته ايصال الى المطلوب دې ځكه چه اراءة الطريق درجى كښې هر انسان ته حاصل دې. ﴿مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ﴾ اجمعين دلته عموم انواع دپاره دې، عموم افراد دپاره ندې، يعنى مطلب دادې، دَانسانانو اوجناتو دواړونه به پكښې خامخا كسان وي. دا مطلب ندې چه ټولو انسانانو اوجناتو نه به جهنم ډكوم.

﴿وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّىْ﴾ بيان دَحكمت دې چې جبرى طور مونږ چاته هدايت نه كوؤ ځكه مونږ دا فيصله كړيده چې جهنم به هم ډكوؤ. ﴿فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ﴾ يعني په وخت دَدخول دَجهنم كښې به ورته خزنه دَجهنم اووائي چې اوڅكئ عذاب دَجهنم په سبب دَدې چې دَدې ورځې دَراتلونه تاسو انكاركولو چې حشرنشرنشته دې، ﴿اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ﴾ يعني مونږ هم تاسو په عذاب كښې داسې پريدولكه چې هيرشوى مويئ، دَنسيان په شان معامله درسره كوؤ. نسيان كنايه ده دَمحروم والي دَرحمت نه يعنى زمونږ دَرحمت نه محرومه يئ اواوس هميشه لپاره عذاب ته داخل شئ په سبب دَخپلو عملونو.

اِنَّمَا	يُؤْمِنُ	بِاٰيٰتِنَا	الَّذِيْنَ	اِذَا	ذُكِّرُوْا	بِهَا	خَرُّوْا سُجَّدًا

بيشكه ايمان راوړى په آياتونو زمونږ هغه كسان چې كله نصيحت ورته اوكړې شې پدى آياتونو. نوپريوځي په سجدې

وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۩ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ

اوپاكى بيانوى سره دَحمد دَرب خپل اودوئ تكبرنه كوي لرې وى ددې دَدوئ دَخوب دَځايونونه سوال كوى

رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۫ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝١٦ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ

خپل رب ته يرى سره طمع سره او دَهغې مال نه چې مونږ ورته ورکړيدې خرچ كوى پس نه دې معلوم هيڅ چاته هغه څه

اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝١٧ اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا

چې پټ ساتلې شويدې ورله چه يخوالې نى دَسترګو دې،بدله ده دَهغه عملونوچه دوئ كول آياهغه څوك چه مؤمن وي (كيديشى

كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ۭ لَا يَسْتَوٗنَ ۝١٨ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ

په شان دَهغه چاچه فاسق وي،ندى برابر.هغه كسان چه ايمان ئي راوړيدې اوعملونه ئي كړيدى نيك نودوئ لره

جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۡ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝١٩ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا

جنتونه دَاوسيدلودى،ميلمستياده په سبب دَهغه عملونوچه دوئ كول،اوهغه كسان چه فاسقان دى

فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا فِيْهَا

نواستونګه دَهغوئ اور(دَجهنم) دې،هركله چه اراده اوكړى دوئ چه اوځى دَهغى اورنه نوبيابه واپس كړيشى په هغې كښ

وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝٢٠ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ

اوورته به اووئيل شى اوڅكئ عذاب دَاورهغه عذاب چه تاسودَهغې تكذيب كولو،اوخامخاوبه څكوومونږدوئ ته

مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝٢١ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ

دَنزدې عذاب نه،مخكښ دَعذاب لوئ (دَاخرت) نه، كيديشي دوئ رجوع اوكړى الله ﷻ ته اوڅوك دې لوئ ظالم دَهغه چانه

ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ۭ اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ۝٢٢

چه نصيحت ورته اوكړې شي په آياتونو دَرب دَده بيااعراض اوكړى دې دَهغې نه،بيشكه مونږدَمجرمانونه بدله اخيستونكى يو.

﴿اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ﴾ داد كافرانومقابله كښ دَمؤمنانو صفات بيانيږي،چې كله مؤمنانوته زمونږآياتونه اولوستلي شي نودَدوئ په زړونوكښ دَالله ﷻ خوف پيداشي دَډيرخشيت اوتواضع نه سجدې كوى،په ژبه دَالله ﷻ تسبيح تحميدادا كوى دَهرقسم شريك نه ئې منزه ګڼړي اوپه زړونو كښ ئې دَالله ﷻ طاعت پروت دې تكبرنه كوې.

﴿تَتَجَافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ﴾ دیکښې هم دمؤمنانو صفات بیانیږي چې دوئ ټوله شپه خوب او غفلت کښې نوي پراته بلکه څه حصه عبادت هم کوي دالله تعالی رحمت امید او عذاب نه یره ساتي، او کوم مال چې ورله الله تعالی ورکړې دې، هغې نه الله تعالی په لار کښې خرچ کوي.

تتجافی جنوبهم نه مراد دتهجد مونځ دې، په ترمذي، نسائي، ابن ماجه وغیره کښې دي چې معاذبن جبل ﷺ وائي چې څه دحضور ﷺ سره په یوسفر کښې ووم، ماعرض اوکړو چې یارسول الله! ماته داسې عمل اوښایه چې جنّت ته مې داخل کړي، جهنم نه مي لرې کړي، حضور ﷺ اوفرمائیل تادیولوئ امرباره کښې تپوس اوکړوخو چې اللهﷻ یې چاته اسانه وي نو هغه ته اسان دې، دَاللهﷻ عبادت کوه شرك مکوه، مونځونو پابندي کوه. زکوٰة اداکوه، رمضان روژې نیسه، حج کوه، بیایې اوفرمائیل: آیاتاته دخیردروازې اونه ښایم؟ روژه ډال دې، صدقه ګناه معاف کوي او مونځ کول دنیمې شپې، بیائې داآیت ﴿تَتَجَافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ﴾ تلاوت کړو، بعض وائي دینه مرادهغه خلق دي چې ماښام اوماسخوتن مونځونو مینځ کښې نفلونه کوي، دینه علاوه نوراقوال هم دي (روح، قرطبي، إبن كثير).

﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّاۤ أُخْفِيَ﴾ دابشارت دې. یعني لکه څرنګه چه دوئ دشپو په تیارو کښې دخلقونه پټ بې ریاعبادت کوي ددې بدله کښې ورته اللهﷻ داسې نعمتونه تیارکړیدي چې دهغې کیفیت هیڅ چاته ندي معلوم نوداجزامن جنس العمل ده، ابوهریره ﷺ نه روایت دې چې اللهﷻ فرمائي: اعددتُ لعبادي الصّالحين مالاعينٌ رأت ولااُذنٌ سمعت ولاخطرعلى قلب بشر (بخاري) یعني مادخپلو نیکوبندګانو لپاره هغه نعمتونه تیارکړیدي چې نه سترګولیدلي دي نه غوږونوآوریدلي دي اونه دچاپه زړه کښې دهغې تصورراغلې دې.

﴿أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا﴾ ددواړو فریقینو صفاتوبیان نه ورستو دمراتبوبیان دې. یعني مؤمن اوفاسق برابرنشي کیدلې، که دواړه یوشانته شي نونعوذبالله ددې مطلب دادې چې دَاللهﷻ په دربارکښې توره تیاره ده، ددنیاوي بادشاهانو په شان.

﴿أَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ بشارت دې اوتفصیل دې دمراتبو دفریقینو چې مؤمنانوته به اللهﷻ دنیك عملونو په سبب جنت المأوی ورکوي، میلمنو په شان هرقسمه راحت به ورته میسروي، ﴿جَنّٰتُ

﴿ٱلۡمَأۡوَىٰ﴾يعني داستوګني جنتونه،ځکه چه استوګنی ځائی په حقيقت کښې جنت دې هلته انسان آرام اوراحت موندلې شي.دنياکښې که انسان هر څومره نعمتونو کښې وي خوداعارضي دی،آخر مرګ دې ﴿وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُواْ﴾تخويف دې فاسقانوته،چې فاسقان کافران به ټول عمرجهنم کښې اوسيږي.﴿كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ﴾يعنی کله چې دوئ بهروتلوته نيزدي شي نوبيابه ويخ دجهنم ته ورديکه کړی شي،روايت دې چې دجهنم لمبې به دوئ اووهي نوبره سرته به ئې رااورسوي،دروازوته به نيزدې شي نودوئ به دوتلواراده اوکړي نوبله لمبه به ئې اووهي ببخ ته به ئې اورسوي،هميشه به ورسره داسې کيږي(روح)اللّهم اجرنامن النّاربفضلك،

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَدۡنَىٰ﴾داتخويف دنيوي دې،الادنیدنُوّنه مشتق دې،نزدې ته ويلې کيږي،مراد ترينه دينوی عذاب دې، ﴿ٱلۡعَذَابِ ٱلۡأَكۡبَرِ﴾نه مراددقيامت عذاب دې،

فائده:دادنیمقابل اقصیاودَ اکبرمقابل اصغرراځي،دلته نه دَ ادنیتقابل دې د اقصیسره اونه دَ اکبرتقابل دې ادنیسره ،بلکه العذاب الادنیاوعذاب الاکبرذکردې،چونکه دلته مقصود کافرانو ته تخويف دنيوي اواخروی دواړه دی،نو دې تعبير سره يوطرف ته ضمنی طورباندې تقابل هم ثابت شو،او بل طرف ته تخويف په ابلغې طريقې سره حاصل شو،تقابل داسی راغې چې العذاب الادنینه مراد دنيا عذاب دې،اودامستلزم دې اصغرلره،ځکه چې دنيا عذاب څومره هم سخت وی خو په مرګ سره ختم شي.اواکبرمتضمن دې،اقصی معنې ته ځکه چې دابه آخرت کښې وي،اوتخويف په ابلغې طريقې سره داسې حاصل شوچې عذاب دنيوی ته الادنیلفظ استعمال شو،نو پديکښې تنبيه ده په دې خبرې چه دنيا عذاب اګر چې آخرت په مقابله کښې ډير کم دې،خوديته اوګورئ څومره نزدې دې اوآخرت عذاب دپاره الاکبرلفظ استعمال شو،چې دا اګرچې لرې دې ليکن دهغې شدت اندازه خواوکړئ چې څومره لوئ عذاب دې.

﴿لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ﴾يعني مونږورباندې دنيوي عذاب ددې لپاره راولوچې کيديشي دوئ اللهﷻ ته رجوع اوکړي دخپلوګناهونونه توبه اوباسي دعذاب قيامت نه بچ شي،﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ﴾دازجردې اوتخويف دې،هغه خلقوته چې قرآن آوري اودهغه په احکاماتوعمل نه

کوي،اعراض ورنه کوي،دده نه لوئ ظالم بل څوک نشته الله ﷻ به ورنه دقيامت په ورځ ضرورانتقام اخلي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآئِهٖ وَجَعَلْنٰهُ
اويقيناًورکړې وو مونږ موسى ﷺ ته کتاب نوته مه کيږه په شک کښې دميلاويدلو د دې کتاب نه اوګرځولې وو مونږهغه
هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۳﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ
لاره ښودنکې بني اسرائيلوته،اوګرځولي وو مونږ ددوئ نه(بني اسرائيلونه)امامان چه سمه لاره به ئې ښودله خلقوته
بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۲۴﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ
په حکم د زمونږ کله ئې چه صبراوکړو،اووودوئ په آياتونوزمونږ يقين کونکي.بې شکه رب ستاهغه به فيصله کوي
بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۲۵﴾
په مينځ ددوئ کښې په ورځ دقيامت په هغه څه کښې چه دوئ په هغې کښې اختلاف کولو.

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ﴾دادليل نقلي دې په توحيد،اوتسلي ده حضورﷺته،چې موسى عليه السلام د الله تعالى پيغمبروؤ،تورات ورته ميلاؤشوې وؤ،هغې کښې هم دغه مضمون وؤ چې الله تعالى نه ماسوابل څوک معبود اواله نشته،هغه ته پدې لار کښې تکليفونه ميلاؤ شوي وؤاو تکذيب يې شوي وؤ،خوبلآخر ورته غلبه حاصله شوه،نو دهغه شان ته هم د الله تعالى پيغمبر يې اوداقرآن بلاشک وريب د الله تعالى کتاب دې. ديکښې هم دهغه مضمون بيان دې،تاته هم پدې مضمون بيانولو تکليفونورسې اوتکذيب به دې کيږي خوبلآخر غلبه به دحق وي.

﴿مِّن لِّقَآئِهِۦ﴾(۱)ها ضمير راجع دې"الکتب"ته چې هلته ئې مصداق تورات دې خودلته دضمير په صورت کښې ئې مصداق قرآن مجيد دې،بطريق استخدام يعنى دا قرآن الله تعالى طرف نه تاته ميلاؤ شويدې،ديکښې هيڅ شک وشبه مه کوه،څنګه چه موسى عليه السلام ته تورات ميلاويدلو کښې شک وشبه نشته،ياهاضمير مصداق تورات دې،اوداجمله دماقبل تاکيدده،يعنى تورات الله تعالى موسى عليه السلام له ورکړې وؤ ديکښې هيڅ شک وشبه مه

کوه.(۲)بعضو "ها" ضمیر تکذیب او ایذاته راجع کړیدې،هغې باندې مقام دلالت کوي،یعنی موسی علیه السلام له مونږ کتاب ورکړې وو.دهغه تکذیب شوې وو.او تکلیفونو ورته رسولي شوي وو،نوستا به هم دهغه شان حالاتو سره مخه راځي،دیته مه پریشانه کیږه.﴿وَجَعَلْنٰهُ هُدًى﴾ضمیریا کتاب ته راجع دې یا موسیٰ ﷺ ته.﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَىِٕمَّةً﴾یعني بعضِ مودَدوؤعملونوپوجه دَاُمت مشران ګرځولي وو،یو پوجه دَصبر ،بل داچې زمونږپه آیاتونوئي یقین کولو .معلومه شوه چې پدې دوؤعملونو دَامت قیادت میلاویږي

﴿يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا﴾دافریضه دَامامت ده چې قائدبه خلقوته سمه لاره ښائي.﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ﴾مابین دَانبیاؤاو امتونو دَهغوئ کښ،یاپه مابین دَمؤمنانو او مشرکانو کښ.

أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ
آیاندي میلاو هدایت دوئ ته دَ دې خبرې نه چه څومره هلاك کړیدي مونږمخکښې دَدوئ نه ډېرلونه چه دوئ ګرځي په کورونو دَهغوئ کښ.
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ۝ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ
بیشکه په دې کښ خامخادلائل دی،آیادوئ نه آوری، آیانه دی لیدلی دوئ چه بیشکه مونږروانؤاوبه زمکی
الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ۝
وچې ته نوراوباسو مونږپه هغې سره فصل چه خوری دَهغې نه څناوردَدوئ اودوئ پخپله هم، آیادوئ نه وینی.
وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ
اووائی دوئ کله به وی دافیصله کچرته یئ تاسورښتنی.ته اووایه ورته په ورځ دَفیصلې به نفع نه ورکوی
الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ۝ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ
کافرانوته ایمان دَهغوئ اونه به ورته مهلت ورکولي شي پس اې محمده ﷺ ته اعراض اوکړه دَدوئ نه
وَانتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ۝
او انتظار اوکړه دَمدد دَالله بیشکه دوئ انتظار کوی دَغلبې په تا.

﴿أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا ﴾دا تخويف دنيوي دي اهل مکه ؤته چې آيادوئ نه ګوري چې دَدوئ نه مخکښې څومره خلق مونږ دَانبياؤ دَمخالفت پوجه هلاك کړيدي، دوئ پخپل تجارتي سفرونو کښې دَهغوئ په ښارونو او کورونو تيريږي اودَدوئ دَهلاکت مشاهده کوي، دَدينه دوئ عبرت ولي نه اخلي﴿أَوَلَم يَهْدِ ﴾، "يهد" فعل دپاره فاعل يا محذوف دې چې په هغې باندې "كم اهلكنا..." دلالت کوی، اي لم يهدهم اهلاكنا الامم الكثيرة او كم خبريه فاعل نشی جوړې دې ځکه چې جمهورنحاتو په نيز دادصدارت کلام تقاضه کوی، اوياورله كم اهلكنا قبلهم پورا جمله فاعل ده، خوداجمله دلته مقصود اللفظ ده اوبطور حکايت نقل ده﴿ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴾ددې قومونو دقوت وثروت خبرې، درسولانو سره طرزسلوک اودهغوئ تکذيب احوال اوبيا دَالله تعالى دَ طرف نه عذاب نازليدل اودَهغوئ هلاکت کيفيت دوئ ته په تواتر سره راغلې وو، اوداخبرې عام زبان زد وې، نوځکه افلايسمعون ذکر شو چې داوعظ ونصيحت دپاره زيات مؤثر وؤ بنسبت دَافلا يبصرون يا افلاينظرون وئيلونه ﴿أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا نَسُوقُ ٱلْمَآءَ ﴾دادويم دليل عقلي دې په توحيد، اوپه حشرنشرباندې هم دليل دې، چې آيادوئ نه ويني چې مونږ په وچه زمکه بارانونه اوورؤهغه تکه شنه شي، شنه واخه ئي حيوانات خوري، نورفصلونه دوئ خوري داټول دَالله ﷻ تصرفات دي، هغه تن تنهاکارسازدې، اوچې په وچه زمکه کښې واخه پيداکولوباندې قادردې نوپه بعث بعدالموت باندې هم قادردې، ﴿إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلْجُرُزِ﴾ "جَرز" نه دې، کټ کولو ته وائی او الارض الجرز وچې زمکی ته وائی، چه دَ فصل راختلو صلاحيت پکښې وی خوفی الحال پکښې نه وی موجود، ﴿أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴾چونکه دَزمکې وچيدو، بياپرې باران وريدو اوهغې نه پس بيادَبوټوزرغون کيدوتعلق مشاهدې اولوليدوکتوسره دې نوځکه افلايبصرون فعل راوړلې شو ﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَـٰذَا ٱلْفَتْحُ ﴾داشکوه ده دَمشرکانونه چې مسلمانانو به دوئ ته وئيل چې الله تعالى به مونږله په تاسوغلبه راکوي او زمونږ نصرت او مدد به کوي نودوئ به استهزاءً باربارد مسلمانانونه تپوس کولوچې داورځ په کله راځی.

﴿قُلْ يَوْمَ ٱلْفَتْحِ لَا يَنفَعُ ﴾جوابِ شکوه ده چې جلدي مه کوئ استهزاء مه کوئ چې کله ورځ د، فتح يعنی قيامت راشي نوبيابه تاسوايمان راؤړی خودغه ورځ به بياايمان راؤړل نفع نه

درکوي، اونه به درته مهلت درکولې کيږي، دجواب اسلوب حکيم باندې مبنی دې، (۱) يو داچې هغوئ دوخت تعيين متعلق سوال اوکړو، الله تعالى ورله وخت تعيين اونکړو، بلکه دايې ورته اوي چې هغې علم الله تعالى سره دې، هرسړي له او دخان غم کول پکاردي
(۲) اوبل داچه هغوئ دنيوی غلبې باره کښ تپوس کړې وو، او الله تعالى ورته جواب کښ داخروي غلبې ذکر اوکړو چې حقيقتافتحه اوغلبه دآخرت کاميابی ده. ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ يعني اې محمدﷺ! دَدوئ په تکذيب اواستهزاء باندې پرواه مکوه، اعراض ورنه اوکړه، بحث مباحثې ورسره مکوه، دَاللهﷻ دَمدداونصرت اودَدوئ دَهلاکت وخت نيزدې دې، ته انتظار کوه خُمادَنصرت اودَدوئ دَهلاکت، دوئ هم انتظارکوي چې مسلمانان به نيست نابودشي، آخراللهﷻ خپله وعده صادقه کړه جنګ بدرکښ دَمسلمانانوغلبه اوشوه اوکفار ناکام نامرادشول (ان الله لايخلف الميعاد).

ركوعاتها (۹)	سورة الاحزاب مدنيه	آياتها (۷۳)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	شروع کوم په نامه دَ الله ﷻ چه بخښونکې دی مهربانه	

ترتیبها حسب التسلسل (۳۳) وحسب النزول (۹۰)

سورة احزاب مدني سورت دې، دَترتيب قرآني په لحاظ سره دري دريرشم(۳۳)دې اودَترتيب نزولي په لحاظ سره نوي(۹۰) دې، نزلت بعد آل عمران وقبلَ الممتحنة، زمانه دَنزول ئې سنه(۵هـ)ده چې په دغه کال غزوه احزاب شوې ده، اودې سورة ته هم پدې وجه سورة احزاب وائې چې پديکښې دَدغه واقعي ذکردې.

ربط اسمي: سورت سجده کښې ددې ذکر وؤ چې عقيده توحيد منونکې صرف الله تعالى ته سرپه سجده وی، اوس په سورت الاحزاب کښې دَدې ذکر دې چې عقيدې دَ توحيدباندې قائم اوسئ اگر چې احزاب ستاسو په مقابله کښې راشي.

ربط معنوي: ماقبل سورة سره ئې ربط دادې چې په ماقبل سورة سجده کښې الله ﷻ فرمائيل (مالكم من دونه من وّلي ولاشفيع) يعني دَالله ﷻ نه ماسوىٰ څوك شفيع قهري نشته، پدې سورة کښې دَدې بيان دې چې لکه څرنگه دچاپه ويناسره متبنیٰ(پردی څوی ته خپل څوې وئيل) حقيقی څوې نشی جوړيدلې اودغه شان دَچاپه ويناسره خپله ښځه مورنشي جوړيدلې نودغه شان چاته دَشفيع قهري ويلوسره هغه شفيع قهري نشي جوړيدلې.

دَسورت دَمضامينواجمالي خلاصه: په دې سورت کښې درې(۳)بنيادي مضامين ذکرکيږي (۱)نفي دشفيع قهري، يعني دَنفي دَشفاعت بلااذنه، يعني مشرکانوته داوئيلی کيږي چې کوم تاسوخپل څان لپاره شفعاء جوړکړيدي نوداپه حقيقت کښې شفعاء ياآلهه نه دی، (۲)رفع دحرمت دَزوجي دَمتبنیٰ نه(۳)رفع دَحرمت ابدي دَ مظاهرمنهانه، اصل اوبنيادي اوله مسئله ده اودادواړه فروعي مسئلې دي، اودَاولې مسئلې مؤيدات دي، حرمت دَزوجي دَمتبنیٰ اوحرمت ابدي دَمظاهرمنهادادواړه دَجاهليت دَزماني بدرسمونه وونودَدې رسمونوختمولولپاره شپږواړي خطاب دي رسول پاك ﷺ ته، لس(۱۰)واړې خطاب دې مؤمنانوته، دوه(۲)واړې

خطاب دې ازواج مطهراتو ته

تفصيلي خلاصه: اصولی مضمون: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ (آیت نمبر ۱-۴).

اول فروعی مضمون وَمَا جَعَلَ أَزۡوَٰجَكُمُ ٱلَّٰٓـِٔي :آیت نمبر ۴)

دويم فروعی مضمون وَمَا جَعَلَ أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡ (آیت نمبر ۴)

دويم فروعی مضمون باندې مبنی اووه (۷) خطابات رسول الله صلی الله علیه وسلم ته:

(۱) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ آیت ۱) (۲) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ (۲۷) (۳) وَإِذۡ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ (آیت ۳۷) (۴) مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنۡ حَرَجٍ آیت ۳۸) (۵) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا (آیت ۴۵) (۶) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ (آیت ۵۰) (۷) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ (آیت ۵۹)

دوه خطابات امهات المؤمنینو ته:

(۱) يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأۡتِ (آیت ۳۰) (۲) يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ (آیت ۳۲)

دويم فروعی مضمون باندې مبنی لس (۱۰) خطابات عامو مؤمنانو ته:

(۱) ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ (آیت ۵) (۲) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ (آیت ۹) (۳) إِنَّ ٱلۡمُسۡلِمِينَ وَٱلۡمُسۡلِمَٰتِ (آیت ۳۵) (۴) مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ (آیت ۴۰) (۵) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ (آیت ۴۱) (۶) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ (آیت ۴۹) (۷) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ آیت ۵۳) (۸) إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ (آیت ۵۶) (۹) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ (آیت ۶۹) (۱۰) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا (آیت ۷۰)

پنځه تخويفات دی:

(۱) وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا (آیت ۳۶) (۲) إِنَّ ٱلَّذِينَ يُؤۡذُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ (آیت ۵۷) (۳) لَّئِن لَّمۡ يَنتَهِ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم آیت ۶۰) (۴) يَسۡـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ (آیت ۶۳) (۵) إِ

عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ (آیت ۷۲)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ١
[1] اې نبي! یریږه [2] د الله ﷻ نه او مه منه [3] خبره د کافرانو او د منافقانو. بې شکه الله پوهه دې حکمتونو والا دې
وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ٢
او تابعداري کوه [1] د هغې چه وحې کیږی تا ته د طرفه د رب ستا نه. بې شکه الله ﷻ دې په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ خبردار
وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ٣
[2] او توکل وکړه په الله ﷻ باندې، او کافي دې الله ﷻ کارساز.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ٱتَّقِ ٱللَّهَ﴾ په دې آیاتونو کښې اول خطاب دې رسول پاک ﷺ ته، دیکښې اصولی مضمون ذکر دې او په کښې څلور حکمونه ذکر کیږي. درې او امردی یوه نهې ده، د نبي معنی خبرورکولو والا ده، حضور ﷺ ته ځکه نبي وائي چې د الله ﷻ د طرفه خلقو ته د مغیباتو خبرورکوي د قبر او د احوالو د آخرت په باره کښې، دلته په ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ﴾ سره استدلال کول په ج اب د یانبي الله، یارسول الله، مطلقا وئیلو باندې جهالت دې ځکه دلته دا بطور عبادت وستلې کیږي نه بطور عقیده چې حضور ﷺ حاضر ناظر دې ﴿ٱتَّقِ ٱللَّهَ﴾ اول حکم دې، امر د دوام او ثبات لپاره دې، ای دم علی التقوی، مفسرینو د دې آیاتونو شان نزول داسې نقل کړیدی چې د جنګ احد نه بعد کفار مکه ؤ او بعض منافقانو لکه ابوسفیان او عکرمه بن ابي جهل، ابوالاعور اسلمی، عبدالله بن ابی وغیره، حضور ﷺ ته دا پیشکش اوکړوچې مونږ او تاسو به اتفاق اوکړو پدې خبره چې ته زمونږ د بتانو بد وائې وئیل ترک کړه او هغوئ ته آلهه او شفعاء اووایه،

[1] خطاب اول برای نبي کریم ﷺ
[2] حکم اول
[3] حکم دوم
[1] حکم ثالث
[2] حکم رابع

اومونږ به ستاسره جنګ پریږدو ،نومسئله به حل شي داخبره رسول پاکﷺ اوصحابهؓ ته ډیره ناګواره اولږیده ،حضرت عمرؓ موجود وو ،دهغوئ دقتل لپاره ئی دنبيﷺ نه اجازت طلب کړو لیکن نبيﷺ منع کړو ،الله ﷻ دا اخلور حکمونه نازل کړل.

﴿وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ﴾ دویم حکم دي،تخصیص بعدالتعمیم دي،لپاره دتاکید اواهتمام ،چې دکافرانو اومنافقانو اطاعت مه کوه یعني ددوئ بتانوته آلهه اوشفیع قهرې مه وایه﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا﴾ الله ﷻ په هرشي ښه عالم دي نودټولو اشیاؤ مصالح اومفاسد پیژني﴿حَكِيمًا﴾حکمت والادي نوتاته امرنکوي مګردهغه څه چې په هغې کښ مصلحت وي،اوتانه نه منع کوي مګرچې په هغې کښ په فساد اونقصان وي.

﴿وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾ دادریم حکم دي چې اتباع دمایوحی کوه﴿مَا يُوحَىٰ﴾نه مرادټول قرآن اوخصوصاً دلته داحکم چې(مالکم من دونه من ولي...)یعني دالله ﷻ نه ماسوی بل څوك نه حاجت رواشته اونه شفیع قهري﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ دا اخلورم حکم دي نبي کریمﷺ ته چې ته بلاخوف وخطردتوحید تبلیغ کوه،ددوئ دبتانو دالوهیت نفي کوه،الله ﷻ باندې توکل کوه الله ﷻ تالره وکیل کافي دي.

مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ ۚ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ
[1]نه دی ګرځولی الله ﷻ هیڅ چاله دوه زړونه په ګیډه دهغه کښ[2]،اونه ئی دی ګرځولی ښځې ستاسو
اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ
هغه چې ظهارکوئ تاسودهغوئ نه میندې ستاسو،[3]اونه ئ دي ګرځولي متبنی ګان ستاسو(حقیقي)ځامن د ستاسو

(1) علت برائ ماقبل
(2) نظیراول
(3) نظیرثاني

ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ۝۴ اُدْعُوْهُمْ

داهسی وئیل ستاسودي په خولوستاسو،اوالله ﷻ وائ حق اوهغه ښائی سمه لار. بلئ تاسودوئ نسبت کونکي

لِاٰبَآىِٕهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ

پلارانودَدوئ ته داکاردیرغوره دي په نزددالله ﷻ،پس که نه وي معلوم تاسوته پلاران ددوئ نودوئ رونړه دی ستاسو.

فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ

په دین کښ اودوستان ستاسودی،اونیشته په تاسوباندې ګناه په هغې کښ چه خطاشوی يئ تاسو په هغې.

وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۵

ليکن(شته ګناه)په هغې کښ چې قصديي وکړي زړونه ستاسو.او الله ﷻ بخښونکې مهربانه دي

﴿مَّا جَعَلَ ٱللَّهُ لِرَجُلٍ﴾ د رجل نه مراد ،لاحد دی،سړی وې که ښځه.دَرجلٍ تخصيص پوجه دَقوت شویدي،داعلت دي دَماقبل﴿ٱتَّقِ ٱللَّهَ وَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ﴾ لپاره،یعني الله ﷻ دَچاپه بدن کښ دوه زړونه نه دي پيداکړي،هرچاته ئی صرف یوزړه ورکړیدې،پدې کښ دَالله ﷻ محبت اواطاعت یعني دَتوحیدعقیده اودکفارومحبت اواطاعت یعني دَشرك عقیده نشي يوځائ کیدلې،ځکه چې بدن دَانسان عالم صغریٰ دې،اوزړه ئی بادشاه دې،عالم کبریٰ ،قیاس دی په عالم صغریٰ باندې،چې په عالم صغریٰ کښ دوه بادشاهان(زړونه)نشته نوپه عالم کبریٰ کښ به څرنګه دوه یازیات بادشاهان اومعبودان شي،مولاناجامي رحمه الله وائی:

درین راه حاصلی جزیك دلی نیست — دودل بودن بجزبی حاصلی نیست
یکی بین ویکی دان ویکی گو — یکی خواه ویکی خوان ویکی جو

دغه رنګه پدې آیت کښ دَعربوپه یوې غلطي مقولي ردهم دې.په دوئ کښ چې به څوك ذهین اودیرهوښیاروؤ،نودوئ به هغه ته ذی قلبین(دوؤزړونووالا)وئیل.لکه دَجمیل ابن معمرکافرباره کښ راځی چې،حضور ﷺ ده ته دعوت ورکړونوده اووئیل(انّ لی قلبین افهم باحدهمااکثرممایفهم محمد ﷺ) نوپه روایت کښ دي چې دې په جنګ بدرکښ دکافرانوله طرفه شریك شوې وؤ.مشرکانوته چې شکست اوشواووتختیدل نودې هم وتختیدلواودومره

بدحواسه شوچې يوه څپلۍ ئې په لاس کښې وه بله ئې په خپه کښې وه. ابوسفيان ورنه تپوس اوکړو (مابال احدى نعليك فى رجلك والاخرىٰ فى يدك) يعني څه درباندې شويدي چې يوه څپلۍ دې په خپه کښې ده بله دې په لاس کښې نيولې ده. ده اووئيل چې ماته خوپته هم نشته. څماخوداګمان وؤچې دواړه م په خپوکښې دي.

﴿وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ الّٰئِى﴾ دا دماقبل لپاره دوه نظيرين ذکرکيږي. دااول نظيردې چې لکه څرنګه ستاسوازواج په ظهارسره ستاسوامّهات نشي جوړيدلې. نودغه شان ستاسوپه وېناسره څوك شفيع قهري بلااذنه نه شي جوړيدلې. پدې آيت کښې هم دجاهليت په يوبدرسم باندې رددې، چې دوئ به په مظاهرمنهاباندې احکام دامومة (موروالې) جاري کول. (تفصيل ددې مسئلې به انشاء الله دسورة مجادله په تفسيرکښې راځي)

﴿وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ﴾ ادعياء جمع د (دعى) ده په معنىٰ د مدعو متبنىٰ ته وايئ. دادويم نظيردې دماقبل چې لکه څرنګه ستاسوپه وېناسره پردي ځامن ستاسوځامن نشي جوړيدلې، نودغه شان ستاسوپه وېناسره څوك شفيع قهرى نشي جوړيدلې. پدې آيت کښې هم دجاهليت په يوبدرسم باندې رددى، چې دوئ به په متبنّىٰ باندې احکام دبنوة جاري کول، هغه بئ خپل حقيقي ځوې ګڼړلو. دهغه دزوجي مطلقې سره بئ نکاح نه کوله.

مفسرين وايئ چې داآيت نازل شويدې په باره دزيدبن حارثه ﷛ کښې. زيد ﷛ اصلاً عربي النسل وؤ، غلام نه وؤ، په وړکوالئ کښې دخپلې مورسره دنيانيکه کورته روان وؤ. په لاره کښې بنوقيس قافله لوټ کړه چې په هغې کښې دې هم وؤ. دمورنه يئ په زورواخستلو. دعکاظ منډئ ته ئ دخرڅولولپاره راوستلو. حضرت خديجې ﷞ خپل وراره حکيم بن حزام ﷛ منډئ ته اوليږلوچې يوذهين عربي النسل غلام واخله. حکيم بن حزام ﷛ نظرپه منډئ کښې په زيدباندې اولګيدلونووائې خستلواوخپلې ترورخديجې ﷞ په خدمت کښې ئې پيش کړو. کله چې نبي کريم ﷺ دحضرت خديجې ﷞ سره نکاح اوکړونوهغې زيد ﷛ دنبي ﷺ په خدمت کښې دهديې په طورپيش کړو. بل خوادزيد ﷛ پلارته دده په جدائى سخت تکليف اوغم وؤ. ده به دزيدپه جدائى کښې جړل او اشعاربه يې ويل اوګرزيدو به. دهغې اشعارونه يوڅوداهم دي.

بكيتُ على زيدٍ ولم ادرمافعل		أحيٌّ يرجىٰ ام اتىٰ دونه الاجل
فو الله لاادرى وانى لسائل		اغالكَ بعدى السهل ام غالك الجبل

فيالتَ شعري!هل لك الدهراوبة فحسبي من الدنيا رجوعكَ لي بجل
تذكرينه الشمس عند طلوعها و تعرض ذكراه اذاغرب ها افل
وان هبت الا رياح هيجن ذكره فياطول ما حزني عليه و ماجل
ساعمل نصّ العيس في الارض جاهدا ولا اسام التطواف اوشام الابل
حياتي اتاني على منيّتي فكلّ امرئ فانٍ وان غره الامل

يعني څه دَزيدپه يادكښ جاړم اوداراته نده معلومه،چې هغه ژوندې دې چې اميدې اوكړيشی،يامرګ ختم كړيدې،په الله ﷻ مې دې قسم وي،ماته داهم نده معلومه چې اې زيده!ته نرمي زمكي هلاك كړې يئ،يادَغره زمكي مړكړې ئ.آرمان!ماته دامعلومه شوې چې ته به تول عمركښ كله واپس راشي كه نه،تولې دنياكښ څماانتهائی غرض ستاواپس راتلل دي،كله چې نورراخيجي نوهم راته زيدياديږي كله چې دوبيږي نوبياهم دَده يادونه څماپه زړه وريږي وي،اوكله چې هواګاني چليږي نودَهغه يادراته تازه كوي،هائی افسوس!څما غم اوڅمافكرڅومره اوږدشو،څه به دَهغه په تالاش كښ تولې دنياكښ دَاوښ تيزرفتاري په كارراولم،اودَدنياچكرلګولونه به ستړی نشم،اوښ به ستړې شي خوڅه به ستړی نه شم،څپل ژوندبه دې كښ تيره وم،كه ماته مرګ راغې نوخيردې څكه چې مرګ هريوڅيزفناكوي،اګرچه څوك هرڅومره اميدونه اولري.

خلاصه داچې هغه به ااشعاروئيل اوپه ژړا ژړابه يی تلاش كښ ګرځيدلو ،اتفاقاًدَهغه دَقوم يوڅوكسان حج ته راغلي وؤهغوئ هلته ئی زيداوليدلونواوئي پيژندلو ،دَپلارحال ئی ورته واوره ولودَهغه شعرونه يې ورته واؤرول،اودَهغه دَياداودَجدايئ قصې يې ورته بيان كړې،زيد ﷺ دَهغوئ په لاس پلارته درې(۳)شعرونه اوليږل چې دَهغې مطلب داوؤچې څه دلته په مكې كښ يمه،په خيريت يم،ته غم اوفكرمه كوه څه دَديرسخيانوخلقوپه غلامئ كښ يم،هغه كسان چې لاړل دَزيدخبرئی دَهغه پلارته واؤرولواوهغه اشعارئی ورته واؤرول كوم چې زيد ﷺ وئيلي وؤ.اوپته ئی ورته اوخودله،دَزيدپلاراوتره دَفديی رقم دَځان سره واخستلواودَغلامئ نه دَخلاصولوپه غرض مكې ته راغلل،دَتحقيق نه روستوورته پته اولږيده چې دې دَ نبی ﷺ په غلامی كښ دې نودوئ،دَنبي كريم ﷺ خدمت كښ حاضرشول، عرض ئی وكړوچې اې دَهاشم اولاده! اودَخپل قوم سرداره،تاسوخلق دَحرم اوسيدونكي يئ، اودَالله ﷻ دكورګاونډيان يئ،تاسوپخپله قيديان ازاده وئ،اوږوته خوراك وركوئ،مونږدَ

خپل ځوی په طلب کښ تاسوته راغلي یو، په مونږاحسان اوکړه اوفدیه قبوله کړه اوهغه ازاد کړه، نبي ﷺ اوفرمائیل څه خبره ده، عرض ئې اوکړودزید په طلب کښ راغلی یو، نبي ﷺ ارشاد اوفرمائیلو بس دومره خبره ده، عرض ئې اوکړوچې هاؤبس دومره خبره ده، نبي ﷺ اوفرمائیل چې زیدراواوغواړئ اودهغه نه تپوس اوکړئ، کچرې هغه تاسوسره تلل غواړی نوبغیردفدیه اخستلوهغه تاسوته حواله دې، اوکه تلل نه غواړي نوځه په داسې کس زیاتې نشم کولې، هغوئ داخبره په خوشحالئ منظورکړه، زید ﷺ ئې راواوغوښتلو، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل ته دوئی پیژنې، عرض ئې اوکړوچې آوپیژنم، داځماپلاردې، داځماتره دې، نبي ﷺ ورته اوفرمائیل، ځماحال هم تاته معلوم دې، اوس تاته اختیاردې، چې ماسره اوسیږې اوکه دوئ سره تلل غواړې نوهم تاته اجازت دې، زید ﷺ عرض اوکړوچې حضور ﷺ څه ستاسو په مقابله کښ نورڅوك خوښولی نه شم، تاسوځمادپلارپه ځائ یئ اودتره په ځائی هم، پلاراوتره ورته اووئیل چې زیده! غلامي دآزادئ په بدله کښ خوښوي، اوپلارتره اودتول کورنئ په بدله کښ غلام اوسیدل غواړې، زید ﷺ ورته اووئیل چې آو، چې ماپه دوئ کښ یعني په حضور ﷺ کښ داسې خبرې لیدلی دی چې دهغې په مقابله کښ هیڅ څیزخوښولی نشم، نبي کریم ﷺ چې داواؤریدل نوهغه ئې په غیږه کښ واخستلواوونی فرمائیل: اشهدوا انه حرٌ وآنه ابنی یرثنی وارثه، دزید ﷺ پلاراوتره چې دامنظراولیدلوډیرخوشحاله شو، اولاړل ددې ایاتونودنزول نه مخکښ به ده ته زیدابن محمد ﷺ وئیلی کیدل، داآیاتونه چې نازل شول نوبیابه ورته زیدبن حارثه وئیلې کیدل.

﴿ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ﴾ ذلکم کښ اشاره ماقبل درې واړوخبروته، چې چاته ذی قلبین وئیل مظاهرمنهاته موروئیل، متبنّیٰ ته حقیقي ځوی وئیل داستاسودخولوهسې خبرې دي، حقیقت ئې نشته، حقه خبره الله ﷻ کوي اوهم هغه حق خبرې ته هدایت کوي، نوتاسوخپل قول ترك کړئ اودهغه قول اختیارکړئ، ﴿ٱدْعُوهُمْ لِآبَآئِهِمْ﴾ ای منسوبین لاباءهم، مؤمنانوته خطاب دې چې متبنّیٰ ګان خپلوپلارانوته منسوب کوئ، زیدبن حارثه وایئ، اوکه پلاران ئې درته نوي معلوم نوبیائی خپل رونړه اودوستان ګنړئ، روایت دې چې نبي اکرم ﷺ به دې آیت دنزول نه بعدزید ﷺ ته وئیل: انت اخوناومولنا(ابن کثیر).

﴿هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ﴾ ضميردَ هُوَ راجع دي مصدر د(ادعوا)ته كمافى قوله تعالى(اعدلواهو اقرب للتقوىٰ)يعني خپل پلارانوته ئى نسبت كول دَالله ﷻ په نزدانصاف خبره هم داده.

﴿فَإِخْوَٰنُكُمْ فِي ٱلدِّينِ﴾ خبردي دَمبتدامحذوف(اى فهم اخوانكم)اوجمله جواب شرط ياقائمقام دَجواب ده. ﴿وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَآ أَخْطَأْتُم بِهِۦ﴾مطلب يادادي چې قبل دَنهي نه چې كوم نسبت تاسو كړيدې په هغې كښ په تاسوګناه نشته.باداچې نسبت ئى بل چاته اوكړئ اوستاسوخيال هم دغه وي،ياداچه سهوأئى نسبت بل چاته اوكړئ ﴿وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾ علت دي دَ﴿وَلَيْس عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾لپاره.

ٱلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ
دانبي ﷺ زيات نزدې دي دَمؤمنانوته دَځانونودَدوئ نه اوبيبيانې دَ دده ميندې دَدوئ دى.اوخپلوان
بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُهَٰجِرِينَ
دَ يوبل زيات حق دار دى په كتاب دَالله ﷻ كښ دَمؤمنانونه اودَهجرت كونكونه
إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم مَّعْرُوفًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ⑥
مګرداچه كوئ تاسودَدوستانوخپلوسره احسان،دې داحكم په كتاب كښ ليكلې شوي،

﴿ٱلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ﴾دااول خطاب دي مؤمنانوته په باره دَعزت دَنبي كريم ﷺ كښ،چې اې مؤمنانونبي كريم ﷺ دَجاهليت رسمونه ختموى كافران اومشركان يې مخالفت كوي،اعتراضونه ورباندې كوي نوتاسودَنبي كريم ﷺ دَناموس تحفظ اوكړئ خكه چې دَهغه حق په تاسوباندې دَځانونه هم زيات دې،اودَهغه ازواج مطهرات خپلې ميندې اوګنړئ. ﴿أَوْلَىٰ﴾ياپه معنىٰ دَ(احق)سره دې يعني تابعداري اوتعظيم دنبي كريم ﷺ اودَهغه حق په تاسودستاسودَنفسونونه هم زيات دې،ياپمعنى اَرأف (مهربان)سره دې،يعني نبي كريم ﷺ زيات مهربانه دې په مؤمنانوباندې دَهغوئ دَنفسونونه،ياپمعنى دَاقرب سره دې،په بخاري

وغيره كښې دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي كريم ﷺ فرمائي (مامن مؤمن الاّواناأولى النّاس به في الدنياوالاٰخرة.اقرؤاان شئتم النّبي اولى بالمؤمنين من انفسهم) مجاهد رحمه الله فرمائي هرنبي دخپل امت لپاره روحاني پلاروي اوپدې وجه ټول اهل ايمان پخپل مينځ كښې رونړه دى،دې تائيدپه قراءت دابن مسعود رضي الله عنه كښې داسې راغلې دې، (النبي اولى بالمؤمنين من انفسهم وهوابٌ لهم)

﴿وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ﴾ هركله چې نبي كريم ﷺ دمؤمنانولپاره روحاني پلاردې نوازواج مطهرات امّهات المؤمنين دي،يعني مرتبه ددوئ اوپه تعظيم تكريم كښې ددوئ حق دمياندوپه شان دې نوددوئ معمولي بې ادبي اودوئ ته تكليف رسول اشددرجه حرام دى (اعاذناالله)

﴿وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ﴾ دفع دشبهه ده چې ناشي ده دماقبل نه،چې حضور ﷺ روحاني پلاردې اوازواج مطهرات امهات دي،اومسلمانان پخپل مينځ كښې رونړه دي نودميراث په احكاموكښې به هم هرمسلمان دبل وارث ګرځي.اودغه شان دنبي كريم ﷺ اوازواج مطهراتوسره به ئ هم په ميراث كښې شركت وي؟ نوجواب اوشوچې دنبي اكرم ﷺ اودازواج مطهراتوتعلق دمؤمنانوسره اګرچه دومره دې چې دمورپلارنه ئې حق زيات دې.ليكن ميراث ته پديكښې دخل نشته،ميراث به دنسبي اوقريبي رشته دارئ په بنيادتقسيمږي.ابن عباس رضي الله عنه اوسعيدبن جبير رضي الله عنه وغيره حضرات وائي چې په ابتداء داسلام كښې به دميراث تقسيم،دتوارث بالهجرة،په بنيادكيدلو.يعني مهاجربه دانصاري وارث جوړيدلو.نوبياچې كله دخلقواقارب په اسلام كښې داخل شول نوداتقسيم بياپدې آيت سره منسوخ شو.دغه شان تشريح دسورة نساء په آيت (٢٣) كښې هم تيره شويده.﴿فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ﴾ جارمجرورمتعلق دى ياد ﴿أَوْلَىٰ﴾ سره، ﴿مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ من يابيانيه دې،د ﴿وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ﴾ بيان كوي، (اى اولوالارحام من المؤمنين اولىٰ بالارث من الاجانب) يعنى خپل مؤمنان رشته داران د ميراث زيات حق دار دى،دنورو پردونه،يا من په مفضل عليه باندې داخل دې (اى اولوالارحام اولى بالارث من المؤمنين) يعنى رشته داران د عامومؤمنانونه زيات مستحق دى ﴿إِلَّآ أَن تَفْعَلُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِكُم﴾ اولياء،نه مراد عام مؤمنان دى او استثنا منقطع ده نو،مطلب داددې چې

وراثت خوصرف په رشته دارئ سره ملاويږي مګرکه دَايماني وروروليّ په بنا تاسوخپل انصاريامهاجرو رونړواودوستانوسره څه نيکي اواحسان کوئ نوداهم جائزدي او يا استثنا متصله ده اومتستثنى منه ورله في كل نفع مقدره ده ،يعنى څومره دَ نفع صورتونه دى دهغى زيات مستحق اولاالارحام دى سوادَ وصيت نه چه دوئ لپاره جائز نه دي.﴿مَّعْرُوفًا﴾پدې کښې وصيت طرف ته اشاره ده چې دَوراث لپاره نشته اودَغيرلپاره مشروع دي.﴿كَانَ ذَٰلِكَ﴾ مشاراليه مذكور ټول احكامات دى.﴿فِي الْكِتَابِ﴾كتاب نه مراديا قرآن دې يعني په قرآن کښې دغه حکم دَهميشه لپاره جاري اونافذدي،يادکتاب نه مرادلوح محفوظ دي.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ								
اوريادکره،هغه وخت چه واخسته مونږه دَپيغمبرانونه وعده دهغوئ اوستانه اودَنوحﷺ نه اوابراهيمﷺ نه اودَموسىﷺ نه								
وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْأَلَ الصَّادِقِينَ								
اودَعيسىٰ ابن مريم نه،اوواخسته مونږه دَدوئ نه وعده كلكه دَپاره ددې چه پوښتنه وكړي اللهﷻ دَرښتنونه								
عَن	صِدْقِهِمْ	وَأَعَدَّ	لِلْكَافِرِينَ	عَذَابًا	أَلِيمًا ﴿٨﴾			
په	باره	دَرښتياددوئ،اوتيارکړيدي	اللهﷻ	دَپاره	دكافرانوعذاب	دردناك		

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ﴾دامتعلق دي دَاول خطاب دَنبي كريمﷺ سره،يعني مونږدَهرنبي نه داعهداخستې دي چې هغه به اتباع دَمايوحىٰ کوي،لهذاته هم اتباع دَمايوحىٰ كوه اودكفارواودَمنافقانودَمخالفت پروجه په تبليغ اودعوت الى الحق كښې نرمي مه كوه.،﴿مِيثَاقَهُمْ﴾دميثاق نه هغه عهدمراددي چې په ازل كښې دَتماموانبياؤنه په تبليغ دَرسالت،احكام دَشريعت اوپه اتباع دَمايوحىٰ باندې اغستى شوې وؤ.﴿وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ﴾تخصيص بالذكردَدې پنځوؤانبياؤاوشوسره دَدينه چې دوئ داخل دي په﴿مِنَ النَّبِيِّينَ﴾كښې،داپوجه دَدې چې دوئ اولعزم اوارباب دَشرائعووؤ. ﴿لِّيَسْأَلَ

﴿ٱلصَّـٰدِقِينَ عَن صِدۡقِهِمۡ﴾لام په ‹لیسئل› کښې لام کئ دي، علت دي دَاخذ دَمیثاق اوضمیردَفاعل

پکښې الله ﷻ ته راجع دي، اودَ﴿ٱلصَّـٰدِقِينَ﴾نه مرادتمام انبیاء دي یعني دامیثاق دَدې لپاره اغستې شوې وو چې الله ﷻ به دَقیامت په ورځ دَانبیاؤنه سوال کوي، اوسوال به دَعهدمتعلق وي چې آیادوئ خپل قوم ته دارسولې دي اوکه نه؟اوقوم تصدیق کړیدې که تکذیب، کقوله تعالیٰ﴿فلنسئلنّ الذین اُرسِلَ الیهم ولنسئلنّ المرسلین﴾(اعراف:۶) اومقصوددَسوال نه به تبکیت دکفاروي ورنه الله ﷻ په صدق دَانبیاؤباندې عالم دې.

﴿وَأَعَدَّ لِلۡكَـٰفِرِينَ عَذَابًا أَلِيمٗا﴾دایاعطف دې په مقدره جمله باندې چې﴿فاثاب المؤمنین﴾ده، اومطلب دادې چې قیامت په ورځ الله ﷻ چې کله دَانبیاؤنه تپوس اوکړي دَقوم متعلق چې چاایمان راوړې دې اوچانه نو، ﴿فاثاب المؤمنین واعدّ للکافرین عذاباًالیماً﴾یادلته صنعت احتیاک شویدې، تقدیري عبارت داسې دې﴿لیسأل الصّادقین عن صدقهم واعدّ لهم ثواباًعظیماً ویسأل الکاذبین عن کذبهم واعدّلهم عذاباًالیماً﴾(روح المعاني).

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا
اې مؤمنانو یادکړئ نعمت دَالله ﷻ په تاسوپه هغه وخت کښې چه راغلې تاسوته لښکرې نوراولیږله مونږ
عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا لَّمۡ تَرَوۡهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ۝٩
په دوئ باندې هوااوداسې لښکرې چه نه وې لیدلې تاسوهغه، او الله ﷻ په هغه عملونوچه تاسو کول لیدونکې دې

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ﴾دادویم خطاب ذکرکیږي مؤمنانوته، په باره دَاطاعت اوتحفظ دَناموس دَحضورﷺ، چې اې مؤمنانواحضور صلی الله علیه وسلم دې رسم بد. خاتمه اوکړه او که وریسې څوک خبرې کوي نو تاسو دَ هغه ناموس تحفظ کوئ، څه به تاسو حامي وناصر یم. لکه چې مې په غزوهٔ احزاب کښې ستاسونصرت اوکړواودَرسول پاکﷺ په برکت سره مې فتح درکړه نودَهغه کامله اتباع کوئ.

پ۔ې دوؤرکوع کښې دَغزوهٔ احزاب ذکردې چې هغې ته غزوه خندق هم وائی، باعث دَدې غزوې داوؤچې دَمدینې په اطرافوکښې دَیهودویوقبیله بنی نضیراوسیدله، چې دوئ رسول

پاك ﷺ دَبدعهدئ اودَشرارت پوجه جلاوطن کړي وو.ددوئ يوڅوسرداران مکې ته راغلل اودَقريشوسردارانوسره يئ ملاقاتونه 'وکړل.دحضورﷺ اودَمسلمانانوخلاف جنګ کولوته ئې اماده کړل.قريشوورته اووئيل چې تاسوخواهلِ کتاب يئ تاسومونږته دااووايئ چې زمونږ دين حق اوصحيح دې اوکه دين دَمحمّدﷺ .نودوئ ورته اووئيل چې ستاسودين حق دين دې،اواولى دې دَدين دَمؤمنانونه.لکه په﴿الم ترالى الّذين اُوتوانصيباًمن الكتاب يؤمنون بالجبت والطاغوت ويقولون للذين كفروا هٰؤلاء اهدىٰ من الذين امنواسبيلا(سورة نساء: ٥١)﴾کښې دَدې تذکره ده،بيائې خانه کعبه کښې قسمونه اوکړل چې مونږکښې چې ترڅوپورې يوکس هم موجودوي نوجنګ به کوؤ،پدغه ورځ ئې دَمشرکانودَبتانوتعظيم اوعبادت هم اوکړو.قريشودَمکې سره دَمعاهدې نه ورستوئې دَبني غطفان سره هم معاهده اوکړه اودَهغوئ يوسردار(عيينه)ته ئې دَخيبردکجوريوباغ ورکولوپيش کش هم اوکړو.بيايئ نوروقبائلوسره هم دغه شان معاهدې اوکړې اوتقريباًدولس زره کسانولښکريئ تيارکړواوپه مدينه باندې يئ دَحملې کولومنصوبه جوړه کړه،نبي اکرمﷺ ته چې دَدې منصوبې اطلاع اوشوه نودرې کارونه ئې اوکړل.توکل على الله،اووئې فرمائيل:حسبناالله ونعم الوکيل.ظاهري اومادي اسباب ئې برابرکړل اوصحابه کرامو‌رضي الله عنهم سره ئې مشوره اوکړه،په مشوره کښې حضرت سلمان فارسي‌رضي الله عنه هم وو.هغه عرض اوکړوچې زمونږپه وطن فارس کښې چې کله به دشمن حمله کوله نومونږبه خندقونه جوړه ول. رسول پاكﷺ دامشوره قبوله کړه اوصحابؤته يئ دَخندق کنستلوحکم اوکړو.دَانصارو اومهاجرودَلس لس کسانوجماعت يې جوړکړو اوپخپله هم پکښې شريك شو.هرجماعت باندې څلويښت ګزه خندق کنستل مقررشو،شپږو ورځوکښې درې نيم ميله اوږدخندق تيارشو،صحابه کرامو‌رضي الله عنهم دَډيرې لوږې تندې حالت کښې داخندق تيارکړو.کله چې حضورﷺ دَصحابؤ‌رضي الله عنهم تکليف اوليدلونووئې فرمائيل:

اللّهم انّ العيش عيش الاخرة ۔۔۔ فاغفرالانصاروالمهاجرة

صحابه کرامؤبه فرمائيل:

نحن الذين بايعوا محمداً ۔۔۔ على الجهادمابقيناابداً

حضرت براء بن عازب‌رضي الله عنه فرمائي چې په ورځ دَخندق حضورﷺ خاورې لرې کولې حتّى چې بدن مبارك ئې په دوړوکښې پټ شواودايې وئيل:

والله لولا الله ماهتدينا ۔۔۔ و لا تصدقنا ولاصلينا

فانزلنْ سكينةً　علينا　　وثبّت الاقدام ان لاقينا

انّ الاولىٰ قدبغوا علينا　　اذا ارادو فتنةً ابينا

دَدشمن لښکردَابو سفيان په قيادت کښې مديني ته قريب راغي چې تعدادئ تقريبا دولس زره وؤ، خندق ئې چې اوليدلونووئ وئيل چې داخو عجيبه دفاعي تدبيردې، اهل عرب خو پدې نه پوهيدل، حضورﷺ دَخندق نه بل طرف ته دَدري زره کسانوصف بندي اوکړه جبل سلع ته ئې شاکړه اودَشمن ته ئې مخ کړو، پدې حالت کښې تقريباُ يوه مياشت تيره شوه، جنګ اونه شوصرف تيراندازي اوکانړي ويشتل وؤ. پدې دوران کښې دَيهوديانويوه دريمه قبيله بنوقريظه، چې دَدوئ معاهده مسلمانانوسره قائمه وه اودَمسلمانانوسره دَامداد کولوپابندوؤ. دوئ غدراي اوکړه اودَنوراحزابوسره يوځائ شو، حضورﷺ اومسلمانانوته دَدې پوجه ډير صدمه اورسيدله، مؤنځ اودعاګانوکښې مشغول شول، حضورﷺ به دادعاکوله"اللّهم مُنزل الكتاب، سريع الحساب اهزم الاحزاب اللّهم اهزمهم وزلزلهم(بخاري)صحابهٔ کرامو ؓ ته ئې دا دعاوښودله"اللّهم استرعوراتناوآمن روعاتنا"دَمسلمانانودَطرفه سعدبن معاذ ؓ دَتيراندازئ په دوران کښې زخمي شو، دعائې اوکړه چې ياالله ﷻ کچرته آئنده دَمکې مشرکانوسره بل جنګ کيدونکې وي نوماته ترهغه وخته پورې ژوندراکړه اوکه نه وي نوبياماته پدې جنګ کښې شهادت نصيب کړې خودَهغه وخته پورې ماته مرګ مه راکوه ترڅوچې څه دَبني قريظه نه دَهغوئ دَغدارئ انتقام وانخلم، الله ﷻ دَده دادعاقبوله کړه اوبنوقريظوته دَده په خوښه سره سزاملاؤشوه چې دَهغې ذکرپه دويمه رکوع کښې راځي، حضورﷺ به په مسجدفتح کښې مسلسل دعاګانې کولې، الله ﷻ ئې دعاګانې قبولې کړې، دَبده په ورځ دَماسپخين اومازيګر په مينځ کښې دَخوشحالئ په حالت کښې ئې صحابه کراموته تشريف راوړواودَفتح خوشخبري ئې ورته ورکړه. الله ﷻ دَدشمن په مينځ کښې بې اتفاقي پيداکړه، يوکس نُعيم بن مسعوداسلام راوړلو، دَحضورﷺ خدمت کښې حاضرشو، عرض ئې اوکړوچې مااسلام راوړې دې اوځماقوم ځمادَاسلام نه ناخبره دې، تاسوماته حکم اوکړئ چې څه دَاسلام څه خدمت اوکړم، دې ډير ذهين اوپوهه سړې وؤ، نبي کريمﷺ ورته اوفرمائيل چې داسې څه صورت جوړکړه چې دا احزاب دَيوبل دَمددنه منحرف شي(انّماالحرب خدعةٌ)حضرت نعيم داسلام راوړلونه مخکښې دَبنوقريظوملګرې اودوست وؤ، دې راغې هغوئ ته ئې اووئيل:چې تاسوته ځمادوستي معلومه ده، اوځمااوستاسومينځ کښې تعلقات هم تاسوته ښه معلوم دي، نودوئ ورته جواب

ورکړو، چې واقعي ته زمونږ دوست اوخیرخواه ئی، نوده ورته اووئیل چې ګورئ قریش مکه یازمونږقبیله بني غطفان ستاسوپه شان ندی تاسوخودمدیني اوسیدونکې یئ، مدینه کښې ستاسومالونه اواولادونه دی کچرته دوئ ته شکست اوشي نودوئ به اوتختي لاړبه شي، تاسوبه یواځې پاتې شئ اوبیابه دَمسلمانانوسره مقابله نشئ کولې، نوددې وجه نه تاسودَاهل مکوٌسره ترهغه وخته پورې مه شریك کیږئ ترڅوچې هغوئ تاسوته خپل سرداران اومشران په ضمانت کښې درنکړي، بنوقریظوٌدامشوره ډیره خوښه کړله، دې نه بعدبیانعیم بن مسعودﷺ دَقریشوسردارانوته راغې، ابوسفیان وغیره ته ئی اووئیل چې تاسوته معلومه ده چې څه ستا سوملګري یمه اودَمحمّدﷺ نه جدایم، ماته په خفیه ذرائعوسره یوه اطلاع ملاوه شویده په ماحق دی چې څه هغه تاسوته اووایم خوپدې شرط چې څمانوم به چاته نه ښایئ، خبره داده چې بنوقریظه ستاسوسره په معاهدې کولوباندې نادمه شویدي اوحضورﷺ ته ئی داپیغام لیږلې دې چې آیاته به مونږنه پدې راضي شي چې مونږتاسوته دَقریشواودَبني غطفان یوڅوسرداران حواله کړو، ته هغوئ قتل کړې اومونږتاسره شریك شو، حضورﷺ ورسره پدې راضي شویدې، نولهذاتاسونه کچرته بنوقریظوٌدَڅه کسانومطالبه اوکړه نویوکس ورته هم مه ورکوئ، بیانُعیم خپلې قبیلې ته لاړواوهغوئ ته ئی هم هغه اووئیل چې قریشوته ئی وئیلی وؤ.

شوال سنه(۵ھ) دَخالي په شپه ابوسفیان دَقریشودَطرف نه څه کسان بنوقریظوٌته اولیږل اوورته ئی اووئیل: چې مونږسره دَجنګ سامان ختم شویدې، مونږتاسوته منتظریو، راشئ چې په مسلمانانوباندې په یوځائ شریکه حمله اوکړواومعامله ختمه کړو، یهودودَقریظوٌورته جواب اولیږلوچې یوخونن دَخالي ورځ ده تاسوته معلومه ده چې مونږپدې ورځ جنګ نه کیږو، بل داچې مونږتاسوسره ترهغه وخته نه یوځائ کیږوچې تاسویوڅوسرداران مونږته ضمانت کښې رانکړئ، هغوئ چې داواوٌریدل نویقین ئی راغې چې نعیم واقعي صحیح وئیلی دي، جواب ئی ورته ورکړوچې مونږتاسوته یوکس هم نه درکوؤ، پدې خبره دَدواړوپه مینځ بې اتفاقي راغله، قوت ئی ختم شو، اوالله ﷻ وربانديې یوه سخته تیزه اویخه هوامسلط کړه چې دَهغې پوجه دَهغوئ سامانونه، خیمې وغیره تباه شولې اواوسوزیدلې، حضورﷺ ته چې دااحزابوپه مینځ کښې دَاختلاف اوبې اتفاقئ اطلاع ملاوه شوه نویوصحابي حضرت حذیفهﷺ ئی دَحالاتومعلوموولوپاره دَدشمن ځائ ته اولیږلو، حذیفهﷺ چې کله روان شونونبي کریمﷺ ورته دادعااوکړه، (اللّهم احفظه من بين يديه ومن خلفه وعن يمينه وعن شماله ومن

قوله ومن تحته»حذیفهؓ فرمائی چې څه کله هلته لاړم نواولیدل مي چې اوربلیږي اوخلق ورته ځان ګرمه وي،اودهرطرف نه،واپس ځئ،واپس ځئ،اوازونه راځي،دهوادتیزئ پوجه دځلورووارہ طرفونونه دهغوئ په خیموکانړي راوریدل،دخیموپړي شلیدل،اسونه وغیره ځناورهلاك کیدل،څه دهغه ځائ نه واپس راغلم،کله چې نیمي لارې ته اورسیدم نوتقریباًشل(۲۰)سواره کسان چې پټکې ئې ترلي وؤماسره ملاؤشو،هغوئ اووئیل خپل آقاﷺ ته اووایه چې اللهﷻ دَدښمنانو انتظام کړیدې بې فکره اوسه،ماچې کوم منظراوحالت هلته اولیدل هغه مې حضورﷺ ته عرض کړل،چنانچه دَبُدهٔ په ورځ ماسپخین نه ورستوکافرانوجماعتونه په تختیدلوشروع شول ابوسفیان چې دَقریشومکؤمشروؤهغه هم قریشوته اعلان اوکړو چې(فارتحلوافانی مرتحل)دغه شان نورې قبیلې هم واپس اوتختیدلې. حضورﷺ صحابهٔ کراموته دَفتح بشارت ورکړواودایئ هم اوفرمائیل:چې دینه پس به کافران په مونږحمله نشي کولې مونږبه وربانديې حملې کوؤ.

﴿ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾ دې کښې دغې فتحې ته اشاره ته،﴿إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ﴾ دکافرانولښکرې ورنه مراددي،دَقریشولښکرچې قیادت ئې ابوسفیان کولو ،قبیله بني غطفان چې قیادت یئ عیینه کولو ،بنوعامرچې قیادت ئې عامربن طُفیل کولو ،بنوسُلیم چې قیادت ئې ابوالاعورکولو ،بنونظیرچې قیادت ئې حیی بن اخطب کولو ،بنوقریظه چې قائدئې کعب بن اسدوؤ.﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا﴾دَ(ریحاً)نه مرادبادصبادې،لکه په حدیث کښې دي(نصرت بالصبا واهلکت عاذ بالدّبور)﴿وَجُنُودًا﴾عطف دې په(ریحاً)باندې ای وارسلنا علیهم جنوداً(جنودا)نه مرادلښکرې دَفرشتودي چې زرفرشتي وي،دوئ اګرچه قتال نوؤکړې لیکن دکافرانوپه زړونوکښې یئ رُعب اچولی وؤ،اودااوآزونه به یې کول،واپس ځئ واپس ځئ.﴿لَّمْ تَرَوْهَا﴾ یعني عمومي طورباندې مونه وې لیدلې،نودَحضرت حذیفهؓ لیدل دې سره منافي نه دي.﴿وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا﴾خطاب مؤمنانوته دي،مراددَعملونونه خندق کنستل،صف بندیاني کول وغیره دي.

اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَاِذْ زَاغَتِ

کله چه راغلي دالښکرې تاسوته دپاسه طرفه ستاسونه اودښکته طرفه ستاسونه اوکله چه وازې پاتې شوې

الْاَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ الظُّنُوْنَا ۝ هُنَالِكَ

سترګې اوورسیدل زړونه مروته اوتاسوګمانونه کول په الله جل جلاله باندې مختلف ګمانونه.په دغه مقام کښې

ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ۝۱ وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ

وازمیلې شومؤمنان اوورجړقولی شوپه جړقولوسختوسره،اوکله چې ویل به منافقانواوهغه کسانوچه

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اِلَّا غُرُوْرًا ۝۲

په زړونودهغوئ کښې مرض وؤ.وعده نه ده کړې مونږسره الله ﷻ اورسول دده مګردهوکه

﴿إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ﴾بدل دې د(اذجاتكم جنود)نه، د(فوقكم)نه مرادمشرقي جانب دې چې دَهغې جانب نه بنوغطفان اودَدوئ ملګرې اهل نجد،بنوقريظه،بنونضيرراغلي وؤ.﴿وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ﴾دينه مغربی جانب مراد دې،دی جانب نه قريش،بنوكنانه وغيره راغلی وؤبعض وائی چه فوق اواسفل کنايه ده دَځلورو واړوطرفونونه،کمافی قوله تعالی:يومَ يغشاهم العذاب من فوقهم ومن تحت ارجلهم (عنکبوت:۵۵)﴿وَإِذْ زَاغَتِ ٱلْأَبْصَٰرُ﴾يعني متحيرې شوې،دَډيرحيرانتيا اودَخوف په وخت کښې دَانسان سترګې وازې وي بنديږي نه.﴿وَبَلَغَتِ ٱلْقُلُوبُ ٱلْحَنَاجِرَ﴾داهم کنايه ده دَشدّة الرعب اوخوف نه﴿وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ﴾ای فی حق الله،دا خطاب ياصرف مخلص مسلمانانوته دې.دَمسلمانانوتعداددَدشمن په مقابله کښې ډيرکم وؤ،په ظاهره کښې دَفتح څه صورت په نظرنه راتلو،نوپدې وجه بتقضاء بشريت دَمؤمنانوپه زړونوکښې مختلف قسمه ګمانونه راتلل.بعضوګمان وؤچې شايدمونږته به فتحه نصيبهٔ نه شي.بعضوداګمان وؤچې کافران به نن ورځ په مديني قابضه شي.بعضوبه داوئيل چې مونږته به فتح ملاويږي.ياخطاب مسلمانانواومنافقانودواړوته دې،اودَ﴿ٱلظُّنُونَا﴾نه مرادمختلف

قسمه ظنون دي. مؤمنانو به وئیل هذاماوعدناالله ورسوله وصدق الله ورسوله ، اومنافقانو به وئیل چې: ماوعدناالله ورسوله الاغرورا، ،قرطبي،

﴿هُنَالِكَ ٱبْتُلِيَ ٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ پدې کښې هم دَغزوهٔ احزاب دَسختوحالاتوتذکره، ،هنالك، یاظرف زمان دې. یعني پدغه وخت کښې یاظرف مکان دې یعني پدغه ځاي کښې،دَابتلاء اثرپه زړه اوباطني قوتونوباندې وي اودَزلزال اثرپه ظاهري قوتوباندې،نومطلب داشوچې مؤمنان دَغزوهٔ احزاب په موقع په ظاهري اوباطني دواړه پریشانواوسختوکښې مبتلاوو.

﴿وَإِذْ يَقُولُ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ﴾ داتفصیل دې دَظن المنافقون،روایت دې چې دَخندق کنستلوپه وخت کښې یو مضبوط کاڼې صحابه کرامو مخې ته راغې،صحابه کرامو ډیرکوشش اوکړو ،خومات یې نکړو ،نبی علیه السلام یی رااوغوختلو ،نبی علیه السلام په درې ګزاره کښې مکمل مات کړو ،هرګزارسره به یوه رڼا پورته کیده اونبی علیه السلام به داآیت تلاوت کولو .وتمت کلمة ربک صدقاوعدلا،انعام ۱۱۵ ،حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه ورنه دې باره کښې تپوس اوکړو نونبی علیه السلام ورته اوفرمایل: اول ګزار سره ماته کسریٰ سلطنت ښارونه او دَ هغې سره اخوادیخوا علاقې اوچتې کړې شوې،او ما پخپلو سترګو اولیدلې، دویم ګزار کښې دَروم سلطنت علاقې اودریم کښې می حبشې ښارونه اولیدل ،نسائی مختصرا،بعضو روایتو کښې راځي چې منافقینوداوریدل نو اویئ ویل:چې مونږ دلته خندق نشو کنستې،اودې مونږ سره دَفارس اوروم دَ بنګلو وعدې کوي،الطبراني في المعجم الکبیر: ج۱۱ص:۳۷۲،او بعضو منافقینو داوئیل چې دااوګورئ مونږ دقضاء حاجت لپاره لرې غونته کښې بهرنه شووتلې نوپداسې لویولویوښارونوبه څرنګه قبضه اوکړو ،نودانده مګرتپوله دهوکه ده،

﴿وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾ دینه مرادیاضعیف الاعتقادمسلمانان دي،یامنافقان دي اوعطف یادَتغایر وصفي دَوجه نه دې یاعطف تفسیري دې﴿مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ﴾ مراددَوعدې نه وعده مذکوره ده چې مسلمانان به یمن،شام،فارس وغیره ښارونه قبضه کوي.

وَإِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟ ۚ وَيَسْتَـْٔذِنُ

اوکله چه وویل یوې ډلې ددوئ نه اې یثرب والو نیشته دې طاقت دمقابلې ستاسونوواپس شئ.او اجازت غوختلو

فَرِيقٌ مِّنْهُمُ ٱلنَّبِىَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ وَمَا هِىَ بِعَوْرَةٍ ۖ إِن يُرِيدُونَ

یوې ډلې ددوئ نه دپیغمبرنه ویل به دوئ چې بیشکه کورونه زمونږخالی دی.اونه دی هغه خالی.اراده نه لری دوئ

إِلَّا فِرَارًا ۝ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا۟

مګردتیښتې.اوکچرې داخل کړې شی په دوئ باندې یولښکرداطرافودمدینی نه.بیادرخواست وکړې شی ددوئ نه

ٱلْفِتْنَةَ لَءَاتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ إِلَّا يَسِيرًا ۝ وَلَقَدْ كَانُوا۟

دفتنې نوخامخابه راشی دوئ هغې ته اووخت به نه تیره وی په کورونوکښې مګرډیرکم.اوپه تحقیق سره وو دوئ

عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلْأَدْبَٰرَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا ۝

چې وعده ئې کړې وه دالله سره مخکښې ددینه چې شاګانې به نه ګرځوي دوئ.اودوعدې دالله به خامخا تپوس کیږي

﴿وَإِذْ قَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ﴾ ضمیرراجع دې منافقانوته،پدیکښې دمنافقانودیوبل شرارت ذکردې،دوئ به دغزوۀ احزاب په موقع خلقوته وئیل چې اوس دلته په مورچوکښې اوسیدل ممکن ندي.دلته اوسیدل دمرګ خولې کښې اوسیدل دي،لهذاکه ژوندغواړئ نوواپس مدینې ته لاړشئ.﴿يَٰٓأَهْلَ يَثْرِبَ﴾ یثرب دمدینې منورې قدیم نوم وؤ.یثرب دعمالقودنیکه نوم وؤنوپدې وجه مدینې ته به یې یثرب وئیلو،حضورﷺ دهجرت نه ورستودې نوم(مدینة الرسولﷺ)شو.اوس ورته یثرب وئیل ګناه دې،په حدیث کښې دي،(من سمّی المدینة یثرب فلیستغفرالله هی طابة،هی طابة،هی طابة)اووجه داده چې یثرب مشتق دې د(تثریب)نه،تثریب وئیلی کیږي،ملامتیااوعاروركول كقوله تعالى: لاتثريب عليكم اليوم(يوسف: ۲۹۲)دلته ورته په قرآن کښې یثرب وئیل بطورحکایت دی دقول دهغوئ نه﴿لَا مُقَامَ لَكُمْ فَٱرْجِعُوا۟﴾ مقام یاصیغه دظرف ده یعنې دلته په میدان جنګ کښې تاسوته اوسیدل مناسب اوممکن ندي،خپل کورونوته لاړشئ چې دمرګ نه بچ شئ.یامصدر دې اومطلب دادې چې په دین محمدیﷺ

باندې قيام ندې پكاربلكه واپس خپل زوړ دين يعني كفراوشرك ته رجوع اوكړئ اوكوم بيعت چې موحضورﷺ سره كړيدې دهغې نه واپس شئ ﴿وَيَسْتَـْٔذِنُ فَرِيقٌ﴾ مبدل منه دې اوورستو ﴿يَقُولُونَ﴾ ورنه بدل دې.

﴿إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ﴾ يعني زمونږكورونه خالي غيرمحفوظ دي ځكه چې نارينه پكښ نشته، يا (عورة) پخپلې اصلي اولغوي معنى كښ دې، يعني زمونږكورونه ناقص دي، ديوالونه ئې واړه اوكچه دي نوهسې نه چې احزاب راشي اووراخل شي، يايئ مطلب داؤچې دآبادئ نه لرې دي، حالانكه ددوئ هيڅ عذرنه وؤمقصدئى صرف دجنګ نه تختيدل وؤ. ﴿وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِم مِّنْ أَقْطَارِهَا﴾ اقطاردقطرجمع ده، جانب ته وائى اى من اطرافها، داد منافقانو دنفاق اوخبث باطن مثال دې، چې كچرته دمديني داطرافونه خلق راشي اوپه مسلمانانوباندې حمله اوكړي اودوئ ته هم دمسلمانانو خلاف جنګ كولودعوت وركړي نودوئ به فوراً دهغوئ دعوت قبول كړي، داعذراوبهانه به ورته نكوي چې زمونږكورونه خالي دي، تاسوته چې دغه عذركوي نوداحقيقي عذرنه دې بلكه دخپل نفاق د وجهې نه ئې كوي. ﴿ٱلْفِتْنَةَ﴾ نه مراد مسلمانو خلاف جنګ دې، يعنى دوئ نه د مسلمانانو خلاف درخواست اوشى، ﴿لَءَاتَوْهَا﴾ نوفورا به دا درخواست قبول كړې، ﴿وَمَا تَلَبَّثُوا۟ بِهَآ﴾ ضمير مجرور راجع دې، الفتنه ته يا بيوت ته يعنى بيا به دوئې جنګ كښ تاخير نه كوي، اوكورونو كښ به نه حصاريږى، بلكه فورابه اوځي ﴿إِلَّا يَسِيرًا﴾ مراد سرعت او جلدى ده.

بعضِ مفسرين وائى چې مرادورنه ارتداددې، يعني كچرته دوئ نه دكفرته واپسئ مطالبه اوكړيشي نوبنه په آسانئ سره به ئى قبوله كړي، پدې صورت كښ به ضميرد (بها) مديني ته راجع وي، يعني دارتدادنه ورستوبه بيادوئ په مدينه كښ نشي اوسيدلې.

﴿إِلَّا يَسِيرًا﴾ مګرلږساعت، يابه ئى اللهﷻ هلاك كړي يابه ئى دمسلمانانوپذريعه دمديني نه اوباسي (البحر المحيط) ﴿وَلَقَدْ كَانُوا۟ عَـٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ مِن قَبْلُ﴾ اى من قبل غزوة الخندق،

پدې آيت کښې دَهغه بعضِ منافقانو ذکردې چې په غزوهٔ بدر کښې ئې شرکت نه وؤکړې، کله چې الله ﷻ هلته مسلمانانو ته فتحه ورکړه نو بيادوئ افسوسونه کول او وئيل به يئ چې کچرته بياداسې موقع راشي نومونږخامخادَمسلمانانو سره جنګ ته ځو،ليکن چې موقع راغله نو بيائې فراراختيارکړو.

﴿وَكَانَ عَهْدُ ٱللَّهِ مَسْـُٔولًا﴾ يعني دَالله ﷻ سره کړې شوې عهدباره کښې به الله ﷻ دَقيامت په ورځ تپوس کوي اوپه عدم وفاء باندې به سزاورکوي،تعبيرپه ماضي سره دَوجې دَيقين فى الوقوع نه شويدې.

قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ ٱلْمَوْتِ أَوِ ٱلْقَتْلِ وَإِذًا
اووايه ته(اې پيغمبره!) هرګزنفع نه درکوي تاسوته تختيدل کچرته وتختئ تاسودمرګ نه يادَقتل نه اوپه دغه وخت کښې
لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾ قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم مِّنَ ٱللَّهِ
تاسوته به نفعه نشي درکولې مګرډيره کمه،اووايه ته(اې پيغمبره!)څه څوک دې هغه ذات چې بچ کړي تاسودَالله ﷻ دَ عذاب نه
إِنْ أَرَادَ بِكُمْ سُوٓءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً
که اراده وکړي الله تاسوته دَتکليف رسولواوياڅوک دې چه تاسونه دخدائ رحمت لرې کړي،که الله اراده وکړي په تاسو درحمت
وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ
او نه به مومي دوئ دخپل ځان لپاره ماسوادَالله ﷻ نه دوست اونه مددګار،په تحقيق سره معلوم دې الله ﷻ ته
ٱلْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَٱلْقَآئِلِينَ لِإِخْوَٰنِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾
منع کونکي دستاسونه اوويونکي رونړوخپلوته چه راشئ مونږته،اونه راځي جنګ ته مګرلږ.

﴿قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلْفِرَارُ﴾ دامنافقانو ته خطاب دې اودهغوئ بذدلى بيان دې چې کچرته تاسودَجنګ نه دَمرګ اوقتل دَخوف پوجه تختئ،نوداتاسوته هرګزفائده نه درکوي،ځکه چې دَمرګ نه په هيڅ صورت کښې مفرنشته،﴿وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ يعني که بالفرض والمحال

تاسو ته فرار فائده درکړي نو دا به هم عارضي فائده وي ډيره لږه زمانه به وي، ﴿قُلْ مَن ذَا ٱلَّذِى يَعْصِمُكُم﴾ استفهام په معنیٰ دَنفي سره دې، ای لااحدیمنعکم یعني کچرته الله ﷻ ستاسو دَهلاکولو اراده وکړي جنګ ته تللو نه بغير، يا څه بل څه نقصان د ررسول او غواړي نو بيا مو هم هيڅ څوك نشي بچ کولې نو دَجنګ نه تختيدلو کښې څه فائده ده؟

﴿أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً﴾ دينه مخکښې عبارت مقدر دې، تقدير دَعبارت دارنګه دې، اویصیبکم بسوءٍ ان اراد الله بکم رحمةً، یعني کچرته الله ﷻ په تاسو رحم کرم کول او غواړي نو څوك به تاسو ته تکليف د رور سوي، يا او (منْ ذالذی یمنعُ رحمة الله منکم ان اراده الله...) ﴿قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلْمُعَوِّقِينَ﴾ دَ عوق "نه دې رکاوټ ته وائي ای المثبطین، مانعین، روکاوټ جوړه ونکي، پدې آيت کښې زجر دې منافقانو ته چې خپله هم دَ بزدلی پوجه جهاد ته نه تلل او خلق به يې دَجهاد نه منع کولو لکه يو روايت کښې راځي چې دَخندق په موقعي يو مخلص مسلمان دَخپل سکه ورور خواته لاړو نو اوئ ليدل چې هغه وريته شوي غوښه خوړله او نبيذ التمر ورسره وو، نو ده ورته وويل چې: انت هٰهنا ورسول الله ﷺ بين الرّماح والسيوف، يعني ته دلته يئ او رسول پاك ﷺ دَنيزو او دَتورو په مينځ کښې دې، نو ورور ورته اوويل چې: هلّم الیّ فقداحیط بك يعني ته هم راځه څما خواته، څکه چې تاسو په داسې حال کښې راګيرشوی يئ چې تاسو دَهغي مقابله نشئ کولې، نو دې مخلص مسلمان ورور ورته اوويل چې ته کاذب ئی او څه به ددې خبرې اطلاع حضور ﷺ ته ورکومه، ﴿لِإِخْوَٰنِهِمْ﴾ مراد ترينه وطنی او قومی رونړه دی، نسبی رونړه ترينه هم مراد اغتسې کيدې شی، (هلّم) اسم فعل دې پمعنیٰ دَ "احضر" او "ايت" سره، دَاهل حجاز په نيز چې دَدوئ په لغت قرآن نازل شويدې پدې کښې واحد، تثنيه او جمع برابرد ی نو دَدې وجه نه هلمّ ذکر شو او "هلمّوا" ذکر نه شو، ﴿وَلَا يَأْتُونَ ٱلْبَأْسَ إِلَّا قَلِيلًا﴾ دَدې دوه مطلبه کيدې شي، يو دا چه دَډيرکم وخت لپاره جنګ ته رااوځي، يعني دَرياکارئ او شهرت دپاره خوراشي خوچې کله جنګ ګرم شي او هرسړې په جنګ کښې اخته شي، نو دوئ په داسې حالت کښې خپې سپکې کړې او وتختي، (۲) يا مطلب دادې چې دوئ کله ځنه اوډيرلږ جهاد ته راځي اکثر او بيشتر عذرونه کوي او جهاد نه ځان پاتې کوي.

اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ
بخل كونكى دى په تاسوباندي،:كله چې راشي يره وينى به ته دوئ چه گورى به تاته،اوړى رااوړى سترگې ددوئ
كَالَّذِيْ يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ
پشان دهغه سړى چې په هغه باندې بې هوشى راوستلې شوى وى دمرگ،پس كله چه لاړه شي يره درځى په تاسو
بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ
په ژبوتيروسره،بخيلان دى په خير(مال غنيمت)باندې،دغه كسان،دوئ ايمان نه دې راوړې نوبربادكړل الله جل جلاله
اَعْمَالَهُمْ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝١٩ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ
عملونودَدوئ اودې داكارپه الله جل جلاله باندې آسان،گمان كوى دوئ په لښكرودكافرانوچه نه دى تلى هغوئ،
وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ ۖ
اوكه بياراشي دغه لښكرې نوتمنا به كوي دوئ چه آرمان دوئ اوسيدونكي وې په باندوكښې،تپوس بې كولې،ستاسودحالاتو،
وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ۝٢٠
اوكچرې وې دوئ په تاسوكښې نونه به وژجنگ كړې دوئ مگرلږ

﴿اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ﴾ دې كښې دَ منافقينو بل قبيح وصف بيان دې،چې هغه بخل دې،يعنى اول خودوئ تاسو سره په جهاد كښې شريک كيږى نه او كه شريک شى نو صرف رياكارى اوخودنه ئى مقصود وي،دَالله تعالى په لار كښې تاسو سره نه جاني تعاون ته تيار وي،او نه مالى تعاون ته تيار وي،دواړو لحاظ سره دوئى بخل كوي،اشحةجمع ده شحيح ده، منصوب بنا بر ذم دي،ياحال دې دَيأتونضميرنه، ﴿فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ﴾داتفريع دَه په وصف جبن باندې،يعنى په وخت دَجنگ كښې داسې وي لكه په چاباندې چې سكرات الموت طاري شوي وي﴿كَالَّذِيْ يُغْشٰى﴾اى كدورانِ الذى....ياكنظرالذى يغشى...﴿فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ﴾داپه وصف شح باندې تفريع ده،چې كله جنگ ختم شى اومال غنيمت تقسيميدو وخت راشى نو بيادوئ دَهرچانه

مخکښ وي اوپه هره طریقې سره خپل حق اواستحقاق ثابتوي.﴿سَلَقُوكُم بِأَلْسِنَةٍ﴾زبان درازي او سپکې څپورې ویلوته وائي،مطلب دادې چې بیاتاسوته طعنې درکوي اووائي چه ټوله توره خومونږه اوکړه،تاسوزمونږنه زیات په غنیمت کښ حق دارنه یئ،لهذامونږته زیات مال راکړئ.﴿أَشِحَّةً﴾منصوب بنا برذم دې اویاحال دې دَ سلقوکم ضمیر مرفوع نه .الخیر نه مرادغنیمت دې.﴿أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا﴾ یعني بنیاداواساس دَدې صفاتوذمیموؤ،دَدوئ عدم ایمان دې.﴿فَأَحْبَطَ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ﴾سوال واردیږي چې دَاعمالودارمدارخوپه ایمان دې،هرکله چې دوئ مؤمنان نه دي نواعمال ئې هم هدردي، نوبیادَاحباط څه معنیٰ ده،جواب(۱)احباط نه مرادعدم قبولیت دې،فصارت کالمحبطة(۲)یا مرادداَعمالونه هغه عملونه دي چې دوئ نفاقاًوتصنعاًکړي وي،اواحباط نه مرادپه دنیاکښ فائده نه حاصلیدل دي،(۳)یا﴿فَأَحْبَطَ اللَّهُ﴾معنی دَاظهرالله سره دې،یعني دَدوئ اعمال چې نفاق وغیره دی الله ﷻ ظاهرکړل.﴿وَكَانَ ذَٰلِكَ﴾یعني دَحبط دَاعمالو.

﴿يَحْسَبُونَ الْأَحْزَابَ﴾دیکښ هم دَمنافقینو بزدلئ بیان دې. یعني دوئ دومره بزدله دي چې کله دوئ ته اوویلې شي چې احزاب لاړل نودوئ داګمان نه کوي چې دااحزاب به دَمسلمانانو دَقتل نه بغیرلاړشي.﴿وَإِن يَأْتِ الْأَحْزَابُ﴾کچرته بالفرض أحزاب دوباره راشي نودامنافقین به داتمنا کوي چې کاش مونږدَمدینې په باندوکښ اوسیدلې اودَمسلمانانوپه باره کښ ورته صرف معلومات کیدلې،چې دَجنګ څه انجام دې اوعملې کارمو،نه کولې.﴿وَلَوْ كَانُوا فِيكُم﴾ یعنی که دامنافقان تاسره یوځائ هم شي نوبیاهم تاسوسره په جهادکښ حصه نه اخلي مګرلږساعت لپاره.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ
په تحقیق ده ستاسودپاره په ذات دَرسول دَالله ﷺ کښ نمونه(اقتداء)ښائسته، هغه چالره چه دې امیدلریږی(یریږی)دَالله ﷻ

﴿۲۱﴾	كَثِيرًا	اللَّهَ	وَذَكَرَ	الْآخِرَ	وَالْيَوْمَ
دیر.		الله ﷻ	وي	اویاده	دآخرت	اودورځي

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ﴾ پدې آیت کریمه کښې دَاتباع درسول پاکﷺ ترغیب دې، چې رسول پاکﷺ دَاعلاء کلمة الله لپاره لوږې تیره وې، خیټې مبارکې پورې کانړې تړې، احد کښې ئې مبارک غاښونه شهیدان کیږې، مخ مبارک ئې زخمي کیږې، محترم تره ئې شهید کیږې، پخپله په نفس نفیس خندق کنستلو لپاره میدان ته راځي تاسوهم په صبراوثبات کښې دَهغه اقتداء اوکړئ، آیت کریمه اګرچه دَغزوۂ احزاب په موقع نازل دې په معاملې دَجهادکښې لیکن مفهوم ئې عام دې، دَژوندهرشعبه کښې دَحضورﷺ اتباع مراد ده، عباداتو، معاملاتو، ماکولاتو، مشروباتو، ملبوساتو، حرکاتو، سکناتو، حرکاتو وغیره کښې دَدغه جامع الصفات، ومنبع البرکات ذات اتباع لازمي ده، هذه الاية الكريمة اصل كبير فى التأسي برسول اللهﷺ فى اقواله وافعاله واحواله... (ابن كثير) ﴿أُسْوَةٌ﴾ یامصدر دې پمعنیٰ دَقُدوةٌ، یاپمعنیٰ دَ"مايؤتسى به" چې اقتداء ورپسې کیږې اودَخلقو لپاره نمونه وي، ﴿لِمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ﴾ یابدل دې دَ(لکم) نه یعني چې کوم خلق دَاللهﷻ نه یریږي اودآخرت دَسختې ورځې نه، نوهغوئ لپاره دَحضورﷺ په اتباع کښې بهترینه نمونه ده، یاتخصیص بعدالتعمیم دې، ﴿وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾ یعنی هرحال کښې ئې اللهﷻ یادوي که خوشحالي وي که غم، صحت وي که مرض، دینه واضحه شوه چې دَحضورﷺ دَاتباع اهمیت به هغه چاسره وي چې دغه مذکوره صفات پکښې وي، ځوک چې دَدغه صفاتو نه محرومه وي نو اتباع دَرسول پاکﷺ نه به هم محرومه وي.

هَٰذَا	قَالُوا	الْأَحْزَابَ	الْمُؤْمِنُونَ	رَأَى	وَلَمَّا
دی	داهغه	چه	دوئ	دکافرانو نوورپل	مؤمنانولښکرې	اولیدل	چه	،اوکله

ز	وَرَسُولُهُ	اللَّهُ	وَصَدَقَ	وَرَسُولُهُ	اللَّهُ	وَعَدَنَا	مَا
رسول،	اودهغه	الله ﷻ	دي	اورشتیاویلي	دَهغه	الله ﷻ اورسول	مونږسره	کړیوه	ئ	وعدۂ	چه

وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ۝

اوزيات نكړو دوئ لره مگر ايمان او تابعداري،

﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ﴾ دمنافقينو صفاتو بيان نه ورستو اوس بطور تقابل مؤمنانو صفات بيانيږي. يعنى دَ منافقينو برعكس كله چې صحابه كرامو ﷺ اوليدل چې قريش يواځې په مديني باندې حمله ته ندى راغلى بلكه دَ ځان سره ئې دَ قبائلو لښكرې هم راروانې كړيدي نوګبراؤنه شول بلكه نورئې هم ايمان اويقين زيات شو، ﴿قَالُوا۟ هَٰذَا﴾ مشاراليه هغه حالات اوتكليفونه دي كوم چې صحابه كرامو پدغه موقع اوليدل، ﴿مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ ما موصوله ده اومراد دَوعدې نه دَنصرت اوغلبې وعده ده چې امتحاناتو اوتكليفاتو نه ورستوراځى لكه چې په سورة بقرة (۲۱۴) «ام حسبتم ان تدخلوا الجنة ولما ياتكم مثل الذين خلوامن قبلكم....الا ان نصر الله قريب» كښې ذكرده. ﴿وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ﴾ اى ظهر صدقهما، يعني منافقانو خو دَدشمن كثرت اوسخت حالات ليدلو سره وئيلى ووچې «ماوعدنا الله ورسوله الاغرورا» ليكن مسلمانانو چې دغه حالات اوكتل نو وئيل چې الله ﷻ اورسول دَهغه چې كومه وعده كړې وه چې دَابتلاء اوازمائش نه ورستوبه درته فتح ملاويږي، نوهغه صادقه وه، ظهورئې اوشو، ﴿وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا﴾ يعني دغه حالاتو ئې ايمان متزلزل نه كړلو، بلكه په الله ﷻ اودَهغه په وعدوئې نورهم اعتماد زيات شو.

مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن

څنې دَمؤمنانو نه داسې سړي دي چه پوره ئې كړه هغه وعده چه دَالله ﷻ سره ئې كړې وه، پس بعضې ددوئ نه هغه وو چه

قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ۝

پوره ئې كړو نذرخپل اوبعضې ددوئ نه هغه دي چه انتظاركښې دي، اونه يې ده راوستې خپلو وعدو كښې هيڅ قسم تبديلي

لِّيَجْزِيَ	اللّٰهُ	الصّٰدِقِيْنَ	بِصِدْقِهِمْ	وَيُعَذِّبَ	الْمُنٰفِقِيْنَ

دپاره ددې چه بدله ورکړي الله ﷻ رښتنوته دهغوئ دَ رشتيا اوعذاب ورکړي منافقانونه

اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٢٤﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ

که وغواړي هغوئ ته عذاب ورکول اويا توفيق دَتوبې ورکړي هغوئ ته،بيشکه الله بخښونکي مهربانه دي اوواپس کړل الله

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۭ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ

هغه کسان چه کفرئې کړې وؤسره دخپلې غصې نه،او يې نه موندلو هيڅ خير،اوکافي شو الله ﷻ مؤمنانولره دَجنګ نه

وَكَانَ	اللّٰهُ	قَوِيًّا	عَزِيْزًا	﴿٢٥﴾
اودې	الله ﷻ	قوي	غالب،	

﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا﴾ دا دويم تقابل دې،چې منافقينو الله سره وعده کړې وه،خو چې کله دَ جنګ موقع راغله نو بيايئ بزدلي اوخودله اوجهاد کښې شريک نه شول،اومؤمنانو هم دغه وعده کړيوه،خوهغوئ وعده خلافي اونکړه،بلکه په خپلې خبرې ثابت قدم ادريدل ځنې پکښې شهيدان شو اوځنې لاتراوسه شهادت جام ته تږي په ميدان ګرځي،صحابه کرامو ژوند دَداسې مثالونونه ډک دې،انس بن نضر ﷺ دَبدرپه جنګ کښې شرکت نه وؤکړې حضور ﷺ ته ئې عرض اوکړو،لئن اشهدني الله قتال المشركين ليرين الله مااصنع،يعني که چرته الله ﷻ څه په قتال دَمشرکانوکښې حاضرکړم نوالله ﷻ به اووينې چې څه څه کوم،نوچې کله دَاحدجنګ شروع شواوپه هغې کښې مسلمانان يوبل طرف منتشرشول،نوده اوئيل:اللّٰهم انى اعتذراليك مماصنع هؤلآء اوبيامخکښې شواوئې ليدل چې يوبل صحابي حضرت سعدبن معاذ ﷺ راروان دې هغه ته ئې اووئيل:ياسعدالى اين؟ واهالريح الجنة اجدُهادون اُحدٍ،چرته ځې،په الله ﷻ مې دې قسم وي چې ماته دَجنت خوشبوئې دَاحددَغرنه راځي،دائې اووئيل اوتوره خوئې په لاس کښې وه،دکافرانوپه ګڼره کښې ورننوتلو،ترڅوچې شهيدشوې نه وؤواپس نه شو،دَشهادت نه پس دَهغه بدن اوکتلې شونودآتيا(٨٠)نه زيات زخمونه دَغشواودَتورو وربانده وؤ،خورئې دې دګوتوپه بندوسره اوپيژندلو،

﴿فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ﴾نحب وئيلی کيږي نذرته،دلته مستعاردي په استعاري تصريحيه سره دپاره دمرګ ځکه چې مرګ هم دنذر په شان لازم وي،يعني بعض صحابه هغه دي چې کوم نذرئی منلي ووچې(لئن اشهدني الله...) هغه ئی پوره کړواوجام دشهادت ئی نوش کړو.

﴿وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ﴾بعضي داسې دي چې تراوخه ئی شهادت ندې نصيب شوي ليکن انتظاردشهادت کوي، روايت کښې دي چې طلحه په باره کښې حضور ﷺ فرمائيلي ووچې: هذا ممّن قضیٰ نحبه ...ي اګرکه پدغه وخت کښې نه ووشهيدشوي ليکن په غزوهٔ احدکښې ئی حضـ ﷺ دکافرانونه پخپل لاس سره بچ کړې وو،خپل لاس ئی ډهال ګرځولي ووډکافرانو د...شو.لاس ئی دغشودلږيدلوپوجه شل شوي وو،سنه(۳۰هـ)کښې جنګ جمل په موقع شهيدشو ﴿وَمَا بَدَّلُواْ تَبْدِيلًا﴾دزمانې په تيروسره يې خپلوارادو،عزائمو او وعدوکښې څه بدلون ندې راوستې،بلکه هغه شان ټينګ په خپل موقف ولاړ دی.

﴿لِّيَجْزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ﴾داثمره اوغايه ده،دتقابل.يعنی الله تعالی د غزوه خندق په موقع دومره سخت حالات ځکه راوستو چې د ريشتنی مؤمنانواودمنافقانو پته اولګی،اوبيا ريشتنی مؤمنانو ته د هغوئی عمل بدله او منافقانوته د هغوئی دمنافقت سزاورکړي

﴿وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ﴾مشيت تعلق توبې سره دي،يعنی الله تعالی که اوغواړی نونفاق په حالت کښې به ورله مرګ درکړی.اودجهنم اوربه پرې لازم اوګرځی،اوکه اوغواړی نوتوبې توفيق به ورله ورکړی.اوعذاب نه به بچ کړی،لهذاداشکال نشی کيدې چې نفاق خودکفر سخته درجه ده،نفس کفر باندې عذاب حتمی اولازمی دې،نو نفاق باندې ولې حتمی اولازمی اونه ګرځيدو،﴿وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيْظِهِمْ﴾پدې کښې تفصيل دې دهغه انعاماتوچې په غزوهٔ احزاب کښې الله ﷻ په مسلمانانوباندې کړی وو،چې دهغې اجمالأذکرپه(اذکروا نعمة الله)کښې شوې دې،دلته پنځه(۵)انعامات ذکرکيږي،اول داچې﴿وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ﴾يعني الله ﷻ کافران بغيردفتحې اودځه ميلاويدونه اوسره دغصې،غضب نه واپس کړل،دويم:﴿وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱلْقِتَالَ﴾الله ﷻ مسلمانان دجنګ نه بچ کړل اوپخپل غيبې

قوت لکه هوا او دَفرشتو په لښکرو سره ئی دَهغوئ نصرت اوکړو.

وَاَنۡزَلَ الَّذِیۡنَ ظَاهَرُوۡهُمۡ مِّنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ مِنۡ صَيَاصِيۡهِمۡ وَقَذَفَ
اوراکوزیئ کړل هغه کسان چه مددیئ کړي وؤدلښکرودَاهل کتابونونه دَقلاګانوخپلونه.اوویی غورزؤله
فِيۡ قُلُوۡبِهِمُ الرُّعۡبَ فَرِيۡقًا تَقۡتُلُوۡنَ وَتَاۡسِرُوۡنَ فَرِيۡقًا ﴿۲۶﴾ وَاَوۡرَثَكُمۡ اَرۡضَهُمۡ
په زړونودوئ کښې يره،يوه ډله تاسوقتل کوله اوقيدکوله تاسوبله ډله.اوپه ميراث يې درکړه تاسوته زمکه دهغوئ
وَدِيَارَهُمۡ وَاَمۡوَالَهُمۡ وَاَرۡضًا لَّمۡ تَطَـُٔوۡهَا ؕ
اوکورونه دهغوئ اومالونه دهغوئ اوپه ميراث کښې به درکړيډاسې زمکه چه تاسوقدم نه دې ايخودلې په هغې باندې.
وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرًا ﴿۲۷﴾
اودې الله جَلَّ جَلَالُهٗ په هرڅيزباندې قادر

﴿وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم﴾دريم انعام:هم ضميراحزابوته راجع دې،يعني کوموخلقوچې دَمسلمانانوسره غداري کړي وه يعني بنوقريظه اودَاحزابو ملګرتيااوتعاون ئی کړې وؤ ،هغوئ هم دَمسلمانانوپه لاسونو قتل شو﴿مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ﴾يعني بنوقريظه﴿مِن صَيَاصِيهِمۡ﴾صياص جمع دَصيصة ده،هرهغه څيزته وائی چې په هغې سره سړې دَځان دفاع کوي،دې وجې نه دَغوايه ښکرته هم صيصة وائی،دلته ترينه مراد دَهغوئ قلعې دي.

پدې آياتونوکښې دَبنوقريظه سره دَغزوې ذکردی چې دَهغې مختصربيان داسې دې چې کله دَغزوهٔ احزاب نه پس حضورﷺ اومسلمانان خندق نه مديني ته لاړل اوخپلې اسلحې ئی کيخودلې،حضورﷺ دَغسل اراده وه،دې کښې حضرت جبرائيلؑ پخپل آس حيزوم باندې راغې اووئی وئيل:يارسول اللهﷺ وضعتَ السلاح،انّ الملائکة لم تضع السّلاح،انّ الله تعالى يامرك بالسير الى جانب بني قريظه واناعامدٌ اليهم،يعني تاسوخپلې اسلحې کيخودلې،فرشتوتراوځه پورې خپلې اسلحې ندې کيخودلې،الله پاکﷻ امرکوی تاته چې بنی قريظه ته لاړشئ اوپه هغوئ حمله اوکړئ اوځه هم هلته ځمه،بنوقريظه هغه يهوديان وؤچې دَمديني منورې نه درې ياڅلورميله فاصلې باندې اوسيدل،دَبني نظيراوبني قينقاع په شان ئی دَحضورﷺ سره

معاهده کړې وه، چې مونږتاسوبه دَیوبل سره جنګ هم نه کوؤاوکچرته په مدینی باندې څوک حمله کوی نوتول به ئی په شریکه دفاع کوؤ، بني قینقاع په غزوهٔ بدرکښې دامعاهده ماته کړه چې هغوئ ته دَدې سزاملاؤشوه، بني نظیرهم دَخپلې عهدشکنئ په وجه دَمدینې نه جلاوطن شوی وؤوبنوقریظؤپه غزوه احزاب کښې دامعاهده ماته کړه اودَاحزابوسره یوځائ شول، نودَغزوهٔ احزاب نه بعدحضورﷺ دَهغوئ سره دَجنګ دَپاره روان شو. خپلوصحابؤته ئی اعلان اوکړوچې: لایصلیَن احدکم العصرالاَفی بني قریظه، یعني مازیګرمونځ به په بني قریظه کښې کوؤ، صحابه کرام ټول جهادته تیارشول، بنوقریظه طرف ته روان شول په لاره کښې دَمازیګردَمونځ وخت راغې نوبعضِ صحابؤظاهردَحکم دَحضورﷺ ته اوکتل اوپه لاره کښې مونځ اونه کړوبلکه مونځ ئی قضاشواومقرره ځائ ته ورسیدل، اوبعضِ صحابؤ مقصددَحکم ته اوکتل اومونځ ئی اوکړو، حضورﷺ په دواړوجماعتونوباندې عتاب اوخفګان اونه کړو، دَوجې دَاجتهاد دَدوئ دواړونه، صحابه کرام اوحضورﷺ دَبنوقریظؤعلاقوته ورسیدل، بنوقریظؤته چې اطلاع ملاؤشوه نوخپلوقلعوکښې بندشول، حضورﷺ تقریباًپنځویشت(۲۵)ورځوپورې دَدوئ محاصره اوکړه، کله چې بنوقریظؤته یقین اوشوچې حضورﷺ دَدوئ نه نه واپس کیږي نودَدوئ سردارکعب بن اسدورته اووئیل چې څه تاسوته درې خبرې پیش کومه چې کومه ستاسوخوښه وي قبوله ئی کړئ، یوه داچې مونږپه حضورﷺ باندې ایمان راؤړوځکه چې دَهغه حق والې تاسوته معلوم شویدې هغوئ داقبوله نکړه، کعب ورته اووئیل چې دانه منئ نوداسې به اوکړوچې خپلې ښځې اوبچې به اول قتل کړوچې بې فکره شو، بیابه دَحضورﷺ سره مقابله اوکړو، که ناکامه شونودَښځوبچوفکربه نه وي اوکه کامیاب شونوښځې ډیرې دي، لیکن هغوئ داهم قبوله نکړه، کعب ورته اووئیل چې داهم نه منئ نونن دَخالي شپه ده، مسلمانان به زمونږ دَحملې نه غافله وي چې دَخالي په شپه مونږپه دوئ حمله نه کوؤ، دَمسلمانانودَدې غفلت نه به فائده واخلواوحمله به پرې اوکړو، هغوئ داهم قبوله نکړه اوورته ئی اووئیل چې خمونږمشران دَدې ورځې دَبې حرمتئ پوجه بیزوګان شوي وؤ بیاهم ته مونږته دَدې ورځې بې حرمتئ حکم کوي، دینه بعدبنو قریظؤحضورﷺ ته پیغام اولیږلوچې ته مونږته ابولبابهؓ رااولیږه (ابولبابهؓ انصاري صحابي وؤدَده قبیله په جاهلیت کښې دَبنوقریظؤحلیف وه، نودَیهودیانوداخیال وؤچې ابولبابهؓ به زمونږپه حق کښې رعایت اوکړي نونبي کریمﷺابولبابهؓ اولیږلو، نودَبني

قریظۍ تېولوښځي، بچي ورته جمع شول، جړاکاني ئې ورته شروع کړې اوده نه ئې داتپوس وکړوچې که مونږدنبي کریمﷺ په حکم دخپلو قلعونه نزول اوکړونو آیا نبي کریمﷺ به زمونږپه حق کښ څه نرمي اوکړي، نو ابولبابهؓ ته خودنبي کریمﷺ رائ معلومه وه اودبنوقریظۍ فریادنه متاثره شونوهغوئ ته ئې اشاره اوکړه اوپخپله مرئ ئې دتوري په شان لاس راخکلو، مقصدئې داوۆچې نبي کریمﷺ تاسوذبح کوي، نوګویاچې دنبيﷺ رازئې ښکاره کړو، نو فوراًپښيمانه شواولاړودمسجدنبوي په یوستنه پورې ئې ځان اوتړلواوقسم ئې اوکړوچې ترڅوپورې ځماتوبه نه وي قبوله شوي نوترهغې پورې به په دې حالت باندې یمه، اګرکه پدې حالت کښ مړهم شمه، نبي کریمﷺ چې خبرشونوویئې فرمائیل: آمالوجاءني لاستغفرتُ له فامّااذافعل فمااناباالّذي الطلقه من مكانه حتى يتوبَ الله عليه، یعني کچرته دې اول ځل ځماخواته راغلې وې نومابه ورله استغفارکړې وې، لیکن اوس چې ترڅوپورې دالله ﷻ دطرفه ده دتوبي قبولیت نه وي راغلې نوځه به دې نه پرانیزم، چنانچه شپږیااوه ورځې تیري شوي په داسې حال کښ، دوۆ ورځونه بعدئې توبه قبوله شوه الله ﷻ داآیت نازل کړو: وآخرون اعترفوابذنوبهم (توبه: ۱۰۴) حضورﷺ پخپله باندې دسهارمونځ په وخت کښ کهلاۆکړو.

بنوقریظه دمحاصري نه ډیرتنګ شول، حضورﷺ ته ئې پیغام اولیږلوچې تاته څه فیصله منظوره وي هغه مونږته قبوله ده، په صحابه کراموؓ کښ چې دکوموصحابۀ کراموتعلق داوس قبیلي سره وۆ نوهغوئ عرض اوکړوچې یارسول اللهﷺ داخلق مونږته حواله کړه ، حضورﷺ اوفرمائیل: چې آیاتاسوبه راضي شئ پدې چې څه ددوئ معامله ستاسویوسردارته حواله کړم؟ پدې باندې صحابه راضي شول، حضورﷺ دامعامله حضرت سعدؓ ته حواله کړه، سعدؓ په غزوۀ احزاب کښ زخمي شوې وۆاواکحل رګ(دمټې رګ)ئې کټ شوې وۆ، (چې دهغه واقعه مخکښ ذکرشوه)په سوارلئ باندې راوستلې شو، حضورﷺ اوفرمائیل: قوموا الى سيّدكم، سعدؓ خپله فیصله واۆروله، وئې فرمایل: الى احكم فيهم ان تُقتل مقاتلهم وتُسبي ذراريهم ونساءهم جنګ کونکي سړي دې قتل کړې شي اوماشومان اوزنانه اومالونه دې تقسیم کړې شي، حضورﷺ ده په فیصلي باندې ډیرخوشحاله شواووئې فرمائیل: لقضيت بحكم الملك ،بیاورته خندقونه اوکنستلی شول، قتل کیدل به اوخندقونوکښ به اچولی کیدل، څلورنیم سوه یاشپږنیم سوه یااوه سوه کسان قتل کړې شول، سعدؓ چې کومه دعاغوښتلې

وه هغه ئی الله پاك قبوله كړه، دهغې نه پس دَدغې زخم دَلاسه شهيد شو.

﴿وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ﴾ دا څلورم انعام دې چې الله ﷻ دَيهوديانو (بنوقريظه) په زړونو كښې داسې رُعب واچولو چې هغوئ دَخپلو قلعونه راووتل، ﴿فَرِيقًا تَقْتُلُونَ﴾ يعني بعض په هغې كښې تاسو قتل كول چې جنګ كونكي بالغان وو، ﴿وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا﴾ يعني ضعيفان اوزنانه موقيديان كول، ﴿وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ﴾ دا پنځم انعام دې چې الله ﷻ تاسو ته په ميراث كښې دركړه دَهغوئ زمكه او كورونه، اومالونه دَهغوئ، ﴿وَأَرْضًا لَّمْ تَطَـُٔوهَا﴾ اى واورلكم ارضا، يعني تاسو ته به داسې زمكه هم دركړى چې تراوسه تاسو خپل قدمونه هغې ځائ كښې نه دي ايخي، مراددَدينه په نيزدَاكثرومفسرينوزمكه دَخيبرده، بعضِ وائى دَفارس، روم زمكه ورنه مراده ده، بعضِ وائى زمكه دَمكيّ ورنه مراده ده، (والله اعلم).

دَحضرت ابوهريره ﷺ نه مروي ده چې حضور ﷺ به دادعاوئيله: لااله الاالله وحده اعزّ جنده ونصرعبده وغلب الاحزاب وحده فلاشئ بعده (بخاري فى المغازي، مسلم فى الحج).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ
اې نبي! اووايه خپلوبيبيانوته كچرې يئ تاسواراده لرئ ژونددَدنيااوښايست دَهغې نوراشئ
أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا ۞ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ ٱللَّهَ
څه به نفعه دركړم تاسوته اورخصت به كړم تاسولره په رخصتئ خاسته سره، اوكچرې يئ تاسواراده كوئ دَالله ﷻ
وَرَسُولَهُۥ وَٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ فَإِنَّ ٱللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَٰتِ مِنكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ۞
اودرسول دهغه اودكوردآخرت نو بيشكه الله ﷻ تياركړيدي لپاره داحسان كونكوچه تاسوئ اجرلوئ

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ﴾ دادويم خطاب دې حضور ﷺ ته، دې آيت ته آيت التخييروئيلې كيږي، شانِ نزول دَدې آياتونودادې چې هركله چې نبي كريم ﷺ اوصحابه كرامو دَمكيّ نه مديني ته هجرت اوكړو، نوحضور ﷺ په مدينه كښې دَانصاروصحابه كرامو سره

دَمهاجرينو صحابه کرامو مواخاة قائم کړو، انصارومهاجرينو سره خپل مالونه اوکورونه تقسيم کړل،کله چې په غزوهٔ احزاب اوغزوهٔ بنوقريظه کښ مسلمانانوته غنيمتونه اوزمکي،اموال ملاؤشول نوانصاروته خپل کورونه واپس شول،مهاجرينوته خپل کورونه ملاؤشول،صحابه ؤکرامو باندې وسعت راغې،مالداري راغله،ليکن سرورکونينﷺ په کورکښ هغه شان تنګي وه نوپدې وجه ازواجومطهراتو رضی الله عنهن دَحضورﷺ نه دَنفقي مطالبه اوکړله اوعرض ئې اوکړوچې يارسول الله،دکسریٰ اوقيصربيبياني په قسمه قسم زيوراتوکښ اوقيمتي ملبوساتوکښ ملبوسي دي،دَخدمت لپاره ئې وينزې دی،زمونږحال تاته معلوم دې،لهذا امونږلپاره په نفقه کښ وسعت اوکړه،دوئ په دغه وخت کښ نهه(۹)بيبياني وي،عائشه بنت ابي بکر رضی الله عنهما ،حفصه بنت عمر رضی الله عنهما،ام حبيبه رضی الله عنها بنت ابي سفيان،امّ سلمه بنت ابي اميّه،سوده بنت زمعه، زينب بنت جحش،ميمونه بنت حارث،صفيه بنت حيی بن اخطب،جويريه بنت حارث.

حضورﷺ چې داخبره واؤريدله نوډيرخفه شواوقسم ئې اوکړوچې څه به يوه مياشت دوئ ته نزدې نه شمه،کله چې مياشت پوره شوه اومياشت دَنهه ويشت(۲۹)ورځووه نوالله تعالیٰ دا آيتونه نازل کړل،پدې کښ حضورﷺ ته حکم اوشوچې ته خپلوازواجوته اووايه چې دوه خبرې دی،که دَ دنيا ژوند عيش وعشرت غواړئ نوبيا به دَ الله رسول په عقد کښ نه اوسيږئ،بلکه طلاق به درکړي،اوکه دَالله رسول سره په عقد کښ اوسيدل غواړئ نوبيابه په دې ژوند قناعت اختياره وئ،اوپه آخرت کښ به درله الله تعالی دې په بدله کښ لوئ اجرونه درکوي.

﴿فَتَعَالَيْنَ﴾امردې دَتعالِ نه پمعنیٰ دَاقبلن يعني راشئ اومتوجه شئ تاسوته دَدوؤخبرو اختياردې،که دَدنيادَژوند عيش عشرت خوښه وئ نوځمادَنکاح نه به اوځئ څه به تاسورخصت کرم،اوکه ځماپه نکاح کښ اوسيدل غواړئ نوبيابه عشرت دَدنيانه غواړئ﴿أُمَتِّعْكُنَّ﴾يعني متعه دَطلاق به درکرم،﴿وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا﴾کنايه ده دَطلاق احسن نه،﴿وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾يعني کچرته تاسومقصودالله تعالیٰ اودَهغه رسول وي يعني دَهغه زوجيت خوښه وئ،﴿وَالدَّارَ الْآخِرَةَ﴾اوآخرت کښ مودرجاتِ عاليه مقصودوي چې هغه زوجيت دَرسول سره لازم دي،﴿لِلْمُحْسِنَاتِ مِنكُنَّ﴾من بيانيه دې دَ(محسنات)بيان کوي،مِن للتبين لانهنّ کلهن من محسنات(بيضاوي وغيره.

﴿أَجْرًا عَظِيمًا﴾ یعني هغه نعمتونه به درکړي چې دَدنیادَ نعمتونونه ډیرلوئ اوقیمتي دي.

روایاتوکښې دي چې کله داحکم نازل شونوحضورﷺ دَټولونه اول حضرت عائشيؓ ته اوفرمائیل چې څه تاته یوه خبره پیش کومه خوته په هغې کښې جلدي مه کوه ترڅوچې ته خپل پلار(ابوبکرؓ)اوخپلې مورسره مشوره اونکړې،بیائې ورته دادواړه آیاتونه واوړول،حضرت عائشيؓ عرض اوکړو:افیك استامرابويّ؟ آیاخه به ستاپه باره کښې دَخپل پلارمورسره مشوره کومه،بل اختارالله ورسوله،بلکه څه اللهﷻ اودَهغه رسولﷺ اختیاره ومه اودارآخرت،دینه بعدبیاحضورﷺ باقي ازواجومطهراتوته هم دَپورتنیوآیاتونومضمون پیش کړو،تولو ورته جواب ورکړو چې مونږاللهﷻ اودَهغه رسولﷺ اودارآخرت خوښه وؤ،پدې جواب سره دَحضورﷺ په مخ مبارك باندې دَخوشحالئ اثرات ظاهرشول.

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا

اې بیبیانودَنبيﷺ چاچه راتللل اوکړوستاسونه په نافرمانئ ښکاره سره نوزیات به کړي شي هغې ته

الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

عذاب دوه چنده ،اودي داکاربه اللهﷻ باندې اسان

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ

اوڅوك چه تابعداری کوی ستاسونه دَاللهﷻ اودَرسول دَهغه اوعمل کوي نیك ورکوؤبه مونږ دی ته اجرد دي دوچند

وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ۝ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ

اوتیارکړیدي مونږدي لره رزق عزت والا اې بیبیانودَنبيﷺ نه یئ تاسوپه شان دَنوروښځو

اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ

بشرط دَدي چه تاسو پرهیز گاري وئ، نو تاسو نرمی مه کوئ په خبرو کښې نوطمع به اوکړی هغه سړي چه په

فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝

زړه دهغه کښې مرض دي او کوئ تاسوخبره جائزه،

﴿يَـٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ ﴾دااول خطاب دي ازواجومطهراتودحضورﷺ ته په باره دحضورﷺ کښ چې حضورﷺ ته دایذاء رسولونه ځان بچ ساتئ ورنه تاسوته به په نسبت دنورونبڅودوه چنده عذاب ملاويږي،اوکه دالله تعالیٰ اودرسولﷺ اطاعت مووکړو نو اجربه هم درته دوه چنده ملاويږي، ﴿بِفَـٰحِشَةٍ﴾بيهقي دمقاتل رحمه الله نه نقل کړيدي چې مراد دفاحشۃ نه دنبي کريمﷺ نافرماني مرادده په قول اوفعل کښ اودغه شان بداخلاقي اختياره ول ددنيااوعيش وعشرت ورنه مراد دې بدکاري ورنه هرګزنه ده مرادځکه چې بدکاري دازواجودنبيﷺ نه متصوره هم نه ده،مابغت امراءة نبيّ قط،دنبي زوجه کافره تيره شويده لکه امراءة نوح اوامراءة دلوط عليهما السلام ليکن بدکاره چرته هم نه ده تيره شوي، ﴿يُضَـٰعَفْ لَهَا ٱلْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ﴾ دوه چنده عذاب به ورته ځکه ملاويږي چې کوم څيزقبيح وي په نسبت سره نورونساؤته نوهغه اقبح وي ازواجودنبي ته،ځکه چې زيادت په قبح کښ تابع وي دزيادت دافضليت اودمرتبې ، يادوه چنده عذاب ځکه دې چې جرم هم دوه چنده وي،يوجرم دنبی نافرمانی اوبل جرم دخاوندنافرماني ده.

﴿وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ضميرپه يقنت کښ راجع دې ازواجومطهراتوته، دمذکر صيغه دوجه درعايت دلفظ،(من)نه ذکرشويده، ﴿نُّؤْتِهَآ أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ﴾يعني تابع داري کونکو ته به اجرهم دنورونبڅوپه نسبت دوه چنده ملاويږي،تضعيف داجرهم دوجې دمرتبې اودافضليت دازواجو مطهراتونه دې،ګوياچې وعده اووعيددواړه دمرتبې سره متعلق دي،يادوه چنده اجرېدې وجه دې چې عمل دوه چنده دې،اطاعت دحضورﷺ اواطاعت دخاوند ﴿وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴾رزق کريم نه مرادنعمتونه دجنت دي،يعني ددنيادعارضي نعمتونوپه ځای موورته دجنت ابدي نعمتونه تيارکړيدي.

﴿يَـٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ ﴾دادويم خطاب دي ازواجومطهراتوته،او په ديکښ ورته څو هدايات بيانيږي، ﴿لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ ﴾دا اول هدايت دې، يعني تاسودنورو ښځوپه شان نه ئی،الله پاك

چې تاسوته کوم مقام اومرتبه دَصحبت دَنبيﷺ په وجه درکړيده هغه نورومؤمنانوښځوته نده حاصله لهذا نامحرمو سره خبرکولو وخت کښې په لهجه او انداز کښې نرمی اونزاکت مه اختياره وئ،بلکه قصداًاوبتکلف داسی لهجه او انداز اختيار کړئ،چې پکښې درشتګی اوسختی وي ﴿إِنِ ٱتَّقَيْتُنَّ﴾دَدې تعلق ماقبل سره دې،يعنی تاسو دَ عامومؤمنانو ښځو پشان نه يئ خو په شرط ددې چې تاسو په تقویٰ قائمې وئ،دلته مراد تقوی اختياره ولو نه دوام دې په تقوی.جزا ورله محذوفه ده چې،هغې باندې لستن کاحدلالت کوی،اوځنی مفسرين ليکی چې دې تعلق مابعد سره دې او﴿فَلَا تَخْضَعْنَ﴾ورله جزاء ده

جمهورومفسرينوپه نيزمطلب دَ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ﴾دادې چې کچرته يونامحرم سره دَخبرکولوضرورت راشي مثلاًستاسوکورته اوآزاوکړي اوکورکښې څوك سرې نه وي نوتاسوخپل آوازپه تکلف سره بدل کړئ اودَزنانه په لهجه اواندازکښې چې کوم فطري نزاکت اونرمي ده هغه بدل کړئ اودَنارينه په شان لهجه استعمال کړئ اوجواب ورکړئ.﴿فَيَطْمَعَ ٱلَّذِى فِى قَلْبِهِۦ مَرَضٌ﴾الذي في قلبه مرض نه مرادمنافق دې يعني دَمنافق په زړه کښې به څه فاسدخيال راشي اوداخيال دَيومخلص مسلمان دَ شان نه بعيددې،علماء وائی چې داخطاب ظاهراً اګرچې ازواجومطهراتودې ليکن په حقيقت کښې ټولومسلمانانوښځوته دې چې هره ښځه دې اجنبي سړي سره خبرکولووخت کښې انتهائی احتياط کوي،پدې وجه شريعت کښې دښځواذان،اقامت،امامت،جهري مونځ کول اوپه حج کښې په زوره تلبيه وئيل منع دي.َيطمع منصوب دې ان مقدره پوجه ،ځکه چه جواب نهی ده.﴿وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا﴾عام مفسرين وائی چې دې کښې اشاره ديته چې ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ﴾مطلب داندی چې بداخلاقي اوغصه کوئ بلکه سختي صرف په لهجه کښې کوئ اوخبره هغه کوئ چې مقصوده،معروفه وي اودَاخلاقوسره منافي نه وي.

حضرت شيخ غلام الله خان رحمه الله دې آيت توجيه جمهور مفسرينو نه مختلف کړيده،هغه فرمائی چې چونکه رستو دَ متبنی ښځی سره نکاح مسئله راروانه ده،نو ديکښې ازواج مطهراتو ته هدايات دی چې کچرته څوک ستاسوسره دې متعلق خبره کوی چې دا نبی

كريم صلى الله عليه وسلم څه کوي؟نوتاسو کلک جواب ورکوئ چې نبی علیه السلام څه کوي دَ الله په حکم سره کوي،اوخه کوی،نرمی خبرې اوتبصری پری مه کوئ دې سره به د منافق په زړه کښ طمع پيداشي اوخوشحاله به شي دَنبي کريمﷺ په کورکښ دَده دَحکم خلاف ورزي اودَده سره مخالفت شروع شويدې،نولهذا تاسوداسې مه وايئ چې پيغمبربدکوي بلکه ﴿وَقُلْنَ قَوْلاً مَّعْرُوفًا﴾ داوايئ چې حضورﷺ خه کوي چې دَ متبنىٰ دَزوجې مطلقې سره نکاح کوي اويوبدرسم ختمه وي،نوبناء په توجيه دَحضرت شيخ رحمه الله دَ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ﴾نه مراد دادې چې دَمتبنىٰ ښځې سره واده متعلق که څوك ستاسونه تپوس اوکړي نوپه جواب کښ ورته نرمه رويه مه اختياره ئ بلکه خه کلك جواب ورکوئ.

وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى وَأَقِمْنَ الصَّلٰوةَ
اوقراروسيرئ په کورونوخپلوکښ اومه ظاهريږئ په شان دَظاهريدلودجاهليت زوړ،اوپابندی کوئ دَ مونځ
وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ وَأَطِعْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ إِنَّمَا يُرِيْدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ
اوزکوٰة ورکوئ،اواطاعت کوئ دَاللهﷻاودرسول دهغه،بيشکه اراده لري اللهﷻ چه لرې ړی ستاسونه
الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَاذْكُرْنَ
گندگی(دکفر،شرك)اې اهلِ بيتو ، اوپاك کړي تاسو په ښه پاکوالی سره. اويادوئ
مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيٰتِ اللهِ وَالْحِكْمَةِ ۗ إِنَّ اللهَ كَانَ لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿٣٤﴾
هغه چه لوستې کيږي په کورونوستاسوکښ دَآياتونه دَالله اوحکمت نه، بيشکه الله باريك څيزونولره ليدونکې دې خبرداره دې

﴿وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ﴾دادويم هدايت دې چې پرده کوئ،اوپه کورونو کښ اوسئ بلاضرورت باهرته مه اوځی،البته که ضرورت راپيخ شی نومکمل پردې سره باهرته ځئ،دول اوسنګار مه کوئ،قَرْنَ دَ قَرَّ يَقَرُّ نه دې،اصل کښ اِقْرَرْنَ وؤ.اولنئ را حرکت ماقبل ته نقل کړيشو او را تخفيفا حذف کړيشوه.نو اِقْرَنْ شوهمزه وصلی مابعد متحرك شونوهغه حذف کړيشو قرن شو،او بعض وائي چه داد اجوف صيغه ده،قَارَ يَقَار نه بمعنی اجتمع،معنی دواړه

صورتونو کښې يوه ده چې خپلو کورونو کښې قراراونيسئ،باهر مه ګرځئ.﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ﴾تفصيل دې دَماقبل جملې يعني دَجاهليت اولی په شان بهربې پرده اوډول سنګارسره مه ګرځئ.تبرج نازواندازسره ګرځيدلوته هم وائی،اوډول سنګارکول اوهغې دَاظهارکولودَپاره بهروتلوته هم وائی،دينه واضحه شوه چې دَښځواصل ذمه واري،سياست يامعاشرتي مسائل حل کول ندي بلکه کورکښې کيناستل اوامورخانه داري پوره کول دي، البته دَخپلوحوائجودپاره بهروتل په ساده لباس کښې،بغيردَډول سنګار،خوشبونه،جائزدي،په دې باندې امام بخاري رحمه الله باب قائم کړيدې،باب خروج النساء لحوائجهن،اوپه هغې کښې ئې دَحضرت عائشه رضي الله عنها روايت ذکرکړيدې چې حضور ﷺ ځماپه کورکښې ناست وؤ،خوراك ئې کولوچې حضرت سوده رضي الله عنها راغله عرض ئې اوکړو چې څه قضاء حاجت دپاره تلم ليکن حضرت عمر رضي الله عنه منع کړم نواوس ځمادپاره څه حکم دې،پدغه خت کښې په حضور ﷺ باندې دَوحې دَنزول حالت شروع شو،چې دغه حالت ختم شونوويئ فرمائيل:(انّ الله قداذن لکنّ ان تخرجن لحاجتکنّ)اوحوائج عام دي دنيوي که ديني لکه حج،تبليغ،تعليم ،وغيره.

جاهليت هر غير اسلامی نظام ته وائی،خواه هغه قبل ازاسلام وؤاوياکه نن صبا دې،اوجاهليت اولی نه مراد هغه مشرکانه تهذيت وتمدن دې چې هغه قبل از اسلام پوره دنيا کښې اوخصوصا عربوکښې يونانی اورومی تمدن زير اثر رائج وؤ(ماجدی)دپردې حکم ښځې ته مونځ اوزکوة نه مقدم کړيشو دينه دَدې اهميت اندازه اولګوئ.

﴿وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ﴾ دريم او څلورم هدايت دی تخصيص دَصلوة،زکوة ځکه اوشوچې دادواړه دَعبادات بدينه وماليه دَپاره اصل اوبنياددی.﴿وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ پنځم هدايت دې،تعميم دې دَماقبل حکم اواشاره ده ديته غالباً چې اقام دَصلوة اواداء زکوة ذريعه ده دَاطاعت دَالله جل جلاله اودَهغه دَرسول ﷺ.﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ﴾ ديکښې دَدې هداياتو ثمره ذکر کيږی چه هغه دګندګی اورزائيلو نه بالکل پاکی ده دَرجس نه مرادتخليه ده دَرازائلونه، يعنی شرك،معصيت، مخالفت دَرسول ﷺ،يعني الله جل جلاله تاسوته داهدايات ځکه کوي چې تاسودَشرك وغيره معصيتونونه پاك کړی،﴿أَهْلَ الْبَيْتِ﴾منصوب

دي يامنادیٰ ده ای یااهلَ البیت یاورله عامل،امدحُ مقدردې ای امدح اهل البیت،مراد دَاهل بیتونه ازواج مطهرات، حضرت عليﷺ،سیده فاطمهﷺ،حضرت حسنﷺاوحضرت حسینﷺ دي،ازواج مطهرات ځکه په اهل بیتوکښې داخل دي چې هم دوئ مخاطب دي په احکامات مذکوره سره،اوهم دوئ اوسیدونکي دي دکورونودنبي کریمﷺ اوحضرت عليﷺ اوفاطمة الزهراء اوحضرات حسنینﷺپکښې ځکه داخل دي چې په یوروایت کښې دي چې یوځل حضورﷺ دَامّ سلمهﷺ په کورکښې ناست وؤ،خپل څادرئې راوخستلواوپه فاطميﷺ ،حضرت عليﷺ اوحضرات حسنین باندې ئې واچولوبیائې اوفرمائیل: اللّهم هؤلاء اهلَ بیتي فاذهب الرّجس وطهرهم تطهیرا(ترمذي،بیهقي وغیره)نوازواج مطهرات پکښې دَ اول نه داخلې وې اوحضرت عليﷺ ،فاطمهﷺ،حضرات حسنین پکښې هم داخل شول،شیعه ګان اهل بیت صرف حضرت عليﷺ،فاطمهﷺ،حسنﷺ،اوحسینﷺ ته وائی لیکن داصحیح نه ده،دَصریح آیاتونونه خلاف کول دي اوهرچې دې استدلال دَدوئ چې کچرته﴿أَهْلَ ٱلْبَيْتِ ﴾نه مرادازواج مطهرات وې نوبیابه په ﴿عَنكُمُ﴾او﴿وَيُطَهِّرَكُمْ ﴾کښې ضمیردَمؤنث ذکرشوې وې،عنکنّ اویطهرکنّ به وئیلی شوي وې،نو جواب دادې چې دلته ضمیردَ مذکر لفظ اهل دوجهی نه روارلې شو ځکه چې اهل مذکردې کمافی قوله تعالیٰ: اذ قال لاهله امکثوا(القصص) امکثوا دمذکرصیغه استعمال شویده حالانکه موسیﷺ حکم خپلې ښځې ته کریدې،نوداپوجه دَلفظ دَاهل،وکمافی قوله تعالی: اتعجبین من امر الله رحمة الله وبر کاته علیکم اهلَ البیت(هود).

﴿وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾مراددَتطهیرنه تحلیه ده په فضائلوسره،یعني دَشرك،معصیت، مخالفت دَرسولﷺ نه پاکول،پدې وجه دې آیت ته آیة التطهیروئیلی کیږي. ﴿وَٱذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِى بُيُوتِكُنَّ ﴾داشپږم هدایت دې،چې ستاسو کورونوکښې تلاوت کیږی اودَنبی کریم صلی الله علیه وسلم دَزندګئ کومی ګوشې مخې ته راځی چې دهغی عام امت نشی خبریدلې،هغه یادوئ ،محفوظه کوئ،عمل پرې کوئ،او نوروته یې تعلیم وتبلیغ کوئ،داآیت هم واضحه دلیل دې دَازواج مطهراتوپه اهل بیت کیدلوباندې ځکه چې دَ﴿فِى بُيُوتِكُنَّ ﴾نه مرادهم دوئ

کورونه دی. دَ ﴿وَاذْكُرْنَ﴾ دَذکر دوه معنی کیدیشی (۱)یادول اومحفوظ ساتل،یعنی کوم آیاتونه ستاسوکورونوکښ تلاوت کیږی هغه یادوئ،اونبی کریم صلی الله علیه وسلم کوم تعلیمات تاسوته راځی اوسیرت کومې پټې گوشی تاسوته واضحه کیږی هغه محفوظ ساتئ(۲)بیانول یعنی دا آیات اواحادیث خلقوته بیانوئ﴿مِنْ ءَايٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ﴾آیت الله نه مرادقرآن دی(الحکمة)نه مراداحادیث اوتعلیمات اوسنن دَرسول اللهﷺ دي،﴿إِنَّ اللّٰهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا﴾یعني امتثال دَدې احکاماتوظاهراً،باطناًسراً علانيةً ضروري دې،ځکه چې اللهﷻ لطيف دې دَزړونواعمالوهم پيژني خبيردې پټ اعمال هم پيژني.

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ
بیشکه مسلمانان سړی اومسلمانانې ښځې اومؤمنان سړی اومؤمنانې ښځې،
وَالْقٰنِتِينَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِينَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِينَ
اوفرمان برداری کونکی سړي اوفرمان برداری کونکي ښځي،اورشتیاویونکی سړی اورشتیاویونکې ښځې، اوصبرکونکی سړي
وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِينَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ
اوصبرکونکی ښځی، اوعاجزی کونکی سړی اوعاجزی کونکی ښځی اوصدقه کونکی سړی اوصدقه کونکی ښځی،
وَالصّٰٓئِمِينَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ
اوروژه نیونکی سړی اوروژه نیونکی ښځې،اوحفاظت کونکی سړي دخپلوعورتونواوحفاظت کونکی ښځې،
وَالذّٰكِرِينَ اللّٰهَ كَثِيرًا وَّالذّٰكِرٰتِ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيمًا ۝
اوذکرکونکی سړی دَاللهﷻ ډیراوذکرکونکی ښځی،تیارکړیدي اللهﷻ دهغوئ لپاره مغفرت اواجرلوئ.

﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمٰتِ﴾دادریم خطاب دي مؤمنانواومؤمناتوچې دالس(۱۰)مذکوره صفات په خپل ځان کښ پیداکړئ نومستحق دَمغفرت اودَاجرعظیم به وګرځئ.

ابن کثیر رحمه الله دَاحادیثو دکتابونو نه متعدد روایات نقل کړیدی چې دَهغې نه معلومیږي چې دا آیت کریمه دَحضرت امّ سلمه رضی الله عنها په سوال باندې نازل شویدې چې یوځل هغې حضور ﷺ ته عرض اوکړو چې یارسول الله! څه وجه ده چې قرآن مجید کښې خو دَسړو ذکر راځي لیکن دَښځو ذکر نه راځي، نو پدې باندې الله تعالیٰ دا آیت کریمه نازل کړواوپدې کښې ئې دَسړو او ښځو جدا جدا ذکر اوکړو، دواړو دپاره ئې دَمغفرت او اجرعظیم وعده اوفرمائیله،

﴿وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ﴾ اسلام ظاهري انقیاد او تابع داری ته وائې او ایمان باطني انقیاد ته وائی، نو ګویا که دَانسان نه دواړه مطلوب دي، ﴿وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ﴾ دا دَقنوت نه ماخوذ دې، قانت وئیلی کیږي مخلص فرمانبردار ته: ای المخلصین فی ایمانهم واسلامهم المداومین علی الطاعة (خطیب شربیني ج۳ ص۳۱۲) ﴿وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ﴾ پدې کښې قول، عمل، نیت ټول داخل دي، ﴿وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ﴾ صبرکونکي په طاعاتو، ترك دشهواتو، مصائبو ﴿وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ﴾ خشوع په عبادت او عادت دواړو کښې، عبادت کښې ئې هم عاجزي وي، او عاداتو کښې ئې هم عاجزي وي تکبر، غرور نه خالي وي، ﴿وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ﴾ دَالله تعالیٰ په لاره کښې صدقه کونکي، پدې کښې فرض زکوٰة نه علاوه، فطرانه، اونفلي صدقات هم داخل دي، ﴿وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ﴾ دَرمضان فرض روژې ساتونکي، الفاظو دَعموم پوجه پکښې نفلي روژې هم داخلې دي، ﴿وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ﴾ دَسړو دپاره "حافظین فروجهم" ذکرشو اوښځو دپاره صرف "حافظات"، نومفسرین وائی چې یوپه دې کښې ښځو ته دحیاء تعلیم دې چې دوئ پوهه شي چې الله تعالیٰ دوئ ته په تعلیم کولو کښې هم صرف په اشاري او کنایه باندې اکتفا کولې کیږی دَدوئ دَفروجو ذکر نه کوي، دویمه دا چې سړي دپاره دَصرف شرمګاه حفاظت ضروري دې، پخلاف دَښځو چې پدوئ باندې صرف دَشرمګاه حفاظت ندې لازم بلکه رفتار، ګفتار، لباس، او ازهرڅیز کښې حفاظت ضروري دې، دزنانه حفاظت سره سره دَاسبابو دَزنا مثلاً: باریك لباس اچول، تنګ لباس اچول بازارونو کښې ګرځیدل، نامحرموسره خبرې کول وغیره دَټولو حفاظت لازمي دی،

﴿وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ﴾ عام اذکارونه علاوه پکښې مونځ کول هم داخل دي،څکه چې مونځ پخپله ذکردي کقوله تعالیٰ: واقم الصلوٰة لذکری(طٰهٰ: ۱۴) ذکرکثیرکوونکي هغه دي چې په ولاړه،ملاسته،خوشحالئ غم،هروخت کښې دالله ﷻ ذکرکونکي وي،لکه په حدیث کښې دي سبق المفردون،قالواومالمفردون قال: الذاکرون الله کثیراوالذکرات(مسلم)

﴿أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَّأَجْرًا عَظِيْمًا﴾ یعني مذکوره صفاتوحاملینو حاملاتودپاره الله ﷻ مغفرت دګنوبو او اجرعظیم تیارکړیدي چې هغه جنت او دهغې دائمي نعمتونه دي

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ أَمْرًا أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ

اونه دي شان دمؤمن اونه دمؤمني دا، چه کله فیصله وکړي الله ﷻ اورسول دهغه دیوامرچه وي به دوئ لره

الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ۞

اختیاردامرددوئ نه،اوڅوک چه نافرماني وکړي دالله ﷻ اودرسول دهغه نویقیناًدي ګمراه شوپه ګمراهئ ښکاره سره.

وَإِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِيْٓ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ

اواې پیغمبره! کله چه تاوویل هغه کس ته چه انعام کړي ووالله په هغه باندې اوانعام کړي ووتاپه هغه باندي چه وساته دځان سره

زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ

خپله ښځه،اوویریږه دالله ﷻ نه،اوپټه ساتله تاپه زړه خپل کښې هغه خبره چه الله ﷻ ښکاره کوله اویره کوله تادالزام دخلقونه،

وَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشٰىهُ ۖ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا

اوالله ﷻ زیات لائق دي چه ته یره وکړې دهغه نه،پس هرکله چه پوره کړوزیددهغې نه حاجت(طلاق)نوپه نکاح درکړه مونږهغه تاته

لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ أَزْوَاجِ أَدْعِيَآئِهِمْ إِذَا قَضَوْا

لپاره ددې چه پاتې نشي په مؤمنانو باندې ګناه په نکاح د ښځودمتبنیٰ ګانوددوئ کښې کله چه پوره کړي دوئ

مِنْهُنَّ وَطَرًا ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ۞

دهغوئ نه حاجت،او امردالله ﷻ کیدونکي دي

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ ﴾پدې کښې زجردې په ترک دَاطاعت دَحضورﷺ باندې اوتنبيه ده پدې خبره چې هيڅ يومومن اومؤمني ته دااختيارنشته چې کله الله تعالیٰ اودَهغه رسول يوه فيصله اوکړي اودې هغه منظوره نه کړي.
مفسرين وائی چې داآيت نازل دې په باره دَزينب بنت جحشؓ اودَهغې وروروعبدالله بن جحشؓ اودَدوئ مورواميَه بنت عبدالمطلب کښې چې دادَحضورﷺ ترورووه،حضورﷺ دوئ ته دَزيدؓ دپاره دَنکاح پيغام اوليږلو،چونکه په زيدؓ باندې دَغلامئ داغ وؤ،دوئ نه غوختله چې دَدومره لوئ نسب هاشمي خاندان جينئ نکاح دې دَيوآزاد شوي غلام سره اوشي،نوپدې باندې داايت نازل شواوحکم اوشوچې دکومې خبرې فيصله چه الله تعالیٰ اودَهغه رسول اوکړي نودَهغې خلاف ورزي دَچاپاره هم نده جائزه،نوچې کله داوعيدراغې نوهغوئ دَخپل خبرې نه واپس شول اوپه نکاح باندې راضي شول،حضورﷺ نکاح وتړله اودَزيدؓ دَطرفه نه ئی مهراداکړو﴿قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا﴾دَشانِ نزول په اعتبارسره اګرچه مخصوص دې ليکن دَحکم په اعتبارسره عام دې چې دَالله تعالیٰ اودَهغه رسولﷺ دَحکم،نه مخالفت څوک کوليشي اونه ورته په منلونه منلوکښې اختيارشته،﴿مِنْ أَمْرِهِمْ ﴾ضمير مومنٍ او مؤمنة ته راجع دې خوچونکه نکره په سياق دَنفي کښې واقع شويده،عموم فائده کوي،نوپه مؤمنٍ اومؤمنةٍ کښې عموم راغې نوځکه ورته ضميردَجمع راجع شو،يعني هيڅ يومؤمني ته دَالله تعالیٰ اودَهغه دَرسول دَفيصلې نه بعدپخپل څه کارکښې اختيارنشته،بلکه په هغه ضروري ده چې سرِتسليم خم کړي.

﴿وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ ﴾دادريم خطاب دې،نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته،چې ته زيدرضی الله عنه له طلاق نه ورکولو مشوره دې وجهی نه ورکوی،چې بيا ماله دَ حضرت زينب رضی الله عنها سره نکاح کول راځی اوخلق به راپسې خبری کوي،نودَخلقوخبرونه مه يريږه،الله نه يريږه،دانکاح به ضرورکيږی،مونږبه آسمانونوکښې ده دې نکاح ستاسره کړيدي،﴿أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ ﴾يعني ايمان ئی ورته نصيب کړيدې،﴿وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ ﴾يعني دَغلامئ نه دې ازادکړيدې اومتبنّیٰ دې جوړکړيدې اوپخپل خاندان کښې دې ورته واده کړيدې(مدارک وغيره)،﴿وَتُخْفِي فِي

نَفۡسِكَ مَا ٱللَّهُ مُبۡدِيهِ﴾ ما موصوله دې،یعني کومه خبره چې الله ﷻ ښکاره کوله هغه تا په پخپل زړه کښې پټوله.هغه کومه خبره ده چې نبي کریم ﷺ پخپل زړه کښې پټه کړې وه؟نوجمهورومفسرین وائی چې حضور ﷺ ته دَقرائنوپه وجه دامعلومه شوې وه چې دَدوئ دواړومینځ کښې به جدائ راځي،اوچې جدائی راشي نودابه په زینب رضی الله عنها دویمه صدمه وي،نوددې دَازالې صورت به داوي چې څه ورسره نکاح اوکړمه،اودغه شان پذریعه دَوحې هم حضور ﷺ ته داخبرورکړې شوې وؤچې زید رضی الله عنه به حضرت زینب رضی الله عنها ته طلاق ورکوي،بیابهٔ دَدې نکاح مونږتاسره کوؤاودَدې جاهلیت دَدې رسم(یعني دَمتبنّی دَخزې سره پس دَطلاق نه هم نکاح نه کول اودابد ګڼړل)خاتمه به ستاپه ذریعه کوؤ،حضور ﷺ داخبره پټه اوساتله اوچاته ئې اونه وئیل،نودَ﴿وَتُخۡفِي فِي نَفۡسِكَ﴾نه ددغې خبرې پټول مراددي،﴿وَتَخۡشَى ٱلنَّاسَ﴾ الناس نه کافران،منافقین مراددي اودَدوئ نه دَېرې مراددادې چې حضور ﷺ ته دافکروؤچې کچرته زینب رضی الله عنها خماپه عقدکښې راشي نوکافران منافقان به پروپیګنډې کوي چې اوګورئ دَخپل متبنّی دښځې سره ئې نکاح اوکړه،﴿وَٱللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخۡشَىٰهُ﴾یعني دَخلقودَاعتراضونو اوالزامونوفکراوخطره مه کوه بلکه یره خودَالله ﷻ نه پکارده،جلالین وغیره بعضِ تفسرینوچې کوم تفسیردلته کړیدې نوهغه نامناسب دی اودَشان نبوت سره هم منافي دې،دَجلالین حاشیودَجلالین په دې تفسیرخه ردکړیدی،قال القشیری رحمه الله هذااقدامٌ عظیم من قائله وقلة معرفة بحق النبي ﷺ(حاشیه جلالین)﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا﴾ وطراً حاجت ته وائی دلته ورنه مرادطلاق دې یعني چې کله زید رضی الله عنه طلاق ورکړو:ای طلّقها کماروی عن قتاده وهو کنایة عن ذالك (روح).

فائده:په تمام قرآن کښې دَزید رضی الله عنه نه ماسوادَبل صحابي رضی الله عنه نوم نشته،دَده نوم ذکرکولوکښې کیدیشی حکمت داوی چې هرکله دَده نسبت دَزیدبن محمدنه بدل شوزیدبن حارثه ته،نوپدې سره ورته ډېرخفګان اورسیدلونودَدې تسلي دپاره دَده نوم الله ﷻ په قرآن کښې ذکرکړو.

دزید رضی الله عنه دَطلاق ورکولونه پس چې کله دَزینب رضی الله عنها عدت ختم شونوحضور ﷺ ورته دَنکاح پیغام اولیږلو،زینب رضی الله عنها اووئیل:ماانابصانعة شیئاحتی اوامرربي،یعني ترڅوچې مادَخپل رب سره مشوره نه وي کړې ترهغه وخت پورې هیڅ نه کوم،پاسیدله دَاستخارې مونځ ئې شروع

کړو،الله ﷻ وحي رااولیږه چې﴿زَوَّجۡنَٰكَهَا﴾یعني مونږپه اسمانونوکښ دَدي نکاح تاسره اوکړواودَنکاح دَمعروف شرائطوبرعکس مودانکاح اوکړه .ایجاب،قبول،ولایت، شهادت،مهر نه بغیر،په حدیث دَنسائی کښ دي چې امّ المؤمنین بي بي زینب رضي الله عنها به په نوروبیبیانوفخرکولوچې ځمانکاح الله ﷻ په اسمانونوکښ کړیدې.﴿لِكَيۡ لَا يَكُونَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾دادَزینب رضي الله عنها دَحضور ﷺ سره دَنکاح علت دې چې آئنده لپاره څوك مسلمان پدې کښ حرج اونه ګڼړي اوحسبِ ضرورت دَمتبنّی دَزوجي سره نکاح کولیشي.﴿وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ﴾ یعني داپه تقدیردَالهي کښ وؤنوپه هرصورت به کیدله.

مَا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنۡ حَرَجٖ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ
نیشه دې په نبي ﷺ باندې هیڅ ګناه(الزام) په هغه کښ چه مقررکړیدي الله ﷻ ده لره،داعادت دې دالله ﷻ
فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُۚ وَكَانَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قَدَرٗا مَّقۡدُورًا ۞ ٣٨ ٱلَّذِينَ
په باره دهغه خلقوکښ چه تیرشویدي مخکښ،او حکم دالله ﷻ مقررشوې فیصله شوې دې هغه پیغمبران
يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ
چه رسوي پیغامونه دالله ﷻ اویریږي دالله ﷻ نه اونه یریږي دَهیچ چانه ماسِوادالله ﷻ نه.
وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ۞ ٣٩
اوکافي دې الله ﷻ حساب کونکې

﴿مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنۡ حَرَجٖ﴾داځلورم خطاب دې حضور ﷺ ته اودمخالفینودَ اعتراضونوجواب دې،چې الله ﷻ دَیوکارامرتاته اوکړي په هغې کښ په تاهیڅ حرج اواعتراض نشته،نودَزینب رضي الله عنها سره دَنکاح امرهم تاته الله ﷻ کړیدې،﴿سُنَّةَ ٱللَّهِ﴾لفظ د(سنة)منصوب بنزع الخافض دې ای کسنة الله یامفعول مطلق دې﴿فِي ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلُ﴾ یعني چې کوم انبیاء مخکښ تیرشویدي نوهغوئ سره هم دَالله ﷻ داطریقه اوعادت وؤچې په

هغوئ به په جائزکارونواوپه دعوت وتبليغ کښ څه حرج نه وو،بعض وائی دَ«سنة»نه مرادوسعت دې په نکاح کښ،يعني مخکښوانبياؤته اجازت وؤپه وسعت دَنکاح کښ نوتاته هم شته.﴿ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ﴾صفت دې دَ﴿ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ﴾.﴿رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ﴾ اضافت دَجمع دَاستغراق دپاره وي،يعني انبياء کرام دَټولوپيغاماتوتبليغ کوي خلقوته ئی رسوي،دَالله ﷻ په پيغاماتو کښ کوتاهي اوکتمان نه کوي. ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا﴾يعني الله ﷻ کافي دې حساب کوونکې، دَاعتراض کونکونه به حساب اخلي چې اعتراضونه ئی ولې کول؟

مَا	كَانَ	مُحَمَّدٌ	أَبَآ	أَحَدٖ	مِّن	رِّجَالِكُمۡ	وَلَٰكِن	رَّسُولَ	ٱللَّهِ
نه	دې	محمد ﷺ		پلاردَيوکس		دَسړوستاسونه،ليکن		رسول	دَالله ﷻ دې
وَخَاتَمَ	ٱلنَّبِيِّـۧنَ	ۗ	وَكَانَ	ٱللَّهُ	بِكُلِّ	شَيۡءٍ	عَلِيمٗا	٤٠	
اوختم	کونکی	دې	دَپيغمبرانو،او	الله ﷻ	په	هرڅيزباندې	عالم	دې	

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ﴾داخلورم خطاب دې مؤمنانوته اودَمخالفينو دَاعتراض دويم جواب دې چې ستاسواعتراض محض لغواولايعني دې،ځکه چې حضورﷺ دَداسې يوسړي والدنه دې چې هغه بلوغ ته رسيدلې وي نه دَزيد ﷺ اونه دَبل چا،نوحضورﷺ هرګزدَخپل ځوی مطلقې سره نکاح نده کړې،"رجال"جمع دَ"رجل"ده بالغ سړي ته وائی يعني دَحضورﷺ نارينه اولادبلوغ ته نه دی رسيدلی ځکه څلورواړه بچې قاسم،طيب،طاهر، ابراهيم،په وړکوالئ کښ وفات شوي وو،البته څلورلونړه ئی،زينبﷺ،رقيهﷺ،امّ کلثومﷺ اوحضرت فاطمهﷺ بلوغ ته هم رسيدلي وي اونکاح ئی هم شوې وؤ.

که داوسوسه پيداشي چې نکاح اګرچه صحيح وؤليکن که نوې شوې نوبهتربه وه،ځکه چې مخالفينوته به دَاعتراض موقع نه وه ملاؤشوې نوجواب اوشوچې﴿وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ﴾چې هغه دَالله ﷻ رسول دې دَده پذريعه الله ﷻ دغه رسم ختمولو.﴿وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾يعني هغه خاتم النبيين دې قيامته پورې بل نبي بحيث نبي دنياته نه راځي چې داکمي پوره کړی لهذا

ضروري وه چې دَدې رسم بدخاتمه په خپله اوکړي.

﴿وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا﴾ الله ﷻ په هرڅه عالم دې، هغه ته ښه معلومه ده چې دَحضور ﷺ په ذريعه دارسم بدختمول ولې ضروري دي، الله ﷻ ته علم دې په دې چې څماطرف نه دنياته بل نبي نه راځي لهذادَده په ذريعه ئې دَدې رسم خاتمه اوکړله.

په لفظ دَ﴿وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ کښې دوه قرائته دي(۱) يوبفتح التاء خاتَم ياپه وزن دَفاعل ماضي ده دَباب مفاعله، نودَخاتم النبين معنىٰ داده چې ختم کړې ئې دى نبيان، يعني نورانبياء دَده نه ورستونه شي راتلې، اوياخاتم اسمِ اله ده خاتَم لمايختم به لکه قالب لماىقلب به، يعني دې مهر دې په انبياؤو باندى. پده سره انبياء ختم شويدى اوس پکښې نورو انبياؤ اضافه نشي کيدې اوچې کوم پکښې داخل دى هغى ترينه وتلې نشى لکه څنگه چې دَخط په آخر کښې مهر لگول دَدې علامت وي چې پديکښې نوره اضافه نشى کيدلې.

دويم(۲) بکسرالتاء اسم فاعل دې، يعني ختم کونکې، نودَخاتم النبين معنى داده چې دې ختم کونکې دې انبياء لره، مآل دَدواړوقرائتونويودې، دې دوؤنه علاوه بله معنى کول صحيح نه ده، قادياني ملعون وائى چې دَ﴿وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ معنىٰ(مُهرلگونکې)ده نوحضور ﷺ په ماباندې (نعوذبالله)مهرلگولې دې چې نبي دې او "ومبشرابرسولٍ يأتي من بعدي اسمه احمد"ئې څماپه باره کښې وئيلى دي(بقول والدمحترم نورالله مرقده)زمونږاستاذمحترم رحمه الله به فرمائيل چې اول خودغه معنىٰ صحيح نه ده، اوکه دغه معنىٰ شي نوحضور ﷺ په قادياني باندې دَبې ايمانئ اودکفراودکذاب مهرلگولې دې، لکه په حديث کښې راځي: سياتي من بعدي دجّالون كذّابون يدعى النبوة واناخاتم النّبيين لانبيّ بعدي، داآيت کريمه صريح نص دې په دې چې حضرت محمّد ﷺ آخري نبي دې، او دَده نه بعدترقيامته پورې بل نبي دنياته نه مبعوث کيږي.

اودټول امت پدې اجماع ده چې حضور ﷺ نه بعددَنبوت دعوه کونکې کذاب اودَجال دې اودَاسلام دَدائرې نه خارج دې، تصديق کونکې ئې هم قطعي کافردې، ابن کثير رحمه الله په ختم نبوت باندې، دَډيرواحاديثونقل کولونه بعدليکلې دي: وقداخبرالله تبارك وتعالى في كتابه ورسوله ﷺ في السنّة المتواترة عنه انه لانبيّ بعده ليعلموا انّ كلّ من ادّعى النّبوة بعدهٗ فهو كذابٌ افّاك دجّال ضالّ مضلّ... الخ، په ختم نبوت باندې دَنص قرآن نه علاوه احاديث شريفه په صحيح

سندوسره په کتابونودحديثونوکښې په کثرت سره مروي دي،بعض اکابرينوپه دې مسئلې باندې مستقلې رسالې هم ليکلې دي،يوڅواحاديث سره دترجمې نه دلته ذکرکيږي(۱)عن ثوبان رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ انه سيكون في امتي كذابون ثلاثون كلهم يزعم انه نبيٌّ وانا خاتم النبيين لانبيَّ بعدي (صحيح مسلم)ثوبان نه روايت دې چې حضور ﷺ فرمائيلي دي چې زما په امت کښې به ديرش (۳۰) دروغژن پيدا کيږي چې په هغې کښې به هريو دعوه کوي دنبوة،حالانکه زه آخري نبي يم زمانه بعدڅوک نبي نشته.

(۲)عن حذيفة رضي الله عنه قال:قال رسول الله ﷺ في امتي كذابون دجالون سبعةٌوعشرون منهم اربع نسوة،واني خاتم النبين لانبيّ بعدي(طحاوي)حذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ فرمائي چې زماپه امت کښې به اوه ويشت(۲۷)دجال اوکذاب وي چې په هغې کښې به څلورښځې وي حالانکه زه خاتم النبيين يم زمانه بعدبل نبي نشته(۳)عن ابي هريرة رضي الله عنه انّ النبي ﷺ قال مثلي ومثل الانبياء من قبلي كمثل رجلٍ بنىٰ بيتاًفاحسنه واجمله الاّموضع لبنةٍ من زاويةٍ فجعل النّاس يطوفون به ويعجبون له ويقولون هلاّوضعتَ هذه اللّبنة قال ﷺ فاناالّلبنة وانا خاتم النبيّن(بخاري،مسلم وغيره)ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چې حضور ﷺ فرمائي چې زه اوزمانه مخکښې پيغمبرانومثال داسې دې لکه يوسړې نهايت حسين،جميل عمارت جوړکړي،ليکن په يوه کونه کښې دَيوې خښتې ځاې خالي پريدي نوخلق چې دَدې عمارت څلورواړو طرفونوته اوګوري اوتعجب کوي اوهغه سړي ته وائي چې تادلته داخښته ولې نده ايخې (نوداد نبوت دَمحل مثال دې)اوزه خالي ځائ ډکولووالاخښته يم اوزه آخري نبي يم،دامذکوره احاديث اودَدې نه علاوه نورډيراحاديث دَدې وضاحت کوي چې حضور ﷺ آخري نبي دې اودَده نه بعدبل هيڅ قسمه،حقيقي،مجازي،تشريعي،غيرتشريعي،ظلّي،بروزي نبي نشته،هرچې دې نزول دَحضرت عيسىٰ عليه السلام په قرب دَقيامت کښې،نوداد ختم نبوت سره منافي ندې،ځکه چې دَتمام اهل سنة والجماعة پدې باندې اجماع ده چې هغه به دحضور ﷺ دَشريعت تابع وي اودَحضور ﷺ په شريعت باندې به عمل کوي،بيهقي روايت ذکرکړيدې،عن عبدالله بن مغفل رضي الله عنه قال:قال رسول الله ﷺ يلبث الدجّال ماشاء الله ثم ينزل عيسىٰ بن مريم مصدقاًبمحمدٍ ﷺ وعلى ملّته اماماًمهدياًوحكماًوعدلاًفيقتل الدجال،پدې روايت کښې تصريح ده چې عيسىٰ عليه السلام به دَحضور ﷺ په ملت باندې وي،هرچه دې جزيه منسوخ کيدل،يعني عيسىٰ عليه السلام به جزيه اخستل منسوخ

کړي،نودَدې دَمنسوخ کيدلوحکم اوخبرحضورﷺ ورکړيدې نولهذاداهم دَحضورﷺ دَملت اتباع ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴿٤١﴾ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٤٢﴾
اې ايمان والوذکرکوئ دَاللهﷻ ذکرډير.اوپاکي بيانه وئ دَهغه سهراوبيګاه.
هُوَ ٱلَّذِى يُصَلِّى عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُۥ لِيُخْرِجَكُم
اللهﷻ هغه ذات دې چه رحمتونه راليږي په تاسواودهغه فرښتي تاسولپاره درحمت دعاګانې کوي دپاره ددې چه راوباسي تاسو
مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَكَانَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا ﴿٤٣﴾ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ
دتياروُدکفرنه رڼاداايمان ته،او اللهﷻ په مؤمنانوباندې ډيررحم کونکې دې،استقبال دَدوئ به په هغه ورځ
يَلْقَوْنَهُۥ سَلَٰمٌ ۚ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴿٤٤﴾
چه ملاقات کوي دَاللهﷻ سره،سلام به وي،اوتيارکړې ئى دې دَدوئ لپاره اجرعزت والا،

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ﴾ داپنځم خطاب دې مؤمنانوته،خلاصه دَدې داده چې اې ايمان والو!حضورﷺ يوبدرسم ختم کړو،نوپدې سره کچرته ستاسوپه زړونوکښې څه شک يابدګماني پيداکيږي،اوزړونوکښې موتنګي راځي نودَانشراح قلب اوقصورمعاف کيدلولپاره دَالله پاك ذکرپه کثرت سره کوئ،هروخت دَهغه تسبيح اوپاکي بيانوئ، ﴿ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ ډيرذکرهغه دې چې دَشپې،ورځې په بر،بحراوپه صحت،بيمارئ،خکاره اوپټه هروخت کښې کيږي،قال مجاهد:الذکرالکثيران لاينساه ابدا(خطيب)ابن کثيرؒ دَحضرت ابن عباسؓ نه نقل کړيدي چې هغه فرمائي: الله تعالى په خپلوبندګانوچې کومه فريضه فرض کړيده نودَهغې اندازه ئى مقررکړيده اواصحاب دَعذرئى معذورمنلي دي،ماسيوئ دَذکرخپل نه چې هغې لپاره نه څه حدشته اونه څه عذر،کقوله تعالى:فاذکروا الله قياماوقعوداوعلى جنوبکم.

﴿وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا﴾ يعني دَاللهﷻ پاکي بيانوي سهاراومابنام،تخصيص دَدې دواړو وختونودَوجې دَافضليت نه اوشوپه نوروختونوباندې،ځکه دادواړه وختونه

مشهودين د ي،يعنی دې دواړو وختونو کښې فرښتې حاضريږي اويوبل سره پدې وخت کښې ملاقات کوي تسبيح ويلی کيږی .چې الله تعالى پاکی بيانول دهغه امورونه چې دهغه شان وذات سره لائق ندی.اودلته مراد مطلقاتسبيح ده.خواه دذکر په صورت کښې وی،لکه سبحان الله وبحمده،سبحان الله عظيموغيره اذکارکول،اويادمونځ په ضمن کښې وی.

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُصَلِّي عَلَيۡكُمۡ﴾داعلت دې دماقبل دپاره،چې ذکرکثيراوتسبيح دالله ﷻ ځکه کوئ په تاسو ډير مهربان دي،اودهغې يومظهر اواثر دادې چې الله تعالى پخپله اودهغه فرښتې په تاسوباندې رحمتونه راليږي، او دکفرتيارونه مو داسلام رڼاته اوباسی

په آيت کريمه کښې لفظ د(صلوٰة)ذکرشويدې،صلوٰة دعاته وائی،نسبت ئی چې الله پاك ته اوشي نورحمت ورنه مرادوی اوچه فرښتوته اوشي نواستغفارورنه مرادوي کقوله تعالى:(ويستغفرون للذين آمنوا:غافر:۷)اواستغفاردفرښتوسبب دې دپاره درحمت دالله پاك.

﴿لِيُخۡرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ﴾متعلق دې د"يصلي عليكم"سره دظلماتونه مراددکفر اودنفاق، جهالت اودګمراهئ تيارې دي﴿إِلَى ٱلنُّورِ﴾نورنه مراد نور دايمان،اخلاص،اطاعت دې اومطلب دادې چې تاسوثابت قدم اودائم پاتې شئ په نوردايمان باندې،﴿وَكَانَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَحِيمٗا﴾ تاکيددې دماقبل،﴿تَحِيَّتُهُمۡ﴾ ضميرراجع دې مؤمنانوته، يعني دالله تعالى دمؤمنانوسره محبت اومهربانئ بل مظهر دادې چې په کومه ورځ دوئ دالله ﷻ سره ملاقات کوي نودوئ استقبال به سلام سلام سره وي،کقوله تعالى:سلام قولاً من رب الرحيم(يسين ۲۵۸)د﴿يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ﴾ نه کومه ورځ مراده؟(۱) بعض مفسرينوورنه جنّت ته دداخليدلو والا ورځ مرادکړيده چې هلته به ورته الله پاك هم سلام کوي اوفرښتې هم،کقوله تعالى:والملائكة يدخلون عليهم من كلّ باب سلامٌ عليكم(الرعد:۲۳، ۲۴) (۲)دبعضومفسرينوپه نزددې نه مراددمرګ والاورځ ده،لکه دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چې اذاجاء ملك الموت ليقبض روح المومن قال:ربك يقرئك السلام،چې ملك الموت کله ديومومن روح قبض کولوپاره راشي نوورته به داوائی،ستارب به تاسلام وايئ﴿وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا﴾ده.حب اورحمت يوبل مظهردادې چې عظيم الشان

جنتونه ورله ورکړي چې هغې کښې به دوئ په عزت سره اوسيږي، هيڅ تکليف او تنگی به ورته نوي،

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ
اې نبي ﷺ بيشکه مونږه ليږلی يې ته شاهد، اوزيرې ورکونکې اويرونکې، اودعوت ورکونکونکې الله ﷻ طرف ته
بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَضْلًا كَبِيْرًا ﴿۴۷﴾
په حکم دهغه سره اوډيوه رڼاکونکې، اوزيرې ورکړه مؤمنانوته چه بيشکه ددوئ لپاره دطرفه دالله ﷻ نه فضل جنت لوئ.
وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۴۸﴾
اوخبره مه منه دکافرانواودمنافقانواوپريږده ضرردوئ اوتوکل وکړه په الله ﷻ باندې، اوکافی دې الله ﷻ کارساز.
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ
اې ايمان والؤ! کله چه تاسونکاح وکړئ دمؤمناتوښځوسره بيا ورته طلاق ورکړئ تاسومخکښې دصحبت جماع نه
فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾
نونيشته دې ستاسو لپاره په دوئ باندې عدت چه شمارئ يې تاسو هغه، نومتعه ورکړئ دوئ ته اورخصت کړئ دوئ په خائسته رخصتولوسره

﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ﴾ داپنځم خطاب دې حضور ﷺ ته، مقصدپدې سره تسلي ورکول دي. چې اې نبي! مونږته دحق اوتوحيدبيانولودپاره ليږلي ئې، منونکوته زيرې ورکونکې ئې نه منونکولپاره يره ونکې يې دالله ﷻ دعذاب نه، نولهذاته دمخالفينودمخالفت اوتکليفونو پرواه مه کوه په الله ﷻ باندې توکل کوه.

پدې آياتونوکښې دحضور ﷺ پنځه صفات ذکر شويدی.

(۱) شاهداً گواه يعني حضور ﷺ به دقيامت په ورځ دخپل امت په تصديق ياتکذيب گواهي ورکوي، کقوله تعالى: ويکون الرسول عليکم شهيدا (بقره: ۴۳)

بعضومفسرينود﴿شَٰهِدًا﴾ معنیٰ داکړيده چې شاهداً لله بوحدانيته، يعني دتوحيد اودلااله الاّ الله شهادت ورکونکې، بعض وائی چې حضور ﷺ به دتولو امتونوپه انبياؤشاهدوي چې دوئ

اداء دَرسالت کړیده .شاه عبدالقادر رحمه الله دَ ﴿شَٰهِدٗا﴾ معنیٰ "حق بتلانے والا" کوي.

هرچه دې استدلال باطل دَاهل بدعتوپدې آیت سره چې حضورﷺ حاضرناظردې،نودَدې جوابونه دَسورة بقرې آیت(۴۳)ویکون الرسول علیکم شهیداً.کښ په تفصیل سره تیرشویدي هلته ئې اوګورئ

(۲)﴿وَمُبَشِّرٗا﴾ یعني دعوت ورکول په بیان دَبشارة دنیوي،اخروي سره

(۳)﴿وَنَذِيرٗا﴾اوپه بیان دَتخویف دنیوي،اخروي سره(۴)﴿وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ﴾ یعنی دَ الله تعالی وحدانیت اوایمان دعوت ورکونکې بِإِذۡنِهِۦ!ای بتسهیله وتیسیره(روح المعاني) یعني په اسانتیااوپه توفیق دَالله ﷻ سره دا اطلاق دَ سبب دې په مسبب باندې ځکه چه اذن سبب دَاسانتیا دې(۵)﴿وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا﴾دلته دَسراج نه خپله حقیقي معنیٰ مرادنه ده بلکه مجازدې چې لکه څرنګه دَسراج نه خلق رڼااخلي،اوتیاري ورسره ختمیږي نودغه شان حضورﷺ دَقلب مبارك نه اوتعلیماتونه تمام امت نوراورڼادَایمان اخلی.دکفراودَظلمت تیاري ختمیږی،دلته تشبیه دَحضورﷺ یې دَسراج منیرسره ورکړه، حالانکه نوراوسپوږمۍ رڼادیره زیاته ده،وجه داده چې دَسراج نه فائده اخیستل اختیاری اودائمی وی، په خلاف دَنورنه چې دَهغه نه استفاده کول اورڼااخیستل اختیاری هم نوی دائمی هم نوی،ځکه چې دَځه حصَې په شپې کښ غروب کیږي،اوبله داچې دَیوسراج نه بل سراج رڼااخستلې شي نوچې یوغائب شي نوبل سراج باقي وي،دغه شان چې حضورﷺ دَدنیانه غائب شي نوهرصحابي رضی الله عنه به سراج وي،چې دَهغه نه به نوراوهدایت اخستلې کیږي ﴿فَضۡلٗا كَبِيرٗا﴾ای عطاءً کبیراً،چې هغه جنت دې﴿وَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ﴾ دادَاول خطاب اعاده ده برائ تاکیدیعني اتباع دمایوحیٰ کوه دکافرانواومنافقانواطاعت مکوه ﴿أَذَىٰهُمۡ﴾دایامصدرمضاف دې فاعل ته. ای لاتبال بایذائهم ایاك.یعني دَهغوئ دَطرفه چې تاته کوم تکلیفونه دررسیږي نودَهغې پرواه مه کوه،په الله ﷻ بهروسه کوه،هغه به دي مددکوي،یامصدرمضاف دې مفعول ته:ای دع اذیّتك لهم،یعني هغوئ ته اذیت رسول ترك کړه.جلدي مه کوه بلکه په الله ﷻ توکل کوه.والاوّل اولی هکذاقی

روح المعاني.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَكَحۡتُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾داشپږم خطاب دي مؤمنانوته،مخکښې آیاتونوکښې دَحضرت زینب﷦ دَنکاح ذکراوشو،پدې آیاتونوکښې هم مؤمنانوته دَنکاح اوطلاق،عدةباره کښې حکم ذکرکیږي،خلاصه داده چې کله تاسودَمؤمناتوښځوسره نکاح اوکړئ اوبیاورته قبل دَصحبت نه طلاق ورکړئ نوپه مطلقې باندې عدة تیرول واجب نه دي،کچرته فوراًهغه بل چاسره نکاح کوي نوتاسوئې مه منع کوئ دَوس مطابق ورته څه متعه ورکړئ،رخصت ئې کړئ،﴿أَن تَمَسُّوهُنَّ ﴾ مس کنایه ده دَجماع نه،﴿ فَمَا لَكُمۡ عَلَيۡهِنَّ ﴾ چونکه عدت حق دَسړي دې نوځکه ئې نسبت سړوته اوشو ،اودَالله ﷻ حق پکښې هم داخل دې نوځکه نه ساقط کیږي په اسقاط دَسړوسره،﴿فَمَتِّعُوهُنَّ﴾متعه هغه لباس ته وائې چې ښځه ئې دکورنه دَوتلوپه وخت خامخااستعماله وي لکه لوئ څادر،لوپټه،اوکرته،متعه ورکول هغه ښځوته واجب دي چې مهرئې نه وی مقررشوې،کچرته مهرئې مقرروي اوطلاق قبل المسیس وی نونصف مهربه ورته ورکولې کیږی،اومتعه ورکول ورته بیامستحب دی،کقوله تعالى:فنصف مافرضتم(سورت بقره:۲۳۷)تفصیل هلته تیردې،﴿وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحٗا جَمِيلٗا ﴾ای خلواسبیلهنّ من غیراضرارٍ،یعني په خوش اخلاقئ سره ئې رخصت کړئ،کچرته بل چاسره نکاح کوي نومنع کوئ مه،کقوله تعالى:ولاتمسکوهنّ ضراراً(بقره).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحۡلَلۡنَا لَكَ أَزۡوَٰجَكَ ٱلَّٰتِيٓ ءَاتَيۡتَ أُجُورَهُنَّ
،اې نبي!بیشکه مونږه حلالې کړې دی تالره ستا(موجوده)بیبیانې هغه چه ورکړی وی تامهرونه دهغوئ.
وَمَا مَلَكَتۡ يَمِينُكَ مِمَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَيۡكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ
اوهغه وینځې چه مالك شویدې ښې لاس ستا،دهغې نه چې غنیمت کښې درکړیدی الله ﷻ تاته اولونړه دَتره ستا،اولونړه
عَمَّٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَٰلَٰتِكَ ٱلَّٰتِي هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ
دَترورپانوستا، اولونړه دماماستا،اولونړه دَماسی ګانوستاهغه چه هجرت ئې کړې وي ستاسره،اوښځه مؤمنه که چرې اوبخښي

نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا ۚ خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ

داخان خپل پیغمبر ﷺ ته په بشرط ددې چې اراده اوکړی نبي ﷺ ددې چه په نکاح سره ئې واخلي، داخالص تالره (جائزه ده) بې

الْمُؤْمِنِينَ ۗ قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ

دنورومؤمنانونه، یقیناً معلوم دي مونږته هغه حکم چه مقرر کړیدي مونږه په دوئ باندې په باره دبیبیانو ددوئ کښ اوپه

أَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُونَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝

باره دوینزو ددوئ کښ دپاره ددې چه رانشي په تاباندې تنګي، او الله ﷻ بخښونکي ډیرمهربانه دي

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ﴾ داشپږم خطاب دي، حضور ﷺ ته په دې آیت کښ دهغه ښځوذکردي چې نبي کریم ﷺ ته دهغوئ سره دنکاح اجازت وؤاوهغه ورته حلالي وي (احللنالك ای احللنالك نكاحهن) دآیت په تفسیرکښ دمفسرینودوه قوله دی اودَ اختلاف مدار خالصة لك من دون المؤمنين دې چې ددې تعلق چا سره دي (۱) بعض وايئ چې دَ ﴿خَالِصَةً لَّكَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ تعلق دلته ذکرشوی څلوروقسمونوسره دي اوپه آیت کښ دهغه څلورقسمه نکاح ذکردي چې هغه صرف دحضور ﷺ دپاره خاص اوجائزوؤخودبل چادپاره نه (۱) رومبې قسم ﴿اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ﴾ یعني هغه ښځي چې تاورته مهرادا کړیدې هغه مونږستادپاره حلالي کړیدي،

هرسړي چې شرعي طریقې باندې نکاح اوکړی اومهراداکړي نوهغه ته ښځه حلاله وي، خودلته دنبي کریم ﷺ دپاره وجه دتخصیص داده چې دغه وخت کښ دحضور ﷺ په عقدکښ دڅلورونه زیاتي بیبیاني وي، اودڅلورونه زیات نکاح اجازت صرف حضور ﷺ ته وؤ، بل چاته نشته

(۲) دویم قسم ﴿وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ﴾ یعني کومې وینزي چې تاته په غنیمت کښ ملاوشي، اوته هغه آزادي کړي اوبیاورسره نکاح اوکړي نوداستادپاره جائزدي،

خپله وینزه آزادول اوبیاورسره نکاح کول دهرسړي دپاره جائزدي، خودلته دحضور ﷺ دپاره وجه دتخصیص علماءدابیانوي چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته دااختیارورکړي وؤچې دمالِ

غنيمت دَتقسيمولونه مخکښې که دَځان دپاره څه اخلي نوداورته جائزوؤ اودي ته به صفیٰ النبي ويلې کيدو ،اوداصرف حضورﷺته اجازت وؤبل چاته دَدې هيڅ اختيارنه وؤ .دَحضرت صفيهؓبنت حيَ معامله هم داسې ده چې دانبي کريمﷺ دَځان دپاره خاص کړې وه،دلته ترينه دَهغه وينزي مراددي،

(۳)دريم قسم﴿وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّـٰتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَـٰلَـٰتِكَ﴾يعني ستادپاره مونږحلالي کړيدي دَپلاردَطرفه دَخاندان ښځي اودَموردَطرفه دَخاندان ښځي(تره اومامالونړه اودَترورلونړه)

تره اودَمامالونړه اودغه شان دَترورلونړه دَهرچادپاره حلالې دي،خودلته تخصيص په﴿ٱلَّـٰتِى هَاجَرۡنَ مَعَكَ﴾ سره راغلې دې ځکه چې دَنبي کريمﷺ دپاره دَدوئ نه صرف هغه ښځي حلالي وي چې هجرت ئې کړي وؤ ،لکه دَنبي کريمﷺ دَتره ابوطالب دَلورامَ هانيؓ په باره کښې راځي چې هغې به فرمائيل:څه دَحضورﷺدپاره حلاله نه يمه ځکه چې ماهجرت ندې کړې،په خلاف دَنورومسلمانانو چې هغوئ په حق کښې دَهجرت قيدضروري ندې

(۴)څلورم قسم.﴿وَٱمۡرَأَةً مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِىِّ﴾اى احللنالك امراءة مؤمنة،يعني مونږستادپاره هغه ښځه حلاله کړيده چې هغه تاته خپل ځان بغيردَمهرنه هبه کړى بغيردَمهرنه نکاح دَحضورﷺخصوصيت وؤ،عام مسلمان باندې مهرلازم دي،اګرچه په وخت دَنکاح کښې ئې ذکرانشي اويائې نفي اوشي،خلاصه دَدې قول داده چې پدې آيت کښې دَهغه څلورقسمه نکاح ذکردې چې هغه حضورﷺ پورې مخصوص دې.

(۲)بعض علما وائى چې دَ﴿خَالِصَةً لَّكَ﴾قيدصرف دَاخري قسم﴿وَٱمۡرَأَةً مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا﴾سره متعلق دې اوداقيد(حال)دې دَامراءةً مؤمنةً نه،دَدې قول په بناء دَآيت تفسرداسې دې،چې اول درې قسمه دَهغوښځوذکردې چې هغوئ ته افضيلت اوشرف حاصل دې پخپل غيرباندې مثلا(۱)هغه ښځي چې حضورﷺهغوئ ته مهروركړې وي هغه افضلې دي په هغوئ باندې چې مهرئى ورله نه وي مقررکړې(۲)هغه وينزي چې قيدکړيشي په جنګ کښې،دَهغه وينزونه افضلې دي،چې اخيستى شوي وي،ځکه چې په جنګ کښې دَنيولې شوؤ،معامله بالکل صفاده چې داوينزي دي،په خلاف دَاخيستى شوؤنه چې تحقيق سره دَهغې رقيت

واضحه نه وي(۳)دغه شان هغه اقارب دَحضورﷺ چې مکيٓ نه مديني ته هجرت کړې وؤهغه افضلې دي دَهغونه چې هجرت ئې نه وؤکړې،خلاصه داچې دی کښې دَهغوښځوذکردې چې هغوئ سره نکاح دَحضورﷺ دَپاره زيات اولی وؤدَنوروپه نسبت،دانه چې دلته تخصيص شويدې.اودَغيرنه نفي مقصودده.البته څلورم قسم هغه دي چې هغه صرف نبيﷺ پورې خاص دی چې وضاحت ئې په قول اول کښې شويدې.

آياداقسم (څلورم قسم،نکاح بلامهر)نکاح حضورﷺکړيده اوکنه؟نوپدې کښې اختلاف دې عبدالله بن عباسؓ اومجاهدؒ وايئ چې داسې نکاح نه ده شوې ځکه چې الله تعالیٰ فرمائی:﴿إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ﴾نودَانتفاء دَارادې نه انتفاء دَنکاح شويده.بعض نورعلماء وايئ چې داسې نکاح شويده لکه چې دامعلوميږي دَظاهردآيت نه اوداحوله بنتِ حکيمؓ،امّ شريکؓ اوليلی بنتِ حُطيمؓ وې ياميمونه بنتِ الحارث ده.

﴿قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ﴾ يعني دامذکوره خصوصيات صرف دَحضورﷺ دپاره دی اودَباقي مسلمانانودَنکاح په باره کښې چه کوم احکامات مونږ پيدوئ مقررکړيدي هغه مونږته معلوم دي،دَ﴿مَا فَرَضۡنَا﴾نه مرادمهردې په نکاح دَحرائروکښې،اونفقه ده په باره دَوينزوکښې.﴿لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَيۡكَ حَرَجٞ﴾متعلق دې يادَ﴿أَحۡلَلۡنَا لَكَ﴾سره يا﴿خَالِصَةٗ لَّكَ﴾ سره،يعني دَنکاح په معامله کښې دامذکوره خصوصيات دَدې دپاره دي چې په تاباندې څه حرج واقع نه شي ستاپه پيغمبرانه مصالحواومقاصدوکښې.﴿غَفُورٗا﴾مغفرت کونکي دې،که څوک دَحکم په تعميل کښې کوتاهي اوکړي.﴿رَّحِيمٗا﴾ باوجود دَدينه چې دَ هغه احکامات رحم باندې مبنی دی هيڅ باراوبوج پکښې نشته.

تُرۡجِي مَن تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـٔۡوِيٓ إِلَيۡكَ مَن تَشَآءُۖ وَمَنِ ٱبۡتَغَيۡتَ
رستوکولې شې چې کومه هم اوغواړې ته دَبيبيانونه،اونزدې کولې شې ته خان ته چې کومه هم اوغواړې اوکه هغه (بی بی)اوغواړې
مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن تَقَرَّ أَعۡيُنُهُنَّ وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ
چې جدا کړې وی تانونيشته دې گناه په تاباندې،دادیرنزدې دې ديته چه يخې به شی سترگې ددوئ اوغمژنې به نشی دوئ اوراضې به

بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَلِيْمًا ۝
شی په هغې باندې چه ته ورکوې دوئ ته. ټولې،اوالله عالم دې په هغه څه چه ستاسوپه زړونه کښې دي،اودې الله ښه عالم صبرکونکې.
لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ وَلَآ اَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ
نه دې حلالې ستالپاره ښځې وروستودې(خلوراقسامونه،اونه دی جائزداچه بدلې کړې په دوئ(موجوده)سره نورې بيبيانې
وَّلَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ رَّقِيْبًا ۝
اګرکه ښۀ لګي تاته دهغوئ حُسن،مګروينزې ستا،او اللهﷻ په هرڅيزباندې نګهبان دې

﴿تُرْجِي مَن تَشَآءُ مِنْهُنَّ﴾پدې آيت کريمه کښې يوبل خصوصيت دَحضورﷺ ذکردې،هغه داچې دَيوسړې دَيوې نه زياتې بيبيانې وي نوپه هغه باندې قسم،يعني عدل اوبرابروالې کول په نفقه اوشپ پاشئ کښې ضروري دې اوچې څوک دَبيبيانوپه مينځ کښې برابروالې نه کوي نوپه حديث کښې دي چې داسې کس به دَقيامت په ورځ په داسې حال کښې راځئ چې يوجانب به ئې مفلوج وي،ليکن په حضورﷺ باندې قسم کول واجب اوضروري نه وو، ﴿تُرْجِي﴾ دَارجاء نه ماخوذدې،مؤخرکول اووروستوکول﴿وَتُـْٔوِي﴾دَايواء نه ماخوذدې قريب کول اوضم کول،مطلب دادې چې تاته اختياردې چې په ازواجومطهراتوکښې څوک دَخپل نوبت نه وروستوکوې اوڅوک ضم کوې،﴿وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ﴾يعني کچرته يوه بي بي تادَخپل نوبت نه وروستوکړې وي اوبياهغه قريب کوې نوپدې کښې هم په تاڅه حرج نشته،الله ﷻ اګرچې په حضورﷺ،قسم نه وؤضروري کړې،ليکن دَدې باوجود به حضورﷺ دَازواجوپه مينځ کښې عدل،برابرتياکوله،حضرت عائشهؓ فرمايئ:کان رسول اللهﷺ يقسم فيعدل فيقول اللهم هذاقسمي فيماأملك فلاتلمني فيمالاأملك،يوبل روايت کښې دَعائشهؓ نه نقل دې چې:ان رسول اللهﷺ كان يستاذن فى يوم المرأةمنابعدان نزلت هذه الاية ترجي من تشاء (بخاري)

﴿ذٰلِكَ أَدْنٰى﴾يعني تاته په قسم کښې تفويض اواختياردرکولوکښې به ازواجو ستاته درې فائدې وررسيږي (١)﴿أَن تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ﴾ چې ازواج مطهرات به خوشحاله اومطمئنې وی،ځکه

چې تسویه اوبرابروالې به تاواجب اودَ دوئ حق ندې،دی باوجود چې کله ته دوئی په مابین کښې برابروالې کوې نودوئ به دا احسان بلااستحقاق ګڼړی اوخوشحاله کیږی به پرې.تقرّ یادَقرارنه ماخوذدې،یعنې دَهغوئ سترګې به قرارې شې،داکنایه ده دَسروراوخوشحالئ نه اواطمینان نه،ځکه چې دَ خوشحاله انسان سترګې په ځائ والاړې وې،په خلاف دَغمژن سړي نه چې سترګې دَهغه یوخوابل خواته اوړې،اویاماخوذدې دَقر(یخ والې)نه چې ضدئی حَر (ګرموالې)دې یعنې دهغوئ سترګې به یخې شې،داهم کنایه ده دَسرورنه،ځکه چې دَخوشحاله انسان سترګې یخې وې اودَغمژن سترګې ګرمې وې،دَخوشحالئ اوخکې یخې وې اود غم اوخکې ګرمې وې،

(۲)﴿وَلَا يَحْزَنَّ﴾ اوکه ته یوې له په بلې باندې ترجیح ورکوې نوپه دې به ورته خفګان هم نه رسي ځکه چې داتاته اختیاردې(۳)﴿وَيَرْضَيْنَ بِمَآ ءَاتَيْتَهُنَّ﴾ یعنې چې ته ورته څه نفقه وغیره ورکوې نوهم به دوئ راضي وې اووائی به چې زمونږخوپه حضورﷺ باندې څه زوریازمه دارې نشته،﴿كُلُّهُنَّ﴾تاکیددې،"یرضین کښې دَنون ضمیر مرفوع یعنې ټولې به پدې راضي وې﴿وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي قُلُوبِكُمْ﴾ کم ضمیرمصداق نبی علیه السلام اوازواج مطهرات دواړه دې،اودَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ذات اعتبار سره.دَ"مافي قلوبكم"نه مراددَزړه محبت دې اومیلان دې دَیوې نه بلې ته،نوپه طبعي محبت اومیلان کښې څه مواخذه نشته،لکه دَحضورﷺ زیات محبت دَحضرت عائشهؓ سره وو.اوازواجو مطهراتو اعتبارسره ترینه مراد دهغوئ قلبی کفییت دې په تفویض اواختیار.

﴿لَّا يَحِلُّ لَكَ ٱلنِّسَآءُ مِنۢ بَعْدُ﴾دَ(من بعد)نه مرادیاازواجِ تسعه دې یعنې دَدې نهوبیبیانونه بعدتاته دَنوروسره نکاح نده جائزه اونه بدلول دَازواجو،چې یوې ته طلاق ورکړې اوبلې سره نکاح اوکړې،مفسرین وائې چې دادَازواجومطهراتوانعام ووپه اختیارولودَاللهﷻ اودَرسول لره،هرکله چې آیت دَتخیرنازل شونودوئ ټولواووئیل چې:اخترناالله ورسوله،نوپه حضورﷺ باندې نورې ښځې حرامې شوې کچرته دَ(من بعد)نه دغه معنی مذکوره مرادشي نوبیاداآیت په نیزدَشاه ولي اللهؒ منسوخ دې اوناسخ ورلره یاایها

النبي انا احللنا لك ازواجك دي،اودا آيت اګرچه مقدم دې په تلاوت کښې ليکن مؤخردې په نزول کښې،نودې ناسخ جوړيدې شي،اودې تائيد دَحضرت عائشهؓ دَقول نه هم کيږي چې هغه فرمايئ: ماماتَ رسول الله ﷺ حتّی احلّ له النساء،يادَ(من بعد)نه مراد:من بعدالاصناف الاربعة دی لکه داقول دَعکرمه اوضحاك رحمهماالله دې،نوبيادا آيت منسوخ نه دې بلکه محکم دې دَ(ياايهاالنبيّ انااحللنالك)دپاره.﴿إِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ﴾دااستثناء ده دَ﴿لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ﴾نه يعني ستادپاره وينزه جائزه اوحلاله ده، لکه ماريه قبطيه دَدې نه بعدراغلي ده چې شاهِ مصرحضورﷺته په هديه کښې ورکړې وه اودَدې نه ابراهيم پيداشوې وۀچې هغه په وړکوالئ کښې وفات شوې وۀ،دَده په وفات باندې حضورﷺ فرمائيلي وۀ.وانّا بفراقک ياابراهيم لمحزونون.بخاري رقم الحديث ۱۳۰۳

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ إِلَّآ أَن يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ
اې ايمان والو!مه ننوځئ کورونودَپيغمبرﷺ ته مګرداکه اجازت وکړې شي تاسوته خوراك لپاره.
غَيْرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَٱدْخُلُوا۟ فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَٱنتَشِرُوا۟
نه يئ انتظارکونکي دَپخيدلودهغې ليکن کله چې اوبللې شئ نوداخليږئ،نوکله چه خوراك وکړئ نوخواره شئ
وَلَا مُسْتَـْٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِى ٱلنَّبِىَّ فَيَسْتَحْىِۦ مِنكُمْ
اومه!اساريګئ مينه حاصلونکي(شوق لرونکي)دخبرو،بيشکه دا(کيناستل)تکليف رسوي نبيﷺ ته نوهغه حياکوي ستاسونه.
وَٱللَّهُ لَا يَسْتَحْىِۦ مِنَ ٱلْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ
اوالله جَلّ جَلالُهُ نه کوي حيادَبيانولو دَ حق نه، اوچه کله تاسوغواړئ ددوئ نه
مَتَٰعًا فَسْـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ
څه خيز،نوغواړئ ورنه دَورستودپردې نه،داکاردېرپاك دې ستاسوزړونه لپاره
وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا۟ رَسُولَ ٱللَّهِ
اوزړونوددوئ لره،اونه ده مناسب ستاسولپاره،داچه تاسوتکليف ورسوئ رسول دَالله ﷻ ته:

وَلَآ أَنْ تَنْكِحُوٓا أَزْوَاجَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦٓ أَبَدًا ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ۝
اوداهم نه ده جائزچه تاسونکاح وکړئ بيبيانودهغه سره بعددهغه نه هميشه،بيشکه دا جرم دې په نزددالله ﷻ لوئ
إِن تُبْدُوا شَيْـًٔا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ۝
که ښکاره کوئ تاسو (په ژبه) يوشئ يائې پټه وئ په زړه کښې نوبيشکه الله ﷻ دې په هرخيزباندې ښه عالم

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَدْخُلُوا۟﴾ داووم(۷)خطاب دې مؤمنانوته،پدې کښې بيان دقواعدو اوداداب وطعام دې،اومقصدورنه دحضورﷺ اودازواجومطهراتوحفاظت کول دي دتکليف وررسولونه،اوفقهاؤتصريح کړيده چې داآيت اګرچه دشانِ نزول په اعتبارسره خاص دې په حضورﷺ پوري مګرحکم ئې عام دې،وهذاالحکم وان نزل خاصاً فى النبيﷺ وازواجه فالمعنىٰ عام فيه وغيره،(جصاص)دې آيت ته آيت الحجاب دپردې آيت وئيلی کيږي ځکه چې پدې کښې دپردې حکم دې،ددې آيت شان نزول کښې اکثرومفسرينودحضرت انسؓ نه نقل کړيدي چې هغه فرمائي:اناااعلم الناسِ بشان الحجاب،دآيت دحجاب حقيقت اوشانِ نزول نه څه دټولوخلقونه زيات واقف يم،ځکه چې پدغه وخت کښې حاضرووم،کله چې حضورﷺ دزينبؓ سره نکاح اوکړه نووليمه ئې اوکړه،صحابه کراموؓ ته ئې دعوت ورکړو،دخوراك کولونه پس څه صحابهٔ کرامؓ ناست وو،خبرې ئې کولې،حضورﷺ هم هلته ناست وو،حضرت زينبؓ ديوال طرف ته مخ کړې وو اوناسته وه،حضورﷺ غوښتله چې داکسان لاړشي ليکن دحياء دوجې نه ئې ورته نه شوونيلې،پخپله دهغې مجلس نه پاسيدلوچې دوئ به پدې پوهه شي اولاړبه شي،دحضورﷺ په وتلوسره بعضِ کسان اووتل،ليکن بعض ناست ووحضورﷺ دوه،درې کرته دغه عمل اوکړونوهغوئ ته احساس اوشو، اولاړل، حضورﷺ کورته تشريف راؤړلواوداآيت ورباندې نازل شو،نورواقعات هم ددې آيت په شانِ نزول کښې راغلی دی خودامذکوره شانِ نزول اکثرومفسرينوذکرکړيدي.

﴿لَا تَدْخُلُوا۟ بُيُوتَ ٱلنَّبِىِّ﴾دااول ادب دې چې بغيردإجازت نه دحضورﷺکورته مه ننوځئ، دلته اضافت دبيوتونبيﷺ ته شويدې اومخکښې په﴿وَٱذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِى بُيُوتِكُنَّ﴾کښې ازواجوته شويدې،نودلته اضافت ملك ته شويدې اومخکښې کښې محل ته شويدې،﴿إِلَّآ أَن

﴿يُؤْذَنَ﴾ استثناء مفرغه ده دَعموم احوال نه:ای لاتدخلواهافی حالٍ من الاحوال الاحال کونکم مصحوبین بالاذن (روح) ﴿إِلَىٰ طَعَامٍ﴾ متعلق دی دَ﴿يُؤْذَنَ﴾ سره. ﴿غَيْرَ نَـٰظِرِينَ﴾ دا دویم ادب دی چې اجازت درته اوشي هم خودَوخت نه مخکښ بیاهم مه ځئ، والدمحترم (نورالله مرقده) فرمائی: دکال دَمیلمه په شان ورته تکیه مه لګوئ، ﴿نَـٰظِرِينَ﴾ پمعنی دَمنتظرین دی یعنی انتظارمه کوئ او ﴿إِنَىٰهُ﴾ بکسرالهمزه یاخوراك پخیدلواوتیاریدلوته وائی، یادَانِ یانِي نه ماخوذدی دَوخت په معنیٰ دی یعنی وخت دَپخیدلو اوخوړلوته انتظارمه کوئ (روح المعاني) صاحب دَروح المعاني وایئ چې لکه څرنګه قبل ازوقت دَخوراك ځائ ته تلل اوهلته انتظار کول مذموم دي نوځماپه نیزهم دغه شان داهم مذموم دي چې یوسړی خاص وخت ته مدعو کړې شي اوهغه قصداًبلاعذره مؤخرکیږي محض ددې لپاره چې ځماانتظار اوکړې شي اوپه خلقوکښ مې وجاهت ښکاره شی، اوصاحب البیت حاضرینوته دَده دَیري یااحترام پوجه خوراك نه شي ورکولي ﴿وَلَـٰكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا﴾ دادریم ادب دی چې دعوت درته درکړې شي نوورځئ اوچې دعوت درته نه وي درکړې شوي نوبلادعوته مه ځئ، بغیردَدعوت نه خوراك کول ګناه دې. ﴿فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانتَشِرُوا﴾ داڅلورم ادب دې چې کله دَخوراك نه فارغ شئ نوفوراځئ، هلته دَیوبل سره خبروکښ مه مصروفه کیږئ، یامطلب دادې چې دکوروالۆخبروته غوږکیخودلودپاره مه کینئ، ﴿لِحَدِيثٍ﴾ ظاهره داده چې داحکم هغه وخت کښ دې چې صاحب البیت ته تکلیف وي دَده په حصاریدلوکښ اوکه هغه ته تکلیف نه وي نوبیادَخوراك نه پس حصاریدل ګناه ندې. ﴿إِنَّ ذَٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ﴾ داعلت دې دَمذکوره ادابو دَپاره، چې دَخوراك نه پس کیناستل، خبرې اوګپ شپ لګولوکښ حضورﷺ ته تکلیف رسیږي ځکه چې دامانع دې دَبعض حاجتونو، ضرورتونوپوره کولو دَحضورﷺ کښ اودغه رنګه پدې کښ تضییق دَمکان دې په نبيﷺ اوازواجومطهراتوباندې.

﴿فَيَسْتَحْيِي مِنكُمْ﴾ یعني ستاسوپه اوباسلوورته حیاورځي اودَخوش اخلاقئ په وجه درته په ژبې سره نه وائی چې لاړشئ ﴿وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ﴾ حق نه مراداوباسل دې اومنع

ده دکیناستلونه، اومطلب دادي چې الله ﷻ تاسو ته امر کوي دَوتلو پس دَخوراك نه.

﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ﴾ضمیردَجمع مؤنث ازواجومطهراتوته راجع دي،داپنځم ادب دي،داپه باره دَازواجومطهراتوکښ دي،چې کله تاسودَدوئ نه دَڅه څیزسوال کوئ،غواړئ ورنه،نوپرده کوئ اوسوال کوئ،هغوئ به ستاسونه پرده کوي تاسوبه دَهغوئ نه پرده کوئ،دَدې آیت دَنزول نه بعدبه ازواجومطهراتوپرده کوله،پدې وجه دې آیت ته آیة الحجاب وائی،حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چې ازواج مطهرات به دَشپې په تیاري کښ بهرته وتلې،حضرت عمر رضي الله عنه به باربارحضور ﷺ ته عرض کولوچې ازواج مطهرات دې پرده کوي،خوحضور ﷺ دَپردې امرنه ووکړې،یوه ورځ حضرت سوده رضي الله عنها دَشپې بهروتلې وه، اودادَقدنه طویله«دنګه»وه،حضرت عمر رضي الله عنه پدې غرض چه حکم دَحجاب نازشې اواز ورکړو:الاقدعرفناكِ یاسودة،نوالله ﷻ داآیت نازل کړو،بخاري وغیره دَانس رضي الله عنه نه روایت کړیدې چې حضرت عمر رضي الله عنه حضور ﷺ ته عرض اوکړوچې ستاخواته نیك اوفاجرهرقسم خلق راځي،نوکه ته امّهاتوته دَحجاب حکم اوکړې نوداخبره به ډیره خه وي،نوداآیت نازل شو،دې وجه نه مفسرینوداآیت موافقاتودَعمر رضي الله عنه نه شمارکړیدې.

ددې شانِ نزول اوپه ابتداء کښ چې کوم ذکرشو،دَدواړوپه مینځ کښ تعارض نشته،څکه محتمله ده چې دادواړه واقعات دې دَنزول سبب ګرځیدلي وي.﴿ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ﴾اشاره یاسوال من وراء الحجاب ته ده،یامذکوره ټولواحکاماتوده،اوداعلت دَپردې دې،،چې پدې سره به دسړواوښځوزړونه دَهرقسم فتنې نه پاك وي،په بعض اثاروکښ دي:النظرسهم مسموم من سهام ابلیس،داحکم هم صرف په ازواجومطهراتوپورې خاص نه دې،بلکه پرده دَهرنامحرم نه ضروري ده:ویدخل فی ذالك جمیع النساء«قرطبي».

﴿وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا﴾داشپږم ادب دې مؤمنانوته،چې ستاسودپاره داسې روّیه اختیارول ندي پکارچې په هغې سره حضور ﷺ ته تکلیف اورسیږي،چې منجمله دَهغې نه دخول دې کوردَهغه ته بلااذنه،اوپه غیردَضرورت نه هلته کیناستل،پرده نه کول دَهغه دَازواجومطهراتونه.

﴿وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ﴾داووم ادب دې اود: «وازواجه امّهاتهم»تصریح ده،حضور ﷺ ازواج

دَمسلمانانوامهات دي نومسلمانانوته نه ده جائزه چې دَازواجومطهراتوسره نکاح اوکړي،﴿مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًا ﴾یعنی بعددَحضورﷺ نه،نه په مرګ سره او نه په طلاق سره،یعني هغه زنانه چې دَحضورﷺ په نکاح کښ پاتې شوې وي نوبیاورسره دَحضورﷺ دَوفات نه بعدهم نکاح نده جائز.بعضِ وائی تحریم صرف دَمدخول بهادې،څکه چې حضرت عمرؓ پخپل دورخلافت کښ نوؤرجم کړې هغه سړې کوم چې هغې ښځې سره نکاح کړې وۀچې حضورﷺ هغې ته طلاق قبل الدخول ورکړې وۀ(روح)

﴿ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ ﴾ یعني ایذارسول حضورﷺ ته په نکاح وغیره سره دَالله ﷻ په نیزډیره لویه ګناه ده.﴿إِن تُبۡدُواْ شَيۡـًٔا أَوۡ تُخۡفُوهُ ﴾داشرط دې اوجزاء ئې محذوفه ده چې(یجازیکم به)دې او﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُلِّ ﴾دَمحذوفه جزاء علت دې،مقصوددادې چې الله ﷻ کامل العلم دې نوکه ستاسونه ښکاره ګناه صادرېږي چې منجمله دَهغې نه دَازواجومطهراتوسره نکاح باندې قول کول دي اوکه پټ ګناه صارېږي چې منجمله دهغې نه په زړه کښ دَنکاح خواهش دې،دواړوباندې به الله ﷻ سزادرکوي.

لَّا	جُنَاحَ	عَلَيۡهِنَّ	فِيٓ	ءَابَآئِهِنَّ	وَلَآ	أَبۡنَآئِهِنَّ	وَلَآ	إِخۡوَٰنِهِنَّ

نیشته دې ګناه (دنه کولو دپردې) په دوئ باندې په باره دپلارانو ددوئ کښ اونه په خامنو ددوئ کښ،اونه په ورڼړو ددوئ کښ

وَلَآ أَبۡنَآءِ إِخۡوَٰنِهِنَّ وَلَآ أَبۡنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ وَلَا نِسَآئِهِنَّ

اونه په خامنودَرونړو(رویرونو)ددوئ کښ،اونه په خامنودَخویندو(خوریونو)دَدوئ اونه په ښځودَدوئ کښ،

وَلَا مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّۗ وَٱتَّقِينَ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدًا ۝

اونه په وینزودَدوئ کښ،اویرېږئ دَالله ﷻ نه یقیناً الله ﷻ په هرڅیزباندې حاضر دې ،

﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيۡهِنَّ ﴾ای لااثم علیهن فی ترك الحجاب من اباٰلهن(روح)دې آیت کښ دَهغه کسانوذکردې چې دَهغوئ نه پرده کول نشته،مفسرین وائی چې کله دَحجاب آیت نازل شونوپلارانو،اونوروخپلوانواووئیل چې مونږبه هم دَازواج مطهراتونه پرده کوؤاومِن وراء

الحجاب به ورسره خبري کوڼوداآيت نازل شوچې دې دې کسانونه پرده نشته.
﴿ءَابَآئِهِنَّ﴾پلارنه پرده نشته،نسبي وي که رضاعي،﴿وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ﴾که خپل خامن وي اوکه دخاوندخامن وي لکه امّ سلمه رضي الله عنها به دابو سلمه رضي الله عنه دخامنونه پرده نه کوله.﴿وَلَآ إِخْوَٰنِهِنَّ﴾ رورنه هم پرده نشته نسبي وي که رضاعي،﴿وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ﴾وراره نه پرده نشته،﴿وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ﴾دخورئې نه هم پرده نشته،﴿وَلَا نِسَآئِهِنَّ﴾ای نساء المومنات،يعني ازواج مطهرات به دعامومؤمناتوښځونه به هم پرده نه کوي البته دکافراتوښځونه به پرده کوي، «روح المعاني»
﴿وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ﴾ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چې ددې نه مرادصرف وينزې دي،يعني دوينزونه به پرده نه کوي،البته دغلامانونه پرده ضروري ده،پدې آيت کښې دعم«تره»اودماماذکراونه شوحالانکه دوئ نه هم پرده نشته،دادپدې وجه چې دوئ پمنزله دآباؤدي نوپه اباء هن کښې داخل دي،يادَ﴿وَلَآ أَبْنَآءِ إِخْوَٰنِهِنَّ﴾اودَ﴿وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَٰتِهِنَّ﴾په ذکرسره ددوئ نه اکتفاء اوشوه،په سورة النورکښې نوري رشتې هم تيرې شويدي چې دَهغوئ نه پرده کول واجب نه دي،دَغه رنګه دَحجاب مکمل تفصيل هم هلته تيرشويدې.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ٥٦﴾

بيشکه الله تعالى اوفرشتې دهغه درود وائي په نبي ﷺ باندې،اې مؤمنانو،درودوواينئ په هغه اوسلام واينئ په سلام ويلوسره

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ﴾دااتم«٨»خطاب دې مؤمنانوته،پدې کښې دحضور ﷺ مرتبه اوقدرذکرکيږي،چې الله تعالى دحضور ﷺ ثناء کوي په رسم بدماتولوباندې نوتاسوهم دحضور ﷺ ثناء کوئ،دالله تعالى اوملائکودطرفه دصلوة على النبيّ په معنیٰ کښې اختلاف دې«١»بعض وائي چې صلوة دالله تعالى دحضور ﷺ ثناء ده دملائکوخواکښې،اوتعظيم دهغه دې،اوصلوة دملائکودعاده حضور ﷺ ته،«٢»بعض وائي چې صلوة دالله تعالى رحمة خاصه راليږل دي په حضور ﷺ باندې،اوصلوة دملائکودعاء ده،پدې وجه امام شافعي رحمه الله داآيت په استدلال کښې نيولې دې چې عموم مشترک جائزدې،ځکه چې دلفظ واحدنه ډيرې معنې اغستې شويدي،احناف وائي چې دآيت مقصددادې چې په مؤمنانوباندې دالله تعالى

اودَملائکواقتداء واجبه اوضروري ده اوداهله کیدیشي چې دَصلوٰة نه داسې معنی مرادشي چې هغه ټولوته شامله وي یعني عامه وي،اوهغه داده چې صلوة دلته پمعنیٰ دَالاعتناء بمافیه خیرهﷺ دي،یعني اللهﷻ اودَهغه ملائك اعتناء کوي یعني متوجه کیږي هغه څیزته چې په هغې کښې دَحضورﷺ خیروي،نودَدي اعتناء نسبت چې اللهﷻ ته اوشي نومرادورنه دَرحمتﷻ خاصه نزول دي،اوچه ملائکوته اوشي نومرادورنه استغفاردې اوچې انسانانوته اوشي نودعاورنه مراده ده،نوپه آیت کښې عموم مجازشویدې عموم مشترك نه دې شوې.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ﴾ صلوا صیغه دَامرده،امردَوجوب دپاره دې،نوداآیت دلالت کوي پدې چې په حضورﷺ باندې صلوة سلام وئیل واجب دي،دَدې وجې نه درودشریف په ټول عمرکښې کم ازکم یوځل وئیل فرض دي اوکله چې په یومجلس کښې دَحضورﷺ نوم مبارك ذکرشي نودرورودشریف وئیل واجب دي، کمافي الحديث،رغم انف رجلٍ ذُكرتُ عنده فلم يصلِّ عليّ،چې په یومجلس کښې مکررذکرشي نودرودشریف وئیل مستحب دي،دَامام طحاوي‌رحمه الله په نزدمکرروئیل واجب دي اوداآیت کریمه چې تلاوت کړیشي بغیردَمونځ نه اودَجمعي دَخطبي نه نومستحبه ده چې یوځل درودشریف وئیلی شي،اللّهمّ صلّ علیٰ محمدنِ النبي الاميّ وبارك وسلم عليه،اودَجمعې په خطبه کښې چې ذکرشي نوپه سامعینُ ته په زړه کښې وئیل پکاردي،والصّواب ان يصلّي على النبيّ عندسماع اسمه في نفسه(فتاویٰ دارالعلوم دیوبند،بحواله الدرالمختارباب الجمعه).

په صحاح سته ؤکښې دکعب بن حجره رضي الله عنه نه روایت دې چې کله داآیت نازل شونویوصحابي عرض اوکړوچې پدې آیت کښې مونږته دوؤڅیزونوامردې،یودَصلوة بل دَسلام،دَسلام طریقه خومونږته راځي چې:السلام عليك ايهاالنبي ورحمة الله وبركاته،دي، مونږته دصلوٰة طریقه هم اوښایه،نوحضورﷺ ورته درودابراهیمي اوښودلوچې داواییٔ،پدې وجه علماء وایئ چې افضل درودپه درودونوکښې درودابراهیمي دي څکه چې داحضورﷺپخپله غوره کړیدي.

دَدرودشریف وئیلولوئ فضیلت دَدې آیت نه پخپله معلومیږي څکه چې په نوروعبادتونوکښې اللهﷻ بندګانوته دَاداکولوحکم کوي اودرودشریف په باره کښې ئې اول پخپله بنفس نفیس دَدې عمل کولوذکرفرمائیلې دې اوبیائ په دې باندې دَفرشتومامورہ

کیدلو ذکر کړیدې اودې نه پس ئې مؤمنانو ته حکم کړیدې.

دابن مسعودؓ نه روایت دې:قال رسول اللهﷺ:انّ اولی الناس بي یومَ القیامة اکثرهم عليّ صلوٰةً(ترمذي) ترجمه:دقیامت په ورځ به ماته دَ ټولونه نیزدې هغه کس وی چه په مابانډې زیات درود وائی. په یوبل روایت کښې دي:ان لِلهِ ملائکةً سیّاحین فی الارض یبلّغوني عن امتي السلام(نسائي) ترجمه:دَالله تعالی دَ طرف په زمکه کښې چکر لګونکې فرشتې مقررې دی چه ځمادَامتی سلام ماته رارسوی. دَانسؓ نه روایت دې:انّ النبيّﷺ قال من صلّی عليّ صلاةً صلّی الله علیه عشرصلوٰة وحُطّت عنه عشرخطیئاتٍ ورُفعت له عشردرجاتٍ(نسائي) ترجمه:څوک چه په ما یوځل درود اووائ الله تعالی وربانډې لس(۱۰)ځله درود وائی لس ګناهونه ئې معاف کوي لس درجې ورته اوچته وی.

﴿وَسَلِّمُوا تَسْلِیمًا﴾مراددَدینه سلام وئیل دي،یعني السلام علیك ایهاالنبي،بعض وائي دینه مراددادي چې:دَحضورﷺ دَاحکاماتوپوره پوره تعمیل اوکړئ

فائده:(۱)امام نوويؒ استدلال نیولې پدې آیت سره چې صرف صلوٰة وئیل یاصرف سلام وئیل مکروه دی ځکه چې امرپه دواړوبانډې معًاوارددې،لیکن جمهوروائی چې مکروه نه دې،ځکه چې ماموربه مطلقاصلاة اوسلام وئیل دي اودادلالت نه کوي په دواړوبانډې معًا،کمافی قوله تعالی:واقیموا الصلوٰة واتوالزکاة وغیرذلك

فائده:(۲)دَحضورﷺنه علاوه په نورو انبیاؤبانډې هم صلاة وئیل جائزدي بلاکراهةً،بیهقي دَابوهریرهؓ نه نقل کړیدي چې حضورﷺ فرمائی:صلّواعلی انبیاء الله ورسُله فان الله تعالی بعثهم کمابعثني،دَدې حدیث نه په جوازدَصلاة په ملائکوبانډې هم استدلال کیدیشي ځکه چې ملائك هم رُسل دي.

فائده:(۳)دَانبیاؤاوملائکونه علاوه بل چابانډې صلاة وسلام وئیل په نیزدَبعض جائزدی، لقوله تعالی: اولئك علیهم صلوٰة من ربّهم(بقره)،وصلّ علیهم انّ صلوٰتك سکنٌ لهم(توبه) دغه شان په یوحدیث کښې:اللهم صلّ علی آل ابي اوفیٰ،ذکردې،لیکن جمهوروایئ چې انبیاؤ اوملائکونه علاوه بل چابانډې صلوٰة وسلام وئیل جائزنه دی مستقلاً،البته تبعاًجائزدی،ځکه چې داعلامه دَانبیاؤده،ابن عباسؓ نه مروي ده چې: لاتنبغي الصلاة من احدٍعلی احدٍالاّعلی النبيّﷺ،دغه شان صلاة وسلام وئیل په قرونِ اولیٰ کښې نه وؤ،دادَشیعه ګانوبدعت دې.چې

دَبعض ائمه ؤپه حق کښ علیه السلام وائی، اودګمراه فرقو اواهلِ بدعت سره دَمشابهت نه اجتناب لازم دې، نوسیدنا حضرت حسین رضی الله عنه وئیل پکاردی.

إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ
بیشکه هغه کسان چه تکلیف رسوي الله جل جلاله اورسول دَهغه ته،لعنت دې وي په دوئ باندې دالله جل جلاله په دنیااواخرت کښ
عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ
اوتیارکړې ئ دې ددوئ لپاره عذاب ذلیلوؤنکې،اوهغه کسان چې تکلیف رسوي مؤمنانوته اومؤمناتوښځوته
بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٥٨﴾
بغیردَهغې نه چه دوئ کړې وي،نوپه تحقیق بارکړې دې دوئ بهتان اوګناه ښکاره

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ داتخویف دنیوي اواخروي دې کافرانو اومنافقانوته، چې کوم خلق الله جل جلاله اودَهغه رسول صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسوي نوپه هغوئ باندې په دنیااوآخرت کښ دَالله جل جلاله لعنت وي اودَدوئ لپاره ئی ذلت ناك عذاب تیارکړیدې، دَدې آیت دَشان نزول متعلق بعض فرمائی چې داآیت په حضرتِ عائشه رضی الله عنها باندې تهمت لګولومتعلق نازل شویدې، بعضُ روایاتوکښ دي چې دَحضرت صفیه رضی الله عنها سره دَنکاح په وخت کښ بعضِ منافقانوطعن کړې وؤنودَهغوئ باره کښ داآیت نازل شو(روح المعاني)

﴿يُؤْذُونَ اللَّهَ﴾ الله جل جلاله ته دَتکلیف اوایذاء رسولومطلب دادې(۱)چې دَالله جل جلاله دَاوامرونه مخالفت اوشي اودَمعاصیؤارتکاب اوشي(۲)دکوموکارونوپه ارتکاب سره چې مخلوق ته ایذاء رسي دَهغې نه تعبیردلته: الله جل جلاله ته په ایذاءرسولوسره شویدې(۳)زماني اووخت ته بدوئیل دَمصائبواوحوادثووخت کښ لکه خلق وائی: ډیره بده زمانه راغله، ډیربدوخت راغې، وغیره، نوزماني وخت ته بدوئیل سبب دې الله جل جلاله ته دَایذاء رسولو، دَابي هریره رضی الله عنه نه روایت دې چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی: قال الله تعالیٰ یؤذیني ابنُ ادم بسببِ الدّهروانالدهربیدي الامراقلّب اللیل والنهار(بخاري) یعني انسان ماته په سبب دَزماني ایذاء رارسوي(ځکه چې انسان زماني ته بدردوائی) حالانکه زمانه څه یمه(یعني زمانه ماپیداکړیده) ټول کارونه ځماپه قبضه کښ دي شپه اوورځ څه بدلوم(۴) نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته تکلیف رسول ځکه چې حضور صلی الله علیه وسلم ته

ايذاء رسول الله ﷺ ته ايذاء رسول دي كمال الحديث،ومن آذاهم فقدآذاني ومن آذاني فقدآذى الله ومن آذى الله يوشك ان ياخذ(ترمذي)دَدې حديث نه داهم معلومه شوه چې صحابه كرامو ﷺ ته ايذاء رسول حضور ﷺ ته ايذاءرسول دي اوحضور ﷺ ته ايذاء رسولوسره الله ﷻ ته ايذاء رسيږي(۵)دهغه شان الله ﷻ ته دَولد اودَشريك وغيره نسبت كول دي لكه يهودوائى عزيرابن الله،يدالله مغلولة،انّ الله فقيرونحن اغنياء،اونصارىٰ وائى مسيح ابن الله،انّ الله ثالث ثلثه،اومشركين وائى:الملائكة بنات الله(روح)﴿وَرَسُولَهُ﴾اوحضور ﷺ ته ايذاء رسول دادى(۱)چې دهغه په نبوت اورسالت كښې طعن كول،لكه مشركانوبه ونيل چې دې شاعردې،ساحردې،كاهن دې،مجنون دې نعوذبالله(۲)جسمانى تكليف وركول لكه په غزوه احدكښې دَحضور ﷺ غابښونه شهيدان شوى وو اومخ مبارك يې زخمي شوې وو(۳)داسې الزام لګول چې هغه دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ذات وشان سره لائق نوي،خلاصه داچې هرهغه عمل اوقول چې هغې سره نبى صلى الله عليه وسلم ته تكليف رسى روحانى ياجسمانى ترينه مراد دي.

فائده: كوم سړي چې حضور ﷺ ته ايذاء رسوي يادَحضور ﷺ په ذات اوصفاتوكښې څه عيب رااوباسي نوهغه كافردې اودَدې آيت په مصداق سره هغه په دنيااوآخرت دواړوكښې معلون دې،

﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ﴾داهم زجردې په تكليف رسولومومنانوته اومؤمناتوته، مؤمنانواومؤمناتوته تكليف رسول ګناه كبيره دې،لكه كنزل كول،دَبل مسلمان غيبت كول ياورباندې تهمت تړل وغيره،بيهقي كښې دَعائشې ﷺ نه روايت دې چې حضور ﷺ دَصحابه وُنه تپوس اوكړوچې بدترين سوددَالله ﷻ په نيزڅه دې؟ هغوئ عرض اوكړوچې:الله ورسوله اعلم،حضور ﷺ اوفرمائيل:بدترين سودپه سودونوكښې دَيومسلمان بې عزتي كول دې،بيائى داآيت تلاوت كړو:والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغيرما كتسبوا...

يٰٓاَيُّهَا	النَّبِىُّ	قُلْ	لِّاَزْوَاجِكَ	وَبَنٰتِكَ	وَنِسَآءِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	يُدْنِيْنَ
اې نبي!	ته	حكم وكړه	خپلوبيبيانوته	اوخپلولونړوته	اوښځودمؤمنانوته	چه	راخواره دكړى

عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ ۚ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يُّعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۚ							
په ځانونوخپل غټې څادرونه،داډيره قريبه ده دې ته چه پېژندې به شي دوئ نوضرربه ورته نشي رسولې.							
وَكَانَ	اللّٰهُ	غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ۝٥٩				
او	الله ﷻ	بخښونکې	مهربانه دې				

﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ﴾داووم خطاب دې حضورﷺ ته،پدې آياتونوكښې دَمنافقانودَدوؤشرارتونونه دَحفاظت انتظام دې،دَمنافقانويوشرارت داوؤچې دَنزول حجاب نه قبل به چې كله مسلمانانې زنانه دَقضاء حاجت دپاره بهرته وتلې نودوئ به تنګولې،اوآزونه به ئې ورپسې كول چيړچاړبه ئې ورسره كولو،پدې زنانه ؤكښې به حرائرې(ازادې)ښځې هم وې اووينزې به هم وې،نوكله به چې يوې زنانه سره به ئې چيړاوكړواو په هغې به دَدوئ ګرفت اوشونودوئ به وئيل چې زمونږداګمان وؤچې داوينزه ده(روح وغيره)،نوپدې باندې به عام مسلمانانوته اوحضورﷺ ته تكليف ميلاويدلو،نوالله ﷻ دَدې انتظام اوكړو،حكم راغې چې اې نبي!خپلوبيبيانوته اوبناتوته اومسلمانانوښځوته دَپردې حكم اوكړه چې كله بهرته اوځي دَځه حاجت لپاره نوپه پرده كښې دې ځي،نودوئ به پيژندلې كيږي چې داحرائرې دي نوځوك به ورته تكليف نه شي رسولې،پدې آيت كښې دَحرائروښځودَحفاظت انتظام دې پاتې شولې وينځې نو دَ پردې كوم احكامات چې آزادې ښځې ته ميلاؤ شويدى دَ خپل محارمو په باره كښې ،چې دَ هغوئ نه مخ لاس ،خپو وغيره پرده نشته ،نودغه احكامات وينځوته دَ نامحرموپه باره كښې هم دي،ځكه چې دوئ دَخپل مولىٰ لپاره دَ كور نه باهر كارونه هم كوى،نومكمل پرده لازمولوصورت كښې په هغى حرج راځى.ده وينځو حفاظت انتظام ورستوآيت كښې روان دې.

﴿وَبَنٰتِكَ﴾خطاب حضورﷺ ته دې،نوپه نصِّ صريح سره دامعلومه شوه چې دَحضورﷺ لونړه ډيرې وې،صرف حضرت فاطمهؓ نه ده،دَحضورﷺ څلورلونړه وې اوټولې دَحضرت خديجيؓ دَبطن نه پيداوې،رقيهؓ،زينبؓ،امِّ كلثومؓ،اوفاطمهؓ، نوپدې سره په شيعه ګانوباندې رداوشوچې هغوئ وائى چې دَحضورﷺ صرف يوه لورحضرت فاطمهؓ وه،بعضِ

شیعه ګان دَدې په جواب کښې وائی چې دلته دَبنات نه مرادبنات دَامَت دي،چې هغوئ هم دَحضورﷺ روحاني لونړه دي،نوجواب دادې چې دَامَت دَبناتواوښځوذکر بعدکښې صراحتاً موجوددې﴿وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾نودَبنات لفظ په روحاني بناتوباندې محمول کول غلط دی،بلکه دَبناتونه مرادصُلبي بنات دي.﴿وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾دې کښې عام مسلمانانو ښځوته دَپردې حکم دې،بعض فیشن زده اودَقرآن دَ احکاماتونه جاهله خلق وائی چې په قرآن کښې دَعامومسلمانان وښځودپاره دَپردې حکم نیشته،والله یهدي الیه من یشاء.

جمهورمفسرین وائی چې(نساء المؤمنین) نه مرادصرف حرائرې یعني آزادې ښځې دي. وینزې پدې حکم کښې ندې داخلې،شانِ نزول دآیت هم دَدې تقاضاکوي،حضرت عمرؓ به هم وینزه دَپردې نه منع کوله اووئیل به ئې چې پرده دَحرائرودپاره ده ابوحیانؒ وائی چې ﴿وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾حرائرواووینزودواړوته شامل دې،ځکه چې فتنه په وینزوکښې زیاته وي دَوجه دکثرة دَبهروتلودَدوئ،پخلاف دَحرائرو،نووینزې دَدې حکم نه اوباسلودَپاره دلیل واضح پکاردې،(والله اعلم)﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ﴾ یدنین،د ادناء نه دې،ادنا نزدیکولوته وائې اودلته ترینه مراد رازوندول اوراخورول دي، ای یُرخین علیهنّ(کشاف) یعني چې بهرته دَځه ضرورت دپاره اوځي نوپه بدن باندې دې جلباب یعني غټ څادررازوړندکړي.

(علیهنّ)پمعنی دَعلی جمیع اجسادِهنّ دې بعض وائی پمعنیٰ د:علی رؤسهنّ یاپه معنیٰ دَعلی وجوههنّ دې(روح)،﴿مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾جلابیب جمع دجلباب ده،هغه غټ پړونې اوڅادرچې ټول بدن ورسره پټ شي،علماء وائی چې نن صبامروّجه برقه دَدې قائمقام ده اودَزنانه دپاره استره هم ده،فیشني برقعه چې دَبدن اعضاؤساخت پکښې معلومیږي.په حکم دَجلباب کښې هیڅ کله هم نه ده(من)په﴿مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾کښې تبعیضیه دې،نومراد دادې چې دَجلباب په یوجزء سره دې سراومخ پټ کړي اوپه باقي باندې دې نوربدن پټ کړي(روح المعاني)

﴿ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ﴾پدیکښې دَپردې حکمت بیانیږي،چې په پردې سره اوپیژندلې شي چې دااصیله ده،وینزه نه ده،باحیاء شریفه ده،دَننګ ناموس میرمنه ده،بدبخته بدناموسه نه

ده،نيكه ذاته ده،بدذاته نه ده ﴿وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا﴾يعني كه سره دَدومره اهتمامه څه تقصيراوشي نوالله تعالیٰ غفوردې،معافي به کوي﴿رَّحِيمًا﴾رحم كونكې دې چې دَايذاء دَمنافقانونه ئې حفاظت اوكړو.

لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ
قسم دې که منع نه شول منافقان اوهغه کسان چه په زړونودهغوئ کښ مرض دې اودروغ خورونکی
فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا
په مدينه کښ،نوخامخامسلط به کړومونږتاپه دوئ باندې،بيابه دوئ ګاونډګيری ونکړی تاسره په مدينه کښ
إِلَّا قَلِيلًا ۞ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا ۞
مګرډيرکم،لعنت کړې شوی به وی دوئ،هرچرته چه اومندلې شی نيولې کيږې به،اوقتل کيږی به په قتلولوسره.
سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۞
داعادت دَالله ﷻ دې په باره دهغه خلقوکښ چه تيرشويدی مخکښ،اوهرګزبه اونه مومې ته دَعادت دَالله ﷻ لره بدلوالې

﴿لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ﴾په دې آيت کښ دَمنافقانودَويم شرارت نه دَحفاظت انتظام دې،اودَوينزودَحفاظت انتظام دې، اوتخويف دې،دَمنافقانودويم شرارت داوؤچې كله به دَمسلمانانوسره جهادته لاړل نودَخلقوزړونوكښ به ئې دَرُعب اچولودپاره دَشكست خبرې كولې،اوافواګاني به يې خورلې،اوكله بئ وئيل چې اوس به فلانئ فلانئ قبيله په مدينې بندې حمله كوي،اوټول خلق به ختموي،نوپدې آيت كښ الله تعالیٰ دوئ ته تنبيه وركړه چې كچرته دئ دَدې خپل كارونونه منع نه شول نوانجام بئ ښه نه وي.

لام په﴿لَئِن لَّمْ﴾كښ لام قسميه دې،﴿وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾مرض نه مرادمرض دَزنااودغه شان ښځې تنګول دي﴿وَالْمُرْجِفُونَ﴾دَرجفةٌنه مشتق دې رجفة زلزلې ته وائی،كقوله تعالیٰ:فاخذهم الرّجفة(اعراف) دلته ورنه مراددَدروغوخبري اوافواګاني خوره ونكی دي.دروغوخبروته ځكه رجفه وئيلی شوچې داخبرې هم متزلزلې وي اوغيرثابت

وي.یاداچې پدې سره دمؤمنانوزړونه مضطرب کیږي،متزلزل کیږي(روح المعاني).دا درې واره اوصاف دمنافقانو دی،اوعطف دتغائر وصفی پوجه شویدې

﴿لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ﴾داجواب قسم دې ای لنسلطنك عليهم بالقتل والجلاء.ضروربه مونږه تادَدوئ په قتل اوجلاوطنئ باندې مسلط کړو،یعني حکم به درته اوکړونودوئ به بیاستاپه قرب وجوارکښ یعني په مدینه کښ نشي پاتې کیدلې،﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾ای زماناقليلاً.صرف دومره وخت چې په هغې کښ به دوئ اهل وعیال منتقل کړي،پدې سره فقهاؤاستدلال کړیدې چې چاته مالك دطرفه دکورخالي کولوحکم اوکړیشي.نومالك به ده ته دومره مهلت ورکوي چې په هغې کښ هغه په اسانئ سره بل کورپیدا کړي.

﴿مَّلْعُونِينَ﴾منصوب على الذم دې ای اذمّ ملعونين(روح).یاحال دې د(یخرجون) محذوفه نه ای یخرجون ملعونین.﴿سُنَّةَ اللَّهِ﴾مفعول مطلق دې ای سنّ الله تعالى ذلك سنّةً یعني الله ﷻ داطریقه چې کوم خلق شرخوره ونکی دي هغوئ به قتل کیږي جلاوطن کیږي.

﴿وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا﴾ یعني دادستوراوطریقه دالله ﷻ هیڅ کله نه بدلیږي اونه پکښ نسخ راځي په شان دنوروا حکامو،ځکه چې نسخ په احکامو کښ راځي،هرچه افعال اواخبار دي نوهغه نه منسوخ کیږي.

آیامنافقانوته دامذکوره سزاملاوه شوې وه اوکنه؟نودې باره کښ صاحب دروح المعاني وغیره متعدداقوال ذکرکړیدي،(۱)یوپه هغې کښ دادې چې چونکه منافقان پدې وعیدسره دخپل دې فعل نه منع شوي وو،نولهذاسزاورته نه ده ملاؤشوې(۲)بعض وائی چې په افواکانوخوره ونکو کښ یهودیان هم وو،نوهغوئ ته سزاملاوه شوې ده.لکه بنونظیردمدیني منوري نه جلاوطن کړې شوي وو،(۳)بعض وائی سزاورته ملاوه شوې وه چې حضور ﷺ دخپل جمات نه اوباسلي وو،اودجنازي نه ئیورباندې انکارکړې وو.

يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ ۚ وَمَا يُدْرِيكَ

تپوس کوي ستانه خلق په باره دقیامت کښ،ته اووایه چه علم دهغې صرف اوصرف الله ﷻ سره دې،اوتاته څه پته ده اې پیغمبره

لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾

چه كيديشي قيامت نيزدې وی.بيشكه الله ﷻ لعنت كړيدې په كافرانواوتياركړي يې دې ددوئ لپاره جهنم.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ

هميشه به وی دې كښې هميشه،نه به مومي دوئ دځان لپاره دوست اونه مددګار.په كومه ورځ چه دوئ پرمخې واچولې شي

فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَاۤ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوْا

په اورکښې.وبه وائي به افسوس مونږلره چه فرمانبرداری كړې وې مونږدالله اواطاعت كړې وې مونږدرسول.اووائې به دوئ

رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَاۤ

اې ربه زمونږه بيشكه مونږه اطاعت كړې ووډساداتوخپلو،اومشرانوخپلو،نودوئ ګمراه كړومونږ دسمې لارې نه.اې ربه زمونږ

اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾

وركړه دوئ ته دوه چنددعذاب نه اولعنت وكړه په دوئ لعنت لوی(شديد)

﴿يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ﴾داتخويف اخروي دې د﴿النَّاس﴾نه مرادمطلقا كافران دي مشركانوبه دحضورﷺ نه استهزاءً دقيامت په باره كښې سوال كولوچې دابه كله واقع كيږي،اويهوديانوبه امتحاناًكولو،ځكه دوئ ته په تورات كښې معلومه شوې وه چې دقيامت دواقع كيدلوعلم الله ﷻ مخفي اوپټ ساتلې دې،اومنافقانوبه تعنتاًكولو﴿قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ﴾يعني علم دقيامت صرف الله ﷻ ته دې، ،ددې دواقع كيدلواطلاع نې نه مقربي فرشتې ته وركړيده نه هيڅ نبي ته.﴿وَمَا يُدْرِيكَ﴾استفهام پمعنیٰ دنفي دې،يعني تاته دقيامت دوقوع علم نشته دې﴿لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا﴾يعني دقيامت دوقوع علم چاته نشته دې خوبياهم قريبه ده چې واقع شي،﴿قَرِيبًا﴾صفت دې د خبر محذوف-اي شيئا قريباًلهذا دا اشكال نه واردېږی چې دفعل ناقص اسم اوخبر كښې د تذكيروتانيث اعتبارسره مطابقت نشته،ځكه چې مطابقت هلته ضروري وي چې خبر اسم مشتق وی اودلته خبر اسم مشتق ندې.

﴿يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ﴾ يعني اوس خو قيامت پورې توقى مسخرې كوي، اودَ ضد وعناد وجهى نه ستا اطاعت نكوي. خو كله چه قيامت راشي اودوئ پرمخې اورته اوغورځولې شي نو بيابه ورته پته اولګي اوډيرارمانونه به اوكړي، چې كاش مونږ دَ الله تعالى اودهغه رسول اطاعت كړې وې ﴿وَقَالُواْ رَبَّنَآ إِنَّآ أَطَعۡنَا﴾ هركله چې دوئ ته دغه تمناګانې فائده ورنكړي نو وائي به چې اې ربه زمونږدې مشرانو مونږګمراه كړي يو، دوئ ته دوه چنده عذاب وركړه، ﴿سَادَتَنَا﴾ جمع دَسيّد ده، بعضِ وائى اسم جنس دې دلته ورنه مرادګمراهان ملوك اوبادشاهان دي، اودَ ﴿وَكُبَرَآءَنَا﴾ نه مرادګمراه ليډران، مشران دي بعضِ وائي چې سادات اوكبراء دواړه يوشئ دي، دواړونه مرادهغه ګمراه علماء اوپيران دي چې دوئ ته به ئې دكفرتلقين كولو، قتاده رحمه الله وائى چې مرادورنه دَشرك اودَشرمشران دي(روح المعاني).

﴿فَأَضَلُّونَا ٱلسَّبِيلَا۠﴾ "السبيلا" كښې الف لام عهدي دې، معهودپډې سره لاره دَتوحيداودَسنت ده، اوالف په (السبيلا) كښې دپاره دَقافيه دې. ﴿رَبَّنَآ ءَاتِهِمۡ ضِعۡفَيۡنِ مِنَ ٱلۡعَذَابِ﴾ دوه چنده عذاب ورته وركړه، يوعذاب دَخپلې ګمراهئ اوبل زمونږدګمراه كولو عذاب، ﴿لَعۡنٗا كَبِيرٗا﴾ اى شديدا.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ ٱللَّهُ مِمَّا
اې ايمان ولوُمه كيږئ په شان دهغه كسانوچه تكليف ئې رسولې وۆموسى عليه السلام ته، نوبرى كړوهغه الله جل جلاله دهغه عيب نه
قَالُواْۚ وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهٗا ۝٦٩
چه دوئ ويل، اووۆدې په نزد دَالله جل جلاله خاوند دعزت.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ﴾ دانهم(٩) خطاب دې مؤمنانوته، چې اې مؤمنانودَمتبنى رسم بد خاتمه نبى كريم صلى الله عليه وسلم دالله په حكم سره پخپله اوكړه، اودخپل متبنى مطلقې سره يى نكاح اوكړو، نوتاسواوس داسې خبرې مه كوئ چې په هغې باندې نبى صلى الله عليه وسلم ته تكليف رسي، اوبنى اسرائيلوپشان مه كيږئ چې هغوئ موسى عليه السلام باندې بې ځايه الزامات لګولو، اوتكليف به يى ورته وركولو، شان

نزول اعتبارسره اګرچه دَ دې آيت تعلق متنبی مسئلی سره دې، خوحکم يې عام دې، دَنبی کريم صلی الله عليه وسلم په هرکار باندې اعتراض نه منع اونهی ده لکه متعدد رواياتوکښ راځی چې دَجنګ حنين په موقع کښ مالِ غنيمت راجمع شونوحضورﷺ په اختيارصفي سره دَعربوبعضِ سردارانوته(لکه حابس بن اقرع وغيره)دَنوروپه مقابله کښ زيات مال ورکړو(تاليفاًلقلوبهم)نويوکس اووئيل:هذه قسمةٌ والله ماعُدِل فيهاوماارِيدبهاوجه الله،يعني داداسې تقسيم دې چې پدې کښ انصاف ندې شوې اوپدې کښ دَالله تعالیٰ رضامقصوده نه ده،عبدالله بن مسعودؓ دَحضورﷺ په خدمت کښ حاضرشواوداخبره ئی ورته نقل کړه،دَحضورﷺ رنګ متغيرشو، اوبيائی اوفرمائيل:فمن يَعدل اذالم يعدلِ الله ورسوله،چې الله تعالیٰ اودَهغه رسول عدل اونکړي نوبه ئی څوك اوکړي اوبيائی اوفرمائيل:يرحم الله موسیٰ قداُوذی باکثرمن هذافصبر،يعني الله تعالیٰ دې په موسیٰ باندې رحم اوکړي،دَدې نه زيات تکليفونه ورته ورکړيشول بياهم هغه صبراوکړو.يعنی مختلف الزمات يې پرې لګولی وُ اوتکليف يې ورته ورکړې وُ،خو الله تعالی پخپل قدرت سره دهغو ټولو الزاماتو نه بری کړو،لکه دَ دوئ يو الزام وُچې حضرت موسی عليه السلام په جسم کښ څه عيب دې،ځکه دې زمونږ کښ بربند نه لامبی،لکه دَهغی زمانی دستور وُ

﴿ءَاذَوۡاْ مُوسَىٰ﴾ امام بخاريؒ په کتاب التفسيراوکتاب الانبياء کښ واقعه ذکرکړيده ابوهريرهؓ نه روايت دې چې حضورﷺ فرمائی چې بيشکه موسیٰؑ ډيرحياناك اوپرده دار انسان وُد حيا دوجهی نه به يې دَ بدن هيڅ حصه هم نه ښکاريده اودَبني اسرائيلونه تنهاپه جدايئ کښ به ئی غسل کولو،بني اسرائيلوبه وئيل چې موسیٰؑ زمونږنه جداځکه غسل کوي چې پده باندې مرض دَادرة دې يعني خصيتين ئی پړسيدلي دي،اوياورباندې برص دې،ياځه بل څه آفت دې،نوالله تعالیٰ اراده وکړه چې دې بري کړي دَدوئ دَدې خبري نه،نويوځل ئی يواځې غسل کولو،جامی ئی په يوه ګټه باندې کيخودلې،نوچې کله دَغسل نه فارغه شولواوجامي ئی راغستلې نوهغې ګټې ورنه جامي اوتختولې،نودې ورپسې روان شو،عصاورسره وه،ګټه مخکښ وه اودې ورپسي وُاوآوازونه ئی ورته کول،ثوبي ياحجر،ثوبي ياحجريعني اې ګټې ځماجامي راکړه،حتّی چې مجلس دَبني اسرائيلوته اورسيدلو،هغوئ اوکتل نوپده باندې هيڅ مرض نه وُ،موسیٰؑ هغه ګټه په عصاباندې اووهله اوجامي ئی

ترينه واغستې اوپه ګټه باندې دموسیٰ ؑ دضرب ځلور. پنځه نښانات جوړشول، نوپدې طريقه الله ﷻ دموسیٰ ؑ برائت دټولومخکښې اوکړو. دې واقعي بيانولو نه بعدحضورﷺ اوفرمائيل: هم دامطلب دې ددې آيت: کالذين اذواموسیٰ.

دهغه شان يو الزام دا هم وو چې قارون يوخل دامنصوبه جوړکړه چې په موسیٰ ؑ باندې دزناتهمت اوتړي، اوهغه ته ايذاء ورسوي، نويوې فاحشې ښځې ته ئې ډيردولت لالچ ورکړو، اوددې دپاره ئې تياره کړه، خلق ئې راجمع کړل، موسیٰ ؑ ئې رااوغوښتلوچې راشه اوخلقوته وعظ اوکړه، موسیٰ ؑ قوم ته وعظ کولو، نوقارون ورته تپوس اوکړوچې دزناکارسزاڅه ده؟ موسیٰ ؑ ورته اووئيل چې هغه به قتل کيږي، قارون ورته اووئيل چې کچرته تازناکړې وې نوبيا؟ موسیٰ ؑ ورته اووئيل داحکم دټولودپاره يوشان دې. قارون په عامه مجمع کښې اووئيل چې فلانئ ښځه وائي چې تاهغې سره بدکاري کړيده، موسیٰ ؑ هغې ښځې ته قسم ورکړوچې رښتيارښتيااووايه نوهغې ښځې اقراراوکړوچې قارون ماته ددولت لالچ راکړې وو اوخه ئې تيارکړې ومه چې په تاباندې بهتان وترم، نوموسیٰ ؑ ته پدې باندې ډيره ايذاء ورسيدله، موسیٰ عليه السلام زمکې ته حکم اوکړو چه چې: "خذيه" داقارون اونيسه، نوزمکې قارون خسف کړو.

يوه ايذا داهم وه چې بني اسرائيلوپه موسیٰ ؑ باندې دخپل ورورهارون ؑ دقتل تهمت لګوه ولې وو، په هغې وخت کښې کله چې هارون ؑ اوموسیٰ ؑ غرته اوختل، نوهارون ؑ وفات شو، نوبني اسرائيلوموسیٰ ؑ ته اووئيل چې دې تاقتل کړيدې، الله ﷻ دفرشتوپه ذريعه دموسیٰ ؑ برائت اوکړو (روح المعاني، کبيروغيره) ﴿وَكَانَ عِندَ ٱللَّهِ وَجِيهًا﴾ يعني موسیٰ ؑ عندالله عزت منداومرتبه والاوو، رفيع القدروو. دهارون ؑ درسالت سوال ئې کړې وو، وئيلې وو، واجعل لي وزيرامن اهلي، الله ﷻ ئې داسوال قبول کړې ووحالانکه رسالت دچاپه سفارش سره نه ملاويږي، اوالله ﷻ ورسره کلام کړې وو، اوپه کليم الله سره ئې ملقب کړې وو.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ۝ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ﴾								
اې مؤمنانوويريږئ	دالله ﷻ	نه اوکوئ	خبره	سمه، سم	به	کړي	الله ﷻ	ستاسوعملونه

وَيَغْفِرْ	لَكُمْ	ذُنُوْبَكُمْ	وَمَنْ	يُّطِعِ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	فَقَدْ

اواوبه بخښي تاسوته ګناهونه ستاسو،اوڅوک چه اطاعت وکړي دالله جل جلاله اودرسول دهغه،نوپه تحقيق

فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾

دي کامياب شوپه کاميابۍ لوئ سره

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ﴾دالسم(١٠)خطاب دي مؤمنانوته،چي الله تعالی نه يريږی اودي معامله سمه خبر کوئ،مکښ خطاب کښ نهی وه دَ داسې خبرونه چې هغه نار وا وې او نبی صلی الله عليه وسلم ته پری تکليف رسيدو ،اوديکښ امراوحکم دې،چې په دي معامله کښ به چپ نه پاتې کيږئ،بلکه سمه اودانصاف خبره به کوئ ﴿قَوْلًا سَدِيْدًا﴾قول سديد حق خبرې ته وائی،چې افراط وتفريط باندې نوی مبنی،بلکه انصاف باندې مبنی وی

﴿يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ﴾مجزوم دي جواب امر په وجه،اصلاح ويلی کيږی سمولوته،دلته ترينه مراد دادې چې يوخوبه ورله دَنيک اعمالو توفيق ورکړې،بل په داسې طريقی باندې اداکولو توفيق به ورکړی چې هغه طريقه دَالله تعالی خوخه وي اودَ الله تعالی په نيز مقبوله وی،

اِنَّا	عَرَضْنَا	الْاَمَانَةَ	عَلَى	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ

بيشکه مونږه پيش کړې وۀ امانت په آسمانونوباندې،اوپه زمکه باندې،اوپه غرونوباندې،نودوئ انکار وکړو

اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ﴿٧٢﴾

دَدې نه چه بارکړي دا ،اوويريدل دترينه نه،اواوچت اوکړو دهغه امانت انسان،بيشکه دي وۀډيرظلم کونکي،بې خبره،

لِّيُعَذِّبَ	اللّٰهُ	الْمُنٰفِقِيْنَ	وَالْمُنٰفِقٰتِ	وَالْمُشْرِكِيْنَ	وَالْمُشْرِكٰتِ

دپاره ددې چې عذاب ورکړی الله جل جلاله منافقانوسړوته اومنافقانوښځوته اومشرکانوسړو اومشرکانوښځوته.

وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٣﴾
اورجوع درحمت وکړي الله ﷻ په مؤمنانوسړواوپه مؤمنانوښځواو الله ﷻ بخښونکي،مهربانه دي

﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ﴾ دې آياتونوکښ زجراوتخويف دې منافقانو اومشرکانوته.چې دکوم بوج «يعني احکامات الهيه» اوچتولواوذمه داري اخستلونه زمکه،اسمان،غرونه يريدلي وؤاوانکارئې کړې وؤهغه انسان ځپله ذمه واخستلو،ليکن منافقانواومشرکانودَاحکام الهيه ؤمخالفت اوکړواودَې ذمه دارئ حق ئې اداء نه کړو،چې دَدې پوجه به ورته په آخرت کښ عذاب ورکولې کيږي.

دَدې آيت په تفسيرکښ متعدداقوال دي(١)اول قول چې داعام فهم اوآسان دې هغه داچې دَالله ﷻ احکامات چې داپمنزله دَامانت دي،داالله ﷻ اسمانونواوزمکې اوغرونوته پيش کړل،ورستودَعقل،شعوراوقوت نُطق ورکولونه،اوپه صورت دَمنلوکښ ئې ورسره دَثواب وعده اوکړله اوپه صورت دَنه منلوکښ يئ ورسره دَعذاب وعده اوکړله اواختيار ورته دَ قبولو او نه قبولو ورکړيشو﴿فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا﴾نوآسمانونو،زمکې، اوغرونودَقبولونه انکاراوکړوچې مونږدابوج نشواخستلې،اوداانکارئې دَابليس په شان نه وؤچې دَسجدې نه ئې انکارکړې وؤبلکه دَخپل حقارة اوضعف دَاظهارلپاره وؤ(کبير).

﴿وَحَمَلَهَا الْإِنسَانُ﴾"الانسان"کښ الف لام عهدي دې،ادم ﷺ ورنه مراددې،يعني آدم ﷺ دابوج اخستل قبول کړو،په حديث دَابن عباس رضي الله عنه کښ دي چې دَاسمان اوزمکې اوغرونودَانکارنه ورستوالله ﷻ آدم ﷺ ته خطاب اوکړوچې«اني عرضت الامانة على السّموات والارض والجبال،فلم تطقها فهل انتَ آخذها بما فيها»يعني ماپيش کړوامانة په اسمانونواوزمکې اوغرونوباندې نوهغوئ داطاقت اونه لرلونوآياته اغستونکې ئې دې امانة لره سره دَهغې نه چې پدې کښ دي،نوآدم ﷺ عرض اوکړو:اې ربه!پدې کښ څه دي؟الله ﷻ ورته اوفرمائيل:ان احسنتَ جوزيتَ وان اساتَ عوقبتَ،يعني که اطاعت دې اوکړونوثواب به درته ميلاويږي اوکه نافرماني دې اوکړه نوسزابه درته ميلاويږي،نوادم ﷺ دابوج واغستلووقال:بين أُذني وعاتقي.﴿إِنَّهُ كَانَ﴾ضميرراجع دې انسان ته اومرادورنه جنس انسان دې،﴿ظَلُومًا﴾يعني عملي

كوتاهي كونكې اوخلاف ورزي كونكې دې،﴿جَهُولاً﴾علمي اواعتقادي كوتاهي كونكې دې اوظلوم جهول ورته پاعتباردَاكثروسره وئيلى شويدي،داتفسيردَحضرت ابن عباس، ابن جبير،حسن بصري،نه منقول دي،دَدې تفسيرپه بناء باندې دَ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ ﴾نه مراددَاسلام اوټول احكاماتِ الهيه پيش كول دي،قال الخازن:الامانة الاسلام

(۲)دويم قول صاحب دَمدارك دَزجاج نقل كړيدى چې په آيت كريمه كښې حمل په معنىٰ دَخيانت سره دې اودَ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ ﴾نه مرادمناسب احكامات وركول دي،نومطلب دادې چې الله هرهرڅيزته خپل خپل مناسب احكامات وركړل،اوانسان ته ئې هم احكامات وركړل.﴿فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا﴾نوهيڅ څيزخيانت اونكړو،لكه بل ځائ كښې الله فرمائي:فقال لها وللارض ائتياطوعااوكرهاقالتااتيناطائعين(حم سجده:۱۱)اوپه بل ځائ كښې د(الم تران الله يسجدله من فى السمواتِ ومن فى الارض والشمس والقمروالنجوم والجبال"حج:۲۱۸) بل ځائ كښې دي: وانّ منهالمايهبط من خشية الله (بقره:۲۴)﴿وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَـٰنُ﴾يعني صرف انسان خيانت اوكړواودَانسان نه مرادمشرك اومنافق دې،قال الزجاج:الكافروالمنافق حملاالامانة اى خاناولم يُطيعا،ومَن اطاعَ من المؤمنين فلأيقال كان ظلومًاجهولاً(مدارك).

(۳)دريم قول چې دادَشاه ولي الله نه منقول دې،هغه داچې دَامانت نه مرادعهدهٔ تكليف (دَمكلف كولوذمه داري)ده،اودَپيش كولونه مراداضافت اواسناددې استعدادِدَ هغوئې ته چې په اسمانونوكښې اوزمكه اوغرونوكښې استعداددَقبولوشته اوكنه؟﴿فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا﴾ اِباء طبعي مراده،يعني دوئ كښې دَقبوليت استعدادنه وو،﴿وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَـٰنُ﴾حملِ طبعي مراددې،يعني د انسان په طبعيت كښې دَقبولواستعدادووُ،نوهغه داباراوچت كړو﴿إِنَّهُۥ كَانَ﴾داورله پمنزله دَتعليل دې ،﴿ظَلُومًا﴾ظلم وئيلى كيږي،عدم العدل عمّا من شانه ان يكون عادلاً،يعني صلاحيت دَعدل پكښې موجودوي اوبياهم عدل نه كوي،لكه عمي،وئيلى كيږي،عدم البصرعمّامن شانه ان يكون بصيراً،﴿جَهُولا﴾جهل وئيلى كيږي،عدم العلم عمّامن شانه

ان یکون عالماً.نو مطلب دا شوچې انسان(کافر) اګرچه عملی طوربانديې عدل نکوی اوالله تعالی واحدانیت علم نه حاصلوی خوهغه کښې دَ عدل اودَ علم حاصلولواستعداد شته،ځکه داذمه داری الله هغه نه حواله کړیده.

دآیت کریمه په تفسیرکښې نوراقوال هم شته جمهورمفسرین وایئ چې دَحضرت ابن عباس ﷺ دَحدیث نه(کوم چې په ضمن دَاول قول کښې ذکرشو)دامعلومیږي چې داعرض امانة دَمیثاق ازلي نه مخکښې شویدې اوعهددَ الستُ بربکم دَامانة باراوچتولواوله کړئ وه

﴿لِيُعَذِّبَ ٱللَّهُ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ﴾لام دَعاقبة دپاره دې اومتعلق دې دَ﴿وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَـٰنُ﴾سره،یعني په امانت کښې خیانت کولوانجام به داوي چې منافقانواومنافقاتو،اومشرکینو،مشرکاتوته به عذاب ورکولی کیږي،اودَامانت حق اداء کونکومؤمنانو،مؤمناتوته به اجراوثواب ملاویږي.

تم تفسیرسورة الاحزاب بعون الملكِ الغفار.

عنوان صفحه

سورة النور

سورت فرقان

سُوْرَةُ العنكبوت

سُوْرَةُ الرُّوْمِ

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ